فتح الهداية

هداية

د اول ټول پاره په آسانه معیاري پښتو
د هدایې یوه جامع شرحه

ژباړه او ترتیب

مولوي حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت کتب خانه
کندهار

وَاللّٰهُ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

فتح الهداية

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو
د هدايې يوه جامع شرحه



ژباړه او ترتيب:

مولوی حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم : **فتح الهدایه پښتو شرح هدایه**

❁ ژباړه او ترتیب : مولوي حبیب الرحمن مدني

❁ تصحیح کوونکی :مولوي جمالدین

❁ خپرندوی : **صداقت کتب خانه**/ کندهار

❁ کمپوز/ ډیزاین : صداقت د کتاب چاپولو اداره

❁ د چاپ کال : ۱۳۹۵ ل./ ۱٤۳۷ هـ.ق. / ۲۰۱٦ م.

❁ چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځای:

صداقت کتب خانه

کندهار – افغانستان

تلیفون: ۰۷۰۰۳۰٥٤۰۷

ایمیل: sadaqat.books@gmail.com

فهرس

د علماؤ تقریظونه او د ژباړن خبري ۱
دژباړن د تشریح طریقه او مأخذونه ۲
رموز او اشارې ۴
مقدمه ۵
د فقهې حقیقت ۵
د فقه مبادي ۵
د فقهې لغوي تعریف ۶
د فقهې اصطلاحي تعریف ۶
د فقهې د اصطلاحي تعریف پوره تشریح ۶
د فقهې موضوع ۶
د فقهې غرض و غایت ۶
د فقهې مأخذ ۶
د فقهې حکم ۷
د هدایې د مصنف لنډ ژوند لیک ۷
صاحب د هدایې یو ستر محدث او حافظ الحدیث وو ۸
د هدایې د مصنف طبقه ۸
د هدایې د لیکلو وجه ۹
د هدایې د لیکلو زمانه ۹
د هدایې د بابونو او فصلونو شمېر ۹
د هدایې شروح او حواشي ۱۰
د هدایې مقبولیت، ارزښت او عظمت ۱۱
هدایه یو ټول معجزه ده ۱۱
هدایه د دماغي تمرین (ورزش) او د ذهن د پیاوړتیا لپاره یوه کامیابه نسخه ده ۱۲
د هدایې په اړه یو نظر ۱۲
د هدایې د حدیثونو په اړه یو ضروري نظر ۱۲
په هدایه کې د هدایې د مصنف عادتونه او طریقې ۱۳

د هدایې د مصنف مسامحات ۱۵
د امامانو د لنډژوندانه لیک په اړه یوه مهمه نقشه ۱۶
د علم فقه مدوّن او باني ۱۶
د حنفي فقهې ځانګړتیاوې ۱۷
د حنفي فقهې د تدوین طریقه ۱۸
په حنفي مذهب کې د غلطۍ امکانات بېخي کم دي ۱۸
د امام صاحب د استنباط کړی سوو مسئلو شمېر ۱۸
حنفیت د درې سره وو امامانو د مجموعې نوم دی ۱۸
د حنفي فقهې سند ۱۹
مُقَدِّمَة ۲۰

كِتَابُ الطَّهَارَات

كِتَابُ الطَّهَارَات ۲۸
د اوداسه فرائض، د غسل او مسح معنی او د مخ اندازه ۳۰
د څنګلو او بجلکو حکم او په دې باره کې د فقهاؤ اقوال ۳۲
د سر د مسحې (مسح) اندازه او په دې باره کې د فقهاؤ اقوال ۳۴
د اودس سنتونه..... اول سنت ۳۵
دویم سنت..... بسم الله سنت ده او که مستحب ۳۷
دریم سنت (مسواک وهل) ۳۸
مسواک باید څرنګه وي او څه ډول باید ووهل سي ۴۰
څلورم او دریم سنت (مضمضه او استنشاق) ۴۰
د خولې او پزې د پرېوللو طریقه ۴۱
پنځم سنت (دغوږونو مسح کول) ۴۲
دغوږونو د مسح کولو طریقه ۴۲
شپږم سنت (د ږیرې خلالول) ۴۳
اووم سنت (د ګوتو خلالول) ۴۴
اتم سنت (تثلیث یعني درې واره پرېولل) ۴۵
د اوداسه مستحبات (په اوداسه او تیمّم کې د نیت حکم، او د فقهاؤ قولونه) ۴۶
د ټوله سر د مسح کولو حکم او د سر په مسح کې د عدم تثلیث بیان ۴۸
په اوداسه کې د ترتیب حیثیث (او له راسته طرف څخه د اودس شروع کولو حکم) ۴۹
فَصْلٌ فِيْ نَوَاقِضِ الْوُضُوْءِ ۵۱
د اوداسه د نواقضو بیان ۵۱
په متفرقه (بېلابېلو) ځایونو کې د قي په اړه د صاحبینو اختلاف ۵۷

د قې قسمونه او احکام (او په دې سره د اودس د ماتېدلو په اړه اختلاف) ۵۸
د وينو د قې حکم (او په دې اړه اختلاف) ۵۹
د وينو د قې نور تفصيل ۶۰
څه پول خوب اودس ماتوي..... (د اودس د نواقضو دويم قسم) ۶۱
په بې هوښۍ (بيرانۍ) او لېونتوب سره د اودس ماتېدلو حکم ۶۳
د إغماء په تعريف کې مختلفه قولونه ۶۳
په تهقهه خندا سره د اودس ماتېدلو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه او دليلونه) ۶۴
له مقعد، ذکر، فرج څخه د چينجي او باد د وتلو حکم ۶۵
له تپاکي او دانې څخه د وينو او ژړو اوبو را وتلو مختلفه صورتونه او د هغوی حکمونه ۶۶

فَصْلٌ فِي الغُسْلِ ۶۸
د غسل فرضونه ۶۸
د غسل سنت طريقه ۷۰
په غسل کې د ښځې د کوڅۍ (کوسۍ) د خلاصولو حکم (او د ږيرې د پرېولو حکم) ۷۱
د غسل واجبوونکې اسباب ۷۲
التقاء د ختانينو غسل واجبوي که نه؟ ۷۵
د حيض او نفاس حکم ۷۶
د مسنون (سنت) غسل ځايونه ۷۷
د مذي او ودي تعريف او حکم ۷۹

بَابُ الْمَاءِ الَّذِيْ يَجُوْزُ بِهِ الْوُضُوْءُ وَمَا لَا يَجُوْزُ بِهِ ۸۱
په کومو اوبو سره طهارت (پاکي) حاصلول صحيح دي؟ ۸۱
د درختو او مېوو په رَسْ (را ايستل سوو اوبو) سره د اودس حکم ۸۲
په هغو اوبو سره د اودس حکم چې يو شی په ګډ سوی وي ۸۴
د هغه اوبو حکم چې د يو شی په ګډون سره يې يو وصف بدل سوی وي ۸۴
په هغه اوبو سره د اودس حکم چې يو شی پکښې پوخ سوی وي ۸۷
په ولاړو (غير جاري) اوبو کې نجاست لوېدل؟ او په داسې اوبو سره د اودس حکم ۸۸
په روانو اوبو کې د نجاست لوېدل (او په هغو سره د اودس حکم) ۹۰
د ماء جاري تعريف ۹۱
د ماء کثير تعريف، د لوی تالاب (حوض) اندازه، او له هغه څخه د اودس حکم ۹۱
د اوسنی زمانې په اعتبار سره د غټ حوض اندازه ۹۴
غوماشې، مچيان، غالبوزې، لړم او داسې نور بې وينې شيان په اوبو کې لوېدل ۹۵
د ماهي، چونګښې، چنګاښ او د داسې نورو په مرګ سره اوبه مردارېږي، که نه؟ ۹۷
په ماء مستعمل (مستعملو اوبو) سره د طهارت حاصلولو حکم ۹۹

دماءِ مستعمل په تعریف کې تر ټولو راجح قول ۱۰۳
دماءِ مستعمل تعریف او سبب (او اوبه څه وخت مستعملې ګرځي) ۱۰۳
جنب سړی چې په څاه (یاتالاب) کې د سولاغې راکښلو لپاره غوټه ووهي نو څه حکم دی؟ ۱۰۵
په دباغت سره پوست (څرمن) پاکیږي، که نه؟ او له پوست څخه مَسَله (مُصلیٰ) جوړول ۱۰۶
د مرداري وربښته او هډوکي پاک دي، که نه؟ (په دې باره کې د فقهاؤ قولونه او دلیلونه) ۱۱۰

فَصْلٌ فِي الْبِئْرِ

فَصْلٌ فِي الْبِئْرِ ۱۱۱
د څاه احکام، په ماءِ قلیل (لږ اوبو) کې نجاست لوېدل ۱۱۱
که په څاه کې داوښ، بزې (او پسه) یوه یا دوې پچې یا خوشایې او داسې نور ولوېږي نو څه حکم دی؟ ۱۱۲
په څاه کې د کوترې او مرغۍ د فضلې (ګندګۍ) لوېدلو حکم ۱۱۴
په څاه کې د مأکول اللحم او غیرِ مأکول اللحم څاروي د متیازو حکم ۱۱۵
هغه کوم حیوانان دي چې د هغو په مرګ به له څاه څخه شل یا دېرش سولاغې را کښل کیږي؟ ۱۱۸
د اوبو د راکښلو لپاره کومه سولاغه معتبره ده؟ ۱۱۹
هغه کوم حیوانان دي چې د هغو په مرګ به له څاه څخه څلوېښت یا پنځوس سولاغې را کښل کیږي؟ ۱۱۹
په څاه کې د انسان یا د سپي د مړه کېدلو حکم ۱۲۱
په څاه کې د حیوان د پړسېدلو حکم ۱۲۱
د جاري او چینه داري څاه د پاکولو حکم ۱۲۱
که څاه ته د حیوان ور لوېدلو وخت معلوم نه وي، نو څه حکم دی؟ ۱۲۳

فَصْلٌ فِي الْاَسَارِ وَغَيْرِهَا

فَصْلٌ فِي الْاَسَارِ وَغَيْرِهَا ۱۲۶
د حیوان د خولې (عرق) حکم ۱۲۷
د مسلمان، کافر او د مأکول اللحم حیوانانو د پسخوردې حکم ۱۲۷
د سپي د پسخوردې حکم (او سپي چې په کوم لوښي کې خوراک کړی وي د هغه د پاکولو طریقه) ۱۲۸
د درندګانو د پسخوردې حکم ۱۲۹
د پیشي د پسخوردې حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۱۳۰
پیشي که تر موږک خوړلو وروسته سمدستي په اوبو کې خوله ووهل نو څه حکم دی؟ ۱۳۲
د چرګې د پسخوردې حکم ۱۳۳
د خزندو او په کور کې د عامو اوسېدونکو حیوانانو د پسخوردې حکم ۱۳۴
د خره او قاترې د پسخوردې حکم ۱۳۵
له شکمنو اوبو څخه ماسوا که نورې اوبه نه وي نو د اودس حکم ۱۳۷
په نبیذِ تمر سره د اودس او غسل حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۱۳۸
د نبیذ تعریف (او اختلاف په مینځ کې د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ اللّٰه) ۱۴۱

بَابُ التَّيَمُّمِ

بَابُ التَّيَمُّمِ ۱۴۲
د تیمم لغوي او اصطلاحي تعریف ۴۲۱

د تیمّم د جائز والي شرطونه ۱۴۲
(دا) باب د تیم (په بیان کي) دی ۱۴۲
د مریض لپاره د تیمّم حکم ۱۴۴
د جنب لپاره د تیمّم حکم ۱۴۵
د تیمّم صحیح طریقه ۱۴۶
په تیمّم کي د استیعاب حکم ۱۴۶
په تیمم کي حدث، جنابت، حیض او نفاس ټوله برابر دي ۱۴۷
پر کومو شیانو تیمّم جائز دی (د فقهاؤ قولونه) ۱۴۸
د تیمم د جائز کېدلو لپاره ګرز (ګرد) ضروري دی، که نه؟ ۱۵۰
په تیمّم کي د نیت حکم ۱۵۱
د طهارت یا إباحةُ الصلو ۱۵۲
که عیسایي (نصراني) تیمّم یا اودس وکړي بیا اسلام راوړي نو څه حکم دی ۱۵۳
که مسلمان تیمّم وکړي بیا (العیاذ بالله) مرتد سي او بیا مسلمان سي نو څه حکم دی؟ ۱۵۵
د تیمّم د نواقضو بیان ۱۵۶
د تیمم لپاره پاکه خاوره ضروري ده ۱۵۷
که د اوبو پیدا کېدلو اُمید وي نو څه حکم دی؟ ۱۵۷
په یوه تیمّم سره د ډېرو لمونځونو حکم ۱۵۹
د اختر او د جنازې د لمانځه لپاره د تیمّم حکم ۵۹۱
که امام یا مقتدی د اختر په لمانځه کي بې اودسه سي نو د تیمّم حکم ۱۶۱
د جمعې لپاره د تیمّم حکم ۱۶۲
که له مسافر څخه اوبه هیري سي او په تیمم لمونځ وکړي نو څه حکم دی؟ ۱۶۳
په صحراء (دښت) کي د لمانځه د جائز والي او د غالب ګومان بیان ۱۶۵
د غلوة اندازه څومره ده؟ ۱۶۶
د شرعي او انګریزي میل اندازه ۱۶۶
که اوبه خرڅېدلې نو د تیمّم د جواز حکم ۱۶۶
بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ ۱۶۸
پر موزو د مسح کولو شرعي حیثیت ۱۶۹
د بې اودسه (محدث) لپاره پر موزو مسح کول جائز دي ۱۷۰
د مقیم او مسافر لپاره د مسحي موده ۱۷۱
مسح به له کوم وخت څخه شروع کیږي؟ ۱۷۲
د مسحي سنّت طریقه ۱۷۳
د موزې د څیري والي په صورت کي د مسحي حکم ۱۷۵
د خرقِ قلیل او کثیر اندازه ۱۷۶

د جنب لپاره مسح جائز نه ده ۱۷۷
د مسحي نواقض ۱۷۸
که مقیم مسافر سو یا مسافر مقیم سو نو د مسحي د مودې حکم ۱۸۰
مسافر که مقیم سو نو څه حکم دی؟ ۱۸۱
پر جرموقینو د مسحي حکم ۱۸۱
پر جراپو او ماسی د مسح کولو شرعي اعتبار ۱۸۳
پر لنګوټه، خولی، چادري(بوغره) او دسکلو مسح جائز نه ده ۱۸۴
پر پټی (پلستر) د مسحي حکم ۱۸۵

بَابُ الْحَيْضِ وَالْإِسْتِحَاضَةِ ۱۸۷

د حیض لغوي او اصطلاحي معنی ۱۸۷
د حیض شرط ۱۸۷
د حیض کمه موده او زیاته موده (او په دې باره کي د فقهاؤ قولونه) ۱۸۷
د حیض اکثره موده ۱۸۸
د حیض د بېلا بېلو رنګونو بیان ۱۸۹
د حیض په حالت کي د لمانځه او روژې حکم ۱۹۱
د جُنب او حائضې ښځي لپاره مسجد ته د داخلېدل جائز نه دي ۱۹۲
د حائضې او جنب لپاره د قرآن شریف د تلاوت حکم (او د یوه آیت د تلاوت کولو د جواز مسئله) ۱۹۴
د ناپاک انسان لپاره د قرآن د مسه کولو حکم ۱۹۵
که تر لسو ورځو مخکي حیض ختم سو نو تر غسل مخکي د جماع حکم ۱۹۶
که تر عادت مخکي یا وروسته حیض ختم سو نو د جماع حکم ۱۹۷
د طهرِ مُتخلل حکم ۱۹۸
د طهر کمه موده ۱۹۹
د استحاضې د وینو حکم ۲۰۰
له لسو ورځو څخه د زیات حیض راتللو حکم ۲۰۱

فَصْلٌ أَيْ هٰذَا فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ أَحْكَامِ الْإِسْتِحَاضَةِ ۲۰۳

مستحاضه ښځه، سلسل بول والا، هغه چي پزه یې همېشه وینې کوي او د داسي نورو لپاره د اودس حکم ۲۰۳
د مستحاضې ښځي، سلسل بول والا او د داسي نورو اودس د وخت په وتلو سره باطلیږي که نه؟ ۰۵۲
د معذوره سړي د یو څو نورو مسئلو وضاحت ۲۰۷

فَصْلٌ فِي النِّفَاسِ ۲۰۹

د نفاس تعریف ۲۰۹
د نابشپړ (نامکمل) بچي د زېږېدلو حکم ۲۱۰
د نفاس کمه موده ۲۱۱

په نفاس کې تر څلوېښتو ورځو زياته وينه راتلل ۲۱۲
د غير ګوليانو حکم (د فقهاؤ قولونه) ۲۱۲

بَابُ الْأَنْجَاسِ وَتَطْهِيرِهَا ۲۱۴
د بدن، جامو او لمونځ کولو ځای د پاکوالي حکم ۲۱۴
نجاست په کومو شيانو سره ليري کول صحيح دي؟ ۲۱۵
په مړلو سره د نجاست د ليري کولو تفصيل ۲۱۷
لوند نجاست به څرنګه پاکيږي؟ ۲۱۸
که موزه په متيازو ولړل سي نو څرنګه به پاکيږي؟ ۲۱۹
مرداره جامه (کپړه) به څرنګه پاکيږي؟ ۲۲۰
د مني وو د پاکولو کولو طريقه ۲۰۲
له هينداري يا توري څخه د نجاست ليري کولو طريقه ۲۲۲
ځمکه به څرنګه له نجاست څخه پاکيږي؟ ۲۲۲
نجاست غليظه او نجاست خفيفه (او په نجاست غليظه کې معاف مقدار) ۲۲۳
د درهم قسمونه ۲۲۵
د نجاست خفيفه معاف مقدار ۲۲۶
که پر کالو خوشايي يا خرشينه ولګيږي نو په هغه کالو کې د لمانځه حکم ۲۲۷
د آس او د (مأکول اللحم يعني د) هغو حيوانانو د متيازو حکم چي غوښي يې خوړل کيږي ۲۳۱
د آس غوښه حلاله ده که مرداره؟ ۲۳۲
د مأکول اللحم مرغانو د ګندګۍ (فضلې) حکم ۲۳۲
د ماهي د وينو او د خره او غاتري د لاړو حکم ۲۳۳
پر جامو د متيازو د څاڅکو د لګېدلو حکم ۲۳۴
د مرئي نجاست او غير مرئي نجاست د طهارت حکم او طريقه ۲۳۵
د غير مرئي نجاست د طهارت حکم او طريقه ۲۳۶

فَصْلٌ فِي الْاِسْتِنْجَاءِ ۲۳۷
د استنجاء احکام، د استنجاء شرعي حيثيت او طريقه ۲۳۷
تر لوټو (او ډبرو) وروسته د اوبو استعمال مستحب دي، که سنت؟ ۲۳۹
څه وخت اوبه استعمالول ضروري دي؟ ۲۴۰
په هډوکو او خوشايو سره د استنجاء حکم ۲۴۱

كِتَابُ الصَّلَاةِ ۲۴۳
د صلاة لغوي معنیٰ ۲۴۳
د صلاة اصطلاحي معنیٰ ۲۴۳

دلمانځه دوجوب سبب ۲۴۳
دلمانځه فرضیت ۲۴۳
دلمانځه ارکان ۲۴۳
دلمانځه احکام ۲۴۳
بَابُ الْمَوَاقِيْتِ ۲۴۴
د پنځو لمونځونو وختونه ..... د سهار دلمانځه لومړی او آخري وخت ۲۴۴
دماپښین دلمانځه لومړی او آخري وخت ۲۴۶
دفيئ الزوال يعني داصلي سايې د پېژندګلوۍ طريقه ۲۴۸
دمازیګر دلمانځه لومړی او آخري وخت ۲۴۸
دماښام دلمانځه لومړی او آخري وخت ۲۴۹
دشفق ابيض او شفق احمر تفصيل ۲۵۰
دماخوستن دلمانځهٔ لومړی او آخري وخت ۲۵۱
دوترو لومړی او آخري وخت ۲۵۲
مستحب وختونه ..... دسهار، ماپښین او مازیګر مستحب وختونه ۲۵۳
دماښام مستحب وخت ۲۵۵
دماخوستن مستحب وخت ۲۵۵
داثمار الهدايه تحقيق ۲۵۶
دوترو مستحب وخت ۲۵۷
دوريځي په ورځ د پنځو لمونځونو مستحب وختونه ۲۵۷
فَصْلٌ فِي الْأَوْقَاتِ الَّتِي تُكْرَهُ فِيْهَا الصَّلَاةُ ۲۵۹
مکروه وختونه ۲۵۹
په مکروه وختونو کي د جنازې دلمانځه او د دغه ورځي دمازیګر دلمانځه حکم ۲۶۱
دسهار او مازیګر تر لمونځونو وروسته د نفلو حکم ۲۶۲
تر صبح صادق (رڼې ګهيځ) وروسته تر دوو رکعتونو زيات نفل کول ۲۶۴
دماښام تر فرضو مخکي د نفلو حکم ۲۶۴
بَابُ الْأَذَانِ ۲۶۵
داذان لغوي معنیٰ ۲۶۵
داذان اصطلاحي معنیٰ ۲۶۵
داذان دمشروعيت واقعه ۲۶۵
داذان شرعي حيثيت او طريقه ۲۶۶
په اذان کي د ترجيع بيان ۲۶۷

د سهار په لمانځه کې د " اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌمِّنَ النَّوْمِ" د زیاتولو حکم ۲۶۸
د اقامت بیان ۲۶۹
په اذان کې د ترسیل او په اقامت کې د حدر حکم ۲۷۰
په اذان او اقامت کې و قبلې ته د مخامخ والي حکم ۲۷۰
په غوږ کې د ګوتو نیولو حکم ۲۷۱
د تثویب تعریف او حکم ۲۷۲
د اذان او اقامت په مینځ کې د کښېنستلو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۲۷۴
د قضا سوو لمونځونو لپاره د اذان او اقامت حکم ۲۷۶
د زیاتو قضاء سوو لمونځونو لپاره د اذان او اقامت حکم او طریقه ۲۷۷
د اذان او اقامت لپاره د اودس حکم ۲۷۸
بغیر له اوداسه اقامت مکروه دی ۲۷۹
د جنابت په حالت کې د اذان او اقامت حکم ۲۷۹
د ښځې د اذان حکم ۲۸۱
تروخت مخکې د اذان حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۲۸۱
د مسافر لپاره د اذان او اقامت حکم ۲۸۳
بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ الَّتِيْ تَتَقَدَّمُهَا ۲۸۵
د لمونځ کونکي لپاره د نجاستونو د پاکولو حکم ۲۸۵
د نارینه عورت، زنګون په عورت کې داخل دی که نه؟ (د فقهاؤ قولونه) ۲۸۶
د آزادې ښځې عورت ۲۸۷
په لمانځه کې د ښځې د عورت ښکاره کېدلو حکم ۲۸۸
د ورېښتیانو، ورون او پنډۍ د څلورمې یا دریمې حصې د ښکاره کېدلو حکم ۲۹۰
د مینځې عورت ۲۹۱
که د نجاست لیرې کولو لپاره شی نه وو نو څه حکم دی؟ ۲۹۲
د لڅوالي په حالت کې د لمونځ کولو حکم ۲۹۴
په لمانځه کې د نیت حیثیت او د نیت ځای او طریقه ۲۹۵
په لمانځه کې مخ پر قبله درېدل ۲۹۸
د ویرې په حالت کې مخ پر قبله درېدل ۲۹۸
چې کله قبله شکمنه سي نو د اجتهاد حکم ۲۹۹
که تر لمانځه وروسته معلومه سي چې قبله پر دې طرف نه وه، نو څه حکم دی؟ ۲۹۹
که د لمانځه په دوران کې معلومه سي چې قبله بلې خوا ته ده نو څه حکم دی؟ ۳۰۰
که د امام او مقتدیانو په تحرّي کې اختلاف راغلی نو څه حکم دی؟ ۳۰۱

بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ ۳۰۲
د لمانځه فرضونه ۳۰۲
د لمانځه د فرضونو دليلونه ۳۰۴
د لمانځه واجبات ۳۰۴
د لمانځه د شروع کولو طريقه، او تکبير تحريمه شرط ده، که نه؟ (د فقهاؤ قولونه) ۳۰۵
د تکبير سره لاسونه پورته کول او د دې صحيح وخت ۳۰۷
لاسونه به تر اوږو او که د غوږو تر نرمۍ پورې پورته کيږي؟ (د فقهاؤ قولونه) ۳۰۸
ښځه به تر کومه ځايه لاسونه پورته کوي؟ ۳۱۰
د الله اکبر پر ځای د الله تعالی نور اسماء حسنیٰ ويل ۳۱۰
په فارسي ژبه د قرائت کولو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۳۱۲
په "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ" سره د لمانځه د شروع کولو حکم ۳۱۵
په لمانځه کې د لاس نيولو طريقه (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۳۱۶
په ثناء کې به څه ويل کيږي؟ (د فقهاؤ قولونه) ۳۱۸
تر قرائت مخکې د أَعُوْذُ بِاللهِ ويلو بيان ۳۱۹
د بِسْمِ الله ويلو بيان ۳۲۱
په أَعُوْذُ بِاللهِ او بِسْمِ الله او آمين کې د سر او جهر بحث ۳۲۱
د اَلْحَمْدُ لله سره د سورت يوځای کولو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۳۲۳
د امام او مقتدي لپاره د آمين ويلو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۳۲۵
آمين به څرنګه ويل کيږي؟ ۳۲۶
د رکوع په وخت کې تکبير ويل ۳۲۷
د رکوع طريقه او تسبيح ۳۲۸
په قومه کې به امام او مقتدی څه وايي؟ (د فقهاؤ قولونه) ۳۲۹
د ارکانو د تعديل بيان (او د قومې، سجدې، جلسې حکم، او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه او دليلونه) ۳۳۲
د سجدې طريقه ۳۳۴
پر پزه او تندي د سجدې کولو يا پر يوه د اکتفاء کولو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه) ۳۳۵
د لنګوټې پر ول (پيچ) او پر زياته جامه د سجدې کولو حکم ۳۳۷
په سجده کې د واړه متان (ليڅې) پراخه ساتل ۳۳۸
په سجده کې نس له ورنو څخه ليرې ساتل ۳۳۹
په سجده کې د پښې ګوتې د قبلې و طرف ته کول ۳۳۹
د سجدې تسبيح ۳۳۹
د ښځې لپاره د سجدې طريقه ۳۴۱
د دوو سجدو په مينځ کې د ناستې (جلسې) بيان ۳۴۱

څه وجه ده چي په هر رکعت کي رکوع يوه ده او سجدې دوې دي!؟ ۳۴۲
له دويمي سجدې څخه دراپورته کېدلو صحيح طريقه ۳۴۲
د دويم رکعت طريقه ۳۴۴
د رفع يدين حکم (د فقهاؤ قولونه او دليلونه) ۳۴۴
د دويمي ناستي او آخري ناستي طريقه ۳۴۵
د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ تشهد (التحيات) ۳۴۶
په اوله ناسته کي د تشهد حکم ۳۴۹
د آخري دوو رکعتونو د قرائت بيان ۳۴۹
د آخري ناستي (قعدة اخيره) بيان ۳۵۰
په لمانځه کي د تشهد او درود حيثيت (د فقهاؤ قولونه او دليلونه) ۳۵۱
په آخره ناسته کي د مأثوره (رانقل سوو) دعاګانو ويل ۳۵۳
په آخره ناسته کي کومي دعاوي ممنوع دي؟ ۳۵۴
راسته او چپه طرف ته سلام ګرځول، او په سلام کي د نيت حکم ۳۵۵
مقتدي او يوازي لمونځ کونکی به په سلام کي د چا نيت کوي؟ ۳۵۶
امام به په سلام کي د چا نيت کوي؟ ۳۵۷
په سلام کي د "السلام" لفظ ضروري دی ۳۵۸
فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ ۳۵۹
د جهري او سرّي لمونځونو بيان ۳۵۹
په جمعه، اختر او نفلي لمانځه کي د جهر حکم ۳۶۱
د جهري لمانځه په قضاء راګرځولو کي د جهر حکم ۳۶۲
په لمانځه کي د سورت فاتحې يا قرائت هېرېدلو بيان ۳۶۳
په آخري رکعتونو کي د سورت د قضاء راوړلو طريقه او حکم ۳۶۵
د جهر او سرّ (اخفاء) تعريف ۳۶۶
د قرائت هغه اندازه چي لمونځ په صحيح کيږي (د فقهاؤ قولونه او دليلونه) ۳۶۷
په سفر کي د لمانځه د قرائت حکم ۳۶۸
د اقامت په حال کي د سهار په لمانځه کي د قرائت اندازه ۳۶۹
د ماپښين په لمانځه کي د قرائت اندازه ۳۷۰
د مازيګر، ماښام او ماخوستن په لمونځونو کي د قرائت اندازه ۳۷۱
طوال مفصل، اوساط مفصل او قصار مفصل څه ته وايي؟ ۳۷۱
د سهار اول رکعت د دويم رکعت په نسبت اوږدول ۳۷۲
له سهار څخه ماسوا په نورو لمونځونو کي اول رکعت د دويم رکعت په نسبت اوږدول ۳۷۲
د قرائت لپاره د يو ځانګړي سورت معلومولو حکم ۳۷۴

د قرائت خلف الامام (يعني د امام تر شا د قرائت کولو) شرعي حيثيت ۳۷۴
د امام د قرائت او خطبو په وخت کي د مقتدي لپاره څه حکم دی؟ ۳۷۶

بَابُ الْإِمَامَةِ

بَابُ الْإِمَامَةِ ۳۷۸
د جماعت شرعي حيثيت ۳۷۸
د امامت د منصب زيات حقداره څوک دی؟ ۳۷۹
که په علم کي ټوله خلک برابر وه نو څوک حقداره دی؟ ۳۸۰
که په علم او قرائت کي ټوله برابر وه نو څوک حقداره دی؟ ۳۸۱
که په علم، قرائت، او تقویٰ کي ټوله برابر وه نو څوک حقداره دی؟ ۳۸۱
د کومو خلګو امامت مکروه دی؟ ۳۸۲
د امام لپاره د کومو خبرو خيال ساتل پکار دي؟ ۳۸۳
د ښځو د جماعت حکم ۳۸۴
که مقتدی يو وي نو څه حکم دی؟ ۳۸۵
که مقتديان دوه وي نو څه حکم دی؟ ۳۸۶
د نارينه ؤ لپاره د ښځو او کوچنيانو د اقتداء حکم ۳۸۷
د صفونو د ترتيب بيان ۳۸۹
د ښځو د محاذات مسئله ۳۹۰
فايده ۳۹۱
که امام د محاذي ښځي د امامت نيت نه وکړي نو څه حکم دی؟ ۳۹۱
د محاذات د شرطونو بيان ۳۹۳
د ښځي لپاره د جماعت په لمانځه کي د شرکت (ګډون) حکم ۳۹۴
د سپين سرو ښځو لپاره په جماعت کي د ګډون حکم (او د فقهاؤ قولونه) ۳۹۴
د پاکي ښځي لپاره د مستحاضې ښځي د اقتداء حکم ۳۹۶
د قاري لپاره په امي (نالوستي) پسي او د پټ سري لپاره په لغ سري پسي د اقتداء حکم ۳۹۶
آيا اودس والا په تيمم والا پسي لمونځ کولای سي؟ ۳۹۷
پر موزو د مسح کونکی او د پښو د پرېولونکی حکم ۳۹۷
د ولاړ لپاره په ناست پسي د اقتداء حکم ۳۹۸
په اشاره سره د لمونځ کونکي د اقتداء حکم ۳۹۹
د رکوع او سجده کونکي لپاره د اشاره کونکي د اقتداء حکم ۳۹۹
د فرض کونکي لپاره په نفل کونکي پسي د اقتداء حکم ۴۰۰
که د امام او مقتدي فرض سره جلا وي نو په دې صورت کي د اقتداء حکم ۴۰۰
د نفل کونکي لپاره په فرض کونکي پسي د اقتداء حکم ۴۰۱
که تر اقتداء وروسته معلومه سي چي امام بې اودسه دی نو څه حکم دی؟ ۴۰۱

د قاريانو او اميانو لپاره دامي داقتداء حکم ۴۰۲
دامي وجه تسميه ۴۰۳
د قاري او امي لپاره د جلا جلا لمونځ کولو حکم ۴۰۴
که امام په آخري دوو رکعتونو کي امي مخته کړی نو څه حکم دی؟ ۴۰۴

بَابُ الْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ ۴۰۶

که په لمانځه کي امام بې اودسه سي نو څه حکم دی؟ ۴۰۶
که منفرد سړی په لمانځه کي بې اودسه سي نو څه حکم دی؟ ۴۰۸
د گومان کونکي سړي د لمانځه حکم؟ ۴۰۸
د گومان کونکي امام د لمانځه حکم ۴۰۹
د لمانځه په دوران کي د بې هوښه کېدلو یا لېونتوب حکم ۴۱۱
له قرائت څخه د عاجزه کېدلو حکم (او د فقهاؤ قولونه) ۴۱۱
که تر تشهد وروسته انسان بې اودسه سي نو لمونځ به څرنګه پوره کوي؟ ۴۱۳
تر تشهد وروسته قصداً اودس ماتول ۴۱۳
که تیمّم کونکي په لمانځه کي اوبه وویني نو څه حکم دی؟ ۴۱۳
مسائلِ اثنا عشریه (یعني هغه دوولس مسئلې چې تر تشهد وروسته د بې اودسه کېدلو په باره کي دي) ۴۱۴
که امام د لمانځه په دوران کي بې اودسه سي نو څه حکم دی؟ ۴۱۷
که مسبوق خلیفه جوړ سي نو لمونځ به څنګه پوره کوي؟ ۴۱۸
که امام تر تشهد وروسته لمونځ فاسد کړي نو د مسبوق د لمانځه حکم ۴۱۹
که د لمانځه په یو رکن کي انسان بې اودسه سي نو هغه رکن به راګرځول کیږي، که نه؟ ۴۲۱
د لمانځه په ارکانو کي د ترتیب هېرېدلو حکم (او د دې د بېلا بېلو صورتونو بیان) ۴۲۲
که د امام شاته صرف یو مقتدی وي او امام بې اودسه سي نو څه حکم دی؟ ۴۲۳

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا ۴۲۵

په لمانځه کي په خبرو سره د لمانځه د باطلېدلو حکم ۴۲۵
په لمانځه کي د اسوېلی کولو، ژړلو او د غم څرګندولو حکم ۴۲۷
په لمانځه کي د عذر په وجه یا بې له عذره د ټوخی، انتروشی کولو حکم ۴۲۹
په لمانځه کي د نورو (انتروشي) د جواب ورکولو حکم ۴۲۹
له خپل امام څخه ماسوا بل چا ته د لقمې (فتحې) ورکولو حکم ۴۳۰
خپل امام ته د لقمې (فتحې) ورکولو حکم ۴۳۱
بغیر له ضرورته امام ته فتحه ورکول ۴۳۲
په لمانځه کي د یو سړي د سوال جواب په "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" سره ورکول ۴۳۳
په لمانځه کي کلمه، ثناء، یا یو آیت د بل سړي د خبرولو لپاره ویل ۴۳۴
د لمانځه په دوران کي بل لمونځ شروع کول ۴۳۵

د لمانځه په دوران کې همدغه لمونځ له سره شروع کول ۴۳۵
په لمانځه کې له قرآن شریف څخه تلاوت کول ۴۳۶
که په لمانځه کې یو خط ته کتل او په پوهېدل ۴۳۷
د لمونځ ګزار مخته د ښځې تېرېدل ۴۳۸
په صحرا (میدان) کې د لمونځ کونکې لپاره سُتره درول ۴۴۰
د سترې درولو ادبونه ۴۴۱
د امام ستره د مقتدیانو لپاره کافي کېدل ۴۴۱
ستره په مځکه کې ښخول کیږي ۴۴۲
که ستره نه وه نو څه حکم دی؟ ۴۴۲

فَصْلٌ أَيْ هٰذَا فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ الْمُفْسِدِ

.... ۴۴۳
په لمانځه کې په جامو (کپړو) او بدن سره بازي او عبث کار کول ۴۴۳
په لمانځه کې شګې لیرې کول ۴۴۴
په لمانځه کې په ګوتو تکان کول او پر تشه (ډډه) لاس اېښوول ۴۴۴
په لمانځه کې شا وخوا، چپه او راسته طرف ته کتل ۴۴۵
په لمانځه کې د سپي په ډول کښېنستل ۴۴۶
په لمانځه کې د سلام جواب ورکول ۴۴۷
په لمانځه کې چارزانو کښېنستل او وربښتیان تړل ۴۴۷
په لمانځه کې کالي (جامې) را ټولول او سَدَل کول مکروه دي ۴۴۸
په لمانځه کې قصداً یا په هېره سره خوراک کول ۴۴۹
په محراب کې د امام د درېدلو بېلا بېل صورتونه ۴۴۹
د سړي د شا (ملا) وطرف ته لمونځ کول ۴۵۰
په لمانځه کې مخ ته قرآن مجید یا توره اېښوول ۴۵۱
پر داسې فرش لمونځ کول چې عکس (فوټو) پکښې وي ۴۵۱
که د لمونځ ګزاره چپه یا راسته یا لوړ طرف ته عکس (فوټو) وو نو څه حکم دی؟ ۴۵۲
د هغه عکس (فوټو) حکم چې سر ځنې لیرې سوی وي ۴۵۳
که تصویر پر بالښت یا بستره وو نو څه حکم دی؟ ۴۵۳
په عکس داره کالو کې لمونځ کول ۴۵۴
د لمانځه په دوران کې د مار، لړم او د داسې نورو مضرو شیانو وژل ۴۵۵
په لمانځه کې په لاس سره آیتونه او تسبیحات شمېرل ۴۵۶

فَصْلٌ

.... ۴۵۸
په بیت الخلاء (تشناب) کې مخ او شا د قبلې وطرف ته کول ۴۵۸
د مسجد پر بام وطې، متیازې او غایطه مواد کول ۴۵۹

که مسجد په کور کي وي نو څه حکم دی؟ ۴۵۹
د مسجد دروازه بندول ۴۶۰
په مسجد کي نقش و نګار (ګلکاري) کول ۴۶۰
بَابُ صَلَاةِ الْوِتْرِ ۴۶۲
د وترو د لمانځه شرعي حیثیت ۴۶۲
د وترو دري رکعتونه به په یوه سلام سره کیږي ۴۶۲
دعائي قنوت به کله ویل کیږي؟ تر رکوع مخکي که وروسته (د فقهاؤ قولونه) ۴۶۵
قنوت به ټوله کاله ویل کیږي (او د امام شافعي مسلک) ۴۶۶
د وترو په هر رکعت کي به سورت فاتحه او بل سورت ویل کیږي ۴۶۷
د دعائي قنوت ویلو طریقه ۴۶۷
آیا دعائي قنوت به په نورو لمونځونو کي ویل کیږي؟ ۴۶۸
که امام د سهار په لمانځه کي دعائي قنوت ووایه نو مقتدی به څه کوي؟ ۴۶۸
بَابُ النَّوَافِلِ ۴۷۱
د ورځي او شپې د مؤکده او غیر مؤکده سنتونو د رکعتونو شمېر ۴۷۱
د ورځي او شپې د نفلي لمونځونو د رکعتونو د مقدار بیان ۴۷۴
د ورځي او شپې د نفلي لمونځونو د افضله مقدار بیان ۴۷۵
فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ ۴۷۷
د فرضي لمانځه په رکعتونو کي د قرائت تفصیل (او د فقهاؤ قولونه) ۴۷۷
د فرضي لمانځه په آخري دوو رکعتونو کي د قرائت حکم ۴۷۹
په نفلي لمونځونو کي د قرائت حکم ۴۷۹
که تر شروع کولو وروسته نفل فاسد کړی سي نو څه حکم دی؟ ۴۸۰
په څلور رکعتیز نفلو کي د آخري دوو رکعتونو د فاسدولو بېلا بېل صورتونه ۴۸۱
د څلور رکعتیز نفلي لمانځه په ټولو رکعتونو کي د قرائت پرېښوولو بېلا بېل صورتونه ۴۸۳
د څلور رکعتیز نفلي لمانځه په اولو دوو یا آخري دوو رکعتونو کي د قرائت پرېښوولو حکم ۴۸۶
د څلور رکعتیز نفلي لمانځه په زیاتو رکعتونو کي د قرائت پرېښوولو بېلا بېل صورتونه ۴۸۶
فقط په یوه رکعت کي د قرائت کولو حکم (د فقهاؤ قولونه) ۴۸۸
بې له عذره نفلي لمونځ په ناستي کول ۴۸۹
د ولاړي په حالت کي نفل شروع کول او بیا کښېنستل ۴۹۰
پر سپرلي د نفل کولو حکم (او د فقهاؤ قولونه) ۴۹۱
د نفلو په دوران کي له سپرلي څخه راښوه کېدل ۴۹۳

فَصْلٌ فِيْ قِيَامِ رَمَضَانَ ۴۹۵
د تراويحو شرعي حيثيت او د رکعتونو شمېر ۴۹۶
د تراويحو د جماعت شرعي حيثيت ۴۹۷
تر څلورو رکعتونو وروسته د ناستي حکم ۴۹۸
تر لسو رکعتونو وروسته د ناستي حيثيت ۴۹۹
د تراويحو صحيح وخت او د وترو د جماعت بيان ۴۹۹
د تراويحو په شلو رکعتونو کي به څومره اندازه قرائت کيږي؟ ۴۹۹
د روژې له مياشتي څخه علاوه د وترو د جماعت حکم ۵۰۰

بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيْضَةِ ۵۰۱
د لمانځه په دوران کي د جماعت د رېدلو حکم ۵۰۱
تر دريو رکعتو وروسته د جماعت د رېدلو حکم ۵۰۳
د سهار د لمانځه په دويم رکعت کي د جماعت د رېدلو حکم ۵۰۴
تر اذان وروسته له مسجد څخه د وتلو حکم ۵۰۵
که تر اذان وروسته يې لمونځ کړی وي نو څه حکم دی؟ ۵۰۶
د سهار د لمانځه په وخت کي د سهار د سنتو حکم ۵۰۷
د ماپښين څلور رکعته سنت قضاء کېدل ۵۰۸
له تراويحو څخه ماسوا نور سنت او نوافل په کور کي کول غوره دي ۰۹۵
که د سهار سنت قضاء سي نو څه وخت به يې قضاء راوړل کيږي؟ ۵۰۹
که چا د ماپښين د لمانځه صرف يو رکعت ونيوی نو څه حکم دی؟ ۵۱۱
که څوک مسجد ته په داسي وخت کي ورسېدی چي لمونځ سوی وو نو څه حکم دی؟ ۵۱۲
چا چي امام په رکوع کي نه ونيوی نو د هغه څه حکم دی؟ ۵۱۳
چا چي تر امام مخکي رکوع وکړه نو د هغه څه حکم دی؟ ۵۱۴
د قضاء سوي لمانځه د قضاء راوړلو وخت ۵۱۵

بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ ۵۱۵
د قضاء سوي لمانځه د قضاء راوړلو وخت ۵۱۵
په قضاء کي د ترتيب ساقطونکو شيانو حکم ۵۱۶
که د وخت د تنګوالي سره قضاء سوی لمونځ مخکي کړی سي نو څه حکم دی؟ ۵۱۶
په قضاء سوو لمونځونو کي د ترتيب حکم ۵۱۷
که تر شپږو لمونځونو زيات لمونځونه قضاء سي نو د راګرځولو صحيح طريقه ۵۱۹
که په قضاء راوړلو سره قضاء سوي لمونځونه تر شپږو کم سي نو څه حکم دی؟ ۵۲۰
د قضائي لمانځه د يادابنت بلوجود وختي لمونځ کول ۵۲۲
د مازيګر لمونځ د موقوف فساد په توګه فاسدېدل (او د دې مطلب) ۵۲۳

له وترو څخه بغیر د سهار د لمانځه حکم ۵۲۴

بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ ۵۲۶

د سجده سهوي د وجوب وخت او داداء کولو طریقه ۵۲۶
هغه سببونه چي د هغو په وجه سجده سهو واجبیږي ۵۲۸
د سنت په پرېښوولو سره د سجده سهوي حکم (او د سنت صحیح مطلب) ۵۳۰
د واجب په پرېښوولو سره د سجده سهوي حکم ۵۳۰
په جهري لمانځه کي سرّي قرائت کول یا په سرّي کي جهري قرائت کول ۵۳۱
د امام په سهوي (هیري) سره پر مقتدي او امام دواړو سجدهٔ سهو لازمېدل ۵۳۳
د مقتدي په هېري سره سجدهٔ سهو لازمېدل ۵۳۴
که اوله ناسته (قعدهٔ اولیٰ) هېره سي نو څه حکم دی؟ ۵۳۴
که په څلور رکعتیز لمانځه کي پنځم رکعت ته ولاړ سي نو څه حکم دی؟ ۵۳۵
که د پنځم رکعت لپاره سجده هم وسي نو څه حکم دی؟ ۵۳۶
د شپږم رکعت د یو ځای کولو حکم ۵۳۷
په آخره ناسته کي د تشهد ویلو او بیا د پنځم رکعت لپاره د ولاړېدلو حکم ۵۳۸
تر پنځم رکعت وروسته شپږم رکعت کول ۵۳۹
د شپږم رکعت په آخر کي د سجدهٔ سهو حکم ۵۴۰
د نفلي لمانځه په اولو دوو رکعتونو کي سهوه کېدل ۵۴۲
که د امام د سجده سهوي په وخت کي یو مقتدی راسي نو څه حکم دی؟ ۵۴۳
که تر سلام وروسته څوک سجدهٔ سهو نه وکړي نو څه حکم دی؟ ۵۴۵
د لمانځه په رکعتونو کي د اول وار لپاره د شک کونکي سړي حکم ۵۴۶
هر وخت او په وار وار د شک کونکي سړي حکم ۵۴۶
د داسي مریض حکم چي پر ولاړه قدرت نه لري ۵۴۹

بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيْضِ ۵۴۹

د داسي مریض حکم چي پر ولاړه قدرت نه لري ۵۴۹
د مریض لپاره د رکوع او سجدې طریقه ۵۵۰
د هغه مریض لپاره د لمانځه طریقه چي له ناستي څخه عاجزه وي ۵۵۱
په پروتي سره پر ډډه (اړخ) د لمونځ کولو حکم ۵۵۱
د هغه مریض حکم چي په سر هم اشاره نه سي کولای ۵۵۲
د هغه مریض حکم چي ولاړه کولای سي لېکن رکوع او سجده نه سي کولای ۵۵۴
د لمانځه په مینځ کي د ناروغه کېدلو حکم ۵۵۴
د لمانځه په مینځ کي د روغېدلو حکم (د فقهاؤ قولونه) ۵۵۵
د لمانځه په مینځ کي پر رکوع او سجدې د قدرت پیدا کولو حکم ۵۵۶

که په نفلي لمانځه کي د ستړیا په وجه پر یو شي تکیه وکړي نو څه حکم دی؟ ۵۵۶
په نفلي لمانځه کي دبې له عذره کښېنستلو حکم ۵۵۷
په کښتۍ (بېړۍ) کي بې له عذره په ناستي سره دلمونځ کولو حکم (دفقهاؤ قولونه) ۵۵۸
دبې هوښۍ په سبب دډېرو قضا سوو لمونځونو حکم ۵۵۹

بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ ۵۶۲
په قرآن مجید کي ټوله څومره سجدې دي او په کومو کومو سورتونو کي دي؟ ۵۶۲
سجدۀ تلاوت پر چا واجب ده؟ ۵۶۴
دامام او مقتدي لپاره دسجدې دآیت دلوستلو بېلا بېل صورتونه او دهغو حکمونه ۵۶۴
که لمونځ ګزاره له خارجي (دباندیني) سړي څخه دسجدې آیت واوري نو څه حکم دی؟ ۵۶۵
که په ذکر سوي صورت کي سجده وکړي نو څه حکم دی؟ ۵۶۸
دخارجي (دبادیني) سړي لپاره دسجدې آیت اورېدل او بیا په لمانځه کي شرکت کول ۵۶۹
دلمانځه سجدۀ تلاوت له لمانځه څخۀ دباندي اداء کول ۵۷۰
که یو آیت له لمانځه څخه دباندي هم تلاوت کړي او په لمانځه کي هم نو څه حکم دی؟ ۵۷۰
که یو آیت له لمانځه څخه دباندي تلاوت کړي او سجده وکړي او په لمانځه کي بیا هغه آیت ۵۷۱
که په یوه مجلس کي دسجدې آیت څو ځله وویل سي نو څه حکم دی؟ ۵۷۲
که په سامع او تالي کي دیوه مجلس بدل سي نو څه حکم دی؟ ۵۷۴
دسجدۀ تلاوت طریقه ۵۷۵
دتلاوت په دوران کي دسجدې دآیت پرېښوولو حکم ۵۷۶
دسفر شرعي مسافه (فاصله) ۵۷۷

بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ ۵۷۷
دسفر شرعي مسافه (فاصله) ۵۷۷
دفرسخ او شرعي و انګریزي میل په اعتبار سره دسفر موده ۵۷۸
دشرعي میل، انګریزي میل، میټر او کیلو میټر اندازه دلاس او ګز په اعتبار سره ۵۷۹
دمنځنۍ درجې مزل (تګ) معتبر دی ۵۷۹
داوبو تګ دمځکي له تګ څخه مختلف دی ۵۸۰
دقصر شرعي حیثیت ۵۸۰
دقصر نه کولو حکم ۵۸۲
دقصر شروع کولو ځای ۵۸۲
دسفر انتها (پای) ۵۸۳
که اراده وکړي چي نن به له ښار څخه ځم لېکن تر دوو کالو پوري پاته وي نو قصر به کوي ۵۸۵
په دارُ الحرب کي داسلامي لښکر لپاره دقصر حکم ۵۸۶
په دارُ الاسلام کي داسلامي لښکر داقامت حکم ۵۸۷

د مسافر لپاره د مقیم د اقتداء حکم ۵۸۸
د مسافر لپاره د قضاء سوي لمانځه د اقتداء حکم ۵۸۹
د مسافر لپاره د مقیم د امامت حکم ۵۹۰
د مسافر امام لپاره د اویل مستحب دي: "خپل لمونځونه پوره کړئ زه مسافر یم" ۵۹۱
په وطن اصلي کي د اقامت نیت ضروري نه دی ۵۹۱
د وطن اقامت د باطلېدلو بیان ۵۹۲
په دوو ښارونو کي د اقامت نیت کول ۵۹۳
د سفر او حضر په قضاء سوو لمونځونو کي قصر او اکمال ۵۹۴
په قصر کي به نېک او ګنهګاره سړی دواړه برابر وي، که نه؟ (د فقهاوو قولونه) ۵۹۴

بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ ۵۹۶
د جمعې د لمانځه د صحیح کېدلو شرطونه ۵۹۷
په منیٰ کي د جمعې حکم ۶۰۰
د جمعې لپاره د باچا شرط کېدل (شرطیت) ۶۰۱
د جمعې لپاره د وخت شرط کېدل (شرطیت) ۶۰۲
د جمعې لپاره د خطبې شرط کېدل (شرطیت) ۶۰۳
د خطبې ادبونه ۶۰۴
په خطبه کي صرف پر ذکر اکتفاء کول جائز دي، که نه؟ (د فقهاوو قولونه) ۶۰۴
د جمعې لپاره د جماعت شرط کېدل (شرطیت) ۶۰۶
د جمعې په لمانځه کي فقط د ښځو او کوچنیانو پاته کېدل ۶۰۷
پر کومو خلکو جمعه فرض نه ده؟ ۶۰۹
معذوره خلک که د جمعې لمونځ وکړي نو څه حکم دی؟ ۶۰۹
کوم خلک د جمعې امامت کولای سي؟ ۶۱۰
بې له عذره د جمعې په ورځ د ماپښین لمونځ د جمعې تر لمانځه مخکي کول ۶۱۱
د پورتني مسئلې څه نور وضاحت ۶۱۲
د معذوره خلکو لپاره د جمعې په ورځ د ماپښین د لمانځه طریقه ۶۱۴
د جمعې د لمانځه د مسبوق حکم ۶۱۵
که د جمعې په ورځ امام په تشهد (التحیات) کي ونیسي نو د جمعې لمونځ یې صحیح دی، که نه؟ ۶۱۵
د خطبې او رېدلو ادبونه ۶۱۷
خرڅول او رانیول به پر اول اذان ختمېږي، که پر دویم؟ ۶۱۸

بَابُ الْعِيدَيْنِ ۶۲۰
د اختر تر لمانځه مخکي سنت عملونه ۶۲۲
د سرسایې (صدقهٔ فطر) ورکولو وخت ۶۲۳

د اختر تر لمانځه مخکې او وروسته نفل کول ۶۲۴
د اختر د لمانځه وخت ۶۲۵
د اختر د لمانځه طريقه ۶۲۵
د اختر په تکبيرونو کې د لاسونو د پورته کولو حکم ۶۲۸
تر لمانځه وروسته د دوو خطبو حکم ۶۲۹
د اختر د لمانځه د قضاء راوړلو حکم ۶۲۹
د اختر د مياشتې د پتېدلو مسئله ۶۳۰
د لوی اختر د ورځې مستحبات ۶۳۰
د عيدګاه په لاره کې د تکبير ويلو حکم ۶۳۱
د يوه عذر په وجه د لوی اختر د لمانځه د قضاء کېدلو حکم ۶۳۱
د عرفات د خلکو سره د مشابهت حکم ۶۳۲
فَصْلٌ فِيْ تَكْبِيْرَاتِ التَّشْرِيْقِ ۶۳۳
د تشريق د تکبيرونو شرعي حيثيت ۶۳۳
د تشريق د تکبيرونو د ويلو وخت ۶۳۴
بَابُ صَلَاةِ الْكُسُوْفِ ۶۳۷
د کُسُوف د لمانځه (صلاة کسوف) طريقه ۶۳۷
په صلاة کسوف کې د قرائت تفصيل ۶۳۹
تر صلاة کسوف وروسته د دعاء د اوږدولو حکم ۶۴۰
د صلاة کسوف د امامت حقداره څوک دی؟ ۶۴۱
د خُسُوف يعني د سپوږمۍ د ترنګې په وخت کې د جماعت حکم ۶۴۱

د سترو علماؤ تقريظونه

① خطيب العصر شيخ الدعوة مولانا محمد لعل مکي صاحب

② جامع المعقولات والمنقولات شيخ مولوي نصرالله صاحب

③ شيخ الحديث والتفسير مولوي عبد البصير صاحب

التقريظ الأوّل لخطيب العصر شيخ الدعوة معدن الأخلاق الحسنة المرضية مولانا محمد لعل مکي متع الله المسلمين بدوام بقائه

باسمه تعالیٰ

هدايه د فقهي مشهوره، اساسي او بنيادي کتاب دی چي له اته پېړيو څخه د حنفي مسلک يو مستحکم او عظيم بنياد ګڼل کيږي، دا هغه ستر کتاب دی چي له دې څخه بغير د اسلامي مدارسو نصاب نا بشپړ دی. د دېر ارزښت او عظمت په خاطر علماؤ په هر دور کي د هدايې بېلابېلي شروحي ليکلي دي چي له هغو څخه زياتره په عربي ژبه دي، او د علمي انحطاط په دې دور کي په هغو پوهېدل ډېر ستونزمن دي، نو ځکه په نورو ژبو کي هم د هغې زياتي شروحي ليکل سوي دي.

له دې لړۍ څخه يوه غوره شرحه فتح الهدايه ده چي په ډېر ښايسته او عام فهمه انداز سره ګران مرتِّب مولوي حبيب الرحمن مدني تياره کړې ده.

ما که څه هم بالإستيعاب د دې مطالعه نه وکړای سوه، خو بيا هم د مختلفو ځايونو په کتلو را ته معلومه سوه چيَ مرتِّب په ډېر زيار او تحقيق سره ژباړه او تشريح کړې ده، بالخصوص مشکل او مغلق ځايونه يې په ډېر غوره اسلوب سره حل کړي دي، زما په فکر دا شرحه فقط د طالبانو لپاره نه بلکي د مدرسينو لپاره به هم ان شاء الله مفيده وي، ګران مرتِّب ماشاء الله د ښه استعداد او د تحريري صلاحيتونو حامل دی. الله تعالیٰ دي د هغه دا خدمت قبول کړي، او د داسي نورو علمي خدماتو توفيق دي ورکړي. (آمين)

مولانا محمد لعل مکي
عفاالله عنه ... عن والديه
فارغ التحصيل جامعة ام القرى
مکة المکرمة

شيخ محمد لعل مکي عفی الله عنه

الصورة الأصلية لتقريظ خطيب العصر مولانا محمد لعل مكي

باسمه تعالیٰ

هدایه د فقه مشهوره اساسي او بنیادي کتاب دی چې له اتو قرونو
څخه د حنفي مذهب یو مستحکم او عظیم بنیاد کڼل کیږي، دا دغه
عظیم کتاب دی چې له دې څخه بغیر د اسلامي مدارسو نصاب نامکمل دی
ډېر اهمیت او عظمت په خاطر علماوو په هره زمانه کې د هدایې مختلفه
شروحې لیکلې دي چې له هغو څخه زیاتره په عربي ژبه دي، او د علمي انحطاط
په دې دور کې په هغو پوهېدل ډېر مشکل دي، نو ځکه په نورو ژبو کې هم
د هغې زیاتې شروحې لیکل شوې دي. له دې سلسلې څخه یوه بهترینه
پښتو شرحه فتح الهدایه ده چې په ډېر ښایسته او عام فهمه انداز
سره ګران مرتب مولوي حبیب الرحمان مدني تیاره کړې ده.
ما که څه هم د دې بالاستیعاب مطالعه نه ده کړې، خو بیا هم د مختلفو ځایونو
په کتلو را ته معلومه شوه چې مرتب په ډېر تحقیق او کوشش سره
ترجمه او تشریح کړې ده، بالخصوص مشکل او مغلق ځایونه یې
په ډېر بهترین اسلوب سره حل کړي دي.
زما په فکر دا شرحه فقط د طالبانو لپاره نه بلکې د مدرسینو لپاره هم
ان شاء الله مفیده وي، ګران مرتب ما شاء الله د ښه استعداد او د
تحریري صلاحیتونو حامل دی، الله تعالیٰ دې د هغه دا خدمت قبول کړي
او د دا سې نورو علمي خدماتو توفیق دې ورکړي

محمد لعل مکي عفي عنه

مولانا محمد لعل مکي
فارغ التحصيل جامعة أم القرى
مكة المكرمة

التقريظ الثاني لجامع المعقولات والمنقولات العالم المحقق والحبر المدقق رئيس العلماء مولوي نصرالله صاحب دامت حياته العالية

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

الحمد لله وكفى وسلامٌ على عباده الذين صطفى أما بعد:

فقد سرّحتُ النظر في هٰذا الكتاب المستطاب المسمّى بفتح الهداية شرح الهداية، فوجدته مفيداً من غير وجزٍ مخلٍ ولا بسطٍ مُمل وسط من غير افراطٍ وتفريطٍ، نافعاً لتدريس الهداية.

اسئل الله أن يتقبّل جُهد مؤلفه الفاضل الذكّي حبيب الرحمٰن المدني، أدام الله فيضه، وأن يجعله نافعاً مقبولا وسببا لنجاته.

العبد المفتقر نصر الله القندهاري

الصورة الأصلية

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى!

أما بعد:

فقد سرحت النظر في هٰذا الكتاب المستطاب
المسمى بفتح الهداية شرح الهداية، فوجدته
مفيداً من غير وجز مخل، ولا بسط ممل، ووسط
من غير افراط وتفريط، نافعاً لتدريس
الهداية.

أسئل الله أن يتقبل جهود مؤلفه الفاضل
الذكي حبيب الرحمٰن المدني، وأن يجعله نافعاً
مقبولاً وسبباً لنجاته.

العبد المفتقر
نصر الله القندهاري

التقريظ الثالث للعلامة الفهامة برهان الحق والشريعة شيخ الحديث والتفسير مولوي عبد البصير متّع الله المسلمين بطول بقائه

بمنه وكرمه تعالى بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

الحمد لله الذى نشر العلم فى الدنيا واختار به الرسل والأنبياء وورّث لهم العلماء والأتقياءَ ووفّق لهم لما يحتاج إليه الأذكياء والأغبياء ويأتى إليهم الأمراء والأغنياء والفقراء والصّلوٰة والسلام على سيّد الرسل والأنبياء نبيّنا وحبيبنا وشفيعنا فى العقبٰى وعلى آله وأصحابه الذين هم نجوم الهداية والإقتداء، أما بعد: فقد طالعت هٰذا الكتاب الشريف المسمّٰى "بفتح الهداية شرح بشتو للهداية" فى مواضع شتّٰى فوجدت أنه الحق الصّريح من المذهب المهذب الصحيح وكف لايكون الحق إنه قد نقل وترجم وأملأ العالم الكامـــل الفاضل الذكّى أخونا فى الله ﷻ الحافظ المولوى حبيب الرحمٰن المدنى حفظه الله من شر كل غبّى وغوىّ، اللّهم اجعل سعيه مشكوراً وعمله مقبولاً وجزاالله خيرا الجزاء فى الدنيا والعقبٰى عنّى وعن سائر المسلمين،آمين.

الأحقر عبدالبصير "فائز" غفر الله له ولوالديه

خادم القران الكريم والاحاديث النبوية في الجامعة الاسلامية علّامه تاورن چمن

النسخة الأصلية

بمنه وكرمه تعالى بسم الله الرحمٰن الرحيم ؏

الحمد لله الذى نشر العلم فى الدنيا واختار به الرسل والأنبياء وورّث لهم العلماءَ والاتقياءَ ووفق لهم لما يحتاج اليه الأذكياء والاغبياء ويأتى اليهم الأمراء والاغنياء والفقراء والصّلوٰة والسلام على سيد الرسل والأنبياء نبينا وحبيبنا وشفيعنا فى العقبٰى وعلى آله واصحابه الذين هم نجوم الهداية والأقتداء اما بعد فقد طالعت هذا الكتاب الشريف المسمىٰ بفتح الهداية بشتو شرح الهداية فى مواضع شتّٰى فوجدت انه الحق الصريح من المذهب المهذب الصحيح وكيف لا يكون الحق انه قد نقل وترجم واملأ العالم الكامل الفاضل الذكى اخونا فى الله الحافظ المولوى حبيب الرحمٰن المدنى حفظه الله من شر كل غبىّ وغوىّ اللّهم اجعل سعيه مشكوراً وعمله مقبولاً وجزاه الله خيرا الجزاء فى الدنيا والعقبٰى عنى وعن سائر المسلمين - آمين

الاحقر عبدالبصير فائز غفرله الله ولوالديه
خادم القرآن الكريم والاحاديث النبوية فى الجامعة الاسلامية علامه تاؤن چمن

١٤٣٧
١٢ = ١٤ ذوالحجة الحرام

د ژباړن خبرې

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوٰة والسلام على أشرف الأنبيا والمرسلين وعلى آله وصحبه الطيبين الطاهرين، اما بعد:

په حنفي فقه کې هدایه ډېر معتبر، مشهور او جامع کتاب دی، د تصنیف له وخت څخه تر اوسه په اسلامي مدرسو کې داخل او د حنفي فقهې یو مضبوط او مستحکم دلیل ګڼل کیږي، په ډېر عجیب او اجتهادي شان او په ډېر ښکلي ترتیب و اختصار سره ټوله فقهي مسئلې پکښې را جمع سوي دي، چې د هرې مسئلې او جزئیې لپاره نقلي او عقلي دلائل هم ذکر سوي دي، د علم او پوهې ځلاند ستوری امامُ العصر علامه انور شاه کشمیري رَحمهُ الله د هدایې په اړه فرمایي چې د فقهې د ضروري مسئلو، او د ښه تعبیر و اختصار په حواله سره په څلور سره مذهبونو کې هدایه یو نایاب کتاب دی؛ او په بل ځای کې علامه کشمیري له یو شیعه عالم څخه رانقل کړي دي چې " د مسلمانانو سره د عربي ادب د لوړې درجې کتابونه درې دي: یو قرآن، دوېم صحیح البخاري، درېم هدایه"، او د دې خبرې تصدیق په خپله علامه کشمیري هم کړی دی، همدارنګه د نصب الرایه په مقدمه کې ذکر سوي دي چې له علامه کشمیري څخه یو فاضل عالم پوښتنه وکړه چې آیا تاسو د هدایې د شرحې "فتح القدیر" په څېر کتاب لیکلای سئ، هغوی ورته وویل: هو!، بیا یې پوښتنه ځنې وکړه، چې د هدایې په څېر کتاب لیکلای سئ، هغوی ورته وویل: هیڅکله نه!، د هدایې په څېر خو موږ یو څو لیکې هم لیکلای نه سو. (مقدمه نصب الرایه ج:۱، ص: ۱۴)

د دې خبرو وزن او قدر هغه خلک احساسولای سي چې د علامه شاه کشمیري صاحب په علم وکمال، قوت حافظه او د هغه په ستر شان خبر وي. همدا وجه ده چې هدایه اته(۸) پېړۍ مخکې لیکل سوې ده، خو بیا هم پر دې طرز یو بل داسې تصنیف تر اوسه په وجود کې راغلی نه دی چې پر ځای یې ودرېږي.

د هدایې د مقبولیت عالم دا دی چې په عربي ژبه کې د دې بې شمېره شرحې لیکل سوي دي، همدارنګه په نورو ژبو کې خصوصاً په اُردو ژبه کې هم د دې پر تشریح او توضیح ډېر کار سوی دی، خو له بده مرغه په پښتو ژبه کې د هدایې یو داسې شرحه نسته چې په روانه، معیاري او آسانه پښتو وي، چې له هغه څخه د عالمانو او طالبانو په شمول نور عام د لوست او لیک خاوندان هم پوره فایده واخلي، او په اول ځل کتني سره یې عالمان او طالبان د هدایې د عبارت په مطلب پوه سي، که څه هم په پېښوري(سرحدي) پښتو کې پر دې څه کار سوی دی، خو زموږ د سیمو د حضراتو لپاره له هغه څخه استفاده کول ډېر ستونزمن دي؛ نو د دې ضرورت په خاطر موږ د "فتح الهدایه" په نامه د پورتني صفتونو او ضرورتونو سره سم د هدایې یوه جامع شرحه ولیکل، چې د هغه سره مو د حدیثونو تخریج او راجح قولونه او داسې نور ضروریات هم په پوره اختصار سره ذکر کړل، هیله کوم چې په کتني سره به یې انشاء الله هر کتونکی د هدایې پر ټولو مسائلو او عبارتونو فاتح او بریالی سي.

پر دې موقع له موضوع څخه اوړم او د یوې اړینې خبرې و طرف ته اشاره کوم هغه دا چې له بلې ژبې څخه ژباړه ډېر ستونزمن او پېچلی کار دی، یوازې هغه کس یې په ښه توګه کولای سي چې پر دواړو ژبو ښه برلاسی ولري، او په

لوستلو، خبرو او لیکنه کي یې هیڅ ستونزه نه ولري، زیات کسان ټکي په ټکي ژباړه کوي، چې اکثره ژباړل سوې جملې یې اوږدې، یا هم بې ترتیبه وي، چي ښه بېلګه یې د ځيني لیکوالانو لخوا ژباړل سوي دیني کتابونه دي. هغوی پر دې ټینګار کوي، چې دیني کتابونه، آیتونه او حدیثونه باید ټکي په ټکي وژباړل سي؛ خو د ژباړې اصلي هدف د خلکو پوهونه او له اصلي ژبې څخه بلې ژبې ته د مفهوم لېږدونه ده. که ژباړه څومره له اصلي ژبې سره نژدې، روانه او ښکلې وي، هومره زیات لوستونکي پوهولای سي او زیات کسان تري ګټه اخیستلای سي؛ نو ځکه موږ هم د پورتنی نکتو د رعایت په خاطر تر ډېرو زحمتونو او خولو تویلو وروسته دا کوښښ کړی دي چي د لفظاً ترجمې پر ځای په ډېره معیاري او روانه پښتو ترجمه او تشریح رانقل کړو، چي هر لوستونکی د هر عبارت او هري مسئلې په مطلب په آسانه پوه سي، او په حل کي یې د هیڅ ستونزې سره مخ نه سي.

د ژباړن د تشریح طریقه او مأخذونه: په اصل کي موږ دا کتاب د اُردو ژبي له دریو(۳) مشهورو شرحو څخه ژباړلی دی: ① احسن الهدایه، ②اشرف الهدایه، ③ اثمار الهدایه. په داسي ترتیب چي که په اشرف الهدایه کي به د عبارت تشریح یا ترجمه څه ستونزمنه وه، نو موږ به احسن الهدایه یا اثمار الهدایه ته رجوع کوله، او تر موازنې وروسته به مو آسانه او د فایدې وړ تشریح او ترجمه رانقل کوله، او د تشریح د لا آسانتیا لپاره به مو د زیاتره عبارتونو لپاره صورت د مسئلې هم ذکر کړی دی، له ترجمې او تشریح څخه علاوه چي نور کوم خدمتونه په دې شرحه کي تر سره سوي دي، هغه دا دي:

① **تخریج**: د هدایې په متن کي د ټولو قولي، فعلي او تقریري حدیثونو تخریج له صحاح سته او د حدیثو له نورو کتابونو څخه سوې ده، په دې لړ کي د حواله ورکولو لپاره د نوي تحقیقي نړۍ د اصولو سره سم د تخریج ورکولو کوښښ سوی دی.

② **راجح قولونه**: څرنګه چي په هدایه کي د څلور امامانو د اختلاف تر څنګ د حنفي علماؤ اختلاف هم ذکر سوی دی، نو ځکه مو له نامتو کتاب "القول الراجح" څخه راجح قولونه هم په پوره تفصیل سره بیان کړي دي. چي هر کتونکي ته زموږ د سترو عالمانو(امام ابو حنیفه، امام ابو یوسف، امام محمد رَحِمَهُمُ الله) راجح قول او مذهب هم معلوم سي، او د بل کتاب کتني ته اړ نه سي.

او په راجح قول کي زموږ طریقه دا ده چي اول ځل مو په حاشیه کي راجح قول ته اشاره کړې ده، او دویم ځل مو بیا د تشریح په آخر یا د حاشیې په ضمن کي هم تفصیلي قول راجح ذکر کړی دی، او زیاتره ځایونه مو له مشهورو عربي کتابونو څخه د هغه په تائید کي څه عربي عبارتونه هم رانقل کړی دی.

③ **د عبارت ترتیب**: په عامه توګه مو په عبارت او متن کي دا کوښښ کړی دی چي فقط د یوې مسئلې سره اړوند لو د هري ورځي د سبق په اندازه د عبارت تشریح وسي.

④ **د ژباړې ترتیب**: د عبارت د هري جملې تر څنګ محاوري ژباړه سوې ده، چي هر طالب ته یې فهم آسانه سي. لو دا ور ته معلومه سي چي دا ژباړه د عربي د دې جملې ده.

⑤ **اعراب**: د هدایې پر متن د اعراب لګولو کار هم په پوره غور او توجّه سره سوی دی، او زموږ لپاره دا کارخلاف توقع ډېر ستونزمن ثابت سو.

⑥ **د متن تصحیح:** د متن د تصحیح لپاره مو له یوې څخه زیاتو نسخو ته رجوع کړې ده، چې له هغو څخه یو څو نسخې دا دي: له دار الکتب العلمیه بیروت څخه د شیخ ابو محروش عمرو بن محروش په تحقیق د عنایې نسخه، او له مکتبة دارالباز مکة المکرمکه څخه د فتح القدیر نسخه، او له عباس بن الباز مکة المکرمه څخه د نصب الرایة نسخه.

⑦ **د لغاتو حل او صرفي و نحوي تحقیق:** تر هر عبارت وروسته چې په هغه کې کوم ستونزمن الفاظ وو. د "اللغات" په عنوان کې د هغو تفصیلي معنیٰ هم ذکر سوې ده، او په کومو الفاظو کې چې د صرفي یا نحوي تحقیق ضرورت وو، په مختصره توګه د هغه څېړنه هم سوې ده. ښکاره دې وي چې د "اللغات" په ضمن کې د هر فعل د مصدري معنیٰ رعایت سوی دی.

⑧ **د عنوان ترتیب:** هرې مسئلې ته مناسب عنوان ورکول سوی دی چې په آساني سره هر کتونکي ته معلومه سي چې دا عبارت د دې مسئلې او مضمون سره تعلق لري.

⑨ **اضافي تشریح:** د تشریح او ترجمې د لا آسانتیا لپاره د ځینو مشکلو جملو او الفاظو سره په قوسینو کې نور داسې جملې او الفاظ هم ذکر سوي دي چې مطلب نور آسانه کړي، او هر څوک استفاده ځني وکړي.

⑩ **د متن او شرحي توپیر:** د هدایې د متن او شرحي د توپیر لپاره په بېل او علیحده طرز سره تر عبارت لاندي کرښې وهل سوي دي چې هر کتونکي ته دا معلومه سي چې دا د متن (یعني د مختصر القدوري، یا د جامع صغیر او مبسوط) عبارت دی، او دا د شرحي (یعني د هدایې عبارت) دی.

په پای کې د هغو ټولو حضراتو په خدمت کې د زړه له کومي تشکر وړاندي کوم، چې د دې ستونزمن کار په ترتیب او اصلاح کې یې زما سره مرسته کړې وي، خصوصًا د صداقت خپرندیه ادارې چې د داسې ارزښتمنو کتابونو خپرولو ته یې ملا تړلې ده، او د ټولو چارو ذمه واري او لګښتونه یې پر خپل غاړه اخیستي دي. او له درنو لوستونکو څخه هیله کوم چې له دې شرحي څخه تر فایدې اخیستلو وروسته دامید په ډک زړه د حقیر ژباړن، او د هغه د استاذانو او مور و پلار په حق کې، او د هر هغه چا په حق کې چې په دې کار کې یې خواري کښلې وي د خیر او بخښني دعاء وکړي. همدارنګه که په کتاب کې کومه سهوه یا خامي محسوسه کړي، نو د اصلاح په هکله دې د هغه خبر موږ یا خپرندویه ادارې ته ورکړي، چې په دویم چاپ کې یې تصحیح وسي.

ما کان من حسن فمن الله و ما کان من عیب فمنّي و من الشیطان

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّکَ أَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ. و تُبْ عَلَیْنَا إِنَّکَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ

وَصَلَّی اللهُ عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِیْنَ

ابو عباس حبیب الرحمن مدنی

فاضل وفاق المدارس العربیه پاکستان

رموز او اشاري

څرنګه چې موږ په دې کتاب کې د متن او شرحې، قولِ راجح او تخريج او د داسې نورو د توپير لپاره بيلابيل رمزونه او نښې کارولي دي، نو په لنډه توګه د هغو يادونه هم دلته کوو:

- د هدايې د متن لپاره مو دا کرښه غوره کړې ده: ------------------------
- او د شرحې لپاره مو دا کرښه: ____________________
- د تخريج لپاره مو داسې شمېرې کارولې دي: ❶❷❸
- د قول راجح لپاره مو دا رمز غوره کړی دی: ✹
- او د "أثر" لپاره مو دا رمز غوره: ✹
- په تشريح کې مو د هر عربي عبارت د ژباړې لپاره عام قوسين استعمال کړي دي: ( )
- او د عبارت د ستونزمنو الفاظو لپاره مو دا قوسين اختيار کړي دي: ﴿ ﴾

ښکاره دې وي چې په کتاب کې به تاسو ته ډېر ځايونه د شيخين، طرفين او صاحبين الفاظ مخته راسي. او تقريباً ډېر کم طالبان په دې خبر نه دي چې شيخين، طرفين او .... څوک دي؟ نو د خبرتيا لپاره يې موږ تعريف ذکر کوو:

- له شيخين څخه مراد امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله دي.
- له طرفين څخه مراد امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله دي.
- او له صاحبين څخه مراد امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله دي.
- او کله چې په کتاب کې امام صاحب يا امام اعظم ذکر سي نو له هغه څخه مراد زموږ د مذهب بنسټ ايښودونکی امام ابو حنيفه رحمه الله دی.
- په تخريج کې له حديث رقم څخه مراد د "حديث شمېره" ده. او له "باب رقم" يا يوازې "رقم" څخه مراد د "باب شمېره" ده، يعنې مثلاً په بخاري کې د دې حديث شمېره دومره ده. او مثلاً په دې شمېره باب کې حديث ذکر سوی دی.

مقدمه

انساني كمالات پر دوه قسمه دي: (١) كمالِ علمي، (٢) او كمال عملي، بيا د كمالِ علمي دوه قسمه دي: (١) ديني علم، (٢) او دنيوي علم، او دا خبره حقيقت ده چې د كومو دنيوي او عصري علومو سره چې د دين هيڅ تعلق نه وي، هغه بالكل جهل او د نبوت په ژبه ملعون دي.

بيا چې په ديني علومو كي "علمِ فقه" ته كوم ارزښت حاصل دی، هغه له هيچا څخه پټ نه دی، زموږ په تعليمي نصاب كي په قرآن او په حديث د پوهولو پېل له فقهي څخه كيږي، او بيا همدا فقه د دې دواړو نتيجه او ثمره هم ده، كه يو طالب يا عالم په فقه كي تكړه نه وي، نو هغه په قرآنِ پاک او حديث شريف كي هيڅكله كاميابي نه سي ترلاسه كولای، همدارنگه كه څوک تر حديثو او قرآن ويلو وروسته علمِ فقه ته نه ورسيږي، او د هغه سره شوق او رغبت نه ولري، نو بېشكه هغه "اسلام" د ژوند د يو بشپړ نظام او قانون په توگه نه پېژني، او نه په دې د ځان پوهولو كوښښ كوي، بلكي د هغه سړي په څېر پاتيږي چې صرف پوستكی ويني، او د قرآن و حديث تر مغز پوري نه ورسيږي.

د فقهي حقيقت: څرنگه چې د ځيني خلكو له سترگو څخه د فقهي حقيقت پټ دی، نو ځكه هغوی ته دا اشتباه كېدی سي چې د دين سرچينه فقط قرآن او حديث دي، اسلامي امت ته د فقهي څه ضرورت نسته، دا شبهه هغه خلكو ته كېدی سي چې هغوی فقه له قرآن وحديث څخه عليحده د شريعتِ محمدي يوه مستقله سرچينه او مأخذ گڼي، لېكن دا خيال بالكل غلط او بې بنسټه دی، په اصل كي پرته له دې د فقهي بل هيڅ حقيقت نسته چې هغه تر يو خاص ضابطې لاندي د قرآن وحديث بشپړه او جامع شرحه ده، هغه له قرآن و حديث څخه عليحده نه ده، بلكي له قرآن و حديث څخه را اخيستل سوې ده، كومي خبري چې قرآن و حديث په اجمالي او مختصره توگه بيان كړي دي، هغه خبري فقهي او د فقهي امامانو په تفصيل سره د فروعاتو او جزئياتو په توگه ښكاره كړي دي، لكه څرنگه چې د شافعي مسلک باني او لاربنوونكی امام محمد بن ادريس الشافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: جميع ما تقوله الائمة شرح للسنة وجميع السنة شرح للقرآن، (ټومره خبري چې امامان بيانوي [خصوصًا د فقهي امامان] هغه ټوله د حديثو شرحه ده، او د حديثو ټوله ذخيره د قرآنِ كريم شرحه ده)، او حافظ جلال الدين سيوطي په خپل كتاب الاشباه والنظائر كي د فقهي په باره كي ليكي: إن الفقه معقول من منقول، (فقه يو عقلي علم دی كوم چې له منقول[يعني له قرآن او حديث] څخه حاصل سوی دی)؛ معلومه سوه چې فقه صرف د قرآن او حديث يوه جامع شرحه ده، لهذا د قرآن و حديث او د فقهي په مينځ كي د تفريق كوښښ صرف د اسلامي دښمنانو دسيسه او مكر دی.

د فقهي مبادي: د هر فن او كتاب تر وياو مخكي د هغه فن له لازمي مباحثو او د كتاب د مصنف له حالاتو څخه خبرېدل ډېر ضروري دي، څرنگه چې دا كتاب د فقهي دی، نو د دې تر شروع كولو مخكي هم د څو شيانو پېژندل ډېر مهم دي:

(١) د فقهي تعريف، (٢) موضوع، (٣) غرض وغايت، (٤) مأخذ، (٥) حكم، (٦) د كتاب د مصنف ژوند ليک.

د فقهي لغوي تعريف: فقه له کرُم او سمِع دواړو بابونو څخه راځي، کله چي له سمع څخه راسي، يعني فَقِهَ يَفْقَهُ فِقْهًا، نو معنیٰ يې کيږي: العلم بالشئ (په يو شي پوهېدل)، پېژندل، او کله چي له کرم څخه راسي، يعني فَقُهَ يَفْقُهُ فَقَاهَةً، نو معنیٰ يې راځي: فقيه او عالم کېدل، هوښيار کېدل.

د "فقه" لفظ په قرآن کريم کي شل(٢٠) ځايه استعمال سوی دی، لېکن چيري هم ماضي او مصدر نه دي ذکر سوی، بلکي هرځای مضارع استعمال سوی دی، او بيا صرف يو ځای د "تفعّل" له باب څخه راغلی دی، نور ټوله ځايونه د "سمع" له باب څخه استعمال سوی دی.

د فقهي اصطلاحي تعريف: العلم بالأحكام الشرعية الفرعية المكتسبة من أدلتها التفصيلية. (فقه د شريعت د فرعي احکامو هغه علم ته ويل کيږي چي د احکامو د تفصيلي دلائلو په ذريعه حاصل کړی سي).

د فقهي د اصطلاحي تعريف پوره تشريح:

الاحكام الشرعية الفرعية: شرعي احکام پر دوه قسمه دي: (١) اصلي (٢) فرعي.

اصلي احکام: هغه احکامو ته ويل کيږي چي تعلق يې د عقيدې سره وي، يعني اعتقادي احکامو ته اصلي احکام ويل کيږي، لکه د الله عز وجل وحدانيت (يووالی)، د رسول الله ﷺ رسالت، د آخرت علم، دا ټوله احکامِ اعتقاديه دي، چي اصلي احکام هم ورته ويل کيږي، علمِ فقه د دې سره تعارض او نښته نه لري، بلکه له فرعي احکامو څخه بيان کوي.

فرعي احکام: هغه احکامو ته ويل کيږي چي تعلق يې د عمل سره وي، لکه لمونځ، روژه، حج، خرڅول او رانيول، په علمِ فقه کي همدغه احکام بيانيږي.

أدلتها التفصيلية: د دې عبارت اصلي مطلب دا دی چي فقه هغه علم دی چي په هغه کي د احکامو تفصيلي دلائل هم معلوم کړای سي، مثلاً يو څوک ووايي چي حج فرض دی، نو دليل به يې هم ورته معلوم وي چي دا آيت دی: وأتموا الحج والعمرة لله [البقره: ١٩٦]، يا مثلاً دا مسئله بيان کړي چي لمونځ او زکاة فرض دی، نو دا به هم ور ته معلومه وي چي دليل يې دا آيت دی: أقيموا الصلوٰة و آتوا الزكوٰة واركعوا مع الراكعين [البقرة: ٤٣]، لنډه دا چي د انسان د اعمالو پر هره جزئيه د حلت، حُرمت، کراهت او د وجوب حکم لګولو او د هريوه دليل بيانولو ته علمِ فقه ويل کيږي.

د فقهي موضوع: فعل المكلف ثبوتًا أو سلبًا، يعني د حلالېدلو او حرامېدلو په اعتبار سره د مکلف فعل د علمِ فقه موضوع ده، يعني د مکلف انسان له فعل او عمل څخه دا بحث کول چي دا فرض، يا سنت مؤکده، يا نفل دی، يا مثلاً حرام، يا مکروه تحريمي، يا مباح دی.

د فقهي غرض و غايت: الفوز بسعادة الدارين، يعني په دنيا او آخرت کي نېک بختي او کاميابي حاصلول د فقهي غرض و غايت دی، د دنيا کاميابي خو دا دِه چي فقيه د خدای مخلوق ته ديني فايده رسوي، چي آخر د هغه په وجه د عزت ځای او لوړو درجوته ورسيږي، او د آخرت نېک بختي دا ده چي شفاعت او جنت به حاصل کړي، او د خپل پروردګار په سپېڅلي ديدار به مشرف سي.

د فقهي مأخذ: کتاب، سنت، اجماع او قياس د فقهي مأخذونه دي.

د فقهي حکم: يعني په شريعت کې د فقهي حيثيت څه دئ؟ جواب يې دا دی چې د دين د ضروري مسئلو زده کړه فرض عين ده، او له هغه څخه ماسوا د نورو مسئلو زده کړه مستحب ده.

د هدايې د مصنف لنډ ژوند ليک

نوم او نسب: د هدايې د مصنف نوم علي دی، کنيت يې ابوالحسن دی، لقب يې برهان الدين او د پلار نوم يې ابوبکر دی، د نسب سلسله يې داسې ده: ابوالحسن علي بن ابي بکر بن عبد الجليل بن الخليل المرغيناني الفرغاني الحنفي (کشف الظنون)، او نسب يې د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه سره يو ځای کيږي.

د پيدايښت ځای او نېټه: د هدايې مصنف علامه مرغيناني رحمه الله د دوشنبې په ورځ د مازيګر په وخت کې د رجب المرجب په اتمه(۸) ورځ، په سنه: ۵۱۱ هـ کې دې دنيا ته سترګې پرانيستلې، په عامه توګه د ده د نوم سره مرغيناني ليکل کيږي چې له هغه څخه دا وهم کيږي چې د ده د وطن اصلي او د پيدايښت ځای مرغينان دی، لېکن صحيح دا ده چې مرغينان د ده وطن اصلي او د پيدايښت ځای نه دی، بلکې د مرغينان د "رُشد" په نامه يو کلي(محله) کې د ده پيدايښت وسو، نو ځکه ځيني خلک تر مرغيناني وروسته رشداني هم ليکي، مرغينان د فرغانه ولسوالی سره مربوطه يوه غټه سيمه وه چې اوس هغه په ازبکستان کې ده، لېکن په دې نامه سره اوس شهرت نه لري.

يادونه: مَرغينان د ميم په فتحه سره دی، او فَرغانه د فاء په فتحه سره دی.

تعليم او پالنه: د علامه مرغيناني رحمه الله پلار د ده په کم عمری او ماشومتوب کې وفات سو، نو اوله تعليمي پالنه يې مورني نيکه قاضي امام بن حسيب بن علي وکړه، دا بزرګ د مرغينان د سيمې قاضي وو، او د شمس الائمه سرخسي رحمه الله له شاګردانو څخه وو، په فقه، علم کلام او قضاء کې يې ډېر مهارت درلودی.

صاحب د هدايې د مورني نيکه تر مړيني وروسته د علم فقه او علم کلام حاصلولو لپاره فرغانه ته سفر وکړی، تر هغه وروسته سمرقند، بخارا، نيشاپور، مرو، بلخ، حرمين شريفين، بغداد او همدان ته هم ولاړی.

استاذان: په فرغانه کې يې له ابو المعاني ظهير الدين بن زياد بن الياس څخه استفاده وکړه، په سمرقند کې يې له علامه نجم الدين عمر نسفي څخه علمي استفاده وکړه، علامه نسفي ډېر ستر مفتي، فقيه، محمد او مفسر وو، چې په فقه او حديث کې يې ډېر کتابونه ليکلي دي، د عقائدو پر موضوع يې هم يو مختصر کتاب ليکلی دی، چې علامه تفتازاني د هغه شرحه ليکلې ده، کوم چې د(شرح عقائد) په نامه سره مشهوره دی، په نيشاپور کې د ده استاذ شيخ صفي الدين ابو البرکات عبد الله بن محمد صاعدي وو، او په مرو کې يې له محمد بن ابی بکر الخطيب، شيخ ضياء الدين محمد بن الحسين البنديجي، او شيخ ابو الفتح محمد بن عبدالرحمن مروزي څخه علم فقه او علم حديث حاصل کړی، په بلخ کې يې له قاضي سعيد بن يوسف حنفي، ابو شجاع ضياء الاسلام عمر بن محمد بسطامي څخه د حديثو روايت حاصل کړی، په بخارا کې يې له برهان الائمه الصدر الشهيد عمر بن عبد العزيز بن مازه(مؤلف محيط البرهان) څخه د علم کلام او د علم فقه تعليم حاصل کړی، همدارنګه يې له شيخ احمد بن العزيز، شيخ محمد بن عبد الرحمن بخاري، شيخ ابوعمر عثمان بن علي بيکندي او علامه ابو الرضا محمد بن محمود طرازي څخه هم استفاده وکړه.

شاګردان: په ماوراء النهر کې د فقهي د نشر کېدلو اصلي لامل علامه مرغيناني رحمه الله وو، او بې شمېره خلکو له دوی څخه استفاده وکړه، چې له هغو څخه د يو څو نومونه دا دي: (۱) شمس الائمه محمد بن عبدالستار کردي، (۲) شيخ

جلال الدین محمد بن الحسین الاستروشني، (۳) امام عمربن محمود بن محمد، (۴) قاضی القضاة محمد بن علی بن عثمان سمرقندی، (۵) برهان الاسلام علامه زرنوجی (مولف تعلیم المتعلم) او داسي نور.

تصنیفونه: د هدایې د مصنف یو څو مهم تصنیفونه دا دي: (۱) بدایة المبتدی، (۲) کفایة المنتهی، (۳) نشر المذهب، (۴) التجنیس، (۵) المزید، (۶) مختارات النوازل، (۷) منتقی الفروع، (۸) کتاب الفرائض، (۹) مناسک الحج، (۱) شرح الجامع الصغیر.

علم او کمال: صاحب د هدایې په خپله زمانه کي ډېر ستر عالم وو، تاسو له دې څخه اندازه وکړئ چي هغه د هدایې په شیر عظیم الشان تصنیف لیکلی دی چي په فقهي نړۍ کي یې هیڅ ساری نه لیدل کیږي، همدا راز د ده د علم او کمال تعریف له نورو نامتو علماؤ څخه علاوه د ده همعصره (همدوره) علماؤ هم کړی دی، او انسان ډېر کم د خپل همعصر د فضل او کمال تعریف کوي، لکه څرنګه چي علامه عبدی الحي لکنوي رَحِمَهُ الله لیکلي دي: وأقرّ له (لصاحب الهداية) بالفضل والتقدّم أهل عصره كالإمام فخر الدين قاضي خان وصاحب المحيط، وصاحب الفتاوى الظهيرية وغيرهم (فوائد البهية ص: ۱۴۱)، او د جواهرِ مضیه مصنف د دوی فضل او کمال داسي بیان کړی دی: كان إمامًا فقيها حافظا محدثا مفسرا جامعا للعلوم ضابطا للفنون متقنا محققا نظارا مدققا زاهدا ورعًا بارعا فاضلا ماهرا أصوليا أديبا شاعرا لم تر العيون مثله في العلم والأدب.

د مړیني نېټه: شیخ الاسلام علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله د سېشنبې په ورځ د ذوالحجې په څوارلسم (۱۴) تاریخ په سنه: ۵۹۳ هـ کي له دې فاني نړۍ څخه کوچ وکړی، او د سمرقند په "کروین" ښار کي د علم او کمال دا ځلانده لمر د تل لپاره پټ سو.

الباقیات الصالحات: صاحب د هدایې درې زامن پرېښول: عماد الدین، نظام الدین عمر، ابو الفتح جلال الدین محمد، او درې سره د فضل و کمال خاوندان او د خپل پلار تربیه سوي ول.

صاحب د هدایې یو ستر محدث او حافظ الحدیث وو

صاحب د هدایې فقط د فقهي نه بلکي د حدیثو امام او حافظ هم وو، علامه ظفر احمد عثماني رَحِمَهُ الله لیکي چي: " د علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله د ستر محدث کېدلو ښکاره دلیل دا دی چي دوی په خپل تصنیفونو کي خصوصاً په هدایه کي په زیاته اندازه حدیثونه رانقل کړي دي.

همدارنګه نامتو محدث مولانا محمد عبد الرشید نعماني صاحب د هدایې په باره کي له اعلام الأخيار څخه د علامه محمود بن سلیمان کفوي دا قول رانقل کړی دی چي: كان (صاحب الهداية) اماما فقيها حافظا محدثا مفسرا (ابن ماجه اور علم حدیث ص: ۱۹۷)

خو د بعضي کم نظرو یا متعصّب علماؤ له ستر ګو څخه د حنفیه وو د دې ستر امام دغه ځلانده اړخ (حدیثي اړخ) پټ دی، او د هدایې او حنفیت په باره کي په ناپوهی مبتلا دي.

د هدایې د مصنف طبقه

ابن کمال باشا صاحب د هدایې له اصحابُ الترجیح څخه شمېرلی دی، او بعضو له اصحابُ التخریج څخه شمېرلی دی، د علامه لکنوي رَحِمَهُ اللهُ په فکر صاحب د هدایې یو مجتهد دی د مذهب له مجتهدینو څخه. (مقدمه نصب الرایه ج: ۱، ص: ۱۲)

د هدایې د لیکلو وجه

مخکې تر هدایې علامه مرغیناني (صاحب د هدایې) د خپلې فقهي تندې د بشپړتیا لپاره د بداية المبتدی په نامه یو کتاب ولیکی، او په دې تصنیف سره د هغه مقصد دا وو چې په مختصره عبارت کې فقهي احکام او مسائل راجمع کړای سي چې خلګو ته یې کتل آسانه وي، او د ډېرو پانو اړولو پر ځای په یو کتاب کې په مختصر وخت کې په دیني احکامو او مسائلو سره خلک خبر سي، خو دا کتاب خلافِ توقع زيات مختصر سو، نو ځکه یې د کفاية المنتهي په نامه د دې کتاب یوه بله غټه شرحه ولیکله؛ خو دا شرح دومره اوږده سوه چې اتیا (۸۰) جلدو ته ورسېدل. لنډه دا چې صاحب د هدایې په ایجاز (لنډوالي) کې هم مبالغه وکړه، او په طوالت (اوږدوالي) کې یې هم مبالغه وکړه؛ تر دې وروسته هغه ته دا احساس وسو چې داسې نه د ډېر اوږدالي په سبب خلک اصل کتاب پرې نه اږدي، او محنت به مې خاوري و ضایع سي، نو دویم ځل یې بیا خپل عزم او همت ګرندی کړی، او په سنه: ۵۷۳ ھ کې د ذي القعده په میاشت کې د چهارشنبې په ورځ د الهداية په نوم بل تصنیف شروع کړی، او په دې ځل یې دا کوښښ وو چې دا تصنیف نه دومره مختصر سي چې لوستونکو ته هیڅ په لاس ور نه سي، او نه دومره اوږد سي چې د خلل سبب جوړ سي.

الحمدلله! د دیارلسو کالو په اوږده موده کې د سخت پرلپسې کوښښ او زیار په نتیجه کې د هغه دا کتاب بشپړ سو، او د لمر د ځلا په څېر د فقهي آسمان پر څنډو وغوړېدی، او د عوامو و خواصو مرجع جوړ سو.

د هدایې د لیکلو زمانه

علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله د هدایې تصنیف په سنه: ۵۷۳ ھ کې د ذی القعده په میاشت د چهارشنبې په ورځ د ماپښین تر لمانځه وروسته شروع کړی، او په ډېر کوښښ او زیار سره یې د دیارلس (۱۳) کالو په موده کې دا ستر کتاب پوره کړی. او د تصنیف په وخت کې د ده د اخلاص، تعلق مع الله او د عبادت دا حال وو چې د دیارلس کالو په دې اوږده موده کې یې همېشه روژې هم نیولې، او پوره کوښښ یې کوی چې څوک یې په روژو خبر نه سي، کله چې به خادم خوراک راوړی. نو ده به یو طالب یا مېلمه ته ورکړی، چې په هغه سره به د خادم دا خیال سو چې خوراک ده په خپله خوړلی دی. سبحان الله! (کشف الظنون ج:۲، ص: ۲۰۳۲؛ ومقدمه نصب الرایه ج:۱، ص: ۱۴)

د هدایې د بابونو او فصلونو شمېر

د هدایې د هر جلد د کتابونو، بابونو او فصلونو د پېژندګلوۍ لپاره لاندي نقشه وګورئ!

جلد	کُتب	ابواب	فصول
هدایه اول	۵	۴۶	۳۶
هدایه ثانی	۱۴	۵۲	۳۹
هدایه ثالث	۲۲	۴۴	۴۲
هدایه رابع	۱۶	۲۳	۳۷

له دې نقشې څخه معلومه سوه چې د هدایې ټوله کُتب ۵۷. ټوله بابونه یې ۱۶۵ او ټوله فصلونه یې ۱۵۵ دي.

د هدایې شروح او حواشي

کوم کتاب چې د علماؤ په نيز څومره معتبر او مهم وي، هومره يې د شروحاتو او حواشي وو زيات بندوبست سوی وي، څرنګه چې هدايه هم يو معتبر او منلی کتاب دی، نو ځکه په هر دور او زمانه کې سترو علماؤ هدايې ته هم ډېر غټ ارزښت ورکړی دی، او د هغې لپاره يې په ډېره زياته اندازه شروحات او حواشي ليکلي دي، چې شمېر يې تقريباً تر څلوېښتو(۴۰) اوړي، له هغو څخه يو څو مهمې شرحې دا دي:

شمېر	د شرحې نوم	مؤلف
۱	النهاية	د هدايې د مصنف شاګرد امام حسام الدين المعروف بالصغناقي الحنفي (متوفی سنه: ۷۱۰هـ)
۲	نهاية الكفاية في دراية الهداية	الامام تاج الشريعة عمر بن صدر الشريعة الاول عبيد الله المحبوبي الحنفي (متوفی سنه: ۶۷۲هـ)
۳	العناية	شيخ اكمل الدين محمد بن محمود البابرتي الحنفي (متوفی سنه: ۷۸۶هـ)
۴	البناية	الحافظ بدر الدين العيني الحنفي صاحب عمدة القاری شرح البخاری (متوفی سنه: ۸۵۵هـ)
۵	فتح القدير للعاجز الفقير	الشيخ امام كمال الدين محمد بن عبد الواحد المعروف بابن الهمام (متوفی سنه: ۸۶۱هـ)
۶	الكفاية	العلامه السيد جلال الدين الخوارزمي (متوفی سنه: ۷۶۷هـ)
۷	الفوائد	العلامه الفهامه مولانا حميد الدين علي بن محمد ضرير (دا د هدايې تر ټولو مخکنی شرحه ده، ليکن علامه سيوطي وايي چې د هدايې اوله شرحه "نهايه" ده)
۸	غاية البيان ونادرة الأقران	الشيخ قوام الدين امير كاتب بن عمر الاتقاني
۹	غاية السروجي	ابو العباس احمد بن ابراهيم السروجي (متوفی سنه: ۷۱۰هـ)
۱۰	التوشيح	الشيخ سراج الدين عمر بن اسحاق الغزنوی الهندی (متوفی سنه: ۶۹۰هـ)
۱۱	شرح الهداية	العلامه علاء الدين المعروف بابن التركماني الماردينى (متوفی سنه: ۷۵۰هـ)
۱۲	شرح خلاطي	العلامه علاءالدين علي بن محمد بن حسن خلاطي (متوفی سنه: ۷۵۸ هـ)
۱۳	معراج الدراية إلى شرح الهداية	الامام قوام الدين محمد بن احمد المخجندی البخاری السكاكي
۱۴	نصب الراية لأحاديث الهداية	حافظ جمال الدين زيلعي حنفي (متوفی سنه: ۷۶۲)
۱۵	الدراية في منتخب تخريج أحاديث الهداية	حافظ ابن حجر عسقلاني شافعي (متوفی سنه: ۸۵۲)
۱۶	حاشيه قارئ الهداية	الشيخ سراج الدين عمر بن علي كتاني (متوفی سنه: ۸۲۹ هـ)
۱۷	حاشيه مولانا عبد الحی لکنوي	الشيخ مولانا عبد الحی لکنوي (متوفی سنه: ۱۳۰۴هـ)

د هدايې مقبوليت، ارزښت او عظمت

د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله د ډېر او ناياب اخلاص، تقوىٰ او محنت ثمره دا سوه چي الله ﷻ هدايې ته هغه مقبوليت ور وبخښی چي تصور يې هم انسان کولای نه سي، همدا وجه ده چي تر قرآن وروسته له زياتو لوستل سوو کتابونو څخه هدايه هم يو کتاب شمېرل کيږي، ډېر کم به يو داسي کتاب فروشي پيدا سي چي په هغه کي هدايه نه وي، د هدايې د دې مقبوليت په ليدلو سره يو شاعر ډېر ښه ويلي دي:

إِنَّ الْهِدَايَةَ كَالْقُرْآنِ قَدْ نَسَخَتْ

مَا صَنَّفُوا قَبْلَهَا فِي الشَّرْعِ مِنْ كُتُبٍ

فَاحْفَظْ قَوَاعِدَهَا وَاسْلُكْ مَسَالِكَهَا

يَسْلَمْ مَقَالُكَ مِنْ زَيْغٍ وَمِنْ كَذِبٍ (كشف الظنون ج:٢، ص: ٢٠٣٢)

ژباړه: لکه څرنګه چي قرآن کريم مخکني آسماني کتابونه منسوخ کړل، همدارنګه هدايې د فقهي مخکني کتابونه منسوخ کړل؛ نو(اې طالبه!) د دې قواعد او ضوابط ياد کړه، او طريقې يې خپلي کړه، چي ستا خبري له دروغ او کږوالي څخه خوندي سي.

همدارنګه د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله زوی ابوحفص محمد بن علی عمادالدين د هدايې په باره کي ليکلي دي:

كِتَابُ الْهِدَايَةِ يَهْدِي الْهُدَى

إِلَى حَافِظِيهِ وَيَجْلُو الْعَمَى

فَلَازِمْهُ وَاحْفَظْهُ يَا ذَا الْحِجَى

فَمَنْ نَالَهُ نَالَ أَقْصَى الْمُنَى

ژباړه: هدايه خپلو يادونکو ته د هدايت لار ورښيي، او ړوندالی په بينايی(او ځير کتوب) بدلوي. نو اې د عقل څښتنه! دا ټينګه ونيسه او ياده يې کړه، ځکه چا چي دا حاصله کړه، هغه خپلي ارزوګاني پوره کړې.

هدايه يو ډول معجزه ده

صاحب د تنظيم الداريه حضرت مولانا محمد ابو الحسن رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي "هدايه" او "حجة الله البالغه" د سرِدلر کونين محمد ﷺ له هغه معجزو څخه دي کوم چي د نبي ﷺ تر وفات وروسته د هغه د امتيانو په لاس ښکاره سوي دي. د "حجة الله البالغه" په باره که همدا قيمتي خبره له علامه سيد ابو الحسن علي ندوي څخه هم رانقل سوې ده. (تنظيم الدراية ص: ٣١)

هدایه د دماغي تمرین(ورزش) او د ذهن د پیاوړتیا لپاره یوه کامیابه نسخه ده

همسې خو هدایه د فقهي کتاب دی، لېکن که دې ته د "پوهي کتاب" وویل سي، نو بې ځایه به نه وي، ځکه چي د دې کتاب هره لیکه له عقل او پوهي څخه ډکه ده. دا خبره بالکل ښکاره ده چي د هدایې د یوې صفحې عقل او حکمت د "قاضي" په سلهاوو صفحه کي نه سي ترلاسه کېدلی، خاص همدارنګه د ارسطاطالیس د ټوله ژوند عقل د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله د یوې ورځې د عقل مقابله نه سي کولای.

د دماغي ورزش(سپورټ) او د ذهن تېزولو لپاره زموږ په نصاب کي ډېر کتابونه وېل کیږي، لېکن حقیقت دا دی چي د هدایې په عجیب و غریب او فصیح و بلیغ عبارتونو سره چي څومره ذهن تیزیږي، او دماغ ته څومره تمرین ورکول کیږي، یو کتاب هم په دې مقصد کي د دې عظیم کتاب سره نه سي برابرېدلی، د دې کتاب تر زده کړي او ښه پوهني وروسته د ستونزمنو مباحثو او د مشکلو نکتو یوه عجیبه ملکه او همت په انسان کي پیدا کیږي(هغه که د هر فن مشکلي نکتې او مباحث وي)، هیڅ سلیمُ الفکر او د عقل څښتن هم چي د هدایې سره یې پوره تعلق وي له دې خبرو څخه انکار نه سي کولای. (تنظیم الدرایة ص: ۳۱)

د هدایې په اړه یو نظر

د هدایې د شرحه لیکلو په وخت کي دا اندازه را ته وسوه چي صاحب د هدایې اصل متن قدوري جوړ کړی دی، او زیاتي مسئلې یې له قدوري څخه را اخیستي دي، او د هغه تشریح یې کړې ده. کله نا کله یې د باب په مینځ کي د جامع صغیر او کتابُ الاصل(مبسوط) عبارت هم متن جوړ کړی وي، او د هغه تشریح یې کړې وي، نو ګواکي د هدایې متن د دې دریو کتابونو مجموعه ده: ① مختصر القدوري، ② جامع صغیر، ③ مبسوط.

د هدایې د حدیثونو په اړه یو ضروري نظر

صاحب د اثمار الهدایه وایي: د هدایې لیکوال چي کوم حدیثونه راوړي دي، هغه عمومًا روایت بالمعنیٰ دي، له کتاب څخه یې مخامخ لیکلي نه دي، همدا وجه ده چي هغه پوره حدیث نه لیکي، بلکي د استدلال لپاره صرف د حدیث یوه ټوکړه(قطعه) لیکي، او په هغه سره دلیل نیسي، لېکن پر دې موقع بعضي خلګ دا اشکال کوي چي موږ تر ډېري پلټني وروسته هم داسي حدیث پیدا نه کړی؛ اوس موږ هغه وجهي ذکر کوو چي د هغو په سبب بعضي خلګو ته دا شبهه کیږي چي داسي حدیث بالکل نسته یا دا حدیث غریب یا موضوعي دی.

(۱) اوله وجه دا ده چي صاحب د هدایې کله نا کله داسي قطعه لیکلې وي، چي په دوو حدیثونو کي هم ترلاسه کیږي، خلګ پر هغه اعتراض کوي چي دا جمله په هیڅ یو حدیث کي نسته، یا دا بالکل حدیث نه دی، لېکن دې ته نه ګوري چي دا جمله په دوو حدیثونو کي غوړېدلې ده.

(۲) کله نا کله داسي هم سوي وي چي تر یوې جملې مخکي یې قوله علیه السلام لیکلي وي، چي له هغه څخه دا معلومیږي چي دا د حدیث ټوکړه ده، لېکن تر تحقیق او پلټني وروسته معلومه سوه چي دا حدیث نه دی، خو د صحابي یا تابعي قول خامخا دی، کوم ته چي حدیث مرسل وایي، لېکن ځیني خلګ د داسي جملې د لیدلو په وخت کي دا شبهه کوي چي دا بالکل حدیث نه دی، او بغیر له تحقیق څخه پر صاحب د هدایې دا مُهر لګوي چي هغه موضوعي حدیث رانقل کوي، لېکن دې ته نه ګوري چي دا که حدیث نه دی، لېکن د صحابي یا تابعي قول حتمًا دی.

(۳) کله داسې هم سوې وي چې صاحب د هدايې داسې لفظ ليکلی وي چې په حديثو کې نه وي. لېکن د هغه په معنیٰ(هَمْ معنیٰ) لفظ وي، چې دليل په ونيول سي، په دې وخت کې هم ځينې خلکو ته اشکال وي چې دا حديث نه دی، لېکن خيال يې نه وي چې صاحب د هدايې دلته د حديث الفاظو ته ور ته نور الفاظ ذکر کړي دي.
(۴) داسې هم سوې دي چې مثلاً حديث يا قول د حضرت عبدالله بن عمر وي، او صحاب د هدايې د عبدالله بن عباس نوم ذکر کړی وي، چې د هغه په وجه بعضې حضراتو دا ليکلي وي، چې دا حديث نه دی، لېکن تر پلټنې وروسته معلومه سوه چې دا د بل صحابي حديث يا قول دی، نو ځکه دا سې حديثونه او آثار هم بې بنياده نه دي، صرف د راوي په نوم کې تبديلي راغلې ده.
يادونه: د کومو مسئلو لپاره چې صاحب د هدايې يو حديث يا دحديث يوه ټوټه ذکر کړې وي، صاحب د اثمار الهدايه کوم چې په اوسني وخت کې د ديوبند ستر فاضل دی، د هغه لپاره درې درې پوره حديثونه د حوالو سره ذکر کړي وي. نو که څوک د هدايې د حديثونو په باره کې پوره معلومات غواړي اثمار الهدايه ته دې رجوع وکړي. او دا شبهه دې نه کوي چې د حنفي مسئلو لپاره حديثونه نسته.

په هدايه کې د هدايې د مصنف عادتونه او طريقې

(۱)... مصنف د هدايې چې کله قال رَضِيَ اللهُ عَنْه وايي، نو له دې څخه د هغه خپل ذات مراد وي، همدا راز شيخ محدث دهلوي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي، لېکن ابو السعود رَحِمَهُ الله فرمايي چې د خپل ځان ذکر کولو لپاره صاحب د هدايې داسې ليکلي دي: قال العبد الضعيف عفی عنه، لېکن تر وفات وروسته يو شاگرد د هغه پر ځای قال رَضِيَ اللهُ عَنْه ليکلي دي. ځکه چې د خپل ځان لپاره قال رَضِيَ اللهُ عَنْه ليکل ښه نه دي، د ټېرو مشرانو هم دغه طريقه ده.
(۲)... د هدايې د مصنف دا عادت هم دی چې د اقوالو د ليکلو په وخت کې قوي قول مخکې ذکر کوي. لېکن د دلائلو د ليکلو په وخت کې چې کوم مذهب د ده په نيز مختاره وي، د هغه دليل وروسته بيانوي، چې دا دليل د مخکې دلائلو جواب هم سي.
(۳)... صاحب د هدايې چې کله قال مشائخنا ذکر کړي، نو له دې څخه د بخارا، سمرقند او فرغانه علماء مراد وي. د بخارا، سمرقند، ترمذ، فرغانه او ماوراء النهر علماء به په هغه زمانه کې يو ستر حيثيت درلودی. او په فتویٰ کې به د هغو يو ځانگړی مقام وو، په دې خاطر صاحب د هدايې د خپلو مشائخو رايې ته اهميت ورکوي. اوس د دې ښارونو هيڅ حيثيت نسته، دا ښارونه په اوسني وخت کې د ازبکستان د دريائې سيحون او دريائې جيحون په مينځ کې پراته دي.
(۴)... صاحب د هدايې چې کله ديارنا ذکر کوي، نو له دې څخه د ده خپل ښار مراد وي، او د ده ښار د ماوراء النهر سره نژدې په فرغانه کې وو.
(۵)... کوم آيت چې مخکې تېر سوی وي. دويم ځل د هغه و طرف ته د اشاره کولو لپاره صاحب د هدايې بما تلونا ذکر کوي.
(۶)... کوم حديث چې مخکې ذکر سوی وي، دويم ځل د هغه و طرف ته د اشاره کولو لپاره بما روينا ذکر کوي.

(۷)... کوم عقلي دليل چې مخکې تېر سوی وي، دويم ځل د هغه و طرف ته د اشاره کولو لپاره بما ذکرنا يا ما بينا ذکر کوي.

(۸)... کله داسې هم کيږي چې د آيت، حديث او دليلِ عقلي ټولو وطرف ته د اشاره کولو لپاره لما بينا ذکر کوي.

(۹)... کله نا کله عقلي دليل د "فقه" په لفظ سره ذکر کوي، مثلاً وايي: الفقه فيه کذا.

(۱۰)... او کله چې تر يو عقلي دليل وروسته بل عقلي دليل ذکر کړي، نو له دې دويم دليل څخه د اول دليل علت او سبب بيانول مقصود وي.

(۱۱)... او کله چې د "الاصل" لفظ ذکر کړي، نو له دې څخه مراد د امام محمد رَحِمَهُ الله کتابُ الاصل وي، چې هغه ته د امام محمد رَحِمَهُ الله مبسوط هم وايي.

(۱۲)... کله چې د لفظ د "المختصر" ذکر کړي، نو له دې څخه مراد مختصر القدوري وي.

(۱۳)... کله چې لفظ د "الکتاب" ذکر کړي، نو له دې څخه مراد د امام محمد رَحِمَهُ الله جامعِ صغير وي.

(۱۴)... صاحب د هدايې د قدوري مسئلې اول ذکر کوي، وروسته د جامعِ صغير مسئلې ذکر کوي، او کله نا کله دا تصريح هم کوي چې دا مسئله له جامعِ صغير څخه را اخيستل سوې ده، خو په عامه توگه دا تصريح نه کوي.

(۱۵)... کله چې لفظ د قالوا ذکر کړي، نو مطلب يې دا وي چې په دې مسئله کې د علماؤ اختلاف دی، او د زياتره مشائخو قول همدغه دی.

(۱۶)... چيري چې هٰذا الحديث محمول علی کذا ذکر کړي، نو مقصد يې دا وي چې د حديثو اماماتو دغه حديث پر دې معنیٰ حمل کړی دی، او کله چې نحمله علی کذا ذکر کړي، نو مقصد يې دا وي چې اماماتو خو پر دې معنیٰ حمل کړی نه دي، لېکن پر دې معنیٰ حمل کول پکار دي.

(۱۷)... کله چې عند فلان ذکر کړي، نو مقصد يې دا وي چې دا قول د فلان مذهب دی، او کله چې عن فلان ذکر کړي، نو مقصد يې دا وي چې دا قول د فلان روايت دی، علامه عيني رَحِمَهُ الله په شرح هدايه کې ليکلي دي چې د عن کلمه په غيرِ ظاهر الروايه کې استعماليږي، او ابن الهمام رَحِمَهُ الله فرمايي چې کلمه د عند پر مذهب دلالت کوي.

(۱۸)... صاحب د هدايې د نحوياتو د بعضي اقوالو اتباع کوي، او د أما په جواب کې فاء نه ذکر کوي.

(۱۹)... له ان وصليه څخه واو ساقطوي، حال دا چې پر ان وصليه واو داخليږي.

(۲۰)... او کله چې د يو مسئلې لپاره تر يو ځل مثال ذکر کولو وروسته دويم ځل بيا د هغه مسئلې يا مثال و طرف ته اشاره کول وغواړي، نو د مثال و طرف ته د اشاره کولو لپاره اسم اشاره بعيد ذالك استعمالوي، او د مسئلې و طرف ته د اشاره کولو لپاره اسم اشاره قريب هٰذا استعمالوي.

(۲۱)... کله چې د یو مقدار سوال جواب ورکوي، نو د سوال تصریح نه کوي، داسې نه وايي: فان قیل کذا؛ فقط جواب ذکر کوي، په داسې وخت کې د سوال را ایستل ضروري وي، صرف په درې ځایونو کې یې سوال ذکر کړی دی: چې له هغو څخه دوه ځایه په کتاب ادب القاضي کې دي، او یو ځای په کتاب الغصب کې دی. (اثمار الهدایه ج:۱، ص: ۳)

(۲۲)... له ظاهر الروایة څخه مراد د امام محمد رحمه الله دا شپږ کتابونه دي: ① المبسوط، ② الجامع الصغیر، ③ الجامع الکبیر، ④ الزیادات، ⑤ السیر الصغیر، ⑥ السیر الکبیر.

د هدايي د مصنف مسامحات

د هیڅ مصنف او مؤلف په باره کې دا دعویٰ کېدلی نه سي چې د ده علم قطعي او غیر مشتبه دی، یو مصنف که هر څومره ستر ادیب او مضمون ساز هم وي، دا نه سي ویلای چې زما فلان تصنیف یا فلان کتاب له هر ډول غلطی، شک او تېروتني څخه پاک دی، دا صفت صرف او صرف د لوی څښتن ﷻ د پاک کلام قرآن کریم دی، چې د هغه علم قطعي او بالکل غیرمشتبه دی، او په هغه کې د شک، تعارض او تېروتني ذره قدر هم نسته، په خپله په قرآن کریم کې راغلي دي: لا یأتیه الباطل من بین یدیه ولا من خلفه (حمٓ السجدة)، دا د قرآن کریم یو داسې خصوصیت دی چې په هیڅ انساني کتاب کې نه سي راتلی، ښکاره دي وي چې د هدايې د بې شمېره ځانګړنو، فني خصوصیاتو او د نورو کمالاتو او فضائلو باوجود د هدايې د مصنف په څېر له ستر محقق عالم، فقیه او حافظ الحدیث څخه هم په دې کتاب کې څه مسامحات(تېروتني) سوي دي، او د هغو شمېر بعضي شارحینو ۲۳ ښوولی دی، چې له هغو څخه ۱۳ په هدایه اولین او پاته ۱۰ په آخرین کې دي. (د تفصیل لپاره د علامه عبد الحي لکنوي هدایه وګورئ!)

په دې عظیم کتاب کې د څو تېروتنو وجود هیڅ د پټولو خبره نه ده، ځکه چې آخر دا هم د انسان کتاب دی. او بیا خو دا صرف د هدايې د مصنف خصوصیت نه دی، په خپله د امام بخاري رحمه الله په څېر له ستر شخصیت څخه د تصنیف او تحقیق په میدان کې هم ډېر اوهام او مسامحات سوي دي، لکه څرنګه چې حافظ ابو بکر خطیب بغدادي په "موضح اوهام مجمع والتفریق" کې د امام بخاري ۷۲ اوهام ذکر کړي دي، چې له هغوی څخه په بېلابېلو ځایونو کې صادر سوي دي.

نو د ذٰلك الكتاب لا ريب فيه دعویٰ صرف د الهي کلام لپاره خاص ده، یو کتاب هم په دې کې د قرآن پاک سره شریک کېدلای نه سي.

د امامانو د لنډ ژونده لیک په اړه یوه مهمه نقشه

نومونه	امام ابو حنیفه	امام مالک	امام شافعي	امام حنبل	امام ابو یوسف	امام محمد
خپل اصلي نوم او د پلار نوم	نعمان بن ثابت	مالک بن انس	محمد بن ادریس	احمد بن محمد بن حنبل	یعقوب بن ابراهیم	محمد بن حسن
د پیدایښت ځای	کوفه	حمیري مدینه	په عسقلان کي د غزه	په بغداد کي د مروزي سیمه	کوفه	په کوفه کي د شیبان سیمه
د پیدایښت نېټه	سنه: ۸۰ه	سنه: ۹۵ه	سنه: ۱۵۰ه	سنه: ۱۶۴ه	سنه: ۱۱۳ه	سنه: ۱۳۲ه
د مړیني ځای	بغداد	مدینه	مصر	بغداد	بغداد	رَی
د مړیني نېټه	سنه: ۱۵۰ه	سنه: ۱۷۹ه	سنه: ۲۰۴ه	سنه: ۲۴۱ه	سنه: ۱۸۲ه	سنه: ۱۸۹ه
شیوخ او استاذان	ابراهیم نخعي، حماد بن سلیمان	تر نهه سوه(۹۰۰) زیات شیوخ، نافع	امام مالک، امام محمد، سفیان بن عیینه	امام ابو یوسف، امام شافعي، یحیی بن قطان	امام ابو حنیفه	امام ابو حنیفه، امام ابو یوسف، سفیان ثوری
شاګردان	امام ابو یوسف، امام محمد،	ابن مبارک، قطان	احمد بن حنبل، علي بن مدیني، اسحاق بن راهویه	بخاري، مسلم، ابو داؤد، عبد الله بن احمد	احمد بن حنبل، امام محمد، یحییٰ بن معین	امام شافعي، ابو حفص، یحیی بن معین
تألیفونه	-	موطأ امام مالک	موسوعة الامام الشافعي، کتابُ الأم	مسند امام احمد ۲۷۱۰۰ حدیثونه	کتاب الآثار، کتاب الخراج	موطأ امام محمد، الجامع الصغیر الجامع الکبیر
خدمتونه	د فقه، او اصول الفقه تدوین، او د حنفي مذهب باني-	د مالکي مذهب باني	د شافعي مذهب باني	د حنبلي مذهب باني	فقهي ته یې ترتیب ورکړی	د حنفي مسلک زیاتره کتابونه دوی لیکلي دي

د علم فقه مدوّن او باني

که څه هم د اسلامي علومو پیل د اسلام سره یو ځای وسو، او د نزولِ وحي له زمانې څخه د عقائدو، حدیث، تفسیر او فقه تعلیم شروع سو، خو څرنګه چي په ځانګړي ترتیب او خاص طرز سره په اوله هجري سدۍ(پېړۍ) کي د "علم الفقه" تدوین نه وسو، او نه دې ته د یو ځانګړي فن حیثیت حاصل وو، نو ځکه په اوله پېړۍ کي د یو ځانګړي انسان وطرف ته د فقه تدوین نه منسوب کیږي، خاص همدغه حال د نورو علومو او فنونو هم دی.

لېکن کله چي په دویمه هجري پېړۍ کي تر ټولو مخکي امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ الله (مولد سنه: ۸۰ه، متوفی سنه: ۱۵۰ه) په ځانګړي انداز او ترتیب سره تر اصولو او ضوابطو لاندي "فقه" مدونه کړه، او هغه ته یې د مستقل فن شکل ورکړی، نو ځکه هغوی ته د دې أهم فن باني ویل کیږي.

لکه څرنګه چې حافظ جلال الدين سيوطي شافعي (متوفی سنه: ۹۱۱هـ) په خپل کتاب (تبييض الصحيفة بمناقب أبي حنيفة) کې له ځينې سترو علماؤ څخه رانقل کړې دي چې: "د امام صاحب له ځانګړي مناقبو څخه دا هم دي چې امام صاحب تر ټولو مخکې هغه کس دی چې د شريعت علم يې سره راټول او مدوّن کړی، او هغه ته يې د فقهي بابونو ترتيب ورکړی، بيا د هغه په اتباع کې امام مالک رَحِمَهُ الله (موطأ امام مالک) وليکی". (تبييض الصحيفة ص: ۳۶).

ښکاره دي وي چې له تدوين شريعت څخه مراد د شريعت مسائلو ته د فقهي بابونو ترتيب ورکول دي، چې د هغه دويم نوم تدوين فقه ده، همدارنګه د صحاح سته وو مشهور راوي او محدث نضر بن شميل فرمايلي دي چې: "خلک له علم فقه څخه غافل وو، د امام صاحب انقلابي حرکت دوی راويښ کړه".

له دې معتبرو روايتونو څخه ښکاره سوه چې د علم فقه باني او مدوّن امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دی.

د حنفي فقهي ځانګړتياوي

د فقه حنفي ډېري ځانګړني او خصوصيات دي، چې پر دې موقع د هغو شمېرل مشکل دي، دلته صرف د ښوونې په توګه صرف درې خصوصيات ذکر کوو:

① د حنفي فقهي يو عظيم خصوصيت دا دی چې د دې فقهي باني او لاربښوونکي امام ابوحنيفه رَحِمَهُ الله تابعي دی، او د الله ﷻ په دې قول والذين اتبعوهم بإحسان رضي الله عنهم ورضوا عنه [التوبه: ۱۰۰] کې داخل دی، دا يو داسې امتياز دی. چې بل مذهب يا فقهي ته حاصل نه دی، ځکه چې امام صاحب ته د تابعيت شرف حاصل وو، او په کتابونو کې د دې ډېر شواهد او دلائل ليکل سوي دي.

② د حنفي فقهي يو بل خصوصيت دا دی چې څومره فقهي مذهبونه په دې نړۍ کې مدوّن سوي دي، په هغو کې حنفي مذهب تر ټولو مخکې مدوّن سوی دی، لکه څرنګه چې مخکې معلومه سوه، او په دې لړ کې علامه امام شعراني شافعي رَحِمَهُ الله (متوفی سنه: ۹۷۳) په خپل ناياب کتاب (الميزان) کې د يوې عجيبې خبرې طرف ته اشاره کړې ده. هغه دا چې څرنګه حنفي مذهب تر ټولو مخکې په وجود کې راغلی دی، همدارنګه به د فناء کېدلو په اعتبار سره تر ټولو آخر وي، فرمايي: فكما كان مذهب الإمام أبي حنيفة أوّل المذاهب المدوّنة تدوينًا فكذلك يكون آخرها انقراضًا وبذلك قال أهل الكشف. (الميزان للشعراني ج:۱، ص: ۲۵)

③ د حنفي فقهي يو بل خصوصيت او امتياز کوم چې ډېر اعلیٰ دی، دا دی چې فقه حنفي صرف د يو سړي رايه نه ده. بلکې دې فقهي ته د امام اعظم ابو حنيفه تر نګراني لاندې د څلوېښتو (۴۰) علماؤ په شوریٰ او جرګه کې ترتيب ورکول سوی دی.

امام طحاوي دا خبره په سند سره رانقل کړې ده چې د امام صاحب د شوریٰ مجلس به پر څلوېښتو (۴۰) غړو (اراکينو) مشتمل وو، له دې غړو څخه به د يحییٰ بن زکريا بن ابی زائده، حفص بن غياث، حبان او مندل رَحِمَهُمُ الله په ځير د حديثو حافظان، د حمزة الزيات او عافية الازدی رَحِمَهُمَا الله په ځير د قرآن ماهرين، د امام ابو يوسف او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په ځير د قياس خاوندان؛ د امام محمد بن الحسن او قاسم بن معن رَحِمَهُمَا الله په ځير د لغت امامان او د داؤد طائي او

فضیل بن عیاض رحمهما الله په شیر ستر پرهیزګاران هم ول، تر دې شوریٰ لاندې د حنفي فقهې تدوین پیل سو، او دا لړۍ تر سنه: ۱۵۰ هـ پورې مسلسل روانه وه (کوم چې د امام صاحب د مړیني کال دی).

د حنفي فقهې د تدوین طریقه

په دې مجلسِ شوریٰ که به د تدوین طریقه دا وه چې د یو خاص باب په باره کې به مسئلې وړاندې کېدلې، بیا که به د هغه مسئلو په جواب کې د مجلس ټوله غړي متفق سول، نو هغه مسئلې به په هغه ګړي لیکل کېدلې، بحث به ډېر په آزادۍ سره شروع کېدۍ، کله کله به تر ډېره پورې د بحث لړۍ روانه وه، امام صاحب به په ډېر غور او تحمل سره د ټولو تقریرونه اورېدل، او په آخر کې به یې داسې پرېکړه وکړه چې ټولو به تسلیم کړه، کله به داسې هم کېدل چې تر امام صاحب وروسته به نور غړي پر خپله رایه ټینګ پاتې وه، نو په دې وخت کې به د ټولو مختلف اقوال لیکل کېده.

په حنفي مذهب کې د غلطۍ امکانات بیخي کم دي

د شوریٰ او جرګې نظام د حنفي فقهې یو ځانګړی او اُهم خصوصیت وو، چې د نورو امامانو په مذهب کې نه وو، نو ځکه تر دې نظام لاندې په استنباط کړی سوو مسئلو کې د غلطۍ امکانات بیخي ډېر کم دي، دا زما دعویٰ نه ده، بلکې د امام احمد رحمه الله د خاص استاذ وکیع بن الجرّاح دعویٰ ده (کوم چې د صحاح سته وو راوي او جلیل القدر محدّث دی)، څرنګه چې خطیب بغدادي په تاریخ بغداد (ج: ۱۴، ص: ۲۴۷) کې لیکلي دي چې یو ځل وکیع رحمه الله ته یو چا وویل چې امام صاحب غلطي کړې ده، پر دې خبره وکیع رحمه الله ډېر په غصه سو، او ویې ویل چې امام صاحب به څرنګه غلطي وکړي، حال دا چې (په بحث او تحقیق کې به) د ده سره امام ابو یوسف، امام زفر، یحییٰ بن ابي زائده، حفص بن غیاث، قاسم بن معن رَحِمَهُمُ الله او داسې نور ډېر ستر عالمان او محدثین موجود وو، د کوم سړي سره چې داسې خلک کښېني هغه به څرنګه غلطي وکړي، او که بالفرض له هغه څخه غلطي وسي، نو دا حضرات به فوراً هغه ته تنبیه ورکوي.

د امام صاحب د استنباط کړی سوو مسئلو شمېر

صاحب د تنظیم الدرایه فرمایي چې زموږ ګران استاذ ستر محدث علامه محمد یوسف بنوري رحمه الله به د علامه بابرتي (صاحبِ عنایه) په حواله سره فرمایل: إن المسائل التی دوّنها ابوحنیفة الف الف و مائتا الف و سبعون الفًا ونیفًا، یعني د امام صاحب د استنباط کړی سوو مسئلو شمېر له دولس لکه اویا زرو (۱۲۷۰۰۰۰) څخه څه زیات دی. (مقدمه تنظیم الدرایه ص: ۲۴)

حنفیت د درې سره وو امامانو د مجموعې نوم دی

صاحب د اثمار الهدایه فرمایي چې زما استاذ به ویل چې حنفیت صرف د امام ابو حنیفه رحمه الله د مسلک نوم نه دی، بلکې د امام ابو حنیفه، امام ابو یوسف او امام محمد رحمهم الله د مسلکونو د مجموعې نوم دی، که څوک په دې ټولو کې د یوه پر مسلک عمل کوي، نو هغه به پر حنفي مسلک عمل کونکی ګڼل کیږي، او که چا د امام محمد یا امام ابو یوسف رحمه الله پر مسلک فتویٰ ورکړه، نو د حنفیت له مسلک څخه به خارج نه شمېرل کیږي، همدا وجه ده چې د قدوري او هدایې په شیر مهمو کتابونو کې د دې دوارو امامانو مسلک هم ذکر سوی دی، او د ضرورت پر وخت د هغه مطابق فتویٰ هم ورکول کیږي.

د حنفي فقهي سند

مشهور محدث د ترمذي راوي خلف بن ايوب فرمايي چي: له الله تعالى څخه علم حضرت محمد ﷺ ته ورسېدی، نبي ﷺ صحابه وو ته ورسوی، صحابه وو تابعينو ته ورسوی، تر تابعينو وروسته امام ابو حنيفه او د هغه ملګرو ته ورسېدی، په دې خبره که څوک خوشحاله کيږي، او که ناراضه کيږي! (همدا خبره په معارف السنن ج: ۳، ص: ۲۶۱ کي هم ذکر سوې ده).

په درمختار کي د حنفي فقهي د سند نقشه داسي ښوول سوې ده چي: د فقهي کښت حضرت عبد الله ابن مسعود ﷛ وکری، او علقمه بن قيس دا کښت اوبه کړی، ابراهيم بن يزيد النخعی وريبی، غوبل يې حماد بن ابی سليمان وکری، او امام ابوحنيفه ميده کړی، اوړه يې ځني جوړه کړه، امام ابو يوسف يعقوب دا اوړه خيشته کړه، او امام محمد بن الحسن الشيباني له دې څخه ډوډۍ پخې کړې، او اوس يې ټوله خلک خوري، دا سند يو شاعر په نظم کي داسي بيان کړی دی:

اَلْفِقْهُ زَرْعُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَعَلْقَمَةُ　　حَصَّادُهُ ثُمَّ اِبْرَاهِيْمُ دَوَّاسُ

نُعْمَانُ طَاحِنُهُ. يَعْقُوْبُ عَاجِنُهُ　　مُحَمَّدُ خَابِزٌ وَالْآكِلُ النَّاسُ　　(درمختار ج: ۱، ص: ۳۶ - ۳۷)



الٰہی بگردان تو مکتوب من　　تو معمول عالم کنی خیر من

من پئ راه راست نعمانم　　پیر من امام ابو حنیفہ اعظم

چار صد ویک ہزار سنہ رسید　　دُرِ گردان مایۂ از صدف برمید

مُقَدِّمَه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
شروع کوم د الله (ﷻ) په نامه چې ډېر مهربان او زيات رحم کونکی دی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَعْلٰى مَعَالِمَ الْعِلْمِ وَأَعْلَامَه ټوله تعريفونه د هغه الله (ﷻ) لپاره دي چا چې د علم علامات (نښې) او بيرغونه لوړ کړل وَأَظْهَرَ شَعَائِرَ الشَّرْعِ وَأَحْكَامَه او د شريعت (محمدي ﷺ) شعائر او احکام يې ښکاره کړل وَبَعَثَ رُسُلًا وَأَنْبِيَاءَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِيْنَ إِلٰى سُبُلِ الْحَقِّ هَادِيْنَ او انبياء او رسولان عليهم الصلوٰة والتسليمات يې د حق لارو وطرف ته ښوونکي را واستول وَأَخْلَفَهُمْ عُلَمَاءَ او عالمان يې نايبان(ځای ناستي) جوړ کړل د پېغمبرانو إِلٰى سُنَنِ سُنَنِهِمْ دَاعِيْنَ چې هغوی د انبياوو د عادتونو د طريقو وطرف ته بلونکي دي يَسْلُكُوْنَ فِيْمَا لَمْ يُؤْثَرْ عَنْهُمْ مَسْلَكَ الْاِجْتِهَادِ (او) په هغو خبرو کې داجتهاد لاره جاري کوي کوم چې له پېغمبرانو څخه منقولې نه وي مُسْتَرْشِدِيْنَ مِنْهُ فِيْ ذٰلِكَ او په دې باره کې له الله ﷻ څخه د هدايت غوښتونکي دي وَهُوَ وَلِيُّ الْإِرْشَادِ او بې شکه الله ﷻ د صحيح لارې ښوولو مالک دی(له يَسْلُكُوْنَ څخه تر آخره پورې بله معنیٰ داسې هم کېدای سي چې: (عالمان) له انبياؤ او رسولانو څخه په غير منقول (شرعي) امورو کې له الله تعالیٰ څخه د هدايت طلب کوي او پر اجتهادي ډګر ځي، او بېشکه الله تعالیٰ د هدايت والي دی).

تشريح: تر هرڅه له مخه مصنف رَحِمَهُ الله د قرآن او حديث په اقتداء کې د خپل عظيم او نا اشنا کتاب "هدايې" شروع په بسم الله او الحمد لله سره وکړه، په حديث کې راځي: کل کلام لا يبدأ فيه بالحمد لله فهو أجذم، او د ابن ماجه په روايت کې د أجذم پر ځای د أقطع لفظ راغلی دی او په ځينو رواياتو کې راغلي دي: کل أمر ذی بال لم يبدأ فيه ببسم الله فهو أقطع، مطلب دا چې کوم کار د الله ﷻ په نامه او د الله ﷻ په حمد سره شروع نه کړی سي هغه ناقص پاتېږي، د سلفو صالحينو هم دا عادت وو چې هغوی به د خپلو کتابونو شروع په بسم الله او د الله تعالیٰ په حمد سره کوله؛ نو دلته مصنف رَحِمَهُ الله تر بسم الله وروسته په "اَلْحَمْدُ" سره د الله ﷻ تعريف بيانوي، لېکن په تعريف کې يې داسې جمله راوړې چې په هغې سره د الله ﷻ د تعريف تر څنګ د فقهي او د أصول الفقهي د علم د ارزښت او تعريف و طرف ته هم اشاره وسي، په خطبه کې داسې جمله راوړل چې په هغې سره د کتاب د مضمون و طرف ته اشاره وسي، و دې ته "براعتِ استهلال" وايي؛ نو فرمايي: چې ټوله تعريفونه د هغه الله لپاره دي چا چې د علم اثرات او د علم بيرغونه پورته کړي دي، او د شريعت علامات او احکام يې څرګند کړي دي، او د هغه الله حمد بيانوم چا چې د حق لارې د ښوونې لپاره انبياء او رسولان را استولي دي، پر دوی ټولو دې درود او سلام وي.

و أخلفهم الخ بيا فرمايي: چې الله ﷻ علماء د انبياؤ ځای ناستي(خليفه ګان) جوړ کړي دي، چې هغوی د انبياؤ د سنتونو او عادتونو و طرف ته دعوت ورکوي، په اصل کې دا عبارت داسې دی: وَ أَخْلَفَهُمْ عُلَمَاءَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ إِلٰى سُنَنِ سُنَنِهِمْ (يعني الله ﷻ داسې علماء د انبياؤ خليفه ګان جوړ کړل چې هغوی دانبياؤ د لارو وطرف ته دعوت ورکوي) وروسته فرمايي: لېکن دکومو خبرو يا د کومو سنتونو په باره کې چې له انبياؤ څخه يوه خبره را نقل سوې نه وي، علماء په هغه کې د اجتهاد لاره اختياروي، او د انبياؤ له منقول سنتونو څخه استنباط کوي، او د اجتهاد لپاره له الله ﷻ څخه رُشد او هدايت غواړي، ځکه چې صرف لوی څښتن ﷻ هادی او لارښوونکی دی.

د لغاتو حل او د نکتو بيان: د الحمد لام د اهل السنة په نېز د جنس لپاره دی، نو په دې صورت کې به يې مطلب دا وي چې "د حمد هر فرد او د هغه حقيقت د الله لپاره دی"، د جمهورو علماؤ رايه دا ده چې د استغراق لپاره دی نو بيا به يې مطلب دا وي چې "د دنيا او آخرت ټوله تعريفونه دالله لپاره دي"، لېکن معتزله وايي چې د عهد لپاره دی، نو د دوی په نېز د الحمد مطلب دا سو چې "هغه معلوم او معهود تعريفونه کوم چې په قرآن و حديث کې دي، د الله لپاره دي"، ځکه چې د معتزله وو په نېز د افعالو خالق بندګان دي، نو د هغوی په نېز چې کوم حمد د بندګانو د افعالو په مقابله کې وي، د هغه مستحق به بندګان وي نه الله تعالیٰ، او څرنګه چې د اهل السنة په نېز د ټولو افعالو خالق الله تعالیٰ دی نو ځکه د حمد د ټولو افرادو مستحق به هم هغه وي.

○ **د حمد تعريف:** لغتپوهانو د حمد تعريف داسې کړی دی: "اَلْحَمْدُ هُوَ الثَّنَاءُ بِاللِّسَانِ عَلَى الْجَمِيْلِ الْاِخْتِيَارِيِّ نِعْمَةً كَانَ أَوْ غَيْرَهَا" (د انسان اختياري ښېګنې په ژبه سره بيانول هغه که د نعمت په مقابله کې وي، او که نه وي) يعني د صاحب اختيار و طرف ته د منسوبه ښه اوصافو په ژبه سره اداء کولو ته حمد وايي، بيا که دا حمد اداء کول د نعمت په مقابله کې وي لکه: حمدته على إنعامه، او که د نعمت په مقابله کې نه وي لکه: حَمِدْتُهُ عَلٰى شَجَاعَتِهِ.

○ **الله:** په دې باره کې د علماؤ اختلاف دی چې دا اسم منقول دی او که مرتجل، مشتق دی او که غير مشتق، عَلَم دی او که غيرِ عَلَم، الله هغه ذات ته ويل کيږي چې هغه واجبُ الوجود وي او د ألوهيت ټولو صفاتو ته جامع وي.

○ **أعلى معالم العلم:** أعلىٰ د افعال له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده: پورته کول، لوړول، معالم جمع د مَعْلَم ده، معنیٰ يې ده: مَوضِع عَلَم يا مَوضِع علامت؛ دلته له معالم څخه مراد د شريعت څلور أصول دي، يعني: کتاب، سنت، اجماع، قياس، يعني هغه الله لره دې حمد وي چا چې د شريعت اصول پورته کړل، د دې أصولو پورته کېدل په دا ډول دي چې الله تعالیٰ موږ ته د دې د پيروي کولو او په دې باندې د عمل کولو حکم کړی دی، لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمايي: اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ - وَ مَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ - وَ مَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ - فَاعْتَبِرُوْا يٰاُولِي الْاَبْصَارِ، او بعضي حضراتو فرمايلي دي چې له معالم څخه مراد علماء دي او د علماؤ پورته والی او لوړوالی ښکاره دی، لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمايي: يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ.

○ **وأعلامه:** أعلام جمع د عَلَم ده، عَلَم علامت ته هم وايي، غره او بيرغ ته هم وايي، په اول صورت کې به دليل ځيني مراد وي او په دويم صورت کې به علماء او په دريم صورت کې به ذاتِ عَلَم ځيني مراد وي په دې توګه چې د عَلَم تشبيه

د هغه بادشاه سره ورکول سوي ده چي د هغه په لاس کي بيرغ وي، او وجه د تشبيه يې واجبُ الاطاعت او واجبُ الانقياد کېدل دي.

صاحب د فتح القدير شيخ ابن الهمام ويلي دي چي له أعلام څخه مراد اسبابِ شرعيه دي، لکه: د لمر لوېدل چي د ماښام د لمانځه سبب دی، او د نصاب مالک کېدل د زکوٰة د وجوب، او د مياشتي ليدل د روژې د وجوب او شرافتِ مکان د حج د وجوبِ سبب دی، دليل يې دا دی چي عَلَم په معنیٰ سره د علامت دی او اسبابِ شرعيه هم د احکامو د واجب کېدلو علامتِ وي، او د بعضو رايه دا ده چي له أعلام څخه مراد هغه علماء دي چي د هغوی اقتداء کيږي، او په زياتره ځايونو کي له أعلام څخه مراد علماء وي.

○ **و أظهر شعائر الشرع:** أظهر دا هم د افعال له باب څخه د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده: ښکاره کړې، شعائر جمع د شعيرة ده لکه صحائف چي جمع د صحيفة ده، شعيرة هغه شی ته ويل کيږي کوم چي د الله د عبادت نښه وي، او بعضي حضراتو ويلي دي چي له شعائر څخه مراد هغه عبادتونه دي چي د شُهرت په توګه اداء کيږي لکه اذان، د جمعې لمونځ، د اختر لمونځ، قرباني کول، د عرفات په ميدان او مزدلفه کي د حاجيانو جمع کېدل، شرع د فتح يفتح له باب څخه د شَرَعَ يَشْرَعُ مصدر دی لغوي معنیٰ يې ده: قانون، ضابطه، او له شرع څخه مراد دلته مشروعات دي نه شارع.

○ **أحكامه:** احکام د حکم جمع ده، حکم اثر مرتب على الشئ ته ويل کيږي لکه جواز، فساد، حُرمت، حِلّت او نور. يا حکم د الله تعالیٰ هغه خطاب ته ويل کيږي کوم چي د بندګانو سره متعلق وي يا نسبتِ تامه ته حکم ويل کيږي. (ملا عبد الغفور)

په خطبه کي د احکامو ذکر د براعتِ استهلال په توګه دی يعني له احکامو څخه و دې طرف ته اشاره ده چي دا کتاب پر احکامو او مسائلو مشتمل دی.

○ **وبعث رسلا وانبياء:** رسول هغه ته ويل کيږي چي د هغه سره کتاب وي لکه حضرت موسیٰ عليه السلام، او نبي هغه ته ويل کيږي چي د الله تعالیٰ د احکامو تبليغ کوي که څه هم د هغه سره کتاب نه وي لکه حضرت يوشع عليه السلام. (کشاف)

○ **هادين:** د انبياؤ صفت دی، او اسم فاعل دی، د هدايت دوه قسمه دي: "بې له واسطې تر مقصده رسول"، د هدايت دا قسم صرف د الله له طرفه ثابتيږي، او په اهدنا الصراط المستقيم کي هم د دغه معنیٰ و طرف ته اشاره ده. او دوېم قسم "بالواسطه يعني د واسطې په مرسته تر مقصده رسول"، دا منصب د انبياؤ عليهم السلام دی.

○ **أخلفهم علماء:** أخلف د خلف فلان فلانًا څخه اخيستل سوی دی، کله چي دا ماده د إفعال په باب کي استعمال سي نو په دوو مفعولانو سره متعدي کيږي، يعني الله تعالیٰ علماء د انبياؤ خليفه ګان جوړ کړل. په حديث کي راځي: العلماء ورثة الانبياء او وراث د خپل مورث خليفه او ځای ناستی وي.

○ **علماء:** د عالِم جمع ده لکه شعراء چي د شاعر جمع ده.

○ **إلى سنن سننهم:** سنن جمع د سُنّت ده په معنیٰ سره د لاري دی، يا په معنیٰ سره د عادت. په دې عبارت کي له اول سنن څخه مراد طُرُق دي او له دوېم سنن څخه مراد عادات دي، ترجمه يې دا ده: "چي علماء د داسي لارو وطرف ته رابلونکي دي چي هغه لاري د انبياؤ د عاداتو وطرف ته رسوونکي دي".

وَخَصَّ أَوَائِلَ الْمُسْتَنْبِطِيْنَ بِالتَّوْفِيْقِ او اولني مجتهدينو ته الله تعالیٰ يو ځانګړی توفيق ورکړی حَتّٰى وَضَعُوْا مَسَائِلَ مِنْ كُلِّ جَلِيٍّ وَدَقِيْقٍ چې د هغه په نتيجه کې هغوی هر ډول ښکاره او باريکي (پټي) مسئلې وضع کړې غَيْرَ أَنَّ الْحَوَادِثَ مُتَعَاقِبَةُ الْوُقُوْعِ ليکن (بيا هم) د زمانې واقعات پرلپسې واقع کېدونکي دي وَالنَّوَازِلَ يَضِيْقُ عَنْهَا نِطَاقُ الْمَوْضُوْعِ او (نوي) پيښېدونکي مسئلې د يوې موضوع په رسۍ کې ترل مشکل دي وَاقْتِنَاصُ الشَّوَارِدِ بِالْاِقْتِبَاسِ مِنَ الْمَوَارِدِ او (د شريعت) له اُصولو څخه د نا اشنا مسئلو أخذ او استنباط د ځنګلي حيوانانو د ښکارولو په ډول ستونزمن دي [بله معنیٰ يې داسې کيږي: او د ځنګلي حيوانانو په ډول (نا اشنا مسائل دي) چې په ښکلو (دَرُو) کې د هغوی قابو کول (او ښکارول) ګران کار دی] وَالْاِعْتِبَارُ بِالْأَمْثَالِ مِنْ صَنْعَةِ الرِّجَالِ او پر مثالونو (د دې مسئلو) قياسول د ماهرو خلکو کار دی وَبِالْوُقُوْفِ عَلَى الْمَآخِذِ يَعَضُّ عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ او په هغه مأخذونو خبرېدل چې په غاښو سره نيول کيږي (د ماهرو خلکو کار دی) [او بله معنیٰ يې داسې ده چې: د احکامو په مأخذونو ځان خبرول ډېر سخت او ستونزمن کار دی] وَقَدْ جَرَى عَلَيَّ الْوَعْدُ فِيْ مَبْدَأِ بِدَايَةِ الْمُبْتَدِئِ او (حقيقت دا دی) چې د بداية المبتدي په سريزه کې زما له طرفه دا وعده سوې وه أَنْ أَشْرَحَهَا بِتَوْفِيْقِ اللهِ تَعَالٰى شَرْحًا أَرْسُمُهُ بِكِفَايَةِ الْمُنْتَهِيْ چې د الله په توفيق سره به زه د دې شرح کوم چې نوم به يې كفاية المنتهى ايردم.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله له دې ځايه دا بيانوي چې د اول قرن (پېړی) امامانو د ډېرو مسئلو استنباط کړی دی، خو بيا هم د زمانې د بدلون او د نورو ډېرو پيښېدونکو واقعاتو په وجه نوي نوي مسئلې را پيدا کيږي چې د هغوی شمېر ناممکنه دی نو ځکه د هغوی لپاره اُصول ټاکل او د هغوی لپاره کتاب ليکل ضروري دي او وروسته يې يو تشبيه بيان کړې ده، د تشبيه پوره خلاصه دا ده: چې څرنګه د ځنګلي او وحشي حيوانانو نيول او د هغو ښکارول ډېر ګران کار دی. هوبهو دغه ډول له اُصول اربعه وو څخه د مسائلو استخراج او استنباط هم ګران کار دی، او دا دعام سړي کار نه دی، بلکې فقط هغه ځوک يې پوره کولای سي چا ته چې بيدار مغزي، حاضرباشي او پوره مهارت ورکول سوی وي، او د علامه ابن الهمام تحقيق دا دی چې مصنف رَحِمَهُ الله د وَالْاِعْتِبَارُ بِالْأَمْثَالِ...الخ څخه خپل د کسر نفس او عاجزۍ طرف ته اشاره کړې ده، او دا باور يې کړی دی چې د استخراج او استنباط په ډګر کې قدم ايښوول ډېر ستونزمن کار دی او زما په ډول کمزوري او ناتوان ته په دې ډګر کې قدم ايښوول خو پرېږده په دې اړه سوچ کول هم تعجب پارونکي دي، خو څرنګه چې د بداية المبتدي په شروع کې ما وعده کړې وه چې پر دې موضوع به زه يو څه کار کوم (فشرعت فيه) نو ځکه مې په دې شروع وکړه.

د لغاتو حل او د نکتو بيان: له اوائل مستنبطين څخه مراد امام اعظم رَحِمَهُ الله او د ده ملګري دي ځکه همدغه حضرات له نصوصو څخه د دلائلو په استنباطولو کې تر نورو مخکې دي او د مسائلو په وضع کولو سره د فضيلت حاصلونکي دي، او وروستني ټولو امامانو د دوی پيروي کړې ده. د استنباط معنیٰ ده: مځکه کيندل، اوبه را ايستل، او لفظ د استنباط له نصوصو څخه د وصف مؤثر د را ايستلو په معنیٰ هم مستعمل دی، ځکه په دواړو ځايونو کې کُلفت او مُشقت دی. همدا وجه ده چې د استنباط په وجه سره د علماؤ درجې او مرتبې پورته کيږي. او د اُوبو او علم په مينځ کې مشابهت هم

په دې وجه دی چې اُوبه د اجسامو د حيات او ژوند سبب دی او علم د أرواحو د ژوند سبب دی، لکه څرنګه چې په دې آيتونو کې هم ودې طرف ته اشاره ده: وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا ـ اَوَ مَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ.

○ **من كل جلي ودقيق:** له دې څخه مسائلِ قياسيه او مسائل استحسانيه مراد دي، د مثال په توګه په څاه کې پچه ولوېدله نو د قياس مطابق اوبه ناپاکې سوې، ځکه چې په ماء قليل کې نجاست لوېدلی دی او استحسان دا دی چې اُوبه نه دي ناپاکه سوي، ځکه چې د صحرا پر څاه ګانو باندې سرونه نه وي او څاروپان د څاه ګانو پر شاو خوا پچې کوي او هواګانې هغه پورته کوي په څاه کې يې اچوي، نو د پچو مقدارِ قليل (لږ اندازه) د ضرورت په وجه سره معاف سو. او په مقدار کثير (ډېره اندازه) کې هيڅ ضرورت نسته نو ځکه هغه معاف نه کړی سو.

غير أنَّ الحوادث: دا عبارت د يو اعتراض جواب دی، اعتراض دا دی چې کله جلي او خفي ټولي مسئلې وضع سوې نو بيا وروستني حضرات د دلائلو په استنباط او د مسائلو په وضع کولو ولي پسې دي؟ او د "هدايه" د تصنيف کولو اړتيا ولي پيدا سوه؟ په دې عبارت کې د هغه جواب ورکول سوی دی، د جواب حاصل دا دی: لکه څرنګه چې واقعات او حوادث هره ورځ مخ ته راځي، او ټوله مسائل په يوه موضوع کې رااخيستل هم ګران کار دی. نو ځکه په هره زمانه کې د دې واقعاتو او حوادثو لپاره مسائل وضع کيږي، او د هغه مطابق کتابونه ليکل کيږي.

○ **واقتناص الشوارد بالإقتباس من الموارد:** اقتناص: د افتعال د باب مصدر دی ښکار کول. شوارد جمع د شاردة ده معنیٰ يې ده: وحشي او ځنګلي حيوان. له دې څخه مراد نا اشنا او نادره مسائل دي، اقتباس هم د افتعال د باب مصدر دی: له علم څخه استفاده کول، أخذ کول. پر يو اُصول باندې يو شی قياسول او له هغه څخه نوې مسئله استنباطول موارد: له دې څخه اُصول مراد دي، په دې عبارت کې د ګرانو مسئلو د استنباطولو تشبيه د ځنګلي حيوانانو د ښکارولو سره ورکول سوې ده.

○ **والإعتبار بالإمثال من صنعة الرجال:** يعني احکام خپل پر مثالونو قياسول د ماهرو خلکو او غټو املمانو کار دی، دا کار دومره آسانه نه دی

○ **يعض عليها بالنواجذ:** عض: په غاښول، په غاښ نيول، نواجذ جمع د ناجذة ده معنیٰ يې ده: زامه (ژامه). يعني د شريعت داسې اُصول او مآخذ (چې هغه دومره سخت وي چې په غاښو سره تر نيولو وروسته په قابو کې راځي نو داسې اُصول) په علم او پوهه کې راويستل د ماهرو او غټو خلکو کار دی، د عام سړي کار نه دی.

فَشَرَعْتُ فِيهِ نو په هغې مې شروع وکړه وَالْوَعْدُ يَسُوغُ بَعْضَ الْمَسَاغِ او په وعده کې خو څه ګنجايش او وسعت وي وَ حِيْنَ أَكَادُ أَتَّكِئُ عَنْهُ اِتِّكَاءَ الْفَرَاغِ او کله چې د شرحې فراغت ته نژدې سوم تَبَيَّنْتُ فِيهِ نُبْذًا مِنَ الْإِطْنَابِ نو ما محسوسه کړه چې په دې کې خبره يو څه اوږده سوې ده خَشِيْتُ أَنْ يُهْجَرَ لِأَجْلِهِ الْكِتَابُ او زما دا انديښنه سوه چې د اوږدوالي په وجه اصل کتاب (بداية المتبدي) پاته نه سي فَصَرَفْتُ عِنَانَ الْعِنَايَةِ إِلَىٰ شَرْحٍ آخَرَ مَوْسُوْمٍ بِالْهِدَايَةِ نو ځکه مې د توجه قيزه د دويمې شرحې و طرف ته وګرځوله چې د هغې نوم "هدايه" ده أَجْمَعُ فِيهِ بِتَوْفِيْقِ اللهِ تَعَالَىٰ چې په هغه کې د الله په توفيق سره جمع کوم بَيْنَ عُيُوْنِ الرِّوَايَةِ وَ مُتُوْنِ الدِّرَايَةِ ښه روايانونه او مضبوطه عقلي دليلونه تَارِكًا لِلزَّوَائِدِ فِي كُلِّ بَابٍ د دې په هر باب کې مې د زوائدو د پرېښودلو اراده ده مُعْرِضًا عَنْ هٰذَا النَّوْعِ مِنَ

اَلْإِسْهَابِ او له دې ډول اوږدوالي څخه مې د ځان ژغورلو نيت دی مَعَ مَا أَنَّهُ يَشْتَمِلُ عَلَى أُصُوْلٍ يَنْسَحِبُ عَلَيْهَا فُصُوْلٌ سره د دې چې هغه به پر داسې اُصولو مشتمله وي چې پر هغه نور فروع متفرع کېدای سي.

تشريح: د هدايې مصنف رَحِمَهُ الله اول په فقه کې د متن کتاب وليکی چې په هغه کې يې په ډېر ارزښت سره د قدوري مسئلې را جمع کړې، او چيرې چې به يې مسئلې نه کړې تر لاسه هلته به يې د امام محمد له کتاب "جامع صغير" څخه مسئلې را اخيستلې، او د دواړو په مجموعه سره يې د "بداية المبتدي" تصنيف وکړی. د "بداية المبتدي" په سريزه (مقدمه) کې يې وعده وکړه چې زه به د "بداية المبتدي" شرح هم ليکم، نو په اتيا (۸۰) جلده کې يې د "بداية المبتدي" شرح په نامه د " كفاية المنتهي" سره وليکله، کله چې له شرح څخه فارغېدلو ته نژدې سو نو دا يې محسوسه کړه چې کتاب دومره اوږد سوی دی چې څوک به يې نه وايي، او خيال يې وکړی چې هسې نه خلک اصلي کتاب "بداية المبتدي" نه پرېږدي، نو ځکه يې د "بداية المبتدي" دويمه شرح په نامه د "هدايه" سره وليکل چې هغه ستاسو په لاس کې ده، او وروسته فرمايي چې دا کتاب "هدايه" به دومره نه اوږدوم خو بيا هم په دې کې به د احاديثو او د قرآن مضبوطه دلائل جمع کوم، او عقلي دلائل به هم وي. او داسې اُصول به وي چې پر هغه به ډېر جزئي مسائل متفرع کېدای سي، مګر په دې کې به اوږدې خبرې، لايعني او زيات کلام نه وي.

د لغاتو حل او د نکتو بيان: يسوغ: دا ډېر متنازع فعل دی بعضې وايي چې دا د تفعيل له باب څخه دی او بعضې وايي چې د نصر له باب څخه دی خولنډه دا چې معنیٰ يې دا ده: مباح کول، مهلت ورکول، روا کېدل، او د مَسَاغ معنیٰ ده: ګنجايش، او دلته د عبارت مطلب دا دی چې په وعده کې د تأخير کولو ګنجايش وي، او دويم مطلب يې دا دی چې تر وعدې کولو وروسته هغه کار روا کيږي چې وعده يې سوې وي، نو ځکه مې د وعدې مطابق د دې شرح ليکل شروع کړه، او دريم مطلب يې صاحب د "احسن الهدايه" دا ليکلی دی چې: ما خو د خپلې وعدې مطابق د كفاية المنتهي شرح شروع کړه، اوس به دا ګورو چې دا کله پوره کيږي، ځکه وعده خو په هرحال کې وعده ده".

○ **نبذًا**: نَبْذٌ مصدر دی معنیٰ يې ده: معمولي، لږغوندي.

○ **إطناب**: د افعال د باب مصدر دی: هغه کلام ته ويل کيږي چې د يوې نکتې په وجه له مقصود څخه اوږد او زيات سي، او که هيڅ فايده پکښې نه وه نو هغه ته تطويل ويل کيږي. إسْهَاب دا هم د افعال د باب مصدر دی: په معنیٰ سره د إكثار دی يعني خبره اوږدول.

○ عيون الرواية: عين الشئ غوره شي ته وايي. رواية په معنیٰ سره د مرويات دی، دا د اضافة الصفة الى الموصوف له قبيلې څخه دی يعني غوره مرويات (ښه رواياتونه).

○ **متون الدراية**: متون د متن جمع ده، په معنیٰ سره د مضبوط او ټينګ. له متون الدراية څخه مراد عقلي دلائل دي.

وَأَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى أَنْ يُوَفِّقَنِيْ لِإِتْمَامِهَا او له الله تعالیٰ څخه غواړم چې ما ته د دې د پوره کولو توفيق را کړي وَيَخْتِمَ لِيْ بِالسَّعَادَةِ بَعْدَ اخْتِتَامِهَا او چې د دې تر ختمولو وروسته زما خاتمه بالخير کړي حَتَّى أَنَّ مَنْ سَمَتْ هِمَّتُهُ خو که د چا همت (او عزم) لوړ سي إِلَى مَزِيْدِ الْوُقُوْفِ د زياتې خبرتيا حاصلولو لپاره يَرْغَبُ فِي الْأَطْوَلِ وَالْأَكْبَرِ نو هغه دې د اوږدې

اوغتي شرحي (كفاية المنتهي) و طرف ته رغبت وكړي وَمَنْ أَعْجَلَهُ الْوَقْتُ عَنْهُ او كه د يو چا وخت تنګ وي (او فرصت يې كم وي) يَقْتَصِرُ عَلَى الْأَقْصَرِ نو هغه دي په كوچنى شرح (هدايه) اكتفا وكړي. وَلِلنَّاسِ فِيمَا يَعْشَقُونَ مَذَاهِبُ او د خلكو خوښه مختلفه او ډول ډول وي وَالْفَنُّ خَيْرٌ كُلُّهُ او دا فن (علمُ الفقه) ټوله خير دى. [او بله معنىٰ يې ده: هر فن پر خپل ځاى غوره او ښه دى] ثُمَّ سَأَلَنِي بَعْضُ إِخْوَانِي أَنْ أُمْلِيَ عَلَيْهِمُ الْمَجْمُوعَ الثَّانِيَ بيا زما بعضي ملګرو زما څخه د دويمي مجموعې (هدايه) د املاء كولو غوښتنه وكړه فَافْتَتَحْتُهُ نو ځكه په هغه (اوس) شروع كوم مُسْتَعِينًا بِاللهِ تَعَالَى فِي تَحْرِيرِ مَا أُقَاوِلُهُ او د كلام په ليكلو كي له الله تعالىٰ څخه مدد غوښتونكى يم مُتَضَرِّعًا إِلَيْهِ فِي التَّيْسِيرِ لِمَا أُحَاوِلُهُ او د هدف د آسانه كېدلو لپاره په عاجزۍ سره سوال كونكى يم إِنَّهُ الْمُيَسِّرُ لِكُلِّ عَسِيرٍ بې شكه صرف هغه مشكل آسانه كونكى دى وَهُوَ عَلَى مَا يَشَاءُ قَدِيرٌ او څه چي غواړي پر هغه قدرت لري وَبِالْإِجَابَةِ جَدِيرٌ او د سوالونو قبلول د هغه د شان سره لايق دي وَحَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ او زموږ لپاره الله كافي دى او هم هغه ډېر ښه كار ساز دى.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله مخكي خپل د كسر نفس او عاجزۍ اظهار وكړى، او په آخر كي خپل ټوله أمور الله تعالىٰ ته سپاري او وروسته فرمايي: د چا وخت چي تنګ نه وي او زيات واقفيت او خبر تيا تر لاسه كول غواړي هغه دي زما غټه او اوږده شرحه كفاية المنتهى وګوري، او د چا سره چي وخت كم وي هغه دي زما مختصره شرح هدايه وګوري (او له دې څخه دي پوره استفاده وكړي او د دې هر باب دي خپل د دماغ او ذهن په قالب كي كښېږدي او د دې له هر ګل څخه دي د جوهر را ايستلو كوښښ وكړي)، ليكن د هرچا خوښه جلا جلا وي، د چا چي كومه شرحه خوښه وي هغه دي وګوري، او دا فن د علم الفقه ټوله او سر تر پايه خير دى.

د لغاتو حل او د نكتو بيان:

○ **لإتمامها...... بعد اختتامها:** دواړه ضميرونه د مفرد دي، د "هدايه" و طرف ته راجع دي او په بعضي نسخو كي دا ضميرونه د تثنيې دي نو په هغه صورت كي به دواړو شروحو ته يعني "هدايه" او "كفايه" ته راجع وي.

وللناس فيما يعشقون مذاهب: يعشقون د سمع له باب څخه د جمع مذكر غائب مضارع صيغه ده: ډېره مينه كول. د يو چا سره ډېر محبت ساتل، له مذاهب څخه مراد طُرُق مُختلفه دي، دا د عربي د نامتو شاعر ابو فراس د شعر دويمه مصرع ده، پوره شعر يې داسي دى:

وَمِنْ عَادَتِي حُبُّ الدِّيَارِ لِأَهْلِهَا

وَلِلنَّاسِ فِيمَا يَعْشَقُونَ مَذَاهِبُ

○ **الفن:** له فن څخه د علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله په نېز د فقهي علم مراد دى. او بعضي وايي چي له دې څخه د هر چا خوښه مراد ده ځكه چي كوم سړى د كوم فن سره اړيكي لري دا فن هغه ته ډېر او تر اندازې زيات ګران او خوښ وي. له مجموعهٔ ثاني څخه مراد "هدايه" ده.

○ **أقاول، أحاول:** أقاول من المقاولة د مفاعلې له باب څخه دى په معنىٰ د بحث او مباحثه كولو سره دى. دلته ويل او إملا كول ځيني مراد دي. أحاول من المحاولة دا هم د مفاعلې له باب څخه دى معنىٰ يې ده: كوښښ كول. اراده كول. متضرعًا د

تفعل له باب څخه د اسم فاعل صيغه ده معنیٰ يې ده په عاجزۍ سره د يو شي غوښتنه کول، جدير له جدر څخه مشتق دی معنیٰ يې ده: لائق کېدل.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ وَ تُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ

وَصَلَّى اللهُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّ صَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ



كِتَابُ الطَّهَارَات

(دا) كتاب د پاكيو (د احكامو په بيان كې) دى

تشريح: كتاب الطهارات په دې جمله كې درې بحثونه دي: (۱) نحوي تركيب (۲) د كتاب د لفظ سره اړوند (۳) د طهارات د لفظ سره اړوند.

(۱) د نحوي تركيب په اعتبار سره (په دې جمله كې) درې احتماله دي: اول دا چې كتاب الطهارات خبر دى د محذوفې مبتداء چې "هٰذا" دى يعني: هذا كتاب الطهارات، دويم دا چې مبتداء ده د محذوف خبر يعني كتاب الطهارات هٰذا، دريم دا چې مفعول دى د محذوف فعل يعني: خُذْ كتاب الطهارات يا اِقرَأْ كتاب الطهارات.

د كتاب لغوي او اصطلاحي معنىٰ:

(۲) د دريم بحث خلاصه دا ده چې د كتاب او كتابت لغوي معنىٰ ده: "يو شى سره جمع كېدل"، او كتاب ته هم ځكه كتاب ويل كيږي چې په دې كې حروف سره را جمع كيږي، او كتاب د مكتوب په معنىٰ سره هم استعماليږي، لكه خلق چې د مخلوق په معنىٰ سره استعماليږي، او په اصطلاح كې كتاب د مسائلو هغه "مجموعه" ته وايي چې هغه مستقلاً معتبره وي او پر مختلفه انواعو مشتمله وي كه نه وي.

يادونه: د فقهي په كتابونو كې درې ډوله الفاظ ذكر كيږي: ① كتاب ② باب ③ فصل، په كتاب كې د مختلفه اقسامو او مختلفه انواعو مسئلې ذكر كيږي، په باب كې د يوه قسم مسئلې ذكر كيږي، او په فصل كې د يوې نوعې مسئلې ذكر كيږي.

(۳) د دريم بحث خلاصه دا ده چې په لغت كې طُهارت د طاء په ضمه سره هغو اُوبو ته ويل كيږي چې په هغو سره پاكي حاصله سي (يعني چې تر پاكي حاصلولو وروسته كومې اوبه پاته سي)، او طِهارت په كسره د طاء سره د پاكولو آلې ته ويل كيږي، لكه اوبه او خاوري، او طَهارت مصدر دى معنىٰ يې ده: پاكول، او په اصطلاح كې طهارت له حدث (حكمي مرداري) يا له خبث (حقيقي مرداري) څخه پاكېدلو ته ويل كيږي، او ځيني علماؤ ويلي دي چې طهارت د دريو (۳) اندامونو پرېوللو او د سر مسح كولو ته ويل كيږي.

مولانا عبدالحى رَحِمَهُ الله د علامه حلبي رَحِمَهُ الله په حواله سره په السعايه شرح الوقايه كې ليكلي دي چې د طهارت شرائط پر دوه قسمه دي: (۱) شرائط د وجوب (۲) شرائط د صحت.

شرائط د وجوب (يعني چې كله دا شرطونه وي نو طهارت واجب دى) نهه [۹] دي: (۱) اسلام (۲) عقل (۳) بلوغ (۴) د حدث (بي اودسي) واقع كېدل، هغه كه حدث اصغر وي او كه اكبر (۵) پر ټوله اندامونو پاكي اُوبه (ماء مطلق) تېرول (۶) حيض به نه وي (۷) نفاس به نه وي (۸) د اوبو يا خاورو پر استعمال قادره كېدل (۹) په وقت كې د گنجايش لو پراخي نه كېدل.

او شرائط د صحت يعني د طهارت د صحيح کېدلو څلور شرطونه دي: (۱) پر ټولو اندامونو اُوبه تېرول (۲)حيض به نه وي (۳)نفاس به نه وي (۴)د طهارت د حاصلولو په صورت کي به په غير معذور انسان کي يو حکم ناقض د طهارت(د اودس ماتوونکی) نه وي.

سوال: کيږي چي صاحب د هدايې طهارات د جمع په صيغه سره ذکر کړی دی، حال دا دی چي طهارت مصدر دی او د مصادرو تثنيه او جمع نه راځي، جواب دا دی چي که د مصادرو په آخر کي د تانيث تاء وي نو د هغوی تثنيه او جمع را وړل صحيح دي.

او دلته يې طهارات د جمع په صيغه سره ځکه راوړی چي د طهارت د مختلفه انواعو او قسمونو و طرف ته اشاره وسي، ځکه رفعِ نجاست هم طهارت دی او رفعِ خُبث هم طهارت دی، حال دا دی چي دواړه مختلفه نوعي دي.

کتاب الطهارات ولي تر نورو مخکي سو:

پاته سوه دا خبره چي کتاب الطهارات ولي مخکي کړی سو؟ نو د دې وجه دا ده چي مشروعات څلور دي: (۱) يوازي حقوقُ الله (۲)يوازي حقوقُ العباد (۳)چي دواړه حقونه سره جمع سي لېکن حقُ الله غالبه وي (۴)چي دواړه حقونه سره جمع سي لېکن حقُ العبد غالبه وي، مصنف د هدايې په ترتيب کي حقوقُ الله(يعني عبادات) د خپل عظمت په وجه سره مخکي کړل، بيا په عباداتو کي لمونځ مخکي بيان کړی، ځکه لمونځ د اسلام په ارکانو کي تر ايمان وروسته تر ټولو قوی رکن دی، الله ﷻ فرمايي: فَإِنْ تَابُوْا وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ، او نبي ﷺ فرمايي: الصلوة عماد الدين من أقامها فقد أقام الدين ومن هدمها فقد هدم الدين؛ همدارنګه د اسلام په ارکانو کي تر توحيد وروسته اول لمونځ فرض سوی دی.

او څرنګه چي طهارت د لمانځه شرط دی، په حديث کي راځي: مفتاح الصلوٰة الطهور، او شرط د شي په خپله تر شي مخکي وي نو ځکه يې طهارت تر لمانځه(صلوٰة) مخکي بيان کړی.

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ.....الْاٰيَةُ [سورة المائدة:٦] اې مؤمنانو! کله چي تاسو د لمانځه لپاره د درېدلو اراده وکړی نو خپلي څېرې(مخان) پرېولئ.....الآية

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله د کتاب پېل د اوداسه په آيت سره وکړی، حال دا چي په دعویٰ کي قاعده دا ده چي مدعیٰ مخکي وي، او دليل يې وروسته ذکر کيږي لېکن دلته د الله ﷻ کلام د تبرک او تيمّن لپاره مخکي کړی سوی دی که څه هم دا له مروّجه قاعدې څخه خلاف کار دی، پوره آيت دا دی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَ امْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ، (اې مسلمانانو! کله چي تاسو د لمانځه اراده وکړی نو پرېولئ خپل مخونه او خپل لاسونه تر څنګلو پوري او مسح کوئ خپل پر سرونو او [پرېولئ] خپلي پښې تر بجلکو پوري).

تر دې آيت لاندي يو څو شيان د ذکر وړ دي: اول دا چي په دې آيت کي "إذا" ذکر سو، او "إذا" په اُمورِ يقينيه وو کي استعماليږي، او "إن" ذکر نه سو، ځکه چي په اُمورِ مشکوکه (مترده) وو کي استعماليږي، ځکه د ايمان تقاضا دا ده چي قيام الى الصلوٰة دي له اُمورِ يقينيه وو څخه وي، دويم شی دا چي دا آيت بالاجماع مدني دی ځکه په بخاري کي راغلي دي چي حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د خپل هار(امېل) د ورکېدلو تر قصې وروسته وفرمايل: فنزلت يا أيها الذين آمنوا إذا قمتم إلى الصلوٰة..... الى قوله: لعلكم تشكرون.

او د هار(امېل) قصه بالاتفاق تر هجرت يو څه زمانه وروسته پېښه سوې ده، نو ثابته سوه چي دا آيت مدني دی او دا خبره هم تسليم سوې ده چي اودس هم د لمانځه د فرض کېدلو په وخت کي په مکه مکرمه کي فرض سوی دی، لکه څرنګه چي ابن عبد البر ويلي دي چي تمام اهلِ مغازی ته دا خبره معلومه ده چي نبي ﷺ تر فرض لمانځه وروسته يو لمونځ بغير له اودس څخه نه کړی نه دي، او له دې څخه انکار يو جاهل او ضدي سړی کولای سي، اوس پاته سوه دا خبره چي کله پر اودس له مخکي څخه عمل موجود وو نو د دې آيت په نازلولو کي څه حکمت دی:

حضرت مولانا عبد الحی رَحِمَهُ الله په سعايه کي ليکلي دي چي د دې حکمت دا دی چي د اوداسه فرضيت متلو بالقرآن سي (يعني په قرآن کي د اوداسه فرضيت تلاوت کړی سي) او دا احتمال هم سته چي د آيت اوله حصه يعني په کومه حصه کي چي د اوداسه ذکر دی په مکه کي د اوداسه د فرضيت په وخت کي رانازل سوی وي او پاته آيت چي په هغه کي د تيمّم ذکر دی په مدينه منوره کي رانازل سوی وي. (كذا في الاتقان)

کوم سړی چي د قيام الی الصلوٰة (لمانځه ته د ولاړېدلو) اراده وکړي پر هغه اودس فرض دی:

دريم شی دا دی چي د آيت ښکاره د دې خبري تقاضا کوي چي اودس پر هر هغه سړي فرض دی کوم چي د قيام الی الصلوٰة اراده وکړي هغه که مُحدث وي او که غير مُحدث، د اصحابِ ظاهر دغه مذهب دی. لېکن د جمهورو علماؤ مذهب له دې څخه خلاف دی، جمهور علماء وايي چي په آيت کي عبارت مُقدّر دی يعني: إذا قمتم الى الصلوٰة و أنتم محدثون، او دا دليل هم سته چي حَدَثْ د اوداسه د وجوب لپاره شرط دی او دا دليل په دلالة النص سره ثابت دی. په دې توګه چي الله تعالیٰ په آيت: وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا کي تيمّم د حدث سره يو ځای ذکر کړی دی، نو معلومه سوه چي د تيمّم د واجبېدلو لپاره حدث شرط دی او تيمّم د اوداسه بدل او نايب دی، او قاعده دا ده چي کوم شی په بدل کي نص وي هغه به په اصل کي هم نص وي، نو ثابته سوه چي حدث د اوداسه د واجبېدلو لپاره شرط دی.

د اوداسه فرائض، د غسل او مسح معنیٰ او د مخ اندازه

> **فَفَرْضُ الطَّهَارَةِ غَسْلُ الْأَعْضَاءِ الثَّلَاثَةِ** نو د اوداسه فرض د دريو اندامونو پرېولل دي **وَمَسْحُ الرَّأْسِ** او د سر مسح کول دي **بِهٰذَا النَّصِّ** (او دا درې اندامونه پرېولل او د سر مسح کول) په دې نص سره (ثابت) دي **وَالْغَسْلُ هُوَ الْإِسَالَةُ** او غسل د اُوبو بيولو ته ويل کيږي **وَالْمَسْحُ هُوَ الْإِصَابَةُ** او مسح د اُوبو رسولو ته ويل کيږي **وَحَدُّ الْوَجْهِ** او د مخ حد **مِنْ قُصَاصِ الشَّعْرِ إِلَى أَسْفَلِ الذَّقْنِ** (د سر) د وېښتيانو د راشنه کېدلو له آخري حصې څخه تر لاندي زني پوري **وَإِلَى شَحْمَتَيِ الْأُذُنَيْنِ** او د دواړو غوږونو تر نرميو پوري دی **لِأَنَّ الْمُوَاجَهَةَ** ځکه چي مواجهت (مخامخ کېدل) **تَقَعُ بِهٰذِهِ الْجُمْلَةِ** په دې ټولو سره راځي **وَهُوَ مُشْتَقٌّ مِنْهَا** او وجه له مواجهت څخه را اخيستل سوې ده.

اللغات: ﴿إِسَالَة﴾ د افعال له باب څخه مصدر دی: اوبه يا يو بل شی بيول (بهول). ﴿إِصَابَة﴾ دا هم د فعال له باب څخه مصدر دی: رسول. ﴿قُصَاص الشَّعْر﴾ د وېښتيانو د راشنه کېدلو ځای. ﴿ذَقْن﴾ زنه. ﴿شَحْمَة﴾ د غوږ نرمی (پوڅکی).

تشريح: فرض ډېري معناوي لري: (١)قطع: لکه ويل سوي چي دي: فرض الخياط الثوب يعني خياط(درزي) جامه پرېکړه (٢)تقدير: الله تعالىٰ فرمايلي دي: فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ يعني قَدَّرْتُم (٣) تفصيل: الله تعالىٰ فرمايلي دي: سُوْرَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا يعني فَصَّلْنٰهَا (٤)بيان: الله تعالىٰ فرمايلي دي: قَدْ فَرَضَ اللهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ يعني بَيَّنَ لكم كفارة أيمانكم (٥) حدّ: قال الله تعالى: لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا يعني محدودا (٦) انعام او تحفه: لکه: فَرَضْتُ الرَّجُلَ يعني ما و سړي ته انعام ورکړی (٧) د بوډاتوب او زوړوالي په معنىٰ سره: لکه: فُرِضَتِ الْبَقَرَةُ يعني غوا زړه سوه، او هم له دې معنىٰ څخه لَا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ دی (٨) د عظمت او لويي په معنىٰ سره: ويل کيږي: فُلَانٌ فَارِضٌ يعني رَئِيْسٌ.

زموږ په نېز فرض هغه حکم ته وايي چي په داسي قطعي دليل سره ثابت وي چي په هغه کي هيڅ شک او شبهه نه وي او د دې حکم دا دی چي کولو والا به يې د ثواب مستحق (حقداره) وي او پرېښوولو والا به يې د عذاب مستحق وي. او واجب هغه حکم ته وايي چي د هغه لزوم په ظني دليل سره ثابت وي او اداء کولو والا به يې د فرضو له اداء کونکي څخه د کم(او لږ) ثواب مستحق وي، او پرېښوونکي به يې د فرضو له پرېښوونکي څخه د کم عذاب مستحق وي.

د دلالت قسمونه: ښکاره دې وي چي د دلالت څلور قسمونه دي: (١) قطعي الثبوت او قطعي الدلالة لکه قرآني آيتونه، متواتر او صريح حديثونه چي هغه د تأويل احتمال نه لري. (٢) قطعي الثبوت ظني الدلالة لکه مؤوله آيتونه او حديثونه. (٣) ظني الثبوت قطعي الدلالة لکه صريح اخبارِ أحاد. (٤) ظني الثبوت او ظني الدلالة لکه هغه اخبارِ أحاد چي د ډېرو معناوو احتمال لري؛ اول يقين فايده کوي، دويم ظن فايده کوي، دريم وجوب او مکروه تحريمي فايده کوي او څلورم سنيّت او استحباب فايده کوي. (حاشيه شرح نقايه)

○**وضؤ:** د واو په ضمّه سره يو ځانګړي فعل يعني اودس ته ويل کيږي، او د واو په فتحه سره هغه اُوبو ته ويل کيږي چي د اوداسه لپاره تياري سوي وي.

صاحب د هدايې د وضؤ احکام د ډېر حاجت او اړتيا په وجه سره مخکي کړي دي او دويمه وجه يې دا ده چي د وضؤ محل د غسل د محل جزء دی او جزء پر کُل مخکي وي نو ځکه يې وضؤ پر غسل مخکي کړی، دريمه وجه يې دا ده چي الله تعالىٰ هم وضؤ پر غسل مخکي کړی دی په دې توګه چي اول يې فرمايلي دي: فاغسلوا وجوهكم...الآية. او تر دې وروسته يې: وإن كنتم جنبا فاطهروا فرمايلي دي.

○ **غســـل:** د غين په ضمّه سره هغه اُوبو ته وايي چي په غسل په کيږي، او د ټوله بدن پرېولو ته هم غُسل ويل کيږي، غِسل: د غين په کسره سره هغه شی ته ويل کيږي چي په هغه سره يو شی پرېولل کيږي لکه خطمي(صابون). او غَسل: د غين په فتحه سره مصدر دی په معنىٰ سره د پرېوللو.

صاحب د هدايې فرمايلي دي چي په وضؤ(اوداسه) کي څلور فرض دي: د دريو اندامونو پرېولل او د سر مسح کول. او د دې څلورو د فرضيت ثبوت په ذکر سوي آيت سره سوی دی، همدارنګه يې فرمايلي دي چي د غسل معنىٰ اُوبه بيول دي په دې خبره سره پر امام مالک رَحِمَهُ الله رد کوي، ځکه د هغه په نېز اُوبه بيول کافي نه دي بلکي دَلْک يعني مُږل هم شرط دی او د مسح معنىٰ بغير له اُوبو څڅولو څخه اُوبه رسول او تېرول دي.

وحد الوجه الخ صاحب د هدايې د مخ (وجه) اندازه طولًا او عرضًا داسي بيان کړی دی چي د سر د وربښتانو د راشنه کېدلو له ځای څخه د زني تر لاندي حصې پوري او د يوه غوږ له نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پوري د مخ پرېولل فرض دي، دليل دا دی چي وجه مشتق دی له مواجهت څخه او مواجهت په دې ټوله حصه سره واقع کيږي نو ځکه د ټولي حصې پرېولل فرض دي(ځکه چي د مواجهت معنیٰ ده: مخامخ کېدل. او مخامخ کېدل دې ته وايي چي انسان دا ټوله حصه (يعني د سر له وربښتيانو څخه تر لاندي زني پوري او د يوه غوږ له نرمۍ......) د بل چا سره مخامخ کړي).

د څنګلو او بجلکو حکم او په دې باره کي د فقهاؤ اقوال

وَالْمِرْفَقَانِ وَالْكَعْبَانِ دواړه څنګلي او دواړه بجلکي يَدْخُلَانِ فِي الْغَسْلِ عِنْدَنَا په پرېوللو کي داخل دي زموږ په نېز خِلَافًا لِزُفَرَ رَحِمَهُ الله خلاف دی د زفر رَحِمَهُ الله هُوَ يَقُولُ: الْغَايَةُ لَا تَدْخُلُ تَحْتَ الْمُغَيَّا هغه فرمايي: چي غايه په مغيا کي نه داخليږي كَاللَّيْلِ فِي بَابِ الصَّوْمِ لکه شپه د روژې په باب کي وَلَنَا أَنَّ هٰذِهِ الْغَايَةَ لِإِسْقَاطِ مَا وَرَاءِهَا او زموږ دليل دا دی چي دا غايه خو د ما وراء د اسقاط لپاره ده إِذْ لَوْلَا هَا لَاسْتَوْعَبَتِ الْوَظِيْفَةُ الْكُلَّ ځکه که غايه نه وای نو پرېوللو به ټوله اندام کنبېاسلی(يعني ټوله اندام به پرېولل کېدلی) وَفِي بَابِ الصَّوْمِ لِمَدِّ الْحُكْمِ إِلَيْهَا او د روژې په باب کي (غايه) تر شپې پوري د حکم رسولو لپاره ده إِذِ الْإِسْمُ يُطْلَقُ عَلَى الْإِمْسَاكِ سَاعَةً ځکه چي د صوم اطلاق پر يوه ګړۍ امساک باندي هم کيږي وَالْكَعْبُ هُوَ الْعَظْمُ النَّاتِئُ او کعب هغه را پورته سوی هډوکی دی هُوَ الصَّحِيْحُ وَمِنْهُ الْكَاعِبُ همدا صحيح ده او هم له دغه لفظ څخه کاعب (مشتق) دی.

اللغات: ﴿مِرفَق﴾ څنګله، ﴿كَعْب﴾ بجلکه ﴿غَايَة﴾ انتها، پای، ﴿مُغَيّا﴾ د کوم شي لپاره چي غايت مقرر سوی وي. يا له ابتداء څخه واخله د انتها څخه تر مخکي پوري، ﴿وَظِيْفَة﴾ ټاکل سوې اندازه، لازمي مقدار، ﴿عَظْم﴾ هډوکی، ﴿نَاتِئ﴾ را پورته سوی، لوړ.

تشريح: مرفق: د ميم په کسره او د فاء په فتحه سره دی، او د دې پرعکس هم جائز دی يعني د ميم په فتحه سره او د فاء په کسره سره، د مټ او ليښي بند(جوړ)ته مِرفَق وايي، کعب: د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د پښې په ښکاره باندي د تسمې د تړلو د ځای و بند ته ويل کيږي، خو دا صحيح نه ده، صحيح دا ده چي تر پنډۍ لاندي د را پورته سوي هډوکي نوم کعب دی، او هم له دې څخه کاعب مشتق دی چي د هغه جمع کواعب راځي، کواعب هغه انجونو ته ويل کيږي چي سينې يې را پورته سوي او مخته را وتلي وي.

صورت د مسئلې: دا دی چي فقهاء حضرات خو پر دې متفق دي چي په اوداسه کي د دواړو لاسونو او دواړو پښو پرېولل فرض دي. لېکن په دې باره کي اختلاف دی چي مرفقين د لاسونو په پرېوللو او کعبين د پښو په پرېوللو کي داخل دي او که خارج. يعني د لاسو په ډول د څنګلو پرېولل او د پښو په ډول د بجلکو پرېولل هم شرط دي او که نه، ائمه ثلاثه يعني

د امام صاحب او صاحبینو مذهب دا دی چې د لاسو سره د څنګلو او د پښو سره د بجلکو پرېولل هم فرض دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د امام احمد رَحِمَهُ الله قول هم دا دی، او د امام مالک رَحِمَهُ الله یو روایت هم دغه رنګه دی.

لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې مرفقين او كعبين په پرېوللو کې داخل نه دي يعني د څنګلو او بجلکو پرېولل فرض نه دي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله بل روايت بيا دغه رنګه دی.

د امام زفر دليل: دا دی چې په آيت کې مرافق او كعبين غايت (غايه) ده او غايت مطلقًا د مغيا په حکم کې داخله نه وي لکه په اتموا الصيام الى الليل کې چې ليل د روژې په حکم کې داخل نه دی همدارنګه به مرافق د يدين په حکم کې او كعبين د رجلين په حکم کې داخل نه وي.

زموږ دليل: دا دی چې د امام زفر رَحِمَهُ الله دا قول موږ نه تسليموو چې غايت د مغيا په حکم مطلقًا داخله نه ده، ځکه د غايت دوه قسمونه دي، اول دا چې غايت د خپل ماقبل يعني د مغيا له جنس څخه وي، يعني كه غايت جلا کړی سي نو صدر د کلام يعني مغيا غايت او ما وراء د غايت ټولو ته شامل وي، دويم دا چې غايت د خپل ما قبل يعني د مغيا له جنس څخه نه وي يعني د غايت تر جلا کولو وروسته صدر د کلام يعني مغيا غايت او ما وراء د غايت ته نه شامليږي. اوس كه چيري غايت له اول قسم څخه وي نو غايت په مغيا کې داخليږي او كه چيري له دويم قسم څخه وي نو غايت د مغيا په حکم کې نه داخليږي، نو څرنګه چې ليل د صوم (روژې) له جنس څخه نه دی نو ځکه به د روژې په حکم کې نه داخليږي. او مرفقين د يدين له جنس څخه او كعبين د رجلين له جنس څخه دي نو ځکه به دا دواړه غايتونه خپل د مغيا په حکم کې داخليږي، يعني څنګلي به د لاسو په پرېوللو کې او بجلکي به د پښو په پرېوللو کې داخليږي.

صاحب د هدايې چې کوم دليل وړاندي کړی دی د هغه حاصل دا دی چې غايت کله کله په دې وجه ذكر كيږي چې حکم را کش کړی سي او تر غايت پوري را ورسول سي او کله کله غايت د ماوراء د ساقطولو لپاره ذكر كيږي، لنډه دا چې د غايت دوه قسمونه دي: غايت اثبات او غايت اسقاط. او په دې دواړو کې مابه الامتياز دا دی: كه غايت صدر د کلام يعني مغيا ته شامل وي نو دا به غايتِ اسقاط وي او كه شامل نه وي نو دا به غايت اثبات وي، او غايتِ اثبات د مغيا په حکم کې نه داخليږي لکه په اتموا الصيام الى الليل کې ليل د صوم په حکم کې نه داخليږي، او په غايتِ اسقاط کې ماوراء د غايت ساقطيږي، نو به غايت د مغيا په حکم کې داخل وي لکه په أيدكم الى المرافق کې چې غايت يعني مرافق ذكر سوي دي د مرفق د ماوراء د ايستلو لپاره، نو ځکه به د پرېوللو حکم په مرفق کې پاته وي.

راجح قول: په دې دواړو قولونو کې د ائمه ثلاثه وو قول راجح دی، چې هغوی وايي: دواړه څنګلي د لاسو په پرېوللو کې او دواړه بجلکي د پښو په پرېوللو کې داخل دي، او علامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر دغه د علماؤ اجماع ده. [القول الراجح: ص:۱، ج:۱]

د سر د مسحې (مسح) اندازه او په دې باره کې د فقهاؤ اقوال

قَالَ: وَالْمَفْرُوضُ فِيْ مَسْحِ الرَّأْسِ مِقْدَارُ النَّاصِيَةِ فرمايي او د سر په مسحه کې د تندي مقدار فرض دی وَهُوَ رُبُعُ الرَّأْسِ او د تندي مقدار څلورمه حصه د سر ده لِمَا رَوَى الْمُغِيْـرَةُ بْنُ شُعْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه حديث په وجه کوم چې مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت کړی دی أَنَّ النَّبِيَّ أَتَى سُبَاطَةَ قَوْمٍ چې نبي ﷺ د يو قوم انبار (ډېران) ته راغلی فَبَالَ وَتَوَضَّأَ بيا نبي ﷺ متيازي وکړې او اودس يې وکړی وَمَسَحَ عَلَى نَاصِيَتِهِ وَخُفَّيْهِ او مسح يې وکړه پر خپل تندي او موزو باندي وَالْكِتَابُ مُجْمَلٌ او د قرآن (آيت) مجمل دی فَالْتَحَقَ بَيَانًا بِهِ نو ځکه دا حديث د بيان په توګه په هغه پسي لاحق سو وَهُوَحُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله او همدا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی فِي التَّقْدِيْرِ بِثَلٰثِ شَعَرَاتٍ د دريو ورېښتيانو په اندازه لګولو کي وَعَلَى مَالِكٍ رَحِمَهُ الله او د امام مالک رَحِمَهُ الله (په خلاف حجت دی) فِيْ اِشْتِرَاطِ الْإِسْتِيْعَابِ د ټوله سره د کښېباسلو (نيولو) په شرطولو کي (يعني امام مالک فرمايي چي مسحه به ټوله سر نيسي يعني د ټوله سر مسحه شرط او فرض ده) وَفِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ قَدَّرَهُ بَعْضُ أَصْحَابِنَا بِثَلَاثِ أَصَابِعِ الْيَدِ او په ځيني روايتونو کي د تندي اندازه زموږ بعضي ملګرو په درې ګوتو سره لګولې ده لِأَنَّهَا ځکه چي درې ګوتي أَكْثَرُ مَا هُوَ الْأَصْلُ فِيْ آلَةِ الْمَسْحِ اکثر (زياتي) دي د هغه شی چي هغه د مسحې په آله کي اصل دی.

اللغات: ﴿نَاصِيَة﴾ تندی. ﴿سُبَاطَة﴾ خاشاک او ردي شيان. د ګندګيو د اچولو ځای (يعني په کوم ځای کي چي خلک ګندګي اچوي هغه ځای ته هم سُبَاطَة وايي) ﴿فَبَالَ﴾ د نصر له باب څخه د ماضي صيغه ده: شاشې کول. متيازي کول. بولي کول. ﴿تَقْدِيْر﴾ اسم مصدر دی د تفعيل له باب څخه معنیٰ يې ده: مقرر کول. ټاکل.

تشريح: مسح وېل کيږي د لاندې لاس را تېرولو ته. هغه که په اوبو لوند سوی وي او که له يو مغسول اندام څخه وروسته لوندوالی پاته سوی وي. د سر مسح بالاتفاق فرض ده، ځکه چي دا په صريح آيت سره ثابته ده خو په فرض مقدار کي يې اختلاف دی: (۱) د احنافو په نېز د سر د څلورمي حصې مسح کول فرض دي، هغه که د سر مخکي حصه وي او که د شا له راسته طرف څخه څلورمه حصه وي او که له چپه طرف څخه، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي مطلق سر مسح کول فرض دي، نو د ده په نېز که د دريو ورېښتيانو او په يوه روايت کي د يوه ورېښته په اندازه مسح وسي نو هم فرض ادا کيږي، لېکن امام مالک رَحِمَهُ الله او امام احمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي د ټوله سر مسح فرض ده.

د امام مالک دليل: د الله تعالیٰ دا قول: وامسحوا برؤوسكم دی. امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي "باء" زائده ده يعني آيت داسي دی وامسحوا رؤسكم يعني خپل پر سرو مسح کوئ، او ښکاره ده چي د رأس (سر) اطلاق په ټوله سر باندي کيږي نه پر بعضي، نو معلومه سوه چي د ټوله سر مسح کول فرض دي، صاحب د شرح نقايه ليکلي دي چي امام مالک رَحِمَهُ الله په احتياط باندي عمل کړی دی.

د امام شافعي دليل: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې ذکر سوی آيت د مسح د مقدار په سلسله کې مطلق دی نو د المطلق يجری علی إطلاقه د قاعدې مطابق به د مطلق سر مسح فرض وي، لهذا د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د سر د ادنیٰ حصې په مسح کولو سره فرض ادا کيږي او په ادنیٰ حصه کې يو وریښته هم معتبر دی يا په قول د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله درې وریښته معتبر دي.

زموږ دليل: د احنافو علماء فرمايي چې د مسح د مقدار په سلسله کې آيت مُجمل دی، مجمل د بيان محتاج وي، او دلته بيان د مغيره ﷺ حديث دی، يعني مغيره بن شعبه ﷺ فرمايلي دي: ان النبی (ص) اتٰی سباطة قوم فبال و توضأ ومسح علی ناصيته وخفيه، د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله دا ذکر سوی حديث د دوو حديثونو يعني د مغيره ﷺ له حديث او د حذيفه ﷺ له حديث څخه مرکب دی، حديث د مغيره کوم چې مسلم روايت کړی دی د هغه الفاظ دا دي: أن النبی (ص) توضأ فمسح بناصيته وعلی العمامة وعلی خفيه او حديث د حذيفه کوم چې شيخينو روايت کړی دی د هغه الفاظ دا دي: اتٰی النبی (ص) سباطة قوم فبال قائما ثم دعا بماء فجئته بماء فتوضأ، د دې حديثونو خلاصه دا ده چې نبي کريم ﷺ تر متيازو کولو وروسته اودس وکړی او پر مقدار ناصيه باندې يې مسح وکړه، مقدار ناصيه او د سر څلورمه حصه يوه خبره ده نو په دې وجه د احنافو علماء له دې آيت څخه استدلال کوي فرمايي چې پر څلورمه د سر مسح کول فرض دي.

او د دې تائيد په يو بل حديث سره هم کيږي چې هغه ابو داؤد روايت کړی دی: عن انس ﷺ رأيت رسول الله (ص) يتوضأ و عليه عمامة قطرية فادخل يديه من تحت العمامة فسمح مقدم رأسه، (له حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ د اودس کولو په حال کې وليدی او د ده پر سر قطري لنګوټه وه، نو ده ﷺ خپل دواړه لاسونه د لنګوټې دلاندې حصې څخه ور داخل کړل او بيا يې د سر مخکنۍ حصه مسحه کړه)، ښکاره دي وي چې نبي ﷺ د سر ټوله مخکنۍ حصه مسح کړې ده، او د ټولې مخکنۍ حصې اندازه د سر څلورمه حصه ده چې هغې ته ناصيه ويل کيږي.

نو دا حديثونه د امام مالک رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دي، د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف ځکه چې که د ټوله سر مسح فرض وای نو نبي ﷺ به د سر د څلورمې حصې پر مسح اکتفاء څنګه کولای؟ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف ځکه حجت دی چې که د سر له څلورمې حصې څخه پر کمه حصه ب مسح جائز وای نو نبي ﷺ به يو وار د جواز د بيان لپاره ضرور داسې کولای، حال دا چې له نبي ﷺ څخه د سر له څلورمې حصې څخه پر کمه حصه باندې مسح ثابته نه ده.

وفي بعض الروايات الخ د احنافو ځينې عالمانو د مقدار ناصيه تقدير په درېو ګوتو سره کړی دی، دليل يې دا دی چې مسح په لاس سره کيږي او په لاس کې ګوتې اصل دي او درې ګوتې د يوه لاس زياته (اکثره) حصه ده، او قاعده داده چې للأکثر حکم الکل، نو په دې وجه به درې ګوتې د کُل قائم مقام وي، او دا حکم به کيږي چې که څوک د درې ګوتو په اندازه مسح وکړي نو هغه به شرعًا کافي وي.

د اودس سنتونه..... اول سنت

قَالَ: وَسُنَنُ الطَّهَارَةِ غَسْلُ الْيَدَيْنِ فرمايي: او د اودس سنتونه: د دواړو لاسونو پرېولل دي قَبْلَ إِدْخَالِهِمَا الْإِنَاءَ مخکې تر دننه کولو د دوی دواړو په لوښي کې إِذَا اسْتَيْقَظَ الْمُتَوَضِّئُ مِنْ نَوْمِهِ کله چې اودس کوونکی له خپل خوب څخه

راويښ سي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ ځکه د نبي ﷺ قول دی إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ کله چې په تاسو کې يو له خپل خوب څخه راويښ سي فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ نو خپل لاس دې په لوښي کې نه داخلوي حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا تر څو چې درې واره يې پرېولي فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ځکه هغه خبر نه دی چې لاس يې د شپې چيري پاته سوی دی وَلِأَنَّ الْيَدَ آلَةُ التَّطْهِيرِ او ځکه چې لاس د پاکولو آله ده فَتُسَنُّ الْبِدَايَةُ بِتَنْظِيفِهَا نو د هغه په پاکولو سره به شروع کول هم سنت وي وَهَذَا الْغَسْلُ إِلَى الرُّسْغِ او دا پرېولل به ترمړوندو پوري وي لِوُقُوعِ الْكِفَايَةِ فِي التَّنْظِيفِ ځکه (تر مړوندو پوري په پرېوللو سره) په پاکولو کي کفايت حاصليږي.

اللغات: ﴿إناء﴾ لوښی، ﴿اسْتَيْقَظَ﴾ له باب استفعال څخه د ماضي صيغه ده، مصدري معنیٰ يې ده: ويښېدل، له خوب څخه را پورته کېدل، ﴿فَلَا يَغْمِسَنَّ﴾ نه دي ډوبوي، د ضرب له باب څخه د مضارع صيغه: غَمَسَ يَغْمِسُ: ډوبول، په اوبو کي اچول. ﴿بَاتَتْ﴾ د ضرب له باب څخه د ماضي صيغه ده بَاتَ يَبِيْتُ: شپه تېرول، ﴿بداية﴾ شروع کول ﴿تنظيف﴾ د تفعيل د باب اسم مصدر دی: پاکول، ﴿رُسْغ﴾ مړوند.

تشريح: سُنن جمع د سنت ده، سنت په دين کي داسي رواج سوي طريقې ته وايي چي هغه نه فرض وي او نه واجب وي، او اداء کونکی يې د ثواب مستحق وي او پرېښوونکی يې د ملامت او عقاب مستحق وي، علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله ويلي دي چي سنت هغه ته ويل کيږي چي پر هغه نبي ﷺ د کله نا کله پرېښوولو سره سره همېشتوب کړی وي.

پاته سوه دا خبره چي صاحب د هدايې فرض په صيغه سره د واحد او سنن په صيغه سره د جمع ولي ذکر کړل، نو د دې جواب دا دی چي فرض په اصل کي مصدر دی او مصادر له تثنيې او جمع څخه مستثنیٰ دي، او د دې پر عکس سنت مصدر نه دی نو ځکه سنت په صيغه سره د جمع ذکر کړی سو.

صورت د مسئلې: دا دي چي کله اودس کونکی له خوب څخه را ويښ سي، نو د هغه لپاره تر ټولو اول سنت دا دی چي خپل دواړه لاسونه دي په لوښي کي تر اچولو مخکي درې واره تر مړوندو پوري پرېولي، او د پرېوللو طريقه يې دا ده چي که اوبه په يو کوچني لوښي کي وي نو اول دي په چپه لاس لوښي را پورته کړي پر راسته لاس دي اوبه واچوي، بيا دي په راسته لاس سره پر چپه لاس اوبه واچوي، او که لوښی دومره غټ وي چي د هغه د پورته کولو امکان نه وي، نو په يو کوچني لوښي کي دي له هغه څخه اوبه را واخلي، او که کوچنی لوښی هم نه وي نو د چپه لاس ګوتي دي سره يو ځای کړي د غټ لوښي څخه دي اوبه په را واخلي پر راسته لاس دي يې واچوي، ورغوی دي په اوبو کي نه دننه کوي، بيا دي په راسته لاس سره اوبه را واخلي چپه لاس دي په پرېولي.

دليل حديث د ابو هريره رضي الله عنه دی، چي د هغه روايت شيخينو کړی دی: اذا استيقظ احدکم من نومه فلا يغمس يده في الاناء حتی يغسلها فانه لايدري اين باتت يده، او د مسلم الفاظ دا دي: حتی يغسلها ثلاثا، او په بعضي رواياتو کي فلا يغمسن په تأکيد د

❶ تخريج: هذا الحديث قد اتفق عليه اصحاب الكتب الستة فأخرجه البخاری فی الوضوء، باب رقم:۱۶، ومسلم فی الطهارات حديث رقم:۸۷، و ابو داؤد فی الطهارة باب:۸۹، و ترمذي فی الطهارة باب:۱۹.

نون سره دی، لنډه دا چې نبي ﷺ وفرمايل: چې کله په تاسو کې يو سړی له خوب څخه راويښ سي نو اول دي خپل لاسونه پرېولي، ځکه ده ته معلومه نه ده چې د ده لاسونه د شپې چيري پاته سوي دي.

په مبسوط کې راغلي دي چې تر اوداسه مخکې د دواړو لاسونو پرېولل مطلقًا سنت دي که له خوب څخه را ويښ سوی وي، که نه وي، ځکه د لاس پرېوللو علت په ويښ سړي کې هم راتلاسی، يعني کېدای سي چې ده لاس د بدن و رګو ته ور وړی وي، لنډه دا چې د لاس پرېوللو علت نجاست دی او هغه خو په دواړو صورتونو کې سته که له خوب څخه را ويښ سوی وي او که له مخکې څخه لا ويښ وي، او دا هغه وخت سنت دي ترڅو چې نجاست ښکاره نه وي کنې نجاست ليري کول فرض دي.

ولأن اليد الخ دويم دليل دا دی چې لاس د پاکولو آله ده، نو ځکه اول پخپله تر مړوندو پوري د هغو پاکول سنت دي ځکه چې په پاکي حاصلولو کې دغومره اندازه کافي ده.

دويم سنت..... بسم الله سنت ده او که مستحب

قَالَ: وَتَسْمِيَةُ اللهِ فِي ابْتِدَاءِ الْوُضُوْءِ فرمايي: او بِسْمِ الله ويل د اودس په پيل کې (هم سنت دي) لِقَوْلِهِ ﷺ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا وَضُوْءَ لِمَنْ لَمْ يُسَمِّ اللهَ د هغه سړي اودس نه کيږي شوک چې بسم الله نه ووايي وَالْمُرَادُ بِهِ او له دې څخه مراد نَفْيُ الْفَضِيْلَةِ د فضيلت نفي دی وَالْأَصَحُّ او صحيح دا ده أَنَّهَا مُسْتَحَبَّةٌ چې بسم الله ويل مستحب دي وَإِنْ سَمَّاهَا فِي الْكِتَابِ سُنَّةً که څه هم په کتاب کې يې دې ته سنت ويلي دي وَ يُسَمِّيْ او بسم الله دي وايي قَبْلَ الْإِسْتِنْجَاءِ وَبَعْدَهُ تر استنجاء مخکې هم او وروسته هم هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿تَسْمِيَة﴾ له باب تفعيل څخه مصدر دی معنیٰ يې ده: بسم الله ويل.

تشريح: د اوداسه له سنتونو څخه يو مهم سنت دا دی چې اودس کونکی دي اودس د الله په نامه سره شروع کړي او د تسميې ادنیٰ درجه دا ده چې بسم الله ووايي، او اعلیٰ درجه يې دا ده چې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ووايي. او علامه ابن الهمام فرمايلي دي چې امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي: بسم الله العظيم والحمد لله على دين الاسلام دي وايي او دغه له سلفو څخه منقول دي، او بعضو ويلي دي چې دا د رسول الله ﷺ څخه مرفوعًا منقول دي. خلاصه دا ده چې زموږ په نېز د اوداسه په پيل کې تسميه سنت ده. لېکن د اصحاب ظواهر او د امام احمد رَحِمَهُ الله په نېز تسميه د اوداسه شرط ده. دوی وايي چې بغير له تسميې څخه اودس نه کيږي، دليل يې هغه حديث دی کوم چې حاکم او ابو داؤد روايت کړی دی: عن ابي هريرة ﷺ أن النبي(ص) قال لا صلوٰة لمن لا وضوٴ له ولا وضوٴ لمن لم يذکر اسم الله عليه. (له حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ وفرمايل: د هغه چا لمونځ نه کيږي د چا چې اودس نه وي او د هغه چا اودس نه کيږي چا چې د الله نوم ذکر کړی نه وي)

اصحاب ظواهر له دې حديث څخه په دې توګه دليل نيسي چې په حديث کې لا د جنس د نفي لپاره دی يعني بغير له تسميې څخه اودس نه کيږي، لېکن زموږ له طرفه جواب دا دی چې په حديث کې د اودس د فضيلت نفي سوې دي يعني بغير له تسميې څخه خو اودس کيږي خو افضل به نه وي. لکه په: لا صلوٰة لجار المسجد الا في المسجد کې چې د صلوٰة

د کمال او فضیلت نفي سوي دي، نه د صلوٰة د صحت، او لکه په: لا ایمان لمن لا عهد له کي د کمال ایمان نفي سوي دي نه د نفسِ ایمان، نو همدارنګه به د تسمیې په حدیث کي د وضوء د فضیلت او کمال نفي سوي وي نه د اودس د جواز او صحت، زموږ تائید د علي بن یحییٰ بن خلاد په حدیث سره هم کیږي، حدیث دا دی: أنّ النبیؐ قال للمسئ صلوٰته إذا تمتَ فتوضأ کما أمرك الله، (یعني نبي ﷺ هغه سړي ته وویل کوم چي د لمانځه ارکان په صحیح توګه سره نه اداکول: کله چي ته د لمانځه اراده وکړې نو داسي اودس کوه څرنګه چي تاته الله حکم کړی دی)، او الله چي د کوم اودس حکم کړی دی په هغه کي تسمیه نشته.

او د دارِ قطني په روایت کي راغلي دي: من توضأ و ذکر اسم الله فانه یطهر جسده و من توضأ ولم یذکر الله لم یطهر الا موضع الوضوء. (یعني چا چي اول په اودس کي د الله نوم ذکر کړی نو د هغه ټوله بدن پاکیږي او چاچي د الله تعالیٰ نوم ذکر نه کړی نو د اوداسه له اندامونو څخه ماسوا یې نور هیڅ نه پاکیږي)، له دې حدیثونو څخه معلومیږي چي تسمیه په اودس کي شرط نه ده.

والأصح الخ صاحب د هدایې فرمایي: أصح دا ده چي تسمیه په اوداسه کي مستحب ده که څه هم په قدوري کي دې ته سنت ویل سوي دي، شارح د هدایې علامه بدرالدین عیني رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چي د تسمیې د استحباب قول به څرنګه صحیح سي حال دا دی چي ډېر احادیث د دې په سنتوالي باندي دلالت کوي، صاحب د هدایې فرمایي چي تسمیه دي له استنجاء څخه مخکي هم وایي او وروسته هم، او همدغه قول صحیح دی. د بعضو رایه دا ده چي صرف تر استنجاء مخکي دي یې وایي او د بعضو رایه دا ده چي صرف تر استنجاء وروسته دي یې وایي.

کوم حضرات چي وایي چي تر استنجاء مخکي دي بسم الله وایي د هغو دلیل دا دی چي استنجاء د اوداسه په سنتونو کي یو سنت دی نو ځکه دي تر استنجاء مخکي بسم الله وایي د دې لپاره چي د اودس ټوله افعال هغه که فرض وي او که سنت په بسم الله سره واقع سي، او کوم چي تر استنجاء وروسته د بسم الله قائل دي د هغو دلیل دا دی چي تر استنجاء مخکي د کشفِ عورت حالت دی او د کشفِ عورت په حالت کي د الله ذکر کول مناسب نه دي نو ځکه دي تر استنجاء وروسته بسم الله وایي، او د أصح قول دلیل دا دی چي د نبي ﷺ دا قول: کل أمر ذی بال لم یُبدأ فیه بذکر الله... د دې خبري تقاضا کوي چي د اودس په شروع کي دي بسم الله ویل کیږي، او څرنګه چي استنجاء هم د اودس له ملحقاتو څخه ده. نو ځکه به تر استنجاء کولو مخکي هم بسم الله ویل مستحب وي.

دریم سنت (مسواک وهل)

> **وَالسِّوَاكُ** او مسواک (وهل سنت دی) **لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يُوَاظِبُ عَلَيْهِ** ځکه چي نبي ﷺ به پر دې همېشتوب کوی **وَعِنْدَ فَقْدِهِ** او د مسواک د نشتوالي په صورت کي دي **يُعَالِجُ بِالْأُصْبُعِ** له ګوتي څخه کار اخلي **لِأَنَّهُ عليه السلام فَعَلَ كَذَلِكَ** ځکه نبي عليه السلام همداسي کړي دي

اللغات: ﴿يواظب﴾ له باب مفاعله څخه د مضارع صيغه ده: پابندي کول، يو کار همېشه کول. ﴿يعالج﴾ له باب مفاعله څخه د مضارع صيغه ده: کوښښ کول، تدبير کول، دلته مراد په ګوته سره مږل دي، ﴿أصبع﴾ دا په ضمه د همزې سره هم استعماليږي او په کسره سره هم معنیٰ يې ده: ګوته، جمع يې أَصَابِع راځي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د اوداسه له سنتونو څخه يو سنت مسواک وهل دي، دليل يې دا دی چې نبي کريم ﷺ د مسواک پر استعمالولو همېشتوب کړی دی خو دا چې کله کله به يې پرېښوی، او که مسواک نه وي نو د راسته لاس په ګوته سره دي غاښونه مږي، ځکه چې دا هم له نبي ﷺ څخه ثابت دي، او مواظبت مع الترک يعني همېشتوب سره د پرېښوولو د سنت دليل دی او مواظبت بلا ترک د وجوب دليل دی، او د مسواک په ترک باندي دليل دا دی چې يو ځل نبي ﷺ ديو کلي (محلې) خلکو ته د اوداسه او لمانځه تعليم ورکړی چې په هغه کي د مسواک د تعليم ذکر نسته، که مسواک وهل واجب وای نو نبي ﷺ به دوی ته د مسواک وهلو تعليم ضرور ورکولای. (عنايه)

او د مسواک د نشتوالي په صورت کي ګوته د مسواک قائم مقامه ده، د دې دليل يې دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: يجزئ من السواك الاصابع (رواه البيهقي عن انس ﷺ) يعني د مسواک پر ځای ګوتي کفايت کوي.

او طبراني له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت کړی دی: قالت قلت يا رسول الله الرجل يذهب فوه يستاك قال نعم قلت كيف يصنع قال يدخل اصبعه في فيه، (حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ما ووېل اې رسول الله ﷺ! د کوم چا په خوله کي چې غاښونه نه وي هغه به مسواک وهي، وېې فرمايل هو! ما ووېل: څرنګه به يې وهي، وېې فرمايل: چې خپله ګوته دي په خوله کي داخلوي). (فتح القدير، شرح نقايه)

د مسواک په سنيت کي درې قولونه: ښکاره دي وي چې د مسواک په سنتوالي کي درې قولونه دي: ① اول قول دا دی چې مسواک د اوداسه سنت (سنتِ وضوء) دی ځکه چې په نسائي کي د ابو هريره ﷺ حديث دی: لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك عند كل وضوء، (يعني که زما پر امت تکليف نه وای نو ما به دوی ته د هر اوداسه سره د مسواک حکم کولای)

او ابو داؤد له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت کړی دی: أنه عليه السلام كان لا يرقد من ليل او نهار فيستيقظ الا تسوك قبل أن يتوضاء (يعني نبي ﷺ چې به کله په شپه يا ورځ کي له خوب څخه را پورته کېدی نو تر اوداسه مخکي به يې مسواک ضرور استعمالوی)

② دويم قول دا دی چې مسواک د لمانځه سنت (سنتِ صلوٰة) دی، دليل د ابو هريره ﷺ دا حديث دی: لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك عند كل صلوٰة يا مع كل صلوٰة.

③ دريم قول دا دی چې مسواک د دين سنت دی دا قول ډېر قوي دی او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه هم دغه قول را نقل سوی دی، دليل د ابو ايوب ﷺ حديث دی کوم چې ترمذي ذکر کړی دی: أربع من سنن المرسلين: الختان، والتعطر والسواك والنكاح، (يعني څلور شيان د رسولانو سنت دی: ختنه (سنت کول). عطر (خوشبويي). مسواک او نکاح) او له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی: "لس شيان له فطرت څخه دي" چې له هغو څخه يو مسواک هم شمېرل سوی دی.

په حديثونو كي د مسواك ډېر فضائل بيان سوي دي، په مسند احمد كي راغلي دي: أنه عليه السلام قال صلوٰة بسواك أفضل من سبعين صلوٰة بغير سواك. (يعني د مسواک يو لمونځ تر هغه لمانځه په ثواب كي اويا(۷۰) چنده زيات دی چي بغير له مسواک څخه وي)، تر استقراء او تتبع وروسته پنځه ځايه د مسواک استحباب ثابت سوی دی: (۱) د غابنو د ژړ والي په وخت كي، (۲) د خولې د بدبويي په وخت كي، (۳) له خوب څخه د را پورته کېدلو په وخت كي، (۴) لمانځه ته د تللو په وخت كي، (۵) د اودس په وخت كي.

مسواک بايد څرنګه وي او څه ډول بايد ووهل سي

مسواک بايد نرم او پوست وي، ډېر كلک به نه وي، د ګوتي په اندازه به پنډ او يوه لوېښت به اوږد وي.. سيده به وي. غوټي(كوټونه) او كوږوالى به پكښي كم وي، د ترخې درختي به وي چي د بلغمو مخنيوى وكړي او سينه صفا كړي او خوارک ژر هضم كړي؛ د مسواک وهلو طريقه دا ده چي مسواک به عَرضًا (په بره، په پسور)هم وهي او طولًا (په اوږدول) به يې هم وهي، او كه غواړي چي صرف په يوه باندي اكتفاء وكړي نو طولًا به يې وهي، او بعضو ويلي دي چي عرضًا به يې وهي، نه طولًا، ښكاره دي وي چي د غابنونو عرض (بر) د خولې طول(اوږدول) دی. (شرح نقايه)

خلورم او دريم سنت(مضمضه او استنشاق)

وَالْمَضْمَضَةُ وَالْإِسْتِنْشَاقُ خوله پرېولل او پزه پرېولل (هم سنت دي) لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶ فَعَلَهُمَا عَلَى الْمُوَاظَبَةِ ځکه نبي ﷺ په پابندي سره دا دواړه كړي دي وَكَيْفِيَّتُهُمَا او د دواړو طريقه دا ده أَنْ يُمَضْمِضَ ❷ ثَلَاثًا چي درې واره به خوله پرېولي يَأْخُذُ لِكُلِّ مَرَّةٍ مَاءً جَدِيدًا او د هر وار لپاره به نوي اوبه را اخلي ثُمَّ يَسْتَنْشِقُ كَذٰلِكَ او بيا به دغه ډول پزه (هم درې واره) پرېولي وَهُوَ مَحْكِيٌّ مِنْ وُضُوْئِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د نبي ﷺ د اودسه هم دغه طريقه را نقل سوې ده.

اللغات: ﴿الـمضمضة﴾ د فَعْلَلَة د باب مصدر دی: په خوله اوبه غر غره كول(چي په عامه اصطلاح خوله پرېولل ورته وايي) ﴿الإستنشاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی: په پزه كي اوبه اچول (چي په عامه اصطلاح پزه پرېولل ورته وايي). او د دې مخالف لفظ راځي: إِسْتَنْثَر: له پزي څخه اوبه څنډل.

تشريح: خوله او پزه پرېولل هم په اوداسه كي سنت دي، او اودس كونكي به په دواړو كي مبالغه كوي. د خولې په پرېوللو كي مبالغه دا ده چي ټولي خولې ته به اوبه ورسوي، او شيخ الاسلام رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي د خولې په پرېوللو كي مبالغه دا ده چي غرغره دي وكړي يعني د ستوني تر آخري حصې پوري دي اوبه ورسوي. خو په دې شرط چي د دې سړي روژه نه وي، او شمس الائمه حلواني رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي مبالغه دا ده چي اوبه دي د خولې له يوه طرف څخه پر بل طرف وباسي، او د پزي په پرېوللو كي مبالغه دا ده چي اوبه دي د پزي تر نرمي حصې(تير) پوري ورسوي. همدارنګه ويل سوي دي چي په پزه كي دي اوبه واچوي او ساه دي پورته كش كړي چي اوبه لوړي ولاړي سي.

❶ تخريج: أخرجه الامام البخاري في الوضوء باب رقم: ۳۹، ومسلم في الطهارة حديث رقم: ۱۸، و ابو داؤد في الطهارة باب رقم: ۵۱.
❷ تخريج: روى هٰذا الحديث امام طبراني في المعجم ج: ۱، ص: ۲۳۲.

دليل: د مضمضه او استنشاق پر سنت کېدلو دليل دا دی چې نبي ﷺ پر دې دواړو همېشتوب کړی دی ځرنګه چې له دوويشت(٢) صحابه وو څخه د نبي ﷺ اودس را نقل سوی دی. او ټولو د خولې او پزې پرېوللو بيان کړی دی، خو د پرېوللو د عدد(شمېر) په باره کې بعضې چپ پاته سوي دي، او بعضو يې ذکر کړی دی چې نبي ﷺ يو وار مضمضه او استنشاق وکړل، او بعضو درې درې واره ذکر کړی دی.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دا ذکر نه کړه چې نبي ﷺ به د همېشتوب سره سره، کله نا کله مضمضه او استنشاق پرېښوول هم، لکه ځرنګه چې په يو حديث کې راغلي دي چې نبي ﷺ يوه اعرابي ته د اودس ور ښوولو په وخت کې د مضمضه او استنشاق ذکر نه وکړی، همدارنګه حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا د نبي ﷺ اودس را نقل کړی دی خو د مضمضه او استنشاق ذکر يې نه دي کړی، نو کله چې د دې دواړو کله کله(أحيانًا) پرېښوول ثابت سو، نو دا دواړه به په اوداسه کې سنت وي، نه دا چې واجب او فرض، لکه ځرنګه چې اهل حديث د نبي ﷺ په مواظبت او همېشتوب سره دليل نيسي. او دا دواړه په غسل او اودس کې فرض بولي، همدارنګه له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا څخه موقوفاً او مرفوعاً روايت سوی دی چې: هما سنتان في الوضوء واجبتان في الغسل(يعني مضمضه او استنشاق په اودس کې سنت دي او په غسل کې واجب دي). (عنايه، كفايه)

د خولې او پزې د پرېوللو طريقه

صاحب د هدايې فرمايي: چې د خولې او پزې د پرېوللو کيفيت دا دی چې اول دې درې واره خوله پرېولي. او هر وار دې نوي اوبه استعمالوي، بيا دې درې واره پزه پرېولي، او هر وار دې نوي اوبه استعمالوي، ځکه چې له نبي ﷺ څخه اودس همدغه ډول را نقل سوی دی، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې اوبه دې يو وار را اخلي او په هغه دې خوله او پزه دواړه پرېولي، د امام شافعي دليل د ابو داؤد دا روايت دی چې حضرت علي ﷺ د نبي ﷺ د اودس بيانولو په وخت کې يو وار اوبه را واخيستلې په هغه سره يې خوله هم پرېولل او پزه هم، نو معلومه سوه چې د دواړو لپاره يو وار اوبه را اخيستل کافي دي. (شرح نقايه)

زموږ له طرفه جواب دا دی چې نبي ﷺ به کله کله د جواز د بيانولو لپاره داسې کړي وي کنې افضل هغه دی کوم چې موږ اختيار کړي دي. (د جواز بيانولو مطلب دا چې نبي ﷺ به کله کله په يو وار اوبو سره خوله او پزه دواړه په دې وجه پرېولل چې اُمت ته معلومه سي چې دا جائز دي، مکروه يا حرام نه دي. کنې افضل ...)

او صاحب د عنايې(عنايه) په جواب کې وايي چې خوله او پزه جلا جلا دوه اندامونه دي نو ځکه به دواړه په يوه وار لوبو کې نه جمع کيږي لکه ځرنګه چې نور اندامونه په يوه وار اوبو کې نه جمع کيږي.

فوائد: صاحب د شرح نقايه ليکلي دي: ځرنګه چې مضمضه او استنشاق سنت دي همدغه رنګه مضمضه پر استنشاق مخکې کول سنت دي او دا يې هم ليکلي دي چې مضمضه او استنشاق دې دواړه په راسته لاس سره کوي لو بعضو ويلي دي چې استنشاق دې په چپه لاس سره کوي، خو صحيح دا ده چې په پزه کې دې اوبه په راسته لاس سره اچوي. او په چپه لاس سره دې يې څنډي.

پنځم سنت(دغوږونو مسح كول)

وَمَسْحُ الْأُذُنَيْنِ او د دواړو غوږونو مسح كول (هم سنت دي) وَهُوَ سُنَّةٌ بِمَاءِ الرَّأْسِ او هغه د سر په اوبو سره(مسح كول) سنت دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ چې دواړه غوږونه له سر څخه دي وَالْمُرَادُ بَيَانُ الْحُكْمِ دُوْنَ الْخِلْقَةِ او(په دې فرمان سره د نبي ﷺ) مراد حكم بيانول دي نه پيدايښت.

حل لغات: ﴿أُذُن﴾ غوږ، تشنيه يې: أُذُنَيْن راځي.

تشريح: داوداسه له سنتونو څخه يو سنت د دواړو غوږونو مسح كول دي.

د غوږونو د مسح كولو طريقه: د غوږونو د مسح كولو طريقه د علامه حلواني او شيخ الاسلام د قول مطابق دا ده: چې خپله خچنه (خنصر) ګوته دې په غوږ دننه كړي، او حركت دې وركړي(يعني ودې يې ښوري)، او فرمايلي يې دي چې نبي ﷺ هم داسې كړي دي، او ابن ماجه په صحيح اسناد سره د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روايت كړی دی: أنه عليه الصلوٰة والسلام مسح اذنيه فأدخلهما السبابتين وخالف إبهاميه الى ظاهر اذنيه فمسح ظاهرهما وباطنهما. (يعني نبي ﷺ خپل دواړه غوږونه مسح كړه،(هغه داسې چې) خپلې دواړې د شهادت ګوتې يې په غوږو دننه كړې او دواړې بټې (غټې) ګوتې يې پر غوږو سرپېره تيرې كړې،(مطلب دا چې) د غوږو د ښكاره او پټې دواړو حصو مسح يې وكړه) همدغه اولیٰ او بهتره ده. (فتح القدير)

وهو سنة بماء الخ د غوږونو مسح زموږ په نېز د سر په اوبو سره سنت ده او د امام مالك رَحِمَهُ الله، امام شافعي رَحِمَهُ الله او امام احمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چې: د غوږونو د مسح لپاره تازه اوبه را اخيستل سنت دي،

د امام شافعي دليل: دليل هغه حديث دی كوم چې حبان ابن واسع له خپل پلار څخه روايت كړی دی: أنه سمع عبد الله بن زيد يذكر أنه رأى رسول الله ﷺ يتوضأ فأخذ لأذنيه ماء خلاف الماء الَّذِیْ أخذ لرأسه (يعني واسع له عبد الله بن زيد څخه اورېدلي دي چې هغه نبي ﷺ د اودس كولو په وخت كې وليدئ چې د غوږونو د مسح كولو لپاره يې له هغه اوبو څخه علاوه نورې اوبه را واخيستلې كومې چې يې د سر د مسح كولو لپاره را اخيستې وې) له دې حديث څخه معلومه سوه چې د غوږونو د مسح كولو لپاره نوې اوبه را اخيستل سنت دي.

زموږ دليل: د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حديث دی: أن النبي ﷺ قال الأذنان من الرأس. او له دې حديث څخه مراد د حكم بيانول دي مطلب دا چې د غوږونو او سر دواړو حكم يو دی، د پيدايښت بيان يې مقصود نه دی(چې غوږونه د سر سره يو ځای پيدا سوي دي) ځكه چې نبي ﷺ د احكامو د بيانولو لپاره را استول سوی دی، د موجوداتو د حقائقو او خلقت د بيانولو لپاره نه دی را استول سوی.

سوال: لېكن كه يو څوک سوال وكړي چې كله د دواړو يعني د سر او غوږونو حكم يو دی نو بايد پر دواړو غوږونو مسح كول د سر قائم مقام وای حال دا چې داسې نه ده.

جواب: دا دی چي د سر د مسحي وجوب په قطعي دليل سره ثابت دی او د غوږونو مسحه په خبر واحد سره ثابته ده چي دا سنت ده او په سنت سره فرض نه سي ادا کېدلای، لکه څرنګه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: الحطيم من البيت يعني حطيم په کعبه کي داخل دی، نو څرنګه چي د بيت الله طواف کيږي دغه ډول به د حطيم طواف هم کيږي، خو صرف په حطيم اکتفاء کول او د هغه و طرف ته مخ کول او لمونځ اداء کول جائز نه دي ځکه چي وجوب الصلوٰة الى الكعبة په قطعي دليل سره ثابت دي او حطيم په کعبه کي داخلېدل په خبر واحد سره ثابت دي، او په خبر واحد عمل کول هغه وخت واجبيږي چي د هغه په وجه په قطعي دليل باندي عمل کول باطل نه سي، او که په خبر واحد باندي په عمل کولو سره په دليل قطعي باندي عمل باطلېدی، نو په خبر واحد باندي به عمل نه کيږي.

دويم دليل: هغه حديث کوم چي حاکم، ابن خذيمه او ابن حبان له ابن عباس څخه روايت کړی دی: أنه قال ألا أخبركم بوضوء رسول الله ﷺ ثم غرف غرفة فمسح بها رأسه و أذنيه، (يعني ابن عباس رضی الله عنهما وفرمايل: آيا زه تاسو د رسول الله ﷺ په اودس باندي خبر نه کړم[بيا يې ټوله اودس وکړی او په هغه کي يې د سر او غوږونو مسح داسي وکړه] چي يوه لپه اوبه يې را واخيستې په هغه سره يې د خپل سر او دواړو غوږونو مسح وکړه) له دې حديث څخه هم دا ښکاره سوه چي د غوږونو د مسحي لپاره د ماء جديد(نوي اوبو) را اخيستلو ضرورت نسته، والله اعلم.

شپږم سنت(د ږيري خلالول)

قَالَ(القدوری): **وَتَخْلِيْلُ اللِّحْيَةِ** فرمايي: د ږيري خلالول (هم سنت دی) لِأَنَّ النَّبِيَّ (ص) أَمَرَهُ جِبْرِئِيْلُ عليه السلام بِذٰلِكَ ځکه چي نبي ﷺ ته جبرئيل عليه السلام د تخليل لحيه(د ږيري د خلالولو) حکم کړی وو وَقِيْلَ هُوَ سُنَّةٌ عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ● رَحِمَهُ اللهُ او ويل سوي چي تخليل لحيه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز سنت دي جَائِزٌعِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُاو د طرفينو په نېز جائز دي لِأَنَّ السُّنَّةَ إِكْمَالُ الْفَرْضِ فِيْ مَحَلِّهِ ځکه چي په اودس کي سنت دا دي چي په خپل محل (او ځای) کي فرض پوره کړل سي(او دلته په خلال سره د فرضو پوره کېدل په خپل محل کي نه راځي) وَالدَّاخِلُ لَيْسَ بِمَحَلِّ الْفَرْضِ (ځکه چي) د ږيري دننه حصه د فرضو محل نه دی.

اللغات: ﴿تخليل﴾ له باب تفعيل څخه اسم مصدر دی: خلالول، ﴿أكمال﴾ له باب افعال څخه اسم مصدر دی: پوره کول، بشپړ کول.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله وفرمايل چي د ږيري خلالول هم سنت دي، دليل يې دا دی چي جبرئيل عليه السلام نبي ﷺ ته د ږيري د خلالولو حکم کړي دی، لکه څرنګه چي صاحب د عنايه دا الفاظ را نقل کړي دي: قال عليه السلام نزل جبرئيل عليه السلام و أمرني أن أخلل لحيتي إذا توضأت، (يعني نبي ﷺ وفرمايل: چي ماته جبرئيل عليه السلام راغلی او د اودس کولو په وخت کي د ږيري د خلالولو حکم راته وکړی)

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:١، ص:٢٦. [القول الراجح، ج:١، ص:٢]

همدارنګه ترمذي او ابن ماجه له حضرت عثمان ﷺ څخه روایت کړی: ان رسول الله ﷺ کان یخلل لحیته. (یعني نبي ﷺ به خپله ږیره خلالوله) او د حضرت انس ﷺ حدیث دی: قال کان علیه الصلوة والسلام إذا توضأ خلل لحیته (یعني حضرت انس ﷺ وفرمایل: کله چې به رسول الله ﷺ اودس کوی نو خپله ږیره به یې خلال کړه). (رواه البزاز)

وقیل هو سنة الخ او بعضو حضراتو ویلي دي چې د ږیرې خلالول د امام ابو یوسف رحمه الله په نیز سنت دی او د طرفینو په نیز جائز دی، د طرفینو دلیل دا دی چې په اوداسه کې سنت دا دی: چې په خپل محل (ځای) کې فرض پوره کړل سي او د ږیرې دننه حصه د فرضو خپل محل نه ده، ځکه چې وردننه حصې ته بالاتفاق اوبه رسول واجب نه دي. نو کله چې د ږیرې دننه حصه محل د فرضو نه سوه، نو په خلال سره د دې پوره کول (تکمیل) هم سنت نه سو او څرنګه چې له نبي ﷺ څخه خلال ثابت دی نو بدعت هم نه سو، حاصل دا چې کله خلال نه سنت دی او نه بدعت، نو جائز دی.

یادونه: که ږیره ګڼه نه وه، نو د مخ تر پوستکي اوبه رسول ضروري دي، او که ږیره ګڼه وه، نو اوبه رسول ضروري نه دي بلکې د ږیرې پورتنی حصه دې پرېولل سي. او په دغه وخت کې خلال سنت دی.

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول د امام ابو یوسف رحمه الله دی. یعني د ږیرې خلالول سنت دی، کما قال ابن الهمام رحمه الله في فتح القدیر بعد بحث طویل فیترجح قول أبي یوسف رحمه الله کما رجحه في المبسوط (فتح القدیر ج:١، ص:٢٦). [القول الراجح، ج:١، ص:٣]

اووم سنت (د ګوتو خلالول)

قَالَ (القدوري): وَتَخْلِيلُ الْأَصَابِعِ فرمایي چې د ګوتو خلالول (هم سنت دي) لقوله ﷺ: ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي خَلِّلُوا أَصَابِعَكُمْ تاسو خپلې ګوتې خلال کړئ كَيْ لَا تَتَخَلَّلَهَا نَارُ جَهَنَّمَ چې د دوی په مینځ کې د دوږخ اور داخل نه سي وَلِأَنَّهُ إِكْمَالُ الْفَرْضِ فِي مَحَلِّهِ او په دې وجه هم (دا عمل سنت دی) چې دا پوره کول دي د فرضو په خپل محل کې.

اللغات: ﴿أصابع﴾ جمع ده، واحد یې إصبع راځي معنیٰ یې ده: ګوتې. ﴿لا تتخللها﴾ د تفعل له باب څخه د فعل مضارع نفي صیغه ده تَخَلَّلَ يَتَخَلَّلُ تَخَلُّلًا: داخلېدل، نفوذ کول.

تشریح: د اوداسه له سنتونو څخه د پښو او لاسونو د ګوتو خلالول هم دي، او د دې دوه طریقې دي: ① یوه طریقه یې دا ده: چې اودس کونکی دې د یوه لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کې د ورغوي له خوا سره واچوي (او دواړه ورغوي دې نښه سره یو ځای کړي) ② او په شرح نقایه کې لیکل سوي دي چې لولیٰ دا ده چې د چپه لاس ورغوی دې د ښي لاس د ورغوي پر شا باندې کېښېږدي، او د ښي لاس ورغوی دې د چپه لاس د ورغوي پر شا باندې کېښېږدي. (او د ګوتو له سرونو او نوکانو څخه دې خلال شروع کړي). او د پښو د ګوتو د خلال طریقه دا ده: چې خپل چپه لاس دې تر ښي پښې لاندې کړي او خمچه (خچنه) ګوته دې د ګوتو په مینځ ور دننه کړي. د ښي پښې له خمچې ګوتې څخه دې یې شروع کړي او د چپه پښې پر خمچه ګوته دې یې ختمه کړي. (شرح نقایه)

دلیل: یو دا حدیث دی کوم چې صاحب د هدایې ذکر کړی دی. دوهم د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث دی: قال قال رسول الله ﷺ إذا توضأت فخلل أصابع یدیك و رجلیك. (ابن عباس ویل: چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې ته اودس

کوي نو د خپلو لاسو او پښو ګوتي خلالوه). او په طبرني کي راغلي دي: من لم يخلل أصابعه بالماء خللها الله بالنار يوم القيمة، (يعني څوک چي د خپلو ګوتو په مينځ کي اوبه داخلي نه کړي الله تعالیٰ به د قيامت په ورځ د دوی په مينځ کي اُور داخل کړي)، صاحب د فتح القدير علامه ابن الهمام صاحب ويلي دي: د تخليل په أحاديثو کي له ټولو څخه زيات مناسب هغه حديث دی کوم چي لقيط بن صبره په سنن اربعه وو کي روايت کړی دی: قال قال رسول الله ﷺ إذا توضأت فاسبغ الوضوء وخلل بين الأصابع. (رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي ته اودس کوې نو إسباغ کوه(يعني پوره اودس کوه) او د ګوتو په مينځ کي خلال کوه).

سوال: دلته يو سوال کيږي هغه دا چي په دې ټولو أحاديثو کي د خلالولو حکم د أمر په صيغه سره سوی دی او أمر د وُجوب لپاره راځي نو بايد د ګوتو خلال واجب وای، سنت نه وای؟

جواب: يو جواب دا ورکول سوی دی چي که د ګوتو مينځ ته اوبه نه ورسيږي نو په هغه وخت کي خلال واجب دی. او سنت په هغه وخت کي دی چي اوبه ورسيږي؛ حضرت مولانا عبد الحی رحمه الله دا جواب ورکړی دی چي د أمر د صيغې په وجه سره خو پکار دا وو چي د ګوتو خلال واجب وای، لېکن څرنګه چي په ا وداسه کي هيڅ واجب نسته. نو ځکه به خلال واجب نه وي، او په اودس کي په دې وجه واجب نسته چي اودس د لمانځه لپاره شرط دی. نو ګواکي اودس د لمانځه تابع سو، نو اوس که په وادسه کي هم واجب ومنل سي نو تابع به د اصل سره برابر سي، او دا هيڅ ډول مناسب نه دي.

عقلي دليل: دا دی چي د لاسونو او پښو پرېولل فرض دي او په خلالولو سره په فرضو کي إکمال (پوره والی) راځي. او په اودسه کي چي په کوم شی سره په خپل ځای کي د فرضو إکمال راځي، هغه شی سنت وي، نو په دې وجه به د ګوتو خلال هم سنت وي.

اتم سنت(تثليث يعني درې واره پرېولل)

قَالَ(القدوری): وَتَكْرَارُ الْغَسْلِ إِلَى الثَّلَاثِ فرمايي: او پرېولل درې واره(ځله) مکرر کول (هم سنت دي) لِأَنَّ النَّبِيَّ ●عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ تَوَضَّأَ مَرَّةً مَرَّةً ځکه چي(يو وخت) نبي ﷺ په يو، يو وار پرېوللو سره اودس وکړی وَقَالَ: هٰذَا وُضُوءٌ لَا يَقْبَلُ اللهُ تَعَالَى الصَّلَاةَ إِلَّا بِهِ او ويې فرمايل: چي دغه داسي اودس دی(يعني داسي د کمي درجې اودس دی) چي بغير له دې څخه الله تعالیٰ لمونځ نه قبلوي وَتَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ او اودس يې وکړی دوه. دوه واره وَقَالَ هٰذَا وُضُوءُ مَنْ يُضَاعِفُ اللهُ لَهُ الْأَجْرَ مَرَّتَيْنِ او ويې فرمايل: چي دا اودس د هغه چا دی چي د هغه لپاره الله ثواب دوچنده کوي وَتَوَضَّأَ● ثَلَاثًا ثَلَاثًا او اودس يې وکړی درې درې واره وَقَالَ هٰذَا وُضُوئِي وَوُضُوءُ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي او ويې فرمايل: دا زما اودس دی او زما څخه له مخکني نبيانو اودس دی فَمَنْ زَادَ عَلَى هٰذَا چا چي پر دې زياتوب وکړی أَوْ نَقَصَ يا يې (له دې څخه) کمبوت وکړی فَقَدْ تَعَدَّى وَظَلَمَ نو هغه له حد څخه تېر سو او ظلم يې وکړی وَالْوَعِيدُ لِعَدَمِ رُؤْيَتِهِ سُنَّةً او دا وعيد د درې واره سنت نه ګڼلو په وجه دی(يعني دا وعيد هغه وخت دی چي يو څوک درې واره پرېولل سنت نه وګڼي).

● تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ في باب الوضوء مرة مرة ج:١، ص: ٨٠، وايضاً ابن ماجه في السنن كتاب الطهارة باب رقم:٤٣، حديث رقم:٤١٩

● تخريج: أخرجه دار قطني باب وضوء رسول الله ﷺ باب رقم:٢٧، حديث رقم:٢٦ ايضاً البخاري في الوضوء باب رقم:٣٨، حديث رقم:١٨٥.

اللغات: ﴿یُضَاعِفُ﴾ له باب مفاعله څخه د مضارع صیغه ده: دوچنده کول. ﴿تَعَدّٰی﴾ له باب تفعّل څخه ماضي ده: له حد څخه تېرېدل، سرکښي کول.

تشریح: د اوداسه له سنتونو څخه درې درې واره د اوداسه د اندامونو (مغسوله اندامونو) پرېولل هم دي، د پرېوللو د قید په لګولو سره یې و دې طرف ته اشاره وکړه چې د مسح تکرار سنت نه دی، بنکاره دي وي چې د بعضو فقهاؤ قول دا دی چې اول وار پرېولل فرض دي، دویم وار پرېولل سنت دي او دریم وار پرېولل د سنت إکمال (پوره کول) دي، او بعضو ویلي دي چې دویم او دریم وار پرېولل سنت دي او بعضو ویلي دي چې دویم وار سنت او دریم وار نفل دي، او بعضو ویلي دي چې هویم وار نفل او دریم وار سنت دي، او له ابوبکر اسکاف رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي چې په درې سره وارو فرض واقع کیږي، لکه څرنګه چې قیامه (ولاړه) یا رکوع که اوږده کړل سي نو هغه به ټوله (یعني له اوله تر آخره) فرض شمارل کیږي.

دلیل: د تکرار الغسل الی الثلث پر سنتوالي خو یو حدیث صاحب د هدایې ذکر کړی دی، چې نبي ﷺ د اندامونو تر یو، یو وار پرېوللو وروسته وفرمایل چې له دې څخه ماسوا لمونځ نه تبلیږي، او تر دوو وارو پرېوللو وروسته یې وفرمایل چې دا داسي اودس دی چې په دې سره انسان ته دوچنده أجر رسیږي، او تر درې واره وروسته یې وفرمایل چې دا زما او د مخکني انبیاؤ اودس دی، او دا وعید یې هم بیان کړی: چې که یو چا پر دې اضافه وکړه هغه لهحد څخه تجاوز وکړی او چا چې له دې څخه کمبوت وکړی هغه ظلم وکړی، په حدیث کي د تعدی لفظ د زاد سره تعلق لري، او د ظلم لفظ د نقص سره تعلق لري، او د ظلم معنیٰ هم په "نقص" سره راځي، یعني یو شی له خپلي درجې څخه کمول. الله تعالیٰ فرمایلي دي: وَلَمْ تَظْلِمْ مِنْهُ شَيْئًا (سورة الکهف: ۳۳) یعنی لم تنقص.

والوعید لعدم الخ صاحب د هدایې فرمایي: چې دا وعید هغه وخت دی چې کله یو څوک دا عقیده ولري چې پوره سنت په درې وارو سره نه حاصلیږي نو د هغه لپاره دا وعید دی چې هغه تعدی او ظلم وکړی، او که چیري یې د شک په وجه. یا د هیري په وجه، یا د زړه د اطمینان لپاره له درې وارو څخه زیاتوب وکړي یا یې د ضرورت په وجه د درې وارو څخه کمبوت وکړي نو هیڅ پروا نه لري، ځکه چې نبي ﷺ به په خپله بعضي وخت درې واره اندامونه پرېولل. او بعضي وخت دوه واره او بعضي وخت یو، یو وار.

دویم دلیل: د تکرار الغسل الی الثلث پر سنتوالي دویم دا حدیث دی کوم چې ابوداؤد. نسائي او ابن ماجه روایت کړی دی:

عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده أن رجلاً أتی النبي ﷺ فقال: یا رسول الله کیف الطهور فدعا بماء في اناء فغسل کفیه ثلاثا فذکر صفة الوضوء ثلاثا ثلاثا إلا الرأس ثم قال هکذا الوضوء فمن زاد علی هذا او نقص فقد أساء و ظلم أو ظلم و أساء.

او د ابن ماجه په روایت کي دي: فقد تعدی و ظلم او د نسائي په روایت کي دي: فقد اساء وتعدی وظلم د حدیث ترجمه آسانه ده.

د اوداسه مستحبات (په اوداسه او تیمم کي د نیت حکم، او د فقهاؤ قولونه)

قَالَ: وَيُسْتَحَبُّ لِلْمُتَوَضِّئِ فرمایي: او د اودس کونکي لپاره مستحب دي أَنْ دا چې يَنْوِيَ الطَّهَارَةَ د طهارت (اوداسه) نیت وکړي فَالنِّيَّةُ فِي الْوُضُوْءِ سُنَّةٌ عِنْدَنَا نو نیت په اوداسه کي زموږ په نېز سنت دی وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فَرْضٌ او د

امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز فرض دى لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ ځکه چي اودس عبادت دی فَلَا تَصِحُّ بِدُوْنِ النِّيَّةِ كَالتَّيَمُّمِ نو بغير له نيته به عبادت نه صحيح کيږي لکه تيمم وَلَنَا أَنَّهُ لَا يَقَعُ قُرْبَةً إِلَّا بِالنِّيَّةِ او زموږ دليل دا دی چي بغير له نيته خو به اودس عبادت نه وي لٰكِنَّهُ يَقَعُ مِفْتَاحًا لِلصَّلٰوةِ ليکن د لمانځه لپاره خو به کيلي(او ذريعه) وي لِوُقُوْعِهِ طَهَارَةً بِاِسْتِعْمَالِ الْمُطَهِّرِ ځکه چي دغه اودس د پاکونکي شي يعني اوبو د استعمال په وجه سره طهارت وګرځېدی بِخِلَافِ التَّيَمُّمِ په خلاف د تيمّم لِأَنَّ التُّرَابَ غَيْرُ مُطَهِّرٍ إِلَّا فِيْ حَالِ إِرَادَةِ الصَّلٰوةِ ځکه چي خاوري خاص د لمانځه د ارادې په وخت کي پاکونکي دي أَوْ هُوَ يُنْبِئُ عَنِ الْقَصْدِ يا دا چي تيمم (په خپله) د ارادې خبر ورکوي.

اللغات: ﴿يَنْوِي﴾ نَوىٰ يَنْوِي د ضرب د باب څخه مضارع ده: نيت کول. اراده کول، ﴿مِفْتَاح﴾ کيلي(چابي) مجازاً هر هغه شی ته ويل کيږي چي د هغه په ذريعه سره بل شی ته رسول کيږي، ﴿تُرَاب﴾ خاوري.

تشريح: صورت د مسئلې: صورت د مسئلې دا دی چي کله انسان د اودس کولو اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چي د طهارت او د طهارت د حاصلولو نيت وکړي، يا دي د بې اودسی د زوال نيت وکړي، يا دي د داسي عبادت د ادا کولو نيت وکړي چي هغه له طهارت څخه بغير نه صحيح کيږي، دا خو د نيت کولو پړاو سو، پاته سوه دا مسئله چي د نيت څه حکم دی؟ په دې باره د علماؤ اختلاف دی: د احنافو په نيز په اوداسه کي نيت کول سنت دي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله او امام احمد رَحِمَهُ الله په نيز فرض دی.

دليل: د ائمه ثلاثه وو دليل د نبي ﷺ حديث دی: إنما الأعمال بالنيات. (يعني اعمال په نيتونو باندي موقوف دي) او اودس هم يو عمل دی نو ځکه به دا هم پر نيت موقوف وي، دوېم دليل يې دا دی چي اودس يو عبادت دی او عبادت بغير له نيت څخه نه صحيح کيږي، د الله تعالىٰ فرمان دی: وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ (سورة البينة:٥) او اخلاص له نيت څخه بغير ممکن نه دی، نو ځکه به هيڅ يو عبادت له نيت څخه بغير معتبر نه وي لکه په تيمّم کي چي بالاتفاق نيت فرض دی.

زموږ دليل: دا دی چي يو سړي له نبي ﷺ څخه د اودس په باره کي پوښتنه وکړه نو نبي ﷺ هغه ته(د اوداسه د تعليم په وخت کي) د نيت تعليم نه ورکړی. (شرح نقايه)، له دې څخه معلومه سوه چي نيت په اوداسه کي فرض نه دی کنې نبي ﷺ به هغه ته ضرور د دې تعليم ورکړي وای.

دوېم دليل: دا دی چي اودس د لمانځه شرط دی او د لمانځه باقي شرطونه د نيت محتاجه نه دي نو ځکه به اودس هم د نيت محتاجه نه وي، ولنا الخ دريم دليل کوم چي د امام شافعي د دليل جواب هم دی، دا دی چي بې شکه د اودس عبادت کېدل بغير له نيت څخه نه سي کېدلای، ليکن اودس بغير له نيت څخه مفتاحِ صلوٰة (د لمانځه کيلي) کېدلای سي، ځکه چي د لمانځه مفتاح طهارت دی او طهارت هر ډول متحقق کيږي يعني د نيت سره هم او بغير له نيت څخه هم، ځکه چي اوبه په خپل ذات کي پاکونکي دي، الله تعالىٰ فرمايلي دي: وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُوْرًا (سورة الفرقان:٤٨) نو ځکه د پاکونکو اوبو په استعمال سره د اودس طهارت کېدل ثابت سوه، هغه که يې د طهارت نيت کړی وي، کنه وي.

بخلاف التيمم الخ له دې ځای څخه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قیاس جواب دی، حاصل د جواب دا دی چې اودس پر تیمم قیاسول قیاس مع الفارق دی ځکه چې اودس په اوبو سره کیږي او اوبه بذاته پاکونکي دي، او تیمم په خاورو سره کیږي او خاورې بذاته پاکونکي نه دي، بلکې د لمانځه د ارادې په حالت کې پاکونکي دي، نو په خاورو سره پاکېدل أمر تعبدی (خلاف القیاس) دی، او أمور تعبدیه د نیت محتاجه وي، نو په دې وجه سره یې پر تیمم قیاس کول صحیح نه دي.

دویم جواب دا دی چې د تیمم لغوی معنیٰ د قصد او ارادې ده او په أمور شرعیه وو کې لغوي معنیٰ ته کتل کیږي. نو ځکه په تیمم کې په خپله د نیت او قصد شرط ولګول سو.

او د دې حدیث: إنما الأعمال بالنیات جواب دا دی چې په حدیث کې له اعمالو څخه مراد عبادات دي ځکه چې ډېر مباحات شرعًا بغیر له نیت څخه معتبر وي مثلاً: نکاح، طلاق، بلکې له دې څخه طاعات مستقله مراد دي. او اودس طاعت مستقله نه دی بلکې د لمانځه لپاره وسیله او ذریعه ده.

او صاحب د شرح وقایه ویلي دي: چې له الأعمال څخه مخکې لفظ د ثواب مقدر دی، نو اوس به یې مطلب داسې: چې د اعمالو ثواب پر نیت موقوف دی، او په خپله عمل پر نیت موقوف نه دی.

د تولـه سر د مسح کولو حکم او د سر په مسح کې د عدم تثلیث بیان

وَيَسْتَوْعِبُ رَأْسَهُ بِالْمَسْحِ او اودس کونکي به خپل د تول سر مسح کوي وَهُوَ سُنَّةٌ او همدغه سنت دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: اَلسُّنَّةُ التَّثْلِيثُ بِمِيَاهٍ مُخْتَلِفَةٍ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې په مختلفه (اوجلا جلا) اوبو سره درې واره مسح کول سنت دي اِعْتِبَارًا بِالْمَغْسُولِ (امام شافعي رَحِمَهُ الله) پر مغسول اندام باندې قیاس کوي وَلَنَا أَنَّ أَنَسًا● رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا او زموږ دلیل دا دی چې انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درې درې واره اودس وکړی وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً خو پر سر یې یو وار مسح وکړه وَقَالَ: هٰذَا وُضُوْءُ رَسُوْلِ اللهِ (ص) او ویې فرمایل: چې دا د رسول الله ﷺ اودس دی وَالَّذِيْ يُرْوٰى مِنَ التَّثْلِيثِ● مَحْمُوْلٌ عَلَيْهِ بِمَاءٍ وَاحِدٍ او (په حدیث کې چې) کوم د درېو وارو (مسح کولو) روایت سوی دی هغه محمول دی په یوه اوبو سره (په درې واره مسح کولو باندې) وَهُوَ مَشْرُوْعٌ عَلٰى مَا رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او دا (طریقه) مشروع هم ده لکه څرنګه چې حضرت حسن رَحِمَهُ الله له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه روایت کړی دی وَلِأَنَّ الْمَفْرُوْضَ هُوَ الْمَسْحُ او په دې وجه هم چې (د سر) مسح فرض ده وَبِالتَّكْرَارِ يَصِيْرُ غَسْلًا او په تکرار کولو سره هغه غسل (پرېولل) ګرځي (یعني په تکرار سره مسح داسې ګرځي لکه پرېولل) وَلَا يَكُوْنُ مَسْنُوْنًا نو ځکه داسې مسح به سنت نه وي فَصَارَ كَمَسْحِ الْخُفِّ نو (د سر مسح) د موزې د مسحې په شان سوه بِخِلَافِ الْغَسْلِ د غسل په خلاف لِأَنَّهُ لَا يَضُرُّهُ التَّكْرَارُ ځکه چې غسل ته تکرار ضرر نه رسوي.

● تخریج: أخرجه بیهقي باب التكرار في مسح الرأس رقم: ٧٠، حدیث رقم: ٢٩٢ وأيضاً الدار قطني في سننه.

● قال الزیلعي في تثلیث المسح أحادیث بعضها صریحة وبعضها بالمفهوم ثم نقل من الصریحة حدیث عامر بن شقیق بن حمزة عن شقیق بن سلمة قال رأیت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غسل ذراعیه ثلاثا ثلاثا ومسح رأسه ثلاثا ثم قال رأیت رسول الله ﷺ فعل هذا وعزاه إلى أبي داؤد (نصب: ج١، ص ٢٧)

اللغات: ﴿يستوعب﴾ له باب استفعال څخه مضارع ده: يو شی په بشپړه توګه پټول. ټوله اخيستل. ټوله نيول. ﴿تثليث﴾ د تفعيل مصدر دی: يو کار درې واره کول. يعني درې واره د سر مسح کول او يا درې اندامونه پرېولل. ﴿مياه﴾ جمع د ماء ده: اوبه، ﴿الخف﴾ موزه، ﴿غَسل﴾ په فتحه دغين سره: پرېولل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د اودس له سنتونو څخه يو سنت دا هم دی چې اودس کونکی به خپل ټوله سر مسح کوي، يعني د سر د څلورمي حصې مسح کول خو فرض دي او د ټوله سر مسح کول سنت دي او په دې سنت کې زموږ په نېز تثليث نسته، لېکن د امام د شافعي په نېز د استعياب سره سره په جلا جلا اوبو سره تثليث هم سنت دی.

د امام شافعي دليل: قياس دی هغه فرمايي: څرنګه چې د اوداسه د اندامونو يعني د لاس، مخ، پښو اونورو په جلا جلا اوبو سره درې واره پرېولل سنت دي، همدغه ډول په جلاجلا اوبو سره درې واره د سر مسح کول هم سنت دي.

زموږ دليل: دا دی چې حضرت انس بن مالک ﷺ درې درې واره اودس وکړی، خو مسح يې يو وار وکړه، او ويې فرمايل چې دا د رسول الله ﷺ اودس دی، اياته سو هغه حديث په چې په هغه کې حضرت عثمان ﷺ او حضرت علی ﷺ د نبي ﷺ اودس را نقل کړی دی، چې نبي ﷺ درې درې واره اندامونه پرېولل، او درې درې واره يې مسح وکړه، نو د هغه جواب دا دي چې نبي ﷺ په يو اوبو سره (يعني په يو وار ابو راخيستلو سره) درې واره مسح وکړه او داسې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز هم صحيح دي.

دويم دليل: دا دی چې فرض خو مسح ده، او د تکرار په وجه سره به مسح غَسل وګرځيږي او دا د کتاب، سنت او اجماع ټولو خلاف دي، نو ځکه به په مسح کې تکرار سنت نه وي، لهذا د سر مسح د موزو د مسحې په څير سوه. يعني څه رنګه چې د موزو په مسح کې تثليث سنت نه دی دغه رنګه به د سر په مسح کې هم تثليث سنت نه وي، د دې په خلاف غَسل دی ځکه چې هغه د تکرار په وجه نه فاسديږي يعني د تکرار باوجود غَسل، غَسل پاتيږي نو ځکه به په غَسل کې تکرار الی الثلث سنت وي.

په اوداسه کې د ترتيب حيثيت (او له راسته طرف څخه د اودس شروع کولو حکم)

قَالَ: وَيُرَتِّبُ الْوُضُوْءَ فرمايي: او (اودس کونکی به) په ترتيب سره اودس کوي فَيَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللهُ تَعَالَى بِذِكْرِهِ نو شروع به کوي په هغه اندام سره چې د هغه په ذکر(يادوني) سره الله تعالیٰ شروع کړې ده وَبِالْمَيَامِنِ او (شروع به کوي) له راسته طرف څخه وَالتَّرْتِيْبُ فِي الْوُضُوْءِ سُنَّةٌ عِنْدَنَا او ترتيب په اوداسه کې زموږ په نېز سنت دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ فَرْضٌ او امام شافعی رَحِمَهُ الله فرمايي: فرض دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ الْآيَةَ ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: "فاغسلوا وجوهکم"(نو تاسو خپل مخونه پرېولئ) وَالْفَاءُ لِلتَّعْقِيْبِ او فاء د تعقيب لپاره ده وَلَنَا أَنَّ الْمَذْكُوْرَ فِيْهَا حَرْفُ الْوَاوِ او زموږ دليل دا دی چې په آيت کې د واو حرف ذکر سوی دی وَهِيَ لِمُطْلَقِ الْجَمْعِ بِإِجْمَاعِ أَهْلِ اللُّغَةِ او د لغتپوهانو په اتفاق سره واو د مطلق جمعي لپاره دی فَتَقْتَضِي إِعْقَابَ غَسْلِ جُمْلَةِ الْأَعْضَاءِ نو دا تقاضا کوي چې ټوله

اندامونه به په پرېوللو كي وروسته وي وَالْبَدَايَةُ بِالْتَيَامِنِ فَضِيلَةٌ او له راسته طرف څخه شروع كول غوره دي(يعني فضيلت لري) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي إِنَّ اللهَ تَعَالَى يُحِبُّ التَّيَامُنَ فِي كُلِّ شَيْءٍ چي لله تعالیٰ په هر شي كي راسته طرف خوښوي حَتَّى التَّنَعُّلِ وَالتَّرَجُّلِ تر دي چي د څپلي په پښه كولو او په ږمنځولو كي هم.

اللغات: ﴿تيامن﴾ اسم جمع دہ، واحد يې ميمن دی، له يمن څخه مشتق دی، معنیٰ يې ده: راسته، ﴿تعقيب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: شاته كول، يو شی تر بل شي وروسته كول، ﴿إعقاب﴾ د افعال د باب اسم مصدر دی: شاته كېدل، وروسته كېدل، ﴿التنعل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: څپلی په پښو كول، ﴿الترجل﴾ دا هم د تفعّل د باب مصدر دی: سر يا ږيره ږمنځول.

تشريح: په دې عبارت كي د دوو مسئلو په اړه بحث سوی دی: (۱) د ترتيب په اړه (۲) او د ابتداء بالتيامن په اړه.

اوله مسئله: په اوداسه كي د فرض اندامونو (اعضاء مفروضه وو) په مينځ كي د ترتيب مسئله مختلف فيه ده، د احنافو په نېز د اوداسه د فرض اندامونو په مينځ كي ترتيب سنت دی، او د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نېز فرض دی.

دليل: د دې حضراتو دليل د الله تعالیٰ دا قول دی: إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ.....(سورة المائدة:۶)، وجه د استدلال يې دا ده چي فاء د تعقيب لپاره راځي، او تعقيب د ترتيب پر معنیٰ دلالت كوي، ځكه چي د تعقيب معنیٰ ده: د فاء ما بعد پر ماقبل باندي مرتب كېدل، نو له دې آيت څخه د قيام الى الصلوٰة او د غسل وجه په مينځ كي ترتيب ثابت سو، او كله چي په غسل وجه كي ترتيب ثابت سو نو په پاته نورو اندامونو كي هم ترتيب ثابت سو، ځكه چي پاته نور اندامونه پر غسل وجه باندي معطوف دي، او مَعْطُوف عَلَى الْمُرَتَّب مُرتّب وي(يعني په كوم شي كي چي ترتيب ثابت وي، كه پر هغه بل شی عطف كړی سي، نو په دې بل كي شي به هم ترتيب ثابتيږي) نو په دې وجه په پاته اندامونو كي هم ترتيب ثابت وي، همدارنګه كه په پاته اندامونو كي ترتيب ثابت نه سي نو د اوداسه د فرض اندامونو په مينځ كي به فصل راسي، حال دا چي د فصل هيڅوک هم قائل نه دی، بلكي يا خو د ټولو اندامونو په مينځ كي د ترتيب قول سته يا د عدمِ ترتيب، د دې هيڅوک هم قائل نه دی چي په بعضو اندامونو كي دي ترتيب وي او په بعضو كي دي نه وي.

زموږ دليل: دا دی چي په آيت كي د اوداسه د فرض اندامونو په مينځ كي (واو) ذكر سوی دی او د لغتپوهانو پر دې خبره اجماع ده چي واو د مطلق جمع لپاره راځي، نو كه چيري موږ دا تسليم هم كړو چي فاء د تعقيب لپاره ده نو مطلب به يې داسي چي د اعضاءِ اربعه وو(يعني د فرض اندامونو) د مجموعې غَسل پر قيام الى الصلوٰة مرتّب دی، نو د قيام الى الصلوٰة او د اعضاء اربعه وو د مجموعې په غَسل كي به ترتيب ثابت سي نه دا چي په اعضاء اربعه وو كي، حال دا چي كلام د اعضاء اربعه وو په ترتيب كي دی او په اعضاء اربعه وو كي واو داخل دی او هغه د ترتيب فايده نه وركوي، نو ځكه موږ وايو چي د اودس د اعضاء اربعه (فرض اندامونو) په مينځ كي ترتيب فرض نه دی خو څرنګه چي نبي كريم ﷺ د قرآن په ذكر سوي ترتيب سره اودس كړی دی نو ځكه به په اودس كي ترتيب سنت وي، نه فرض.

● تخريج: هذا الحديث اتفق عليه أصحاب الكتب الستة، بخاری فی الصلوٰة باب رقم:۴۷ مسلم فی الطهارة حديث رقم:۶۶ باب النهی عن الاستنجاء باليمين رقم:۱۹.

سوال: دلته یو اعتراض کیږي هغه دا چي د هدایې د مصنف دا دعویٰ صحیح نه ده چي "واو د مطلق جمع لپاره دی او پر دې باندې اجماع ده"، ځکه چي د بعضې حضراتو په نیز واو د ترتیب لپاره دی، او د بعضو په نیز د قران لپاره دی.

جواب: ابو علي فارسي ذکر کړي دي چي د نحاتو پر دې اجماع ده چي واو د مطلق جمع لپاره دی او امام النحو سیبویه په خپل کتاب کي اوولس ځایه ذکر کړي دي چي واو د مطلق جمع لپاره راځي، نو مصنف د هدایې پر دغه خبره اعتماد کړی دی چي د اجماع دعویٰ یې کړې ده، او د یو څو خلګو اختلاف د اجماع مانع نه دی.

دویمه مسئله: د ابتداء بالیمن ده، نو د پښو او لاسونو په پرېوللو کي له راسته طرف څخه شروع کول افضل او مستحب دي، صاحب د شرح نقایه لیکلي دي چي صحیح دا ده چي دا سنت دي لکه څرنګه چي په تحفه کي دي، ځکه چي پر ابتداء بالیمین نبي کریم ﷺ همېشتوب کړی دی، همدارنګه نبي ﷺ فرمایلي دي: إذا توضأتم فابدؤا بمیامنکم (رواه ابو داؤد وابن ماجه وابن خزیمه وابن حبان)، (یعني کله چي تاسو اودس کوئ نو خپل له راسته طرف څخه شروع کوئ). همدارنګه نبي ﷺ فرمایلي دي: إن الله تعالی یحب التیامن في کل شیء حتی التنعل والترجل، او په یو بل حدیث کي راځي: حتی في طهوره وتنعله وترجله وشأنه کله، (یعني الله تعالیٰ په هر شي کي ابتداء بالیمین خوښوي حتی په اودسه کي او د څپلی په پښو کولو او په ږمنځولو کي (مطلب) په هر شي کي).



فَصْلٌ فِيْ نَوَاقِضِ الْوُضُوْءِ
(دا) فصل د اودس د ماتوونکو شیانو (په بیان کي) دی

تشریح: مخکي تر دې صاحب د کتاب د اوداسه فرائض، سنتونه، او مستحبات بیان کړل، اوس له دې ځایه هغه شیان بیانوي چي د هغو په وجه اودس ماتیږي، او څرنګه چي اودس اصل دی، او بې اودسي یو عارض دی، او اصل پر عارض مخکي وي، نو ځکه یې مخکي اودس بیان کړی، اوس د اودس ماتېدلو بیان کوي.

نواقض جمع د ناقضة ده، لغوي معنیٰ یې ده: إبطال التألیف في البناء، یعني د عمارت (ودانۍ) ترکیب او جوړښت ماتول. او څرنګه چي نقض دلته د معاني و طرف منسوب دی، نو معنی یې راځي: د اودس باطلونکي او ماتونکي شیان، یعني د کومو نجاستو په وتلو یا داخلېدلو سره چي اودس ماتیږي هغو ته معاني ناقضة وایي.

د اوداسه د نواقضو بیان

اَلْمَعَانِيْ النَّاقِضَةُ لِلْوُضُوْءِ کوم شیان چي د اودس ماتوونکي دي کُلُّ مَا یَخْرُجُ مِنَ السَّبِیْلَیْنِ (له هغو څخه یو) هر هغه شی دی چي د سبیلینو (یعني د متیازو یا د غایطه موادو د لاري) څخه را وځي لِقَوْلِهٖ تَعَالیٰ ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي أَوْ جَاءَ أَحَدٌ

مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ (يا چي يو په تاسو كي غايطه مولا^۱ دكي متيازي) وكړي او راسي) وَقِيْلَ لِرَسُوْلِ اللهِ (ص): مَاالْحَدَثُ او رسول الله ﷺ ته وويل سوه: چي حدث څه شی دی؟ قَالَ●: مَايَخْرُجُ مِنَ السَّبِيْلَيْنِ نبي ﷺ وفرمايل: كوم شی چي د متيازو او غايطو د لاري څخه را ووځي وَكَلِمَةُ مَا عَامَّةٌ او كلمه د "ما" عامه ده فَتَتَنَاوَلُ الْمُعْتَادَ وَغَيْرَهُ نو معتاد نجاست او غيرِ معتاد نجاست دواړو ته به شامله وي(يعني كوم چي له دې دواړو لارو څخه عادتاً را وځي او كوم چي عادتاً نه راوځي دواړو ته به د "ما" كلمه شامله وي) وَالدَّمُ وَالْقَيْحُ إِذَا خَرَجَا مِنَ الْبَدَنِ فَتَجَاوَزَا إِلَى مَوْضِعٍ او وينه او زوې (هم د اودس ماتوونكي دي) كله چي دواړه له بدن څخه ووځي او هغه ځای ته ورسيږي يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيْرِ چي د هغه ځای سره د پاكولو حكم ملحق سوی وي وَالْقَيْءُ مِلْءَ الْفَمِ او په ډكه خوله قی (هم د اودس ماتوونكی دی) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: اَلْخَارِجُ مِنْ غَيْرِ السَّبِيْلَيْنِ لَايَنْقُضُ الْوُضُوْءَ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له غيرِ سبيلينو څخه راوتونكی شی د اودس ماتوونكی نه دی لِمَا رُوِيَ● څكه روايت سوی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَاءَ فَلَمْ يَتَوَضَّأْ چي نبی ﷺ قی وكړی خو اودس يې نه وكړی وَلِأَنَّ غَسْلَ غَيْرِ مَوْضِعِ الْإِصَابَةِ أَمْرٌ تَعَبُّدِيٌّ او په دې وجه هم چي له نجاست څخه علاوه د بل ځای پرېولل أمرِ تعبدي دی(يعني د قياس خلاف دی) فَيَقْتَصِرُ عَلَى مَوْرِدِ الشَّرْعِ نو پر مورد د شرع باندي به منحصره وي وَهُوَ الْمَخْرَجُ الْمُعْتَادُ او مورد د شرع مخرج معتاد دی(يعني هغه ځای دي چي له هغه څخه عادتاً نجاست راوځي) وَلَنَا قَوْلُهُ (ص)● او زموږ دليل د نبی ﷺ دا قول دی اَلْوُضُوْءُ مِنْ كُلِّ دَمٍ سَائِلٍ له هري بهيدونكي وينې څخه اودس (ضروري) دی وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ● او د نبی ﷺ دا قول دی: مَنْ قَاءَ چا چي قی وكړی أَوْ رَعَفَ فِي صَلَاتِهِ يا يې په لمانځه كي پزه وينې سوه فَلْيَنْصَرِفْ وَلْيَتَوَضَّأْ نو هغه دي واپس وګرځي او اودس دي وكړي وَلْيَبْنِ عَلَى صَلَاتِهِ او پر خپل لمانځه دي بنا وكړي مَالَمْ يَتَكَلَّمْ تر څو چي يې خبري نه وي كړي وَلِأَنَّ خُرُوْجَ النَّجَاسَةِ مُؤَثِّرٌ فِي زَوَالِ الطَّهَارَةِ او بل دا چي د نجاست خروج(وتل) د طهارت په زوال كي مؤثر دي وَهٰذَا الْقَدْرُ فِي الْأَصْلِ مَعْقُوْلٌ او دا اندازه په اصل (خارج من السبيلين) كي معقوله ده(يعني دومره اندازه خو په اصل كي په پوهه كي راځي) وَالْاِقْتِصَارُ عَلَى الْأَعْضَاءِ الْأَرْبَعَةِ غَيْرُ مَعْقُوْلٍ او په څلورو اندامونو باندي اكتفا كول غير معقول دی(يعني په پوهه كي نه راځي) لٰكِنَّهُ يَتَعَدَّى ضَرُوْرَةَ تَعَدِّي الْأَوَّلِ لېكن دا به متعدی كيږي د اول د متعدی كېدلو په وجه غَيْرَ أَنَّ الْخُرُوْجَ إِنَّمَا يَتَحَقَّقُ بِالسَّيَلَانِ إِلَى مَوْضِعٍ مګر دا چي خروج (وتل) د داسي ځای وطرف ته په بهېدلو سره ثابتيږي يَلْحَقُهُ حُكْمُ

● تخريج: أخرجه عبد الحى اللكنوى فى التعليق الممجد تحت حديث رقم:۳۲ عن مالک عن ابن عمر مرفوعًا.

● تخريج: لم أجده و قال الزيلعى غريب جداً تحت حديث رقم ستة عشر، أما عدم فرضية الوضوء من القيئ فثابت من السنة رواه الدار قطنى فى السنن باب رقم:۵۹.

● تخريج: أخرجه دارقطنى فى باب الوضوء من الخارج من البدن رقم:۵۶ حديث رقم:۵۵۸

● تخريج: أخرجه دارقطنى فى باب الوضوء من الخارج من البدن رقم:۵۶ حديث رقم:۵۵۸.

التَّطْهِيْرِ چې په هغه ځای پورې د پاکولو حکم ملحق وی وَبِمِلْءِ الْفَمِ فِي الْقَيْءِ او (همدارنګه) په ډکه خوله قی سره (خروج ثابتيږي) لِأَنَّ بِزَوَالِ الْقِشْرَةِ تَظْهَرُ النَّجَاسَةُ فِي مَحَلِّهَا ځکه چې د پوستکي په ليرې کېدلو سره نجاست په خپل محل کې ښکاره کيږي فَتَكُوْنُ بَادِيَةً نو هغه ته ښکاره نجاست وايي لَا خَارِجَةً نه خارج (وتونکی) نجاست بِخِلَافِ السَّبِيْلَيْنِ په خلاف د دوو لارو لِأَنَّ ذَاكَ الْمَوْضِعَ لَيْسَ بِمَوْضِعِ النَّجَاسَةِ ځکه چې دا د نجاست ځايونه نه دي فَيُسْتَدَلُّ بِالظُّهُوْرِ عَلَى الْإِنْتِقَالِ وَالْخُرُوْجِ نو ځکه به په ښکاره کېدلو سره پر منتقل کېدلو او وتلو دليل نيول کيږي وَمِلْءُ الْفَمِ أَنْ يَكُوْنَ بِحَالٍ لَا يُمْكِنُ ضَبْطُهُ إِلَّا بِتَكَلُّفٍ او په ډکه خوله سره قی دا دی چې بې له تکلفه د هغه قابو کول (نيول) ممکن نه وي لِأَنَّهُ يَخْرُجُ ظَاهِرًا ځکه چې هغه د ښکاره کېدلو په حالت کې راوځي فَاعْتُبِرَ خَارِجًا نو ځکه به خارج ګڼل کيږي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ قَلِيْلُ الْقَيْءِ وَكَثِيْرُهُ سَوَاءٌ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: د قی لږ او ډېر دواړه سره برابر دي وَكَذَا لَا يُشْتَرَطُ السَّيَلَانُ او همدارنګه (د ده په نيز) سيلان هم شرط نه دی إِعْتِبَارًا بِالْمَخْرَجِ الْمُعْتَادِ (ځکه چې امام زفر رَحِمَهُ الله) پر مخرج معتاد باندې قياس کوي وَلِإِطْلَاقِ قَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ[1] او د نبي ﷺ د دې قول د مطلق والی په وجه اَلْقَلْسُ حَدَثٌ (چې) قی حدث دی وَلَنَا قَوْلُهُ (ص)[2] او زموږ دليل دا قول د نبي ﷺ دی لَيْسَ فِي الْقَطْرَةِ وَالْقَطْرَتَيْنِ مِنَ الدَّمِ وُضُوْءٌ د وينې په يوه څاڅکي يا دوو څاڅکو کې اودس نشته إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ سَائِلًا مګر دا چې هغه (وينې) بهېدونکې وي وَقَوْلِ عَلِيٍّ ﷺ او د حضرت علي ﷺ (دا) قول دی حِيْنَ عَدَّ الْأَحْدَاثَ جُمْلَةً چې کله هغه ټول نواقض شمار کړل (نو ويې فرمايل) أَوْ دَسْعَةٌ تَمْلَأُ الْفَمَ يا قی چې په ډکه خوله وي وَإِذَا تَعَارَضَتِ الْأَخْبَارُ نو چې کله روايات متعارض سول يُحْمَلُ مَا رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ عَلَى الْقَلِيْلِ نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت به پر قليل حمل کيږي وَمَا رَوَاهُ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ عَلَى الْكَثِيْرِ او د امام زفر رَحِمَهُ الله روايت به پر کثير حمل کيږي وَالْفَرْقُ بَيْنَ الْمَسْلَكَيْنِ او د دواړو مسلکونو په مينځ کې فرق هغه دی مَا قَدَّمْنَاهُ کوم چې مخکې موږ بيان کړی. (په دې جمله کې د دې طرف ته اشاره ده چې زموږ مسلک د دواړو مسلکونو په مينځ کې دی).

اللغات: ﴿غائط﴾ غايطه مواد، ډکې متيازې، کښته ځکه. ﴿تتناول﴾ تناول يتناول د تفاعل له باب څخه د مضارع صيغه ده: شاملېدل. ﴿معتاد﴾ د افتعال له باب څخه اسم مفعول دی: د عادت او معمول مطابق. ﴿قيح﴾ نَو، زوې (هغه ژړې اوبه چې له دانو يا زخمونو څخه راوځي) ﴿ملء﴾ ډک. دا لفظ په عامه توګه مضاف راځي لکه: مِلْءُ إِنَاءٍ يعني ډک لوښی. ﴿قاء﴾ د ضرب له باب څخه ماضي ده: خوا ګرځېدل، قی کول. ﴿تكلفوي﴾ اسم منسوب دی معنیٰ يې ده: د بندګۍ په وجه. خلاف القياس. ﴿مورد﴾ اسم ظرف دی: داسې ځای يا وخت چې هلته يو څوک راسي، د واردېدلو ځای. دلته مراد ځنې د شريعت د واردېدلو ځای دی. ﴿رعف﴾ د نصر او فتح له باب څخه دی: د پزې څخه وينې بهېدل. پزه وينې کېدل. ﴿ليبن﴾ صيغه د امر غائب ده د ضرب له باب

---

[1] تخريج: أخرجه دارمي في باب الوضوء من الخارج من البدن باب رقم:۵۶، حديث رقم:۵۶۳.

[2] تخريج: أخرجه دار قطني في باب الوضوء من الخارج من البدن رقم:۵۶، حديث رقم:۵۷۲

ځنځه: عبارت جوړول. ﴿إِقْتِصَار﴾ اسم مصدر: اکتفا کول، منحصر کېدل. ﴿سِيلان﴾ بهېدل. ﴿قِشْرَة﴾ پوستکی. ﴿بَادِيَة﴾ د نصر له باب ځنځه مؤنث اسم فاعل دی: ښکاره کېدونکی. ﴿قَلْس﴾ قی. ﴿جُمْلَة﴾ ټوله. ﴿الأَخْبَار﴾ حدیثونه. ﴿دَسْعَة﴾ قی.

تشريح: په دې اوږده عبارت کې صاحب د کتاب د لمانځه د نواقضو ځنځه درې نواقض ذکر کړي دي او هر یو یې په خپل دلیل او د ائمه وو په مسلک او د دوی په بیان سوي تعلیل باندي ښایسته کړی دی، نواقض جمع د ناقضة ده، او نقض که د أجسامو وطرف ته منسوبه سي نو معنیٰ یې راځي: چې د أجسامو جوړښت او ترکیب باطلول، او که د معاني و طرف ته منسوبه سي نو معنیٰ به یې دا وي: معاني له دې ځنځه ایستل چې مطلوب فایده کړي، یعني معنیٰ چې د کوم مطلب فایده ورکوي له هغه مطلب ځنځه د معنیٰ ایستلو ته نقض وایي، او دلته د اوداسه مطلب د لمانځه مباح کېدل دي، او له معانی ځنځه مراد د اوداسه ماتوونکي اسباب او علتونه دي، په حدیث کي راځي: لا يحل دم امرئ مسلم إلا باحدى ثلث. (یعني د یو مسلمان وینه به حلاله نه وي مګر د درې علتونو په وجه). لنډه دا چې د لمانځه د نواقضو ځنځه یو هر هغه شی دی کوم چې د متیازو دیا د غایطه موادو (پاخانې) د لاري ځنځه را وځي.

دلیل: دا آیت دی: أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ (سورة المائدة: ۶)، او غائط هغه کښته ملحکي ته ویل کیږي چې هلته انسان د حاجت د پوره کولو لپاره ځي، حاصل دا چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: چې که په تاسو کي یو له قضاء حاجت ځنځه راسي او اوبه نه وي نو تیمّم دي کوي، لهذا ثابته سوه چې د خروج من السبيلين په وجه سره اودس ماتیږي، ځکه که اودس نه ماتېدلای نو د اوبو د نشتوالي په صورت کي به تیمّم حکم ولي ورکول کېدی؟ دویم دلیل یې دا دی چې له نبی ﷺ ځنځه پوښتنه وسوه چې اې د الله رسوله! حدث څه شی دی؟، نبي ﷺ وفرمایل: ما يخرج من السبيلين (کوم شی چې هم د متیازو یا غایطو د لاري ځنځه را ووځی هغه حدث دی) په دې حدیث کي د مَا کلمه پر عموم دلالت کوي چې معتاد او غیر معتاد ټولو ته عامه ده، معتاد یعني کوم چې عادتا راوځي لکه: متیازي (شاشې)، غایطه مواد (غول) او غیر معتاد یعني کوم چې عادتاً نه راوځي لکه: شګه او د استحاضې وینه دا ټوله د اودس ماتوونکي شیان دي.

د امام مالک مسلک: حضرت امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چې غیر معتاد شیان لکه: چینجی، شګه، د استحاضې وینه، سلسل البول، د نس اسهال او داسي نور د اودس ماتوونکي نه دي ځکه چې الله تعالیٰ په غائط سره کنایةً د قضاء حاجت (بول او براز) ذکر کړی دی او قضاءِ حاجت معتاد دی، لېکن موږ وایو چې نبي ﷺ فرمایلي دي: المستحاضة تتوضأ لوقت كل صلوٰة (یعني مستحاضه ښځه به د هر لمانځه د وخت لپاره اودس کوي) او د استحاضې وینه غیر معتاد ده، نو معلومه سوه چې غیر معتاد شیان کوم چې د سبیلینو ځنځه وځي هغه هم د اودس ماتوونکي دي.

او د اوداسه په نواقضو کي دا هم دي چې د ژوندي سړي له بدن ځنځه وینه یا زوې (نو) را ووځي او ښکاره سي، داسي ځای ته تجاوز وکړي چې په اودس یا غسل کي د هغه د پاکولو حکم سوی وي، یعني له سبیلینُ ځنځه ماسوا له بل ځای ځنځه د نجاست په راوتلو کي صرف د نجاست ښکاره کېدل کافي نه دي بلکي سیلان (بهېدل) شرط دی، نو که وینې د زخم پر سر باندي راسي خو نه وبهیږي نو اودس نه ماتیږي، او د اودس له نواقضو ځنځه په ډکه خولې قی هم دی او په ډکه خوله قی دا دی چې بغیر د تکلیف او زور ځنځه بند نه سي.

د قيء په باره کې اختلاف: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې له غير سبيلين څخه وتونکی شی اودس نه ماتوي، د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز له غير سبيلين څخه وتونکی شی مطلقاً اودس ماتوي، برابره خبره ده که په هغه کې سيلان وي او که نه وي، او که قی په ډکه خوله وي يا نه وي، د اقوالو حاصل دا چې خارج من غير السبيلين د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز مطلقاً اودس نه ماتوي. او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز مطلقاً اودس ماتوي، او د احنافو څخه د ائمه ثلاثه وو په نيز اودس ماتوي په دې شرط چې په ډکه خوله وي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې نبي ﷺ قی وکړی ليکن اودس يې نه وکړی نو ثابته سوه چې قی اودس نه ماتوي؛ دويم عقلی دليل يې دا دی چې د خروج النجاسة من السبيلين په صورت کې د اعضاء اربعه(څلورو اندامونو) د پرېولو حکم أمر تعبدی (خلاف القياس) دی، ځکه د عقل تقاضا خو دا ده چې پر کوم ځای نجاست ولګيږي هغه به پرېولل کيږي، ليکن دلته د څلورو اندامونو د پرېوللو حکم خلاف القياس دی لو صرف د بندګی د ښکاره کولو لپاره دی، لو قاعده دا ده چې پر أمر تعبدی يعني پر خلاف القياس شي باندې بل شی نه سي قياسېدلای، نو ځکه به د څلورو اندامونو حکم د شرع تر مورد پورې خاص وي، او د شرع مورد مَخرج معتاد دی، يعني له مخرج معتاد(دوو لارو) څخه که نجاست راووځی نو د څلورو اندامونو د پرېوللو حکم به وي او که له مخرج معتاد څخه ماسوا يعني له غير سبيلين څخه نجاست راووځی نو د څلورو اندامونو د پرېوللو حکم به نه وي، نو معلومه سوه چې خارج من غير السبيلين اودس نه ماتوي.

زموږ دليل: زموږ دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: اودس(ضروري دی) د هر هغه وينې په وجه چې له بدن څخه راووځی او وبهيږي، په دې حديث سره موږ په دې توګه دليل نيسو چې د حديث له ترکيب لو مفهوم څخه وجوب فهمول کيږي لکه د نبي ﷺ له دې قول: في خمس من الابل شاة څخه بالاتفاق فرضيت فهمول کيږي، لو إنما الماء من الماء بالاتفاق د منی وو د خروج په وجه د غسل پر وجوب دلالت کوي، نو د دې حديث معنیٰ به وي: تُوضَّؤا من كل دم سال من البدن (يعني له هر هغه وينې څخه اودس کوئ چې له بدن څخه راووځی او وبهيږي).

دويم دليل: دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې قی وکړي يا په لمانځه کې يې پزه وينې سي نو هغه دې واپس ولاړ سي، اودس دې وکړي او خپل پر لمانځه دې بنا وکړي تر څو پورې چې يې خبرې کړې نه وي. حاصل د استدلال دا دی چې په حديث کې د اودس أمر سوی دی او أمر د وجوب لپاره راځي، نو معلومه سوه چې تر قی وهلو لو د پزې تر وينې کېدلو وروسته اودس واجبيږي.

عقلي دليل: کوم چې په حقيقت کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د عقلی دليل جواب دی، دا دی چې دا خبره معقوله ده يعني په فهم کې راځي چې له سبيلين څخه د نجاست وتل د طهارت په زوال کې مؤثر دي، يعني له سبيلين څخه د نجاست وتلو په صورت کې اودس ماتيږي، نو دا صورت اصل او مقيس عليه دی، لو څرنګه چې په حديثونو کې د پزې وينې لو قی ته هم د اودس ماتونکي ويل سوي دي، او دا شيان له غير سبيلن څخه وځي، نو معلومه سوه چې له سبيلين څخه وتونکی شی هم اودس ماتوي، او له غير سبيلين څخه وتونکی شی هم اودس ماتوي، لو په دواړو صورتونو کې طهارت زائليږي، او د طهارت تر زوال وروسته به څلور اندامونه خامخا پرېولل کيږي، لو څرنګه چې په اصل او مقيس عليه يعني په خارج من السبيلين کې د طهارت حاصلولو لپاره څلور اندامونه پرېولل کيږي، نو پر دې باندې په قياسولو سره به په فرع کې هم د طهارت حاصلولو لپاره د څلورو اندامونو د پرېوللو حکم لګيږي، کنې اصل يعني خارج

من السبيلين لو فرع يعني خارج من غير السبيلين خو به برابر پاته سي، لېکن د طهارت د حاصلولو په طريقو کي به اختلاف راسي، کوم چي صحيح نه دی.

غيرأن الخروج الخ له دې ځای څخه د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: دا دی چي کله له غير سبيلين څخه د نجاست وتل داسي دي لکه له سبيلين څخه د نجاست وتل، نو څرنګه چي په سبيلين کي صرف خروج (وتل) معتبر دي، يعني د نجاست په خروج سره اودس ماتيږي، دغه ډول په غير سبيلين کي هم بايد خروج معتبر وای حال دا چي تا په غير سبيلن کي د خروج سره د سيلان شرط هم لګولی دی؟

جواب: صاحب د هدايې په جواب کي فرمايي: چي معتبر خو په اصل او فرع دواړو کي صرف خروج دی لېکن خبره د اده چي په وينه او زوې(ژړ اوبو) کي خروج هلته متحقق کيږي چي کله سيلان د داسي ځای و طرف ته وسي چي په اوداسه يا غسل کي په هغه ځای پوري د پاکولو حکم لاحق سوی وي، او په قی کي خروج هغه وخت متحقق کيږي چي کله هغه په ډکه خوله وي، دليل يې دا دی چي د څرمني د نري(باريک) پوست په ليري کېدلو سره د نجاست خروج نه کيږي، بلکي په خپل محل کي ښکاره کيږي، نو په دې وخت کي دې ته نجاسة باديه يعني ښکاره کېدونکی نجاست ويل کيږي، نه دا چي خارجېدونکی، په خلاف د سبيلين، ځکه چي سبيلين د نجاست پاته کېدلو ځای نه دی، نو هلته به د نجاست له ښکاره کېدلو څخه دا فهمول کيږي چي نجاست له خپل ځای څخه منتقل سوی دی او خارج سوی دی، حاصل دا چي په حقيقت کي خروج معتبر دی، او د خروج په سبيلين کي په دا ډول ثابتيږي چي نجاست له خپل ځای څخه را نقل سي او د سبيلين پر خوله باندي راسي؛ او له سبيلين څخه ماسوا صرف د نجاست په ښکاره کېدلو سره دغه (خروج) نه ثابتيږي، ځکه چي تر هري څرمني لاندي وينه وي نو د څرمني د باريک پوست په ليري کېدلو سره صرف وينه په نظر راځي، لېکن دلته له ځای څخه منتقل کېدل هلته ثابتيږي چي کله وينه وبهيږي.

وملء الفم أن يكون الخ او په قی کي خروج هغه وخت ثابتيږي چي کله په ډکه خوله وي او په ډکه خوله دا دی چي بغير له تکلّف او زور څخه د هغه بندول ممکن نه وي، او بعضو ويلي دي چي په ډکه خوله سره قی دا دی چي په خبرو کولو کي تکلّف وي، او بعضو ويلي چي له نيمي خولې څخه زيات وي(نهايه)، او د دې خبري دليل چي که قی په ډکه خوله وي نو خروج ثابتيږي، دا دی چي د خولې د دننه حصې دوه حيثيته دي: ظاهر او باطن، ځکه که خوله خلاصه کړی سي نو د ظاهر سره مشابه ده او که خوله بنده کړی سي نو باطن سره مشابه ده، نو موږ د دواړو اعتبار وکړی، او دا مو وويل: که په خوله کي قی په ډکه خوله نه وو نو د باطن د مشابهت اعتبار به کيږي ويل کيږي به: چي خروج نه دي سوی ځکه په دې صورت کي عدم خروج غالب دی، نو ځکه به په دې صورت کي اودس نه ماتيږي، او که قی په ډکه خوله وو نو د ظاهر د مشابهت اعتبار به کيږي ځکه چي په دې صورت کي خروج غالب دی، نو به په دې صورت کي به اودس ماتيږي.

وقال زفر الخ د حضرت امام زفر رَحِمَهُ الله د مذهب بيان وسو چي د ده په نېز خارج من غير سبيلين مطلقاً د اودس ماتوونکي دي، يعنی قی که قليل وي او که کثير، د اودس په ماتېدلو کي دواړه برابر دي، همدارنګه د ده په نېز سيلان هم شرط نه دی د سيلان پر نه شرط کېدلو د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل قياس دی، يعني څه رنګه چي له مخرج معتاد يعني له سبيلين څخه په راوتونکي شي سره په اودس ماتېدلو کي سيلان شرط نه دی همدغه ډول له غير سبيلين څخه په راوتونکي شی سره د اودس په ماتېدلو کي هم سيلان شرط نه دی، او پر دې خبره يې دليل چي د قی کثير او قليل مقدار دواړه په نقض د

وضوء کې سره برابر دي د نبي ﷺ دا قول دی: القلس حدث، د قلس معنیٰ ده: قی، وجه د استدلال یې دا ده چې نبي ﷺ قی ته مطلقاً حدث یعني "اودس ماتوونکی" ویلی دی.

او زموږ دلیل پر دې خبره چې په خارج من غیر سبیلین کې د اودس ماتولو لپاره سیلان شرط دی د نبی ﷺ دا قول دی: چې د وینو په یوه څاڅکي او دوو څاڅکو سره اودس نه واجبیږي خو دا چې کله وینه بهېدونکې وي. (دارقطنی از شرح نقایه)

او پر دې خبره چې د قي لږ اندازه اودس نه ماتوي، د نبی ﷺ دا قول شاهد دی: يعاد الوضوء من سبع: من إقطار البول والدم السائل والقيئ ومن دسعة تملأ الفم ونوم المضطجع وقهقهة الرجل في الصلوٰة وخروج الدم (یعني له اوو شیانو په وجه به اودس راګرځول کیږي: د متیازو له څڅېدلو څخه، او له بهېدونکو وینو څخه او له زوو(ژړو اوبو) څخه او له قی څخه چې په ډکه خوله وي، او له خوب څخه چې په تکیه او پروتې وي، او په لمانځه کې په قهقهه خندا سره، او د وینې په راوتلو سره).

له دې حدیث څخه معلومه سوه چې په ډکه خوله قي سره اودس ماتیږي، همدا رنګه صاحب د هدایې فرمایلي دي چې حضرت علي ﷺ د اودس ټوله نواقض شمار کړل، چې له هغو څخه یې یو دا ذکر کړی: او دسعة تملأ الفم یعنی هغه قی چې په ډکه خوله وي هم ناقض د وضوء دی (یعني اودس ماتوي)؛ ښکاره دې وي چې د قی په ناقضوالی کې روایات سره متعارض سول ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله له ذکر سوي حدیث قاء فلم يتوضأ څخه معلومیږي چې قی مطلقاً ناقض د وضوء نه دی، او د امام زفر رَحِمَهُ الله له حدیث القلس حدث څخه معلومیږي چې قی مطلقاً ناقض د ضوء دی، نو د دوی په مینځ کې د تطبیق صورت دا دی چې د امام شافعی رَحِمَهُ الله ذکر سوی حدیث قاء فلم يتوضأ به پر قلیل مقدار محمول کیږي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله ذکر سوی حدیث القلس حد به پر کثیر مقدار محمول کیږي، نو اوس هیڅ تعارض پاته نه سو، او موږ د دواړو مسلکونو په مینځ کې وي، هم د دې و طرف ته صاحب د هدایې په دې جمله سره اشاره وکړه: والفرق بين المسلكين ما قدمناه.

په متفرقه(بېلابېلو) ځایونو کې د قي په اړه د صاحبینو اختلاف

وَلَوْقَاءَ مُتَفَرِّقًا او که یو سړي جلا جلا (او څو واره) قی وکړی بِحَيْثُ لَوْجُمِعَ په دې توګه که جمع کړل سو يَمْلأُ الْفَمَ (نو) خوله به ډکه کړي فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يُعْتَبَرُ اِتِّحَادُ الْمَجْلِسِ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز د مجلس یووالی معتبر دی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ● يُعْتَبَرُ اِتِّحَادُ السَّبَبِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز د سبب یو والی معتبر دی وَهُوَ الْغَثَيَانُ او سبب (د قي راتللو) جوش دی ثُمَّ مَا لَا يَكُوْنُ حَدَثًا لَا يَكُوْنُ نَجَسًا بیا هر هغه شی کوم چې حدث نه وي هغه به نجس هم نه وي يُرْوٰى ذٰلِكَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ● رَحِمَهُ اللهُ دا حکم له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی وَهُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحیح دی لِأَنَّهُ لَيْسَ بِنَجَسٍ حُكْمًا ځکه لږ قی حکمًا نجس نه دی حَيْثُ لَمْ تَنْتَقِضْ بِهِ الطَّهَارَةُ ځکه چې په هغه سره اودس نه ماتیږي.

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:١، ص:١٠٣. [القول الراجح، ج:١، ص:٣]

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:١، ص: ٧. [القول الراجح، ج:١، ص:٥]

اللغات: ﴿مُتَفَرِّقًا﴾ د تفعّل له باب څخه د اسم فاعل صيغه ده معنىٰ يې ده: جلا جلا، بېل بېل، مختلف. ﴿يَغْلِي﴾: د فتح له باب څخه د مضارع صيغه ده: ډکېدل. ﴿غَثَيَان﴾ د قی جوش، قی راتلل، د قی لپاره زړه کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی په اوداسه وو، قی یې وکړی، (یعني قی یې ووهی)، لیکن په یو وار او ډکه خوله سره یې نه ووهی، بلکې لږ لږ او څو واره یې ووهی، او دا معلومه سوه چې که ټوله جمع کړل سي، نو خوله به په ډکه سي، نو د دې اوداسه څه حکم دی؟

په دې سلسله کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د مجلس اتحاد معتبر دی، نو که په یوه مجلس کې یې څو وار قی وکړی بیا که د هغه سبب یو وو او که نه وو نو اودس په ماتیږي، ځکه چې د متفرقاتو (او بېلا بېلو شیانو) په جمع کولو کې مجلس لره ډېر غټ دخل سته، مثلاً که یو څوک په یوه مجلس کې یو آیت د سجدې څو واره ووایي نو یوه سجده واجبیږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د سبب اتحاد معتبر دی او د قی سبب جوش دی، نو که هر وار د قی سبب یو وو هغه که په یوه مجلس کې وو او که په ډېرو کې وو نو هغه به جمع کیږي، که خوله په ډکه سوه نو اودس په ماتیږي، دلیل یې دا دی چې حکم د سبب د ثابتېدلو مطابق وي (یعني څرنګه چې سبب ثابت سي، هغه رنګه به حکم وي)، نو په دې وجه به د سبب په متحد کېدلو سره حکم متحد وي.

ثم ما لا يكون الخ صاحب د هدايې یوه ضابطه بیان کړې ده چې روايت یې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سوی دی، ضابطه دا ده: کوم شی چې حدث یعني د اودس ماتوونکی نه وي هغه به نجس او مردار هم نه وي، نو لږ قی او لږ نه بهېدونکې وینه (دم غیرِ سائل) به هم نجس نه وي ځکه دا ناقض (ماتوونکي) نه دي او دا قول زیات صحیح دی ځکه چې د شرعي حکم په روی سره دا نجس نه دي، همدا وجه ده چې په دې سره اودس نه ماتیږي، په وهو الاصح سره د امام محمد رَحِمَهُ الله له قول څخه احتراز دی ځکه چې امام محمد رَحِمَهُ الله لږ قی او دم غیر سائل ته هم نجس وایي.

راجح قول: په پورتنی عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوې په اوله مسئله کې یعني د متفرق قی په مسئله کې راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی یعني د سبب اتحاد به معتبر وي، كما قال العلامة جلال الدين الخوارزمي رَحِمَهُ الله: والاصح قول محمد رَحِمَهُ الله.... (الكفايه ج:١، ص:٤٠). [القول الراجح ج:١، ص:٤]. او په دویمه مسئله کې راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، یعني کوم شی چې د اودس ماتوونکي نه وي هغه به نجس هم نه وي، نو لږ قی به نجس نه وي ځکه چې لږ قی لودس نه ماتوي او داسي نور، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله وجماعة اعتبروا قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله رفقاً بأصحاب القروح حتى لو أصاب ثوب أحدهم أكثر من قدر الدرهم لا تمتنع الصلاة فيه (فتح القدير ج:١، ص:٤٠). [القول الراجح، ج:١، ص:٥]

د قي قسمونه او احکام (او په دې سره د اودس د ماتېدلو په اړه اختلاف)

وَهٰذَا إِذَا قَاءَ مِرَّةً أَوْ طَعَامًا أَوْ مَاءً او دا حکم هغه وخت دی چې کله یې د ترخو لوبو (صفرا) یا د خوراک یا د اوبو قی کړی وي فَإِنْ قَاءَ بَلْغَمًا او که د بلغمو قی یې کړی وو فَغَيْرُ نَاقِضٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ نو د طرفینو په نېز لودس نه ماتوي وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: نَاقِضٌ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې لودس ماتوي إِذَا كَانَ مِلْءَ الْفَمِ (خو) چې کله په ډکه خوله وي وَالْخِلَافُ فِي الْمُرْتَقِيْ مِنَ الْجَوْفِ او اختلاف په هغه بلغم کې دی چې د نس له مینځ څخه راختلی وي (او قی کړی سوی وي) أَمَّا النَّازِلُ مِنَ الرَّأْسِ او پاته سو هغه بلغم چې له سر څخه راځلی

وي(او قی کړی سوی وي) فَغَيْرُ نَاقِضٍ بِالْإِتِّفَاقِ نو هغه په اتفاق سره اودس نه ماتوي لِأَنَّ الرَّأْسَ لَيْسَ بِمَوْضِعِ النَّجَاسَةِ ځکه چي سرد نجاست ځای نه دی لِأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: أَنَّهُ نَجِسٌ بِالْمُجَاوَرَةِ دابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي (له نس څخه را ختونکي) بلغم د (نجاست سره د) اتصال(یو ځای کېدلو) په وجه نجس دي وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَزِجٌ او د طرفینو دلیل دا دی: چي بلغم ښوی(او غوړ) شی دی لَا تَتَخَلَّلُهُ النَّجَاسَةُ (چي)نجاست نه سي په ننوتلی وَ مَا يَتَّصِلُ بِهِ قَلِيْلٌ او کوم نجاست چي د هغه سره موښتی وي هغه لږ وي وَالْقَلِيْلُ فِي الْقَيْئِ غَيْرُ نَاقِضٍ او په قی کي لږ (مقدار) اودس نه ماتوي.

اللغات: ﴿مرة﴾ صفرا (ژړي ترخې اوبه)، د جسم له څلورو أخلاطو څخه يو خلط دی، ﴿بلغم﴾ ريزش، نزله، دا هم د جسم له څلورو أخلاطو څخه يو خلط دی، ﴿مرتقي﴾ ختونکی، ﴿مجاورة﴾ اسم مصدر دی له باب مفاعله څخه: همسایتوب، يو ځای کېدل، اتصال، ﴿لزج﴾ ښوی، سرېښناکه(مجازاً غوړ).

تشریح: د دې عبارت تعلق د هغه یملأالفم سره دی چي په تېر عبات کي ذکر سو، او د عبارت حاصل دا دی چي په ډکه خوله سره قی په دې شرط اودس ماتوي چي دغه قی د ترخو اوبو یا د خوراک یا د چېناک وي، لېکن که يو سړي له دې شیانو څخه ماسوا بلغم قی کړي چي په هغه کي د خوراک اونورو ګډون نه وي نو د دې دوه صورتونه دي: یا به دا بلغم له ماغ څخه راغلی وي یا به د معدې له مېنځ څخه را پورته سوي وي، اول صورت خو په اتفاق سره ناقض د وضوء(د اودس ماتونکی) نه دی ځکه سر او دماغ د نجاست ځای نه دی، او دوېم صورت د طرفينو په نېزي ناقض د وضوء نه دی، لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز ناقض دی په دې شرط چي په ډکه خوله وي.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي بلغم که څه هم په خپله نجس نه دي، خو د معدې د نجاست سره د اتصال په وجه نجس کیږي او له هغه ځای څخه را وځي چي په غسل کي د هغه سره د پرېوللو حکم لاحق سوی وي (چي هغه نو خوله ده)، یعني په غسل کي خوله پرېولل(مضمضه) فرض ده، نو کله چي خروج د نجاست راغلی نو ناقض د وضوء به وي لکه د خوارک او د ترخو اوبو قی.

د طرفینو دلیل: دا دی چي بلغم ښوی او سرېښناکه شی وي، نجاست نه ور سره منښلي، او کوم نجاست چي هم ور سره لګېدلی او موښتی وي هغه لږ وي، او په قی کي لږ مقدار ناقض د وضوء نه دی، نو ځکه به د بلغم قی ناقض د وضوء نه وي.

د وينو د قي حکم(او په دې اړه اختلاف)

وَلَوْ قَاءَ دَمًا او که يې د وينو قی وکړی وَهُوَ عَلَقٌ په داسي حال کي چي وينه ټوټه(او کلکه) وه يُعْتَبَرُ فِيْهِ مِلْءُ الْفَمِ نو په دې کي به ډکه خوله معتبره وي لِأَنَّهُ سَوْدَاءُ مُحْتَرِقَةٌ ځکه چي دا ټوټه وينه سوځلې سوداء ده وَإِنْ كَانَ مَائِعًا او که

وينه بهېدونكى (او نرى) وه فَكَذٰلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هم دغه حكم دى إِعْتِبَارًا بِسَائِرِ أَنْوَاعِهِ د قى پر ټولو قسمونو باندې په قياسولو سره وَعِنْدَهُمَا* إِنْ سَالَ بِقُوَّةِ نَفْسِهِ يَنْتَقِضُ الْوُضُوْءُ او د شيخينو رحمهما الله په نيز كه وينه په خپل زور سره وبهېدله نو اودس ماتيږي وَإِنْ كَانَ قَلِيْلًا كه څه هم لږ وي لِأَنَّ الْمَعِدَةَ لَيْسَتْ بِمَحَلِّ الدَّمِ ځكه چې معده د وينې ځاى نه دى فَيَكُوْنُ مِنْ قُرْحَةِ الْجَوْفِ نو دا به د نس له زخم څخه راغلې وي.

اللغات: ﴿علق﴾ ټوټه، ګاټه، سختې او جمع سوې وينې، ﴿سوداء﴾ د جسم له څلورو أخلاطو څخه يو خلط دى، ﴿قرحة﴾ زخم، دانه، ﴿جوف﴾ د هر خالي شي دننه حصه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو سړي د وينو قى وكړي نودا وينې به دوه قسمه وي: يا به دا وينې ولاړې او ټوټه ټوټه وي يا به بهېدونكې وي، كه ټوټه ټوټه وي نو په دې كې د خولې ډكوالى معتبر دى، ځكه چې دا ټوټه او سختې وينې سوځل سوې سوداءوي او له معدې څخه راوځي، او له معدې څخه را وتونكى شى اودس ماتوي، په دې شرط چې هغه په ډكه خوله وي، او كه وينې بهېدونكې وي* نو امام محمد رَحِمَهُ الله په دې كې د خولې د ډكوالي اعتبار كوي، يعني كه دومره وينې وي چې خوله ډكه كړي نو اودس ماتوي كنې نه يې ماتوي.

د امام محمد دليل: قياس دى، يعني امام محمد رَحِمَهُ الله د وينو قى پر نورو قيانو باندې قياسوي، نور قيان پنځه دي: (۱) د خوراک قى، (۲) د اوبو قى، (۳) د ترخو اوبو قى، (۴) د صفراء قى، (۵) د سوداء قى

يعني څه رنګه چې په دې پنځو كې د اودس د ماتېدلو لپاره د ډكه خوله شرط ده همدغه رنګه به د وينو په قي كې د خولې ډكوالى معتبر وي.

او شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: كه وينې په خپل قوت سره راووځي او وبهيږي نو اودس ماتيږي، كه څه هم لږ وي.

د شيخينو دليل: دا دى چې معده د وينو ځاى نه دى، نو كله چې له معدې څخه وينې راسي، نو مطلب يې دا دى چې په معده كې يو زخم دى چې له هغه څخه وينې را رواني دي، نو دا به پر هغو وينو قياسيږي چې هغه له ښكاره زخم څخه را وځي، او كومې وينې چې له ښكاره زخم څخه راوځي نو په هغه كې د اودس د ماتېدلو لپاره سيلان(بهېدل) معتبر دى، نو په دې وجه به دلته هم سيلان معتبر وي كه څه هم په ډكه خوله نه وي.

راجح قول: په پورتنې عبارت كې راجح قول د شيخينو دى، يعني كه وينې په خپل قوت سره را ووځي او وبهيږي نو اودس ماتيږي. [القول الراجح، ج:۱، ص:۷]

د وينو د قي نور تفصيل

وَلَوْنَزَلَ مِنَ الرَّأْسِ او كه وينه له سر څخه راغله إِلَى مَالَانَ مِنَ الْأَنْفِ د پزې نرمې حصې ته(يعني د پزې و نرمى ته) نَقَضَ بِالْإِتِّفَاقِ نو په اتفاق سره اودس مات سو لِوُصُوْلِهِ إِلَى مَوْضِعٍ يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيْرِ ځكه چې وينه داسې ځاى ته ورسېدله چې د هغه سره د پاكولو حكم لاحق دى فَيَتَحَقَّقُ الْخُرُوْجُ نو خروج(سيلان) ثابت سو.

اللغات: ﴿لان﴾ د ضرب د باب ماضي صيغه ده: نرمېدل.

* القول الراجح: قول الشيخين، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۱۰۳. [القول الراجح، ج:۱، ص:۷]

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که وينه له سر څخه را ووځي او د پرې تر نرمۍ پورې را ورسيږي، نو په دې سره بالاتفاق اودس ماتيږي. دليل دا دی چې دا وينې تر داسې ځايه پورې را رسېدلې دي چې (په اودس او غسل کې) پر هغه د پاکولو حکم لاحق سوی دی (يعني په اودس او غسل کې د پزې د پرېولو حکم سوی دی)، او کله چې تر داسې ځايه وينه را ورسيږي، نو پوه سه چې خروج او سيلان متحق سو، يعني دوينو را وتل او بهېدل ثابت سوه.

څه ډول خوب اودس ماتوي..... (د اودس د نواقضو دويم قسم)

وَالنَّوْمُ مُضْطَجِعًا او خوب په داسې حالت کې چې پر بغل (پډه) وي اَوْمُتَّكِئًا يا (خوب) په داسې حالت کې چې تکيه يې کړې وي اَوْمُسْتَنِدًا اِلٰى شَيْءٍ يا يې پر يو داسې شي څنګ وهلی وي لَوْاُزِيْلَ عَنْهُ که هغه شی له ده څخه ليرې کړی سي لَسَقَطَ نو دا بيده سړی به غوزار (رالېله) سي لِاَنَّ الْاِضْطِجَاعَ سَبَبٌ لِاسْتِرْخَاءِ الْمَفَاصِلِ ځکه پر بغل پرېوتل د بندلونو (جوړونو) د سستوالي سبب دی فَلَا يَعْرٰى عَنْ خُرُوْجِ شَيْءٍ عَادَةً نو د عادت په توګه به د يوشي له وتلو څخه خالي نه وي وَالثَّابِتُ عَادَةً او کوم شی چې په عادت سره ثابت وي كَالْمُتَيَقَّنِ بِهٖ هغه داسې دی لکه په يقيني توګه سره چې ثابت وي وَالْاِتِّكَاءُ يُزِيْلُ مُسْكَةَ الْيَقْظَةِ او تکيه لګول د ويښتوب بندېز (کنټرول) ختموي لِزَوَالِ الْمَقْعَدِ عَنِ الْاَرْضِ ځکه چې مقعد (کوناټې) له ځمکې څخه ليرې سي وَيَبْلُغُ الْاِسْتِرْخَاءُ فِي النَّوْمِ غَايَتَهٗ بِهٰذَا النَّوْعِ مِنَ الْاِسْتِنَادِ او په خوب کې په دا ډول تکيه لګولو سره سستيا خپل انتها ته رسيږي غَيْرَ اَنَّ السَّنَدَ يَمْنَعُهٗ مِنَ السُّقُوْطِ خو تکيه دغه بيده سړی له غوزارېدلو څخه منع کوي (يعني غوزارېدلو ته يې نه پرېږدي) بِخِلَافِ النَّوْمِ حَالَةَ الْقِيَامِ وَالْقُعُوْدِ وَالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ فِي الصَّلَاةِ وَغَيْرِهَا په خلاف د خوب د ولاړې، ناستې، رکوع او سجدې په حالت کې په لمانځه کې يا په بل حالت کې هُوَالصَّحِيْحُ همدا صحيح ده (چې په داسې خوب سره اودس نه ماتيږي) لِاَنَّ بَعْضَ الْاِسْتِمْسَاكِ بَاقٍ (دا) په دې وجه چې يو څه استمساک (کنټرول) لا پاته وي اِذْ لَوْزَالَ لَسَقَطَ ځکه که استمساک ختم سي نو هغه به غوزار سي فَلَمْ يَتِمَّ الْاِسْتِرْخَاءُ نو (معلومه سوه چې) استرخاء پوره نه سوه وَالْاَصْلُ فِيْهِ قَوْلُهٗ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او دليل په دې باره کې د نبی ﷺ دا قول دی لَا وُضُوْءَ عَلٰى مَنْ نَامَ قَائِمًا اَوْ قَاعِدًا اَوْ رَاكِعًا اَوْ سَاجِدًا (چې) پر هغه سړي اودس (واجب) نه دی کوم چې د ولاړې يا ناستې يا رکوع يا سجدې په حالت کې بيده سي اِنَّمَا الْوُضُوْءُ عَلٰى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا (بلکې) اودس پر هغه چا (واجب) دی چې پر بغل بيده سي فَاِنَّهٗ اِذَا نَامَ مُضْطَجِعًا ځکه کله چې هغه پر بغل بيده سي اِسْتَرْخَتْ مَفَاصِلُهٗ نو بندلونه (جوړونه) يې سست سي.

● تخريج: أخرجه الترمذي في الطهارة باب رقم:٥٧، حديث رقم:٧٧ وايضاً ابو داؤد في الطهارة باب رقم:٧٩ والبيهقي ايضاً في السنن الكبرىٰ باب رقم:٥٧ حديث رقم:٥٨٩،٥٨٦،٥٨٧ بمعناه.

اللغات: ﴿مُضْطَجِعٌ﴾ پر بغل (اړخ) پرېوتونکي، پر بغل بيدېدونکي، ﴿مُتَّكِئٌ﴾ ټېک لګوونکي، تکيه وهونکي، ﴿إِسْتِرْخَاءٌ﴾ د باب استفعال مصدر دى: سستېدل، کمزوري کېدل، ﴿يَعْرَى﴾ عَرِيَ يَعْرَى د ضرب مضارع ده: خالي کېدل، لڅېدل، ﴿مَسْكَةٌ﴾ بنديز، کنټرول، خنډ، ﴿مَقْعَدٌ﴾ د سړي آخرينۍ حصه، سُرين (کوناټي)، د کښېنستلو ځاى، ﴿فَلَمْ يَتِمَّ﴾ تَمَّ، يَتِمُّ د ضرب له باب څخه د جحد صيغه ده: پوره کېدل، د إفعال او تفعيل له بابونو څخه هم راځي: أَتَمَّ: پوره کول.

تشريح: تر دې مخکې د هغه نواقضو بيان وو کوم چې حقيقتًا او واقعي د انسان له بدن څخه را وځي، دلته د هغه نواقضو بيان دى چې هغه خو حقيقتًا د انسان له بدن څخه نه را وځي، خو د بدن سره تعلق لري، د عبارت حاصل دا دى چې: که يو اودس لرونکى سړى پر بغل بيده سو، يا يې يو شي ته تکيه ووهل او بيده سو، يا يې پر يو داسي شى څنګ ووهى بيده سو چې که هغه شى له ده څخه ليري سي نو دى به پر مځکه را ايله سي، نو په دې ټولو صورتونو کې د ده اودس ماتيږي، په بغل باندي په پروتي سره د اودس ماتېدلو وجه دا ده چې دغسي پروته د بندونو د سستوالي سبب دى او د بندونو د سستوالي په صورت کې د عادت موافق او په عامه توګه څه نا څه شى وځي، او کوم شى چې عادتًا ثابت وي هغه داسي دى لکه په يقيني توګه چې ثابت سوى وي، نو دا خبره تسليم سوه چې په بغل باندي په پرېوتولو سره د بندونو د سستووالي په وجه ريح (باد) وځي، او د باد په وتولو سره اودس ماتيږي، او څرنګه چې په دې صورت کې هم استرخاء د مفاصلو راځي، نو ځکه به په دې صورت کې هم اودس ماتيږي.

والإِتِّكَاء (تکيه لګول) ځکه اودس ماتوي چې د تکيه لګولو په وخت کې د بيداري او ويښوالي په حالت کې هم مقعده له مځکي څخه پورته کيږي، او استرخاء د مفاصلو راځي، نو کله چې د بيداري په حالت کې دا حال دى، نو د خوب په حالت کې خو په درجه اولىٰ سره استرخاء د مفاصلو راځي، او استرخاء د مفاصلو د اودس د ماتوالي سبب دى، نو ځکه به په دې صورت کې هم اودس ماتيږي.

او پر يو شى تکيه لګول او بيدېدل، په دې کې پوره استرخاء راځي، او استرخاء خپلي انتهاء ته رسيږي صرف دومره خبره ده چې تکيه لګولو دغه بيده سړى له غوزارېدلو څخه راګرځولى دى، که هغه شى ليري سي پر کوم چې ده تکيه لګولې ده نو دى به غوزار سي، څرنګه چې د اودس د ماتېدلو مدار په استرخاء باندي وو، او هغه دلته پيدا سو، نو ځکه به په دا صورت کې هم اودس ماتيږي.

بخلاف حالة النوم الخ د دې صورتونو په خلاف که يو سړى د ولاړي په حالت کې بيده سو يا د ناستي په حالت کې يا د رکوع او سجدې په حالت کې بيده سو نو اودس يې نه ماتيږي، بيا که دا کيفيت په لمانځه کې وو، يا بغير له لمانځه څخه په بل حالت کې وو (دواړه سره برابر دي)، همدغه صحيح ده، يعني ظاهر الروايه همدغه دى، دليل يې دا دى چې په دې حالتونو کې بيا هم څه نا څه استمساک (کنټرول او ټينګېدنه) پاته وي، ځکه که بالکل استمساک ختم سي، نو دا سړى به غوزار سي، نو معلومه سوه چې په دې حالتونو کې پوره استرخاء نه راځي، او کله چې پوره استرخاء نه راځي نو اودس هم نه ماتيږي، دا خو عقلي دليل سو، اصلي او نقلي دليل هغه حديث دى کوم چې په دې باب کې ذکر سو، چې نبي ﷺ وفرمايل: کوم سړى چې د قيام (ولاړي) په حالت کې بيده سي يا د قعود (ناستي)، يا د رکوع، يا د سجود په حالت کې بيده سي نو پر هغه اودس نه واجبيږي، بلکې اودس پر هغه سړي واجبيږي چې پر بغل بيده سي ځکه کله چې انسان پر بغل پرېوځي نو ټوله بندونه يې سست سي.

په بې هوښۍ (بیرانۍ) او لېونتوب سره د اودس ماتېدلو حکم

وَ الْغَلَبَةُ عَلَى الْعَقْلِ بِالْإِغْمَاءِ وَالْجُنُوْنُ اوغلبه په عقل باندي د بې هوښۍ په وجه سره او لېونتوب (دا دواړه اودس ماتوي) لِأَنَّه فَوْقَ النَّوْمِ مُضْطَجِعًا فِي الْإِسْتِرْخَاءِ ځکه چي په دې دواړو کي (یعني په اغماء او جنون کي) د بندونو سستوالی د بغل تر خوب زیات دی وَالْإِغْمَاءُ حَدَثٌ فِي الْأَحْوَالِ كُلِّهَا او بې هوښي په ټولو حالتونو کي حدث دی (یعني په ټولو حالتونو کي اودس ماتوي) وَهُوَ الْقِيَاسُ فِي النَّوْمِ او په خوب کي (هم) د قیاس دغه تقاضا ده (چي په ټولو حالتونو کي به اودس ماتوي) إِلَّا أَنَّا عَرَفْنَاهُ بِالْأَثَرِ لېکن موږ دا خبره په اثر سره معلومه کړې ده (چي د رکوع او سجدې په حالت کي خوب اودس نه ماتوي) وَالْإِغْمَاءُ فَوْقَهُ او بې هوښي له خوب څخه (هم) لوړه ده (یعني په بې هوښي کي تر خوب زیات عقل زائلیږي) فَلَا يُقَاسُ عَلَيْهِ نو ځکه به بې هوښي پر خوب نه قیاسیږي.

اللغات: ﴿إِغْمَاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: بې هوښه کېدل، بې سده کېدل، یعني هغه حالت چي د انسان قواوي کمزوري سي، هوښ او حس یې بالکل ختم سي، ﴿الْجُنُوْن﴾ لېونتوب، پاګلتوب، د إغماپه حالت کي عقل مغلوب کیږي او د جنون په حالت کي عقل سلب کیږي، همدغه وجه ده چي د نبیانو په حق کي إغماء جائز ده خو جنون جائز نه دی، ﴿يُقَاسُ﴾ د ضرب له باب څخه مضارع مجهول صیغه ده: پوهېدل، قیاسول، په دوو جلا جلا شیانو کي د مشترکي خبري إدراک کول، شعور استعمالول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که د إغماء (بې هوښي) په وجه د یو سړي عقل مغلوب سي یا د جنون او لېونتوب وجه د یو چا عقل مسلوب (زائل) سي نو دا دواړه صورتونه ناقض د وضوء دي (یعني اودس ماتوي)

دلیل: دا دی چي له اغماء او جنون څخه هر یو په استرخاء مفاصل کي د بغل تر خوب زیات دی (یعني څومره استرخاء چي په بغل باندي په خوب کولو کي راځي تر هغه زیاته استرخاء په بې هوښي او لېونتوب کي راځي)، او إغماء په ټولو حالتونو کي اودس ماتوي یعني په قیام، قعود او نورو حالتونو کي هم، د قیاس تقاضا خو په خوب کي هم دغه وه چي خوب دې په ټولو حالتونو کي ناقض د وضوء وي، خو د رسول الله ﷺ د حدیث په وجه موږ قیاس پرېښوو، او څرنګه چي إغماء له خوب څخه قوي ده نو په دې وجه إغماء پر خوب نه سي قیاسېدلای، او د إغماء د قوي والي دلیل دا دی: چي پر چا باندي إغماء راسي هغه په هر ډول بیداره کولو سره نه بیداره کیږي (او هر څومره چي وښورول سي نه خبرېږي) د دې په خلاف بیده سړی دی چي هغه په بیداره کولو سره خبرېږي، او څرنګه چي جنون تر إغماء هم قوي دی، نو ځکه به جنون په درجه اولی سره ناقض د وضوء وي.

د إغماء په تعریف کي مختلفه قولونه

علامه عیني رَحِمَهُ الله په بنایه کي د إغماء په باره کي څو قولونه ذکر کړي دي:

① دا یو داسي مرض دی چي د هغه په وجه د انسان قواوي کمزوري کیږي.

② اغماء یو ډول سهوه ده چي د اندامونو د سستوالي په وجه انسان ته ور پیښیږي.

③ د بعضو خلکو رایه دا ده چي د یخ او سخت بلغم په وجه د دماغ د دننه حصه متأثره سي لو د انسان عقل مغلوبه سي.

او د جنون په باره کي فقط دا رانقل سوي دي: الجنون زوال العقل و فساده. (بنایه، ج۱، ص۲۲۵)

په قهقهه خندا سره د اودس ماتېدلو حکم(او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه او دليلونه)

وَالْقَهْقَهَةُ فِيْ كُلِّ صَلَاةٍ ذَاتِ رُكُوْعٍ وَّ سُجُوْدٍ او قهقهه خندا په هر د رکوع او سجدې والا لمانځه کې(هم اودس ماتوي) وَالْقِيَاسُ أَنَّهَا لَا تَنْقُضُ او قياس دا دی چې قهقهه دې اودس نه ماتوي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او همدغه د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّهُ لَيْسَ بِخَارِجٍ نَجِسٍ ځکه چې قهقهه يو را وتونکي نجس شی نه دی وَلِهٰذَا لَمْ يَكُنْ حَدَثًا فِيْ صَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ وَ خَارِجِ الصَّلَاةِ همدا وجه ده چې قهقهه د جنازې په لمانځه کې او په سجدهٔ تلاوت کې اوله لمانځه څخه دباندې حدث نه ده(يعني اودس نه ماتوي) وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دی أَلَا مَنْ ضَحِكَ مِنْكُمْ قَهْقَهَةً خبردار! څوک چې په تاسو کې په قهقهه سره وخندي فَلْيُعِدِ الْوُضُوْءَ وَالصَّلَاةَ جَمِيْعًا نو هغه دې اودس او لمونځ دواړه را وګرځوي وَبِمِثْلِهِ يُتْرَكُ الْقِيَاسُ او په داسې نص(حديث) سره به قياس پرېښوول کيږي وَالْأَثَرُ وَرَدَ فِيْ صَلَاةٍ مُطْلَقَةٍ او نص وارد سوی دی په مطلق لمانځه کې فَيُقْتَصَرُ عَلَيْهَا نو پر دې به اکتفاء کيږي وَالْقَهْقَهَةُ مَا يَكُوْنُ مَسْمُوْعًا لَهُ او قهقهه دا ده چې سړی يې په خپله (هم) واوري وَلِجِيْرَانِهِ او د ده همسايه ګان يې (هم) واوري (يعني څوک چې د ده ته نژدې وي هغه يې هم واوري) وَالضِّحْكُ يَكُوْنُ مَسْمُوْعًا لَهُ دُوْنَ جِيْرَانِهِ او ضحک هغه دی چې سړی يې په خپله واوري، نه همسايه ګان (يعني نژدې خلک يې نه واوري) وَهُوَ عَلٰى مَا قِيْلَ يُفْسِدُ الصَّلَاةَ دُوْنَ الْوُضُوْءِ او ديوه قول مطابق ضحک لمونځ فاسدوي نه اودس.

اللغات: ﴿قَهْقَهَةٌ﴾ د شدّت او زور په اعتبار سره د خندا تر ټولو لوړې درجې ته قهقهه ويل کيږي.(يعني په زوره خندا) ﴿فَلْيُعِدْ﴾ د إفعال د باب أمر غائب دی أَعَادَ يُعِيْدُ: را ګرځول. ﴿جِيْرَان﴾ جمع ده، واحد يې جارٌ دی: همسايه ګان، ګاونډيان(دلته مراد ځيني هغه کسان دي چې په لمانځه کې انسان ته نژدې ولاړ وي).

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړی د رکوع او سجدې والا په لمانځه کې په زوره (قهقهه) خندا وکړي نو زموږ په نيز د هغه اودس هم ماتيږي او لمونځ يې هم باطليږي. خو د قياس تقاضا دا ده چې په قهقهه سره دې په اودسه کې هيڅ فرق رانه سي. ځکه چې قهقهه صرف يو آواز دی. او يو را وتونکی نجاست نه دی(يعني داسې نجاست نه دی چې د انسان له بدن څخه را ووځي). او په آواز سره د اودس ماتېدل له عقل څخه لوره خبره ده. هم په دې وجه د ائمه ثلاثه وو په نيز قهقهه اودس نه ماتوي.

دليل: د ائمه ثلاثه وو دليل دا دی چې په قهقهه کې خو نه يو نجاست را وځي او نه د جنازې په لمانځه او سجدهٔ تلاوت او نورو کې په دې سره اودس ماتيږي. نو ځکه موږ وايو چې په دې سره اودس نه ماتيږي.

زموږ دليل: دا دی چې يو وار نبي ﷺ لمونځ ورکوی. يو اعرابي(صحرايي) چې نظر يې کمزوری وو راغلی او غوڅار سو. کوم صحابه چې په لمانځه کې ول. هغوی وخندل. نو نبي ﷺ له لمانځه څخه تر فراغت وروسته وويل: واورئ! چاچې قهقهه خندا کړې وي هغه دې خپل لمونځ او اودس را وګرځوي. دا مشهور حديث دی. او د مشهور حديث په وجه سره به قياس پرېښوول کيږي. څرنګه چې دا حديث د صلوٰة کامله يعني د رکوع او سجدې والا لمانځه په باره کې وارد سوی دی. نو ځکه به پر دې اکتفاء کيږي. او بغير له دې څخه به د جنازې په لمانځه کې. په سجدهٔ تلاوت کې او له

لمانځه څخه دباندې په قهقهه خندا سره اودس نه ماتيږي، ځکه چې خلاف القياس حکم خپل له مورد څخه نه متجاوز کيږي.

له مقعد، ذکر، فرج څخه د چينجي او باد د وتلو حکم

وَالدَّابَّةُ تَخْرُجُ مِنَ الدُّبُرِ نَاقِضَةٌ او د غټو بولو د لارې څخه را وتونکی چينجی هم اودس ماتوي فَإِنْ خَرَجَتْ مِنْ رَأْسِ الْجُرْحِ أَوْ سَقَطَ اللَّحْمُ مِنْهُ او که چينجی د زخم له سر څخه را ووتی يا له زخم څخه غوښه ولوېدله لَا يَنْقُضُ نو اودس نه ماتوي وَالْمُرَادُ بِالدَّابَّةِ الدُّودَةُ او له دابه څخه مراد چينجی دی وَهٰذَا لِأَنَّ النَّجَسَ او دا (فرق) په دې وجه دی چې نجاست هغه دی مَا عَلَيْهَا کوم چې پر چينجي باندې وي وَذٰلِكَ قَلِيلٌ او هغه لږ وي وَهُوَ حَدَثٌ فِي السَّبِيلَيْنِ دُونَ غَيْرِهِمَا او دا (لږ نجاست) په سبيلينو کې حدث دی (او) له دوی څخه علاوه په بل ځای کې حدث نه دی فَأَشْبَهَ الْجُشَاءَ وَالْفُسَاءَ نو (د چينجي راوتل) د اربې (تېغ) او باد (پسکی) سره مشابه سو بِخِلَافِ الرِّيحِ الْخَارِجَةِ مِنْ قُبُلِ الْمَرْأَةِ وَذَكَرِ الرَّجُلِ په خلاف د هغه باد کوم چې د ښځې له فرج او د سړي له ذکر څخه را ووځي لِأَنَّهَا لَا تَنْبَعِثُ عَنْ مَحَلِّ النَّجَاسَةِ ځکه چې هغه د نجاست له محل څخه نه را وځي حَتَّى لَوْ كَانَتِ الْمَرْأَةُ مُفْضَاةً خو که ښځه مفضات وه يُسْتَحَبُّ لَهَا الْوُضُوْءُ نو د هغې لپاره اودس کول مستحب دي لِاحْتِمَالِ خُرُوْجِهَا مِنَ الدُّبُرِ ځکه (دا) احتمال سته چې باد به د هغې له دبر څخه راوتلی وي.

اللغات: ﴿دَابَّةٌ﴾ هر هغه ساکښ (جاندار) کوم چې پر مځکه حرکت کوي، چينجی، ﴿جُرْحٌ﴾ زخم، ﴿دُوْدَةٌ﴾ چينجی، پر مځکه ښکېدونکی حيوان، ﴿جُشَاءٌ﴾ د معدې هغه هوا چې د خولې له لارې څخه را ووځي، اربې (تېغ) ﴿فُسَاءٌ﴾ د معدې هغه هوا چې د مقعد له لارې څخه را ووځي، پسکی ﴿تَنْبَعِثُ﴾ د انفعال له باب څخه مضارع ده: را پورته کېدل، ﴿مُفْضَاةٌ﴾ هغه ښځه چې د هغې د غايطو او د متيازو د لارې په مينځ کې پرده ختمه سوې وي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې هغه چينجی کوم چې د مقعد له لارې څخه را ووځي اودس ماتوي، لکه څرنګه چې د باد او شګې را وتل اودس ماتوي، او که چينجی له دبر څخه ماسوا د يو بل ځای له زخم څخه را ووځي يا له زخم څخه غوښه را ايله سي نو په دې سره اودس نه ماتيږي، په متن کې له دابه څخه مراد چينجی دی، د دې دواړو صورتونو په مينځ کې د فرق وجه دا ده چې په خپله چينجی نجس نه دی بلکې پر ده چې کوم شی لګېدلی دی هغه نجس دی (يعنې غايطه مواد نجس دي) او پر ده لګېدلی نجاست، نجاست قليل دی، او قليل نجاست په سبيلينو کې سبب د حدث دی يعنې اودس ماتوي، لېکن په غير سبيلينو کې قليل مقدار اودس نه ماتوي، نو ځکه مونږ وويل چې که چينجی د غايطو (غايطه موادو) له لارې څخه را ووځي نو اودس ماتوي او که د يو بل ځای له زخم څخه را ووځي نو اوس نه ماتوي، لهذا دغه د اربې او پسکی په شان سو، يعنې څرنګه چې اربې له غير سبيلينو څخه دی نو ځکه اودس نه ماتوي، او پسکی له دبر څخه را وځي نو ځکه اودس ماتوي، د دې په خلاف هغه باد کوم چې د ښځې له فرج يا د سړي له ذکر څخه را ووځي اودس نه ماتوي، ځکه چې دا باد د نجاست له ځای څخه نه را وتلی نه دی، لېکن که يو څوک اعتراض وکړي چې:

سوال: نبي ﷺ كل ما يخرج من السبيلين ته ناقض ويلي دي هغه كه ريح وي او كه غير ريح نو له فرج او ذكر څخه را وتونكي باد ته هم بايد ناقض وويل سي؟

جواب: د ټولو مجتهدينو اتفاق دی چي په حديث کي له كل ما يخرج څخه كل نجس يخرج مراد دي، او له فرج او ذكر څخه را وتونكی باد نجس نه دی، نو ځكه به هغه ناقض هم نه وي.

حتى لوكانت المرأة الخ او كه يوه ښځه مفضاة وه يعني قُبُل او دُبُر يې دواړه سره يو ځای سوي وه او د مينځ پرده يې شكېدلې وه، يا يې په فرج (شرمګاه) كي داسی سوری، چي د غايطو نالی (لاري) ته تلی، نو كه د داسي ښځي له فرج څخه باد را ووتي نو د هغې لپاره اودس كول مستحب دي، واجب نه دي. ځكه دا امكان سته چي د دې له دُبر څخه دي باد را وتلی وي، او واجب ځكه نه دی چي يقين يې نسته، او داودس په يقيني دليل سره ماتيږي، نه په خالي احتمال سره.

له تناكي او داني څخه د وينو او زړو اوبو را وتلو مختلفه صورتونه او د هغوی حكمونه

فَإِنْ قُشِرَتْ نَفْطَةٌ كه له دانې (يا تناكي) څخه پوستكی (خور) جلاسو فَسَالَ مِنْهَا مَاءٌ أَوْ صَدِيدٌ أَوْ غَيْرُهُ او له هغې څخه اوبه يا زوي (نَو) يا داسي نور را وبهېدل إِنْ سَالَ عَنْ رَأْسِ الْجُرْحِ نو اوس كه هغه د زخم له سر څخه را وبهېدل نَقَضَ نو اودس ماتو سو وَإِنْ لَمْ يَسِلْ او كه (د زخم له سر څخه) نه ورا بهېدل لَا يَنْقُضُ نو اودس نه ماتيږي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ●: يَنْقُضُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام زفر فرمايي: چي په دواړو صورتونو كي اودس ماتيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَنْقُضُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام شافعی فرمايي: چي په دواړو صورتونو كي اودس نه ماتيږي وَهِيَ مَسْأَلَةُ الْخَارِجِ مِنْ غَيْرِ السَّبِيلَيْنِ او دا د خارج من غير السبيلين مسئله ده وَهٰذِهِ الْجُمْلَةُ نَجِسَةٌ او دا ټوله شيان (زوي او نور) نجس دي لِأَنَّ الدَّمَ يَنْضِجُ فَيَصِيرُ قَيْحًا ځكه چي (اول خرابه) وينه پخه سي نو كيچه (اومه) زوي ځني جوړ سي ثُمَّ يَزْدَادُ نَضْجًا بيا (وينه) نوره پخه سي فَيَصِيرُ صَدِيدًا نو زوي (نوونه) ځني جوړ سي ثُمَّ يَصِيرُ مَاءً او بيا (په آخر كي) اوبه ځني جوړي سي هٰذَا او دا لوړ ذكر سوی حكم هغه وخت دی إِذَا قَشَرَهَا فَخَرَجَ بِنَفْسِهِ چي كله سړی له دانې څخه پوستكی (خور) جلا كړي او دا (زوي، وينه او نور) پخپله وبهيږي وَأَمَّا إِذَا عَصَرَهَا فَخَرَجَ بِعَصْرِهِ خو كه سړی دانه نځوړ كړي (يعني كښېږي يې كاږي) او ده په كښېكاږلو سره (زوي او نور) را ووځي لَا يَنْقُضُ نو اودس نه ماتيږي لِأَنَّهُ مُخْرَجٌ ځكه چي دا را ايستل سوي دي وَلَيْسَ بِخَارِجٍ او په خپله نه دي راوتلي وَاللهُ أَعْلَمُ او الله زيات خبر لرونكی دی.

اللغات: ﴿قُشِرَتْ﴾ له نصر او ضرب دواړو بابونو څخه راځي: تراشل، پوستكی لرول (يعني له يو شي څخه پوستكی جلا كول) ﴿نَفْطَةٌ﴾ تناكه، مجازاً هر ډول دانې ته ويل كيږي. ﴿صَدِيدٌ﴾ هغه زوي (ژړي اوبه) چي د وينو ګډون پكښې وي، ﴿قَيْحٌ﴾ هغه زوي (ژړي اوبه) چي د وينو ګډون پكښې نه وي (اول په دانه كي ګنده وينه سره يو ځای سي لږ بيا پخه سي نو له دې ګنده ويني څخه كيچه زوي جوړ سي چي په هغه كي د وينو هيڅ ګډون نه وي، وروسته دا كيچه زوي هم پاخه سي نو اصلي

● القول الراجح: قول الجمهور أى لاينقض، كذا فى رد المحتار ج:١، ص:١٠٣. [القول الراجح، ج:١، ص:٨]

زوي ځني جوړ سي او د وينو څه نا څه ګډون پکښي وي، وروسته تر دې لا پاخه سي چي آخر نرى اوبه ځني جوړي سي، او دا يې آخري حد دى) ﴿يَنْبُضُ﴾ د ضرب د باب مضارع دى: په قدرتي سبب سره د يو شي پخېدل (يعني له لور او داسي نورو شيانو څخه بغير د يو شي پخېدل).

تشريح: مسئله: دا ده كه له دانې څخه پوستكى(خېرى) جلا سو، بيا زوي او ژړي اوبه يا له دې څخه ماسوا نور شيان ځني را ووتل نو په دې كي دوه صورته دي: سيلان(بهېدل) به پكښي راغلى وي يا نه وي، كه سيلان پكښي راغلى وو(يعني زوي بهېدلي وي) نو اودس ماتيږي، او كه سيلان نه وو راغلى نو اودس نه ماتيږي، دا مسلک له امام زفر رَحِمَهُ الله څخه ماسوا د نورو احنافو دى.

او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو صورتونو كي اودس ماتيږي كه سيلان راغلى وي او كه نه وي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو صورتونو كي اودس نه ماتيږي، په حقيقت كي دا مسئله د خارج من غير سبيلين ده. يعني د متيازو او د غايطو له لاري څخه علاوه چي له يو بل ځاى څخه يو شى را ووځي، نو دا د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز مطلقاً اودس ماتيږي، كه سيلان راغلى وي او كه نه وي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز مطلقاً اودس نه ماتيږي، او زموږ په نيز كه سيلان راغلى وي نو اودس ماتيږي، كنې نه ماتيږي.

وهذه الجملة الخ صاحب د هدايې فرمايي چي دا ټوله يعني له دانې او زخم څخه را وتلي اوبه، پاخه زوي، او كچه زوي ټوله نجس دي، ځكه كله چي خرابه او ګنده وينه پخه سي نو كچه زوي ځني جوړيږي، بيا نوره پخه سي نو پاخه زوي ځيني جوړيږي، بيا په آخر كي دا پاخه زوي ډېر نري سي اوبه وګرځيږي، نو كله چي دا ټوله ناپاكه دي. نو خروج د نجاست پيدا سو، او خروج د نجاست په شرط د سيلان اودس ماتوي، نو ځكه به په دغه صورتونو كي لودس مات وي.

هذا إذا قشرها...الخ د دې حاصل دا دى چي په مخكني صورت كي دا د لودس ماتېدلو حكم په هغه وخت كي صحيح دى چي كله سرى له دانې څخه پوست(خور) واړوي او مواد په خپله راووځي، (او د ده په كښېكاږلو سره نه راووځي) او كه مواد په خپله نه راووځي بلكي د ده په كښېكاږلو سره را ووځي نو په دې صورت كي لودس نه ماتيږي ځكه دا په خپله نه دي راوتلي بلكي را ايستل سوي دي، (خو غوره دا ده چي كه په دې صورت كي هم د سيلان قدلاړي ته ورسيږي، نو اودس به ماتيږي، له مخكني دلائلو څخه همدغه معلوميږي) والله اعلم.

راجح قول: په پورتني مسئله كي راجح قول د جمهورو دى، يعني كه له دانې څخه زوي او اوبه نه را وبهيږي. نو لودس نه ماتيږي، كما قال العلامة ابراهيم الحلبي رَحِمَهُ الله وان لم يسل عن رأس الجرح لا ينقضه (الحلبي ص:١٣١). (القول الراجح ج:١، ص:١٨)



فَصْلٌ فِي الْغُسْلِ

(دا) فصل د غسل (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: صاحب د هدایې د غسل بیان د اوداسه تر بیان وروسته ذکر کړی، د دې څلور وجهې دي: ① د غسل په نسبت اودس ته حاجت زیات دی ② د اودس محل (ځای) د بدن جزء دی او د غسل محل د بدن کُل دی او جزء پر کل مخکې وي ③ په قرآن کریم کې هم مخکې د اوداسه او بیا د غسل د احکامو بیان سوی دی ④ په اوداسه کې د حدث اصغر (کوچنی بې اودسي) په وجه طهارت حاصلیږي او په غسل کې د حدث اکبر (غټې بې اودسی) په وجه طهارت حاصلیږي، او د اکبر په مقابله کې واصغر ته اولیّت او وړاندیتوب حاصل دی.

د غسل فرضونه

وَفَرْضُ الْغُسْلِ او د غسل فرض الْمَضْمَضَةُ وَالْاِسْتِنْشَاقُ خوله او پزه پرېولل دي وَغَسْلُ سَائِرِ الْبَدَنِ او د ټوله بدن پرېولل دي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ هُمَا سُنَّتَانِ فِيْهِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دا دواړه سنت دي په غسل کې لِقَوْلِهِ عليه السلام● ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ لس شیان له فطرت (یعني له سنت) څخه دي وَ ذُكِرَ مِنْهَا الْمَضْمَضَةَ وَ الْاِسْتِنْشَاقَ او له هغو څخه یې مضمضه او استنشاق (هم) ذکر کړل وَلِهٰذَا كَانَا سُنَّتَيْنِ فِي الْوُضُوْءِ همدا وجه ده چې دا دواړه په اودس کې سنت دي وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالٰى او زموږ دلیل د الله تعالیٰ (دا) قول دی وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا او که تاسو ناپاکه (جنب) واست نو ښه پاکي کوئ أَمَرَ بِالْإِطِّهَارِ (الله تعالیٰ په دې آیت کې) د اطهار (یعني د پاکی حاصلولو) حکم کړی دی وَهُوَ أَمْرٌ بِتَطْهِيْرِ جَمِيْعِ الْبَدَنِ او اِطهار حکم دی د ټوله بدن د پاکولو إِلَّا أَنَّ مَا تَعَذَّرَ إِيْصَالُ الْمَاءِ إِلَيْهِ مګر هغه ځای چې هغه ته د اوبو رسول ممکن نه وي خَارِجٌ عَنِ النَّصِّ هغه د دې آیت (له حکم) څخه خارج دی بِخِلَافِ الْوُضُوْءِ په خلاف د اوداسه لِأَنَّ الْوَاجِبَ فِيْهِ غَسْلُ الْوَجْهِ ځکه چې په اوداسه کې واجب د مخ پرېولل دي وَالْمُوَاجَهَةُ فِيْهِمَا مُنْعَدِمَةٌ او په دې دواړو (مضمضه او استنشاق) کې مواجهت (مخامخ والي) نسته وَالْمُرَادُ بِمَا رَوٰى او مراد له هغه څخه چې (امام شافعي) یې روایت کړی دی حَالَةُ الْحَدَثِ د بې اودسی حالت دی بِدَلِيْلِ قَوْلِهِ عليه السلام● د نبي ﷺ (د دې) قول په دلیل سره إِنَّهُمَا فَرْضَانِ فِي الْجَنَابَةِ (چې) دا دواړه په جنابت کې فرض دي سُنَّتَانِ فِي الْوُضُوْءِ (او) په اوداسه کې سنت دي.

● تخریج: أخرجه أصحاب الصحاح إلا البخاري، مسلم في الطهارات حديث رقم:۵۶، ابو داؤد في كتاب الطهارة باب رقم:۲۹، ترمذي في الأدب باب رقم:۱۴، نسائي في الزينة باب رقم:۱ وابن ماجه في الطهارة باب رقم:۸ و ايضاً الامام احمد في المسند.

● تخریج: أخرجه دارقطني في باب المضمضة والاستنشاق باب رقم:۴۲، حديث رقم:۲۰۳ لا بلفظه ولكن بمعناه.

اللغات: ﴿سائر﴾ ټوله، تمام، ﴿إطّهار﴾ د افتعال له باب څخه اسم مصدر دی په اصل کې إطتهار وو، د صرفي قوانینو په وجه سره إطّهار سو معنیٰ يې ده: په پرېوللو کې مبالغه کول، یو شی په بشپړه توګه پرېولل. ﴿إغسال﴾ د افعال له باب څخه اسم مصدر دی: رسوول، ﴿المنعدمة﴾ د انفعال له باب څخه مؤنث اسم فاعل دی: نه ختمېدل، نه پیدا کېدل، د وجود ضد.

تشريح: صاحب د هدایې د اوداسه تر بیان وروسته د غسل بیان او تفصیلات وړاندې کوي نو وایي چې د احنافو په نېز(په غسل کې) درې شیان فرض دي: ① خوله پرېولل ② پزه پرېولل ③ ټوله بدن پرېولل.

امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې خوله پرېولل سنت(مسنون) دي لکه څرنګه چې په اوداسه کې سنت دي.

دليل: د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې نبي ﷺ فرمایلي دي: لس شیان له فطرت څخه دي یعنې سنت دي، بعضو ویلي دي چې په دې لسو شیانو کې د پنځو تعلق د سر (رأس) سره دی او د پنځو تعلق د بدن سره دی. نو د کومو شیانو تعلق چې د سر سره دی هغه دا دي:

① د سر په مینځ کې لار ایستل، ② مسواک وهل، ③ خوله پرېولل، ④ پزه پرېولل، ⑤ برېتونه غچې کول (کوچني کول).

او د کومو شیانو تعلق چې د بدن سره دی هغه دا دي:

① ختنه (سنتونه)، ② تر نامه لاندې وربېښتیان خریل، ③ د بغل وربېښتیان کښل، ④ نوکان پرېکول، ⑤ په اوبو سره استنجاء کول.

له دې حدیث څخه معلومه سوه چې خوله او پزه پرېولل سنت دي.

عقلي دليل: د امام شافعي او امام مالک عقلي دلیل دا دی چې دوی د غسل د مضمضې او استنشاق قیاس د اوداسه پر مضمضې او استنشاق باندې کوي، یعنې څرنګه چې په اوداسه کې خوله او پزه پرېولل سنت دي، همدغه رنګه به په غسل کې هم سنت وي.

زموږ دليل: دا دی چې الله تعالیٰ فرمایلي دي: که تاسو د جنابت په حالت کې یاست نو بنه پاکي حاصله کړئ، یعنې الله رب العزت مکلفینو ته على سبيل المبالغه (د مبالغې په توګه) د ټوله بدن د پرېوللو حکم کړی دی. ځکه چې فرمایلي يې دي: فَاطَّهَّرُوا، او د مبالغې په توګه تطهیر د ټوله بدن پرېوللو ته ویل کېږي، خو که یو ځای ته اوبه رسول ناممکنه وي نو هغه له دې حکم څخه خارج دي لکه د سترګو دننه حصه، او چیري چې د اوبو په رسولو کې تکلیف او سختي نه وي هغه تر دې حکم لاندې راځي، نو څرنګه چې پزې او خولې ته دننه اوبه سول آسانه دي او هیڅ حرج پکښې نسته نو ځکه به د دواړو پرېولل د کتابُ الله په حکم سره فرض وي.

بخلاف الوضوء الخ له دې ځای څخه د امام شافعي رَحِمَهُ الله جواب ورکوي، چې غسل پر اودسه قیاسول صحیح نه دي. ځکه چې په اودسه کې د مخ(وجه) پرېولل په دې آیت کې په وجوهکم سره فرض سوي دي، او وجه له مواجهت څخه مشتق ده، او مواجهت یعنې مخامخوالي خو په مخ کې سته او په مضمضه او استنشاق(یعنې د خولې او پزې په پرېوللو) کې مواجهت نسته (ځکه چې هر لیدونکي انسان ته د بل انسان مخ په نظر راځي، خو د خولې او پزې دننه حصه يې په نظر نه ورځي) نو کله چې په مضمضه او استنشاق کې مواجهت سته نه، نو دا به د مواجهت والا پر صورت قیاسول څرنګه صحیح وي؟

والمراد بما روىٰ الخ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله ذکر سوی حدیث به پر اوداسه حمل کيږي، ځکه چي له ابن عباس او جابر رضي الله عنهم څخه روایت سوی دی چي مضمضه او استنشاق د جنابت په غسل کي فرض دي او په اودس کي سنت دي.

د غسل سنت طريقه

وَسُنَّتُهُ أَنْ يَبْدَأَ الْمُغْتَسِلُ او د غسل (سنت) طریقه دا ده چي (کله) غسل کونکی (غسل) شروع کړي فَيَغْسِلَ يَدَيْهِ وَفَرْجَهُ نو خپل دواړه لاسونه او شرمګاه (فرج) دي پرېولي وَيُزِيْلُ نَجَاسَةً إِنْ كَانَتْ عَلٰى بَدَنِهِ او نجاست دي لیري کړي که د هغه پر بدن نجاست وو ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوْءَهُ لِلصَّلٰوةِ بيا دي د لمانځه د اودس په څېر اودس وکړي إِلَّا رِجْلَيْهِ خو پښې (دي نه پرېولي) ثُمَّ يُفِيْضُ الْمَاءَ عَلٰى رَأْسِهِ وَسَائِرِ جَسَدِهِ ثَلٰثًا بيا دي پر خپل سر او ټوله بدن درې واره اوبه واچوي ثُمَّ يَتَنَحّٰى عَنْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ بيا دي له هغه ځای څخه لیري سي فَيَغْسِلُ رِجْلَيْهِ نو خپلي پښې دي پرېولي هٰكَذَا حَكَتْ مَيْمُوْنَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا همدغه ډول رانقل کړی دی حضرت میموني رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اِغْتِسَالَ● رَسُوْلِ اللهِ (ص) د نبي ﷺ غسل وَإِنَّمَا يُؤَخِّرُ غَسْلَ رِجْلَيْهِ او د دواړو پښو پرېولل به په دې وجه وروسته کوي لِأَنَّهُمَا فِيْ مُسْتَنْقَعِ الْمَاءِ الْمُسْتَعْمَلِ ځکه چي دواړه پښې د مستعملو اوبو د جمع کېدلو په ځای کي وي فَلَا يُفِيْدُ الْغَسْلُ نو (د نه وروسته کولو په صورت کي) د هغو پرېولل هیڅ فایده نه کوي حَتّٰى لَوْ كَانَ عَلٰى لَوْحٍ (همدغه وجه ده) که (غسل کوونکی) پر یوه تخته (ولاړ) وو لَا يُؤَخِّرُ نو (د پښو پرېولل به) نه وروسته کوي وَإِنَّمَا يَبْدَأُ بِإِزَالَةِ النَّجَاسَةِ الْحَقِيْقِيَّةِ او د حقیقي مرداري په لیري کولو به ځکه شروع کوي کي لَا تَزْدَادَ بِإِصَابَةِ الْمَاءِ چي د اوبو د رسېدلو په وجه نجاست نور زیات نه سي (یعني ونه خوربږي).

اللغات: ﴿يُفِيْضُ﴾ د افعال له باب څخه مضارع ده: أفاض يُفِيْضُ إفاضةً: بیول (بهول)، ﴿يَتَنَحّٰى﴾ د تفعّل له باب څخه مضارع ده: لیري کېدل، ایسته کېدل، ﴿مُسْتَنْقَع﴾ د اوبو د رډېدلو ځای، د اوبو د راټولېدلو ځای، هغه تالاب چي په هغه کي زیاتره اوبه ولاړي وي.

تشریح: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي د غسل سنت طریقه بیان کړې ده، یعني دا طریقه له نبي کریم ﷺ څخه رانقل سوې ده، فرمایي: په غسل کي سنت طریقه دا ده (۱) چي له ټولو څخه مخکي دي دواړه لاسونه تر مړوندو پوري پرېولي ځکه همدغه دواړه د پاکولو آلې دي، (۲) او بیا دي په اوبو سره شرمګاه پرېولي، ځکه چي شرمګاه د نجاست محل دی، نو دا احتمال سته چي نجاست دي پر لګېدلی وي، (۳) او که پر بدن باندې نجاست حقیقیه لګېدلی وي، هغه دي هم لیري کړي چي د اوبو په بهولو سره هغه نشر نه سي او نور زیات نه سي، (۴) بیا دي داسي اودس وکړي لکه څرنګه چي د لمانځه لپاره اودس کوي خو پښې دي نه پرېولي (۵) بیا دي پر سر درې واره اوبه وبهوي (۶) او درې واره دي پر ټوله بدن باندې اوبه تیري کړي (۷) بیا دي له دې ځای څخه لیري سي (۸) او دواړه پښې دي پرېولي (دغه اته کارونه په همدغه ترتیب سره سنت دي).

● تخريج: أخرجه أصحاب الصحاح، البخاري في الغسل باب رقم:٨، حديث رقم:٢٥٨، ومسلم في الحيض حديث رقم:٣٨٣٧، وابو داؤد في الطهارة باب رقم:٩٧، حديث رقم:٢٤٥.

د اوبو په بهولو کې درې قولونه: ① شمس الائمه حلواني رَحِمَهُ الله وېلي دي چې اول دې پر راسته وږه او بيا دې پر چپه وږه باندې اوبه واچوي او بيا دې پر ټوله بدن درې واره اوبه تيرې کړي، ② او بعضو وېلي دي چې له سر څخه دې شروع وکړي، د قدوري له عبارت څخه همدغه معلومېږي، ③ او بعضو وېلي دي چې له راسته اوږې څخه دې شروع وکړي بيا دې پر سر او بيا دې پر چپه اوږه اوبه واچوي.

د نبي ﷺ د غسل طريقه: صاحب د هدايې فرمايي چې حضرت ميمونې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبي ﷺ غسل همداسې بيان کړی دی، د فتح القدير مصنف شيخ ابن الهمام پوره حديث داسې ذکر کړی دی:

روى الجماعة عنها قالت: وضعت النبي ﷺ ماء يغتسل به فافرغ على يديه فغسلهما مرتين او ثلثا ثم افرغ بيمينه على شماله فغسل مذاكيره ثم دلك يده بالارض ثم تمضمض واستنشق ثم غسل وجهه ويديه ثم غسل رأسه ثلاثا ثم افرغ على جسده ثم تنحى عن مقامه فغسل قدميه.

(له حضرت ميمونې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه يو جماعت روايت کړی دی چې حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي: ما د نبي ﷺ لپاره د غسل اوبه کېښېښولې، نو (اول ځل) نبي ﷺ پر خپلو دواړو لاسو اوبه واچولې، دوه يا درې واره يې خپل لاسونه پرېولل، بيا دوی ﷺ په خپل راسته لاس سره پر چپه لاس اوبه واچولې بيا يې خپله شرمګاه پرېوله بيا يې خپل لاس پر ځمکه ومږی، بيا يې خوله او پزه پرېولل، بيا يې مخ او لاسونه پرېولل بيا يې درې واره خپل سر پرېولی بيا يې پر ټوله بدن اوبه تيرې کړې بيا له دې ځای څخه ليرې سو خپلې پښې يې پرېولې.

وإنما يؤخر الخ صاحب د هدايې فرمايي چې (په پرېوللو کې به) پښې ځکه وروسته کيږي چې هغه د ماء مستعمل د جمع کېدلو په ځای کې وي، نو که يو څوک پر لوړ ځای يا پر تخته يا ډبره يا نورو باندې ودرېږي نو د پښو وروسته کولو هيڅ ضرورت نسته.

په غسل کې د ښځې د کوڅې (کوسې) د خلاصولو حکم (او د ږيرې د پرېوللو حکم)

وَلَيْسَ عَلَى الْمَرْأَةِ أَنْ تَنْقُضَ ضَفَائِرَهَا فِي الْغُسْلِ او پر ښځې په غسل کې خپلې کوڅې خلاصول واجب نه دي إِذَا بَلَغَ الْمَاءُ أُصُولَ الشَّعْرِ (په دې شرط) چې اوبه د ورېښتيانو و بېخو ته ورسيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ ● لِأُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ځکه نبي ﷺ حضرت أم سلمیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته وفرمايل يَكْفِيكِ إِذَا بَلَغَ الْمَاءُ أُصُولَ شَعْرِكِ ستا لپاره (دا) کافي دي چې اوبه ستا د ورېښتيانو و بېخو ته ورسيږي وَلَيْسَ عَلَيْهَا بَلُّ ذَوَائِبِهَا او پر ښځې د خپلو زلفو (څنو) لندول هم واجب نه دي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح دی لِمَا فِيهِ مِنَ الْحَرَجِ ځکه چې په دې کې تکليف دی بِخِلَافِ اللِّحْيَةِ په خلاف د ږيرې لِأَنَّهُ لَا حَرَجَ فِي إِيصَالِ الْمَاءِ إِلَى أَثْنَائِهَا ځکه چې د ږيرې مېنځ ته په اوبو رسولو کې هيڅ تکليف نسته.

اللغات: ﴿تنقض﴾ د نصر له باب څخه مضارع ده: نَقَضَ يَنْقُضُ: ماتول، د اوبدل سوي (وودل سوي) رسۍ ول خلاصول، ﴿ضفائر﴾ جمع د ضفيرة او ضفار ده: کوڅې، چوټي، او د ضفيرة معنیٰ ده: د ښځې د اوبدل سوو ورېښتيانو يو ول،

● تخريج: أخرجه مسلم بهذا اللفظ حديث رقم: ۳۳۰، باب فى الحيض، و ابو داؤد فى كتاب الطهارة باب رقم: ۹۹، حديث رقم: ۲۵۱، وترمذي في الطهارة باب رقم: ۷۷، حديث رقم: ۱۰۳.

﴿أُصُول﴾ جمع د أَصل ده: بنياد او بيخ، ﴿بِلّ﴾ د نصر له باب څخه مصدر دی: لندول، خيشتول، ﴿ذَوَائِب﴾ د ورېښتيانو ول، زلفي (څڼي)، له بيخ څخه ليري وربښتيان، ﴿أَثْنَاء﴾ مينځ، دوران.

تشريح: مسئله: دا ده چي که د ښځي د سر د وربښتيانو و بيخ ته اوبه ورسيږي نو پر دې باندي دا واجب نه دي چي خپلي کوڅۍ يعني وودل سوي وربښتيان خلاص کړي، دليل يې په صحيح مسلم او نورو کي د أم سلمه رضی الله عنها حديث دی: قلت يا رسول الله إني أمرأة أشدّ ضفر رأسي أفأنقضه في غسل الجنابة فقال لا إنما يكفيك أن تحثي على رأسك ثلاث حثيات ثم تفيضين عليك الماء فتطهرين. (فتح القدير)

(أم سلمه رضی الله عنها ووېل يا رسول الله! زه يو داسي ښځه يم چي خپل وودل سوي وربښتيان ټينګ ترم. نو آيا د جنابت په غسل کي دا خلاصوم. نبي ﷺ وفرمايل: چي نه! بلکي ستا لپاره دغه کافي ده چي پر خپل سر درې لپي اوبه واچوې بيا پر خپل بدن باندي اوبه وبيوې (وبهوې) نو ته به پاکه سې). له دې حديث څخه معلومه سوه چي پر ښځي باندي د وربښتيانو لندول واجب نه دي.

وليس عليها...الخ صاحب د هدايې فرمايي: څرنګه چي پر ښځه باندي د وودل سوو وربښتيانو خلاصول ضروري نه دي، همدغه ډول پر دې باندي د څڼو (زلفو) لندول هم واجب نه دي، همدغه صحيح ده. دليل يې دا دی چي د ښځي په حق کي د زلفو (څڼو) لندول تکليف دی، د دې په خلاف ږيره چي د ږيري ومينځ ته اوبه رسول اسانه دي او هيڅ تکليف پکښي نسته، نو ځکه د ږيري ومينځ ته اوبه رسول واجب دي، همدغه ډول که د ښځي وربښتيان خلاص وه، نو د هغو مينځ ته هم اوبه رسول واجب دي، ځکه چي اوس په دې کي هيڅ حرج او تکليف نسته.

د غسل واجبوونکي اسباب

قال(القدوري): وَالْمَعَانِي الْمُوجِبَةُ لِلْغُسْلِ امام قدوري فرمايي: او هغه اسباب کوم چي غسل واجبوي إِنْزَالُ الْمَنِيِّ عَلَى وَجْهِ الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ انزال د مني وو دی په طريقه د ټوپ او شهوت سره مِنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ د سړي له طرفه وي او که د ښځي حَالَةَ النَّوْمِ وَالْيَقَظَةِ د خوب په حالت کي وي او که د وېښتوب وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ خُرُوجُ الْمَنِيِّ كَيْفَمَا كَانَ يُوجِبُ الْغُسْلَ او د امام شافعی رَحِمَهُ الله په نيز چي مني هر ډول ووځي غسل واجبوي لِقَوْلِهِ عليه السلام ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي اَلْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ (چي) اوبه له اوبو څخه واجبيږي أَيْ الْغُسْلُ مِنَ الْمَنِيِّ يعني غسل د مني په وجه واجبيږي وَلَنَا أَنَّ الْأَمْرَ بِالتَّطْهِيرِ يَتَنَاوَلُ الْجُنُبَ او زموږ دليل دا دی چي د بدن پاکولو حکم جنب ته شامل دی وَالْجَنَابَةُ فِي اللُّغَةِ خُرُوجُ الْمَنِيِّ عَلَى وَجْهِ الشَّهْوَةِ او جنابت په لغت کي وتلو د مني ته وايي په طريقه د شهوت سره يُقَالُ: أَجْنَبَ الرَّجُلُ ويل کيږي أجنب الرجل (هغه وخت) إِذَا قَضَى شَهْوَتَهُ مِنَ الْمَرْأَةِ کله چي سړی له ښځي څخه

● تخريج: اخرجه مسلم في الحيض حديث رقم: ٨١، و ابو داؤد في كتاب الطهارة باب رقم: ٨٣

خپل شهوت پوره کړي وَالْحَدِيْثُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى خُرُوْجِ الْمَنِيِّ عَنْ شَهْوَةٍ او حديث محمول دی په شهوت سره د مني وو پر وتلو باندې ثُمَّ الْمُعْتَبَرُ عِنْدَ● أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى اِنْفِصَالُه عَنْ مَكَانِهٖ عَلٰى وَجْهِ الشَّهْوَةِ بيا د طرفينو په نېز مني په شهوت سره له خپل محل څخه جلا کېدل معتبر دي وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ ظُهُوْرُهٗ اَيْضًا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د مني وو ښکاره کېدل (هم معتبر) دي اِعْتِبَارًا لِلْخُرُوْجِ بِالْمُزَايَلَةِ (ځکه امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله) خروج (راوتل) پر جلا کېدلو باندې قياسوي إِذْ الْغُسْلُ يَتَعَلَّقُ بِهِمَا ځکه چې غسل د دواړو سره تعلق لري وَلَهُمَا أَنَّهٗ مَتٰى وَجَبَ مِنْ وَجْهٍ او د طرفينو دليل دا دی چې هر کله په يوه وجه سره (غسل) واجب سو فَالْاِحْتِيَاطُ فِي الْاِيْجَابِ نو بيا احتياط (د هغه) په واجبولو کې دی.

اللغات: ،﴿إنزال﴾ د افعال د باب مصدر دی معنیٰ يې ده: کښته راتلنه، مني راوتل، دا په اصل کې له نُزاله څخه را اخيستل سوی دی چې معنیٰ يې ده: د نارينه اوبه، ﴿الدَّفق﴾ په جوش او فشار سره را وتل، د اوبو او نورو شيانو په زور او فشار سره بهېدل يا ايشېدل، ﴿الشَّهْوة﴾ وېښتوب، بيداري، ﴿المُزَايلة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: د دوو شيانو يو تر بله سره جلا کېدل.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله په دې عبارت کې د غسل واجبونکي شيان بيان کړي دي، اول سببٰ په شهوت او ټوپ (را غورځېدلو) سره د مني وو وتل دي هغه که د نارينه له شرمګاه څخه راووځي او که د ښځې، د خوب په حالت کې وي او که د وېښتوالي، په هر صورت کې غسل واجبيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چې مطلقا د مني وو په راوتلو سره غسل واجبيږي هغه که په شهوت سره راووځي او که بغير له شهوته، نو که د درانه شي او وزن پورته کولو په وخت کې مني را ووځي يا له لوړ ځای څخه د راولېدلو په وجه مني راووځي يا پر ملا باندې د چلاخي يا بل شي د لګېدلو په وجه مني راووځي نو په دې ټولو صورتونو کې زموږ په نېز غسل نه واجبيږي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز واجبيږي.

دليل: د امام مالک او امام شافعي دليل د نبي ﷺ دا قول دی: الماء من الماء، (يعني غسل د مني د راوتلو په وجه واجبيږي)، دوی فرمايي چې دا حديث د شهوت له قيد څخه مطلق دی،(يعني دا قيد پکښې نسته چې که مني په شهوت سره را ووځي نو غسل واجبيږي، کنې نه واجبيږي) نو ځکه به دا حديث د المطلق يجرى على اطلاقه مطابق پر خپل اطلاق پاته وي.

زموږ دليل: دا دی چې الله تعالیٰ فرمايي: وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا [سورة المائدة: ٦] په دې آيت کې د تطهير (پاکولو) حکم و جُنُب سړي ته سوی دی، او په لغت کې جنابت وايي په شهوت سره د مني را وتلو ته، او کله چې يو سړی له ښځې څخه خپل شهوت پوره کړي نو عرب وايي: أجنب الرجل، نو معلومه سوه چې په شهوت سره د مني راوتلو ته جنابت وايي، نو ځکه به په شهوت سره د مني وو د انزال په وجه غسل واجبيږي.

● القول الراجح: هو قول أبي حنيفه و محمد رحمهما الله كذا في فتح القدير ج:١، ص:٢٥، و رد المحتار ج:١، ص:١١٩. [القول الراجح ج:١، ص:٩]

د دليل جواب: د امام مالک او امام شافعي د دليل جواب دا دی چې دا حديث پر خروج المني بالشهوة باندې حمل کيږي، ځکه چې دا حديث د خپلو الفاظو په اعتبار سره عام دی، هغه په دې وجه چې دا حديث متيازو، مذی، ودي، مني بالشهوة او بغير الشهوة ټولو ته شامل دی، او په اتفاق سره په حديث کې ټوله شيان مراد نه دي، ځکه چې د ټولو شيانو په وجه غسل نه واجبيږي، نو څرنګه چې په مني بالشهوة سره بالاتفاق غسل واجبيږي، نو ځکه به حديث هم پر هم دغه حمل کيږي.

زموږ د مسلک تائيد: حضرت عائشې رضی الله عنها چې کوم تعريف د مني وو کړی دی په هغه سره هم زموږ د مذهب تائيد کيږي، فرمايلي يې دي: المني خاثر أبيض ثخين ينكسر منه الذكر يعني مني خنډ(ګاټه) او سپين وي چې د هغه په وتلو سره آله د تناسل(ذکر) ماتيږي (يعني چې مني ووځي نو ذکر مړ سي او را وځړيږي)، او دا خبره ښکاره ده چې انکسار(مړوالی او ځړېدل) تر شهوت وروسته وي، نو معلومه سوه چې بغير له شهوت څخه چې کوم مني راوځي هغه ګر سره داسې مني نه دي چې د هغه په وجه غسل واجب سي.

د طرفينو او د امام ابو يوسف په مينځ کې اختلاف: د أحنافو علماء خو پر دې خبره متفق دي چې د غسل واجبېدلو لپاره دا ضروري دي چې مني کله له خپل ځای څخه را جلا سي نو شهوت به ور سره وي، خو کله چې له ذکر څخه راووځي(او ښکاره سي) نو په دې وخت کې به شهوت ور سره وي، که نه؟ په دې باره کې اختلاف دی، د طرفينو په نيز د مني وو د ښکاره کېدلو په وخت کې د شهوت شتون(وجود) ضروري نه دی، او د امام ابو يوسف رحمه الله په نيز په دې وخت کې هم د شهوت شتون ضروري دی.

دليلونه: د امام ابو يوسف رحمه الله دليل قياس دی يعني څرنګه چې له خپل ځای يعني ملا څخه د جلا کېدلو په وخت کې شهوت ضروري دی دغه ډول به له ذکر څخه د وتلو په وخت کې هم شهوت ضروري وي، او د دواړو په مينځ کې جامع خبره دا ده چې د غسل تعلق د دواړه سره دی.

د طرفينو دليل دا دی چې کله له (ملا څخه د) جلا کېدلو په وخت کې چې شهوت وي، نو د دې تقاضا دا ده چې غسل دي واجب وي او کله چې له (ذکر څخه د) را وتلو په وخت کې شهوت نه وي، نو د دې تقاضا دا ده چې غسل دي واجب نه وي، نو په دې صورت کې د غسل د واجب کېدلو او نه واجب کېدلو دواړه احتماله سته، خو موږ دلته پر احتياط عمل کوو، او غسل واجبوو.

ثمره د اختلاف: دا ده چې مثلاً يو سړي موټ ووهی او خپل ذکر(د تناسل آله) يې ونيول، بيا چې کله شهوت ختم سو، نو ذکر يې ايله کړی او مني بغير له شهوته را ووتل نو په دې صورت کې د طرفينو په نيز غسل واجبيږي، او د امام ابو يوسف رحمه الله په نيز غسل نه واجبيږي.

راجح قول: په دې مسئله کې راجح قول د طرفينو دی، علامه ابن عابدين رحمه الله فرمايي چې: زياتره کتابونه د امام ابو يوسف رحمه الله په خلاف دي حتی بحرا الرائق او نهر هم، هغو ويلي دي چې د امام ابو يوسف رحمه الله قول قياس دی او د طرفينو قول استحسان دی او په استحسان کې ډېر احتياط سته. (رد المحتار ص:١١٩) او وګورئ: (القوال الراجح ج:١، ص:٩٠)

د ودي او مذي حکم

دلته درې الفاظ ديادوني وړ دي: (١) مني، (٢) مذي، (٣) ودي، د اول په وجه غسل واجبيږي، د دويم او دريم په وجه اودس واجبيږي، د دوی په مينځ کې فرق عبد الرزاق په خپل کتاب کې له قتاده او عکرمه څخه روايت کړی دی فرمايي

چې مني هغه را څوروڅېدونکي وابه دي چې په هغه کې شهوت وي او بچي څيني پيدا کيږي، او مذي هغه اوبه دي کوم چې د خپلې ښځې سره د بازۍ په وخت کې را وځي، او ودي هغه اوبه دي چې د متيازو په وخت کې او له متيازو څخه وروسته را وځي. (مبني)

التقاء د ختانينو غسل واجبوي که نه؟

وَالْتِقَاءُ الْخِتَانَيْنِ مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ او د ښځې او سړي شرمګاوي (ختانين) په خپل مينځ کې سره موښتل (جنګېدل هم غسل واجبوي) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا الْتَقَى الْخِتَانَانِ وَ غَابَتِ الْحَشَفَةُ چې کله دواړه ختانين سره يو ځای سي (ومبتلي) او حشفه پټه سي وَجَبَ الْغُسْلُ نو غسل واجب سو أَنْزَلَ أَوْ لَمْ يُنْزِلْ که انزال سوی وي، که نه وي وَلِأَنَّهُ سَبَبُ الْإِنْزَالِ او په دې وجه (هم) چې التقاء د ختانينو سبب د انزال دی وَ نَفْسُهُ يَتَغَيَّبُ عَنْ بَصَرِهِ او په خپله انزال د انسان له نظر څخه پټ وي وَ قَدْ يَخْفَى عَلَيْهِ لِقِلَّتِهِ (بلکې) کله کله انزال هم د مني وو د کمښت په وجه پټ وي فَيُقَامُ مَقَامَهُ نو التقاء د ختانينو د انزال قائم مقام سو وَكَذَا الْإِيلَاجُ فِي الدُّبُرِ او همدارنګه (غسل واجبيږي) په دُبر کې په داخلولو سره لِكَمَالِ السَّبَبِيَّةِ ځکه چې سبب کامل دی وَيَجِبُ عَلَى الْمَفْعُولِ بِهِ احْتِيَاطًا او احتياطًا پر مفعول هم (غسل) واجب دی بِخِلَافِ الْبَهِيمَةِ وَ مَا دُونَ الْفَرْجِ په خلاف د حيوان (څاروي) او له فرج څخه علاوه په بل ځای کې (په حشفه پټېدلو سره) لِأَنَّ السَّبَبِيَّةَ نَاقِصَةٌ ځکه چې (په دې شيانو کې) سبب ناقص دی.

اللغات: ﴿خِتَان﴾ د ختنه کولو (سنتولو) ځای، او مجازاً فرج څني مراد ده (هغه که د ښځې وي او که د نر). ﴿حَشَفَة﴾ د نارينه د ذکر سر کوم چې تر سنتولو وروسته ښکاره کيږي، ﴿إِيلَاج﴾ د باب افعال مصدر دی: داخلول، اچول. ﴿دُبُر﴾ د غايطه موادو ځای، د مقعد سوری، ﴿بَهِيمَة﴾ څاروي، له درنده ګانو څخه ماسوا نور حيوانات. ﴿فَرْج﴾ د ښځې عورت يعني شرمګاه (شرم ځای).

تشريح: د مسئلې تر صورت مخکې په دې خبره پوه سئ چې ختان هغه ځای ته ويل کيږي کوم چې د ختنه کولو (سنتولو) په وخت کې پرې‌کول کيږي، څرنګه چې په عربو د نارينه وو په ډول ښځې هم سنتولې، نو ځکه لوس صرف يو لفظ (ختان) د دواړو يعني د نر او ښځې د سنتېدلو ځای ته ويل کيږي، او حشفه د ذکر سر ته ويل کيږي کوم چې تر سنتېدلو وروسته ښکاره کيږي، ابن الهمام ويلي دي چې ختنه (سنتول) د نارينه لپاره سنت دي او د ښځې لپاره مکرمت (يعني ښه کار) دی، ځکه چې د ختنه سوي ښځې سره په جماع کې زيات خوند وي، ښکاره دې وي چې که يو سړی ختنه کول پرېږدي نو پر دې به مجبوره کيږي، که نه؟، هو! که له ختنه کولو څخه د هلاکت غالب ګومان وو، نو نه به مجبوره کيږي، او که ښځې ختنه نه کول، نو دا به په هيڅ وخت کې نه مجبوره کيږي.

● تخريج: أخرجه البخاري في باب الغسل، باب رقم:۲۸، وأخرجه دار قطني حديث رقم:۳۸۶ باب في وجوب الغسل بالتقاء الختانين وإن لم ينزل باب رقم:۴۱، حديث رقم:۳۸۶.

صورت د مسئلې: په عبارت کې د بیان سوي مسئلې صورت دا دی چې که د نارینه او ښځې ختانین یو تربله سره یو ځای سي (وجنګیږي) او حشفه (د ذکر سر) د عورت په شرمګاه کې پټ سي نو پر دواړو غسل واجبیږي که انزال سوی وي، که نه وي.

دلیل: دا حدیث دی: إذا التقى الختانان وغابت الحشفة وجب الغسل أنزل أو لم ينزل. (یعني دواړه ختانین (شرمګاوي) چې کله په خپل مینځ کې سره یوځای سي او حشفه غائبه سي نو غسل واجبیږي که انزال وسي، او که نه وسي).

ولأنه سبب الخ دویم دلیل یې دا دی چې پر کوم شی حکم مرتب وي که هغه پټ (خفي) وي او د هغه یو سبب ښکاره (ظاهر) وي نو دا ښکاره سبب به د دې خفي أمر قائم مقام وي، او حکم به پر دې سبب باندې مرتب وي. نو دلته التقاء ختانین د انزال سبب دی او په خپله انزال پر کوم چې غسل مرتب کیږي هغه یو خفي شی دی، ځکه چې له سترګو څخه پټ وي لو کله نا کله یې د مني د کمښت په وجه احساس هم نه کیږي چې آیا انزال وسو که نه وسو، نو ځکه به التقاءِ ختانین د انزال قائم مقام وي او غسل به پر التقاءِ ختانین مرتب کیږي، نه پر انزال.

وكذا الإيلاج الخ او که علاوه له فرج څخه یې په مقعد (یعني د شا په خوا) کې دخول وکړی نو به هم غسل واجب وي ځکه په دې کې هم پوره سببیّت موجود دی (یعني څومره خوند چې په فرج کې دی تقریباً هغومره خونده په دبر کې هم سته)، تر دې چې ډېر فاسقان په دې توګه قضاءِ شهوت ته ترجیح ورکوي، هم په دې وجه بعضي فقهاؤ ویلي دي چې په لمانځه کې د لغرزنو هلکانو تر ښځو درېدل همدغه رنګه لمونځ فاسدوي، څه رنګه چې د ښځو تر څنګ درېدل لمونځ فاسدوي.

پر مفعول باندې هم احتیاطا غسل واجب دی: صاحب د هدایې فرمایي چې احتیاطًا پر مفعول هم غسل واجب دی ځکه دا احتمال هم سته چې مفعول به هم لذت محسوس کړی وي او مني به یې خارج سوي وي، او دا احتمال هم سته چې هغه به لذت محسوس کړی نه وي، مني به یې خارج سوي نه وي، خو څرنګه چې په طهارت کې احتیاط مطلوب دی نو ځکه به پر مفعول غسل واجب وي، د دې په خلاف که یو سړی په حیوان دخول وکړي، یا له سبیلنو څخه علاوه په ورون یا بل ځای کې یې دا حرکت وکړی نو بغیر له انزاله صرف د ادخال په وجه غسل نه واجبیږي ځکه چې په دې صورتو کې سببیت ناقص دی. او سبب په دې وجه ناقص دی چې فطرتِ سلیمه (سالم طبیعت) له دې څخه نفرت کوي.

د حیض او نفاس حکم

وَالْحَيْضُ او حیض (هم غسل واجبوي) لِقَوْلِهِ تَعَالَى ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي حَتّٰى يَطَّهَّرْنَ تر دې چې ښځې ښه پاکي سي بِالتَّشْدِيدِ (دا صیغه) په تشدید سره (ده) وَكَذَا النِّفَاسُ بِالْإِجْمَاعِ او همدارنګه نفاس (غسل واجبوي) د ټولو په نیز.

اللغات: ﴿حَيْض﴾ هغه متعینه ناروغي کوم چې هره میاشت ښځې ته راځي، ﴿نِفَاس﴾ د ماشوم تر زیږېدلو وروسته چې کومه وینه راځي هغه ته نفاس وایي.

تشریح: د غسل له واجبونکو شیانو څخه یو شی په خپله حیض دی، او بعضو ویلي دي چې د حیض انقطاع (ختمېدل) د غسل سبب دی، دلیل د الله تعالیٰ دا قول دی: حَتّٰى يَطَّهَّرْنَ (د طاء او هاء په شد سره) یعني حیض والا ښځو ته نژدې مه ورځئ تر دې چې هغه ښه پاکي سي، او دا ښه پاکېدل به هغه وخت وي چې کله تر وینو ختمېدلو

ودروسته غسل هم وكړي، لېكن كه دا اعتراض وسي چي يطهرن بغير له تشديد څخه خو قرائت متواتره دى (نو په دي قرائت دي عمل وكړى سي)، جواب دا دى چي دوه قرائتونه په منزله د دوو آيتونو دي، نو امام صاحب رَحِمَهُ الله پر دواړو عمل كړى دى هغه دارنګه چي كله پوره لس ورځي د حيض تيري سي، او وينې بندي سي نو د خاوند لپاره د ښځي سره وطي كول جائز دي كه څه هم غسل نه وكړي، په دې صورت كي به دبې له تشديده قرائت دليل وي، څكه چي كله وينې بندي سي نو ښځه پاكه سوه، او كله چي له لسو ورځو څخه په كمه موده كي وينې بندي سي نو د وطي د جائز كېدلو لپاره پر دې غسل واجب دى، نو په دې صورت كي به د تشديد قرائت دليل وي، او همدغه حكم د نفاس دى يعني د ائمه وو په اجماع سره نفاس هم غسل واجبوي.

د مسنون(سنت) غسل ځايونه

قال: وَسَنَّ° رَسُوْلُ اللهِ (ص) الْغُسْلَ لِلْجُمُعَةِ وَالْعِيْدَيْنِ وَعَرَفَةَ وَالْإِحْرَامِ او رسول الله ﷺ د جمعې، اخترونو، عرفات او احرام لپاره غسل سنت ګرځولى دى صَاحِبُ الْكِتَابِ نَصَّ عَلَى السُّنِّيَّةِ صاحب د كتاب (يعني قدوري) د دې غسلونو د سنتوالي تصريح وكړه (يعني ويې ويل: چي دا غسلونه سنت دي) وَقِيْلَ هٰذِهِ الْأَرْبَعَةُ مُسْتَحَبَّةٌ (لېكن) ويل سوي دي: چي دا څلور (سره غسلونه) مستحب دي وَسَمّٰى مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ حَسَنًا فِي الْأَصْلِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په (خپل) كتاب "الاصل" كي د جمعې د ورځي غسل ته حسن ويلي دي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: هُوَ وَاجِبٌ او امام مالك رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغه واجب دى لِقَوْلِهِ عليه السلام څكه نبي ﷺ فرمايلي دي مَنْ أَتَى° الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ كوم سړى چي د جمعې په ورځ راسي نو غسل دي وكړي وَلَنَا قَوْلُه° عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دى مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ چا چي د جمعې په ورځ اودس وكړى فَبِهَا وَنِعْمَتْ نو ډېر ښه وَمَنِ اغْتَسَلَ فَهُوَ أَفْضَلُ او چا چي غسل وكړى نو دا ډېر فضيلت لري وَبِهٰذَا يُحْمَلُ مَا رَوَاهُ عَلَى الْإِسْتِحْبَابِ أَوْ عَلَى النَّسْخِ او د دغه حديث په وجه به د امام مالك روايت سوى حديث پر استحباب يا پر نسخ باندي حمل كيږي ثُمَّ هٰذَا الْغُسْلُ لِلصَّلَاةِ عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ هُوَ الصَّحِيْحُ بيا دا غسل د امام ابو يوسف په نيز د لمانځه لپاره دى همدا صحيح ده لِزِيَادَةِ فَضِيْلَتِهَا عَلَى الْوَقْتِ څكه د لمانځه فضيلت پر وخت باندي زيات دى (يعني لمونځ تر وخت زيات فضيلت لري) وَاخْتِصَاصِ الطَّهَارَةِ بِهَا او طهارت (هم) خاص دى د لمانځه سره وَفِيْهِ خِلَافُ الْحَسَنِ او په دې كي د حضرت حسن رَحِمَهُ الله اختلاف دى وَالْعِيْدَانِ بِمَنْزِلَةِ الْجُمُعَةِ او دواړه اخترونه د جمعې په درجه كي دي لِأَنَّ فِيْهِمَا الْإِجْتِمَاعُ څكه چي په دې دواړو كي اجتماع ده (يعني خلك سره جمع كيږي) فَيُسْتَحَبُّ الْإِغْتِسَالُ دَفْعًا لِلتَّأَذِّيْ بِالرَّائِحَةِ نو د بدبويي ليري كولو لپاره به

° تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجمعة باب فضل الجمعة، وابن ماجه في كتاب اقامة باب ما جاء في اغتسال في العيدين حديث رقم:۱۳۱۶.

° تخريج: أخرجه البخاري في الجمعة حديث رقم:۸۷۷ ـــ ۷۹۲، و مسلم في باب الجمعة حديث رقم:۱۹۵۱؛ وترمذي في باب الجمعة حديث رقم:۴۹۶.

° تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة باب رخصة في ترك الغسل حديث رقم:۳۵۴، وترمذي في باب وضوء يوم الجمعة حديث رقم:۴۹۷

غسل کول مستحب وي وَأَمَّا فِي عَرَفَةَ وَالْإِحْرَامِ پاته سو په عرفه او احرام کي (د غسل مسئله) فَسَنُبَيِّنُهُ فِي الْمَنَاسِكِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى نو هغه به موږ انشاء الله په "کتاب المناسک" کي بيان کړو.

اللغات: ﴿التَّأَذِّي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: تکليف او رنځ زغمل، تکليف محسوسول. ﴿كَالْمَحَكَّة﴾ بوی (هغه که بنه وي، که بد).

تشريح: صاحب د هدايې د واجب غسل تر بيان وروسته په دې عبارت کي د سنت غسل وختونه بيانوي، د ده او د امام قدوري د صراحت مطابق په څلورو وختونو کي غسل کول سنت دي: ① د جمعې په ورځ ② د اخترونو په ورځ ③ د عرفات په ورځ ④ تر احرام ترلو مخکي.

وقيل الخ د بعضي حضراتو په نېز په دې وختونو کي غسل کول مستحب دی لکه څرنګه چي امام محمد رَحِمَهُ الله په خپل کتاب المبسوط کي د جمعې په ورځ غسل مستحسن ګرځولی دی، لېکن د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز د جمعې په ورځ غسل واجب او ضروري دی.

د امام مالک دليل: د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حديث دی: من أتى الجمعة فليغتسل او په حديث سره دليل په دې توګه نيسي چي په حديث کي په صيغه د امر (فليغتسل) سره د غسل حکم سوی دی او أمر د وجوب لپاره راځي، نو ځکه به د جمعې په ورځ غسل واجب وي.

زموږ دليل: هغه حديث دی کوم چي په کتاب کي ذکر سو يعني: من توضأ يوم الجمعه فبها ونعمت ومن اغتسل فالغسل أفضل، د دې حديث راوي حضرت سمرة بن جندب ﷺ دی، په دې حديث سره موږ په دې توګه دليل نيسي، چي نبي ﷺ د جمعې په ورځ غسل کول أفضل ګرځولي دي، که غسل واجب او ضروري وای نو پر أفضل ويلو به نبي ﷺ اکتفاء نه کولای، بلکي د وجوب او لزوم صراحت به يې خامخا کولای.

د امام مالک د دليل جواب: کوم روايت چي امام مالک رَحِمَهُ الله په دليل کي ذکر کړی، فقهاؤ په خپلو تأويلونو له هغه څخه د غسل أفضيلت او سنتوالی ښکاره کړی دی، او داسي تطبيق يې ورکړی دی چي هيڅ تعارض پاته نه سي: اول تطبيق خو دا دی چي په فليغتسل کي چي د أمر کومه صيغه ده، دا د وجوب لپاره نه ده بلکي د استحباب لپاره ده، ځکه أمر به هغه وخت د وجوب لپاره منل کيږي چي کله ذيو شرعي اصول سره د هغه تعارض نه وي او دلته د حديث سره هم د هغه تعارض سته او د عقل سره هم، د حديث تعارض خو تاسو وليدی، عقلي تعارض په دې توګه دی چي که موږ د جمعې په ورځ غسل واجب وګرځوو نو د ډېر يخ لرونکي سيمو خلک به د پاکوالي سره سره د جمعې له لمانځه څخه محروم پاته سي، په ځانګړي توګه هغه ضعيفه سپين ږيري چي په اوسني وخت کي يې مسجدونه آباد کړي دي د هغو لپاره خو به نوره هم مسئله درنه سي، نو ځکه په فليغتسل کي چي کوم أمر دی هغه خو به د وجوب لپاره ومنل سي، لېکن مصداق او محمل به يې هغه زمانه ومنل سي کوم چي د اسلام د ابتداء او شروع زمانه وه، او د دې خبري موږ هم قائل يو چي د اسلام په ابتداء کي د جمعې او اجتماعاتو پر موقع غسل واجب وو، لېکن وروسته دا حکم منسوخ سو.

او پر دې نسخ باندي ډېر دلائل او شواهد سته، لکه څرنګه چي له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روايت سوی دی: أنهما قالا كان الناس عمال أنفسهم وكانوا يلبسون الصوف ويعرقون فيه

والمسجد قريب السقف فكان يتأذى بعضهم برائحة بعض، فأمروا بالاغتسال، ثم انتسخ حين لبسوا غير الصوف وتركوا العمل بأنفسهم (يعني د اسلام په شروع کې به خلګو خپل کارونه په خپله پوره کول. د وړی کالي به يې اغوستل، چې په هغه کې به دوی خولې کولې او د مسجد بام به هم نژدې وو چې د هغه په وجه به يو او بل ته د خولې (عرق) له بدبويي شخه تکليف وو، نو ځکه دوی ته د غسل لازمي حکم وسو، ليکن کله چې په خلګو کې پراخي پيدا سوه او د وړی جامې او د کارونو په خپله کول يې پرېښوول نو بيا دا لازمي حکم په استحبابي حکم سره بدل سو او د وجوب حکم منسوخ سو) دغه رنګه يو روايت په ابو داؤد شريف کې له حضرت عکرمه شخه هم را نقل سوی دی.

ثم هذا الغسل...الخ له دې ځايه دا را ښيي چې د جمعې په ورځ د غسل د فضيلت او سنت والي تعلق د لمانځه سره دی که د جمعې د ورځې سره دی؟ په دې باره کې د فقهاؤ اختلاف دی. نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د جمعې غسل د جمعې د لمانځه په وجه سره مسنون او مستحب دی. او همدا صحيح ده. ځکه دې ورځې ته چې کوم فضيلت او عظمت حاصل دی هغه ټوله د جمعې د لمانځه په وجه سره دی. او بيا غسل هم د طهارت لپاره وي او د طهارت تعلق د لمانځه سره دی نه د ورځې سره.

صاحب د کتاب په هو الصحيح سره د حسن بن زياد رَحِمَهُ الله د قول رد کوي چې هغه وايي د جمعې غسل د جمعې د ورځې په وجه سنت دی. ليکن دا قول اهميت نه لري، ځکه چې د جمعې ورځې ته چې کوم فضيلت او لوړوالی حاصل دی هغه هم د لمانځه په وجه سره دی.

والعيدان بمنزلة الجمعة...الخ د دې عبارت حاصل دا دی چې شرنګه د جمعې په ورځ غسل کول سنت دي همدغه رنګه د کوچني او لوی اختر په ورځ هم غسل سنت دي. او له نبي ﷺ شخه را نقل سوی دی. لکه شرنګه چې په ابن ماجه کې له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما شخه دا حديث را نقل سوی دی: كان رسول الله ﷺ يغتسل يوم العيدين. او بيا عقلاً هم دا خبره په ذهن کې راځي چې د غسل د ترغيب چې کوم مقصد په جمعه کې سته (يعني د خلګو د خولو د بدبويي ختمېدل) نو هغه په اخترونو کې هم سته. نو ځکه به په اخترونو کې غسل کول هم سنت وي او د قياس مطابق به هم وي.

د مذي او ودي تعريف او حکم

قال: وَلَيْسَ فِي الْمَذِيِّ وَالْوَدِيِّ غُسْلٌ فرمايي: او نسته په مذي او ودي کې غسل وَفِيْهِمَا الْوُضُوْءُ (بلکې) په دې دواړو کې اودس سته لِقَوْلِه ﷺ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي كُلُّ فَحْلٍ● يُمْذِيْ هر سړی مذي کوي وَفِيْهِ الْوُضُوْءُ او په مذي کې اودس سته وَالْوَدِيُّ الْغَلِيْظُ مِنَ الْبَوْلِ او ودي هغه سختې (کاټه) متيازې دي يَتَعَقَّبُ الرَّقِيْقَ چې هغه تر نرمو متيازو وروسته راوځي فَيَكُوْنُ مُعْتَبَرًا بِهِ نو ځکه به دا پر هغه قياسيږي وَالْمَنِيُّ خَاثِرٌ أَبْيَضُ او مني سخت (کاټه) او سپين دي يَنْكَسِرُ مِنْهُ الذَّكَرُ چې د هغو په را وتولو سره ذکر (آله د تناسل) مره کيږي (او راخريږي) وَالْمَذِيُّ رَقِيْقٌ يَضْرِبُ إِلَى الْبَيَاضِ او مذي نری او به دي چې سپينوالي ته مائله دي يَخْرُجُ عِنْدَ مُلَاعَبَةِ الرَّجُلِ أَهْلَهُ (او) هغه وخت راوځي چې

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة باب في المذى، حديث رقم: ٢١١.

کله سرئ د خپلې ښځې سره لوبې کوي وَالتَّفْسِيْرُ مَأْثُوْرٌ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او دا تفسير له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه را نقل سوی دی.

اللغات: ﴿فحل﴾ هر نر ساکښ(جاندار)، ﴿يتعقب﴾ د تفعّل د باب مضارع ده، تعقّب يتعقب: وروسته کېدل، ﴿خاثر﴾ له سمع او فتح او نصر ټولو څخه راځي، اسم فاعل دی: سختېدل(خنډېدل)، ګاټه کېدل، درېدل، له شيدو څخه مستې جوړېدل، ﴿يضرب إلى﴾ د ضرب د باب صله چې کله إلى راسي نو بيا يې معنیٰ راځي: مائله کېدل، کږېدل، مشابه کېدل، ﴿مأثور﴾ د نصر د باب اسم مفعول دی: أَثَرَ يَأْثُرُ: نقل کول، مأثور: منقول، را انقل سوي.

تشريح: صاحب د کتاب فرمايي چې د مذي او د ودي د راوتلو په صورت کې غسل نه واجبيږي لېکن اودس واجبيږي، دليل د نبي ﷺ دا قول كل فحل يمذي وفيه الوضوء دی.

سوال: دلته يو سوال کيږي هغه دا چې کله په مذي او ودي سره اودس واجبيږي او غسل نه واجبيږي نو دا دواړه په فصل في الوضوء کې ذکر کول پکار وو، نه په فصل في الغسل کې.

جواب: دا دی چې دا دواړه د مني سره مشابه دي نو ځکه دا دواړه په فصل في الغسل کې ذکر سول، خو غوره توجيه يې دا ده چې دلته يې د دې دواړه يادونه ځکه وکړه چې امام احمد رَحِمَهُ الله په يو روايت کې د دوی په وتولو سره غسل واجبوي، نو د امام احمد رَحِمَهُ الله د قول د ترديد لپاره يې دلته دواړه ذکره.

سوال: دويم سوال دا کيږي چې کله مخکې دا خبره معلومه سوه چې كل ما خرج من السبيلين(يعني چې کوم شی د متيازو او غايطو د لارې څخه وځي) هغه اودس ماتوي نو په هغه کې د مذي او ودي ذکر هم سته(ځکه چې دا له سبيلينو څخه وځي)نو د جلا بيانولو يې څه ضرورت وو؟

جواب: دا دی چې دلته د امام مالک رَحِمَهُ الله د قول د ترديد لپاره د دواړو صراحةً ذکر سوی دی، ځکه امام مالک رَحِمَهُ الله د دې دواړو په وتولو سره اودس نه واجبوي.



بَابُ الْمَاءِ الَّذِيْ يَجُوْزُ بِهِ الْوُضُوْءُ وَمَا لَا يَجُوْزُ بِهِ

(دا) باب د هغو اوبو (په بيان کې) دی چې په هغو سره اودس جائز دی
او د هغو اوبو (په بيان کې) دی چې په هغو سره اودس جائز نه دی

تشریح: کله چې مصنف رَحِمَهُ الله د طهارت تينو يعني د اودس او د غسل له بيان څخه فارغ سو نو په دې باب کې هغه شی بيانوي چې په هغه سره طهارت (پاکي) حاصليږي يعني ماءِ مطلق، له ماءِ مطلق څخه مراد د باران، شلو، څاه ګانو، دريابونو، او د چينو اوبه دي، او دليل پر دې خبره (چې دا ټولې اوبه پاکوونکي او مُطهِري دي) د الله تعالیٰ دا قول دی: وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُوْرًا، او د نبي ﷺ دا قول دی: الماء طهور لاينجسه شئ إلا ما غيّر لونه أو طعمه أو ريحه.

په کومو اوبو سره طهارت (پاکي) حاصلول صحيح دي؟

اَلطَّهَارَةُ مِنَ الْأَحْدَاثِ جَائِزَةٌ له بې اودسيو څخه پاکي حاصلول جائز دي بِمَاءِ السَّمَاءِ د آسمان په اوبو سره وَالْأَوْدِيَةِ او د شلو په اوبو سره وَالْعُيُوْنِ او د چينو په اوبو سره وَالْآبَارِ او د څاه ګانو په اوبو سره وَالْبِحَارِ او د دريابو په اوبو سره لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُوْرًا [سورة الفرقان:۴۸] موږ له اسمانه پاکونکي اوبه نازلي کړي دي وَقَوْلُهُ الطَّيِّلا ● او نبي ﷺ فرمايلي دي وَالْمَاءُ طَهُوْرٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ اوبه پاکي دي هيڅ شی يې نه سي ناپاکه کولای إِلَّا مَا غَيَّرَ لَوْنَهُ أَوْ طَعْمَهُ أَوْ رِيْحَهُ لېکن دا چې د اوبو رنګ يا خوند يا بوی ور بدل کړي وَقَوْلُهُ (ص) فِي الْبَحْرِ ● (همدارنګه) د درياب د اوبو په باره کې نبي ﷺ فرمايلي دي هُوَ الطَّهُوْرُ مَاؤُهُ د درياب اوبه پاکي دي وَالْحِلُّ مَيْتَتُهُ او د درياب مردار حلال دي وَمُطْلَقُ الْإِسْمِ يُطْلَقُ عَلَىٰ هٰذِهِ الْمِيَاهِ او پر دغه اوبو د ماءِ مطلق اطلاق (هم) کيږي.

اللغات: ﴿أَوْدِيَة﴾ جمع ده واحد يې وادي دی: هغه لار چې دغرونو په مينځ کې وي (چې په عام عرف کې شله [شېله] ورته ويل کيږي)، د باراني يا دريابي اوبو د تېريدلو لار. ﴿عُيُوْن﴾ جمع ده واحد يې عَيْنٌ دی: چينه. ﴿آبَار﴾ جمع ده واحد يې بِئْرٌ دی: څاه. ﴿بِحَار﴾ جمع ده واحد يې بَحْرٌ دی: درياب (سمندر). ﴿لَوْن﴾ رنګ. ﴿طَعْم﴾ خوند (مزه). ﴿رِيْح﴾ بوی. ﴿مِيَاه﴾ جمع ده واحد يې مَاءٌ دی: اوبه.

تشریح: أحداث جمع د حدث ده. (حدث بې اودسی ته ويل کيږي هغه که کوچنی بې اودسي وي او که غټه بې اودسي وي لکه جنابت، مطلب دا چې) حدث پر دوه قسمه دی: حدث أصغر او حدث أكبر، يا داسي دي وويل سي چې د حدث دوه قسمونه دي: حدثِ غليظ او حدثِ خفيف، او له أحداثو څخه پاکي حاصلول جائز دي د اسمان په اوبو سره، د شلو په اوبو سره، د چينو په اوبو سره، د څاه ګانو او دريابو په اوبو سره، دليل د الله تعالیٰ دا قول دی: وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُوْرًا

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الطهارة باب في الحياض، حديث رقم: ۵۲۱، و دار قطني في كتاب الطهارة، باب الماء المتغير حديث رقم: ۴۷.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في الطهارة باب الوضوء بماء البحر، حديث رقم: ۸۳، والترمذي في الطهارات، باب في ماء البحر، حديث رقم: ۶۹.

(سورة الفرقان:۴۸)، (يعني موږ له اسمان څخه پاکي اوبه را نازلي کړي دي)، او د نبي ﷺ دا قول دی: الماء طهور لاينجسه شئ الا ما غيّر لونه أو طعمه أو ريحه. (يعني اوبه پاکي دي هيڅ شی يې نه سي ناپاکه کولی خو دا چي د دې رنګ يا خوند يا بوی ور بدل کړي).

او اصحاب د سنن اربعه وو لهحضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی: أن رجلاً سأل رسول الله ﷺ فقال يا رسول الله إنا نركب البحر ونحمل معنا القليل من الماء فان توضأنا به عطشنا افنتوضأ من البحر. فقال ﷺ هو الطهور ماءه والحل ميتته. (يعني له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه، اې د الله رسوله! موږ د دريابونو سفر کوو او زموږ سره اوبه لږ وي، نو که موږ په دې اودس وکړو، تږي به پاته سو، آيا موږ د درياب په اوبو اودس کوو؟، نبي ﷺ وفرمايل: د درياب اوبه پاکي دي، او مردا يې حلال دي).

له دې حديث څخه معلومه سوه چي د سمندر او درياب اوبه پاکي دي، د چينو، څاه ګانو او شلو اوبه هم په حقيقت کي د اسمان اوبه دي لکه څرنګه چي ارشاد دی: أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ (سورة الزمر: ۲۱)، (آيا ته نه وينې! چي الله له آسمانه اوبه را نازلي کړي دي، او په ځمکه کي يې د چينو په توګه تنه ايستلي دي).

صاحب د هدايې چي کوم درې نصوص ذکر کړل، په دې ټولو کې لفظ د طهور سته له دې څخه پخپله د اوبو پاکېدل ثابتېږي، خو دا نه ځني ثابتېږي چي د بل شي لپاره دي هم پاکونکي وي، نو ځکه غوره دا ده چي د الله په دې قول وأنزلنا من السماء ماء ليطهركم به سره دليل ونيول سي. يعني موږ له آسمان څخه اوبه را نازلي کړي د دې لپاره چي تاسو پاک کړي، له دې آيت څخه د اوبو مطهر کېدل ثابتېږي، خو صاحب د فتح القدير ليکلي دي چي د شريعت په اصطلاح کي طهور دې ته وايي چي بل شی پاک کړي، نو د طهور د دې تفسير مطابق به د صاحب د هدايې مذکوره نصوص په دليل کي ذکر کول صحيح وي.

د درختو او مېوو په رس(را ايستل سوو اوبو) سره د اودس حکم

وَلَايَجُوْزُ: فرمايي: او اودس جائز نه دی بِمَا اُعْتُصِرَ مِنَ الشَّجَرِ وَالثَّمَرِ په هغو اوبو سره چي هغه له درختي يا مېوې څخه نچوړل سوي وي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِمَاءٍ مُطْلَقٍ ځکه چي دا ماء مطلق (مطلقي اوبه) نه دي وَالْحُكْمُ عِنْدَ فَقْدِهِ مَنْقُوْلٌ إِلَى التَّيَمُّمِ او د ماء مطلق د نشتوالي په صورت کي حکم د تيمّم طرف ته منتقل سوی دی وَالْوَظِيْفَةُ فِي هٰذِهِ الْأَعْضَاءِ تَعَبُّدِيَّةٌ او وظيفه په دې اندامونو کي تعبّدي (يعني خلاف القياس) ده فَلَا تَتَعَدّٰى إِلٰى غَيْرِ الْمَنْصُوْصِ عَلَيْهِ نو د غير منصوص عليه و طرف ته به نه منتقل کيږي وَأَمَّا الْمَاءُ الَّذِيْ يَقْطُرُ مِنَ الْكَرْمِ پاته سوې هغه اوبه کوم چي د انګورو له درختي څخه را څڅېږي فَيَجُوْزُ التَّوَضُّؤُ بِهٖ نو په هغه سره اودس کول جائز دی لِأَنَّهُ مَاءٌ خَرَجَ مِنْ غَيْرِ عِلَاجٍ ځکه چي دا اوبه بغير له نچوړولو څخه راوتلي دي ذَكَرَهُ فِيْ جَوَامِعِ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ دا مسئله يې په جوامع د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله کي ذکر کړې ده وَفِي الْكِتَابِ إِشَارَةٌ إِلَيْهِ او په کتاب (هم) کي د دې و طرف ته اشاره ده حَيْثُ شَرَطَ الْإِعْتِصَارَ نو ځکه يې د اعتصار شرط لګولی دی.

اللغات: ﴿اعْتُصِرَ﴾ د افتعال له باب څخه د ماضي مجهولي صيغه ده اعتصر يعتصر: نڅوړل، نستېړل، له يو شي څخه اوبه را ايستل، ﴿فَقَدَ﴾ ورکېدل، نيستي کېدل، ﴿وَظِيفَةً﴾ لازمي مقدار، هغه اندازه چي د هغې خيال ساتل ضروري وي، ﴿يَقْطُرُ﴾ د نصر د باب مضارع ده، قطر يقطر: څڅېدل، په قطره قطره سره د اوبو را لوېدل، ﴿كَرْمِ﴾ انګور.

تشريح: مسئله: دا ده چي کومي اوبه د درختي يا له يو بلي مېوې څخه را وېستل سي په هغه اودس کول جائز نه دي ځکه دا ماء مطلق نه دي، دليل يې دا دی چي که بالفرض د يو انسان په کور کي د څاه او درياب اوبه هم وي. او له مېوې يا درختي څخه را ايستل سوي اوبه هم وي بيا دغه انسان بل چا ته ووايي چي زموږ له کوره اوبه را وړه، نو د دې سري ذهن به د اولو اوبو و طرف ته منتقل سي نه د دويمو اوبو و طرف ته، نو ثابته سوه چي را ايستل سوي اوبه ماء مطلق نه دي، او د اوبو د نشتوالي په صورت کي حکم د تيمّم و طرف ته منتقل کيږي، لکه څرنګه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: فلم تجدوا ماءً فتيمموا صعيدا طيبا، لهذا معلومه سوه چي له درختي يا مېوې څخه را ايستل سوي اوبه د اودسه لپاره مناسب نه دي.

وَالوظيفة في هٰذه الأعضاء الخ له دې عبارت څخه د يوه اعتراض جواب ورکوي، اعتراض دا دی چي نڅوړل سوي (را ايستل سوي) اوبه که څه هم ماء مطلق نه دي خو د ماء مطلق په حکم کي دي، ځکه چي د شيخينو په نېز په دې سره د حقيقي نجاست ليري کول صحيح دي. نو کله چي د حقيقي نجاست په ليري کولو کي نڅوړل سوي اوبه د ماء مطلق سره لاحق سوي دي نو بيا د حکمي نجاست په ليري کولو کي نڅوړل سوي اوبه په طريقه اولیٰ د ماء مطلق سره لاحقول پکار دي.

تر جواب مخکي دا خبره په ذهن کي ونيسئ چي د قياس د صحيح کېدلو شرط دا دی چي د اصل يعني د مقيس عليه حکم د قياس خلاف نه وي نو اوس د جواب حاصل دا دی چي د څلورو اندامونو (اعضاء اربعه) د پاکولو لپاره د ماء مطلق استعمال د قياس خلاف دی، ځکه چي د محدث (بې اودسه سړي) اندامونه حقيقتًا هم پاک دي او حکمًا هم. حقيقتًا خو په دې وجه پاک دي چي هيڅ حقيقي نجاست د هغه د اندامونو سره لګېدلی نه دی، او حکمًا ځکه پاک دي چي که يو سړی يو بل بې اودسه يا جنب سړی پر اوږو کېنېنوي او لمونځ وکړي نو د هغه لمونځ صحيح دی، حال دا که بې اودسه سړی نجس وای نو د هغه لمونځ به نه صحيح کېدلای، لنډه دا چي د بې اودسه سړي اندامونه پاک دي او د پاک شي پاکول ناممکنه دي ځکه چي دا تحصيل د حاصل دی، او ماء مقيد من کل الوجوه د ماء مطلق په معنیٰ سره هم نه دی، ځکه چي د ماء مطلق د بندولو لپاره تدبيرونه هم نه کيږي، او بې له قيمته (موت) تر لاسه کيږي، او د ماء مقيد د بندولو لپاره تدبيرونه کيږي، او ډېر کم تر لاسه کيږي، حاصل دا چي کله د ماء مطلق استعمال په اندامونو کي د قياس خلاف دی او ماء مقيد من کل الوجوه د ماء مطلق په معنیٰ سره هم نه دي نو په دې وجه ماء مقيد پر ماء مطلق نه سي قياسېدلای، نو ځکه موږ وويل چي د ماء مطلق حکم به د نورو پاکو بهېدونکو شيانو يعني د ماء مقيد و طرف ته نه متعدي کيږي.

او د دې په خلاف حقيقي نجاست دی چي په ماء مطلق سره د هغه ليري کول د قياس مطابق دي نو ځکه به د ماء مقيد يعني د نورو بهېدونکو شيانو قياس هم پر دې صحيح وي، او علت مشترکه حقيقي نجاست ليري کول دي.

وأما الماء الّذي الخ او هغه اوبه چي هغه په خپله له انګورو څخه را څڅيږي نو په هغو سره اودس جائز دی ځکه چي دا يو داسي اوبه دي کوم چي بغير له يو لاس وهني او نڅوړلو څخه را وتلي دي، دا مسئله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په جوامع کي (هم) ذکر سوې ده او په قدوري کي هم و دې طرف ته اشاره ده چي که اوبه په خپله له مېوې څخه را څڅېدلي وي، نو په هغو سره اودس کېدلای سي، همدا وجه ده چي په متن کي د اعتصار شرط لګول سوی دی.

په هغو اوبو سره د اودس حکم چې يو شی په ګډ سوی وي

وَلَا يَجُوْزُ بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ او اودس جائز نه دی په داسې اوبو سره چې بل شي غلبه پر کړې وي فَأَخْرَجَهُ عَنْ طَبْعِ الْمَاءِ او اوبه يې له خپل طبيعت څخه ايستلې وي كَالْأَشْرِبَةِ وَالْخَلِّ لکه شربت او سرکه وَمَاءِ الْبَاقِلَّاءِ وَالْمَرَقِ او د لوبيا اوبه او ښوروا وَمَاءِ الْوَرْدِ وَمَاءِ الزَّرْدَجِ او د ګلاب اوبه او د زردکې اوبه لِأَنَّهُ لَا يُسَمَّى مَاءً مُطْلَقًا ځکه په دې (شيانو) کې يوه ته هم ماء مطلق نه ويل کيږي وَالْمُرَادُ بِمَاءِ الْبَاقِلَّاءِ مَا تَغَيَّرَ بِالطَّبْخِ او د لوبيا له اوبو څخه مراد (هغه اوبه) دي چې په پخېدلو سره بدلې سوې وي فَإِنْ تَغَيَّرَ بِدُوْنِ الطَّبْخِ لېکن که بغير له پخېدلو څخه بدلې سوې وي يَجُوْزُ التَّوَضُّؤُ بِهِ نو په هغه (اوبو) سره اودس جائز دی.

اللغات: ﴿طبع﴾ فطرت، اصليت، طبيعت، ﴿أشربة﴾ جمع ده واحد يې شَرَابٌ دی: د چيښلو شی لکه شربت او نور، ﴿خل﴾ سرکه، ﴿ورد﴾ ګل ګلاب، ﴿باقلاء﴾ په دې کې درې الفاظ راځي: بَاقِلَّاء، بَاقِلَّى، بَاقِلِي: لوبيا، ﴿مرق﴾ ښوروا، ﴿زردج﴾ زردکه، ﴿طبخ﴾ د فتح د باب مصدر دی: پخول.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که په اوبو يو شی ګډ سو يا يو شی په اوبو کې پوخ سو نو په دې اوبو سره د اودس د جواز او عدم جواز په سلسله کې به "غالب" ته کتل کيږي، يعنې دا به کتل کيږي چې په اوبو کې د يو شي د ګډېدلو او يا د اوبو تر پخولو وروسته د اوبو څه حالت دی؟، که پر اوبو دويم شی غالب وو، او اوبه يې له خپل طبعي حالت يعنې: له رقت(نرموالی) او سيلان(بهېدلو) څخه ايستلې وې نو په دې صورت کې په دې اوبو سره اودس جائز نه دی، لکه څرنګه چې د ګلاب، لوبيا، زردکې او د داسې نورو شيانو اوبه دي، همدارنګه ښوروا، شربت او سرکه ده، بنکاره خبره ده چې په دا ډول اوبو سره اودس جائز نه دی، ځکه چې نه دوی ته ماء مطلق ويل کيږي او نه پر دوی باندې د اوبو اطلاق کيږي، بلکې تر دې چې د دوی نوم هم بدل دی، (او طبيعت يې هم بدل دی)، همدا وجه ده که يو سړی له يو چا څخه د چيښلو لپاره اوبه وغواړي او هغه سرکه يا ښوروا ورته راوړي، نو يقيناً دا غوښتونکی به دې سړي ته حيران او په غصه سي.

والمراد بماء الباقلاء...الخ فرمايي: چې له ماء باقلاء څخه مراد هغه اوبه دي چې په هغو کې لوبيا، يا يوه بله سابه(سبزي)، يا يو بل شی پوخ سي، او له اوبو څخه يې ښوروا جوړه سي، يعنې په دې شيانو سره اوبه متغيرې سي نو په دې سره اودس صحيح نه دی، (ځکه چې دلته د اوبو نوم هم بدل سو او طبيعت يې هم بدل سو) او که دا شيان په اوبو کې واچول سي، او پاخه نه کړل سي، لېکن بيا هم اوبه متغيرې کړي نو په دې سره بيا اودس جائز دی، (ځکه چې تر اوسه لا د اوبو طبيعت بدل سوی نه دی).

د هغه اوبو حکم چې د يو شی په ګډون سره يې يو وصف بدل سوی وي

قَالَ: وَيَجُوْزُ الطَّهَارَةُ او پاکي حاصلول جائز دي بِمَاءٍ خَالَطَهُ شَيْءٌ طَاهِرٌ په هغو اوبو چې يو پاک شی په ګډ سوی وي فَغَيَّرَ أَحَدَ أَوْصَافِهِ او د اوبو په صفتونو کې يې يو صفت ور بدل کړی وی كَمَاءِ الْمَدِّ لکه د سيلاب اوبه وَالْمَاءِ الَّذِيْ اخْتَلَطَ بِهِ اللَّبَنُ أَوِ الزَّعْفَرَانُ أَوِ الصَّابُوْنُ أَوِ الْأُشْنَانُ او هغه اوبه چې زعفران يا صابون يا اشنان په ګډ سوی وي

قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَجْرَى فِي الْمُخْتَصَرِ مَاءَ الزَّرْدَجِ مَجْرَى الْمَرَقِ صاحب د هدايې فرمايي: چې په مختصرالقدوري کې امام

قلوري رَحِمَهُ الله د زردکي اوبه د بنوروا د اوبو په ډول ګڼلي دي وَالْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ الله او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي أَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ مَاءِ الزَّعْفَرَانِ چې د زردکي اوبه د زعفران د اوبو په درجه کې دي وَهُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح قول دی كَذَا اخْتَارَهُ النَّاطِفِيُّ وَالْإِمَامُ السَّرْخَسِيُّ همدغه قول امام ناطفي او امام سرخسي رَحِمَهُمَا الله غوره کړی دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَايَجُوْزُ التَّوَضُّؤُ بِمَاءِ الزَّعْفَرَانِ وَ أَشْبَاهِهِ مِمَّا لَيْسَ مِنْ جِنْسِ الْأَرْضِ امام شافعي فرمايي: چې د زعفران او د زعفرانو په ډول د نورو همغو شيانو په اوبو سره چې د مځکې له جنس څخه نه وي، اودس جائز نه دی لِأَنَّهُ مَاءٌ مُقَيَّدٌ ځکه چې دا ماء مقيد (مقيدي اوبه) دي أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُقَالُ مَاءُ الزَّعْفَرَانِ آيا ته نه ګورې چې دې ته ماءُ الزعفران (د زعفران اوبه) وايي بِخِلَافِ أَجْزَاءِ الْأَرْضِ په خلاف د مځکې د اجزاوو لِأَنَّ الْمَاءَ لَايَخْلُوعَنْهَا عَادَةً ځکه چې د مځکې له اجزاوو څخه عادةً هيڅ ډول اوبه خالي نه وي وَلَنَا أَنَّ اِسْمَ الْمَاءِ بَاقٍ عَلَى الْإِطْلَاقِ او زموږ دليل دا دی چې د اوبو نوم على الاطلاق پاته دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَمْ يَتَجَدَّدْ لَهُ اِسْمٌ عَلَى حِدَةٍ آيا ته نه ګورې چې د دې لپاره عليحده يو نوی نوم نسته وَإِضَافَتُهُ إِلَى الزَّعْفَرَانِ كَإِضَافَتِهِ إِلَى الْبِئْرِ وَالْعَيْنِ او د زعفران و طرف ته د اوبو نسبت داسې دی لکه څاه او چينې ته د اوبو نسبت وَلِأَنَّ الْخَلْطَ الْقَلِيْلَ لَا يُعْتَبَرُ بِهِ او په دې وجه هم چې د لږ غوندي ګډون هيڅ اعتبار نسته لِعَدَمِ إِمْكَانِ الْإِحْتِرَازِ عَنْهُ ځکه چې له هغه څخه ځان ساتل ناممکنه دي كَمَا فِي أَجْزَاءِ الْأَرْضِ لکه د مځکې په اجزاوو کې فَيُعْتَبَرُ الْغَالِبُ نو د غالب اعتبار به کيږي وَالْغَلَبَةُ بِالْأَجْزَاءِ لَا بِتَغَيُّرِ اللَّوْنِ او د غلبې اعتبار په اجزاوو سره دی د رنګ په بدلېدلو سره نه دی هُوَالصَّحِيْحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿مَدّ﴾ سيلاب (سېلاو)، ﴿أُشْنَان﴾ د جامو يا د لاس پرېولو بوټی (زمی)، ﴿خَلْط﴾ ګډون، د مرکب شي يو جزء.

تشريح: حاصل د عبارت دا دی چې که په اوبو يو شی ګډ سو او د اوبو له دريو صفتونو رنګ، خوند، بوی څخه يې يو صفت بدل کړی نو په دې اوبو اودس جائز دی، لکه د سيلاب اوبه يا هغه اوبه چې زعفران يا صابون يا أُشنان په ګډ سوی وي، أُشنان يو تريو (ترش) بوټی دی چې په تروه مځکه کې را شين کيږي او د صابون په ډول جامې صفا کوي. د امام قلوري رَحِمَهُ الله عبارت و دې طرف ته اشاره کوي چې که د اوبو له صفتونو څخه دوه يا درې سره صفتونه بدل سي نو بيا په همغو سره اودس جائز نه دی، او په نهايه کې يې ليکلي دي چې زموږ استاذان په همغو سره اودس جائز ګڼي، تر دې چې کله به د مَنِي (خزان) په زمانه کې په حوضونو کې د درختي پاڼې را ولوېدلې، او په دې سره به د اوبو درې سره صفتونه يعني رنګ، خوند، بوی بدل سول، نو هم به دې حضراتو په دغه اوبو سره بغير له څه انکاره اودس کوی، نو معلومه سوه چې د درو سره وو صفتونو د تغيّر (بدلون) په وخت کې هم اودس جائز دی.

په شرح طحاوي کې هم و دې طرف ته اشاره سوې ده خو شرط دا دی چې د اوبو رقّت (نرموالی) به پاته وي، نو که د يو شي په ګډون سره اوبه خټې (کلکې او ګاټه) سي، نو په داسې اوبو سره اودس د دې حضراتو په نيز هم جائز نه دی، علامه ابن الهمام په فتح القدير کې ليکلي دي چې له فقيه احمد بن ابراهيم الميداني رَحِمَهُ الله څخه د هغه اوبو په باره کې پوښتنه وسوه چې رنګ يې د ډېرو پاڼو په وجه متغير سوی وي، نو ده وفرمايل چې په داسې اوبو سره اودس جائز نه دی

لېکن د دې چينبل او نور شيان په پرېوتل جائز دي، ځکه دا پاکي دي، او اودس کول ځکه په جائز نه دي چې کله پر اوبو د پانو رنګ غالب سي نو هغه ماءِ مقيّد سوې، لکه د لوبيا اوبه. او مخکي تېر سوه چې په ماءِ مقيد سره اودس کول جائز نه دي.

سوال: دلته د مصنف رَحِمَهُ الله پر عبارت يو اعتراض کېږي هغه دا چې مخکي د نبي ﷺ قول إلا ما غيّر طعمه أو لونه أو ريحه تېر سو چې د هغه تقاضادا ده چې که د اوبو يو وصف هم متغير سي، نو اودس په کول جائز نه دي، حال دا چې امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې جائز دي.

جواب: دا دی چې په حديث کي له شي څخه مراد نجس شی دی يعني لا ينجسه شيء نجس. او دا حديث د روانو اوبو (ماء جاري) په باره کي راغلی دی، نو اوس به د حديث مطلب دا سي چې جاري اوبه پاکي دي يو ناپاکه شی دا نه سي مردارولای، خو دا چې د دې رنګ يا خوند يا بوی بدل سي، يعني که نجاست پر ښکاره سي يا د نجاست خوند يا بوی محسوس کړی سي نو بيا د دې اوبو استعمال جائز نه دی ځکه چې دا صفتونه د نجاست پر قيام دلالت کوي (يعني پر دې دلالت کوي چې په دې اوبو کي نجاست سته).

أجرى في المختصر... الخ صاحب د هدايې فرمايي چې امام قدوري رَحِمَهُ الله په مختصر القدوري کي د زردکي اوبه د ښوروا په ډول ګرځولي دي يعني په دواړو سره اودس جائز نه دی، او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې د زردکي اوبه د زعفران د اوبو په ډول دي يعني د يوه صفت د تغيّر په صورت کي په دواړو سره اودس جائز دی، امام ناطفي رَحِمَهُ الله او امام سرخسي رَحِمَهُ الله هم دا روايت اختيار کړی دی.

د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ مسلک: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې زعفران او د زعفران په ډول نور شيان کوم چې د ځمکي له جنس څخه نه وي، د دوی په ا وبو سره اودس جائز نه دی، (يعني که دا شيان په اوبو ګډ سول نو په دغه اوبو اودس جائز نه دی) دليل يې دا دی چې دا ماء مقيّد (مقيّدي اوبه) دي، همدا وجه ده چې دې ته ماء زعفران يعني د زعفران اوبه ويل کيږي او څرنګه چې اضافت د تقييد سبب دی (يعني د مقيّد کېدلو معنیٰ ورکوي) لکه ماء شجر، ماء ثمر او ماءِ زردج، نو ځکه به ماءِ زعفران هم ماءِ مقيد وي، نه دا چې ماءِ مطلق، او د ماءِ مطلق د نشتوالي په صورت کي د تيمّم حکم سوی دی لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: فلم تجدوا ماء يعني ماء مطلقا فتيمموا، نو ثابته سوه چې د زعفران او نورو اوبو د شتون په صورت کي هم تيمّم جائز دی، په خلاف د ځمکي د اجزاوو (يعني که په اوبو د ځمکي اجزاء ګډ سي نو په دې اوبو اودس جائز دی) ځکه چې عادتًا ټولي اوبه د ځمکني اجزاوو له ګډون څخه خالي نه وي، نو کله چې ټولي اوبه له ځمکني اجزاوو څخه خالي نه سوې نو معلومه سوه چې د ځمکني اجزاوو په ګډون سره په مطلقو اوبو (ماء مطلق) کي فرق نه راځي، لنډه دا چې که په اوبو کي ځمکني اجزاء ګډ سول نو بيا به هم دا اوبه ماء مطلق وي، او اودس به په جائز وي، او که د ځمکي له اجزاوو څخه علاوه يو بل شی په اوبو ګډ سو، نو هغه به مقيدي اوبه (ماءِ مقيد) وي او اودس به په جائز نه وي.

زموږ دليل: (پر دې خبره چې د زعفران په اوبو سره اودس جائز دي) دا دی چې د (زعفران د ګډېدلو په صورت کي هم د) اوبو نوم على الاطلاق پاته دی، لکه څرنګه چې د دې لپاره عليحده بل نوی نوم (هم) ايښوول سوی نه دی، بلکي د زعفران اوبه ورته وايي.

ولأن الخلط ... الخ (له دې ځای څخه زموږ دویم دلیل بیانوي) دویم دلیل دا دی چې لږغوندې ګډون یو داسې شی دی چې د هغه اعتبار نه کیږي، ځکه چې له دې څخه احتراز (ځان ساتل) امکان نه لري لکه څرنګه چې د ځمکې له خاکي اجزاؤ څخه احتراز امکان نه لري، نو به خامخا د غالب اعتبار کیږي، پاته سوه دا خبره چې غلبه څه ډول معتبر ده، د اجزاؤ په اعتبار سره یا د رنګ په اعتبار سره، نو فرمایي چې غلبه د اجزاؤ په اعتبار سره معتبره ده، نه د رنګ په بدلیدلو سره، همدا صحیح ده، (یعني که یو شی د اجزاؤ په اعتبار سره پر اوبو غالب وو، نو په هغه اوبو اودس جائز نه دی، او که د اجزاؤ په اعتبار سره مغلوب وو نو اودس په جائز دی).

په هغه اوبو سره د اودس حکم چې یو شی پکښې پوخ سوی وي

فَإِنْ تَغَيَّرَ بِالطَّبْخِ بَعْدَ مَا خُلِطَ بِهِ غَيْرُهُ او که اوبه د یو بل شي په ګډون د پخولو په وجه بدلې سي (یعني که په اوبو یو شی ګډ کړی سي او پخې سي نو که د پخولو په وجه بدلې سوې) لَا يَجُوزُ التَّوَضُّؤُ بِهِ نو په هغه اوبو اودس جائز نه دی لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ فِي مَعْنَى الْمُنَزَّلِ مِنَ السَّمَاءِ ځکه چې داسې اوبه له اسمان څخه د را نازله سوو اوبو په معنیٰ پاته نه سوې إِلَّا إِذَا طُبِخَ فِيهِ مَا يُقْصَدُ بِهِ الْمُبَالَغَةُ فِي النَّظَافَةِ خو دا چې کله په دې اوبو کې داسې شی پوخ سي چې په هغه شي سره په نظافت (پاکوالي) کې مبالغه مقصود وي كَالْأُشْنَانِ وَنَحْوِهِ لکه أشنان او د دې په ډول نور شیان (نو بیا په دې اوبو سره اودس جائز دی) لِأَنَّ الْمَيِّتَ قَدْ يُغَسَّلُ بِالْمَاءِ الَّذِيْ أُغْلِيَ بِالسِّدْرِ ځکه چې مړی ته په هغو اوبو غسل ورکول کیږي چې هغو ته د بېرو په پاڼو کې جوش ورکړی سوی وي بِذٰلِكَ وَرَدَتِ السُّنَّةُ ● او د دې طریقې مطابق حدیث راغلی دی إِلَّا أَنْ يَغْلِبَ ذٰلِكَ عَلَى الْمَاءِ فَيَصِيرُ كَالسَّوِيقِ الْمَخْلُوطِ مګر دا چې هغه شی پر اوبو غالب سي او په اوبو کې د ګډو سوو نینو په ډول سي (یعني داسې وګرځي لکه په اوبو چې نینې ګډې سي) لِزَوَالِ اِسْمِ الْمَاءِ عَنْهُ ځکه چې له داسې اوبو څخه د اوبو نوم ختم سو.

اللغات: ﴿نَظَافَة﴾ پاکوالی، صفایي، ﴿أُغْلِيَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهول صیغه ده، أَغْلَى يُغْلِي: ایشول، جوش ورکول، ﴿سِدْر﴾ د بېرې درخته، بېره، ﴿سَوِيق﴾ نینې سوي غنم (یعني پر اُور کباب سوي غنم)، د نینې سوو غنمو یا اوربشو اوړه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که په اوبو کې یو شی ګډ کړی سو او بیا دغه اوبه پر اُور پخې سوې نو په دې اوبو سره اودس جائز نه دی ځکه چې د اودس د جائز کېدلو لپاره ماءمطلق ضروري دي او دا اوبه د ګډون او پخوالي په وجه د ماء مطلق او د باراني اوبو په درجه کې نه دي، نو ځکه به په دې سره اودس هم صحیح نه وي، لیکن که خالي اوبه پخې کړی سي (یعني یو بل شی په ګډ نه کړی سي) او (صرف) د پخولو په وجه متغیري سې نو په دې سره اودس جائز دی، ځکه چې په ژمي کې د ګرمو اوبو ډېر ضرورت وي.

● قال الزيلعي رحمه الله غريب و لم يحسن شيخنا علاء الدين.

خو که په اوبو کي يو داشی پرېوځ سي چي په هغه سره زياته پاکي حاصلول مقصود وي، لکه اُشنان(زمی) او نور، نو په دې اوبو سره اودس جائز دی، ځکه مرې ته په داسي اوبو غسل ورکول کيږي چي په هغو کي د بېرو پانو ته جوش ورکول سوی وي، صاحب د هدايې فرمايي په دې باره کي حديث هم سته.

لېکن صاحب د شرح نقايه ليکلي دي چي په حديث خو الله ښه خبر دی مګر په صحيحينو کي د هغه سړي په باره کي (کوم چي له خپلي اوښې څخه را ولوېدی، مغزی يې مات سو او مړ سو) دا راغلي دي: اغسلوا بماء وسدر، يعني دې سړي ته په اوبو او بېري سره غسل ورکړئ، په حديث کي أغلى بالسدر نسته، لکه صاحب د هدايې چي ذکر کړي، لېکن موږ جواب ورکوو: د اوبو او بېري په پانو سره غسل ورکول هغه وخت ممکن دي، چي کله دا دواړه سر ګډ سي، او ګډون بغير له پخېدلو څخه نه سي کېدای، نو ځکه فاضل مصنف رَحِمَهُ الله أغلى بالسدر ووايي، او د حديث مراد يې بيان کړی، هو! دومره ضروري دي چي په نظافت او پاکوالي کي د مبالغې لپاره که يو شی په اوبو کي ايشول سوی وي نو هغه به پر اوبو غالب نه وي، خو که هغه غالب وي نو بيا په دې ابو اودس جائز نه دی، لکه په اوبو چي د نينې سوو غنمو اوړه ګډ کړل سي نو په داسي اوبو سره هم اودس جائز نه دی، ځکه چي په دې صورت کي د اوبو نوم هم زائل سي.

په ولاړو(غير جاري) اوبو کي نجاست لوېدل؟ او په داسي اوبو سره د اودس حکم

وَكُلُّ مَاءٍ وَقَعَتْ فِيهِ النَّجَاسَةُ لَمْ يَجُزِ الْوُضُوْءُ بِهِ او هري هغه اوبه چي نجاست پکښې ولوېږي په هغو اوبو اودس جائز نه دی قَلِيلًا كَانَتِ النَّجَاسَةُ أَوْ كَثِيرًا هغه نجاست لږ وي او که زيات وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ: يَجُوزُ مَا لَمْ يَتَغَيَّرْ أَحَدُ أَوْصَافِهِ امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: چي (تر هغه وخته پوري اودس په) جائز دی ترڅو چي د اوبو په صفتونو کي يو صفت بدل سوی نه وي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَجُوزُ إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: که اوبه دوه منګيه(خومه) وي نو (اودس په) جائز دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَام● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا بَلَغَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ کله چي اوبه دوو قلتينو ته ورسيږي لَا يَحْمِلُ خُبْثًا نو (بيا) نجاست نه راپورته کوي(يعني نه مراداربري) وَلَنَا● حَدِيثُ الْمُسْتَيْقِظِ مِنْ مَنَامِهِ او زموږ دليل د مستيقظ من منامه حديث دی وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَام● لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ او د نبي ﷺ (دا) قول دی چي په تاسو کي دې څوک په ولاړو اوبو کي متيازي(شاشې) نه کوي وَلَا يَغْتَسِلَنَّ فِيهِ مِنَ الْجَنَابَةِ او نه دې يې په ولاړ اوبو کي د جنابت غسل کوي مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ بغير له څه تفصيله(يعني په دې حديث کي د زياتو او کمو اوبو په باره کي څه تفصيل نسته) وَالَّذِي رَوَاهُ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ وَرَدَ فِي بِئْرِ بُضَاعَةَ او د امام مالک بيان سوی روايت د "بُضاعه" څاه په باره کي راغلی دی وَمَاؤُهَا كَانَ جَارِيًا فِي الْبَسَاتِيْنِ او د "بُضاعه" څاه اوبه به په باغونو کي جاري وي وَمَا رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ ضَعَّفَهُ أَبُوْدَاوُدُ او د امام

● تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الطهارة باب ما ينجس الماء، حديث رقم:٦٣، والترمذي في كتاب الطهارة باب ما جاء أن الماء لاينجسه شيء، حديث رقم:٦٣.

● تخريج: قدمه تخريجه، راجع تحت حديث رقم:٢.

● اخرجه أبو داؤد في كتاب الطهارة باب البول في الماء الراكد حديث رقم:٦٩، والبخاري في كتاب الوضوء باب البول في الماء الدائم، حديث رقم:٢٣٩.

شافعي بيان سوی روايت امام ابو داؤد ضعيف ګرځولی دی أَوْ هُوَ يَضْعَفُ عَنْ إِحْتِمَالِ النَّجَاسَةِ يا (د هغه) روايت معنیٰ دا ده چي اوبه له نجاست پورته کولو (زغملو) څخه کمزوري دي (مطلب دا چي دوې قُلې اوبه نجاست نه سي زغملای).

اللغات: ﴿قُلَّة﴾ منګی، خوم، د سړي قد(تنه)، ﴿مُسْتَيْقِظ﴾ د استفعال اسم فاعل دی: ويښېدونکی، ﴿بَسَاتِين﴾ جمع ده واحد يې بستان دی: باغ.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چي په متن کي له "ماء" څخه مراد "ماءِ راکد"(ولاړي اوبه) دي، "ماءِ جاري" مراد نه دي، او دا ډېره اختلافي مسئله ده، حاصل يې دا دی: چي که په ولاړو اوبو کي نجاست ولوېدی نو زموږ په نېز په دې اوبو اودس کول مطلقًا جائز نه دي، برابره خبره ده که نجاست لږ وي، که زيات وي. امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي: که د اوبو له درو صفتونو څخه يو صفت بدل سي، نو په دې اوبو سره اودس جائز نه دی، لېکن که يې يو صفت بدل نه سي، بيا په دې سره اودس جائز دی. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي که د اوبو مقدار دوې قُلې(منګيه) وو، نو په دې سره اودس جائز دی، کنې؛ نو جائز نه دي.

د امام مالک دليل: هغه حديث دی کوم چي مخکي تېر سو يعني: الماء طهور لاينجسه شئ إلّا ما غيّر لونه أو طعمه أو ريحه، او په دې حديث سره دليل په دې توګه نيسي چي په حديث کي تر هغه وخته پوري اوبه پاکي ګرځول سوي دي تر کومه وخته چي يو ناپاک شی نه وي پکښي لوېدلی، چي له د درو صفتونو څخه يې يو صفت ور بدل کړي، نو څکه موږ هم دا خبره کوو چي د نجاست تر لوېدلو وروسته چي تر څو پوري د اوبو له درې صفتونو څخه يو صفت بدل سوی نه وي، تر هغه وخته اوبه پاکي دي.

د امام شافعي دليل: د قُلتين حديث دی چي که اوبه دوې قُلې وې، نو هغه نجاست نه سي پورته کولای(يعني نه مرداربږي)، او د استدلال طريقه يې دا ده چي د قُلتين مقدار کثير مقدار دی، که په دومره مقدار اوبو کي نجاست ولوېږي نو هغه اوبه له نجاست څخه نه متأثره کيږي، نو معلومه سوه چي اوبه که له قُلتين څخه لږ وي او نجاست پکښي ولوېږي نو بيا اودس په صحيح نه دی، لېکن که د قُلتين په اندازه وي نو بيا اودس په صحيح او جائز دی.

زموږ دليل: حديث د مستيقظ دی، تفصيل يې دا دی چي نبي ﷺ وفرمايل: إذا استيقظ أحدكم من منامه فلا يَغمسنّ يده في الإناء حتى يغسلها ثلاثًا،(که په تاسو کي يو سړی له خوب څخه را ويښ سي نو خپل لاس دي په لوښي کي تر اچولو مخکي درې وار پرېولي)، موږ له دې حديث څخه استدلال په دې توګه کوو چي(فقط) د نجاست د احتمال په وجه په لوښي کي د لاس اچولو څخه منع سوې ده، نو کله چي د نجاست يقين وي نو په هغه صورت کي خو به په بلدرجه اولیٰ سره منع کيږي، کنې نو يقينًا اوبه ناپاکه کيږي.

دويم دليل: دا حديث دی: لايبولنّ أحدكم في الماء الدائم و لايغتسلن فيه من الجنابة، او له دې څخه استدلال په دې توګه کوو چي په حديث کي صراحتًا په ولاړو اوبو کي له متيازو کولو څخه منع سوې ده، که ماءِ راکد(ولاړي اوبه) د نجاست په لوېدلو سره نه ناپاکه کېدلای نو په دومره صراحت سره به په دې کي له متيازو کولو څخه منع نه کېدلای.

زموږ دواړه ذکر سوي حديثونه د امام مالک رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دي، د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف خو څکه حجت دی چي په ماءِ راکد کي د جنابت له غسل څخه منع سوې ده، حال دا چي په غسل کولو سره د

اوبو يو صفت هم نه بدليږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف څکه حجت دی چي په دې حديثونو کي د قلتين لو داسي نورو هيڅ تفصيل نسته. او په مطلق ماءِ راکد کي له متيازو کولو څخه منع سوې ده، او که يو چا پکښي وکړې نو اوبه ناپاکه کيږي، هغه که دوې قلې وي، يا له دې څخه لږ وي.

د امام مالک د دليل جواب: صاحب د هدايې فرمايي چي امام مالک کوم حديث ذکر کړی دی دا حديث د "بئر بضاعه" په باره کي راغلی دی، پوره حديث په ترمذي او نسائي شريف کي داسي ذکر سوی دی:

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: قيل يا رسول الله أنتوضأ من بير بضاعة وهي بير تلقى فيها الحيض ولحوم الكلاب والنتن. فقال النبي ﷺ: إن الماء طهور لاينجسه شيئ. (يعني اوبو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چي له نبي ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي آيا موږ د بئر بضاعه [په اوبو] اودس کوو حال دا چي په دې کي د حيض جامې [کپړې]، د سپيانو غوښي او بدبويه شيان [گندگياني] ور لوېږي، نبي ﷺ وفرمايل: چي اوبه پاکي دي هيڅ شی يې نه سي ناپاکه کولای)؛ او دا خبره تسليم سوې ده چي د بئر بضاعه اوبه ماءِ راکد نه وې، بلکي ماءِ جاري وې، او پنځه باغونه په اوبه کېدل (عنايه، بنايه). نو کله چي د بئر بضاعه اوبه ماءِ جاري وې نو په دې سره د ماءِ راکد په سلسله کي دليل نيول څرنگه صحيح کيږي؟

د امام شافعي د دليل جواب: دا دی چي د امام شافعي د حديث سند ضعيف دی، امام ابو داؤد او سليمان بن الاشعث رَحِمَهُمَا الله دې ته ضعيف ويلي دي، او د محمد بن اسماعيل البخاري رَحِمَهُ الله استاد علي ابن مديني رَحِمَهُ الله وايي: لم يثبت حديث القلتين، او دې ته نژدې رايه په خپله د حضرت امام شافعي رَحِمَهُ الله هم ده، فرمايي: بلغني بإسناد لايحضرني من ذكره (يعني دا حديث تر ما پوري په داسي سند را رسيدلی چي د هغه راوي زما په ياد کي نه راځي).

د حديث په متن کي هم اضطراب سته، لکه څرنگه چي په بعضي رواياتو کي راغلي دي: إذا بلغ الماء قلتين أو ثلاثا، او په بعضو کي راغلي دي: أربعين قلة، او په بعضو کي راغلي دي: أربعين دلوا، همدارنگه د دې حديث دويم جزء په بعضي رواياتو کي لايحمل الخبث دی، او په بعضو کي لم ينجس دی، او په بعضو کي لم ينجسه شيئ دی، او په بعضو کي لم يحمل خبثا دی، همدارنگه له دې ټولو څخه ماسوا د قُله مقدار او مصداق هم نامعلوم او مجهول دی څکه کله له قُله څخه انساني قامت او تنه مراهوي، او کله د غره سر ځني مراد وي، او کله منگی ځني مراد وي، او که موږ دلته منگی ځني مراد کړو، نو بيا هم دا جهالت پاته کيږي چي څومره منگی مراد دی، نو د دومره اضطراباتو او احتمالاتو په سبب په دې سره استدلال کېدلای نه سي.

په روانو اوبو کي د نجاست لوېدل (او په هغو سره د اودس حکم)

وَالْمَاءُ الْجَارِيْ إِذَا وَقَعَتْ فِيْهِ نَجَاسَةٌ او په روانو اوبو کي چي کله نجاست ولوېږي جَازَ الْوُضُوْءُ مِنْهُ نو له هغو څخه اودس جائز دی إِذَا لَمْ يُرَلَهَا أَثَرٌ (په دې شرط) چي د نجاست څه اثر ليدل سوی نه وي لِأَنَّهَا لَا تَسْتَقِرُّ مَعَ جِرْيَانِ الْمَاءِ څکه چي نجاست د اوبو د بهېدلو په وجه نه سي درېدلای وَالْأَثَرُ هُوَ الرَّائِحَةُ أَوِ الطَّعْمُ أَوِ اللَّوْنُ او له اثر څخه مراد خوند، يا بوی، يا رنگ دی وَالْجَارِيْ مَا لَا يَتَكَرَّرُ اِسْتِعْمَالُه او جاري اوبه هغه دي چي استعمال يې نه مکرر کيږي وَقِيْلَ مَا يَذْهَبُ بِتِبْنَةٍ او يو قول دا دی: چي خاشه يوسي.

اللغات: ﴿جريان﴾ مصدر دی: بهېدل، د ګُذَر ضد، ﴿تِبنة﴾ خاشه، د وچو وښو کوچنی ټوکړه، مجازاً هر لږ غوندې شي ته ویل کیږي.

تشريح: د مسئلې حاصل دا دی چې که په راونو اوبو کې نجاست ولوېږي نو تر څه وخته چې په دې روانو اوبو کې د دغه نجاست یو اثر ښکاره نه سي، یا په نورو الفاظو: چې تر څه وخته د دې اوبو له درو صفتونو څخه یو صفت بدل نه سي تر هغه وخته له دغه اوبو څخه اودس کول صحیح او جائز دي، ځکه که اوبه جاري(رواني) وي نو دا خبره منل سوې ده چې په دې کې نجاست هیڅ اثر نه کوي، ځکه چې په جاري اوبو کې نه نجاست درېدلی سي او نه خپل رنګ ښکاره کولای سي، فرمايي: په عبارت کې چې کوم د أثر لفظ راغلی دی له هغه څخه دغه درې صفتونه یعنې رنګ، بوی او خوند مُراد دی.

د ماءِ جاري تعریف

د ماءِ جاري په تعریف کې د فقهاؤ مختلفه اقوال دي، د بنايه او فتح القدير په حواله سره یې موږ لاندې ذکر کوو:

① ماءِ جاري هغه اوبه دي چې د هغو استعمال مکرر(څو ځلي) نه وي، د دې مطلب دا دی چې مثلاً یو سړی له والې یا داسې نورو څخه په لاس کې اوبه را واخلي او هغه استعمال کړي بیا هغه اوبه هلته توی کړي(یعنې په واله کې چې یې له کومه ځایه را اخیستې وي پر هغه ځای یې توی کړي) او دوباره چې بیا اوبه را اخلي نو دا توی سوې او استعمال سوې اوبه دې دده په لاس کې نه راځي بلکې بهېدلې وي او مخته تللې وي، نو دغه اوبه ماءِ جاري دي.

② دویمه رایه دا ده چې ماءِ جاري هغه اوبو ته ویل کیږي چې یوه وچه خاشه یووسي.

③ دریمه رایه دا ده چې ماءِ جاري هغه اوبو ته ویل کیږي چې خلک یې رواني(جاري) بولي، صاحب د عنايه دې ته أصح ویلې دي.

④ څلورمه رایه دا ده چې جاري هغه اوبو ته ویل کیږي چې که یو سړی خپل لاس په اوبو کې عرضاً(یعنې په بره) کښېږدي نو په دې سره د اوبو بهېدل نه ودرېږي، والله اعلم. (عنايه ج:۱، ص:۸۶).

د ماءِ کثیر تعریف، د لوی تالاب(حوض) اندازه، او له هغه څخه د اودس حکم

قَالَ: وَالْغَدِيْرُ الْعَظِيْمُ الَّذِيْ فرمایي: او لوی حوض هغه دی لَا يَتَحَرَّكُ أَحَدُ طَرَفَيْهِ بِتَحْرِيْكِ الطَّرَفِ الْآخَرِ چې د هغه یو طرف نه ښوري د بل په ښورولو سره إِذَا وَقَعَتْ نَجَاسَةٌ فِيْ أَحَدِ جَانِبَيْهِ جَازَ الْوُضُوْءُ مِنَ الْجَانِبِ الْآخَرِ (نو) که د داسې حوض په یوه طرف کې نجاست ولوېږي، له بل طرف څخه یې اودس کول جائز دی لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ النَّجَاسَةَ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ ځکه ښکاره دا ده چې نجاست بل طرف ته نه رسیږي إِذْ أَثَرُ التَّحْرِيْكِ فِي السِّرَايَةِ فَوْقَ أَثَرِ النَّجَاسَةِ ځکه چې د حرکت ورکولو(ښورولو) اثر په سرایت کولو کې د نجاست تر اثر زیات دی ثُمَّ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يُعْتَبَرُ التَّحْرِيْكُ بِالْاِغْتِسَالِ بیا له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې په غسل سره ښورول معتبر دي وَهُوَ قَوْلُ أَبِيْ

يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او همدا د امام ابو يوسف قول دی وَعَنْهُ التَّحْرِيْكُ بِالْيَدِ او له امام صاحب څخه يو قول د تحريک باليد دی (يعني په لاس سره ښوورول معتبر دي) وَعَنْ● مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ بِالتَّوَضِّيْ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه تحريک بالتوضیٔ (په اودس کولو سره ښورول) را نقل سوي دي وَوَجْهُ الْأَوَّلِ أَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى الْاِغْتِسَالِ فِي الْحِيَاضِ أَشَدُّ مِنْهَا د اول قول وجه دا ده چي په حوضونو کي د غسل حاجت زيات وي إِلَى التَّوَضُّؤِ په نسبت سره و اودس کولو ته وَبَعْضُهُمْ قَدَّرُوْا بِالْمَسَاحَةِ او ځيني عالمانو دلوی حوض اندازه په پېمايش (ګزونو) سره کړې ده عَشْرًا فِي عَشْرٍ بِذِرَاعِ الْكِرْبَاسِ چي هغه د جامو (کالو) په ګز سره لس په لس کي دي (له دراع څخه مراد شرعي ګز دی چي هغه يو لاس کيږي، نو معنی يې دا سوه چي: څټ حوض هغه دی چي لس لاسه يې اوږدوالی او لس لاسه يې بر وي) تَوْسِعَةً لِلْأَمْرِ عَلَى النَّاسِ پر خلکو د پراختيا (آسانتيا) په خاطر وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى او هم پر دې قول فتوی ده وَالْمُعْتَبَرُ فِي الْعُمْقِ أَنْ يَكُوْنَ بِحَالٍ او په ژوروالي کي دومره اندازه معتبره ده چي حوض په داسي حالت کي وي لَا يَنْحَسِرُ بِالْاِغْتِرَافِ چي په لپه را اخيستلو سره يې ځمکه نه ښکاره کيږي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح روايت دی وَقَوْلُهُ فِي الْكِتَابِ وَجَازَ الْوُضُوْءُ مِنَ الْجَانِبِ الْآخَرِ او په قدوري کي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول چي جاز الوضوء من الجانب الآخر (نه بل طرف څخه يې اودس جائز دی) إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ يَنْجُسُ مَوْضِعُ الْوُقُوْعِ (د دې خبري و طرف ته) اشاره ده چي په کوم طرف کي نجاست ولوېږي په هغه طرف کي د نجاست ځای مرداريږي (نجس کيږي) وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ● أَنَّهُ لَا يَنْجُسُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د نجاست نوېدلو ځای هم نه مرداريږي إِلَّا بِظُهُوْرِ أَثَرِ النَّجَاسَةِ فِيْهِ خو دا چي نجاست پکښي ښکاره سي كَالْمَاءِ الْجَارِيْ لکه رواني اوبه (يعني لکه په روانو اوبو کي چي کله نجاست ښکاره سي نو بيا مرداريږي).

اللغات: ﴿غدير﴾ تالاب (حوض)، ﴿سراية﴾ د ضرب د باب مصدر دی، سَرَى يَسْرِي: خورېدل. نوتل. رسېدل.
﴿حياض﴾ جمع د حوض ده: د اوبو ذخيره، د اوبو ډنډ، ﴿مساحة﴾ پېمايش (پيمانه)، ﴿كرباس﴾ په اصل کي د كِرْبَاس دا ټولي معناوي راځي: پمبيزه جامه، وړين ټوکر، کشميره، کراسته، هغه سپينسين ټوکر چي ډول ډول رنګونه لري. (خو په عام عرف کي ټوکر او کپړه ځني مراد ده، يعني د کپړو ګز) ﴿ينحسر﴾ د انفعال د باب مضارع صيغه ده: خلاصېدل، ليري کېدل، دوربښتيانو رژېدل، ﴿اغتراف﴾ مصدر دی: لپه ډکول.

تشريح: تر دې مخکي دا خبره څرګنده سوه چي که په لږو اوبو (ماء قليل) کي نجاست ولوېږي نو هغه مرداريږي، خو که په ماء کثير (ډېرو اوبو) کي ولوېږي نو بيا د دې دوه صورتونه دي: (۱) دا ماء کثير به جاري (رواني) وي، (۲) جاري به نه وي، که دا ماء کثير جاري وي نو هم د نجاست په لوېدلو سره نه مرداريږي، د دې تفصيل هم تېر سو. ‌دلته دا بيلتوي چي هغه ماء کثير چي په تالاب يا حوض يا نورو کي جمع وي (او جاري نه وي)، که په دې کي که نجاست ولوېږي نو د دې پاکوالی او ناپاکوالی به څرنګه معلوميږي؟ په دې سلسله کي تر ټولو مخکي په دې خبره پوه سه! چي د لوی حوض

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۲۱. [الفوائد الراجح ج:۱، ص:۱۰]

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:۱، ص:۷۲ و الدر المختار ج:۱، ص:۱۲۰ . [الفوائد الراجح ج:۱، ص:۱۲]

او لوی تالاب اندازه دا ده چې که د ده يوه طرف (خوا) ته حرکت ورکول سي نو په دويم طرف کې حرکت پيدا نه سي، نو دا وبو دومره اندازه ډېره ده، يعني دا اوبه ماءِ کثير دی، او دا تالاب او حوض غديرِ عظيم دی، او که حوض او تالاب له دې اندازې څخه کوچنی وو او د يوه طرف په ښورولو سره يې په بل طرف کې حرکت پيدا سو نو دا اندازه ماءِ قليل ده، او د لږ غوندې نجاست په لوېدلو سره هم ټوله اوبه ناپاکه کيږي.

ثم عن أبي حنيفة الخ د امام صاحب په نېز د ښورولو مطلب دا دی چې په يوه طرف کې د اودس يا غسل کولو په وجه د دويم طرف اوبه پورته او کښته سي، پاته سوه دا مسئله چې د کومي درجې او کوم تحريک (ښورول) معتبر دي، نو په دې سلسله کې دا احنافو فقهاؤ مختلفه اقوال دي:

(۱) اول قول دا دی چې د غسل تحريک (ښورول) معتبر دي، يعني که يو سړی د حوض په يوه طرف کې غسل کوی او په دويم طرف کې حرکت پيدا سو نو دا حوض به کوچنی وي، او که حرکت پيدا نه سو نو دا حوض به غټ وي، دا قول امام ابو يوسف له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه را نقل کړی دی.

(۲) امام ابو يوسف د امام صاحب رَحِمَهُ الله دويم قول دا بيان کړی دی چې د حوض او تالاب د ښورولو په سلسله کې په لاس سره ښورول معتبر دی، يعني که اوبه په لاس سره وښورول سي او په دې ښورولو سره د دويم طرف اوبه په حرکت کې را غلې، نو دا غديرِ عظيم دی، کنې نو صغير دی.

(۳) او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز "تحريک توضئ" يعني د اودس ښورول معتبر دی، يعني که يو سړی د حوض په يوه طرف کې اودس کوی نو که په دويم طرف کې حرکت پيدا سو نو دا غديرِ صغير دی او که حرکت پيدا نه سو نو دا غديرِ عظيم دی.

د متأخرينو رايه: له احنافو څخه د متأخرينو فقهاؤ رايه دا ده چې له يوه طرف څخه و بل طرف ته اوبه رسېدل به له حرکت ورکولو څخه ماسوا په بل شي سره معلوميږي، نو بعضي متأخرين وايي چې خړوالي به معتبر وي، يعني که د حوض په يوه طرف کې غسل وکړی سي او د غسل په وجه د اوبو رنګ خړ سي، نو که دا خړوالی دويم طرف ته ورسېدی نو دا ماءِ قليل دي او که نه ورسېدی نو ماءِ کثير دي.

او له ابو حفص کبير څخه روايت دی چې د رنګ اعتبار به وي يعني د حوض په يوه طرف کې به زعفران واچول سي نو که د زعفرانو اثر دويم طرف ته ورسېدی نو دا ماءِ قليل دي کنې ماءِ کثير دي، لېکن ابو سليمان جوزجاني رَحِمَهُ الله د مساحت (پېمايش) اعتبار کړی دی يعني که حوض لس په لس کې وو (يعني لس شرعي ګزه اوږد او لس شرعي ګزه پراخ وو) نو دا ماءِ کثير دي او که له دې څخه کم وو نو دا ماءِ قليل دي.

د عشر في العشر **د روايت اصل:** روايت سوی دی چې کله له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د غديرِ عظيم په اړه پوښتنه وسوه نو ده وفرمايل چې حوض که زما د دې مسجد په اندازه وو، نو هغه به غديرِ عظيم وي (يعني د هغه اوبه به ماءِ کثير وي، کنې نو ماءِ قليل به وي) نو کله چې د امام محمد رَحِمَهُ الله مسجد پېمانه سو، نو د يوه روايت مطابق هغه لس په لس (۱۰×۱۰) کې وو، او بعضي حضراتو ويلي دي چې دننه حصه يې اته په اته کې وه، او له دباندې څخه چې کله پېمانه سو نو لس په لس کې وو، خو لنډه دا چې عامو مشائخو د ابو سليمان جوزجاني قول اختيار کړی دی، پاته سوه دا خبره چې کوم ګز معتبر دی، نو د فتاویٰ قاضي خان والا رايه دا ده چې د مساحت (پېمايش) ګز معتبر دی، او د مساحت ګز اووه موټه دی چې پر هر موټ به يوه ولاړه ګوته هم زياته وي، او د مصنف رَحِمَهُ الله په نېز د جامو (کپړو) ګز معتبر دی، او د جامو ګز

(فقط) اووه موټه دی، او پر هر موټ ولاړه ګوته نه زياتيږي. د اثمار الهدايې والا ليکلي دي چي له دې څخه شرعي ګز مراد دی کوم چي يو لاس کيږي، (تفصيل به يې لاندي ذکر سي). صاحب د هدايې فرمايي چي د ماءِ کثير په معلومولو کي د پيمايش اعتبار د خلکو د آسانۍ لپاره سوی دی او فتویٰ هم پر دغه ده.

د اوسنۍ زمانې په اعتبار سره د غټ حوض اندازه

مولانا ثمير الدين قاسمي په خپله شرحه "اثمار الهدايه" کي ليکلي دي: چي په دې ځای کي له عشر فی العشر څخه مراد دا دی چي لس لاسه به اوږد او لس لاسه به پراخ وي، او يو لاس "يو نيم فوټ" يعني اتلس(۱۸) اينچه کيږي. نو کوم حوض چي پنځلس فوټه اوږد او پنځلس فوټه پراخ وي، هغه به غټ حوض (غدير عظيم) وي، او پنځلسو ته چي په پنځلس کي ضرب ورکړل سي، نو دوه سوه پنځويشت(۲۲۵) مربع فوټه حوض جوړيږي، يعني د مربع والي په اندازه چي ۲۲۵ فوټه وي نو هغه غټ حوض دی.

يادونه: اوږدوالي (طول) ته چي په پراخوالي (عرض) کي ضرب ورکول سي نو مربع را وځي.

او د اوسنۍ زمانې د ګز په اعتبار سره يو لاس نيم ګز کيږي، نو لس لاسه پنځه ګزه سوه، نو که پنځه ګزه اوږد او پنځه ګزه پراخ وو، هغه غټ تالاب او حوض دی.

د ګردي حوض اندازه

او د ګردي (ګول) حوض مينځنۍ حصه چي په اوږدول ۹۲، ۱۶ فوټه وي يعني تقريبا چي تر شپاړس فوټه څه زياته وي، نو هغه غټ حوض دی، مطلب دا چي د ګردي حوض اندازه به د حوض له مينځ څخه په اوږدول معلوميږي، لو تر معلومولو وروسته که تر شپاړس فوټو څه زيات سو نو هغه غديرِ عظيم دی.

والمعتبرفي العمق الخ او د حوض د ژورتيا په سلسله کي دومره ژور والی معتبر دی، چي په ډکه لپه اخيستلو سره د حوض مځکه ښکاره نه سي، همدا صحيح ده، او د بعضو رايه دا ده چي لږ تر لږه يو شرعي ګز (ذراع) ژوروالی ضروري دی، او بعضو د دوو ذراعو مقدار معتبر کړی دی، او بعضو د يوې لوېشتي اعتبار کړی دی.

وقوله في الكتاب الخ صاحب د هدايې فرمايي چي مختصر القدوري دا خبره چي د غديرِ عظيم په دويم طرف کي لودس جائز دی، دا و دې طرف ته اشاره کوي چي په کوم طرف کي نجاست ولويږي، د هغه طرف د نجلست لوېدلو ځای به ناپاکه وي، هغه نجاست که مرئي وي، که غيرِ مرئي وي(يعني که په سترګو ليدل کيږي او که نه ليدل کيږي). لېکن له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دا روايت سوی دی چي د نجاست لوېدلو ځای هم نه دی ناپاکه. مګر په هغه صورت کي چي هلته نجاست وليدل سي(يعني مرئي وي) لکه په ماءِ جاري(روانو اوبو) کي چي دا حکم دی.

راجح قول: په دې عبارت کي د احنافو فقهاوُ په مينځ کي دوه ځايه اختلاف دی:

(۱) اول اختلاف د تحريک په سلسله کي دی يعني کوم تحريک معتبر دی، نو په دې باره کي د امام صاحب، امام ابو يوسف او امام محمد رَحِمَهُمُ الله قولونه مخکي په تفصيل سره بيان سول، خو په دې قولونو کي راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی چي د اودس تحريک (ښورول) به معتبر وي. [القول الراجح: ج:۱، ص:۱۰]

(۲) دويم اختلاف په دې باره کي دی چي د غټ حوض په کوم طرف کي نجاست ولويږي، نو دا د نجاست لوېدلو ځای به ناپاکه وي، که نه؟، نو په دې باره کي راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی يعني ناپاکه به نه وي. لکه څرنګه چي علامه ابن همام رَحِمَهُ الله هم په فتح القدير کي د دې صراحت کړی دی. [القول الراجح: ج:۱، ص:۱۲]

غوماشي، مچيان، غالبوزي، لړم او داسې نور بې وینې شیان په اوبو کې لوېدل

قَالَ: وَمَوْتُ مَا لَيْسَ لَهُ نَفْسٌ سَائِلَةٌ فِي الْمَاءِ لَا يُنَجِّسُهُ او په اوبو کې د داسې شي مرګ چې وينه پکښې نه وي، اوبه نه مرداروي كَالْبَقِّ وَالذُّبَابِ لکه غوماشه او مچ وَالزَّنَابِيْرِ وَالْعَقْرَبِ او غالبوزي او لړم وَنَحْوِهَا او د دې په شان (نور شيان) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ يُفْسِدُهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د داسې شيانو مرګ هم اوبه خرابوي (مرداروي) لِأَنَّ التَّحْرِيْمَ لَا بِطَرِيْقِ الْكَرَامَةِ آيَةُ النَّجَاسَةِ ځکه هغه تحريم کوم چې د کرامت (او احترام) په توګه نه وي هغه د نجاست نښه (علامه) ده بِخِلَافِ دُوْدِ النَّحْلِ په خلاف د مچمچې د چنجيانو (يعني په خلاف د مچمچيو د بچيانو) وَ سُوْسِ الثِّمَارِ او (په خلاف د) مېوو د چنجيانو لِأَنَّ فِيْهِ ضَرُوْرَةً ځکه چې په هغه کې ضرورت دی وَلَنَا قَوْلُهُ عليه السلام[1] فِيْهِ او زموږ دليل په دې باره کې د نبي ﷺ دا قول دی هٰذَا هُوَ الْحَلَالُ أَكْلُهُ وَشُرْبُهُ وَالْوُضُوْءُ مِنْهُ چې د دې خوړل چښل او له دې څخه اودس کول حلال دي وَلِأَنَّ الْمُنَجِّسَ هُوَ اخْتِلَاطُ الدَّمِ الْمَسْفُوْحِ بِأَجْزَائِهِ او په دې وجه (هم) چې د اوبو د اجزاؤ سره د بهېدونکې وينې ګډون مردارونکی دی (يعني د دم مسفوح ګډون اوبه مرداروي) حَتّٰى حَلَّ الْمُذَكّٰى (هم په دې وجه) ذبح سوی ښکاروی (زموږ لپاره) حلاليږي لِانْعِدَامِ الدَّمِ فِيْهِ چې په هغه کې وينه نه وي وَلَا دَمَ فِيْهَا او په دې شيانو کې (هم) وينه نشته (نو ... اوبو کې د دوی په مرګ سره اوبه نه مرداريږي) وَالْحُرْمَةُ لَيْسَتْ مِنْ ضَرُوْرَتِهَا النَّجَاسَةُ كَالطِّيْنِ او د (يو شي د) حرام کېدلو لپاره دا ضروري نه دي چې هغه دې مردار وي لکه خاوره.

اللغات: ﴿سَائِلَةٌ﴾ د ضرب د باب مؤنث اسم فاعل دی، سَالَ يَسِيْلُ: بهېدل. ﴿بَقٌّ﴾ غوماشه. (منګوړ او کټمل ته هم ويل کيږي) ﴿ذُبَابٌ﴾ مچ. ﴿زَنَابِيْرُ﴾ جمع ده واحد يې زُنْبُوْرٌ دی: غالبوزه. ﴿عَقْرَبٌ﴾ لړم. ﴿دُوْدُ النَّحْلِ﴾ د شاتو هغه کوچنو مچمچيو ته ويل کيږي کوم چې د چينجيو په شان وي. ﴿سُوْسُ الثِّمَارِ﴾ د مېوو چينجيان. ﴿الدَّمُ الْمَسْفُوْحُ﴾ دَم وينې ته ويل کيږي او مَسْفُوْحٌ د فتح د باب اسم مفعول دی يعني بهېدل، نو د دم مفسوح معنیٰ سوه: بهېدونکې وينه. ﴿مُذَكّٰى﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دی، ذَكّٰى يُذَكِّيْ: پاکول، ذبح کول (حلالول، سر پرېکول) نو د مُذَكّٰى معنیٰ سوه: حلال سوی حيوان. ﴿لِانْعِدَامِ﴾ په دې کې لام جاره دی او اِنْعِدَامٌ د انفعال د باب مصدر دی: معنیٰ يې ده: نشتون، نشتوالی، نيستي والی.

تشريح: مسئله: دا ده که په اوبو کې داسې حيوان مړ سو چې په هغه کې بهېدونکې وينه نه وه، نو د هغه په مرګ سره اوبه نه مرداريږي، د مثال په توګه غوماشه، مچ، غالبوزه، لړم او داسې نور، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د داسې حيوان مرګ هم اوبه مرداروي، چې په هغه کې وينه نه وي.

[1] تخريج: أخرجه دارقطني في كتاب الطهارة، باب كل طعام وقعت فيه دابة ليس لها دم، باب رقم:۶، حديث رقم:۸۱.

د امام شافعي دليل: دا دی چې داسې حيوان حرام دی، ځکه الله تعالیٰ فرمايي: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ (سورة المائدة: ۳)، او تحريم(حرامېدل) که د کرامت او بزرګۍ په توګه نه وو نو دا تحريم د نجاست علامه ده، په لا بطريق الکرامة سره انسان وځي، ځکه چې انسان که جنب وي او په اوبو کې مړ سي نو د ده په مرګ سره اوبه نه مرداريږي، ځکه چې د انسان تحريم د کرامت او بزرګۍ په توګه دی.

او که د مچمچيو بچيان يا د مېوو چنجيان مړه سي نو په دې سره شات(عسل) او مېوې نه مرداريږي، دليل يې دا دی چې د قياس تقاضا خو دا ده چې دا شيان دې هم نجس وي لېکن د ضرورت په وجه دوی پاک ګرځول سوي دي.

زموږ دليل: د حضرت سلمان فارسي ﷺ حديث دی: أن النبي سئل عن إناء فيه طعام او شراب يموت فيه ما ليس له دم سائل فقال هذا هو الحلال أكله وشربه والوضوء منه (كفايه)، (يعني له نبي ﷺ څخه د هغه لوښي په باره کې پوښتنه وسوه چې په هغه کې د خوراک، څښاک شيان وي، او په هغه کې داسې حيوان مړ سي چې بهېدونکې وينه پکښې نه وي، نو نبي ﷺ وفرمايل: چې د دې خوراک، څښاک حلال دي او له دې څخه اودس کول جائز دی).

په دارقطني کې دا حديث داسې ذکر سوی دی: يا سلمان كل طعام وشراب وقعت فيه دابة ليس لها دم سائل فمات فيه فهو حلال أكله وشربه ووضوئه، (يعني اې سلمانه! هر هغه د خوړولو او څښلو شی چې داسې حيوان پکښې ولوېږي چې په هغه کې وينه نه وي او بيا په پکښې مړ سي نو د دې شي خوړل څښل او اودس ځيني کول حلال دي).

دار قطني د دې حديث تر روايت کولو وروسته ويلي يې دي چې هيڅ يو راوي دې ته مرفوع نه دي ويلي بغير له سعيد بن أبي سعيد الزبيدي څخه او هغه (هم) ضعيف دی.

عقلي دليل: دا دی چې په اصل کې د اوبو مردارونکی او نجس کونکی شی د حيوان د مرګ په وخت کې د اوبو د اجزاؤ سره د دمِ مسفوح(بهېدونکې وينې) يوځای کېدل دي(يعني په اصل کې اوبه هغه وخت مرادارېږي چې په اوبو د مردار سوي حيوان بهېدونکې وينه ګډه سي)، خو څرنګه چې په دې شيانو(يعني غوماشو، لړم، غالبوزو او نورو)کې بهېدونکې وينه ګرسره نسته، نو ښکاره خبره ده چې د دوی په مرګ سره به په اوبو وينه هم نه ګډيږي، لهذا کله چې په اوبو کې د وينو ګډون نسته، نو اوبه هم نه مرداريږي، لأن المنجس هو اختلاط الدم المفسوح ...الخ. وهو لم يوجد ههنا.

حتى حلّ المزكّى الخ صاحب د هدايې عقلي دليل د يو مثال په ذريعه مضبوطوي، فرمايي: چې د حلال سوی(ذبح کړی سوي) حيوان خوړل هم په دې وجه زموږ حلال وي، چې له هغه څخه دم مسفوح(بهېدونکې وينه) وتلې وي، نو کله چې د دم مفسوح تر وتولو وروسته حيوان پاکيږي، لهذا هغه حيوان چې په هغه کې دمِ مفسوح ګرسره نه وي، نو هغه خو به بدرجه اولیٰ پاک وي.

د امام شافعي د دليل جواب: صاحب د هدايې له والحرمة ليست...الخ څخه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، حاصل د جواب دا دی چې د يو شي د حرامېدلو لپاره نجاست ضروري نه دی، يعني دا ضروري نه ده چې يو شی دې حرام وي نو هغه دې نجس هم وي، د مثال په توګه خاوره، ګُولا، او داسې نور شيان حرام دي، خو په دوی کې يو هم نجس لو مردار نه دی.

د ماهي، چونګښې، چنګاښ او د داسې نورو په مرګ سره اوبه مرداريږي، که نه؟

قَالَ: وَمَوْتُ مَا يَعِيْشُ فِي الْمَاءِ فِيْهِ او په اوبو کې د هغه حيوان مرګ چې په اوبو کې ژوند تېروي لَا يُفْسِدُهُ اوبه نه فاسدوي (نه مرداروي) كَالسَّمَكِ وَالضِّفْدَعِ وَالسَّرَطَانِ لکه ماهی، چونګښه او چنګاښ وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يُفْسِدُهُ إِلَّا السَّمَكُ او امام شافعي فرمايي چې له ماهي څخه علاوه (د نورو شيانو مرګ) اوبه مرداروي لِمَا مَرَّ د هغه دليل په وجه کوم چې تېر سو وَلَنَا أَنَّهُ مَاتَ فِي مَعْدَنِهِ زموږ دليل دا دی چې دا حيوان خو خپل د اوسېدلو په ځای کې مړ سوی دی فَلَا يُعْطَى لَهُ حُكْمُ النَّجَاسَةِ نو ځکه به دې حيوان ته د نجاست حکم نه ورکول کيږي كَبَيْضَةٍ حَالَ مُخُّهَا دَمًا لکه هغه هګۍ چې ژړ (ژېړ) يې وينې سوی وي وَلِأَنَّهُ لَا دَمَ فِيْهَا او په دې وجه (هم) چې په دې (دريابي حيواناتو) کې وينه نسته إِذِ الدَّمَوِيُّ لَا يَسْكُنُ الْمَاءَ ځکه چې ويني والا په اوبو کې نه سي اوسېدلای وَالدَّمُ هُوَ النَّجِسُ او مردار شی وينه ده وَفِي غَيْرِ الْمَاءِ قِيْلَ او له اوبو څخه علاوه (په بل شي) کې يو قول (دا) دی غَيْرُ السَّمَكِ يُفْسِدُهُ لِانْعِدَامِ الْمَعْدَنِ (چې) د مسکن د نشتوالي په وجه له ماهي څخه علاوه نور دريابي حيوانان دا شی مرداروي وَقِيْلَ او يو قول (دا) دی لَا يُفْسِدُهُ لِعَدَمِ الدَّمِ (چې) د وينې د نشتوالي په وجه يې نه مرداروي وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا صحيح قول دی وَالضِّفْدَعُ الْبَحْرِيُّ وَالْبَرِّيُّ سَوَاءٌ او چونګښه که د اوبو وي، که د وچې مځکې وي (د دواړو حکم) برابر دی وَقِيْلَ او يو قول (دا) دی الْبَرِّيُّ يُفْسِدُ چې د وچې چونګښه (اوبه) مرداروي لِوُجُوْدِ الدَّمِ وَعَدَمِ الْمَعْدَنِ د وينې د شتون په وجه او د مسکن د نشتوالي په وجه(يعني اوبه د دې د اوسېدلو ځای نه دی) وَمَا يَعِيْشُ فِي الْمَاءِ مَا يَكُوْنُ تَوَالُدُهُ وَمَثْوَاهُ فِي الْمَاءِ او کوم حيوان چې په اوبو کې ژوند تېروي هغه دی(يعني دريابي حيوان دې ته ويل کيږي) چې زېږېدنه او د استوګنې ځای يې په اوبو کې وي وَمَائِيُّ الْمَعَاشِ دُوْنَ مَائِيِّ الْمَوْلِدِ مُفْسِدٌ او هغه حيوان چې په اوبو کې اوسيږي ليکن زېږېدنه يې په اوبو کې نه وي نو هغه هم اوبه مرداروي.

اللغات: ﴿ضِفْدَع﴾ چونګښه (چيندخه)، ﴿سَرَطَان﴾ چنګاښ، ﴿مَعْدَن﴾ د اوسېدلو ځای، د پيدا کېدلوی ځای، ﴿مُخّ﴾ د هګۍ ژړ، مُخَّةٌ هم ورته ويل کيږي، او مُخّ يعني په خاء سره د يو شي مغز ته ويل کيږي، ﴿تَوَالُد﴾ د تفاعل مصدر دی: زېږېدنه، پيدايښت، دلته مراد ځني د سمندري حيواناتو هګۍ اچول او زېږېدل دي، ﴿مَثْوىٰ﴾ استوګن ځای، پناځای، د آرام کولو ځای.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کوم حيوانان چې په اوبو کې ژوند تېروي لکه ماهي، چونګښه، چنګاښ او داسې نور، که له دوی څخه يو په اوبو کې مړ سي نو زموږ په نېز اوبه نه مرداريږي هغه که لږ اوبه وي، که ډېرې، (يعني که ماءِ قليل، او که ماءِ کثير وي) او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې له ماهي څخه ملسوا که يو بل حيوان مړ سي نو د هغه په مرګ سره اوبه مرداريږي.

د امام شافعي دليل: هغه دی کوم چي مخکي تېر سو يعني چي تحريم که په طريقه د کرامت نه وو نو دا د نجاست نښه ده، او څرنګه چي دا شيان حرام دي، نو ځکه به د دوی حرمت د نجاست دليل وي.

اعتراض: لېکن دلته پر امام شافعي دا اعتراض کيږي چي په کتاب الذبائح کي ذکر دي چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز چونګښه او چنګاښ خوړل حلال دي نو دا دليل څرنګه صحيح کېدای سي.

جواب: دا ور کول سوی دی چي په کتاب الذبائح کي چي کوم څه ذکر دي هغه شوافع نه تسليموي، لکه څرنګه چي امام نووي شافعي رَحِمَهُ الله ويلي دي کوم حيوان چي په اوبو کي ژوند تېروي که هغه داسي وو چي خوړل کېدای سو نو په دې کي شک نسته چي هغه اوبه نه مرداروي او که داسي وو چي نه سو خوړل کېدلای لکه چونګښه او داسي نور نو که هغه په لږ اوبو کي يا په يو بل بهېدونکي نري شي کي هغه که لږ وو او که ډېر، مړ سو، نو هغه يې مرداروي، او د چنګاښ په باره کي يې هم دغه خبره کړې ده، نو معلومه سوه چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د چونګښي او چنګاښ حراموالی راجع دی.

زموږ دليل: دا دی چي دريابي حيوان که په اوبو کي مړ سو نو هغه خو په خپل معدن او مسکن کي مړ سو (يعني په هغه ځای کي مړ سو چي دی په هغه کي پيدا کيږي او هلته اوسيږي) او کوم حيوان چي په خپل معدن کي مړ سي نو هغه به په خپل معدن کي مردار (نجس) وي، او کوم شی چي په خپل معدن کي نجس وي نو پر هغه د نجاست حکم نه سي لګېدلی، ځکه که په خپل معدن کي پر نجاست د نجاست حکم ولګيږي نو هيڅ يو انسان نه سي پاکېدلای. ځکه چي د انسان ټولو رګونه له وينو څخه ډک دي، نو تر څو چي نجاست په خپل معدن کي وي پر هغه به د نجاست حکم نه لګيږي، لکه هغه هګۍ چي ژړ يې ويني سوی وي نو تر څو چي ويني سوي ژړ په هګۍ کي دننه وي. تر هغه وخته به هګۍ نجسه نه وي، حتی که يو څوک داسي هګۍ په جېب کي کښېږدي او لمونځ وکړي نو لمونځ يې جائز دی، د دې په خلاف که نجاست په خپل معدن کي نه وو نو پر هغه به د نجاست حکم لګيږي. لکه يو څوک چي په ښيښه (يا بوتل) کي ويني واچوي او په جيب کي يې کښېږدي، او لمونځ وکړي، نو لمونځ يې جائز نه دی. ځکه چي ښيښه د دې وينو معدن نه دی. (عنايه)

نو معلومه سوه چي دريابي حيوان که په اوبو کي مړ سو نو هغه نجس نه دی، او اوبه نه مرداريږي. ځکه چي اوبه د ده معدن دی او نجاست چي تر څه وخته په خپل معدن کي وي تر هغه وخته به هغه ته د نجاست حکم نه ور کول کيږي.

زموږ دويم دليل: دا دی چي نجسه او مرداره خو په اصل کي بهېدونکې وينه ده. د وينې مزاج ګرم دی او اوبه يخې دي. په دواړو کي تغاير او فرق سته، همدا وجه ده چي په کوم حيوان کي وينه وي هغه به د اوبو اوسېدونکی نه وي او کوم حيوان چي د اوبو اوسېدونکی وي په هغه کي به وينه نه وي، او د وينې پر نشتوالي بل دليل دا دی چي وينه په لمر کي تور رنګ ته اوړي (يعني توريږي) او له دې سمندري حيوانانو څخه چي کوم شی را وبهيږي هغه په لمر کي سپين رنګ ته اوړي. نو معلومه سوه چي په دې سمندري حيوانانو کي وينه نسته، او نجس شی خو وينه ده. نو کله چي په دوی کي وينه نسته نو ځکه زموږ په نيز (هم) بالاتفاق د دې حيوانانو په مرګ سره اوبه نه مرداريږي. اوبه که لږ وي، که زياتې.

وفي غير الماء الخ او که له دې دريابي حيوانانو څخه يو حيوان له اوبو څخه ملسوا په يو بل نرم او بهېدونکي شی کي مړ سو د مثال په توګه په سرکه، شيدو، ځوښا او نورو کي، نو په دې کي اختلاف دی، بعضي فقهاء وايي چي له ملغي څخه ماسوا نور دريابي حيوانان دا شی مرداروي. ځکه چي دا په خپل معدن کي نه دي مړه سوي. او د بعضو خيال دا دی چي دا شی نه مرداروي، ځکه چي په دريابي حيوانانو کي وينه نه وي. حال دا چي په اصل کي وينه شی مرداروي.

مصنف د هدايې دويم قول ته ترجيح ورکړې ده فرمايي: چي چونګښه که د اوبو وي او که د وچي دواړه په دې حکم کي برابر دي، يعني د دواړو په مرګ سره اوبه نه مرداريږي.

د بري او بحري چونګښي په مينځ کي فرق: د دريابي يعني د اوبو د چونګښي او د وچي محکي د چونګښي په مينځ کي فرق دا دی چي د دريابي چونګښي د ګوتو په مينځ کي د بطي په ډول نرمه پرده وي، او د وچي محکي د چونګښي د ګوتو په مينځ کي دا پرده نه وي. (عنايه)

ومائي المعاش الخ پاته سوه دا خبره چي دريابي (سمندري) حيوان کوم حيوان ته ويل کيږي، نو مصنف د هدايې فرمايي چي په دريابي حيوان کي دوه صفتونه معتبر دي: (۱) يو دا چي د ده استوګن ځای (مسکن) به اوبه وي، (۲) دويم دا چي د ده د پيدايښت او زيږيدني ځای به اوبه وي، يعني هګۍ او بچيان به يې په اوبو کي وي، او هغه حيوان چي د هغه استوګن ځای اوبه وي، خو د پيدايښت ځای يې اوبه نه وي نو د هغه په مرګ سره اوبه مرداريږي.

په ماءِ مستعمل (مستعملو اوبو) سره د طهارت حاصلولو حکم

قَالَ: وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ لَا يُطَهِّرُ الْأَحْدَاثَ فرمايي: او استعمال سوي (کارول سوي) اوبه احداث (ناپاکياني) نه پاکوي خِلَافًا لِمَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ په خلاف د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله هُمَا يَقُوْلَانِ: إِنَّ الطَّهُوْرَ مَا يُطَهِّرُ غَيْرَهُ مَرَّةً بَعْدَ أُخْرٰى دوی فرمايي: چي طهور هغه ته ويل کيږي چي يو شی له يوه وار وروسته بل وار هم پاک کړي (يعني طهور هغو اوبو ته ويل کيږي چي يو شی بار بار پاک کړي) كَالْقَطُوْعِ لکه قطوع (د قطوع معنیٰ ده: بار بار پرېکوونکی، نو دوی فرمايي چي لکه څرنګه په قطوع کي د بار بار معنیٰ سته، همدغه معنیٰ په طهور کي هم سته) وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَ أَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ: إِنْ كَانَ الْمُسْتَعْمِلُ مُتَوَضِّئًا فَهُوَ طَهُوْرٌ امام زفر فرمايي (او د امام شافعي يو قول هم دا دی): چي که استعمالوونکی انسان په اوداسه وو نو بيا هغه اوبه طهور دي وَإِنْ كَانَ مُحْدِثًا فَهُوَ طَاهِرٌ غَيْرُ طَهُوْرٍ او که بې اودسه وو نو هغه اوبه طاهري دي، مُطهّري نه دي لِأَنَّ الْعُضْوَ طَاهِرٌ حَقِيْقَةً ځکه چي اندام خو په حقيقت کي پاک دی وَبِاعْتِبَارِهِ يَكُوْنُ الْمَاءُ نو په دې اعتبار سره به اوبه پاکي وي لٰكِنَّهُ نَجِسٌ حُكْمًا لېکن اندام حکماً نجس دی (يعني د نجس په حکم کي دی) وَبِاعْتِبَارِهِ يَكُوْنُ الْمَاءُ نَجِسًا او په دې اعتبار سره به اوبه ناپاکي (مرداري) وي فَقُلْنَا بِانْتِفَاءِ الطَّهُوْرِيَّةِ وَبَقَاءِ الطَّهَارَةِ نو موږ وايو چي طهوريت منتفي سو او طهارت پاته دی عَمَلًا بِالشَّبَهَيْنِ په دواړو مشابهتونو باندي د عمل کولو لپاره وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ * امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي (او د امام اعظم رَحِمَهُ الله يو راويت هم دا دی) هُوَ طَاهِرٌ غَيْرُ طَهُوْرٍ (چي) مستعملي اوبه طاهري غير مُطهّري دي لِأَنَّ مُلَاقَاةَ الطَّاهِرِ الطَّاهِرَ لَا تُوْجِبُ التَّنَجُّسَ ځکه چي د پاک شي سره د بل پاک شي يو ځای کېدل ناپاکي نه پيدا کوي (يعني پاکي اوبه چي د پاک اندام سره ولګيږي نو په دې سره ناپاکي نه پيدا کيږي) إِلَّا أَنَّهُ أُقِيْمَتْ بِهِ قُرْبَةٌ خو (څرنګه چي) په دې ابو سره يو عبادت اداء سوی دی فَتَغَيَّرَتْ بِهِ صِفَتُهُ نو ځکه به په دې سره د

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله كذا فى رد المحتار ج:۱، ص:۱۴۷ والكفايه: ج:۱، ص:۷۵. [القول الراجح ج:۱، ص: ۱۳]

اوبو (د پاکولو) صفت بدليږي كَمَالِ الصَّدَقَةِ لکه د صدقې مال وَقَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ وَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ: هُوَنَجِسٌ او شيخين فرمايي چي دا مرداري دي لِقَوْلِهِ ﷺ • ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ په تاسو کي دي څوک په ولاړو اوبو کي متيازي نه کوي وَلَا يَغْتَسِلَنَّ فِيْهِ مِنَ الْجَنَابَةِ او نه دي په دې کي د جنابت غسل کوي وَلِأَنَّهُ مَاءٌ أُزِيْلَتْ بِهِ النَّجَاسَةُ الْحُكْمِيَّةُ (او په دې وجه هم) چي ماء مستعمل داسي اوبه دي چي په هغو سره حکمي نجاست ليري سوی دی فَيُعْتَبَرُ بِمَاءٍ نو ځکه به پر داسي اوبو قياسيږي أُزِيْلَتْ بِهِ النَّجَاسَةُ الْحَقِيْقِيَّةُ چي په هغو سره حقيقي نجاست ليري سوی وي ثُمَّ فِي رِوَايَةِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ بيا له امام صاحب څخه د حضرتِ حسن رَحِمَهُ الله په روايت کي دا دي أَنَّهُ نَجِسٌ نَجَاسَةً غَلِيْظَةً چي (مستعملي) اوبه نجسي دي په نجاست غليظه سره اِعْتِبَارًا بِالْمَاءِ الْمُسْتَعْمَلِ فِي النَّجَاسَةِ الْحَقِيْقِيَّةِ پر هغو مستعملو اوبو باندي په قياسولو سره چي هغه په حقيقي مرداري کي استعمال سوي وي وَفِي رِوَايَةِ أَبِي يُوْسُفَ عَنْهُ رَحِمَهُ اللهُ او له امام صاحب څخه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت دا دی وَ هُوَ قَوْلُهُ او دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول هم دی نَجَاسَةٌ خَفِيْفَةٌ لِمَكَانِ الْاِخْتِلَافِ (چي) د اختلاف په وجه (مستعملي اوبه نجسي دي) په نجاست خفيفه سره.

اللغات: ﴿الْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ﴾ کارول سوي اوبه (يعني استعمال سوي اوبه)، ﴿قَطُوْعٌ﴾ اسم مبالغه ده، معنیٰ يې ده: ډېر پرېکونکی، په وار وار پرېکونکی، ﴿دَائِمٌ﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی، دَامَ يَدُوْمُ: همېشه پاته کېدل، د زوال ضد، دلته مراد ځني ولاړي او د رېدلي اوبه دي.

تشريح: فاضل مصنف رَحِمَهُ الله د مستعملو اوبو په باره کي درې بحثه کړي دي:

(۱) د مستعملو اوبو د حکم په باره کي، (۲) د مستعملو اوبو د سبب په بيان کي، (۳) د مستعملو اوبو د وخت په بيان کي، په دې عبارت کي په تفصيلي توګه د مستعملو اوبو حکم بيانوي.

مصنف رَحِمَهُ الله د مستعملو اوبو بيان په دې وجه مخکي کړی چي مستعملي اوبه مقصود دي، حاصل د بحث دا دی چي مستعملي اوبه پر درې قسمه دي:

(۱)... اول دا چي که اوبه د پاکو شيانو د پرېولو لپاره استعمال سي مثلاً د غلې، سابه جاتو او پاکو کالو د پرېولو لپاره اوبه استعمال سي، نو تر استعمال وروسته بالاتفاق دا اوبه پاکي دي.

(۲)..... دويم دا چي که د حقيقي نجاست (نجاست حقيقيه) د ليري کولو لپاره اوبه استعمال سي، لکه د استنجاء يا د مردارو کالو د پرېولو لپاره، نو دا اوبه بالاتفاق نجسي (مرداري) دي، دا دوه مخکي قسمونه خو متفق عليه دي.

(۳)... دريم دا چي که د حکمي نجاست د ليري کولو لپاره اوبه استعمال سي، يا د قربت او ثواب په نيت استعمال سي نو په دې کي اختلاف دی، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي داسي اوبه طاهر مُطهر دي يعني په خپله هم پاکي دي او بل شی هم پاکوي، امام زفر فرمايي چي که د ماءِ مطلق (مطلقو اوبو) استعمالوونکی په اودسه وو (يعني

• تخريج: د دې تخريج مخکي تېره سوه.

اودس یې درلودی) او بیا یې پر دغه اودس باندې بل اودس وکړی نو دغه استعمال سوی اوبه طاهر او مُطهر دي یعني خپله هم پاکي دي او نور شیان هم پاکوي، او که بې اودسه وو نو دا استعمال سوي اوبه طاهر غیر مُطهر دي، یعني خپله خو پاکي دي مګر نور شیان نه پاکوي، او همدغه قول د امام شافعي دی، امام محمد فرمايي (او د امام اعظم ابو حینفه رَحِمَهُ الله یو قول همدغه رنګه دی) چې مستعملي اوبه طاهر غیر مُطهر دي.

او شیخین فرمايي چې نجسي دي، بیا د حسن بن زیاد مذهب دا دی چې مستعملي اوبه نجسي دي خو په نجاست غلیظه سره، دا یې له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه روایت کړي دي، او د امام ابو یوسف مذهب دا دی چې دا نجسي دي په نجاست خفیفه سره، او دا هم دَ امام صاحب رَحِمَهُ الله یو روایت دی.

د امام مالک او امام شافعي دلیل: دا دی چې الله تعالیٰ په خپل کلام کي ماءِ مطلق(مطلقو اوبو) ته طهور ویلي دي، فرمايي: وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا (سورة الفرقان، ۴۸) او طَهُوْر د فَعُوْل پر ون د مبالغې صیغه ده، معنیٰ یې ده: په وار وار پاکول، لکه د قَطُوْع معنیٰ چې ده: په وار وار پرېکول، نو د طهور لفظ د دې خبر ورکوي چې اوبه تر یو وار استعمالولو وروسته دویم وار هم پاکېدل کوي، او دریم وار هم پاکېدل کوي، نو معلومه سوه چې مستعملي اوبه مُطهّر (د بل شي پاکونکي) دي او کوم شی چې مُطهّر وي هغه به طاهر خامخا وي، نو ثابته سوه چې مستعملي اوبه طاهرهم دي او مُطهّر هم دي.

جواب: د هند ستر عالم مولانا عبد الحي رَحِمَهُ الله په خپله شرحه کي د امام مالک او د امام شافعي د دلیل یو څو جوابونه را نقل کړي دي:

(۱) اول جواب دا چې دا موږ نه منو چې فعول د مبالغې په معنیٰ سره دی، بلکي طَهُوْر (پر وزن د فعول) مصدر دی د طهارت په معنیٰ سره دی، لکه په حدیث کي چې راځي: لا صلوٰة إلا بطهور یعني بالطهارة، او په بل حدیث کي راځي: مفتاح الصلوٰة الطهور یعني الطهارة، او په آیت شریف کي راځي: وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا (سورة الإنسان:۲۱) یعني شَرَابًا طَاهِرًا، نحوي امامانو لکه سیبویه، خلیل، مبرد، اصمعي او ابن السکیت هم د دې تصریح کړې ده. نو کله چې طهور مصدر دی نو معنیٰ یې به د وار وار پاکولو نه وي، او کله چې طهور په معنیٰ د وار وار پاکولو نه سو. نو د مستعملو اوبو مُطهّر والی هم ثابت نه سو.(۲) دویم جواب دا دی چې طهور هغه شی ته ویل کیږي چې په هغه سره طهارت حاصل سي لکه سحور هغه خوراک ته ویل کیږي چې له سهار څخه لږ مخکي وخوړل سي، نو په دې صورت کي هم طهور د اوبو پر وار وار مطهّر والي باندي دلالت نه کوي.

(۳) دریم جواب دا دی چې موږ دا منو چې د فعول وزن د مبالغې لپاره دی خو طهور له طَهُر لازمي څخه مشتق دی نه له طَهَرِ متعدي څخه، نو په دې صورت کي به د طهور معنیٰ سي: ډېر پاک، حاصل دا چې د مبالغې صیغه که له فعلِ لازم څخه اخیستل سوې وه، نو هغه به په فاعل کي د مبالغې لپاره وي او د مفعول به هیڅ تعلق ور سره نه وي. او که له فعلِ متعدي څخه اخیستل سوې وه لکه قطوع، نو په مفعول کي به مبالغه او اضافه مطلوب وي، نو په دې صورت کي هم د اوبو ښه پاکېدل خو ثابتیږي، لیکن د وار وار پاکول یې نه ثابتیږي. (سعیه)

د امام زفر دليل: دا دی چې د محدث(بې اودسه انسان) اندامونه خو په حقيقت کې پاک دي ځکه چې پر ښکاره اندامونو يې هيڅ نجاست نشته، لېکن د شريعت د حکم په روی سره نجس دي ځکه چې شريعت پر محدث باندې اودس فرض کړی دی، نو مستعملې اوبه په اول اعتبار سره پاکې او په دويم په اعتبار سره نجسې دي، او په دواړو باندې عمل کول اولیٰ او غوره دي په نسبت د دې ته چې پر يوه باندې عمل وکړی سي او دويم پرېښوول سي، نو موږ په دواړو صورتونو باندې د عمل کولو په وجه وايو چې مستعملې اوبه طاهر غير مُطهّر دي، يعني د اندامونو و حقيقت ته چې وګورو نو دې ته طاهر وايو، او د شريعت حکم ته چې وګورو نو غير مُطهّر ورته وايو، نو ځکه به دا مستعملې اوبه په خپله پاکې وي خو نور به نه پاکوي.

د امام محمد د دليل حاصل: دا دی چې اندامونه هم پاک دي او په کومو اوبو سره چې اودس کيږي هغه اوبه هم پاکې دي، او دا خبره منل سوې ده چې پاک شی که د پاک شي سره يو ځای سي نو په هغه سره ناپاکي نه پيداکيږي، لېکن څرنګه چې دلته په دې اوبو سره يو عبادت(اودس) اداء سوی دی نو ځکه دا اوبه د لوړې درجې نه سوې، او د دې په وصف کې تغير راغلی دی، لکه څرنګه چې دَ صدقې او زکاة مال دی ځکه مال خو په خپل ذات کې مُطهّر دی، الله تعالیٰ فرمايي: خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا (سورة التوبة: ۱۰۳)، نو په کوم مال سره چې زکاة ادا کړی سي، شريعت هغه ته چټل او خيرن ويلي دي، همدا وجه ده چې د زکاة مال پر نبي ﷺ او د ده پر اولاد شرعًا حرام دي، نو همدا راز چې کله په اوبو سره يو قربت (عبادت) ادا سوی وي يا حدث په ليرې سوی وي نو هغه د نجاست حکميه په وجه سره خيرنيږي، او له خپلې اصلي مرتبې څخه را کښته کيږي، نو په دې وجه به دا له مُطهر والي څخه خارج وي، که څه هم پر طهارت به اوس هم پاته وي، نو ثابته سوه چې مستعملې اوبه طاهر غيرِ مُطهّر دي، نجسې نه دي، دا خبره هم په صحت سره ثابته ده چې صحابه وو به د نبي ﷺ د مستعملو اوبو لپاره ډېر کوښښ کوی او پر مخانو به يې تېرولې، نو که مستعملې اوبه نجسې وای نو نبي ﷺ به صحابه خامخا منع کولای، لکه څرنګه چې يې ابو طيبه(ښکر لګولو والا) د خپل بدن د را ايستل سوو وينو له چيښلو څخه منع کړی وو. (عنايه)

د شيخينو دليل: د مستعملو اوبو پر نجسوالي(مرداروالي) باندې د شيخينو دليل دا دی چې: څرنګه نبي ﷺ په ولاړو اوبو کې له نجاست حقيقيه يعني له متيازو کولو څخه منع کړې ده، همدغه رنګه يې په ولاړو اوبو کې له نجاست حکميه يعني له غسل کولو څخه هم منع کړې ده، نو په ولاړو اوبو کې غسل کول داسې دی لکه متيازې کول، نو ثابته سوه چې څرنګه متيازې ماءِ راکد (ولاړې اوبه) مرداروي، همدغه رنګه يې غسل هم مرداروي، او دويم دليل يې دا دی چې مستعملې اوبه هغه دي چې په هغو سره نجاست حکميه ليرې سوی وي، نو دا پر هغه اوبو قياسيږي چې په هغو سره نجاست حقيقيه ليرې سوی وي، او په کومو اوبو چې نجاست حقيقيه ليرې سوی وي هغه ناپاکه دي، نو ځکه به مستعملې اوبه هم ناپاکه وي.

ښکاره دې وي چې امام حسن بن زياد رَحِمَهُ الله د مستعملو اوبو په نجاست غليظه کېدلو باندې په قياس سره دليل نيولی دی يعني څرنګه چې هغه اوبه کومې چې په نجاست حقيقيه کې استعمال سوې وي، د نجاست غليظه په حکم کې دي، همدا رنګه هغه مستعملې اوبه چې په نجاستِ حکميه کې استعمال سوې وي هغه به هم د نجاست غليظه په حکم کې وي.

او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د مستعملو اوبو په نجاست خفیفه کېدلو باندې دا دلیل وړاندې کوي چې د مستعملو اوبو په طهارت او نجاست کې د علماؤ اختلاف دی او د علماؤ اختلاف تخفیف پیدا کوي، نو ځکه به مستعملې اوبه هم د نجاستِ خفیفه په حکم کې وي نه د نجاست غلیظه. والله اعلم.

د ماءِ مستعمل په تعریف کې تر ټولو راجح قول

د مستعملو اوبو په تعریف کې چې مخکې شومره اقوال هم را نقل سول، په هغو ټولو کې ښه او راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی، او د هغه د دلیل طریقه تر ټولو قوي ده، او په دې زمانه کې د عمومِ بلویٰ په وجه سره فتویٰ هم د هغه پر قول ده، چې مستعملې اوبه طاهر (پاکې) دي، لیکن مُطهّر (پاکونکې) نه دي، علامه خوارزمي رَحِمَهُ الله فرمايي: قال في المحيط: واختلفوا في طهارة ماء المستعمل، قال محمد: رَحِمَهُ الله هو طاهر وهو رواية عن أبي حنيفة رَحِمَهُ الله وعليه الفتوى. (الكفايه ج:۱، ص:۷۵)، علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله فرمايي: واختار المحققون من مشائخ ماوراء النهر طهارته وعليه الفتوى. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۳]

د ماءِ مستعمل تعریف او سبب (او اوبه څه وخت مستعملې ګرځي)

قَالَ: وَالْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ هُوَ فرمايي: او ماءِ مستعمل هغه دي مَا أُزِيلَ بِهِ حَدَثٌ چې په هغو سره یو حدث (بې اودسي) لیرې سوی وي أَوِ اسْتُعْمِلَ فِي الْبَدَنِ عَلَى وَجْهِ الْقُرْبَةِ او یا (هغه اوبه دي) چې په نیت د تقرّب (عبادت) پر بدن استعمال سوي وي قَالَ: وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ صاحب د هدايې فرمايي: چې دا د امام ابو یوسف په نېز دی وَ قِيلَ هُوَ قَوْلُ● أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَيْضًا او ویل سوي دي: چې دا د امام صاحب قول هم دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَصِيرُ مُسْتَعْمَلًا او امام محمد فرمايي: چې دا (اوبه) مستعملې نه ګرځي إِلَّا بِإِقَامَةِ الْقُرْبَةِ مګر د قربت (عبادت) په ادا کولو سره (يعني د قربت له اداء کولو څخه بغیر اوبه نه مستعملې کیږي) لِأَنَّ الْإِسْتِعْمَالَ بِانْتِقَالِ نَجَاسَةِ الْآثَامِ إِلَيْهِ ځکه چې اوبه په دې وجه مستعملیږي چې د ګناهونو نجاست د اوبو و طرف ته منتقل سي وَإِنَّهَا تُزَالُ بِالْقُرْبَةِ او دا نجاست صرف په عبادت (اداء کولو) سره لیرې کیږي وَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَقُولُ إِسْقَاطُ الْفَرْضِ مُؤَثِّرٌ أَيْضًا او امام ابو یوسف فرمايي چې فرض ساقطول هم (د اوبو په مستعملولو کې) مؤثر دي فَيَثْبُتُ الْفَسَادُ بِالْأَمْرَيْنِ نو فساد به په دواړو خبرو سره ثابتیږي وَمَتَى يَصِيرُ الْمَاءُ مُسْتَعْمَلًا او اوبه کله مستعملې ګرځي؟ اَلصَّحِيحُ أَنَّهُ كَمَا زَايَلَ الْعُضْوَ نو (په دې باره کې) صحیح خبره دا ده چې کله له اندام څخه جلاسي صَارَ مُسْتَعْمَلًا نو مستعملې ګرځي لِأَنَّ سُقُوطَ حُكْمِ الْإِسْتِعْمَالِ قَبْلَ الْإِنْفِصَالِ لِلضَّرُورَةِ ځکه چې (له اندام څخه) تر جلا کېدلو مخکې د استعمال حکم ساقطېدل د ضرورت (اړتیا) په وجه دی وَلَا ضَرُورَةَ بَعْدَهُ او تر جلا کېدلو وروسته هیڅ ضرورت نسته.

● القول الراجح: قول الشيخين كذا في تبيين الحقائق ج:۱، ص:۲۳ والهندية ج:۱، ص:۲۲ [القول الراجح ج:۱، ص:۱۲]

اللغات: ﴿قُرْبَة﴾ نېکي، عبادت، ثواب، هغه شی يا کار چي د هغه په وجه د الله ﷻ نژدېکت حاصلېږي، ﴿آثَام﴾ جمع ده، واحد يې إِثْمٌ دی: ګناه. ﴿إِنْفِصَال﴾ د باب إنفعال مصدر دی: جلا کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي د مستعملو اوبو د حقيقت او سبب په باره کي بيان سوی دی، نو د شيخينو په نېز د اوبو د مستعملېدلو سبب دوه شيان دي: (۱) حدث ليري کول. (۲) د قربت او ثواب نيت کول، که دا دواړه شيان پيدا سي، يا په دواړو کي يو پيدا سي، په دواړو صورتونو کي اوبه مستعملي ګرځي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مستعملو اوبو سبب فقط نيت دی، او د امام زفر او امام شافعي په نېز د اوبو د مستعملېدلو سبب فقط حدث ليري کول دي، نو که يوه محدث(بې اودسه سړی) د ثواب او قربت په نيت سره اودس وکړی نو په اتفاق سره اوبه مستعملي ګرځي، او که اودس لرونکی سړی د ېخوالي حاصلولو (يا تازګی) لپاره اودس وکړی نو په اتفاق سره اوبه مستعملي نه ګرځي، او که محدث(بې اودسه سړي) د ېخوالي د حاصلولو لپاره اودس وکړی، نو د شيخينو او امام زفر په نېز اوبه مستعملي ګرځي، او د امام محمد او امام شافعي په نېز مستعملي نه ګرځي، د امام محمد په نېز خو ځکه چي د قربت او عبادت اراده نسته، او د امام شافعي په نېز ځکه چي بې له نيته حدث نه ليري کېږي، او که يو اودس لرونکی سړی د قربت او عبادت په نيت سره اودس وکړي نو د امام ابو حنيفه، امام ابو يوسف، او امام محمد رَحِمَهُمُ الله په نېز اوبه مستعملي ګرځي، او د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَاالله په نېز مستعملي نه ګرځي. (عنايه)

د امام محمد دليل: دا دی چي اوبه ځکه مستعملي ګرځي چي د ګناهونو نجاست د اوبو وطرف ته منتقل سي، او دا نجاست صرف د عبادت او ثواب په نيت سره ليري کېږي، نو معلومه سوه چي اوبه د ثواب له نيت څخه بغير نه مستعملېږي.

د امام ابو يوسف دليل: امام ابو يوسف فرمايي چي فرض ساقطول يعني حدث(بې اودسي) ليري کول هم مؤثر دي، مطلب دا چي د امام صاحب او امام ابو يوسف په نېز د اوبو صفت هغه وخت بدلېږي چي کله نجاست حکميه له خپل محل څخه ليري سي او د اوبو و طرف ته منتقل سي، او نجاست حکميه په دواړو صورتونو کي د اوبو وطرف ته منتقل کېږي، يعني د حدث ليري کولو په وخت کي هم، او د ثواب د نيت په وخت کي هم، نو ځکه به د اوبو فساد يعني د اوبو استعمال له د دواړو خبرو څخه ثابتېږي.

اوبه کله مستعملي ګرځي؟: صاحب د هدايې له ومتى يصير الماء مستعملا...الخ څخه په همدې باره کي بيان کوي، د عبارت حاصل دا دی چي أحناف خو پر دې خبره متفق دي چي تر څو چي اوبه پر اندام وي تر هغه وخته پر اوبو د استعمال حکم نه پر لګېږي، لېکن کله چي له اندام څخه جلا سي، او تر اوسه لا په يو ځای يا لوښي کي درېدلي نه وي، نو د دی په استعمال کي اختلاف دی، سفيان ثوري، ابراهيم نخعي او بعضي نورو مشائخو ويلي دي چي په دې وخت کي هم مستعملي نه ګرځي، تر څو چي په يو ځای کي درېدلي نه وي، او احناف وايي چي څرنګه له بدن څخه جلا سي، نو مستعملي ګرځي، او په يو ځای کي جمع کېدل شرط نه دي، معتمد قول د احنافو دی.

د معتمد قول دليل دا دی چي کله اودس کونکي په اوبو سره خپل يو اندام پرېولی نو په ښکاره هغه مستعملي سوې، لېکن له اندام څخه تر جلا کېدلو مخکي به په دې وجه و دې ته مستعملي نه ويل کېږي چي اودس کول يو ضرورت دی، او د اودس په دوران کي پر اندام باندي د اوبو لګېدل هم ضروري دي، نو ځکه د دغه ضرورت پر بنياد تر جلا کېدلو مخکي و دې ته مستعملي نه ويل کېږي، خو کله چي اوبه له اندام څخه را جلا سي نو پر دې به د مستعمل والي مُهر لګېږي، ځکه چي تر جلا کېدلو وروسته د دې هيڅ ضرورت نسته.

جنب سړی چې په څاه (یاتالاب) کې د سولاغې راکښلو لپاره غوټه ووهي نو څه حکم دی؟

وَالْجُنُبُ إِذَا انْغَمَسَ فِي الْبِئْرِ لِطَلَبِ الدَّلْوِ او که جُنُب سړی د سولاغې راکښلو لپاره په څاه کې غوټه ووهل فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ الرَّجُلُ بِحَالِهِ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز دا سړی پر خپل حال پاته دی (یعني همسې جنب دی ځرنګه چې مخکې وو) لِعَدَمِ الصَّبِّ ځکه (پر ده باندې د اوبو) بهېدل نه راغله (یعني ده پر ځان اوبه نه وي بیولې) وَهُوَ شَرْطٌ عِنْدَهُ لِإِسْقَاطِ الْفَرْضِ حال دا چې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د فرضو د ساقطولو لپاره (پر ځان د اوبو بیول) شرط دي وَالْمَاءُ بِحَالِهِ او اوبه هم پر خپل حال پاته دي (یعني پاکې دي) لِعَدَمِ الْأَمْرَيْنِ ځکه چې (بیول او نیت) دواړه نسته وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ كِلَاهُمَا طَاهِرَانِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دواړه پاک دي الرَّجُلُ لِعَدَمِ اشْتِرَاطِ الصَّبِّ انسان خو په دې وجه (پاک دی) چې (د ده په نېز) اوبه بیول شرط نه دي وَالْمَاءُ لِعَدَمِ نِيَّةِ الْقُرْبَةِ او اوبه د قربت (عبادت) د نیت د نشتوالي په وجه (پاکې دي) وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ● كِلَاهُمَا نَجِسَانِ او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز (سړی او اوبه) دواړه مردار دي اَلْمَاءُ لِإِسْقَاطِ الْفَرْضِ عَنِ الْبَعْضِ بِأَوَّلِ الْمُلَاقَاةِ اوبه په دې وجه (مرداري دي) چې په اول ملاقات (اتصال) سره له بعضې اندامونو څخه فرض ساقط سو وَالرَّجُلُ لِبَقَاءِ الْحَدَثِ فِي بَقِيَّةِ الْأَعْضَاءِ او سړی ځکه (ناپاک دی) چې د ده په باقي اندامونو کې (تر اوسه لا څه) حدث پاته دی وَقِيلَ عِنْدَهُ نَجَاسَةُ الرَّجُلِ بِنَجَاسَةِ الْمَاءِ الْمُسْتَعْمَلِ او ویل سوي دي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د سړي نجاست د مستعملو اوبو د نجاست په وجه دی وَعَنْهُ أَنَّ الرَّجُلَ طَاهِرٌ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا (هم) دی چې سړی پاک دی لِأَنَّ الْمَاءَ لَا يُعْطَى لَهُ حُكْمُ الِاسْتِعْمَالِ قَبْلَ الِانْفِصَالِ ځکه چې تر جلا کېدلو مخکې اوبو ته د استعمال حکم نه سي ورکول کېدلای وَهُوَ أَوْفَقُ الرِّوَايَاتِ عَنْهُ او د امام صاحب له ټولو روایتونو څخه دا روایت (د فقهي سره) زیات موافق دی.

اللغات: ﴿انْغَمَسَ﴾ د انفعال له باب څخه د ماضي صیغه ده: غوټه وهل، ډوبېدل. ﴿صَبّ﴾ د نَصَرَ له باب څخه مصدر دی صَبَّ يَصُبُّ: بیول (بهول).

تشریح: د الجنب څخه مراد هغه جُنُب سړی دی چې پر بدن یې هیڅ حقیقي نجاست نه وي، او د څاه څخه مراد هغه څاه (یا تالاب) دی چې د لس تر لسه څخه کم وي.

صورت د مسئلې: دا دی چې که یو جنب سړي د سولاغې را ایستلو لپاره یا د یخوالي حاصلولو لپاره په څاه کې غوټه ووهل، خو پر بدن یې اوبه نه ومږلې، نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول دا دی چې اوس هم دا جنب سړی پر خپل مخکنې حال پاته دی یعني همسې جنب دی او اوبه هم پر خپل مخکنې حال پاته دي یعني همسې پاکې دي، او په غوټه وهلو سره نه په سړي کې طهارت راغلی دی او نه په اوبو کې نجاست راغلی دی، د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز سړی هم پاک دی

● القول الراجح: قول أبي حنيفه رَحِمَهُ الله بعني الرواية الأخيرة، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: وعنه أن الرجل طاهر وهذه الرواية هي صحيحة كذا في فتح القدير ج:۱، ص:۸۰ و رد المحتار ج:۱، ص:۱۴۸ [القول الراجح ج:۱، ص:۱۶]

او اوبه هم پاکي دي، او له امام صاحب څخه په دې باره کي دوه روايتونه را نقل شوي دي: (۱) سړی او اوبه دواړه ناپاکه دي، (۲) سړی پاک دی، اوبه ناپاکه دي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي پريدل اوبه بيول د فرضو د ساقطولو لپاره شرط دي او هغه دلته نسته، نو ځکه د جنب سړي فرض ساقط نه سو او کله چي فرض ساقط نه سو نو سړی پر هغه خپل جنابت پاته سو، او اوبه ځکه پاکي دي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د ابو د مستعملېدلو لپاره دوه سببونه دي: (۱) حدث ليري کول، (۲) د قربت او ثواب نيت کول، نو څرنګه چي دلته دواړه سببونه نسته، نو ځکه به اوبه مستعملي نه وي بلکي پر خپل مخکني حال به پاکي پاته وي.

د امام محمد دليل: دا دی چي اوبه بيول د فرضو د ساقطولو لپاره شرط نه دي، نو بغير له اوبو بيولو فقط په غوټه وهلو سره د ده جنابت ساقط سو، او دی پاک سو، او اوبه په دې وجه پاکي دي چي ده د قربت او ثواب نيت کړی نه دي، حال دا چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د اوبو د مستعملېدلو لپاره د قربت نيت کول شرط دي، د قربت له نيته بغير د ده په نېز اوبه نه مستعملېږي.

د امام ابو حنيفه دليل: دا دی چي اوبه خو په دې وجه ناپاکه دي چي کله د دې جنب سړي بعضي اندامونه د اوبو سره ولګېدل نو له هغه بعضي اندامونو څخه فرض ساقط سو، او د هغه په وجه اوبه مستعملي سوې که څه هم د ده نيت نه وو، ځکه چي د فرضي غسل د ساقطولو لپاره نيت شرط نه دی، او سړی ځکه ناپاکه دی چي تر اوسه يې لا په بعضي اندامونو کي حدث پاته دی، ځکه چي باقي اندامونه په ناپاکه اوبو سره پاک نه سول، او يو قول دا هم دی چي سړی ځکه ناپاکه دی چي د امام صاحب په نېز د فرضو د ساقطولو لپاره نيت شرط نه دی نو فرض غسل خو له نيت څخه بغير ساقط سو، لېکن د مستعملو اوبو په وجه د ده بدن ناپاکه سو، د دې قول پر بناء خو د ده لپاره د قرآن قرائت کول جائز دي خو لمونځ نه سي کولی.

او د امام صاحب رَحِمَهُ الله يو روايت دا دی چي سړی پاک سو ځکه چي له بدن څخه تر جلا کېدلو مخکي پر اوبو د مستعملېدلو حکم نه سي لګېدلای، لېکن کله چي دا سړی له اوبو څخه جلا سو نو هلته بيا دا اوبه مستعملي وګرځېدلې، او وروسته تر دې سړی بيا په دې مستعملو اوبو غوټه نه سو، نو په دې وجه دا سړی پاک دی، او اوبه ناپاکه دي.

صاحب د هدايې فرمايي چي دا روايت د امام صاحب رَحِمَهُ الله د أصولو سره زيات مناسبت لري، نو ځکه به دا روايت راجح وي.

راجح قول: په پورتني مسئله کي د امام صاحب آخري قول راجح دی يعني دا چي سړی پاک دی، او اوبه ناپاکه دي،

علامه شبلي رَحِمَهُ الله د تبيين الحقائق په حاشيه کي وايي: (قوله وهو أوفق الروايات) أى القياس. وقال الكافى أى أسهل. وفى شرح المجمع وهذه الرواية صحيحة. [القول الراجح ج۱، ص:۱۶]

په دباغت سره پوست (څرمن) پاکيږي، که نه؟ او له پوست څخه مَسَله (مُصلیٰ) جوړول

قال: وَكُلُّ إِهَابٍ دُبِغَ فَقَدْ طَهُرَ فرمايي او هره څرمن (پوست) چي رنګ کړل سي (يعني پخه کړل سي) نو هغه پاکه سوه وَجَازَتِ الصَّلَاةُ فِيهِ او پر دغه رنګ سوي څرمن لمونځ جائز دی وَالْوُضُوْءُ مِنْهُ او له دې څخه اودس (هم جائز دی) إِلَّا جِلْدُ الْخِنْزِيْرِ وَالْآدَمِيِّ ما سوا د خنزير او د انسان له څرمني څخه لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي أَيُّمَا إِهَابٍ● دُبِغَ فَقَدْ طَهُرَ کومي څرمني ته چي رنګ ورکړل سي هغه پاکه سوه وَهُوَ بِعُمُوْمِهِ حُجَّةٌ عَلَىٰ مَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ فِيْ جِلْدِ الْمَيْتَةِ او

● تخريج: أخرجه الترمذي فى كتاب اللباس باب ما جاء فى جلود الميتة إذا دُبغت، حديث رقم:۱۷۲۸، والنسائى فى كتاب الفرع والعتيرة، باب جلود الميتة حديث رقم:۴۲۴۶.

دا (حديث) د خپل عموم په وجه د مردار حيوان د څرمني په باره کي د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَلَا يُعَارِضُ بِالنَّهْيِ الْوَارِدِ عَنِ الْإِنْتِفَاعِ مِنَ الْمَيْتَةِ او له مردار حيوان څخه چي د نفعي حاصلولو (په باره کي) کوم د منعي حديث راغلی دي هغه د پورتني حديث معارض نه دی وَهُوَ قَوْلُهُ الطَّيِّلاً او هغه د نبي ﷺ دا قول دی لَا تَنْتَفِعُوا● مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ د مردار حيوان له څرمني څخه فايده مه اخلئ لِأَنَّهُ اِسْمٌ لِغَيْرِ الْمَدْبُوغِ ځکه چي اِهاب د هغه څرمني نوم دی چي دباغت ورکول سوی نه وي وَحُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي جِلْدِ الْكَلْبِ او (ذکر سوی حديث) د سپي د څرمني په باره کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَلَيْسَ الْكَلْبُ بِنَجِسِ الْعَيْنِ حال دا چي سپی نجسُ العين (هم) نه دی أَلَا تَرَىٰ أَنَّهُ يُنْتَفَعُ بِهِ حِرَاسَةً وَاِصْطِيَادًا آيا ته نه ګوري چي له سپي څخه د پېره داری (ښکارداری) او ښکار کار اخيستل کيږي بِخِلَافِ الْخِنْزِيرِ په خلاف د خنزير لِأَنَّهُ نَجِسُ الْعَيْنِ ځکه خنزير نجس العين دی إِذِ الْهَاءُ فِي قَوْلِهِ تَعَالَىٰ: فَإِنَّهُ رِجْسٌ[سورة الانعام: ۱۴۵] مُنْصَرِفٌ إِلَيْهِ ځکه چي د الله تعالیٰ په دې قول فَإِنَّهُ رِجْسٌ کي د هاء ضمير وخنزير ته راجع دی لِقُرْبِهِ د نژدېکت په وجه (يعني ځکه چي خنزير د هاء و ضمير ته نژدې) وَحُرْمَةُ الْإِنْتِفَاعِ بِأَجْزَاءِ الْآدَمِيِّ لِكَرَامَتِهِ او د انسان له اجزاوو څخه د نفعي اخيستلو حرمت د هغه د کرامت (بزرګی) په وجه دی فَخَرَجَا عَمَّا رَوَيْنَا نو دا دواړه (څرمني) زموږ له بيان سوي روايت څخه ووتلې ثُمَّ مَا يَمْنَعُ النَّتْنَ وَالْفَسَادَ فَهُوَ دِبَاغٌ بيا چي کوم شی (هم د څرمني) بدبويي او خرابېدل ختموي نو هغه دباغت دی وَإِنْ كَانَ تَشْمِيسًا که څه هم هغه په لمر کي وچول وي أَوْ تَتْرِيبًا يا په خاورو لړل وي لِأَنَّ الْمَقْصُودَ يَحْصُلُ بِهِ ځکه چي په دې سره (هم) مقصود حاصليږي فَلَا مَعْنَىٰ لِاشْتِرَاطِ غَيْرِهِ نو د بل شي د شرط لګولو هيڅ فايده نسته ثُمَّ مَا يَطْهُرُ جِلْدُهُ بِالدِّبَاغِ يَطْهُرُ بِالذَّكَاةِ بيا چي د کوم حيوان څرمن په دباغت سره پاکيږي، (د هغه څرمن) په ذبح کولو (حلالولو) سره هم پاکيږي لِأَنَّهَا تَعْمَلُ عَمَلَ الدِّبَاغِ فِي إِزَالَةِ الرُّطُوبَةِ النَّجِسَةِ ځکه چي د مردارو رطوباتو په لېري کولو کي ذبح کول (هم) د دباغت کار کوي وَكَذٰلِكَ يَطْهُرُ لَحْمُهُ او دغه ډول په ذبح کولو سره د هغه حيوان غوښې هم پاکيږي هُوَ الصَّحِيحُ او همدا مذهب صحيح دی وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَأْكُولًا که څه هغه حيوان داسې نه وي چي غوښې يې خوړل کيږي.

اللغات: ﴿إِهَاب﴾ د يو حيوان لنده څرمن (پوست)، هغه پوست چي وچ کړی سوی نه وي. ﴿دُبِغَ﴾ د مجهول صيغه ده: پوست پخول، رنګ ورکول. ﴿حِرَاسَة﴾ پېره داري (څوکيداري). ﴿اِصْطِيَاد﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ښکار کول. ﴿نَتْن﴾ بدبويي، تعفن (بوېناکه کېدنه) ﴿تَشْمِيس﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: په لمر کي وچول. لمر ته

● تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب اللباس، باب روى ان لايستنفع بإهاب الميتة، حديث رقم: ۴۱۲۷، والنسائي في كتاب الفرع والعشوة، باب مايدبغ به جلود الميتة، حديث رقم: ۴۲۵۶.

اچول. ﴿تكثيب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: په خاورو لړل، خاوري پر اچول. ﴿الذكاة﴾ ذبح کول(سر ور پرېکول، حلالول).

تشريح: د عبارت تر وضاحت مخکي په لنډه توګه دا خبره په ذهن کي ونيسه چي د رنګ ورکړل سوي (يعني مدبوغ) پوست(څرمن) نوم جلا دی او د اُوم(کچه) پوست نوم جلا دی، همدا رنګه د دوی احکام هم جلا دي، نو په عربي کي د اُوم او غيرِمدبوغ پوست لپاره د إهاب لفظ استعمالېږي، او د مدبوغ او رنګ ورکړل سوي پوست لپاره د أديم يا أدَم نوم استعمالېږي (بنايه ج:۱، ص:۳۵۹)، همدا رنګه له انسان او خنزير څخه ماسوا پر هر ډول رنګ ورکړل سوي(مدبوغ) پوست باندي لمونځ کول، يا اغوستل جائز دي، همدارنګه له دې پوست څخه ژی جوړول او له هغه څخه اودس کول هم جائز دي، د دې په خلاف پر اوم او غيرِمدبوغ پوست باندي نه لمونځ جائز دی او نه له هغه ژي څخه چي له اُوم پوست څخه جوړ کړی سوی وي اودس جائز دی. (اوس د عبارت حل ته ګورئ).

صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز له خنزير او انسان څخه ماسوا د هر حيوان پوست(څرمن) په رنګ ورکولو سره يا د پوډرو او نورو شيانو په ذريعه د بدبويي او رطوبت په ليري کولو سره هغه پاکيږي، همدارنګه د هغه اغوستل يا لمونځ پر کول يا ژی ځني جوړول او له هغه څخه اودس کول صحيح او جائز دي، او په دې باره کي دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: أيما إهاب دبغ فقد طهر يعني هر ډول پوست په دباغت ورکولو سره پاکيږي، دا حديث عام دی او د خپل عموم په اعتبار سره د امام مالک رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی، د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف ځکه حجت دی چي امام مالک رَحِمَهُ الله د مرداري پوست تر دباغت ورکولو وروسته هم ناپاکه بولي.

د امام مالک دليل: امام مالک رَحِمَهُ الله د خپل قول په تائيد کي د نبي ﷺ هغه فرمان را نقل کوي چي دوی ﷺ له خپل وفات څخه يوه مياشت مخکي د جهينة قوم ته ليکلی وو چي د هغه مضمون دا وو: لا تنتفعوا من الميتة بإهاب ولا عصب، (چي د مرداري له پوست او پلو څخه فايده مه اخلئ). له دې فرمان څخه خو همدا معلوميږي چي د مرداري پوست ناپاکه دی، ځکه که هغه پاک وای نو له دې څخه به د فايدې اخيستلو منع نه کېدلای.

جواب: زموږ له طرفه د امام مالک رَحِمَهُ الله له وړاندي سوي روايت څخه دا جواب ورکول کيږي چي دا حکم د إهاب په باره کي دی (يعني د هغه پوست په باره کي دی چي رنګ ورکړل سوی نه وي)، او زموږ کلام د أديم(رنګ ورکړل سوي پوست) په باره کي دی، نو زموږ د مذهب او روايت په مينځ کي هيڅ تعارض نسته. او زموږ بيان سوی حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف ځکه حجت دی چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د سپي پوست تر دباغت وروسته هم ناپاکه پاتيږي.

د امام شافعي دليل: قياس دی يعني سپی پر خنزير قياسوي، يعني څرنګه چي د خنزير پوست په دباغت سره نه پاکيږي، همدغه رنګه د سپي پوست هم په دباغت سره نه پاکيږي.

جواب: زموږ له طرفه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب دا دی چي ستا قياس صحيح نه دی، ځکه چي خنزير نجس العين دی، او د صحيح قول مطابق سپی نجس العين نه دی، ځکه چي هغه د څوکيدارۍ، ښکار او د داسي نورو فايدو په خاطر ساتل کيږي، که سپی نجس العين وای نو د خنزير په ډول به له هغه څخه د هر ډول انتفاع(فايدې اخيستلو) منع کېدلای، د دې په خلاف د خنزير نجس العين کېدل خو په قرآن کي راغلي دي: قُل لَا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ

يَطْعَمُهُ إِلَّا أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ (سورة الأنعام:۱۴۵)، (یعني اې نبي (ﷺ) ووایه(دوی ته) چي نه وينم زه په هغه شی کې چي وحي کړل سوي دي ماته (تر اوسه پوري) (يو شی) حرام کړی سوی دیو خوړونکي (لپاره) مګر که وي دا شی مرداره یا وینه بهېدونکی یا غوښه د خنزیر نو بېشکه دغه خنزیر پلیت دی) [تفسير كابلي، ج۱،

ص:۸۲۲] له دې آیت څخه دلیل په دې توګه نیول کیږي چي په فَإِنَّه کې ضمیر د "ه" د خنزیر و طرف ته راجع دی، ځکه چي هغه و ضمیر ته نژدې دی، او د آیت د آخري جزء مفهوم دا دی چي خنزیر بالکل ناپاک او نجس دی، نو چي کله خنزیر نجس دی، نو سپی کوم چي نجس العین نه دی پر خنزیر قیاسول قیاس مع الفارق دی.

په هر حال دا خبره تسلیم سوې ده چي د خنزیر او د انسان له پوست څخه ماسوا هر پوست تر دباغت ورکولو وروسته پاکیږي، او که څه هم د أيما إهاب دبغ...الخ عموم تر دباغت وروسته د خنزیر او د انسان د پوست د پاکوالي تقاضا کوي، مګر بیا هم دا دواړه پوستونه له دې عموم څخه خارج او مستثنیٰ دي، ځکه چي خنزیر د خپل نجاست او خباثت په وجه نجس دی، او انسان د خپل شرافت او کرامت په وجه د احترام هغه مقام ته رسېدلی دی چي له هیڅ یو جزء څخه یې فایده اخیستل صحیح نه دي، قرآن کریم د انسان کرامت په دې الفاظو سره اعلان کړی دی: وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ (سورة الإسراء:۷۰)، نو ځکه به دا دواړه د أيما إهاب له عموم څخه مستثنیٰ وي، لیکن په پاته شیانو کي به د دې عموم باقي او پر خپل ځای وي.

(صاحب د فتح القدير) بغير له أيما إهاب دبغ...الخ څخه نورهم ډېر حدیثونه د مدبوغ پوست د پاکوالي په باره کي ذکر کړي دي، د دار قطني په حواله سره یې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا روایت بیان کړی دی: قال رسول الله ﷺ استمتعوا بجلود الميتة إذا هي دبغت...الخ، یعني که د مرداري پوست ته دباغت ورکړل سو نو له هغه څخه فایده حاصله کړئ، همدغه رنګه له اُمّ سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روایت سوی دی چي نبي ﷺ وفرمایل: لابأس بمسك الميتة إذا دبغ، یعني که د مرداري پوست ته دباغت ورکړل سي نو د هغه استعمالول هیڅ پروا نه لري. (فتح القدير ج:۱، ص:۱۰۱)

ثم ما يمنع الخ له دې ځایه صاحب د هدایې د دباغت تعریف بیانوي، حاصل یې دا دی چي هر هغه شی کوم چي د پوست (څرمني) بدبویي لیري کړي او څرمن له خرابوالي او وروستوالي څخه وساتي نو د هغه نوم دباغت دی، هغه که دا کار د مالګي په ذریعه وکړی سي، یا د خاورو په ذریعه وکړی سي، یا د لمر په ذریعه وکړی سي، ځکه مقصود خو په اصل کي د دا دی چي د پوست بدبویي ختمه سي، او هغه له خرابوالي او روستوالي څخه خوندي سي، نو ځکه به نظر صرف پر مقصود وي او د یو بل شي شرط به نه ایښوول کیږي.

ثم ما يطهر الخ د دې عبارت حاصل دا دی چي د کوم حیوان پوست په دباغت سره پاکیږي، د هغه پوست په ذبح کولو سره هم پاکیږي، لیکن په ذبح کي شرط دا دی چي داسي سړي به ذبح کړی وي چي هغه د ذبحي اَهل وي، لو د ده ذبیحه به حلاله هم وي، په ذبح سره د پوست د پاکوالي دلیل دا دی چي څرنګه په دباغت سره نجس او مردار رطوبتونه ختمیږي همدغه رنګه په ذبح سره هم دا رطوبتونه ختمیږي، او پر مقصود د طهارت حکم لګیږي، نو ځکه مونږ دلته هم په ذبح شرعي سره د پوست د طهارت حکم ولګوی.

دإن لم يكن مأكولا الخ په ذبح کي د پوست د پاکوالي بلوجود یوه بله غټه فایده دا هم سته چي په ذبحي سره د حیوان غوښي هم حلالیږي، بلکي فقهاؤ خو تر دې پوري لیکلي دي چي له وینو څخه ملسوا یې نور ټوله شیان پاکیږي،

بيا برابره ده که هغه داسي حيوان وي چي غوښي يې خوړل کيږي، يا داسي حيوان وي چي غوښي يې نه خوړل کيږي، خو په هر حال غوښي يې پاکيږي، همدا وجه ده که داسي حيوان ذبح کړی سي چي غوښي يې نه خوړل کيږي، او بيا دا غوښي يو سړی په خپل جېب کي د ځان سره کښېږدي، او لمونځ ور سره وکړي نو بې له شکه د هغه لمونځ صحيح کيږي.

د مرداري وړښته او هډوکي پاک دي، که نه؟ (په دې باره کي د فقهاؤ قولونه او دليلونه)

قَالَ: وَشَعْرُ الْمَيْتَةِ وَعَظْمُهَا طَاهِرٌ فرمايي: او د مردار حيوان وړښته او هډوکي پاک دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: نَجَسٌ امام شافعي فرمايي: چي (دواړه) نجس دي لِأَنَّه مِنْ أَجْزَاءِ الْمَيْتَةِ ځکه چي دا د مرداري اجزاء دي وَلَنَا أَنَّهُ لَا حَيَاةَ فِيهِمَا او زموږ دليل دا دی چي په دې دواړو (يعني وړښته او هډوکو) کي ژوند نه وي وَلِهٰذَا لَا يَتَأَلَّمُ بِقَطْعِهِمَا (همدا وجه ده) چي د دې په پرېکولو سره حيوان درد (او تکليف) نه محسوسوي فَلَا يَحُلُّهُمَا الْمَوْتُ نو په دوی کي به مرګ هم اثر نه کوي إِذِ الْمَوْتُ زَوَالُ الْحَيَاةِ ځکه چي مرګ خو د ژوند ختمېدلو ته ويل کيږي وَشَعْرُ الْإِنْسَانِ وَعَظْمُهُ طَاهِرٌ او د انسان وړښته او هډوکي پاک دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: نَجَسٌ او امام شافعي فرمايي: چي نجس دي لِأَنَّه لَا يُنْتَفَعُ بِهِ ځکه چي په دې سره فايده نه اخيستل کيږي وَلَا يَجُوزُ بَيْعُه او نه يې خرڅلاو جائز دی وَلَنَا أَنَّ عَدَمَ الْإِنْتِفَاعِ وَالْبَيْعِ لِكَرَامَتِه او زموږ دليل دا دی چي د انتفاع او خرڅلاو ممانعت د انسان د کرامت (او تعظيم) په وجه دی فَلَا يَدُلُّ عَلَى نَجَاسَتِه نو دا (ممانعت) به د دوی پر نجاست دلالت نه کوي.

اللغات: ﴿عظم﴾ هډوکی، ﴿يحل﴾ د نصر د باب مضارع صيغه ده: داخلېدل، حلول کول، يو ځای ته ننوتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز د مردار حيوان وړښته، هډوکي همدارنګه ښکر، نوکان او ښونګري او داسي نور ټوله پاک دي، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا شيان ناپاکه (مردار) دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي دا ټوله شيان د مرداري له اجزاؤ څخه دي، او مرداره د خپلو ټولو اجزاؤ سره ناپاکه ده، نو ځکه به د دې وړښتيان، هډوکي، او داسي نور ناپاکه او مردار وي.

زموږ دليل: دا دی چي د مرداري ټوله اجزاء ناپاکه نه دي بلکي صرف هغه اجزاء يې ناپاکه دي چي ژوند پکښې وي او د مرګ په وجه ختم سي، او دا شيان کوم چي لوړ ذکر سول په دې کي ژوند نه وي ځکه که له دوی څخه يو شی پرېکړل سي نو حيوان تکليف او درد نه محسوسوي، نو چي کله په دوی کي ژوند نسته، نو مرګ هم نه سي پر راتلی، ځکه چي مرګ خو د ژوند ختمېدلو ته ويل کيږي.

دويمه مسئله: په دې لړ کي يو بله مسئله دا ده چي زموږ په نېز د انسان وړښته او هډوکي پاک دي، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله د انسان وړښته او نورو ته هم ناپاک وايي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د انسان له هيڅ يو جزء څخه نه فايده اخيستل صحيح دي او نه يې د يو جزء خرڅول او رانيول صحيح دي، که د انسان وړښته، هډوکي او داسي نور پاک وای نو بيا به په شريعت کي د دې له خرڅولو او رانيولو څخه منع نه کېدلای، نو معلومه سوه چي د مرداري په ډول د انسان وړښته او نور هم نجس او ناپاکه دي.

زموږ دليل: دا دی چې د انسان له يو جزء څخه د فايدې اخيستلو ممانعت يا يې د خرڅولو او رانيولو حُرمت د انسان د نجاست په وجه نه دي، بلکې د دې شيانو ممانعت د انسان د کرامت او شرافت په وجه دي، ځکه چې الله تعالیٰ خپل ستر امانت د انسان په غاړه ورکړی دی، او انسان ته يې د بزرګی او لوړوالي هغه مقام وربخښلی دی، چې هغه ته بل مخلوق رسېدلای نه سي، اوس که موږ د انسان د اجزاؤ د خرڅولو او رانيولو يا له دې څخه د ګټې او فايدې اخيستلو اجازت ورکړو نو ښکاره ده چې دا د انسان په حق کې توهين او سپکوالی دی، او موږ ته د دې هيڅ حق نسته.

ليکن له دې څخه دا نه لازميږي چې د انسان وربښته آو نور دي د طهارت په صفت سره متصف نه وي، ځکه که په دې کې طهارت نه وای نو نبي ﷺ به په هيڅ حال کې هم خپل وربښته مبارک پر صحابه کرامو نه تقسيمولای، څرنګه چې په ډېرو روايتونو کې را نقل سوي دي چې نبي ﷺ خپل سر مبارک وخريی، او وربښته يې پر صحابه کرامو تقسيم کړل، دا د دې خبرې ښکاره دليل دی چې د انسان وربښته او نور پاک دي، ځکه که دا نجس وای نو نبي ﷺ به هيڅکله تقسيم کړي نه وای.



فَصْلٌ فِي الْبِئْرِ

دا فصل د څاه (د احکامو په بيان) کې دی

تشريح: تر دې مخکې دا بيان وو چې که په لږ اوبو کې نجاست ولوېږي نو ټولې اوبه مرداريږي، خو د څاه مسئله له دې څخه جلا ده، ځکه چې په بعضې صورتونو کې په نجاست سره د څاه ټولې اوبه هم نه مرداريږي، د همدې صورتونو او شکلونو د لا څرګندتيا او وضاحت لپاره صاحب د هدايې دا فصل جلا بيانوي.

د څاه احکام، په ماء قليل (لږ اوبو) کې نجاست لوېدل

وَإِذَا وَقَعَتْ فِي الْبِئْرِ نَجَاسَةٌ او څه وخت چې په څاه کې نجاست (مرداري) ولوېږي نُزِحَتْ وَكَانَ نَزْحُ مَا فِيهَا مِنَ الْمَاءِ راکښل کيږي به هغه (ټولې) اوبه کوم چې په څاه کې دي طَهَارَةً لَّهَا د څاه د پاکوالي لپاره (يعني د ټولو اوبو راکښل د دې څاه لپاره پاکوالی دی) بِإِجْمَاعِ السَّلَفِ د سلفو په اجماع سره وَمَسَائِلُ الْآبَارِ مَبْنِيَّةٌ عَلَى اتِّبَاعِ الْآثَارِ دُوْنَ الْقِيَاسِ او د څاه مسئلې د آثارو پر تابعداری مبني دي نه پر قياس.

اللغات: ﴿البئر﴾ څاه جمع يې آبار راځي، ﴿نُزِحَتْ﴾ د فتح له باب څخه واحده مؤنثه غائبه ماضي مجهول صيغه ده.

نَزَحَ يَنْزَحُ: اوبه راکښل.

تشريح: د عبارت تر حلّ مخکې په دې خبره پوه سه! چې په متن کې د نُزِحَتْ صيغه مؤنث ده، نو په دې کې د مې ضمير مرجع څه شي دی؟ او دا ولې مؤنث را وړل سوی؟ په دې باره کې د فتح القدير والا رايه دا ده چې د دې مرجع نجاست ګرځول ډېر غوره دي، صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې دا تأنيث د ظاهري اسناد په اعتبار سره دی، يعني تر دې

مخکي د نجاسة لفظ راغلی دی (چي هغه مؤنث دی)، نو ځکه يې دا هم د مؤنث په صيغه سره بيان کړه. (خو په اصل کي يې نجاست ته اسناد نه دي سوی).

صورت د مسئلې: دا دی چي که په څاه کي نجاست ولوېږي نو له هغه ځخه به پوره اوبه را کښل کيږي د دې لپاره چي وروسته کومي لوبه را وځي هغه هم پاکي سي، او خپله څاه هم پاکه سي، يعني عليحده د څاه او د څاه د دېوالونو صفا کولو ضرورت نسته، ځکه چي د صحابه وو او تابعينو رضوان الله عليهم اجمعين همدغه عمل وو، او پر دې طريقه د دوی اجماع هم وه.

ومسائل الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د څاه مسائل له سلفو ځخه د را نقل سوو آثارو پر اتباع او پيروي باندي مبني دي، عقل او قياس لره په دې کي هيڅ دخل نسته، ځکه يو طرف ته د قياس تقاضا دا ده چي هر څومره نجاست څاه ته ور لوېږي څاه دي نه مردارېږي، ځکه چي هر وخت او همېشه د څاه له مځکي ځخه اوبه را وځي او را رواني وي، او بل طرف ته د قياس تقاضا دا ده چي که څاه ته نجاست ور ولوېږي، نو هيڅکله دي نه پاکيږي، ځکه څرنګه چي د نجاست ور لوېدلو په وجه، په اوبو کي نجاست خورېږي، همدغه رنګه د څاه د دېوالونو او نورو سره هم منبلي، او بيا چي څرنګه هر ګړی له مځکي ځخه اوبه را رواني دي، نو د پاکو او مردارو اوبو په مينځ کي فرق کول (هم) مشکل وي، لهذا د قياس په ذريعه يوه حتمي فيصله کول ستونزمن سو، نو ځکه به په دې باره کي قياس لره هيڅ دخل نه وي، او هر څه به له سلفو ځخه را نقل سوو آثارو ته پرېږدو.

که په څاه کي د اوښ، بزې (او پسه) يوه يا دوې پچي يا خوشايي
او داسي نور ولوېږي نو څه حکم دی؟

فَإِنْ وَقَعَتْ بَعْرَةٌ أَوْ بَعْرَتَانِ مِنْ بَعْرِ الْإِبِلِ أَوِ الْغَنَمِ بيا که په څاه کي د اوښ يا د بزې (يا د پسه) يوه يا دوې پچي ولوېدې لَمْ تُفْسِدِ الْمَاءَ اِسْتِحْسَانًا نو په دليل د استحسان اوبه نه مرداروي وَالْقِيَاسُ أَنْ تُفْسِدَهُ او قياس دا دی چي مردواروي يې لِوُقُوعِ النَّجَاسَةِ فِي الْمَاءِ الْقَلِيْلِ ځکه چي په لږ اوبو کي نجاست ولوېدی وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ أَنَّ آبَارَ الْفَلَوَاتِ لَيْسَتْ لَهَا رُءُوْسٌ حَاجِزَةٌ داستحسان وجه دا ده چي د دښت پر څاه ګانو باندي منع کونکي سرونه نه وي (يعني پر سرونو يې داسي شی نه وي چي نجاست را وګرځوي) وَالْمَوَاشِي تَبْعَرُ حَوْلَهَا او څاروبان د څاه پر شاوخوا پچي کوي فَتُلْقِيْهَا الرِّيْحُ فِيْهَا چي هواګاني دا پچي په څاه کي اچوي فَجُعِلَ الْقَلِيْلُ عَفْوًا لِلضَّرُوْرَةِ نو د ضرورت په وجه لږ غوندي نجاست معاف کړی سو وَلَا ضَرُوْرَةَ فِي الْكَثِيْرِ او په کثير (ډېر نجاست) کي هيڅ ضرورت نسته وَهُوَ مَا يَسْتَكْثِرُهُ النَّاظِرُ إِلَيْهِ فِي الْمَرْوِيِّ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام صاحب د روايت مطابق ډېر نجاست هغه دی چي کتونکي يې په خپله ډېر وګني وَعَلَيْهِ الْاِعْتِمَادُ او هم پر دې روايت اعتماد دی وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الرَّطْبِ وَالْيَابِسِ او د لندې او وچې (پچي) په مينځ کي هيڅ فرق نسته وَالصَّحِيْحِ وَالْمُنْكَسِرِ اونه د روغي او ماتي (پچي) په مينځ کي هيڅ فرق سته وَالرَّوْثِ وَالْخِثْيِ وَالْبَعْرِ او نه د خوشايو، خرشينو او پچو په مينځ کي فرق سته لِأَنَّ الضَّرُوْرَةَ تَشْمَلُ الْكُلَّ ځکه چي ضرورت په ټولو کي سته وَفِيْ شَاةٍ تَبْعَرُ فِي الْمِحْلَبِ بَعْرَةً أَوْ بَعْرَتَيْنِ او (په هغه صورت کي) چي بزه د شيدو د لوښلو په لوښي کي

يوه يا دوې پچې وكړي قَالُوْا: تُرْمَى الْبَعْرَةُ (نو) مشايخ فرمايي چې پچه دې وغورځول سي وَيُشْرَبُ اللَّبَنُ او شيدې دې وڅيښل سي لِمَكَانِ الضَّرُوْرَةِ دضرورت په وجه وَلَا يُعْفَى الْقَلِيْلُ فِي الْإِنَاءِ او په (عام) لوښي كي لږ غوندي نجاست هم نه معافيږي عَلٰى مَا قِيْلَ لِعَدَمِ الضَّرُوْرَةِ لكه څرنګه چې ويل سوي دي چې ضرورت نسته وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ كَانَ يُشِيْرُ فِيْ حَقِّ الْبَعْرَةِ وَالْبَعْرَتَيْنِ او له امام صاحب څخه (دا) روايت دی چې ديوې يا دوو پچو په حق كي لوښی هم د څاه په ډول دی.

اللغات: ﴿بَعْرَة﴾ يوه پچه، جمع يې بَعْرٌ راځي، ﴿فَلَوَات﴾ جمع ده، واحد يې فَلَاةٌ دی: بيابان(دښت)، صحراء، ځنګل، ناآباد سوی ځای، ﴿حاجزة﴾ بنديز، پرده، ﴿مَوَاشِي﴾ جمع ده، واحد يې مَاشِيَةٌ دی: څارويان(هغه حيوانان كوم چي وابښه خوري)، ﴿تُلْقِي﴾ د إفعال د باب مضارع صيغه ده، أَلْقَى يُلْقِي: اچول، راغورځاول، ﴿رَوْث﴾ وچ خوشايي، ﴿خِثْي﴾او خِثْي هم راځي: خرشينه(په عامه توګه رَوْث د غوا فضله يعني خوشايو ته ويل كيږي او خِثْي د خره او آس فضله يعني خرشينو ته ويل كيږي، او كله نا كله د يو بل پر ځای هم استعماليږي)، ﴿محلب﴾ هغه لوښی چې شيدې پكښې را لوېشل كيږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې كه په څاه كي د اوښ، بزې (يا پسه) يوه يا دوې پچې ولوېږي نو د استحسان په وجه اوبه پاكي دي، او د قياس په وجه مرداري دي، له يوه يا دوو پچو څخه مراد مقدار قليل (يعني لږ اندازه) ده.

د قياس وجه: د قياس وجه دا ده چې دلته په لږ اوبو كي نجاست لوېدلی دی او مخكې تېر سوه چې لږ اوبه په نجاست سره مرداريږي، نجاست كه ډېر وي، كه لږ وي، او دلته له څاه څخه هغه څاه مراد ده چې تر لس په لسه كمه وي.

د استحسان وجه: د استحسان دوې وجهې دي: يوه وجه دا ده چې د دښت او صحراء د څاه ګانو پر سرو باندي يو مخ نيونكی شی نه وي يعني سرونه يې نه وي، او څارويان د هغو پر شاوخوا پچې كوي بيا د هوا په ذريعه دا پچې څاه ګانو ته لوېږي، نو ځكه د ضرورت په وجه مقدارِ قليل(لږ مقدر) معاف كړی سو، او څرنګه چې په كثير(ډېر مقدار) كي هيڅ ضرورت نسته نو ځكه هغه نه معاف كيږي.

وهو ما يستكثره الخ پاته سوه دا خبره چې د قليل او كثير حد څه دی؟ نو په دې باره كي د علماؤ مختلفه قولونه دي، بعضو ويلي دي چې كثير (ډېرمقدار) دا دی چې دومره پچې وي چې د اوبو څلورمه حصه يې نيولې وي، (يعني پر څلورمه حصه يې غوړېدلي وي) او يو قول دا دی چې كثير هغه دی چې د اوبو دريمه حصه يې نيولې وي، بل قول دا دی چې د اوبو زياتره حصه يې نيولې وي، بعضو ويلي دي چې ټوله اوبه يې نيولي وي، بعضو ويلي دي چې په هره سولاغه كي پچه راووځي، او بعضو ويلي دي چې درې پچې كثير دي.

او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې كه كتونكی(ناظر) دا پچې ډېرې وګڼي، نو كثير دي، كنې نو قليل دي، او هم پر دې قول اعتماد دی، ځكه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله داسې مسائل كوم چې د تقدير او اندازې سره تعلق لري، هغه سړي ته سپاري چې هغه ته دا مسائل ور پېښ سوي وي.

ولا فرق الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د استحسان په وجه وچې او لندې، روغې او ماتې ټوله پچې سره برابري دي، همدغه رنګه د خوشايو، خرشينو او پچو ټولو حكم يو ډول دی، ځكه چې ضرورت ټولو ته شامل دی، ځكه څرنګه چې د دې څاه ګانو پر شاوخوا د بزو او پسونو راوستلو ضرورت سته، همدغه رنګه د اوښانو، اسانو، ګاميښو او غواوو

رلوستلو ضرورت هم سته، او د دې شيانو خوشايي او خرشينه هم دې ځاه ګانو ته ور ولوېږي، هم پر دې بناء د صحراګانو او ښارونو د څاه ګانو په مينځ کې فرق سته، ځکه که د صحرا د څاه ګانو سرونه نسته، خو د ښار او آبادی د څاه ګانو سرونه سته چې د ګندګی او نجاست مخنيوی وکړي، نو په دې وجه د صحرا په څاه ګانو کې د نجاست د لږ اندازې معافولو ضرورت سته، لېکن د ښار په څاه ګانو کې د دې د معافولو هيڅ ضرورت نسته. (عنايه)

ولی شاة تبعر الخ صاحب د هدايې بله مسئله دا بيانوي چې د شيدو لوښلو په وخت کې که بزه (يا مېږه) يوه يا دوې پچې د شيدو لوښلو په لوښي کې وکړي نو پچې دې ځينې را وکښل سي، او شيدې دې وچښل سي، ځکه په دې کې ضرورت دی، ځکه چې د بزو (او مېږو) دا عادت دی چې د لوښلو په وخت کې پچې کوي، او که دا پچې په ابنول سوي لوښي کې ولوېږي (يعني دا لوښی په لاس کې نيول سوي نه وي، بلکې د څاروي څخه لږ ليرې پر ځمکه پروت وي، او شيدې په بل شي کې لوښل کېږي، او دې لوښي ته ور اچول کېږي) نو بيا دا لږ مقدار هم معاف نه دی، ځکه دلته هيڅ ضرورت نسته، ځکه چې د پروت لوښي سر ور پټول ممکن دي.

او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې لوښی هم د يوې يا دوو پچو په حق کې د څاه په څير دی يعني څرنګه چې څاه په يوه يا دوو پچو سره نه مرداريږي، همدغه رنګه شيدې هم په يوه يا دوو پچو سره نه مرداريږي.

په څاه کې د کوترې او مرغۍ د فضلې (ګندګی) لوېدلو حکم

قال: وَلَوْ وَقَعَ فِيْهَا خُرْءُ الْحَمَامِ أَوِ الْعُصْفُوْرِ که په څاه کې د کوترې يا چوغکې (مرغۍ) ګندګي ولوېدله لَا يُفْسِدُهُ نو څاه نه مرداروي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله (په دې کې) اختلاف دی لَه د امام شافعي دليل دا دی أَنَّه اِسْتَحَالَ إِلَى نَتْنٍ وَفَسَادٍ چې دا (د کوترې او مرغۍ) ګندګي په بدبويي او ګند کې سره بدله سوه فَأَشْبَهَ خُرْءَ الدَّجَاجَةِ نو (د دوی ګندګي) د چرګې د ګندګۍ سره مشابه سوه وَلَنَا إِجْمَاعُ الْمُسْلِمِيْنَ عَلَى اقْتِنَاءِ الْحَمَامَاتِ فِي الْمَسَاجِدِ او زموږ دليل دا دی چې مسلمانانو (صحابه وو او تابعينو) په مسجدونو کې د کوترو پر ساتلو اجماع کړې ده (يعني پر دې يې اجماع کړې ده چې په کوترو به څوک کار نه لري، بلکې ايله به وي) مَعَ● وُرُوْدِ الْأَمْرِ بِتَطْهِيْرِهَا سره د دې چې د مسجدونو د پاک ساتلو حکم سوی دی وَاسْتِحَالَتُه لَا إِلَى نَتْنٍ رَائِحَةٍ او دا ګندګي په بدبويي سره نه بدليږي فَأَشْبَهَ الْحَمْأَةَ نو دا د تورو ختو (ېلو) سره مشابه سوه (يعني لکه څرنګه چې د تورو او خرابو ختو بوی لږ وي او که په لوبو کې ولوېږي، اوبه نه په مرداريږي، همدارنګه د کوترې فضله هم ده).

اللغات: ﴿الخرء﴾ د مرغيو فضله او ګندګي (پيخاله)، ﴿العصفور﴾ مرغۍ (چوغکه)، ﴿اقتناء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: جمع کول، ساتل، چڼل، حاصلول، ﴿أشبه﴾ ورته کېدل، مشابه کېدل، ﴿الحمأة﴾ توري خاوري (ختې)، لوشي (ېلې)، عامو ختو ته هم ويل کيږي.

تشريح: په عبارت کې د بيان سوي مسئلې حاصل دا دی چې که د کوترې يا چوغکې ګندګي (فضله) څاه ته ور ولوېږي نو زموږ په نېز اوبه نه مرداريږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز مرداريږي.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوة باب اتخاذ للمساجد في الدور، حديث رقم:٤٥٥، و ترمذي في كتاب الجمعة باب ما ذكر في تطييب للمساجد، حديث:٥٩٤.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د کوترې يا چوغکې ګندګي چې کله اوبو ته ور ايله سي نو د بدبويي او خرابی وطرف ته منتقله سي، نو دا د چرګې د ګندګۍ سره مشابه سوه، او د چرګې ګندګي په اتفاق سره نجسه ده، نو ځکه به دا ګندګي هم نجسه او مرداره وي.

زموږ دليل: دا دی چې د صحابه وو له وخت څخه واخله تر اوسه په مسجدونو کې د کوترو په پرېښولو باندې د سلفو او خلفو علماؤ اجماع را روانه ده (يعني په مسجدونو کې په کوترو باندې هيڅوک کار نه لري، بلکې په آزاده ګرځي) او په يوه زمانه کې هم له دې څخه انکار نه دی سوی، او حال دا چې د مسجدونو د پاکولو او صفا ساتلو حکم په سختۍ سره سوی دی، نو په داسې صورت کې په مسجدونو کې د کوترو په آزاده پرېښوول د دې خبرې ښکاره دليل دی چې د دې ګندګي مرداره نه ده، ځکه که مرداره وای نو بيا به د مسجد په ټول پاک ځای کې د کوترو اجازه نه ورکول کېدی، نو معلومه سوه چې د کوترې ګندګي مرداره نه ده، او کله چې دا مرداره نه ده، نو د دې په ور لوېدلو سره به اوبه هم نه مرداريږي.

جواب: د امام شافعي د دليل جواب دا دی چې د مرداريدلو لپاره دوه شيان ضروري دي: (۱) بدبويي، (۲) فساد(خرابتيا)، او دا خبره منل سوې ده چې د کوترې په فضله کې بدبويي نسته، نو معلومه سوه چې د نجاست له دوو جزؤ څخه يوه جزء منتفي سوه(يعني د نجس کېدلو لپاره چې کوم دوه شيان ضروري دي په هغو کې يو شی يعني بدبويي د کوترې په فضله کې نسته) نو کله چې يو شی منتفي سو نو ټوله سبب منتفي سو، او کله چې د کوترې له فضلې څخه د نجاست سبب منتفي سو نو د کوترې فضله به مرداره نه وي.

په څاه کې د ماکول اللحم او غير ماکول اللحم څاروي د متيازو د حکم

فَإِنْ بَالَتْ فِيهَا شَاةٌ او که په څاه کې بزې(وزې) متيازې وکړې نُزِحَ الْمَاءُ كُلُّهُ نو ټولې اوبه به را کښل کيږي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ د شيخنو په نيز وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ: لَا يُنْزَحُ امام محمد فرمايي چې نه به راکښل کيږي إِلَّا إِذَا غَلَبَ عَلَى الْمَاءِ خو که متيازې پر اوبو غالبه سوې فَيَخْرُجُ مِنْ أَنْ يَكُونَ طَهُورًا نو اوبه له مُطهِّروالي څخه وځي(يعني له دې څخه وځي چې بل شی پاک کړي) وَأَصْلُهُ أَنَّ بَوْلَ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ طَاهِرٌ عِنْدَهُ او د دې اختلاف اصل دا دی چې د کوم حيوان غوښې خوړل کيږي د هغه متيازې د امام محمد په نيز پاکې دي نَجَسٌ عِنْدَهُمَا او د شيخينو په نيز مرداري دي لَهُ د امام محمد دليل دا دی أَنَّ النَّبِيَّ (ص) أَمَرَ الْعُرَنِيِّينَ● بِشُرْبِ أَبْوَالِ الْإِبِلِ وَأَلْبَانِهَا چې نبي ﷺ عرنيينو ته د اوښانو د متيازو او شيدو چيښلو حکم کړی وو وَلَهُمَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ● او د شيخينو دليل دا حديث دی اِسْتَنْزِهُوا مِنَ الْبَوْلِ خپل ځانونه له متيازو څخه ساتئ فَإِنَّ عَامَّةَ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنْهُ ځکه چې د قبر زياتره عذاب د دې په وجه دی مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ (دا حديث) بغير له څه تفصيل څخه دی (يعني په حديث کې د ماکول اللحم او غير ماکول اللحم هيڅ تفصيل نسته) وَلِأَنَّهُ يَسْتَحِيلُ إِلَى نَتْنٍ وَفَسَادٍ او په دې وجه (هم) چې د ماکول اللحم څاروي

● تخريج: أخرجه الائمة الستة، بخاری فی کتاب الوضوء، باب ابوال الابل والدّواب، حديث رقم:۲۳۳، ومسلم کتاب القسامة باب حکم المحاربين والمرتدين، حديث رقم:۴۳۵۳.

● تخريج: أخرجه دارقطني في کتاب الطهارة باب نجاسة البول والأمر با التنزه منه، حديث رقم:۴۵۳.

متيازې د بلبوې او خرابۍ و طرف ته نقل کيږي فَصَارَ كَبَوْلِ مَا لَا يُؤْكَلُ لَحْمُه نو دا د غير مأكول اللحم حيواناتو د متيازو په شان شوې وَتَأْوِيلُ مَا رُوِىَ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د روايت شوي حديث تأويل دا دى أَنَّه عُرِفَ شِفَاؤُهُمْ وَحْيًا چې نبي ﷺ ته د وحې په ذريعه د عرنيينو شفاء په دې کي معلومه شوې وه ثُمَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَحِلُّ شُرْبُه لِلتَّدَاوِىْ بيا د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز د مأكول اللحم څاروي متيازې د شفاء لپاره څيښل هم جائز نه دي لِأَنَّه لَا يُتَيَقَّنُ بِالشِّفَاءِ فِيْهِ ځکه چې په متيازو کې د شفاء يقين نشته فَلَا يُعْرَضُ عَنِ الْحُرْمَةِ نو ځکه به د هغو له حراموالي څخه اعراض نه کيږي وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ● يَحِلُّ لِلتَّدَاوِىْ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د دواء لپاره د هغو څيښل حلال دي (د عرنيينو د قصې په وجه) وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ يَحِلُّ لِلتَّدَاوِىْ وَغَيْرِهٖ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د دواء او غير دواء دواړو لپاره هغو څيښل حلال دي لِطَهَارَتِهٖ عِنْدَهٗ ځکه چې د مأکول اللحم څارويانو متيازې د هغه په نيز حلالې دي.

اللغات: ﴿إِسْتَنْزِهُوا﴾ د استفعال له باب څخه د أمر جمع صيغه ده: پرهيز کول، ځان ژغورل. ﴿تَكَاوِیْ﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: دوايي کول، درملنه، د علاج لپاره يو شی استعمالول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په څاه کې بزې متيازې وکړې نو د شيخينو يعني د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله په نيز به د څاه ټولې اوبه را کښل کيږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي که متيازې په دومره اندازه وې چې پر اوبو غالبه شوې، نو په دې صورت کې د څاه اوبه مرداري دي، او را ايستل کيږي به، لېکن که متيازې لږ غوندې وې نو په دې صورت کې نه اوبه مرداري دي، او نه به را ايستل کيږي.

د أصله أنّ الخ د دې اختلاف اصل دا دی چې د کوم حيوان غوښې خوړل کيږي د هغه متيازې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز پاکې دي، که په ماءِ قليل (لږ اوبو) کې ولوېږي نو اوبه نه مرداروي بلکې له هغو څخه به اودس جائز وي، هو! که متيازې پر اوبو غالبه شوې، نو دا اوبه به طاهر غير مطهر وي (يعني خپله خو به پاکې وي لېکن بل شی نه شي پاکولی) او د شيخينو په نيز چې د کوم حيوان غوښې خوړل کيږي د هغه متيازې ناپاکه دي، که د هغو د متيازو يو څاڅکی هم په اوبو کې ولوېږي نو اوبه مردارېږي.

د امام محمد دليل: د عرنيينو حديث دی، عُرَيْنَه د عُرَنَةٌ تصغير دی او عرنة د عرفات سره نژدې د يوې شلې (ولدې) نوم دی، هغه ځای ته د نسبت په وجه دې خلکو ته عرنيين ويل کيږي.

د عرنيينو قصه: دا ده چې د عُرينې خلک مدينې ته راغلل، اسلام يې راووړ، لېکن پر دوی د مدينې هوا سمه نه ولګېدله، تر دې چې د دوی رنګونه ژړ شول، نسونه يې وپړسېدل، بيا نبي ﷺ دوی ته حکم وکړ چې د صدقې د اوښانو متيازې او شيدې وڅښئ، دې خلکو همداسې وکړه، په دې سره دوی روغ رمټ شوه، خو بيا دوی مرتد شوه، شپنيان يې قتل کړه، اوښان يې غلا کړه، بيا نبي ﷺ يوه ډله ور واستوله چې دوی ونيسي، هغه ډلې دوی ونيول، را يې وستل،

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما في الدر المختار ج:١، ص:١٥٢ [القول الراجح ج:١، ص:١٨]

پښې او لاسونه ور پرېکړل، او د دوی په سترګو کې يې په اُور ګرمې سوې سلايي ور تيرې کړې، او پر دېر ګرم رېګ يې پرې ايستل تر دې چې ټول مړه سول.

امام محمد په دې حديث سره په دې ډول دليل نيسي چې نبي ﷺ دوی ته د متيازو څښلو حکم وکړی، لهذا که د مأکول اللحم حيوان متيازې مرداري وای نو دې خلکو ته به د دې د څښلو حکم نه کېدلای، ځکه چې د مردارولي په صورت کې به هغه حرامې وای، او د حرام په باره کې نبي ﷺ فرمايلې دي: ان الله تعالی لم يجعل شفاءكم فيما حرّم عليكم (يعني الله تعالیٰ په حرامو شيانو کې ستاسو لپاره شفاء پيدا کړې نه ده).

د شيخينو دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: إستنزهوا من البول فان عامة عذاب القبر منه، (يعني له متيازو څخه ځان وژغورئ ځکه چې د قبر زياتره عذاب د متيازو په وجه دی، (په دې حديث کې مطلقاً له متيازو څخه د ځان ساتلو حکم سوی دی، متيازې که د مأکول اللحم وي او که د غير مأکول اللحم وي).

په حديث کې صيغه د امر ده، او امر د وجوب لپاره وي، نو معلومه سوه چې متيازې مرداري دي کنې له دې څخه به د ځان ساتلو حکم نه کېدلای، او د دې تائيد په دې حديث سره هم کيږي: أن رسول الله ﷺ شيّع جنازة سعد بن معاذ وكان يمشي على رؤس أصابعه من زحام الملائكة التي حضرت الصلاة عليه فلما وضع في القبر ضغطته الارض ضغطةً كادت تختلف أضلاعه فسئل رسول الله ﷺ عن سببه فقال أنه كان لايستنزه من البول. (روايت سوی دی چې نبي ﷺ د سعد بن معاذ ﷺ د جنازې سره روان وو، او نبي ﷺ د هغو ملائکو چې د سعد بن معاذ ﷺ د جنازې د لمانځه لپاره راغلې وې د ډېرښت او رش په وجه خپل د ګوتو پر سرو روان وو، کله چې سعد په قبر کې کښېښول سو، نو ځمکې دومره کښېکاږی نژدې وه چې پښتې يې پر له تيرې سي، نو له نبي ﷺ څخه په دې اړه پوښتنه وسوه، نبي ﷺ وفرمايل چې سعد د متيازو په سلسله کې احتياط نه کوی(يعني له متيازو څخه يې ځان نه ساتی)، د دې حديث تر را نقل کولو وروسته صاحب د عنايه ليکلي دي چې په حديث کې خپلې متيازې مراد نه دي، ځکه کوم سړی چې له خپلو متيازو څخه ځان نه ساتي د هغه لمونځ هم نه صحيح کيږي، بلکې د اوښ متيازې مراد دي يعني سعد ﷺ به د اوښانو د څارولو په وخت کې د اوښانو د متيازو په سلسله کې احتياط نه کوی، چې د هغه په وجه پر ده په قبر کې سختي راغله، نو دا قصه هم پر دې ګواهي ورکوي چې د مأکول اللحم حيوانانو متيازې ناپاکه دي.

د شيخينو عقلي دليل: دا دی چې د مأکول اللحم حيوانانو متيازې هم د خرابی او بدبويي و طرف ته انتقال کوي. نو ځکه دا هم د غير مأکول اللحم حيوانانو د متيازو سره مشابه سوې، نو څرنګه چې د غير مأکول اللحم متيازې مرداري دي، همدغه رنګه به د مأکول اللحم متيازې هم مرداري وي.

جواب: د امام محمد رَحِمَهُ الله د بيان سوي حديث (۱) اول جواب خو صاحب د هدايې ورکړی دی، چې نبي ﷺ ته د وحي په ذريعه معلومه سوې وه چې د دې خلکو شفاء او روغتيا په متيازو کې ده، په دې وجه سره دوی ته د متيازو څښلو حکم وکړی سو، او څرنګه چې اوس دا خبره نه معلوميږي(چې په دې کې شفاء سته او که نسته) نو ځکه به اوس په دې سره علاج او دوا هم نه کيږي.(۲) دويم جواب دا دی چې په حديث کې د أبوال لفظ نسته. بلکې صرف د ألبان لفظ سته، يعني نبي ﷺ دوی ته د شيدو څښلو حکم کړی وو، نه د متيازو څښلو.(۳) دريم جواب يې دا دی چې دا حديث منسوخ دی، نو ځکه اوس په دې حديث سره دليل نيول کېدلی نه سي.

ثم عند أبي حنيفة الخ بنکاره دي وي چي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز متيازي د علاج او دوا په توګه چيښل هم جائز نه دي، ځکه چي اوس په متيازو کي شفاء او روغتيا يقيني نه ده. نو ځکه به د دې له حراموالي څخه مخ نه اړول کيږي، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله ويلي دي چي د علاج په توګه متيازي چيښل جائز دي، او دليل يې د عرنيينو قصه ده، ليکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز چي څرنګه د مأکول اللحم حيوان متياز پاکي دي، نو ځکه هغه ويل چي مطلقاً جائز دي، يعني د علاج په توګه هم او بغير له علاجه هم. والله اعلم بالصواب.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، چي د هغه په نېز په متيازو او بل حرام شي سره علاج کول صحيح دي، لکه څرنګه چي علامه حصکفي رَحِمَهُ الله ليکي: اختلف في التداوي بالمحرم وظاهر المذهب المنع كما في رضاع البحر لكن نقل المصنف رَحِمَهُ الله هنا عن الحاوي وقيل: يرخص إذا علم فيه الشفاء ولم يعلم دواء كما رخص الخمر للعطشان. وعليه الفتوى، (الدر المختار ج:۱، ص:۱۵۴). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۸۰]

هغه کوم حيوانان دي چي د هغو په مرګ به له څاه څخه شل يا دېرش سولاغي را کښل کيږي!

قَالَ: وَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا فَأْرَةٌ او که په څاه کي موږک مړ سو أَوْ عُصْفُورَةٌ يا چوغکه (مرغی) مړه سوه أَوْ سَوْدَانِيَّةٌ يا کناخه مړه سوه أَوْ صَعْوَةٌ يا ژرانکه (ژرانه) مړه سوه أَوْ سَامُّ أَبْرَصَ يا څرمبنکی مړه سوه ثُمَّ مِنْهَا مَا بَيْنَ عِشْرِينَ دَلْوًا إِلَى ثَلَاثِينَ نو له څاه څخه به له شلو سولاغو څخه تر دېرشو سولاغو پوري (اوبه) راکښل کيږي بِحَسَبِ كِبَرِ الدَّلْوِ وَصِغَرِهَا د سولاغي د غټوالي او کوچنيوالي په اعتبار سره يَعْنِي بَعْدَ إِخْرَاجِ الْفَأْرَةِ يعني د موږک (او نورو) تر را کښلو وروسته لِحَدِيثِ أَنَسٍ رضي الله عنه • د حضرت انس رضي الله عنه د حديث په وجه أَنَّهُ قَالَ فِي الْفَأْرَةِ إِذَا مَاتَتْ فِي الْبِئْرِ وَأُخْرِجَتْ مِنْ سَاعَتِهِ چي هغه د داسي موږک په باره کي وفرمايل چي په څاه کي مړ سي او په هغه ګړۍ را وکښل سي يُنْزَحُ مِنْهَا عِشْرُونَ دَلْوًا چي له څاه څخه به شل سولاغي اوبه را ايستل کيږي وَالْعُصْفُورَةُ وَنَحْوُهَا تُعَادِلُ الْفَأْرَةَ فِي الْجُثَّةِ او مرغی او د دې په ډول (نور شيان) په جثه (صورت او بدن) کي د موږک سره برابر دي فَأَخَذَتْ حُكْمَهَا نو ځکه هغو هم د موږک حکم واخيستی وَالْعِشْرُونَ بِطَرِيقِ الْإِيجَابِ او د شلو سولاغو را کښل په طريقه د واجبوالي دی وَالثَّلَاثُونَ بِطَرِيقِ الْاِسْتِحْبَابِ او د دېرشو سولاغو راکښل په طريقه د مستحبوالي دی.

• تخريج: صاحب د نصب الراية فرمايي چي د حضرت انس رضي الله عنه حديث مي نه دي ليدلی چي په هغه سره د دېرشو سولاغو دليل ثابت سي، ليکن د څلوېښتو سولاغو أثر مي ليدلی دی، هغه دا دی: أخبرني من سمع الحسن يقول: إذا مات الدابة في البئر أخذ منها أربعون دلواً، (مصنف عبد الرزاق، باب البئر تقع فيه الدابة ج:۱، ص:۸۱) په دې أثر کي دا دي چي که په څاه کي يو حيوان مړ سي نو څلوېښت سولاغي به راکښل کيږي، او بعضو علماؤ د شلو سولاغو د ثبوت لپاره اثر د عطاء وړاندي کړی دی کوم چي د شرح معجم الآثار په اول ټوک، ۱۷ صفحه کي په كتاب الطهارة، باب الماء الذي يقع فيه النجاسة کي داسي ذکر سوی دی: إذا وقع الجزاذ (نوع من الفأرة) في البئر نزح منها عشرون دلوا فان تفسخ فأربعون دلوا فإذا وقع الشاة نزح منها أربعون دلوا فان تفسخت نزحت كلها او مائة دلوا.

اللغات: ﴿سُوْدَانِيَّة﴾ کارګه ته ورته يوه کوچنۍ مرغۍ ده چي ډېر ښکلي آواز لري، (ځيني خلک يې د کارګه يو قسم ګڼي) په انګريزي کي king crow (کينګ کرو) ورته وايي، خوراک يې زياتره وخت انګور او ملخان وي، (تر ډېر لټون وروسته مي هم په پښتو کي د دې خپل نوم پيدا نه کړی، اصل وجه يې دا ده چي دا مرغۍ زموږ سيمو کي نه سته، او د هغه پر ځای مي کناځه وليکله، ځکه چي کناځه هم د کارګه يو قسم دی) ﴿حَمْرَة﴾ له دې څخه مراد هغه ژړه مرغۍ ده چي زياتره (خت د اوبو پر غاړه ژوندکوي، او هر وخت لکۍ کښته پورته ښوروي، چي په پښتو کي ژړانکه. ژړانه. مامولکه او داسي نور هم ورته وايي، ﴿سَامِ أَبْرَص﴾ څرمښکۍ (چرمښکۍ) ته ويل کيږي، او کربوړي ته وَزَغ او داسي نور ويل کيږي، ﴿جُثَّة﴾ بدن، صورت، قواره.

تشريح: په عبارت کي د ذکر سوو مسئلو حاصل دا دی چي کوم حيوان په څاه کي ولوېږي د هغه اووه صورتونه دي: ځکه چي هغه حيوان به يا موږک، يا به د موږک په څير وي، يا به چرګه، يا به د دې په څير وي، يا به بزه او يا به د دې په څير وي، بيا به يا په دوی کي هر يو ژوندی را کښل سوی وي يا به مړ، که مړ وو، نو بيا يې دوه صورته دي: پړسېدلی به وي يا به نه وي، اوس که هغه حيوان ژوندی را اکښل سوی وو نو څاه مرداره نه ده، او که حيوان مړ را کښل سوی وو نو په اول صورت کي يعني که مړ سوی موږک وو، يا د دې په څير بل حيوان وو، نو حکم يې دا دی چي د دې مړ سوي موږک يا د دې په څير د بل حيوان تر را کښلو وروسته شل سولاغې را کښل واجب دي، او د ډېرشو سولاغو را کښل مستحب دي، دا حکم له يوه موږک څخه تر څلورو موږکانو پوري دی، او له پنځو څخه تر نهو پوري څلوېښت سولاغې را کښل واجب دي، او د لسو موږکانو په صورت کي ټوله اوبه را کښل واجب دي.

دليل: د حضرت انس ﷺ حديث دی، فرمايي: چي کله يو وار په څاه کي موږک ولوېږي، او په هغه ګړۍ را وېستل سي نو شل سولاغې اوبه به را کښل کيږي. او د ابن عباس ﷺ په حديث کي د ډېرشو سولاغو حکم سوی دی، نو په دواړو حديثونو کي د توافق لپاره د حضرت انس ﷺ حديث پر وجوب حمل کړی سو، او د حضرت ابن عباس ﷺ حديث پر استحباب حمل کړی سو.

د اوبو د را کښلو لپاره کومه سولاغه معتبره ده؟

د اوبو د را کښلو لپاره د اوسط (مينځوی) درجې سولاغه معتبره ده، د اوسط درجې سولاغه هغه ده کوم چي په ښار کي په عامه توګه کارول کيږي، يا هغه چي پر دغه څاه باندي په عامه توګه کارول کيږي، (نو له څاه څخه به په دغه سولاغه اوبه را کښل کيږي).

هغه کوم حيوانان دي چي د هغو په مرګ به له څاه څخه څلوېښت يا پنځوس سولاغې را کښل کيږي؟

فَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا حَمَامَةٌ أَوْ نَحْوُهَا که په څاه کي کوتره مړه سوه يا د دې په ډول (بل حيوان مړ سو) كَالدَّجَاجَةِ وَالسِّنَّوْرِ لکه چرګه او پيشي نُزِحَ مِنْهَا بَيْنَ أَرْبَعِينَ دَلْوًا نو له څاه څخه به څلوېښت سولاغې را کښل کيږي إِلَى سِتِّينَ تر شپېتو پوري وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: أَرْبَعُونَ أَوْ خَمْسُونَ او په جامع صغير کي دي: چي څلوېښت يا پنځوس سولاغې به (را کښل کيږي) وَهُوَ الْأَظْهَرُ او همدغه قول زيات ظاهر دی لِمَا رُوِيَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه ● ځکه له ابو سعيد

● تخريج: عن الشعبي في الطير والسنور و نحوهما يقع في البئر قال نزح منها أربعون دلوا طحاوي، باب الماء تقع فيه النجاسة ص:۱۶، مصنف عبد الرزاق، باب البئر تقع فيه الدابة ج:۱، قم:۲۷۲ و أخرجه الطحاوی عن حماد بن أبی سليمان أنه قال في دجاجة وقع في البئر فماتت قال ينــزح منها قدر أربعين دلوا أو خمسين.

خدري ﷺ څخه روايت دی أَنَّه قَالَ فِي الدَّجَاجَةِ إِذَا مَاتَتْ فِي الْبِئْرِ يُنْزَحُ مِنْهَا أَرْبَعُونَ دَلْوًا (چې) هغه د چرګې په اړه وفرمايل چې کله په څاه کې مړه سي نو له څاه څخه به څلوېښت سولاغې اوبه را ايستل کيږي هٰذَا لِبَيَانِ الْإِيجَابِ دا (د څلوېښتو سولاغو) اندازه د وجوب (واجبوالي) د بيان لپاره ده وَالْخَمْسُونَ بِطَرِيْقِ الْإِسْتِحْبَابِ او د پنځوسو سولاغو اندازه د استحباب لپاره ده ثُمَّ الْمُعْتَبَرُ فِي كُلِّ بِئْرٍ دَلْوُهَا الَّذِيْ يُسْتَقٰى بِهِ مِنْهَا بيا د هرې څاه هغه سولاغه معتبره ده چې له هغه څاه څخه اوبه په راکښل کيږي وَقِيْلَ: دَلْوٌ يَسَعُ فِيْهَا صَاعًا او يو قول دا دی چې داسې سولاغه معتبره ده چې په هغه کې يو صاع (اوبه) ځايېږي وَلَوْ نُزِحَ مِنْهَا بِدَلْوٍ عَظِيْمٍ مَرَّةً مِقْدَارَ عِشْرِيْنَ دَلْوًا او که په يوه ځل په غټه سولاغه د شلو سولاغو په اندازه اوبه را وکښل سي جَازَ (نو دا هم) جائز دي لِحُصُوْلِ الْمَقْصُوْدِ ځکه چې مقصود په حاصلېږي.

اللغات: ﴿بِئْرٌ﴾ پيښې، ﴿دَلْوٌ﴾ سولاغه، ﴿يَسَعُ﴾ ځايېدل، ګنجايش کېدل، ﴿صَاعٌ﴾ يوه پيمانه ده چې د هغه اندازه ۳،۵۳۸ کيلو ګرامه ده، او د ليتر په حساب سره ۵،۸۸ ليټره ده.

تشريح: څرنګه چې مخکې بيان سوه چې که په څاه کې يو حيوان مړ سي نو اووه صورتونه جوړېږي چې په اصل کې درې صورتونه دي، اول صورت په مخکني عبارت کې بيان سو، دويم صورت په دې عبارت کې بيانېږي.

صورت د مسئلې: دا دی چې که په څاه کې کوتره ولوېږي او مړه سي يا د کوترې په ډول بل شی ور ولوېږي او مړ سي د مثال په توګه چرګه يا پيشي او داسې نور، نو په دې صورت کې د څاه د پاکوالي لپاره له څلوېښتو سولاغو څخه تر شپېتو سولاغو پورې راکښل واجب دي، او شپېته سولاغې را کښل مستحب دي.

وفي الجامع الخ امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کې بيان کړي دي چې څلوېښت يا پنځوس سولاغې به راکښل کيږي، يعني څلوېښت سولاغې واجب دي او پنځوس مستحب دي، صاحب د هدايې همدغه قول ته أظهر ويلي دي ځکه چې جامع صغير د امام محمد رَحِمَهُ الله آخري تصنيف دی، نو په هغه کې چې څه ذکر سوي وي، هغه د امام محمد رَحِمَهُ الله آخري او مرجوع اليه قول وي.

دليل: د ابو سعيد خدري ﷺ روايت دی چې دوی ﷺ وفرمايل: که په څاه کې چرګه مړه سي، نو له څاه څخه به څلوېښت سولاغې اوبه را کښل کيږي، ښکاره دي وي چې په هره څاه کې خپله سولاغه معتبره ده(يعني د اوبو په را کښلو کې به د هرې څاه د خپلې سولاغې اعتبار کيږي، لکه څرنګه چې مخکې ذکر سوه).

وقيل الخ او يو ضعيف قول دا دئ چې هغه سولاغه معتبره ده چې په هغې کې يو صاع يعني تر شپږو ليټرو لږ کمې اوبه ځايېږي، صاحب د هدايې فرمايي چې د څاه په پاکولو کې به د سولاغې د عدد(شمېر) اعتبار نه کيږي، بلکه د هغو اندازو او مقدارونو اعتبار به کيږي کوم چې مخکې بيان سول، نو که يو چا له څاه څخه د غټې سولاغې په ذريعه په يوه وار شل سولاغې را وکښلې نو دا جائز دي، او مقصود حاصل سو، ځکه کوم مقدار چې ټاکل سوی وو هغه راوکښل سو.

په څاه کې د انسان يا د سپي د مړه کېدلو حکم

وَإِنْ مَاتَتْ فِيْهَا شَاةٌ أَوْ كَلْبٌ أَوْ آدَمِيٌّ او که په څاه کې بزه (يا پسه) يا انسان يا سپی مړ سو نُزِحَ جَمِيْعُ مَا فِيْهَا مِنَ الْمَاءِ نو کومې اوبه چې په څاه کې دي هغه ټولې به را وکښل سي لِأَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وَابْنَ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَفْتَيَا بِنَزْحِ الْمَاءِ كُلِّهِ ځکه چې ابن عباس رض او ابن زبير رض د ټولو اوبو را کښلو فتویٰ ورکړې وه حِيْنَ مَاتَ زِنْجِيٌّ فِيْ بِئْرِ زَمْزَمَ کله چې د زمزم په څاه کې يو حبشي مړ سو.

تشريح: ﴿شَاةٌ﴾ بزې او پسه دواړو ته ويل کيږي، ﴿زِنْجِيٌّ﴾ حبشي، تک تور.

تشريح: دريم صورت دا دی چې که په څاه کې پسه يا انسان يا سپی مړ سو نو د څاه ټولې اوبه راکښل واجب دي، دليل يې دا دی چې يو حبشي د زمزم په څاه کې مړ سو نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د ټولو اوبو را ايستلو فتویٰ جاري کړه.

په څاه کې د حيوان د پړسېدلو حکم

فَإِنِ انْتَفَخَ الْحَيَوَانُ فِيْهَا که په څاه کې حيوان وپړسېدی أَوْ تَفَسَّخَ يا وشوربدی (ريزه ريزه سو) يُنْزَحُ جَمِيْعُ مَا فِيْهَا نو په څاه کې چې څومره اوبه دي هغه ټوله به را وکښل سي صَغُرَ الْحَيَوَانُ أَوْ كَبُرَ (برابره خبره ده) حيوان که کوچنی وو او که غټ لِانْتِشَارِ الْبِلَّةِ فِيْ أَجْزَاءِ الْمَاءِ ځکه چې د دې (حيوان) د نجاست لوندوالی د اوبو په ټولو اجزاؤ کې خور سي (نشر سي).

اللغات: ﴿اِنْتَفَخَ﴾ د افتعال د باب ماضي صيغه ده: پړسېدل، ډکېدل. ﴿تَفَسَّخَ﴾ د تفعّل د باب ماضي صيغه ده: شوربدل، رژېدل، د يو شي اجزاء سره جلا کېدل. ﴿بِلَّة﴾ لوندوالی.

تشريح: مسئله: دا ده که په څاه کې يو حيوان مړ سي او وپړسيږي يا وشوريږي او ريزه ريزه سي، نو که ممکنه وي نو د څاه ټولې اوبه دي را وکښل سي، حيوان که کوچنی وي او که غټ، دليل يې دا دی چې په پړسېدلو او شورېدلو سره د حيوان د مردارو او نجسو اجزاؤ لوندوالی په اوبو کې وغوړيږي، نو په دې وجه ټولې اوبه مرداري سي، لکه په اوبو کې چې د وينو يا شرابو يوه قطره ولوېږي نو په ټولو اوبو کې د نشر کېدلو په وجه ټولې اوبه مرداريږي.

د جاري او چينه داري څاه د پاکولو حکم

وَإِنْ كَانَتِ الْبِئْرُ مَعِيْنَةً او که څاه چينه داره وه بِحَيْثُ لَا يُمْكِنُ نَزْحُهَا په دې توګه چې د ټولو اوبو راکښل يې نا ممکنه وه أَخْرَجُوْا مِقْدَارَ مَا كَانَ فِيْهَا مِنَ الْمَاءِ نو په دې کې چې څومره اوبه (د نجاست لوېدلو په وخت کې) وي د هغه په اندازه اوبه به را وکاږي وَطَرِيْقُ مَعْرِفَتِهِ أَنْ تُحْفَرَ حُفْرَةٌ مِثْلُ مَوْضِعِ الْمَاءِ مِنَ الْبِئْرِ او د دې د پېژندګلوی طريقه دا ده چې د څاه د اوبو مطابق دې کنده (کډی) وکښل سي وَيُصَبُّ فِيْهَا مَا يُنْزَحُ مِنْهَا او له څاه څخه چې کومې اوبه راکښل کيږي هغه دې په دې کنده (کډي) کې اچول کيږي إِلَى أَنْ تَمْتَلِئَ تر دې چې هغه کنده ډکه سي أَوْ تُرْسَلَ فِيْهَا قَصَبَةٌ يا دې په څاه کې يو بانس (يا لرګی) ور وځړول سي وَتُجْعَلُ لِمَبْلَغِ الْمَاءِ عَلَامَةٌ او اوبه چې (د بانس) تر کومه ځايه پوري را

ورسيږي پر هغه ځای دي نښه جوړه کړی سي (يعني نښانګی دي پر ولګوي) ثُمَّ يُنْزَحُ مِنْهَا مِثْلَا عَشْرُ دِلَاءٍ بيا دي له څاه شخخه دمثال په توګه لس سولاغي را وکښل سي ثُمَّ تُعَادُ الْقَصَبَةُ بيا دي دوايم وار (په څاه کي) بانس ور وځړول سي فَيُنْظَرُ نو ودي کتل سي كَمْ انْتَقَصَ چي څومره اوبه کمي سوي دي فَيُنْزَحُ لِكُلِّ قَدْرٍ مِنْهَا عَشْرُ دِلَاءٍ نو د هر مقدار لپاره دي له څاه شخخه لس سولاغي را وکښل سي وَ هٰذَانِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او دا دواړه طريقي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخخه را نقل سوي دي وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ• نُزِحَ مِائَتَا دَلْوٍ إِلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ له امام محمد رَحِمَهُ الله شخخه را نقل سوي دي چي له دوو سوو (۲۰۰) سولاغو شخخه به تر درې سوو سولاغو پوري را وکښل کيږي فَكَأَنَّهُ بَنَى قَوْلَهُ عَلَى مَا شَاهَدَ فِي بَلَدِهِ ګواکي امام محمد رَحِمَهُ الله د خپل قول بنياد پر هغه څه کښېښوی کوم څه چي يې د خپل ښار په څاه کي ليدلي دي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ فِي مِثْلِهِ: يُنْزَحُ حَتَّى يَغْلِبَهُمُ الْمَاءُ او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله شخخه په جامع صغير کي د داسي چينه داري څاه په باره کي را نقل سوي دي: چي په دومره اندازه دي اوبه را وکښل سي چي پر خلګو غالبي سي (يعني خلک ستړي کړي) وَلَمْ يُقَدِّرِ الْغَلَبَةَ بِشَيْءٍ (خو) امام صاحب په هيڅ شي سره د غلبې اندازه معلومه کړې نه ده كَمَا هُوَ دَأْبُهُ لکه څرنګه چي دا د امام صاحب عادت دی وَقِيلَ: يُؤْخَذُ بِقَوْلِ رَجُلَيْنِ او ويل سوي دي: چي (په دې سلسله کي دي) د دوو داسي (عادلانو) خلګو په قول عمل وکړی سي لَهُمَا بَصَارَةٌ فِي أَمْرِ الْمَاءِ چي هغوی ته د اوبو په کار کي مهارت (او تجربه) وي وَهٰذَا أَشْبَهُ بِالْفِقْهِ او دا قول د فقهي سره زيات مشابه دی.

اللغات: ﴿مُعِيْنَة﴾ هغه څاه ته ويل کيږي چي په بيخ کي يې چينه را بهيږي. يعني د روانو اوبو څاه. ﴿يُنْظَرُ﴾ د ضرب د باب مضارع صيغه ده: کيندل، کنده (او کنده) کښل. ﴿تَتَنَاقَصُ﴾ د افتعال د باب مضارع صيغه ده. اِمْتَلَأَ يَمْتَلِئُ: ډکول. ﴿قَصَبَةٌ﴾ بانس، هغه لرګی چي نس (مينځ) يې خالي وي. ﴿دَأْبٌ﴾ عادت، طرز، طريقه.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي څاه که چينه داره وه يعني اوبه يې نه درېدلې، نو په داسي صورت کي حکم دا دی چي د نجاست ور لوېدلو په وخت کي چي په دې کي څومره اندازه اوبه وي هغه دي را وکښل سي. پاته سوه دا خبره چي دا به څنګه پېژندل کيږي چي په څاه کي څومره اندازه اوبه دي، نو د دې پېژندلو لپاره صاحب د کتاب پنځه طريقې ذکر کړي دي، چي اولي دوې طريقې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخخه را نقل سوي دي:

(۱) اوله طريقه دا ده چي د څاه داوږدول، پراخول او ژور والي اندازه به معلومه کړي. تر دې وروسته به د څاه تر څنګ په هغه اندازه ګډی وکاږي، او له څاه شخخه دي اوبه را کاږي په دې ګډي کي دي يې اچوي. کله چي هغه ګډی ډک سي، نو پوه دي سي چي د څاه ټوله اوبه را وکښل سوې.

(۲) دوېمه طريقه يې دا ده چي څاه ته دي يو بانس ور واچوي، يا پر رسۍ دي ډبره وتړي لو څاه ته دې ور واچوي. نو څه وخت چي بيخ ته ورسيږي، را دې کاږي، او ودې ګوري چي اوبه د لرګي يا رسۍ تر کومه ځايه را رسېدلې دي پر هغه ځای دي نښان ولګوي، بيا دي له څاه شخخه په يوه وار لس سولاغي را وکاږي، لو بانس يا رسۍ دي بيا څاه ته ور واچوي

• القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله كما في رد المحتار ج:۱، ص:۱۵۸ [القول الراجح ج:۱، ص:۱۹]

او ودې ګوري چې اوبه څومره کمې سوې دي، د مثال په توګه په څاه کې لس فوټه اوبه وې، په اول وار چې يې لس سولاغې را وکښلې په هغه سره يو فوټ اوبه کمې سوې، نو معلومه سوه چې ټولې اوبه سل سولاغې دي، نو ځکه دې نوې(۹۰) سولاغې نورې را وکاږي، چې سل سولاغې پوره سي، کله چې سل سولاغې پوره سوې، نو پوه دې سي چې د نجاست ور لوېدلو په وخت کې چې څومره اندازه اوبه په څاه کې وې هغه ټوله را وکښل سوې.

(۳) له حضرت امام محمد رَحِمَهُ الله څخه چې کومه طريقه را نقل سوې ده د هغې خلاصه دا ده چې په داسې وخت کې دې له دوو سوو سولاغو څخه تر درو سوو سولاغو پورې اوبه راکښل کېږي، صاحب د هدايې فرمايي: چې د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول په اصل کې د ده پر خپلې کتنې او ليدنې باندې مبني دی، کوم چې ده په خپل ښار "بغداد" کې (دا کتنه) کړې ده، ځکه چې د بغداد د څاه ګانو اوبه په عامه توګه په همدومره اندازه وې، (يعني له دوو سوو سولاغو څخه تر درو سوو سولاغو پورې به وې).

(۴) څلورمه طريقه له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوې ده، هغه دا چې له داسې چينه داره څاه څخه دې دومره اوبه را وکښل سي چې د اوبو راکښونکي په ډېرو راکښلو سره ستړي او مغلوبه سي، نو څه وخت چې هغه ستړي او مغلوبه سي نو پوه دې سي چې د څاه ټولې اوبه را وکښل سوې، صاحب د هدايې فرمايي چې امام صاحب رَحِمَهُ الله د خپل عادت مطابق دلته هم د مغلوب والي او ستړيا هيڅ مقدار نه دی معلوم کړی، ځکه چې د هغه عادت دا دی چې په دا ډول مسئلو کې د حکم مدار د مبتلی به سړي لپاره پرېږدي.

(۵) پنځمه طريقه کوم چې ابو نصر بن محمد رَحِمَهُ الله ذکر کړې ده، دا ده: چې په داسې وخت کې دې دوه تجربه کاره او د اوبو په کارو ماهر او عادل خلک را وغوښتل سي او د هغو سره دې په دې باره کې مشوره وکړل سي، نو هغوی چې د اوبو راکښلو کومه اندازه وټاکي پر هغه دې عمل وکړی سي.

صاحب د هدايې فرمايي چې دا قول د فقهي سره زيات مشابهت لري، ځکه چې په شريعت کې هم په داسې نورو ځايونو کې دغه ډول فيصله سوې ده، لکه د ښکار د قيمت په باره کې چې په خپله قرآن کريم دا صراحت کړی دی چې فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ (سورة المائدة:۹۵)، او د شهادت په بيان کې راغلي دي: وَاَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنكُمْ (سورة الطلاق:۲). [بنايه ج:۱، ص:۴۱۹، عنايه ج:۱، ص:۱۱۰]

له دې څخه دا هم معلومه سوه چې په دا ډول حالاتو او مسئلو کې د ماهره او تجربه کاره خلکو پر مشوره او رايه عمل کول ډېر غوره دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې د امام محمد رَحِمَهُ الله قول راجح دی، لکه څرنګه چې علامه حصکفي رَحِمَهُ الله د دې قول په اړه ليکلي دي: وقيل يفتى بمائة الى ثلاثمائة وهذا أيسر و ذاك أحوط. او علامه ابن العلاء الهذلي رَحِمَهُ الله ليکي: إذا غلب الماء ولم ينزح يفتى بقول محمد رحمه الله بثلاثمائة دلو.

که څاه ته د حيوان ور لوېدلو وخت معلوم نه وو، نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِنْ وَجَدُوا فِي الْبِئْرِ فَارَةً أَوْ غَيْرَهَا فرمايي: او که خلکو په څاه کې موږک يا بل حيوان (مړ سوی) وليدی وَلَا يَدْرُونَ مَتَى وَقَعَتْ او معلومه نه وه چې دا حيوان کله ور لوېدلی دی وَلَمْ تَنْتَفِخْ او تر اوسه پورې پړسېدلی (هم) نه وو أَعَادُوا صَلَاةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ نو دا خلک دې د يوې ورځې او شپې لمونځونه را وګرځوي إِذَا كَانُوا تَوَضَّئُوا مِنْهَا (په هغه صورت

کي) چي د دې ځاه په اوبو يې اودسونه کړي وي (او په دغو اودسو يې لمونځونه کړي وي) وَغَسَلُوْا كُلَّ شَيْءٍ أَصَابَهُ مَاؤُهَا او هر هغه شی دې پرېولي چي د دغه ځاه اوبه ور رسېدلې وي وَإِنْ كَانَتْ قَدِ انْتَفَخَتْ أَوْ تَفَسَّخَتْ او که دا حيوان پړسېدلی او شوربدلی وو أَعَادُوْا صَلَاةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا نو دا خلک دې د دريو ورځو او دريو شپو لمونځونه را وګرځوي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ دا حکم د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا● : لَيْسَ عَلَيْهِمْ إِعَادَةُ شَيْءٍ او صاحبين فرمايي: چي پر دوی د هيڅ شي را ګرځول واجب نه دي حَتّٰى يَتَحَقَّقُوْا أَنَّهَا مَتٰى وَقَعَتْ تر څو چي دوی (پوره) تحقيق وکړي چي دا کله ور لوېدلی دی لِأَنَّ الْيَقِيْنَ لَا يَزُوْلُ بِالشَّكِّ ځکه چي يقين په شک سره نه زائليږي وَصَارَ كَمَنْ رَأٰى فِيْ ثَوْبِهِ نَجَاسَةً نو دا داسي سو لکه يو سړی چي په خپل جامو (کالو) کي نجاست ووېني وَلَا يَدْرِيْ مَتٰى أَصَابَتْهُ لېکن په دې نه وي خبر چي دا نجاست کله ور سره لګېدلی دی وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَنَّ لِلْمَوْتِ سَبَبًا ظَاهِرًا او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د مرګ سبب ښکاره دی وَهُوَ الْوُقُوْعُ فِي الْمَاءِ او هغه په اوبو کي لوېدل دي فَيُحَالُ بِهِ عَلَيْهِ نو ځکه به مرګ پر دغه حمل کيږي إِلَّا أَنَّ الْاِنْتِفَاخَ وَالتَّفَسُّخَ دَلِيْلُ التَّقَادُمِ لېکن د حيوان پړسېدل او شوربدل د مخکي والي دليل دی (يعني چي دا حيوان ډېر مخکي ور لوېدلی دی) فَيُقَدَّرُ بِالثَّلَاثِ نو د دريو ورځو اندازه به کيږي وَعَدَمُ الْاِنْتِفَاخِ وَالتَّفَسُّخِ دَلِيْلُ قُرْبِ الْعَهْدِ او نه پړسېدل او نه شوربدل د نږدې زمانې (وخت) دليل دی (يعني چي د ور لوېدلو ډېر وخت نه کيږي) فَقَدَّرْنَاهُ بِيَوْمٍ وَلَيْلَةٍ نو ځکه موږ په يوه ورځ او شپه سره د دې اندازه وکړه لِأَنَّ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ سَاعَاتٌ لَا يُمْكِنُ ضَبْطُهَا ځکه چي له دې مقدار څخه کم (وخت) خو يو څو ساعتونه (ګېنټې) وي چي په ضبط کي د دغو راوستل امکان نه لري وَأَمَّا مَسْأَلَةُ النَّجَاسَةِ فَقَدْ قَالَ الْمُعَلّٰى: هِيَ عَلَى الْخِلَافِ او پاته سوه د (کالو د) نجاست مسئله نو معلیٰ ويلي دي: چي دا هم اختلافي ده فَيُقَدَّرُ بِالثَّلَاثِ فِي الْبَالِيْ نو په زوړ (اوپخواني) نجاست کي به د دريو ورځو اندازه کيږي وَبِيَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فِي الطَّرِيِّ او په تازه (او نوي) نجاست کي به د يوې ورځي او شپې (اندازه کيږي) وَلَوْ سُلِّمَ فَالثَّوْبُ بِمَرْأٰى عَيْنِهِ او که دا ومنل سي هم (چي په دې کي اختلاف نسته) نو کالي خو د انسان په سترګو کي دي (يعني هر وخت انسان خپل کالي ويني) وَالْبِئْرُ غَائِبَةٌ عَنْ بَصَرِهِ او ځاه د ده له سترګو څخه پټ دی فَيَفْتَرِقَانِ نو ځکه به دواړه صورتونه سره جلا کيږي.

اللغات: ﴿فَارَةٌ﴾ موږک، ﴿يَتَحَقَّقُوْا﴾ د تفعّل مضارع ده: تحقيق او پلټنه کول، ﴿تَقَادُم﴾ د تفاعل مصدر دی: مخکي کېدل، زوړ کېدل، ﴿بَالِيْ﴾ زوړ، پخوانی، ﴿طَرِيّ﴾ تازه، نوی.

● القول الراجح: هو قول أبي حنيفه رَحِمَهُ الله كذا في البحر ج:۱، ص:۱٤۱، ورد المحتار ج:۱، ص:۱٦۱ . [القول الراجح ج:۱، ص:۲۰]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که خلکو په یو څاه کې مردار سوی حیوان ولیدی او دا یې معلومه نه کړل چې کله ور لوېدلی دی او تر اوسه پورې پړسېدلی او شوړېدلی هم نه وو، نو په دې صورت کې حکم دا دی چې که د دې څاه په اوبو یې اودسونه کړي وي او په دې اودسو یې لمونځونه کړي وي نو د یوې ورځې او شپې لمونځونه دې را وګرځوي، او کوم شی ته چې د دې څاه اوبه رسېدلي وي (یعني ور سره لګېدلي وي) هغه دې پرېولي، لېکن که حیوان پړسېدلی یا شوړېدلی او اجزاء یې نشر سوي وه، نو د دریو ورځو او دریو شپو لمونځونه دې را وګرځوي، دا حکم د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز دی، او د صاحبینو مذهب دا دی چې پر دې خلکو د هیڅ شي را ګرځول واجب نه دي، تر دې چې په تحقیق او پلټنې سره دا ثابته نه سي چې دا حیوان کله ور لوېدلی دی.

د صاحبینو دلیل: دا دی چې مخکې خو د څاه اوبه یقیني پاکې وې، خو په دې کې د مردار سوي حیوان د لیدلو په وجه په تیرو ورځو کې د دې د اوبو په مردار والي کې شک واقع سو، ځکه دا احتمال هم سته چې دا حیوان دې اوس یو څه ګړی له مخه څاه ته ور لوېدلی وي، او تر اوسه دې د دې اوبه استعمال سوي نه وي، او دا امکان هم سته چې یو څو ورځې مخکې دې ور لوېدلی وي او د اودسونو او داسې نورو شیانو لپاره دې یې اوبه استعمال سوي وي، خو په هر حال په تیرو ورځو کې د دې په ناپاکی کې شک واقع سو، او یقین د شک په وجه سره نه زائلیږي، نو تر څو چې په باور او یقین سره دا معلومه نه سي چې دا حیوان کله ور لوېدلی دی، تر هغه وخته په تیرو ورځو کې د دې څاه د ناپاکی حکم نه سي کېدلای، هو! که د حیوان د لوېدلو وخت معلوم سي، نو د لوېدلو له وخت څخه به څاه ناپاکه وي، ځکه چې یقین په یقین سره زائلیږي، او دا حکم داسې دی لکه یو څوک چې پر خپلو جامو (کالو) نجاست ووېني، او دا ورته معلومه نه وي چې دا کله پر لګېدلی دی، نو پر دې سړي د لمونځونو را ګرځول نسته.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې په څاه کې د دې حیوان لوېدل د دې خبرې ښکاره سبب او دلیل دی چې دی په دې څاه کې مړ سوی دی، او دا قاعده ده چې مسبب که پټ وي نو پر ښکاره سبب به حکم لګول واجب وي، نو ځکه به د دې حیوان مرګ په اوبو کې د لوېدلو و طرف ته منسوبه کیږي یعني دا به ویل کیږي چې دا حیوان په دې اوبو کې مړ سوی دی، که څه هم دا احتمال هم سته چې په یو بل سبب سره دی مړ سوی وي لېکن دا احتمال موهوم دی (یعني په دې احتمال کې وهم دی)، او دا داسې دی لکه زید چې خالد زخمي کړي، او خالد د دې زخم په وجه صاحب فراش سي (یعني د بسترې خاوند سي، ټوله وخت پر بستره پروت وي) تر دې چې په دغه کې مړ سي، نو همدا به ویل کیږي چې خالد د زید د زخمي کولو په وجه مړ سوی دی، که څه هم بغیر له دې څخه یې نور احتمالات هم سته، لېکن د دې حیوان پړسېدل او شوړېدل د دې خبرې دلیل دی چې دا حیوان مخکې مړ سوی دی (یعني زوړ دی او ډېر وخت کیږي چې ور لوېدلی دی) او د مخکې والي (او زوړوالي) کمه موده درې ورځې ده، لکه څرنګه چې یو سړی بغیر د جنازې له لمانځه څخه پټ کړی سوی وي نو تر دریو ورځو پورې د هغه د جنازې لمونځ کېدلای سي، او له دریو ورځو څخه وروسته یې د جنازې لمونځ صحیح نه دی، ځکه چې د دریو ورځو په موده کې بدن پړسیږي او شوړیږي (او د بدن اجزاء یې سره بېل او ذره ذره کیږي)، نو په دې وجه د زوړوالي (او ځنډوالي) کمه موده په درې ورځو سره اندازه سوې ده.


او په کوم صورت کې چې پړسېدل او شوړېدل راغلي نه وي نو دا د دې خبرې دلیل دی چې حیوان په دا نژدې وخت کې ور لوېدلی او مړ سوی دی، او د مقدار کمه موده یوه ورځ او یوه شپه ده، ځکه چې له دې څخه بیا کم ساعتونه (ګېنټې) دي چې د هغو ضبطول او پلټنه یې کول امکان نه لري، نو په دې وجه سره موږ د دې کمه اندازه یوه ورځ او یوه شپه ږ ټاکله.

جواب: صاحب د هدایې له و أما مسئلة النجاسة څخه د صاحبینو د قیاس جواب ور کوي، دوه جوابونه یې ور کړي دي:

(۱) اول جواب دا چي پر جامو د نجاست لګېدلو مسئله هم اتفاقي نه ده، بلکي مختلف فيه ده، ځکه چي د خپل وخت نامتو فقيه معلیٰ بن منصور رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي دا مسئله هم اختلافي ده، نو ځکه به د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په پخواني (او زوړ) نجاست کي د درېو ورځو او شپو مقدار، او په تازه نجاست کي به د يوې ورځي او شپې مقدار تاکل کېږي، حتی که په دغه ناپاکه جامو کي يې لمونځونه کړي وي نو د هغو راګرځول به واجب وي.

(۲) دويم جواب دا چي که موږ دا ومنو چي دا مسئله اتفاقي ده او په دې کي اختلاف نسته نو هم د څاه مسئله پر دې جامو بلندي قياسول صحيح نه دي، ځکه چي جامه هر وخت د انسان په سترګو کي وي، او هر وخت د انسان پر بدن وي (د ده له نظر څخه پټه نه وي)، نو که نجاست مخکي پر لګېدلی وای نو ده به په هغه وخت کي ليدلی وای، نو په اوس وخت کي د نجاست ليدل د دې خبري دليل دی چي اوس پر لګېدلی دی، او څاه د انسان له سترګو څخه پټه وي، کېدای سي چي حيوان مخکي مړ سوی وي خو ده ته به يې خبر (او علم) نه وي، خلاصه دا چي په دې دواړو صورتونو کي فرق سته، نو کله چي په دواړو کي فرق سته، نو ځکه به د څاه مسئله د جامو پر مسئله نه قياسېږي، ځکه چي قياس مع الفارق صحيح نه دی، والله أعلم.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول راجح دی، علامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله په دې باره کي ليکي: ورجح دليله في جميع المصنفات وصرح في البدائع بان قولهما قياس وقوله استحسان وهو الأحوط في العبادات (رد المحتار ج:، ص:۱۶۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۰]



فَصْلٌ فِي الْاَسَارِ وَغَيْرِهَا

(دا) فصل د پسخوردو او نورو (په بيان کي) دی

تشريح: تر دې مخکي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په اوبو کي د حيوان لوېدلو احکام بيان کړل. اوس له دې ځايه په اوبو کي د انسان او حيوان د پسخوردې لوېدلو احکام بيانوي، آسار جمع د سُؤر ده. معنیٰ يې ده: پاته سوی خوراک او اوبه (چي په عام عرف کي پسخورده ورته ويل کېږي) زموږ په نېز د پسخوردې څلور قسمونه دي:

① پاکه پسخورده، لکه د انسان او هغه حيوان پسخورده چي غوښي يې خوړل کېږي.

② مکروه، لکه د پيشي پسخورده.

③ مړداره، لکه د خنزير او درندګانو (څيرونکو حيوانانو) پسخورده.

④ مشکوک فيه (شکمنه) لکه د خره او قاطري پسخورده.

د حيوان د خولې(عرق) حکم

وَعَرَقُ كُلِّ شَيْءٍ مُعْتَبَرٌ بِسُؤْرِهِ او د هر حيوان خوله(خوېله) به د هغه پر پسخوردې قياسيږي لِأَنَّهُمَا يَتَوَلَّدَانِ مِنْ لَحْمِهِ ځکه چې خوله او پسخورده(يعني لاړې[1]) دواړه د هغه له غوښو څخه پيدا کيږي فَأَخَذَ أَحَدُهُمَا حُكْمَ صَاحِبِهِ نو ځکه يوه د بل حکم واخيستی(يعني يو به د بل په حکم کې وي).

اللغات: ﴿عَرَقٌ﴾ خوله(خوېله)، ﴿يَتَوَلَّدَانِ﴾ د تفعّل له باب څخه د تثنيې صيغه ده: پيداکېدل، زېږېدل.

تشريح: صاحب د کتاب د پسخوردې په ضمن کې د خولې(عرق) احکام هم بياتوي، نو ځکه يې د وسؤر کل شئ پر ځاى د و عرق کل شئ عبارت ذکر کړی، چې په يوه غشي سره دوه ښکاره وکړي[2]، او د خولې(عرق) لپاره يې يو بل جلا فصل بيان نه کړی. (عنايه)

په هر حال د عبارت خلاصه دا ده چې د شرعي حکم او مسئلې د پېژندګلوي لپاره به د هر حيوان خوله(عرق) د هغه پر پسخوردې(لانو) باندې قياسيږي. يعني کوم حکم چې د حيوان د پسخوردې دی، هغه حکم به يې د خولې هم وي. ځکه چې دا دواړه له غوښو څخه پيدا کيږيٌ، نو ځکه به د دوی حکم هم يو وي.

د مسلمان، کافر او د مأکول اللحم حيواناتو د پسخوردې حکم

وَسُؤْرُ الْآدَمِيِّ وَمَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ طَاهِرٌ فرمايي: د انسان او د مأکول اللحم حيوان پسخورده پاکه ده لِأَنَّ الْمُخْتَلِطَ بِهِ اللُّعَابُ ځکه چې په پسخورده لانې(لاړې) ګډې وي وَقَدْ تَوَلَّدَ مِنْ لَحْمٍ طَاهِرٍ او لانې له پاکو غوښو څخه پيدا سوي دي فَيَكُونُ طَاهِرًا نو ځکه به دا پاکې وي وَيَدْخُلُ فِي هَذَا الْجَوَابِ الْجُنُبُ وَالْحَائِضُ وَالْكَافِرُ او په دې حکم کې جنب سړی، حائضه ښځه او کافر ټوله داخل دي.

اللغات: ﴿سُؤْرٌ﴾ پسخورده، ﴿اللُّعَابُ﴾ لانې(لاړې)، ﴿لَحْمٌ﴾ غوښې.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د انسان پسخورده هغه که مسلمان وي، که کافر. پاک وي، که جنب. او که حائضه ښځه وي د ټولو پسخورده پاکه ده. همدارنګه د هغو حيواناتو چې غوښې يې خوړل کيږي پسخورده پاکه ده. که له دوی څخه د يوه لانې يا پسخورده او داسې نور په اوبو ګډ سي نو د اوبو پاکوالي ته هيڅ تاوان نه رسوي. دليل يې دا دی چې اوبه د لانو د ګډېدلو په وجه پسخورده جوړيږي، او لانې له غوښو څخه پيدا دي، او د مأکول اللحم حيوان غوښې خو پاکې دي، نو لانې به يې هم پاکې وي. او کله چې لانې پاکې سوې نو په کوم شي چې دا لانې ګډې سي هغه به هم پاک وي. دا دليل خو د مأکول اللحم حيواناتو د پسخورې پر پاکوالي وو، او د انسان د پسخوردې پر پاکوالي دا حديث دليل دی: أن النبي ﷺ أتي بقدح من لبن فشرب وناول الباقي اعرابيا كان من يمينه فشربه ثم ناول أبابكر فشربه. (يعني نبي ﷺ د شيدو يوه پياله راوړه چې له هغه څخه نبي ﷺ خپله هم شيدې وڅښلې. بيا يې يو

---

[1] دلته د "هُمَا" ضمير عرق او سؤر (پسخوردې) ته راجع دی، پسخورده خو له غوښو څخه نه پيدا کيږي، بلکې لانې له غوښو څخه پيدا کيږي، نو دلته له غوښو څخه مجازاً لانې مراد دي، ځکه چې د پسخوردې د مردار کېدلو اصلي سبب هم د حيوان لانې دي. (ژباړن)

[2] د اردو ژبې يو متل دی "ايک تير سے دو شکار کرنا" يعني په يوه غشي دوه ښکاره کول. دا متل په هغه وخت کې ويل کيږي چې کله انسان په يوه کار سره يا په يوې خبرې سره په يو ځل د يوې فايدې پر ځای دوې فايدې تر لاسه کړي.

صحرايي(کوچي) ته ورکړې هغه هم وچيښلې او بيا يې حضرت ابوبکر ﷺ ته ورکړې هغه هم وچيښلې)، له دې حديث څخه صفا ښکاره کيږي چې دانسان پسخورده پاکه ده، او عقلي خبره دا ده چې دانسان ذات پاک دی نو ځکه به د ده پسخورده هم پاکه وي.

د حائضې ښځې د پسخوردې د پاکوالي دليل د حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا روايت دی: عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا شربت من إناء في حال حيضها فوضع رسول الله ﷺ فمه على موضع فمها و شرب، (يعني حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حيض په حالت کې له يو لوښي څخه اوبه وچيښلې، بيا نبي ﷺ هم د لوښي پر هغه ځای خوله کښېښوله او اوبه يې وچيښلې پر کوم ځای چې عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خوله ايښې وه).

او په خپله د کافر پاکوالی هم له حديث څخه ثابت دی: روی أن رسول الله ﷺ أنزل وفد ثقيف في المسجد و كانوا مشركين، (روايت سوی دی چې د ثقيف قبيلې يو هيئت(ډله) مسجد ته راغله، حال دا وو چې هغوی مشرکان وو)، نو که مشرک نجس وای، نبي ﷺ به دوی مسجد ته پرې ايښې نه وای، پاته سو د الله دا قول: إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ (سورة التوبة:۲۸)، نو له دې څخه مراد اعتقادي نجاست دی نه د ښکاره بدن.

د سپي د پسخوردې حکم(او سپي چې په کوم لوښي کې خوراک کړی وي د هغه د پاکولو طريقه)

وَسُؤْرُ الْكَلْبِ نَجِسٌ او د سپي پسخورده مرداره ده وَيُغْسَلُ الْإِنَاءُ مِنْ وُلُوغِهِ ثَلَاثًا او د هغه د خولې په وهلو(اچولو) سره به لوښی درې واره پرېولل کيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي يُغْسَلُ الْإِنَاءُ مِنْ وُلُوغِ الْكَلْبِ ثَلَاثًا د سپي له خولې وهلو څخه به لوښی درې واره پرېولل کيږي وَلِسَانُهُ يُلَاقِي الْمَاءَ دُونَ الْإِنَاءِ او (د خولې وهلو په وخت کې) د سپي ژبه د اوبو سره مېښلې نه د لوښي سره فَلَمَّا تَنَجَّسَ الْإِنَاءُ فَالْمَاءُ أَوْلَى نو کله چې لوښی مردار سو نو اوبه خو به خامخا مرداريږي وَهٰذَا يُفِيدُ النَّجَاسَةَ وَالْعَدَدَ فِي الْغَسْلِ او دا حديث د (اوبو د) مردار والي او (د لوښي) په پرېوللو کې د دريو د شمېرې(د ضروري کېدلو) فايده ورکوي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي اشْتِرَاطِ السَّبْعِ او دا حديث د اوو(۷) وارو د شرط لګولو په باره کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَلِأَنَّ مَا يُصِيبُهُ بَوْلُهُ يَطْهُرُ بِالثَّلَاثِ او په دې وجه هم چې پر کوم شي د سپي متيازې ولګيږي هغه (لا) په دريو وارو سره پاکيږي فَمَا يُصِيبُهُ سُؤْرُهُ وَهُوَ دُونَهُ نو هغه شی چې د سپي پسخورده پر ولګيږي حال دا چې د سپي پسخورده د سپي تر متيازو(په نجاست کې) کمه ده أَوْلَى (نو) هغه شی به په طريقهٔ اولیٰ سره (په دريو وارو) پاکيږي وَالْأَمْرُ الْوَارِدُ• بِالسَّبْعِ مَحْمُولٌ عَلَى ابْتِدَاءِ الْإِسْلَامِ او د اوو(۷) وارو پرېوللو چې کوم حکم راغلی دی هغه د اسلام پر ابتداء(شروع) باندي حمل کيږي وَسُؤْرُ الْخِنْزِيرِ نَجِسٌ او د خنزير پسخورده مرداره ده لِأَنَّهُ نَجِسُ الْعَيْنِ ځکه چې خنزير نجس العين دی عَلَى مَا مَرَّ لکه څرنګه چې مخکې (دا حکم) تېر سو.

• تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الطهارة، باب ولوغ القلب في الاناء، حديث رقم: ۱۹۳.

• تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الطهارة، باب ولوغ القلب في الاناء، حديث رقم:۱۷۸.

اللغات: ﴿وَلَغَ﴾ د فتح د باب مصدر دی: په لوښي کي خوله وهل(اچول) د سپي او درنده لپاره استعماليږي، ژبه ښوروړل يا دژبي په طرف سره اوبه چيښل، ﴿مَرَّ﴾ د نصرب د باب ماضي صيغه ده: تېرېدل، د وخت تېرېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که سپي په يو لوښي کي خوله ووهل هغه لوښی هم مرداريږي، او په دې لوښي کي که اوبه يا يو بل پاک شی وو هغه هم مرداريږي، له امام مالک رَحِمَهُ الله څخه ماسوا نور د ټولو په نيز د سپي پسخورده مرداره ده، او هغه لوښی چي سپي خوله پکښې وهلې وې درې واره پرېولل واجب دي، ځکه په حديث کي راغلي دي: که سپي په لوښي کي خوله ووهل نو دغه لوښی دي درې واره پرېولل سي، په دې حديث سره په دې توګه دليل نيول کيږي، چي د سپي ژبه د اوبو سره مبتلې نه د لوښي سره، نو کله چي د سپي د خولې وهلو په وجه لوښی مردار سو، نو اوبه خو به خامخا مرداريږي؛ ځينو حضراتو اعتراض کړی دی چي ممکنه ده له ولوغ څخه مراد څټل وي، نو د څټلو په وخت کي خو ژبه د لوښي سره مبتلې نه د اوبو سره، نو ځکه به په دې حديث سره د اوبو په باره کي دليل نيول صحيح نه وي، جواب دا دی چي د ولوغ حقيقي معنیٰ ده: دژبي په طرف سره اوبه يا بل شی چيښل، او قاعده دا ده چي تر څو پوري د حقيقي معنیٰ په خلاف يوه قرينه پيدا نه سي نو حقيقي معنیٰ به مراديږي، حاصل دا چي له حديث څخه دوې خبري ثابتي سوې: يوه دا چي د سپي لاړې مرداري دي، دويم دا چي د لوښي د پرېوللو شمېر درې دی، او دا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی، ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز اووه واره پرېولل ضروري دي.

د امام شافعي دليل: د عبد الله بن مغفل ﷺ حديث دی: أنه ﷺ قال: إذا ولغ الكلب في إنائكم فاغسلو سبعا وعفروه الثامنة بالتراب. (يعني نبي ﷺ وفرمايل: چي کله سپی ستاسو په لوښي کي خوله ووهي نو تاسو يې اووه واره پرېولئ او اتم وار يې په خاورو صفا کړئ).

جواب: زموږ له طرفه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دې حديث جواب دا دی چي دا د اوو(۷) وارو د پرېوللو حکم د اسلام په شروع کي وو، بيا وروسته منسوخ سو، او په اصل کي خبره دا وه، چي نبي ﷺ به پر خلکو د اسلام په شروع کي د سپيانو په باره کي سختي کوله، چي د سپيانو له را جمع کولو څخه بند سي، خو څه وخت چي د دوی دا عادت ختم سو، نو دا حکم هم منسوخ سو.

ولأن ما يصيبه الخ صاحب د هدايې له دې ځايه پر امام شافعي رَحِمَهُ الله الزامي دليل وړاندي کوي فرمايي: پر کوم شي چي د سپي متيازي ولګيږي هغه په درې وارو پرېوللو سره پاکيږي، نو پر کوم شي چي د هغه پسخورده ولګيږي حال دا چي پسخورده يې له متيازو څخه کمه ده، نو دا شی خو به خامخا په درې وارو پرېوللو سره پاکيږي، د سپي پسخورده د هغه له متيازو څخه په دې وجه کمه ده، چي د سپي متيازي د هيچا په نيز هم پاکي نه دي، لېکن پسخورده يې د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز پاکه ده.

د درندګانو د پسخوردې حکم

> وَسُؤْرُ سِبَاعِ الْبَهَائِمِ نَجِسٌ او د ځيرونکو حيواناتو پسخورده مرداره ده خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِيمَا سِوَى الْكَلْبِ وَالْخِنْزِيرِ لېکن له سپي او خنزير څخه په علاوه کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لِأَنَّ لَحْمَهَا نَجِسٌ ځکه چي د دې ځيرونکو حيواناتو غوښه مرداره ده وَمِنْهُ يَتَوَلَّدُ اللُّعَابُ او لاړې هم له غوښو څخه پيدا کيږي وَهُوَ الْمُعْتَبَرُ فِي الْبَابِ او په دې باب کي هم د لاړو اعتبار دی.

اللغات: ﴿سِبَاع﴾ جمع ده، واحد يې سَبُعٌ دی: درنده (ځيرونکي حيوان).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نيز د درندګانو (ځيرونکو حيواناتو لکه شېر، پړانګ، لېوه او د داسې نورو) پسخورده مرداره ده، او په کوم لوښي يا اوبو کې چې دوی خوله ووهي هغه مرداريږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز له خنزير او سپي څخه ماسوا د نورو درندګانو او ښاروپانو پسخورده پاکه ده.

د امام شافعي دليل: دا دی چې له حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې له نبي ﷺ څخه د هغو حوضونو په باره کې پوښتنه وسوه چې د مکې او مدينې په مينځ کې وه، او نبي ﷺ ته دا هم وويل سوه چې هلته د اوبو څيښلو لپاره سپيان او درندګان هم راځي، نبي ﷺ وفرمايل: لها ما أخذ في بطونها ولنا ما بقي شراب و طهور. (يعني دې درندګانو چې کوم څه په خپلو نسو کې واخيستل هغه د دوی لپاره دي او کوم څه چې پاته سوه هغه زموږ د څيښلو لپاره دي او پاک دي).

او په بل حديث کې راځي أنتوضأ بما أفضلت الحمر فقال نعم و بما أفضلت السباع كلها. (يعني آيا موږ د خرو له پاته سوو اوبو څخه اودس کوو (که نه؟)، نبي ﷺ وفرمايل: هو! او د درندګانو له پاته سوو اوبو څخه هم (اودس کوئ)، له دې دواړو حديثونو څخه معلومه سوه چې د درندګانو پسخورده پاکه ده.

زموږ دليل: دا حديث دی: أن عمر ﷺ و عمرو بن العاص ﷺ وردا حوضاً فقال عمرو بن العاص يا صاحب الحوض أترد السباع ماء هذا فقال عمر يا صاحب الحوض لا تخبرنا فلو لا أنه كان إذا أخبر بورود السباع يتعذر عليهما استعماله لما نهاه عن ذالك. (يعني حضرت عمر فاروق او عمرو بن العاص يوه حوض ته ولاړل، عمرو بن العاص ﷺ وفرمايل چې اې د حوض خاونده! آيا ستا دې اوبو ته درندګان راځي (د هغه له جواب څخه مخکې) حضرت عمر ﷺ وويل: اې د حوض خاونده! موږ ته خبر مه راکوه، ځکه که موږ ته د درندګانو د راتګ خبر راکړی سو نو پر موږ دواړو به د دې استعمال ستونزمن سي، ځکه چې نبي ﷺ له دې څخه منع کړې ده). له دې واقعې څخه معلومه سوه چې د درندګانو پسخورده مرداره ده.

عقلي دليل: زموږ له طرفه عقلي دليل دا دی چې د درندګانو غوښې مرداري دي، او لاړې له غوښو څخه پيدا کيږي، او د لاړو په پاکوالي او مردار والي کې غوښې معتبرې دي، يعني که غوښې يې مرداري وې نو لاړې به يې هم مرداري وي، او که غوښې يې پاکي وې نو لاړې به يې هم پاکي وي.

جواب: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث جواب دا دی چې د درندګانو د اوبو د پاکوالي حکم د اسلام په شروع کې د دوی د غوښو له تحريم څخه مخکې وو (يعني د اسلام په شروع کې چې کله د درندګانو غوښې حرامې سوې نه وې نو د درندګانو اوبه او پسخورده هم پاک وه خو وروسته) بيا دا حکم منسوخ سو، دويم جواب يې دا دی چې د کومو حوضونو په باره کې چې له نبي ﷺ څخه پوښتنه وسوه، هغه ټول لوی لوی حوضونه وه، او دا خبره موږ هم منو چې لوی حوض نه مرداريږي.

د پيشي د پسخوردې حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

وَسُؤْرُ الْهِرَّةِ طَاهِرٌ مَكْرُوهٌ او د پيشي پسخورده پاکه ده (خو) مکروه ده وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ غَيْرُ مَكْرُوهٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي چې مکروه نه ده لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ يُصْغِيْ● لَهَا الْإِنَاءَ ځکه

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الطهارة باب سؤر الهرة، حديث رقم: ١٩٥

چي نبي ﷺ به پيشي ته لوښی را کړوی فَتَشْرَبُ مِنْهُ نو پيشي به له هغه څخه اوبه څيښلې ثُمَّ يَتَوَضَّأُ مِنْهُ او بيا به نبي ﷺ له هغه څخه اودس کوی وَلَهُمَا •قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د طرفينو دليل د نبي ﷺ دا حديث دی الْهِرَّةُ •سَبُعٌ (چي) پيشي درنده دی وَالْمُرَادُ بَيَانُ الْحُكْمِ دُوْنَ الْخِلْقَةِ وَالصُّوْرَةِ او له حديث څخه مراد د حکم بيانول دي، پيدايښت او بڼه يې (بيانول) مقصود نه دي إِلَّا أَنَّهُ سَقَطَتِ النَّجَاسَةُ لِعِلَّةِ •الطَّوَافِ خو (د پيشي له پسخوردې څخه) د طواف(يعني په کورکي د ګرځېدلو) د علت په وجه نجاست ساقط سو فَبَقِيَتِ الْكَرَاهَةُ او کراهت پاته سوه وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلَى مَا قَبْلَ التَّحْرِيْمِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت له تحريم څخه پر مخکي حکم باندي حمل کيږي ثُمَّ قِيْلَ: كَرَاهَتُهُ لِحُرْمَةِ اللَّحْمِ بيا ويل سوي دي: چي د پيشي د پسخوردې کراهت د هغې د غوښو د حرام والي په وجه دی وَقِيْلَ: لِعَدَمِ تَحَامِيْهَا النَّجَاسَةَ او ويل سوي دي: چي له نجاست څخه د ځان نه ساتلو په وجه دی وَهٰذَا يُشِيْرُ إِلَى التَّنَزُّهِ او دا قول د مکروه تنزيهي و طرف ته اشاره کوي وَالْأَوَّلُ إِلَى الْقُرْبِ مِنَ التَّحْرِيْمِ او اول قول مکروه تحريمي ته زيات نژدې دی.

اللغات: ﴿هِرَّة﴾ پيشي، ﴿يُصْغِيْ﴾ د إفعال د باب مضارع معلوم صيغه ده، أَصْغٰى يُصْغِيْ: کږول، کښته کول، ﴿تَحَامِيْ﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: پرېز کول، ځان ژغورل، ليري اوسېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د پيشي د پسخوردې د طهارت او نجاست په لړ کي د أحنافو فقهاؤ په مينځ کي اختلاف دی: د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله قول دا دی چي د پيشي پسخورده پاکه ده.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي نبي ﷺ به پيشي ته د اوبو لوښی راکړوي اوبه به يې ورکولې. بيا چي به کله پيشي له دې څخه اوبه وڅيښلې نو نبي ﷺ به په همدغه اوبو اودس کوی، که د پيشي په پسخورده کي يو قسم کراهت يا بدي وای نو نبي ﷺ به هيڅکله داسي نه کولای، د نبي ﷺ دا عمل د دې خبري ښکاره ثبوت دی چي د پيشي پسخورده پاکه ده.

په دې لړ کي د طرفينو رايه دا ده چي د پيشي پسخورده خو پاکه ده لېکن مکروه ده(يعني بالکل پاکه نه ده بلکي کراهت پکښي سته).

د طرفينو دليل: دا حديث دی چي: پيشي درنده دی، او د دې حديث مقصد دا دی چي کوم حکم د درندګانو دی، هغه حکم د پيشي هم دی، او د درندګانو پسخورده مرداره ده، نو ځکه به د پيشي پسخورده هم مرداره وي، له دې حديث څخه د حکم معنیٰ ځکه اخيستل کيږي چي نبي ﷺ د أحکامو د تبليغ او د مسئلو د تشريح لپاره را استول سوی وو، د بڼې، شکل او صورت بيانولو لپاره نبي ﷺ را استول سوی نه وو.

• القول الراجح: في هذه المسئلة قولهما أبي حنيفة و محمد رحمهماالله، كما قال علامه ابن نجيم في البحر ج:۱، ص:۲۲۹ و كذا في الدر المختار: ج:۱، ص:۱۵۶. [القول الراجح ج۱، ص:۲۱]

• تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الطهارة، باب سور الهرة، حديث رقم:۲۱۷.

• تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الطهارة، باب سور الهرة، حديث رقم:۲۱۶.

خو په هر حال دا خبره فيصله سوې ده چې د پيشي د پسخوردې هم هغه حکم دی کوم چې د درندګانو د پسخوردې حکم دی، او د درندګانو پسخورده مرداره ده، نو په دې اعتبار سره د پيشي پسخورده هم مردارېدل پکار دي، خو موږ بيا هم دې ته مرداره نه وايو، ځکه چې نبي ﷺ پيشياني په کورو کې ګرځيدونکي(او د کورو ګښت کونکي) ګرځولي دي(يعني نبي ﷺ فرمايلي دي چې پيشياني په کورونو کې ګرځي او را ګرځي(طواف کوي)، لکه څرنګه چې له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت دی، هغه فرمايي: سمعت رسول الله ﷺ يقول: الهرة ليست بنجسة إنما هي من الطوّافين عليكم أو الطوّافات، دې حديث ته په کتني سره د پيشي د پسخوردې نجاست ساقطيږي او کراهت يې پاتيږي، صاحب د هدايې له إلّا أنه أسقطت څخه تر ما رواه پورې همدا خبره بيان کړې ده.

جواب: صاحب د هدايې له وما رواه ...الخ څخه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د حديث جواب ورکوي، فرمايي: چې دا حديث د هغه زمانې پر حالاتو حمل کيږي کله چې د درندګانو په سلسله کې د حرمت فرمان صادر سوی لا نه وو، خو کله چې وروسته د دوی د تحريم فيصله راغله، نو پيشي هم په دې سلسله کې تر دې فيصلې لاندې داخله سوه.

ثم قيل الخ د دې حاصل دا دی چې له أحنافو څخه امام طحاوي رَحِمَهُ الله د پيشي د غوښو په وجه د پيشي پسخورده مکروه تحريمي ګرځوي، ځکه چې د دې غوښې حرامې دي، او امام کرخي رَحِمَهُ الله د پيشي پسخورده له نجاست څخه د نه تنزّه (نه خوندي کېدلو) په وجه مکروه تنزيهي ګرځوي،(يعني پيشي له نجاست څخه ځان نه ژغوري)، ځکه د نه تنزه او نه احتياط په وجه چې کوم حرمت پيدا کيږي هغه به تنزيهي وي، د پيشي د پسخوردې مکروه والی له دې خبرې څخه هم معلوميږي چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله له را نقل سوي روايت څخه د دې پاکوالی او د طرفينو له را نقل سوي روايت څخه د دې ناپاکوالی ښکاره کيږي، او دا د فقهې مشهوره قاعده ده چې إذا اجتمع الحلال والحرام أو المحرم والمبيح غلب الحرام والمحرم، (يعني د حلالو او د حرامو يا د محرّم او مبيح د يو ځای والي په صورت کې به د حرمت اړخ ته ترجيح ورکول کيږي). (الاشباه والنظائر ص:۱۳۲)

راجح قول: په پورتني مسئلهٔ کې د طرفينو قول راجح دی، لکه څرنګه چې علامه ابن نجيم رَحِمَهُ الله د دې مسئلې تر تفصيل وروسته فرمايي: قالوا وهو الأصح وظاهر ما في الأصل فإنه قال وإن توضأ بغيره أحبّ إليّ. [القول الراجح: ج۱، ص:۲۱]

پيشي که تر موږک خوړلو وروسته سمدستي په اوبو کې خوله ووهل نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَكَلَتِ الْفَأْرَةَ او که پيشي موږک وخوړی ثُمَّ شَرِبَتْ عَلَى فَوْرِهِ الْمَاءَ او بيا يې سمدستي اوبه وڅښلې يَتَنَجَّسُ نو اوبه مرداريږي إِلَّا إِذَا مَكَثَتْ سَاعَةً خو که لږ ګړی ودرېدله(او بيا يې اوبه وڅښلې نو نه مرداريږي) لِغَسْلِهَا فَمَهَا بِلُعَابِهَا ځکه چې پيشي خپله خوله په خپلو لاړو باندې پرېولې وَالْإِسْتِثْنَاءُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَى ● او دا استثناء د شيخينو په مذهب کې ده وَيَسْقُطُ اعْتِبَارُ الصَّبِّ لِلضَّرُورَةِ او د بيولو اعتبار به د ضرورت په وجه ساقطيږي.

اللغات: ﴿مَكَثَتْ﴾ د نصر له باب څخه د ماضي معلوم صيغه ده: ځنډېدل، درېدل، درنګ کول.

● القول الراجح: قول الشيخين دفعًا للضرر عن الناس، وكذا قال العلامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله رد المحتار ج:۱، ص:۱۶۳. [القول الراجح ج:۱، ص:۲۳]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که پيشي موږک وخوړی او سمدستي يې په يو لوښي کې خوله ووهل، له هغه ځخه يې اوبه وڅيښلې نو په اتفاق سره هغه اوبه مرداري دي دا حکم خو متفق عليه دی، اختلافي مسئله دا ده چې که پيشي موږک وخوړی او تر يو څه ځنډ وروسته يې اوبه وڅيښلې نو په دې صورت کې د شيخينو په نيز اوبه مرداري نه دي، ليکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په دې صورت کې هم اوبه مرداري دي.

د شيخينو دليل: دا دی چې د دوی په نيز په بهېدونکو پاکو شيانو سره نجاست ليرې کول جائز دي، نو کله چې پيشي موږک وخوړی او څه ډېر ځنډ يې وکړی نو په دومره وخت کې به دې (خامخا) په ژبه د خولې او شونډانو نجاست صفا کړی او تېر کړی وي، او تر هغه وروسته به يې په لوښي کې خولې وهلې وي.

ويسقط الخ له دې ځايه د يو مقدر سوال جواب ورکوي:

سوال: دا دی چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دلته هم اوبه مردارېدل پکار دي، ځکه چې د ده په نيز د نجاست ليرې کولو لپاره صب يعني داوبو بيول شرط دی او هغه دلته نشته؟

جواب: دا دی چې د ضرورت په وجه د بيولو اعتبار ساقط سو، او څرنګه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز بغير له اوبو څخه نجاست نه ليرې کيږي، نو ځکه به د داسي پيشي پسخورده په هر حال کې مرداره وي، هغه که يې په لانو خوله پاکه کړې وي او که نه وي.

راجح قول: راجح او غوره قول د شيخينو دی، ځکه چې په دې قول کې د خلکو لپاره اسانتيا ده، لکه څرنګه چې علامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله هم د دې صراحت کړی دی. [القول الراجح، ج:۱، ص:۲۳]

د چرګې د پسخوردې حکم

وَسُؤْرُ الدَّجَاجَةِ الْمُخَلَّاةِ مَكْرُوهٌ او په چټلو شيانو کې د ګرځېدونکې (کوځه ګبنتې) چرګې پسخورده مکروه ده لِأَنَّهَا تُخَالِطُ النَّجَاسَةَ ځکه چې دا د نجاست سره ګډون کوي (يعني په نجاست لړلې وي) وَلَوْ كَانَتْ مَحْبُوسَةً بِحَيْثُ لَا يَصِلُ مِنْقَارُهَا إِلَى مَا تَحْتَ قَدَمَيْهَا خو که چرګه په دا ډول تړل سوې وه چې مښوکه يې د پښو لاندې (حصې) ته نه رسېدله لَا يُكْرَهُ نو (بيا يې) پسخورده مکروه نه ده لِوُقُوعِ الْأَمْنِ عَنِ الْمُخَالَطَةِ ځکه چې (اوس) د نجاست له ګډون څخه خوندي (په أمن) ده وَكَذَا سُؤْرُ سِبَاعِ الطَّيْرِ او همدارنګه د ښکاري مرغانو پسخورده (مکروه) ده لِأَنَّهَا تَأْكُلُ الْمَيْتَاتِ ځکه چې ښکاري مرغان مردار حيوانان خوري فَأَشْبَهَ الْمُخَلَّاةَ. نو د مخلات چرګې سره مشابه سوه وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی أَنَّهَا إِذَا كَانَتْ مَحْبُوسَةً چې که دا ښکاري مرغان بند ساتل کېدل يَعْلَمُ صَاحِبُهَا أَنَّهُ لَا قَذَرَ عَلَى مِنْقَارِهَا (او) د دوی مالک ته دا معلومه وه چې د دوی پر مښوکو نجاست نشته لَا يُكْرَهُ نو (بيا يې) پسخورده مکروه نه ده لِوُقُوعِ الْأَمْنِ عَنِ الْمُخَالَطَةِ ځکه چې (اوس هغوی) د نجاست له اختلاط څخه په أمن دي وَاسْتَحْسَنَ الْمَشَايِخُ هَذِهِ الرِّوَايَةَ او مشايخو دا روايت غوره ګڼلی دی.

اللغات: ﴿مُخَلَّاة﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دی، خَلَّى يُخَلِّي: پرېښوول، خلاصول، يوازې کول. شړل. نو مُخَلَّاة هغه چرګې ته ويل کيږي چې هغه آزاده پرېښوول سوې وي، او په کوڅو او انبارو کې ګرځي، چې په علم عرف کې کوڅه

ګنبته چرګه وروته وايي، ﴿مِقْدَار﴾ مېنوکه، ﴿قَذَر﴾ په فتحه د ذال او کسره د ذال سره هم راځي يعني: قَذَر او قَذِر: ګندګي، نجاست.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې: کومه چرګه په چټلتياوو او مرداريو کې ګرځي د هغې پسخورده مکروه ده، ځکه چې په مرداريو کې د ګرځېدلو او مېنوکه وهلو په وجه د دې تو له وجود په ګندګي او نجاست ککړ وي، نو ځکه د دې پسخورده په هيڅ حال کې هم نه سي پاکېدلای، هو! که يو څوک د چرګو داسي پالنه او کتنه وکړي چې د ګندګی و طرف ته ولاړې نه سي، او داسي يې قيد کړي چې مېنوکې يې د پښو تر لاندي حصې پوري نه را ورسيږي، نو په دې صورت کې يې پسخورده مکروه نه ده بلکي پاکه ده (پښو لاندي حصه يې په دې وجه ذکر کړه ځکه چې چرګي هم په خپل ګندګي کي خيږي چې هغه د پښو پر لاندي حصه مبتلي، نو که يې مېنوکه د پښو لاندي حصې ته رسېدل نو معلومه ده چې په دې وخت کي به يې هم مېنوکه په ګندګي ککړه وي، ځکه يې دا شرط ولګوی چې که مېنوکه يې د پښو لاندي حصې ته نه رسېدل، نو پسخورده يې پاکه ده)، او په دې وجه پاکه ده ځکه چې کراهت د اختلاط او ککړتوب په وجه راغلی وو، او کله چې اختلاط او ککړتوب نسته نو کراهت به له کومه راسي؟

وكذا سؤر سباع الطير صاحب د قدوري وايي: چې همدغه حکم د ښکاري مرغانو هم دی يعني د دوی پسخورده هم مکروه ده ځکه چې دوی مردار حيوانان خوري او څرنګه چې په ګندګي کي نجاست سته، همدغه رنګه په مردار حيوان کي هم نجاست سته، او پر ګندګيو د ګرځېدونکي چرګي پسخورده مکروه ده، نو ځکه به د دوی پسخورده هم مکروه وي.

او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې که ښکاري مرغان قيد کړل سي او مالک (ساتونکي) ته يې دا يقين وي چې پر مېنوکو يې ګندګي نسته نو د دوی پسخورده هم مکروه نه ده، ځکه چې په دې صورت کي هم د نجاست له اختلاط او ککړتوب څخه دوی خوندي دي، صاحب د هدايې فرمايي چې مشايخو دا روايت خوښ کړی او هم پردغه يې فتوی ورکړې ده، لکه څرنګه چې فقيه ابو الليث ويلي دي: چې حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام اعظم څخه روايت کړی دی چې که ښکاري مرغه مردار حيوانان نه خوړل، نو د هغه په پسخورده او بو سره او دس کول مکروه نه دي.

د خزندو او په کور کي د عامو او سېدونکو حيواناتو د پسخوردې حکم

وَسُؤْرُ مَا يَسْكُنُ الْبُيُوتَ او د هغو حيواناتو (او خزندو) پسخورده چې په کورونو کي اوسيږي كَالْحَيَّةِ وَالْفَأْرَةِ لکه مار او موږک مَكْرُوهٌ مکروه ده لِأَنَّ حُرْمَةَ اللَّحْمِ أَوْجَبَتْ نَجَاسَةَ السُّؤْرِ ځکه چې د دوی د غوښو حُرمت د دوی د پسخوردې ناپاکوالی واجب کړی إِلَّا أَنَّهُ سَقَطَتِ النَّجَاسَةُ لِعِلَّةِ الطَّوَافِ لېکن د طواف (ګرځېدلو) د علت په وجه دا نجاست ساقط سو فَبَقِيَتِ الْكَرَاهَةُ خو کراهت پاته سو وَالتَّنْبِيهُ عَلَى الْعِلَّةِ فِي الْهِرَّةِ او د علت خبرتيا يې د پيشي په مسئله کي ورکول سوه.

اللغات: ﴿حَيَّة﴾ مار.

تشريح: د عبارت خلاصه دا ده چې هغه حيوانات کوم چې په عامه توګه په کورو کي اوسيږي لکه مار، موږک او داسي نور، نو د هغوی پسخورده هم مکروه ده، ځکه چې د هغوی غوښي حرامي دي او د غوښو حراموالی د پسخوردې د حراموالي او مرداروالي تقاضا کوي، خو د طواف د علت يعني په کورونو کي د دوی د ګرځېدلو او ګښت کولو په وجه د دوی له پسخوردې څخه نجاست ختم سو، او کراهت پاته سو.

والتنبيه على الهرة الخ فرمايي چې مخکې د پیشي په مسئله کي د پورتنۍ مسئلې علت بيان سو. چې د پیشي پسخورده هم په کورونو کي د گرځېدلو په وجه نجسه نه ده، خو کراهت یې پاته دی.

د خره او غاتري د پسخوردې حکم

قَالَ: وَسُؤْرُ الْحِمَارِ وَالْبَغْلِ مَشْكُوكٌ فِيْهِ فرمايي: د خره او غاتري پسخورده مشكوکه (شكمنه) ده قِيْلَ: اَلشَّكُّ فِيْ طَهَارَتِهِ (نو) يو قول دا دی: چې په پاکېدلو کي یې شک دی لِأَنَّهُ لَوْكَانَ طَاهِرًا ځکه که پاکه وای لَكَانَ طَهُوْرًا مَالَمْ يَغْلِبِ اللُّعَابُ عَلَى الْمَاءِ نو تر څو چې یې لاړې پر اوبو بو غالبه سوي نه وای نو هغه به پاکونکي هم وای وَقِيْلَ: اَلشَّكُّ فِيْ طَهُوْرِيَّتِهِ او بل قول دا دی: چې د دې په مُطَهِّر والي کي شک دی لِأَنَّهُ لَوْوُجِدَ الْمَاءُ الْمُطْلَقُ لَايَجِبُ عَلَيْهِ غَسْلُ رَأْسِهِ ځکه که (په شكمنو اوبو سر پرېولل سي او بيا) اوبه پيدا سي نو پر هغه د سر پرېولل واجب نه دي وَكَذَا لَبَنُهُ طَاهِرٌ او همدغه رنگه د (خرې) شيدې هم پاکې دي وَعَرَقُهُ لَايَمْنَعُ جَوَازَ الصَّلَاةِ او د خره خولې د لمانځه له جواز څخه مانع نه دي وَإِنْ فَحُشَ که څه هم زياتي وي فَكَذَا سُؤْرُهُ نو پسخورده به یې هم دغه ډول وي وَهُوَ الْأَصَحُّ او صحيح روايت همدغه دی وَيُرْوٰى[●] نَصُّ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ عَلٰى طَهَارَتِهِ او روايت سوی دی چې امام محمد رَحِمَهُ الله د خره د پاکوالی صراحت کړی دی سَبَبُ الشَّكِّ تَعَارُضُ الْأَدِلَّةِ فِيْ إِبَاحَتِهِ وَحُرْمَتِهِ او د شک سبب د دې په مباحوالي او حراموالي کي د دلايلو تعارض دی أَوِاخْتِلَافُ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فِيْ نَجَاسَتِهِ وَطَهَارَتِهِ يا د دې په پاکوالي او ناپاکوالي کي د صحابه وو اختلاف دی وَعَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ نَجِسٌ او له امام حنيفه رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي چې د خره پسخورده مرداره ده تَرْجِيْحًا لِلْحُرْمَةِ وَالنَّجَاسَةِ د حرمت او نجاست جانب ته په ترجيح ورکولو سره وَالْبَغْلُ مِنْ نَسْلِ الْحِمَارِ فَيَكُوْنُ بِمَنْزِلَتِهِ او غاتره هم د خره له نسل څخه ده نو دا به هم د خره په ډول وي.

اللغات: ﴿حِمَار﴾ خر، ﴿بَغْل﴾ غاتره (خچره)، ﴿تَرْجِيْح﴾ غوره والی. بنه گڼنه.

تشريح: په عبارت کي له خره څخه مراد پالل سوی او کورنی خر دی، او له غاتري څخه مراد هغه غاتره ده چې له خرې څخه پيدا سوې وي، اوس صورت د مسئلې واورئ:

صورت د مسئلې: دا دی چې د پالل سوو خره او غاتري پسخورده شكمنه ده. پر دې خبره د زياتره مشائخو اتفاق دی. خو په دې لړ کي د مشائخو اختلاف دی چې د دوی د پسخوردې په طهارت (پاکېدلو) کي شک دی او که په مُطَهِّر کېدلو (د بل شي په پاکولو) کي یې شک دی؟ نو د ځينو حضراتو رايه دا ده چې د خره د پسخوردې په طهارت (پاکوالي) کي شک دی، يعني دا ښکاره نه ده چې د خره پسخورده پاکه ده او که مرداره. ځکه که پاکه وای نو په اوبو کي به د دې د لوېدلو په وجه اوبه تر هغه وخته نه مردارېدلای تر څو چې پسخورده پر دې اوبو غالبه سوې نه وای. حال دا چې له غلبې څخه ماسوا هم په اوبو کي د خره د پسخوردې د ور لوېدلو په وجه له دې اوبو څخه اودس کول او طهارت حاصلول صحيح نه دي، له دې څخه همدا خبره په ذهن کي راځي چې په خپله د خره د پسخوردې په پاکوالي او ناپاکوالي کي شک دی.

● القول الراجح: في هذه المسئلة قول محمد رحمه‌الله كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۱۶۶ [القول الراجح ج:۱، ص:۳۲]

له مشائخو څخه د بعضو حضراتو رايه دا ده چي د خره پسخورده خو پخپله پاکه ده، مګر د دې په مُطهِّروالي کي شک دی (يعني په دې کي يې شک دی چي آيا بل شی پاکوي او که نه) او دليل پر دې دا دی چي که مثلاً يو سړی اودس کوي او د خره د پسخوردې په اوبو سره د سر مسح وکړي، او تر هغه وروسته پاکي اوبه ور ته حاصلي سي نو اوس د دې سړي لپاره دويم وار د سر مسح کول ضروري نه دي، نو له دې څخه معلومه سوه چي د خره پسخورده خو پخپله پاکه ده لېکن په دې کي يې شک دی چي نور شيان پاکولای سي، که نه.

وكذا لبنه...الخ فرمايي: چي د خرې شيدې هم پاکي دي، ځکه چي د شيدو په جوړولو، زياتېدلو او راوتولو کي د غوښو هيڅ اثر او اغېز نسته، همدارنګه د خره او نورو خوله (عرق) هم پاکه دي، که څه هم زياته وي، او دا سي نه ده چي لمونځ دي ور سره جائز نه وي، تر ټولو ښه او معتمد قول همدغه دی، کنې په دې لړي کي له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه درې رواياتونه را نقل سوي دي چي په يوه روايت کي د خره خوله نجاستِ خفيفه او په بل روايت کي نجاستِ غليظه ګرځول سوې ده، ليکن مشهور روايت همدغه دی چي پاکه ده، نو کله چي يې خوله پاکه ده نو پسخورده او لاټي به يې هم پاکي وي. (عنايه ج:۱، ص:۱۱۹)

ويروى الخ د دې خلاصه دا ده چي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دا صراحت هم را نقل سوی دی چي د خره پسخورده پاکه ده، نو په دې سره دا خبره نوره ټينګېږي چي شک د خره د پسخوردې په پاکوالي کي نه دی، بلکي په مُطهِّر والي کي يې دی.

وسبب الشك الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د خره په پسخورده کي د شک دوه سببه دي: اول خو دا چي د دې په روايتنت او حرام والي کي دلائل سره مختلف دي، لکه څرنګه چي روايت سوی دی: أن غالب بن أبجر سأل رسول الله ﷺ وقال لم يبق لي مال إلا حميرات فقال ﷺ كل من سمين مالك. (يعني غالب بن ابجر له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي زما سره له خرو څخه علاوه نور هيڅ پاته نه دي (زه څه وکړم) نبي ﷺ وفرمايل چي له خپل چاغ مال څخه يې خوره)، دا حديث د خره د غوښي پر حلالوالي دلالت کوي.

او په بل روايت کي راغلي دي: أن رسول الله ﷺ حرم لحوم الحمر الأهلية يوم خيبر. (يعني د خيبر په ورځ نبي ﷺ د کورني (پالل سوو) خرو غوښي حرامي کړي دي)، په دې حديث کي په ډاګه ويل سوي دي چي د خرو غوښي حرامي دي.

دويم سبب دا دی چي د خره د پسخوردې په پاکوالي او مردار والي کي د صحابه وو اختلاف دی، لکه څرنګه چي له حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه د دې مردار والی را نقل سوی دی، او له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه د دې پاکوالی را نقل سوی دی، لنډه دا چي کله د اسلام په شروع کي لا په دې کي اختلاف سته، نو آخر نه ورځ څوارلس سوه کاله وروسته موږ څنګه دې نتيجې ته رسېدلای سو، نو ځکه موږ د دې په مُطهِّر کېدلو کي د شک او شبهې قائل يو. (عنايه ج:۱، ص:۱۱۹ بنايه ج:۱، ص:۴۵۷)

وعن أبي حنيفة الخ له امام صاحب څخه يو روايت دا هم را نقل سوی دی چي د خره پسخورده مرداره ده ځکه چي جانب د حرمت او نجاست يې راجح دی. او څرنګه چي غاتره د خره له نسل څخه ده، نو ځکه به د غاتري هم هغه حکم وي کوم چي د خره دی.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې د امام محمد رَحِمَهُ الله قول راجح دی، په فتاویٰ هندیه کې د دې په اړه داسې ذکر سوي دي: وسؤر البغل والحمار مشكوك والصحيح أنه طاهر وإنما الشك في طهوريته كذا في فتاوى قاضيخان. (الهندية ج:۱، ص:۲۴). [القول الراجح، ج:۱، ص:۲۴]

له شکمنو اوبو څخه ماسوا که نوري اوبه نه وي نو د اودس حکم

فَإِنْ لَمْ يَجِدْ غَيْرَهُمَا او که اودس کونکي له دې دواړو (يعني د خره او غاتري د پسخوردې له اوبو) څخه ماسوا نوري پیدا نه کړې يَتَوَضَّأُ بِهِمَا وَيَتَيَمَّمُ نو په دې دواړو دي اودس (هم) وکړي او تیمّم دي هم په وکړي وَيَجُوزُ أَيُّهُمَا قَدَّمَ او (د هغه لپاره) له اوداسه او تیمّم څخه هر یو مخکې کول جائز دي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ الله: لَا يَجُوزُ إِلَّا أَنْ يُقَدِّمَ الْوُضُوْءَ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې صرف اودس مخکې کول جائز دي لِأَنَّهُ مَاءٌ وَاجِبُ الْاسْتِعْمَالِ ځکه چې دا واجبُ الاستعمال اوبه دي فَأَشْبَهَ الْمَاءَ الْمُطْلَقَ نو د ماءِ مطلق (مطلقو اوبو) سره مشابه سوې وَلَنَا أَنَّ الْمُطَهِّرَ أَحَدُهُمَا او زموږ دليل دا دی چې په دې دواړو کې یو پاکونکی دی فَيُفِيدُ الْجَمْعَ دُوْنَ التَّرْتِيْبِ نو ځکه د جمعې فايده ورکوي نه د ترتيب وَسُؤْرُ الْفَرَسِ طَاهِرٌ عِنْدَهُمَا او د آس پسخورده د صاحبينو په نيز پاکه ده لِأَنَّ لَحْمَهُ مَأْكُوْلٌ ځکه چې (د صاحبينو په نيز) د آس غوښې خوړل کېدلای سي وَكَذَا عِنْدَهُ فِي الصَّحِيْحِ همدارنګه د امام صاحب په روايت کې (هم د آس پسخورده پاکه ده) په صحيح قول کې لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ لِإِظْهَارِ شَرَفِهِ ځکه چې د آس د غوښو کراهت د هغه د شرافت د ښکاره کولو په وجه دی.

اللغات: ﴿الفَرَس﴾ آس، ﴿إظْهَار﴾ څرګندول، ښکاره کول، ﴿شَرَف﴾ عزت، ستروالی، شريف والی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که اودس کونکي ته د خره او غاتري د پسخوردې له اوبو څخه ماسوا نوري اوبه تر لاسه نه سوې نو په دې صورت کې د ده لپاره حکم دا دی چې په دغه اوبو دي اودس هم وکړي او تيمّم دي هم وکړي، او زموږ په نيز له اوداسه او تيمّم څخه چې کوم يو وغواړي هغه مخکې کولای سي، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې صرف اودس مخکې کول جائز دي.

د امام زفر دليل: دا دی چې شکمنې اوبه واجبُ الاستعمال دي، نو دا د مطلقو اوبو سره مشابه سوې.

زموږ دليل: دا دی چې له شکمنو اوبو څخه اودس کول او تيمّم کول په دې دواړو شيانو کې يو شی پاکونکی دی، په دواړو کې به په يوه سره طهارت ثابتيږي، نو که په شکمنو اوبو سره طهارت ثابت سو نو د خاورو استعمال هيڅ فايده نه وکړه، هغه که خاوري مخکې کړي او که يې وروسته کړي، او که پاکونکي صرف خاوري سوې نو تقديم او تأخير هيڅ ضرر نه رسوي، لنډه دا چې کله له دواړو څخه يو مُطهِّر (پاکونکي) دی، نو د دوی دواړو جمع کول مفيد دي، ترتيب مفيد نه دی.

وسؤر الفرس الخ آس که نر وي، که ښځه، پسخورده يې د صاحبينو په نيز پاکه ده ځکه چې د هغه غوښې خوړل کيږي، او د کوم حيوان غوښې چې خوړل کيږي د هغه پسخورده پاکه وي، خو په دې باره کې له امام صاحب څخه څلور روايتونه دي:

① اول دا چې له دې څخه ماسوا په نورو اوبو اودس کول غوره دي.

② دويم دا چې د ده د غوښو په ډول، د ده پسخورده هم مکروه ده.

③ دريم دا چې د خره د پسخوردې په ډول شکمنه ده.

④ څلورم دا چې دا پاکه ده. او صحيح مذهب همدغه دی.

پاته سوه دا خبره چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د آس غوښې مکروه دي نو د ده پسخورده څرنګه پاکېدای سي؟ د دې جواب دا دی چې د آس د غوښو کراهت د ده د عزت او شرافت په وجه دی ځکه چې هغه د جهاد ذريعه او آله ده. او د غوښو کراهت يې د نجاست په وجه نه دی. نو ځکه يې د غوښو کراهت په پسخورده کې أثر نه کوي.

په نبيذ تمر سره د اودس او غسل حکم(او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

فَإِنْ لَمْ يَجِدْ إِلَّا نَبِيذَ التَّمْرِ که اودس کونکي له نبيذ تمر څخه علاوه نوري اوبه پيدا نه کړې قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ تَعَالٰى: يَتَوَضَّأُ بِهٖ وَلَا يَتَيَمَّمُ نو امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دې سره دې اودس وکړي او تيمّم دې نه کوي لِحَدِيْثِ لَيْلَةِ الْجِنِّ د ليلةُ الجن(د پېريانو د شپې) د حديث په وجه فَإِنَّ[1] النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ تَوَضَّأَ بِهٖ ځکه نبي ﷺ په دې اوبو سره اودس کړی وو حِيْنَ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ کله چې يې اوبه پيدا نه کړې وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ الله[2]: يَتَيَمَّمُ وَلَا يَتَوَضَّأُ بِهٖ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا سړی دې تيمّم وکړي او په نبيذ تمر سره دې اودس نه کوي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او داسې يو روايت د امام صاحب رَحِمَهُ الله هم دی وَبِهٖ قَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دا خبره کوي عَمَلًا بِآيَةِ التَّيَمُّمِ د تيمّم په آيت باندې د عمل کولو په وجه لِأَنَّهَا أَقْوٰى ځکه چې آيت (تر حديث) زيات قوي دی أَوْ هُوَ مَنْسُوْخٌ بِهَا يا دا چې حديث د آيت په وجه منسوخ دی لِأَنَّهَا مَدَنِيَّةٌ ځکه چې د تيمّم آيت مدني دی وَلَيْلَةُ الْجِنِّ كَانَتْ مَكِّيَّةً او د ليلة الجن (واقعه) مکي ده وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ الله: يَتَوَضَّأُ بِهٖ وَيَتَيَمَّمُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په نبيذ سره دې اودس وکړي او (بيا دې) تيمّم (هم) وکړي لِأَنَّ فِي الْحَدِيْثِ اِضْطِرَابًا ځکه چې په حديث کې اضطراب دی وَفِي التَّارِيْخِ جَهَالَةً او په تاريخ کې جهالت دی(يعني تاريخ نامعلومه دی) فَوَجَبَ الْجَمْعُ اِحْتِيَاطًا نو د احتياط په توګه د اودس او تيمّم جمع کول واجب دي قُلْنَا: لَيْلَةُ الْجِنِّ كَانَتْ غَيْرَ وَاحِدَةٍ موږ جواب ورکوو: چې ليلة الجن څو واره(پېښه سوې) وه فَلَا يَصِحُّ دَعْوَى النَّسْخِ نو د نسخ دعویٰ کول صحيح نه دي وَالْحَدِيْثُ مَشْهُوْرٌ عَمِلَتْ بِهِ الصَّحَابَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او حديث مشهور دی چې پر هغه صحابه وو عمل کړی دی وَبِمِثْلِهٖ يُزَادُ عَلَى الْكِتَابِ او په دا ډول حديث سره پر کتابُ الله اضافه(زياتوب) کېدلای سي وَأَمَّا الْاِغْتِسَالُ بِهٖ پاته سو په نبيذ تمر سره د غسل کولو مسئله فَقَدْ قِيْلَ: يَجُوْزُ عِنْدَهٗ نو يو قول دا دی: چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په دې سره غسل کول جائز دي اعْتِبَارًا بِالْوُضُوْءِ (امام صاحب) پر اودس باندې قياس کوي وَقِيْلَ: لَا يَجُوْزُ لِأَنَّهٗ فَوْقَهٗ او يو قول دا دی چې غسل په کول جائز نه دي ځکه چې غسل (په درجه کې) له اودس څخه لوړ دی.

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة، باب الوضوء بالنبيذ، حديث رقم:٨٤، وترمذي في كتاب الطهارة، باب الوضوء بالنبيذ، حديث رقم:٨٨.

[2] القول الراجح: في هذه المسئلة قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله في رد المحتار ج:١، ص:١٤٧. [الفقه الراجح ج:١، ص:٢٥]

اللغات: ﴿نبيذ﴾ له انګورو يا خرماوو څخه جوړ سوی شربت چي په ژر نه استعمالولو سره نشه پکښې راځي. ﴿تمر﴾خرما، کجوره. ﴿لَيْلَةُ الْجِنّ﴾ د پيرانانو شپه. لَيْلَةُ الجِنّ هغه شپې ته ويل کيږي چي په هغه کي نبي کريم ﷺ د پيرانانو د تبليغ لپاره له مکي شريفي څخه دباندي ولاړی. ﴿جَهَالَة﴾ ناخبرتيا. ﴿يُزَاد﴾ د ضرب له باب څخه د مضارع مجهول صيغه ده. زَاد يَزِيْدُ: زياتېدل. که يې په صله کي علیٰ راسي نو معنیٰ يې "زياتول" راځي(يعني متعدي کيږي).

تشريح: مسئله: دا ده چي که له نبيذ تمر څخه ماسوا نوري اوبه پيدا نه سوې. نو له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کي دري روايتونه را نقل سوي دي: (۱) په جامع صغير کي ذکر سوي دي چي په نبيذ تمر سره دي اودس وکړي او تيمّم دي نه وهي. (۲) بل روايت دا دی چي امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي چي زما په نيز په نبيذ تمر سره اودس کول او په خاورو سره تيمّم وهل زيات غوره دي. شيخ الاسلام ويلي دي چي په دې قول کي د دې طرف ته اشاره ده چي که صرف په نبيذ تمر سره اودس وکړي او تيمّم نه وکړي نو جائز دي او که د دې برعکس وکړي نو جائز نه دي. لېکن د دواړو جمع کول مستحب دي. (۳) نوح بن أبي مريم او حسن بن زياد روايت کړی دی چی تيمم دي وکړي او په نبيذ تمر سره دي اودس نه کوي. همدغه قول امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی او دا قول د امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دی. او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي په نبيذ تمر سره دي اودس هم وکړي او تيمّم دي هم وکړي.

د امام صاحب دليل: د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله د اول روايت دليل حديث د ليلة الجن دی. هغه دا دی:

عن ابن عباس رض أن النبي ﷺ خطب ذات ليلة ثم قال ليقم معي من لم يكن في قلبه مثقال ذرة من كبر فقام ابن مسعود رضي الله عنه فحمله أي أخذه رسول الله ﷺ مع نفسه فقال عبد الله بن مسعود رضي الله عنه خرجنا من مكة و خط رسول الله ﷺ حولي خطا وقال لا تخرج عن هذا الخط فانك إن خرجت عنه لم تلقني إلى يوم القيمة ثم ذهب يدعو الجن إلى الإيمان و يقرأ عليهم القران حتى طلع الفجر ثم رجع بعد طلوع الفجر وقال لي هل بقي معك ماء اتوضأ به فقلت لا إلا نبيذ التمر في أداوة فقال رسول الله ﷺ تمرة طيبة وماء طهور وأخذه وتوضأ به و صلى الفجر. (عنايه)

(له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روايت دی چي يوه شپه نبي ﷺ خطبه وويل، بيا يې وفرمايل چي زما سره دي هغه سړی ولاړ سي چي په زړه کي يې د يوې ذرې په اندازه کبر نه وي، نو ابن مسعود رضي الله عنه ولاړ سو، نبي ﷺ دی له خپل ځان سره رواں کړی. نو عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چي موږ له مکې شريفي څخه ووتلو او نبي ﷺ پر ما شاوخوا يوه ليکه را کش کړل او وېې فرمايل چي له دې ليکي څخه مه وځه. ځکه که له دې ليکي څخه ووتلې نو تر قيامته به ته ما نه وويني. بيا نبي ﷺ پيرانانو ته د ايمان دعوت ورکړی، او د دوی مخ ته يې قرآن ووايی. تر دې چي د سهار سپېدې را وختلې.(يعني طلوع فجر سو). بيا نبي ﷺ تر طلوع فجر وروسته واپس را رواں سو او ما ته يې وفرمايل چي آيا ستا سره څه اوبه سته چي له هغه څخه اودس وکړم. ما ورته وويل چي نسته خو په لوښي کي نبيذ تمر سته. نو نبي ﷺ وفرمايل چي خرما پاکه ده او اوبه مُطهرَ (پاکوونکي) دي. بيا نبي ﷺ نبيذ تمر واخيستل. اودس يې په وکړی او د سهار لمونځ يې وکړی).

له دې حديث څخه معلومه سوه چي که له نبيذ تمر څخه ماسوا مطلقي اوبه(ماء مطلق) نه وي نو په نبيذ تمر سره دې اودس وکړی سي او د تيمّم کولو ضرورت نسته لکه څرنګه چي د الله رسول ﷺ کړي دي.

د امام ابو يوسف او امام شافعي دليل: دا دی چي د تيمّم په آيت: فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا (سورة المائدة: ۶) کي د تطهير (پاکولو) حکم د ماء مطلق د نشتوالي په صورت کي د خاورو و طرف ته منتقل سوی دی او نبيذ تمر ماء

مطلق نه دي، نو ځکه دا حديث د تيمّم د آيت په وجه رد کيږي، ځکه چې آيت د حديث په مقابله کې قوي دی، يا داسې دې ووېل سي چې حديث د ليلة الجن د تيمّم په آيت سره منسوخ دی ځکه چې آيت د تيمّم په مدينه منوره کې تر هجرت وروسته را نازل سوی دی او د ليلة الجن قصه په مکه کې پېښه سوې ده، او دا خبره ښکاره ده چې وروستنی حکم د مخکنې حکم لپاره ناسخ وي، نو ځکه به په نبيذِ تمر سره د اودس کولو حکم د تيمّم په آيت سره منسوخ وي.

د امام محمد دليل: دا دی چې د ليلة الجن په حديث کې اضطراب (او ختلاف) سته، لکه څرنګه چې بعضې حديثونه پر دې خبره دلالت کوي چې په ليلة الجن کې ابن مسعود ﷺ د نبي ﷺ سره وو، او بعضې حديثونه پر دې دلالت کوي چې ابن مسعود ﷺ د نبي ﷺ سره نه وو، همدارنګه د ليلة الجن د قصې په تاريخ کې هم جهالت سته، دا سمه معلومه نه ده چې دا واقعه کله پېښه سوې ده، نو ځکه احتياط هم په دې کې دی چې په دواړو عمل وکړي، يعني په نبيذِ تمر سره دې هم اودس وکړي او بيا دې تيمّم هم وکړي.

د امام ابو يوسف د دليل جواب: دا دی چې ليلة الجن فقط يوه نه ده بلکې ډېرې دي، صاحب د عنايه د "تيسير" په حواله ليکلي دي چې پېريان دوه واره نبي ﷺ ته راغلي دي، نو ممکنه ده چې دويم وار دې په مدينه کې د تيمّم تر آيت وروسته راغلي وي.

همدارنګه صاحب د فتح القدير ليکلي دي چې په دې باره کې چې کوم ښکاره حديثونه راغلي دي په هغو کې د دې قصې شپږ واره ذکر راغلی دی، يوه په (بقيع الغرقد) کې دا قصه پېښه سوې ده، چې په هغه کې ابن مسعود ﷺ د نبي ﷺ سره وو، او دوه واره په مکه شريفه کې او څلورم وار له د مدينې څخه دباندې پېښه سوې ده، چې په هغه کې زبير بن العوام د نبي ﷺ سره وو، نو د ليلة الجن قصه شو واره پېښه سوې ده، نو ځکه کېداى سي چې په کومه قصه کې چې په نبيذِ تمر سره د اودس کولو ذکر سوی وي، هغه دې په مدينه منوره کې د تيمّم د آيت تر نازلېدلو وروسته وي نو په داسې حالت کې د تيمّم په آيت سره د دې حديث د منسوخ والي دعوىٰ څرنګه صحيح کېداى سي.

دويم جواب: صاحب د هدايې دويم جواب دا ورکوي چې دا حديث مشهور دی او د صحابه وو يوې ډلې به په دې باندې عمل کوی، لکه څرنګه چې له حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې: الوضوء بنبيذ التمر وضوء من لم يجد الماء، (يعني په نبيذ تمر سره هغه سړی اودس کوي چې هغه مطلقي اوبه تر لاسه نه کړي)، او په مختلفه طريقو له حضرت علي ﷺ څخه روايت سوی دی أنه كان لايرىٰ بأسا بالوضوء بنبيذ التمر حال عدم الماء، (يعني حضرت علي ﷺ به د اوبو د نشتوالي په صورت کې په نبيذِ تمر سره په اودس کولو کې هيڅ حرج (ضرر) نه ليدی)، همدارنګه نور حديثونه هم سته.

وأما الاغتسال الخ پاته سوه دا خبره چې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز په نبيذ تمر سره غسل کول جائز دی او که ناجائز، نو په دې باره کې د أحنافو علماوو اختلاف دی: بعضې وايي چې په اودس باندې د قياس کولو په وجه د امام صاحب په نيز په نبيذِ تمر سره غسل هم جائز دی، او دويم قول دا دی چې په نبيذ تمر سره غسل جائز نه دی، ځکه چې د جنابت حدث د اودسه له حدث څخه غټ او زيات دی، نو ځکه به اودس پر غسل نه قياسيږي.

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، په فتاوىٰ هنديه کې راغلي دي: والفتوىٰ على قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله كذا في العيني شرح الكنز (هنديه ج:۱، ص:۲۲). [القول الراجح، ج:۱، ص:۲٥]

د نبيذ تعريف (او اختلاف په مينځ کي د امام صاحب او صاحبينو رحمهم الله)

وَالنَّبِيْذُ الْمُخْتَلَفُ فِيْهِ او په کوم نبيذ کي چي د فقهاوو اختلاف دی أَنْ يَّكُوْنَ حُلْوًا رَقِيْقًا (هغه دا دی) چي خوږ او نرم(نری) وي يَسِيْلُ عَلَى الْأَعْضَاءِ كَالْمَاءِ (او) چي د اوبو په ډول پر اندامونو بهيږي وَمَا اشْتَدَّ مِنْهَا صَارَ حَرَامًا او کوم نبيذ چي سخت وي نو هغه حرام دی لَا يَجُوْزُ التَّوَضُّؤُ بِهٖ په هغه سره اودس کول جائز نه دي وَإِنْ غَيَّرَتْهُ النَّارُ او که اُور نبيذ (لږ) بدل کړی وو(يعني که په اُور کي د پخېدلو په وجه په نبيذ کي څه تبديلي راغلې وه) فَمَا دَامَ حُلْوًا رَقِيْقًا فَهُوَ عَلَى الْخِلَافِ نو تر څو چي هغه خوږ او نری وي تر هغه وخته اختلاف پکښي سته وَإِنِ اشْتَدَّ فَعِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ يَجُوْزُ التَّوَضُّؤُ بِهٖ او که سخت (او ګاڼه) سو نو د امام صاحب په نېز اودس په جائز دی لِأَنَّهٗ يَحِلُّ شُرْبُهٗ عِنْدَهٗ ځکه چي د هغه په نېز د دې چيښل حلال دي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَتَوَضَّأُ بِهٖ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې باندي اودس جائز نه دی لِحُرْمَةِ شُرْبِهٖ عِنْدَهٗ ځکه چي د هغه په نېز يې چيښل حرام دي وَلَا يَجُوْزُ التَّوَضُّؤُ بِمَا سِوَاهُ مِنَ الْأَنْبِذَةِ او له نبيذ تمر څخه ماسوا په نورو نبيذونو اودس جائز نه دی جَرْيًا عَلَى قَضِيَّةِ الْقِيَاسِ د قياس په مقتضا باندي د عمل کولو په وجه.

اللغات: ﴿حُلْوٌ﴾ خوږ، شيرين، ﴿رَقِيْقٌ﴾ نری، نرم، ﴿اِشْتَدَّ﴾ د اِفتعال د باب ماضي صيغه ده: سختېدل، مضبوطه کېدل، چي له نبيذ سره راسي نو معنیٰ يې راځي: د نبيذونو سختېدل(ګاڼه کېدل) او نشه کونکي جوړېدل، او که د شيدو سره راسي نو معنیٰ يې راځي: د شيدو سختېدل(ګاڼه کېدل) چي مستې يا نور څني جوړ سي، ﴿أَنْبِذَةٌ﴾ جمع ده، واحد يې نَبِيْذٌ دی: (په تېر سبق کي يې معنیٰ بيان سوه).

تشريح: په دې عبارت کي د نبيذ حقيقت بيان سوی دی چي د امام صاحب او صاحبينو پکښي اختلاف دی، په نوادر کي امام محمد رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي په کوم نبيذ سره چي د اودسه په جائزوالي او ناجائزالي کي د درو(۳) اماماتو اختلاف دی هغه نبيذ دا دی چي په اوبو کي خرماوي واچول سي تر دې چي اوبه خوږي سي او داسي نری پاته سي چي پر اندامونو باندي د اوبو په څېر وبيول سي، نه ګاڼه(خټي) وي او نه نشه کونکي، څو که هغه ګاڼه(خټي) او ترخې سوې نو بالاجماع اودس په جائز نه دی، ځکه چي هغه نشه کونکي او حرام دي، او که نبيذ پر اُور پاخه سوي وي نو تر څو چي هغه خواږه او نرم وي، او پر اندامونو د اوبو په ډول بهيږي نو په هغه کي هم د امام صاحب او صاحبينو اختلاف دی، هغه دا چي که په پخولو سره ګاڼه سوي وه نو د امام صاحب په نېز اودس په جائز دی، ځکه چي د ده په نېز د دې چيښل حلال دي، او څرنګه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د دې چيښل حرام دي، نو ځکه د هغه په نېز په دې سره اودس کول هم جائز نه دي.

ولا يجوز التوضؤ الخ صاحب د هدايې وايي چي له نبيذ تمر څخه ماسوا په نورو نبيذونو اودس کول جائز نه دي، د مثال په توګه د کشمشو او انګورو په نبيذ، دليل يې دا دی چي د ليلة الجن په حديث سره د قياس خلاف په نبيذ تمر سره لودس جائز وګرځول سو، لېکن نور نبيذونه به پر دې قياس پاته وي، يعني په دوی سره به اودس جائز نه وي.

بَابُ التَّيَمُّمِ

(دا) باب د تیمم (په بیان کې) دی

تشريح: تر دې مخکې صاحب د هدایې د اصل احکام یعني په اوبو سره د اودس او غسل کولو احکام او فروع په پوره تفصیل سره بیان کړل، اوس دلته د فرعي او بدل احکام یعني په تیمم سره د پاکي حاصلولو احکام او مسائل بیانوي. او د تیمم د وروسته کولو غټه وجه دا ده، چې په قرآن کریم کې (هم) الله تعالیٰ مخکې د اودس او وروسته د تیمم احکام بیان کړي دي، لکه څرنګه چې ارشاد دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ تر دې وروسته فرمايي: فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا [سورة المائدة: ۶]، او دویمه وجه یې دا ده چې اودس اصل دی او تیمم د اودس فرع او بدل دی، او ښکاره ده چې اصل تر بدل مخکې وي، نو په دې وجه یې هم مخکې د اصل یعني د اودس احکام بیان کړل. او اوس دلته د بدل یعني د تیمم احکام بیانوي.

د تیمم لغوي او اصطلاحي تعریف: د تیمم لغوي معنیٰ ده: قصد کول، اراده کول. او اصطلاحي تعریف یې دی:

القصد إلى الصعيد الطاهر للتطهر (د طهارت حاصلولو لپاره د پاکو خاورو اراده کول)؛

تیمم په قرآن، حدیث او اجماع ټولو سره ثابت دی. په قرآن کې خو په ښکاره لفظونو سره د تیمم مشروعیت په ډاګه سوی دی، او تر څو چې په حدیث کې د دې د مشروعیت ثبوت دی، نو صاحب د فتح القدير او صاحب د عنايه وايي: چې د غزوهٔ مريسيع پر موقع (کوم چې په سنه: ۵ هـ کې پیښه سوې ده) د تیمم حکم نازل سو. چې پر هغه موقع د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هار هم ورک سوی وو، دویم حدیث دا دی: جعلت لي الأرض مسجدا و طهورا. أينما أدركتني الصلاة تيممت و صليت، (مځکه زما لپاره مسجد او پاکونکې جوړ سوې ده کله چې هم د لمانځه وخت راسي نو زه تیمم وهم او لمونځ کوم (عنايه ج:۱، ص:۱۲۵))، او له اجماع څخه یې ثبوت په دا ډول دی چې له کومه وخته تیمم مشروع سوی دی له هغه وخته تر اوسه پورې د اُمت محمدي عمل پر دې را روان دی.

د تیمم د جائز والي شرطونه

وَمَنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ او کوم سړی چې اوبه پیدا نه کړي وَهُوَ مُسَافِرٌ په داسې حال کې چې هغه مسافر وي أَوْ خَارِجَ الْمِصْرِ يا له ښار څخه دباندې وي، بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمِصْرِ نَحْوُ مِيلٍ أَوْ أَكْثَرَ (او) د هغه او د ښار تر مینځ یو میل یا تر دې زیاته مسافه (فاصله) وي يَتَيَمَّمُ بِالصَّعِيدِ نو (د هغه لپاره جائز دي چې) پر پاکه خاوره تیمم وکړي لِقَوْلِهِ تَعَالَى ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا که تاسو اوبه پیدا نه کړې نو په خاوره تیمم وکړئ وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د نبي ﷺ دا فرمان هم (دلیل) دی التُّرَابُ طَهُورُ الْمُسْلِمِ خاوره د مسلمان لپاره پاکونکې ده وَلَوْ إِلَى عَشْرِ حِجَجٍ مَا لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ که څه هم تر لسو کالو پورې اوبه پیدا نه کړي وَالْمِيلُ هُوَ الْمُخْتَارُ فِي الْمِقْدَارِ او د مقدار په

سلسله کې میل غوره دی لِأَنَّهُ يَلْحَقُهُ الْحَرَجُ بِدُخُوْلِ الْمِصْرِ ځکه چې ښارته په تللو سره انسان ته تکلیف پېښېږي وَالْمَاءُ مَعْدُوْمٌ حَقِيْقَةً او اوبه په حقیقت کې نسته وَالْمُعْتَبَرُ الْمَسَافَةُ دُوْنَ خَوْفِ الْفَوْتِ او معتبر (دیوه میل) مسافه ده، نه د(لمانځه) دفوت کېدلو بېره لِأَنَّ التَّفْرِيْطَ يَأْتِيْ مِنْ قِبَلِهِ ځکه کوتاهي (بې پروایي) خو دهغه له طرفه راغلې ده.

اللغات: ﴿مِيْلٌ﴾ میل پر دوه قسمه دی: ① شرعي ② انګریزي. شرعي میل دوه زره(۲۰۰۰) ګزه کېږي. او په اوسني حساب سره ۱,۶ کیلو متره کېږي (یعني یوه اعشاریه شپږ کیلو متره کېږي) او (د میټر په حساب سره) ۱۸۲۸ ۶۹.میټره کېږي، او د شرعي ذراع په اعتبار سره څلور زره ۴۰۰۰ ذراعه کېږي، او انګریزي میل ۱۷۶۹ ګزه کېږي. نو انګریزي میل تر شرعي میل کوچنی دی، او دلته شرعي میل مراد دی، نو که اوبه دوه زره ګزه یعني ۱۸۲۸ میټره لیرې وې، نو بیا تیمّم کولای سي. ﴿صَعِيْد﴾ خاوره، د ځمکې مخ، لوړه ځمکه. ﴿حِجَج﴾ جمع د حجة ده یعني: کال. ﴿تَفْرِيْط﴾ د تفعیل دباب مصدر دی: کمول. ضایع کول. بې پروایي کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که دیو سړي سره دومره اوبه نه وې چې د اودس یا غسل لپاره کافي سي. یا اوبه خو وې لېکن په کوم ځای کې چې وې هغه له ده څخه یو میل لیرې وو. نو د داسې سړي لپاره شریعت دا آساني جوړه کړې ده چې د اوبو پر ځای دې خاورو ته متوجه سي او په خاورو دې تیمّم وکړي او لمونځ دې وکړي. د دې حکم اول دلیل خو د قرآن مجید دا آیت دی: فَلَمْ تَجِدُوْا مَاءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا (سورة المائدة:۶). او دویم دلیل هغه حدیث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو، چې په هغه کې د اوبو د نشتوالي په صورت کې تر لسو کالو پوري د تیمّم اجازه ورکول سوې ده.

والميل الخ فرمایي چې د اوبو د لیرې والي په باره کې چې کوم د یوه میل مسافه تاکل سوې ده. همدغه صحیح ده. ځکه چې د یوه میل مسافه کافي مسافه ده. او دومره اندازه مسافه د انسان لپاره پربکول ستونزمن او د تکلیف سبب دی. او د تیمّم د مشروعیت مقصد هم له انسان څخه ستونزه او تکلیف لیرې کول دي، نو له دې څخه معلومه سوه چې که اوبه له یوه میل څخه پر کمه مسافه وي نو په دې صورت کې د تیمّم اجازه نسته. لېکن کله چې اوبه د یوه میل په اندازه لیرې وي نو داسې به ویل کېږي. چې اوس په حقیقت کې اوبه نسته، او په حقیقیت کې چې اوبه نه وي نو په هغه صورت کې د تیمّم اجازه وي، نو ځکه به د یوه میل لیرې والي په صورت کې هم د تیمّم اجازه وي.

والمعتبر المسافة الخ له دې ځای څخه دا بیانوي چې د تیمّم د جائز والي لپاره به د یوه میل یا له دې څخه د زیاتي مسافې اعتبار کېږي. او همدغه صحیح ده. لېکن څه چې امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چې د لمانځه د قضاء کېدلو اعتبار به کېږي (یعني که اوبه له یوه میل څخه پر کمه مسافه وي خو د انسان دا بېره وه چې که ځان ورسوم نو لمونځ به را څخه قضاء سي نو په دې وخت کې د امام زفر په نېز تیمّم جائز دی) دا صحیح نه دي. بلکې صحیح دا ده که اوبه یو میل لیرې وي نو بیا به د تیمّم اجازه وي که څه هم د لمانځه د قضاء کېدلو بېره وه. ځکه چې د دومره اندازه وخت تنګولو بې پروایي خو د ده له طرفه راغلې ده. او دا حالت ده خپل له ځانه جوړ کړی دی. (یعني له ځانه یې دا پلان جوړ کړی دی چې که اوبو ته ځان رسوم نو لمونځ به را څخه قضاء سي. یا مطلب دا چې تفریط او کمښت یعني د وخت تأخیر په خپله د ده له طرفه راغلی دی، یعني په خپله ده وخت تنګ کړی، که ده کوښښ کړی وای نو رسېدلی به وای) نو ځکه به دی په دې باره کې معذور نه ګڼل کېږي او نه به د ده لپاره د تیمّم اجازه وي.

د مريض لپاره د تيمّم حکم

وَلَوْكَانَ يَجِدُ الْمَاءَ إِلَّا أَنَّهُ مَرِيْضٌ او که هغه سړي اوبه پيدا کړي خو مريض (ناروغه) وو يَخَافُ إِنِ اسْتَعْمَلَ الْمَاءَ اِشْتَدَّ مَرَضُهُ او ېرېدی چي که اوبه استعمال کړي نو مرض به يې نور سخت (زيات) سي يَتَيَمَّمُ نو هغه دي تيمّم وکړي لِمَا تَلَوْنَا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی وَلِأَنَّ الضَّرَرَ فِيْ زِيَادَةِ الْمَرَضِ فَوْقَ الضَّرَرِ فِيْ زِيَادَةِ ثَمَنِ الْمَاءِ او په دې وجه (هم) چي د مرض زياتېدلو تاوان د اوبو د نرخ د زياتېدلو له تاوان څخه ډېر دی وَذٰلِكَ يُبِيْحُ التَّيَمُّمَ او دا (د نرخ زياتېدلو تاوان) تيمّم روا کوي فَهٰذَا أَوْلٰى نو دا خو به يې په طريقهٔ اولىٰ سره روا کوي وَلَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَشْتَدَّ مَرَضُهُ بِالتَّحَرُّكِ او په دې کي هيڅ فرق نسته چي که د دې سړي مرض په حرکت کولو سره زيات سي أَوْ بِالْاِسْتِعْمَالِ او که د اوبو په استعمال سره (زيات سي) وَاعْتَبَرَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ خَوْفَ التَّلَفِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د هلاکت د ېرې اعتبار کړی دی وَهُوَ مَرْدُوْدٌ بِظَاهِرِ النَّصِّ لېکن هغه د نص د ظاهر په وجه رد کړی سوی دی.

اللغات: ﴿ضرر﴾ تاوان، تکليف، سختي، ﴿ثمن﴾ قيمت، نرخ، رېټ، بيه، ﴿تلف﴾ هلاک کېدل، ضايع کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که د يو سړي سره اوبه وي خو مريض وو او د اوبو په استعمال سره يې د مرض زياتېدلو خطره وه، يا يې په جوړوالي کي د تأخير او ځنډ امکان وو، نو په داسي صورت کي دې سړي لره تيمّم کول جائز دي، دليل يې د الله تعالىٰ دا قول دی: وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا (سورة النساء:٤٣)، دويم دليل يې دا دی چي که يو څوک مريض نه وو، خو اوبه په نرخ تر لاسه کېدلې (يعني خرڅېدلې)، نو که خرڅوونکي اوبه له ثمن مثل (عام نرخ) څخه ګراني خرڅولې، نو په داسي صورت کي د نرخ د زياتوب له تکليف او تاوان څخه د ځان ژغورلو لپاره تيمّم روا دی، ښکاره دي وي چي د مرض تکليف او تاوان د نرخ له تاوان څخه زيات دی، نو کله چي د کم ضرر او تاوان ليري کولو لپاره تيمّم جائز دی نو د غټ او لوی ضرر ليري کولو لپاره خو به په طريقهٔ اولىٰ تيمم جائز وي.

ولا فرق الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په پورتنۍ مسئله که د مرض زياتېدل د بدن د حرکت په وجه وو، يا د اوبو د استعمال په وجه وو، دواړه برابر دي، يعني په دواړو صورتونو کي تيمّم روا دی.

واعتبر الشافعي الخ حضرت امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي تيمّم په هغه وخت کي روا دی چي کله د اوبو په استعمالولو سره د ځان يا د يو اندام د ضايع کېدلو غالبه ګمان وي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب د دې آيت وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَىٰ په ظاهر سره مردود دی، ځکه چي په آيت کي مطلق مرض د تيمّم د جائز والي سبب ګرځول سوی دی، نو د ځان يا د يو اندام د ضايع کېدلو قيد لګول پر کتابُ الله زياتوب دی او دا جائز نه دی، لېکن که دا وويل سي چي أحنافو هم د مرض د سختوالي اعتبار کړی دی، حال دا چي په آيت کي دا قيد نسته، نو د دې جواب دا دی چي د آيت سياق پر دې دلالت کوي چي دلته د مرض د سختوالی قيد سته، ځکه چي الله تعالىٰ فرمايلي دي: مَا يُرِيدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ (سورة المائدة:٦)، (الله تعالىٰ پر تاسو د سختي کولو اراده نه لري)، او ښکاره ده چي تکليف او سختي په هغه وخت کي سته چي کله د مرض زياتېدلو ېره وي.

د جنب لپاره د تيمم حکم

وَلَوْخَافَ الْجُنُبُ او که جنب سړی ويرېږي إِنِ اغْتَسَلَ چې که غسل وکړي أَنْ يَقْتُلَهُ الْبَرْدُ نو يخ به يې مړ کړي أَوْ يُمْرِضُهُ يا به يې (يخ) مريض کړي يَتَيَمَّمُ بِالصَّعِيدِ نو (په دې وخت کې دې) په پاکه خاوره تيمم وکړي وَهَذَا إِذَا كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ لِمَا بَيَّنَّا او دا (حکم) هغه وخت دی چې کله دی له ښار څخه دباندې وي لکه (مخکې) چې موږ د دې بيان وکړی وَلَوْ كَانَ فِي الْمِصْرِ فَكَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله او که په ښار کې وو نو هم د امام صاحب په نيز دغه حکم دی خِلَافًا لَهُمَا د صاحبينو اختلاف دی هُمَا● يَقُولَانِ صاحبين فرمايي إِنَّ تَحَقُّقَ هٰذِهِ الْحَالَةِ نَادِرٌ فِي الْمِصْرِ چې په ښار کې دا ډول حالت پېښېدل نادر (کمیابه) دي فَلَا يُعْتَبَرُ نو د دې اعتبار به نه کېږي وَلَهُ او د امام صاحب دليل دا دی أَنَّ الْعَجْزَ ثَابِتٌ حَقِيقَةً چې (دلته هم) عاجزي په حقيقت کې ثابته ده فَلَا بُدَّ مِنِ اعْتِبَارِهِ نو ځکه به هغې اعتبار کول ضروري وي.

اللغات: ﴿يُمْرِضُ﴾ د إفعال د باب مضارع معلومه صيغه ده، أَمْرَضَ يُمْرِضُ: په ناروغي کې مبتلا کول، ناروغه کول، ﴿بَيَّنَّا﴾ د تفعيل د باب ماضي صيغه ده، بَيَّنَ يُبَيِّنُ: بيانول، ښکاره کول. ﴿عجز﴾ د سَمِعَ د باب مصدر دی: عاجزه کېدل، بې وسه کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې که د جنب انسان دا ډېره وه چې د غسل په وجه به مړ سم يا مريض به سم نو د ده لپاره تيمم کول جائز دي، صاحب د هدايې وايي چې دا حالت که له ښار څخه دباندې راغلی نو د ټولو په اتفاق سره تيمم جائز دی، دليل يې مخکې ذکر سوی دی چې ښار ته تلل ستونزمن او د تکليف سبب دی، او که جنب انسان په ښار کې وو او دا ډېره يې پيدا سوه چې مړ به سم يا مرض به مې زيات سي؛ نو په دې صورت کې د امام صاحب هم دغه حکم دی چې د ده لپاره تيمم جائز دی، او صاحبين وايي چې که په ښار کې يې دا ډېره پيدا سوه نو تيمم جائز نه دی.

د صاحبينو دليل: دا دی چې په ښار کې داسي حالت راتلل کميابه او نادر دي، نو په دې وجه به يې اعتبار نه کېږي. يعني په ښار کې د ګرمو اوبو او له يخ څخه د حفاظت امکان سته، نو ځکه به هلاکېدل يا د مرض پېښېدل غير معتبر وي، او که په ښار کې د تيمم اجازه ورکړل سي نو عوام به په ډېر لږ يخ سره د دې باته (پلمه) کوي (يعني د لږ غونډي يخ په خاطر به د تيمم لپاره باتې جوړوي).

د امام صاحب دليل: دا دی چې ورورە! مسئله د ښار او صحرا نه ده، مسئله خو پر اوبو د قدرت نه درلودلو ده. او دغه سړی هم د هلاکت د بيري په وجه پر اوبو قدرت نه لري (چې استعمال يې کړي) نو ځکه به د ده په حق کې تيمم جائز وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د صاحبينو دی ځکه چې اختلاف په هغه صورت کې دی چې کله په ښار کې دننه ګرمي اوبه پيدا نه کړي، يا د حمام پيسې (أجرت) ور سره نه وي، او يا داسي شی نه وي چې اوبه په ګرمي کړي، په فتاوی هنديه کې هم داسي ذکر سوي دي. [القول الراجح ج: ١، ص: ٢٦]

● القول الراجح: قولهما لأن الخلاف إذا لم يجد الماء المسخن أو أجرة الحمام أو لا ما يدفعه كما في الهندية ج: ١، ص: ٢٨. [القول الراجح ج: ١، ص: ٢٦]

د تيمم صحيح طريقه

وَالتَّيَمُّمُ ضَرْبَتَانِ او تيمّم دوه ضربه دی يَمْسَحُ بِإِحْدَاهُمَا وَجْهَهُ چي په دې دوو ضربونو کي به په يوه ضرب خپل مخ مسح کوي وَبِالأُخْرَىٰ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ او په دويم ضرب به خپل دواړه لاسونه تر څنګلو پوري مسح کوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي اَلتَّيَمُّمُ ضَرْبَتَانِ (چي) د تيمّم دوه ضربه دي ضَرْبَةٌ لِلْوَجْهِ وَضَرْبَةٌ لِلْيَدَيْنِ يو ضرب د مخ لپاره (دی) او بل ضرب د دواړو لاسو لپاره (دی) وَيَنْفُضُ يَدَيْهِ بِقَدْرِ مَا يَتَنَاثَرُ التُّرَابُ او خپل دواړه لاسونه به دومره څنډي چي خاوري ځني ليري سي (يعني چي خاوري په پوره توګه ختمي سي) كَيْ لَا يَصِيرَ مُثْلَةً د دې لپاره چي مُثله (بدشکلي) نه وګرځيږي وَلَا بُدَّ مِنَ الِاسْتِيعَابِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او د ظاهر روايت مطابق د ټوله محل مسح کول ضروري دي لِقِيَامِهِ مَقَامَ الْوُضُوْءِ ځکه چي تيمّم د اودس قائم مقام (نائب) دی وَلِهَٰذَا قَالُوْا : يُخَلِّلُ الْأَصَابِعَ هم په دې وجه فقهاؤ فرمايلي دي: چي په ګوتو کي به خلال (هم) کوي وَيَنْزِعُ الْخَاتَمَ او ګوتمې به (هم) کاږي لِيَتِمَّ الْمَسْحُ چي مسح (په ښه توګه) پوره سي.

اللغات: ﴿مِرْفَقٌ﴾ څنګل، ﴿يَنْفُضُ﴾ د نَصَرَ د باب مضارع صيغه ده: څنډل. ﴿يَتَنَاثَرُ﴾ د تفاعل د باب مضارع صيغه ده: لوېدل، ليري کېدل، رژېدل. ﴿يُخَلِّلُ﴾ د تفعيل د باب مضارع صيغه ده: خلالول. ﴿يَنْزِعُ﴾ د ضرب د باب مضارع صيغه ده، د دې ډېري معناوي راځي، خو دلته يې معنىٰ ده: کښل، کاږل.

تشريح: د نبي کريم ﷺ د فرمان التيمم ضربتان مطابق د تيمّم طريقه دا ده چي تيمّم کونکي دي د پاکي حاصلولو په نيت خپل دواړه لاسونه دوه واره پر مځکه ووهي. په اول وار دي خپل مخ مسح کړي او په دويم وار دي خپل دواړه لاسونه مسح کړي تر څنګلو پوري، او څنګلي دي هم پکښې راولي، کله چي لاسونه پر مځکه ووهي. نو تر هغه وروسته دي په ښه ډول لاسونه وڅنډي، چي خاوري او ګرز ځني ليري سي. دا د دې لپاره چي مُثله (بد شکلي) را نه سي. يعني مخ يې ګرځمن او بدشکله نه سي، ځکه څرنګه چي په مُثله سره بد رنګي راځي، همدارنګه پر مخ باندي د خاورو د تېرولو په وجه هم بد رنګي راځي.

په تيمّم کي د استيعاب حکم

صاحب د هدايې د ولا بد...الخ څخه فرمايي چي د ظاهر روايت مطابق په تيمم کي استيعاب شرط دی. استيعاب معنىٰ دا چي په مسح کي به ټوله محل راولي، نو که له مسحي څخه يو ځای هم پاته سو نو تيمّم يې نه کيږي لکه په اوداسه کي چي هم دا شرط دي، ځکه چي مسح د اودس بدل او قائم مقام ده. او په اودس کي استيعاب شرط دی، نو کله چي په أصل يعني په اودس کي استيعاب شرط دی نو په فرع يعني په مسح کي خو به په طريقۀ اولىٰ سره شرط وي. همدا وجه ده چي فقهاؤ د مسحي په باره کي دا ټينګار کړی دی چي تيمّم کونکي به خپلي ګوتي هم خلالوي. او که يې ګوتمې په ګوته وه هغه به هم کاږي، چي په پوره توګه او علىٰ وجه الكمال مسح وسي.

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الطهارة، باب التيمم، حديث رقم: ٦٧٥ - ٦٧٤.

صاحب د هدايې د فی ظاهر الرواية په ويلو سره له هغه روايت څخه احتراز کړی دی کوم چې حضرت حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه را نقل کړی دی. په هغه کې ويل سوي دي چې په تيمّم کې استيعاب شرط نه دی، بلکې که پر زياته حصه يې مسح وکړه نو کافي ده. لکه څرنګه چې د موزې او سر په مسح کې أکثر د کُل قائم مقام دی. او په دې دواړو کې استيعاب شرط نه دی. خو ظاهر الروايه هغه دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو. او عمل هم پر هغه دی. (عنايه ج:۱، ص:۱۳۰)

په تيمم کې حدث، جنابت، حيض او نفاس ټوله برابر دي

وَالْحَدَثُ وَالْجَنَابَةُ فِيْهِ سَوَاءٌ او په تيمّم کې حدث او جنابت دواړه برابر دي وَكَذَا الْحَيْضُ وَالنِّفَاسُ او همدا حکم د حيض او نفاس دی لِمَا رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّ قَوْمًا جَاءُوْا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ (ص) چې يو قوم نبي ﷺ ته راغلی وَقَالُوْا: إِنَّا قَوْمٌ نَسْكُنُ هٰذِهِ الرِّمَالَ او وې ويل: موږ داسي قوم يو چې په دې رېګو (رېګستان) کې اوسېږو وَلَا نَجِدُ الْمَاءَ شَهْرًا أَوْ شَهْرَيْنِ او تر يوې او دوو مياشتو پوري اوبه په لاس نه راځي وَفِيْنَا الْجُنُبُ وَالْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ حال دا چې په موږ کې جنب، حيض او نفاس والا ښځي هم وي فَقَالَ ؑ: عَلَيْكُمْ بِأَرْضِكُمْ نو نبي ؑ وفرمايل: پر تاسو خپله مځکه نيول ضروري دي (يعني د مځکي په خاوري سره تيمم کوئ).

اللغات: ﴿رِمَال﴾ جمع ده. واحد يې رَمْلٌ راځي: رېګ. مجازاً رېګستان او دښت ته ويل کيږي.

تشريح: صاحب د عنايې او علامه محمود عيني رَحِمَهُ الله دلته دا تشريح کړې ده چې د جواز، کيفيت. او آلې يعني په هر اعتبار سره په تيمّم کې د حدث او جنابت دواړو حکم برابر دی. يعني کوم تيمّم چې د حدث اصغر لپاره په کومه طريقه سره کيږي هغه تيمّم به د حدث اکبر (جنابت، حيض او نفاس) لپاره هم په هغه طريقه سره کافي وي. او په دې کې د هيڅ ډول زياتوب هيڅ ضرورت نسته.

اصلاً دا عبارت د هغه قول ترديد دی چې په هغه کې د جنب او حائضې لپاره تيمّم مشروع نه دي منل سوی. (يعني جنب او حائضه ښځه به تيمم نه وهي)، دغه قول له حضرت عمر او حضرت ابن عمر او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه را نقل سوی دی. صاحب د بنايې او عنايې دا وضاحت کړی دی چې د دې اختلاف سبب د قرآن کريم هغه آيت دی چې په هغه کې د اوداسه او تيمّم حکم ذکر سوی دی يعني له إذا قمتم څخه تر أو لامستم النساء فلم تجدوا ماء فتيمموا صعيدا طيبا پوري. د اختلاف تفصيل دا دی چې خبره په أو لامستم کې ده. يعني أو لامستم پر مس باليد باندي محمول دی او که پر جماع؟ (د مس باليد معنیٰ ده: په لاس سره مسح کول، لاس ور وړل. يعني آيا له دې أو لامستم څخه ښځي ته لاس ور وړل مراد دي او که د ښځي سره جماع [کوروالی] مراد دی؟) حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او نور حضرات دا پر مس باليد باندي محمول کوي. (يعنی دوی وايي چې له دې څخه ښځي ته لاس ور وړل مراد دي) او علت دا بيانوي چې الله تعالیٰ خلاف القياس د محدث (بې اودسه) لپاره تيمّم د اوداسه قائم مقام جوړ کړی دی. نو دا به خپل د قياس پر مقتضا باندي

حمل کيږي، او جنب او نور به تر دې حکم نه لاندې کيږي، ځکه چې د جنب او نورو حدث د محدث(بې اودسه) له حدث څخه زيات دی.

د دې په خلاف حضرت علي، حضرت عائشې، حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او جمهور علماء و فقهاء د لامستم څخه مجازاً د جماع مراد اخلي، او د آيت د سياق په قرينه سره د جنب لپاره هم تيمّم مشروع ګرځوي، ځکه چې الله تعالیٰ د اوداسه په آيت کې د محدث او جنب دواړو لپاره حکم بيان کړی دی، لکه څرنګه چې د إذا قمتم څخه تر و أرجلكم إلى الكعبين پورې د حدث اصغر بيان دی، تر دې وروسته په إن كنتم جنبا فاطهروا کې حدث اكبر بيان سوی دی، او د اوبو د نشتوالي په صورت کې د طهارت حکم د خاورو طرف ته منتقل سوی دی، تر دې وروسته بيا له أو جاء أحد منكم من الغائط څخه حدث اصغر بيانيږي، نو په دې وجه لامستم پر جماع باندې حمل کول په دې باره کې زيات مناسب ښکاري چې څرنګه د اودس په آيت کې حدث اكبر او حدث اصغر دواړه داخل دي، همدارنګه دې د تيمّم په آيت کې هم دواړه داخل او شامل سي. (عنايه ج:۱ ص:۱۳۱، بنايه ج:۱، ص:۵۰۳)

او بيا د جنب او حائضې لپاره د تيمّم د مشروعيت دليل هغه حديث هم دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو، چې نبي ﷺ د صحراء او ريګستان د اوسېدونکو لپاره د حيض، نفاس او جنابت په حالت کې د اوبو د نشتوالي په صورت کې د تيمّم اجازه ورکړې ده، نو تر غور وروسته دا خبره څرګنديږي چې د أو لامستم څخه جماع مراد ده، او د تيمّم په آيت کې حدث اكبر هم داخل دی، ځکه چې نبوي حديثونه د قرآن مجيد لپاره غوره او ښه تفسير دی، او دا حديثونه له هغه مبارکې ژبې څخه صادر سوي دي چې د هغه په اړه قرآن مجيد دا اعلان کړی دی: وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى (۳) إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى. (سورة النجم ۳ ۴)

پر کومو شيانو تيمّم جائز دی (د فقهاؤ قولونه)

وَيَجُوزُ التَّيَمُّمُ عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز تيمّم جائز دی بِكُلِّ مَا كَانَ مِنْ جِنْسِ الْأَرْضِ په هر هغه شي سره چې د ځمکې له جنس څخه وي كَالتُّرَابِ وَالرَّمْلِ لکه خاوره او ريګ وَالْحَجَرِ وَالْجِصِّ ډبره او ګچ وَالنُّورَةِ وَالْكُحْلِ وَالزِّرْنِيخِ چونه(چينه)، رانجه او هړتال(يو ډول زهرجن معدني مرکب دی) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجُوزُ إِلَّا بِالتُّرَابِ وَالرَّمْلِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې صرف په خاوره او په ريګ باندې تيمّم جائز دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ الله: لَا يَجُوزُ إِلَّا بِالتُّرَابِ الْمُنْبِتِ او امام شافعي فرمايي: چې صرف په راشنه کونکې خاوره باندې تيمّم جائز دی(يعني صرف پر هغه خاوره تيمم جائز دی چې شيان پکښې راشنه کېدلای سي) وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ الله او دا يو روايت له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه هم دی لِقَوْلِهِ تَعَالَى ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا نو تاسو په پاکه خاوره باندې تيمّم وکړئ أَيْ تُرَابًا مُنْبِتًا يعني په راشنه کونکې خاوره باندې قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدارنګه حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايلي دي(يعني ابن عباس رض د "صعيد" همدغه تفسير کړی دی) غَيْرَ

● القول الراجح: قولهما كماقال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله في فتح القدير ج:۱، ص:۱۱۲. [القول الراجح ج:۱، ص:۲۷]

أَنَّ أَبَا يُوسُفَ زَادَ عَلَيْهِ الرَّمْلَ لېكن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر دې باندې رېګ (هم) زيات کړی دی بِالْحَدِيْثِ الَّذِيْ رَوَيْنَاهُ د هغه حديث په وجه کوم چې (مخکې) موږ بيان کړی وَلَهُمَا: أَنَّ الصَّعِيْدَ إِسْمٌ لِوَجْهِ الْأَرْضِ او د طرفينو دليل دا دی چې صعيد د مځکې د مخ (يعني د رووبي زمين) نوم دی سُمِّيَ بِهِ او د مځکې مخ ته ځکه صعيد ووېل سوه لِصُعُوْدِهٖ چې د مځکې مخ پورته (او لوړ) دی وَالطَّيِّبُ يَحْتَمِلُ الطَّاهِرَ او (په آيت کې) د طيب لفظ د طاهر (پاک) احتمال هم لري (يعني پاکې خاورې) فَحُمِلَ عَلَيْهِ نو ځکه د طيب لفظ پر طاهر حمل کړی سو لِأَنَّهُ أَلْيَقُ بِمَوْضِعِ الطَّهَارَةِ ځکه چې دا د طهارت د ځای سره زيات مناسب دی أَوْ هُوَ مُرَادٌ بِالْإِجْمَاعِ يا دا چې له طيب ځخه د طاهر معنیٰ اخيستل په اجماع سره مراد دي.

اللغات: ﴿جص﴾ کچ (يوه ډول سپينه معدني خاوره ده چې خونو او دېوالونو ته د سپينوالي او مضبوطوالي لپاره ور کول کيږي). ﴿نورة﴾ چونه (چينه، دا هم يوه مشهوره سپينه خاوره ده چې د خونو او دېوالونو د ښکلا او سپينوالي لپاره کارول کيږي). ﴿زرنيخ﴾ يو ډول زهرجن معدني مرکب دی چې د وربښتيانو د کښلو لپاره کارول کيږي، هړتال. ﴿المنبت﴾ د إفعال د باب اسم فاعل صيغه ده، أَنْبَتَ يُنْبِتُ: راشنه کول. ﴿أليق﴾ د لائق اسم تفضيل دی: يعني ډېر لايق او وړ.

تشريح: په دې عبارت کې هغه شيان بيانيږي چې پر هغو تيمم جائز وي.

صورت د مسئلې: دا دی چې د طرفينو په نېز پر هر هغه شي کوم چې د مځکې له جنس ځخه وي تيمّم جائز دی، خو دا به ځرنګه پېژندل کيږي چې دا شی د مځکې له جنس ځخه دی؟ نو د دې د پېژندلو طريقه دا ده چې کوم شی تر سوځولو وروسته ايره جوړه سي لکه درخته نو هغه د مځکې له جنس ځخه دی او کوم شی چې ويلې او نرم سي، لکه اوسپنه نو هغه د مځکې له جنس ځخه نه دی، له دې ځخه علاوه نور شيان د مځکې له جنس ځخه دي لکه: خاورې، رېګ، شګې، ډبرې، ګچ، چونه، رانجه، هړتال، غرنۍ مالګه، ياقوت، زمرد او داسې نور؛ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله يو قول دا دی: چې صرف پر خاوره او رېګو تيمّم کول جائز دي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې فقط پر داسې خاوره تيمّم جائز دی چې په هغې کې د إنبات يعني د راشنه کولو صلاحيت وي، له دې ځخه ماسوا پر هيڅ شي باندې تيمّم جائز نه دی، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دويم مرجوع إليه قول همدغه دی.

د امام شافعي دليل: دا الله دا قول صَعِيْدًا طَيِّبًا دی، په دې ډول چې د صعيد معنی ده: خاوره، او د طيب معنیٰ ده: مُنبِت (راشنه کونکی)، دا تفسير د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دی، نو دا تفسير د دې خبرې تقاضا کوي چې تيمّم دې فقط په خاوره جائز وي، لېکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر دې د رېګ هم اضافه کړې دی. د هغه حديث په وجه کوم چې مخکې تېر سو يعني: عليكم بالأرض...الخ.

د طرفينو دليل: دا دی چې صعيد د مځکې مخ (رووبي زمين) ته ويل کيږي، يعني د مځکې ښکلاره لو پورتنۍ حصه. او ځرنګه چې پورتنۍ حصه تر لاندې حصې لوړه ده نو ځکه د دې نوم صعيد کښېښول سو، حاصل دا چې کوم شی د مځکې له جنس ځخه وي په هغه باندې تيمّم کول جائز دی؛ د صعيد دغه معنیٰ له امام خليل نحوي ځخه را نقل سوې

ده. همدارنګه زمخشري په کشاف کې له زجاج څخه روایت کوي فرمايي چي صعید د ځمکې مخ ته ویل کیږي. او په معاني القرآن کې زجاج ویلي دي چي زما د علم مطابق په دې معنیٰ کې هیڅ اختلاف نسته. او په صحاح کې هم دغه معنیٰ بیان سوې ده.

والطیب الخ او پاته سوه دا خبره چي د طیب معنیٰ د منبت ده. نو موږ وایو چي څرنګه طیب د منبت په معنیٰ راځي همدارنګه د نظیف او طاهر په معنیٰ هم راځي، نو کله چي طیب په څو معناګانو کې مشترک دی نو اوس به دې ته کتل کیږي چي دا ځای د کومي معنیٰ تقاضا کوي، او په دې ځای کې له طیب څخه باید کومه معنیٰ واخیستل سي. نو کله چي موږ غور وکړی نو معلومه سوه چي دا د طهارت ځای دی، او د طهارت په ځای کې طیب د طاهر پر معنیٰ حمل کول زیات مناسب دي. نو ځکه موږ دا د پاک پر معنیٰ حمل کوو. یعني: پاکي خاوري.

دویم دلیل دا دی چي لفظ د طیب د طاهر او منبت په مینځ کې مشترک دی. او د مقام په اعتبار سره بالاجماع د طاهر معنیٰ مراد ده، نو په دې وجه به د منبت معنیٰ مراد نه وي، ځکه چي زموږ په نېز په مشترک کې عموم جائز نه دی. (عنایه، بنایه)

راجح قول: په پورتني مسئله کې راجح قول د طرفینو یعني د امام صاحب او امام محمد رَحِمَهُمَاالله دی. لکه څرنګه چي علامه ابن الهمام هم د دې تصریح کړې ده، او علامه قاضیخان رَحِمَهُ الله په دې باره کې لیکلي دي: ویجوز التیمم بکل ما کان من اجزاء الارض کالتراب والرمل..... (الخانیه ج:۱، ص:۶۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۷]

د تیمم د جائز کېدلو لپاره ګرز (ګرد) ضروري دی، که نه؟

> **ثُمَّ لَا يُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ عَلَيْهِ غُبَارٌ عِنْدَ● أَبِي حَنِيْفَةَ** بیا د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز دا شرط نه دي چي پر دې شي دي ګرز (ګرد) وي **لِإِطْلَاقِ مَا تَلَوْنَا** د هغه آیت د اطلاق په وجه کوم چي موږ تلاوت کړی **وَكَذَا يَجُوزُ بِالْغُبَارِ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الصَّعِيْدِ** همدارنګه پر خاورو د قدرت سره سره په ګرز باندي تیمم جائز دی **عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ●●** د طرفینو رَحِمَهُمَاالله په نېز **لِأَنَّهُ تُرَابٌ رَقِيْقٌ** ځکه چي ګرز نری خاوره ده.

اللغات: ﴿غُبَار﴾ ګرز (ګرد)، ﴿رَقِيْق﴾ نری. باریک.

تشریح: په دې مختصره عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي: (۱) اوله مسئله دا ده چي د امام صاحب په نېز پر مځکني شیانو باندي د ګرز (او غبار) شتون (وجود) ضروري نه دی، (یعني دا ضروري نه ده چي پر دې شیانو به ګرز وي. کنې تیمم جائز نه دی) ځکه چي الله د صعیدا طیبا په ذریعه له مطلقو خاورو څخه د تیمّم حکم کړی دی، او په دې آیت کې د ګرز او نورو هیڅ قید نسته. نو ځکه زموږ لپاره هم د قید زیاتولو هیڅ حق نسته، نو که یو څوک مثلا پر داسي ډبره تیمم وکړي چي پر هغه ګرز نه وي. نو تیمم یې جائز دی، همدارنګه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه خاوره هم

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۶۱، والهندية ج:۱، ص:۲۷. [القول الراجح ج:۱، ص:۲۸]

●● القول الراجح: قولهما أي قول أبي حنيفة و محمد رَحِمَهُمَاالله كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۱۷۶. [القول الراجح ج:۱، ص:۲۹]

تيمم جائز دی چې پر هغې ګرز نه وي، په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله، ځکه چې د دوی په نيز د ګرز شتون ضروري دی.

د صاحبينو او امام شافعي دليل: دا دی چې الله تعالیٰ تر صعيدا طيبا وروسته فامسحوا بوجوهكم و أيدكم منه فرمايلي دي او د منه ضمير د صعيد و طرف ته راجع دی، همدارنګه دلته مِنْ تبعيضيه دی، او د تبعيض مفهوم هغه وخت پوره کېدای سي چې کله په خاوره کې ګرز وي.

جواب: د امام صاحب له طرفه د دې جواب دا ورکول سوی دی چې څرنګه د منه په ضمير کې دا احتمال سته چې د صعيد و طرف ته دي راجع وي، همدارنګه دا احتمال هم پکښې سته چې دا ضمير دي د محدث و طرف ته راجع وي، نو کله چې په ضمير کې د دويمي مرجع احتمال هم سته نو په دې سره دليل نيول او ګرز شرط کول صحيح نه دي، ځکه چې إذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال، همدارنګه دا هم ممکنه ده چې دلته دې مِن د تبعيض لپاره نه وي، بلکې د ابتداء لپاره دي وي، نو په دې صورت کې به بالکل د دوی استدلال صحيح نه وي.

(۲) دويمه مسئله دا ده چې د طرفينو په نيز که څه هم خاوري موجودي وي خو بيا هم په ګرز باندي تيمّم جائز او صحيح دی، ځکه چې په قرآن کريم کې د صعيد يادونه سوې ده، او ګرز هم د صعيد يو قسم دی، ځکه چې ګرز باريکه او نرۍ خاوره ده.

راجح قول: په پورتني عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوې:

(۱) اوله مسئله دا ذکر سوه چې پر مذکوره شيانو ګرز شرط دی، که نه؟، نو په دې مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، علامه قاضيخان رَحِمَهُ الله ليکلي دي: ويجوز التيمم بكل ما كان من اجزاء الارض إلى أن قال والحجر الذى عليه غبار أو لم يكن بأن كان مغسولا و أملس. (۲) او دويمه مسئله دا ذکر سوه چې پر خاورو د قدرت سره سره په ګرز باندي تيمم جائز دی، که نه؟، په دې مسئله کې راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی، لکه څرنګه چې علامه جلال الدين خوارزمي رَحِمَهُ الله ليکلي دي: لأن الغبار تراب إلا أنه رقيق فكما يجوز التيمم بالجنس من التراب على كل حال فكذلك بالرقيق، كذا فى المبسوط (الكفايه ج:۱، ص:۱۱۴). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۹]

په تيمّم کې د نيت حکم

وَالنِّيَّةُ فَرْضٌ فِي التَّيَمُّمِ او په تيمّم کې نيت فرض دی وَقَالَ* زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى: لَيْسَتْ بِفَرْضٍ او امام زفر فرمايي: فرض نه دی لِأَنَّهُ خَلَفٌ عَنِ الْوُضُوْءِ ځکه چې تيمّم د اوداسه بدل(خليفه) دی فَلَا يُخَالِفُهُ فِي وَصْفِهِ نو ځکه به تيمم په وصف کې د اوداسه خلاف نه وي وَلَنَا: أَنَّهُ يُنْبِئُ عَنِ الْقَصْدِ او زموږ دليل دا دی: چې تيمّم د ارادې خبر ورکوي فَلَا يَتَحَقَّقُ دُوْنَهُ نو بغير له ارادې څخه به نه متحقق کېږي أَوْ جُعِلَ طَهُوْرًا فِي حَالَةٍ مَخْصُوْصَةٍ يا دا چې خاوره په يو ځانګړي حالت کې پاکونکې ګرځول سوې ده وَالْمَاءُ طَهُوْرٌ بِنَفْسِهِ او اوبه خو د خپل ذات په اعتبار سره پاکونکې دي

* القول الراجح: قول الجمهور كذا فى فتح القدير ج:۱، ص:۱۱۴. [القول الراجح ج:۱، ص:۳۰]

عَلٰى مَا مَرَّ لکه مخکې چې تېر سوه ثُمَّ إِذَا نَوَى الطَّهَارَةَ أَوِ اسْتِبَاحَةَ الصَّلَاةِ بیا که تیمّم وهونکی د طهارت نیت وکړي او که د لمانځه د روابنت وکړي أَجْزَأَهُ نو(دواړه) د ده لپاره کافي دي وَلَا يُشْتَرَطُ نِيَّةُ التَّيَمُّمِ لِلْحَدَثِ أَوْ لِلْجَنَابَةِ او د حدث یا جنابت لپاره د تیمم نیت شرط نه دی هُوَ الصَّحِيحُ مِنَ الْمَذْهَبِ همدغه صحیح مذهب دی.

اللغات: ﴿خلف﴾ نائب، خلیفه، ﴿يُنبِئ﴾ د افعال د باب مضارع صیغه ده، أَنْبَأَ يُنْبِئُ: خبر ورکول، دلیل کېدل، ﴿اِستِبَاحَة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: حلال کېدل، جائز کېدل. ﴿أَجزَأَهُ﴾ د افعال د باب ماضي صیغه ده، په آخر کې یې "ه" ضمیر دی، أَجْزَأَ يُجْزِئُ: کافي کېدل.

تشريح: په دې عبارت کې هم دوې مسئلې بیان سوي دي: (۱) اوله مسئله دا ده چې زموږ په نېز د تیمّم لپاره نیت فرض او شرط دی، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز نیت نه فرض دی او نه شرط.

د امام زفر دليل: دا دی چې تیمّم د اودس خلیفه او بدل دی، او په اصل یعني اودس کې نیت فرض نه دی، نو په فرع او بدل کې به څرنګه فرض وي، ځکه چې بدل د صحت(صحیح کېدلو) په صفت کې له اصل څخه مخالف نه وي، اوس که موږ په تیمّم کې نیت فرض وګرځوو، نو د صحت په صفت کې به بدل له اصل څخه مخالف سي، او دا صحیح نه دي.

زموږ دليل: په دې لړ کې زموږ دوه دلیلونه دي: (۱) اول دلیل دا دی چې تیمم په لغت کې د قصد او ارادې په معنیٰ سره استعمال سوی دی، او قصد ته نیت هم ویل کیږي، نو ځکه له نیت څخه بغیر د تیمّم تحقق نه کیږي. (۲) دویم دلیل دا دی چې تیمّم په خاورو سره کیږي، او خاوري په هرحال کې د لمانځه لپاره پاکونکي(مُطهِّر) نه دي، بلکې د خاورو د مُطهِّر کېدلو شرط دا دی چې تیمّم به د لمانځه په اراده کیږي، او د دې ارادې نوم نیت هم دی، نو له دې څخه هم معلومه سوه چې په تیمّم کې نیت شرط دی.

د دې په خلاف د اوبو مسئله ده، نو په اوبو کې د نیت هیڅ ضرورت نسته، ځکه چې اوبه په خپل ذات کې پاکونکي(مُطهِّر) دي، او په هر حال کې پاکونکي دي، نو ځکه د اوبو په استعمال کې د نیت او ارادې د شرط کولو هیڅ اړتیا نسته.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د جمهورو دی لکه څرنګه چې صاحب د فتح القدیر علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله لیکلي دي: قال المصنف رَحِمَهُ الله في التجنيس: النية المشروطة هي نية التطهير هو الصحيح. انتهى.

د طهارت یا إباحة الصلوٰة نیت هم کافي دی

(۲) دویمه مسئله دا ده چې که تیمّم وهونکی صرف د طهارت حاصلولو په نیت سره تیمّم وکړي، یا د لمانځه د روابنت(مباح والي) په نیت سره تیمم وکړي نو دا نیت کافي دی، بیا ده ته د دې بل نیت هیڅ ضرورت نسته چې زه له بې اودسی(حدث) څخه د پاکېدلو نیت کوم، یا له جنابت څخه د پاکېدلو نیت کوم. همدغه صحیح مذهب دی، ځکه چې د تیمّم مقصد هم د طهارت(پاکي) حاصلول دي، نو د دې مقصد لپاره د حدث د نوعي معلومولو هیڅ ضرورت نسته.

صاحب د هدایې په دې قول الصحيح من المذهب سره د ابو بکر رازي له قول څخه احتراز کړی دی ځکه هغه فرمايي: چې په تیمّم کې به د حدث یا جنابت لپاره جلا جلا نیت کیږي، او دلیل دا ورکوي چې د حدث او جنابت دواړو لپاره یو بول

تیمّم کیږي، نو ځکه به د نیت په ذریعه یو له بل څخه جلا کیږي، لیکن ښکاره ده چې دا قول د مذهب له ظاهر څخه خلاف دی.

که عیسایي(نصراني)تیمّم یا اودس وکړي بیا اسلام راوړي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ تَيَمَّمَ نَصْرَانِيٌّ يُرِيْدُ بِهِ الْإِسْلَامَ که نصراني د اسلام راوړولو په اراده تیمّم وکړی ثُمَّ أَسْلَمَ او بیا مسلمان سو لَمْ يَكُنْ مُتَيَمِّمًا عِنْدَ ● أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ نو د طرفینو په نېز هغه تیمّم والا نه پاته کیږي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ: هُوَ مُتَيَمِّمٌ امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چې هغه (اوس هم) تیمّم والا دی لِأَنَّهُ نَوَى قُرْبَةً مَقْصُوْدَةً ځکه چې هغه د قربتِ مقصوده(ځانګړي عبادت) نیت کړی دی بِخِلَافِ التَّيَمُّمِ لِدُخُوْلِ الْمَسْجِدِ وَمَسِّ الْمُصْحَفِ په خلاف د هغه تیمّم چې مسجد ته د داخلېدلو او د قرآن د مسه کولو په نیت سوی وي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِقُرْبَةٍ مَقْصُوْدَةٍ ځکه چې دا قربتِ مقصوده نه دي وَلَهُمَا أَنَّ التُّرَابَ مَا جُعِلَ طَهُوْرًا إِلَّا فِي حَالِ إِرَادَةِ قُرْبَةٍ مَقْصُوْدَةٍ لَا تَصِحُّ بِدُوْنِ الطَّهَارَةِ او د طرفینو دلیل دا دی: چې خاوره صرف د داسې قربتِ مقصوده د اراده کولو په صورت کې پاکونکې ګرځول سوې ده کوم چې له پاکۍ څخه بغیر نه صحیح کیږي وَالْإِسْلَامُ قُرْبَةٌ مَقْصُوْدَةٌ او اسلام (داسې) قربتِ مقصوده(ځانګړی عبادت) دی تَصِحُّ بِدُوْنِهَا چې بغیر له پاکۍ څخه هم صحیح کیږي بِخِلَافِ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ په خلاف د سجدهٔ تلاوت لِأَنَّهَا قُرْبَةٌ مَقْصُوْدَةٌ لَا تَصِحُّ بِدُوْنِ الطَّهَارَةِ ځکه چې هغه داسې قربت مخصوصه دی چې بغیر له طهارت نه صحیح کیږي وَإِنْ تَوَضَّأَ لَا يُرِيْدُ بِهِ الْإِسْلَامَ او که عیسایي د اسلام له ارادې څخه بغیر اودس وکړی ثُمَّ أَسْلَمَ بیا مسلمان سو فَهُوَ مُتَوَضِّئٌ نو (اوس هم) هغه په اودسه دی خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ الله بِنَاءً عَلَى اِشْتِرَاطِ النِّيَّةِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی د نیت د شرط کېدلو په وجه.

اللغات: ﴿الْمُصْحَف﴾ د مُصْحَف معنیٰ ده: یوبښ او وقایې والا کتاب، مراد ځنې "قرآن مجید" دی، ﴿قُرْبَة﴾ نېکي، عبادت، داسې عمل چې په هغه سره د الله ﷻ نژدېکت حاصل سي.

تشریح: د عبارت تر حل مخکې په دې خبره پوه سه چې: **قربتِ مقصوده** یعنې ځانګړی عبادت هغه عبادت ته ویل کیږي چې مطلوب جوړ کړی سي اوبالذات ادا کړی سي، او د یو بل عبادت په ضمن کې داخل نه وي، لکه: لمونځ، روژه او نور.

اوس مسئله دا ده چې که نصراني(عیسایي) د اسلام راوړولو په اراده تیمم وکړي، بیا مسلمان سو، نو د طرفینو په نېز دا تیمّم معتبر نه دی، او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله وایي چې معتبر دی.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چې نصراني د قربت مقصوده نیت کړی دی، ځکه چې اسلام تر ټولو غټ قربت دی، او مقصود ځکه دی چې د بل عبادت په ضمن کې داخل نه دی، او د قربت مقصوده په نیت سره چې کوم تیمّم کیږي، هغه شرعاً معتبر وي، نو د اسلام راوړلو په اراده سره چې کوم تیمّم کیږي هغه به معتبر وي، که تر اسلام راوړولو وروسته

● القول الراجح: قولهما أى أبي حنيفة و محمد رَحِمَهُمَاالله، كذا فى رد المحتار ج:۱، ص:۱۸۰، و فتح القدير ج:۱، ص:۱۱۶. [القول الراجح ج:۱، ص:۳۱]

په دې تيمّم سره لمونځ کول وغواړي نو کولای يې سي، د دې په خلاف که مسلمان په مسجد کې د داخلېدلو په اراده يا د قرآن کريم د مسه کولو په اراده تيمّم وکړی نو دا تيمّم شرعاً معتبر نه دی، که په دې تيمّم سره لمونځ کول وغواړي نو لمونځ نه سي کولای، ځکه چې په مسجد کې داخلېدل يا قرآن کريم مسه کول قربت مقصوده نه دی (ځکه چې د نورو شيانو په ضمن کې راځي، د مثال په توګه که څوک د لمانځه لپاره تيمّم وکړي نو ښکاره خبره ده چې هغه به مسجد ته هم ځي او قرآن به هم وايي، نو د مسجد تګ او د قرآن ويل د لمانځه په ضمن کې راغله، فافهم).

د طرفينو دليل: دا دی چې خاوري په خپل ذات کې پاکونکې نه دي بلکې هغه وخت پاکونکې دي چې کله د يو داسې قربت مقصوده اراده وکړی سي کوم چې بغير له طهارت څخه نه صحيح کيږي او اسلام داسې نه دی، ځکه چې هغه بغير له طهارت څخه هم صحيح دی، د دې په خلاف سجدهٔ تلاوت (د تلاوت سجده) ده، ځکه د تلاوت سجده يو داسې قربت مقصوده ده، چې هغه بغير له طهارت څخه نه صحيح کيږي، نو د سجدهٔ تلاوت په اراده که تيمّم وکړی سو نو په هغه سره لمونځ کول جائز دي.

د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله پر دې دليل صاحب د نهايې (نهايه) نقض ذکر کړی دی، د نقض حاصل دا دی چې که کافر د لمانځه ادا کولو لپاره تيمّم وکړی او بيا مسلمان سو نو په دې تيمّم سره لمونځ جائز کېدل پکار دي، ځکه چې لمونځ يو داسې عبادت مقصوده دی کوم چې بغير له طهارت څخه نه صحيح کيږي، حال دا چې په دې تيمّم سره د هغه لپاره لمونځ کول جائز نه دي، نو د طرفينو دا دليل چې خاوري په هغه حال کې پاکونکې دي چې کله د يو داسې عبادت مقصود اراده وکړی سي کوم چې بغير له طهارت څخه نه صحيح کيږي، غلط دی؛ ښه دليل دا دی چې داسې وويل سي چې کافر د نيت اهل نه دی ځکه چې نيت کول عبادت دی او تيمّم بغير له نيت څخه نه صحيح کيږي نو ځکه به د کافر تيمّم صحيح نه وي.

وإن توضأ الخ له دې ځای څخه دا بيانوي چې که نصراني په داسې حال کې اودس وکړي چې اراده يې د اسلام راوړولو نه وه، خو مسلمان سو نو زموږ په نېز دا سړی (اوس هم) په اوداسه دی (لکه تر اسلام راوړلو چې مخکې وو)، او که په دې اوداسه يې لمونځ کول وغوښتل، نو کولای يې سي، ځکه چې زموږ په نېز په اوداسه کې نيت شرط نه دی، (بلکې په تيمم کې نيت شرط او فرض دی)، او د هغه نا أهليت دې ته ضرر نه رسوي، (يعني څرنګه چې هغه د نيت اهل نه دی، نو څه پروا نه لري، ځکه چې نيت شرط نه دی) او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز يې اودس معتبر نه دی، ځکه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په اوداسه کې نيت شرط دی، او نصراني د نيت أهل او لايق نه دی، نو ځکه به د هغه اودس معتبر نه وي، او تر اسلام راوړلو وروسته که لمونځ کول وغواړي، بل اودس به کوي.

راجح قول: په دې مسئله کې راجح قول د طرفينو يعني د امام ابو حنيفه او امام محمد رَحِمَهُمَا الله دی، لکه څرنګه چې علامه قاضيخان رَحِمَهُ الله د دې په تائيد کې ليکلي دي: رلو تيمم الكافر للاسلام وأسلم لا يجوز له اداء الصلوة بذلك التيمم في قول أبي حنيفة ومحمد رَحِمَهُمَا الله وكذا لو تيمم يريد به تعليم الغير لا يجوز له اداء الصلوة بذالك التيمم في ظاهر الرواية (الخانيه ج:١، ص:٥٢). [القول الراجح ج:١، ص:٣١]

که مسلمان تيمّم وکړي بيا (العياذ بالله) مرتد سي او بيا مسلمان سي نو څه حکم دی؟

فَإِنْ تَيَمَّمَ مُسْلِمٌ او که مسلمان تيمّم وکړی ثُمَّ ارْتَدَّ ثُمَّ أَسْلَمَ او بيا هغه (العياذ بالله) مرتد سو او بيا مسلمان سو فَهُوَ عَلَى تَيَمُّمِهِ نو هغه پر خپل (مخکني) تيمّم پاته دی وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ الله: بَطَلَ تَيَمُّمُهُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: تيمّم يې باطل سو لِأَنَّ الْكُفْرَ يُنَافِيهِ ځکه چي کفر له تيمّم سره منافي دی فَيَسْتَوِي فِيهِ الِابْتِدَاءُ وَالْبَقَاءُ نو په دې (حکم) به کي اول او آخر دواړه سره برابر وي كَالْمَحْرَمِيَّةِ فِي النِّكَاحِ لکه په نکاح کي چي حرمت دی وَلَنَا: أَنَّ الْبَاقِيَ بَعْدَ التَّيَمُّمِ صِفَةُ كَوْنِهِ طَاهِرًا او زموږ دليل دا دی: چي تر تيمّم وروسته د دې سړي د پاک کېدلو صفت پاته دی (يعني دی پاک دی) فَاعْتِرَاضُ الْكُفْرِ عَلَيْهِ لَا يُنَافِيهِ نو (په دې دوران کي) پر ده د کفر راتلل د تيمّم منافي نه دي كَمَا لَوِ اعْتَرَضَ عَلَى الْوُضُوءِ لکه په اوداسه چي کفر راسي وَإِنَّمَا لَا يَصِحُّ مِنَ الْكَافِرِ ابْتِدَاءً او د کافر (تيمّم) له شروع څخه صحيح نه دی لِعَدَمِ النِّيَّةِ مِنْهُ ځکه چي د هغه نيت نه صحيح کېږي (يعني هغه د نيت أهل او لائق نه دی).

اللغات: ﴿ارْتَدَّ﴾ د افتعال د باب ماضي صيغه ده: سرکول کوني اوښتل (سر په څنکه اوښتل)، تر اسلام وروسته کافر کېدل، ﴿فَيَسْتَوِي﴾ د افتعال د باب مضارع صيغه: مساوي کېدل، برابرېدل، ﴿إعْتِرَاض﴾ د افتعال د باب مصدر دی: مخ ته راتلل، جاري کېدل، لګېدل، پېښېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي که يو سړي د اسلام په حالت کي تيمّم وکړی، بيا (العياذ بالله) مرتد سو، او تر مرتد کېدلو وروسته دويم وار بيا مسلمان سو، نو اوس زموږ په نېز د ده مخکنی تيمّم پر خپل حال پاته دی، او ده ته د لمانځه او نورو لپاره دويم وار د تيمّم کولو ضرورت نسته، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د ده مخکنی تيمّم ختم سو، اوس به د لمانځه او نورو لپاره دوباره تيمّم کوي.

د امام زفر دليل: دا دی چي کفر د تيمّم منافي دی، او په دې کي شروع او آخر دواړه برابر دي، يعني څرنګه چي په شروع او ابتداء کي د کافر تيمّم صحيح نه دی، همدغه رنګه په آخر او بقاء کي هم د کافر تيمّم صحيح او معتبر نه دی، او دا مسئله داسي ده لکه په نکاح کي محرميت يعني که د ښځي او نر په مينځ کي له مخکي څخه حرمتِ أبديه وي نو د دوی نکاح بيا صحيح نه ده.

زموږ دليل: دا دی چي کله يو سړي تيمّم وکړي، نو د تيمّم وجود ختم سي، او فقط د تيمّم حکم يعني د تيمّم وهونکي پاک کېدل پاته سي، او پر دې حکم د کفر راتګ هيڅ اغېزه نه کوي، ځکه چي کفر د طهارت منافي نه دی، لکه څرنګه چي يو مسلمان سړی په اوداسه وي او مرتد سي او بيا مسلمان سي نو په دې سره د هغه پر اودس هيڅ أثر نه لوېږي، بلکي اودس يې خپل پر حال پاته دی. همدارنګه به دلته هم د مرتدوالي په وجه د طهارت پر صفت هيڅ أثر نه لوېږي، بلکي پر خپل مخکني حال به پاک پاته وي.

وإنما لا يصح الخ فرمايي: چي له شروع څخه د کافر د نيت د نه معتبر کېدلو علت دا دی چي په تيمّم کي نيت شرط او فرض دی، او کافر د نيت أهل او لائق نه دی، لېکن کله چي يې يو وار د أهليت په وخت کي تيمّم وکړی، نو بيا د کفر په وجه د هغه نيت نه ختمېږي.

د تیمم د نواقضو بیان

وَيَنْقُضُ التَّيَمُّمَ كُلُّ شَيْءٍ او هر هغه شی تیمّم ماتوي يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ کوم چي اودس ماتوي لِأَنَّهُ خَلَفٌ عَنْهُ ځکه چي تیمّم د اودس خلیفه (بدل) دی فَأَخَذَ حُكْمَهُ نو ځکه تیمّم د اودس حکم واخیستی (یعني د اودس حکم ورکړی سو) وَيَنْقُضُهُ أَيْضًا رُؤْيَةُ الْمَاءِ او د اوبو لیدل (هم) تیمّم ماتوي إِذَا قَدَرَ عَلَى اسْتِعْمَالِهِ خو کله چي هغه د اوبو پر استعمال قدرت ولري لِأَنَّ الْقُدْرَةَ هِيَ الْمُرَادُ بِالْوُجُوْدِ الَّذِي هُوَ غَايَةٌ لِطَهُوْرِيَّةِ التُّرَابِ ځکه چي له هغه وجود څخه (خاص) قدرت مراد دی کوم چي د خاورو د طهوریت غایت دی (یعني په آیت کي د اوبو له پیدا کولو (وجود) څخه مراد د اوبو پر استعمال قدرت لرل دي چي هغه د خاورو د پاکولو غایت (انتهاء) ده) وَخَائِفُ السَّبُعِ وَالْعَدُوِّ وَالْعَطَشِ عَاجِزٌ حُكْمًا او له درنده، دښمن او تندي څخه یرېدونکی حکماً عاجز دی وَالنَّائِمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ● قَادِرٌ تَقْدِيرًا او بیده سړی د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز حکماً قادر دی حَتَّى لَوْ مَرَّ النَّائِمُ الْمُتَيَمِّمُ عَلَى الْمَاءِ تر دې که بیده سړی د خوب په حالت کي د اوبو سره تېر سو بَطَلَ تَيَمُّمُهُ عِنْدَهُ نو د امام صاحب په نېز د هغه تیمّم باطل سو وَالْمُرَادُ مَاءٌ او له اوبو څخه مراد دومره اندازه اوبه دي يَكْفِيْ لِلْوُضُوْءِ چي د اودسه لپاره کافي وي لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِمَا دُوْنَهُ ابْتِدَاءً ځکه چي له دې څخه کمي اوبه له شروع څخه (هم) معتبري نه دي فَكَذَا انْتِهَاءً همدارنګه په آخر کي به هم معتبري نه وي.

تشریح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي کوم شی اودس ماتوي هغه تیمّم هم ماتوي، دلیل یې دا دی چي تیمّم د اودس خلیفه او بدل دی، او په دې کي هیڅ شک نسته چي اصل اقویٰ (ډېر قوي) وي په نسبت د خلیفه ته، نو کوم شی چي د اقویٰ لپاره ناقض او ماتوونکي وي، نو د أضعف (ډېر ضعیف) لپاره خو به په طریقهٔ اولیٰ سره ناقض او ماتوونکی وي، نو ځکه به هر هغه شی کوم چي ناقض د اودسه وي ناقض د تیمّم به خامخا وي.

وينقضه ايضاً الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي ځیني شیان داسي دي چي په هغو سره اودس نه ماتیږي، خو تیمّم په ماتیږي، هغه دا که تیمّم وهونکي اوبه ولیدلې او د هغه پر استعمال قادر هم وو نو دا اوبه د ده تیمّم ماتوي، او پر استعمال باندي یې د قدرت شرط ځکه ولګوی چي په آیت أو لامستم النساء فلم تجدوا ماء کي او په حدیث التراب طهور المسلم ولو إلی عشر حجج مالم یجد الماء کي د اوبو له شتون (وجود) او پیدا کولو څخه مراد قدرت پر اوبو دی.

وخائف السبع الخ صاحب د هدایې وایي چي که اوبه وې خو له یو درنده څخه یره وه، یعني د ده دا یره وه چي که اوبو ته ولاړ سم درنده به مي مړ کړي یا د دښمن یره وه چي که اوبو ته ولاړ سم دښمن به مي قتل کړي، او یا دا چي اوبه دومره کمي وې چي په اودس کولو سره به تږی پاته سي، نو په دې ټولو صورتونو کي دا سړی د اوبو له استعمال څخه عاجز بلل کیږي، او د ده لپاره تیمّم جائز دی.

● القول الراجح: قول الصاحبين من أنه لا ينتقض الوضوء المتيمم النائم على الوضوء، و أبقيا تيممه لعجزه عن استعمال الماء، رد المحتار ج:١، ص:١٨٨ كذا في فتح القدير ج:١، ص:١١٩، و الدر المختار ج:١، ص:٨٨. [القول الراجح ج:١، ص:٣٢]

والنائم الخ مصنف د هدايې وايي: چې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز که تيمم والا د خوب په حالت کې د اوبو سره تېر سو نو د هغه تيمّم باطل سو، ځکه چې هغه د اوبو له استعمال څخه ديو داسې عذر په وجه عاجزه دی کوم چې په خپله د هغه له طرفه پيدا سوی دی.(يعني په خپله يې دی سبب جوړ سوی دی) چې هغه نو خوب دی. نو دی به معذوره نه ګڼل کيږي.

والمراد مايكفي الخ فرمايي چې کومو اوبو ته په کتلو سره يا د کومو اوبو سره چې د بيله سړي په تېرېدلو اودس ماتيږي، له هغه اوبو څخه دومره اندازه اوبه مراد دي چې د اودسه لپاره کافي وي، ځکه کله چې ابتداءً له دې څخه د کمو اوبو اعتبار نسته، نو انتهاءً به هم له دې څخه د کمي اندازې اوبه معتبري نه وي، يعني که يو سړي اودس کول وغواړي لېکن دومره اوبه نه وي چې د اودسه لپاره کافي وي نو د هغه لپاره د تيمّم کولو اجازه سته، همدارنګه که يو تيمّم وهونکی اوبه پيدا کړي لېکن دومره نه وي چې د اودسه لپاره کافي سي، نو په دې صورت کې به هم د دومره اوبو په پيدا کولو سره د هغه تيمّم نه باطليږي.

راجح قول: په پورتني عبارت کې خو د امام صاحب قول ذکر سو چې د ده په نېز که تيمّم وهونکی د خوب په حالت کې د اوبو سره تېر سو نو تيمم يې ماتيږي، لېکن د صاحبينو قول ذکر نه سو، هغه دا دی چې نه ماتيږي، او راجح قول هم د صاحبينو دی، ځکه چې هغه د اوبو له استعمال څخه عاجز دی، لکه علامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله چې د دې تصريح کړې ده: قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله (قوله و أبقيا تيمّمه) أي أبقى الصاحبان رَحِمَهُ الله تيمّمه لعجزه عن استعمال الماء (رد المحتار ج:۱، ص:۱۸۸). [القول الراجح، ج:۱، ص:۳۲]

د تيمم لپاره پاکه خاوره ضروري ده

> وَلَا يَتَيَمَّمُ إِلَّا بِصَعِيدٍ طَاهِرٍ او تيمّم دې نه وهي مګر پر پاکه خاوره لِأَنَّ الطَّيِّبَ أُرِيدَ بِهِ الطَّاهِرُ ځکه چې (په آيت کې) له طيب څخه مراد پاک دی وَلِأَنَّهُ آلَةُ التَّطْهِيرِ او په دې وجه(هم) چې خاوري د پاکولو آله ده فَلَا بُدَّ مِنْ طَهَارَتِهِ فِي نَفْسِهِ كَالْمَاءِ نو ځکه په خپله د خاورو پاکېدل ضروري دي لکه څرنګه چې د اوبو پاکېدل ضروري دي.

اللغات: ﴿أُرِيدَ﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله صيغه ده: اراده کول، ﴿فَلَا بُدَّ﴾ فاء زائده ده، د لَا بُدَّ معنیٰ ده: چاره نسته، ضروري ده.

تشريح: فرمايي چې د تيمّم وهونکي لپاره حکم دا دی چې صرف له پاکي خاوري يا د خاوري له هم جنسه پاکو شيانو څخه به تيمّم کوي، او د دې حکم دوه دليلونه دي: (۱) په دې آيت: فتيمّموا صعيدا طيبا کې له طيب څخه طاهر مراد دی، نو ځکه په کوم شي سره چې تيمّم کيږي د هغه پاک کېدل ضروري دي، (۲) دويم دليل دا دی چې د تيمّم وهونکي لپاره خاوري د پاکولو آله ده، لکه څرنګه چې اوبه د پاکولو آله ده، او اوبه په خپل ذات کې پاکې دي، همدارنګه د خاورو هم په خپل ذات کې پاک کېدل لازمي او ضروري دي.

که د اوبو پيدا کېدلو اُميد وي نو څه حکم دی؟

> وَيُسْتَحَبُّ لِعَادِمِ الْمَاءِ وَهُوَ يَرْجُوهُ او د هغه سړي لپاره مستحب دي چې اوبه نه لري(يعني اوبه ور سره نه وي)لېکن اميد يې لري (چې په آخري وخت کې به يې پيدا کړي) أَنْ يُؤَخِّرَ الصَّلَاةَ إِلَى آخِرِ الْوَقْتِ (دا مستحب دي) چې لمونځ تر آخري وخت

پوري وځنډوي ﴿فَإِنْ وَجَدَ الْمَاءَ﴾ نو که يې اوبه پيدا کړې ﴿تَوَضَّأَ﴾ اودس دې وکړي ﴿وَإِلَّا تَيَمَّمَ وَصَلَّى﴾ او که يې پيدا نه کړې نو تيمّم دې وکړي او لمونځ دې وکړي ﴿لِيَقَعَ الْأَدَاءُ بِأَكْمَلِ الطَّهَارَتَيْنِ﴾ د دې لپاره چې د لمانځه اداء کېدل په دواړو طهارتونو کې په اُکمل طهارت باندې وسي ﴿فَصَارَ كَالطَّامِعِ فِي الْجَمَاعَةِ﴾ او دا سړی داسې سو لکه د جماعت په طمع انتظار کونکې سړی ﴿وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ فِي غَيْرِ رِوَايَةِ الْأُصُوْلِ﴾ او د اصولو له روايت څخه ماسوا په بل روايت کې له شيخينو رَحِمَهُمَا الله څخه رانقل سوي دي ﴿أَنَّ التَّأْخِيْرَ حَتْمٌ﴾ چې ځنډول ضروري دي ﴿لِأَنَّ غَالِبَ الرَّأْيِ كَالْمُتَحَقِّقِ﴾ ځکه چې غالب ګومان د متحقق په ډول دی ﴿وَجْهُ الظَّاهِرِ﴾ د ظاهر روايت دليل دا دی ﴿أَنَّ الْعَجْزَ ثَابِتٌ حَقِيْقَةً﴾ چې (دلته) عاجزي په حقيقت کې ثابته ده ﴿فَلَا يَزُوْلُ حُكْمُهُ إِلَّا بِيَقِيْنٍ مِثْلِهِ﴾ نو ځکه به د هغې حکم نه زائليږي مګر په هغسې يقين سره.

اللغات: ﴿عادم﴾ د کَرُمَ د باب اسم فاعل دی: نه پيدا کونکی، نه لرونکی، خالي لاسی سړی، ﴿أكمل﴾ د کَامِل اسم تفضيل دی: يعني ډېر کامل او ډېر پوره، ﴿طامع﴾ د فتح د باب اسم فاعل دی: لالچ او طمع کول، حرص کول، ﴿حتم﴾ لازمي، ضروري.

تشريح: **مسئله**: دا ده که د يو سړي سره اوبه نه وي، خو دا اُميد يې وي چې د لمانځه تر آخري وخت پوري به اوبه پيدا کړي، نو په دې صورت کې لمونځ تر خپل آخري وخت پوري ځنډول مستحب دي، او که دا اُميد يې نه وي، نو خامخا دې لمونځ نه ځنډوي، بلکې که اوبه پيدا سوې نو اودس او لمونځ دې وکړي، او که پيدا نه سوې نو په تيمّم سره دې لمونځ وکړي، او د اوبو د پيدا کېدلو د اُميد په صورت کې لمونځ ځنډول په دې وجه مستحب دی چې له دواړو طهارتونو څخه په اُکمل يعني اوداسه باندې لمونځ اداء کړی سي، او دا سړی د هغه سړي په ډول دی کوم چې په اوداسه وي او لمونځ کول غواړي، لېکن په دې اُميد سره لمونځ ځنډوي، چې يو بل لمانځه والا به هم پيدا سي او په جماعت سره به لمونځ وکړي، نو د هغه لپاره هم دغه حکم دی چې که د بل سړي د پيدا کېدلو امکان وي نو لمونځ ځنډول مستحب کنې نه دې ځنډوي، همدغه رنګه په ذکر سوې مسئله کې هم که د اوبو پيدا کېدلو اُميد وو، نو لمونځ دې وځنډوي، کنې تيمّم دې ووهي او خپل لمونځ دې وکړي.

وعن أبي حنيفة الخ په دې لړ کې د اُصولو له روايت څخه علاوه د شيخينو روايت دا دی: چې د اوبو پيدا کېدلو په اُميد لمونځ ځنډول ضروري دي، ځکه چې ظنّ غالب (غالب اُميد) د متحقق او ثابت اُمر په ډول وي، نو څرنګه چې د اوبو د شتون (وجود) په صورت کې تيمّم جائز نه دی، همدغه رنګه که د اوبو پيدا کېدلو غالب ګمان وو، نو هم دې تيمّم نه کوي، بلکې لمونځ دې تر آخري وخت پوري وځنډوي، که په وخت کې دننه اوبه پيدا سوې نو فبها ونعمة، او که پيدا نه سوې نو تيمّم دې وکړي.

وجه الظاهر الخ او د ظاهر الرواية دليل دا دی چې تر اوسه اوبه پيدا سوي نه دي، او په حقيقت کې عاجزي ثابته ده، نو تر کومه وخته چې په حقيقت کې اوبه پيدا نه سي، او د اوبو پيدا کېدل يقيني نه سي، نو تر هغه وخته لمونځ ځنډول ضروري نه دي.

په یوه تیمّم سره د ډېرو لمونځونو حکم

وَيُصَلِّيْ بِتَيَمُّمِهِ مَا شَاءَ او تیمّم کونکي چي په خپل تیمم سره څومره لمونځونه وغواړي هغه دي وکړي مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ هغه که فرضي لمځونه وي او که نفلي لمونځونه وي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ : يَتَيَمَّمُ لِكُلِّ فَرْضٍ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به د هر فرض لمونځ لپاره تیمّم کوي لِأَنَّهُ طَهَارَةٌ ضَرُوْرِيَّةٌ ځکه چي تیمّم ضروري طهارت دی وَلَنَا : أَنَّهُ طَهُوْرٌ حَالَ عَدَمِ الْمَاءِ او زموږ دليل دا دی: چي د اوبو د نشتون په صورت کي تیمّم پاکونکی (مُطهّر) دی فَيَعْمَلُ عَمَلَهُ مَا بَقِيَ شَرْطُهُ نو تر څو چي د هغه شرط باقي وي د اوبو کار به کوي.

اللغات: ﴿فَيَعْمَلُ﴾ د سَمِعَ د باب ماضي صيغه ده، عَمِلَ يَعْمَلُ: کار کول.

تشريح صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز تیمّم والا په یوه تیمّم سره هر څومره لمونځونه کولای سي هغه که فرض وي او که نفل، په یوه وخت کي یې کوي، او که په څو وختونو کي، تر څو چي یې تیمّم مات سوی نه وي تر هغه وخته هر څومره او هر ډول لمونځونه کولای سي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په یوه تیمّم سره یو فرض لمونځ کولای سي، او د دویم فرض لمانځه لپاره به دویم تیمّم کوي، خو په یوه تیمّم سره نفلونه هر څومره کولای سي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي تیمّم ضروري طهارت دی، مطلب دا چي د اوبو د نه پیدا کېدلو په صورت کي او له اوبو څخه د عاجزه کېدلو په حالت کي خاوري پاکونکي (مُطهّري) گرځول سوي دي، او په دې صورت کي د تیمّم کولو او په دې تیمّم باندي د لمونځ کولو اجازه ورکول سوې ده، او کله چي په یوه تیمّم سره یو فرض لمونځ اداء سو نو د تیمم ضرورت ختم سو، نو ځکه به د دویم فرض لمانځه لپاره دوباره تیمّم کوي.

زموږ دليل: دا دی چي د اوبو د نشتوالي په صورت کي د خاورو مُطهِّر کېدل له نص څخه ثابت دي، لکه څرنګه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: الصعيد الطيب وضوء المسلم وإن لم يجد الماء عشر سنين، او فرمايي: التراب طهور المسلم نو له دې څخه دا معلومه سوه چي د خاورو مُطهّر کېدل خاص دي د اوبو د نه پیدا کېدلو د شرط سره(یعني که اوبه نه وي نو خاوري به پاکي وي)، نو تر څو چي دا شرط وي تر هغه وخته به خاوري مُطهّري(پاکونکي) وي، او تر هغه وخته به متیمّم چي په یوه تیمّم سره څومره لمونځونه وغواړي کولای به یې سي، هغه که فرائض وي، که نوافل.

بله دا خبره هم ده چي تیمّم د اوداسه خليفه او بدل دی، نو څرنګه چي په یوه اودس سره هر څومره لمونځونه کېدلای سي، همدارنګه به په یوه تیمّم سره هم هر څومره لمونځونه کېدلای سي، کنې په خلیفه والي کي یې به نقص او کمي راسي، او دا صحيح نه دي. (والله اعلم)

د اختر او د جنازې د لمانځه لپاره د تیمم حکم

وَيَتَيَمَّمُ الصَّحِيْحُ فِي الْمِصْرِ او جوړ (روغ) سړی په ښار کي تیمم کولای سي (یعني د جوړ سړي لپاره په ښار کي هغه وخت تیمم جائز دی) إِذَا حَضَرَتْ جِنَازَةٌ کله چي جنازه حاضره سي وَالْوَلِيُّ غَيْرُهُ په داسي حال کي چي دا روغ سړی ولي نه وي فَخَافَ او د ده دا ېره وي إِنِ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ چي که په اوداسه مشغول سو أَنْ تَفُوْتَهُ الصَّلَاةُ نو د جنازې لمونځ به ځني پاته سي لِأَنَّهَا لَا تُقْضٰى ځکه چي د جنازې د لمانځه قضاء نه راوړل کېږي فَيَتَحَقَّقُ الْعَجْزُ نو عاجزي ثابته سوه وَكَذَا

مَنْ حَضَرَ الْعِيْدَ او دغه رنګه هغه سړی چې د اختر لمانځه ته راسي فَخَافَ إِنِ اشْتَغَلَ بِالطَّهَارَةِ او دا ېره ور سره وي چي که په اوداسه مشغول سي أَنْ يَفُوتَهُ الْعِيْدُ نو د اختر لمونځ به ځني پاته سي يَتَيَمَّمُ نو دا سړی به (هم) تیمّم کوي لِأَنَّهَا لَا تُعَادُ ځکه چي د اختر د لمانځه قضاء (هم) نه راوړل کيږي وَقَوْلُهُ وَالْوَلِيُّ غَيْرُهُ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې قول والولي غيره کي إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ لَا يَجُوزُ لِلْوَلِيِّ ودې طرف ته اشاره ده چي د ولي لپاره تیمّم کول جائز نه دي وَهُوَ رِوَايَةُ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او همدا له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه د حضرت حسن رَحِمَهُ الله روايت دی هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ لِلْوَلِيِّ حَقُّ الْإِعَادَةِ ځکه چي ولي ته (د جنازې د لمانځه) د راګرځولو حق سته فَلَا فَوَاتَ فِي حَقِّهِ نو د هغه په حق کي پاته کېدل نسته (يعني د هغه په حق کي د جنازې د لمانځه د قضاء کېدلو ېره نسته).

اللغات: ﴿تُعَادُ﴾ د افعال له باب څخه د مضارع مجهول صيغه ده، أَعَادَ يُعِيْدُ: را ګرځول، ﴿فَوَات﴾ فوت کېدل، قضاء کېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي يوه ضابطه په ذهن کي ونيسئ چي عبارت در ته آسانه سي، ضابطه دا ده چي: هر هغه عبادت کوم چي بدل نه لري او تر فوت کېدلو وروسته د هغه قضاء نه راوړل کيږي، نو که د هغه د فوت کېدلو ېره وي نو د اوبو د شتون (وجود) په صورت کي هم د هغه د اداء کولو لپاره د تیمّم اجازه سته، اوس د مسئلې صورت ته ګورئ:

صورت د مسئلې: دا دی چي که جنازه بالکل تياره وه او خلک د لمانځه لپاره درېدلي وه، چي په دې حال کي يو سړی را ورسېدی، او دا محسوسه کړه چي که اودس وکړم نو لمونځ به را څخه قضاء سي، نو د ده لپاره تیمّم کول او په لمانځه کي شريک کېدل جائز دي، که څه هم روغ رمټ وي، او پر اوبو قادره وي، او په ښار کي مقيم وي.

صاحب د قدوري رَحِمَهُ الله د صحيح په قيد باندي له مريض څخه احتراز وکړی، ځکه چي د مريض لپاره په هر حال کي تیمّم جائز دی که په ښار کي وي او که په صحراء کي وي، ولي وي او که نه وي، د قضاء کېدلو ېره ور سره وي او که نه وي، او د مصر په قيد باندي يې له صحراء او دښت څخه احتراز وکړی ځکه چي په صحراء کي تیمّم جائز دی، هغه که ولي وي او که بل سړی وي، ځکه چي په صحراء کي په عامه توګه اوبه نه پيدا کيږي (دلته هغه صحراء او دښت مراد دی چي اوبه تر يوه ميل ځني ليري وي).

وقوله والولي الخ فرمايي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله د جنازې د لمانځه په باره کي چي کوم د والولي غيره شرط لګولی دی په هغه سره د دې خبري و طرف ته اشاره ده، چي ولي ته د جنازې د لمانځه د لپاره تیمّم کول جائز نه دي، او دغه روايت له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه حسن بن زياد رَحِمَهُ الله هم را نقل کړی دی، او همدا صحيح دی، ځکه چي ولي ته دا حق سته چي د جنازې د لمانځه قضاء راوړي، نو د ده په حق کي به د فوت کېدلو ېره نه وي، او صاحب د کتاب په الصحيح باندي له ظاهر الرواية څخه احتراز کړی دی ځکه چي په هغه کي دا حکم ذکر دی چي د ولي لپاره هم د لمانځه د فوت کېدلو د ېري په صورت کي تیمّم کول جائز دي، ځکه چي په جنازه کي تأخير (ځنډ) مکروه دی. (عنايه ج۱، ص۱۴۱)

که امام يا مقتدي د اختر په لمانځه کې بې اودسه سي نو د تيمّم حکم

وَإِنْ أَحْدَثَ الْإِمَامُ أَوِ الْمُقْتَدِيْ فِيْ صَلَاةِ الْعِيْدِ او که د اختر په لمانځه کې امام يا مقتدي بې اودسه سو تَيَمَّمَ نو تيمّم دې وکړي وَبَنٰى عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ● رَحِمَهُ اللهُ او بناء دې وکړي، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز وَقَالَا: لَايَتَيَمَّمُ او صاحبين فرمايي: چې تيمّم دې نه کوي لِأَنَّ اللَّاحِقَ يُصَلِّيْ بَعْدَ فَرَاغِ الْإِمَامِ ځکه چې لاحق د امام تر فراغت وروسته لمونځ پوره کولای سي فَلَايَخَافُ الْفَوْتَ نو د هغه په حق کې د قضاء کېدلو (فوت کېدلو) بېره نسته وَلَهُ: أَنَّ الْخَوْفَ بَاقٍ او د امام صاحب دليل دا دی: چې بېره لا پاته ده لِأَنَّهُ يَوْمُ زَحْمَةٍ ځکه چې دا ورځ د ګڼه ګوڼې (د خلکو د رش) ورځ وي فَيَعْتَرِيْهِ عَارِضٌ يُفْسِدُ عَلَيْهِ صَلَاتَهُ نو کېدای سي چې يو داسې عارض ور پېښ سي چې د هغه لمونځ ور فاسد کړي وَالْخِلَافُ فِيْمَا او اختلاف په هغه صورت کې دی إِذَا شَرَعَ بِالْوُضُوْءِ چې لمونځ يې په اودسه شروع کړی وي وَلَوْشَرَعَ بِالتَّيَمُّمِ او که لمونځ يې په تيمّم شروع کړی وي تَيَمَّمَ نو تيمّم دې وکړي وَبَنٰى او پر لمانځه دې بناء وکړي بِالْاِتِّفَاقِ د ټولو په اتفاق سره (يعني دا حکم اتفاقي دی) لِأَنَّا لَوْ أَوْجَبْنَا الْوُضُوْءَ ځکه که موږ (اوس) اودس واجب کړو يَكُوْنُ وَاجِدًا لِلْمَاءِ فِيْ صَلَاتِهِ نو هغه سړی به په خپل لمانځه کې د اوبو پيدا کونکی سي فَيَفْسُدُ نو لمونځ به يې فاسد سي.

اللغات: ﴿أَحْدَثَ﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده: اودس ماتېدل، حدث پېښېدل، ﴿زَحْمَة﴾ د خلکو ګڼه ګوڼه، ازدحام، رش، ﴿يَعْتَرِيْهِ﴾ د افتعال د باب مضارع صيغه ده: پېښېدل، مخ ته راتلل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د اختر په لمانځه کې امام يا مقتدي بې اودسه سو، حال دا چې ده لمونځ په اودسه شروع کړی وو نو په داسې صورت کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز د دې سړي لپاره دا حکم دی چې تيمّم دې وکړي او پر خپل لمانځه دې بناء وکړي، او صاحبين فرمايي چې تيمّم دې نه کوي بلکې اودس دې وکړي او پر خپل لمانځه دې بناء وکړي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې دا سړی لاحق دی او لاحق خپل لمونځ د امام تر فارغ کېدلو وروسته هم پوره کولای سي نو ځکه د ده په حق کې (د تيمّم د جواز علت يعني) د لمانځه د قضاء کېدلو او فوت کېدلو احتمال پاته نه سو، نو ځکه به ده ته د تيمّم اجازه نه وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې د لاحق کېدلو سره سره اوس هم د دې سړي په حق کې د فوت کېدلو احتمال پاته دی، ځکه چې د اختر ورځ د ګڼې ګوڼې او رش ورځ ده، نو کېدای سي د لمانځه يو فاسدوونکی عارض مخ ته راسي، د مثال په توګه يو سړی سلام ور واچوي، او دی يې جواب ور کړي، يا يو څوک ده ته مبارکي ورکړي او دی يې قبوله کړي نو د ده لمونځ به فاسد سي، او د اختر د لمانځه قضاء هم نه راګرځي، ځکه چې د اختر لمونځ په جماعت سره شروع سوی دی،

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله إن كانت الجبانة (عيدگاه) بعيدة لا يقدر على إدراك الامام بما بقي من الصلوٰة، يعني في هٰذه الحالة يفتٰى بقوله رَحِمَهُ الله، أي يتيمم ويبني، و إن كانت الجبانة قريبة يقدر على إدراك الامام بعد إتمام الوضوء فيفتٰى بقول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، أي يتوضأ ولا يتيمم، كذا في الهندية ج:١، ص:٣١. [القول الراجح ج:١، ص:٣٣]

لنده دا چې د دې سړي په حق کې د قضاء کېدلو ېره اوس هم سته، نو ځکه د عجز د تحقق په خاطر د ده لپاره د تيمّم اجازه او امکان سته.

والخلاف الخ فرمايي چې د امام صاحب او صاحبينو په مينځ کې دغه اختلاف هغه وخت دی چې کله يې لمونځ په اوداسه شروع کړی وي، او که په تيمّم سره يې شروع کړی وي نو بيا به بالاتفاق تيمم کوي، او خپل لمونځ به پوره کوي، ځکه که موږ په دغه صورت کې پر ده اودس واجب کړو، نو دا سړی به د لمانځه په دوارن کې پر اوبو قادره سي او لمونځ به يې فاسد سي.

راجح قول: د پورتنی مسئلې د راجح قول په باره کې مفتي غلام قادر نعماني وايي: که عيدګاه ليري وه، او تر اودس وروسته د پاته لمانځه نيول نامکنه وه، نو په دې صورت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول راجح دی، يعني تيمم به کوي او پر لمانځه به بناء کوي، او که عيدګاه نژدې وه، او د پاته لمانځه نيول ممکن وه، نو بيا راجح قول د صاحبينو دی، يعني اودس به کوي او تيمم به نه کوي. [القول الراجح ج:۱ ص:۳۳]

د جمعې لپاره د تيمّم حکم

وَلَا يَتَيَمَّمُ لِلْجُمُعَةِ او د جمعې د لمانځه لپاره به تيمّم نه کوي وَإِنْ خَافَ الْفَوْتَ لَوْ تَوَضَّأَ که څه هم دا ېره يې وي چې که اودس وکړي نو لمونځ به ځني قضاء سي فَإِنْ أَدْرَكَ الْجُمُعَةَ نو که يې (اودس وکړی او د) جمعې لمونځ ونيوی صَلَّاهَا نو هغه دې وکړي وَإِلَّا صَلَّى الظُّهْرَ أَرْبَعًا کنې د ماپښين څلور رکعته لمونځ دې وکړي لِأَنَّهَا تَفُوتُ إِلَى خَلَفٍ ځکه چې جمعه فوت کېږي د خليفه(نائب) و طرف ته وَهُوَ الظُّهْرُ او خليفه د ماپښين لمونځ دی بِخِلَافِ الْعِيدِ په خلاف د اختر د لمانځه وَكَذَا إِذَا خَافَ فَوْتَ الْوَقْتِ لَوْ تَوَضَّأَ همدارنګه کله چې يې دا ېره وي چې که اودس وکړي نو وخت به تېر سي لَمْ يَتَيَمَّمْ نو (هم) به تيمّم نه کوي وَيَتَوَضَّأُ (بلکې) اودس به کوي وَيَقْضِي مَا فَاتَهُ او د قضاء سوي(فوت سوي) لمانځه قضاء به راوړي لِأَنَّ الْفَوَاتَ إِلَى خَلَفٍ ځکه چې فوت کېدل د خليفه و طرف ته دي وَهُوَ الْقَضَاءُ او هغه قضاء ده(يعني له خليفه څخه مراد قضاء ده).

اللغات: ﴿أَدْرَكَ﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده، أَدْرَكَ يُدْرِكُ: نيول، پيدا کول، رسېدل، همدارنګه نوري معناوي هم لري.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړي ته دا احساس وسو چې که په اوداسه مشغول سم نو د جمعې لمونځ به را څخه قضاء سي نو د هغه لپاره د تيمّم اجازه نسته، بلکې خامخا به اودس کوي، نو اوس که هغه اودس وکړی، او د جمعې لمونځ يې ونيوی خو الحمد لله ډېر ښه وسوه، او که د جمعې لمونځ يې نه ونيوی، نو د ماپښين لمونځ دې اداء کړي، دليل يې دا دی چې جمعه که څه هم قضاء سوه، خو خليفه يې سته چې هغه د ماپښين لمونځ دی، نو ځکه د اوبو د شتون(وجود) په صورت کې فقط د قضاء کېدلو د ېرې په وجه په تيمم سره د جمعې لمونځ اداء کول جائز نه دي.

د دې په خلاف د اختر لمونځ دی، که د اختر د لمانځه د قضاء کېدلو ېره وه نو تيمّم به کوي، ځکه چې د اختر لمونځ لا إلى خلف فوت کېږي (يعني خليفه يې نسته)، همدا وجه ده چې د اختر د لمانځه قضاء نه راوړل کېږي.

وکذا...الخ په دې عبارت کې بله مسئله بیانوي، مسئله دا ده چې که یو چا دا محسوسه کړه چې که په اوداسه مشغول سم نو د لمانځه وخت به ووځي، نو هم دې تیمّم نه کوي بلکې اودس دې وکړي او که لمونځ قضاء سو، نو قضاء دې یې را وګرځوي، ځکه چې د وقتي (وختي) لمونځ فوت کېدل فوت إلی خلف دی، او مخکې تېر سوه چې که د فوت إلی خلف بېره وه نو په تیمّم سره د هغه اداء کول جائز نه دي.

اعتراض: ځيني حضرات تو دلته په عبارت کې د تکرار اعتراض کړی دی، دوی وايي چې دا حکم د باب په شروع کې هم په دې الفاظو سره بیان سوی دی: والمعتبر المسافة دون خوف الفوت.

جواب: دا دی چې د باب په شروع کې د علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله قول دی، او دلته د امام قدوري رَحِمَهُ الله قول دی. نو اوس هیڅ تکرار نسته.

که له مسافر څخه اوبه هیرې سي او په تیمم لمونځ وکړي نو څه حکم دی؟

وَالْمُسَافِرُ إِذَا نَسِيَ الْمَاءَ فِي رَحْلِهِ او که له مسافر څخه په خپله کجاوه کې اوبه هیرې سي فَتَيَمَّمَ او تیمّم وکړي وَصَلّٰى اولمونځ وکړي ثُمَّ ذَكَرَ الْمَاءَ وروسته اوبه په یاد ورسي لَمْ يُعِدْهَا عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ نو د طرفینو په نیز به لمونځ نه راګرځوي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: يُعِيدُهَا او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې لمونځ به راګرځوي وَالْخِلَافُ فِيمَا او اختلاف په هغه صورت کې دی إِذَا وَضَعَهُ بِنَفْسِهِ چې اوبه ده په خپله ایښې وي أَوْ وَضَعَهُ غَيْرُهُ بِأَمْرِهِ یا بل چا د ده په حکم ایښې وي وَذِكْرُهُ فِي الْوَقْتِ وَبَعْدَهُ سَوَاءٌ او (د لمانځه) په وخت کې دننه د اوبو یادېدل یا تر وخت وروسته یادېدل (دواړه سره) برابر دي لَهُ: أَنَّهُ وَاجِدٌ لِلْمَاءِ د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې دا سړی د اوبو پیدا کونکی دی فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَ فِي رَحْلِهِ ثَوْبٌ نو دا (سړی) د هغه سړي په شان سو چې په کجاوه کې یې کالي (پراته) وي فَنَسِيَهُ خو هغه له ده څخه هېر سي (او په لغړه لمونځ وکړي) وَلِأَنَّ رَحْلَ الْمُسَافِرِ مَعْدَنٌ لِلْمَاءِ عَادَةً او په دې وجه هم چې د مسافر کجاوه په عامه توګه د اوبو ایښودلو ځای وي فَيُفْتَرَضُ الطَّلَبُ نو ځکه به د اوبو طلب کول (لټون کول) (پر ده) فرض وي وَلَهُمَا: أَنَّهُ لَا قُدْرَةَ بِدُونِ الْعِلْمِ او د طرفینو دلیل دا دی: چې له علم څخه بغیر قدرت نه حاصلیږي وَهُوَ الْمُرَادُ بِالْوُجُودِ او (د تیمّم په آیت کې) له وجود څخه مراد (هم) قدرت دی وَمَاءُ الرَّحْلِ مَعْدَنٌ لِلشُّرْبِ او د کجاوې اوبه دڅیښلو معدن دی (یعني د څیښلو لپاره ایښول کیږي) لَا لِلِاسْتِعْمَالِ نه د استعمال (اودس) لپاره وَمَسْأَلَةُ الثَّوْبِ عَلَى الِاخْتِلَافِ او د کالو (جامو) مسئله هم مختلف فیه ده وَلَوْ كَانَ عَلَى الِاتِّفَاقِ او که متفق علیه ومنل سي فَفَرْضُ السَّتْرِ يَفُوتُ لَا إِلٰى خَلَفٍ نو به هم د ستر فرض له خلیفه څخه بغیر فوت سي وَالطَّهَارَةُ بِالْمَاءِ تَفُوتُ إِلٰى خَلَفٍ او طهارت بالماء د خلیفه وطرف ته فوتیږي وَهُوَ التَّيَمُّمُ او خلیفه تیمّم دی.

● القول الراجح: قول الطرفين كذا في الدر المختار ج:١، ص:١٨٣، والخانية على هامش الهندية ج:١، ص:٦٣. [القول الراجح ج:١، ص:٣٣]

اللغات: ﴿رَحْل﴾ کجاوه. (کټوله)، له لښتو یا نورو څخه جوړه سوې اوږده ټوکرۍ چې پر اوښ یا بل سپرلۍ باندې د کښېښستلو لپاره ایښوول کیږي، او د سفر سامان هم پکښې ایښوول کیږي. ﴿مَعْدِن﴾ د یو شي د پیدا کېدلو اصلي ځای او سر چشمه، خزانه، بیخ.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که مسافر په تیمّم سره لمونځ وکړي، حال دا چې د ده په کجاوه کې اوبه وې، نو د دې مسئلې دوه صورتونه دي یا خو به ده ته د اوبو خبر وي. په دې توګه چې ده په خپله اوبه په کجاوه کې ایښې وي او یا بل سړي د ده په حکم سره ایښې وي، یا به ده ته د اوبو خبر نه وي په دې توګه چې بل سړي د ده له حکم څخه بغیر ایښې وي، که دویم صورت وو نو په اتفاق سره پر ده د لمانځه راګرځول واجب نه دي، ځکه چې یو انسان د بل انسان د فعل په وجه تر یو حکم نه لاندې کیږي، او که اول صورت وو یعني ده ته د اوبو علم وو، نو په دې صورت کې که ده دا ګومان کړی وو چې زما په کجاوه کې اوبه نسته، او په دغه ګومان کې یې تیمم او لمونځ کړی وو، حال دا چې د ده په کجاوه کې اوبه وې، نو په دې صورت کې بالاجماع تیمّم جائز نه دی، او پر ده د لمانځه راګرځول واجب دي، ځکه چې په دې صورت کې بې پروایي د ده له طرفه راغلې ده، او که د دې سړي په کجاوه کې د اوبو ایښوول هېر وه، او په تیمّم سره یې لمونځ وکړي، تر لمانځه وروسته په یاد ورغله چې په کجاوه کې خو اوبه وې، نو د طرفینو په نیز پر ده د لمانځه راګرځول واجب نه دي، او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چې پر ده یې راګرځول واجب دي، هغه که اوبه په خپل وخت کې په یاد ورغلې وي یا تر وخت وروسته، همدغه قول د امام شافعي رَحِمَهُ الله دی.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چې دا مسافر سړی په حقیقت کې د اوبو پیدا کونکی دی، (ځکه په کجاوه کې خو په حقیقت کې اوبه سته)، او تیمّم مشروع سوی دی د هغه سړي لپاره دی چې د هغه سره اوبه نه وي، حال دا چې د ده سره (په کجاوه کې) اوبه سته، نو ځکه به د ده تیمّم جائز نه وي، او دا مسئله داسې ده لکه په کجاوه کې چې پاکه جامه وي لېکن هغه له ده څخه هېره سي او لمونځ لغ وکړي، یا یې په ناپاکه جامه کې وکړي، نو د پاکې جامې تر یادېدلو وروسته پر دې سړي د لمانځه راګرځول واجب دي.

دویم دلیل: دا دی چې د مسافر کجاوه عادةً معدن وي، یعني په عامه توګه په کجاوه کې اوبه ایښوول کیږي، نو ځکه پر ده په کجاوه کې د اوبو لټول واجب وو، نو کله چې یې ده لټون ونه کړی نو معذور به نه شمېرل کیږي، او پر ده به د لمانځه راګرځول واجب وي.

د طرفینو دلیل: دا دی چې پر اوبو قادره کېدل بغیر له علم او خبر څخه نه سي کېدلای او د اوبو له پیدا کولو څخه همدغه مراد دی چې پر اوبو به ده ته قدرت حاصل وي، نو چې کله ده ته اوبه معلومې نه وي، نو د هغو پر استعمال یې قدرت هم نسته، او کله چې یې قدرت نسته، نو د اوبو پیدا کونکی نه سو، او د اوبو د نه پیدا کولو په صورت کې تیمّم جائز او لمونځ صحیح دی.

ومعدن الرحل الخ پاته سوه دا خبره چې د مسافر کجاوه د اوبو معدن او سرچشمه ده، نو د دې جواب دا دی چې په کجاوه کې په عامه توګه د چیښلو اوبه ایښوول کیږي، نه د اوداسه او غسل اوبه.

جواب: له ومسئلة الثوب... الخ څخه د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قیاس جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې د جامو په مسئله کې هم اختلاف سته، یعني د طرفینو په نیز چې کله جامې څني هېرې سوې وي نو لمونځ په لڅه یا په ناپاکه جامو کې کول صحیح دي، او د پاکو جامو د یادېدلو په وخت کې د لمانځه راګرځول واجب نه دي، او که دا ومنو هم چې د جامو په مسئله کې اتفاق دی، بیا هم د اوبو پر مسئله د جامو مسئله قیاسول صحیح نه دي، ځکه چې د دې دواړو په

مينځ کي فرق سته، فرق همدغه دی چي د بدن پټول يعني ستر فرض دي، که دا فرض ستر فوت سي نو د هغه هيڅ خليفه او بدل نسته، او که په اوبو سره دطهارت حاصلول فوت سي نو د هغه خليفه او بدل يعني تيمّم سته.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفينو يعني د امام صاحب او امام محمد رَحِمَهُمَا الله دی، لکه څرنګه چي علامه قاضي خان رَحِمَهُ الله په دې اړه ليکلي دي: أو فی رحله ماء ولم يعلم به فتيمّم فصلی جازت الصلاة فی قول أبي حنيفه و محمد رَحِمَهُمَا الله (للخانية علی هامشه الهنديه ج:۱، ص:۶۳). [القول الراجح ج:۱، ص:۳۴]

په صحراء(دښت) کي د لمانځه د جائزوالي او د غالب ګومان بيان

وَلَيْسَ عَلَى الْمُتَيَمِّمِ طَلَبُ الْمَاءِ او پر متيمّم (تيمّم وهونکي) باندي د اوبو لټون کول واجب نه دی إِذَا لَمْ يَغْلِبْ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّ بِقُرْبِهِ مَاءً تر څو چي د ده دا غالب ګومان نه وي چي ده ته نژدې (يو ځای) اوبه سته لِأَنَّ الْغَالِبَ عَدَمُ الْمَاءِ فِي الْفَلَوَاتِ ځکه چي په دښتونو (او صحراګانو) کي زياتره وخت اوبه نه وي وَلَا دَلِيلَ عَلَى الْوُجُودِ او د اوبو پر شتون (موجود والي) باندي هيڅ دليل (هم) نسته فَلَمْ يَكُنْ وَاجِدًا لِلْمَاءِ نو ځکه به متيمّم د اوبو پيدا کونکي نه وي وَإِنْ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّ هُنَاكَ مَاءً او که د ده غالب ګومان دا وو چي هلته اوبه سته لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَيَمَّمَ نو د ده لپاره (تر هغه وخته) تيمّم جائز نه دی حَتَّى يَطْلُبَهُ تر څو چي د هغو لټون ونه کړي لِأَنَّهُ وَاجِدٌ لِلْمَاءِ نَظَرًا إِلَى الدَّلِيلِ ځکه دليل ته په کتني سره دا سړی د اوبو پيدا کونکی دی ثُمَّ يَطْلُبُ مِقْدَارَ الْغَلْوَةِ بيا به د يوه غلوة په اندازه د اوبو لټون کوي (يعني يو نيم سل ۱۵۰ ګزه به د اوبو طلب کوي، [د اوسني وخت په ګز سره]) وَلَا يَبْلُغُ مِيلًا او تر يوه ميله پوري به نه ځي كَيْ لَا يَنْقَطِعَ عَنْ رُفْقَتِهِ چي له خپل ملګرو (انډيوالانو) څخه جلا نه سي.

اللغات: ﴿فلوات﴾ جمع ده، واحد يې فَلَاةٌ دی: بيابان، دښت، بيديا، ځنګل، ناآباده ځای ﴿غلوة﴾ د عبارت په آخر کي به يې تعريف وسي، ﴿رفقته﴾ جمع ده، واحد يې رَفِيقٌ دی: دوست، انډيوال، د لته مراد ځني د سفر ملګري دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که يو سړی په دښت او بيابان کي وو، اوبه ور سره نه وې، او د لمانځه وخت راغلی، نو اوس به هغه اودس کوي، که تيمّم، د هغه لپاره شرعًا کوم حکم دی؟ فرمايي چي: داسي سړی دي د خپل غالب ګومان مطابق فيصله وکړي او پر هغه دي عمل وکړي، که يې غالب ګومان دا وو چي د ده شا وخوا هيڅ ځای اوبه نسته نو د دې سړي لپاره دا حکم دی چي د اوبو په لټون دي شا وخوا نه ګرځي، بلکي تيمّم دي وکړي، ځکه چي په عامه توګه په صحراګانو کي اوبه نه وي، او د اوبو پر شتون باندي يو دليل هم نسته، نو به دا سړی پر اوبو قادره نه شمېرل کيږي او د ده لپاره به تيمّم صحيح وي.

ليکن که غالب ګومان يې دا وو چي دلته به شا وخوا يو ځای اوبه پيدا سي نو پر ده د اوبو لټون کول ضروري دي، او د اوبو تر لټون مخکي د ده لپاره تيمّم جائز نه دی، ځکه چي کله د ده غالب ګومان دا سو چي اوبه پيدا کيږي، نو دا د اوبو د شتون(وجود) دليل سو، نو د دې دليل پر بنياد دا سړی د اوبو پيدا کونکی بلل کيږي، او د اوبو د پيدا کونکي لپاره تيمّم جائز نه دی، نو ځکه به د ده لپاره هم تيمّم جائز نه وي.

بيا د دې سړي لپاره د يوه غلوة تر اندازې پوري لټون کول ضروري دي، او تر يوه ميله پوري به نه ځي، کنې له خپلو ملګرو څخه به ورک سي، او سرګردانه به پاته سي.

د غلوة اندازه څومره ده؟

د غشي د غورځولو له ځای څخه د غشي د لوېدولو تر ځايه پوري چي کومه فاصله وي، هغه ته غلوة ویل کیږي، په درمختار کي راغلي دي چي غلوة درې سوه لاسه کیږي، عبارت يې دا رنګه دی: (قدر غلوة) ثلاث مائة ذراع (رد المحتار: ١، ص: ٣٣). او یو لاس "نیم" ګز یعني ١٨ اینچه کیږي، نو په دې حساب سره ٣٠٠ لاسه ١٥٠ ګزه کیږي، یعني یو غلوة ١٥٠ ګزه کیږي، او د میټر (متر) په حساب غلوة ١٣٧,١٦ میټره کیږي.

د شرعي او انګریزي میل اندازه

میل پر دوه قسمه دی: ① شرعي ② انګریزي، شرعي میل څلور زره لاسه یعني دوه زره (٢٠٠٠) ګزه کیږي، د کېلو میټر (کېلو متر) په حساب سره ١,٦ کیلو متره کیږي (یعني یو اعشاریه شپږ کیلو متره کیږي) او (د متر امیټر) په حساب سره) ٦٩. ١٨٢٨ متره کیږي، او انګریزي میل ١٧٦٩ ګزه کیږي، نو انګریزي میل تر شرعي میل کوچنی دی، او دلته شرعي میل مراد دی.

که اوبه خرڅېدلې نو د تیمم د جواز حکم

وَإِنْ كَانَ مَعَ رَفِيقِهِ مَاءٌ او که د هغه د ملګري سره اوبه وي طَلَبَ مِنْهُ قَبْلَ أَنْ يَتَيَمَّمَ نو تر تیمم کولو مخکي دې له هغه څخه (اوبه) طلب کړي لِعَدَمِ الْمَنْعِ غَالِبًا ځکه چي په عامه توګه له اوبو (ورکولو) څخه انکار نه کیږي فَإِنْ مَنَعَهُ مِنْهُ لېکن که هغه يې له ورکولو څخه انکار وکړی تَيَمَّمَ نو تیمم دي وکړي لِتَحَقُّقِ الْعَجْزِ ځکه چي (اوس) عاجزي ثابته سوه وَلَوْ تَيَمَّمَ قَبْلَ الطَّلَبِ او که تر طلب کولو مخکي يې تیمم وکړی أَجْزَأَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز جائز دي لِأَنَّهُ لَا يَلْزَمُهُ الطَّلَبُ مِنْ مِلْكِ الْغَيْرِ ځکه چي پر هغه د بل له ملکیت څخه طلب کول (غوښتل) لازم نه دي وَقَالَا: لَا يُجْزِئُهُ او صاحبین فرمايي: چي جائز نه دي لِأَنَّ الْمَاءَ مَبْذُولٌ عَادَةً* ځکه چي په عامه توګه اوبه (بې له قیمته) ورکول کیږي وَلَوْ أَبَى أَنْ يُعْطِيَهُ او که (د سفر ملګري) له اوبو له ورکولو څخه انکار وکړی إِلَّا بِثَمَنِ الْمِثْلِ مګر د ثمنِ مثل (عام نرخ) په عوض وَعِنْدَهُ ثَمَنُهُ او د هغه سره ثمنِ مثل وي لَا يُجْزِئُهُ التَّيَمُّمُ نو (بیا) د هغه لپاره تیمم کول جائز نه دي لِتَحَقُّقِ الْقُدْرَةِ ځکه چي قدرت ثابت سو وَلَا يَلْزَمُهُ تَحَمُّلُ الْغَبْنِ الْفَاحِشِ لېکن د هغه لپاره د غبنِ فاحش زغمل ضرور نه دي لِأَنَّ الضَّرَرَ مُسْقِطٌ ځکه چي تاوان (ضرر) ساقط سوی دی.

اللغات: ﴿أَجْزَأَ﴾ د افعال د باب ماضي صیغه ده: کافي کېدل، پوره کېدل. ﴿مَبْذُولٌ﴾ د نصر د باب اسم مفعول دی، بَذَلَ يَبْذُلُ: په رضا او خوښي ورکول، په خوښي خرڅول. ﴿الْغَبْنِ الْفَاحِشِ﴾ غټ تاوان، ښکاره تاوان.

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړی په سفر کي وو، او د اودس کولو لپاره د ده سره اوبه نه ولې، خو د ده د ملګري سره ولې، نو اوس د دې سړي لپاره حکم دا دی چي خپل له ملګري څخه دي اوبه وغواړي، که هغه ورکړې نو اودس دي په وکړي،

* القول الراجح: هو ظاهر الرواية أي وجوب السوال من الرفيق، كذا في الدر المختار ج:١، ص:١٨٣، و رد المحتار ج:١، ص:١٨٣، و فتح القدير ج:١، ص:١٣٩. [القول الراجح، ج:١، ص:٣٦]

که يې نه ورکړې، نو بيا دي تيمّم وکړي، ځکه چې د نه ورکولو په وجه پر اوبو د نه قادره کېدلو عجز په حقيقت کې ثابت سو، نو ځکه اوس د ده لپاره تيمّم کول صحيح او جائز دي، لېکن تر غوښتولو مخکې تيمّم کول مناسب نه دي، ځکه چې په عامه توګه د اوبو له ورکړې څخه انکار نه کېږي.

ولويتمم...الخ فرمايي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که دا سړی له اوبو غوښتولو څخه بغير تيمّم وکړي او لمونځ وکړي نو هم څه خبره نه ده، ځکه چې اوبه د بل په قبضه کې دي او له بل څخه غوښتنه پر ده لازم نه ده، بيا دا چې په سوال کولو او غوښتولو کې ذلت او سپکاوی هم دی، نو په دې وجه هم غوښتل مناسب نه دي.

صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې دی به خامخا اوبه څنې غواړي، که بغير له غوښتولو څخه تيمّم او لمونځ وکړي نو دا جائز نه دي، ځکه چې زياتره وختونه مورږ ليدلي دي چې خلک د اوبو په ورکولو کې هيڅ ستونزه نه محسوسي او نه يې له ورکولو څخه انکار کوي، نو ځکه د دې سړي لپاره اوبه غوښتل ضروري دي.

ولو أبى...الخ د دې حاصل دا دی چې که د سفر د ملګري سره اوبه ولې خو هغه موتي (بې له پيسو) نه ورکولې، بلکې پيسې يې غوښتې، نو په دې صورت کې حکم دا دی چې که هغه ملګری يې اوبه په ثمنِ مثل (عام ربې) يا له دې څخه په کم (ربې) باندې ورکولې، او د دې سړي سره د ثمنِ مثل په اندازه پيسې هم ولې، نو هم د دې سړي لپاره تيمّم جائز نه دی، بلکې د ده لپاره اوبه رانيول او اودس کول ضروري دي، ځکه کله چې د دې سړي سره د اوبو رانيولو لپاره پيسې سته، نو دی اوس هم پر اوبو قادره دی، او د قدرت على الماء په صورت کې تيمّم جائز نه دی، نو ځکه به دلته هم تيمّم جائز نه وي.

لېکن که د ده ملګري له ثمنِ مثل څخه په زيات قيمت اوبه خرڅولې، نو په صورت کې د ده لپاره تيمّم جائز دی، ځکه چې له ثمنِ مثل څخه په زيات قيمت باندې اوبه رانيول ضرر او تاوان دی، حال دا چې د تيمّم مشروعيت د ضرر د مخنيوي لپاره سوی دی.

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول ظاهرُ الرواية دی، يعني د سفر له ملګري څخه د اوبو غوښتنه کول واجب دي، قال العلامة اكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: و قال في المبسوط و إن كان مع رفيقه ماء فعليه ان يسئله (العنايه ج:١، ص:٢٥).
[القول الراجح ج:١، ص:٣۶]



بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

(دا) باب پر موزو د مسح کولو (په بیان کې) دی

تشریح: تر دې مخکې صاحب د کتاب د تیمّم احکام بیان کړل، اوس د مسح على الخفين (پر موزو د مسح کولو) احکام بیانوي، په دې مناسبت چې ① په دواړو کې طهارت په مسح کولو سره پوره کیږي، (یعني په تیمم کې پر مخ او لاسو مسح کیږي، او په دې کې پر موزو مسح کیږي) ② یا په دې وجه چې دواړه د غسل (پرېوللو) بدل دي، لکه څرنګه چې مسح على الخفين د غسل رجلين بدل دی، او تیمّم د اوداسه بدل دی، ③ یا په دې وجه چې تیمّم او مسح على الخفين دواړه رخصت مؤقته دي، او په دوی سره په عارضي توګه پاکي حاصلیږي. (عنايه ج:١، ص:١۴۶، بنايه ج:١، ص:١۵٣)

تیمّم له مسح على الخفين څخه ولې مخکې کړی سو؟: پاته سوه دا خبره چې تیمّم له مسح على الخفين څخه ولې مخکې کړی سو، نو د دې څو وجهې دي:

① صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله دا وجه ذکر کړې ده چې مسح على الخفين صرف د غسلِ رجلين بدل دی، او تیمّم د ټوله اوداسه بدل دی، نو په کوم یوه کې چې پوره بدلیّت وو هغه یې مخکې بیان کړی، او په کوم یوه کې چې د بعضیت په اعتبار سره بدلیت وو، هغه یې وروسته بیان کړی.

② دویمه وجه دا ده چې تیمّم په کتاب او سنت دواړو سره ثابت دی او مسح صرف په سنّت سره ثابته ده.

③ دریمه وجه دا هم ده چې په تیمّم سره حاصلېدونکی طهارت د مسح على الخفين په مقابله کې ډېر پراخ (وسیع) او بشپړ دی، په دې معنیٰ چې تیمّم د حدث اکبر او حدث اصغر دواړو لپاره مُطهّر دی، لېکن مسح على الخفين خو د حدث اکبر لپاره لا څه کوې! د حدث اصغر لپاره هم په بشپړه توګه مُطهّر نه دی، بلکې د حدث اصغر د یو جزء یعني د رجلين (پښو) لپاره صرف مُطهّر دی، نو په دې وجه یې هم د تیمّم بیان مخکې کړی.

د مسح على الخفين مشروعیت: د مسح على الخفين مشروعیت په مشهوره حدیثونو سره ثابت دی، او د هغو ثبوت دومره قوي دی چې ګڼو صحابه کرامو د هغو روایت کړی دی، لکه څرنګه چې حضرت صدیق اکبر، حضرت عمر فاروق، حضرت علي، حضرت ابن عباس، حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په او نورو ګڼو صحابه کرامو به فقط دا نهٔ چې مسح على الخفين جائز ګڼله بلکې پر هغه به یې عمل هم کوی.

د مسح د مشروعیت په لړ کې علامه ابو الفضل احمد بن علي عسقلاني رَحِمَهُ الله په الدراية في تخريج أحاديث الهداية کې تقریباً ۲۶ حدیثونه بیان کړي دي، چې له هغو څخه یو څو موږ را نقل کوو:

① عن بلال رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم توضأ ومسح على الخفين والخمار. (په حواله د مسلم شريف)

② عن عمرو ابن أمية أنه رأى النبي صلى الله عليه وسلم يمسح على الخفين. (بخاري شريف)

③ عن علي رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم جعل للمقيم يومًا وليلةً وللمسافر ثلاثة أيام ولياليها. (مسلم شريف)

④ عن عائشة رضي الله عنها قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأمرنا أن نمسح على الخفين يومًا وليلة للمقيم وللمسافر ثلثة. (نسائي. دارقطني)

دغه او د دې په بوك نور روايتونه د دې خبري ښكاره او بيّن ثبوت دئ چي مسح على الخفين جائزه او ثابته ده، او د مقيم او مسافر لپاره په ترتيب سره ترپوې ورځي او شپې او تر درې ورځو او شپو پورې د مسح كولو گنجايش سته.

صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله د حضرت امام اعظم رَحِمَهُ الله دا قول هم را نقل كړى دى چي: ما قلتُ بالمسح حتى جاءني فيه مثل ضوء النهار. ژباړه: يعني كله چي ما د مسح على الخفين په باره كي د ورځي د ځلا او رڼا په بوك ځرگنده روايتونه وليدل، نو بيا زه د مسح على الخفين قائل شوم. له حضرت امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه دا روايت هم سوى چي يوه سړي له ده څخه د اهل السنة والجماعت د مذهب په باره كي پوښتنه وكړه، نو امام اعظم رَحِمَهُ الله دا جواب وركړى چي: أن يُفضِّلَ الشَّيخَيْنِ وَ يُحِبَّ الخَتَنَيْنِ و يَرى المَسْحَ عَلى الخُفَّيْنِ. ژباړه: كوم چي سړى شيخين يعني حضرت صديق اكبر ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ له ټولو صحابه وو څخه افضل او غوره وگڼي، او د نبي ﷺ د دواړو زومانو يعني د حضرت عثمان ﷺ او د حضرت علي ﷺ سره مينه ولري، همدارنگه مسح على الخفين جائز وگڼي نو هغه له اهل السنة والجماعت څخه دى.

د مسح لغوي او اصطلاحي معنى: د مَسْح لغوي معنىٰ ده: إمرار اليد على شيئ، يعني پر يو شي لاس تېرول.

او د مَسْح اصطلاحي معنىٰ ده: إصابة اليد العضو. يعني يو اندام په لاس مسه كول (يعني لاس پر تېرول)

نو د مسح على الخفين معنى ده: إصابةُ اليدِ المُبتَلَّةِ الخُفَّ المَلبُوسَ. (پر اغوستل سوو موزو باندي لوند لاس تېرول).

پر موزو د مسح كولو شرعي حيثيت

اَلْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ جَائِزٌ بِالسُّنَّةِ پر موزو باندي مسح د حديث په روى سره جائز ده وَالْأَخْبَارُ فِيْهِ مُسْتَفِيْضَةٌ او په دې باره كي حديثونه مشهوره دي (يعني په دې باره كي مشهوره حديثونه سته) حَتّٰى قِيْلَ: اِنَّ مَنْ لَمْ يَرَهُ تر دې چي ويل سوي دي: چا چي مسح على الخفين جائز نه وگڼل كَانَ مُبْتَدِعًا (نو) هغه بدعتي دى لٰكِنَّ مَنْ رَآهُ لېكن چا چي جائز وگڼل ثُمَّ لَمْ يَمْسَحْ آخِذًا بِالْعَزِيْمَةِ (او) بيا يې پر عزيمت د عمل كولو په وجه مسح نه وكړه كَانَ مَأْجُوْرًا هغه ته به ثواب (أجر) وركول كيږي.

اللغات: ﴿مُسْتَفِيْضَةٌ﴾ د استفعال د باب اسم فاعل مؤنث دى. اِسْتَفَاضَ يَسْتَفِيْضُ: نشر كېدل، خورېدل، مشهوره كېدل.

﴿مُبْتَدِعًا﴾ د افتعال د باب اسم فاعل دى. اِبْتَدَعَ يَبْتَدِعُ: بدعتي كېدل.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله وايي چي پر موزو د مسح كولو جواز له سنت څخه ثابت دى، او په دې باره كي قولي او فعلي ډېر مشهوره حديثونه سته. نو ځكه شيخ الاسلام خواهر زاده رَحِمَهُ الله تر دې اندازې پوري ويلي دي چي كه يو شوك د مسح على الخفين د جواز اعتقاد نه لري او انكار ځني كوي. نو هغه كم بخته بدعتي دى. او له حق دين څخه منحرفه دى. (او صرف شېگان له دې څخه انكار كوي).

لېكن كوم سړى چي مسح على الخفين جائز گڼي، لېكن مسح نه كوي، پر عزيمت عمل كوي. او د رخصت په ځايونو كي هم پښې پرېولي. نو هغه پر حق دين قائم دى، او د الله له سپېڅلي ذات څخه اُميد دى چي هغه ته به ثواب ورسيږي. ځكه چي د رخصت په مقابله كي په عزيمت باندي عمل كول أفضل او غوره دي.

صاحب د عین الهدایه لیکلي دي چې که یو چا ته د مسح نه کولو په وجه د خارجي یا رافضي شبه (او نسبت) کېدی، نو د هغه لپاره مسح کول أفضله دي.

د بې اودسه (محدث) لپاره پر موزو مسح کول جائز دي

وَيَجُوزُ مِنْ كُلِّ حَدَثٍ مُوجِبٍ لِلْوُضُوءِ او مسح على الخفين له هر هغه حدث څخه جائز ده چې هغه د اودس واجبونکی وي إِذَا لَبِسَهُمَا عَلَى طَهَارَةٍ كَامِلَةٍ خو په دې شرط چې دواړه (موزې) يې په پوره طهارت اغوستي وي ثُمَّ أَحْدَثَ او بيا بې اودسه سوی وي خَصَّهُ بِحَدَثٍ مُوجِبٍ لِلْوُضُوءِ امام قدوري رَحِمَهُ الله مسح على الخفين (په دې وجه) د داسې حدث سره خاص کړې ده چې هغه د اودس واجبونکي وي لِأَنَّهُ لَا مَسْحَ مِنَ الْجَنَابَةِ ځکه چې له جنابت څخه مسح کول جائز نه دي عَلَى مَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى لکه څرنګه چې به موږ (وروسته) د دې بيان انشاء الله وکړو وَبِحَدَثٍ مُتَأَخِّرٍ او (همدارنګه يې په دې وجه) د داسې حدث سره خاص کړې ده چې وروسته واقع سوی وي لِأَنَّ الْخُفَّ عُهِدَ مَانِعًا ځکه چې موزه مانع پېژندل سوې ده وَلَوْ جَوَّزْنَاهُ بِحَدَثٍ سَابِقٍ او که موږ مسح له مخکني حدث څخه جائز وګرځوو كَالْمُسْتَحَاضَةِ إِذَا لَبِسَتْ لکه مستحاضه ښځه چې موزه په پښو کړي ثُمَّ خَرَجَ الْوَقْتُ او بيا وخت ووځي وَالْمُتَيَمِّمِ إِذَا لَبِسَ او متيمّم (تيمّم وهونکي) چې کله موزه په پښو کړي ثُمَّ رَأَى الْمَاءَ او بيا اوبه ووني كَانَ رَافِعًا نو موزه به پورته کونکې (د حدث) وي وَقَوْلُهُ إِذَا لَبِسَهُمَا عَلَى طَهَارَةٍ كَامِلَةٍ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول چې: إذا لبسهما على طهارة كاملة (يعني په دې شرط چې دواړه موزې به يې په پوره طهارت په پښو کړي وي) لَا يُفِيدُ اشْتِرَاطَ الْكَمَالِ وَقْتَ اللُّبْسِ نو (دا قول) د موزو د په پښو کولو په وخت کې د کمال طهارت (يعني د پوره پاکوالي) د شرطيت فايده نه ورکوي بَلْ وَقْتَ الْحَدَثِ بلکې د حدث په وخت کې (د کمال طهارت فايده ورکوي) وَهُوَ الْمَذْهَبُ عِنْدَنَا او دا زموږ مذهب هم دی حَتَّى لَوْ غَسَلَ رِجْلَيْهِ تر دې که يو څوک (مخکې) دواړه پښې پرېولې وَلَبِسَ خُفَّيْهِ او دواړې موزې په پښو کړي ثُمَّ أَكْمَلَ الطَّهَارَةَ او بيا پاته اودس پوره کړي ثُمَّ أَحْدَثَ (او) بيا بې اودسه سي يُجْزِئُهُ الْمَسْحُ نو د هغه لپاره پر موزو مسح کول جائز دي وَهَذَا لِأَنَّ الْخُفَّ مَانِعٌ حُلُولَ الْحَدَثِ بِالْقَدَمِ او دا حکم په دې وجه دی چې موزه پښو ته د حدث له ورننوتلو (حلول) څخه مانع ده فَيُرَاعَى كَمَالُ الطَّهَارَةِ وَقْتَ الْمَنْعِ نو د منع په وخت کې به د پوره طهارت (کمال طهارت) خيال ساتل کيږي حَتَّى لَوْ كَانَتْ نَاقِصَةً عِنْدَ ذَلِكَ تر دې که د حدث د حلول په وخت کې طهارت ناقص وو كَانَ الْخُفُّ رَافِعًا نو موزه به پورته کونکې (د حدث) وي.

اللغات: ﴿لَبِسَ﴾ د سمع د باب ماضي ده: اغوستل، ﴿الْمُسْتَحَاضَةُ﴾ داسې ښځه چې د متيازو تر لارې يې د حيض له ورځو څخه علاوه نورې وينې (هم) راځي، ﴿الْحُلُولُ﴾ د نصر د باب مصدر دی، حَلَّ يَحُلُّ: پراو کول، حل کېدل، ننوتل، شوه کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د بې اوداسه لپاره پر موزو مسح کول جائز دی، هغه که نارینه بې اودسه وي او که ښځه بې اودسه وي، خو په هغه صورت کې چې دواړې موزې په اوداسه په پښو کړي وي، او پر کوم سړي چې غسل واجب وي، د هغه لپاره پر موزو مسح کول جائز نه دي، امام قدوري رَحِمَهُ الله د مسح على الخفين جواز د دوو خبر سره خاص کړی دی، یوه دا چې مسح علی الخفین له هغه حدث څخه جائز ده چې په هغه سره اودس واجبیږي، یعني حدث اصغر، او دویمه خبره دا ده چې دا حدث به تر اودس کولو او تر موزې په پښو کولو وروسته راغلی وي، ځکه چې موزه خو حدث له سرایت کولو څخه منع کوي، لېکن حدث نه لیري کوي، حدث خو اوبه او داسې نور مُطَهِّر شیان لیري کوي، او مسح د تطهیر (پاکولو) له صفت څخه خالي ده.

لأن الخف عهد الخ فرمایي چې مسح علی الخفین حدث منع کوي او لیري کوي يې نه (یعني مسح علی الخفین مانع د حدث ده، رافع د حدث نه ده)، نو که پر سابق (مخکني) حدث باندې د مسح کولو اجازه ورکول سي نو دا مسح به مانع نه سي، بلکې رافع به سي، او په مسح کې خو د منع صلاحیت سته، لېکن د رفع صلاحیت نسته. د مثال په توګه حائضې ښځې موزې په پښو کړې، او وروسته تر دې يې اودس وکړی او بیا وخت ووتی، یا متیمّم موزې په پښو کړې او وروسته تر هغه پر اوبو قادره سو، نو اوس د دې دواړو لپاره د مسح علی الخفین اجازه نسته، ځکه چې د مستحاضې په حق کې د وخت په وتولو سره او د متیمّم په حق کې د اوبو په لیدلو سره دا خبره ښکاره سوه چې مخکنی حدث راغلی. او کله چې مخکني حدث راغلی، نو ښکاره ده چې اوس مسح علی الخفین هیڅ فایده نه کوي، ځکه چې موږ مخکې هم ذکر کړه چې مسح علی الخفین رافع د حدث نه ده، نو اوس به مستحاضه ښځه او متیمم دواړه دوباره پښې پرېولي، او مسح به نه کوي.

او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول إذا لبسهما على طهارة كاملة د دې خبرې فایده نه ورکوي چې د موزې د په پښو کولو په وخت کې طهارت کامله شرط دی، بلکې د دې خبرې فایده ورکوي چې د حدث په وخت کې طهارت کامله ضروري دی، او همدغه زموږ مذهب دی، نو که یو سړي مخکې خپلې پښې پرېولې، او موزې يې په پښو کړې. بیا يې پاته اودس پوره کړی، خو تر اودس پوره کولو وروسته يې اودس مات سو، نو د هغه لپاره پر موزو مسح کول جائز دي. ځکه په دې صورت کې د موزو د په پښو کولو په وخت کې که څه هم طهارت کامله نه وو، خو د حدث (بې اودسی) په وخت کې طهارت کامله سته، دلیل يې دا دی چې موزه حدث منع کوي له دې څخه چې په پښو کې حلول وکړي. نو ځکه به د منع په وخت کې د طهارت کامله خیال ساتل کیږي، او که په دې وخت کې طهارت کامله نه وو. بلکې ناقصه وو. نو مسح علی الخفین به هم جائز نه وي، ځکه که په دې صورت کې مسح جائز سي نو د طهارت کامله د نشتوالي په وجه به موزه رافع د حدث سي، حال دا چې موزه رافع د حدث نه ده، بلکې مانع د حدث ده.

د مقیم او مسافر لپاره د مسحې موده

وَيَجُوزُ لِلْمُقِيمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً او د مقیم لپاره یوه ورځ او یوه شپه مسح کول جائز دي **وَلِلْمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا** او د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې (مسح کول جائز دي) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي يَمْسَحُ الْمُقِيمُ يَوْمًا وَلَيْلَةً وَالْمُسَافِرُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا (چې) مقیم به یوه ورځ او یوه شپه او مسافر به درې ورځې او درې شپې مسح کوي.

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الطهارة، باب التوقيت في المسح على الخفين، حديث رقم:٦٣٩، و ابو داؤد في كتاب الطهارة، باب التوقيت في المسح حديث رقم:١٥٧.

اللغات: ﴿أَيَّام﴾ جمع د يَوْمٌ ده: ورځ، ﴿لَيَالِيَهَا﴾ لَيَالِيُ جمع د لَيْلَةٌ ده: شپه.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله د حديث په الفاظو سره د مقيم او مسافر لپاره د مسحې موده بيان کړې ده، چې هغه بالکل ښکاره ده، ليکن په دې ځای کې عربي شارحينو د امام مالک رَحِمَهُ الله له مسلک څخه هم بحث کړی دی چې خلاصه يې دا ده:

د امام مالک مسلک: امام مالک رَحِمَهُ الله د مقيم لپاره د نه ضرورت(عدمِ ضرورت) په وجه د مسح اجازه نه ورکوي، او د مسافر لپاره د حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه د يو حديث په وجه تر غير مؤقت وخت پورې د مسح اجازه ورکوي، د عمار بن ياسر رضي الله عنه حديث دا دی: قال: قلتُ يا رسول الله أأمسح على الخفين يومًا. قال: نعم. فقلت يومين. فقال: نعم. حتى انهيت إلى سبعة أيام فقال ﷺ: إذا كنت في سفر فامسح ما بدا لك. (حضرت عمار رضي الله عنه فرمايي چې: ما ووېل اې د الله رسوله(ﷺ)! آيا زه يوه ورځ پر موزو مسح کوم، نبي ﷺ وفرمايل: هو!، بيا ما ووېل دوې ورځې، نبي ﷺ وفرمايل: هو!، تر دې چې(ما ورځې زياتولې) تر اوو(۷) ورځو پورې را ورسېدم، نو نبي ﷺ وفرمايل: کله چې ته په سفر کې يې، نو تر څو چې وغواړې مسح کوه)، له دې حديث څخه معلومه سوه چې د مسافر په حق کې د مسحې لپاره هيڅ موده تاکل سوې نه ده.

اول جواب: موږ خپل له طرفه امام مالک رَحِمَهُ الله ته اول جواب دا ورکوو چې د مقيم او مسافر په باره کې ستا بيان سوی مسلک زموږ په ذکر سوي حديث سره باطل دی، ځکه چې زموږ په حديث کې په ښکاره توګه د مقيم او مسافر دواړو لپاره مسح جائز ګرځول سوې ده، او د هر يوه لپاره جلا موده ټاکل سوې ده.

دويم جواب: دا دی چې د دې حديث په باره کې امام بخاري رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا حديث مجهول دی، امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د دې رجال غير معروف يعني مشهور نه دي، د امام ابو داؤد رَحِمَهُ الله تبصره دا ده چې د دې په سند کې اختلاف دی، وقال الدار قطني إسناده لايثبت، وقال يحيى بن معين إسناده مضطرب.(عنايه ج:۱، ص:۱۵۰، بنايه ج:۱، ص:۵۶۶)

لهذا کله چې د دې حديث په باره کې دومره اختلاف دی، نو په دې سره د دليل نيولو څه ضرورت سته. همدارنګه د دې مختلف فيه او شاذ حديث په وجه مشهوره حديثونه نه سي پرېښوول کېدلای.

مسح به له کوم وخت څخه شروع کيږي؟

قَالَ: وَابْتِدَاؤُهَا عَقِيْبَ الْحَدَثِ فرمايي: چې د مسحې د مودې شروع به تر حدث وروسته وي لِأَنَّ الْخُفَّ مَانِعٌ سِرَايَةَ الْحَدَثِ ځکه چې موزه د حدث له سرايت کولو څخه منع کونکې ده فَتُعْتَبَرُ الْمُدَّةُ مِنْ وَقْتِ الْمَنْعِ نو ځکه به د دې موده د منع له وخت څخه معتبره وي.

اللغات: ﴿عقيب﴾ وروسته. ﴿سراية﴾ د ضرب مصدر دی: ننوتل. داخلېدل.

تشريح: د مسحې موده له کوم وخت څخه شروع کيږي. په دې باره کې د علماؤ اختلاف دی:

د عامو علماؤ مذهب دا دی چې د مسحې موده د حدث له وخت څخه شروع کيږي، او د حسن بصري رَحِمَهُ الله په نيز د موزو د په پښو کولو له وخت څخه شروع کيږي. او د امام اوزاعي. ابو ثور او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نيز پر موزو د مسح کولو له وخت څخه د مسحې موده شروع کيږي.

ثمره د اختلاف: ثمره د اختلاف په دې مثال کې ښکاره کيږي چې که يوه سړي د سهار (طلوعِ فجر) په وخت کې اودس وکړی او موزې يې په پښو کړې، بيا يې د لمر راختلو (طلوعِ شمس) په وخت کې اودس مات سو، بيا يې تر زوال وروسته اودس وکړی او پر موزو يې مسح وکړه، نو د عامو علماؤ مذهب دا دی چې د سبا ورځې تر طلوعِ شمس پورې دي مسح کوي، او د حسن بصري مذهب دا دی چې د سبا ورځې تر طلوعِ فجر پورې دي مسح کوي. او د امام اوزاعي او نورو مذهب دا دی چې د سبا ورځې تر زوال وروسته پورې دي مسح کوي.

دلائل: د حسن بصري رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د مسحې جواز د موزې اغوستلو په وجه دی. نو ځکه به د مسح ابتداء هم د موزې د اغوستلو له وخت څخه کيږي، د امام اوزاعي رَحِمَهُ الله او نورو دليل دا دی چې د مسحې د مودې مقدار د مسحې په وجه دی، نو ځکه به د مسحې د مودې شروع د مسح کولو له وخت څخه معتبره وي، او د عامو علماؤ دليل دا دی چې موزه د حدث له سرايت کولو څخه منع کونکې ده (يعني حدث نه پرېږدي چې پښو ته سرايت وکړي او ور ننه سي)، نو د مودې اعتبار به له هغه وخته څخه کيږي، له کومه وخته چې موزې حدث له سرايت کولو څخه منع کړی دی. او دا وخت له حدث څخه وروسته شروع کيږي ځکه چې تر دې مخکې طهارت وو. نو ځکه به د مسحې د مودې شروع له حدث څخه وروسته معتبره وي.

د مسحې سُنَّت طريقه

وَالْمَسْحُ عَلَى ظَاهِرِهِمَا او مسح به د دواړو موزو پر ښکاره حصه وي خُطُوْطًا بِالْأَصَابِعِ په داسي حال کي چي په ګوتو سره ليکې (کرښې) جوړې سي يَبْدَأُ مِنْ قِبَلِ الْأَصَابِعِ إِلَى السَّاقِ او (مسح کونکي به) د (پښو) له ګوتو څخه (مسح) شروع کوي د پنډۍ و طرف ته (يعني: مسح کونکي دي د پښو پر ظاهري حصه ګوتې را کش کړي. او مسح دي د پښو له ګوتو څخه شروع کړي تر پنډۍ پورې) لِحَدِيْثِ مُغِيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مغيره بن شعبه ﷺ د حديث په وجه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ• وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى خُفَّيْهِ چي نبي ﷺ خپل دواړه لاسونه په خپلو دواړو موزو باندي کېښېښول وَمَدَّهُمَا مِنَ الْأَصَابِعِ إِلَى أَعْلَاهُمَا او د ګوتو له سرونو څخه يې و لوړ طرف ته کش کړل مَسْحَةً وَاحِدَةً او (دغه ډول يې) يو وار مسح وکړه وَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى أَثَرِ الْمَسْحِ عَلَى خُفِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ګواکي زه د مسحې اثر د نبي ﷺ پر موزو باندي (اوس هم) وينم خُطُوطًا بِالْأَصَابِعِ په داسي حال کي چي پر هغو د ګوتو کرښې جوړې سوي دي ثُمَّ الْمَسْحُ عَلَى الظَّاهِرِ حَتْمٌ (او) بيا پر ښکاره د موزو باندي مسح کول ضروري دي حَتَّى لَا يَجُوْزَ عَلَى بَاطِنِ الْخُفِّ وَعَقِبِهِ وَسَاقِهِ تر دې چي د موزو پر باطن او پر پونده او پر پنډۍ باندي مسح کول جائز نه دي لِأَنَّهُ مَعْدُوْلٌ بِهِ عَنِ الْقِيَاسِ ځکه چي دا (طريقه) له قياس څخه خلاف ده فَيُرَاعَىٰ فِيْهِ جَمِيْعُ مَا وَرَدَ بِهِ الشَّرْعُ نو په مسح کي چي د کومو طريقو په باره کي شريعت وارد سوی وي د هغو ټولو خيال به ساتل کيږي وَالْبِدَايَةُ مِنَ الْأَصَابِعِ اسْتِحْبَابٌ اعْتِبَارًا بِالْأَصْلِ او پر اصل باندي د قياسولو په وجه د ګوتو (له سرونو) څخه شروع کول مستحب دي. وَهُوَ الْغُسْلُ او دا أصل نو غسل (يعني

• تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى في كتاب الطهارات، باب الإختصار بالمسح على ظاهر الخفين، حديث رقم: ۱۳۸۵. وابن ماجه في السنن بمعناه، حديث رقم: ۵۵۱.

پرېوتلل) دي وَفَرْضُ ذٰلِكَ مِقْدَارُ ثَلَاثِ أَصَابِعَ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ او د مسحې فرض اندازه د لاس له ګوتو څخه د درې ګوتو اندازه ده وَقَالَ الْكَرْخِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى: مِنْ أَصَابِعِ الرِّجْلِ او امام کرخي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د پښو له ګوتو څخه (د درې ګوتو اندازه ده) وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ اِعْتِبَارًا لِآلَةِ الْمَسْحِ او لومړی قول ډېر صحيح دی د مسح د آلې د اعتبار کولو په وجه.

اللغات: ﴿الخطوط﴾ جمع ده، واحد يې خط دی: کرښه، ليکه، او دلته د خطوطا معنی ده: د کرښې په ډول راکشول. ﴿ساق﴾ پنډۍ، ﴿أصابع﴾ جمع ده، واحد يې إصبع دی: ګوته، ﴿حتم﴾ ضروري، لازمي، ﴿عقب﴾ پونده، شاتنۍ حصه، ﴿رجل﴾ پښه.

تشريح: په دې عبارت کې د مسحې ځای او د مسحې طريقه دواړه بيان سوي دي، نو د مسحې د ځای په باره کې فرمايي چې مسح به د موزو پر بښکاره برخه وي، همدغه ځای شرعاً معتبر دی.

د مسحې طريقه: د مسحې طريقه دا ده چې د لاس ګوتې دې د پښو د ګوتو پر سرونو کښېږدي، او لوړ يعني د پنډۍ و طرف ته دې ګوتې را کش کړي، او په داسې توګه دې يې راکش کړي چې پر موزو باندې د ګوتو کرښې (نښانونه) جوړې سي، د مسح علی الخفين همدغه طريقه سنت ده، او د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه په حديث کې (کوم چې په کتاب کې ذکر سو) همدغه طريقه بيان سوې ده، لکه څرنګه چې د حضرت مغيره رضي الله عنه د ستر ګو ليدلی بيان دا دی چې ما نبي ﷺ وليدی چې پر خپلو موزو يې لاسونه کښېښول او د ګوتو د سرونو له طرف څخه يې لوړ کش کړل، او ما دا وليدله چې د دوی ﷺ پر موزو باندې د کرښو په ډول نښې جوړې سوې.

ثم المسح الخ فرمايي چې د موزو پر بښکاره باندې مسح کول واجب او ضروري دي، او دغه مسح شرعاً معتبره هم ده. همدغه وجه ده که يو سړی د موزو پر لاندې حصه (تلي) باندې مسح وکړي، يا د موزو پر پونده يا پنډۍ باندې مسح وکړي نو د هغه دا مسح جائز نه ده، ځکه د موزو د مسحې چې کومه طريقه را نقل سوې ده، هغه له قياس څخه خلاف ده. ځکه د قياس تقاضا خو دا وه چې انسان د موزو پر لاندې حصه (يعني پر تلي) باندې مسح کولای، ځکه چې د موزو پر لاندې حصه باندې ګرز، خيرې او داسې نور مبتلي، نو په دې حواله سره خو عقلاً او قياساً د لاندې حصې مسح کول پکار وو، لکه څرنګه چې د حضرت علي رضي الله عنه فرمان هم د دې تائيد کوي چې: لو كان الدين بالرأي لكان باطن الخف أولى بالمسح من ظاهره، ولكني رأيت رسول الله ﷺ يمسح على ظاهر الخفين دون باطنهما. (که دين په عقل او رايه باندې موقوف وای نو د موزې پر تلي (لاندې حصه) به مسح کول اولیٰ او غوره وای په نسبت د موزې و بښکاره ته، لېکن ما رسول الله ﷺ د موزو پر بښکاره باندې مسح کونکی ليدلی دی نه پر تلي).

نو له دې څخه هم معلومه سوه چې د موزې پر بښکاره مسح کول له قياس څخه خلاف دي، لنډه دا چې کله د موزو پر بښکاره باندې مسح کول له قياس څخه خلاف د شريعت له طرفه دي، نو د کوم حکم او طريقې مطابق چې شريعت راغلی دی د هغه به پوره خيال ساتل کېږي، او څرنګه چې شريعت د موزې پر بښکاره باندې د مسحې طريقه بيان کړې ده، نو ځکه به د موزې پر بښکاره باندې مسح کول جائز او معتبر وي.

والبداية الخ فرمايي چې څرنګه په أصل يعني په غسل او پرېولولو کې د ګوتو له سرونو څخه شروع کېږي، نو په فرع يعني په مسح کولو کې به هم د ګوتو له سرونو څخه شروع کول مستحب وي، د دې لپاره چې په أصل او بدل کې د عملي طريقې په حواله سره هم برابري او مساوات راسي.

په مسح کې معتبر مقدار: فرمايي چې په مسح کي د لاس د دريو ګوتو په اندازه کښول فرض دي، يعني فرض دا دي چې د لاس د دريو ګوتو په اندازه مسح وکړي، همدغه د عامو فقهاؤ رايه ده، لېکن د امام کرخي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې په دې باره کي د پښې ګوتې معتبري دي، ځکه چې مسح هم پر پښو کيږي.

صاحب د هدايې وايي چې د امام کرخي رَحِمَهُ الله په مقابله کي د عامو فقهاؤ قول زيات صحيح دی، ځکه چې مسح په لاس سره کيږي، او د مسحې آله لاس دی، نو د فرض اندازې په باره کي به هم د لاس د ګوتو اعتبار کيږي.

د موزې د څيرې والي په صورت کي د مسحې حکم

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ عَلَى خُفٍّ فِيهِ خَرْقٌ كَثِيرٌ او پر داسي موزې مسح کول جائز نه دي چې په هغې کي زيات څيري والی (چاک) وي يَتَبَيَّنُ مِنْهُ قَدْرُ ثَلَاثِ أَصَابِعَ مِنْ أَصَابِعِ الرِّجْلِ (او) چې له هغه چاک څخه د پښو په ګوتو کي د دري ګوتو په اندازه (حصه) ښکاره کيږي فَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ او که له دې څخه کم (څيري والی) وو جَازَ نو مسح کول جائز دي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُمَا اللهُ: لَا يَجُوزُ وَإِنْ قَلَّ امام زفر او امام شافعي فرمايي: چې مسح جائز نه ده که څه هم کم وي لِأَنَّهُ لَمَّا وَجَبَ غَسْلُ الْبَادِي ځکه هر کله چې د ظاهر پرېولل واجب سو يَجِبُ غَسْلُ الْبَاقِي نو د پاته پرېوول به هم واجب وي وَلَنَا: أَنَّ الْخِفَافَ لَا تَخْلُو عَنْ قَلِيلِ خَرْقٍ عَادَةً او زموږ دليل دا دی: چې موزې په عامه توګه له معمولي غوندي څيروالي څخه خالي نه وي فَيَلْحَقُهُمُ الْحَرَجُ فِي النَّزْعِ نو به خلګو ته په (وار وار) کښلو کي تکليف وي وَتَخْلُو عَنِ الْكَثِيرِ خو له زيات څيري والي څخه خالي وي فَلَا حَرَجَ نو په دې کي څه تکليف نسته وَالْكَثِيرُ: أَنْ يَنْكَشِفَ قَدْرُ ثَلَاثَةِ أَصَابِعِ مِنْ أَصَابِعِ الرِّجْلِ أَصْغَرُهَا او د زيات مقدار اندازه دا ده: چې د پښې په کوچنيو ګوتو کي د دريو ګوتو په اندازه ښکاره سي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ الْأَصْلَ فِي الْقَدَمِ هُوَ الْأَصَابِعُ ځکه چې د پښو په باره کي ګوتې أصل دي وَالثَّلَاثُ أَكْثَرُهَا او د درو (۳) شمېر د ګوتو زياتره حصه ده فَيُقَامُ مَقَامَ الْكُلِّ نو ځکه به (درې) د کُل قائم مقام وي وَاعْتِبَارُ الْأَصْغَرِ لِلِاحْتِيَاطِ او د کوچنيو ګوتو اعتبار د احتياط په وجه دی وَلَا مُعْتَبَرَ بِدُخُولِ الْأَنَامِلِ او د ګوتو د سرونو د داخلېدلو هيڅ اعتبار نسته إِذَا كَانَ لَا يَنْفَرِجُ عِنْدَ الْمَشْيِ خو په دې شرط چې د تګ په وخت کي نه ښکاره کيږي وَيُعْتَبَرُ هَذَا الْمِقْدَارُ فِي كُلِّ خُفٍّ عَلَى حِدَةٍ او د دې مقدار اعتبار به په هره موزه کي جلا جلا کيږي فَيُجْمَعُ الْخَرْقُ فِي خُفٍّ وَاحِدٍ نو (ځکه به) د يوې موزې څيري والی جمع کيږي وَلَا يُجْمَعُ فِي خُفَّيْنِ او د دواړو موزو څيري والی به نه جمع کيږي لِأَنَّ الْخَرْقَ فِي أَحَدِهِمَا لَا يَمْنَعُ قَطْعَ السَّفَرِ بِالْآخَرِ ځکه چې د يوې موزې څيروالی په بله موزه کي له سفر کولو څخه مانع نه دی بِخِلَافِ النَّجَاسَةِ الْمُتَفَرِّقَةِ په خلاف د متفرق (جلا جلا) نجاست لِأَنَّهُ حَامِلٌ لِلْكُلِّ ځکه چې دا سړی (پر کوم چې جلا جلا نجاست لګېدلی دی) د ټوله نجاست پورته کونکی دی وَانْكِشَافُ الْعَوْرَةِ نَظِيرُ النَّجَاسَةِ او د عورت ښکاره کېدل د نجاست په شان دي (يعني څومره ځايونه چې عورت ښکاره وي هغه به هم ټوله سره يو ځای کيږي، او بيا به دهغه په باره کي حکم کيږي لکه په نجاست کي).

اللغات: ﴿بَادِئ﴾ د نصر د باب اسم فاعل دی، بَدا يَبْدُو: ښکاره کېدل. ﴿خِفَاف﴾ جمع ده، واحد یې خُفٌّ دی: موزه. ﴿أَنَامِل﴾ جمع ده، واحد يې أُنمِلَةٌ. بتثليث الهمزة والميم: د ګوتې سر، د ګوتي بند.

تشريح: که موزه څيري سوه او چاک پکښې پيدا سو، نو پر دې مسح جائز ده، که نه؟. په دې باره کي څلور مذهبونه دي: (۱) زموږ په نيز د چاک په لږ او ډېره اندازه (قليل او کثير) کښ فرق سته، يعني که موزه لږ څيري سوې وه نو پر دې مسح کول جائز دي او که ډېره څيري سوې وه نو پر دې مسح کول جائز نه دي. (۲) د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز قليل او کثير دواړه سره برابر دي. يعني که موزه لږ څيري سوې وه يا ډېره په دواړو صورتو کي مسح کول جائز نه دي.

د امام شافعي او امام زفر دليل: دا دی چي د موزې اغوستلو په وجه د پښو وظيفه له غَسل (پرېوللو) څخه د مسحې و طرف ته نقل سوې ده، لېکن په موزه کي به د چاک (څيري والي) په وجه غَسل او مسح دواړه جمع سي، ځکه کومه حصه چي ښکاره وي، هلته به غَسل وي او کومه حصه چي په موزه کي دننه وي پر هغه به مسح وي، او غَسل او مسح دواړه سره جمع کول جائز نه دي، نو ځکه په دې صورت کي مسح جائز نه ده.

(۳) سفيان ثوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دواړو صورتونو کي مسح جائز ده.

(۴) امام اوزاعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي له چاک او سوري څخه چي د پښې کومه حصه ښکاره کېږي هغه دي پرېولي، او کومه حصه چي نه ښکاره کېږي پر هغه دي مسح وکړي.

د امام اوزاعي دليل: دا دی چي د امام اوزاعي په نيز په يوه اندام کي د غَسل او مسح دواړو جمع کول جائز دي، نو ځکه هغه وويل چي کومه حصه ښکاره وي د هغه پرېولل واجب دي او چي کومه حصه ښکاره نه وي پر هغه مسح کول واجب دي.

د سفيان ثوري دليل: دا دی چي موزه په قدم (پښه) کي حدث له سرايت کولو څخه منع کوي. نو تر څو چي پر دې د موزې اطلاق صحيح وي، تر هغه وخته پر دې مسح کول جائز دي، بيا برابره خبره ده په دې کي چاک لږ وي، که ډېر.

صاحب د عنايه فرمايي چي د دې دواړو حضراتو يعني د امام شافعي او امام زفر رَحِمَهُمَا الله دليل قياس دی. يعني کله چي خرق کثير مانع د مسحې دی، نو خرق قليل به هم مانع د مسح وي، لکه څرنګه چي حدث مطلقاً ناقض د مسحې دی، هغه که قليل وي او که کثير.

زموږ دليل: دا دی چي په عامه توګه موزې له معمولي غوندي چاک او څيري والي څخه خالي نه وي. نو که د معمولي غوندي چاک په وجه د موزې د کښلو حکم وسي، نو خلک به په تکليف کي مبتلا سي. نو په دې وجه به په موزه کي معمولي غوندي څيري والی او چاک معاف وي، او څرنګه چي له خرق کثير (غټ چاک) څخه موزې عموماً خالي وي. نو د خرق کثير په صورت کي د موزې په کښلو کي هيڅ تکليف نسته، نو ځکه به هغه معاف نه وي.

د خرق قليل او کثير اندازه

د خرق قليل او کثير په باره کي صاحب د هدايه فرمايي چي: که د پښو د کوچني درېو ګوتو په اندازه پښې ښکاره کېدلې يا له دې څخه زياتي ښکاره کېدلې نو دا خرق کثير دی. او که له دې څخه په کمه اندازه ښکاره کېدلې نو دا خرق قليل دی، او همدغه قول زيات صحيح دی؛ حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله روايت کوي فرمايي چي د لاس ګوتي معتبري دي، او شمس الائمه حلواني رَحِمَهُ الله وايي چي که چاک د پښو د غټو ګوتو پر برابر وو. (يعني د پښو

د غټو ګوتو پر طرف موزه څيري سوې وه) نو غټې ګوتې به معتبرې وي، او که د کوچنيو ګوتو پر برابر وو. نو کوچنی ګوتې به معتبرې وي.

دليل: د زيات صحيح قول دليل دا دی چې په قدم کې أصل ګوتې دي، همدا وجه ده که يو چا د بل سړي د پښو ګوتې پرېکړې نو پر هغه به د پښو پوره ديت واجب وي، مطلب دا چې په پښو کې ګوتې أصل دي. او درې ګوتې د پنځو ګوتو اکثر دي، او د شی اکثر په منزله د کُل وي، نو ځکه درې ګوتې به د کل قائم مقام وي. نو ګواکي د درو ګوتو په ښکاره کېدلو سره ټوله پښه ښکاره سوه، نو ځکه به په دې صورت کې د پښې پرېولل واجب وي. او د کوچنيو ګوتو اعتبار په احتياط باندې مبني دی.

او که په موزه کې داسې چاک وو چې درې ګوتې په ننوتلې، خو د تګ په وخت کې له هغه څخه پښه نه ښکاره کېدل. نو د دې اعتبار نه کيږي، يعني پر داسې موزې باندې مسح کول جائز دي.

ويعتبر الخ مصنف د هدايې فرمايي چې مقدار به په هره موزه کې جلا جلا معتبر وي، نو که په يوه موزه کې يو څو چاکونه ول، هغه به جمع کيږي، نو که ټوله سره يوځای سول او د دريو ګوتو اندازې ته ورسېدل. نو پر دې به مسح کول جائز نه وي، او که په دواړو موزو کې کوچني کوچني چاکونه ول. نو هغه به نه جمع کيږي. يعني که د دواړو موزو چاکونه سره يو ځای سول او دغه مقدار ته ورسېدل نو هم به مسح کول پر جائز وي، ځکه چې د يوې موزې چاک او څيروالی په بله موزه کې له سفر کولو څخه مانع نه دی.

بخلاف النجاسة المتفرقة الخ د دې په خلاف متفرق نجاست دی. يعني که د يو سړي پر دواړو موزو لږ لږ نجاست لګېدلی وو، په داسې حال کې چې په دواړو کې د هرې يوې نجاست له يوه درهم څخه کم وو، خو د دواړو په يوځای کولو سره له يوه درهم څخه زياتېدی، نو په دې صورت کې لمونځ جائز نه دی. ځکه چې د دې سړي ټوله نجاست را اخيستی دی. او کوم سړي چې له يوه درهم څخه زيات نجاست را اخيستی وي هغه که جلا جلا وي او که يو ځای وي. نو پر هغه طهارت واجب دی، بغير له طهارت څخه يې لمونځ نه صحيح کيږي.

وانكشاف العورة الخ فرمايي چې د عورت ښکاره کېدل هم د نجاست په ډول دی. يعني څرنګه چې پر دوو موزو يا د بدن پر جلا جلا حصو باندې لګېدلی متفرق نجاست سره جمع کيږي. همدغه رنګه که د يوې ښځې نه شرمګاه (شرم ځای) څخه لږ حصه ښکاره وي، لږ حصه يې له پنډۍ څخه ښکاره وي. لږ حصه يې له نس څخه ښکاره وي. لږ حصه يې له وربېښتيانو څخه ښکاره وي. نو دا ټوله به سره يوځای کيږي. تر يو ځای کولو وروسته که دا ټوله د اندام د څلورمې حصې سره برابر سوه، نو بيا به د دې ښځې لمونځ جائز نه وي.

د جنب لپاره مسح جائز نه ده

وَلَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ لِمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْغُسْلُ او د هغه سړي لپاره مسح (على الخفين) جائز نه ده چې پر هغه غسل واجب وي لِحَدِيْثِ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د صفوان بن عسال ﷺ د حديث په وجه أَنَّهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَفَرًا أَنْ لَا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهِنَّ چې عسال ﷺ وفرمايل: کله چې به موږ په سفر

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الطهارة، باب المسح على الخفين للمسافر والمقيم، حديث رقم:٩٢. والنسائي في كتاب الطهارة، باب مسح على الخفين في السفر، حديث رقم:١٢٥.

کي وو، نو نبي ﷺ به موږ ته دا حکم کوی چي موږ به ترر دريو ورځو او دريو شپو پوري خپلي موزې نه کاږو إِلَّا عَنْ جَنَابَةٍ مګر له جنابت څخه (به يې کاږو) وَلَكِنْ مِنْ بَوْلٍ أَوْ غَائِطٍ أَوْ نَوْمٍ خو له متيازو يا له غايطه موادو يا له خوب څخه (به يې نه کاږو) وِلِأَنَّ الْجَنَابَةَ لَا تَتَكَرَّرُ عَادَةً (او په دې وجه هم) چي جنابت عموماً نه مکرر کيږي فَلَا حَرَجَ فِي النَّزْعِ نو په کښلو کي څه حرج نشته بِخِلَافِ الْحَدَثِ لِأَنَّهُ يَتَكَرَّرُ په خلاف د حدث ځکه چي هغه مکرر کيږي.

اللغات: ﴿غائط﴾ پرده، مجازاً غايطه موادو (يعني د انسان فضلې) ته ويل کيږي. ﴿نزع﴾ د فتح د باب مصدر دی: راکښل، رااېستل، همدا راز نوري معناګاني هم لري.

تشريح: مسئله: دا ده چي پر کوم سړي غسل واجب وي د هغه لپاره پر موزو مسح کول جائز نه دي. د مثال په توګه يو سړي اودس وکړی موزې يې په پښو کړې، بيا جنب سو، او بيا يې دومره اوبه ور سره وې، چي د اوداسه لپاره خو کافي وې، لېکن د غسل لپاره کافي نه وې، نو دا سړی دې د جنابت لپاره تيمم وکړي او په هغه اوبو سره دې اودس وکړي. او پښې دې پرېولي، مسح کول جائز نه دي.

دليل: د حضرت صفوان بن عسال ﷺ حديث دی، چي په هغه کي ذکر سوي دي چي د جنابت په حالت کي دواړي موزې کښل او پښې پرېولل ضروري دي، لېکن که د متيازو يا غايطه موادو يا خوب په وجه اودس مات سو. نو د موزې د کښلو هيڅ ضرورت نشته.

دويم دليل: دا دی چي جنابت عموماً مکرر او پر لپسې نه وي، او حدث اصغر مکرر وي، نو د جنابت په صورت کي حرج او تکليف نشته. او د حدث اصغر په صورت کي د هر وار موزې په کښولو سره تکليف او حرج شته. او دا خبره مَنل سوې ده چي مسح على الخفين د تکليف او حرج لېري کولو لپاره مشروع سوې ده. نو چيري چي د موزې په کښولو کي تکليف وي، هلته مسح على الخفين جائز ده، او چيري چي تکليف نه وي. هلته د موزو کښل او د پښو پرېولل فرض دي، مسح جائز نه ده.

د مسحي نواقض (يعني هغه شيان چي مسح په ماتيږي)

وَيَنْقُضُ الْمَسْحَ كُلُّ شَيْءٍ يَنْقُضُ الْوُضُوءَ او مسح هر هغه شی ماتوي کوم چي اودس ماتوي لِأَنَّهُ بَعْضُ الْوُضُوءِ ځکه چي مسح على الخف د اوداسه جزء دی وَيَنْقُضُهُ أَيْضًا نَزْعُ الْخُفِّ همدارنګه د موزې کښل هم مسح ماتوي لِسِرَايَةِ الْحَدَثِ إِلَى الْقَدَمِ پښې ته د حدث د سرايت په وجه حَيْثُ زَالَ الْمَانِعُ ځکه چي مانع زائل سو وَكَذَا نَزْعُ أَحَدِهِمَا همدارنګه په دې دواړو کي د يوې کښل (هم مسح ماتوي) لِتَعَذُّرِ الْجَمْعِ بَيْنَ الْغَسْلِ وَالْمَسْحِ فِي وَظِيفَةٍ وَاحِدَةٍ ځکه چي په يوه وظيفه کي غسل او مسح جمع کول ستونزمن دي وَكَذَا مُضِيُّ الْمُدَّةِ او دغه ډول د مسحي د مودې تېرېدل (هم مسح ماتوي) لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی دی وَإِذَا تَمَّتِ الْمُدَّةُ نَزَعَ خُفَّيْهِ او کله چي موده پوره سوه نو دواړي موزې به وکاږي وَغَسَلَ رِجْلَيْهِ او دواړي پښې به پرېولي وَصَلَّى او لمونځ به وکړي وَلَيْسَ عَلَيْهِ إِعَادَةُ بَقِيَّةِ الْوُضُوءِ او پر هغه د پاته اودس راګرځول ضروري نه دي وَكَذَا إِذَا نَزَعَ قَبْلَ الْمُدَّةِ او همدارنګه چي کله موزې د مودې تر پوره کېدلو مخکي وکاږي (نو به هم دواړي پښې پرېولي...) لِأَنَّ عِنْدَ النَّزْعِ يَسْرِي الْحَدَثُ السَّابِقُ إِلَى الْقَدَمَيْنِ

ځکه چې (د موزو د کښولو) په وخت کې مخکښې حدث دواړو پښو ته سرايت کوي كَأَنَّهُ لَمْ يَغْسِلْهُمَا (او داسې کیږي) ګواکې چې ده پښې پرېولي هم نه دي وَحُكْمُ النَّزْعِ يَثْبُتُ بِخُرُوجِ الْقَدَمِ إِلَى السَّاقِ او د موزې د کښولو حکم ثابتیږي د موزې تر پنډۍ پورې د پښې په راوتولو سره لِأَنَّهُ لَا مُعْتَبَرَ بِهِ فِي حَقِّ الْمَسْحِ ځکه چې د مسحې په حق کې د موزې د پنډۍ هیڅ اعتبار نشته وَكَذَا بِأَكْثَرِ الْقَدَمِ همدارنګه د اکثرې پښې په وتولو باندې هم (د نزع حکم ثابتیږي) هُوَ الصَّحِيحُ همدغه قول صحیح دی.

اللغات: ﴿يغسل﴾ د نصر د باب مضارع صیغه ده: ماتول، د ناقص معنیٰ ده: ماتوونکی. ﴿تعذر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: مشکل کېدل، سختېدل. ﴿مضي﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تېرېدل، جاري کېدل.

تشريح: له دې ځایه د مسحې نواقض بیانیږي، او په دې باره کې تر ټولو مخکښې امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې هر هغه شی کوم چې اودس ماتوي هغه مسح هم ماتوي، لکه متیازې (شاشې)، غایطه مواد خوب او داسې نور. دا شیان د اودسه لپاره ناقض دي، نو د مسحې لپاره هم ناقض دي، ځکه چې مسح د اودسه یو جزء دی. نو کوم شی چې د کُل او أصل لپاره ناقض (ماتوونکي) وي، هغه به د بعض او بدل لپاره په طريقۀ اولیٰ سره ناقض وي.

فرمايي چې که یو څوک موزې وکاږي نو هم یې مسح ماتیږي، ځکه چې موزې حدث منع کوي له دې شخه چې پښو ته سرايت وکړي، همدارنګه که یو چا له دواړو موزو څخه یوه موزه وکښل، نو هم یې مسح ماتیږي، ځکه چې د موزو د په پښو کولو په صورت کې د پښو وظیفه له غسل (پرېولو) څخه د مسحې و طرف ته منتقله سوه. خو د یوې موزې د کښلو په وجه د یوې پښې غسل ضروري سو، او د یوې پښې مسح پاته سوه، حال دا چې د غسل او مسحې دواړو جمع کول متعذره دي، نو ځکه به په دې صورت کې مسح باطله وي، لهذا دې سړي ته پکار دي چې دويمه موزه هم وکاږي او په ښه ډول پښې پرېولي.

وكذا مضى المدة الخ فرمايي چې د مسحې د مودې تېرېدل هم مسح ماتوي. ځکه په حدیث کې په ښکاره توګه د مقیم او مسافر لپاره په ترتیب سره یوه ورځ، یوه شپه او درې ورځې او درې شپې ټاکل سوي دي. نو دا ښکاره ده چې کله دا ټاکل سوې موده تېره سي، نو مسح باطليږي.

واذا تمت المدة الخ د مسح د مودې د پوره کېدلو په صورت کې حکم دا دی چې موزه اغوستونکي دې خپلې موزې وکاږي، پښې دې پرېولي، او که په اودسه وي، نو صرف د پښو په پرېولو دې اکتفاء وکړي. پوره اودس دې نه کوي. او بیا دې لمونځ وکړي، او زموږ په نېز پر ده د پاته اودس راګرځول واجب نه دي.

لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دې سړي لپاره پوره اودس کول ضروري دي، ځکه چې د مسحې د مودې په تېرېدلو سره د پښو طهارت ختم او مات سو، او د طهارت ختمېدل (یعني حدث) نه متجزي کیږي. (یعني د طهارت ماتېدل ټوټې ټوټې نه کیږي، نو که د پښو طهارت ختم سو نو د نورو اندامو طهارت هم ختمیږي، ځکه چې په طهارت کې تجزي نسته)، او څرنګه چې یو څوک بې اودسه سي نو هغه به پوره اودس کوي او په هغه کې هیڅ تجزي نسته. همدارنګه به دلته هم پوره اودس واجب وي، او تجزي به پکښې نه وي.

صاحب د عنایې زموږ له طرفه امام شافعي ته دا جواب ورکوي چې د مسحې د مودې مسئله د حدث پر مسئلې قیاسول صحیح نه دي بلکې قیاس مع الفارق دی، ځکه چې په حدث کې خروج د نجلست راځي. او د مودې په

تېرېدلو (مضی) کې د هيڅ شي خروج نشته. او زموږ د مذهب تائيد د ابن عمر رضي الله عنه له فعل څخه هم کيږي چې په يوه غزا کې هغه ته دغسې مسئله ور پېښه سوه. نو هغه صرف موزې وکښلې. او صرف يې د پښو په پرېوللو اکتفاء وکړه. نور اودس يې نه را وګرځوی. نو له دې څخه هم معلومه سوه چې د اوداسه راګرځول واجب نه دي. (عنايه ج ۱۰، ص ۱۵۵)

وکذا إذا نزع الخ فرمايي چې د اودس د نه راګرځولو حکم په هغه صورت کې هم دی چې کله يو سړی د مودې تر تېرېدلو مخکې په خپله موزې وکاږي، نو په دې صورت کې دي هم صرف پښې پرېولې. او لمونځ دي وکړي. څکه چې د موزو په کښلو سره، حدث فقط د ده و پښو ته سرايت وکړی. نه دا چې و ټولو اندامونو ته. او دا به داسې وي لکه دې سړي چې د اودس په وخت کې پښې نه وي پرېولې، نو اوس به صرف د پښو پرېولل واجب وي.

ويشهت الخ فرمايي چې د موزې د ختلو او د پښې د را وتلو حکم هغه وخت ثابتيږي چې کله پښه د موزې تر پنډۍ پورې را ووځي. (د موزې له پنډۍ څخه مراد، د موزې هغه اوږده جوړې سوې شوکه ده چې په هغې کې پنډۍ هم پټيږي. نو که پښه تر دې شوکې پورې راووځي. نو دا حکم به کيږي چې موزه وختله). څکه چې د مسحې په باره کې د موزې د پنډۍ هيڅ اعتبار نشته. او د موزې پر پنډۍ باندې مسح کول هم جائز نه دي. څکه چې دا ځای د مسحې له موضع څخه جلا او ماسوا دی. او د مسحې له موضع څخه تر ماسوا پورې د پښې په راوتولو سره مسح ماتيږي. نو دلته به هم تر پنډۍ پورې د پښو په را وتولو سره مسح ماتيږي.

فرمايي چې د صحيح قول مطابق که د موزې تر پنډۍ پورې ټوله پښه را نه سي. لېکن د پښې زياتره حصه د موزې تر پنډۍ پورې راسي. نو په دې صورت کې هم مسح باطليږي. څکه چې د للأكثر حكم الكل قاعده ډېره مشهوره ده.

که مقيم مسافر سو يا مسافر مقيم سو نو د مسحې د مودې حکم

وَمَنِ ابْتَدَأَ الْمَسْحَ وَهُوَ مُقِيمٌ او چا چې د اقامت په حالت کې مسح شروع کړه. فَسَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ (او) بيا د يوې ورځې او يوې شپې تر پوره کېدلو مخکې مسافر سو. مَسَحَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهَا نو (اوس) به هغه تر درې ورځو او درې شپو پورې مسح کوي عَمَلًا بِإِطْلَاقِ الْحَدِيثِ د حديث په إطلاق باندې د عمل کولو په وجه وَلِأَنَّهُ حُكْمٌ مُتَعَلِّقٌ بِالْوَقْتِ او په دې وجه (هم) چې دا داسې حکم دی چې د وخت سره متعلق (اړوند) دی فَيُعْتَبَرُ فِيهِ آخِرُهُ نو به په دې کې د آخري وخت اعتبار کيږي بِخِلَافِ مَا په خلاف د هغه صورت إِذَا اسْتَكْمَلَ الْمُدَّةَ لِلْإِقَامَةِ ثُمَّ سَافَرَ چې کله د إقامت د مودې تر پوره کېدلو وروسته مسافر سي لِأَنَّ الْحَدَثَ قَدْ سَرَى إِلَى الْقَدَمِ څکه چې حدث تر پښې (قدم) پورې سرايت وکړی وَالْخُفُّ لَيْسَ بِرَافِعٍ او موزه رافع (پورته کونکې) د حدث نه ده.

اللغات: ﴿إِسْتَكْمَلَ﴾ د استفعال د باب ماضي صيغه ده: پوره کول. بشپړ تيا ته رسول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که يو سړي د اقامت په حالت کې پر موزو مسح شروع کړه. نو بنکاره خبره ده چې د هغه د مسحې موده يوه ورځ او يوه شپه ده. اوس که دا سړی د اقامت د مودې تر پوره کولو مخکې مسافر سو. نو د ده دا موده د سفر د مودې و طرف ته نقل کيږي. او د ده لپاره تر درې ورځو او درې شپو پورې د مسح کولو اجازه ور کول کيږي. څکه چې په دې حديث يمسح المسافر ثلاثة أيام ولياليها کې د مسافر لپاره چې کومه موده بيان سوې ده. هغه مطلق د مسافر موده ده. بيا برابره خبره ده که د سفر په وخت کې يې موزې اغوستې وي يا له سفر څخه يې مخکې اغوستې وي لو

سفر یې شروع کړی وي، لنډه دا که د اقامت د مودې تر پوره کېدلو مخکې مسافر سو، نو پر ده د مسافر احکام جاري کېږي.

د دې حکم دویم دلیل دا دی چې د (مسح على الخفين) حکم د وخت سره تعلق لري، او هر هغه شی چې د هغه حکم د وخت سره متعلق وي، په هغه کي به د آخري وخت اعتبار کېږي، د مثال په توګه حائضه ښځه ده، که دا د لمانځه په آخري وخت کي پاکه سوه، نو پر دې به د دغه وخت لمونځ واجب وي، ځکه چې د لمانځه حکم هم د وخت سره تعلق لري، لنډه دا چې په مسح کي به هم د آخري وخت اعتبار کېږي. او څرنګه چې په ذکر سوې مسئله کي دا سړی په آخري وخت کي مسافر سوی دی، نو ځکه به اوس دی تر درېو ورځو او درېو شپو پوري مسح کوي.

بخلاف ما الخ هو! که دا سړی د اقامت د مودې تر پوره کولو وروسته مسافر سو، نو اوس به د ده لپاره تر درېو ورځو او درېو شپو پوري د مسح کولو اجازه نه وي، ځکه چې د اقامت د مودې په تېرېدلو سره حدث د ده په پښو کي سرایت وکړی، نو د پښو پرېمينځل به واجب وي، ځکه چې مخکي هم دا خبره ذکر سوې ده چې موزه رافع د حدث نه ده.

مسافر که مقیم سو نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَقَامَ او که یو سړی مقیم سو وَهُوَ مُسَافِرٌ حال دا چې هغه مسافر وو إِنِ اسْتَكْمَلَ مُدَّةَ الْإِقَامَةِ نو (اوس) که هغه د إقامت موده پوره کړې وه نَزَعَ نو موزې به وکاږي لِأَنَّ رُخْصَةَ السَّفَرِ لَا تَبْقَى بِدُوْنِهِ ځکه چې د سفر رخصت بغیر له سفر څخه نه پاته کېږي وَإِنْ لَمْ يَسْتَكْمِلْ او که د إقامت موده یې پوره کړې نه وه أَتَمَّهَا نو هغه دې پوره کړي لِأَنَّ هٰذِهِ مُدَّةُ الْإِقَامَةِ ځکه چې همدغه د إقامت موده ده وَهُوَ مُقِيْمٌ او دا سړی مقیم دی.

اللغات: ﴿الرخصة﴾ اجازه، تعطيل، رخصت.

تشریح: دلیل او صورت د مسئلې ښکاره دی.

پر جرموقینو د مسحې حکم

قَالَ: وَمَنْ لَبِسَ الْجُرْمُوْقَ فَوْقَ الْخُفِّ (امام قدوري رَحِمَهُ الله) فرمایي: او چا چې پر موزه جرموق واغوستی (په پښو کړی) مَسَحَ عَلَيْهِ نو پر هغه دې مسح کوي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی فَإِنَّهُ يَقُوْلُ: الْبَدَلُ لَا يَكُوْنُ لَهُ بَدَلٌ امام شافعي فرمایي: چې د بدل لپاره بدل نه وي وَلَنَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ عَلَى الْجُرْمُوْقَيْنِ او زموږ دلیل دا دی: چې نبي ﷺ پر جرموقینو مسح کړې ده وَلِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْخُفِّ او په دې وجه هم چې جرموق د موزې تابع دي اسْتِعْمَالًا وَغَرَضًا د استعمال او غرض دواړو په اعتبار سره فَصَارَ نو (جرموق پر موزه) داسې سو كَخُفٍّ ذِيْ طَاقَيْنِ لکه دوغبرګې موزه وَهُوَ بَدَلٌ عَنِ الرِّجْلِ لَا عَنِ الْخُفِّ او جرموق د پښې بدل دی. نه د موزې بِخِلَافِ مَا إِذَا لَبِسَ الْجُرْمُوْقَ بَعْدَمَا أَحْدَثَ په خلاف د هغه صورت چې کله یو سړی جرموق تر حدث وروسته واغوندي لِأَنَّ الْحَدَثَ حَلَّ بِالْخُفِّ ځکه چې حدث په موزه کي سرایت وکړی فَلَا يَتَحَوَّلُ إِلَى غَيْرِهِ نو ځکه به د بل

وطرف ته (يعني د جرموقينو و طرف ته) نه منتقل کيږي وَلَوْکَانَ الْجُرْمُوْقُ مِنْ كِرْبَاسٍ او که جرموق د وړيو له کپړې څخه (جوړ سوی) وو لَا يَجُوْزُ الْمَسْحُ عَلَيْهِ نو پر هغه مسح کول جائز نه دي لِأَنَّهُ لَا يَصْلُحُ بَدَلًا عَنِ الرِّجْلِ ځکه چي هغه د پښنو لپاره د بدل جوړېدلو صلاحيت نه لري إِلَّا أَنْ تَنْفُذَ الْبَلَّةُ إِلَى الْخُفِّ خو دا چي لوندوالی موزې ته سرايت وکړي (نو بيا به مسح جائز وي).

اللغات: ﴿الجرموق﴾ ساق پوش، جرموق د دې لپاره وي چي موزه له ختو او مردارېو څخه وساتل سي، ﴿تنفذ﴾ د نصر د باب مضارع صيغه ده، نَفَذَ يَنْفُذُ: رسېدل، جاري کېدل، سرايت کول، ﴿بلة﴾ لوندوالی، ﴿كرباس﴾ پمبيېزه جامه، وړين ټوکر، کشميره، کراسته، هغه سپينسين ټوکر چي ډول ډول رنګونه لري.

تشريح: د جرموقين تعريف: صاحب د عنايې د جرموق تعريف په دې الفاظو سره کړی دی: الجرموق ما يلبس فوق الخف وساقه أقصر من الخف (عنايه، بنايه)، (يعني جرموق هغه (کوچنی) موزې ته ويل کيږي چي پر خفينو سربېره په پښنو کيږي او د جرموق ساق (پندی) د موزې له ساق څخه کوچنی وي). زموږ په نېز پر جرموقينو مسح کول جائز دي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله وايي چي پر جرموقينو مسح جائز نه ده.

د امام شافعي دليل: دا دی چي موزه د پښنو بدل ده، او د بدل لپاره بدل نه وي، ځکه چي د مسح علی الخفين په باره کي شريعت راغلی دی او مسح علی الخفين د پښنو بدل جوړه سوې ده؛ نو پر جرموقينو مسح کول به د موزې بدل وي، حال دا چي دا صحيح نه ده، نو په دې وجه پر جرموقينو مسح کول ناجائز ګرځول سوي دي.

زموږ نقلي دليل: د حضرت عمر رضي الله عنه دا حديث دی: قال رأيت رسول الله ﷺ مسح على الجرموقين. (حضرت عمر وويل: چي ما نبي ﷺ پر جرموقينو مسح کونکی وليدی).

عقلي دليل: دا دی چي جرموق په استعمال او غرض کي د موزې تابع وي، په استعمال کي خو ځکه چي جرموق د موزې سره يوځای وي، او په غرض کي ځکه چي جرموق د موزې د حفاظت لپاره وي، لکه موزه چي د پښنو د حفاظت لپاره ده، نو موزه پر جرموق داسي ده لکه دوه غبرګې موزه، او د دوه غبرګي موزې پر پورتني غبرګ بالاتفاق مسح کول جائز ده، نو ځکه به پر جرموقينو هم کوم چي سربېره پر موزو دي مسح کول جائز وي. پاته سوه دا خبره چي جرموق د بدل، بدل دی، نو دا صحيح نه ده، ځکه چي جرموق د موزې بدل نه دی بلکي د پښنو بدل دی.

بخلاف الخ د دې په خلاف که يې تر حدث او يې اودسی وروسته جرموق واغوستی نو پر دې به مسح جائز نه وي، ځکه چي حدث په موزې کي سرايت وکړی، يعني ور ننه سو، او حدث د جرموقينو و طرف ته نه را منتقل کيږي، يعني که يو سړي اودس وکړی بيا يې موزې په پښنو کړې، وروسته يې اودسه سو، او د بې اودسی په وخت کي يې پر موزو باندي جرموقين واغوستل، نو پر دې جرموقينو مسح نه سي کولای، وجه يې دا ده چي حدث په موزو کي داخل سو، او داسي نه سي کېدلای چي حدث دي له موزو څخه ليري سي او پر جرموقينو دي راسي، نو په دې وجه اوس پر جرموقينو مسح نه سي کولای، لېکن که يې له حدث څخه مخکي جرموقين واغوستل، نو بيا مسح پر کولای سي.

ولو كان الجرموق الخ همدارنګه که څوک د وړيو د کپړې (ټوکر) جرموقين واغوندي، نو پر هغه هم مسح کول جائز نه دي، ځکه چي د وړيو د کپړې جرموقين پندي وي، او د هغه په اغوستلو سره په تګ کي سختي راځي، نو ځکه دا کما حقه د پښنو بدل نه سي جوړېدلای، نو ځکه به پر دوی هم مسح جائز نه وي. هو! که جرموق له نری کپړې څخه وي، او د

مسح لوندوالی تر خفینو رسیدلای سو، نو په دې صورت کې پر هغه مسح کول جائز دي، لیکن په دې وجه نه چې دا مسح پر جرموق وسوه، بلکې په دې وجه چې دا مسح پر موزه وسوه، او باریک جرموق د نړوالي په وجه تر موزې پورې د لوندوالي له رسیدلو څخه مانع نه دی.

پر جراپو او ماسې د مسح کولو شرعي اعتبار

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ او جائز نه ده مسح پر جراپو عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نیز إِلَّا أَنْ يَكُونَا● مُجَلَّدَيْنِ أَوْ مُنَعَّلَيْنِ خو دا چې دا جراپې مجلدي یا منعلي وي (یعني څرمني جراپې وي، چې په عامه اصطلاح کې ماسې ورته ویل کیږي) وَقَالَا: يَجُوزُ او صاحبین فرمایي: جائز ده إِذَا كَانَا ثَخِينَيْنِ خو په دې شرط چې پنډي وي لَا يَشِفَّانِ (دومره) باریکي (نرۍ) نه وي (چې له بل طرفه یې یوشی ښکاره سي، یا لا يشفان معنی دا چې؛ چڼل نه کوي) لِمَا رُوِيَ ځکه روایت سوی دی أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ● عَلَى جَوْرَبَيْهِ چې نبي ﷺ پر خپلو جراپو مسح وکړه وَلِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ الْمَشْيُ فِيهِ او په دې وجه (هم) چې په داسې جراپه کې تګ کول ممکن دی إِذَا كَانَ ثَخِينًا چې کله هغه سخته وي وَهُوَ أَنْ يَتَمَسَّكَ عَلَى السَّاقِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُرْبَطَ بِشَيْءٍ او ثخین کېدل دا دي چې په یو شي باندي له تړلو څخه بغیر پر پنډۍ باندي ونیول سي (یعني دومره سختې وي چې په خپله پر پنډۍ باندي مضبوطه پاته سي) فَأَشْبَهَ الْخُفَّ نو دا د موزې سره مشابه سوه وَلَهُ: أَنَّهُ لَيْسَ فِي مَعْنَى الْخُفِّ او د امام صاحب دلیل دا دی: چې جراپه د موزې په معنیٰ سره نه ده لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ مُوَاظَبَةُ الْمَشْيِ فِيهِ ځکه چې په دې کې مسلسل (پرله پسې) تګ کول ممکن نه دی إِلَّا إِذَا كَانَ مُنَعَّلًا خو په هغه صورت کې چې کله هغه منعّله وي وَهُوَ مَحْمَلُ الْحَدِيثِ او همدغه معنیٰ د حدیث محمل ده وَعَنْهُ او له امام صاحب● څخه روایت دی أَنَّهُ رَجَعَ إِلَى قَوْلِهِمَا وَعَلَيْهِ الْفَتْوَىٰ چې امام صاحب رَحِمَهُ الله د صاحبینو د قول و طرف ته رجوع وکړه او پر همدغه فتویٰ ده.

اللغات: ﴿جورب﴾ جراپه، ﴿المجلد﴾ هغه شی چې له هري خوا په څمړه کې پوښل سوی وي، ﴿المنعل﴾ دلېسې جراپه چې تلی (لاندیني حصه) یې د څمړې وي (یا څمړه پر لګېدلې وي)، ﴿الثخين﴾ پنډې، ډبلې، سختې. ﴿لا يشفان﴾ د ضرب له باب څخه د تثنیې ماضي معلوم نفي صیغه ده، شَفَّ يَشِفُّ: د جامې یا داسې نورو دومره نرۍ کېدل چې له دویم طرف څخه یې شیان ښکاره کیږي، یا دومره نرۍ کېدل چې اوبه څڅې.

تشریح: جورب هغه جراپې ته ویل کیږي چې له وړۍ یا نرۍ څمړې څخه جوړه وي، او په سخت یخ کې استعمالیږي (بنایه ج:۱، ص: ۵۹۷)، مجلد هغه جراپې ته ویل کیږي چې لاندې او لوړ طرف یې په څمړه کې پټ وي (یعني

● القول الراجح: قول الصاحبين، و قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: والدلالة عن مقتضاه بغير سبب، فلذا رجع الامام إلى قولهما، وعليه الفتوى فتح القدير ج:۱، ص:۱۳۹. [القول الراجح، ج:۱، ص:۳۶]

● اخرجه أبو داؤد في كتاب الطهارة، باب المسح على الجوربين، حديث رقم:۱۵۹، والترمذي في كتاب الطهارة، باب المسح على الجوربين والنعلين، حديث رقم:۹۹

پر دواړو حصو يې چمړۀ لګېدلې وي)، او منعل هغه جراپې ته ويل کيږي چې پر تلي يې چمړه لګېدلې وي، د مسح على الجوربين درې صور تونه دي:

① يو دا چې جوربين له پنډي او ډبلي کپړې څخه جوړې وي، او منعلې يا مجلدې وي، چې زموږ په اصطلاح کې ماسې ورته ويل کيږي، نو په دې صورت کې بالاتفاق پر دې جوربينو مسح جائز ده

② دويم دا چې نه له پنډي کپړې څخه وي، او نه منعلې وي، په دې صورت کې بالاتفاق جائز نه ده.

③ دريم دا چې له پنډي کپړې څخه خو وي، لېکن منعلې نه وي، نو په دې صورت کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز مسح جائز نه ده، او د صاحبينو په نيز جائز ده.

د صاحبينو دليل: د ابوموسى اشعري رضي الله عنه حديث دی: أن النبي ﷺ مسح على الجوربين. څرنګه چې دا حديث مطلق دی، نو ځکه به پر مطلقو جوربينو مسح جائز وي، هغه که منعلې وي، که نه وي.

عقلي دليل: دا دی که جوربين له پنډ او داسې ټوکر څخه وي چې بغير له تړلو څخه پر پنډۍ ونيول سي (او اوبه نه چڼې) نو په داسې جوربينو کې تګ او سفر کول ممکن دی، لهذا دا جوربين د موزو سره مشابه سوي، نو څرنګه چې پر موزو مسح جائز ده، پر جوربينو به هم جائز وي.

د امام ابو حنيفه دليل: دا دی چې جورب د موزې سره لاحق کول هغه وخت صحيح کيږي چې کله جوربين من كل الوجوه (په هر ډول) د موزې په معنیٰ وي، حال دا چې جوربين د موزې په معنیٰ نه دی، ځکه چې په موزه کې مسلسل او همېشه تګ کول ممکن دی، او په غير منعل جورب کې مسلسل تګ کول ممکن نه دی، هو! که جوربين منعل وي، نو معلومه ده چې په دې کې مسلسل او دائم تګ ممکن دی، نو ځکه به پر دې مسح کول جائز وي. او د ابو موسى اشعري رضي الله عنه د حديث محمل هم دغه منعل جوربين دی.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د صاحبينو دی. ځکه چې د امام صاحب په باره کې هم دا روايت سوی دی: وقال أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: وعن أبي حنيفة رَحِمَهُ الله أنه مسح على جوربيه في مرضه ثم قال لعواده. فعلت ما كنت أمنع الناس عنه. فاستدلوا به على رجوعه إلى قولهما. (العناية ج:١، ص:١٣٩) (يعني امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله د وفات په مرض کې (تر مرګ اووه ورځې يا درې ورځې مخکې) پر (غير منعلو) جراپو مسح وکړه، او بيا يې هغه خلکو ته وويل کوم چې د ده د پوښتنې لپاره راغلي وه: "ما (نن) هغه کار وکړی چې خلک به مې له هغه څخه منع کول"، نو په دې قول سره علماء د امام صاحب پر رجوع دليل نيسي). [القول الراجح ج:١، ص:٣٦]

پر لنګوټه، خولۍ، چادرۍ (بوغره) او دسکلو مسح جائز نه ده

وَلَا يَجُوزُ الْمَسْحُ او مسح جائز نه ده عَلَى الْعِمَامَةِ پر لنګوټې وَالْقَلَنْسُوَةِ او پر خولۍ (ټوپۍ) وَالْبُرْقُعِ او پر بوغره وَالْقُفَّازَيْنِ او پر دسکلو (دستانو) لِأَنَّهُ لَا حَرَجَ فِي نَزْعِ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ ځکه چې د دې شيانو په کاږلو کې هيڅ تکليف نسته وَالرُّخْصَةُ لِدَفْعِ الْحَرَجِ او د مسحې رخصت د تکليف لېرې کولو لپاره دی.

اللغات: ﴿عِمَامَه﴾ دا لفظ په اصل کې د عين په کسره سره دی: لنګوټه، ﴿قَلَنْسُوَة﴾ خولۍ، ﴿قُفَّاز﴾ دسکله (دست کش، دستانه).

تشريح: د احنافو په نيز پر لنګوټه، خولۍ، چادرې او دسکلو باندې مسح جائز نه ده، ليکن د امام اوزاعي او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ الله په نيز جائز ده، دليل يې دا دی چې پر موزو مسح کول له نبي ﷺ څخه ثابت دي، نو پر دې شيانو به هم مسح جائز وي.

زموږ دليل دا دی چې پر موزو د مسح کولو رخصت او اجازه په دې وجه ورکول سوې ده، چې حرج او تکليف ليرې سي، او د دې شيانو په کښلو کي هيڅ حرج او تکليف نسته، نو ځکه پر دې شيانو به مسح کول جائز نه وي.

پر پټی (پلستر) د مسحي حکم

وَيَجُوزُ الْمَسْحُ عَلَى الْجَبَائِرِ او مسح جائز ده پر پټيو (پټيانو) باندې وَإِنْ شَدَّهَا عَلَى غَيْرِ وُضُوْءٍ که څه هم هغه يې بغير له اودسه تړلې وي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ❶ فَعَلَ ذٰلِكَ ځکه نبي ﷺ داسې وکړه وَأَمَرَ عَلِيًّا بِهٖ او علي ﷺ ته يې د دې حکم وکړی وَلِأَنَّ الْحَرَجَ فِيْهِ او په دې وجه (هم) چې د پټی په ليرې کولو کي چې کوم تکليف دی فَوْقَ الْحَرَجِ فِيْ نَزْعِ الْخُفِّ دا له هغه تکليف څخه زيات دی کوم چې د موزې په کښلو کي دی فَكَانَ أَوْلٰى بِشَرْعِ الْمَسْحِ نو ځکه به پټی د مسحي د مشروعيت زياته حقداره وي وَيَكْتَفِيْ بِالْمَسْحِ عَلٰى أَكْثَرِهَا او په مسح کي به د پټی پر اکثره حصه اکتفاء کوي ذَكَرَهُ الْحَسَنُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا حضرت حسن رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي وَلَا يَتَوَقَّتُ او پر پټيو باندې مسح ديو وخت سره متعينه نه ده (يعني د يو وخت سره خاص نه ده) لِعَدَمِ التَّوْقِيْفِ بِالتَّوْقِيْتِ ځکه چې د وقت د تعيين په باره کي (د شريعت له طرفه) خبر تيا نسته (يعني په شريعت کي موږ ته د پټی د مسحي د مودې هيڅ خبر را کول سوی نه دی) وَإِنْ سَقَطَتِ الْجَبِيْرَةُ عَنْ غَيْرِ بُرْءٍ او که پټی بغير د زخم له ښه کېدلو څخه ولوېدله لَا يَبْطُلُ الْمَسْحُ نو مسح نه باطليږي لِأَنَّ الْعُذْرَ قَائِمٌ ځکه چې (اوس هم) عذر پاته دی وَالْمَسْحُ عَلَيْهَا كَالْغَسْلِ لِمَا تَحْتَهَا مَا دَامَ الْعُذْرُ بَاقِيًا او چې تر څو عذر پاته وي تر هغه وخته پر پټی مسح کول داسې دي لکه د هغې لاندې حصه پرېولل وَإِنْ سَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ بَطَلَ او که د زخم د ښه کېدلو په وجه پټی ولوېدله نو مسح باطليږي لِزَوَالِ الْعُذْرِ ځکه چې عذر ختم سو وَإِنْ كَانَ فِي الصَّلَاةِ او که دا سړی په لمانځه کي وو (يعني که په لمانځه کي له يو سړي څخه پټی د زخم ښه کېدلو په وجه ولوېدله) اِسْتَقْبَلَ نو لمونځ به له سره شروع کوي (يعني لمونځ به له سره راګرځوي) لِأَنَّهُ قَدَرَ عَلَى الْأَصْلِ قَبْلَ حُصُوْلِ الْمَقْصُوْدِ بِالْبَدَلِ ځکه چې هغه د مقصود تر حاصلولو مخکي د بدل په ذريعه پر اصل قدرت پيدا کړی.

اللغات: ﴿جَبَائِر﴾ جمع ده. واحد يې جبيره ده: پټی، هغه پلستر چې په پرهار (زخم) او داسې نورو باندې ايښوول کېږي، ﴿بُرْءٍ﴾ د زخم يا چوټ جوړېدل. د تکليف او درد ختمېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي دا خبره په ياد لرئ چې جبائر د جبيرة جمع ده، او جبيره په اصل کي هغه لرګي ته ويل کېږي چې پر مات سوي هډوکي يا داسې بل شي باندې تړل کېږي، قاضي خان فرمايي چې پر جبيره به د مسحي کولو

❶ تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الحيض باب جواز المسح على الجبائر، حديث رقم:٨٦٧.

اجازه په هغه وخت کې وي چې پر زخم باندې په مسح کولو کې تکلیف وي که څه هم هغه بغیر له اودس څخه تړل سوې وي.

دلیل: دا دی چې جبیره د ضرورت په وخت کې تړل کیږي، نو د ضرورت په وخت کې د اودس شرطول مفضي إلى الحرج دي (یعني د تکلیف سبب دی)، نو ځکه به دا اودس شرط نه لګیږي، او په دې باره کې اصل دا دی چې نبي ﷺ په خپله هم پر جبیره مسح کړې ده، همدارنګه د اُحد په ورځ چې کله د حضرت علي رضي الله عنه مروند مات سو، نو نبي ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته پر پټي باندې د مسحې کولو حکم وکړی، صاحب د عنایې پوره قصه داسې لیکلې ده چې: د اُحد په ورځ حضرت علي رضي الله عنه د نبي ﷺ بیرغ په لاس کې نیولی وو، کله چې د حضرت علي رضي الله عنه لاس مات سو، او بیرغ ولوېدی، نو نبي ﷺ وفرمایل: بیرغ په چپه لاس ونیسه!، ځکه چې علي (رضي الله عنه) به په دنیا او آخرت کې زما د بیرغ مالک وي، حضرت علي رضي الله عنه ووېل: ما أصنع بالجبائر (یعني په پټۍ څه وکړم؟)، نبي ﷺ ورته وفرمایل: إمسح علیها (پر پټۍ مسح کوه)، په دې حدیث کې د دې هیڅ تفصیل نسته چې پټۍ به یې په اوداسه تړلې وي او که بغیر له اودسه، نو معلومه سوه چې پر مطلق جبیره باندې مسح کول جائز دي.

عقلي دلیل: دا دی چې د موزې په کښولو کې چې څومره حرج او تکلیف سته، د پټۍ په لیرې کولو کې له هغه څخه زیات تکلیف سته، نو کله چې د تکلیف لیرې کولو په وجه پر موزو باندې مسح جائز سوه، نو پر جبائرو باندې خو به په طریقه اولیٰ سره جائز وي.

ویکتفی الخ یا ته سوه دا مسئله چې پر ټوله پټۍ به مسح کوي او که پر بعضي پټۍ، نو په دې لړ کې افضله دا ده چې پر ټوله پټۍ باندې مسح وکړی سي، خو بیا هم له حضرت حسن بن زیاد رحمه الله څخه را نقل سوي دي چې که یو څو د پټۍ پر زیاتره (اکثره) حصه باندې مسح وکړه، نو هم مسح جائز ده، ځکه چې اکثر د کُل قائم مقام دی، او قاعده دا ده چې: للأکثر حکم الکل.

ولا یتوقت الخ فرمایي چې پر پټۍ د مسحې کولو لپاره څه موده ټاکل سوې نه ده، بلکې د زخم تر ښه کېدلو پورې به پر دې مسح کوي، ځکه چې د مسح على الجبیرة د تحدید (او تعیین) په اړه یو حدیث هم نه دی راغلی.

وان سقطت..الخ له دې ځایه د مسح على الخفین او د مسح على الجبیرة په مینځ کې دویم فرق بیانوي، حاصل یې دا دی چې که د زخم تر ښه کېدلو مخکې پټۍ ولوېدله نو هم مسح على الجبیرة نه باطلیږي، ځکه چې د دې مشروعیت د عذر په وجه دی، او د زخم نه ښه کېدل د دې خبرې ښکاره علامه ده چې عذر اوس هم پاته دی، نو تر څو چې عذر پاته وي تر هغه وخته پورې به د مسح على الجبیرة اجازه وي، او دا مسح به داسې وي لکه پرېولل، یعني ګواکې اندام پرېول سوی دی، د دې په خلاف که له پښو څخه موزې ووځي نو مسح په هر حال کې باطله ده، هغه که په هر ډول ووځي، لېکن که د زخم تر ښه کېدلو وروسته جبیره ولوېدله نو په دې صورت کې مسح باطلیږي، ځکه چې اوس عذر ختم سو، او قاعده دا ده چې ما جاء لعذر بطل بزواله یعني کوم شی چې د عذر په وجه ثابتیږي نو هغه د عذر په ختمېدلو سره باطلیږي.

وان کان فی الصلاة الخ او که جبیره د لمانځه په دوران کې ولوېدله، خو په هغه وخت کې چې زخم ښه سوی وو، نو بیرته دې د سره لمونځ شروع کړي، ځکه چې دا سړی د بدل (مسح على الجبیرة) په ذریعه د مقصود تر حاصلولو (لمونځ کولو) مخکې پر اصل (اوبو او غسل) باندې قادر سو، او قاعده دا ده چې که د بدل په ذریعه د مقصود تر حاصلولو مخکې پر اصل باندې قدرت پیدا سي نو کوم شی چې یې په بدل سره شروع کړی وي د هغه راګرځول به ضروري، د قاعدې الفاظ دا دي: الأصل عندنا أن القدرة على الأصل أي على المبدل قبل استیفاء المقصود بالبدل ینتقل الحکم إلى المبدل.



بَابُ الْحَيْضِ وَالْإِسْتِحَاضَةِ

دا باب د حيض او استحاضې (د احکامو په بيان کې) دی

تشريح: تر دې مخکې صاحب د کتاب هغه أحداث بيان کړل کوم چې زيات پېښيږي (يعني کثير الوقوع أحداث)، اوس له دې ځايه څخه هغه أحداث بيانوي کوم چې لږ پېښيږي (يعني قليل الوقوع)، او صاحب د عنايه وايي چې: حيض او نفاس له أحداثو څخه شمارل زيات مناسب دي، او پر دې قرينه دا ده چې تر دې وروسته باب الأنجاس ذکر کيږي، اوس که موږ حيض او نور له انجاسو څخه و شمارو، لکه د ځينې حضراتو چې همدغه رايه ده نو په دې صورت کې به بيا باب الأنجاس مکرر سي، او تکرار له ترتيب او تصنيف دواړو څخه خلاف دی، خصوصاً بيا هغه تکرار چې فايده نه لري.

او څرنګه چې نفاس او حيض دواړه په يوه معنیٰ دي يا دا چې نفاس د حيض په مقابله کې قليل الوقوع دی، نو ځکه په عنوان کې خو د حيض تذکره وسوه، لېکن د نفاس له تذکرې څخه خاموشي اختيار سوه.

د حيض لغوي او اصطلاحي معنی: د حيض لغوي معنیٰ ده: الدم الخارج: را وتونکې وينه، او د حيض اصطلاحي معنیٰ ده: : هو دم ينفضه رحم المرأة السليمة عن الداء والصغر. **ژباړه:** يعني کومه ښځه چې له نا روغي او کوچنيوالي څخه پاکه وي د هغې له رحم څخه را وتونکې وينې ته حيض وايي.

د حيض شرط: تقدم نصاب الطهر حقيقة أو حكما و فراغ الرحم عن الحبل. **ژباړه:** يعني په حقيقي يا حکمي توګه سره د طهر نصاب تر حيض مخکې کېدل همدارنګه د ښځې رحم له حمل او نورو څخه خالي کېدل د حيض لپاره شرط دي. (عنايه ج:۱/ ۱۶۳)

د حيض کمه موده او زياته موده (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

أَقَلُّ الْحَيْضِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا د حيض کمه موده درې ورځې او درې شپې ده وَمَا نَقَصَ مِنْ ذَلِكَ فَهُوَ اسْتِحَاضَةٌ. او کومه موده چې له دې (مقدار) څخه کمه سوه هغه استحاضه ده لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ • ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي أَقَلُّ الْحَيْضِ لِلْجَارِيَةِ الْبِكْرِ وَالثَّيِّبِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهَا د باکرې او ثيبې ښځې لپاره د حيض کمه موده درې ورځې او درې شپې ده وَأَكْثَرُهُ عَشَرَةُ أَيَّامٍ او له دې څخه زياته موده لس ورځې ده وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي التَّقْدِيرِ بِيَوْمٍ وَلَيْلَةٍ او دا حديث د يوې ورځې او يوې شپې په اندازه کولو کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: • أَنَّهُ يَوْمَانِ وَالْأَكْثَرُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّالِثِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی: (چې د حيض کمه موده)

• تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الحيض باب الحيض، حديث رقم: ۸۳۶ بمعناه ۸۳۴.

• القول الراجح: هو ظاهر الرواية كذا في تبيين الحقائق ج:۱، ص:۵۵، و الهندية ج:۱، ص:۳۶. [القول الراجح ج:۱، ص:۳۷]

دوې ورځې او د دریمې ورځې اکثره حصه ده إِقَامَةً لِلْأَكْثَرِ مَقَامَ الْكُلِّ ځکه چې اکثر قائم مقام د کل دی قُلْنَا: هٰذَا نَقْصٌ عَنْ تَقْدِيْرِ الشَّرْعِ موږ وایو: چې دا د شریعت له اندازې څخه کمې کول دي (نو ځکه به دا صحیح نه وي. بلکې اول به صحیح وي).

اللغات: ﴿أقل﴾ اسم تفضیل دی، معنیٰ یې ده: ډېر کم. ډېر لږ، ﴿أكثر﴾ دا هم اسم تفضیل دی معنیٰ یې ده: ډېر زیات. ﴿جاريه﴾ نجلۍ، ﴿بكر﴾ پېغله، ﴿ثيب﴾ واده سوې ښځه.

تشریح: زموږ په نېز د حیض کمه موده درې ورځې او درې شپې دي. او کومه وینه چې له دې مودې څخه کمه وي. هغه استحاضه ده. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې د حیض کمه موده یوه ورځ او یوه شپه ده. امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چې د حیض کمه موده دوې ورځې پوره او د دریمې ورځې زیاتره حصه ده. امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي چې مطلقې وینې حیض دي، که څه هم هغه یو ساعت وي.

زموږ دلیل: هغه حدیث دی کوم چې ابو امامه باهلي رَحِمَهُ الله، او عایشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، او عاتکې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. او انس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم روایت کړی دی: انه قال أقل الحيض للجارية البكر والثيب ثلاثة أيام ولياليها و أكثره عشرة أيام، همدا موده له حضرت عمر، علي. ابن مسعود، ابن عباس، عثمان. ابن ابی العاص او انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه هم را نقل سوې ده. او له دې حضراتو څخه هم دا رنګه روایت سوی دی لکه څرنګه چې له نبي ﷺ څخه سوی دی. او د حضرت معاذ بن جبل ﷺ د حدیث الفاظ دا دي: لا حيض دون ثلاثة أيام ولا فوق عشرة أيام.

د امام شافعي دلیل: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې کله سیلان دم (د وینو بهېدلو) د شپې او ورځې ټوله وختونه ونیول، نو معلومه سوه چې دا وینه له رحم څخه ده، نو د حیض د وینې د معلومولو لپاره د نور وخت ضرورت نسته.

د امام یوسف دلیل: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د للأكثر حكم الكل په قاعده سره دلیل نیسي.

د امام مالک دلیل: امام مالک رَحِمَهُ الله وایي چې حیض یو حدث دی، نو ځکه به دا هم د نورو أحداثو په څېر په یو شي سره نه اندازه کېږي.

جواب: د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله له طرفه د دې ټولو دلائلو جواب دا دی چې شریعت د حیض کمه موده درې ورځې ټاکلې ده، لېکن که له دې څخه په کمه موده باندې اکتفاء وکړی سي، نو بیا کمه موده درې ورځې نه پاتېږي. او دا ښکاره خبره ده چې دا د شریعت په تقدیر او اندازه کې کمې کول دي، حال دا چې له شرعي تقدیر څخه کمې کول جائز نه دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول ظاهر د روایت دی. یعنې د حیض کمه موده درې ورځې او درې شپې دي.

قال العلامة علاء الدين الكاساني رَحِمَهُ الله: واما الثاني فذكر في ظاهر الرواية ان أقل الحيض ثلاثة ايام ولياليها الى ان قال وحكى عن ابي يوسف رَحِمَهُ الله في النوادر يومان واكثر اليوم الثالث. (بدائع الصنائع ج:١، ص: ٤٠) [القول الراجح ج: ١، ص: ٣٧]

د حیض اکثره موده

وَأَكْثَرُهُ عَشَرَةُ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا او د حیض اکثره موده لس ورځې او لس شپې ده وَالزَّائِدُ اسْتِحَاضَةٌ او له دې څخه زیاته استحاضه ده لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي التَّقْدِيْرِ بِخَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا او دا حدیث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی د پنځلسو ورځو په اندازه لګولو کې ثُمَّ

الزَّائِدُ وَالنَّاقِصُ اِسْتِحَاضَةٌ یا زیاتي او کمي دواړي (وینې) استحاضه دي لِأَنَّ تَقْدِيرَ الشَّرْعِ يَمْنَعُ إِلْحَاقَ غَيْرِهِ بِهِ ځکه چې د شریعت اندازه بل شی منع کوي (له دې څخه) چې د هغه د اندازې سره لاحق سي.

تشریح: زموږ په نېز د حیض اکثره موده لس ورځې دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پنځلس ورځې دي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول هم دا دی.

د امام شافعي دلیل: د نبي کریم ﷺ دا قول دی: تقعد احداهن شطر عمرها لا تصوم ولا تصلی کوم چې نبي کریم ﷺ د ښځو د دین د نقصان په باره کې فرمایلی وو. (یعني ښځه خپل نیم عمر هسې ناسته وي. نه لمونځ کوي او نه روژه نیسي)، په حدیث کې شطر په معنیٰ سره د نصف دی. او له دې څخه مراد د حیض زمانه ده. او دلیل په دې توګه ځني نیسي چې د عمر اندازه په کلونو سره لګول کیږي. او د کلونو اندازه په میاشتو سره لګول کیږي. او د یوې میاشتې نیمې حصه پنځلس ورځې دي، نو معلومه سوه چې ښځه به پنځلس ورځې نه لمونځ کوي او نه روژه نیسي.

زموږ دلیل: هغه حدیث دی کوم چې په مخکنۍ مسئله کې تېر سو یعني أکثره عشرة ایام. ښکاره دي وي چې تر دریو ورځو کمې وینې او تر لسو ورځو چې زیاتې کومې وینې راځي هغه ته د استحاضې او ناروغۍ وینې وایي، ځکه چې شریعت د حیض کمه او اکثره موده دواړه معلومې کړي دي، نو د شریعت له معلومې سوې مودې او اندازې څخه چې کوم شی هم زیات یا کم وي هغه به له ما تعین به الشرع څخه خارج وي. او که په ذکر سوي صورت کې وینې له معلومې سوې مودې څخه کمې یا زیاتې راسي، نو هغه به هم د حیض وینې نه وي، بلکې د استحاضې وینې به وي.

د حیض د بېلا بېلو رنګونو بیان

وَمَا تَرَاهُ الْمَرْأَةُ او کوم څه چې ښځه وویني مِنَ الْحُمْرَةِ وَالصُّفْرَةِ وَالْكُدْرَةِ یعني سُروالی او ژړوالی او خړوالی حَيْضٌ هغه حیض دی حَتَّى تَرَى الْبَيَاضَ خَالِصًا تر دې چې خالص سپین والي ووینې وَقَالَ أَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: لَا تَكُونُ الْكُدْرَةُ حَيْضًا او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چې خړوالی (یعني خړې وینې) حیض نه دی إِلَّا بَعْدَ الدَّمِ خو که تر وینو وروسته راسي (نو بیا حیض دی) لِأَنَّهُ لَوْكَانَ مِنَ الرَّحِمِ ځکه که دا (خړه وینه) له رحم څخه وای لَتَأَخَّرَ خُرُوجُ الْكَدَرِ عَنِ الصَّافِي نو له صفا (وینو) څخه به وروسته را وتلای وَلَهُمَا: ● مَا رُوِيَ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا جَعَلَتْ مَا سِوَى الْبَيَاضِ الْخَالِصِ حَيْضًا او د طرفینو دلیل دا دی: چې عایشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له خالص سپینوالي څخه بغیر (ټولو) ته حیض ویلي دي وَهَذَا لَا يُعْرَفُ إِلَّا سَمَاعًا او دا خبره صرف په اورېدولو سره معلومېدای سي وَفَمُ الرَّحِمِ مَنْكُوسٌ او د رحم خوله چپه وي فَيَخْرُجُ الْكَدَرُ أَوَّلًا نو خړه وینه اول را وځي كَالْجَرَّةِ إِذَا ثُقِبَ أَسْفَلُهَا لکه منګی چې له لاندي خوا څخه سوری سي وَأَمَّا الْخُضْرَةُ فَالصَّحِيحُ او یا ته سو شین رنګ نو صحیح دا ده أَنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا كَانَتْ مِنْ ذَوَاتِ الْأَقْرَاءِ چې که ښځه له ذوات الحیض څخه وه تَكُونُ حَيْضًا نو هغه به حیض وي وَيُحْمَلُ عَلَى فَسَادِ الْغِذَاءِ او د غذا (خوراک) پر خرابۍ به

● القول الراجح: قول ابي حنیفة و محمد رَحِمَهُمَاالله كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۲۱۱. [القول الراجح ج:۱، ص:۳۸]

حمل کیږي وَإِنْ كَانَتْ كَبِيرَةً لَا تَرَى غَيْرَ الْخُضْرَةِ او که ښځه د ډېر وخت (يعني سپين سرې) وه او له شنه رنګ څخه ماسوا يې (بل ډول وينه) نه ليدله تُحْمَلُ عَلَى فَسَادِ الْمَنْبَتِ نو د رحم پر فساد به حمل کیږي فَلَا تَكُونُ حَيْضًا نو دا به حيض نه وي.

اللغات: ﴿حُمْرَةٌ﴾ سور رنګ، سورخي، ﴿صُفْرَةٌ﴾ ژړ رنګ، ژړوالی، ﴿كُدْرَةٌ﴾ خړ رنګ، خړوالی، خاورين، ﴿مَنْكُوس﴾ چپه، سرکوږ کوني، ﴿جَرَّةٌ﴾ منګي، ﴿ثُقِبَ﴾ د فتح او سمع له باب څخه د ماضي مجهول صيغه ده: سوری کول، ﴿أَقْرَاء﴾ جمع ده، واحد يې قُرْءٌ دی: په حيض او طهر دواړو کې مشترک دی، (او دلته) حيض ځني مراد دی.

تشريح: د حيض رنګونه شپږ دي: (۱) تور (۲) سور (۳) ژړ (۴) خړ (۵) شين (۶) خاورين. مصنف رَحِمَهُ الله د تور رنګ ذکر ځکه نه وکړی چې په هغه کې هيڅ اشکال نسته، ځکه چې د نبي ﷺ فرمان دی: دم الحيض أسود غبيط محتدم، يعني د حيض وينه توره تازه او تکه سره وي، په حديث کې د غبيط معنیٰ د تازه ده، او د محتدم معنیٰ د تک سره ده، رنګ چې کله ډېر سور شي نو هغه تورالي ته مائل شي، او د خاکي رنګ (يعني د خاورين رنګ) ذکر يې ځکه ونه کړی چې دا خړ رنګ ته نژدې رنګ دی، نو د خړ رنګ په ترڅ کې د خاکي رنګ ذکر هم وشو، حاصل دا چې تور او سور رنګ په اجماع سره د حيض وينه ده، او تک شين رنګ په اصح قول سره حيض دی.

د خړ رنګ حکم: د خړ رنګ وينه د طرفينو په نېز حيض دی، هغه که د حيض په اولو ورځو کې وي او که په آخرو ورځو کې وي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې خړه وينه حيض نه دی، خو دا چې کله خړه وينه تر سرې او صفا وينې وروسته را ووځي (نو بيا خړه وينه حيض دی).

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې د حيض په وينه کې قانون دا دی چې اول صفا سره وينه راووځي، او بيا وروسته خړه وينه راوځي، خو کله چې خړه وينه مخکې را ووتل نو معلومه سوه چې دا د حيض وينه نه ده، بلکې د رګ يا د يو بل شي وينه ده، او کومه وينه چې له رحم څخه ماسوا د بل ځای وي، نو هغه وينې ته د حيض وينه نه سي ويل کېدلای، نو ځکه به د خړ رنګ وينه د حيض وينه نه وي.

صاحب د عنايې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل داسې بيان کړی دی چې د هر شي خړ رنګ د هغه رنګ د صفا رنګ تابع وي، نو که خړه وينه حيض وګرځول سي، په داسې حال کې چې مخکې صفا وينه نه وي راغلې، نو خړ رنګ به مقصود سي، تابع به نه سي، حال دا چې د هر شي خړوالی د هغه د صفاوالي تابع وي.

د طرفينو دليل: دا دی چې حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له خالص سپينوالي څخه ماسوا نور ټول رنګونه حيض ګرځولي دي، امام مالک رَحِمَهُ الله په خپل موطأ کې دا حديث بيان کړی دی: عن علقمة بن أبي علقمة عن أمه مولاة عائشة أم المؤمنين أنها قالت كان النساء يبعثن إلى عائشة بالدرجة فيها الكرسف فيه الصفرة من دم الحيض يسألنها عن الصلاة فتقول لهن لا تعجلن حتى ترين القصة البيضاء. (حضرت علقمه بن ابي علقمه له خپلې مور څخه چې هغه دام المؤمنين حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا آزاده سوې مينځه وه، روايت کوي چې ښځو به حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته کوچنی صندوخچې را استولې چې په هغه کې به د حيض په ژړو وينو رنګ سوي کپړې وې، دغه ښځو به د لمانځه په باره کې پوښتنه کوله، نو حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به ورته فرمايل: تاسو تلوار مه کوئ، تر څو چې خالص سپينوالی مو ليدلی نه وي)، له دې حديث څخه هم ثابته سوه چې له سپين رنګ څخه ماسوا نور ټول رنګونه د حيض دي، او ښکاره خبره ده چې حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې به څه کوله يا څه به يې فرمايله هغه به يې له رسول الله ﷺ څخه اورېدلې وه.

سوال: خو که دا اعتراض وسي چي دا حديث: دم الحيض أسود غبيط محتدم پر دې دلالت کوي چي له تور رنګه څخه ماسوا هيڅ يو رنګ د حيض رنګ نه دی.

جواب: جواب دا دی چي دا حديث د تخصيص الشئ بالذکر له قبيلې څخه دی او تخصيص الشئ بالذکر د ماعدا نفي نه کوي.

جواب: له وفم الرحم منکوس څخه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دليل جواب دی، خلاصه د جواب دا ده چي ستاسو دا وينا چي خړ رنګ له صفا رنګ څخه وروسته راځي مونږ منو خو په هغه وخت کي چي د لوښي په بيخ او تَلْ کي سوری نه وي، او که د لوښي په بيخ کي سوری وو نو اول به خړ رنګ راوځي، او بيا به صفا رنګ ښکاره کيږي، نو دلته هم دا صورت دی ځکه چي د رحم خوله چپه او سر کول کوني وي، او خوله يې کښته (لاندي خوا ته) وي، او د حيض له ورځو څخه ماسوا د رحم خوله بنده وي، نو کله چي د حيض په ورځو کي د رحم خوله خلاصه سي، نو تر ټولو مخکي خړه وينه را وځي، نو ځکه به د خړ رنګ وينه له رحم څخه نه شمارل صحيح نه وي.

د شنه رنګ حکم: د شنه رنګ وينو په باره کي صحيح قول دا دی چي که ښځه له ذوات الحيض څخه وي، يعني د داسي عمر وي چي حيض ورته راځي، نو دا د شنه رنګ وينه به د حيض وي، او دا شين رنګ به پر دې خبره حمل کيږي چي د دې په هضميت کي يو څه خرابي ده چي د هغه په وجه له دې څخه د شنه رنګ وينه راغله، او که ښځه سپين سرې (بوډۍ) وه، نو دا د حيض وينه نه ده، بلکي ويل کيږي به، چي دا وينه د رحم د خرابۍ له وجهي څخه راځي، ځکه چي په اصل کي د وينې رنګ شين نه وي.

فايده: د مختار قول مطابق د پنځه پنځوس (۵۵) کالو په عمر کي ښځه آيسه کيږي، او د بعضو په نيز د پنځوس (۵۰) کالو په عمر کي او د بعضو په نيز - ويا (۷۰) کالو په عمر کي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفينو دی، قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله انما حيض اى الكدرة من ذوات الاقراء دون الآيسة (رد المحتار ج: ، ص: ۲۱۱). [القول الراجح ج: ۱، ص: ۳۸]

د حيض په حالت کي د لمانځه او روژې حکم

وَالْحَيْضُ يُسْقِطُ عَنِ الْحَائِضِ الصَّلَاةَ او حيض له حائضې ښځي څخه لمونځ ساقطوي وَيُحَرِّمُ عَلَيْهَا الصَّوْمَ او پر هغې روژه حراموي وَتَقْضِي الصَّوْمَ او حائضه ښځه به د روژې قضاء راوړي وَلَا تَقْضِي الصَّلَوَاتِ او د لمونځونو قضاء به نه راوړي لِقَوْلِ عَائِشَةَ رضِيَ اللهُ عَنْهَا ځکه حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايلي دي كَانَتْ إِحْدَانَا عَلَى عَهْدِ● رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا طَهُرَتْ مِنْ حَيْضِهَا چي په موږ کي به کله يوه ښځه د نبي ﷺ په زمانه کي حائضه سوه تَقْضِي الصِّيَامَ نو هغې به د روژو قضاء راوړل وَلَا تَقْضِي الصَّلَوَاتِ او د لمونځونو قضاء به يې نه راوړل وَلِأَنَّ فِي قَضَاءِ الصَّلَاةِ حَرَجًا لِتَضَاعُفِهَا او په دې وجه هم چي د لمونځونو د دوچنده کېدلو په وجه د هغو په قضاء راوړلو کي تکليف دی وَلَا حَرَجَ فِي قَضَاءِ الصَّوْمِ او د روژو په قضاء راوړلو کي څه تکليف نسته.

● تخريج: أخرجه الائمة الستة فى كتبهم والبخارى فى كتاب الحيض باب لا تقضى الحائض الصلاة، حديث رقم: ۳۲۱، و ابو داؤد فى كتاب الطهارة

اللغات: ﴿تَفَاحُش﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: دو چنده کېدل، دوغبرګه کېدل.

تشريح: له دې ځایه د حیض احکام بیانیږي. په نهایه کې راغلي دي: چې د حیض دولس احکام دي، اته(۸) داسي دي چې په هغه کې حیض او نفاس مشترک دي، او څلور(۴) داسي دي چې د حیض سره خاص دي، له دغه اتو(۸) څخه یو لمونځ پرېښوول او قضاء یې نه راوړل دي، بل د روژې پرېښوول او قضاء یې راوړل دي، یعني له حائضې ښځې څخه لمونځ ساقطیږي او قضاء یې پر هغې نسته، او روژه څنې ساقطیږي خو د روژې قضاء پر سته.

نقلي دليل: په دې باره کې نقلي دلیل دا دی چې حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي: کله چې به د نبي ﷺ په زمانه کې زموږ له أزواجِ مطهراتو څخه یوه له خپل حیض څخه پاکه سوه نو د لمونځونو قضاء به یې نه راوړله او د روژو قضاء به یې راوړله.

عقلي دليل: دا دی چې د لمونځونو په قضاء کې حرج سته، ځکه چې هغه دوچنده کیږي. او د روژو په قضاء کې هیڅ حرج نسته، د مثال په توګه که په ټوله کال کې له یوې ښځې څخه د حیض په وجه لس روژې پاته سي، نو په پاته یوولسو میاشتو کې به د هغو قضاء راوړي. او لمونځ داسي نه دی، ځکه چې روزانه پنځه لمونځونه فرض دي، نو که تر پاکوالي وروسته دا هره ورځ د پنځو لمونځونو قضاء راوړي، نو روزانه لس لمونځونه سوه. پنځه د قضاء او پنځه د اداء، نو دا ټول د دې لمونځونه دوچنده سوه، او دا مسئله (یعني حیض) په هره میاشت کې راځي، نو ښکاره خبره ده چې په دې کې سخت حرج او تکلیف سته، او الله تعالیٰ له خپلو بندګانو څخه تکلیف لیري کړی دی، فرمایي: وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ (سورة الحج:۷۸)، نو ځکه به پر حائضه ښځې د لمونځونو قضاء نه وي.

د جُنب او حائضې ښځې لپاره مسجد ته د داخلېدل جائز نه دي

> **وَلَا تَدْخُلُ الْمَسْجِدَ** او حائضه ښځه به مسجد ته نه داخلیږي **وَكَذَا الْجُنُبُ** او دغه ډول به جنب هم (مسجد ته نه داخلیږي) **لِقَوْلِهِ**● **عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ** ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي **فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ** زه د حائضې او جنب لپاره مسجد نه حلالوم **وَهُوَ بِإِطْلَاقِهِ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ** او دا حدیث د خپل اطلاق په وجه د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په خلاف حجت دی **فِي إِبَاحَةِ الدُّخُولِ عَلَى وَجْهِ الْعُبُورِ وَالْمُرُورِ** د تګ او را تګ په توګه د داخلېدلو په روا کرځولو کې **وَلَا تَطُوفُ بِالْبَيْتِ** او حائضه ښځه به د کعبې طواف (هم) نه کوي **لِأَنَّ الطَّوَافَ فِي الْمَسْجِدِ** ځکه چې طواف (هم) په مسجد حرام کې کیږي **وَلَا يَأْتِيهَا زَوْجُهَا** او حائضې ښځې ته به خپل خاوند (هم) نه راځي **لِقَوْلِهِ تَعَالَى: وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ** [البقرة: ۲۲۲] ځکه الله جَلَّ فرمایلي دي: تاسو مه نژدې کېږئ حائضو ته تر دې چې هغوی پاکي سي.

اللغات: ﴿عُبُوْر﴾ د نصر د باب مصدر دی: پوري وتل، تجاوز کول. ﴿مُرُوْر﴾ د نصر د باب مصدر دی: تېرېدل. له عبور او مرور څخه دلته مراد په مسجد کې تېرېدل را تېرېدل او تګ و راتګ دی.

تشريح: په دې عبارت کې د حائضې ښځې په باره کې درې احکام بیان سوي دي:

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة باب في الجنب يدخل المسجد، حديث رقم: ۲۳۲.

(۱) **اول حکم** دا دی چې د حائضې ښځې لپاره مسجد ته داخلېدل جائز نه دي، او څرنګه چې د نه طهارت په حواله سره جنب هم د حائضې په معنیٰ دی، نو ځکه د ده لپاره هم مسجد ته داخلېدل جائز نه دي، او پر دې باندې دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: چې زه د حائضې او جنب لپاره مسجد نه حلالوم. نو د نبي ﷺ دا فرمان په دې سلسله کې واضح او ښکاره دليل دی چې د حائضې او جنب لپاره مسجد ته داخلېدل منع دي.

د امام شافعي مسلک: دا دی چې که څه هم د حائضې او جنب لپاره مسجد ته داخلېدل جائز نه دي خو بيا هم د تېرېدلو لپاره په مسجد کې د دوی داخلېدل جائز دي.

د امام شافعي دليل: د قرآن کريم دا يت دی: لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا (سورة النساء: ۴۳). (تاسو لمانځه ته د نشې په حالت کې مه نژدې کېږئ تر دې چې تاسو په هغه شي پوه سئ چې تاسو (يې) واياست او د جنابت په حالت کې هم، خو له مسافرانو څخه ماسوا، تر دې چې تاسو غسل وکړئ).

په دې يت آيت سره امام شافعي په دې توګه دليل نيسي چې په آيت کې له صلوٰة څخه مراد مکان صلوٰة (د لمانځه ځای) يعني مسجد دی، او د عابري سبيل معنیٰ د تېرېدلو ده، نو اس د آيت مطلب دا سو چې مسجد ته د جنب ور نژدې کېدل صحيح نه دي، خو که په مسجد کې تېر سو او نه ودرېدی نو په دې کې هيڅ حرج نسته. (او همدا حکم د حائضې ښځې دی، د شوافعو په نيز).

جواب: زموږ له طرفه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب دا دی چې د مفسرينو په نيز دلته إلا په معنیٰ د ولا دی يعني جنب دې نه مسجد ته ور نژدې کيږي او نه دي د تېرېدلو په توګه مسجد ته داخليږي، دويم جواب دا دی چې له صلوٰة څخه مراد حقيقت د صلوٰة دی، او له عابري سبيل څخه مراد مسافران دي، نو اوس د آيت مطلب دا سو چې: "لمونځ نه د نشې په حالت کې کوئ او نه د جنابت په حالت کې" لېکن که جنب مسافر وو نو هغه تر غسل کولو مخکې په تيمّم وهلو سره لمونځ کولای سي".

(۲) **دويم حکم:** په عبارت کې دويمه مسئله دا ده چې حائضه ښځه دې د کعبې شريفې طواف هم نه کوي، ځکه چې د بيت الله طواف هم په مسجد يعني په مسجد حرام کې کې کيږي، او د حائضې ښځې لپاره مسجد ته داخلېدل منع دي. نو طواف به هم منع وي، صاحب د عنايه ليکلي دي چې د حائضې ښځې لپاره مطلقاً طواف کول منع دي. هغه که په مسجد کې دننه وي، که دباندې وي، او د پاکي ښځې لپاره دننه او دباندې په دواړو ځايو کې طواف کول جائز دي، ځکه په حديث کې راځي چې: الطواف بالبيت صلاة (د کعبې طواف د لمانځه په څير دی). نو د حائضې لپاره نه په مسجد کې دننه لمونځ صحيح دی، او نه دباندې.

(۳) **دريم حکم:** په دې عبارت کې دريمه مسئله دا ده چې د حائضې ښځې سره دې کوروالی نه کوي، ځکه په آيت کې راځي: وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ. (يعني د حيض په حالت کې ښځو ته مه نژدې کيږئ تر دې چې هغوی پاکي سي). همدارنګه په حديث کې راغلي دي چې نبي ﷺ وفرمايل: اصنعوا کل شيئ إلا النکاح. (يعني د حيض په حالت کې پرته له جماع څخه هر کار کوئ)، په دې حديث کې له النکاح څخه جماع مراد ده.

د حائضې او جنب لپاره د قرآن شريف د تلاوت حکم (او د يوه آيت د تلاوت کولو د جواز مسئله)

وَلَيْسَ لِلْحَائِضِ وَالْجُنُبِ وَالنُّفَسَاءِ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ او د حائضې، جنب او نفاسې لپاره د قرآن لوستل (هم) جائز نه دي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا تَقْرَأُ● الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ چې حائضه او جنب به له قرآن څخه هيڅ هم نه وايي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلٰى مَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْحَائِضِ او دا حديث د حائضې ښځې په باره کې د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی وَهُوَ بِإِطْلَاقِهٖ يَتَنَاوَلُ مَا دُوْنَ الْآيَةِ او دا حديث د خپل اطلاق په وجه له يوه آيت څخه کم ته هم شامل دی فَيَكُوْنُ حُجَّةً عَلَى الطَّحَاوِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِيْ إِبَاحَتِهٖ نو ځکه به دا حديث د ما دون الآية په مباح کرځولو کې د امام طحاوي رَحِمَهُ الله په خلاف (هم) حجت وي.

اللغات: ﴿النُّفَسَاء﴾ هغه ښځه چې د نفاس وينې ورته راځي، ﴿يَتَنَاوَلُ﴾ د تفاعل له باب څخه د مضارع صيغه ده: شاملېدل، ګډېدل.

تشريح: د حائضې، نفاسې او جنب لپاره د قرآن پاک لوستل جائز نه دي، نه د يو آيت لوستل جائز دي او نه له دې څخه کم، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چې د حائضې لپاره د قرآن لوستل جائز دي، او امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې له يوه آيت څخه د کم لوستل مباح دي.

د امام طحاوي دليل: دا دی چې د قرآن سره دوه حکمونه تعلق لري: يو قرائت د قرآن. يعني په قرائت باندې د لمانځه جواز، دويم د حائضې او نورو لپاره د قرآن د لوستلو حرمت، بيا په اول حکم کې کوم چې د لمانځه د جواز سره متعلق دی، په هغه کې په يوه آيت او له آيت څخه په کم کې فصل او فرق سته، د يوه آيت په اندازه سره لمونځ جائز کيږي، او د يوه آيت له اندازې څخه په کم باندې نه جائز کيږي، نو دغه رنګه په دويم حکم کې هم فصل او فرق کول پکار دي چې: د حائضې ښځې لپاره به د يوه آيت لوستل ناجائز وي، او له يوه آيت څخه د کم لوستل به جائز وي.

د امام مالک دليل: دا دی چې حائضه ښځه معذوره ده، او د قرآن پاک د تلاوت محتاجه ده، او د طهارت پر حاصلولو هم قدرت نه لري، نو د ضرورت په وجه د حائضې لپاره د قرآن تلاوت جائز دی، د دې په خلاف جنب دی، ځرنګه چې هغه د غسل يا تيمّم په ذريعه پاکي حاصلولای سي، نو د هغه لپاره به د قرآن تلاوت جائز نه وي، او ځرنګه چې نفاس کم واقع کيږي، نو ځکه به د نفاسې په حق کې هم د دغه ضرورت اعتبار نه کيږي.

زموږ دليل: دا حديث دی: لا تقرأ الحائض ولا الجنب شيئا من القرآن، او دا حديث د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف هم حجت دی، ځکه چې دا حديث ښکاره حائضه ښځه د قرآن له تلاوت څخه منع کوي، نو د امام مالک رَحِمَهُ الله عقلي دليل د دې مقابله نه سي کولای، او ځرنګه چې حديث مطلق دی، نو يوه آيت او له آيت څخه کم دواړو ته شامل دی، لهذا د امام طحاوي رَحِمَهُ الله دا خبره چې يو آيت ناجائز او له يو آيت څخه کم جائز دی، صحيح نه ده. بلکې د حائضې لپاره به مطلقاً د قرآن تلاوت جائز نه وي.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الطهارة، باب ما جاء في الجنب والحائض انهما لايقرآن القرآن، حديث رقم: ۱۳۱، و ابن ماجه في كتاب الطهارة باب ما جاء في قراءة القرآن على غير طهارة، حديث رقم: ۵۹۵.

د ناپاک انسان لپاره د قرآن د مسه کولو حکم

وَلَيْسَ لَهُمْ مَسُّ الْمُصْحَفِ او د دوی لپاره د قرآن پاک مسه کول جائز نه دي (يعني د بې اودسه، جنب، حائضې او نفاسې لپاره) إِلَّا بِغِلَافِهِ مګر د خپل پوښ سره وَلَا أَخْذُ دِرْهَمٍ فِيْهِ سُوْرَةٌ مِنَ الْقُرْآنِ او نه د داسې روپۍ اخيستل (جائز دي) چې په هغې کې د قرآن يو سورت وي إِلَّا بِصُرَّتِهِ مګر د خپلې تيلۍ (بټوې) سره وَكَذَا الْمُحْدِثُ لَا يَمَسُّ الْمُصْحَفَ إِلَّا بِغِلَافِهِ همدارنګه به بې اودسه هم له پوښ څخه بغير قرآن نه مسه کوي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا يَمَسُّ● الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ قرآن به صرف پاک انسان مسه کوي ثُمَّ الْحَدَثُ وَالْجَنَابَةُ حَلَّا الْيَدَ بيا حدث او جنابت دواړو په لاس کې حلول کړی دی فَيَسْتَوِيَانِ فِي حُكْمِ الْمَسِّ نو د مسه کولو په حکم کې به دواړه برابر وي وَالْجَنَابَةُ حَلَّتِ الْفَمَ او جنابت خولې ته حلول کړی دی دُوْنَ الْحَدَثِ نه حدث (يعني حدث خولې ته حلول کړی نه دی) فَيَفْتَرِقَانِ فِي حُكْمِ الْقِرَاءَةِ نو د قرآن د لوستلو په حکم کې به دواړه جلا وي وَغِلَافُهُ: مَا يَكُوْنُ مُتَجَافِيًا عَنْهُ او د قرآن پوښ هغه دی چې هغه له قرآن څخه جلا وي دُوْنَ مَا هُوَ مُتَّصِلٌ بِهِ نه هغه چې د قرآن سره موښتی وي كَالْجِلْدِ الْمُشَرَّزِ لکه هغه چرم (يا توکر) چې پر قرآن موښتې وي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده وَيُكْرَهُ مَسُّهُ بِالْكُمِّ او په لستوڼي سره د قرآن مسه کول مکروه دي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهُ تَابِعٌ لَهُ ځکه چې لستوڼی د مسه کونکي تابع دی بِخِلَافِ كُتُبِ الشَّرْعِيَّةِ په خلاف د شرعي کتابونو لِأَهْلِهَا د شريعت والا وو لپاره حَيْثُ يُرَخَّصُ فِي مَسِّهَا بِالْكُمِّ نو په لستوڼو سره د هغو مسه کول جائز دي لِأَنَّ فِيْهِ ضَرُوْرَةٌ ځکه چې په دې کې ضرورت دی وَلَا بَأْسَ بِدَفْعِ الْمُصْحَفِ إِلَى الصِّبْيَانِ او ماشومانو ته د قرآن په ور کولو کې څه پروا نشته لِأَنَّ فِي الْمَنْعِ تَضْيِيْعَ حِفْظِ الْقُرْآنِ ځکه چې په منع کولو کې د قرآن د حفظ (يادولو) ضايع کول دي وَفِي الْأَمْرِ بِالتَّطْهِيْرِ حَرَجًا بِهِمْ او (ماشومانو ته په هر وخت کې) د اودس حکم کول د دوی په حق کې تکليف دی وَهٰذَا هُوَ الصَّحِيْحُ صحيح قول هم دا دی.

اللغات: ﴿غلاف﴾ پوښ، هغه شی چې بل شی په پټ سي، سرپوښ، لفافه او داسې نور. ﴿صُرّة﴾ تيلۍ، بټوه، هميانۍ، خلته. ﴿متجافي﴾ جلا. ﴿المشرز﴾ په سريښو سره موښتی، ترل سوی. ﴿كُمّ﴾ لستوڼی، دواړو لستوڼو ته کُمّين وايي.

تشريح: صاحب د کتاب د قرآن د تلاوت د حکم تر بيانولو وروسته دلته د قرآن د مسه کولو حکم بيانوي، چې تفصيل يې دا دی چې د حائضې، جنب، نفاسې اود بې اودسه انسان لپاره قرآن له خپل پوښ څخه بغير مسه کول او نيول صحيح نه دي، همدارنګه هر داسې شی له پوښ او کوَر (COVER) څخه بغير نيول جائز نه دي چې په هغې کې د قرآن کريم يو

● تخريج: أخرجه الطبراني في المعجم الكبير، حديث رقم: ۱۳۲۵۱، ج:۱۲، ص:۳۱۲.

آيت يا سورت ليکل سوی وي. هغه که درهم وي يا يو بل شی وي، او پر دې باندې دليل هغه حديث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو، يعني: لايمس القرآن إلا طاهر.

ثم الحدث الخ صاحب د کتاب فرمايي: چې حدث او جنابت دواړه د قرآن د مسه کولو په حکم کې برابر دي، خو د قرآن د تلاوت په حکم کې دواړه جلا دي، ځکه چې د بې اودسه لپاره د قرآن تلاوت جائز دی، او د جنب لپاره جائز نه دی. وجه دا ده چې: حدث او جنابت دواړه په لاس کې سرايت کوي نو په دې وجه قرآن ته لاس وروړل جائز نه دي. خو حدث په خوله کې دننه سرايت نه کوي، همدا وجه ده چې په اودسه کې خوله پرېولل فرض نه دي. او جنابت په خوله کې سرايت کوي (نو ځکه په غسل کې د خولې پرېولل فرض دي) نو ځکه د بې اودسه لپاره تلاوت جائز او د جنب لپاره ناجائز دی.

وغلافه الخ صاحب د هدايې فرمايي: چې پوښ هغه دی چې له قرآن څخه جلا وي يعني د ماس (مسه کونکي) او ممسوس (مسه کړی سوي) په مينځ کې واسطه وي. او د قرآن سره متصل او موښتی نه وي لکه مشرز (يعني لکه هغه چمړه، يا پوست يا ټوکر چې په نسربښو د کتاب سره موښتی وي). حاصل دا چې له غلاف څخه مراد د قرآن پاک پوښ دی (يعني هغه بسته چې خلک قرآن پکښې پيچي او پټوي يې).

صاحب د نقايې فرمايي: چې د پوښ په مصداق کې د عالمانو اختلاف دی: بعضو فرمايلي دي چې پوښ هغه دی چې د قرآن سره متصل يعني په سرېښو موښتی وي. او بعضو فرمايلي دي چې لستوڼي مراد دی. او بعضو فرمايلي دي چې له پوښ څخه مراد هغه بسته او تيلۍ (پوښ) دی چې قرآن پکښې ايښول کيږي، دا قول زيات صحيح دی، ځکه چې سرېښ سوی پوښ خو د قرآن تابع دی، او لستوڼی د مسه کونکي تابع دی، او پوښ په دې دواړو کې د يوه هم تابع نه دی.

بخلاف کتب الشريعة الخ ليکن د علماؤ، او د هغو خلکو لپاره چې د ديني احکامو او مسائلو سره تعلق لري په لستوڼي سره شرعي او ديني کتابونه مسح کول او را پورته کول جائز دي، ځکه که څه هم په دې کتابو کې د قرآن پاک آيتونه ليکل سوي دي، خو د دوی مصروفيت په وجه دې حضراتو ته بار بار اودس کول تکليف او حرج دی. نو د دفع حرج لپاره دوی ته په لستوڼي يا داسې بل ټوکر سره د ديني کتابونو مسح کول جائز او روا دي.

ولا بأس الخ بې اودسه کوچنيانو ته د قرآن په ورکولو کې څه پروا نسته، ځکه که کوچنيانو ته د دې اجازه ورنه کړل سي. نو دوه صورتونه به وي: يا خو به دوی ګردسره د قرآن پاک له حفظ او لوستلو څخه منع کيږي، او يا به ورته د اودس کولو حکم کيږي. په اول کې د قرآن پاک ضايع کېدل راځي، او په دويم صورت کې کوچنيان په مشقت او حرج کې مبتلا کيږي، حال دا چې په شريعت کې له بالغه او عاقلو خلکو څخه حرج ليرې سوی دی. نو له کوچنيانو څخه خو به په طريقه اولیٰ ليري وي.

که تر لسو ورځو مخکي حيض ختم سو نو تر غسل مخکي د جماع حکم

وَإِذَا انْقَطَعَ دَمُ الْحَيْضِ لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ او کله چې د حيض وينه د لسو ورځو څخه په کمه موده کې بنده سي لَمْ تَحِلَّ وَطْؤُهَا حَتَّى تَغْتَسِلَ نو تر غسل کولو مخکې د ښځې سره جماع کول حلال نه دي لِأَنَّ الدَّمَ يَدُرُّ تَارَةً ځکه چې وينه کله جاري کيږي وَيَنْقَطِعُ أُخْرَى او کله بنديږي فَلَا بُدَّ مِنَ الْإِغْتِسَالِ نو غسل کول ضروري دي لِيَتَرَجَّحَ جَانِبُ الْإِنْقِطَاعِ چې د بندېدلو اړخ راجح سي وَلَوْ لَمْ تَغْتَسِلْ وَمَضَى عَلَيْهَا أَدْنَى وَقْتِ الصَّلَاةِ او که ښځې غسل ونه کړی او پر

دې د لمانځه لږ وخت تېر سو بِقَدْرِ أَنْ تَقْدِرَ عَلَى الْاِغْتِسَالِ وَالتَّحْرِيمَةِ په دې اندازه چي هغې پر غسل کولو او د تکبیر تحریمه پر ترلو قدرت پیدا کړی حَلَّ وَطْؤُهَا نو د هغې سره جماع کول جائز سو لِأَنَّ الصَّلَاةَ صَارَتْ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهَا ځکه چي لمونځ د هغې پر ذمه پور (او فرض) سو فَطَهُرَتْ حُكْمًا نو ګواکي دا حکما پاکه سوه.

اللغات: ﴿يَبْدُرُ﴾ د نصر د باب مضارع صیغه ده: بهیدل. ﴿دَيْنٌ﴾ پور. قرض.

تشریح: که د عادت مطابق د لسو ورځو څخه په کمه موده کي وینه ودرېدله. نو وطي کول جائز نه دي. تر دې چي دغه ښځه غسل وکړي.

دلیل: دا دی چي د اکثره مودې تر تېرېدلو مخکي چي کومه وینه بندیږي هغه کله کله جاري کیږي هم. نو د بندېدلو اړخ ته په ترجیح ورکولو سره غسل کول ضروري دي.

ولولم تغتسل الخ او که دې ښځي تر وینې بندېدلو وروسته غسل ونه کړی، او دومره لږ وخت تېر سو چي په هغه وخت کي دې غسل کولای سو او تکبیر تحریمه یې ترلی سوه، نو اوس وطي ور سره کول حلال دي، ځکه چي دا لمونځ د دې په حق کي قضا سو، نو ګواکي دا لمونځ د دې پر غاړه پور سو. ځکه چي شریعت دا حکما پاکه وګرځوله. نو په دې وجه لمونځ د دې پر غاړه پور سو، او زموږ شریعت داسي نه سي کولای چي خپل حق دي ثابت کړي (چي هغه لمونځ دی). او د بندګانو حق دي ختم کړي (چي هغه جماع ده). لهذا دا ښځه حکما پاکه ده. نو کله چي پاکه نو جماع هم ور سره جائز ده.

که تر عادت مخکي یا وروسته حیض ختم سو نو د جماع حکم

وَلَوْ كَانَ انْقَطَعَ الدَّمُ دُونَ عَادَتِهَا فَوْقَ الثَّلَاثِ او که وینه د ښځي د عادت (له ورځو) څخه په کمه موده کي او له دریو ورځو څخه په زیاته موده کي بنده سوه لَمْ يَقْرَبْهَا حَتَّى تَمْضِيَ عَادَتُهَا نو خاوند به د ښځي سره جماع نه کوي تر دې چي د عادت (ورځي) یې پوره سي وَإِنِ اغْتَسَلَتْ که څه هم دا غسل وکړي لِأَنَّ الْعَوْدَ فِي الْعَادَةِ غَالِبٌ ځکه چي د عادت په دوارن کي دوبیني راګرځېدل غالب دي فَكَانَ الْاِحْتِيَاطُ فِي الْاِجْتِنَابِ نو احتیاط په ځان ژغورلو کي دی وَإِنِ انْقَطَعَ الدَّمُ لِعَشَرَةِ أَيَّامٍ او که په لسمه ورځ وینه بنده سوه حَلَّ وَطْؤُهَا قَبْلَ الْغُسْلِ نو تر غسل مخکي (هم) وطي ور سره کول حلال دي لِأَنَّ الْحَيْضَ لَا مَزِيدَ لَهُ عَلَى الْعَشَرَةِ ځکه چي حیض تر لسو ورځو نه زیاتیږي إِلَّا أَنَّهُ لَا يُسْتَحَبُّ قَبْلَ الْاِغْتِسَالِ لیکن تر غسل مخکي وطي کول مستحب (ښه) نه دي لِلنَّهْيِ فِي الْقِرَاءَةِ بِالتَّشْدِيدِ د هغه نهي (منعي) په وجه کوم چي په قرائت بالتشدید (يطّهّرن) کي راغلي دي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که وینه تر درې ورځو وروسته او له عادت څخه مخکي ودرېدله. د مثال په توګه عادت یې اووه ورځي وو او وینه په پنځمه ورځ ودرېدله، نو په داسي صورت کي د داسي ښځي سره وطي کول جائز نه دي، تر دې چي عادت یې پوره سي، که څه هم دا غسل وکړي، ځکه چي د عادت په ورځو کي زیاتره وخت وینه بیرته راځي، نو احتیاط هم په دې کي دی چي له وطي څخه ځان وساتي.

او که لس ورځي پوره سوې او بيا وينه ودرېدله، نو په دې صورت کي له غسل څخه بغير هم وطي کول جائز دي، ځکه چي لس ورځي د حيض زياته موده ده، او دا خبره تسليم سوې ده چي اول خو به وينه نه راځي، او که راسي هم نو هغه وينه به د استحاضې (يعني د مرض) وي، او په دواړو صورتونو کي د وطي مانع نسته، نو ځکه اوس وطي کول روا دي، لېکن بيا هم د پاکوالي او سپېڅلتيا تقاضا دا ده چي په دې صورت کي دي هم تر غسل کولو وروسته وطي ورسره وسي، ځکه په دې باره کي چي کوم آيت راغلی دی يعني: وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ [سورة البقرة:۲۲۲] (د ښځو سره د حيض په ورځو کي جماع مه کوئ تر څو چي هغوی پاکي سي) په دې آيت کي يَطْهُرْنَ د يوه قرائت مطابق په تشديد سره ويل سوی دي، او د مشدد ويلو په صورت کي به يې مطلب دا وي چي تر کومه وخته ښځي په ښه توګه سره پاکي نه سي، تاسو د هغو سره جماع مه کوئ، او د ښه پاکېدلو مطلب همدغه دی چي تر وينو درېدلو وروسته ښځه غسل وکړي او ځان پاک کړي.

د طُهرِ مُتخلل حکم

وَالطُّهْرُ إِذَا تَخَلَّلَ بَيْنَ الدَّمَيْنِ او هغه طهر کوم چي د دوو وينو په مينځ کي واقع سي فِي مُدَّةِ الْحَيْضِ د حيض په موده کي فَهُوَ كَالدَّمِ الْمُتَوَالِي نو هغه (هم) د پرلپسې (مسلسله) وينو په ډول دی قَالَ رض: هٰذِهِ إِحْدَى الرِّوَايَاتِ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله له روايتونو څخه يو روايت دی وَوَجْهُهُ أَنَّ اسْتِيْعَابَ الدَّمِ مُدَّةَ الْحَيْضِ لَيْسَ بِشَرْطٍ بِالْإِجْمَاعِ او د دې وجه (او دليل) دا دی چي دا شرط نه ده چي وينه دي د حيض ټوله موده ونيسي فَيُعْتَبَرُ أَوَّلُهُ وَآخِرُهُ نو د دې اول او آخر به معتبر وي كَالنِّصَابِ فِي بَابِ الزَّكَاةِ لکه نصاب د زکوة په باب کي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقِيْلَ: ●هُوَ آخِرُ أَقْوَالِهِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی او دا د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله يو روايت هم دی او ويل سوي دي: چي دا د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله آخر قول دی أَنَّ الطُّهْرَ إِذَا كَانَ أَقَلَّ مِنْ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا چي که د طهر موده تر پنځلس ورځو کمه وي لَا يَفْصِلُ نو هغه به فاصل نه وي وَهُوَ كُلُّهُ كَالدَّمِ الْمُتَوَالِي او د طهر دا ټوله موده به د پرلپسې راتلونکي وينې په ډول وي لِأَنَّهُ طُهْرٌ فَاسِدٌ ځکه چي هغه طهر فاسد دی فَيَكُوْنُ بِمَنْزِلَةِ الدَّمِ نو د وينې په حکم کي به وي وَالْأَخْذُ بِهٰذَا الْقَوْلِ أَيْسَرُ او په دې قول عمل کول ډېر آسانه دی وَتَمَامُهُ يُعْرَفُ فِي كِتَابِ الْحَيْضِ او د دې پوره تفصيل به (د امام محمد رَحِمَهُ الله د مبسوط) په کتاب الحيض کي (تاته) معلوم سي (يعني که نور تفصيل غواړې نو "مبسوط" وګوره).

اللغات: ﴿مُتَخَلِّل﴾ د دوو شيانو تر مينځ جلا کونکي او بېلوونکی شی، ﴿طُهرِ مُتَخَلِّل﴾ د حيض د دوو وينو په مينځ کي چي کله وينه بنده سي نو دې ته طهر متخلل وايي، ﴿مُتَوالي﴾ پرله پسې، مسلسل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چي طُهر بظم الطاء هغه مودې ته ويل کيږي چي د دوو (۲) وينو په مينځ کي فاصل (جلاکونکې) وي، او بيا دلته له طهر څخه مراد طهر کامل دی، چي د هغه کمه (اقله) موده پنځلس

● القول الراجح: هو رواية ابی يوسف رَحِمَهُ الله كذا فی رد المحتار ج:۱، ص:۲۱۲، وفتح القدير ج:۱، ص:۱۵۳. [القول الراجح، ج:۱، ص:۳۹]

ورځي ده، د دې په مقابله کي هغه طهر کوم چي له پنځلسو ورځو څخه د کمي مودې لپاره فاصل وي هغه ته طهر فاسد او طهر ناقص وايي.

د عبارت مطلب دا دی چي که طهر له پنځلسو ورځو څخه د کمي مودې لپاره د دوو حيضونو په مينځ کي فاصل جوړ سو نو دا طهر، فاصل طهر نه دی، بلکي د مخکي او شا والا ټوله موده به د حيض وي، د مثال په توګه که يوه ښځه مبتدأه وي (يعني هغه نجلۍ چي اول وار يې د حيضويني راغلي وي، نو که) هغې يوه ورځ ويني وليدلې، بيا اته ورځي ويني بندي وې، تر دې وروسته په لسمه ورځ بيا ويني ښکاره سوې نو اوس د دې په حق کي ټوله لس ورځي د حيض ورځي شمارل کيږي، ځکه چي دلته ويني د حيض د شروع په موده او په آخره موده کي سته، او د يوه امام په نېز هم د حيض په موده کي د پرله پسې وينو راتلل شرط نه دي، نو څرنګه چي د زکاة د وجوب لپاره ټوله کال د نصاب مالک کېدل شرط نه دي، (بلکي که يو سړی د کال په شروع او آخر کي د نصاب مالک وو نو پر هغه زکاة فرض دی) همدارنګه په دې مسئله کي هم د حيض په اوله او آخره موده کي د وينو وجود کافي دی، او د حيض په ټوله موده کي د وينو راتلل او وجود ضروري نه دي.

د امام ابو يوسف روايت : وعن أبي يوسف ...الخ په دې لړ کي له اما ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي له پنځلس ورځو څخه د کمي مودې والا طهر، فاصل طهر نه دی، بلکي دې ته به فاسد او ناقص طهر ويل کيږي، د دې مثال صاحب د عنايه دا بيان کړی دی چي يوه ښځه داسي وي چي هغې ته د عادت مطابق د هري مياشتي په اولو پنځو ورځو کي حيض راځي، لېکن يو وار د مياشتي له اولي ورځي څخه يوه ورځ مخکي دې ته حيض راسي او تر دې وروسته د مياشتي له اولي ورځي څخه تر پنځمي ورځي پوري دا پاکه وي، او شپږمه ورځ بيا ويني راسي، او دا ويني تر لسو ورځو واوړي نو په دې صورت کي پنځه ورځي کومي چي د طهر متخلل دي هغه ټوله حيض شمارل کيږي، ځکه چي دا طهرِ ناقص او فاسد طهر دی، ځکه چي دا تر پنځلس ورځو کم دی.

صاحب د هدايې فرمايي چي دا له امام صاحب څخه دويم روايت هم دی او يو قول دا دی: چي دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله آخري روايت دی، او د مفتي او مستفتي د آسانتيا په خاطر پر دغه قول فتویٰ هم ده، که څه هم په دې لړ کي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه نور قولونه هم روايت سوي دي، خو له ټولو څخه غوره او آسانه قول همدغه دی، نو ځکه دا په ښه توګه سره په ذهن کي ونيسئ، او په نورو قولونو کي د ځان بوختولو کوښښ مه کوئ، خو که تاسو نور تفصيل غواړئ نو په دې لړ کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي كتاب الحيض مطالعه کړئ!.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت دئ، ځکه چي په دې کي آساني ده لکه اوس چي ذکر سوه، قال العلامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله: و روى ابو يوسف رَحِمَهُ الله عنه وبه أخذ ان الطهر اذا كان اقل من خمسة عشر يوما لايفصل. وقيل هو آخر قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله وعليه الفتوى. (فتح القدير ج:۱، ص:۱۵۳) [القول الراجح ج:۱، ص:۲۹]

د طهر کمه موده

وَأَقَلُّ الطُّهْرِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا او د طهر کمه موده پنځلس ورځي ده هَكَذَا نُقِلَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ همدارنګه له ابراهيم نخعي رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي وَأَنَّهُ لَا يُعْرَفُ إِلَّا تَوْقِيفًا او دا موده له توقيف څخه پرته نه سي معلومېدلای (يعني صرف د شريعت له طرفه معلومېدلای سي، نه د خپل ځان له طرفه) وَلَا غَايَةَ لِأَكْثَرِهِ او د اکثري مودې هيڅ

غایت(اندازه) نسته لِأَنَّهُ يَمْتَدُّ إِلَى سَنَةٍ وَسَنَتَيْنِ ځکه چي (کله نا کله) طهر تر یوه او دوو کالو پوري (هم) اوږدیږي فَلَا يَتَقَدَّرُ بِتَقْدِيرٍ إِلَّا إِذَا اسْتَمَرَّ بِهَا الدَّمُ نو په یو(معلوم) مقدار سره به نه اندازه کیږي تر څو چي جاري ویني را نه سي(یعني تر څو چي جاري ویني رانه سي تر هغه وخته دي په باره کي یوه معلومه خبره نه سي کېدلای) يُعْرَفُ ذٰلِكَ فِي كِتَابِ الْحَيْضِ دا مسئله به (د امام محمد رَحِمَهُ الله) له کتاب الحیض څخه (تاته) معلومه سي.

اللغات: ﴿تُوقِيفُ﴾ علم ورکول، خبرول، سماعي کېدل، د رسول ﷺ اطلاع، د شریعت اطلاع. ﴿يَمْتَدُّ﴾ د افتعال د باب مضارع صیغه ده: اوږدېدل، غوړېدل، زیاتېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د طهر کمه موده پنځلس ورځي ده، له مشهوره تابعي حضرت ابراهیم نخعي رَحِمَهُ الله څخه همدغه موده را نقل سوې ده، او څرنګه چي دا مسئله د مقدار او اندازې سره تعلق لري، نو ځکه به د نورو مقادیرو په ډول پر سماع موقوف وي، او له سماع څخه به د هغه تعیین کیږي، نو د دې تعیین هم په سماع سره سوی دی، ځکه چي ابراهیم نخعي رَحِمَهُ الله یو تابعي دی، هغه به دا مقدار له یو صحابي څخه اورېدلی وي، او صحابي به له نبي کریم ﷺ څخه اورېدلی وي، ځکه چي د مقادیرو په لړ کي عقل او قیاس لره هیڅ دخل نسته.

ولا غاية لأكثره الخ فرمايي چي د طهر اکثره مودې لره هیڅ غایت او انتها نسته، ځکه چي کله نا کله د طهر زمانه تر یوه یا دوو کالو پوري هم رسیږي، نو په دې صورت کي د طهر د اکثره مودې تعیین کول ستونزمن دي، نو د داسي ښځو لپاره حکم دا دی چي تر کومه وخته پاکي وي لمونځونه او نور عبادتونه دي کوي، او بیا چي کله په استمرار او تسلسل (پرله پسې توب) سره ویني شروع سي، نو له یو عالم څخه دي پوښتنه وکړي، ځکه چي د وینو د استمرار په صورت کي د طهر یوه اندازه معلومول ضروري دي.

په دې ځای کي صاحب د عنایه یو مثال دا بیان کړی دی چي که یو ښځي ته اول وار د حیض ویني راغلې، او تر لسو ورځو پوري راتلې، تر دې وروسته یو یا دوه کاله بندي سوې، بیا ویني شروع سوې، نو په دې صورت کي د دې ښځي لپاره حکم دا دی چي اولي کومي لس ورځي ویني راغلي وې، هغه به د حیض زمانه وي، او تر دې وروسته چي کوم یو کال یا دوه کاله وینه بنده سوه هغه به د طهر زمانه وي، او بیا چي دوباره کله ویني شروع سوې نو د هري میاشتي له شروع څخه به لس ورځي، یا چي کله هم ویني راسي تر هغه وروسته به لس ورځي د حیض وي او پاته شل ورځي به د طهر وي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې مسئله کي نور هم ډېر قولونه سته چي هغه د امام محمد رَحِمَهُ الله په کتاب الحیض کي په پوره توګه ذکر سوي دي.

د استحاضې د وینو حکم

وَدَمُ الِاسْتِحَاضَةِ كَالرُّعَافِ او د استحاضې وینه د پزې د وینې په ډول ده لَا يَمْنَعُ الصَّوْمَ وَلَا الصَّلَاةَ وَلَا الْوَطْءَ نه روژه منع کوي او نه لمونځ او نه وطي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي تَوَضَّئِي وَصَلِّي اودس کوه او لمونځ

● تخریج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الطهارة، باب ما جاء في المستحاضة، حديث رقم: ۶۲۴.

کوه **وَإِنْ قَطَرَ الدَّمُ عَلَى الْحَصِيرِ** که څه هم وينه پر سترنجي باندې را وڅڅیږي **وَلَمَّا عُرِفَ حُكْمُ الصَّلَاةِ** او کله چې د لمانځه حکم معلوم سو **ثَبَتَ حُكْمُ الصَّوْمِ وَالْوَطْءِ بِنَتِيجَةِ الْإِجْمَاعِ** نو د روژې او وطي حکم په نتيجه د اجماع سره ثابت سو.

اللغات: ﴿رُعاف﴾ پزه ويني کېدل، هغه وينه چي له پزې څخه د ناروغی په وجه راوځي. ﴿حصير﴾ چټايي، سترنجي.

تشريح: د استحاضې وينه د پزې د ويني په څير ده، يعني څرنګه چي د پزې ويني له رګ څخه راځي، همدغه رنګه د استحاضې ويني هم له رګ څخه راځي، نو د پزې د ويني په بول د استحاضې وينه هم د لمانځه. روژې او وطي لپاره مانع نه ده.

دليل: هغه حديث دی کوم چي ابن ماجه له أم المؤمنين رضي الله عنها څخه را نقل کړی دی. پوره حديث دا دی: عن عائشه قالت جاءت فاطمة بن أبي حبيش إلى النبي ﷺ فقالت إني إمرأة استحيض فلا أطهر أفأدع الصلاة فقال ﷺ لا إجتنبي الصلاة أيام محيضك ثم اغتسلي و توضئي لكل صلاة ثم صلي وإن قطر الدم على الحصير. (أم المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چي فاطمه بن ابي حبيش نبي ﷺ ته راغله او ويې ويل: زه استحاضه ښځه يم، د همېشه لپاره ويني را څخه رواني وي، آيا زه لمونځ پرېږدم؟ نبي ﷺ ورته وفرمايل نه! بلکي د حيض په ورځو کي لمونځ پرېږده، او بيا غسل کوه، او د هر لمانځه لپاره اودس کوه. او بيا لمونځ کوه، که څه هم وينه پر چټايي باندي را وڅڅیږي).

ولما عرف الخ صاحب د هدايې فرمايي کله چي له دې حديث څخه د لمانځه حکم ثابت سو نو د روژې او وطي حکم په نتيجه د اجماع سره ثابت سو. يعني د ويني راتلل د لمانځه منافي دي نو بر سېره پر دې د استحاضې ويني له لمانځه څخه مانع نه دي، او کله چي د استحاضې ويني له لمانځه څخه مانع نه دي نو له روژې او وطي څخه خو به په طريقه اولی مانع نه وي.

له لسو ورځو څخه د زيات حيض راتللو حکم

وَلَوْ زَادَ الدَّمُ عَلَى عَشَرَةِ أَيَّامٍ او که (د يوې ښځې) وينه تر لسو ورځو زياته سي **وَلَهَا عَادَةٌ مَعْرُوفَةٌ دُونَهَا** حال دا چي د هغې ښځي عادت مشهوره (او) تر لسو ورځو کم وي **رُدَّتْ إِلَى أَيَّامِ عَادَتِهَا** نو دا به د خپل عادت ورځو ته ګرځول کيږي **وَالَّذِي زَادَ اسْتِحَاضَةٌ** او کومي ورځي چي د دې تر عادت زياتي سي هغه به استحاضه وي **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ**● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي **الْمُسْتَحَاضَةُ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا** مستحاضه به د عادت په ورځو کي لمونځ پرېږدي **وَلِأَنَّ الزَّائِدَ عَلَى الْعَادَةِ يُجَانِسُ مَا زَادَ عَلَى الْعَشَرَةِ** او په دې وجه (هم) چي پر عادت زياتي سوي ويني د هغو وينو سره مناسب دي چي هغه تر لسو ورځو زياتي سي **فَيُلْحَقُ بِهِ** نو ځکه به د هغو سره ملحق کيږي **وَإِنِ ابْتَدَأَتْ مَعَ الْبُلُوغِ مُسْتَحَاضَةً** او که (يوه ښځه) تر بلوغت وروسته له شروع څخه مستحاضه سوه **فَحَيْضُهَا عَشَرَةُ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ** نو د هغې حيض به په هره مياشت کي لس ورځي وي **وَالْبَاقِي اسْتِحَاضَةٌ** او پاته به استحاضه وي **لِأَنَّا عَرَفْنَاهُ**

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة، باب من قال تغتسل من طهر الى طهر، حديث رقم: ۲۹۷، والترمذي في كتاب الطهارة، باب ما جاء في المستحاضة تتوضأ لكل صلاة، حديث رقم: ۱۲۶.

حَيْضًا ځکه چې تر لسو ورځو پورې راتلونکې وينه موږ د حيض په توګه پېژندلې ده فَلَا يَخْرُجُ عَنْهُ بِالشَّكِّ نو د شک په وجه به له دې لسو ورځو څخه نه ايستل کيږي وَاللّٰهُ أَعْلَمُ او الله ښه خبر دی.

اللغات: ﴿تَدَعُ﴾ د فتح له باب څخه د واحد مؤنث غائب مضارع صيغه ده: پرېښول، ﴿يُخْرَجُ﴾ د مفاعلې له باب څخه د واحد مذکر غائب مضارع صيغه ده: له يوه جنسه کېدل، مجازاً: يو ډول کېدل، مناسب کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يوې ښځې په مياشت کې تر اوو(۷) ورځو پورې د وينو راتللو عادت وو، لېکن په يوه مياشت کې يې عادت بدل سو، او له اوو ورځو څخه زياتې وينې راغلې، او تر لسو ورځو وروسته هم را روانې وې، نو په دې صورت کې چې د دې کوم د اوو(۷) ورځو عادت وو هغه به حيض منل کيږي، او ما بقي (پاته وخت) به استحاضه شمېرل کيږي.

نقلي دليل: هغه حديث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو يعني: المستحاضة تدع الصلاة أيام أقرائها، او په دې حديث سره دليل په دې توګه نيول کيږي چې په حديث کې له أيام أقراء څخه مراد د عادت ورځې دي، او څرنګه چې په دې ورځو کې د دې لپاره د لمانځه نه کولو حکم راغلی دی، نو له دې څخه دا معلوميږي چې په دې مسئله کې د مستحاضې ښځې د عادت ورځې د حيض ورځې دي، ځکه چې د حيض په ورځو کې لمونځ نه کيږي.

عقلي دليل: دا دی چې د عادت له ورځو څخه زياتې وينې د هغو وينو سره مناسب او هم جنسه دي کومې چې تر لسو ورځو زياتې راسي، او تر لسو ورځو زياتې راتلونکې وينې په اتفاق سره د استحاضې وينې دي، نو ځکه د عادت تر ورځو زياتې وينې به هم د استحاضې وينې وي، او د حيض وينې به هغه وي کومې چې د عادت په ورځو کې راغلې وي.

وإن ابتدأت الخ د دې حاصل دا دی چې که ښځه داسې وه چې مخکې يې حيض نه وو راغلی، بلکې په اول وار حائضه سوه، او هم له دې حيض څخه مستحاضه سوه، نو په هره مياشت کې به د دې لس ورځې د حيض وي، او پاته به استحاضه وي، ځکه که پر لسو ورځو د دې وينه درېدلای نو دا ټوله لس ورځې به يقيناً د حيض وای، خو هر کله چې تر لسو ورځو زياته سوه، نو په دې کې شک راغلی، چې تر دريو ورځو به زيات حيض وي که استحاضه، نو يقيني شی د شک په وجه سره نه زائليږي، ځکه چې د فقهي مشهوره قاعده ده: اليقين لا يزول بالشك، نو ښځې ته به دا ويل کيږي چې لس ورځې د دې په حق کې د حيض دي او پاته ورځې د استحاضې دي. والله أعلم



فَصْلٌ أَيْ هٰذَا فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ أَحْكَامِ الْإِسْتِحَاضَةِ

(دا) فصل د استحاضې د احکامو په بيان کي دی

تشريح: څرنګه چي حيض د استحاضې او نفاس په مقابله کي زيات پېښيږي، نو ځکه يې هغه مخکي بيان کړی. اوس د استحاضې احکام بيانوي، او استحاضه يې په دې وجه تر نفاس مخکي کړل، ځکه د نفاس په نسبت د اسبابو د ډېرښت په اعتبار سره استحاضه زياته واقع کيږي، ځکه چي ښځه کله په دې وجه مستحاضه وي، چي په حالت د حمل کي يې وينې ليدلي وي، او کله په دې وجه چي تر عادت يا تر لسو ورځو وينې زياتې سوي وي. او کله په دې وجه چي وينې تر درې ورځو کمې راغلي وي، او داسي نور. د دې په خلاف د نفاس صرف يو سبب دی. يعني د کوچني زېږېدنه.

مستحاضه ښځه، سلسل بول والا، هغه چي پزه يې همېشه وينې کوي او د داسي نورو لپاره د اودس حکم

وَالْمُسْتَحَاضَةُ وَمَنْ بِهٖ سَلَسُ الْبَوْلِ مستحاضه ښځه او کوم سړی چي د سلسل بول په مرض مبتلا وي وَالرُّعَافُ الدَّائِمُ وَالْجُرْحُ الَّذِيْ لَا يَرْقَأُ او د چا چي پزه هر وخت وينه کوي او هغه زخم چي جوړېږي نه يَتَوَضَّئُوْنَ لِوَقْتِ كُلِّ صَلَاةٍ نو دا خلک به د هر لمانځه د وخت لپاره اودس کوي فَيُصَلُّوْنَ بِذٰلِكَ الْوُضُوْءِ فِي الْوَقْتِ مَا شَاءُوْا مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ او په دغه اودسه چي په وخت کي دننه څومره وغواړي فرضي او نفلي لمونځونه دي کوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ: تَتَوَضَّأُ الْمُسْتَحَاضَةُ لِكُلِّ مَكْتُوْبَةٍ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي مستحاضه به د هر لمانځه لپاره اودس کوي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ: اَلْمُسْتَحَاضَةُ تَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چي مستحاضه به د هر لمانځه لپاره اودس کوي وَلِأَنَّ اعْتِبَارَ طَهَارَتِهَا ضَرُوْرَةُ أَدَاءِ الْمَكْتُوْبَةِ او بل په دې وجه چي د مستحاضې د طهارت اعتبار د فرضو د اداء کولو د ضرورت لپاره دی فَلَا تَبْقٰى بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنْهَا نو د فرضو تر اداء کولو وروسته دا ضرورت نه پاتېږي وَلَنَا قَوْلُهٗ عَلَيْهِ السَّلَامُ: اَلْمُسْتَحَاضَةُ[●] تَتَوَضَّأُ لِوَقْتِ كُلِّ صَلَاةٍ او زموږ دليل د نبي عليه السلام دا قول دی: چي مستحاضه به د هر لمانځه د وخت لپاره اودس کوي وَهُوَ الْمُرَادُ بِالْأَوَّلِ او له اول حديث څخه هم دغه مراد دي لِأَنَّ اللَّامَ تُسْتَعَارُ لِلْوَقْتِ ځکه چي لام د وخت لپاره مستعار اخيستل کيږي يُقَالُ آتِيْكَ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ (او) ويل کيږي (اتيك لصلوة الظهر) زه به تا ته د ماپښين د لمانځه لپاره راځم أَيْ وَقْتِهَا يعني د ماپښين د لمانځه په وخت کي (به راځم) وَلِأَنَّ الْوَقْتَ أُقِيْمَ مَقَامَ الْأَدَاءِ تَيْسِيْرًا او په دې وجه (هم) چي د آسانتيا لپاره وخت د اداء قائم مقام سوی دی فَيُدَارُ الْحُكْمُ عَلَيْهِ نو ځکه به پر هغه د حکم مدار وي.

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الطهارة، باب ما جاء في للمستحاضة، حديث رقم:٦٢٥؛ و ابو داؤد في كتاب الطهارة. باب رقم: ١١٢، حديث:٢٩٧.

اللغات: ﴿سَلَسُ الْبَوْلِ﴾ مشهور مرض دی چې په دې باندې مبتلا سړی د خپلو متیازو(بولو) مخه نه سي نیوی. ﴿رُعاف﴾ د پزې وینې کېدل، هغه وینه چې له پزې څخه د ناروغۍ په وجه راوځي. ﴿يُدار﴾ د نصر د باب مضارع مجهول ده: دار به جوړېږي، گرځول کېږي به.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې مستحاضه ښځه، همدارنګه هغه سړی چې د سلسل بول په مرض اخته وي او هر وخت یې په وقفه وقفه سره متیازې رواني وي، یا هغه سړی چې پزه یې همېشه وینې کوي، یا په بدن کې یې یو داسې زخم وي چې نه جوړېږي او هر وخت وینې ځنې رواني وي نو دا ټوله معذوره دي، د دوی په باره کې زموږ حکم دا دی چې دوی دې د هر لمانځه لپاره اودس کوي او په دې اوداسه سره د لمانځه په وخت کې دننه، دننه چې څومره لمونځونه وغواړي کوي دې، هغه لمونځونه فرض وي، که نفل، واجب وي او که نذر.

د امام شافعي مسلک: د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به د هر فرضي لمانځه لپاره اودس کوي یعني معذوره انسان په یوه اوداسه سره یو فرض اداء کولای سي، دوېم فرض نه سي په اداء کولای.

د امام شافعي دلیل: دا حدیث: المستحاضة تتوضأ لكل صلوة دی، یعني مستحاضه به د هر لمانځه لپاره اودس کوي. پر امام شافعي رَحِمَهُ الله اعتراض کېږي چې په حدیث کې لفظ د صلوة عام دی هغه که فرض وي که غیر فرض، نو په فرضي لمانځه سره مقید کول به څرنګه صحیح وي؟

جواب: په لكل صلوة کې لفظ د صلوة مطلق دی او قاعده دا ده چې المطلق ينصرف الى الفرد الكامل. او د لمانځه فرد کامل فرض دي، نه دا چې غیر فرض، نو ځکه به له صلوة څخه فرض لمونځ مراد وي، نه مطلق لمونځ.

دویم دلیل: د امام شافعي رَحِمَهُ الله دویم دلیل دا دی چې د معذور د طهارت اعتبار د فرضو د اداء کولو په وجه دی نو ځکه به له فرضو څخه تر فراغت وروسته طهارت نه وي پاته.

زموږ دلیل: د نبي ﷺ دا قول: المستحاضة تتوضأ لوقت كل صلاة دی. او له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنها څخه روایت دی چې: أن النبي ﷺ قال لفاطمة بنت ابي حبيش وتوضئي لوقت كل صلاة. د دې دواړو حدیثونو مطلب دا دی چې مستحاضه به د هر لمانځه د وخت لپاره اودس کوي.

جواب: د امام شافعي د دلیل جواب دا دی چې په لكل صلوة کې لام د وخت په معنیٰ دی لکه په: أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ کې چې لام د وخت لپاره دی، او لکه د نبي ﷺ په دې قول إن للصلاة اولاً وآخراً کې لام د وخت لپاره دی(یعني د لمانځه د وخت لول هم سته او آخر هم)او لکه څرنګه چې ویل کېږي: آتيك لصلوة الظهر(زه تا ته (د) ماپښین د لمانځه (په وخت کې) راځم).

حاصل د جواب دا دی چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله ذکر سوی حدیث د نص له قبیلې څخه دی او موږ چې کوم حدیث ذکر کړی دی هغه مفسر دی، او د نص او مفسر د تعارض په صورت کې مفسر ته ترجیح ورکول کېږي.

عقلي دلیل: زموږ له طرفه عقلي دلیل دا دی چې د آسانۍ لپاره وخت د اداء کولو قائم مقام (نائب) کړی سوی دی، نو ځکه به د حکم مدار پر وخت وي نه پر اداء، ځکه کله چې یو شی د بل شي قائم مقام وي نو مقصود به (هم) هغه وي.

د مستحاضې ښځې، سلسل بول والا او د داسې نورو اودس د وخت په وتولو سره باطلیږي که نه؟

وَإِذَا خَرَجَ الْوَقْتُ بَطَلَ وَضُوْؤُهُمْ او کله چې وخت ووځي نو د دې معذوره خلکو اودس باطلیږي وَاسْتَأْنَفُوا الْوُضُوْءَ لِصَلَاةٍ أُخْرَىٰ اوس به دا خلک د بل لمانځه لپاره اودس له سره کوي(یعني نوی اودس به کوي) وَهٰذَا عِنْدَ عُلَمَائِنَا الثَّلَاثَةِ او دا حکم زمونږ د دریو امامانو په نیز دی وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: اِسْتَأْنَفُوا إِذَا دَخَلَ الْوَقْتُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې کله وخت داخل شي، نو نوی اودس به کوي فَإِنْ تَوَضَّئُوا حِيْنَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ نو که دې معذورینو د لمر د راختلو په وخت کې اودس وکړی أَجْزَأَهُمْ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ حَتّٰى يَذْهَبَ وَقْتُ الظُّهْرِ نو د ماپښین تر وخت ختمېدلو پورې به دا اودس د دوی لپاره کافي وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ● رَحِمَهُمَا اللهُ او دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نیز دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَزُفَرُ رَحِمَهُمَا الله: أَجْزَأَهُمْ حَتّٰى يَدْخُلَ وَقْتُ الظُّهْرِ امام ابو يوسف او امام زفر رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې دا اودس به د دوی لپاره د ماپښین د وخت تر داخلېدلو پورې کافي وي وَحَاصِلُهُ: أَنَّ طَهَارَةَ الْمَعْذُوْرِ تَنْتَقِضُ بِخُرُوْجِ الْوَقْتِ بِالْحَدَثِ السَّابِقِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا الله او د دې خلاصه دا ده: چې د طرفينو په نیز د معذور طهارت (اودس) د مخکني حدث په وجه د وخت په وتلو سره ماتیږي وَبِدُخُوْلِ الْوَقْتِ عِنْدَ زُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز د وخت په داخلېدلو سره وَبِأَيِّهِمَا كَانَ عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نیز په وتلو او داخلېدلو دواړو کې په هر یوه سره (اودس ماتیږي) وَفَائِدَةُ الِاخْتِلَافِ لَا تَظْهَرُ إِلَّا فِيْمَنْ تَوَضَّأَ قَبْلَ الزَّوَالِ او ثمره د اختلاف صرف د هغه معذور په حق کې ښکاره کیږي چې هغه تر زوال مخکې اودس کړی وي كَمَا ذَكَرْنَا لکه څرنګه چې موږ ذکر کړه أَوْ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ يا (د هغه معذور په حق کې چې هغه) تر لمر راختلو مخکې (اودس کړی وي) لِزُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ اعْتِبَارَ الطَّهَارَةِ مَعَ الْمُنَافِيْ لِلْحَاجَةِ إِلَى الْأَدَاءِ دامام زفر رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې د طهارت د منافي سره سره د طهارت اعتبار د فرضو د ادا کولو د حاجت په وجه دی وَلَا حَاجَةَ قَبْلَ الْوَقْتِ او تر وخت مخکې هیڅ حاجت نشته فَلَا تُعْتَبَرُ نو (ځکه به تر وخت مخکې) طهارت معتبر نه وي لِأَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّ الْحَاجَةَ مَقْصُوْرَةٌ عَلَى الْوَقْتِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې حاجت د طهارت پر وخت منحصر دی فَلَا تُعْتَبَرُ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ نو ځکه به نه تر وخت مخکې طهارت معتبر وي او نه تر وخت وروسته وَلَهُمَا أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ تَقْدِيْمِ الطَّهَارَةِ عَلَى الْوَقْتِ او د طرفينو دلیل دا دی چې طهارت پر وخت باندې مخکې کول ضروري دي لِيَتَمَكَّنَ مِنَ الْأَدَاءِ كَمَا دَخَلَ الْوَقْتُ د دې لپاره چې معذوره سړی د وخت په داخلېدلو سره پر اداء کولو باندې قادره سي وَخُرُوْجُ الْوَقْتِ دَلِيْلُ زَوَالِ الْحَاجَةِ او د وخت وتل د حاجت د ختمېدلو دلیل دی فَظَهَرَ اعْتِبَارُ الْحَدَثِ عِنْدَهُ نو په دغه وخت کې د حدث اعتبار ښکاره سو.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة و محمد رَحِمَهُمَاالله كذا في الدر المختار ج:۱، ص:۲۲۴، والهنديه ج:۱، ص:۴۱. [القول الراجح، ج:۱، ص:۴۱]

اللغات: ﴿إسْتَأْنَفُوا﴾ داستفعال د باب جمع مذکر ماضي صیغه ده: له نوي سره د یو کار کول. له نوئ سره شروع کول.
تشریح: د عبارت تر حل مخکي په دې خبره پوه سئ چي د طرفینو په نېز د وخت وتل د معذورینو د اودسه لپاره ناقض (ماتوونکی) دي، او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د وخت داخلېدل ناقض دي، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د وخت وتل هم ناقض دي، او د وخت داخلېدل هم ناقض دي.
صورت د مسئلې: دا دی چي کله د فرضي لمانځه وخت ووځي نو د دې معذورینو اودس باطل سو، اوس که دوی دویم فرض لمونځ کول غواړي نو د هغه لپاره به نوی اودس کوي، دا حکم زموږ د دریو علماؤ په نېز دی، او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چي کله د دویم لمانځه وخت داخل سو نو نوي اودس به کوي، ګواکي د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د دویم وخت داخلېدل ناقض (د اودس ماتوونکی) دي، نه دا چي د مخکي وخت وتل، نو که یو معذوره سړی د لمر د راختلو په وخت کي اودس وکړی نو د طرفینو په نېز د ده لپاره دا اودس تر هغه وخته کافي دی چي د ماپښین وخت ووځي یعني په دې لمانځه سره د ماپښین لمونځ کولای سي ځکه چي په دې صورت کي د ماپښین د وخت داخلېدل خو راغله، لېکن د یو وخت وتل خو نه راغله، حال دا چي د طرفینو په نېز د وخت وتل ناقض دي، نه د وخت داخلېدل.
امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله او امام زفر رَحِمَهُ الله وایي چي دا اودس د ماپښین د وخت تر داخلېدلو پوري کافي دی یعني د ماپښین د وخت تر داخلېدلو مخکي مخکي به دا اودس پاته وي، لېکن که د ماپښین وخت داخل سو، او ده لمونځ کول وغوښتل، نو نوی اودس به خامخا کوي.
ښکاره دي وي، چي په حقیقت کي نه د وخت داخلېدل ناقض دي او نه د وخت وتل، بلکي حدثِ سابق (مخکنی حدث) ناقض دی، لېکن څرنګه چي د معذورینو په حق کي وخت مانع وو، لهذا کله چي وخت زائل سو، د حدث اثر ښکاره سو، نو ځکه د اودس ماتېدلو نسبت مجازاً د وخت د داخلېدلو او وتلو و طرف ته وکړای سو.

وفائدة الإختلاف الخ صاحب د هدایې فرمایي چي د اختلاف ثمره په دوو صورتونو کي ښکاره کیږي:
(۱) اول دا که یوه معذور سړي د لمر تر زوال مخکي اودس وکړی او د ماپښین وخت داخل سو، نو د امام ابو یوسف او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نېز د ماپښین د وخت په داخلېدلو سره اودس ماتیږي او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز نه ماتیږي ځکه چي د یو فرضي لمانځه وخت نه دي وتلی.
(۲) دویم دا که معذوره سړي د لمر تر راختلو مخکي اودس وکړی نو څرنګه چي د لمر تر راختلو وروسته خروج د وخت راغلی، نو ځکه د طرفینو په نېز اودس ماتیږي او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز هم ماتیږي، خو څرنګه چي دامام زفر رَحِمَهُ الله د قول پر بنیاد د یو فرضي لمانځه وخت نه دی داخل سوی، نو ځکه د هغه په نېز اودس نه ماتیږي.
د امام زفر دلیل: دا دی چي د یو داسي شي سره سره د طهارت معتبره کېدل کوم چي د طهارت منافي وي صرف د فرضي لمانځه د اداء کولو د حاجت په وجه سره دي، او څرنګه چي د فرضي لمانځه د اداء کولو تر وخت مخکي هیڅ حاجت نسته نو ځکه به تر وخت مخکي طهارت معتبر نه وي، نو معلومه سوه چي د وخت تر داخلېدلو مخکي اودس ماتیږي.
د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي د طهارت حاجت پر وخت باندي منحصر دی. ځکه چي د فرضي لمانځه وخت د اداء قائم مقام (نائب) دی، نو ځکه به طهارت نه تر وخت مخکي معتبر وي او نه تر وخت وروسته، نو معلومه سوه چي د معذور د طهارت لپاره د وخت وتل هم ناقض دي، او د وخت داخلېدل هم.

د طرفينو دليل: دا دی چي د طهارت مخکي کول پر وخت باندي ضروري دي، د دې لپاره چي محض د وخت په داخلېدلو سره معذوره سرې د لمانځه پر اداء کولو قدرت ولري، او دا مخکي کول په دې وجه هم ضروري دی چي وخت د اداء قائم مقام (نائب) دی او طهارت د لمانځه پر اداء کولو مخکي کول واجب او ضروري دي، نو ګواکي پر طهارت هم د وخت مخکي کول ضروري دي، او کله چي پر طهارت د وخت مخکي کول ضروري دي نو د وخت داخلېدل ناقض د طهارت نه سي کېدلای، نو ځکه به خامخا وتل د وخت (خروج وقت) ناقض ګرځول کيږي، او د خروج وقت د ناقض ګرځولو دويم علت دا دی چي د وخت خروج د حاجت زائلېدلو دليل دی، نو په دې وخت کي د مخکني حدث (حدث سابق) معتبره کېدل معلوم سوه، نو ځکه به د وخت په وتولو سره اودس ماتيږي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفينو دی. قال العلامة ابن عابدين رحمه الله (قوله فاذا خرج الوقت بطل) أفاد ان الوضوء انما يبطل بخروج الوقت فقط لا بدخوله خلافا لزفر رحمه الله و لا بكل منهما خلافا للثاني أی لا بي يوسف رحمه الله (رد المحتار ج:۱، ص:۲۲۴). [القول الراجح ج:۱، ۲۰۱، ص:۲۰۶]

د معذوره سړي د يو څو نورو مسئلو وضاحت

وَالْمُرَادُ بِالْوَقْتِ وَقْتُ الْمَفْرُوضَةِ او (په مخکي عبارت کي) له وخت څخه مراد د فرضي لمانځه وخت دی حَتّٰى لَوْ تَوَضَّأَ الْمَعْذُوْرُ لِصَلَاةِ الْعِيْدِ تر دې که معذوره سړي د اختر د لمانځه لپاره اودس وکړی لَهُ أَنْ يُصَلِّيَ الظُّهْرَ بِهِ عِنْدَهُمَا● نو د صاحبينو په نېز ده ته دا اختيار سته چي په دې اوداسه د ماپښين لمونځ وکړي وَهُوَ الصَّحِيْحُ او همدا قول صحيح دی لِأَنَّهَا بِمَنْزِلَةِ صَلَاةِ الضُّحٰى ځکه چي د اختر لمونځ د څاښت د لمانځه په ډول دی وَلَوْ تَوَضَّأَ مَرَّةً لِلظُّهْرِ فِيْ وَقْتِهِ وَأُخْرٰى فِيْهِ لِلْعَصْرِ او که معذوره سړی د ماپښين په وخت کي يو وار د ماپښين د لمانځه لپاره اودس وکړی او بيا يې د ماپښين په وخت کي د مازيګر د لمانځه لپاره اودس وکړی فَعِنْدَهُمَا لَيْسَ لَهُ أَنْ يُصَلِّيَ الْعَصْرَ بِهِ نو د طرفينو په نېز ده ته دا اختيار نسته چي په دغه اوداسه د مازيګر لمونځ وکړي لِانْتِقَاضِهِ بِخُرُوْجِ وَقْتِ الْمَفْرُوْضَةِ ځکه چي د فرضي لمانځه د وخت په تېرېدلو سره اودس مات سو وَالْمُسْتَحَاضَةُ هِيَ او (له) مستحاضه (څخه مراد) هغه ښځه ده الَّتِيْ لَا يَمْضِيْ عَلَيْهَا وَقْتُ صَلَاةٍ چي پر هغې د يوه لمانځه وخت نه تيريږي إِلَّا وَالْحَدَثُ الَّذِيْ ابْتُلِيَتْ بِهِ يُوْجَدُ فِيْهِ مګر په داسي حال کي (تيريږي) چي هغه حدث په کوم چي دا مبتلا ده په دې وخت کي وي وَكَذَا كُلُّ مَنْ هُوَ فِيْ مَعْنَاهَا او همدا حکم د هر هغه معذور دی چي هغه د مستحاضې په معنیٰ وي وَهُوَ مَنْ ذَكَرْنَاهُ او د مستحاضې په معنیٰ هغه معذورين دي کوم چي موږ ذکر کړل وَمَنْ بِهِ اسْتِطْلَاقُ بَطْنٍ أَوِ انْفِلَاتُ رِيْحٍ او (همدارنګه هغه سړی هم د مستحاضې په معنیٰ دی) چي د نس بهېدلو (اسهال) ناروغي يې وي او يايې د (بې له اختياره) باد وتولو ناروغي وي لِأَنَّ الضَّرُوْرَةَ بِهٰذَا يَتَحَقَّقُ ځکه چي ضرورت په دې عذر سره هم ثابتيږي وَهِيَ تَعُمُّ الْكُلَّ او ضرورت ټولو ته عام دی.

● القول الراجح: قول ابی حنيفة ومحمد رحمهماالله، قال العلامة ابن عابدين رحمه الله أفاد ان الوضوء انما يبطل بخروج الوقت فقط. رد المحتار ج:۱، ص:۲۲۴. [القول الراجح، ج:۱، ص:۲۱]

تشریح: صاحب د هدایه رَحِمَهُ الله فرمایي: مخکې چې د کوم وخت وتلو او داخلېدلو اعتبار ذکر سو، له هغه وخت څخه مراد د فرضي لمانځه وخت دی، نه د نفلي او واجب لمانځه وخت، تر دې که معذوره سړي د اختر د لمانځه لپاره اودس وکړی، نو د طرفینو په نېز په دې اوداسه باندي د ماپښین د لمانځه کولو اجازه سته، او هم دا صحیح قول دی، ځکه چې د اختر لمونځ د څاښت د لمانځه په څېر دی، یعني فرض نه دی، نو دا او د څاښت لمونځ دواړه په یوه مرتبه کي دي، که څه هم دا اختر لمونځ واجب دی، نو د فرضي لمانځه د وخت د نه وتلو په وجه د ده اودس نه ماتیږي، نو په دغه اوداسه باندي د ماپښین لمونځ ورته جائز دی.

د بعضي فقهاؤ رایه: دا ده چې په دغه اوداسه باندي ده ته د ماپښین د لمانځه اختیار نسته، ځکه چې د واجب لمانځه وخت ووتی، یعني د اختر د لمانځه وخت ووتی، او واجب په منزله د فرض وي.

ولوتوضأ الخ او که یو معذوره سړي یو وار د ماپښین په وخت کي د ماپښین د لمانځه لپاره اودس وکړی، او بیا یې دوباره د ماپښین په وخت کې د مازیګر د لمانځه لپاره اودس وکړی، نو د طرفینو په نېز ده ته دا اختیار نسته چې په دغه اوداسه باندي د مازیګر لمونځ وکړي ځکه چې د ماپښین د وخت په وتلو سره د ده اودس مات سو، دا حکم د ټولو امامانو په نېز دی، ځکه چې په دې صورت کي د ماپښین د وخت د وتلو سره سره د مازیګر وخت هم داخل سو، او د دې وجه دا ده چې د ماپښین او د مازیګر په مینځ کي مهمل (فضول) وخت نسته، بلکي څرنګه چې د ماپښین وخت ووځي، نو سمدلاسه د مازیګر وخت داخلیږي.

د مستحاضې تعریف: والمستحاضة هي التي ...الخ له دې ځای د مستحاضې تعریف کوي فرمایي: چې مستحاضه هغه ښځه ده چې پر هغې دیو فرضي لمانځه وخت نه تیریږي مګر په داسي حال کي چې هغه په کوم مرض مبتلاء ده، هغه په دې وخت کي وي، او دا حکم د هغه چا هم دی چې هغه د مستحاضې په څېر وي، لکه هغه څوک چې متیازي یې نه دریږي، او لکه هغه چې د پزې وینه یې نه بندیږي، یا یې زخم نه جوړیږي.

ومن به استطلاق بطن الخ او هغه کس هم معذوره دی چې د اسهال په ناروغي اخته وي، او په نس ایله وي، یا یې د بې اختیاره باد وتلو ناروغي وي، ځکه چې په دې مرضونو کي هم ضرورت سته، نو ځکه به دوی ته هم د شریعت له طرفه اجازه ورکول کیږي، ځکه چې د معذورینو د طهارت اعتبار د ضرورت په وجه دی، او په ضرورت کي هر ډول معذوره خلک برابر دي.



فَصْلٌ فِي النِّفَاسِ

(دا) فصل د نفاس (د احکامو په بيان کي) دی

تشریح: دا خبره مخکي ذکر سوه چي څرنګه د حیض او استحاضې په مقابله کي نفاس قلیل الوقوع (لږ پیښېدونکی) دی، نو ځکه یې دا تر ټولو آخر بیان کړی، نِفاس د سمع د باب مصدر دی، لغوي معنیٰ یې ده: د لنګوالي حالت. او په اصطلاح کي د نفاس تعریف دا دی: الدم الخارج عقيب الولادة. "يعني د کوچني تر پیدا کېدلو وروسته را وتونکيويني ته نفاس ويل کیږي".

د نفاس تعریف

وَالنِّفَاسُ هُوَالدَّمُ او نفاس هغه وینه ده الْخَارِجُ عَقِيْبَ الْوِلَادَةِ چي د بچي تر زیږېدلو وروسته را ووځي لِأَنَّهُ مَأْخُوْذٌ مِنْ تَنَفُّسِ الرَّحْمِ بِالدَّمِ ځکه چي نفاس له (تنفس الرحم بالدم) څخه را خیستل سوی دی اَوْ مِنْ خُرُوْجِ النَّفْسِ او یا نفاس له خروج نفس (څخه را اخیستل سوی دی) بِمَعْنَى الْوَلَدِ اَوْ بِمَعْنَى الدَّمِ چي د دې خروج نفس معنیٰ ده: د بچي را وتل یا د ويني را وتل.

اللغات: ﴿عقيب﴾ وروسته، شاته. ﴿رَحم﴾ رَحْم او رَحِم یعني د حاء په سکون او کسره دواړو سره راځي: د ښځي په نس کي هغه ځای ته ويل کیږي چي اولاد پکښي وي (بچه داني).

تشریح: د عبارت مطلب بالکل څرګند دی چي تر ولادت او زیږېدني وروسته چي کومه وینه را ووځي هغه ته نفاس ويل کیږي، او دې ته د نفاس ویلو وجه دا ده چي دا له تَنَفُّسَ الرَّحْمِ بِالدَّمِ څخه مأخوذ دی چي معنیٰ یې ده: رحم وینه راوستله، او ښکاره ده چي رحم وینه تر ولادت وروسته را باسي، یا نفاس ته د نفاس ویلو وجه دا ده چي دا له خُرُوْجُ النَّفْسِ څخه مأخوذ دی، چي معنیٰ یې ده: د بچي را وتل، نو د دې معنیٰ په اعتبار سره هم نفاس ته نفاس ويل صحیح دي. ځکه چي د بچي تر پیدایښت وروسته د نفاس وینه راځي.

له ولادت (پیدایښت) څخه مخکي را وتونکي وینه استحاضه ده

وَالدَّمُ الَّذِيْ تَرَاهُ الْحَامِلُ اِبْتِدَاءً اَوْحَالَ وِلَادَتِهَا قَبْلَ خُرُوْجِ الْوَلَدِ او هغه وینه چي حامله ښځه یې په شروع کي یا د ولادت (زیږېدني) په وخت کي د بچي تر راوتلو مخکي ويني اِسْتِحَاضَةٌ هغه وینه د استحاضې ده وَاِنْ كَانَ مُمْتَدًّا که څه هم د هغې خروج (راتګ) اوږد وي (يعني که څه هم موده يې ډېره وي) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: حَيْضٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا حیض دی اِعْتِبَارًا بِالنِّفَاسِ پر نفاس باندي په قیاسولو سره (يعني امام شافعي دا وينه پر نفاس قیاسوي) اِذْ هُمَا جَمِيْعًا مِنَ الرَّحْمِ ځکه چي دا دواړه ويني له رحم څخه را وځي وَلَنَا: اَنَّ بِالْحَبَلِ يَنْسَدُّ فَمُ الرَّحْمِ او زموږ

دليل دا دی: چې د حمل په وجه د رحم خوله بنديږي كَذَا الْعَادَةُ عادت همدغسې دی وَالنِّفَاسُ بَعْدَ انْفِتَاحِهِ بِخُرُوجِ الْوَلَدِ او د کوچني په راوتلو سره د رحم د خولې تر خلاصېدلو وروسته د نفاس وينه را وځي وَلِهٰذَا كَانَ نِفَاسًا بَعْدَ خُرُوجِ بَعْضِ الْوَلَدِ نو په دې وجه به د کوچني د بعضې حصې تر را وتلو وروسته راوتونکې وينه د نفاس وي فِيْمَا● رُوِيَ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ د هغه روايت مطابق کوم چې له طرفينو څخه را نقل سوی دی لِأَنَّهُ يَنْفَتِحُ ځکه چې د رحم خوله خلاصيږي فَيَتَنَفَّسُ بِهِ نو د هغه په وجه د نفاس وينه را وځي.

اللغات: ﴿حَبَلٌ﴾ حمل، بلاربه کېدل. ﴿يَنْسَدُّ﴾ د انفعال د باب مضارع صيغه ده: بندېدل. ﴿يَتَنَفَّسُ﴾ د تفعل د باب مضارع صيغه ده: دباندې را ايستل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې هغه وينه کوم چې له رحم څخه د حمل په حالت کې را وځي يا د کوچني تر ولادت مخکې را وځي هغه زموږ په نېز د استحاضې وينه ده، د امام شافعي په نېز د حيض وينه ده.

د امام شافعي دليل: قياس دی، يعني که ديوې ښځې له يوه نس څخه دوه کوچنيان پيدا سول، بيا هغې ښځې د دويم کوچني تر پيدا کېدلو مخکې وينه وليدله، نو دا ښځه د دويم کوچني په حق کې حامله ده، او د حمل په حالت کې را وتونکې وينه به د حيض وي، نو دا وينه به هم د حيض وي.

زموږ دليل: دا دی چې د حيض وينه د رحم وينه وي، او د رحم د ويني راتګ له حاملې څخه ممکن نه دی، ځکه چې د الله تعالیٰ فطرت پر دې جاري دی چې د حمل په وجه د رحم خوله بنديږي، د دې لپاره چې له رحم څخه کوچني نه را ووځي، نو کله چې د حمل په وجه د حاملې د رحم خوله بنديږي نو د حمل په حالت کې چې کومه وينه را وځي هغه به له رحم څخه ماسوا د بل ځای وي، او له رحم څخه ماسوا چې کومه وينه راځي هغه د استحاضې وينه وي، نو ځکه به دا وينه هم د استحاضې وي.

جواب: د امام شافعي د قياس جواب دا دی چې دا وينه پر نفاس قياسول صحيح نه دي، ځکه چې د کوچني د پيدا کېدلو په وجه د رحم خوله خلاصه سي او د رحم د خولې تر خلاصېدلو وروسته چې کومه وينه راځي هغه بېشکه د نفاس وينه وي، نو د اول کوچني تر پيدا کېدلو وروسته او د دويم کوچني تر پيدا کېدلو مخکې چې کومه وينه ليدل کيږي هغه به د نفاس وي ځکه چې زياتره داسې وي چې د کوچني تر پيدا کېدلو وروسته د رحم خوله خلاصه سي، او د نفاس وينه را شروع سي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، وقال في الهندية: ولو خرج اکثر الولد تکون نفاساً والا فلا(الهندية ج:۱، ص:۳۷). [القول الراجح ج:۱، ص:۴۲]

د نابشپړ (نامکمل) بچي د زېږېدلو حکم

وَالسِّقْطُ الَّذِيْ اسْتَبَانَ بَعْضُ خَلْقِهِ او هغه نابشپړه کوچنی (يعني ناقص کوچنی) چې ځيني اندامونه يې جوړ سوي وي وَلَدٌ هغه (هم) پوره کوچنی دی حَتّٰى تَصِيْرَ الْمَرْأَةُ بِهِ نُفَسَاءَ تر دې چې د هغه په وجه ښځه نفاس والا ګرځي وَتَصِيْرَ الْأَمَةُ أُمَّ وَلَدٍ بِهِ (او د هغه په وجه) مينځه أُمِ ولد ګرځي وَكَذَا الْعِدَّةُ تَنْقَضِيْ بِهِ همدارنګه په هغه سره د حاملې ښځې عدت پوره کيږي.

اللغات: ﴿سِقْطٌ﴾ ناقص کوچنی، هغه کوچنی چې د حمل د مودې تر پوره کېدلو مخکې د مور له نسه ولوېږي.

● القول الراجح: قول ابی يوسف رَحِمَهُ الله، کذا فی الدر المختار ج:۱، ص:۱۹۰. [القول الراجح، ج:۱، ص:۴۲]

تشريح: فرمايي که يو کوچنی په ناقص حال کي پيدا سو يعني ټوله خلقت يې ښکاره نه وو بلکي بعضي خلقت يې ښکاره وو لکه ګوته، نوک يا وروېښتيان، نو هغه هم د کامل او بشپړ کوچني په حکم کي دی او پر هغه د کوچني اطلاق کيږي، او د دومره خلقت په وجه هم ښځي ته نفساء ويل کيږي، او که هغه ښځه مينځه وي نو په دومره خلقت سره هم أم ولد ګرځي، همدارنګه که هغه ښځه طلاق سوې وي، يا يې خاوند مړ سوی وي، نو په دې خلقت سره د هغې عدت پوره کيږي.

د نفاس کمه موده

وَأَقَلُّ النِّفَاسِ لَا حَدَّ لَهُ او د نفاس د کمي مودې لپاره هيڅ اندازه نسته لِأَنَّ تَقَدُّمَ الْوَلَدِ عَلَمُ الْخُرُوجِ مِنَ الرَّحِمِ ځکه چي د کوچني مخکي راوتل له رحم څخه د را وتلو نښه ده فَأَغْنَى عَنْ امْتِدَادٍ جُعِلَ عَلَمًا عَلَيْهِ نو دا مخکي را وتلو له يو داسي امتداد څخه بې پروايي راوېستله چي هغه له رحم څخه د وينو پر را وتلو باندي نښه وګرځول سي بِخِلَافِ الْحَيْضِ په خلاف د حيض وَأَكْثَرُهُ أَرْبَعُونَ يَوْمًا او د نفاس زياته موده څلوېښت ورځي ده وَالزَّائِدُ عَلَيْهِ اسْتِحَاضَةٌ او کومه وينه چي تر دې زياته سي هغه استحاضه ده لِحَدِيثِ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضرت ام سلمه رض د حديث په وجه أَنَّ النَّبِيَّ[1] عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَقَّتَ لِلنُّفَسَاءِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا چي نبي ﷺ د نفاسي ښځي لپاره څلوېښت ورځي وټاکلې وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي اعْتِبَارِ السِّتِّينَ او دا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی د شپېتو ورځو په اعتبار کولو کي.

اللغات: ﴿علم﴾ نښه، علامه، بيرغ، ﴿أغنى﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده: د يو کار ضرورت ختمول، بې پروا کول، ﴿وقت﴾ د تفعيل د باب ماضي صيغه ده: موده ټاکل، د وخت اندازه معلومول.

تشريح: فرمايي : چي د نفاس د کمي مودې هيڅ اندازه او انتها نسته، نو تر پيدايښت وروسته چي کله هم وينې بندي سي، ښځي ته پکار دي چي ځان پاک کړي، لمونځونه او روژې شروع کړي، د دې مسئلې دليل دا دی چي له وينو څخه مخکي د بچي پيدا کېدل د دې خبري ښکاره علامه ده چي د رحم خوله خلاصه سوې ده، او اوس چي کومه وينه راځي هغه به له رحم څخه راځي او د ولادت (پيدايښت) په وخت کي له رحم څخه را تلونکيويني ته نفاس ويل کيږي، نو ځکه به دغه وينه د نفاس وينه وي، او د دې پر نفاس کېدلو او له رحم څخه پر را تللو باندي د بل هيڅ دليل ضرورت نسته چي د دريو يا پنځو ورځو د راتللو شرط ولګول سي.

بخلاف الحيض الخ فرمايي په خلاف د حيض، يعني په حيض کي خو دا شرط دي چي لږ تر لږه تر درې ورځو پوري د وينو راتګ ضروري دي، د دې لپاره چي معلومه سي چي دا وينه صرف له رحم څخه راغلې ده، لېکن په نفاس کي دا شرط نسته.

وأكثره الخ د دې خلاصه دا ده چي زموږ په نېز د نفاس اکثره موده څلوېښت ورځي ده، د هدايې د ۷۰ صفحې په ۸ حاشيه کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا قول را نقل سوی دی چي د ده په نېز د نفاس اکثره موده شپېته (۶۰) ورځي ده.

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة، باب ما جاء في وقت النفساء، حديث رقم: ۳۱۱، والترمذي في كتاب الطهارة باب ما جاء في كم تمكث النفساء، حديث رقم: ۱۳۹.

د امام شافعي دليل: امام شافعي رَحِمَهُ الله د امام اوزاعي رَحِمَهُ الله په دې قول سره دليل نيسي چي هغه فرمايي: زموږ په زمانه کي به ښځو تر شپېتو ورځو پورې د نفاس وينه ليدله.

زموږ دليل: د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغه حديث کوم چي په کتاب کي ذکر سو، مفهوم يې دا دی: چي نبي ﷺ د نفاس والا ښځي لپاره څلوېښت ورځي موده ټاکلې ده، نو کله چي د شريعت له طرفه په څرګنده توګه د څلوېښت ورځو تعيين سوی دی نو اوس د دې په خلاف د يو بل چا قول بنياد جوړول او مسئله وضع کول صحيح نه دي، او بيا دا خبره فيصله سوې ده چي د نفاس اکثره موده د حيض له اکثره مودې څخه څلور چنده زياته ده، او څرنګه چي زموږ په نيز د حيض اکثره موده لس ورځي ده، نو ځکه د نفاس اکثره موده به څلوېښت ورځي وي، ځکه چي لسو ته په څلورو کي په ضرب ورکولو سره څلوېښت را وځي. (عنايه ج:۱، ص:۱۹۱)

په نفاس کي تر څلوېښتو ورځو زياته وينه راتلل

وَلَوْجَاوَزَ الدَّمُ الْأَرْبَعِينَ او که وينو تر څلوېښتو ورځو تجاوز وکړی وَكَانَتْ وَلَدَتْ قَبْلَ ذٰلِكَ او د دې ښځي مخکي هم کوچنی پيدا سوی وو وَلَهَا عَادَةٌ فِي النِّفَاسِ او په نفاس کي د دې عادت معلوم وو رُدَّتْ إِلَىٰ أَيَّامِ عَادَتِهَا نو دا به د خپل د عادت د ورځو وطرف ته ګرځول کيږي لِمَا بَيَّنَّا فِي الْحَيْضِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ په حيض کي بيان کړی وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهَا عَادَةٌ او که د دې ښځي څه عادت معلوم نه وو فَابْتِدَاءُ نِفَاسِهَا أَرْبَعُونَ يَوْمًا نو د نفاس شروع به يې څلوېښت ورځي وي (يعني د دې د نفاس موده به څلوېښت ورځي وي) لِأَنَّهُ أَمْكَنَ جَعْلُهُ نِفَاسًا ځکه چي څلوېښت ورځي نفاس ګرځول ممکن دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د يوې ښځي تر ولادت وروسته تر څلوېښتو ورځو زياته وينه راغله، نو اوس به کتل کيږي چي د دې ښځي په نفاس کي مخکي يو عادت وو، او که نه وو، که عادت يې وو، نو د عادت ورځي به نفاس شمارل کيږي، او پاته ورځي به استحاضه بلل کيږي، دليل يې په باب الحيض کي تېر سو.

وإن لم تكن الخ او که د دې ښځي يو معلوم عادت نه وو، نو په دې صورت کي به څلوېښت ورځي د نفاس وي، او پاته ورځي به د استحاضې وي، ځکه چي د نفاس لپاره څلوېښت ورځي موده ټاکل ممکن دي، او له دې څخه په لږو کي شک دی، نو ځکه به د نفاس موده څلوېښت ورځي وي.

د غبرګوليانو حکم (د فقهاؤ قولونه)

فَإِنْ وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ بيا که يوې ښځي له يوه نس څخه دوه کوچنيان وزېږول فَنِفَاسُهَا مِنَ الْوَلَدِ الْأَوَّلِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ نو د هغې نفاس د شيخينو په نيز له اول کوچني څخه شروع کيږي وَإِنْ كَانَ بَيْنَ الْوَلَدَيْنِ أَرْبَعُونَ يَوْمًا که څه هم د دواړو کوچنيانو په مينځ کي د څلوېښت ورځو فاصله وي وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: مِنَ الْوَلَدِ الْأَخِيرِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له دويم کوچني څخه نفاس شروع کيږي وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ او دا قول د امام زفر رَحِمَهُ الله هم دی لِأَنَّهَا حَامِلٌ بَعْدَ وَضْعِ الْأَوَّلِ ځکه چي (اوس) دا د اول کوچني تر زېږولو وروسته (هم) حامله ده فَلَا تَصِيرُ نُفَسَاءَ نو نفاس والا به نه ګرځي كَمَا أَنَّهَا لَا تَحِيضُ لکه څرنګه چي حائضه نه ګرځي وَلِهَذَا

تَنْقَضِي الْعِدَّةُ بِالْوَلَدِ الْأَخِيْرِ بِالْإِجْمَاعِ همدا وجه ده چې په اجماع سره عدت په دويم کوچني باندې پوره کيږي وَلَهُمَا: أَنَّ الْحَامِلَ إِنَّمَا لَا تَحِيْضُ لِانْسِدَادِ فَمِ الرَّحِمِ د شيخينو دليل دا دی چې حاملې ښځې ته د رحم د خولې د بندوالي په وجه حيض نه راځي عَلَى مَا ذَكَرْنَا لکه څنګه چې مونږ مخکې ذکر کړه وَقَدِ انْفَتَحَ بِخُرُوْجِ الْأَوَّلِ او دلته د اول کوچني تر زېږيدولو وروسته د رحم خوله خلاصه سوه وَتَنَفَّسَ بِالدَّمِ او رحم وينې راوستلې فَكَانَ نِفَاسًا نو ځکه به دا وينې د نفاس وي وَالْعِدَّةُ تَعَلَّقَتْ بِوَضْعِ حَمْلٍ مُضَافٍ إِلَيْهَا او عدت د داسې حمل زېږيدولو سره متعلق سو چې نسبت يې د ښځې و طرف ته کيږي فَيَتَنَاوَلُ الْجَمِيْعَ نو ځکه به دا ټوله حمل ته شامل وي.

اللغات: ﴿فِيْ بَطْنٍ وَاحِدٍ﴾ په يوه نس کې، د يوه نس معنیٰ دا: چې د دواړو کوچنيانو د پيدايښت په مينځ کې له شپږو مياشتو څخه کمه فاصله وي

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د يوې ښځې په نس کې دوه کوچنيان وي، لېکن دواړه يو ځای پيدا نه سي، بلکې د دوی په پيدايښت کې د يو څو ورځو فاصله وي نو په دې صورت کې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز چې کله اول کوچنی پيدا سي نو له هغه وخته به د ښځې د نفاس موده شروع کيږي، که څه هم د دواړو کوچنيانو د پيدايښت په مينځ کې د څلو ښتو ورځو فاصله وي، لېکن د امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې کله دويم کوچنی پيدا سي له هغه وخته به د نفاس موده شروع کيږي.

د امام محمد او امام زفر دليل: دا دی چې کله د دې ښځې په نس کې دوه کوچنيان دي نو د اول کوچني تر زېږېدني وروسته به هم دا ښځه حامله وي، او حاملې ښځې ته چې څرنګه د حيض وينې نه راځي. همدارنګه د نفاس وينې هم نه ورته راځي، نو ځکه به تر اول کوچني وروسته راتلونکې وينې د نفاس نه وي. بلکې د استحاضې به وي، همدغه وجه ده چې که دغه ښځه مطلقه وه، نو عدت به يې د دويم کوچني پر پيدايښت باندې ختميږي، له دې څخه هم معلومه سوه چې په نفاس کې هم د دويم کوچني د پيدايښت اعتبار دی، نه د اول.

د شيخينو دليل: دا دی چې د حاملې ښځې وينه په دا وجه نه راځي چې د حمل په حالت کې د دې د رحم خوله بنده وي، لېکن کله چې د اول کوچني په زېږېدلو سره د رحم خوله خلاصه سي او رحم وينې را وغورځوي. نو دا به يقيناً د نفاس وينې وي، ځکه چې نفاس هم هغه وينې ته وايي چې تر زېږېدلو وروسته له رحم څخه را ووځي.

جواب: د امام محمد د دليل جواب دا دی چې د عدت پوره کېدل د داسې حمل سره تعلق لري چې هغه د ښځې و طرف ته منسوب وي، الله تعالیٰ فرمايي: وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ (سورة الطلاق: ۴) او حمل وايي: کل ما في البطن ته (يعني کوم څه چې په نس کې وي)، نو د اول کوچني تر زېږېدلو وروسته پوره حمل وضع نه سو بلکې بعضي حمل وضع سو، او د حاملې ښځې عدت په پوره حمل وضع کېدلو سره پوره کيږي. نو ځکه به د دې علت د دويم کوچني په زېږېدلو سره پوره کيږي، نه د اول کوچني په زېږېدلو سره، والله اعلم.



بَابُ الْأَنْجَاسِ وَتَطْهِيْرِهَا

(دا) باب د پليتيو او د هغوی د پاکولو (د احکامو په بيان کې) دی

تشريح: أنجاس جمع د نجس ده، نجس د جيم په فتحه سره د نجاست ذات او عين ته ويل کيږي، او په کسره د جيم سره هغه شي ته ويل کيږي چې پليت (او ګنده) وي، مخکې مصنف رَحِمَهُ الله د حکمي مرداري او د هغې د پاکولو بيان وکړی، اوس له دې ځايه د حقيقي مرداري او د هغې د پاکولو بيان شروع کوي.
څرنګه چې حکمي نجاست قوی دی په نسبت سره و حقيقي نجاست ته، نو ځکه يې د حکمي مرداري احکام مخکې ذکر کړل، پاته سوه دا خبره چې حکمي نجاست ولې قوی دی، نو د دې وجه دا ده چې حکمي نجاست که لږ هم وي خو بيا هم د لمانځه له جواز څخه مانع دی، او د دې برعکس حقيقي نجاست دی هغه که لږ وي، نو د لمانځه له جواز څخه نه مانع کيږي.

د بدن، جامو او لمونځ کوونکي د پاکوالي حکم

تَطْهِيْرُ النَّجَاسَةِ وَاجِبٌ د نجاست پاکول واجب دي مِنْ بَدَنِ الْمُصَلِّيْ وَثَوْبِهِ د لمونځ کوونکي له بدن څخه او د هغه له جامو (کالو) څخه وَالْمَكَانِ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْهِ او له هغه ځای څخه چې پر هغه لمونځ کوي لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ[المدثر: ٤] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: خپلې جامې پاکې کړه وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[●] او نبي ﷺ فرمايلي دي حُتِّيْهِ ثُمَّ اقْرُصِيْهِ (خپلي کيږي) ومږه او بيا يې وګروه (او د حُتِّيْهِ بله معنیٰ په ګنډلو سره هم سوې دي) ثُمَّ اغْسِلِيْهِ بِالْمَاءِ او بيا يې په اوبو پرېوله وَلَا يَضُرُّكِ أَثَرُهُ او د داغ (اثر پاته کېدل) تا ته هيڅ ضرر نه رسوي وَإِذَا وَجَبَ التَّطْهِيْرُ فِي الثَّوْبِ وَجَبَ فِي الْبَدَنِ وَالْمَكَانِ او کله چې د جامې پاکول واجب سو نو د بدن او مکان پاکول به هم واجب وي فَإِنَّ الْاِسْتِعْمَالَ فِيْ حَالَةِ الصَّلَاةِ يَشْمَلُ الْكُلَّ ځکه چې د لمانځه په حالت کې استعمالول دې ټولو ته شامل دي.

لغات: ﴿حُتِّيْ﴾ د نصر له باب څخه د امر واحده مؤنثه صيغه ده، حَتَّ يَحُتُّ: مږل، ﴿اُقْرُصِيْ﴾ دا هم د نصر له باب څخه مخکنۍ صيغه ده: ګروګل، په نوکانو ديو شي را جلا کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې لمونځ کوونکي لره د خپل بدن پاک او صفا ساتل فرض دي، همدارنګه د خپلو جامو او د لمانځه د ځای پاک ساتل فرض دي، د جامو د پاکولو دليل خو دا آيت دی: وثيابك فطهر او له دې آيت څخه دليل په دې توګه نيول کيږي چې کله قرآن کريم د جامو پاکول فرض ګرځولي دي نو د بدن او ځای (مکان) پاکول به هم فرض وي، ځکه څرنګه چې په لمانځه کې جامې استعماليږي، همدارنګه بلکې له دې څخه زيات بدن او مکان

● تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم والبخاري في الوضوء، باب غسل الدم، حديث رقم:۲۲۷، ومسلم في الطهارة باب نجاسة الدم و كيفية غسله، حديث رقم: ٦٧٥.

استعماليږي، لهذا د جامو د پاکولو حکم به په عبارت النص سره ثابت وي، او د بدن او مکان د پاکولو حکم به د دلالة النص سره ثابت وي.

په دې لړ کې دویم دلیل هغه حدیث دی چې د هغه یو څه برخه په کتاب کې ذکر سوه، پوره حدیث په فتح القدیر او بنایه کې داسې ذکر سوی دی: عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَتْ جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: إِحْدَانَا يُصِيبُ ثَوْبَهَا مِنْ دَمِ الْحَيْضِ كَيْفَ تَصْنَعُ بِهِ قَالَ: تَحُتُّهُ ثُمَّ تَقْرُصُهُ بِالْمَاءِ ثُمَّ تَنْضَحُهُ ثُمَّ تُصَلِّيْ فِيهِ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. (حضرت اسماء بنت ابی بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي: چې یوه ښځه رسول الله ته راغله او ویې ویل: چې (که) په موږ کې د یوې ښځې پر جامو د حیض وینه ولګیږي، نو هغه څه وکړي، نبي ﷺ وفرمایل: هغه دې یې په یو شي سره وګروي بیا دې اوبه پر واچوي او ودې یې مږي او بیا دې اوبه پر وبیوي او بیا دې لمونځ پکښې وکړي) تر دې وروسته که بیا هم د نجاست څه نښه او داغ پاته سي نو په هغه دې نه پرېشانه کیږي، ځکه چې دا ضرر نه ور رسوي، لمونځ یې صحیح کیږي؛ نو له دې حدیث څخه هم د جامو د پاکولو حکم ښکاره سو.

نجاست په کومو شیانو سره لیري کول صحیح دي؟

وَيَجُوزُ تَطْهِيرُهَا بِالْمَاءِ او د اوبو په ذریعه د نجاستونو(مرداریو) پاکول جائز دي وَبِكُلِّ او په هر هغه شي سره د نجاستونو پاکول جائز دي مَائِعٍ طَاهِرٍ يُمْكِنُ إِزَالَتُهَا بِهِ چې هغه بهېدونکي او پاک وي او د نجاستونو لیري کول په هغه ممکن وي كَالْخَلِّ وَمَاءِ الْوَرْدِ لکه سرکه او د ګلاب اوبه وَنَحْوِ ذٰلِكَ مِمَّا إِذَا عُصِرَ انْعَصَرَ او دا ډول نور هغه شیان چې په نخوړولو سره نخوړل کیږي (یعني چې کله کښېکاږل سي نو اوبه راباسي) وَهٰذَا ● عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او دا حکم د شیخینو په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُمُ اللهُ: لَا يَجُوزُ إِلَّا بِالْمَاءِ امام محمد، امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللهُ فرمايي: چې (د نجاستونو پاکول) صرف په اوبو سره جائز دي لِأَنَّهُ يَتَنَجَّسُ بِأَوَّلِ الْمُلَاقَاةِ ځکه چې پاکونکی (مُطهّر) شی په اول ملاقات سره مرداریږي (نجس کیږي) وَالنَّجِسُ لَا يُفِيدُ الطَّهَارَةَ او مردار شی د پاکولو فایده نه ورکوي (یعني پاکول نه سي کولای) إِلَّا أَنَّ هٰذَا الْقِيَاسَ تُرِكَ فِي الْمَاءِ لِلضَّرُورَةِ لیکن په اوبو کې د ضرورت په وجه دا قیاس پرېښوول سوی دی وَلَهُمَا: أَنَّ الْمَائِعَ قَالِعٌ د شیخینو دلیل دا دی: چې بهېدونکی شی نجاست له بېخه کاږي وَالطَّهُورِيَّةَ بِعِلَّةِ الْقَلْعِ وَالْإِزَالَةِ او د پاکولو صفت خو د بېخه کښلو او زائله کولو په وجه دی وَالنَّجَاسَةُ لِلْمُجَاوَرَةِ او نجس کېدل د مجاورت(او اتّصال) په وجه دی فَإِذَا انْتَهَتْ أَجْزَاءُ النَّجَاسَةِ نو هر کله چې د نجاست اجزاء ختم سوه يَبْقَى طَاهِرًا نو هغه شی پاک سو وَجَوَابُ الْكِتَابِ لَا يُفَرِّقُ بَيْنَ الثَّوْبِ وَالْبَدَنِ او په قدوري کې چې کوم حکم ذکر دی هغه په جامو او بدن کې هیڅ توپیر نه کوي وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او همدا قول د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دی وَإِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ ● او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ یو روایت هم (داسي) دی وَعَنْهُ أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا

● القول الراجح: قول الشیخین، کذا فی رد المحتار ج:۱، ص:۲۲۶ [القول الراجح، ج:۱، ص:۳۳]

● القول الراجح: قول ابی حنیفة رَحِمَهُ الله، کذا فی فتح القدیر ج:۱، ص:۱۷ [القول الراجح، ج:۱، ص:۳۵]

او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دويم روايت دا دی چي هغه په بدن او جامو کي فرق کړی دی فَلَمْ يَجُوْزُ فِي الْبَدَنِ بِغَيْرِ الْمَاءِ نو د بدن په حق کي يې له اوبو څخه ماسوا په بل شي پاکول ناجائز ګرځولي دي.

اللغات: ﴿خَلّ﴾ سرکه، ﴿مَاءُ الْوَرْدِ﴾ د ګل ګلاب اوبه، ﴿يُعْصَرُ﴾ د مجهول صيغه ده: نچوړل، له يو شي څخه په فشار اوبه را ايستل، ﴿قَالِعٌ﴾ د فتح د باب اسم فاعل دی: له بېخه کښونکی، ليري کونکی.

تشريح: په دې باره کي اختلاف دی چي په کومو شيانو سره نجاست ليري کيږي او په کومو شيانو سره نه ليري کيږي، د امام ابو يوسف او امام ابو حنيفه رَحِمَهُمَا الله په نيز په هر بهېدونکي پاک شي سره نجاست ليري کيږي، خو په دې شرط چي په هغه سره د نجاست ليري کول ممکن وي، لکه سرکه او د ګلاب اوبه او داسي نور شيان چي په نچوړولو سره نچوړل کېدای سي، نو د مأکول اللحم څارويانو په متيازو باندي نجاست نه پاکيږي، ځکه چي متيازي مرداري دي. او په تېلو باندي هم نجاست نه پاکيږي، که څه هم تېل پاک دي لېکن په نچوړولو سره نه نچوړل کيږي، بلکي په جامو کي جذب کيږي.

د امام محمد، امام زفر، امام شافعي، امام مالک او علمو فقهاؤ رَحِمَهُمُ الله په نيز له اوبو څخه ماسوا په بل شي سره نجاست نه پاکيږي.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چي پاکونکی شی چي کله په اول وار د نجاست سره يو ځای او تکر سي، نو هغه په خپله هم نجس سي، يعني اوبه يا بل پاکونکی شی چي کله پر نجاست واچول سي او د نجاست يو څه اجزاء په دې کي راسي نو دا خپله ناپاکه سي، او ښکاره ده چي کوم شی په خپله ناپاکه وي هغه به نور شيان څرنګه پاک کړي! نو د عقل او قياس تقاضا خو دا وه چي په اوبو سره هم د نجاستونو پاکول ممکن نه وای، خو څرنګه چي له اوبو څخه ماسوا هيڅ چاره نسته، نو ځکه له قياس څخه خلاف اوبه مطهّر (پاکونکي) او ليري کونکي ومنل سوې، لېکن په نورو شيانو کي به د قياس خلاف عمل نه کيږي، او له اوبو څخه ماسوا به نور شيان مطهّر نه منل کيږي.

د شيخينو دليل: دا دی چي له اوبو څخه ماسوا نور بهېدونکي (مائع) شيان ځکه پاکونکي دي چي په هغو سره نجاست ليري کېدای سي او اوبه ځکه پاکونکي دي چي په دې کي د نجاست ليري کولو معنیٰ پرته ده، نو که دغه معنیٰ "د نجاست ليري کولو" په نورو شيانو کي راسي نو بايد چي هغه هم پاکونکي سي، بلکي اوبه بعضي نجس رنګونه نه سي ليري کولای، خو سرکه يې ليري کولای سي.

والنجاسة الخ پاته سوه د دې حضراتو دا خبره چي د نجاست سره په اول وار يو ځای کېدلو باندي اوبه مرداريږي، نو د دې جواب دا دی چي د اوبو مرداريدل د نجاست د اجزاؤ سره د مجاورت (همسايتوب) په وجه دي، خو کله چي د نجاست اجزاء وبهيږي او ختم سي نو محل يعني جامه هم پاکه سي. (يعني کله چي اوبه پر نجاست ولوېږي، نو نجاست له خپل ځان سر وبيوي، او نجاست ليري سي، او څرنګه چي نجاست ليري سي. نو جامه او داسي نور هم پاک سي)

دجواب الكتاب الخ صاحب د هدايه فرمايي: په قدوري کي چي کوم حکم ذکر سوی دی په هغه کي د جامې او بدن په مينځ کي هيڅ فرق نسته، يعني لکه څرنګه چي په اوبو او بهېدونکي شي باندي جامې پاکيږي، دغه رنګه بدن هم په دواړو باندي پاکيږي، او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله قول هم دا دی، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دوو روايتونو کي يو روايت هم دغه ډول دی.

وعنه الخ له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه دویم روایت دا دی چي هغه په جامو او بدن کي فرق کړی دی، چي بدن صرف په اوبو باندي پاکیږي، او جامه په دواړو یعني په اوبو او بهېدونکي شي باندي پاکیږي.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي دوه اختلافه ذکر سوي دي: ① اول اختلاف په تطهير الأنجاس بالمائعات کي دی، په دې مسئله کي راجح قول د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دی، وقال فی الهندیة: یجوز تطهیر النجاسة بالماء وبکل مائع طاهر یمکن ازالتها به کالخل وماء الورد ونحوهما مما اذا عصر انعصر (الهندیة ج:۱، ص:۴۱). ② دویم اختلاف په تطهير البدن من النجاسة بما سوی الماء کي دی، په دې کي راجح قول د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله دی. [القول الراجح ج:۱، ص:۴۵]

په موزو سره د نجاست د لیري کولو تفصیل

وَإِذَا أَصَابَ الْخُفَّ نَجَاسَةٌ لَهَا جِرْمٌ او کله چي پر موزه جسیم لرونکی نجاست ولګیږي كَالرَّوْثِ وَالْعَذِرَةِ لکه خوشایي او د انسان غایطه مواد وَالدَّمِ وَالْمَنِيِّ او لکه وینه او مني فَجَفَّتْ او بیا دا نجاست وچ سي فَدَلَكَهُ بِالْأَرْضِ او بیا یې پر مځکه ومږي جَازَ نو دا جائز دي (یعني په دې موزه کي لمونځ جائز دی) وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجُوزُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چي جائز نه دی وَهُوَ الْقِيَاسُ او دا قیاس دی إِلَّا فِي الْمَنِيِّ خَاصَّةً مګر فقط په مني وو کي لِأَنَّ الْمُتَدَاخِلَ فِي الْخُفِّ لَا يُزِيلُهُ الْجَفَافُ وَالدَّلْكُ ځکه کوم شی چي په موزه کي داخل سي هغه په وچېدلو او په مږلو سره نه لیري کیږي بِخِلَافِ الْمَنِيِّ عَلَى مَا نَذْكُرُهُ په خلاف د مني وو چي وجه به یې موږ ذکر کړو وَلَهُمَا: قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د شیخینو دلیل د نبي ﷺ دا قول دی فَإِنْ كَانَ بِهِمَا أَذًى فَلْيَمْسَحْهُمَا بِالْأَرْضِ که په دې دواړو (موزو) کي نجاست وو نو پر مځکه دي یې ومږي فَإِنَّ الْأَرْضَ لَهُمَا طَهُورٌ ځکه چي مځکه د دوی لپاره پاکونکې ده وَلِأَنَّ الْجِلْدَ لِصَلَابَتِهِ لَا تَتَدَاخَلُهُ أَجْزَاءُ النَّجَاسَةِ او په دې وجه چي په چمړه (څرمن) کي د سخت والي په وجه د نجاست اجزاء نه داخلیږي إِلَّا قَلِيلًا خو ډېر لږ. ثُمَّ يَجْتَذِبُهُ الْجِرْمُ إِذَا جَفَّ او بیا چي کله وچ سي نو د نجاست جسم (په خپله) هغه اجزاء جذبوي فَإِذَا زَالَ زَالَ مَا قَامَ بِهِ نو بیا چي کله هغه جسم زائل سي نو کوم اجزاء چي په هغه سره قائم وي هغه هم زائل سي.

تشریح: ﴿عَذِرَةٌ﴾ د انسان غایطه مواد، فضله، ﴿دَلْكٌ﴾ د نصر د باب مصدر دی: مږل، ﴿صَلَابَةٌ﴾ سختېدل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که د یو سړي موزه په داسي نجاست ککړه سوه چي هغه جسم داره وو (یعني لیدل کېدی) لکه خوشایي، غایطه مواد، بهېدونکې وینه، مني او داسي نور، او بیا هغه نجاست وچ سو، او دې سړي موزه پر مځکه ومږل، او نجاست یې صفا یې کړی، نو (د شیخینو په نیز) هغه موزه پاکه سوه، او په هغې کي لمونځ کول جائز دي، دا حکم استحساني دی، یعني د قیاس په مقابله کي دی، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي جائز نه دی، یعني په

● القول الراجح: قولهما كذا فی الخانیة ج:۱، ص:۱۳، و البحر الرائق ج:۱، ص:۳۸۷ [القول الراجح، ج:۱، ص:۴۶]

● تخریج: أخرجه ابو داؤد فی کتاب الطهارة، باب الأذی یصیب النعل، حدیث رقم: ۳۸۵ - ۳۸۶.

داسي کولو سره موزه نه پاکيږي، بلکي د دې پرېولل ضروري دي خو ما سوا له مني وو څخه، او د مني وو په باره کي به وروسته بيان وکړو. د امام محمد رَحِمَهُ الله قول د قياس مطابق دی.

د امام محمد دليل: دا دی چي کله د نجاست اجزاء موزې ته ورسيږي نو هغه د موزې سره ومښلي، بيا په وچېدلو او ګرولو سره هغه نه زائله کيږي، بلکي له وچېدلو وروسته هم نجاست پاته وي.

د شيخينو دليل: د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه حديث دی: أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يصلي فخلع نعليه فخلع القوم نعالهم فقال صلى الله عليه وسلم لهم بعد الصلاة لما خلعتم نعالكم؟ قالوا رأيناك خلعت نعليك فخلعنا فقال صلى الله عليه وسلم أخبرني جبريل إن فيهما قذرا إذا أتى أحدكم باب المسجد فليقلب نعليه فإن رأى فيها قذرا فليمسحهما بالأرض. (يعني نبي ﷺ لمونځ کوی، او خپلي مچني يې وکښلې، نو صحابه وو هم خپلي مچني وکښلې، کله چي نبي ﷺ له لمانځه څخه فارغ سو، نو صحابه وو ته يې وفرمايل: تاسو ولي مچني وکښلې؟ هغوی وويل اې د الله رسوله! (ﷺ) موږ وليدل چي تاسو خپلي مچني وکښلې. نو موږ هم وکښلې، نبي ﷺ وفرمايل ما خو ځکه وکښلې چي حضرت جبريل عليه السلام خبر راکړی چي ستا په مچنو کي نجاست دی، کله چي په تاسو کي څوک د مسجد دروازې ته راسي، نو مچني دي وا ړوي را وړوي او دي وګوري! که څه نجاست په نظر ورغلی نو پر مځکه دي يې ومږي)، او په بل روايت کي داسي هم ذکر سوي دي: فإن الأرض لهما طهور، (ځکه چي مځکه د دې موزو لپاره پاکونکې ده)، له دې حديث څخه معلومه سوه چي که موزه په نجاست لړلې وه، نو هغه دي پر مځکه ومږي، د پرېوللو يې هيڅ ضرورت نسته.

عقلي دليل: دا دی چي موزه له څرمنې (چمړې) څخه جوړه سوې ده، نو په دې کي د نجاست اجزاء نه سي جذب کېدلای، خو ډېر لږ، بيا چي کله دا لږ هم وچ سي، نو هغه اجزاء د دې نجاست جسم په خپله جذب کړي، او چي کله د نجاست جسم زائله سي، نو کوم اجزاء چي په دې جسم کي جذب سوي وي، هغه هم زائله سي.

راجح قول: پورتنۍ مسئله کي راجح قول د شيخينو دی، قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله (الخف) اذا اصابته النجاسة ان كانت النجاسة متجسدة كالعذرة والروث والمني يطهر بالحك اذا يبست الى ان قال اذا مسحها على وجه المبالغه بحيث لا يبقى لها اثر يطهر وعليه الفتوى لعموم البلوى (الخانيه ج:۱، ص:۱۳۰). [القول الراجح. ج:۱، ص:۴۶]

لوند نجاست به څرنګه پاکيږي؟

وَفِي الرَّطْبِ لَا يَجُوزُ او په لانده نجاست کي (پر ځمکه مږل) جائز نه دي حَتَّى يَغْسِلَهُ تر دې چي هغه پرېولي لِأَنَّ الْمَسْحَ بِالْأَرْضِ يُكَثِّرُهُ ځکه چي پر مځکه مږل نجاست نور زياتوي وَلَا يُطَهِّرُهُ او پاکوي يې نه وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: ● أَنَّهُ إِذَا مَسَحَهُ بِالْأَرْضِ حَتَّى لَمْ يَبْقَ أَثَرُ النَّجَاسَةِ يَطْهُرُ او نه امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي: چي کله لوند نجاست پر مځکه په داسي طريقه سره ومږي چي د نجاست هيڅ اثر پاته نه سي نو پاکيږي لِعُمُومِ الْبَلْوَى وَإِطْلَاقِ مَا يُرْوَى د عموم بلوی په وجه او د حديث د اطلاق په وجه وَعَلَيْهِ مَشَايِخُنَا او زموږ مشائخ رَحِمَهُمُ الله (هم) پر دغه قول دي.

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كذا في فتح القدير ج:۱، ص:۱۷۲. [القول الراجح ج:۱، ص:۴۷]

اللغات: ﴿لَمْ يَبْقَ﴾ په اصل کې لَمْ يَبْقٰی وو د لَمْ جازمه په وجه یې آخري "ی" حذف سوه. بَقِيَ يَبْقٰی: پاته کېدل.
﴿عُمُوْمُ الْبَلْوٰی﴾ د ابتلاء عامېدل، په یو شي باندې د هر یوه مبتلا کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې که موزه په لانده نجاست سره ولړل سوه لکه خوشايي، غايطه مواد، وینې او داسې نور او دا لوند نجاست تر اوسه پوري وچ سوی هم نه وو، نو پر مځکه باندې په مږلو سره نه پاکيږي، بلکې پرېولل یې ضروري دي. ځکه که لوند نجاست پر مځکه ومږل سي نو هغه نور هم خورېږي، او ښکاره ده چې په دې سره موزه نوره هم مردارېږي، پاکیږي نه.

وعن أبي يوسف الخ له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چې کله د لانده نجاست په صورت کې موزه په داسې طريقه سره پر مځکه ومږل سي، چې د نجاست اثر ولاړ سي نو پاکيږي، بيا يې د پرېوللو ضرورت نسته، ځکه چې په دې کې عموم بلویٰ ده، يعني په عامه توګه په دې خلګ مبتلا دي. او که پرېولل ضروري وګرځول سي نو دېر غټ تکليف به مينځ ته راسي، دويمه خبره دا ده چې حديث فليمسحهما بالأرض مطلق دی، په دې کې د لانده او وچ نجاست په مينځ کې هيڅ فرق نه دی ذکر سوی، زموږ د مشايخو قول همدغه دی. او هم پر دې فتویٰ ده.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله ان ابا يوسف رَحِمَهُ الله لم يقيده بالجفاف وعلى قول ابي يوسف رَحِمَهُ الله اكثر المشائخ وهو المختار لعموم البلوىٰ (فتح القدير ج:۱، ص:۱۷۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۴۷]

که موزه په متيازو ولړل سي نو څرنګه به پاکيږي؟

فَإِنْ أَصَابَهُ بَوْلٌ فَيَبِسَ بيا که پر موزه متيازې ولګيږي او وچې سي لَمْ يَجُزْ حَتّٰى يَغْسِلَهُ نو له پرېوللو څخه بغير (په هغو کې لمونځ کول) جائز نه دي وَكَذَا كُلُّ مَا لَا جِرْمَ لَهُ او دا حکم د هر هغه نجاست دی چې هغه لره جسم نه وي كَالْخَمْرِ لکه شراب لِأَنَّ الْأَجْزَاءَ تَتَشَرَّبُ فِيْهِ ځکه چې د نجاست اجزاء په دې کې چيښل کيږي (يعني دا نجاست چې پر کوم شي ولګيږي. په هغه کې د نجاست اجزاء جذب کيږي) وَلَا جَاذِبَ يَجْذِبُهُ او (بل) داسې جذب کونکی شی هم نسته چې دغه اجزاء جذب کړي وَقِيْلَ: مَا يَتَّصِلُ بِهِ مِنَ الرَّمْلِ او ويل سوي دي: کوم رېګ چې د نجاست سره متصل سي (يعني ومښلي) جِرْمٌ لَهُ هغه د نجاست لپاره جسم دی.

اللغات: ﴿جَاذِب﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دی: جذب کونکی، چيښونکی.

تشريح: فرمايي: که موزه په متيازو يا يو بل داسې نجاست سره ککړه سوه چې هغه جسم داره نه وو، لکه متيازې، شراب او داسې نور، نو په دې صورت کې له پرېوللو څخه بغير موزه نه پاکيږي، او فقط تر مږلو وروسته اغوستل او لمونځ پکښې کول جائز نه دي، ځکه چې د جسم نه درلودلو په وجه د نجاست اجزاء د موزې سره مونښلي. او د دې اجزاوو د جذبېدلو لپاره يو شی هم نسته، نو خامخا به پرېولل کيږي، بل ډول نه پاکيږي.

وقيل الخ په دې لړ کې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو قول دا را نقل سوی دی چې که موزه په متيازو او داسې نورو شيانو ککړه سي او بيا رېګ يا يو بل داسې جسم لرونکی شی پر واچول سي، (يعني بيا په رېګ يا يو بل جسم داره شي

کي ومږل سي) نو دغه رنګ يا جسم داره شی د متيازو او نورو لپاره جسم جوړېږي. او د متيازو او نورو اجزاء په دې جسم داره شي کي جذبيږي، نو بيا که موزه ومږل سي، نو په مږلو سره پاکيږي.

مرداره جامه(کپړه) په څرنګه پاکيږي؟

وَالثَّوْبُ لَا يُجْزِئُ فِيهِ إِلَّا الْغَسْلُ او په کپړو(جامو) کي له پرېولو څخه ماسوا بل څه جائز نه دي وَإِنْ يَبِسَ که څه هم هغه جامې وچي سي لِأَنَّ الثَّوْبَ لِتَخَلْخُلِهِ ځکه په جامو کي د دخپل نرموالي(پوستوالي) په وجه يَتَدَاخَلُهُ كَثِيرٌ مِنْ أَجْزَاءِ النَّجَاسَةِ د نجاست ډېر اجزاء داخليږي فَلَا يُخْرِجُهَا إِلَّا الْغَسْلُ چي هغه اجزاء صرف پرېولل ايستلای سي.

اللغات: ﴿تخلخل﴾ د تَفَعْلَلَ د باب مصدر دی: خلا والا کېدل(يعني د يو شي نرم کېدل او نه کلک کېدل).

تشريح: فرمايي چي که پر جامه او کپړه باندي نجاست ولګيږي، نو په دې صورت کي د دې د پاکولو صرف يوه لار سته، چي هغه غسل(يعني پرېولل) دي، ځکه چي کپړه نرمه او پسته وي، او په ډېره اندازه د نجاست اجزاء په تنوزي، چي هغه په وچېدلو سره هم نه وځي، نو ځکه د هغوی دايستلو او د له منځه وړلو لپاره صرف او صرف اوبه ضروري دي.

د مني وو د پاکولو کولو طريقه

وَالْمَنِيُّ نَجِسٌ او مني ناپاک دي يَجِبُ غَسْلُهُ پرېولل يې ضروري دي إِنْ كَانَ رَطْبًا که لانده وه فَإِذَا جَفَّ عَلَى الثَّوْبِ او که پر کالو وچ سوه أَجْزَأَ فِيهِ الْفَرْكُ نو ګرول يې کافي دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ځکه نبي ﷺ حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته فرمايلي وو فَاغْسِلِيهِ إِنْ كَانَ رَطْبًا چي مني پرېوله که لانده وه وَافْرُكِيهِ إِنْ كَانَ يَابِسًا او ګروه يې که وچ وه وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: الْمَنِيُّ طَاهِرٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي مني پاک دي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَاهُ (لېکن) د ده په خلاف زموږ بيان سوی روايت حجت دی وَقَالَ الْعَلَيْكَ ● او نبي ﷺ فرمايلي دي إِنَّمَا يُغْسَلُ الثَّوْبُ مِنْ خَمْسٍ چي کالي به له پنځو شيانو څخه پرېولل کيږي وَذَكَرَ مِنْهَا الْمَنِيَّ او له هغو څخه يې مني هم ذکر کړه وَلَوْ أَصَابَ الْبَدَنَ او که مني پر بدن ولګېدل قَالَ مَشَايِخُنَا رَحِمَهُمُ الله: يَطْهُرُ بِالْفَرْكِ نو زموږ د مشائخو په نېز هغه هم په ګرولو سره پاکيږي لِأَنَّ الْبَلْوَى فِيهِ أَشَدُّ ځکه چي په دې کي مبتلاوالی زيات دی وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله ● أَنَّهُ لَا يَطْهُرُ إِلَّا بِالْغَسْلِ او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي: له پرېوللو څخه بغير نه پاکيږي لِأَنَّ حَرَارَةَ الْبَدَنِ جَاذِبَةٌ ځکه چي د بدن ګرموالی (د مني وو) جذبونکی دی فَلَا يَعُودُ إِلَى الْجِرْمِ نو مني د جسم و طرف ته نه راګرځي وَالْبَدَنُ لَا يُمْكِنُ فَرْكُهُ او د بدن ګرول(هم) ممکن نه دي.

● تخريج: أخرجه دار قطنى فى كتاب الطهارة، باب ما ورد فى طهارة المنى و حكمه، حديث رقم: ۴۴۳.

● تخريج: أخرجه دار قطنى فى كتاب الطهارة، باب نجاسة البول، حديث رقم:۴۵۲.

● القول الراجح: قول الجمهور كذا فى الدر المختار ج:۱، ص:۲۹. [القول الراجح، ج:۱، ص:۴۹]

اللغات: ﴿رَطَبٌ﴾ لوند. ﴿يَابِسٌ﴾ وچ. ﴿أُفْرُكِي﴾ د نصر د باب واحد امرِ مؤنث صيغه ده: مړل. (ګرول). ﴿جِرْم﴾ جسم، بدنه، (جسامت).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زمونږ په نيز د انسانانو مني ناپاک (نجس) دي او که پر کپړو او کالو باندې ولګيږي. نو د لوندالي په صورت کي د هغو پرېولل واجب دي. ليکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د انسانانو مني پاک دي، او که پر کپړو باندې ولګيږي نو پرېولل يې ضروري نه دي، بلکې صرف په مړلو او په ګرولو سره پاکيږي.

د امام شافعي دليل: د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حديث دی چې په فتح القدير او بنايه کي داسي ذکر سوی دی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ فَقَالَ: إِنَّمَا هُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُخَاطِ أَوِ الْبُزَاقِ. وَقَالَ: إِنَّمَا يَكْفِيكَ أَنْ تَمْسَحَهُ بِخِرْقَةٍ أَوْ إِذْخِرَةٍ. (له حضرت ابن عباس څخه روايت دی چې له نبي ﷺ څخه د مني وو په باره کي پوښتنه وسوه (چي دا پاک دي، که ناپاک؟) نو نبي ﷺ وفرمايل: دا د ګرنګو يا لاړو په ډول دي، او وې فرمايل: ستا لپاره دومره کافي ده چې دا صرف په يوه ټوټه يا اذخر وښو باندې وچ کړې) په دې حديث سره امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل په دې توګه نيسي چې نبي ﷺ مني د ګرنګو او لاړو په درجه کي ګرځولي دي، ګرنګ او لاړې پاکي دي، نو ځکه به مني هم پاک وي.

د امام شافعي عقلي دليل: دا دی چې له مني وو څخه انسان پيدا کيږي، او انبياء کرام هم انسانان دي، اوس که موږ مني ناپاک وګرځوو، نو د انبياوو پيدا کېدل به له يو ناپاک شي څخه لازم سي، او دا د هغوی له عظمت او مرتبې څخه خلاف دي.

زموږ دليل: هغه حديث دی کوم چې په کتاب کي ذکر سو چې نبي ﷺ حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته وفرمايل چې که مني لانده وه نو پرېوله يې او که وچ وه نو مړه يې، په دې حديث سره موږ دليل په دې توګه نيسو چې نبي ﷺ حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته د امر په صيغه سره د مني وو د لوندوالي په صورت کي د پرېوللو حکم ورکړی دی او امر د وجوب لپاره راځي، نو که مني ناپاک نه وای نو نبي ﷺ به د امر په صيغه سره د پرېوللو حکم نه کولای.

دويم دليل: هغه حديث چې نبي ﷺ فرمايي: له پنځو شيانو څخه جامې پرېولئ: (۱) متيازي (۲) غايطه مواد (۳) وينه (۴) قی (۵) مني، له دې څخه هم معلوميږي چې مني ناپاک دي، کنې له دې څخه به د جامو د پرېوللو حکم نه کېدلای؛ دا دواړه حديثونه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دي.

جواب: پاته سو هغه حديث چې په هغه سره امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل نيسي، نو د هغه جواب دا دی چې دا حديث مرفوع نه دی، بلکې پر ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا موقوف دی، او زموږ بيان سوي دواړه حديثونه مرفوع دي، او ښکاره ده چې د مرفوع حديث په مقابله کي موقوف حديث حجت نه سي جوړېدای، د ابن عباس رضي الله عنه د حديث متعلق علامه ابن الهمام د دار القطني په حواله سره ليکلي دي چې: لم يرفعه غير اسحاق الأزرق عن شريك القاضي. و رواه البيهقي من طريق الشافعي موقوفا على ابن عباس وقال هذا هو الصحيح (فتح القدير ج:۱، ص:۱۹۹)، صاحب د عنايه د دې جواب دا ورکړی دی چې د ابن عباس په حديث کي چې د المخاط والبزاق په ذريعه کومه تشبيه ورکول سوې ده، له دې تشبيه څخه دا نه لازميږي چې مني دي په طهارت کي د مخاط او بزاق په شير وي، بلکې دا هم احتمال سته چې دا تشبيه په سرېښتوب او قلتِ تداخل کي وي، يعني څرنګه چې ګرنګ او لاړې سرېښناکه غوندي دي، او په جامې او نورو کي سرايت نه کوي، او په ګرولو سره صفا

کیږي، دغه رنګه مني هم سرېښناکه غونډي دي او په جامه او نورو کي ډېر لږ سرایت کوي، او دا هم په ګرولو سره پاکیږي، نو د دې احتمال په وجه د ابن عباس له حدیث څخه د مني وو پر طهارت دلیل نیول صحیح نه دی. (عنایه ج:۱، ص:۱۹۹)

د امام شافعي د عقلي دلیل جواب: دا دی چي مونږ دا منو چي د انسان د پیدایښت اولنۍ شروع له مني وو څخه کیږي. لیکن اول په خپله انسان له مني وو څخه نه جوړیږي، بلکي له مني وو څخه وینه جوړیږي، له وینو څخه ټوټه (علقه) جوړیږي، بیا مضغه جوړیږي او تر دې وروسته یو وخت په دې کي روح پوکل کیږي. نو په دې حواله سره هم د مني وو پر پاکوالي دلیل نیول صحیح نه دی.

ولوأصاب البدن...الخ فرمایي چي که پر بدن مني ولګیږي نو په دې سلسله کي د ماوراء النهر د علماوو رایه دا ده چي په ګرولو سره بدن پاکیږي، ځکه چي په عامه توګه مني پر بدن لګیږي، او د هر چا لپاره فوراً مني پرېولل ستونزمن دي. نو د عموم بلوی په وجه د مږلو او ګرولو په ذریعه سره هم بدن پاکېدای سي.

په دې لړ کي له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا رنقل سوی دی چي که مني پر بدن ولګیږي نو صرف په پرېوللو سره بدن پاکیږي، په ګرولو سره نه پاکیږي. ځکه چي د بدن حرارات (ګرموالی) مني جذبوي. نو جذب سوي اجزاء دوباره د جسم (جرم) و طرف ته نه راګرځي. نو ځکه د دې اجزاؤ د لیري کولو لپاره د بدن پرېولل ضروري دي. همدا راز د بدن ګرول هم ممکن نه دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د جمهورو دی، یعني مني که وچ وه نو په مږلو سره پاکیږي. هغه که پر جامه وي، که پر بدن. قال العلامة الطحطاوی رَحِمَهُ الله: ویطهر المنی الجاف ولو منی امرأة علی الصحیح بفرکه عن الثوب و عن البدن بفرکه فی ظاهر الروایة (طحطاوی ج:۱، ص:۸۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۲۹]

له هینداري یا توري څخه د نجاست لیري کولو طریقه

وَالنَّجَاسَةُ إِذَا أَصَابَتْ او نجاست چي کله ولګیږي الْمِرْآةَ أَوِ السَّيْفَ پر هینداره یا توره اِكْتَفٰى بِمَسْحِهِمَا نو (فقط) د هغه پر لیري کولو دي اکتفا وکړي (یعني فقط په کپړه یا بل شي دي نجاست څني وچ کړي) لِأَنَّهُ لَا تَتَدَاخَلُهُمَا النَّجَاسَةُ ځکه چي په دې شیانو کي نجاست نه سي داخلېدلای وَمَا عَلٰى ظَاهِرِهِ يَزُوْلُ بِالْمَسْحِ او کوم نجاست چي پر دوی سرېږه دی هغه په لیري کولو (او وچولو) سره زائلیږي.

اللغات: ﴿مِرْآة﴾ هینداره.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی، چي په هینداره او توره کي نجاست نه سي جذبېدلای. بلکي ټوله نجاست پر پورتنۍ حصه باندي لګیږي، نو ځکه صرف پر مځکه په مږلو (یا په کپړه یا بل شي باندي په وچولو او صفا کولو سره) هم دا شیان پاکیږي، او پرېولل یې ضروري نه دي.

مځکه به څرنګه له نجاست څخه پاکیږي؟

وَإِنْ أَصَابَتِ الْأَرْضَ نَجَاسَةٌ او که نجاست پر مځکه ولګېدی فَجَفَّتْ بِالشَّمْسِ وَذَهَبَ أَثَرُهَا او بیا په لمر سره وچ سو او اثر یې هم ختم سو جَازَتِ الصَّلَاةُ عَلٰى مَكَانِهَا نو د دغه نجاست پر ځای لمونځ کول جائز دي وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ

رَحِمَهُمَا اللهُ: لَا تَجُوْزُ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې جائز نه دي لِأَنَّهُ لَمْ يُوْجَدِ الْمُزِيْلُ ځکه چې يو ليري کونکی شي نسته وَلِهٰذَا لَا يَجُوْزُ التَّيَمُّمُ بِهٖ همدا وجه ده چې په دې سره تيمّم کول جائز نه دي وَلَنَا: قَوْلُهٗ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ او زموږ دليل: د نبي ﷺ دا قول دی زَكَاةُ● الْأَرْضِ يُبْسُهَا د مځکې پاکوالی د هغې وچېدل دي وَإِنَّمَا لَا يَجُوْزُ التيمم او تيمّم په دې وجه جائز نه دی لِأَنَّ طَهَارَةَ الصَّعِيْدِ ثَبَتَتْ شَرْطًا بِنَصِّ الْكِتَابِ ځکه چې د خاورې پاکېدل په قرآني آيت سره ثابت سوي دي فَلَا تَتَأَدّٰى بِمَا ثَبَتَ بِالْحَدِيْثِ نو دغه به په هغه شي سره نه اداء کيږي کوم چې په حديث سره ثابت وي. (مطلب دا چې د حديث په وجه قرآني آيت نه سي پرېښول کېدای)

اللغات: ﴿يُبْس﴾ د ضرب د باب مصدر دي: وچېدل. ﴿صعيد﴾ د مځکې مخ، د کروندې مځکه. مراد خاوره دي.

تشريح: که پر مځکه باندې نجاست ولګيږي، او بيا په لمر يا په اُور يا په هوا يا بل شي باندې وچ سي، او د نجاست اثر رنګ بوی او نور هم ختم سي، نو پر دغه ځای لمونځ کول جائز دي، لېکن تيمّم پر دغه ځای تيمم کول جائز نه دي، امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې پر دې مځکه لمونځ کول هم جائز نه دي.

د امام زفر او امام شافعي دليل: دا دی چې دا مځکه په يقيني توګه مرداره سوې ده، او د نجاست (مرداری) ليري کونکی شی هم نسته، نو ځکه به دا مځکه مرداره وي، او پر دې به لمونځ جائز نه وي، همدا وجه ده چې پر دې باندې تيمّم په اتفاق سره جائز نه دی.

زموږ دليل: د رسول الله ﷺ دا قول دی: زكاة الأرض يبسها. يعني د مځکې پاکوالی د دې وچوالی دی، او د دې په معنیٰ بل حديث دا هم سته چې: أيما الأرض جفت فقد طهرت. يعني کومه مځکه چې وچه سوه، نو هغه پاکه سوه.

جواب: د امام زفر او امام شافعي د دليل جواب دا دی چې دا خبره غلطه ده چې د نجاست ليري کونکی شی نسته، بلکې د نجاست ليري کونکی شی سته، يعني حرارت او ګرموالی، ځکه څرنګه چې په اُور باندې پاکوالي راځي. دغه رنګه په حرارت باندې هم راځي، هغه که حرارت کم وي او که زيات.

وإنما لايجوز...الخ له دې ځايه د امام زفر رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي، خلاصه د جواب دا ده چې د تيمّم لپاره د خاورې پاکوالی د قرآن پاک په نص سره ثابت دی: فتيمموا صعيد طيبا، او کوم شی چې په نص سره ثابت وي، هغه قطعي الثبوت وي، نو دا ضروري ده چې د تيمّم لپاره به پاکه خاوره کارول کيږي، او دلته د مځکې طهارت په خبر واحد سره ثابت دی چې زكاة الأرض يبسها. او کوم حکم چې په خبر واحد ثابت وي، هغه غير قطعي او ظني وي. نو تيمّم چې د هغې لپاره د خاورې پاکېدل قطعي الثبوت دی، نو دا په هغه خاوره نه صحيح کيږي چې د هغې پاکېدل ظني الثبوت وي.

نجاست غليظه او نجاست خفيفه (او په نجاست غليظه کې معاف مقدار)

وَقَدْرُ الدِّرْهَمِ وَمَا دُوْنَهٗ مِنَ النَّجِسِ الْمُغَلَّظِ او له نجاستِ غليظه څخه د يوه درهم په اندازه يا له دې څخه کم (معاف دي) كَالدَّمِ وَالْبَوْلِ وَالْخَمْرِ وَخُرْءِ الدَّجَاجِ وَبَوْلِ الْحِمَارِ لکه وينه، متيازې، شراب، د چرګې ګندګي او د خره متيازې

● تخريج: أخرجه ابن ابی شيبه فی كتاب الطهارة، باب فی الرجل يطأ الموضع القذر، حديث رقم: ۶۲۳.

جَازَتِ الصَّلَاةُ مَعَهُ او د دې سره لمونځ جائز دی وَإِنْ زَادَ لَمْ تَجُزْ او که تر يوه درهم زيات سو نو لمونځ ور سره جائز نه دی وَقَالَ زُفَرُ وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُمَا اللهُ : قَلِيلُ النَّجَاسَةِ وَكَثِيرُهَا سَوَاءٌ امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د نجاست لږ اندازه او زياته اندازه دواړه برابر دي لِأَنَّ النَّصَّ الْمُوجِبَ لِلتَّطْهِيرِ لَمْ يُفَصِّلْ ځکه چې د طهارت واجبوونکي نص (د قليل او د کثير) هيڅ فرق نه کړی دي وَلَنَا : أَنَّ الْقَلِيلَ لَا يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ او زموږ دليل دا دی: چې د لږ نجاست څخه ځان ژغورل ګران دي فَيُجْعَلُ عَفْوًا نو ځکه به دا معافيږي وَقَدَّرْنَاهُ بِقَدْرِ الدِّرْهَمِ او موږ په يوه درهم سره د دې اندازه کړې ده أَخْذًا عَنْ مَوْضِعِ الِاسْتِنْجَاءِ اخيستنه مو کړې ده د استنجا له ځای څخه(يعني د يوه درهم حکم موږ د استنجاء د ځای يعني د غائطو د راوتلو له ځای څخه را اخيستی دی، ځکه چې د غائطو د راوتلو ځای هم تقريبًا يو درهم دی) ثُمَّ يُرْوَى اعْتِبَارُ الدِّرْهَمِ مِنْ حَيْثُ الْمَسَاحَةِ او بيا د درهم مقدار د مساحت(پيمايښت) په اعتبار سره (هم) را نقل سوی دی وَهُوَ قَدْرُ عَرْضِ الْكَفِّ فِي الصَّحِيحِ او هغه د صحيح قول مطابق د ورغوي د پلنوالي په اندازه دی وَيُرْوَى مِنْ حَيْثُ الْوَزْنِ او د وزن په اعتبار سره هم د درهم (اندازه) را نقل سوې ده وَهُوَ الدِّرْهَمُ الْكَبِيرُ الْمِثْقَالُ او هغه د غټ مثقال والا درهم دی وَهُوَ مَا يَبْلُغُ وَزْنُهُ مِثْقَالًا او د هغه وزن يو مثقال ته رسيږي وَقِيلَ فِي التَّوْفِيقِ بَيْنَهُمَا او د دواړو روايتونو د تطبيق په باره کې ويل سوي دي أَنَّ الْأُولَى فِي الرَّقِيقِ وَالثَّانِيَةَ فِي الْكَثِيفِ چې اول روايت د نري نجاست په باره کې دی او دويم روايت د غليظ (سخت او ګاټه) نجاست په باره کې دی وَإِنَّمَا كَانَتْ نَجَاسَةُ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ مُغَلَّظَةً او د دې شيانو نجاست غليظه کېدل په دې وجه سره دي لِأَنَّهَا ثَبَتَتْ بِدَلِيلٍ مَقْطُوعٍ بِهِ ځکه چې د دوی نجاست په قطعي دليل سره ثابت دی.

اللغات: ﴿الخرء﴾ د چرګې فضله(ګندګي)، ﴿المساحة﴾ پيمايښت، (پېمانه).

تشريح: نجاست پر دوه قسمه دی: (١) نجاستِ غليظه (٢) او نجاستِ خفيفه. د دې دواړو په تعريف کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی: د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز نجاست غليظه هغه دی چې په داسې قطعي نص سره ثابت وي، چې د هغه معارض بل د طهارت ثابتوونکی نص نه وي، او که دوه نصونه په خپل منځ کې سره متعارض سوه، او له يوه څخه طهارت ثابتېدی او له بل څخه نجاست، نو دې ته نجاستِ خفيفه ويل کيږي؛ او د صاحبينو په نيز نجاستِ غليظه هغه دی چې د هغه پر نجسوالي اجماع واقع سوې وي، او نجاستِ خفيفه هغه دی چې په هغه کې عالمانو اختلاف کړی وي.

ثمره د اختلاف: په خوشايو(ګوبرو) کې ښکاره کيږي، خوشايې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز نجاست غليظه دي، ځکه چې له حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې په ليلة الجن کې دوی نبي ﷺ ته د استنجاء لپاره دوې ډبرې او څه خوشايې راوړل نو نبي ﷺ ډبرې واخيستلې او خوشايې وغورځول او ويې فرمايل: چې دا رجس يعني نجس دي، او د دې حديث سره بل داسې معارض حديث نسته چې په هغه سره د خوشايو طهارت ثابت سي، او د صاحبينو په نيز خوشايې نجاست خفيفه دي، ځکه چې د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز خوشايې پاک دي.

په نجاست کې معاف مقدار : له دې تمهيد څخه وروسته د متن وضاحت ته راسو! د مصنف رَحِمَهُ الله له ذکر سوي عبارت څخه مقصد دا دی چې د نجاست څومره اندازه معاف ده، او څومره معاف نه ده، نو فرمايي چې په نجاست غليظه (لکه بهېدونکې وينه، متيازې، شراب، د چرګې ګندګي او د خره په متيازو) کې د يوه درهم په اندازه معاف دي. يا له دې څخه کم، که د دومره اندازه نجاست سره څوک لمونځ وکړي، نو لمونځ يې جائز دی، او بيا برابره خبره ده که دا دومره اندازه نجاست پر جامو (کالو) لګېدلی وي، او که پر بدن، خو که له يو درهم څخه زيات وي، نو هغه معاف نه دی او د هغه سره لمونځ جائز نه دی. د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله په نېز په قليل او کثير کې هيڅ فرق نسته، دواړه سره برابر دي، که لږ وي او که ډېر، لمونځ ورسره جائز نه دی، ځکه چې په نص کې د دې هيڅ تفصيل نسته.

زموږ دليل دا دی چې لږ نجاست داسې شی دی چې له هغه څخه ځان ساتل ممکن نه دی، ځکه چې زياتره وخت مچيان پر نجاست (مرداري) باندې کښېني او بيا د انسان پر جامو کښېني، همدارنګه د غوماشو له وينې څخه ځان ساتل هم ستونزمن دي، نو هر کله چې له لږ اندازې څخه ځان ساتل ممکن نه دي، نو دا معاف سو، ځکه چې دا ضرورت دی. او د شريعت په دلائلو کې د ضرورت ځايونه مستثنیٰ دي.

وقدرناه الخ پاته سوه دا خبره چې د کمي او زياتې اندازې معيار څه شی دی؟، نو زموږ د عالمانو په نېز د يوه درهم په ندازه نجاست کم دی او چې تر يوه درهم ډېر سي، هغه زيات دی، او دا اندازه موږ د استنجاء پر ځای (يعني پر مخرج) قياس کړې ده، ځکه چې د استنجاء ځای هم تقريباً د يوه درهم په اندازه دی، او د استنجاء ځای په اتفاق سره معاف دی. نو کوم چې د دې په اندازه وي هغه به هم معاف وي.

ثم يروی الخ فرمايي چې د درهم د تقدير په سلسله کې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي: يو روايت د مساحت دی، يعني د لاس د ورغوي د پلنوالي په اندازه، مفتي رشيد احمد صاحب رَحِمَهُ الله په احسن الفتاوی کې ليکلي دي چې فقهاؤ د ورغوي د پلنوالي د معلومولو لپاره دا طريقه ليکلې ده، چې په ورغوري کې دې اوبه را واخيستل سي. او ورغوی دې وغوړول سي نو په څومره ځای کې چې اوبه ودرېږي، هغومره پلنوالی مراد دی او د هغه په اندازه نجاست معاف دی. او د پيمايښت په اندازه سره د درهم اندازه ۱. ۱ اينچ (يعني تر يوه اينچ لږ غوندې زيات) يا ۷۵. ۲ سينتي ميټر ده (احسن الفتاوی ج:۲، ص:۸۹)، دويم روايت دا دی چې له يوه درهم څخه مراد د يوه درهم وزن دی، او د يوه درهم وزن يو مثقال دی.

وقيل في التوفيق الخ صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې فقيه ابو جعفر رَحِمَهُ الله د دې دواړو روايتونو په مينځ کې ډېر ښه تطبيق ورکړی دی، هغه فرمايي چې اول روايت يعني د ورغوي د پلنوالي صورت د نجاست پر نرموالي او نري والي حمل کيږي، او دويم صورت يعني د مثقال د وزن صورت د نجاست پر سختوالي حمل کيږي. يعني په متيازو يا داسې نورو نجاستونو کې به د ورغوي د پلنوالي اعتبار کيږي، او په غايطه موادو او په داسې نورو جسم داره نجاستونو کې به د مثقال د وزن اعتبار کيږي.

وانما کانت الخ فرمايي چې په عبارت کې وينو، متيازو، غايطه موادو او نورو ته نجاستِ غليظه په دې وجه ويل سوي دي. چې هغه په قطعي دليل سره ثابت سوي دي.

د درهم قسمونه

① يو غټ درهم دی چې د هغه وزن يو مثقال کيږي، يا ۲۰ قيراطه، يا ۳۷۵. ۰ تولې، يا ۳۷۵. ٤ ګرامه کيږي، او په پورتنۍ مسئله کې له درهم څخه مراد همدغه درهم دی. ② دويم درهم تر دې کوچنی وي، چې د هغه وزن ۷. ۰ مثقاله

یا ۱۴ قیراطه، یا ۳.۰۶۱ ګرامه کیږي. اوس په دغه درهم سره د زکات حساب کیږي. ③درېم درهم تر دې هم کوچنی وي چې د هغه وزن ۰.۵ مثقاله کیږي، یا ۱۰ قیراطه، یا ۲.۱۸۷۵ ګرامه کیږي.

د نجاست خفیفه معاف مقدار

وَإِنْ كَانَتْ مُخَفَّفَةً او که نجاست خفیفه (سپک) وو كَبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ لکه د هغه څارویانو متیازې چې غوښې یې خوړل کیږي جَازَتِ الصَّلَاةُ مَعَهُ نو د هغه سره لمونځ جائز دی حَتّٰى يَبْلُغَ رُبْعَ الثَّوْبِ تر دې چې د کالو (جامو) څلورمې حصې ته ورسیږي يُرْوٰى ذٰلِكَ عَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ دا له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی لِأَنَّ التَّقْدِيْرَ فِيْهِ بِالْكَثِيْرِ الْفَاحِشِ ځکه چې د نجاست خفیفه په باره کې به اندازه په کثیر فاحش سره کیږي وَالرُّبْعُ مُلْحَقٌ بِالْكُلِّ فِيْ حَقِّ بَعْضِ الْأَحْكَامِ او په بعضې احکامو کې څلورمه حصه د کُل سره یوځای سوې ده وَعَنْهُ: رُبْعُ أَدْنٰى ثَوْبٍ تَجُوْزُ فِيْهِ الصَّلَاةُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا روایت هم سوی دی چې د ادنیٰ درجې کپړه (ټوکر) چې په هغه کې لمونځ جائز وي (د هغه څلورمه حصه مراد ده) كَالْمِئْزَرِ لکه لنګ وَقِيْلَ: رُبْعُ الْمَوْضِعِ الَّذِيْ أَصَابَهُ* او ویل سوي دي: چې د هغه ځای څلورمه حصه مراد ده چې نجاست پر لګېدلی وي كَالذَّيْلِ وَالدِّخْرِيْصِ لکه لمن او ترخزي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ: شِبْرٌ فِيْ شِبْرٍ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی: چې لوېشت په لوېشت کې (یعني که نجاست یو لوېښت اوږد او یو لوېښت پلن وو نو دا ډېره اندازه ده) وَإِنَّمَا كَانَتْ مُخَفَّفَةً عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ او د مأکول اللحم څارویانو متیازې د شیخنو په نېز ځکه نجاست خفیفه دي لِمَكَانِ الْاِخْتِلَافِ فِيْ نَجَاسَتِهِ چې د دې په نجاست کې اختلاف دی أَوْ لِتَعَارُضِ النَّصَّيْنِ عَلَى اخْتِلَافِ الْأَصْلَيْنِ یا د دوو نصونو د تعارض په وجه د دواړو حضراتو د اُصولو د اختلاف پر بناء (د مأکول اللحم متیازې نجاست خفیفه دي).

اللغات: ﴿مِئْزَر﴾ لنګ، ازار. ﴿ذَيْل﴾ د کالو راځړېدلې حصه، لمن. ﴿دِخْرِيْص﴾ غالبًا له دې څخه د کالو هره جلا او مستقله حصه مراد ده لکه ترخزي، لستوڼي، کالر او نور. او د بعضو په نېز له دې څخه خاص ترخزي مراد دي.

تشريح: په دې عبارت کې د نجاست خفیفه د معاف سوي مقدار بیان کوي، فرمايي چې نجاست خفیفه د جامو (کالو) له څلورمې حصې څخه تر کمې حصې پورې معاف دی. لکه د مأکول اللحم څارویانو متیازې، او د څلورمې حصې په اندازه معاف نه دی، یعني که پر کالو نجاست خفیفه د کالو له څلورمې حصې څخه کم لګېدلی وي، نو په هغو کالو کې لمونځ جائز دی، او که د څلورمې حصې په اندازه یا تر هغې زیات لګېدلی وي، نو په هغو کې لمونځ جائز نه دی، او همدا له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دی.

دلیل: دا دی چې د نجاست خفیفه په باره کې کثیر (یعني ډېر مقدار) په فاحش سره اندازه کړی سوی دی. یعني که نجاست خفیفه زیات ولګیږي، نو لمونځ ور سره جائز نه دی. او په ډېر احکامو کې څلورمه حصه د کُل برابر ده. لکه د سر د څلورمې حصې مسح کول د ټوله سر د مسحې سره برابره ده. او که د عورت څلورمه حصه ښکاره سوه نو د ټوله عورت د

---

* القول الراجح: هو رواية ربع العضو المصاب ان كان بدنا و ربع الطرف المصاب ان كان ثوبا كذا في الدر المختار ج.۱، ص:۲۳۵. [القول الراجح، ج:۱، ص:۵۰]

ښکاره کېدلو سره برابر دي. همدارنګه داحرام په حالت کي د څلورمي حصې سر خریل د ټول سره د خریلو برابر ګرځول سوي دي. خلاصه دا چي څلورمه برخه د کُل قائم مقام ده، او له کُل څخه د نجاست خفيفه فاحش کثیر کېدل حاصلیږي. (یعني که د یو شي ټوله حصه نجسه وي نو هغه شی به ټوله نجس وي). نو کوم چي د دې قائم مقام دی یعني څلورمه حصه، نو په دې سره به هم فاحش کثیر کېدل حاصلیږي. او څرنګه چي فاحش کثیر په نجاست خفيفه کي معاف نه دی، نو ځکه موږ وویل چي که د کالو پر څلورمه حصه نجاست ولګیږي، نو په هغه کي به هم لمونځ جائز نه وي.

والربع ملحق الخ یاته سوه دا خبره چي د کوم شي څلورمه حصه مراد ده؟ نو په دې باره کي د فقهاؤ اختلاف دی: له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا را نقل سوی دی چي د ټوله بدن څلورمه حصه او د کالو څلورمه حصه مراد ده. که څه هم کالي غټ وي، امام ابن الهمام رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي همدا قول أحسن (غوره) دی. او له اما ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه دا هم را نقل سوي دي چي د ادنیٰ ما یجوز به الصلاة څلورمه حصه مراد ده. یعني چي لږ تر لږه دومره کالي او کپړې وي چي په هغه کي لمونځ جائز کیږي، د هغه څلورمه حصه مراد ده، لکه لنګ. او ځیني عالمان فرمايي چي د کالو پر کوم ځای چي نجاست لګیدلی وي، د هغه ځای څلورمه حصه مراد ده. لکه لمن یا سدری. نو که د لمن پر څلورمي حصې باندي نجاست ولګیږي، نو په دې کالو کي به لمونځ جائز نه وي، د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله روایت دا دی چي که نجاست یوه لوېشت اوږد او یوه لوېشت پلن وو، نو دا کثیر فاحش دی، په دومره اندازه کي لمونځ جائز نه دی. او که له دې څخه کم وو، نو جائز دی. او دا اندازه معاف ده.

وإنما کانت مخففة الخ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د مأکول اللحم څارویانو متیازي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز نجاست خفيفه دي، د امام صاحب په نیز خو په دې وجه نجاست خفيفه دي، چي د مأکول اللحم د متیازو په حکم کي نصوص سره متعارض دي، حدیث د عرنیینو د دې پر پاکوالي دلالت کوي. او حدیث د استنزهوا من البول فإن عامة عذاب القبر منه پر دې دلالت کوي چي مطلقاً متیازي نجسي (اوپلیتي) دي (هغه که د مأکول اللحم څارویانو وي او که د غیر مأکول اللحم).

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز ځکه نجاست خفيفه دي چي د مأکول اللحم د متیازو په پاکوالي او ناپاکولي کي د مجتهدینو اختلاف دی، یعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز پاکي دي، او د نورو حضراتو په نیز نجسي دي، نو ځکه به د هغو متیازي نجاست خفيفه وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د ځینو عالمانو دی یعني: که د کالو پر کوم ځای نجاست لګیدلی وي، د هغه ځای څلورمه حصه مراد ده، لکه لمن یا لستونی یا سُرونده. (یا د بدن پر کوم اندام چي نجاست لګېدلی وي. د هغه اندام څلورمه حصه مراد ده) نو که د لمن پر څلورمي حصې باندي نجاست ولګېدی. نو په هغه کالو کي لمونځ جائز نه دی، په در مختار کي راغلي دي: وعليه الفتوىٰ (الدر المختار ج:۱، ص:۲۳۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۰]

که پر کالو خوشايي يا خرشینه ولګيږي نو په هغه کالو کي د لمانځه حکم

وَإِذَا أَصَابَ الثَّوْبَ مِنَ الرَّوْثِ أَوْ مِنْ أَخْثَاءِ الْبَقَرِ أَكْثَرُ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ او که پر کالو (جامو) خرشینه یا د غوا خوشايي تر یوه درهم زیات ولګیږي لَمْ تَجُزِ الصَّلَاةُ فِيهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نیز په هغه کالو کي

لمونځ جائز نه دی لِأَنَّ النَّصَّ الْوَارِدَ فِي نَجَاسَتِهِ ځکه چې د خوشايو په نجاست کې نص راغلی دی وَهُوَ مَا رُوِيَ او هغه نص دا روايت دی أَنَّه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ رَمَى بِالرَّوْثَةِ وَقَالَ: هٰذَا رِجْسٌ أَوْ رِكْسٌ چې نبي ﷺ خوشايي وغورځوله او ويې فرمايل: دا رجس يا مردار دی لَمْ يُعَارِضْهُ غَيْرُهُ او د دې نص سره يو بل معارض نص (هم) نسته وَبِهٰذَا يَثْبُتُ التَّغْلِيظُ عِنْدَهُ او په دې سره د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز تغليظ ثابتيږي وَالتَّخْفِيفُ بِالتَّعَارُضِ او تخفيف په تعارض سره ثابتيږي وَقَالَا: ● يُجْزِئُهُ حَتَّى يَفْحُشَ او صاحبين فرمايي: چې (لمونځ) جائز دی تر دې چې هغه فاحش سي لِأَنَّ لِلِاجْتِهَادِ فِيهِ مَسَاغًا ځکه چې په دې کې د اجتهاد ګنجايش سته وَلِهٰذَا يَثْبُتُ التَّخْفِيفُ عِنْدَهُمَا نو په دې وجه د صاحبينو په نيز تخفيف ثابتيږي وَلِأَنَّ فِيهِ ضَرُورَةً لِامْتِلَاءِ الطُّرُقِ بِهَا او په دې وجه هم چې په خوشايو (او خرشينو) سره د لارو ډکېدلو په سبب په هغو کې ضرورت دی وَهِيَ مُؤَثِّرَةٌ فِي التَّخْفِيفِ او ضرورت په تخفيف کې مؤثر دی بِخِلَافِ بَوْلِ الْحِمَارِ په خلاف د خره د متيازو لِأَنَّ الْأَرْضَ تَنْشِفُهُ ځکه چې ځمکه هغه جذبوي قُلْنَا: الضَّرُورَةُ فِي النِّعَالِ موږ وايو: چې ضرورت صرف په څپليو کې ثابت دی وَقَدْ أَثَّرَتْ فِي التَّخْفِيفِ مَرَّةً او ضرورت يو وار په تخفيف کې مؤثر دی حَتَّى تَطْهُرَ بِالْمَسْحِ تر دې چې څپلې په صفا کولو سره پاکيږي (يعني په ځمکه باندې په موږلو سره پاکيږي) فَتَكْتَفِي مُؤْنَتُهَا نو د ضرورت په صورت کې به کفايت کوي (بله معنٰی يې دا ده چې: بس همدومره تخفيف کافي دی) وَلَا فَرْقَ بَيْنَ مَأْكُولِ اللَّحْمِ وَغَيْرِ مَأْكُولِ اللَّحْمِ د مأكولُ اللحم او غير مأكولُ اللحم حيوانانو په متيازو کې هيڅ فرق نسته وَزُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا او امام زفر رَحِمَهُ الله په دواړو کې فرق کړی دی فَوَافَقَ أَبَا حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي غَيْرِ مَأْكُولِ اللَّحْمِ نو په غير مأکول اللحم کې يې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله سره موافقت کړی دی وَوَافَقَهُمَا فِي الْمَأْكُولِ او په مأکول اللحم کې يې د صاحبينو سره موافقت کړی دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ لَمَّا دَخَلَ الرَّيَّ او له امام محمد څخه روايت دی چې کله هغه د "ري" ښار ته ورغلی وَرَأَى الْبَلْوَى او په دې مسئله کې يې عموم بلوی وليدل (يعني په عامه توګه يې خلک په دې کې مبتلا وليدل) أَفْتَى بِأَنَّ الْكَثِيرَ الْفَاحِشَ لَا يَمْنَعُ أَيْضًا نو دا فتوی يې ورکړه چې کثير فاحش هم لمونځ نه منع کوي وَقَاسُوا عَلَيْهِ طِينَ بُخَارَى او مشائخو پر دې د بخارا ختې قياس کړي دي وَعِنْدَ ذٰلِكَ رُجُوعُهُ فِي الْخُفِّ يُرْوَى او هم په دغه وخت کې د موزو په مسئله کې د امام محمد رَحِمَهُ الله رجوع رانقل سوې ده.

اللغات: ﴿رَوث﴾ وچ خوشايي، ﴿أخثاء﴾ جمع د خِثي او خُثي ده: خرشينه (په عامه توګه رَوث د غوا فضله يعني خوشايي ته ويل کيږي او خثي د خره او آس فضله يعني خرشينو ته ويل کيږي، او کله نا کله د يو بل پر ځای هم استعماليږي، لکه دلته چې د عبارت په اوله جمله کې استعمال سوي دي)، ﴿رِکس﴾ ناپاک، مردار ﴿مَساغ﴾ ګنجايش، ځايېدنه، ﴿تَنشِف﴾ جذبول، ځبېښل.

● القول الراجح: قول أبي يوسف ومحمد رَحِمَهُمَا الله، كذا في الدر المختار ج:۱، ص:۲۳۲. [القول الراجح ج:۱، ص:۵۱]

تشريح: مسئله: دا ده که په کالو(جامو) باندې خرشينه يا خوشايي له يوه درهم څخه زيات ولګيږي، نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز په دغه کالو لمونځ جائز نه دی. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز جائز دی.

د امام ابو حنيفه دليل: دا دی چي خرشينه او خوشايي نجاست غليظه دي، ځکه چي د دوی د نجاست په باره کي حديث راغلی دی، لکه څرنګه چي له عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی: (نبي ﷺ را ته وفرمايل چي درې ډبرې راوړه! لېکن ما تر لټون وروسته دوې ډبرې پيدا کړې او دريمه مي د خوشايو يوه ټوکره پيدا کړه. نبي ﷺ ته مي راوړه. نو نبي ﷺ دوې ډبرې واخيستلې او خوشايي يې وغورځول. او يې وفرمايل: چي دا مردار دي)؛ نو له دې حديث څخه د خوشايو نجاست ثابت سو، او يو بل داسي نص هم نسته چي په هغه سره د خوشايو پاکوالی ثابت سي، نو ځکه به دا نجاست غليظه وي، ځکه چي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز که د نجاست په باره کي دوه متعارض نصونه نه وي، نو هغه نجاست غليظه دي(لکه څرنګه چي مخکي ذکر سوه). نو په دې وجه خوشايي او خرشينه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز نجاستِ غليظه دي، او په نجاست غليظه کي له يوه درهم څخه زياته اندازه معاف نه ده، نو ځکه به لمونځ ور سره جائز نه وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي پچي، خرشينه او خوشايي دا شيان نجاست خفيفه دي، ځکه چي د دې شيانو په طهارت او نجاست کي د عالمانو اختلاف دی، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا شيان پاک دي. او د نورو عالمانو په نيز مردار دي، او مخکي ذکر سوه چي د صاحبينو په نيز په يو شي کي د مجتهدينو اختلاف د خفت سبب دی، يعني چي مجتهدين د يوشي په نجاست او طهارت کي اختلاف وکړي، نو هغه د دې شي د نجاست خفيفه کېدلو دليل دی. او نجاست خفيفه چي د کالو له څلورمي حصې څخه کم وي او له يوه درهم څخه زيات وي نو په هغه کالو کي لمونځ جائز دی.

د صاحبينو دويم دليل: دا دی چي په خرشينو کي او خوشايو کي ضرورت متحقق دی، او په دې کي عموم بلوی ده. ځکه چي په عامه توګه په لارو او کوڅو کي پراته وي، ځان ځني ساتل ګران دي. او ضرورت د تخفيف سبب دی. نو په خرشينو او خوشايو کي د عموم بلوی په وجه هم تخفيف پيدا سو.

بخلاف بول الحمار الخ فرمايي: په خلاف د خره له متيازو څخه. له دې ځای څخه د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: دا دی چي څرنګه په خوشايو او خرشينو کي ضرورت سته، نو دغه رنګه د خره په متيازو کي هم ضرورت او عموم بلوی سته، نو بايد د خره متيازو ته هم نجاست خفيفه وويل سي، حال دا چي تاسو د خره متيازو ته نجاست غليظه وايست.

جواب: دا دی چي د خره په متيازو کي ضرورت او عموم بلوی نسته. ځکه چي متيازي مځکه جذبوي. لو پر مځکه باندې متيازي نه ښکاره کيږي، او د لارويانو پر کالو او نورو نه لګيږي، بلکي ژر وچيږي. په خلاف د خرشينو ځکه چي دا مځکه نه سي جذبولای. او د لارويانو پر کالو باندې د لګېدلو ډېره پکښي سته.

د صاحبينو پر دليل اعتراض: د صاحبينو پر ذکرسوي دليل دا اعتراض کېدی سي چي د ضرورت او عموم بلوی په وجه خو نجاست ساقط کيږي، په هغه کي تخفيف نه راځي، لکه د پيشي پسخورده چي مرداره نه ده. بلکي پکار دا وه چي مرداره وای، ځکه چي د پيشي غوښه حرامه او مرداره ده، خو د ضرورت او عموم بلوی په وجه نجاست ځني ساقط سو.

جواب: دا دی چي په خرشینو او خوشایوو کي ضرورت او عموم بلویٰ لږ سته، په نسبت سره د پیشي و پسخوردي ته، نو په دې وجه د پیشي له پسخوردې څخه نجاست ساقط سو، او د خرشینو او خوشایوو په نجاست کي تخفیف پیدا سو.

د صاحبینو د دلیل جواب: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله له طرفه د صاحبینو د دلیل دا جواب ورکړی دی چي موږ دا منو چي په خرشینو او خوشایوو کي ضرورت سته، لېکن دا ضرورت صرف د څپلیو(او موزو) په حق کي مؤثر دی، له دې څخه ماسوا د نورو په حق کي مؤثر نه دی، نو ځکه به د نورو و طرف ته نه متعدي کیږي، او په څپلیو کي د ضرورت اثر یو وار ښکاره سوی دی یعني که پر موزو خرشینه ولګیږي، نو یو وار په مځکه باندي په مږلو سره هغه پاکیږي، یعني د ضرورت په وجه به صرف په یوه وار اکتفاء کوي، او دویم وار به د دې په نجاست کي تخفیف نه راځي، ځکه چي په یوه ضرورت سره یو وار تخفیف راځي، بار بار نه راځي، لکه څرنګه چي مشهوره قاعده ده: الضرورة تتقدر بقدرها.

ولا فرق الخ صاحب د هدایې فرمایي چي زموږ د دریو سره امامانو په نېز د مأکول اللحم او غیر مأکول اللحم د خرشینو او خوشایوو په مینځ کي هیڅ فرق نسته، بلکه لکه څرنګه چي د غیر مأکول اللحم څاروېانو خرشینه او خوشایي مردار دي، همدغه رنګه د مأکول اللحم خرشینه هم مردار دي، لېکن فرق صرف په نجاست؛ خفیفه او غلیظه کي دی، لکه مخکي چي دا تفصیل تېر سو.

لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز د مأکول الحم او د غیر مأکول اللحم په خرشینو او خوشایوو کي فرق سته، د غیر مأکول اللحم حیوانانو په خرشینو او خوشایوو کي هغه د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله سره دی، او د مأکول اللحم څاروېانو په خرشینو او خوشایوو کي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله سره دی، یعني دا فرمایي چي د غیر مأکول اللحم حیوانانو خرشینه او خوشایي نجاست غلیظه دي، او د مأکول اللحم څاروېانو خرشینه او خوشایي نجاست خفیفه دي.

وعن محمد رَحِمَهُ اللهُ الخ او له حضرت امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي کله هغه د "ري" ښار ته ورغلی، نو وې لیدل چي په لارو او کوڅو کي خرشینه پراته دي، او له هغو څخه ځان ساتل ګران دي، نو دا فتوی یې ورکړه، چي که دا پر کالو(جامو) باندي له څلورمي حصې څخه زیات هم ولګیږي، نو لمونځ ور سره جائز دی، ځکه چي عموم بلویٰ یې پکښي ولیدله، او پر دې قول باندي د بخارا مشائخو رَحِمَهُمُ الله د بخارا ختې هم قیاس کړي دي، یعني هغه ختې چي په لارو کي د خوشایو او خاورو په ګډون سره جوړي سوي وي، نو د بخارا مشایخ فرمایي: چي هغه که هر څومره پر کالو ولګیږي، مانع له لمانځه څخه نه دي، او د همدې قصې په وخت کي د موزو د مسئلې په باره کي د امام محمد رَحِمَهُ الله د رجوع روایت کیږي. یعني امام محمد رَحِمَهُ الله به مخکي فرمایل چي موزه په مځکه باندي په مږلو سره نه پاکیږي، لېکن د دې قصې په وخت کي یې له خپل قول سره څخه رجوع وکړه، او د شیخینو د قول موافقت یې وکړی. (والله اعلم بالصواب)

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د صاحبینو دی، وفي الشرنبلالية قولهما أظهر و طهرهما محمد رَحِمَهُ الله آخراً للبلوىٰ (الدر المختار ج:۱، ص:۲۳۴). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۵۱]

د آس او د (مأکول اللحم يعني د) هغو حيوانانو د متيازو حکم چې غوښې يې خوړل کيږي

وَإِنْ أَصَابَهُ بَوْلُ الْفَرَسِ او که پر کالو (جامو) د آس متيازې ولګيږي لَمْ يُفْسِدْهُ تو کالي نه مرداروي حَتَّى يَفْحُشَ تر دې چې هغه ډېرې زياتې نه سي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ (دا حکم) د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ •لَا يَمْنَعُ وَإِنْ فَحُشَ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز که څه هم زياتې سي خو له لمانځه څخه مانع نه دي (يعني که څه هم زياتې سي کالي نه مرداروي) لِأَنَّ بَوْلَ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ طَاهِرٌ عِنْدَهُ ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مأکول اللحم څاروي متيازې پاکې دي مُخَفَّفٌ نَجَاسَتُهُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د هغو نجاست، نجاستِ خفيفه دی وَلَحْمُهُ مَأْكُولٌ عِنْدَهُمَا او د صاحبينو په نېز د آس غوښه خوړل کيږي وَأَمَّا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحِمَهُ الله فَالتَّخْفِيفُ لِتَعَارُضِ الْآثَارِ او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز د آثارو د تعارض په وجه د هغو په نجاست کې تخفيف دی.

اللغات: ﴿فَحُش﴾ دومره زيات ښکاره کېدل چې خلک يې زيات وبولي، يا د جامو څلورمې حصې ته فاحش ويل کيږي، يا دومره ډېر چې بد معلوميږي.

تشريح: د آس او د مأکول اللحم څارويانو په متيازو کې د احنافو علماؤ اختلاف دی: شيخين فرمايي چې د آس او د مأکول اللحم څارويانو متيازې نجاست خفيفه دي، او که د کالو پر څلورمه حصه ولګيږي، (يعني فاحشِ کثير ته ورسيږي)، نو هغه به مردار وي او له لمانځه به څخه مانع وي. لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د آس او مأکول اللحم متيازې مطلقاً مانع له لمانځه څخه نه دي، که فاحشِ کثير وي او که له دې څخه کمې وي.

د امام محمد دليل: دا دی چې د ده په نېز د مأکول الحم څارويانو متيازې پاکې دي، او پاک شی که څومره هم ډېر وي، د هغه سره لمونځ صحيح کيږي.

د شيخينو دليل: دا دی چې د مأکول اللحم څارويانو متيازې نجاست خفيفه ده، او مخکې ذکر سوه چې نجاست خفيفه که له کثيرِ فاحش يعني د جامو له څلورمې حصې څخه کم وي نو معاف دی، او له لمانځه څخه مانع نه دی، او که کثيرِ فاحش وي، نو له لمانځه څخه مانع دی، لېکن وجه د تخفيف جلا جلا ده، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د مأکول اللحم متيازې ځکه نجاست خفيفه دی چې د دې په طهارت او نجاست کې د مجتهدينو اختلاف دی، او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز د وجه د تخيفيف تعارض د د لائلو دی، ځکه چې د عرنيينو له حديث څخه د دې طهارت ثابتيږي او له دغه حديث استنزهوا من البول فإن عامة عذاب القبر منه څخه د دې نجاست ثابتيږي.

• القول الراجح: قول الشيخين، كذا في الدر المختار ج:۱، ص:۲۳۵. [القول الراجح، ج:۱، ص:۵۲]

د آس غوښه حلاله ده که مرداره؟

صاحب د هدايې فرمايي چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د آس غوښه حلاله ده (او د دوی په نيز د آس غوښه خوړل کېدای سي) لېکن د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز حرامه ده، خو وجه د حرمت يې د امام صاحب په نيز نجاست نه دی، بلکې ځکه چې آس د جهاد آله ده، (نو که د آس د حلال والي حکم وسي، نو د نورو څاروياتو په ډول به د هغه غوښه هم ډېره خوړل کېږي، چې په دې توگه به د جهاد دغه آله ختمه سي)

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول د شيخينو دی، قال العلامة الشيخ احمد الطحطاوی رحمه الله و أما الثانی وهي النجاسة الخفيفة فکبول الفرس على المفتي به لأنه مأکول (حاشية الطحطاوی ج:۱، ص:۸۳). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۲]

د مأکول اللحم مرغانو د گندگی (فضلې) حکم

وَإِنْ أَصَابَهُ خُرْءُ مَا لَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ الطُّيُوْرِ أَكْثَرُ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ او که پر کالو (جامو) د غير مأکول اللحم مرغيو گندگي له يوه درهم څخه زياته ولگيږي أَجْزَأَتِ الصَّلَاةُ فِيْهِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ نو د شيخينو په نيز په دې کالو کې لمونځ جائز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ ●: لَا يَجُوْزُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې جائز نه دی فَقَدْ قِيْلَ إِنَّ الْاِخْتِلَافَ فِي النَّجَاسَةِ بيا يو قول دا دی چې دا اختلاف د نجاست په باره کې دی وَقَدْ قِيْلَ فِي الْمِقْدَارِ او يو قول دا دی چې د مقدار په باره کې دی وَهُوَ الْأَصَحُّ همدا قول زيات صحيح دی هُوَ يَقُوْلُ: إِنَّ التَّخْفِيْفَ لِلضَّرُوْرَةِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې تخفيف د ضرورت په وجه دی وَلَا ضَرُوْرَةَ لِعَدَمِ الْمُخَالَطَةِ او د مخالطت (گډون) د نشتون په وجه (دلته) هيڅ ضرورت نسته فَلَا يُخَفَّفُ نو ځکه به تخفيف (هم) نه کيږي وَلَهُمَا: أَنَّهَا تَذْرِقُ مِنَ الْهَوَاءِ او د شيخينو دليل دا دی چې مرغان په هوا کې گندگي کوي وَالتَّحَامِيْ عَنْهُ مُتَعَذِّرٌ او له هغه څخه ځان ژغورل ستونزمن دي فَتَحَقَّقَتِ الضَّرُوْرَةُ نو ضرورت ثابت سو وَلَوْ وَقَعَ فِي الْإِنَاءِ قِيْلَ: يُفْسِدُهُ او که دا (د مرغانو گندگي) په لوښي کې ولوېږي نو يو قول دا دی : چې لوښی مرداروي وَقِيْلَ: لَا يُفْسِدُهُ او دويم قول دا دی چې نه يې مرداروي لِتَعَذُّرِ صَوْنِ الْأَوَانِيْ عَنْهُ ځکه چې د لوښو خوندي کول له هغه څخه ستونزمن دي.

اللغات: ﴿تذرق﴾ د ضرب له باب څخه واحده مؤنثه غائبه مضارع صيغه ده، ﴿التحامي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: ځان ژغورل، ځان خوندي کول. ﴿صون﴾ د نصر د باب مصدر دی: خوندي کول، ساتنه. ﴿أواني﴾ جمع ده، واحد يې إناء دی: لوښی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د مرغانو گندگي په کالو (جامو) باندې ولگيږي او له يوه درهم څخه زياته وي، نو هم د شيخينو په نيز په دې کالو کې لمونځ صحيح او جائز دی، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې که له يوه درهم څخه زياته وي نو په دې کالو کې لمونځ جائز نه دی.

● القول الراجح: قول الشيخين كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۲۳۴. [القول الراجح، ج:۱، ص:۵۲]

د امام محمد او شيخينو رَحِمَهُم الله په مينځ کي چي کوم اختلاف دی، په دې سلسله کي د امام کرخي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي دا اختلاف د نجاست او د طهارت سره متعلق دی، يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د مرغانو ګندګي مرداره(ناپاکه) ده، او د شيخينو په نيز پاکه ده، خو دا قول صحيح نه دی، صحيح قول هغه دی کوم چي له فقيه ابو جعفر رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوی دی چي د احنافو علماء د مرغانو د ګندګۍ پر نجس والي متفق دي، او دا اختلاف د مقدار په سلسله کي دی چي د هغه په باره کي د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په نجاست کي د ضرورت په وجه تخفيف راځي او مرغان په هوا کي ګرځي چي د هغو سره د انسانانو مخالطت او ګډون نه راځي، نو ځکه به دلته هم تخفيف نه راځي، او د مرغانو ګندګي به د نجاست غليظه له قبيلې څخه وي، او دا معلومه ده چي که نجاست غليظه له يوه درهم څخه زيات وي نو معاف نه دی، هم په دې وجه په پورتني صورت کي په دغه کالو کي لمونځ جائز نه دی، ځکه چي پر دې بلندي له يو درهم څخه زياته ګندګي لګېدلې ده.

د شيخينو دليل: دا دی چي مرغان په هوا کي ګندګي کوي، او له هغه څخه ځان ساتل ګران دي، نو ضرورت ثابت سو.

سوال: ولانا عبد الحي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نيز د تخفيف مدار د نصينو پر تعارض دی، او هغه دلته نسته، نو د ضرورت وجود دلته څرنګه دليل کېدای سي؟ د دې جواب دا کېدای سي چي دا د تخفيف د وجود دليل نه دی، بلکي د امام محمد رَحِمَهُ الله د دليل جواب دی.

ولو وقع الخ او که د مرغانو ګندګي په لوښي کي ولوېږي، نو په دې کي دوه قولونه دي: (۱) اول قول دا چي لوښی مردارېږي، دا روايت امام ابو بکر اعمش رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی (۲) دويم دا چي لوښی نه مردارېږي، دا قوام امام کرخي رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی.

د امام اعمش دليل: دا دی چي له دې څخه د لوښو ساتل ستونزمن او مشکل نه دي، نو ضرورت پيدا نه سو، نو ځکه به لوښی مردارېږي.

د امام کرخي دليل: دا دی چي له دې څخه د لوښو ساتل ستونزمن دي، نو د لوښو په حق کي هم ضرورت ثابت سو.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رَحِمَهُمَا الله دی، چي هغوی فرمايي: که د مرغانو ګندګي له يوه درهم څخه زياته پر کالو ولګيږي، نو په هغو کي لمونځ جائز دی، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله و جعل المصنف رَحِمَهُ الله الأصح التخفيف بناء على ان الضرورة فيه لا تؤثر اكثر من ذلك فانه قلما يصل الى ان يفحش فيكفى تخفيفه .(فتح القدير ج:۱، ص:۱۸۲). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۴]

د ماهي د وينو او د خره او غاتري د لانو حکم

وَإِنْ أَصَابَهُ مِنْ دَمِ السَّمَكِ او که پر کالو د ماهي وينه ولګيږي أَوْ لُعَابِ الْبَغْلِ أَوِ الْحِمَارِ يا د غاتري يا د خره لاني (پر ولګيږي) أَكْثَرُ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ له يوه درهم څخه زيات أَجْزَأَتْ الصَّلَاةُ فِيهِ نو په دې کي لمونځ جائز دی أَمَّا دَمُ

السَّمَكِ فَلِأَنَّهُ لَيْسَ بِدَمٍ عَلَى التَّحْقِيقِ کوم چي د ماهي وينه ده نو د تحيقيق (څېړنې) مطابق هغه وينه نه ده فَلَا يَكُونُ نَجِسًا نو مرداره به هم نه وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ ● أَنَّهُ اعْتَبَرَ فِيهِ الْكَثِيرَ الْفَاحِشَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي هغه د ماهي په وينه کې د کثيرِ فاحش اعتبار کړی دی فَاعْتَبَرَهُ نَجِسًا نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دا ناپاکه ګرځولې ده وَأَمَّا لُعَابُ الْبَغْلِ وَالْحِمَارِ اوکوم چي د غاتري او خره لاړې دي (نو د يوه درهم په صورت کې څکه لمونځ ورسره جائز دی) فَلِأَنَّهُ مَشْكُوكٌ فِيهِ چي په لاړو کي يې شک دی فَلَا يَتَنَجَّسُ بِهِ الطَّاهِرُ نو پاک شی به د هغه په وجه نه مردارېږي.

اللغات: ﴿لُعَاب﴾ لاړې (لاړي)، ﴿بَغْل﴾ غاتره (خچره).

تشريح: **مسئله:** دا ده که پر کالو د ماهي وينه يا د خره يا د غاتري لاړې د يوه درهم په اندازه ولګيږي، نو په هغو کي لمونځ جائز دی، د ماهي وينه د لمانځه له جواز څخه ځکه مانع نه ده چي دا په حقيقت کي وينه نه ده، ځکه چي دا په لمر کي سپينيږي، حال دا چي اصلي وينه په لمر کي توريږي، نو ځکه دا وينه نه سوه، نو مرداره به هم نه وي، او چي مرداره نه سوه، نو د لمانځه له جواز څخه به مانع هم نه وي.

لېکن له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي د ماهي وينه نجسه ده په نجاست خفيفه سره، نو که پر کالو باندي د فاحش کثير په اندازه ولګېدله، نو لمونځ به پکښي جائز نه وي.

و أما لعاب البغل الخ پاته سوه دا خبره چي د خره او غاتري د لاړو سره لمونځ په څه وجه صحيح دی؟، نو هغه په دې وجه چي د دوی په لاړو کي شک دی، او په يقيني توګه سره معلومه نه ده چي پاکي دي، که مرداري؟ لېکن د کالو پاکوالی يقيني دی، نو د شکمن شي په وجه سره يقيني معلوم سوی شی نه سيْ ناپاکه کېدلای، لأن اليقين لا يزول بالشك.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام ابو حنيفه او امام محمد رَحِمَهُمَا الله دی، قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله: والمذهب ان دم السمك طاهر لانه دم صورة لا حقيقة وان سؤر هذين أى البغل والحمار طاهر قطعاً والشك فى طهوريته فيكون لعابهما طاهرا. (رد المحتار ج:۱، ص:۲۳۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۵]

پر جامو د متيازو د څاڅکو د لګېدلو حکم

فَإِنِ انْتَضَحَ عَلَيْهِ الْبَوْلُ مِثْلَ رُءُوسِ الْإِبَرِ او که پر کالو (جامو) د ستني د سر په اندازه د متيازو څاڅکي ولګيږي فَذَلِكَ لَيْسَ بِشَيْءٍ نو دا هيڅ شی هم نه دي لِأَنَّهُ لَا يُسْتَطَاعُ الِامْتِنَاعُ عَنْهُ ځکه چي له دې څخه ځان ژغول ممکن نه دي.

اللغات: ﴿رؤس الإبر﴾ إبر ستن ته ويل کيږي رُؤس جمع د رَأس ده يعني "سر"، نو د رؤس الابر معنیٰ سوه: د ستني سرونه.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که د يو چا پر کالو د ستني د سر په اندازه د متيازو کوچني څاڅکي ولوېږي، نو په دې کي هيڅ حرج نسته، او د هغو له پرېوللو څخه بغير هم لمونځ صحيح دی، ځکه چي دا په دومره اندازه نرۍ دي چي په

● القول الراجح: قول الطرفين كذا فى الدر المختار ج:۱، ص:۲۳۶. [القول الراجح، ج:۱، ص:۵۵]

سترګو نه لیدل کیږي، بیا داسې په پټه پر کالو لګیږي چې انسان ته یې احساس هم نه کیږي، لهذا له دې څخه ځان ساتل دانسان په وس او طاقت کې نه سو، نو ځکه به دا معاف وي.

د مرئي نجاست او غیر مرئي نجاست د طهارت حکم او طریقه

وَالنَّجَاسَةُ ضَرْبَانِ: مَرْئِيَّةٌ وَغَيْرُ مَرْئِيَّةٍ او نجاست پر دوه قسمه دی: په نظر راتلونکی او په نظر نه راتلونکی فَمَا كَانَ مِنْهَا مَرْئِيًّا فَطَهَارَتُهُ بِزَوَالِ عَيْنِهَا نو کوم چې په نظر راځي نو د هغه طهارت د هغه د ذات په زائلولو سره راځي لِأَنَّ النَّجَاسَةَ حَلَّتِ الْمَحَلَّ بِاعْتِبَارِ الْعَيْنِ ځکه چې نجاست په محل کې د خپل ذات په اعتبار سره حلول کړی دی فَتَزُولُ بِزَوَالِهَا نو د ذات په لرې کېدلو سره به نجاست زائلیږي إِلَّا أَنْ يَبْقَى مِنْ أَثَرِهَا مَا يَشُقُّ إِزَالَتُهُ خو دا چې د نجاست له اثر څخه یو څه اثر (داسې) پاته وي چې د هغه لیري کول ګران وي لِأَنَّ الْحَرَجَ مَدْفُوعٌ ځکه چې (په شریعت کې) تکلیف لیري کړی سوی دی وَهٰذَا يُشِيرُ إِلَى أَنَّهُ لَا يُشْتَرَطُ الْغَسْلُ بَعْدَ زَوَالِ الْعَيْنِ او دا اشاره کوي و دې طرف ته چې د نجاست د ذات تر زائلېدلو وروسته پرېولل شرط نه دي وَإِنْ زَالَ بِالْغَسْلِ مَرَّةً وَاحِدَةً که څه هم په یوه وار پرېوللو سره ذات زائل سي وَفِيهِ كَلَامٌ او په دې باره کې کلام دی.(د مشائخو په مینځ کې).

تشریح: په دې عبارت کې د مرئي او غیر مرئي په اعتبار سره د نجاست دوه قسمونه بیان سوي دي:

نجاستِ مرئي: هغه نجاست ته ویل کیږي چې جسم داره یعني جسم لرونکی وي، او په سترګو لیدل کیږي، لکه: وینه، غایطه مواد(انساني فضله) او داسې نور.

نجاست غیر مرئي: هغه دی چې جسم داره نه وي او په سترګو نه لیدل کیږي، لکه متیازې او داسې نور.

د نجاست مرئي د پرېوللو او پاکولو طریقه دا ده چې تر هغه وخته به پرېولل کیږي چې تر څو یې ذات(او عین) لیري سوی نه وي، هغه که په یوه وار پرېوللو سره لیري سي، او که په دوه یا دریو وارو یا له دې څخه په زیاتو وارو لیري سي، بس اصل د ذات لیري کول ضروري دي، ځکه چې نجاستِ مرئي په خپل ذات او عین سره په محل کې سرایت کوي، نو تر کومه وخته چې یې ذات لیري نه کړای سي، محل نه پاکیږي، هو! که چیري د نجاست د ذات تر لیري کولو وروسته د نجاست اثر باقي پاته سي، او د هغه پرېولل ګران وي نو په دې صورت کې د اثر په پاته کېدلو کې هیڅ پروا نسته، ځکه چې شریعت له اُمت څخه حرج لیري کړی دی.

صاحب د بنایې لیکلي دي چې په دې باره کې د خوله بنت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له هغه حدیث څخه هم استدلال کېدای سي چې نبي ﷺ هغې ته فرمایلي وو: "هغه جامې پرېوله چې د حیض وینې پر لګېدلي وي، ولا يضرك أثره. او تر پرېوللو وروسته که د وینو اثر پاته سو نو هغه تاته هیڅ ضرر نه رسوي". (بنایه ج:۱، ص:۷۵۱)

وهٰذا یشیر الخ صاحب د هدایې فرمایي چې د امام قدوري رَحِمَهُ الله بیان سوې مسئله و دې طرف ته اشاره کوي چې که په یوه وار پرېوللو سره د نجاست ذات لیري سي نو نور پرېولل یې شرط نه دي، او که په یوه وار سره لیري نه سي نو تر لیري کولو پوري یې پرېولل ضروري دي، هغه که په دوو وارو سره زائل سي، یا په دریو یا څلورو وارو سره، همدا صحیح قول دی، که څه هم په دې سلسله کې بعضو حضراتو د ذات تر زائلېدلو وروسته نور پرېولل هم شرط کړي دي.

وفيه كلام الخ له دې ځایه همدغه خبره ښیي چي له مشائخو څخه د امام ابو جعفر رَحِمَهُ الله په نېز که په یوه وار د نجاست ذات لیري سو تر هغه وروسته دوه واره نور پرېولل هم شرط دي، او امام طحاوي رَحِمَهُ الله هم دا خبره کوي، خو صحیح خبره هغه ده کوم چي مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړه.

د غیر مرئي نجاست د طهارت حکم او طریقه

وَمَا لَيْسَ بِمَرْئِيٍّ فَطَهَارَتُهُ او کوم نجاست چي نه لیدل کیږي نو د هغه طهارت دا دی أَنْ يُغْسَلَ حَتّٰى يَغْلِبَ عَلٰى ظَنِّ الْغَاسِلِ أَنَّهُ قَدْ طَهُرَ چي دومره اندازه په پرېولل کیږي چي د پرېولونکي غالب ګومان دا سي چي هغه پاک سو لِأَنَّ التَّكْرَارَ لَا بُدَّ مِنْهُ لِلِاسْتِخْرَاجِ ځکه چي د نجاست د ایستلو لپاره تکرار ضروري دی وَلَا يُقْطَعُ بِزَوَالِهِ او د نجاست د لیري کېدلو یقین نه سي کېدلی فَاعْتُبِرَ غَالِبُ الظَّنِّ نو د غالب ګومان اعتبار وسو كَمَا فِي أَمْرِ الْقِبْلَةِ لکه د قبلې په مسئله کي (چي د غالب ګومان اعتبار سوی دی) وَإِنَّمَا قَدَّرُوْا بِالثَّلَاثِ او فقهاؤ د غالب ګومان اندازه په دریو وارو سره کړې ده لِأَنَّ غَالِبَ الظَّنِّ يَحْصُلُ عِنْدَهُ ځکه چي غالب ګومان هم په دې اندازه سره حاصلیږي فَأُقِيْمَ السَّبَبُ الظَّاهِرُ مَقَامَهُ تَيْسِيْرًا نو د آسانتیا په خاطر ظاهري سبب د غالب ګومان قائم مقام کړی سو وَيَتَأَيَّدُ ذٰلِكَ بِحَدِيْثِ الْمُسْتَيْقِظِ مِنْ مَنَامِهِ او د دې تائید د مستیقظ من منامه په حدیث سره هم کیږي ثُمَّ لَا بُدَّ مِنَ الْعَصْرِ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ بیا د ظاهر روایت مطابق په هر وار کي نخوړل (نستېړل) ضروري دي لِأَنَّهُ هُوَ الْمُسْتَخْرِجُ ځکه چي (فقط) نستېړل نجاست ایستلای سي (او له منځه یې وړي).

تشریح: په دې عبارت کي د نجاست د دویم قسم یعني د غیر مرئي نجاست بیان سوی دی، لکه متیازي. شراب او داسي نور. د دې حکم دا دی چي جامې دي دومره اندازه پرېولل سي چي د پرېولونکي سړي دا غالب ګومان سي چي هغه پاکي سوې.

دلیل: دا دی چي له کالو څخه د نجاست د ایستلو لپاره په پرېوللو کي تکرار ضروري دی، او څرنګه چي د دې نجاست د لیري کېدلو یقیني خبر او علم امکان نه لري (یعني انسان د کالو تر پرېوللو وروسته په یقیني توګه دا نه سي ویلای چي نجاست ځني ووتی) نو ځکه به د غالب ګومان اعتبار کیږي، لکه څرنګه چي د قبلې د جهت په مسئله کي هم د غالب ګومان اعتبار کیږي، یعني که پر یوه سړي باندي قبله شکمنه سوه چي قبله کومي خوا ته ده، او دویم انسان هم نه وو چي قبله ور وښیي، نو په داسي صورت کي هغه ته پکار ده چي په قبله کي غور او فکر وکړي، تر فکر کولو وروسته یې چي پر کوم طرف غالب ګومان سي هغه طرف ته دي لمونځ وکړي، او که تر لمونځ کولو وروسته معلومه سي چي قبله بل طرف ته وه، نو د لمانځه راګرځول پر واجب نه دي.

وإنما قدروا... الخ صاحب د هدایې فرمایي چي فقهاؤ د غالب ګومان اندازه په دریو واره پرېوللو سره کړې ده، ځکه چي په دې شمېر سره غالب ګومان حاصلیږي، نو د آسانۍ لپاره ظاهري سبب یعني د دریو شمېر د غالب ګومان قائم مقام کړی سو، یعني په دریو وار پرېوللو سره به د پاکۍ حکم کیږي، او د دې تائید په دې حدیث سره هم کیږي: إذا استيقظ احدكم من منامه فلايغمسن يده في الإناء حتى يغسلها ثلاثا فانه لايدرى اين باتت يده، په دې حدیث کي د موهوم (لو

شکمن) نجاست په وجه د درې واره پرېوللو حکم سوی دی، نو د متحقق (او ثابت) نجاست په وجه خو به په طریقه اولیٰ دا حکم کیږي، همدارنګه د ظاهر الروایة مطابق هر وار د جامو نستېړل (هم) ضروري دي، ځکه چې همدغه نستېړل غير مرئي نجاست ایستلای سي؛ او په غير ظاهر الروایة کي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي چې صرف په دریم وار د کپړې نستېړل کافي دي، هر وار يې نستېړل ضروري نه دي.



فَصْلٌ فِي الْإِسْتِنْجَاءِ

(دا) فصل د استنجاء (په بیان کي) دی

تشريح: څرنګه چې له سبيلين (دوو لارو) څخه د نجاست لیري کولو ته استنجاء ویل کیږي، نو په دې وجه صاحب د کتاب هم د استنجاء فصل په باب الأنجاس وتطهيرها کي ذکر کړی.

په اصل کي د استنجاء لفظ له نجو څخه را اخیستل سوی دی، او د نجو معنیٰ ده: له نس څخه را وتونکی شی؛ لوړ او جګ ځای ته هم نجو ویل کیږي، ځکه کله چې انسان صحرا ته د استنجاء لپاره ځي، نو په یو لوړ ځای سره ځان پټوي، او د فقهاؤ په اصطلاح کي إزالة النجاسة العينية عن السبيلين، "یعني له سبیلینو څخه د حقیقي نجاست لیري کولو ته استنجاء ویل کیږي".

د استنجاء احکام، د استنجاء شرعي حیثیت او طریقه

الْإِسْتِنْجَاءُ سُنَّةٌ استنجاء سنت ده **لِأَنَّ النَّبِيَّ (ص) وَاظَبَ عَلَيْهِ** ● ځکه چې نبي ﷺ پر استنجاء همېشتوب کړی دی **وَيَجُوزُ فِيهِ الْحَجَرُ وَمَا قَامَ مَقَامَهُ** او په استنجاء کي ډبره او د دې قائم مقام شیان هم جائز دي **يَمْسَحُهُ حَتَّى يُنَقِّيَهُ** په دې سره به مسح کوي تر دې چې د استنجاء ځای پاک کړي **لِأَنَّ الْمَقْصُودَ هُوَ الْإِنْقَاءُ** ځکه چې مقصود پاکوالی دی **فَيُعْتَبَرُ مَا هُوَ الْمَقْصُودُ** نو څه چې مقصود دي هغه به معتبر وي **وَلَيْسَ فِيهِ عَدَدٌ مَسْنُونٌ** او په دې کي یو مسنون شمېر نسته **وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا بُدَّ مِنَ الثَّلَاثِ** او امام شافعي فرمايي: چې د درېو شمېر ضروري دی **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ** ● **وَلْيَسْتَنْجِ مِنْكُمْ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ** ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: "په تاسو کي دي (هر سړی) په درې ډبرو سره استنجاء کوي" **وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ** ● **مَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ** او زموږ دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي:

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الوضوء، باب حمل العنـزة مع الماء في الاستنجاء، حديث رقم:۱۵۲.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة باب كراهية استقبال القبلة، حديث رقم:۸.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الطهارة باب الاستتار في الخلاء، حديث رقم:۳۵.

"څوک چي په لوټو استنجاء کوي هغه دي په طاق شمېر سره لوټي استعمالوي فَمَنْ فَعَلَ فَحَسَنٌ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ نو چا چي دغسي وکړه ښه يې وکړه او چا چي دغسي نه وکړه نو هيڅ پروا نه لري" وَمَا رَوَاهُ مَتْرُوكُ الظَّاهِرِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله چي کوم روايت کړی دی هغه متروکُ الظاهر دی فَإِنَّهُ لَوِ اسْتَنْجَى بِحَجَرٍ لَهُ ثَلَاثَةُ أَحْرُفٍ ځکه که يو سړی په داسي ډبره سره استنجاء وکړي چي د هغې درې طرفونه (اړخونه) وي جَازَ بِالْإِجْمَاعِ نو په اتفاق سره دغه استنجاء جائز ده وَغَسْلُهُ بِالْمَاءِ أَفْضَلُ خو (د استنجاء ځای) په اوبو سره پرېولل افضله دي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: چي په صحابه وو کي څه خلک داسي دي چي په ښه توګه سره ځان پاکول خوښوي نَزَلَتْ فِي أَقْوَامٍ كَانُوا يَتْبَعُونَ الْحِجَارَةَ الْمَاءَ دا آيت د هغو حضراتو په باره کي را نازل سو چي هغوی به تر ډبرو وروسته اوبه هم کارولې ثُمَّ هُوَ أَدَبٌ او بيا په اوبو سره استنجاء کول ادب (مستحب) دي وَقِيلَ هُوَ سُنَّةٌ فِي زَمَانِنَا او يو قول دا دی چي زموږ په زمانه کي سنت دي وَيَسْتَعْمِلُ الْمَاءَ إِلَى أَنْ يَقَعَ فِي غَالِبِ ظَنِّهِ أَنَّهُ قَدْ طَهُرَ او اوبه به (په دومره اندازه) کاروي تر دې چي د هغه غالب ګومان دا سي چي د نجاست ځای پاک سو وَلَا يُقَدَّرُ بِالْمَرَّاتِ او په وارونو سره به اندازه نه کېږي إِلَّا إِذَا كَانَ مُوَسْوِسًا فَيُقَدَّرُ بِالثَّلَاثِ فِي حَقِّهِ خو که يو سړی وسواسي وو نو د هغه په حق کي به په درې وارو سره اندازه کېږي وَقِيلَ: بِالسَّبْعِ او يو قول دا دی چي: په اوو (۷) وارو سره به اندازه کېږي.

اللغات: ﴿اِسْتَجْمَرَ﴾ د استفعال د باب ماضي صيغه ده: د استنجاء لپاره لوټي لټول. ﴿مُوَسْوِس﴾ د فعللې د باب اسم فاعل دی: وسواسي، هغه انسان چي په اوداسه او داسي نورو عبادتونو کي په وسوسو او اندېښنو مبتلا وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز استنجاء کول سنت مؤکده دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز فرض دي، او د سنتوالي دليل يې دا دی چي پر دې نبي ﷺ همېشتوب کړی دی، لکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ خادم حضرت انس ﷺ فرمايي: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ نَحْوِي إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً فَيَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ. (يعني نبي ﷺ چي به کله د قضاء حاجت لپاره تلی، نو زه او زما هم عمره (همزولي) يو کوچني به د اوبو لوښی او عنزه را اخيستله او نبي ﷺ به په اوبو سره استنجاء کوله).

او په ابن ماجه کي له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روايت دی قالت ما رأيت رسول الله ﷺ خرج من غائط قط إلامس ماء. (حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چي ما نبي ﷺ هيڅکله ليدلی نه دی چي له غايطو څخه دي راوتلی وي او اوبه دي يې مسه کړي نه وي)

له دې دوارو حديثونو څخه ثابتيږي چي نبي ﷺ په استنجاء باندي همېشتوب کړی دی. په استنجاء کي ډبره لو کوم شی چي د دې قائم مقام وي استعمالول جائز دي، او د استنجاء طريقه دا ده چي د استنجاء ځای دي دومره اندازه مسح کړي چي هغه پاک سي، ځکه چي پاکول يې مقصود دي، نو کوم څه چي مقصود وي هغه به معتبر دي.

صاحب د هدايې وايي چې په ډېرو کې هيڅ شمېر سنت نه دی، بلکې په څومره اندازه چې پاکي حاصليږي هغومره ډېرې دې استعمال کړي، هغه که درې وي يا له درې څخه کمې يا له درې څخه زياتې، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې درې ډېرې ضروري دي.

د امام شافعي دليل: د حضرت ابو هريره رضی الله عنه حديث دی : أن رسول الله ﷺ قال انما أنا لكم مثل الوالد إذا ذهب احدكم الى الغائط فلا يستقبل القبلة ولا يستدبرها بغائط ولا بول وليستنج بثلاثة احجار. (يعني نبي ﷺ وفرمايل چې زه ستاسو لپاره د پلار په مثال يم، چې کله په تاسو کې يو سړی غايطو ته ولاړسي نو په غايطه مواد او متيازو کې دې مخامخ پر قبله نه کښيني او نه دې شا ور کړځوي، او په دريو ډېرو دې استنجاء کوي) په دې حديث کې د امر صيغه راغلې ده، او امر د وجوب لپاره وي، نو له دې حديث څخه د استنجاء واجب کېدل او په ډېرو کې د دريو شمېر ثابت سو.

زموږ دليل: دا حديث دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوتِرْ. مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ. وَمَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ. وَمَنْ أَكَلَ فَمَا تَخَلَّلَ فَلْيَلْفِظْ وَمَا لَاكَ بِلِسَانِهِ فَلْيَبْتَلِعْ. وَمَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ. وَمَنْ أَتَى الْغَائِطَ فَلْيَسْتَتِرْ. فَإِنْ لَمْ يَجِدْ إِلَّا أَنْ يَجْمَعَ كَثِيبًا مِنْ رَمْلٍ فَلْيَسْتَدْبِرْهُ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِي آدَمَ. مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ حَدِيثٌ حَسَنٌ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

په دې حديث سره زموږ استدلال په دې توګه دی چې نبي ﷺ په دې حديث کې تر من استجمر فليوتر وروسته فرمايلي دي: من فعل فقد فحسن ومن لا فلاحرج؛ د من استجمر...الخ معنیٰ ده: څوک چې په لوټو يا ډېرو سره استنجاء کوي، نو په طاق شمېر دې يې وکړي... يعني چا چې طاق عدد استعمال کړی، هغه ډېر ښه وکړه، او که چا داسې نه وکړه نو هيڅ خبره نه ده؛ نو که د دريو شمېر واجب او ضروري وای نو نبي ﷺ به دا ضروري ګرځولای او د نه کونکي په باره کې به يې د فلاحرج پر ځای فقد أساء وظلم فرمايلي وای. نو معلومه سوه چې په ډېرو کې هيڅ شمېر ضروري نه دی.

جواب: وما رواه...الخ پاته سو هغه حديث کوم چې امام شافعي رَحِمَهُ الله په دليل کې ذکر کړی دی. د هغه جواب دا دی چې دا حديث متروکُ الظاهر دی، يعني ظاهري مفهوم يې پرېښوول سوی دی، ځکه چې دا مسئله متفق عليه ده چې که يو سړی په يو داسې ډېره سره استنجاء وکړي چې هغه درې اړخونه لري، نو په اتفاق سره په دې يوه ډېره استنجاء صحيح ده، او له دې څخه ماسوا د نورو ډېرو ضرورت نسته، له دې څخه هم معلومه سوه چې درې ډېرې ضروري نه دي.

دويم جواب: دا دی چې دلته د امر صيغه پر استحباب حمل سوې ده.

دريم جواب : دا دی چې کله نبي ﷺ له عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه د استنجاء لپاره ډېرې طلب کړې، او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دوې ډېرې راوړې او دريمه ډېره يې پيدا نه کړه او د هغه پر ځای يې خوشايي راوړل، نو نبي ﷺ دوې ډېرې واخيستلې او خوشايي يې وغورځول، او ويې فرمايل چې دا مردار(نجس)دي، نو که د دريو شمېر واجب وای نو نبي ﷺ به د دريمې ډېرې طلب خامخا کولای، حال دا چې نبي ﷺ دريمه ډېره طلب نه کړه، لکه څرنګه چې په بخاري کې هم ذکر سوي دي، له دې قصې څخه ثابتيږي چې د دريو شمير شرط نه دی.

تر لوټو (او ډېرو) وروسته د اوبو استعمال مستحب دی، که سنت؟

صاحب د هدايې فرمايلي دي تر ډېرو او لوټو وروسته په اوبو باندي پرېولل غوره دي ځکه چې الله تعالیٰ فرمايلي دي: فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا (سورة التوبة ۱۰۸)، دا آيت د اهلِ قُبا په باره کې را نازل سوی دی، او د اهل قبا دا عادت وو

چي هغوی به تر ډبرو وروسته په اوبو استنجاء کوله. ښکاره دي وي چي د ډبرو تر استنجاء وروسته په اوبو استنجاء کول مستحب دي، ځکه چي نبي ﷺ به کله په اوبو استنجاء کوله، او کله به يې پرېښووله، او ښکاره خبره ده چي دا د استحباب دليل دی.

وقيل الخ او ځيني حضراتو فرمايلي دي چي زموږ په زمانه کي په اوبو استنجاء کول سنت دي، دا قول له حسن بصري رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوی دی، دليل يې د حضرت علي ﷺ اثر دی: قال إن من كان قبلكم كانوا يبعرون بعرا وأنتم تثلطون ثلطا فاتبعوا الحجارة الماء. (حضرت علي ﷺ فرمايي چي مخکني خلکو به پچي کولې او تاسو نری پاخانه (غايطه مواد) کوی، نو تر ډبرو وروسته داوبو استعمال کوئ). (بيهقي)

ويستعمل الماء الخ فرمايي چي استنجاء کونکي ته پکار دي چي د استنجاء ځای دي تر هغه وخته پرېولي تر څو چي يې غالب ګومان سي چي هغه ځای پاک سو، او په دې سلسله کي د درو يا پنځو وارو هيڅ قيد نسته، لېکن که يو سړی د شک او وسوسو مريض وو، نو د هغه لپاره حکم دا دی چي هغه دي يې درې يا پنځه يا اووه واره پرېولي، چي پاکي هم راسي، او د ده شک هم ليري سي.

څه وخت اوبه استعمالول ضروري دي؟

وَلَوْ جَاوَزَتِ النَّجَاسَةُ مَخْرَجَهَا او که نجاست له خپل مخرج څخه تجاوز وکړی لَمْ يَجُزْ فِيْهِ إِلَّا الْمَاءُ نو د هغه په ليري کولو کي له اوبو څخه ماسوا بل شی جائز نه دی وَفِيْ بَعْضِ النُّسَخِ: إِلَّا الْمَائِعُ او په بعضي نسخو کي إلا المائع دي (يعني له بهېدونکي شي څخه ماسوا بل شی جائز نه دی) وَهٰذَا يُحَقِّقُ اِخْتِلَافَ الرِّوَايَتَيْنِ فِيْ تَطْهِيْرِ الْعُضْوِ بِغَيْرِ الْمَاءِ او دا له اوبو څخه ماسوا په بل شي سره داندام په پاکولو کي د دوو روايتونو اختلاف ثابتوي عَلٰى مَا بَيَّنَّا لکه (مخکي) چي موږ (د دې) بيان وکړی وَهٰذَا لِأَنَّ الْمَسْحَ غَيْرُ مُزِيْلٍ او دا په دې وجه چي مسح (د نجاست) ليري کونکې نه ده إِلَّا أَنَّهُ اكْتَفٰى بِهٖ فِيْ مَوْضِعِ الْاِسْتِنْجَاءِ لېکن د استنجاء په ځای کي پر دې اکتفا سوې ده فَلَا يَتَعَدَّاهُ نو هغه به نه متعدي کيږي ثُمَّ يُعْتَبَرُ الْمِقْدَارُ الْمَانِعُ وَرَاءَ مَوْضِعِ الْاِسْتِنْجَاءِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا الله بيا هغه مقدارکوم چي له لمانځه څخه مانع دی د شيخينو په نيز د استنجاء له ځای څخه علاوه دی (يعني که نجاست د استنجاء له ځای څخه ماسوا يوه درهم ته ورسېږي، نو لمونځ به نه ور سره صحيح کيږي) لِسُقُوْطِ اعْتِبَارِ ذٰلِكَ الْمَوْضِعِ ځکه چي د دې ځای اعتبار ساقط سوی دی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ الله مَعَ مَوْضِعِ الْاِسْتِنْجَاءِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز هغه مقدار د استنجاء د ځای سره معتبر دی (يعني د امام محمد په نيز که د استنجاء د ځای سره سره نجاست تر يوه درهم زيات سي نو د لمانځه له جواز څخه به مانع وي) اِعْتِبَارًا بِسَائِرِ الْمَوَاضِعِ پر ټولو ځايونو باندي په قياس کولو سره (يعني امام محمد رَحِمَهُ الله دا مسئله په پر نورو ځايونو قياسوي).

تشريح: مسئله: دا ده که نجاست د استنجاء له ځای څخه تجاوز وکړي، نو هغه صرف په اوبو سره پاکيږي، او د هدايې په بعضو نسخو کي د إلا الماء پر ځای د إلا المائع لفظ راغلی دي، يعني چي کله نجاست د استنجاء له محل څخه تجاوز وکړي نو هغه صرف په بهيدونکي شي سره پاکيږي، که دغه بهېدونکی شی اوبه وي او که له اوبو څخه ماسوا بل شی وي

لکه سرکه او داسې نور، او د دې إلا الماء او المائع د اختلاف څخه دا خبره هم ثابتیږي چې له اوبو څخه ماسوا په نورو پاکونکو شیانو سره د اندام په پاکولو او نه پاکولو کې دوه مختلف روایتونه دي، یعني د إلا الماء د نسخې څخه دا معلومیږي چې حقیقي مرداري له اوبو څخه ماسوا په بل شي نه پاکیږي، او د إلا المائع له نسخې څخه دا معلومیږي چې په کوم شي سره چې حقیقي مرداري زائلیدای، په هغه سره یې لیري کول جائز دي، هغه که اوبه وي او که له اوبو څخه ماسوا بل څه وي.

دلیل: او د دې خبرې دلیل چې کله نجاست له خپل مخرج څخه تجاوز وکړي نو د هغه پریولل فرض دي، دا دی: چې په دبرو او نورو سره نجاست نه لیرې کیږي، بلکې نور هم خوریږي، لیکن د ضرورت په وجه د استنجاء په ځای کې خلاف القیاس په دبرو او نورو سره د دې پاکول طهارت شمار وګرځول سو، او دا قاعده ده چې کله یو شی د یو ضرورت په وجه خلاف القیاس ثابت وي، نو هغه به خاص وي د ضرورت تر شي پورې، بل شي ته به دغه حکم تجاوز نه کوي، نو له دې څخه ثابته سوه چې که نجاست تجاوز وکړی نو له اوبو څخه ماسوا په بل شي سره پاکي نه سي راتلای.

ثم يعتبر المقدار الخ دا خبره په یاد لرئ! چې هغه مقدار کوم چې د لمانځه له جواز څخه مانع دی، هغه د شیخینو په نیز که د استنجاء د ځای له نجاست څخه ماسوا له یوه درهم څخه زیات سو نو هغه اندازه معتبره ده. (یعني که له موضع استنجاء څخه ماسوا تر یوه درهم نجاست زیات سو، نو د هغه سره لمونځ جائز نه دی، ځکه چې د شیخینو په نیز موضع استنجاء نه شمارل کیږي، له موضع استنجاء څخه مراد د غایطو راوتلو ځای دی) ځکه چې د استنجاء د ځای (موضع استنجاء) اعتبار خو ساقط دی، نو که له دې څخه ماسوا له یوه درهم څخه نجاست زیات سو نو د هغه پریولل به فرض وي.

او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز که د استنجاء د ځای سره نجاست له یوه درهم څخه زیات سو نو مانع د لمانځه به وي، امام محمد رَحِمَهُ الله پر نورو ځایونو قیاس کوي، یعني څرنګه چې په نورو ځایونو کې د یوه درهم مقدار معاف دی او له هغه څخه زیات معاف نه دی، همدارنګه د استنجاء په ځای کې به هم د یوه درهم مقدار معاف وي، او له دې څخه به زیات معاف نه وي.

په هډوکو او خوشایوو سره د استنجاء حکم

وَلَا يَسْتَنْجِيْ بِعَظْمٍ وَلَا بِرَوْثٍ او استنجاء به نه کوي په خوشایوو او هډوکو سره لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● نَهٰى عَنْ ذٰلِكَ ځکه نبي په دې شیانو باندې له استنجاء کولو څخه منع کړې ده وَلَوْ فَعَلَ خو که یو چا په دې شیانو استنجاء وکړه يُجْزِيْهِ لِحُصُوْلِ الْمَقْصُوْدِ نو د هغه لپاره دا استنجاء کافي ده ځکه چې مقصود حاصل سو وَمَعْنَى النَّهْيِ فِي الرَّوْثِ لِلنَّجَاسَةِ او په خوشایوو کې د نهې وجه نجاست دی وَفِي الْعَظْمِ كَوْنُهُ زَادَ الْجِنِّ او په هډوکو کې د نهې وجه د پیریانو خوراک کېدل دي وَلَا بِطَعَامٍ او نه دې د خوراک په شي سره استنجا کوي لِأَنَّهُ إِضَاعَةٌ وَإِسْرَافٌ ځکه چې دا ضائع کول او اسراف کول دي وَلَا بِيَمِيْنِهِ او نه دې په راسته لاس سره استنجاء کوي لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● نَهٰى عَنِ الْاِسْتِنْجَاءِ بِالْيَمِيْنِ ځکه نبي ﷺ په راسته لاس له استنجاء کولو څخه منع کړې ده.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الوضوء، باب الاستنجاء بالاحجار، حديث رقم:١١٥٥ و ابو داؤد في كتابا لطهارة، باب كراهية استقبال القبلة، حديث رقم:٧.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الوضوء باب النهي عن الاستنجاء باليمين، حديث رقم:١٥٣.

اللغات: ﴿زَادُ الجِنّ﴾ د پېریانو توښه (یعني د پېریانو خوراک)، ﴿إِضَاعَة﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضایع کول، هلاکول، ﴿إِسْرَاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: بې ځایه خرڅول، بدخرڅي، اسراف کول.

تشریح: مسئله: دا ده چې په هډوکو او خوشایو سره استنجاء کول شرعاً منع دي، ځکه په بخاري شریف کې د ابو هریره رضي الله عنه حدیث دی: قال له النبي ﷺ إبغني أحجارا أستنفض بها ولا تأتني بعظم ولا بروثة، قلت ما بال العظام والروثة، فقال من طعام الجن، (نبي کریم ﷺ ابو هریره رضي الله عنه ته وویل چې زما لپاره ډبري ولټوه چې په هغو سره پاکي حاصله کړم، هډوکي او خوشایي مه راوړه، ما ورته وویل چې د هډوکو او خوشایوو څه وجه ده؟، نبي ﷺ وفرمایل چې دا دواړه د پېریانو خوراک دی، همدارنګه ترمذي روایت کړی دی: لا تستنجوا بالروث ولا بالعظام فانه زاد اخوانکم من الجن، (تاسي په خوشایوو او هډوکو استنجاء مه کوئ ځکه چې هغه ستاسي د وروڼو پېریانو توښه ده).

خو که چا دې نهي (او ممانعت) سره په دې شیانو استنجاء وکړه نو استنجاء یې صحیح ده، ځکه چې مقصود حاصل سو چې هغه پاکي ده، خو سنت نه اداء کیږي. او په خوشایوو کې د نهي او ممانعت وجه د هغو نجس کېدل دي، او په هډوکو کې د ممانعت وجه د پېریانو خوراک کېدل دي، خو مخکي چې کوم دوه حدیثونه ذکر سول له هغو څخه د خوشایوو پر پاکوالي استدلال کېدای سي، لکه څرنګه چې د امام مالک رَحِمَهُ الله قول دی، ځکه که خوشایي ناپاک وای نو د پېریانو لپاره به د هغو خوړل حلال نه وای، ځکه چې عام شریعت د دواړو نوعو مکلفینو په حق کې مختلف نه دی، مګر دا چې یو دلیل پیدا سي، لېکن علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله فرمایي چې د خوشایوو د مردار والي په باره کې دلیل سته یعني نبي ﷺ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د خوشایوو په باره کې فرمایلي وه: هٰذَا رِكْسٌ، یعني خوشایي ناپاک او مردار دي.

ولا طعام الخ او د خوراک په شیانو سره دي هم استنجاء نه کوي، ځکه چې دا اسراف دی، او عبث د شیانو بربادول دي، او دا دواړه خبري حرامي دي، او په راسته لاس دي هم استنجاء نه کوي ځکه چې نبي ﷺ په راسته لاس له استنجاء کولو څخه منع کړې ده، لکه څرنګه چې د ابو قتاده رضي الله عنه روایت دی: قال اذا بال احدکم فلا یأخذن ذکره بیمینه ولا یستنجي بیمینه ولا یتنفس في الاناء. (بخاري و مسلم). (کله چې په تاسو کې یو څوک متیازي کوي نو خپل ذکر (د تناسل آله) دي په راسته لاس سره نه نیسي او نه دي په راسته لاس سره استنجاء کوي او نه دي په لوښي کې ساه کاږي، په دې حدیث کې په څرګنده توګه په راسته لاس له استنجاء کولو څخه منع سوې ده). والله اعلم بالصواب



كِتَابُ الصَّلَاةِ

(دا) کتاب د لمانځه (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: څرنګه چې لمونځ د ټولو عبادتونو بنیاد او د ټولو طاعتونو اصل دی نو ځکه كِتَابُ الصَّلَاةِ پر ټولو مشروعاتو مخکې کړی سو، او څرنګه چې طهارت د لمانځه لپاره شرط دی او شرط د یو شي پر شي مخکې وي، نو ځکه کتاب الطهارات پر کتاب الصلاة مخکې کړی سو.

د صلاة لغوي معنی: صلاة په لغت کې دعاء ته ویل کیږي، لکه څرنګه چې په قرآن کې ذکر سوي دي: وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ [سورة التوبة: ۱۰۳]، (اې نبي! (ﷺ) ته د دې خلکو لپاره دعا کوه! یقیناً ستا دعاء د دوی لپاره د اطمینان او سکون لامل دی)، همدارنګه نبي ﷺ تر ډوډۍ خوړلو یا تر روژه ماتی وروسته دا دعا کړې وه: أكل طعامر الابرار وصلت عليكم الملائكة...الخ (یعني نېکو خلکو ستاسو ډوډۍ وخوړه او ملائکو ستاسو لپاره دعا وکړه)، له دې څخه هم معلومیږي چې د صلاة لغوي معنی "دعاء" ده.

د صلاة اصطلاحي معنی: عبارة عن أركان مخصوصة و أذكار معلومة بشرائط محصورة بصفات معينة. (یعني پر معلومو کیفیتونو د شرطونو د رعایت سره د متعینو اذکارو او ځانګړو ارکانو پر ځای کولو ته لمونځ ویل کیږي).


د لمانځه د وجوب سبب: د لمانځه د واجب کېدلو سبب د لمانځه خپل وختونه دي، او د لمانځه د اداء کولو سبب د خدای پاک حکم دی.

د لمانځه ارکان: د لمانځه رکنونه دا دي: قیام (ولاړه)، قراءت، رکوع، سجده او آخره ناسته د تشهد ویلو په اندازه.

د لمانځه احکام: وحكمها سقوط الواجب عنه أي الاداء في الدنيا و نيل الثواب الموعود في الآخرة. (یعني د لمانځه حکم دا دی چې په دنیا کې د لمونځ کونکي له غاړې څخه واجب ساقط سي او په آخرت کې هغه ثواب حاصل کړي چې وعده یې سوې ده).

د لمانځه فرضیت: لمونځ په کتابُ الله، د رسولُ الله په سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی، لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې راځي: وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ (سورة البقرة: ۴۳)، او په بل ځای کې راځي: حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ (سورة البقرة: ۲۳۸)، او له دې څخه علاوه نور هم په ډېرو ځایونو کې د لمانځه فرضیت او ارزښت څرګند سوی دی، په حدیث شریف کې هم په ډېر ټینګار سره د لمونځ کولو او د لمونځ د فرضیت حکم سوی دی، لکه څرنګه چې حدیث دی: إن الله تعالى فرض على كل مسلم ومسلمة في كل يوم وليلة خمس صلوات؛ او د لمانځه د ارزښت په اړه د نبي ﷺ دا فرمان د یادوني وړ دی: الصلاة عماد الدين فمن أقامها أقام الدين ومن هدمها هدم الدين.

او په اجماع سره د لمانځه ثبوت په دې توګه دی چې د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر ننه پورې ټوله اُمت د لمانځه پر فرضیت او د هغه پر مشروعیت باندې متفق دي، او کوم ناپوه چې د لمانځه د مشروعیت په لړ کې د نهي خبره کړې ده، دې امت هغه د خپل لړلیک او ډلې څخه ایستلی دی. (ذکر سوي تفصیلات زیاتره له عنایه شرح هدایه څخه اخیستل سوي دي. وګورئ! عنایه [ج:۱، ص:۲۱۸ - ۲۱۹])



بَابُ الْمَوَاقِيْتِ
(دا) باب (د لمانځه) د وختونو (په بیان کې) دی

تشریح: څرنګه چې د لمانځه وختونه د لمانځه د وجوب اسباب دي، او سبب تر مسبب مخکې وي، نو ځکه یې د لمانځه د وختونو بیان مخکې کړي، مواقیت جمع د میقات ده، او د میقات معنیٰ ده: ما وقت به، یعني په کوم شي سره چې د یو وخت او یو حد اندازه وټاکل سي هغه ته میقات ویل کیږي، یا میقات هغه زمانې یا مکان ته ویل کیږي، چې له هغه زمانې یا مکان څخه حد وټاکل سي، لکه مواقیتِ صلوٰة او مواقیتِ احرام.

د پنځو لمونځونو وختونه ..... د سهار د لمانځه لومړی او آخري وخت

أَوَّلُ وَقْتِ الْفَجْرِ د سهار اول وخت هغه دی إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ الثَّانِي چې کله صبح صادق را وخیږي (یعني د سهار سپینډې وچاودي) وَهُوَ الْمُعْتَرِضُ فِي الْأُفُقِ او دا صبح صادق هغه (سپینوالی) دی کوم چې د آسمان په څنډو (افق) کې په پلنوالي سره غوړېدلی وي وَآخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ او د سهار آخري وخت تر هغه وخته دی تر څو چې لمر نه وي راختلی لِحَدِيْثِ إِمَامَةِ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ● د جبرئیل علیه السلام د امامت والا حدیث په وجه سره فَإِنَّهُ أَمَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْهَا فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ حِيْنَ طَلَعَ الْفَجْرُ ځکه چې جبرئیل علیه السلام په اوله ورځ د سهار راختلو په وخت کې نبي ﷺ ته د سهار لمونځ (په جماعت) ورکړی وَفِي الْيَوْمِ الثَّانِي حِيْنَ أَسْفَرَ جِدًّا وَكَادَتِ الشَّمْسُ تَطْلُعُ او په دویمه ورځ چې کله ښه رڼا سوه او لمر راختلو ته نږدې سو (نو د سهار لمونځ یې ورکړی) ثُمَّ قَالَ فِيْ آخِرِ الْحَدِيْثِ: مَا بَيْنَ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ وَقْتٌ لَكَ وَلِأُمَّتِكَ بیا یې د حدیث په آخر کې وویل: د دې دواړو وختونو په مینځ کې چې کوم وخت دی هغه ستا او ستا د امت لپاره (د سهار وخت) دی وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْفَجْرِ الْكَاذِبِ او د کاذب سهار هیڅ اعتبار نسته وَهُوَ الْبَيَاضُ الَّذِيْ يَبْدُوْ

● تخریج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الصلوٰة باب المواقيت، حديث رقم:۳۹۳ و ترمذي في كتاب الصلوٰة، باب ما جاء في مواقيت الصلوٰة، حديث رقم:۱۴۹.

طُولًا ثُمَّ يَعْقُبُهُ الظَّلَامُ او دا كاذب سهار هغه سپينوالى دى چي په اوږدوالي ښكاره كيږي بيا تر هغه وروسته تياره (تاريكي) راځي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● لَا يَغُرَّنَّكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: د بلال آذان دي تاسو دوكه نه كړي وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْلُ او نه (دي) فجر مستطيل (اوږد سپينوالى تاسو دوكه كړي) وَإِنَّمَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْرُ فِي الْأُفُقِ او سهار خو هغه (سپينوالى) دى چي د آسمان په څنډو كي غوړېدلى وي أَيْ الْمُنْتَشِرُ فِيْهَا يعني چي د اسمان په څنډو كي نشر سوى (او خوربدلى) وي.

اللغات: ﴿جِدًّا﴾ د تأكيد كلمه ده: ډېر زيات، زيات ته اندازه. ﴿بَيَاض﴾ سپينوالى. (مجازاً رڼا ته ويل كيږي). ﴿ظَلَام﴾ تياره، تاريكي (تورتم). ﴿يَغُرّ﴾ د نصر د باب مضارع صيغه ده: په دوكه كي اچول، دوكه كول.

تشريح: كه څه هم په حديث كي د ماپښين وخت مخكي ذكر سوى دى، خو دلته د يو څو وجهو پر بنياد د سهار وخت مخكي كړى سو: (۱) اوله وجه دا چي د سهار لومړى او آخري وخت اتفاقي دي، نو ځكه دا مخكي كړى سو، د دې په خلاف د نورو لمونځونو په وختونو كي لږ څه اختلاف سته (۲) دويمه وجه دا چي تر ټولو مخكي حضرت آدم ﷺ د سهار لمونځ كړى وو، نو څرنگه چي د سهار لمونځ تر ټولو مخكنى لمونځ سو، نو په دې وجه په ذكر كي هم تر ټولو مخكي كړى سو (۳) دريمه وجه دا چي د سهار لمونځ د ورځي اول لمونځ دى (۴) څلورمه وجه دا چي بيده سړى كوم چي د ميّت (مړه سړي) په ډول دى، پر هغه چي تر خوب وروسته اول كوم عمل واجبيږي هغه د سهار لمونځ دى، نو ځكه د سهار د لمانځه وخت تر ټولو مخكي ذكر كړى سو. (حاشيه ملا عبد الغفور، عنايه)

فجر صادق او فجر كاذب: د سهار د لمانځه وخت له فجر صادق (روښ گهيځ) څخه شروع كيږي، او د لمر په راختلو سره ختميږي، فجر صادق هغه سپينوالى دى چي په پلنوالي سره د آسمانو په څنډو كي غوړېدلى وي، او فجر كاذب (سپېره گهيځ) هغه سپينوالى دى چي په اوږدوالي سره د آسمان په څنډو كي ښكاره كيږي، او بيا تر هغه وروسته تاريكي راځي، عرب و فجر كاذب ته ذنب السرحان (د ښرمښ لكى) وايي.

دليل: د سهار د اول وخت او آخري وخت دليل د حضرت جبرئيل ﷺ حديث دى، صاحب د عنايې پوره حديث داسي ذكر كړى دى:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَمَّنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ وَصَلَّى بِيَ الظُّهْرَ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَصَارَ الْفَيْءُ مِثْلَ الشِّرَاكِ، وَصَلَّى بِيَ الْعَصْرَ حِينَ صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ وَصَلَّى بِيَ الْمَغْرِبَ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَصَلَّى بِيَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ، وَصَلَّى بِيَ الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ. وَصَلَّى بِيَ الظُّهْرَ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَصَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ، وَصَلَّى بِيَ الْعَصْرَ حِينَ صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَيْهِ. وَصَلَّى بِيَ الْمَغْرِبَ حِينَ غَرَبَتِ الشَّمْسُ لِوَقْتِهِ بِالْأَمْسِ. وَصَلَّى بِيَ الْعِشَاءَ حِينَ مَضَى ثُلُثُ اللَّيْلِ أَوْ قَالَ نِصْفُ اللَّيْلِ، وَصَلَّى بِيَ الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ وَأَسْفَرَ وَكَادَتِ الشَّمْسُ أَنْ تَطْلُعَ. ثُمَّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ هٰذَا وَقْتُكَ وَوَقْتُ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصوم، باب ماجاء في بيان الفجر، حديث رقم: ٧٠٦؛ و مسلم في كتاب الصيام باب بيان أن الدخول الصوم يحصل بطلوع الفجر، حديث رقم: ٢٥٤٦.

(له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حضرت جبرئيل علیه السلام په کعبه شريفه کي دوه واره زما امامت وکړی (يعني دوه واره يې لمونځ راکړی)، په اوله ورځ يې د ماپښين لمونځ هغه وخت راکړی، چي کله لمر تر سر واوښتی (يعني زائل سو) او سايه د (څپلی) د تسمې په څېر وه، او د مازيګر لمونځ يې هغه وخت راکړی چي کله د هر شي سايه يو چند سوه، او د ماښام لمونځ يې هغه وخت راکړی چي لمر پټ سو، او د ماخوستن لمونځ يې هغه وخت راکړی چي کله شفق (د آسمان سرخي) ورکه سوه، او د سهار لمونځ يې د سهار راختلو په وخت کي راکړی، او دويمه ورځ يې د ماپښين لمونځ هغه وخت راکړی چي د هر شي سايه يو چند سوه. او د مازيګر لمونځ يې هغه وخت راکړی چي د هر شي سايه دوچنده سوه، او د ماښام لمونځ يې لکه په اوله ورځ د لمر لوېدلو په وخت کي راکړی، او د ماخوستن لمونځ يې هغه وخت راکړی چي د شپې دريمه حصه يا نيمه حصه تېره سوه، او د سهار لمونځ يې هغه وخت راکړی چي کله ښه سهار سو، او لمر راختو ته نژدې سو، بيا حضرت جبرئيل علیه السلام ووېل: اې محمده! دا ستا وخت دی او ستا څخه له مخکني پيغمبرانو عليهم السلام وخت وو)

ولا معتبر بالفجر الکاذب الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د سهار په لمانځه کي صادق سهار معتبر دی، کاذب سهار معتبر نه دی، دليل د صحيح مسلم او ترمذي حديث دی، تفصيل يې داسي دی چي حضرت بلال رضي الله عنه به تر صادق سهار (رڼا کهيځ) راختلو مخکي د تهجد يا پېشلمي لپاره اذان کوی، او عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه به تر صادق سهار راختلو وروسته اذان کوی نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: لا يغرنكم أذان بلال ولا الفجر المستطيل، (د بلال اذان دي تاسو دوکه نه کړي)، يعني د بلال پر اذان دا ګومان مه کوئ! چي د سهار د لمانځه وخت را داخل سو، ځکه چي دا د سهار لپاره نه دی، بلکي د تهجدو يا پېشلمي لپاره دی، او نه دي تاسو فجر مستطيل دوکه کړي، له فجر مستطيل څخه مراد کاذب سهار يعني هغه رڼا ده چي په اوږدول سره په اسمان کي ښکاره سي.

د ماپښين د لمانځه لومړی او آخري وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ او د ماپښين اول وخت هغه دی چي کله لمر زائل سي (يعني تر سر واوړي) لِإِمَامَةِ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ ځکه جبرائيل علیه السلام په اوله ورځ د لمر د زوال په وخت کي امامت وزکړی وو وَآخِرُ وَقْتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ إِذَا صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَيْهِ سِوَى فَيْءِ الزَّوَالِ او د امام صاحب رحمه الله په نيز د ماپښين د لمانځه آخري وخت هغه دی چي کله د هر شي سايه له اصلي سايې (سيوري) څخه ملسوا دوچنده سي وَقَالَا: إِذَا صَارَ الظِّلُّ مِثْلَهُ او صاحبين رحمهما الله فرمايي چي کله د هر شي سايه د هغه شي سره برابره سي (يعني يو چند سي) وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام صاحب يو روايت همدغه رنګه دی وَفَيْءُ الزَّوَالِ هُوَ الْفَيْءُ الَّذِي يَكُونُ لِلْأَشْيَاءِ وَقْتَ الزَّوَالِ او اصلي سايه هغه سايې ته ويل کيږي کوم چي د زوال په وخت کي د شيانو وي (يعني د لمر تر سر اوښتلو په وخت کي چي د شيانو کومه سايه وي هغه ته فيئ الزوال يعني اصلي سايه ويل کيږي) لَهُمَا: إِمَامَةُ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب المساجد باب أوقات الصلوات الخمسه، حديث رقم: ١٣٨١ - ١٧٦.

● القول الراجح: هو هذا قول الامام أبي حنيفة رحمه الله كذا في رد المحتار ج:١، ص:٢٦٢. [القول الراجح، ج:١، ص:٥٨]

السَّلَامُ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ لِلْعَصْرِ فِي هٰذَا الْوَقْتِ د صاحبينو دليل: په اوله ورځ د جبرئيل ﷺ په دې وخت کې امامت ورکول دي وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ رحِمَهُ اللهُ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا قول دی أَبْرِدُوْا بِالظُّهْرِ فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ د ماپښين لمونځ په يخ کې کوئ ځکه چې سخته ګرمي د دوږخ له ګرمۍ څخه ده وَأَشَدُّ الْحَرِّ فِي دِيَارِهِمْ فِي هٰذَا الْوَقْتِ او د عربو په سيمو کې به سخته ګرمي هم په دغه وخت کې وه وَإِذَا تَعَارَضَتِ الْآثَارُ او کله چې په آثارو کې تعارض راغلی لَا يَنْقَضِي الْوَقْتُ بِالشَّكِّ نو د شک په وجه به وخت نه ختميږي.

اللغات: ﴿فَيْءٌ﴾ سايه، ﴿فَيْحٌ﴾ د ګرمۍ سختېدل، تندوالی.

تشريح: په دې عبارت کې د ماپښين د اول او آخري وخت په هکله بحث سوی دی، د ماپښين په اول وخت کې خو د ائمه وو اتفاق دی، لکه څنګه چې زموږ د دربو علماؤ په نېز د ماپښين اول وخت بالاتفاق تر زوال وروسته شروع کيږي، ځکه چې حضرت جبرئيل ﷺ اول هم په دغه وخت کې نبي ﷺ ته د ماپښين لمونځ په جماعت ورکړی وو.

لېکن د ماپښين د آخري وخت په باره کې د احنافو علماؤ په مېنځ کې اختلاف دی، له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په تولو رواياتونو کې معتبر او مسند روايت دا دی چې کله له اصلي سايې (سيوري) څخه علاوه د هر شي سايه دوچنده سي نو په دغه وخت کې د ماپښين وخت ختميږي، او د مازيګر وخت شروع کيږي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز چې کله له اصلي سايې څخه علاوه د هر شي سايه يو چند سي، نو بيا د ماپښين وخت ختميږي او د مازيګر وخت شروع کيږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې حضرت جبرئيل ﷺ په اوله ورځ نبي ﷺ ته د مازيګر لمونځ په دغه وخت کې ورکړی وو، يعني چې کله د هر شي سايه يو چند وه، نو معلومه سوه چې له دغه وخت څخه د مازيګر وخت شروع کيږي، کنې د جبرئيل ﷺ امامت به له خپل وخت څخه دباندي سي، کوم چې صحيح نه دي.

د امام صاحب دليل: د ابو سعيد خدري رَحِمَهُ الله حديث دی يعني ابردوا بالظهر فان شدة الحر من فيح جهنم. په دې حديث سره په دې توګه دليل نيسي، چې رسول الله ﷺ په يخنۍ کې د ماپښين د لمانځه حکم کړی دی، او د عربو په علاقو کې به ګرمي هغه وخت ډېر سخته وه چې کله به د هر شي سايه يو چند وه، نو دا خبره منل سوې ده چې د أبردوا مصداق هغه وخت دی کوم چې تر اول مثل (چند) وروسته راسي، نو کله چې تر مثلِ اول وروسته د لمانځه حکم سوی دی، نو بيا په دې کې د مازيګر وخت له کومه راتلی سي؟

وإذا تعارضت الخ له دې ځايه صاحب د هدايې د صاحبينو د دليل جواب ورکوي، جواب دا دی چې کله پر مثلِ اول (اول چند) باندي د ماپښين د وخت په پاته کېدلو او ختمېدلو کې په نصوصو کې تعارض راغلی، يعني د جبرئيل ﷺ له حديث څخه پر مثلِ اول باندي د ماپښين وخت ختمېدل ثابتيږي، او د امام صاحب له حديث څخه پر مثلِ اول باندي د ماپښين وخت پاته کېدل ثابتيږي، نو اوس به د إذا تعارضا تساقطا په وجه دواړه حديثونه يوه طرف ته کيږي، او په خپله به په دې وخت کې غور کيږي، نو تر غور کولو وروسته معلومه سوه چې تر مثلِ اول مخکي د ماپښين وخت په يقيني توګه سره پاته دی، او پر مثلِ اول باندي د دې په پاته کېدلو او نه پاته کېدلو کې نصوص سره متعارض دي، او تر مثلِ اول وروسته د دې په پاته کېدلو او ختمېدلو کې شک دی، حال دا چې تر مثلِ اول مخکي د دې بقاء (پاته کېدل) يقيني

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب استحباب الابراد بالظهر، حديث رقم: ۱۳۹۵.

دي، نو د بقاء يقين د خروج د شک په وجه نه سي ختمېدلای، نو تر مثلِ اول وروسته به هم هغه (د ماپښين وخت) پاته وي، ځکه چي دا د فقهي قاعده ده: اليقين لايزول بالشك.

د فيئ الزوال يعني د اصلي سايې د پېژندګلوی طريقه

صاحب د هدايې له وفيئ الزوال ...الخ څخه د اصلي سايې تعريف بيان کړی دی، حاصل يې دا دی چي د زوال په وخت کي يعني کله چي د غرمې په وخت کي لمر پر سر باندي راسي، په دغه وخت کي چي د شيانو کومه سايه وي، و دغه سايې ته فيئ الزوال يعني اصلي سايه ويل کيږي، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله د دې د پېژندګولی په باره کي د محمد بن شجاع رَحِمَهُ الله دا قول بيان کړی دی چي: بالکل په يوه هواره او برابره ځمکه کي دي يو لرګی جګ کړی سي، او تر کومه ځايه چي د دې لرګي سايه ورسيږي، پر هغه ځای دي نښه ولګول سي، نو تر څو چي د لرګي سايه کميږي نو دغه له زوال څخه مخکي وخت دی، لېکن څرنګه چي سايه ودريږي او په دې کي هيڅ کمي او اضافه نه راځي، نو بس دغه سايه فيئ الزوال يعني اصلي سايه ده، عربي عبارت يې داسي دی: أَصَحُّ مَا قِيلَ فِي مَعْرِفَةِ الزَّوَالِ قَوْلُ مُحَمَّدِ بْنِ شُجَاعٍ أَنَّهُ يُغْرَزُ خَشَبَةٌ فِي مَكَانٍ مُسْتَوٍ وَيُجْعَلُ عَلَى مَبْلَغِ الظِّلِّ مِنْهُ عَلَامَةٌ فَمَا دَامَ الظِّلُّ يَنْقُصُ مِنَ الْخَطِّ فَهُوَ قَبْلَ الزَّوَالِ. فَإِذَا وَقَفَ لَا يَزِيدُ وَلَا يَنْقُصُ فَهُوَ سَاعَةُ الزَّوَالِ الَّتِي هِيَ عِبَارَةٌ عَنْ فَيْءِ الزَّوَالِ. (عنايه ج:۱، ص:۲۲۱)

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی چي هغه فرمايي: د ماپښين آخري وخت پر مثلِ ثاني ختميږي، يعني کله چي د هر شي سايه دوچنده سي، قال العلامة ابن نجيم والاولى قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله. وفي غاية البيان وبها اخذ ابو حنيفة رَحِمَهُ الله وهو المشهور عنه. (البحر الرائق ج:۱، ص:۴۲۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۵۸]

د مازيګر د لمانځه لومړی او آخري وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْعَصْرِ إِذَا خَرَجَ وَقْتُ الظُّهْرِ او د مازيګر اول وخت هغه دی چي کله د ماپښين وخت ووځي عَلَى الْقَوْلَيْنِ پر دوارو قولونو وَآخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ تَغْرُبِ الشَّمْسُ او آخري وخت يې هغه دی تر څو چي لمر لوېدلی نه وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ چا چي تر لمر لوېدلو مخکي د مازيګر يو رکعت ونيوی فَقَدْ أَدْرَكَهَا نو هغه (تولو) د مازيګر لمونځ ونيوی.

اللغات: ﴿أدرك﴾ پيدا کول، موندل (نيول).

تشريح: د مازيګر وخت د ماپښين د وخت تر ختمېدلو وروسته شروع کيږي، هغه که د ماپښين وخت پر دوچندی ختم سي، لکه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز، او که پر يوچندی ختم سي لکه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز، او د مازيګر وخت د لمر تر لوېدلو پوری دی.

دليل: د حضرت ابو هريره رضي الله عنه حديث دی: قال قال رسول الله ﷺ من أدرك من الصبح ركعة قبل أن تطلع الشمس فقد أدرك الصبح ومن أدرك ركعة من العصر قبل أن تغرب الشمس فقد أدرك العصر (صحيحين)، (حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي

● تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم، مسلم في كتاب المساجد، باب من ادرك ركعة من الصلوٰة، حديث رقم: ۱۳۷۴ - ۱۶۳.

نبي ﷺ وفرمايل: چا چې تر لمر راختلو مخکې د سهار يو رکعت ونيوى نو هغه سهار ونيوى، او چا چې تر لمر لوېدلو مخکې د مازيګر يو رکعت ونيوى نو هغه مازيګر ونيوى). له دې حديث څخه معلومه سوه چې د مازيګر وخت د لمر تر لوېدلو پورې دى.

ثمره د اختلاف: که يو چا د سهار لمونځ کوى، او تر يو رکعت کولو وروسته لمر راوخېژي نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز لمونځ باطل سو، يعني چې لمر راوخېژي نو قضاء به يې راوړي، او د امام مالک او امام شافعي او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمُ الله په نېز نه باطلېږي، بلکې هغه به پوره کوي، د دې حضراتو دليل هم دغه د ابو هريره رضي الله عنه حديث دى.

زموږ له طرفه د دې حديث جواب شيخ الادب رَحِمَهُ الله دا ليکلى دى چې د فقد أدرك معنى ده: فقد أدرك وقت الصبح، يعني که يو څوک د لمانځه اهل نه وي، او بيا په داسې وخت کې د لمانځه اهل سي چې د يو رکعت په اندازه وخت پاته وي، نو پر هغه د دې وخت لمونځ واجبېږي، مثلاً کافر مسلمان سي، يا کوچنى بالغ سي، يا حائضه ښځه پاکه سي، دا خبره ياد ساتل پکار دي چې د يوه رکعت اندازه صرف د پوهولو او فهم لپاره ده، ځکه که د يو رکعت وخت ونيسي يا له دې څخه کم، په دواړو صورتونو کې پر هغه لمونځ لازمېږي.

د ماښام د لمانځه لومړى او آخري وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْمَغْرِبِ إِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ او د ماښام اول وخت هغه دى چې کله لمر ولوېږي وَآخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ او آخري وخت يې هغه دى، تر څو چې شفق غائب سوى (ورک سوى) نه وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: مِقْدَارُ مَا يُصَلِّيْ فِيْهِ ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ او امام شافعي فرمايي: دومره اندازه دى چې په هغه کې لمونځ کونکى درې رکعته وکړي لِأَنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ● أَمَّ فِي الْيَوْمَيْنِ فِيْ وَقْتٍ وَاحِدٍ ځکه جبرئيل عليه السلام په دواړو ورځو کې په يوه وخت کې د ماښام لمونځ (په جماعت) ورکړى وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● او زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دى أَوَّلُ وَقْتِ الْمَغْرِبِ حِيْنَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ د ماښام اول وخت هغه دى کله چې لمر لوېږي وَآخِرُ وَقْتِهَا حِيْنَ يَغِيْبُ الشَّفَقُ او آخري وخت يې هغه دى کله چې شفق غائبېږي (ورکيږي) وَمَا رَوَاهُ كَانَ لِلتَّحَرُّزِ عَنِ الْكَرَاهَةِ او کوم حديث چې امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړى دى هغه له کراهت څخه د ځان ساتلو لپاره وو ثُمَّ الشَّفَقُ هُوَ الْبَيَاضُ الَّذِيْ فِي الْأُفُقِ بَعْدَ الْحُمْرَةِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ بيا شفق د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز هغه سپينوالى دى کوم چې له سوروالي (سُرخي) څخه وروسته د آسمان په څنډو (افق) کې ښکاره کيږي وَعِنْدَهُمَا هُوَ الْحُمْرَةُ● او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز همدغه سوروالى شفق دى وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو روايت هم دغسې دى وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول هم دى لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● الشَّفَقُ الْحُمْرَةُ ځکه نبي ﷺ

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب اوقات الصلوات الخمس، حديث رقم: ۱۳۹۲ - ۱۳۹۳.
● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب اوقات الصلوات الخمس، حديث رقم: ۱۳۹۱ - ۱۸۶.
● القول الراجح: قول الامام ابى حنيفة رَحِمَهُ الله، لكن الفتوىٰ على قولهما، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۲۶۲. [القول الراجح، ج:۱، ص:۶۰]
● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الصلوٰة، باب ما روى في صفة المغرب والصبح، حديث رقم: ۱۰۲۳.

فرمايلي دي: شفق سوروالی دی. وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا قول دی وَ آخِرُ وَقْتِ الْمَغْرِبِ إِذَا اسْوَدَّ الْأُفُقُ او د ماښام آخري وخت هغه دی چي کله د آسمان څنډې توري سي وَمَا رَوَاهُ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا امام شافعي رَحِمَهُ الله (او نورو) چي کوم روايت کړی دی هغه پر حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا موقوف دی ذَكَرَهُ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْمُوَطَّأِ امام مالک رَحِمَهُ الله په خپل (کتاب) موطأ کي دا ذکر کړي دي وَفِيْهِ اِخْتِلَافُ الصَّحَابَةِ او په دې کي د صحابه وو اختلاف (هم) دی.

اللغات: ﴿التَّحَرُّز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ځان ساتنه، خوندي کېدنه. ﴿اِسْوَدَّ﴾ د اِفْعَلَال د باب ماضي صيغه ده: تور بدل.

تشريح: د ماښام اول وخت تر لمر لوېدلو وروسته شروع کيږي، او د شفق تر ختمېدلو پوري پاته کيږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د ماښام وخت صرف دومره اندازه دی چي په هغه کي درې رکعته ادای کړی سي او دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول دی، امام غزالي رَحِمَهُ الله فرمايي چي له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه د ماښام د وخت په باره کي دوه قولونه را نقل سوي دي: (۱) دا چي د ماښام وخت د شفق تر ختمېدلو پوري دی. همدا قول د امام ابن حنبل رَحِمَهُ الله دی، (۲) دويم قول دا دی چي که تر لمر لوېدلو وروسته د اودس، اذان، اقامت او د پنځو رکعتونو وخت تېر سو، نو داسي وګڼه چي د ماښام وخت ختم سو، او په حليه کي ويل سوي دي چي صرف دومره دی چي درې رکعته پکښې وکړئ سي، مصنف د هدايې رَحِمَهُ الله دغه قول ذکر کړی دی.

د امام شافعي دليل: د جبرئيل عليه السلام د امامت والا حديث دی، يعني جبرئيل عليه السلام د ماښام لمونځ په دواړو ورځو کي په يوه وخت کي ورکړی، نو که د ماښام د لمانځه وخت اوږدېدلای، نو حضرت جبرئيل عليه السلام به په دواړو ورځو کي په يوه وخت کي لمونځ نه ورکولای.

زموږ دليل: د حضرت ابو هريره رضي الله عنه حديث دی: أول وقت المغرب حين تغرب الشمس و آخره حين يغيب الشفق.

جواب: د امام شافعي د دليل جواب دا دی چي په دواړو ورځو کي د جبرئيل عليه السلام په يوه وخت کي لمونځ ورکول خو له کراهت څخه د خوندي کېدلو لپاره وو، ځکه چي د ماښام لمونځ تر آخري وخته ځنډول مکروه دي.

د شفق ابيض او شفق احمر تفصيل

د لمر تر لوېدلو وروسته اول د اسمان په څنډو (افق) کي سوروالی راځي، تر هغه وروسته سپينه رڼا غوړيږي، بيا دغه سپينه رڼا اوږده غونډي سي چي هغه ته بياض مستطير او بياض مستطيل ويل کيږي. تر دې وروسته د اسمان په څنډو کي په پوره توګه تياره وغوړيږي، نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز چي تر سوروالي وروسته کومه سپينه رڼا يعني بياض مستطير راسي تر هغه وخته پوري د ماښام وخت دی، تر هغه وروسته د ماخوستن وخت شروع کيږي، لېکن د صاحبينو او جمهورو علماؤ په نېز چي تر بياض مستطير مخکي کوم سوروالی دی تر هغه وخته پوري د ماښام وخت دی.

د صاحبينو دليل: د نبي ﷺ دا حديث دی: الشفق الحمرة.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الصلوٰة، باب فى المواقيت، حديث رقم: ۳۹۴.

د امام ابو حنيفه دليل: د ابو هريره ﷺ حديث دی: أن النبي ﷺ قال: وآخر وقت المغرب إذا اسود الأفق. (چي نبي ﷺ فرمايلي دي: د ماښام آخري وخت هغه دی چي کله افق تور سي)، او معلومه ده چي پر افق باندي توروالی تر سپينوالي وروسته غوړيږي، نو معلومه سوه چي تر سپينوالي پوري وخت پاته وي، نو په حديث کي له شفق څخه مراد سپين والی سو.

جواب: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله حديث الشفق الحمرة پر حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما باندي موقوف دی، او دغه امام مالک رَحِمَهُ الله په موطأ کي هم ذکر کړی دی، او موقوف حديث د حجت او استدلال لايق نه دی.

او که دا ومنل سي چي دا حديث مرفوع دی نو موږ جواب ورکوو چي د دې حديث په مراد کي د صحابه وو اختلاف دی، لکه څرنګه چي بعضو ويلي دي: له شفق څخه مراد سپينوالی دی. او بعضو ويلي دي: چي سوروالی دی. او په مرفوع حديث کي که د صحابه وو اختلاف وي، نو هغه هم د استدلال لايق نه سي کېدلای.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د امام صاحب دی خو فتویٰ د صاحبينو پر قول ده. قال العلامة جلال الدين الخوارزمي رَحِمَهُ الله بعد تفصيل المسئلة فقول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله واثق لان الاصل في باب الصلوة ان لا يثبت منها ركن ولا شرط الا بما فيه يقين وقولهما اوسع للناس. كذا ذكره في الاسرار. (الكفاية ج:۱، ص:۱۹۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۶۰]

د ماخوستن د لمانځه لومړی او آخري وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْعِشَاءِ إِذَا غَابَ الشَّفَقُ او د ماخوستن اول وخت هغه دی چي کله شفق غائب (ورک) سي وَآخِرُ وَقْتِهَا مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ او آخري وخت يې هغه دی تر څو چي سهار راختلی نه وي (يعني تر څو چي سهار سوی نه وي) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي وَآخِرُ وَقْتِ الْعِشَاءِ حِينَ لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ او د ماخوستن آخري وخت هغه دی تر څو چي سهار راختلی نه وي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي تَقْدِيرِهِ بِذَهَابِ ثُلُثِ اللَّيْلِ او دا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی چي هغه د شپې تر دريمي حصې پوري د ماخوستن وخت متعين کړی دی.

اللغات: ﴿شفق﴾ هغه سور والی چي تر لمر لوېدلو وروسته پر آسمان ښکاره کيږي، ﴿ذهاب﴾ د فتح د باب مصدر دی: تلل، تېرېدل.

تشريح: د ماخوستن وخت تر شفق ختمېدلو وروسته شروع کيږي، او آخري وخت يې تر صبح صادق راختلو مخکي دی، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د ماخوستن وخت د شپې تر د دريمي حصې وروسته ختميږي، يعني د شپې تر دريمي حصې پوري د ماخوستن وخت پاته وي، او تر هغه وروسته ختميږي.

زموږ دليل: د حضرت ابو هريره ﷺ حديث دی: أنه قال ﷺ وآخر وقت العشاء حين يطلع الفجر. دا حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د ماخوستن وخت تر صبح صادق پوري دی.

د امام شافعي دليل: د حضرت جبرئيل عليه السلام حديث دی، ځکه چي هغه حديث پر دې دلالت کوي چي د ماخوستن آخري وخت د شپې تر دريمي حصې پوري دی، لېکن زموږ له طرفه جواب مخکي تېر سو (د ماپښين د لمانځه په وخت کي، هلته يې وګورئ!).

● تخريج: أخرجه الطحاوي في شرح معاني الآثار، باب مواقيت الصلوٰة، حديث رقم: ۹۱۲ و ۱۲۰.

د وترو لومړی او آخري وخت

وَأَوَّلُ وَقْتِ الْوِتْرِ بَعْدَ الْعِشَاءِ او د وترو اول وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته دی وَآخِرُهُ مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ او آخري وخت يې هغه دی تر څو چې سهار سوی نه وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● فِي الْوِتْرِ ځکه نبي ﷺ د وترو په باره کي فرمايلي دي فَصَلُّوهَا مَا بَيْنَ الْعِشَاءِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ وتر د ماخوستن او سهار په مينځ کي کوئ قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: هٰذَا عِنْدَهُمَا صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا حکم د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله ● وَقْتُهُ وَقْتُ الْعِشَاءِ او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز د وترو وخت د ماخوستن د لمانځه وخت دی إِلَّا أَنَّهُ لَا يُقَدَّمُ عَلَيْهِ عِنْدَ التَّذَكُّرِ لېکن د يادېدلو په وخت کي به وتر د ماخوستن تر لمانځه نه مخکي کېږي لِلتَّرْتِيبِ د ترتيب په وجه (ځکه چي ترتيب واجب دی).

اللغات: «التَّذَكُّر» د تفعّل د باب مصدر دی: يادول.

تشريح: د وترو په اول وخت کي اختلاف دی، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د ماخوستن تر لمانځه وروسته د وترو وخت شروع کېږي او تر سهار راختلو پوري پاته وي، او د امام صاحب په نيز د ماخوستن وخت د وترو وخت دی، يعني کوم وخت چي د ماخوستن د لمانځه دی، هغه د وترو هم دی.

د صاحبينو دليل: د حضرت خارجه بن حذافه رضي الله عنه حديث دی: قال خرج علينا رسول الله ﷺ فقال إن الله زادكم بصلاة هي خير لكم من حمر النعم وهي الوتر فجعلها لكم فيما بين العشاء إلى طلوع الفجر (حضرت خارجه بن حذيفه رضي الله عنه فرمايي چي رسول الله ﷺ موږ ته راغلی او يې وفرمايل: الله تعالیٰ ستاسو لپاره يو لمونځ زيات کړی دی چي هغه ستاسو لپاره له سرو اوښانو څخه هم غوره دی، او هغه د وترو لمونځ دی، نو هغه يې ستاسو لپاره د ماخوستن او سهار (صبح صادق) په مينځ کي وګرځوی، فتح القدير) صاحب د هدايې فرمايي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: فصلوا ما بين العشاء إلى طلوع الفجر دا وتر د ماخوستن او صبح صادق په مينځ کي کوئ!.

د امام صاحب دليل: دا دی چي وتر عملاً فرض دي، (يعني لکه څرنګه چي فرض په پابندي سره اداء کېږي دغه رنګه وتر هم) او قاعده دا ده چي که په يوه وخت کي دوه واجب لمونځونه سره جمع سي، نو د دې دواړو لمونځونو به يو وخت وي، هيڅ تقديم او تأخير به پکښي نه وي، لکه فائته او وقتيه، دلته پر امام صاحب يو اعتراض کېږي.

سوال: پر امام صاحب دا اعترض کېږي چي که د دواړو يو وخت وي نو بيا پکار دا وه چي د ماخوستن پر لمانځه د وترو مخکي کول جائز واى، حال دا چي دا صحيح نه ده.

جواب: دا دی چي د يادېدلو په حالت کي مخکي کول ځکه جائز نه دي (يعني کله چي د انسان د ماخوستن لمونځ په ياد وي نو په دې حالت کي د وترو مخکي کول ځکه جائز نه دي) چي په وترو او عشاء کي ترتيب واجب دی، نو که يې وتر قصداً او عمداً د ماخوستن تر لمانځه مخکي کړه، نو بالاتفاق د وترو راګرځول ضروري دي، او که يې د ماخوستن لمونځ هېر سو (په ياد يې نه وو) او د وترو لمونځ يې وکړی، نو د امام صاحب په نيز به يې نه راګرځوي، ځکه چي هېره ترتيب ساقطوي، او د صاحبينو په نيز به يې راګرځوي، ځکه چي د صاحبينو په نيز وتر د ماخوستن سنت دي نو لکه

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الوتر، باب استحباب الوتر، حديث رقم:۱۴۱۸، و ترمذي في كتاب الوتر، باب ما جاء في فضل الوتر، حديث رقم:۴۵۲.

● القول الراجح: قولي أبي حنيفه رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:۱، ص:۲۶۶. [القول الراجح، ج:۱، ص:۶۲]

ځکه چې د ماخوستن دوه رکعت سنت د ماخوستن پر لمانځه مخکې کول جائز نه دي، هغه که عمداً وي او که په هېره سره وي، همدارنګه وتر هم د ماخوستن پر لمانځه مخکې کول جائز نه دي، نه عمداً او نه نسياناً.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة اکمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: وعند ابي حنيفة رَحِمَهُ الله وقته وقت العشاء لان الوتر عنده فرض عملاً والوقت اذا جمع بين الصلاتين واجبتين كان وقتا لهما جميعاً. (العناية ج:۱، ص:۱۹۷). [القول الراجح ج:۱، ص:۶۲]

مستحب وختونه ..... د سهار، ماپښين او مازيګر مستحب وختونه

فَصْلٌ (دا) فصل (د مستحب وختونو په بيان کې) دی وَيُسْتَحَبُّ الْإِسْفَارُ بِالْفَجْرِ او د سهار لمونځ په رڼا کې کول مستحب دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي أَسْفِرُوا بِالْفَجْرِ فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ د سهار لمونځ په رڼا کې کوئ ځکه په دې کې ثواب زيات دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يُسْتَحَبُّ التَّعْجِيلُ فِي كُلِّ صَلَاةٍ او امام شافعي فرمايي: چې په هر لمانځه کې تېزي (تلوار) کول مستحب دي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَا لېکن د هغه په خلاف هغه روايت حجت دی کوم چې مونږ بيان کړی وَمَا نَرْوِيهِ او هغه روايت (هم حجت دی) چې په آينده کې به يې مونږ بيان کړو وَالْإِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِي الصَّيْفِ او د ګرمۍ په موسم کې د ماپښين لمونځ په يخنۍ کې کول (مستحب دی) وَتَقْدِيمُهُ فِي الشِّتَاءِ او دژمي په موسم کې مخکې کول (مستحب دي) لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې مونږ بيان کړی وَلِرِوَايَةِ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ● قَالَ او د حضرت انس رضی الله عنه د حديث په وجه چې هغه فرمايي كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ فِي الشِّتَاءِ بَكَّرَ بِالظُّهْرِ کله چې به دژمي موسم وو نو نبي ﷺ به د ماپښين په لمانځه کې تلوار کوی وَإِذَا كَانَ فِي الصَّيْفِ أَبْرَدَ بِهَا او کله چې به ګرمي وه نو د ماپښين لمونځ به يې په يخنۍ کې کوی (يعني چې کله به هوا څه يخه سوه) وَتَأْخِيرُ الْعَصْرِ او د مازيګر لمونځ وروسته کول (مستحب دي) مَا لَمْ تَتَغَيَّرِ الشَّمْسُ فِي الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ تر څو چې لمر بدل سوی نه وي په ګرمۍ او ژمي کې لِمَا فِيهِ مِنْ تَكْثِيرِ النَّوَافِلِ ځکه په داسې کولو سره په نفلونو کې زياتوب راځي لِكَرَاهَتِهَا بَعْدَهُ ځکه چې د مازيګر تر لمانځه وروسته نفلونه مکروه دي وَالْمُعْتَبَرُ تَغَيُّرُ الْقُرْصِ او (د لمر په بدلېدلو) د لمر د ټکۍ بدلېدل معتبره دي وَهُوَ أَنْ يَصِيرَ بِحَالٍ او د لمر د ټکۍ بدلېدل د لمر په داسې حال کېدل دي لَا تَحَارُ فِيهِ الْأَعْيُنُ چې په لمر کې سترګې نه بريښي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح قول دی وَالتَّأْخِيرُ إِلَيْهِ مَكْرُوهٌ او تر دې وخته د مازيګر لمونځ ځنډول مکروه دي.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوٰة، باب وقت الصبح حديث رقم: ۴۲۴.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجمعة، باب اذا اشتد الحرّ يوم الجمعة، حديث رقم: ۹۰۶.

اللغات: ﴿إِسْفَار﴾ د افعال د باب مصدر دی: روښانه کول. ﴿تَعْجِيل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: تلوار کول، چابکي کول، ژر والی. ﴿إِبْرَاد﴾ د افعال د باب مصدر دی: یخول. ﴿صَيف﴾ گرمي، (اوړی) ﴿شِتَاء﴾ یخ. (ژمی). ﴿تَبْكِير﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: یو کار وختي کول. یو کار په اول وخت کي کول. ﴿قُرْص﴾ ټکی، گولی. ﴿يُحَار﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله صیغه ده. أحار يُحِيرُ: حیرانول، برېښول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز د سهار لمونځ په رڼا کي کول مستحب دي، دلیل د نبي ﷺ دا قول دی: أسفروا بالفجر فإنه أعظم للأجر او له دې حدیث څخه زموږ دلیل په دې توگه دی چي نبي ﷺ د امر په صیغه سره په رڼا کي د لمونځ کولو حکم کړی دی او د امر کمه درجه استحباب دی، نو ځکه به د نبي ﷺ دا فرمان پر استحباب حمل کیږي، او په دغه وخت کي به د سهار لمونځ مستحب گرځول کیږي.

• د اسفار مطلب: صاحب د عنایه رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي په رڼا کي د لمونځ کولو مطلب دا دی چي تر لمر راختلو دومره مخکي لمونځ وکړی سي چي که بیا د لمونځ کولو نوبت راسي نو چي دومره وخت لا پاته وي چي بیا اودس هم وکړی سي او لمونځ د سنت قرائت مطابق هم اداء کړی سي. (عنایه ج:۱، ص:۲۲۷)

د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي ټوله لمونځونه ژر او په تلوار کول مستحب دي. او د ژر مطلب دا دی چي د وخت په اوله نیمه حصه کي لمونځ وکړی سي، نو کله چي په ټولو لمونځونو کي تعجیل (تلوار) مستحب دی، نو ښکاره ده چي د سهار په لمانځه کي هم تلوار مستحب دی.

د امام شافعي دلیل: هغه حدیث دی کوم چي په بخاري او نورو کي له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه په دې الفاظو رانقل سوی دی: كان رسول الله ﷺ يصلي الصبح فينصرف النساء متلفعات بمروطهن ما يعرفن من الغلس. (یعني نبي ﷺ به د سهار لمونځ کوی (او کله چي به له لمانځه څخه فارغ سو) نو ښځي به په خپلو پوړنیانو کي پیچل سوي (خپلو کورو) ته واپس تلې چي د تیارې په وجه به نه پېژندل کېدلې). نو دا حدیث پر دې شاهد دی چي نبي ﷺ به په غلس (تیاره) کي لمونځ کوی او له لمانځه څخه به په غلس کي فارغه کېدی.

د دلیل جواب: زموږ د له طرفه د دې حدیث اول جواب دا دی چي دا حدیث فعلي دی او زموږ بیان سوی حدیث قولي دی، او قاعده دا ده چي کله د فعلي او قولي حدیث په مینځ کي تعارض راسي، نو قولي حدیث ته ترجیح ورکول کیږي.

دویم جواب: دا دی چي په حدیث کي د من الغلس جمله له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه نه ده، بلکي له یو راوي څخه ده، او د ښځو د نه پېژندگلوۍ سبب راوي من الغلس گڼلی دی، او پر حدیث باندي یې اضافه کړی دی، ځکه چي همدغه روایت په ابن ماجه شریف صفحه: ۴۹ کي هم راغلی دی خو په هغه کي د من الغلس جمله نسته.

د ماپښین لمونځ: د ماپښین د لمانځه حکم دا دی چي د گرمۍ په موسم کي په یخه هوا کي کول مستحب دی، او د ژمي په موسم کي ژر کول (یعني تعجیل کول) مستحب دي، د دې اول دلیل هغه روایت دی کوم چي مخکي بیان سو یعني: أبردوا بالظهر فإن شدة الحر من فيح جهنم او دویم دلیل د حضرت انس ﷺ دغه حدیث دی: كان رسول الله ﷺ إذا كان في الشتا بكر بالظهر وإذا كان في الصيف أبرد بها. (یعني نبي ﷺ به په یخ کي لمونځ ژر کوی، او په گرمي به یې په یخ وخت کي کوی)، د دې مسئلې په اړه دا حدیث ډېر ښکاره دی، او د یخ او گرمۍ دواړو موسمونو په باره کي د حنفي مسلک پوره تائید کوي.

د مازيګر لمونځ: د مازيګر لمونځ په ژمي او ګرمي دواړو کي ځنډول افضل او مستحب دي، او د استحباب وجه يې دا ده چي د مازيګر تر لمانځه وروسته نفل کول مکروه دي، نو څومره چي د مازيګر لمونځ ځنډول کيږي هغومره د زياتو نفلونو موقع انسان ته په لاس ورځي ځکه چي د مازيګر تر لمانځه مخکي نفل روا دي، لېکن وروسته مکروه دي، لېکن په ځنډولو کي دا خبره هم ياد ساتل پکار ده چي دومره دي نه ځنډول کيږي چي په مکروه وخت کي لمونځ اداء کړى سي، صاحب د هدايې د دې ځنډولو غايت د لمر تغيّر ګرځولى دى، يعني دلمر په ټکى کي تر تغيرّ او تبديلي راتللو مخکي د مازيګر لمونځ کول مستحب دى، او بالکل په هغه وخت کي چي سترګي پر لمر نه بريښي يعني سترګي ورته نيول کېدى سي د مازيګر لمونځ مکروه دي.

د ماښام مستحب وخت

> وَيُسْتَحَبُّ تَعْجِيْلُ الْمَغْرِبِ او د ماښام په لمانځه کي تلوار کول مستحب دي لِأَنَّ تَأْخِيْرَهَا مَكْرُوهٌ ځکه چي د ماښام لمونځ ځنډول مکروه دي لِمَا فِيْهِ مِنَ التَّشَبُّهِ بِالْيَهُوْدِ ځکه چي په دې کي د يهودو سره مشابهت دى وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] او نبي ﷺ فرمايلي دي لَا تَزَالُ أُمَّتِيْ بِخَيْرٍ زما امت به تر هغه وخته پر خير وي مَا عَجَّلُوا الْمَغْرِبَ وَأَخَّرُوا الْعِشَاءَ تر څو چي د ماښام په لمانځه کي تلوار کوي او د ماخوستن په لمانځه کي تأخير کوي.

اللغات: ﴿التشبه﴾ د تفعّل مصدر دى: مشابهت او يورنګوالى اختيارول.

تشريح: د ماښام په لمانځه کي تلوارکول مستحب دي، يعني د اذان او اقامت په مينځ کي دي فاصله نه کوي، پر ته له لږغونډي ناستي يا چوپتيا څخه، د دې اول دليل دا دى چي د ماښام لمونځ ځنډول مکروه دي، هغه په دې وجه چي په دې کي د يهودو سره ورته والى راځي، ځکه چي يهودو به د ماښام لمونځ په ځنډ سره کوى، دويم دليل د نبي ﷺ دا قول دى:

لايزال أمتي بخير ما عجّلوا المغرب و أخروا العشاء.

د ماخوستن مستحب وخت

> وَتَأْخِيْرُ الْعِشَاءِ إِلَى مَا قَبْلَ ثُلُثِ اللَّيْلِ او د شپې د دريمي حصې تر مخکي پوري د ماخوستن لمونځ ځنډول مستحب دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[2] ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِيْ که ما ته زما پر امت د تکليف (او بوج) انديښنه نه واى لَأَخَّرْتُ الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ نو ما به د ماخوستن لمونځ د شپې تر دريمي حصې پوري ځنډولى واى وَلِأَنَّ فِيْهِ قَطْعَ السَّمَرِ الْمَنْهِيِّ عَنْهُ[3] بَعْدَهُ او په دې وجه (هم) چي په دې کي د ګپ شپ (قصه خوانى) ختمول دي چي د ماخوستن تر لمانځه وروسته له هغه څخه منع سوې ده وَقِيْلَ فِي الصَّيْفِ تُعَجَّلُ كَيْ لَا تَتَقَلَّلَ الْجَمَاعَةُ او ويل سوي دي چي په ګرمي کي دي (د ماخوستن لمونځ) ژر کيږي چي جماعت کم نه سي وَالتَّأْخِيْرُ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ مُبَاحٌ او تر نيمي شپې پوري ځنډول روا دي لِأَنَّ دَلِيْلَ الْكَرَاهَةِ وَهُوَ تَقْلِيْلُ الْجَمَاعَةِ عَارَضَه دَلِيْلُ النَّدْبِ وَهُوَ قَطْعُ

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوٰة، باب في وقت المغرب، حديث ۴۱۸.

[2] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلوٰة، باب ما جاء في تأخير صلوٰة العشاء، حديث رقم:۱۶۷.

[3] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب مواقيت الصلوٰة، باب وقت العصر، حديث رقم: ۵۴۷.

السَّمَرِ بِوَاحِدٍ ځکه چي د کراهت د دلیل سره چي هغه کمښت د جماعت دی دلیل د استحباب چي هغه دیو چا سره د ګپ شپ ختمول دي معارض سو (په لنډه توګه دا چي د کراهت د دلیل سره د استحباب دلیل معارض سو) فَتَثْبُتُ الْإِبَاحَةُ نو روایښت به ثابتیږي وَإِلَى النِّصْفِ الْأَخِيرِ مَكْرُوهٌ او (د شپې) تر آخري نیمي حصې پوري ځنډول مکروه دي لِمَا فِيهِ مِنْ تَقْلِيلِ الْجَمَاعَةِ ځکه چي په دې کي د جماعت کمښت دی وَقَدِ انْقَطَعَ السَّمَرُ قَبْلَهُ او ګپ شپ خو تر دې مخکي (لا) ختم سوی دی.

اللغات: ﴿أَشُقُّ﴾ شَقَّ يَشُقُّ، د نصر د باب واحد متکلم مضارع صیغه ده: سختول؛ درنول. ﴿سمر﴾ د شپې یعني تر لمانځه وروسته تر ډېره خبري کول، ګپه شپه او قصې کول.

تشریح: د ماخوستن لمونځ د شپې د دریمي حصې تر مخکي پوري ځنډول مستحب دي، او په شرح نقایه کي راغلي دي چي د شپې تر دریمي حصې پوري ځنډول مستحب دي، د دې اول دلیل د نبي ﷺ ارشاد دی: لو لا أن أشق على أمتي لأخرت العشاء إلى ثلث الليل، دویم دلیل دا دی چي د ماخوستن تر لمانځه وروسته ګپه شپه او قصې شرعاً ممنوع دي، نبي ﷺ فرمايي: لا سمر بعد العشاء، (یعني د ماخوستن تر لمانځه وروسته ګپه او قصې کول نسته)؛ بعضي فقهاؤ لیکلي دي چي د ګرمی په موسم کي د ماخوستن لمونځ په تلوار سره کول پکار دي ځکه چي د ګرمی په موسم کي شپې ډېري کوچنۍ وي نو که لمونځ وځنډول سي نو په جماعت کي به کمښت راسي.

والتأخير الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د ماخوستن لمونځ تر نیمي شپې پوري ځنډول مباح دي، دلیل یې دا دی چي په ځنډولو کي یې په دې اعتبار سره کراهت دی چي په جماعت کي به کمښت راسي، او په دې اعتبار سره مستحب دي چي قصې او ګپه به بالکل ختمه سي (ځکه چي هر سړی به ژر بیدیږي چي بیا ژر (د ماخوستن) لمانځه ته راپورته سي) نو هر کله چي په دلیل د استحباب او دلیل د کراهت کي تعارض راغلی نو دواړه دلائل ساقط سول او اباحت پاته سو.

والى النصف الاخير الخ او تر نصف اخیر پوري ځنډول مکروه دي، ځکه چي د کراهت او د جماعت د کمښت دواړه دلیلونه موجود دي، او دلیل د استحباب ورسره معارض نه دی، ځکه چي قصې او ګپه کول خو تر دې مخکي ختم سوي وي، نو دلیل د استحباب پاته نه سو، نو چي طیل د استحباب پاته نه سو نو اباحت هم نه پاتیږي، لکه څرنګه چي په مخکي صورت کي اباحت وو.

د اثمار الهدایه تحقیق

صاحب د اثمار الهدايې د "ثلث الليل" او "النصف الاخير" په باره کي وايي، چي ثلث الليل یعني د شپې دریمه حصه د ماخوستن له لسو(۱۰) بجو څخه شروع کیږي، یعني د ماخوستن پر لس بجې د شپې دریمه حصه ده، ځکه که ټوله شپه دوولس ساعته(ګېنټې) ومنل سي، نو د شپې دریمه حصه د ماښام تر لمانځه څلور ساعته وروسته راځي، چي هغه تقریباً لس بجې کیږي، او نصف الاخیر یعني د شپې آخري نیمه حصه له دوولسو(۱۲) بجو څخه شروع کیږي، یعني تر دوولس بجو وروسته د ماخوستن لمونځ کول مکروه دي، خو که وسي، نو اداء کیږي. [اثمار الهدایه ج:۱، ص:۳۴۴]

د وترو مستحب وخت

وَيُسْتَحَبُّ فِي الْوِتْرِ لِمَنْ يَأْلَفُ صَلَاةَ اللَّيْلِ آخِرَ اللَّيْلِ او د هغه سړي لپاره په وترو کې چې د تهجدو سره محبت لري د شپې آخري وخت مستحب دی فَإِنْ لَمْ يَثِقْ بِالِانْتِبَاهِ أَوْتَرَ قَبْلَ النَّوْمِ او که پر ویښېدلو يې باور نه وو نو تر خوب مخکې دې وتر وکړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: مَنْ خَافَ أَنْ لَا يَقُومَ آخِرَ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ أَوَّلَ اللَّيْلِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: د چا سره چې دا يره وي چې په آخر د شپې کې به را ويښ نه سي نو په اول د شپې کې دې وتر وکړي وَمَنْ طَمِعَ أَنْ يَقُومَ آخِرَ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ او که د چا دا اميد وي چې د شپې په آخر کې به را ويښ سي نو په آخر د شپې کې دې وتر وکړي.

اللغات: ﴿يألف﴾ د سمع د باب مضارع صيغه ده: محبت کول. ﴿يثق﴾ د ضرب د باب مضارع صيغه ده: يقين کېدل، باور کېدل. ﴿انتباه﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ويښېدل، بيداره کېدل، په هوښ کې راتلل.

تشريح: صاحب د هدايې د وترو د مستحب وخت په باره کې فرمايي چې د چا د تهجدو لمونځ خوښ وي او د تهجدو عادت يې وي، نو د هغه لپاره د شپې په آخر کې (تر تهجدو وروسته) وتر کول مستحب دي. خو که د يو چا د شپې په آخر کې پر ځان د راپورته کېدلو باور نه وي نو هغه دې وتر تر خوب مخکې کوي. او په حديث شريف کې د دې دواړو صورتونو ذکر سوی دی. حديث په کتاب کې ذکر سو، يعني: من خاف أن لا يقوم ...الخ.

د وريځې په ورځ د پنځو لمونځونو مستحب وختونه

وَإِذَا كَانَ يَوْمُ غَيْمٍ او کله چې ورځ د وريځې وي فَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْفَجْرِ وَالظُّهْرِ وَالْمَغْرِبِ تَأْخِيرُهَا نو په سهار، ماپښين او ماښام کې د لمانځه ځنډول مستحب دي وَفِي الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ تَعْجِيلُهُمَا او په مازيګر او ماخوستن کې د لمانځه ژر کول مستحب دي لِأَنَّ فِي تَأْخِيرِ الْعِشَاءِ تَقْلِيلَ الْجَمَاعَةِ عَلَى اعْتِبَارِ الْمَطَرِ ځکه چې د ماخوستن په ځنډولو کې د باران په وجه په جماعت کې کمښت راځي وَفِي تَأْخِيرِ الْعَصْرِ تَوَهُّمُ الْوُقُوعِ فِي الْوَقْتِ الْمَكْرُوهِ او د مازيګر په ځنډولو کې په مکروه وخت کې د داخلېدلو وهم سته وَلَا تَوَهُّمَ فِي الْفَجْرِ او په سهار کې (څه) وهم نسته لِأَنَّ تِلْكَ الْمُدَّةَ مَدِيدَةٌ ځکه چې د سهار وخت اوږد وي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ التَّأْخِيرُ فِي الْكُلِّ لِلِاحْتِيَاطِ او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه (يو) روايت (دا) دی چې د احتياط په وجه ټوله لمونځونه ځنډول مستحب دي أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَجُوزُ الْأَدَاءُ بَعْدَ الْوَقْتِ لَا قَبْلَهُ آيا ته نه ګورې چې تر وخت وروسته اداء جائز ده، نه تر وخت مخکې.

اللغات: ﴿غيم﴾ وريځ.

تشريح: مخکې د هغو پنځو مستحب وختونو بيان وو چې موسم برابر وي او آسمان شين وي، خو که موسم خراب وو او اسمان شين نه وو بلکې وريځ وه، نو په دې صورت کې صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله دا ضابطه بيان کړې ده چې العين مع

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الوتر باب ما جاء في كراهية النوم قبل الوتر، حديث رقم:٤٥٥.

العين يعني هغه لمونځ چې په هغه کې عين وي لکه عشاء او عصر يعني د ماخوستن او مازيګر لمونځ نو په هغه کې به عجلت يعني تلوار او چابکي کيږي او له دې دواړو څخه به علاوه په نورو لمونځونو کې تأخير کيږي. د وريځې په ورځ د ماخوستن په لمانځه کې د تلوار وجه دا ده چې که په داسې حالت کې د ماخوستن جماعت وروسته کړی سي نو په جماعت کې به کمښت راسي، او خلک به د باران په وجه سستي وکړي، او په رخصت باندې به عمل وکړي، ځکه چې کله به د باران ورځ وه نو نبي ﷺ به تر اذان وروسته دا اعلان کوی: ألا صلوا في رحالكم (خبردار! په خپلو کورنو کې لمونځونه وکړئ!)، او د مازيګر په لمانځه کې د تلوار وجه دا ده چې د وريځ په ورځ دا احتمال کېدای سي چې داسې نه د مازيګر لمونځ په مکروه وخت کې راسي، نو ځکه به د مازيګر په لمانځه کې تلوار مستحب وي.

ولا توهم في الفجر الخ د دې په خلاف د سهار په لمانځه کې دا ګومان نه سي کېدلای، ځکه چې د سهار د لمانځه وخت اوږد وي (يعني له طلوع فجر څخه واخله تر طلوع شمس پوري)، نو که څه هم د سهار لمونځ وروسته کړی سي. نو په هغه کې د لمر راختلو په وخت کې د لمانځه واقع کېدلو بيره نسته. نو ځکه د وريځې په ورځ د سهار په لمانځه کې تأخير مستحب دی.

او په ماپښين او ماښام کې تأخير ځکه مستحب دی چې که د وريځې په ورځ دا لمونځونه مخکې وکړی سي نو تر وخت مخکې د اداء کېدلو احتمال پکښې سته، او له وخت څخه مخکې لمونځ کول جائز نه دي، نو ځکه په دې کې تأخير مستحب دی.

وعن أبي حنيفة الخ حسن بن زياد له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا هم را نقل کړی دی چې د احتياط په وجه د وريځې په ورځ په ټولو لمونځونو کې تأخير کول غوره دي، ځکه چې په تعجيل کې تر وخت مخکې د اداء کولو احتمال سته او په تأخير کې تر وخت وروسته د اداء احتمال سته، او دا خبره منل سوې ده چې لمونځ که تر وخت وروسته وسي نو بيا هم معتبر دی، که اداء نه سي، قضاء خو به يې خامخا او ګرځول سي، لېکن تر وخت مخکې نه د اداء اعتبار سته او نه د قضاء، نو ځکه به احتياطاً په ټولو لمونځونو کې تعجيل مستحب وي.



فَصْلٌ فِي الْأَوْقَاتِ الَّتِي تُكْرَهُ فِيهَا الصَّلَاةُ

(دا) فصل د لمانځه د مکروو وختونو (په بيان کي) دی

تشريح: په مخکني فصل کي د لمانځه مستحب وختونه بيان سول، اوس په دې فصل کي د لمانځه مکروه وختونه بيانيږي؛ مکروه: هغه کار ته ويل کيږي چي نه کول يې تر کولو غوره وي.

مکروه وختونه(په کومو وختونو کي لمونځ جائز نه دی)

لَاتَجُوْزُ الصَّلَاةُ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ لمونځ جائز نه دی د لمر د راختلو پر وخت وَلَاعِنْدَ قِيَامِهَا فِي الظَّهِيْرَةِ او نه په غرمه کي د لمر د درېدلو پر وخت وَلَاعِنْدَ غُرُوْبِهَا او نه د لمر د لوېدلو پر وخت لِحَدِيْثِ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ● د عقبه بن عامر رضي الله عنه د حديث په وجه قَالَ عقبه بن عامر رضي الله عنه فرمايي ثَلَاثَةُ أَوْقَاتٍ نَهَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُصَلِّيَ فِيْهَا وَأَنْ نَقْبُرَ فِيْهَا مَوْتَانَا درې وختونه دي چي په هغو کي مونږ نبي ﷺ له لمونځ کولو او مړي ښخولو څخه منع کړي يو عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ حَتَّى تَرْتَفِعَ د لمر راختلو په وخت کي تر دې چي را پورته سي وَعِنْدَ زَوَالِهَا حَتَّى تَزُوْلَ او د لمر د زوال په وخت کي تر دې چي زائله سي وَحِيْنَ تَضِيْفُ لِلْغُرُوْبِ حَتَّى تَغْرُبَ او چي کله لمر لوېدلو ته مائله سي تر دې چي ولوېږي وَالْمُرَادُ بِقَوْلِهِ وَأَنْ نَقْبُرَ: صَلَاةُ الْجِنَازَةِ او د مصنف رَحِمَهُ الله له دې قول أن نقبر څخه مراد: د جنازې لمونځ دی لِأَنَّ الدَّفْنَ غَيْرُ مَکْرُوْهٍ ځکه چي ښخول مکروه نه دي وَالْحَدِيْثُ بِإِطْلَاقِهِ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او حديث د خپل اطلاق په وجه پر امام شافعي رَحِمَهُ الله حجت دی فِي تَخْصِيْصِ الْفَرَائِضِ بِمَکَّةَ د مکې مکرمې سره د فرضو په خاصولو کي وَحُجَّةٌ عَلَى أَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او پر امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله حجت دی فِي إِبَاحَةِ النَّفْلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَقْتَ الزَّوَالِ د جمعې په ورځ د زوال په وخت کي د نفلو په روا ګرځولو سره.

اللغات: ﴿الظَّهِيْرَة﴾ غرمه.

تشريح: مسئله: دا ده چي زمونږ په نيز د لمر راختلو په وخت کي او د غرمې په وخت (يعني په نصف النهار) کي او د لمر لوېدلو په وخت کي نه فرض لمونځ جائز دی او نه نفل.

زمونږ دليل: د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه حديث دی: قال نهانا رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نصلي و أن نقبر فيها موتانا عند طلوع الشمس حتى ترتفع وعند زوالها حتى تزول وحين تضيف للغروب حتى تغرب. په دې حديث کي صلاة عام دی که فرض وي، که نفل.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الجنائز، باب الدفن عند طلوع الشمس، حدث رقم:٣١٩٢، وابن ماجه في كتاب الجنائز، باب ما جاء في الاوقات التي لايصلى فيها، حديث رقم:١٥١٩.

والمراد بقوله أن نقبر الخ او له أن نقبر څخه مراد د جنازې لمونځ دی، ځکه چې په دې وختونو کې د مړي ښخول مکروه نه دي، نو اوس مطلب دا سو چې نبي ﷺ په دې وختونو کې له مطلق لمونځ کولو څخه منع کړې ده، هغه که فرض وي، که نفل وي او که د جنازې لمونځ وي، نو دا حديث د خپل اطلاق په وجه د امام شافعي رَحِمَهُ الله او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی، ځکه امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په دې وختونو کې په ټولو ښارونو او ځايونو کې فرضي لمونځ جائز دی ليکن په مکه مکرمه کې د فرضي لمانځه سره سره نفل هم جائز دي،لکه څرنګه چې صاحب د فتح القدير فرمايي چې: په دې وختونو کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په مکه مکرمه کې مطلقاً لمونځ جائز دی، هغه که فرض وي، که نفل.

د امام شافعي دليل: د نبي دا قول دی: من نام عن صلاة أو نسيها فليصلها إذا ذكرها فإن ذلك وقتها. (يعني کوم سړی چې له لمانځه څخه بيده سي يا ځني هېر سي نو کله چې په ياد ورسي نو (په هغه خت کې) دې يې وکړي ځکه چې هغه د هغه لمانځه وخت دی).

جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله چې کوم حديث ذکر کړی دی د هغه جواب دا دی چې له دې حديث څخه په اوقات ثلاثه وو کې د لمونځ کولو اباحت ثابتيږي، او د عقبه بن عامر رضي الله عنه له حديث څخه حرمت ثابتيږي، او د اصول فقه په کتابونو کې راغلي دي چې که د حرمت او اباحت په مېنځ کې تعارض راسي نو ترجيح به حرمت ورکول کيږي، نو په دې وجه به دلته د عقبه رضي الله عنه حديث راجح وي.

د امام شافعي دويم دليل: دا حديث دی چې نبي ﷺ وفرمايل: يابني عبد مناف لاتمنعوا احدا طاف بهذا البيت وصلى في أية ساعة شاء من ليل او نهار. (اې بنو عبد مناف! تاسو څوک مه منع کوئ چې د دې کعبې طواف کوي يا لمونځ کوي په کوم وخت کې چې يې خوښه وي که د شپې وي او که د ورځې). له دې روايت څخه هم معلومه سوه چې په مکه مکرمه هر وخت لمونځ جائز دی.

جواب: د دې حديث جواب دا دی چې د ألا بمكة معنیٰ ده ولا بمكة. لکه په دې آيت (وما كان لمؤمن أن يقتل مؤمنا إلا خطأ) کې چې إلا خطأ په معنیٰ د ولا خطأ دی، نو په دې صورت کې دا حديث د امام شافعي رَحِمَهُ الله مستدل نه سي جوړېدلای، والله اعلم بالصواب.

د امام ابو يوسف دليل: هغه حديث دی کوم چې حضرت ابو هريره رضي الله عنه او ابو سعيد رضي الله عنه روايت کړی دی: أن رسول الله ﷺ نهى عن الصلاة نصف النهار حتى تزول الشمس إلا يوم الجمعة. (يعني نبي ﷺ په نصف النهار کې له لمونځ کولو څخه منع کړې ده، تر دې چې لمر زائله سي، مګر د جمعې په ورځ).

زموږ دليل د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی، ځکه چې د هغوی په نيز د جمعې په ورځ د زوال په وخت کې نفل جائز دی.

جواب: د امام ابو يوسف د دليل جواب دا دی چې په إلا يوم الجمعة کې استثنا منقطع ده، دويم جواب د دی چې د إلا يوم الجمعة معنیٰ ده: ولا يوم الجمعة، نو اوس معنیٰ دا سوه چې نبي ﷺ په نصف النهار کې له لمونځ کولو څخه منع کړې ده او د جمعې په ورځ کې يې هم په دې وخت کې له لمونځ کولو څخه منع کړې ده.

په مکروه وختونو کې د جنازې د لمانځه او د دغه ورځې د مازيگر د لمانځه حکم

وَلَا صَلَاةُ جِنَازَةٍ او (په دې وختونو کې) د جنازې لمونځ (هم) جائز نه دی لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَلَا سَجْدَةُ التِّلَاوَةِ او د تلاوت سجده (هم) جائز نه ده لِأَنَّهَا فِي مَعْنَى الصَّلَاةِ ځکه چې د تلاوت سجده (هم) د لمانځه په شير ده إِلَّا عَصْرَ يَوْمِهِ عِنْدَ الْغُرُوبِ ماسوا د دغه ورځې د مازيگر له لمانځه څخه د لمر لوېدلو په وخت کې لِأَنَّ السَّبَبَ هُوَ الْجُزْءُ الْقَائِمُ مِنَ الْوَقْتِ ځکه (د لمانځه د وجوب) سبب د وخت هغه جزء دی کوم چې (اوس) موجود دی لِأَنَّهُ لَوْ تَعَلَّقَ بِالْكُلِّ ځکه که سبب د ټوله وخت سره متعلق سی لَوَجَبَ الْأَدَاءُ بَعْدَهُ نو تر وخت وروسته به (د لمانځه) اداء کول واجب سي وَلَوْ تَعَلَّقَ بِالْجُزْءِ الْمَاضِي او که سبب د تېر سوي وخت سره متعلق سي فَالْمُؤَدِّي فِي آخِرِ الْوَقْتِ قَاضٍ نو (د لمانځه) اداء کونکی به په آخري وخت کې (د لمانځه) قضاء راوړنکی سي وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ فَقَدْ أَدَّاهَا كَمَا وَجَبَتْ او هر کله چې داسې ده نو (د لمر لوېدلو په وخت کې) لمونځ کونکي (د مازيگر لمونځ) هغسې اداء کړی څرنګه چې واجب سوی وو بِخِلَافِ غَيْرِهَا مِنَ الصَّلَوَاتِ په خلاف د نورو لمونځونو لِأَنَّهَا وَجَبَتْ كَامِلَةً فَلَا تَتَأَدَّى بِالنَّاقِصِ ځکه چې هغه کامل واجب سوي دي نو په ناقص وخت کې به نه اداء کيږي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَالْمُرَادُ بِالنَّفْيِ الْمَذْكُورِ فِي صَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ الْكَرَاهَةُ صاحب د هدايې فرمايي چې: د جنازې په لمانځه کې او د تلاوت په سجده کې له ذکر سوي نفي څخه مراد کراهت دی حَتَّى لَوْ صَلَّاهَا فِيهِ نو که يې په دې مکروه وخت کې د جنازې لمونځ وکړی أَوْ تَلَا سَجْدَةً فِيهِ يا يې په دې کې د سجدې آيت تلاوت کړی فَسَجَدَهَا او سجده يې وکړه جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهَا أُدِّيَتْ نَاقِصَةً ځکه چې د جنازې لمونځ او د تلاوت سجده هغسې ناقص اداء سو كَمَا وَجَبَتْ لکه څرنګه چې واجب سوي وو إِذِ الْوُجُوبُ بِحُضُورِ الْجِنَازَةِ وَالتِّلَاوَةِ ځکه چې وجوب خو د جنازې په حاضرېدلو او د تلاوت په کولو سره ثابت سو.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې څرنګه په اوقات ثلاثه (درې مکروه وختونو) کې د سجدې او رکوع والا لمونځونه منع دي، همدارنګه د جنازې لمونځ او سجدهٔ تلاوت (د تلاوت سجده) هم جائز نه دي، د جنازې د لمانځه منع والی خو د حضرت عقبه بن عامر ﷺ له حديث څخه ثابت دی، او بيا صاحب د هدايې هم دا وضاحت کړی دی چې له أن نقبر څخه د جنازې لمونځ مراد دی.

او د سجدهٔ تلاوت د منع والي دليل دا دی چې د شرائطو او اوصافو په حواله سره د تلاوت سجده د لمانځه په معنیٰ ده، او کله چې سجدهٔ تلاوت د لمانځه په معنیٰ ده نو د لمانځه په منع والي کې داخليږي، او څرنګه چې په اوقات ثلاثه وو کې لمونځ منع دی، نو ځکه په دې وختونو کې سجدهٔ تلاوت هم منع ده.

إلا عصر يومه الخ دا عبارت د ولا عند غروبها څخه مستثنی دی، او مطلب يې دا دی چې د لمر لوېدلو په وخت کې لمونځ کول او سجدهٔ تلاوت کول منع دي، خو د دغه ورځې د مازيگر لمونځ له دې حکم څخه خارج او مستثنیٰ دی، او که چا د

مازيګر لمونځ نه وکړی، تر دې چې لمر لوېدلو ته نژدې سو، نو د ده لپاره د لمرېدلو په وخت کې د دغه ورځې د مازيګر لمونځ صحيح دی، لېکن بل هيڅ لمونځ هغه که قضاء او که اداء جائز نه دی.

دليل: د لمر لوېدلو په حالت کې چې د دغه ورځې د مازيګر د لمانځه کومه اجازه ورکول سوې ده، د هغه دليل دا دی چې د لمانځه د وجوب سبب خو يا ټوله وخت دی، يا د وخت هغه جزء دی کوم چې تېر سو، يا د وخت هغه جزء دی چې د وخت تر تېرېدلو وروسته پاته وي، اوس دلته مسئله دا ده چې موږ خو نه ټوله وخت سبب ګرځولی سو او نه تېر سوی وخت سبب ګرځولی سو، ځکه که ټوله وخت سبب وګرځول سي نو د لمانځه اداء کېدل به تر وخت وروسته راسي، هغه په دې توګه چې کله ټوله وخت د لمانځه سبب سو نو دا خو معلومه ده چې سبب تر مسبب مخکې وي، او کله چې داسې ده نو د لمانځه اداء کېدل به تر وخت وروسته راسي او دا صحيح نه ده.

همدارنګه د وخت تېر سوی جزء هم سبب نه سي ګرځېدلای، ځکه که يو سړی د وخت په آخر کې لمونځ اداء کوي، نو هغه به د تېر سوي جزء د سبب ګرځولو په صورت کې د لمانځه اداء کونکی نه بلکې د لمانځه قضاء راوړونکی شمارل کيږي، حال دا چې هغه اداء کونکی دی، نو په دې وجه دا خبره منل سوې ده چې نه به ټوله وخت د لمانځه سبب ګرځول کيږي او نه د وخت تېر سوی جزء، نو ځکه به د لمانځه سبب د وخت هغه جزء وي کوم چې د اداء سره متصل (جوخت) دی، او څرنګه چې په ذکر سوي صورت کې د اداء سره متصل جزء ناقص دی (يعني لړ وخت پاته دی)، نو ځکه به لمونځ هم ناقص اداء کيږي، ځکه قاعده دا ده: چې څرنګه سبب وي هغه رنګه به مسبب وي، او دلته سبب (چې وخت دی) ناقص دی نو مسبب به هم (چې لمونځ دی) ناقص وي، او د دې په خلاف نور هغه لمونځونه کوم چې د دې ورځې د مازيګر له لمانځه څخه ماسوا دي (لکه د سهار او ماپښين) هغه د لمر لوېدلو په وخت نه سي کېدلای ځکه چې هغه لمونځونه په پوره صفت او سبب سره واجب سوي دي نو ځکه به په ناقص وخت کې د دوی اداء کېدل صحيح نه وي.

قال والمراد بالنفي الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د جنازې د لمانځه او د سجدهٔ تلاوت په باره کې چې کومې نفې راغلې دي، له هغه څخه مراد کراهت دی، يعني په دې وختونو کې د جنازې د لمانځه او سجدهٔ تلاوت اداء کول خلاف الاولیٰ او مکروه دي، بيا هم که چا وکړل جائز دي، دليل يې دا دی چې د جنازې د لمانځهٔ واجب کېدلو سبب د جنازې حاضرېدل دي، او د سجدهٔ تلاوت د واجب کېدلو سبب د سجدې د آيت تلاوت کول دي، او څرنګه چې دا دواړه سببونه په ناقص وخت (مکروه وخت) کې راغلل نو د جنازې لمونځ او سجدهٔ تلاوت هم دغسې ناقص واجب سوه، نو دا دواړه چې څرنګه (ناقص) واجب سوه هغه رنګه (ناقص) اداء کړی سوه، نو ځکه به يې اداء کول جائز وي.

د سهار او مازيګر تر لمونځونو وروسته د نفلو حکم

وَيُكْرَهُ أَنْ يَتَنَفَّلَ بَعْدَ الْفَجْرِ او د سهار تر لمانځه وروسته نفل کول مکروه دي حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ تر دې چې لمر راوخېژي وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ او د مازيګر تر لمانځه وروسته (هم) تر دې چې لمر ولوېږي لِمَا رُوِیَ● أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهٰى عَنْ ذٰلِكَ ځکه روايت سوی دی چې نبي ﷺ له دې څخه منع کړې ده وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُصَلِّيَ فِي هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ الْفَوَائِتَ او هيڅ حرج نسته چې يو سړی په دې دواړو وختونو کې قضائي لمونځونه وکړي وَيَسْجُدَ لِلتِّلَاوَةِ

● تخريج: أخرجه البخاری فی كتاب مواقيت الصلاة، باب الصلاة بعد الفجر، حديث رقم:۵۸۱، و ابو داؤد فی كتاب التطوع، باب من رخص فيهما اذا كانت الشمس مرتفعة، حديث رقم:۱۲۷۳ - ۱۲۷۵.

او د تلاوت سجده وکړي وَيُصَلِّيَ عَلَى الْجِنَازَةِ او د جنازې لمونځ وکړي لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ كَانَتْ لِحَقِّ الْفَرْضِ لِيَصِيْرَ الْوَقْتُ كَالْمَشْغُوْلِ بِهِ ځکه چې کراهت د فرضو د حق لپاره وو د دې لپاره چې وخت په فرضو سره د مشغول په شان سي لَا لِمَعْنًى فِي الْوَقْتِ نه د يو داسي معنیٰ په وجه کوم چې په وخت کې وه (يعني په وخت کې د کراهت د معنی په وجه سره نه) فَلَمْ تَظْهَرْ فِيْ حَقِّ الْفَرَائِضِ نو ځکه به د فرضو په حق کې دا کراهت نه ښکاره کيږي وَفِيْمَا وَجَبَ لِعَيْنِهِ او نه به د هغه شيانو په حق کې ښکاره کيږي کوم چې بالذات مقصود (واجب) دي كَسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ لکه د تلاوت سجده وَظَهَرَتْ فِيْ حَقِّ الْمَنْذُوْرِ او دا کراهت به ښکاره کيږي په حق د نذر کړی سوي لمانځه کي لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ وُجُوْبُهُ بِسَبَبٍ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چې د دې وجوب د يو داسي سبب سره تعلق لري کوم چې د نذر منونکي له طرفه دی وَفِيْ حَقِّ رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ او د طواف د دوو رکعتونو په حق کې به (هم کراهت ښکاره کيږي) وَفِي الَّذِيْ شَرَعَ فِيْهِ ثُمَّ أَفْسَدَهُ او د هر هغه لمانځه په حق کې به (ښکاره کيږي) چې هغه لمونځ کونکي شروع کړی وي بيا يې فاسد کړی وي لِأَنَّ الْوُجُوْبَ لِغَيْرِهِ وَهُوَ خَتْمُ الطَّوَافِ ځکه چې په دې کې وجوب لغيره دی او هغه د طواف ختمول دي وَصِيَانَةُ الْمُؤَدّٰى عَنِ الْبُطْلَانِ او د اداء کړی سوي لمانځه ساتل دي له باطلوالي څخه.

اللغات: ﴿مَنْذُوْر﴾ نذر کړی سوی، منت منل سوی. ﴿صِيَانَة﴾ ساتنه. ژغورل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې د سهار تر لمانځه وروسته او تر لمر راختلو مخکې او د مازيګر تر لمانځه وروسته او ترلمر لوېدلو مخکې يو نفلي لمونځ کول مکروه دي، ځکه نبي ﷺ په دې دواړو وختونو کې له نفلونو څخه منع کړې ده، لکه په بخاري شريف کې چې د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په حواله سره حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا حديث را نقل کړی دی: أن رسول الله ﷺ نهى عن الصلاة بعد الصبح حتى تشرق الشمس وبعد العصر حتى تغرب، په دې حديث کې په ښکاره توګه د سهار تر لمانځه وروسته تر لمر راختلو پوري او د مازيګر تر لمانځه وروسته تر لمر لوېدلو پوري له لمونځ کولو څخه منع سوې ده.

ولا بأس الخ فرمايي چې د سهار او مازيګر تر لمونځونو وروسته خو نفل منع دي، ليکن که يو سړی په دې وختونو کي قضائي لمونځونه را وګرځوي، يا د تلاوت سجده وکړي يا د جنازې لمونځ وکړي نو هيڅ حرج نسته، دا درې سره شيان د ده لپاره جائز او صحيح دي، ځکه چې په دې وختونو کي نفلونه په دې وجه منع دي چې دا وختونه د فرضو حق دی، او دا وخت بايد په فرضو کي مشغول سي، نو ځکه به دا کراهت د فرضو په حق کي نه ښکاره کيږي، او د هغه شيانو په حق کي به هم نه ښکاره کيږي کوم چې بالذات او بالعين واجب وي، او چې د هغو په وجوب کي د بنده دخل نه وي، لکه د تلاوت سجده، ځکه چې د تلاوت د سجدې وجوب د بنده پر فعل موقوف نه دی، ځکه څرنګه چې په تلاوت کولو سره د تلاوت سجده واجبيږي، همدارنګه د سجدې د آيت په اورېدلو سره هم واجبيږي، که څه هم انسان يې د اورېدلو قصد نه کړی وي، او لکه د جنازې لمونځ، ځکه چې د دې وجوب هم د بنده پر فعل موقوف نه دی، بلکي هغه هم واجب لذاته دی.

لېکن هغه شيان چي د هغو وجوب لغيره وي او د هغو تعلق د بنده د فعل سره وي، نو په هغو ټولو شيانو کي دا کراهت ښکاره کيږي لکه نذر کړی سوی لمونځ، تر طواف وروسته دوه رکعته، او هغه لمونځ چي تر شروع کولو وروسته باطل سوی وي، نو څرنګه چي دا ټوله شيان د بنده پر فعل موقوف دي او د دې د وجوب سبب هم د بنده له طرف ثابتيږي. نو ځکه به دا شيان واجب لغيره وي، او هم د دې شيانو په حق کي به کراهت ښکاره کيږي، لهذا د مازيګر او د سهار تر لمونځونو وروسته نذر کړی سوی لمونځ په دې وجه صحيح نه دي، ځکه چي نذر منل د بنده فعل دی، نو دا واجب لغيره سو، او تر طواف وروسته د دوو رکعتونو کول په دې وجه صحيح نه دي، ځکه چي دا هم د بنده پر فعل يعني پر طواف موقوف دي، همدارنګه د هغه نفلي لمانځه قضاء را وړل چي تر شروع کولو وروسته فاسد کړی سوی وي په دې وختونو کي په دې وجه صحيح نه دی، چي دا هم د بنده د خپل فعل په سبب واجب سوی دی.

تر صبح صادق (روڼ ګهيځ) وروسته تر دوو رکعتونو زيات نفل کول

وَيُكْرَهُ أَنْ يَتَنَفَّلَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ بِأَكْثَرَ مِنْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ او تر سهار را ختلو وروسته د سهار له دوو رکعتو سنتو څخه زيات نفل کول مکروه دي (يعني تر صبح صادق وروسته د سهار له دوو رکعتو سنتو څخه ماسوا نور نفل کول مکروه دي) لِأَنَّهُ• عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمْ يَزِدْ عَلَيْهِمَا مَعَ حِرْصِهِ عَلَى الصَّلَاةِ ځکه چي د لمانځه د زيات شوق باوجود نبي ﷺ هيڅکله پر دې دوو رکعتو سنتو زياتوب کړی نه دي.

اللغات: ﴿حرص﴾ زيات شوق.

تشريح: صورت د مسئلې او دليل بالکل ښکاره دي.

د ماښام تر فرضو مخکي د نفلو حکم

وَلَا يَتَنَفَّلُ بَعْدَ الْغُرُوبِ قَبْلَ الْفَرْضِ او تر لمر لوېدلو وروسته به له فرضو څخه مخکي هيڅ نفلي لمونځ نه کوي لِمَا فِيهِ مِنْ تَأْخِيرِ الْمَغْرِبِ ځکه چي په دې کي د فرضو (يعني د ماښام د لمانځه) تأخير راځي وَلَا إِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ لِلْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ او د جمعې په ورځ چي کله امام د خطبې لپاره راووځي نو هم به نفل نه کوي إِلَى أَنْ يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ تر دې چي امام له خطبې څخه فارغه سي لِمَا فِيهِ مِنَ الْاِشْتِغَالِ عَنِ اسْتِمَاعِ الْخُطْبَةِ ځکه چي په نفلو بلندي په مشغولتيا سره (بيا) خطبه نه سي اورېدل کېدلای (يعني د خطبې له اورېدلو څخه اعراض راځي).

تشريح: **مسئله:** دا ده چي تر لمر لوېدلو وروسته او د ماښام د لمانځه تر اداء کولو مخکي نفلي لمونځ مکروه دی، دليل يې دا دی چي په داسي کولو سره د ماښام لمونځ ځنډيږي، حال دا چي د ماښام په لمانځه کي تعجيل (تلوار) مستحب دی. همدارنګه په هغه وخت کي نفلي لمونځ مکروه دی چي امام د خطبې لپاره راووځي تر دې چي له خطبې څخه فارغه سي، دليل يې دا دی چي خطبه اورېدل واجب دي. او ښکاره ده چي په نفل کولو سره اورېدل پاتيږي، نو د نفل په وجه د واجبو پرېښوول صحيح نه دي.



• تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الصلاة، باب لا صلوٰة بعد الفجر الا سجدتين، حديث ١٥٣٥.

بَابُ الْأَذَانِ

(دا) باب د اذان د احکامو (په بیان کي) دی

تشريح: تر دې مخکي صاحب د کتاب د لمانځه وختونه (مواقيت) بيان کړل، اوس له دې ځايه د اذان احکام بيانوي، او اذان يې په دې وجه د لمانځه تر وختونو وروسته بيان کړی ځکه چي اذان د لمانځه د سبب د داخلېدلو اعلان دی (يعني اذان دا خبر تيا ورکوي چي د لمانځه وخت داخل سو او وخت د لمانځه سبب دی لکه مخکي چي پر دې تفصيلي بحث وسو)، نو ځکه يې اول وختونه بيان کړل او اوس اعلان بيانوي.

د اذان لغوي معنی: اذان په لغت کي اعلان او إعلام (خبر ورکولو) ته ويل کيږي.

د اذان اصطلاحي معنی: الإعلام بوقت الصلاة بألفاظ مخصوصة على صفة مخصوصة. (يعني په ځانګړي طريقه سره د ځانګړو الفاظو په ذريعه د لمانځه د اعلان کولو نوم اذان دی).

اذان کله شروع سو: جمهوره محدثين او تاريخپوهان پر دې خبره متفق دي چي د اذان مشروعيت تر هجرت وروسته په مدينه منوره کي سوی دی، لېکن په دې خبره کي اختلاف دی چي د هجرت په کوم کال کي اذان مشروع سو، په دې لړ کي د حافظ ابن حجر عسقلاني رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي د اذان د تعليم واقعه په ۲ هـ کي مخ ته راغله. لېکن د علامه عيني رَحِمَهُ الله خيال دا دی چي دا واقعه په ۱هـ کي مخ ته راغله.

د اذان د مشروعيت واقعه: د اذان د مشروعيت قصه دا ده چي کله نبي ﷺ او صحابه وو له مکې شريفي څخه هجرت وکړی مدينې شريفي ته ولاړل، نو په بېلا بېلو ځايو کي يې استوګنه پېل کړه، او په يوه وخت کي د ټولو خبرېدل او د مسجد ته د ټولو حاضرېدل ستونزمن وه، نو په دې باره کي نبي کريم ﷺ د مشورې لپاره د صحابه وو يوه غونډه جوړه کړه، بعضي صحابه وو دا رايه ورکړه چي د لمانځه په وخت کي دي يو بيرغ دروول کيږي چي هغه ته به په کتلو سره ټوله خلک په مسجد کي جمع کيږي، لېکن دا رايه خوښه نه کړی سوه، او وجه يې دا بيان سوه چي په دې سره به صرف هغه خلک مسجد ته حاضرېږي کوم چي بيرغ ويني، او د نه ليدونکو لپاره به ستونزه پر خپل ځای پاته وي.

ځينو صحابه وو دا رايه ورکړه چي د لمانځه په وخت کي دي اُور بليږي چي هغه ته به په کتلو سره خلک مسجد ته راځي، لېکن نبي ﷺ دا مشوره د مجوسيانو سره د مشابهت له کبله هم رد کړه. يو صحابي وويل چي: شپېلۍ دي پوکل کيږي، د هغه په آواز اورېدلو سره به خلک په مسجد کي جمع کيږي، لېکن دا مشوره هم د يهودو سره د مشابهت له کبله رد سوه، په آخر کي يوه مشوره دا وسوه چي ټلۍ (ناقوس) دي غږول کيږي (يعني يو غټ لرګی دي پر بل شي وهل کيږي) لېکن دا رايه هم د عيسايانو سره د مشابهت له کبله رد سوه.

لنډه دا چي په دې غونډه کي مسجد ته د خلکو راجمع کولو لپاره يوه پرېکړېزه رايه منظوره نه سوه، او ټوله خلک واپس خپلو کورونو ته ولاړل، هر يو په دې باره کي حيران او سرګردانه وو، او په دې کوښښ کي وو چي ژر تر ژره د دې مسئلې يو حل پيدا سي.

حضرت عبد الله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا هم په دې مجلس کي ناست وو، او په دې باره کي هغه د نورو په نسبت څه زيات فکرمن وو، څرنګه چي هغه خپل کور ته ولاړي نو ښځي يې د ماښام ډوډۍ ور ته راوړه، لېکن عبد الله بن زيد وويل چي د

نبي ﷺ صحابه د لمانځه په اړه په يوه لانجه کي سرګردانه دي، نو ځکه زه ډوډۍ نه خورم، دی وايي چي په دغه کړي ما ته خوب راغلی، په خوب کي مي وليدل چي له آسمان څخه يو سړی را شوه سو، چي د هغه پر بدن دوه زرغونه پټوان(څادران) وه، او په لاس کي يې يو ناقوس وو، ما له هغه څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله بنده! آيا ته دا ناقوس خرڅوې؟ هغه وويل چي ته به په دې څه وکړې؟ ما وويل: زه به يې رسول الله(ﷺ) ته ور وړم، او د دې په ذريعه به د لمانځه دوخت خبرتيا ورکول کيږي، دې سړي وويل: آيا زه تا ته د دې لپاره يوه غوره طريقه نه در وښيم؟ ما ورته وويل: هو! ضرور يې را وښيه، نو هغه سړي د دېوال بغل ته ودرېدی او د قبلې طرف ته يې مخ کړی، او د اذان ټوله کليمې يې ذکر کړې، عبد الله بن زيد ﷛ فرمايي چي: سهار ما نبي ﷺ ته دا خوب ووايی، نو نبي ﷺ وفرمايل: إنه لرؤيا حق، فألقها إلى بلال فإنه أندى و أمد صوتا منك ومره ينادي به، (يعني دا يو رښتيا خوب دی، ته حضرت بلال ﷛ ته دا کليمې ور ښيه، او ده ته ووايه چي دا کليمي ته ووايه، ځکه چي ستا تر آواز د هغه آواز غټ دی). کله چي د حضرت عمر ﷛ په غوږ کي د حضرت بلال ﷛ دغه آواز ورسېدی نو هغه د نبي ﷺ په خدمت کي حاضر سو، او ويې ويل: اې د الله نبي! په هغه ذات دې مي قسم وي چي ته يې رښتوني نبي را استولی يې، د شپې دغه رنګه قصه زما سره هم وسوه، لېکن عبد الله بن زيد ﷛ په دې باره کي زما څخه مخکي سو، نو پر دې نبي ﷺ د خپل پروردګار شکر ادا کړی، او په دې ډول سره د لمانځه د خبرتيا ستونزه حل سوه. (په حواله د بدائع الصنائع ج:۱، ص:۳٦۵)

د اذان شرعي حيثيت او طريقه

> **الْأَذَانُ سُنَّةٌ**● **لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ** د پنځو لمونځونو او جمعې لپاره اذان سنت(مؤکده) دی **لَا سِوَاهَا** نه د نورو لپاره **لِلنَّقْلِ الْمُتَوَاتِرِ** د نقلِ متواتر په وجه سره **وَصِفَةُ الْأَذَانِ مَعْرُوفَةٌ** او د اذان طريقه مشهوره ده **وَهُوَ كَمَا أَذَّنَ الْمَلَكُ النَّازِلُ مِنَ السَّمَاءِ** او هغه داسي ده څرنګه چي له آسمان څخه را شوه سوي فرښتې اذان کړی وو.

اللغات: ﴿الملك﴾ فرشته (ملائکه).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د راجح قول مطابق اذان سنت مؤکده(ټينګ سنت) دی، او د پنځو لمونځونو همدارنګه د جمعې لپاره اذان مشروع دی، له دې څخه ماسوا د نورو لمونځونو لپاره مثلاً د اخترنو، جنازې، کسوف او خسوف لپاره اذان مشروع نه دی، د اذان دغه مشروعيت د نقل متواتر په وجه دی، يعني د پنځو لمونځونو او جمعې لپاره د اذان مشروعيت د دومره ډېرو معتمدو راويانو په روايت سره ثابت دی چي د تواتر حد ته رسېدلی دی، لوس په دې کي دهيڅا لپاره د څه خبري ګنجايش نسته، او د اذان طريقه هم هغه مشهوره طريقه ده چي پر هغه طريقه فرښتې اذان کړی وو.

فايده: دلته دوې خبري د يادوني او پاملرني وړ دي: (۱) اوله خبره دا چي اذان سنت مؤکده دی، او همدا صحيح ده، په دې سلسله کي د بعضي مشائخو قول دا دی چي اذان واجب دی، لېکن دا قول صحيح نه دی، په اصل کي دغه مشائخ د حضرات امام محمد رَحِمَهُ الله په هغه روايت دوکه سوي دي چي په هغه کي امام محمد رَحِمَهُ الله دا صراحت کړی دی چي که د ښار ټوله خلګ اذان پرېږدي نو د هغو سره دي جنګ او قتال وکړی سي، او جنګ په عامه توګه د واجب د پرېښولو په وجه کيږي، نو ځکه اذان هم واجب ګڼل پکار دي، صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله دا نظريه رد کړې ده او فرمايلي يې دي:

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب ماجاء في بدء الأذان، حديث رقم:۱۸۹.

امام محمد رَحِمَهُ الله چې د اذان پر پرېښولو کومه د جنګ خبره کړې ده، هغه د اذان د واجب والي په وجه سره نه ده بلکې د هغه وجه دا ده چې د اذان په پرېښوولو کې د دين ذلالت او سپکاوی دی، او د هغو خلګو سره جنګ ضروري دی چې د دين تذليل او سپکاوی کوي. (عنايه ج:١، ص:٢٤٢)

(٢) دويمه خبره دا چې دلته صاحب د کتاب په خصوصي توګه سره د جمعې يادونه ځکه کړې ده چې دا ګومان ليرې سي چې څرنګه د جمعې لپاره د عام اجازت، امام، ښار او نور شرطونه ضروري دي او د جمعې لپاره اذان مشروع دی، همدارنګه د اخترونو لپاره هم د جمعې دغه شرطونه ثابت دي، نو ځکه به د اخترونو لپاره هم اذان کول پکار وي، نو په اصل کې خبره دا ده چې د جمعې لپاره د نبي ﷺ له زمانې څخه اذان مشروع دی، او د اخترونو او نورو لپاره له هغه زمانې څخه اذان ثابت نه دی، لکه څرنګه چې جابر بن سمره رضي الله عنه فرمايي: صليت مع رسول الله ﷺ العيد غير مرة ولا مرتين بغير أذان ولا إقامة. (يعني ما څو واره د نبي ﷺ سره د اختر لمونځ له اذان او اقامت څخه بغير کړی دی). (فتحالقدير ج:١، ص:٢٤٣)

په اذان کې د ترجيع بيان

وَلَاتَرْجِيعَ فِيهِ او په اذان کې ترجيع نسته وَهُوَ او ترجيع دا ده أَنْ يُرَجِّعَ فَيَرْفَعَ صَوْتَهُ بِالشَّهَادَتَيْنِ بَعْدَ مَا خَفَضَ بِهِمَا چې مؤذن (د اذان کلمې) را وګرځوي نو شهادتين له کرار آواز څخه وروسته (دويم وار) په لوړ اواز سره ووايي (يعني ترجيع دا ده چې يو وار شهادتين په کرار آواز سره ووايي او بل وار يې په لوړ آواز سره ووايي) وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: فِيهِ ذٰلِكَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې: په اذان کې ترجيع سته لِحَدِيثِ أَبِي مَحْذُورَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابومحذوره رضي الله عنه د حديث په وجه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ• أَمَرَهُ بِالتَّرْجِيعِ چې نبي ﷺ ابو محذوره ته د ترجيع حکم کړی وو وَلَنَا أَنَّهُ لَاتَرْجِيعَ فِي الْمَشَاهِيرِ او زموږ دليل دا دی چې په مشهوره روايتونو کې ترجيع نسته وَكَانَ مَا رَوَاهُ تَعْلِيمًا او هغه حديث کوم چې ابو محذوره رضي الله عنه روايت کړی وو هغه د تعليم (ښوولو) په توګه وو فَظَنَّهُ تَرْجِيعًا چې پر هغه ابو محذوره رضي الله عنه د ترجيع خيال وکړی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نيز په اذان کې ترجيع نسته، د ترجيع مطلب دا دی چې اذان کوونکی شهادتين يعني أشهد أن لا إله إلا الله او أشهد أن محمدا رسول الله مخکې دوه واره په کرار آواز سره ووايي او بيا يې وروسته دوه واره په لوړ اواز سره ووايي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په اذان کې ترجيع سته، امام شافعي د حضرت ابومحذوره رضي الله عنه په حديث سره دليل نيسي چې نبي کريم ﷺ چې ابو محذوره ته د اذان کوم تعليم ورکړی وو په هغه کې څلور واره د شهادتينو ذکر سته، او دې ته ترجيع وايي، نو ځکه ترجيع ثابته سوه.

زموږ دليل: دا دی چې د اذان د ثبوت په باره کې چې څومره مشهوره حديثونه راغلي دي، له هغو څخه په يوه کې هم د ترجيع يادونه نسته، صاحب د فتح القدير د امام ابو داؤد په حواله سره د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا حديث را نقل کړی دی: إنما كان الأذان على عهد رسول الله ﷺ مرتين مرتين والإقامة مرة مرة، (يعني د نبي ﷺ په زمانه کې به په

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب كيف الاذان، حديث رقم: ٤٩٩.

اذان کې دوه دوه واره کلمې ویل کېږي او په اقامت کې به یو یو وار)، له دې حدیث څخه هم ثابتیږي چې په اذان کې ترجیع نشته، ځکه چې د ترجیع لپاره د شهادتینو څلور واره ویل ضروري دي.

جواب: د امام شافعي د دلیل جواب دا دی چې په ابو محذوره ﷺ بار بار د شهادتینو ویل د تعلیم په توګه وو، چې پر هغه ابو محذوره د ترجیع خیال وکړی.

دویم جواب: دا دی چې د ابو محذوره ﷺ دا حدیث معارض دی د ده د هغه حدیث سره، کوم چې په صحیح سند سره ابو داؤد شریف رانقل کړی دی، او په هغه کې صرف دوه وار د شهادتینو یادونه سوې ده، نو د ابو محذورة ﷺ په دواړو حدیثونو کې تعارض راغلی، او قاعده دا ده چې إذا تعارضا تساقطا، نو ځکه به په دې حدیث سره دلیل نیول صحیح نه وي.

دریم جواب: دا دی چې که بیا هم موږ د امام شافعي رَحِمَهُ الله ذکر سوی حدیث صحیح ومنو نو هم له دې څخه د ترجیع ثبوت نه سي کېدلای، ځکه په دغه حدیث چې کوم د څلور واره شهادتینو ذکر سوی دی هغه د یوې ځانګړي قصې سره تعلق لري، قصه دا وه چې تر اسلام راوړلو مخکې ابو محذوره د نبي ﷺ سره ډېر عناد او بغض درلودی، بیا چې کله هغه په اسلام سره مشرف سو، نو نبي ﷺ هغه ته د اذان کولو حکم وکړی، هغه اذان شروع کړی، کله چې شهادتینو ته ورسېدی، نو له خپل قوم څخه یې د شرم او پیغور د احساس په وجه شهادتین بالکل په کښته اواز سره وویله، په دې باندې نبي ﷺ هغه را وغوښتی او تر تنبیه ورکولو وروسته یې حکم وکړی چې: ارجع وامدد بها صوتك (یعني واپس سه! او شهادتین په لوړ اواز سره ووایه!)، نو د شهادتینو په راګرځولو سره نبي ﷺ هغه ته دا احساس ورکړی چې کله ته د اسلام لمن ته راغلې، نو اوس د حق په څرګندولو او د دین په ښکاره کولو کې هیڅ شرم او حیا مه کوه!، بلکې د ادخلوا في السلم كافة ځلانده نمونه جوړه سه!، یا په دې راګرځولو سره یې مقصد دا وو چې کوم څه تېر سوه هغه هېر کړه!، او د الله ﷻ د رسول په مینه کې غرق سه!. (عنایه ج:۱، ص:۲۴۵)

د سهار په لمانځه کې د "اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌمِّنَ النَّوْمِ" د زیاتولو حکم

وَيَزِيدُ فِي أَذَانِ الْفَجْرِ بَعْدَ الْفَلَاحِ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ مَرَّتَيْنِ او مؤذن به د سهار په لمانځه کې تر حي على الفلاح وروسته دوه واره الصلاة خير من النوم زیاتوي لِأَنَّ بِلَالًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ [●] مَرَّتَيْنِ حِينَ وَجَدَ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ رَاقِدًا ځکه حضرت بلال ﷺ چې کله نبي ﷺ د خوب په حالت کې ولیدی نو دوه واره یې الصلاة خير من النوم ووایی فَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: مَا أَحْسَنَ هَذَا يَا بِلَالُ اِجْعَلْهُ فِي أَذَانِكَ نو نبي ﷺ وفرمایل: اې بلاله! دا ډېره ښه جمله ده خپل په اذان کې یې داخله کړه وَخُصَّ الْفَجْرُ بِهِ لِأَنَّهُ وَقْتُ نَوْمٍ وَغَفْلَةٍ او د سهار اذان ځکه په دې سره خاص کړی سو چې دا وخت د خوب او غفلت دی.

اللغات: ﴿رَاقِد﴾ بیده (نائم).

تشریح: فرمایي چې اذان کونکی به د سهار په اذان کې تر حي على الفلاح وروسته دوه واره الصلوة خير من النوم زیاتوي، او دا زیاتونه مستحب ده؛ دلیل یې دا دی چې یوه ورځ حضرت بلال ﷺ د سهار د لمانځه لپاره اذان وکړی، بیا د حضرت

● تخریج: أخرجه طبرانی فی معجم الکبیر، حدیث رقم: ۸۱، ۱۱ و ایضاً ابن ماجه فی کتاب الاذان، باب السنة فی الاذان، حدیث رقم: ۸۱۶.

عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا د حجرې دروازې ته ورغلی ورته ووېل: الصلوٰة يا رسول الله (ﷺ)، حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا وفرمايل چې: الرسول نائم (رسول الله ﷺ بيده دی)، نو بلال ﷛ ووېل: الصلوٰة خير من النوم. کله چې نبي ﷺ را وينس سو، نو حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا نبي ﷺ ته دا قصه وکړه، نبي ﷺ دا کلمه خوښه کړه او ورته فرمايل: اې بلاله! دا کلمه په خپل اذان کې داخله کړه، پاته سوه دا خبره چې دا زياتونه د سهار د اذان سره ولې خاص ده، نو د دې جواب دا دی چې دا وخت د خوب او غفلت دی، نو ځکه دا زياتونه د سهار د اذان سره خاص سوه.

د اقامت بيان

وَالْإِقَامَةُ مِثْلُ الْأَذَانِ او اقامت د اذان په شان دی **إِلَّا أَنَّهُ يَزِيدُ فِيهَا بَعْدَ الْفَلَاحِ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ مَرَّتَيْنِ** خو په اقامت کې به تر حي الفلاح وروسته دوه واره قد قامت الصلاة زياتوي **هٰكَذَا** • **فَعَلَ الْمَلَكُ النَّازِلُ مِنَ السَّمَاءِ** همداشان له آسمانه را ښکته سوي فرښتې کړي وه **وَهُوَ الْمَشْهُورُ** او همدا مشهوره ده **ثُمَّ هُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي قَوْلِهِ إِنَّهَا فُرَادَى فُرَادَى** بيا دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی په دې باره کې چې اقامت يو وار يو وار دی **إِلَّا قَوْلَهُ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ** ماسوا له قد قامت الصلوٰة څخه.

اللغات: ﴿فُرَادَى﴾ يوازي يوازي، تنها تنها، يو يو وار.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې اقامت هم د اذان په شان دی لېکن فرق صرف دومره دی چې په اقامت کې به تر حي على الفلاح وروسته دوه واره قد قامت الصلوٰة زياتوي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې له قد قامت الصلوٰة څخه به ماسوا نورې ټولې کلېمې يو يو وار وايي، او قد قامت الصلوٰة به دوه واره وايي.

د امام شافعي دليل: دا دی چې د حضرت انس ﷛ په حديث کې راغلي دي چې نبي ﷺ حضرت بلال ﷛ ته حکم وکړی چې اذان جوت (جفت) کوه او اقامت طاق کوه ماسوا له قدقامت الصلوٰة څخه.

زموږ دليل: دا دی چې کومه فرښته له اسمان څخه را ښکته سوې وه، هغې د اذان په څېر اقامت هم دوه. دوه واره کړی وو، لکه څرنګه چې ابن ابي شيبه له عثمان بن ابی ليلیٰ څخه روايت کړی دی چې ما ته د نبي ﷺ صحابه وُ ووېل چې عثمان بن زيد انصاري ﷛ راغلی او نبي ﷺ ته يې عرض وکړی چې ما ته (په خوب کې) يو سړی راغلی ګواکې پر هغه دوه شنې جامې وې، اذان او اقامت يې دوه دوه واره وکړی، (يعني د اقامت کلمې يې هم د اذان په څېر دوه دوه واره ووېلې) او د حضرت انس ﷛ د حديث معنیٰ دا ده چې په اذان کې دې دوې کلمې په دوو جلا جلا آوازونو سره ووېل سي او په اقامت کې دوې کلمې په يوه آواز سره ووېل سي.

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوٰة، باب كيف الاذان، حديث رقم: ٤٩٩.

په اذان کي د ترسيل او په اقامت کي د حدر حکم

وَيَتَرَسَّلُ فِي الْأَذَانِ او مؤذن به په اذان کي ترسّل کوي (يعني په وقفه وقفه به اذان کوي) وَيَحْدُرُ فِي الْإِقَامَةِ او په اقامت کي به حدر کوي (يعني په تېزي سره به اقامت کوي) لِقَوْلِهِ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا أَذَّنْتَ فَتَرَسَّلْ کله چي ته اذان کوې نو ترسّل کوه؛ وَإِذَا أَقَمْتَ فَاحْدُرْ او کله چي اقامت کوې نو حدر کوه؛ وَهٰذَا بَيَانُ الْإِسْتِحْبَابِ او دا د استحباب بيان دی.

اللغات: ﴿يَتَرَسَّلُ﴾ د تفعّل د باب مضارع صيغه ده: په زيار او کوښښ سره په اوږده اواز الفاظ اداء کول. په دمه دمه (وقفه وقفه) ويل. ﴿يَحْدُرُ﴾ د نصر د باب مضارع صيغه ده: تېز تېز او ژر ژر ويل.

تشريح: ترسيل دا دی: چي اذان کونکی د دوو کلمو په مينځ کي په سکته (وقفه) سره فصل وکړي. او حدر دا دی: چي فصل نه وکړي. فرمايي چي په اذان کي ترسيل مستحب دی او په اقامت کي حدر مستحب دی.

دليل: دا دی چي نبي ﷺ حضرت بلال ﷺ ته د دې حکم کړی وو. لېکن صحيح خبره دا ده چي دا شيان سنت دي. ځکه چي په اذان کي ترسيل او په اقامت کي حدر په تواتر سره ثابت دی.

په اذان او اقامت کي و قبلې ته د مخامخ والي حکم

وَيَسْتَقْبِلُ بِهِمَا الْقِبْلَةَ او په اذان او اقامت کي به قبلې ته مخ کوي لِأَنَّ الْمَلَكَ النَّازِلَ ● مِنَ السَّمَاءِ أَذَّنَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ ځکه چي له آسمانه را شوه سوي فرښتې مخ پر قبله اذان کړی وو وَلَوْ تَرَكَ الْاِسْتِقْبَالَ او که يې استقبال پرېښوی (يعني قبلې ته يې مخ نه کړی) جَازَ لِحُصُولِ الْمَقْصُوْدِ نو (هم) جائز دی ځکه چي مقصود حاصل سو وَيُكْرَهُ لِمُخَالَفَتِهِ السُّنَّةَ لېکن د سنت د مخالفت په وجه مکروه دي وَيُحَوِّلُ وَجْهَهُ بِالصَّلٰوةِ وَالْفَلَاحِ يُمْنَةً وَيُسْرَةً او د حی علی الصلاة او حی علی الفلاح په وخت کي به خپل مخ راسته او چپه طرف ته کرځوي لِأَنَّهُ خِطَابٌ لِلْقَوْمِ ځکه چي دا قوم ته خطاب دی فَيُوَاجِهُهُمْ به نو په دې سره به هغوی ته مخ کوي وَإِنِ اسْتَدَارَ فِي صَوْمَعَتِهِ فَحَسَنٌ او که مؤذن په خپله صومعه کي وګرځېږي نو ښه خبره ده مُرَادُهُ إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ تَحْوِيْلَ الْوَجْهِ يَمِيْنًا وَشِمَالًا مَعَ ثَبَاتِ قَدَمَيْهِ مَكَانَهُمَا كَمَا هُوَ السُّنَّةُ د ګرځېدلو مطلب دا دی چي کله مؤذن د سنت مطابق پر خپل ځای د دواړو پښو د اېښوولو سره سره راسته او چپه طرف ته مخ نه سي ګرځولای (نو په صومعه کي دي وګرځېږي) [بعضو شارحينو د مراده ضمير د امام محمد رَحِمَهُ الله و طرف ته راجع کړی يعني: د امام محمد رَحِمَهُ الله مطلب دا دی] بِأَنْ كَانَتِ الصَّوْمَعَةُ مُتَّسِعَةً په دې توګه چي صومعه پراخه وي فَأَمَّا مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ فَلَا لېکن بغير له ضرورت ته دا سي کول ښه نه دي.

اللغات: ﴿يَسْتَقْبِلُ﴾ د استفعال د باب مضارع صيغه ده: مخامخ کېدل. ﴿يُحَوِّلُ﴾ د تفعيل د باب مضارع صيغه ده: ګرځول. ﴿اِسْتَدَارَ﴾ د استفعال د باب ماضي صيغه ده: ګرځېدل. ﴿صَوْمَعَةٌ﴾ کوچنۍ حجره (خونه). ﴿مِئْذَنَه﴾ د اذان کولو بُرج.

● أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب ما جاء في الترسل في الاذان، حديث رقم: ١٩٥.

● تخريج: أخرجه ابو داود كتاب الصلوة، باب كيف الاذان، حديث رقم: ٥٠٧

تشریح: صاحب د عنایه فرمايي چې اذان کوونکی به په اذان او اقامت کې مخامخ پر قبله وي ماسوا له حی علی الصلوٰۃ او حی علی الفلاح څخه، دلیل یې دا دی چې کومه فرښته له اسمانه را ښکته شوې وه هغې مخامخ پر قبله اذان کړی وو، خو که په اذان کې مخامخ پر قبله نه ودرېږي نو جائز دي، لېکن له سنت څخه د مخالفت په وجه مکروه تنزيهي دي، او د حی علی الصلوٰۃ او حی علی الفلاح په وخت کې به خپل مخ راسته او چپه طرف ته ګرځوي، ځکه چې په دې دواړو کليمو سره قوم ته خطاب سوی دی، نو ځکه به دا خطاب د دوی و طرف ته وي چې: اې خلکو! د لمانځه و طرف ته راسئ او د کاميابۍ و طرف ته راسئ، دلته یو اعتراض کېږي، هغه اعتراض:

سوال: دا چې څرنګه قوم راسته او چپه طرف ته سته، همداسي د شا طرف ته هم سته، نو څرنګه چې راسته او چپه طرف د مخ ګرځولو حکم سوی دی نو د شا و طرف ته هم د مخ ګرځولو حکم پکار دی.

جواب: په دې صورت کې استدبار قبله راځي یعني په داسي کولو سره قبلې ته شا کېږي، حال دا چې مؤذن په خپله خلکو ته دعوت ورکوي چې قبلې ته متوجه سئ، نو په دې وجه صرف راسته او چپه طرف ته پر مخ ګرځولو اکتفاء وسوه، ځکه چې په دې سره د آواز رسولو مقصود هم حاصلېږي.

صومعه: په بحرائق کې راغلي دي چې صومعه "منارې" ته ویل کېږي، او علامه بدر الدين عيني رَحِمَهُ الله په فتح القدير کې لیکلي دي چې صومعه هغه جګ (لوړ) ځای ته ویل کېږي چې مؤذن اذان پکښې کوي، حاصل دا دی: که مؤذن په صومعه کې وګرځېږي نو ښه دي، خو په دې شرط چې صومعه پراخه وي، او د ګرځېدلو په وخت کې دې اول له راسته درېڅې څخه سر را باسي دوه واره دې حی علی الصلوٰۃ وایي او دويم وار دې له چپه درېڅې څخه سر را باسي دوه واره دې حی علی الفلاح وایي. (درېڅه یعني هغه کړکۍ چې په صومعه کې نصب وي)

ومراده الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله د کلام (کوم چې په متن کې ذکر سو) مطلب دا دی چې مؤذن دې په صومعه کې هغه وخت ګرځي چې د ده لپاره د دواړو پښو د اېښوولو سره سره مخ راسته او چپه طرف ته ګرځول کوم چې سنت طريقه ده ممکن نه وي (مطلب دا چې په سنت طريقه سره آواز تر خلکو پوري رسول ممکن نه وي، په دې توګه چې صومعه پراخه وي، ځکه چې کله صومعه پراخه وي نو معلومه خبره ده چې درېڅې او کړکېاني به يې ليري وي، او پر خپل ځای د درېدلو سره سره به تر هغو سر ايستل ناممکنه وي، نو په دې صورت کې مؤذن لره پکار دي چې په صومعه کې وګرځېږي، او تر درېڅو دې سر وباسي، چې تر خلکو آذان ورسېږي)، لنډه دا چې که پر خپل ځای د درېدلو سره سره اذان په خلکو نه اورول کېدی، نو د دې ضرورت پیدا سو چې په صومعه کې وګرځېږي، خو که ضرورت نه وو نو له خپل ځای څخه قدم ليري کول ښه نه دي.

په غوږ کې د ګوتو نیولو حکم

وَالْأَفْضَلُ لِلْمُؤَذِّنِ او د مؤذن لپاره غوره دا ده أَنْ يَجْعَلَ إِصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ چې خپلې ګوتې په غوږو کې ونیسي بِذَلِكَ أَمَرَ● النَّبِيُّ (ص) بِلَالًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (ځکه) نبي ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته د دې حکم کړی وو وَلِأَنَّهُ أَبْلَغُ فِي الْإِعْلَامِ او ځکه چې دا طريقه اعلان زیات رسوي (یعني په دې سره اذان نور په زوره کېږي) وَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَحَسَنٌ او که مؤذن داسي نه وکړه نو هم صحیح ده لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِسُنَّةٍ أَصْلِيَّةٍ ځکه چې دا اصلي سنت نه دی (یعني په بعضي حدیثونو کې یې تذکره نسته).

● تخريج: أخرجه ابن ماجه، كتاب الاذان، باب السنة في الاذان، حديث رقم: ٧١٠.

اللغات: ﴿إِعْلَامٌ﴾ اطلاع ورکول، اعلان کول.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې د مؤذن لپاره د اذان کولو په وخت کې خپل سبابې (يعني د شهادت) ګوتې په دواړو غوږونو کې نيول افضل او غوره دي.

نقلي دليل: دا دی چې نبي ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته ددې حکم کړی وو لکه څرنګه چې روايت دی: أن النبي ﷺ أمر بلالا أن يدخل إصبعيه في أذنيه وقال إنه أرفع لصوتك. (يعني نبي ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته په غوږ کې د ګوتو نيولو حکم وکړی او ورېې فرمايل چې دا کار ستا اواز هم غتوي).

عقلي دليل: دا دی چې د اذان مقصد اعلام دی يعني خلکو ته د لمانځه اطلاع ورکول دي، او په غوږ کې په ګوتو نيولو سره په پوره توګه اعلام حاصليږي، نو ځکه به دا عمل ښه وي.

وإن لم يفعل الخ فرمايي چې که مؤذن دا عمل نه وکړی او په غوږو کې يې له ګوتو نيولو څخه بغير اذان وکړی نو فحسن، د فحسن ښکاره مفهوم دا دی چې دا عمل ښه دی، ځکه چې په غوږونو کې ګوتې نيول اصلي سنت نه دي، لېکن صاحب د عنايې او نورو ليکلي دي چې د فحسن فاعل ترك ادخال نه دی (يعني فاعل يې د ګوتو پرېښول نه دي) او نه يې فاعل تارک دی، بلکې د دې فاعل اذان دی، نو اوس يې مطلب دا سو چې په غوږ کې د ګوتو د نيولو سره سره اذان کول أحسن يعني ډېر ښه دي او بغير له ګوتو نيولو څخه اذان حسن يعني ښه دي.

او د دې فاعل ترک او نور ځکه نه سي کېدلای چې که څه هم د حضرت عبد الله بن زيد په حديث کې د ګوتو نيولو ذکر نسته، خو څرنګه چې نبي ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته ددې حکم کړی وو، نو ځکه به دا عمل په سر او سترګو منل کيږي، او په هيڅ حال کې به نه پرېښوول کيږي. (عنايه ج:۱، ص:۲۴۸)

د تثويب تعريف او حکم

وَالتَّثْوِيبُ فِي الْفَجْرِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ مَرَّتَيْنِ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ حَسَنٌ او په سهار کې تثويب کول يعني د اذان او اقامت په مينځ کې دوه واره حي على الصلاة او حي على الفلاح ويل غوره دي لِأَنَّهُ وَقْتُ نَوْمٍ وَغَفْلَةٍ ځکه چې دا د خوب او غفلت وخت دی وَكُرِهَ فِي سَائِرِ الصَّلَوَاتِ او په نورو ټولو لمونځونو کې تثويب مکروه دی وَمَعْنَاهُ: الْعَوْدُ إِلَى الْإِعْلَامِ او د تثويب معنیٰ ده: دوباره اطلاع (خبر) ورکول وَهُوَ عَلَى حَسَبِ مَا تَعَارَفُوهُ او تثويب به د خلکو د عرف مطابق وي (يعني څرنګه چې د خلکو عرف وي د هغه مطابق به تثويب کوي) وَهَذَا التَّثْوِيبُ أَحْدَثَهُ عُلَمَاءُ الْكُوفَةِ بَعْدَ عَهْدِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ لِتَغَيُّرِ أَحْوَالِ النَّاسِ او دا تثويب د صحابه وو رضي الله عنهم تر زمانې وروسته د خلکو د حالاتو بدلېدلو په وجه د کوفې عالمانو ايجاد کړی وَخَصُّوا الْفَجْرَ بِهِ لِمَا ذَكَرْنَاهُ او د کوفې علماؤ دا تثويب د سهار د لمانځه سره په دې وجه خاص کړی کوم چې موږ بيان کړه وَالْمُتَأَخِّرُونَ اسْتَحْسَنُوهُ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا او متأخرينو علماؤ رحمهم الله په ټولو لمونځونو کې تثويب ښه ګڼلی دی لِظُهُورِ التَّوَانِي فِي الْأُمُورِ الدِّينِيَّةِ په ديني امورو کې د سستۍ (ناراستۍ) ښکاره کېدلو په وجه وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ لَا أَرَى بَأْسًا أَنْ يَقُولَ الْمُؤَذِّنُ لِلْأَمِيرِ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا او امام ابو يوسف رحمه الله

فرمايي: چي زه په دې خبره کي څه حرج نه وينم چي اذان کونکی په ټولو لمونځونو کي امير(واکمن) ته داسي ووايي السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا الْأَمِيرُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السلام عليک أيها الأمير ورحمة الله وبركاته (يعني اې واکمنه پر تا دې د خدای له طرفه سلامتيا وي) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حي على الصلاة حي على الفلاح (راسه! د لمانځه و طرف ته (او) راسه! د کامیابۍ و طرف ته) الصَّلَاةَ يَرْحَمُكَ اللهُ الصلاة يرحمک الله (لمونځ درېږي الله دي پر تا رحم وکړي) وَاسْتَبْعَدَهُ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله دا خبره (د شريعت له اصولو څخه) لیري ګڼلې ده لِأَنَّ النَّاسَ سَوَاسِيَةٌ فِي أَمْرِ الْجَمَاعَةِ● ځکه چي د جماعت په سلسله کي ټوله خلک برابر دي وَأَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ خَصَّهُمْ بِذٰلِكَ لِزِيَادَةِ إِشْتِغَالِهِمْ بِأُمُوْرِ الْمُسْلِمِيْنَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله واکمنان په تثويب سره ځکه خاص کړي دي چي د مسلمانانو په کارونو کي د هغوی مشغوليت زيات وي(نو ځکه به د هغوی په حق کي تثويب غوره وي) كَيْ لَا تَفُوْتَهُمُ الْجَمَاعَةُ چي له هغوی څخه جماعت پاته نه سي وَعَلٰى هٰذَا الْقَاضِيْ وَالْمُفْتِيْ او دا حکم د قاضي او مفتي (هم) دی.

اللغات: ﴿تَثْوِيْب﴾د تفعيل د باب مصدر دی: راګرځول، دويم ځل کول. ﴿أَعْلَمْ﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده: له ځانه جوړول، پيدا کول. ﴿إِسْتَحْسَنُوْا﴾ د استفعال د باب ماضي صيغه ده: ښه ګڼل. ﴿إِسْتَبْعَدَهُ﴾ دا هم د استفعال د باب ماضي صيغه ده: ليري ګڼل. ﴿سَوَاسِيَةٌ﴾ جمع ده، واحد يې سَوَاءٌ دی: برابر. ﴿تَوَانِيْ﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: سستي کول، ناراسته کېدل، لږ کوښښ کول.

تشريح: صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي د تثويب لغوي معنیٰ ده: رجوع کول، واپس کېدل، يو کار دوه واره کول، او د تثويب: اصطلاحي معنیٰ ده: العود الى الأعلام بعد الأعلام (تر يو ځل اطلاع ورکولو وروسته دويم ځل اطلاع ورکول)، بيا دا خبره هم په ذهن کي ساتل پکار دي، چي تثويب هغه دی کوم چي د سهار په اذان کي تر حيّ على الفلاح وروسته د الصلاة خير من النوم په الفاظو سره اداء کيږي، او دکوم تثويب په باره کي چي نبي ﷺ حضرت بلال ﷺ ته فرمايلي وو چي: اجعله فى أذانك. هغه تثويب د نبي ﷺ له زمانې څخه د صحابه وو د زمانې تر آخره پوري جاري وو، او صرف به د سهار په لمانځه کي د دې خيال ساتل کېدی، ځکه چي هغه د خير القرون زمانه وه، خلک به د لمونځونو حريص او شوقيان وه، او د وينبوالي په حالت کي به په لمانځه کي د بې پروايي تصور هم له هغه څخه ممکن نه وو. لېکن څرنګه چي له خير القرون څخه وخت ليري کېدی، نو په خلکو کي ديني رغبت کمېدی، او د دې کمښت احساس له ټولو څخه مخکي د کوفې عالمانو ته وسو، نو هغوی د خلکو د متوجه کولو لپاره د اذان او اقامت په دوران کي دوه دوه واره د حی على الصلاة او حيّ على الفلاح په کلمو سره د اعلام بعد الاعلام يوه نوې طريقه ايجاد کړه او دا تثويب مېنځ ته راغلی، نو همدارنګه د نورو هيوادونو عالمانو هم د کوفې د فقهاؤ د دې بدعتِ حسنه تعريف وکړی، او د ما رآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن په رڼا کي دې تثويب ته هر ډول تائيد او توثيق حاصل سو.

● القول الراجح: القول الراجح قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا فى رد المحتار ج:١، ص:٢٨٦. [القول الراجح ج:١، ص:٦٣]

بیا د کوفې عالمانو دا تثویب صرف د سهار په لمانځه کې د غفلت او خوب په وجه د سهار د لمانځه سره خاص کړی، او تر ډېره وخته صرف په سهار کې تثویب کېدی، لیکن تر دې وروسته بیا نور په حالاتو کې تغیر پیدا سو، او معاشره (ټولنه) په دومره اندازه خرابه سوه چې خلګو د ویښوالي په حالت کې هم په لمونځونو کې سستي او ناراستي شروع کړه، چې د هغه په وجه وروستني (متأخرینو) عالمانو په ټولو لمونځونو کې تثویب ښه وګڼۍ، او د خلګو د اسانتیا لپاره یې دا حکم جاري کړی چې د تثویب لپاره څه خاص الفاظ نسته بلکې د هري سیمي والا دي پر خپل عرف عمل کوي، او له کوم لفظ څخه چې د تثویب معنیٰ حاصلیږي هغه لفظ دي اختیاروي، او له هغه څخه دي د تثویب کار اخلي.

کله چې متأخرینو تثویب په دومره اندازه عام کړی نو له دې متأخرینو څخه د دویمي هجري پیړۍ نامتو فقیه، د امام اعظم رَحِمَهُ الله څانګړي شاګرد قاضي حضرت امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د واکمنانو، قاضیانو او مفتیانو لپاره هم د تثویب درواه خلاصه کړه، او دا حکم یې جاري کړی چې که مؤذن په هر لمانځه کې د دې حضراتو و مخ ته ورسي او د السلام علیك ورحمة الله وبرکاته...الخ کلمې ووایي نو زما په نېز په دې کې هیڅ حرج نسته، ځکه چې دا حضرات د مسلمانانو په کارو او مسئلو کې په دومره اندازه بوخت وي چې کېدای سي د ډېري بوختیا په وجه له دوی څخه جماعت فوت سي، نو په دې وجه د دوی په حق کې هم تثویب ضروري دی، نو ځکه زما په نېز د دوی لپاره په تثویب کې هیڅ خبره نسته.

د امام محمد مسلک: لیکن امام محمد رَحِمَهُ الله دا کار د شریعت له اصولو څخه لیري ګڼلی دی، فرمایي چې جماعت او لمونځ د دین کار دی، او په دې کار کې ټوله خلک برابر دی، نو ځکه د واکمنانو او قاضیانو لپاره جلا او څانګړي تثویب ضروري نه دی.

فایده: صاحب د فتح القدیر علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله لیکلي دي چې مؤذن دي تر اذان وروسته د شلو آیتونو په اندازه وقفه کوي او وروسته دي تثویب کوي، او تر هغه وروسته دي بیا د شلو آیتونو په اندازه وقفه کوي او بیا دي اقامت کوي. (فتح القدیر ج:۱، ص:۲۵۰)

راجح قول: په پورتنی مسئله راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی چې هغه فرمایي: هیڅ واکمن او قاضي به په اذان کې په یوه څانګړي کلمه سره نه ستایل کیږي. (الکفایة ج:۱، ص:۲۱۱۵) [القول الراجح ج:۱، ص:۶۳]

د اذان او اقامت په مینځ کې د کښېنستلو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

وَيَجْلِسُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ او د اذان او اقامت په مینځ کې به ناسته کوي إِلَّا فِي الْمَغْرِبِ ما سوا د ماښام له لمانځه څخه وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او دا (حکم) د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: ● يَجْلِسُ فِي الْمَغْرِبِ أَيْضًا جَلْسَةً خَفِيْفَةً او صاحبین فرمایي: چې په ماښام کې به هم لږ غوندي ناسته کوي لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الْفَصْلِ په دې وجه چې فصل ضروري دی إِذِ الْوَصْلُ مَكْرُوْهٌ ځکه چې وصل مکروه دی وَلَا يَقَعُ الْفَصْلُ بِالسَّكْتَةِ او په سکته (وقفه) کولو سره فصل نه راځي لِوُجُوْدِهِمَا بَيْنَ كَلِمَاتِ الْأَذَانِ ځکه چې سکته خو د اذان د کلمو په مینځ کې هم سته فَيَفْصِلُ بِالْجَلْسَةِ

● القول الراجح: الاختلاف فی الافضلیة قول ابی حنیفة رَحِمَهُ الله کذا فی الدر المختار ج:۱، ص:۲۸۷. [القول الراجح ج:۱، ص:۲۸۷]

نو په ناستې سره به فصل کوي كَمَا بَيْنَ الْخُطْبَتَيْنِ لکه څرنګه چې د دوو خطبو په مينځ کې (په ناستې سره فصل کيږي) وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: أَنَّ التَّأْخِيرَ مَكْرُوهٌ او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې (د ماښام په لمانځه کې) تأخير مکروه دی فَيَكْتَفِي بِأَدْنَى الْفَصْلِ احْتِرَازًا عَنْهُ نو له تأخير څخه د ځان ساتلو لپاره به په معمولي غونډي فصل اکتفاء کوي وَالْمَكَانُ فِي مَسْأَلَتِنَا مُخْتَلِفٌ او زموږ په مسئله کې مکان مختلف دی وَكَذَا النَّغْمَةُ همدارنګه آواز (هم) مختلف دی فَيَقَعُ الْفَصْلُ بِالسَّكْتَةِ نو په سکته سره به فصل واقع کيږي وَلَا كَذَلِكَ الْخُطْبَةُ او خطبه داسې نه ده وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَفْصِلُ بِرَكْعَتَيْنِ او امام شافعي فرمايلي دي: چې په دوو رکعتو به فصل کوي اِعْتِبَارًا بِسَائِرِ الصَّلَوَاتِ په نورو لمونځونو باندې په قياسولو سره وَالْفَرْقُ قَدْ ذَكَرْنَاهُ او فرق موږ ذکر کړی دی قَالَ يَعْقُوبُ رَحِمَهُ اللهُ: رَأَيْتُ أَبَا حَنِيفَةَ يُؤَذِّنُ وَيُقِيمُ فِي الْمَغْرِبِ يعقوب (يعني امام ابو يوسف) رَحِمَهُ الله فرمايي: چې ما به ابو حنيفه رَحِمَهُ الله ليدی چې د ماښام اذان او اقامت به يې کوی وَلَا يَجْلِسُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ او د اذان او اقامت په مينځ کې به نه کښېنستی وَهَذَا يُفِيدُ مَا قُلْنَا او دا خبره زموږ قول فايده کوي (يعني تائيديې کوي) وَأَنَّ الْمُسْتَحَبَّ كَوْنُ الْمُؤَذِّنِ عَالِمًا بِالسُّنَّةِ او (دا خبره هم فايده کوي) چې مستحب دا ده چې مؤذن به په سنتو عالم (او خبر) وي لِقَوْلِهِ عليه السلام:• وَيُؤَذِّنُ لَكُمْ خِيَارُكُمْ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: په تاسو کې دې ستاسو غوره (او په علم پوه) سړی اذان کوي.

اللغات: ﴿خفيفة﴾ سپک، لږ. ﴿لابد﴾ ضروري دي، چاره نسته. ﴿وصل﴾ جوختول. ﴿نغمة﴾ آواز. ﴿خيار﴾ د خير جمع ده: غوره، نېک.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د ماښام له لمانځه څخه ماسوا نور په ټولو لمونځونو کې د اذان او قامت په مينځ کې وقفه (دمه) او فصل کول سنت دي، او دا فصل به د لمونځونو په ذريعه غور وي، ځکه د نبي ﷺ فرمان دی چې: بين كل أذانين صلاة. (يعني د هر اذان او اقامت په مينځ کې لمونځ سته)، او له دې لمانځه څخه سنت او نفلي لمونځ مراد دي، نو اوس که تر فرضو مخکې سنت لمونځ وو، نو په هغه سنتو سره فصل کول غوره دي، لکه په سهار، ماپښين، مازيګر او ماخوستن کې، او څرنګه چې د ماښام تر لمانځه مخکې سنت نه کيږي، او د ماښام په لمانځه کې تأخير کول هم مکروه دي، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به په دې کې ډېر لږ فصل کيږي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې د نورو لمونځونو په شان به د ماښام په لمانځه کې هم فصل کيږي، خو دا فصل به د نورو لمونځونو په نسبت معمولي وي او فصل بالجلسة به وي (يعني دا وقفه به هم په ناستې سره وي). لکه څرنګه چې د دوو خطبو په مينځ کې فصل بالجلسة کيږي، ځکه چې د اذان او قامت په مينځ کې وصل کول مکروه دي، او په سکوت (چوپتيا) سره به فصل نه کوي ځکه چې سکوت د اذان د کلمو په مينځ کې هم سته، نو ځکه به په ناستې سره فصل کوي.

• تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الصلوٰة، باب من أحق بالامامة، حديث رقم: ٥٩.

د امام صاحب دليل: دا دی چې د ماښام په لمانځه کې تأخير کول مکروه دي، او دا خبره تسليم سوې ده چې په جلسه کولو سره تأخير راځي، نو ځکه له تأخير ځخه به د ځان ساتلو لپاره معمولي غوندي فصل کوي، او دا معمولي غوندي فصل په سکتې (سکوت) سره هم حاصليږي، نو ځکه پر همدغه سکتې به اکتفا کيږي.

جواب: صاحبينو دلته د فصل مسئله د خطبې پر فصل قياس کړې ده، نو جواب يې دا دی چې د اذان او اقامت والا فصل د خطبې پر فصل قياسول صحيح نه دي، ځکه چې په اذان او اقامت کې د مؤذن ځای هم جلا وي، آوازيې هم جلا وي، او د اذان کولو طريقه يې هم جلا وي، د دې په خلاف په خطبه کې د دواړو خطبو ځای هم يو وي، د خطيب طريقه هم يوه وي، او تقريباً د خطيب آواز هم يو دول وي، نو کله چې د دوی په مينځ کې دومره ښکاره فرق سته نو يو پر بل به قياسول ځرنګه صحيح وي؟ آيا تاسو ته معلومه نه ده چې د قياس د صحت لپاره د مقيس او مقيس عليه په مينځ کې مطابقت ضروري دی.

وقال الشافعي رَحِمَهُ اللهُ الخ امام شافعي فرمايي: ځرنګه چې په نورو لمونځونو کې د اذان او اقامت په مينځ کې په لمانځه سره فصل کيږي، همدارنګه به د ماښام په لمانځه کې هم په دوو رکعتونو سره فصل کيږي، لېکن زموږ له طرفه جواب دا دی چې د ماښام لمونځ پر نورو لمونځونو قياسول صحيح نه دي، ځکه چې د نورو لمونځونو په ځنډولو سره هيڅ فرق نه راځي او د ماښام د لمانځه په ځنډولو سره کراهت پيدا کيږي، چې هغه صحيح نه دی، صاحب د هدايې په والفرق ما ذکرناه سره هم د دغه خبرې وطرف ته اشاره کړې ده.

قال يعقوب الخ يعقوب د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله نوم دی، امام ابو يوسف فرمايي چې: ما امام صاحب رَحِمَهُ الله د ماښام پر اذان کولو ليدلی دی، او دا مي هم ليدلي دي چې امام صاحب رَحِمَهُ الله به تر اذان وروسته سمدلاسه (فوراً) په اقامت مصروفه کېدی، او فصل بالجلسة به يې نه کوی، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دې بيان سره يو طرف ته د امام صاحب رَحِمَهُ الله د مسلک تائيد کيږي، بل طرف ته له دې ځخه دا خبره هم فهمول کيږي چې اذان کونکی به د شريعت پابنده وي او د قرآن او حديثو په مسئلو به په ښه توګه خبر وي؛ لکه ځرنګه چې د دې خبري تائيد د نبي ﷺ له دې فرمان ځخه هم کيږي: ويؤذن لکم خيارکم.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب دی، وقال العلامة المصكفي رَحِمَهُ الله الا في المغرب فيسكت قائما قدر ثلاث آيات قصار ويكره الوصل اجماعا. (الدر المختار ج: ۱، ص: ۲۸۷)، [القول الراجح ج: ۱، ص: ۶۵]

د قضا سوو لمونځونو لپاره د اذان او اقامت حکم

وَيُؤَذِّنُ لِلْفَائِتَةِ وَيُقِيمُ او د قضاء سوو لمونځونو لپاره دي اذان (هم) کوي او اقامت دي (هم) کوي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ● قَضَى الْفَجْرَ غَدَاةَ لَيْلَةِ التَّعْرِيسِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ ځکه چې نبي ﷺ د تعريس په شپه تر لمر راختلو وروسته د سهار لمونځ په اذان او اقامت سره را وګرځوی وَهُوَ حُجَّةٌ عَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او دا حديث پر امام شافعي رَحِمَهُ الله حجت دی فِي اِكْتِفَائِهِ بِالْإِقَامَةِ (په دې باره کې) چې هغه صرف په اقامت اکتفا کوي.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوٰة، باب من نام عن صلوٰة، حديث رقم: ۴۳۶.

اللغات: ﴿تعريس﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: د شپې په آخره حصه کې پړاو کول(يعني يوځای ايسارېدل)، ډېره اچول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې که يو څوک ديو لمانځه قضاء راوړي نو د هغه لپاره به اذان او اقامت دواړه کوي، بيا برابره خبره ده که يوازې يې قضاء راوړي، که په جماعت سره.

زموږ دليل: د ليلة التعريس واقعه ده، د تعريس معنیٰ ده: د شپې په آخر کې په يو ځای کې د آرام کولو لپاره ډېره اچول، دا واقعه د حديثو په کتابونو کې په مختلفه الفاظو سره را نقل سوې ده، علامه ابن همام رَحِمَهُ الله د ابو داود په حواله سره داسې رانقل کړې ده: أنه أمر بلالا! بالأذان والإقامة حين ناموا عن الصبح و صلوها بعد إرتفاع الشمس، (يعني نبي ﷺ حضرت بلال ﷺ ته د اذان او اقامت کولو حکم وکړی، څه وخت چې صحابه د سهاره له لمانځه څخه بيده(ويده) پاته سي وه، او تر لمر راختلو وروسته يې لمونځ کوی).

شيخينو دا واقعه داسې را نقل کړې ده: عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: لَوْ عَرَّسْتَ بِنَا يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: أَخَافُ أَنْ تَنَامُوا عَنِ الصَّلَاةِ. قَالَ بِلَالٌ: أَنَا أُوقِظُكُمْ. فَاضْطَجَعُوا وَأَسْنَدَ بِلَالٌ ظَهْرَهُ إِلَى رَاحِلَتِهِ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَنَامَ. فَاسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَقَالَ: يَا بِلَالُ أَيْنَ مَا قُلْتَ؟ قَالَ: مَا أُلْقِيَتْ عَلَيَّ نَوْمَةٌ مِثْلُهَا قَطُّ، قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَبَضَ أَرْوَاحَكُمْ حِينَ شَاءَ وَرَدَّهَا عَلَيْكُمْ حِينَ شَاءَ. يَا بِلَالُ قُمْ فَأَذِّنْ النَّاسَ بِالصَّلَاةِ فَتَوَضَّأَ. فَلَمَّا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ وَابْيَاضَّتْ قَامَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ جَمَاعَةً.

له دواړو روايتونو څخه معلومېږي چې نبي ﷺ په ليلة التعريس کې تر لمر راختلو وروسته د اذان او اقامت سره د سهار لمونځ وکړی.

وهوحجة على الشافعي... علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله فرمايي چې زموږ دليل د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی ځکه چې هغه فرمايي: صرف په اقامت کول کافي دي، د اذان ضرورت نسته.

د امام شافعي دليل: امام شافعي رَحِمَهُ الله د مسلم شريف په هغه روايت دليل نيسي کوم چې له حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت سوی دی، يعني: أمر بلالا فأقام الصلاة فصلى بهم الصبح، (يعني نبي ﷺ بلال ﷺ ته حکم وکړی، نو نبي ﷺ داقامت سره صحابه وو ته لمونځ ورکړی)، په دې حديث کې د اذان ذکر نسته، نو معلومه سوه چې په قضائي لمونځ کې صرف پر اقامت اکتفا کول کافي دي.

جواب: دا دی چې په نورو صحيحو روايتونو کې د اذان ذکر سته، نو پر زياتوب عمل کول غوره دي. زموږ د مسلک تائيد له هغه روايت څخه هم کېږي چې کله د غزوه خندق پر موقع له نبي ﷺ څخه څلور لمونځونو قضاء سوه، نو نبي ﷺ د اذان او اقامت سره د هغو قضاء راوړه، نو د دومره صحيحو حديثونو سره سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف مناسب نه معلومېږي.

د زياتو قضاء سوو لمونځونو لپاره د اذان او اقامت حکم او طريقه

﴿فَإِنْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ أَذَّنَ لِلْأُولَى وَأَقَامَ﴾ بيا که له هغه څخه ډېر لمونځونه قضاسوي وه نو د اولني لمونځ لپاره دي اذان او اقامت دواړه وکړي ﴿لِمَا رَوَيْنَا﴾ د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی ﴿وَكَانَ مُخَيَّرًا فِي الْبَاقِي إِنْ شَاءَ أَذَّنَ وَأَقَامَ﴾ او د نورو لمونځونو په حق کې ورته اختيار دی که غواړي نو اذان او اقامت دي (دواړه) وکړي ﴿لِيَكُونَ الْقَضَاءُ عَلَى حَسَبِ

الْأَدَاءِ د دې لپاره چې قضاء د اداء موافق سي وَإِنْ شَاءَ اقْتَصَرَ عَلَى الْإِقَامَةِ اوكه غواړي نو صرف پر اقامت دي اكتفا وكړي لِأَنَّ الْأَذَانَ لِلِاسْتِحْضَارِ وَهُمْ حُضُورٌ ځكه چې اذان خو د (خلكو د) حاضرولو لپاره كيږي او دوى (ټوله) حاضر دي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يُقَامُ لِمَا بَعْدَهَا صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دى چې تر اول لمانځه وروسته دي د نورو لمونځونو لپاره (صرف) اقامت كيږي قَالُوا: يَجُوزُ أَنْ يَكُونَ هَذَا قَوْلُهُمْ جَمِيعًا مشائخ فرمايي: كېداى سي چې دا د ټولو قول وي.

اللغات: ﴿مُخَيَّر﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دى: اختيار وركړل سوى، مختار. ﴿اِسْتِحْضَار﴾ د استفعال د باب مصدر دى: مخ ته راوړل، جمع كول، حاضرول.

تشريح: مسئله: دا ده كه له يو سړي څخه ډېر لمونځونه قضاء سي نو د اول لمانځه لپاره دي اذان هم وكړي او اقامت دي هم وكړي، دليل د ليلة التعريس حديث دى كوم چې مخكې ذكر سو. او د پاته لمونځونو په حق كې اختيارمن دى كه غواړي نو د هر لمانځه لپاره دي اذان هم كوي او اقامت هم چې قضاء د اداء په ډول سي. خو كه غواړي چې صرف اقامت وكړي، نو پر اقامت دي اكتفاء وكړي، ځكه چې اذان د خلكو د حاضرولو لپاره كيږي او دلته ټوله خلك حاضر دي، نو د اذان هيڅ ضرورت نسته.

دليل: د اقامت او اذان دواړو كولو تائيد له هغه روايت څخه هم كيږي كوم چې علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په واسطه بيان كړى دى: أنه حين شغلهم الكفار يوم الأحزاب عن أربع صلوات عن الظهر والعصر والمغرب والعشاء قضاهن على الولاء و أمر بلالا أن يؤذن ويقيم لكل واحدة منهن. (د غزوه احزاب په وخت كې چې كله كافرانو نبي ﷺ له څلورو لمونځونو څخه مشغوله كړى، يعني له ماپښين، مازيګر، ماښام او ماخوستن څخه، نو نبي ﷺ په ترتيب سره د هغو قضاء راوړه، او بلال ؓ ته يې حكم وكړى چې دهر لمانځه لپاره دي اذان او اقامت (دواړه) وكړي.

او د غير اصولو په روايت كې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي چې كه څو لمونځونه قضاء سي نو د اولني لمونځ قضاء دي په اذان او اقامت دواړو سره راوړي، او د پاته لمونځونو قضاء دي صرف په اقامت سره راوړي، مشائخو فرمايلي دي: كېداى سي چې دا قول د امام محمد، امام ابو يوسف او امام ابو حنيفه رَحِمَهُمُ الله ټولو وي.

د اذان او اقامت لپاره د اودس حكم

وَيَنْبَغِيْ أَنْ يُؤَذِّنَ وَيُقِيْمَ عَلَى طُهْرٍ او پكار ده چې اذان او اقامت په اوداسه وكړي فَإِنْ أَذَّنَ عَلَى غَيْرِ وُضُوْءٍ خو كه بې اودسه اذان وكړي جاز نو جائز دي لِأَنَّهُ ذِكْرٌ وَلَيْسَ بِصَلَاةٍ ځكه چې اذان ذكر دى لمونځ نه دى فَكَانَ الْوُضُوْءُ فِيْهِ اِسْتِحْبَابًا كَمَا فِي الْقِرَاءَةِ نو د قرآن لوستلو په ډول په دې كې هم اودس مستحب دى.

اللغات: ﴿يَنْبَغِيْ﴾ پكار ده، مناسب ده.

تشريح: صورت د مسئلې خو ښكاره دى چې اذان او اقامت دواړه په اوداسه كول مستحب او غوره دي، لېكن كه يو سړى بې له اودسه اذان وكړي نو جائز دي، ځكه چې اذان ذكر دى او د ذكر لپاره اودس ضروري نه دى، اودس خو د لمانځه لپاره

ضروري دي، نو ځکه به په اذان کي اودس ضروري نه وي، لېکن څرنګه چي د قرآن لپاره اودس مستحب دی، همدارنګه د اذان کولو لپاره هم اودس مستحب دی.

بغير له اوداسه اقامت مکروه دی

وَيُكْرَهُ أَنْ يُقِيمَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ او بې له اوداسه اقامت کول مکروه دي لِمَا فِيهِ مِنَ الْفَصْلِ بَيْنَ الْإِقَامَةِ وَالصَّلَاةِ ځکه چي په دې سره د لمانځه او اقامت په مينځ کي فصل راځي وَيُرْوَى: أَنَّهُ لَا تُكْرَهُ الْإِقَامَةُ أَيْضًا او يو روايت دا دی: چي اقامت هم (بې له اودسه) مکروه نه دی لِأَنَّهَا أَحَدُ الْأَذَانَيْنِ ځکه چي دا هم له دوو اذانو څخه يو اذان دی وَيُرْوَى: أَنَّهُ يُكْرَهُ الْأَذَانُ أَيْضًا او يو روايت دا دی چي: اذان هم (بې له اودسه) مکره دی لِأَنَّهُ يَصِيرُ دَاعِيًا إِلَى مَا لَا يُجِيبُ بِنَفْسِهِ ځکه چي اذان کونکي به د داسي شي وطرف دعوت ورکونکی سي چي په خپله هغه نه عملي کوي (يعني يو طرف ته خو د اذان په ذريعه خلګو ته د لمانځه دعوت ورکوي، او بل طرف ته خپله ور ته چمتو نه دی).

اللغات: ﴿يجيب بنفسه﴾ په خپله قبلول، په خپله کول.

تشريح: مسئله: دا ده چي بغير له اودسه اقامت کول مکروه دي، ځکه چي په دې صورت کي د اقامت او لمانځه په مينځ کي فصل راځي، حال دا چي اقامت د لمانځه سره متصل مشروع سوی دی.

ويروٰی...الخ د امام کرخي رَحِمَهُ الله روايت دی چي اقامت هم بې اودسه مکروه نه دی، ځکه چي اقامت له دوو اذانونو څخه يو اذان دی، او اذان بې اودسه مکروه نه دی، نو اقامت به هم بې اودسه مکروه نه وي.

ويروٰی...الخ د امام کرخي رَحِمَهُ الله دويم روايت دا هم دی چي بې اودسه اقامت له څه کوې بې اودسه اذان هم مکروه دی، ځکه چي مؤذن د اذان په ذريعه خلګو ته د لمانځه لپاره د ځان تيارولو حکم کوي، او په خپله ور ته تيار نه دی، نو دی به د الله تعالیٰ تر دې قول لاندي راسي: أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ (سورة البقرة:۴۴)، نو ځکه بې اودسه اذان هم مکروه دی.

د جنابت په حالت کي د اذان او اقامت حکم

وَيُكْرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ وَهُوَ جُنُبٌ او مکروه دي چي يو سړی د جنابت په حالت کي اذان وکړي رِوَايَةً وَاحِدَةً په يوه روايت کي وَوَجْهُ الْفَرْقِ عَلَى إِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ أَنَّ لِلْأَذَانِ شَبَهًا بِالصَّلَاةِ په دوارو روايتونو کي د يوه روايت مطابق د فرق وجه دا ده چي اذان د لمانځه سره مشابهت لري فَيُشْتَرَطُ الطَّهَارَةُ عَنْ أَغْلَظِ الْحَدَثَيْنِ دُونَ أَخَفِّهِمَا نو په دوارو حدثونو کي به له سخت حدث څخه د ځان پاکول شرط کيږي نه له سپک څخه عَمَلًا بِالشَّبَهَيْنِ پر دوارو مشابهتونو باندي په عمل کولو سره وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: إِذَا أَذَّنَ وَأَقَامَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ لَا يُعِيدُ او په جامع صغير کي دي چي که يو سړي بې اودسه اذان او اقامت وکړي نو نه به يې راګرځوي وَالْجُنُبُ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يُعِيدَ خو که اذان کونکی جنب وو نو زما خوښه دا ده چي را ويې ګرځوي وَلَوْ لَمْ يُعِدْ أَجْزَأَهُ او که نه يې را وګرځوي نو هم لمونځ جائز دی أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِخِفَّةِ الْحَدَثِ هر چي اول دی نو هغه د حدث د خفت (سپکوالي) په وجه دی وَأَمَّا الثَّانِي فَفِي الْإِعَادَةِ بِسَبَبِ الْجَنَابَةِ رِوَايَتَانِ او کوم چي دويم

دي نو د جنابت په وجه د اذان په راګرځولو کي دوه روايتونه دي وَالْأَشْبَهُ أَنْ يُعَادَ الْأَذَانُ او د فقهي سره نژدې خبره دا ده چي اذان دي را وګرځول سي دُوْنَ الْإِقَامَةِ (او) اقامت دي نه راګرځول کيږي لِأَنَّ تَكْرَارَ الْأَذَانِ مَشْرُوْعٌ دُوْنَ الْإِقَامَةِ ځکه چي په اذان کي خو تکرار مشروع دی لېکن په اقامت کي نه دی وَقَوْلُهُ وَلَوْ لَمْ يُعِدْ أَجْزَأَهُ: يَعْنِي الصَّلَاةَ او د امام محمد رَحِمَهُ الله له دې قول إن لم يعد أجزاء څخه لمونځ مراد دی لِأَنَّهَا جَائِزَةٌ بِدُوْنِ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ ځکه چي لمونځ له اذان او اقامت څخه بغير هم جائز دی.

اللغات: ﴿أغلظ﴾ زيات سخت، زيات درونډ. ﴿شِبه﴾ مشابه، مثل؛ او شُبه په ضمه د شين سره مشابهت ته ويل کيږي.

تشريح: **مسئله**: داده چي په حالت د جنابت کي اذان کول مکروه دي، او په دې کي صرف يو روايت سته يعني د کراهت روايت يې سته، او د عدم کراهت روايت يې نسته، او مخکي تېر سو چي د بې لودسه په اذان کي د کراهت او عدم کراهت دواړه روايتونه سته.

وجه الفرق... الخ نو د جنب د اذان په کراهت او د محدث د اذان په عدم کراهت فرق دا دی چي اذان د لمانځه سره مشابه (ورته) دی، هغه داسي چي دواړه په تکبير تحريمه سره شروع کيږي، دواړه مخ پر قبله اداء کيږي، او د اذان کلمې داسي ترتيب سوي دي لکه څرنګه چي د لمانځه ارکان په ترتيب دي، دواړه د وخت سره خاص دي يعني د هر يوه لپاره يو ځانګړی وخت سته، او په دواړو کي خبري جائز نه دي، لنډه دا چي داذا من وجه د لمونځ سره مشابه دی او من وجه ور سره مشابه نه دی، نو که د مشابهت اعتبار وکړی سي، نو بايد چي اذان بې اودسه او په جنابت سره ناجائز سي، او که د عدم مشابهت اعتبار وکړی سي، نو بايد په دواړو صورتونو کي اذان بغير له کراهته جائز سي، موږ په دواړو مشابهتينو باندي عمل وکړی، نو د جنابت په صورت کي مو د لمانځه سره د مشابهت اعتبار وکړی، او دا حکم مو وکړی چي د اذان لپاره طهارت شرط دی، او د بې اودسی په صورت کي مو د عدم مشابهت اعتبار وکړی، او دا حکم مو وکړی چي د اذان لپاره طهارت شرط نه دی، نو د بې اودسی په حالت کي اذان کول مکروه نه دی.

وفي الجامع الخ امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع الصغير کي فرمايلي دي چي: که بغير له اودسه يې اذان يا اقامت وکړ، نو اذان او اقامت دي نه راګرځوي، او که په جنابت يې اذان يا اقامت وکړی نو زما په نېز يې راګرځول مستحب دي.

په شرح طحاوي کي راغلي دي چي د څلورو انسانانو اذان راګرځول مستحب دي: (۱) د جنب (۲) د ښځي (۳) د نشه سړي (يعني چي په نشه کي مست وي) (۴) د لېوني.

ولولم يعد أجزأه الخ خو که د جنب اذان او اقامت نه راوګرځول سي، نو بيا هم کافي دي، په هر حال د بې اودسه د اذان او اقامت نه راګرځول په دې وجه دي چي بې اودسي سپک نجاست دی، او پاته سو دويم يعني د جنب اذان او اقامت نو په دې کي دوه روايتونه دي: يو دا چي را ودي ګرځول سي، او دويم دا چي نه دي راګرځول کيږي، خو د فقهه سره زيات نژدې دا ده چي د جنب اذان دي راوګرځول سي، او اقامت دي يې نه راګرځول کيږي، ځکه چي په اذان کي في الجمله تکرار (يعني مکرروالی) مشروع دي، لکه څرنګه چي په جمعه کي اذان دوه واره کيږي، لېکن په اقامت کي تکرار مشروع نه دی (نو په دې وجه دي اقامت نه را ګرځول کيږي).

وقوله الخ فرمايي چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په دې قول إن لم يعد أجزاء کي له أجزاء څخه مراد لمونځ دی، ځکه کله چي ګردسره بغير له اذان او اقامت څخه لمونځ جائز دی، نو بغير له اعادې (راګرځولو) څخه به په طريقه اولیٰ جائز او صحيح وي.

د ښځې د اذان حکم

قَالَ: وَكَذٰلِكَ الْمَرْأَةُ تُؤَذِّنُ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: همدا حکم هغه وخت دی چي کله ښځه اذان وکړي **مَعْنَاهُ:** يُسْتَحَبُّ أَنْ يُّعَادَ د دې مطلب دا دی: چي د ښځي اذان راګرځول هم مستحب دي لِيَقَعَ عَلٰى وَجْهِ السُّنَّةِ د دې لپاره چي اذان پر سنت طريقه اداء سي.

تشريح: مسئله: دا ده چي څرنګه د جنب اذان راګرځول مستحب دي، همدا رنګه د ښځي اذان راګرځول مستحب دي، د دې لپاره چي پر سنت طريقه اذان اداء سي، او سنت طريقه دا ده چي اذان به نارينه کوي، او د ښځي اذان سنت نه بلکي بدعت دی.

دليل: دا دی چي که ښځي په لوړ آواز سره اذان وکړی نو دې د يو حرام کار ارتکاب وکړی، ځکه چي د ښځي آواز عورت دی، او څرنګه چي پر ښځي ستر کول واجب دي دغه رنګه د دې لپاره خپل آواز پټول هم واجب دي، او که په لوړ آواز سره يې اذان نه وکړی، نو بيا خو د اذان مقصود پاته سو (چي هغه خلکو ته خبر ورکول دي)، نو ځکه مستحب دا ده چي اذان را وګرځول سي.

دويمه خبره دا ده چي پر ښځو نه اذان سته او نه اقامت ځکه چي دا دواړه د جماعت سنت دي، او د ښځو جماعت منسوخ سوی دی، ليکن که هغوی په جماعت سره لمونځ کول غواړي نو بغير له اذان او اقامت څخه دې يې کوي.

دليل: د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا امامت دی، چي روايت يې حضرت رائطه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کړی دی: كنا جماعة فأمّتنا عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بلاأذان ولا إقامة. (ج:۱، ص: ۲۶۰)

تر وخت مخکي د اذان حکم (او په دې باره کي د فقهاؤ قولونه)

وَلَا يُؤَذَّنُ لِصَلَاةٍ قَبْلَ دُخُوْلِ وَقْتِهَا او د يوه لمانځه لپاره به هم تر خپل وخت داخليدلو مخکي اذان نه کوي وَيُعَادُ فِي الْوَقْتِ او (که يې وکړی نو) په وخت کي به دننه راګرځول کيږي لِأَنَّ الْأَذَانَ لِلْإِعْلَامِ ځکه چي اذان خو (د وخت د داخليدلو) د خبر ورکولو لپاره دی وَقَبْلَ الْوَقْتِ تَجْهِيْلٌ● او تر وخت مخکي خو خلک په جهالت کي اچول دي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ امام ابو يوسف فرمايلي دي او دا قول د امام شافعي هم دی يَجُوْزُ لِلْفَجْرِ فِي النِّصْفِ الْأَخِيْرِ مِنَ اللَّيْلِ چي د سهار لپاره د شپې په نصف اخير (آخري نيمه حصه) کي اذان کول جائز دي لِتَوَارُثِ أَهْلِ الْحَرَمَيْنِ ځکه دا د مکې او مديني له خلکو څخه د توارث په توګه را نقل سوي دي وَالْحُجَّةُ عَلَى الْكُلِّ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِبِلَالٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ● او د ټولو په خلاف حضرت بلال رضي الله عنه ته د نبي ﷺ دا قول حجت دی لَا تُؤَذِّنْ حَتّٰى يَسْتَبِيْنَ لَكَ الْفَجْرُ هٰكَذَا چي اذان مه کوه! تر دې چي سهار تا ته داسې څرګند سي وَمَدَّ يَدَيْهِ عَرْضًا او نبي ﷺ خپل دواړه لاسونه په بره (پلنوالي) سره وغوړل.

اللغات: ﴿عرضًا﴾ پلنوالی، بر، پسور. ﴿مدَّ﴾ د نصر د باب ماضي صيغه ده: غوړول.

● القول الراجح: قول الطرفين، كذا في فتح القدير ج:۱، ص:۲۲. [القول الراجح ج:۱، ص۶۵]

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوٰة، باب في الاذان قبل دخول الوقت، حديث رقم:۵۳۲.

تشريح: مسئله: دا ده چي تر وخت داخلېدلو مخکي اذان کول معتبر نه دی، خو که چا تر وخت مخکي وکړی، نو په هغه وخت کي به يې راګرځوي.

اول دليل: د جمهورو احنافو اول دليل دا دی چي د اذان مقصود خلکو ته د وخت د داخلېدلو خبر ورکول دي، لو تر وخت مخکي اذان کول خلګ په ناپوهي کي اچول دي، نو ځکه به تر وخت مخکي اذان کول په شريعت کي معتبر نه وي.

امام ابو يوسف او امام شافعي فرمايي: چي د سهار لپاره د شپې په آخري نيمه برخه کي اذان کول جائز دي، له امام شافعي څخه بل روايت دا دی چي په ټوله شپه کي هر وخت د سهار لپاره اذان صحيح دی.

د امام ابو يوسف او امام شافعي دليل: دا دی چي د مکې مکرمې او مدينې منورې په خلکو کي دا خبره په توارث سره را روانه ده چي د سهار لپاره اذان د شپې په آخري نيمه حصه کي کوي، همدارنګه نبي ﷺ فرمايلي دي: إن بلالاً يؤذن بليل فكلوا واشربوا حتى تسمعوا أذان ابن أم مكتوم. (يعني بلال ﷺ د شپې اذان کوي، نو تاسو خپل خوراک څښاک کوئ، تر دې چي د ابن ام مكتوم رَحِمَهُ الله اذان واورئ). له دې حديث څخه معلومېږي چي بلال ﷺ به د شپې يعني تر سهار مخکي اذان کولو.

د دوی د حديث جواب: تر لږ غور وروسته معلومېږي چي دا حديث زمونږ لپاره حجت دی، د امام ابو يوسف او امام شافعي لپاره حجت نه دی، ځکه چي د بلال ﷺ دغه اذان به د تهجد او پېشلمي لپاره وو، د سهار د لمانځه لپاره به نه وو، بلکي د سهار د لمانځه لپاره به ابن ام مكتوم اذان کوی، چي هغه به د سهار تر راختلو وروسته وو، کنې د حتى تسمعوا أذان ابن أم مكتوم به څه مطلب وي!؟.

دويم دليل: د جمهورو احنافو دويم دليل هغه حديث دی چي بلال ﷺ ته نبي ﷺ فرمايلي وه: ته اذان مه کوه! تر دې چي سهار ښکاره سي، روايت کونکی فرمايي چي: نبي ﷺ خپل دواړه لاسونه په پسور(بر) باندي وغوړول، له دې څخه د صبح صادق(ربښتوني سهار) و طرف ته اشاره ده.(يعني هر کله چي صبح صادق په پوره توګه ښکاره سوی نه وي اذان مه کوه!).

دريم دليل: د جمهورو احنافو دا دی چي ابن عبد البر رَحِمَهُ الله له ابراهيم رَحِمَهُ الله څخه روايت کړی دی: قال كانوا إذا أذن المؤذن بليل قالوا له إتق الله و أعد أذانك، (ابراهيم تابعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د صحابه وو حالت به دا وو چي کله به يو مؤذن د شپې اذان وکړی، نو هغه ته به يې ويل: له الله څخه وېرېږه، او خپل اذان را وګرځوه)، خو که دلته دا اعتراض وسي چي په حديث کي راغلي دي لا يغرنكم أذان بلال، (د بلال اذان دي تاسو دوکه نه کړي)، له دې څخه معلومېږي چي بلال رَحِمَهُ الله به تر وخت مخکي اذان کوی، جواب دا دی چي دا هم زمونږ لپاره حجت دی، ځکه چي نبي ﷺ د بلال ﷺ د اذان اعتبار نه وکړی، بلکي منعه ته يې له اعتبار ورکولو څخه منع وکړه.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول دا طرفينو دی چي هغوی وايي: که تر وخت مخکي اذان وسو نو هغه به راګرځول کيږي، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله ويكره ذالك ويعاد (فتح القدير ج۱، ص:۲۲). [القول الراجح ج۱، ص:۶۵]

د مسافر لپاره د اذان او اقامت حکم

وَالْمُسَافِرُ يُؤَذِّنُ وَيُقِيمُ او مسافر دې اذان او اقامت دواړه کوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • لِابْنَيْ أَبِي مُلَيْكَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ځکه نبي ﷺ د ابو مليکه دوو زامنو ته فرمايلي وو إِذَا سَافَرْتُمَا فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا کله چې تاسو سفر کوئ نو اذان هم کوئ او اقامت هم فَإِنْ تَرَكَهُمَا جَمِيعًا خو که يو چا دواړه پرېښوول يُكْرَهُ نو دا مکروه دي وَلَوِ اكْتَفَى بِالْإِقَامَةِ جَازَ او که په اقامت يې اکتفاء وکړه نو جائز دي لِأَنَّ الْأَذَانَ لِاسْتِحْضَارِ الْغَائِبِينَ ځکه چې اذان د غائبو خلکو د حاضرولو لپاره کيږي وَالرُّفْقَةُ حَاضِرُونَ او د سفر ملګري خو ټوله حاضر وي وَالْإِقَامَةُ لِإِعْلَامِ الِافْتِتَاحِ او اقامت د لمانځه د شروع د اطلاع ورکولو لپاره کيږي وَهُمْ إِلَيْهِ مُحْتَاجُونَ او هغوی (ټوله) د دې محتاجه دي (يعني ټوله دې ته حاجت لري چې د لمانځه د شروع کېدلو په باره کې خبر ورکول سي) فَإِنْ صَلَّى فِي بَيْتِهِ فِي الْمِصْرِ خو که يو سړي په ښار کې دننه په خپل کور کې لمونځ وکړی يُصَلِّي بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ نو هم به په اذان او قامت سره لمونځ کوي لِيَكُونَ الْأَدَاءُ عَلَى هَيْئَةِ الْجَمَاعَةِ چې اداء د جماعت په ډول سي وَإِنْ تَرَكَهُمَا جَازَ خو که اذان او قامت يې پرېښوول نو هم جائز دي لِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ • : أَذَانُ الْحَيِّ يَكْفِينَا د حضرت ابن مسعود ﷺ د قول په وجه: چې زموږ لپاره د محلې (کلي) اذان کافي دی.

اللغات: ﴿رُفْقَةٌ﴾ د سفر ملګري، قافلې والا، ﴿اِفْتِتَاحٌ﴾ د افتعال د باب مصدر دی: شروع کول، ﴿هَيْئَةٌ﴾ شکل، صورت، توګه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې په دوران د سفر کې چې کله مسافر خلک لمونځ کوي نو هغوی ته پکار دي چې اذان او اقامت دواړه وکړي، ځکه چې نبي ﷺ د ابو مليکه دوو زامنو ته د نصيحت کولو په وخت کې فرمايلي وو: "کله چې تاسو په سفر کې ياست نو په اذان او اقامت سره لمونځ کوئ". له دې حديث څخه بالکل دا خبره څرګنديږي چې د سفر په حالت کې هم په اذان او اقامت سره لمونځ کول پکار دي، ځکه چې د اذان مقصد فقط اعلام (د خلکو خبرول) نه دي، بلکې د علامه ابن همام رَحِمَهُ الله د تصريح مطابق که مسافر په صحرا او بيابان کې لمونځ په اذان او اقامت سره وکړي، نو په هغه سره به د الله ﷻ په ځکه کې د الله ﷻ نوم او د الله ﷻ د دين وينا پورته سي، او مؤذن به هغه مخلوق ته الله ﷻ ور په ياد کړي کوم چې د مؤذن له سترګو څخه پټ دي، مثلاً! پېريان او داسې نور مخلوقات. نو په دې وجه هم د سفر په حالت کې د اذان او اقامت پابندي ضروري ده. (فتح القدير ج:١، ص:٢٦١)

فإن تركهما الخ اذان او اقامت دواړه پرېښوول مکروه دي، ځکه چې دا له پورتني حديث څخه خلاف کار دی. خو که يو سړي صرف اقامت وکړی او اذان يې نه وکړی، نو دا جائز دي، ځکه چې اذان د غائبو خلکو د راغوښتلو او جمع کولو لپاره کيږي، او ښکاره ده چې د سفر په حالت کې د سفر ملګري ټوله يو ځای وي، نو د راغوښتلو او جمع کولو لپاره د اطلاع ورکولو څه ضرورت نسته، لېکن څرنګه چې اقامت د لمانځه د شروع کېدلو د اطلاع لپاره کيږي، نو ځکه د حاضرو

• تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب الاذان للمسافرين، حديث رقم: ٦٣٠.

• مصنف ابن ابي شيبة ج:١، ص: ٢٠٠، حديث رقم: ٢٢٩١

خلکو په حق کي هم د دې ضرورت سته، نو ځکه به د دوی په حق کي د اذان ضرورت خو نه وي، لېکن د اقامت ضرورت به وي، لهذا که يو سړی صرف پر اقامت اکتفاء وکړي نو هم جائز دي.

فإن صلّٰی في بيته الخ د دې حاصل دا دی چي که د ښار او سېدونکی سړی په خپل کور کي لمونځ کول وغواړي نو هغه ته پکار دي چي اذان او اقامت دواړه وکړي، هغه که نور خلک ور سره وي، که نه وي، د دې لپاره چي د ده دا لمونځ د جماعت د لمانځه په څېر سي، (ځکه چي د جماعت لمونځ په اذان او اقامت دواړو سره کيږي)، لېکن که يو سړی اذان او اقامت دواړه پرېږدي، نو هيڅ پروا نه لري، ځکه چي حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ يو وار حضرت علقمه او حضرت اسود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته بغير له اذان او اقامت څخه لمونځ ورکړی، کله چي له هغه څخه د دې په باره کي پوښتنه وسوه: ألا تؤذن و تقيم (چي تا اذان او اقامت ولي نه وکړی؟)، نو په جواب کي هغه ووېل: أذان الحيّ يكفينا، (چي د محلې (کلي) اذان زموږ لپاره کافي دی).

عقلي دليل: صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله د دې عقلي دليل دا ليکلی دی چي د مسجد مؤذن په اذان او اقامت کي د محلې والا نائب وي، نو ځکه به په محله کي بغير له اذان او اقامته لمونځ کونکی سړی د هغه سړي په حکم کي وي چي په اذان او اقامت سره يې لمونځ کوي. (عنايه ج۱، ص۲۶۲)



بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ الَّتِيْ تَتَقَدَّمُهَا

(دا) باب دلمانځه دهغه شرطونو (په بيان کې) دی
کوم چې تر لمانځه مخکې وي

تشريح: تر دې مخکې صاحب د کتاب د لمانځه وختونه بيان کړل، او بيا يې د وختونو نښې (علامې) يعني اذان او اقامت بيان کړل، اوس له دې ځايه د لمانځه شرطونه بيانوي، ښکاره دې وي چې شروط جمع د شرط ده، لغوي معنیٰ يې ده: نښه، علامه، او د شرعي په اصطلاح کې: مايتوقف عليه وجود الشي ولم يکن داخلافيه. (يعني شرط هغه شي ته ويل کيږي چې پر هغه د بل شي وجود موقوفه (ولاړ) وي، او دا شی په هغه کې داخل نه وي). [په اصل کې له شرائطو څخه مراد هغه فرائض دي کوم چې تر لمانځه مخکې اداء کيږي، او کوم فرائض چې په لمانځه کې دننه کيږي هغه ته ارکان ويل کيږي].

د لمونځ کونکي لپاره د نجاستونو پاکولو حکم

يَجِبُ عَلَى الْمُصَلِّيْ پر لمونځ گزاره واجب دي أَنْ يُقَدِّمَ الطَّهَارَةَ مِنَ الْأَحْدَاثِ وَالْأَنْجَاسِ چې مخکې پاکي حاصله کړي له بې اودسيو او چټلتياوو څخه عَلَى مَا قَدَّمْنَاهُ لکه څرنګه چې مخکې موږ (د دې) بيان وکړی قَالَ اللهُ تَعَالَى: وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ [المدثر: ۴] الله تعالیٰ فرمايلي دي: خپلي جامې پاکي ساتئ! وَقَالَ تَعَالَى: وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا [المائدة: ۶] او الله تعالیٰ (په بل ځای کې) فرمايلي دي: که تاسو جنب سی نو ښه پاکي کوئ! وَيَسْتُرُ عَوْرَتَهُ او (پر لمونځ گذاره واجب دي چې) خپل عورت به پټوي لِقَوْلِهِ تَعَالَى: خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ [الاعراف: ۳۱] ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي: د هر لمانځه په وخت کې زينت (ښکلا) اختياروئ! أَيْ مَا يُوَارِيْ عَوْرَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ يعني (د لمانځه په وخت کې دومره اندازه جامې [کالي] اغوندئ) چې ستاسو عورت پټ کړي وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● لَا صَلَاةَ لِحَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ او نبي ﷺ فرمايلي دي: له پړوني څخه بغير د حائضې ښځې لپاره لمونځ نه صحيح کيږي أَيْ لِبَالِغَةٍ يعني د هغه ښځې لپاره چې بلوغ ته رسيدلې وي.

اللغات: ﴿أَحْدَاثٌ﴾ جمع ده، واحد يې حدث دی: بې اودسه يا بې غسله کيدل، يعني بې اودسيا او جنابت. ﴿أَنْجَاسٌ﴾ جمع ده، واحد يې نجس دی: ناپاکياني، چټلتياوي. ﴿عَوْرَةٌ﴾ پټ ځای، شرم ځای، د پټولو ځای. ﴿يُوَارِي﴾ د مفاعلې د باب مضارع صيغه ده: پټول. ﴿خِمَارٌ﴾ پوړنی (ښځينه څادر).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې پر لمونځ کونکي واجب دي چې تر لمانځه مخکې له هر قسم نجاستونو او حدثونو څخه پاکي حاصله کړي، چې د لمانځه لپاره په هره توګه سره پاک وي، دليل يې د قرآن شريف دا آيتونه دي:

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الصلوٰة، باب المرأة تصلى بلا خمار، حديث رقم: ۶۴۱.

وثيابك فطهر ـ وإن كنتم جنبا فاطهروا، همدارنګه په نورو آيتونو کي هم د طهارت (پاکوالی) حکم سوی دی، چي پر هغه عمل کول د هر لمونځ ګزاره لپاره فرض او ضروري دي، ضاحب د عنايه ليکلي دي چي که څه هم تر دې مخکي دا بحث تېر سوی دی، خو څرنګه چي دلته د شرطونو بيان کيږي، او تر لمانځه د طهارت مخکي کول هم شرط دي، بلکي د لمانځه له شرطونو څخه يو مهم شرط دی، نو ځکه دلته ذ دويم ځل لپاره بيا بيانيږي، چي د شرطونو په قطار کي طهارت هم وشمارل سي.

ويستر عورته: دا جمله پر أن يقدم الطهارة باندي عطف ده، او د لمونځ کونکي لپاره دويم شرط دی، يعني پر لمونځ کونکي د خپل عورت پټول هم ضروري دي، له عورت څخه مراد د بدن هغه برخي او حصې دي چي د هغو پټول فرض او ضروري وي، او چي د هغو لڅول يا لڅېدل د شرم سبب وي، په حديث شريف کي له نامه(ناف) څخه ونيسې تر زنګنو پوري عورت ګرځول سوی دی.

دليل: د عورت پر پټولو د قرآن کريم دا آيت دليل دی: خذوا زينتكم عند كل مسجد، او له دې آيت څخه دليل په دې توګه نيول کيږي چي په آيت کي له زينت څخه مراد ما يوارى عورتكم دی، يعني هغه شی چي ستاسي عورت پټوي، ځکه چي د عورت ښکاره کېدل د شرم او عار خبره ده، نو ښکاره ده چي د دې پټول يقيناً هم د زينت او ښکلا لامل دی، او له عند كل مسجد څخه مراد عند كل صلاة دی، او دلته محل ذکر سوی دی مراد ځني حال دی، او د آيت شريف ښکاره مفهوم دا دی چي د هر لمانځه په وخت کي عورت پټوئ!.

دويم دليل: د نبي ﷺ دا فرمان دی: لا صلاة لحائض إلا بخمار، په دې حديث کي له حائضې څخه مراد بالغه ښځه ده، ځکه چي تر بلوغت وروسته ښځي ته حيض راځي، او د حديث مفهوم دا دی چي الله تعالیٰ د بالغې ښځي لمونځ بغير له پوړني څخه نه قبلوي، او د بالغې ښځي په حق کي سَرَ عورت دی، او د هغه پټول شرط او ضروري دي، نو کوم شی چي د نارينه په حق کي عورت وي، د هغه پټول به هم شرط او ضروري وي.

د نارينه عورت، زنګون په عورت کي داخل دی که نه؟ (د فقهاؤ قولونه)

وَعَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا تَحْتَ السُّرَّةِ إِلَى الرُّكْبَةِ او د نارينه عورت له نامه څخه تر زنګنو پور دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ●: عَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتِهِ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: د نارينه عورت د هغه د نامه او زنګنو په مينځ کي دی وَيُرْوَى: مَا دُونَ سُرَّتِهِ حَتَّى تَجَاوَزَ رُكْبَتَهُ او په بل روايت کي راغلي دي: چي له نامه څخه ملسوا تر دې چي له دواړو زنګنو څخه تېر سي وَبِهٰذَا تَبَيَّنَ أَنَّ السُّرَّةَ لَيْسَتْ مِنَ الْعَوْرَةِ او په دې سره ښکاره سوه چي نوم په عورت کي داخل نه دی خِلَافًا لِمَا يَقُولُهُ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د هغه کوم چي امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي (يعني د هغه په نېز نوم په عورت کي داخل دی) وَالرُّكْبَةُ مِنَ الْعَوْرَةِ او زنګون له عورت څخه دی خِلَافًا لَهُ أَيْضًا په خلاف د امام

● تخريج: أخرجه دار قطنى فى كتاب الصلوٰة، باب الامر بتعليم الصلوات، حديث رقم: ۸۷۶.

شافعي هم (يعني دهغه په نيز زنګون په عورت کي داخل نه دی) وَكَلِمَةُ إِلَى نَحْمِلُهَا عَلَى كَلِمَةِ مَعَ او کلمه د "إلى" موږ حمل کوو پر معنیٰ د "مع" عَمَلًا بِكَلِمَةِ حَتّٰى په حتّٰی د عمل کولو لپاره وَعَمَلًا بِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ الرُّكْبَةُ مِنَ الْعَوْرَةِ● او د نبي ﷺ په دې قول د عمل کولو لپاره چي: الركبة من العورة (يعني زنګون له عورت څخه دی).

اللغات: ﴿سُرَّةٌ﴾ نوم، (ناف)، ﴿رُكْبَةٌ﴾ زنګون، ﴿كَفٌّ﴾ ورغوی، ﴿مَسْتُوْرَةٌ﴾ د نصر د باب اسم مفعول دی: پټ کړی سوی، ناڅرګند، ﴿اِبْتِلَاءٌ﴾ د افعال د باب مصدر دی: په ازمايښت کېدل، مبتلا کېدل، ﴿اِبْدَاءٌ﴾ د افعال د باب مصدر دی: ښکاره کول.

تشريح: په دې عبارت کي د نارينه د بدن د هغو حصو اندازه بيانيږي چي د هغو پټول واجب دي، نو زموږ د درې سره امامانو په نيز د سړي عورت له نامه څخه تر زنګونو پوري دی، يعني نوم عورت نه دی او زنګون عورت دی.

زموږ دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: عورة الراجل ما بين سرته إلى ركبتيه. (يعني د نارينه عورت د نامه او زنګنو په مينځ کي مينځنۍ حصه ده) او په بل روايت کي دي: ما دون سرة حتى تجاوز ركبة، (چي له نامه څخه لاندي تر دې چي تر زنګنو تېر سي)، له دې دواړو حديثو څخه معلوميږي چي نوم په عورت کي داخل نه دی خو زنګونان پکښي داخل دي.

وكلمة إلى الخ دا عبارت د يو اعتراض جواب دی: اعتراض دا دی چي په اولني روايت کي کلمه د إلى د غايت (غايې) لپاره ده، او غايه په مغيا کي داخله نه وي، نو له دې څخه معلوميږي چي زنګونان د نارينه په عورت کي داخل نه دي. جواب دا دی چي موږ کلمه د إلى په معنیٰ د مع حمل کوو، لکه څرنګه چي د الله ﷻ په دې قول: وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ (سورة النساء: ۲) کي إلى د مع په معنیٰ راغلی دی، او پر دې باندي قرينه يو هغه حديث دی چي په هغه کي حتى تجاوز ركبته ذکر سوي دي، او بل د نبي دا قول دی چي: الركبة من العورة، لنډه دا چي په دې درېو سره روايتونو کي تطبيق هله کېدای سي چي کله کلمه د إلى پر مع حمل کړی سي.

د آزادي ښځي عورت

وَبَدَنُ الْحُرَّةِ كُلُّهَا عَوْرَةٌ او د آزادي ښځي ټوله بدن عورت دی إِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا ما سوا د هغې له مخ او دواړو ورغوو څخه لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ● اَلْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ مَسْتُوْرَةٌ ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ښځه پټ کړی سوی عورت دی وَاسْتِثْنَاءُ الْعُضْوَيْنِ لِلْاِبْتِلَاءِ بِإِبْدَائِهِمَا او د دواړو اندامونو (يعني د مخ او ورغوي) استثناء د دوی د ښکاره کېدلو د ابتلاء په وجه ده قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَهٰذَا تَنْصِيْصٌ عَلَى أَنَّ الْقَدَمَ عَوْرَةٌ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا حديث پر دې خبره نص دی چي د ښځي پښه هم عورت ده وَيُرْوَى أَنَّهَا لَيْسَتْ بِعَوْرَةٍ او يو روايت دا دی چي پښه عورت نه ده وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا روايت زيات صحيح دی.

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الصلوٰة، باب الامر بتعليم الصلوات، حديث رقم: ۸۷۸.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الرضاع، باب استشراف الشيطان المرأة إذا خرجت، حديث رقم: ۱۱۷۳.

اللغات: ﴿مَسْتُورة﴾ پټ کړی سوی، ناخرګند. ﴿اِبْتِلاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: مبتلا کېدل. ﴿اِبْدَاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: ښکاره کول.

تشریح: فرمايي چي د آزادي ښځي له مخ او دواړو ورغوو څخه ماسوا نور ټول بدن عورت دی او له دې دوو اندامونو څخه ماسوا د هغې لپاره نور بدن پټول ضروري دي، دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: المرأة عورة مستورة، دې حديث ته په کتني سره د ښځي د بدن هر هر جزء واجبُ الستر کېدل پکار دي (يعني له حديث څخه خو دا ښکاره کيږي چي پر ښځي د بدن هر جزء پټول ضروري دي که څه هم ورغوي او مخ وي). خو د مخ او ورغوو د ښکاره کېدلو دومره زيات ضرورت پېښېږي چي په دې کي ابتلاء راغلې ده، ځکه چي د کارونو، مناسبتونو، تعلق، پېژندني او د داسي نورو شيانو لپاره د هغو ښکاره کول ډېر ضروري دي، نو ځکه د ابتلاء او عموم بلوىٰ په وجه دا دواړه اندامونه استثناء کړی سوي دي. لېکن پاته اندامونه د المرأة عورة مستورة د اطلاق په وجه واجبُ الستر دي.

وهذا تنصيص الخ صاحب د هدايې فرمايي چي په متن کي د وجه او کفين له استثناء څخه معلومېږي چي د ښځي قدم يعني پښه هم عورت ده، حال دا چي صحيح قول دا دی چي د ښځي پښې عورت نه دي، او پټول يې هم ضروري نه دي، ځکه چي همېشه ښځه په موزو او څپليو کي نه سي اوسېدلای، او د دې په حق کي هم د تللو او د ښلتدي وتلو ضرورت سته، نو ځکه په د مخ او لاسو په ډول د ابتلاء او عموم بلوىٰ په وجه پښې هم له عورت څخه استثناء کيږي.

عقلي دليل: او د پښو عورت نه کېدل په عقلي توګه هم ثابت دي، هغه داسي چي د ښځي د زياتره اندامونو د عورت ګرځولو وجه دا ده چي هغو ته په کتلو سره د سړي شهوت را پورته کيږي، او له هغو څخه دا خطره وي چي داسي نه يو شوک بې لاري سي، او دا خطره په "مخ" کي زياته ده، خو د ابتلاء په وجه مخ له عورت څخه وېستل سو، نو چي کله چي د زياتې خطرې باوجود مخ له عورت څخه وېستل سو، نو پښې خو به په طريقه اولىٰ ايستل کيږي، ځکه چي د مخ په پرتله کي پښې هيڅ شی نه دي. (يعني مخ ته په کتلو سره چي څومره شهوت پيدا کيږي په پښو کي د هغه لږ حصه هم نه پيدا کيږي).

په لمانځه کي د ښځي د عورت ښکاره کېدلو حکم

فَإِنْ صَلَّتْ وَرُبْعُ سَاقِهَا أَوْ ثُلُثُهَا مَكْشُوفٌ نو که آزادي ښځي لمونځ وکړی په داسي حال کي چي د پنډۍ څلورمه يا دريمه حصه يې ښکاره وه تُعِيدُ الصَّلَاةَ نو لمونځ به راګرځوي عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ د امام ابو حنيفه او امام محمد رَحِمَهُمَا الله په نېز وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنَ الرُّبْعِ لَا تُعِيدُ او که له څلورمي حصې څخه يې کمه حصه (ښکاره) وه نو نه به يې راګرځوي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: لَا تُعِيدُ إِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنَ النِّصْفِ او امام ابو يوسف فرمايي: که له نيمي حصې څخه يې کمه حصه ښکاره وه نو نه به يې راګرځوي لِأَنَّ الشَّيْءَ إِنَّمَا يُوصَفُ بِالْكَثْرَةِ ځکه په کثرت سره يو شی هغه وخت موصوف کېدی سي إِذَا كَانَ مَا يُقَابِلُهُ أَقَلَّ مِنْهُ چي کله د هغه مقابل له هغه څخه کم وي إِذْ هُمَا مِنْ أَسْمَاءِ الْمُقَابَلَةِ ځکه چي دا دواړه له اسماء مقابله وو څخه دي وَفِي النِّصْفِ عَنْهُ رِوَايَتَانِ او د نيمي حصې په ښکاره کېدلو

● القول الراجح: قول أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله كذا في الدر المختار ج:١ ص:٣٠٠. [القول الراجح، ج:١، ص:٦٦]

کي له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روایتونه دي فَاعْتَبَرَ الْخُرُوْجَ عَنْ حَدِّ الْقِلَّةِ (يو روايت دا دی چې) هغه د قلت له حد څخه د وتلو اعتبار کړی دی (يعني چې کله نيمه حصه ښکاره سوه نو دا حصه د قلت له حد څخه ووتله او د کثرت په حد کي داخله سوه، نو ځکه به لمونځ راګرځوي) أَوْ عَدَمَ الدُّخُوْلِ فِيْ ضِدِّهِ (دويم روايت دا دی چې) يا يې د قلت په ضد کي د نه داخلېدلو اعتبار کړی دی (يعني چې کله نيمه حصه ښکاره سوه نو د قلت له حد څخه خو ووتله لېکن د قلت د ضد يعني د کثرت په حد کي داخله نه سوه بلکي دواړې حصې برابري سوي نو ځکه به لمونځ نه راګرځوي) وَلَهُمَا أَنَّ الرُّبْعَ يَحْكِيْ حِكَايَةَ الْكَمَالِ او د طرفينو دليل دا دی چې څلورمه حصه د ټولي حصې حکايت کوي كَمَا فِيْ مَسْحِ الرَّأْسِ وَالْحَلْقِ فِي الْإِحْرَامِ لکه د سر په مسح کي او د احرام پر موقع د سر په خريلو کي وَمَنْ رَأَى وَجْهَ غَيْرِهِ يُخْبِرُ عَنْ رُؤْيَتِهِ او کوم سړی چې د بل چا مخ ويني نو دا سړی د هغه د ليدلو خبر ورکوي وَإِنْ لَمْ يَرَ إِلَّا أَحَدَ جَوَانِبِهِ الْأَرْبَعَةِ که څه هم دغه سړي د هغه (د مخ) د څلورو طرفونو څخه صرف يو طرف ليدلی وي (يعني که يو څوک د بل سړي د مخ صرف يو طرف ويني نو وايي چې ما هغه ټوله سړی وليدی. داسي نه وايي چې ما يې صرف يو طرف وليدی).

اللغات: ﴿رُبُع﴾ څلورمه حصه، ﴿ساق﴾ پنډۍ، ﴿ثُلُث﴾ دريمه حصه، ﴿حلق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: خريل.

صورت د مسئلې: دا دی که يوې ښځې په داسي حال کي لمونځ وکړی چې د پنډۍ څلورمه حصه يې ښکاره (لڅه) وه، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز پر هغې د لمانځه راګرځول واجب دي او که له څلورمي حصې څخه يې کمه حصه ښکاره وه نو په دې صورت کي د لمانځه راګرځول واجب نه دي، بلکي لمونځ يې صحيح دی، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې که له نيمي پنډۍ څخه يې کمه حصه ښکاره وه نو لمونځ جائز دی او د راګرځولو ضرورت يې نسته، لېکن که نيمه حصه يې ښکاره وه نو په دې صورت کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه رانقل سوي دي: (۱) اول روايت دا چې د نيمي حصې د ښکاره کېدلو په وخت کي هم د لمانځه راګرځول ضروري نه دي، (۲) دويم روايت د لمانځه راګرځول ضروري دي.

د امام ابو يوسف دليل: له نصف څخه د کم ښکاره کېدلو په صورت کي د لمانځه د نه راګرځولو په باره کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې په دې مسئله کي د قلت (کمښت) او کثرت (زياتوب) مدار دی، او قلت او کثرت دواړه له اسماء مقابله څخه دي، او په اسماء مقابله کي قاعده دا ده چې يو شی ته به هغه وخت کثير ويل کېږي چې کله د هغه مقابل شی له هغه څخه کم وي، او نصف يا له نصف څخه کم د خپل مقابل په پرتله کي کثير نه دی، نو ځکه به له نصف څخه د کم په صورت کي او د يوه روايت مطابق د نصف په صورت کي د لمانځه راګرځول واجب نه وي، ځکه يا خو د پوره پنډۍ په ښکاره کېدلو او لڅېدلو سره د لمانځه راګرځول واجبېږي يا يې د اکثره حصې په ښکاره کېدلو سره، او نصف يا له نصف څخه کم اکثر نه دي، نو ځکه به په دې اندازه لڅېدلو سره لمونځ نه راګرځول کېږي.

د دويم روايت دليل: او د دويم روايت مطابق د نصف حصې په لڅېدلو سره د لمانځه د راګرځولو دليل دا دی چې کله نصف حصه ښکاره (لڅه) سي، نو اوس هغه حصه قليل نه سوه پاته، بلکي د قلت له حد څخه خارج سو، ځکه چې کله نصف ښکاره سي نو ښکاره ده چې اوس د هغه مقابل له هغه څخه زيات نه دی، بلکي د هغه سره مساوي (برابر) دی، نو مطلب دا چې لڅ سوی نصف د قلت له حد څخه ووتی په کثرت کي داخل سو او د اکثره حصې په ښکاره کېدلو سره د لمانځه راګرځول واجب دي، نو ځکه به په دې صورت کي هم د لمانځه راګرځول واجب وي.

د طرفینو دلیل: دا دی چې په ډېرو احکامو اومحاوراتو (خبرو اترو) کې څلورمه حصه د کل قائم مقامه وي، د مثال په توګه د سر په مسح کې څلورمه حصه د ټوله سره قائم مقامه ده، همدارنګه که سړی په حالت د احرام کې ټوله سر وخریي، نو قرباني پر واجب ده، او که د سره څلورمه حصه وخریي، بیا هم قرباني پر واجب ده، نو معلومه سوه چې څلورمه برخه د ټوله سره قائم مقامه ده؛ او په خبراترو کې هم دا حال دی، مثلاً که یو سړی د بل سړي د مخ له څلورو طرفونو څخه صرف یو طرف ووېني او ووایي چې ما هغه سړی ولیدی، نو خبره یې صحیح ده، نو کله چې څلورمې حصې ته د کل حکم حاصل دی، نو د پنډۍ د څلورمې حصې د لڅېدلو په وخت کې به ویل کیږي چې ټوله پنډۍ لڅه سوه، او د ټولې پنډۍ په لڅېدلو سره لمونځ راګرځول واجب دي، نو د څلورمې حصې په لڅېدلو سره به هم لمونځ راګرځول واجب وي.

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول د طرفینو دی: قال العلامة علاء الدين الحصكفي رَحِمَهُ الله (ویمنع) حتى انعقادها كشف ربع عضو قدر اداءِ ركن بلاصنعه من عورة غليظه او خفيفة على المعتمد، (الدر المختار ج:۱، ص:۳۰۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۶۶]

د وربېښتیانو، ورون او پنډۍ د څلورمې یا دریمې حصې د ښکاره کېدلو حکم

وَالشَّعْرُ وَالْبَطْنُ وَالْفَخِذُ كَذٰلِكَ د وربېښتیانو، نس او ورون هم دغه حکم دی يَعْنِيْ عَلٰى هٰذَا الْاِخْتِلَافِ یعني په دې کې (هم) دغه اختلاف دی لِاَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ عُضْوٌ عَلٰى حِدَةٍ ځکه چې هر یو جلاندام دی وَالْمُرَادُ بِهِ النَّازِلُ مِنَ الرَّأْسِ او له وربېښتیانو څخه مراد هغه دي چې له سر څخه کښته راځړېدلي وي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحیح ده وَاِنَّمَا وُضِعَ غَسْلُهُ فِي الْجَنَابَةِ لِمَكَانِ الْحَرَجِ او د جنابت په غسل کې د هغو پرېولل د حرج په وجه ساقط سوي دي وَالْعَوْرَةُ الْغَلِيْظَةُ عَلٰى هٰذَا الْاِخْتِلَافِ او په عورتِ غلیظه کې (هم) دغه اختلاف دی وَالذَّكَرُ يُعْتَبَرُ بِانْفِرَادِهِ او ذکر (د تناسل آله) به جلا اندام شمارل کیږي وَكَذَا الْاُنْثَيَانِ او همدارنګه خصیتین (خوټې به هم جلا اندام شمارل کیږي) وَهٰذَا هُوَ الصَّحِيْحُ او همدا صحیح ده دُوْنَ الضَّمِّ نه (د دوی) یو ځای کېدل (یعني دواړه یو ځای کول او یو اندام شمارل صحیح نه دي).

اللغات: ﴿بَطْن﴾ نس، د هر شي دننه برخه، ﴿فَخِذ﴾ ورون (پتون)، ﴿اُنْثَيَان﴾ خوټې، واحد یې أنثى دی، خو هر وخت تثنیه ذکر کیږي.

تشریح: مسئله: دا ده چې په وربېښتیانو، نس او ورون کې هم هغه اختلاف دی کوم چې مخکې تېر سو، یعني د امام محمد او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز له دوې څخه څلورمه حصه ښکاره کېدل د لمانځه له جواز څخه مانع دي (یعني د څلورمې حصې ښکاره کېدلو په وخت کې یې لمونځ نه صحیح کیږي)، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د یوه روایت مطابق د نصف ښکاره کېدل د لمانځه له جواز څخه مانع دي او په بل روایت کې د نصف څخه د زیات ښکاره کېدل مانع دي (پوره تفصیل په مخکنی مسئله کې وګورئ)

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چې په دې کې هر یو جلاجلا اندام دی، نو د پنډۍ په ډول به په دې کې هم اختلاف وي.
او دلته له وربېښتیانو څخه مراد هغه دي چې لاندې را ځړېږي هم دا صحیح قول دی، هغه مراد نه دي کوم چې د سر سره موښتي (ملصق) وي او راځړېږي نه، ځکه چې هغه په اتفاق سره عورت دي.

وَإِنَّمَا وَضع الخ په دې عبارت سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي، هغه سوال دا چې که د سر راځړيدلي ورېښته عورت وي، نو دا به په دې وجه عورت وي چې دا د بدن حصه ده، حال دا چې داسي نه ده، ځکه چې د جنابت په غسل کي د دې پرېولل ضروري نه دي، او د بدن يوه ښکارنی (ظاهري) حصه هم داسي نه ده چې د جنابت په غسل کي دې د هغې پرېولل ضروري نه وي، نو له دې څخه معلومه سوه چې د سر را ځړيدلي ورېښتې د ښځي له بدن څخه نه دي، او چې له بدن څخه نه سوه، نو عورت هم نه سوه.

جواب: دا دی چې د جنابت په غسل کي د ورېښتيانو د نه پرېوللو اجازه په دې وجه نه ده چې ورېښته د ښځي له بدن څخه نه دي، بلکي د هغو پرېولل د حرج (او تکليف) په وجه ساقط سوي دي، ځکه چې ټوله ورېښتيان د خلقت په وجه د هغې د بدن جزء دي (يعني ټوله ورېښتيان د ښځي له بدن څخه پيدا سوي دي).

والعورة الغليظة الخ او په عورتِ غليظه يعني قُبُل او دُبُر (مخ او شا) کي هم دغه اختلاف دی، نو که له دې څخه څلورمه حصه ښکاره سوه، نو د طرفينو په نيز به لمونځ را گرځوي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به يې نه راگرځوي.

والذکر يعتبرالخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې ذکر (د نارينه تناسلي اندام) جلا اندام دی، او دواړه خصيتن (خوټي) جلا او ځان ته اندام دی، نو که په دې کي له هر يوه څخه څلورمه حصه ښکاره سي نو لمونځ به راگرځوي، او داسي نه ده چې دواړه يو اندام دی، (يعني د دواړو مجموعه يو اندام نه دی بلکي هر يو جلا جلا اندام دی). لېکن بعضو ويلي دي چې د دواړو مجموعه يو اندام دی، ځکه چې خصيتين د ذکر تابع دي، نو که د دواړو څلورمه حصه ښکاره سوه نو مانع د لمانځه به وي.

فايده: دا تفصيل د احنافو په نيز دی، کنې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز د لمانځه د جواز لپاره چې کوم لڅوالی مانع گرځي په هغه کي د قليل او کثير (لږ او ډېر) هيڅ فرق نسته، بلکي د هغه په نيز ټوله مانع دي (يعني که لږ حصه لڅه سي او که ډېره، په هر صورت کي لمونځ نه صحيح کيږي).

د مينځي عورت

وَمَا كَانَ عَوْرَةً مِنَ الرَّجُلِ فَهُوَ عَوْرَةٌ مِنَ الْأَمَةِ او د نارينه چې کوم اندامونه عورت دي هغه د مينځي هم عورت دي وَبَطْنُهَا وَظَهْرُهَا عَوْرَةٌ همدارنګه د هغې نس او ملا هم عورت دي وَمَا سِوَى ذٰلِكَ مِنْ بَدَنِهَا لَيْسَ بِعَوْرَةٍ او له دې څخه ماسوا د هغې د بدن نوره حصه عورت نه ده لِقَوْلِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَلْقِي عَنْكِ الْخِمَارَ يَا دَفَارُ ځکه چې حضرت عمر ﷺ (يوې مينځي ته) وويل: اې چټلي! (کم اصلي!) أَتَتَشَبَّهِينَ بِالْحَرَائِرِ* آيا ته ځان د آزادو ښځو سره برابروې وَلِأَنَّهَا تَخْرُجُ لِحَاجَةِ مَوْلَاهَا فِي ثِيَابِ مِهْنَتِهَا عَادَةً او په دې وجه (هم) چې په عامه توګه وينځه خپل د کار په کالو کي د مالک د ضرورت لپاره راوځي فَاعْتُبِرَ حَالُهَا بِذَوَاتِ الْمَحَارِمِ فِي حَقِّ جَمِيعِ الرِّجَالِ نو د ټولو خلکو په حق کي د مينځي حالت پر ذوات المحارمو قياس کړی سو دَفْعًا لِلْحَرَجِ د تکليف ليري کولو لپاره.

---

* اثر: پوره اثر داسي دی: أن عمر ضرب أمة لآل انس رآها متقنعة، قال: اكشفي رأسك لا تتشبهين بالحرائر، مصنف عبد الرزاق، باب الخمار، ج:٣، ص:١٣۶، رقم:٥٠۶٢

اللغات: ﴿أذفار﴾ كمينه، كم اصله، كم ظرفه، خواره. ﴿حرائر﴾ جمع ده واحد يې حرة دى: آزاده ښځه. ﴿مهنة﴾ كار او كسب، محنت او مزدوري، ثياب مهنة: هغه كالي چې په هغه كې خدمتګاره خپل كار او مزدوري كوي.

تشريح: په دې عبارت كې د مينځې عورت بيان سوى دى، فرمايي چې د نارينه په بدن كې چې څومره حصه عورت ده، يعني له نامه ښځه لاندې تر پنډيو پورې، نو همدغه حصه د مينځې په بدن كې هم عورت ده. له دې سره د مينځې نس او شا هم عورت دي، ځكه چې دا دواړه د شهوت ځايونه دي، نو د دې پټول هم فرض دي، خو له دې ښځه ماسوا يې نور بدن عورت نه دى.

نقلي دليل: دا دى چې يو وار حضرت عمر ﷺ يوه مينځه وليدله چې پوړنۍ يې پر سرې كړى وو، نو حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل: اې چټلې!، ته ځان د آزادو ښځو سره برابروې، او په بل روايت كې داسې الفاظ راغلي دي: اكشفي عن رأسك ولا تتشبهي بالحرائر خپل سر لغړ كړه او د آزادو ښځو سره مشابهت مه كوه!.

عقلي دليل: دا دى چې مينځه د خپل مالک د حاجت لپاره د كار او خدمت په كالو كې له خپل كوره زا وځي، نو د ټولو خلكو په حق كې به مينځه پر ذوات المحارم قياسيږي، چې حرج او تكليف ليرې سي، يعني مينځه به د ستر او پر دې په حكم كې د ټولو خلكو لپاره د ذوات المحارمو په ډول ګڼل كيږي، يعني لكه څومره اندازه پرده چې پر مور له خپل ځوى ځخه او پر خور له خپل ورور ځخه واجب ده، هغومره اندازه پرده به پر مينځې له هر سړي ځخه واجب ده.

كه د نجاست ليرې كولو لپاره شى نه وو نو څه حكم دى؟

قَالَ: وَمَنْ لَمْ يَجِدْ مَا يُزِيلُ بِهِ النَّجَاسَةَ فرمايي: كه لمونځ كوونكې يو داسې شى پيدا نه كړى چې په هغه سره نجاست ليرې كړي صَلّٰى مَعَهَا وَلَمْ يُعِدْ نو د هغه نجاست سره دې لمونځ وكړي او لمونځ دې نه راګرځوي وَهٰذَا عَلٰى وَجْهَيْنِ او د دې مسئلې دوه صورتونه دي إِنْ كَانَ رُبُعُ الثَّوْبِ أَوْ أَكْثَرُ مِنْهُ طَاهِرًا يُصَلِّيْ فِيْهِ [۱] كه څلورمه حصه د جامې يا له دې ځخه زياته پاكه وه نو په دغه جامه كې به لمونځ كوي وَلَوْ صَلّٰى عُرْيَانًا لَا يُجْزِئُهُ او كه په لڅه يې لمونځ وكړى نو جائز نه دي لِأَنَّ رُبُعَ الشَّيْءِ يَقُوْمُ مَقَامَ كُلِّهِ ځكه چې د شي څلورمه حصه د كُل قائم ده وَإِنْ كَانَ الطَّاهِرُ أَقَلَّ مِنَ الرُّبُعِ فَكَذٰلِكَ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ [۲] او كه (د جامې) پاكه حصه له څلورمه حصې ځخه كمه وه نو هم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز دغه حكم دى وَهُوَ أَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو ځخه يو قول دى لِأَنَّ فِي الصَّلَاةِ فِيْهِ تَرْكُ فَرْضٍ وَاحِدٍ ځكه چې په دې ګنده جامو كې په لمونځ كولو سره يو فرض پرېښوول كيږي وَفِيْ الصَّلَاةِ عُرْيَانًا تَرْكُ الْفُرُوْضِ او په لڅه لمونځ كولو سره ډېر فرضونه پرېښوول كيږي وَعِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ يَتَخَيَّرُ بَيْنَ أَنْ يُصَلِّيَ عُرْيَانًا او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغه ته اختيار دى كه ځواږي نو په لڅه دې لمونځ وكړي وَبَيْنَ أَنْ يُصَلِّيَ فِيْهِ او كه ځواږي نو په دې ګنده كالو كې دې لمونځ وكړي وَهُوَ الْأَفْضَلُ* او همدا افضله ده لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَانِعُ جَوَازِ الصَّلَاةِ حَالَةَ الْاِخْتِيَارِ ځكه چې په دې دواړو كې هر يو د اختيار په حالت كې د لمانځه د جواز

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة و ابي يوسف رَحِمَهُمَا الله، كذا في الدر المختار ج:۱، ص:۳۰۳. [القول الراجح، ج:۱، ص:۶۸]

لپاره مانع دی وَيَسْتَوِيَانِ فِي حَقِّ الْمِقْدَارِ او د مقدار په حق کي دواړه برابر دي فَيَسْتَوِيَانِ فِيْ حُكْمِ الصَّلَاةِ نو د لمانځه په حق کي به (هم) دواړه برابر وي وَتَرْكُ الشَّيْءِ إِلَى خَلَفٍ لَا يَكُونُ تَرْكًا او د يوشي پرېښوول (په داسي توګه) چي د هغه شي بل خليفه (نائب) پاته سي (نو) هغه ته پرېښوول نه ويل کيږي وَالْأَفْضَلِيَّةُ لِعَدَمِ اخْتِصَاصِ السَّتْرِ بِالصَّلَاةِ او افضيلت په دې وجه دی چي عورت پټول د لمانځه سره خاص نه دی وَاخْتِصَاصِ الطَّهَارَةِ بِهَا او طهارت د لمانځه سره خاص دی.

اللغات: ﴿عُرْيَان﴾ لغ (برېنډ).

تشريح: مسئله: دا ده که د يو چا سره فقط نجس او ګنده کالي وي، پاک کالي ور سره نه وي، او داسي شی هم ور سره نه وي چي ګندګي په لېري کړي، نو هغه دي په دې ګنده کالو کي لمونځ وکړي، او بيا دي يې نه راګرځوي.

د دې مسئلې دوه صورتونه دي: (۱) يو دا که څلورمه يا له دې څخه زياته حصه پاکه وي، نو حتماً (خامخا) به په دې کالو کي لمونځ کوي، او که په لڅه يې وکړي، نو جائز نه دی، ځکه چي څلورمه برخه د کُل په څېر ده، نو د کالو د څلورمي حصې پاکېدل داسي سوه لکه ټولو کالو پاکېدل، او پاک کالي پرېښوول او لغ لمونځ کول جائز نه دي، نو ځکه به په دغه جامو کي لمونځ کوي. (۲) دوېم صورت دا دی چي که د کالو له څلورمي حصې څخه کمه حصه پاکه وي، نو په دې کي اختلاف دی، د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هم په دغه ګنده کالو کي لمونځ کول واجب دي، او په لڅه لمونځ جائز نه دی، او همدا د امام مالک رَحِمَهُ الله قول دی، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول هم دا دی، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دوېم قول دا دی چي په لڅه دي يې وکړي.

د امام محمد دليل: دا دی چي په ګنده کالو کي په لمونځ کولو سره صرف يو فرض پاتېږي، يعني د کالو طهارت (پاکوالی) پاتېږي، خو که په لڅه لمونځ وکړي نو ډېر فرضونه پاتېږي، د مثال په توګه د عورت پټوالي، قيام، رکوع او سجود، ځکه چي لغ سړی په ناستي په اشاره سره لمونځ کوي، نو د عورت سره سره به قيام، رکوع او سجود هم پاته سي، او دا خبره ښکاره ده چي يو فرض پرېښوول بهتر دي په نسبت سره د ډېرو فرضونو پرېښوولو ته، نو په دې وجه به په دغه ګنده کالو کي لمونځ کول واجب وي.

او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هغه ته اختيار دی که په لڅه لمونځ کوي او که په دغه ګنده کالو کي لمونځ کوي، خو په دغه ګنده کالو کي لمونځ کول غوره (افضله) دي.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل: دا دی چي دلته واقعي دوې خرابياني جمع سوي دي، او دا دواړه خرابيانې د لمانځه په منع کېدلو او مقدار (اندازه) کي سره برابري دي، د لمانځه په منع کېدلو کي د برابرېدلو مطلب دا دی چي که د انسان سره نور کالي وي يا د ګندګي لېري کول ممکن وي نو په دې صورت کي نه په لڅه لمونځ کول جائز دي او نه په دې ګنده کالو کي، او په مقدار کي د برابرېدلو مطلب دی چي څرنګه د عورت په لڅېدلو کي لږ اندازه لڅېدل معاف دي، همدارنګه په نجاست کي هم لږ اندازه معاف ده، او د دواړو ډېره اندازه معاف نه ده، نو ګواکي دواړه خرابياني په مقدار (اندازه) کي هم سره برابري سوي، نو کله چي دواړه خرابياني په منع او مقدار کي برابري دي، نو د لمانځه په حکم کي به هم دواړه برابري وي، او دا سړی ته به اختيار وي که په لڅه لمونځ کوي يا يې په دغه ګنده کالو کي کوي، په هر صورت کي به د هغه لمونځ صحيح وي.

د امام محمد د دليل جواب: امام محمد چيُ کوم دا خبره کوي چي په لڅه لمونځ کولو سره ډېر فرائض پاتېږي، د دې جواب دا دی چي د يو شي په داسي طريقه سره پرېښوول چي د هغه خليفه (نائب) او بدل موجود وي، نو هغه ته

پرېښوول نه وړل کېږي، او په دې مسئله کي هم د پرېښوولو و نائب سته، يعني که په لڅه باندي لمونځ کونکی قيامه (ولاړه) او نور پرېږدي نو هغه د قيامي پر نائب يعني پر ايماء او اشاره عمل کوي، نو ځکه دلته هم صرف د يو فرض پرېښوول دي نه د دوړو فرضونو. او که ووېل سي چي په لڅه د لمونځ کولو په مقابله کي په دغه کالو کي لمونځ کول ولې افضل دي؟، نو جواب دا دی چي ستر يعني عورت پټول د لمانځه سره خاص نه دي، بلکي د لمانځه او له لمانځه څخه ماسوا په نورو حالتونو کي هم واجب دي، او طهارت تر لمانځه پوري خاص دی، لنهه دا چي د عورت د پټولو فرض زيات قوي دی په نسبت سره د طهارت و فرضيت ته، نو ځکه موږ ووېل چي په لڅه له لمونځ کولو څخه په دغه ګنده کالو کي لمونځ کول غوره او افضله دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د شيخينو دی، وقال العلامة علاء الدين الحصكفي رَحِمَهُ الله (او أقل من ربعه طاهر ندب صلوته فيه) وجاز الايماء كما مر وحتم محمد رَحِمَهُ الله لبسه واستحسنه في الاسرار وبه قالت الثلاثة. (الدر المختار ج۱، ص:۳۰۳). [القول الراجح، ج:۱، ص:۶۸]

د لڅوالي په حالت کي د لمونځ کولو حکم

وَمَنْ لَمْ يَجِدْ ثَوْبًا او څوک چي کالي پيدا نه کړي صَلّٰى عُرْيَانًا قَاعِدًا (نو) هغه دې په لڅه لمونځ وکړي په ناستي سره يُومِئُ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُوْدِ (او) په اشاره سره دي رکوع او سجده کوي هٰكَذَا فَعَلَهُ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ* ځکه د رسول الله صحابه وو هم داسي کړي دي فَإِنْ صَلّٰى قَائِمًا أَجْزَأَهُ لېکن که په ولاړي يې لمونځ وکړی نو دا هم جائز دي لِأَنَّ فِي الْقُعُوْدِ سَتْرَ الْعَوْرَةِ الْغَلِيْظَةِ ځکه په ناسته کي د عورتِ غليظه پرده ده وَفِي الْقِيَامِ أَدَاءَ هٰذِهِ الْأَرْكَانِ او په ولاړه کي د لمانځه د ارکانو اداء کول دي فَيَمِيْلُ إِلٰى أَيِّهِمَا شَاءَ نو په دواړو طرفونو کي چي يې کوم طرف خوښ وي هغه دي اختيار کړي إِلَّا أَنَّ الْأَوَّلَ أَفْضَلُ خو دا چي لومړی صورت غوره دی لِأَنَّ السَّتْرَ وَجَبَ لِحَقِّ الصَّلَاةِ وَحَقِّ النَّاسِ ځکه چي پټول د عورت د لمانځه او خلکو دواړو په حق کي واجب دي وَلِأَنَّهُ لَا خَلَفَ لَهُ او په دې وجه (هم) چي د عورت پټولو هيڅ خليفه (بدل) نسته وَالْإِيْمَاءُ خَلَفٌ عَنِ الْأَرْكَانِ او اشاره د ارکانو خليفه دی.

اللغات: ﴿يُوْمِئُ﴾ د افعال له باب څخه د مضارع صيغه ده: اشاره کول. ﴿يَمِيْلُ﴾ اختيارول، مائل کېدل، راغب کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو سړي سره بالکل کالي نه وه، يعني نه پاک کالي ور سره وه، او نه ناپاک، نو په دې صورت کي د ده لپاره حکم دا دی چي په ناسته دې لمونځ وکړي، او په اشاره سره دي رکوع او سجده کوي، ځکه صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به په دې وخت کي همداسي کوله. صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله د حضرت انس ابن مالک رضی الله عنه په حواله سره ليکلي دي: إن أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ركبوا في سفينة فانكسرت بهم السفينة فخرجوا من البحر عراة فصلوا قعودا، (يعني يو وار صحابه وو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) په کښتۍ کي سفر کوی، لېکن کښتۍ ماته سوه، صحابه (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) له سمندر څخه د لڅوالي په حالت کي را ووتل او په دغه حالت کي يې په ناسته لمونځ وکړی)، له دې څخه معلومېږي

---

* أثر: دي ته نژدې اثر دا دی: عن قتادة، قال إذا خرج الناس من البحر عراة فأمهم أحدهم صلوا قعودا، وكان امامهم معهم في الصف ويومئون ايماء، مصنف عبد الرزاق، باب صلوة العريان، ج:۲، ص:۵۸۴، رقم:۳۵۶۵.

چي په داسي وخت کي په لڅه لمونځ کول صحيح دي، ځکه چي دا قول له حضرت انس بن مالک ﷺ څخه روايت سوی دی، او بل چا دې خلاف نه دي کړی، نو ځکه به دا قول د اجماع په درجه کي وي، او اجماع د شريعت له اصولو څخه يو اصل دی، او پر اجماع عمل کول واجب دي. (منايه ج:۱، ص:۲۷۱)

فإن صلى قائما الخ ددې حاصل دا دی چي که د لڅوالي په حالت کي يې د ناستي پر ځای په ولاړه لمونځ وکړی، نو دا هم جائز او صحيح دي، ځکه څرنګه چي د ناستي په لمونځ کولو کي د عورت غليظه يعني د شرمګاه (شرم ځای) پټېدل سته، نو په ولاړه لمونځ کولو کي د لمانځه د ارکانو يعني د رکوع او سجدو اداء کول سته. لهذا کله چي په ناسته لمونځ جائز دی، نو په ولاړه به هم لمونځ جائز وي، لېکن په ناستي سره لمونځ کول د ولاړي په نسبت زيات فضيلت لري، ځکه چي پرده (ستر) کول د لمانځه حق هم دی او د خلکو حق هم دی، لېکن پاکي حاصلول صرف د لمانځه حق دی، او بيا د پردې پرېښوولو هيڅ خليفه نسته، لېکن د ارکانو پرېښوولو خليفه او بدل سته چي هغه ايماء (يعني اشاره کول) دي، نو ځکه د پردې پرېښوولو په مقابله کي د ارکانو پرېښوول زيات قوي دي، ځکه چي قاعده ده: "ترك إلى خلف" د "ترك لا إلى خلف" په مقابله کي غوره دی، نو ځکه به د ناستي په حالت کي لمونځ کول د ولاړي په حالت کي تر لمونځ کولو زيات غوره او افضله وي.

په لمانځه کي د نيت حيثيت او د نيت ځای او طريقه

قَالَ: وَيَنْوِي الصَّلَاةَ الَّتِي يَدْخُلُ فِيهَا بِنِيَّةٍ فرمايي: او په کوم لمانځه کي چي لمونځ کونکی داخلېږي د هغه لپاره به نيت دا ډول کوي لَا يَفْصِلُ بَيْنَهَا وَبَيْنَ التَّحْرِيمَةِ بِعَمَلٍ چي د تکبير تحريمه او لمانځه په مېنځ کي په بل عمل سره فصل (بېلتون) نه وکړي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●: إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ او په دې اړه د نبي ﷺ دا قول اصل دی: "چي دارومدار (او انحصار) د عملونو پر نيت باندي دی" وَلِأَنَّ ابْتِدَاءَ الصَّلَاةِ بِالْقِيَامِ او په دې وجه هم چي د لمانځه شروع په ولاړي کيږي وَهُوَ مُتَرَدِّدٌ بَيْنَ الْعَادَةِ وَالْعِبَادَةِ او ولاړه د عادت او عبادت په مېنځ کي واقعه ده وَلَا يَقَعُ التَّمْيِيزُ إِلَّا بِالنِّيَّةِ نو فرق نه راځي مګر په نيت سره وَالْمُتَقَدِّمُ عَلَى التَّكْبِيرِ كَالْقَائِمِ عِنْدَهُ او هغه نيت کوم چي تر تکبير تحريمه مخکي وي د هغه نيت په ډول دی کوم چي د تکبير تحريمه په وخت کي وي إِذَا لَمْ يُوجَدْ مَا يَقْطَعُهُ په دې شرط چي (په مېنځ کي) يو داسي عمل پيدا نه سي چي نيت قطع کړي (پرېکړي) وَهُوَ عَمَلٌ لَا يَلِيقُ بِالصَّلَاةِ او هغه داسي عمل دی چي د لمانځه سره مناسب نه وي وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْمُتَأَخِّرَةِ مِنْهَا عَنْهُ او د هغه نيت اعتبار نسته کوم چي تر تکبير تحريمه وروسته وي لِأَنَّ مَا مَضَى لَا يَقَعُ عِبَادَةً لِعَدَمِ النِّيَّةِ ځکه کوم عمل چي تر نيت مخکي تېر وي هغه د نيت د نشتوالي په وجه عبادت نه سي کېدلای وَفِي الصَّوْمِ جُوِّزَتْ لِلضَّرُورَةِ او په روژه کي د ضرورت په وجه جائز سوی دی وَالنِّيَّةُ هِيَ الْإِرَادَةُ او نيت ارادې ته ويل کيږي وَالشَّرْطُ أَنْ يَعْلَمَ بِقَلْبِهِ أَيَّ صَلَاةٍ يُصَلِّي او د نيت شرط دا دی چي انسان به په خپل زړه سره (دا) پېژني چي هغه کوم لمونځ کوي أَمَّا الذِّكْرُ بِاللِّسَانِ فَلَا مُعْتَبَرَ بِهِ هر چي په ژبه

● تخريج: أخرجه ائمة الستة، بخاري في كتاب كيف كان بدء الوحي، حديث رقم:۱.

نیت کول دي نو د هغه يو (خاص) اعتبار نشته وَيَحْسُنُ ذٰلِكَ لِاجْتِمَاعِ عَزِيْمَتِهِ او په خوله باندي نیت کول ښه دي د هغه د عزم (ارادې) د جمع کېدلو په وجه (يعني که د زړه سره سره په خوله هم نیت وکړي نو دا ښه دي ځکه چي په دې سره د زړه اراده او د ژبې وینا دواړه سره جمع سي او خبره نوره پخه سي) ثُمَّ إِنْ كَانَتِ الصَّلَاةُ نَفْلًا يَكْفِيْهِ مُطْلَقُ النِّيَّةِ (او) بیا که دا نفلي لمونځ وو نو مطلق نیت کول کافي دي وَكَذَا إِذَا كَانَتْ سُنَّةً فِي الصَّحِيْحِ او که سنت لمونځ وو نو د صحیح قول مطابق هم دغه حکم دی وَإِنْ كَانَتْ فَرْضًا فَلَا بُدَّ مِنْ تَعْيِيْنِ الْفَرْضِ او که فرضي لمونځ وو نو د فرضو معلومول ضروري (يعني وخت به يې معلوموي) كَالظُّهْرِ مَثَلًا د مثال په توګه لکه د ماپښین لمونځ لِاخْتِلَافِ الْفُرُوْضِ ځکه چي فرضونه مختلف دي وَإِنْ كَانَ مُقْتَدِيًا بِغَيْرِهِ او که لمونځ کونکی په امام پسي اقتداء کونکی وو يَنْوِي الصَّلَاةَ وَمُتَابَعَتَهُ نو هغه به د لمانځه نیت هم کوي او د امام د تابعداری نیت به هم کوي لِأَنَّهُ يَلْزَمُهُ فَسَادُ الصَّلَاةِ مِنْ جِهَتِهِ ځکه چي پر مقتدي د امام له طرفه د لمانځه فساد راځي (يعني که د امام لمونځ فاسد سو نو د مقتدي لمونځ به هم فاسديږي) فَلَا بُدَّ مِنَ الْتِزَامِهِ نو د امام متابعت پر ځان لازمول ضروري دي.

اللغات: ﴿يُرَدَّدُ﴾ واقع، دائر، غيريقيني، ﴿يُطَابِقُ﴾ د ضرب د باب مضارع صيغه ده: مطابق کېدل، لائق کېدل، ﴿عَزِيْمَة﴾ عزم، پخه اراده.

تشريح: کله چي صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د لمانځه له شرطونو او نورو تفصيلاتو څخه فارغ سو، نو اوس په نیت او د نیت په متعلقاتو شروع کوي، فرمايي: لمونځ ګذاره چي په کوم لمانځه کي داخلیږي نو هغه ته پکار دي چي د دغه لمانځه نیت وکړي، او نیت دي په داسي طريقه وکړي چي د تکبيرِ تحريمه سره متصل (جوخت) وي، او چي د نیت او تکبيرِ تحريمه په مینځ کي په هيڅ شي سر فصل رانه سي.

نقلي دليل: د نیت د شرط او ضروري کېدلو لپاره نقلي دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: إنما الأعمال بالنيات. (يعني د عملونو دار و مدار (او انحصار) پر نیت دی)، او څرنګه چي لمونځ هم يو عمل دی (بلکي د اعمالو اصل دی) نو ځکه به د دې مدار هم پر نیت وي، که نیت سوی وو نو دا عمل به معتبره وي، کنې نه به وي.

عقلي دليل: د نیت د شرط کېدلو عقلي دليل دا دی چي د لمانځه شروع له قیامي (ولاړي) څخه کیږي او قیامه د عادت او عبادت په مینځ کي واقع ده، يعني انسان د عادت په توګه هم درېږي او د عبادت لپاره هم درېږي، نو د عادت او د عبادت د ولاړي په مینځ کي فرق ضروري دی، او دا فرق صرف په نیت سره حاصلېدای سي، نو په دې وجه به هم د لمانځه لپاره نیت شرط او ضروري وي.

والمتقدم على التكبير الخ له دې ځايه دا رانبيي چي په نیت کي اصل دا دی چي د تکبير تحريمه سره جوخت (متصل) وي، يعني تر نیت کولو وروسته دي فوراً الله اکبر ووېل سي او لمونځ دي شروع کړی سي، لېکن که يو سړي تر تکبير تحريمه مخکي نیت وکړی او له يو څه ځنډ (وقفې) څخه وروسته يې تکبير تحريمه وتړل، نو اوس به دا کتل کیږي چي د تکبير تحريمه او نیت په مینځ کي د لمانځه يو منافي (مخالف) عمل راغلی دی، که نه؟ نو که د نیت او تکبير تحريمه په مینځ کي د لمانځه يو مخالف عمل د مثال په توګه خوراک څښاک، خبري اتري او داسي نور راغلي نه وي، نو د دې نیت اعتبار به کیږي او دويم وار نیت کولو ضرورت نشته، لېکن که د دواړو په مینځ کي د لمانځه يو منافي عمل

واقع سوی وي نو بیا به اول نیت داسي وي لکه ګردسره چي سوی نه وي، لهذا د تکبیر تحریمه په وخت کي به بل نوی نیت کوي.

او که یو سړی تر تکبیر تحریمه وروسته نیت وکړي نو بیا مطلقاً د هغه د نیت اعتبار نسته، او کله چي یې د نیت اعتبار نسته، نو د لمانځه به خاوري اعتبار وسي، ځکه کله چي چا تر تکبیر تحریمه وروسته نیت وکړی نو ښکاره ده چي تر نیت مخکي چي کوم عمل وسو، هغه به د نیت د نشتوالي په وجه سره عبادت نه وي او څرنګه چي په عبادت کي وروستني اعمال پر مخکني اعمالو باندي مبني دي، نو کله چي مخکني اعمال عبادت نه سوه، نو وروستني اعمال به هم عبادت نه وي، او په دې توګه به پوره لمونځ بېکاره سي.

د دې په خلاف روژه ده، نو که یو سړی په روژه کي د پېشلمي په وخت کي نیت نه وکړي بلکي سهار نیت وکړي نو د هغه د نیت اعتبار به کیږي او روژه به یې صحیح وي، ځکه چي د پېشلمي وخت د خوب او د غفلت وخت دی، نو که په دغه وخت کي نیت شرط او لازمي وګرځول سي نو خلک به په حرج او تکلیف کي مبتلا سي، نو د ضرورت پر بنیادت او د حرج لیري کولو لپاره په روژه کي له شروع څخه نیت ضروري نه وګرځول سو، او د دې په مقابله کي د لمانځه مسئله ده نو لمونځ خو د بیداری او تیاری په حالت کي اداء کیږي (یعني له مخکي څخه لا انسان ور ته چمتو وي)، نو په لمانځه کي له اول وخت او شروع څخه په نیت ضروري ګرځولو کي هیڅ حرج او ستونزه نسته، او بیا لمونځ په لوړ غوندي وخت کي اداء کیږي، او په لمانځه کي د عادتاً ولاړي سره د مشابهت احتمال هم سته، نو په دې وجه هم د لمانځه له شروع څخه نیت شرط او ضروري دی.

والنية هي الخ فرمايي چي د قصد او ارادې دویم نوم نیت دی، او د نیت شرط دا دی چي لمونځ کونکی به خپل زړه سره دا پېژني چي هغه کوم لمونځ کوي، او که یو شوک له ده څخه پوښتنه وکړي چي تا کوم لمونځ وکړی، نو پر ته له څه ځنډ او تردده به د ده لپاره په اساني سره جواب ورکول ممکن وي.

الذكر باللسان پاته سو په ژبه باندي د نیت کولو څه خاص ضرورت نسته، لېکن که په ژبه سره نیت وسي نو ښه دی، ځکه چي په دې توګه د زړه عزم او د ژبي وینا دواړه سره جمع کیږي او په نیت کي نور قوت پیدا سي.

ثم إن كانت الصلاة الخ له دې ځایه د نیت د کیفیت بیان کوي، لنډیز یې دا دی: لمونځ ګزاره چي په کوم لمانځه شروع کوي هغه به یا فرض وي یا به غیر فرض، که غیر فرض وو نو په هغه کي مطلق نیت کول کافي دي، هغه که نفل وي او که سنت، صحیح قول هم دا دی، ځکه نیت په عادت او عبادت کي د فرق لپاره وي، او دا مقصد په مطلق نیت سره حاصلیږي، نو مطلق نیت به کافي وي، او د بعضو رایه دا ده چي که سنت کوي نو د رسول الله ﷺ د سنتو نیت کول ضروري دي، مګر مخکنی قول صحیح دی، ځکه چي کله صرف مطلق سنت وویل سي نو له هغه څخه د نبي کریم ﷺ سنت مراد دي، او بل دا چي که هغه لمونځ فرض وو نو په دې کي هم دوه صورتونه دي: یو دا چي یوازي (انفراداً) به یې کوي، یا به یې په امام پسې کوي، نو که سړی یوازي وو نو د لمانځه معلومول ضروري دي د مثال په توګه که د ماپښین لمونځ شروع کوي نو د ماپښین معلومول ضروري دي، صرف دومره ویل کافي نه دي: چي ما د فرضو نیت وکړی، ځکه چي فرضونه ډېر او مختلف دي، نو په دې کي فرق کول پکار دي، او که فرض لمونځ په امام پسي کوي نو د پورتني نیت سره سره به د امام د تابعداری او اقتداء نیت هم کوي ځکه چي د اقتداء کولو په صورت کي د مقتدي پوره لمونځ د امام د لمانځه تابع کیږي، همدا وجه ده که د امام لمونځ فاسد سي نو د مقتدي لمونځ هم فاسدیږي، نو په دې وجه د امام د تابعداری او د اقتداء نیت کول د مقتدي لپاره شرط او ضروري دی.

په لمانځه کې مخ پر قبله درېدل

قَالَ: وَيَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ او لمونځ ګزاره به مخ (هم) د قبلې و طرف ته کوي لِقَوْلِهِ تَعَالٰی ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهٗ [سورة البقرة: ۱۴۴] تاسو خپل مخونه د مسجد حرام و طرف ته واړوئ! ثُمَّ مَنْ كَانَ بِمَكَّةَ بيا که يو څوک په مکه کي وو فَفَرْضُهُ إِصَابَةُ عَيْنِهَا نو د هغه لپاره فرض دا دي چي خاص کعبې ته مخ کړي وَمَنْ كَانَ غَائِبًا او که څوک له کعبې څخه ليري (يا دباندي) وو فَفَرْضُهُ إِصَابَةُ جِهَتِهَا نو د هغه لپاره فرض دا دي چي د کعبې و طرف (جهت) ته مخ کړي هُوَ الصَّحِيحُ همدا قول صحيح دی لِأَنَّ التَّكْلِيفَ بِحَسْبِ الْوُسْعِ ځکه چي مکلف کېدل د وس مطابق دي.

اللغات: ﴿فَوَلُّوا﴾ د تفعيل د باب جمع مذکر امر حاضر صيغه ده: مخ ګرځول، مخ اړول. ﴿وُسْع﴾ وس، طاقت.

تشريح: د لمانځه له شرطونو څخه يو شرط دا هم دی چي لمونځ کونکي به مخ د قبلې و طرف ته کوي، دليل د الله تعالیٰ دا قول دی: فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهٗ، أي شطر المسجد الحرام، په دې آيت سره دليل په دې توګه نيول کيږي چي مخکي الله فرمايلي وو: فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا، (موږ به تاسو هرومرو (خامخا) هغي قبلې ته وګرځوو چي تاسو يې خوښوی)، تر دې وروسته د مسجد حرام و طرف ته د مخ اړولو حکم وسو، بيا د لمانځه دوه صورتونه دي يا به انسان په مکه مکرمه کي لمونځ اداء کوي يا به يې له مکې مکرمې څخه دباندي بل ځای اداء کوي، نو په اول صورت کي خاص د کعبې و طرف ته مخ کول فرض دي، ځکه کله چي به نبي ﷺ په مسجد حرام کي لمونځ کوی، نو خاص د کعبې و طرف ته به متوجه کېدی، همدغه معمول د صحابه ؓ او تابعينو وو، ګواکي پر دې اجماع ده، او په دويم صورت کي د کعبې و جهت ته، يعني د مسجدِ حرام و طرف ته مخ کول فرض دي، دليل دا دی چي څه وخت نبي ﷺ او مسلمانان په مدينه کي وه نو الله تعالیٰ دوی ته د مسجدِ حرام و طرف ته د مخ کولو حکم وکړی، نه د کعبې و طرف ته، نو له دې څخه ښکاره سوه چي کوم خلک له مکې څخه دباندي او ليري وي، د هغو لپاره خاص کعبه قبله جوړول لازم نه دي، ځکه چي الله تعالیٰ خپل بندګان د خپل طاقت مطابق مکلف ګرځولي دي، فرمايي: لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا (سورة البقرة: ۲۸۶).

د بيري په حالت کي مخ پر قبله درېدل

وَمَنْ كَانَ خَائِفًا او کوم سړی چي په بېره کي وو يُصَلِّي إِلٰى أَيِّ جِهَةٍ قَدَرَ هغه چي پر کوم طرف هم قدرت پيدا کړي (پر هغه طرف دي) لمونځ کوي لِتَحَقُّقِ الْعُذْرِ ځکه چي عذر ثابت سو فَأَشْبَهَ حَالَةَ الْإِشْتِبَاهِ نو دا د اشتباه (او شک) د حالت سره مشابه سو.

اللغات: ﴿خَائِف﴾ د فتح اسم فاعل دی: بېرېدونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي په لمانځه کي مخ پر قبله درېدل ضروري دي، لېکن څرنګه چي د عذر په وجه د پر شرطونه ساقطيږي، همدارنګه د عذر په وجه د مخ پر قبله درېدلو شرط هم ساقطيږي، نو که يو څوک له يو دښمن يا درنده څخه د ځاني يا مالي تلفاتو په هکله بېرېدی، نو په دې صورت کي د هغه لپاره مخ د قبلې و طرف ته کول ضروري نه دي، بلکي حکم دا دی چي پر کوم طرف هم د لمانځه پر کولو قدرت لري هغه طرف ته دي مخ کړي لمونځ دي وکړي، ځکه چي د بيري په وجه د ده په حق کي هم عذر ثابت سو، نو د عذر په وجه دا شرط ساقط سو.

او دا صورت د اشتباه او شک د حالت سره مشابه دی، يعني چې څرنګه قبله مشتبه سي او سړی په شک کې وي چې قبله به کوم طرف ته وي نو په دې وخت کې سړي ته پکار دي چې غور او فکر وکړي او تر فکر وروسته چې يې پر کوم طرف غالب ګومان سي پر هغه طرف دې لمونځ وکړي، نو هغه د ده په حق کې قبله شمارل کيږي، همدارنګه په پورتني صورت کې چې لمونځ کونکی پر هر طرف قدرت پيدا کړي، هغه د ده په حق کې قبله شمارل کيږي.

چې کله قبله شکمنه سي نو د اجتهاد حکم

فَإِنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ نو که پر لمونځ کونکي قبله مشتبه سوه وَلَيْسَ بِحَضْرَتِهِ مَنْ يَسْأَلُهُ عَنْهَا او حال دا چې ده ته نژدې داسي څوک هم نه وو چې له هغه څخه د قبلې په باره کې پوښتنه وکړي اِجْتَهَدَ نو لمونځ کونکي دې اجتهاد وکړي لِأَنَّ الصَّحَابَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ● تَحَرَّوْا وَصَلَّوْا ځکه چې صحابه وو تحری (غور او فکر) وکړی او لمونځ يې وکړی وَلَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او نبي ﷺ پر دوی هيڅ انکار نه وکړی وَلِأَنَّ الْعَمَلَ بِالدَّلِيْلِ الظَّاهِرِ وَاجِبٌ عِنْدَ انْعِدَامِ دَلِيْلٍ فَوْقَهُ او په دې وجه (هم) چې هغه وخت پر ښکاره دليل عمل واجب دی چې کله تر هغه لوړ (او غټ) دليل نه وي وَالْإِسْتِخْبَارُ فَوْقَ التَّحَرِّيْ او (له سړي څخه د قبلې په باره کې) معلومول له تحری څخه لوړ دي.

اللغات: ﴿حضرة﴾ موجودوالی، شتون. ﴿تحروا﴾ د تفعل د باب ماضي صيغه ده: غور او فکر کول، طلب کول محنت کول. ﴿استخبار﴾ د استفعال د باب مصدر دی: پوښتنه کول، خبر لټول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر يو سړي د قبلې طرف شکمن سو، او داسي څوک هم ور سره نه وو چې هغه ته د قبلې خبر وي، او له هغه څخه پوښتنه وکړي، نو د دې سړي لپاره تحري (اجتهاد، غور او فکر) پکار دی، نو کوم طرف ته چې يې غالب ګومان راسي پر هغه طرف دې لمونځ وکړي.

مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: وليس بحضرته من يسأله عنها، نو له دې څخه معلومه سوه چې که يو داسي سړی وو چې له هغه څخه د قبلې په اړه پوښتنه وسي، نو په دې صورت کې به تحری جائز نه وي، او فرمايي: اجتهد، له دې څخه معلومه سوه چې له تحری (اجتهاد) څخه ماسوا لمونځ نه کيږي.

دليل: د تحری د جواز لپاره دليل دا دی چې يو وار پر صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قبله شکمنه سوه، نو هغوی تحری وکړه، او لمونځ يې وکړی، بيا يې دا واقعه رسول الله ﷺ ته بيان کړه، نبي ﷺ له دې څخه هيڅ انکار نه وکړی، او که داسي سړی وو چې له هغه څخه پوښتنه وسي نو د ده لپاره تحري جائز نه ده ځکه چې پر ښکاره دليل په هغه وخت کې عمل واجبيږي چې له هغه څخه لوړ بل دليل نه وي او له سړي څخه پوښتنه کول او قبله معلومول له تحري څخه لوړ او غټ دليل دی، نو تر څو چې معلومول ممکن وي تر هغه وخته تحري کول جائز نه دي.

که تر لمانځه وروسته معلومه سي چې قبله پر دې طرف نه وه، نو څه حکم دی؟

فَإِنْ عَلِمَ أَنَّهُ أَخْطَأَ بَعْدَ مَا صَلَّى او که (لمونځ کونکي ته) تر لمانځه وروسته معلومه سوه چې هغه غلط سوی دی لَا يُعِيْدُهَا نو لمونځ به نه راګرځوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يُعِيْدُهَا إِذَا اسْتَدْبَرَ او امام شافعي فرمايي: که يې (په لمانځه کې) قبلې ته شا کړې وه نو لمونځ به راګرځوي لِتَيَقُّنِهِ بِالْخَطَاءِ ځکه چې هغه ته د غلطۍ يقين وسو وَنَحْنُ

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب اقامة الصلوٰة، باب من يصلي لغير القبلة، حديث رقم: ۱۰۲۰.

نَقُوْلُ: لَيْسَ فِيْ وُسْعِهٖ إِلَّا التَّوَجُّهُ إِلٰى جِهَةِ التَّحَرِّيْ او موږ وايو: چې د ده په وس کې صرف د تحري (اجتهاد) و طرف ته متوجه کېدل وو وَالتَّكْلِيْفُ مُقَيَّدٌ بِالْوُسْعِ او مکلف والی د وس مطابق دی.

اللغات: ﴿اِسْتَدْبَرَ﴾ شا کول. ﴿تَيَقُّن﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: يقيني کېدل، قطعي کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که پر يو سړي قبله شکمنه سوه او هغه د قبلې معلومولو لپاره تحري (غور او فکر) وکړی او لمونځ يې وکړی، تر لمانځه وروسته ورته معلومه سوه چې له قبلې څخه ماسوا يې بل طرف ته لمونځ کړی وو، نو په دې صورت کې پر هغه لمونځ راګرځول ضروري نه دي، ځکه په داسې وخت کې شرعي قبله هغه طرف ته ده کوم طرف چې په تحري سره معلوم سوی وي، نو ګواکې هغه د شريعت مطابق لمونځ وکړی.

وقال الشافعي الخ امام شافعي فرمايي: که يو چا په تحري سره لمونځ کړی وو او وروسته ورته معلومه سوه چې د قبلې طرف ته يې شا وه، نو د لمونځ راګرځول پر واجب دي، ځکه چې په دې صورت کې غلطي په يقين سره ثابته سوه.

زموږ جواب: دا دی چې د ده په وس کې له دې څخه ماسوا بل څه نه وو، او تکليف به د وس په اندازه وي، نو څومره چې د ده وس وو هغسې يې وکړه، نو ځکه به پر هغه د لمانځه راګرځول واجب نه وي.

که د لمانځه په دوران کې معلومه سي چې قبله بلې خوا ته ده نو څه حکم دی؟

وَإِنْ عَلِمَ ذٰلِكَ فِي الصَّلَاةِ اِسْتَدَارَ إِلَى الْقِبْلَةِ او که لمونځ ګزاره د لمانځه په دوران کې د قبلې په غلطېدلو پوه سو نو د قبلې و طرف ته دې وګرځېږي (او پر هغه لمانځه دې بناء وکړي) لِأَنَّ أَهْلَ قُبَاءَ لَمَّا سَمِعُوْا بِتَحَوُّلِ الْقِبْلَةِ ځکه کله چې د قباء خلکو د تحويلِ قبله (قبلې اوښتولو) خبر واورېدی اِسْتَدَارُوْا كَهَيْئَتِهِمْ فِي الصَّلَاةِ نو هغوی چې په لمانځه کې پر کوم حالت وو پر هغه حالت (د قبلې وطرف ته) وګرځېدل وَاسْتَحْسَنَهَا النَّبِيُّ ﷺ [1] او نبي ﷺ دا طريقه ښه وګڼله وَكَذَا إِذَا تَحَوَّلَ رَأْيُهٗ إِلٰى جِهَةٍ أُخْرٰى تَوَجَّهَ إِلَيْهَا همدارنګه که د هغه رايه بل طرته واوښتل نو هغه طرف ته دې وګرځېږي لِوُجُوْبِ الْعَمَلِ بِالْاِجْتِهَادِ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُ ځکه چې په را روان (پاته) لمانځه کې پر هغه د اجتهاد (او تحری) مطابق لمونځ کول واجب دي مِنْ غَيْرِ نَقْضِ الْمُؤَدّٰى قَبْلَهٗ د هغه حصې له فاسدولو څخه بغير چې مخکې يې کړې وي.

اللغات: ﴿اِسْتَدَارَ﴾ د استفعال د باب ماضي صيغه ده: ګرځېدل. ﴿تَحَوُّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: اوښتل، ګرځېدل. ﴿مُؤَدّٰی﴾ د تفعيل د باب اسم مفعول دی: هغه چې اداء کړی سوی وي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړي په تحري سره لمونځ شروع کړی وو، او هغه ته د لمانځه په جريان کې معلومه سوه چې د قبلې په طرف کې خطا سوی دي، نو هغه دې د لمانځه په جريان کې د قبلې و طرف ته وګرځېږي، دليل دا دی چې کله د قباء خلکو ته په لمانځه کې دا معلومه سوه چې قبله بدله سوه، يعني د بيت المقدس پر ځای د کعبې شريفې و طرف ته د مخ ګرځولو حکم وسو، نو دوی په هغه لمانځه کې د رکوع په حالت کې د قبلې و طرف ته وګرځېدل، بيا چې کله نبي ﷺ په دې خبر سو، نو نبي ﷺ د دوی تعريف وکړی، او انکار يې نه وکړی.

وکذا اذا تحول الخ همدا حکم په هغه صورت کې دی چې کله د انسان رايه په لمانځه کې بل طرف ته بدله سي يعني بل ته طرف ته يې رايه پخه سي، نو هغه طرف ته دې وګرځېږي، تر دې چې که په ګرځېدلو کې قصداً يو څه ځنډ وکړی نو لمونځ يې فاسدېږي، ځکه

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصلوٰة، باب ما جاء في القبلة، حديث رقم:۴۰۳.

چي د لمانځه په را روانه حصه کي پر ده د اجتهاد مطابق عمل کول واجب دي، بغير له دې ځخه چي هغه حصه ماته کړي کوم چي يې تر دې مخکي اداء کړې ده.

که د امام او مقتديانو په تحري کي اختلاف راغلی نو څه حکم دی؟

وَمَنْ أَمَّ قَوْمًا فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ او که يو سړي په توره شپه کي د يو قوم امامت وکړی فَتَحَرَّى الْقِبْلَةَ وَصَلَّى إِلَى الْمَشْرِقِ نو امام د قبلې تحري وکړه او د مشرق طرف ته يې لمونځ وکړی وَتَحَرَّى مَنْ خَلْفَهُ فَصَلَّى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ إِلَى جِهَةٍ او د امام شا ته چي کوم خلک دي هغو ټولو هم تحري وکړه وَكُلُّهُمْ خَلْفَهُ او حال دا چي ټوله د امام شا ته وه وَلَا يَعْلَمُونَ مَا صَنَعَ الْإِمَامُ او په دې خبر نه وه چي امام څه وکړه أَجْزَأَهُمْ نو د دوی لمونځ جائز دی لِوُجُودِ التَّوَجُّهِ إِلَى جِهَةِ التَّحَرِّيْ د تحری و طرف ته د مخ کېدلو په وجه سره وَهٰذِهِ الْمُخَالَفَةُ غَيْرُ مَانِعَةٍ كَمَا فِيْ جَوْفِ الْكَعْبَةِ او دا مخالفت له لمانځه څخه مانع نه دی لکه په کعبه کي دننه لمونځ وَمَنْ عَلِمَ مِنْهُمْ بِحَالِ إِمَامِهِ تَفْسُدُ صَلَاتُهُ او که په دې مقتديانو کي چا ته د خپل امام حال معلوم سو نو د هغه لمونځ فاسديږي لِأَنَّهُ اعْتَقَدَ أَنَّ إِمَامَهُ عَلَى الْخَطَإِ ځکه چي هغه د خپل امام د غلطی اعتقاد وکړی وَكَذَا لَوْ كَانَ مُتَقَدِّمًا عَلَى الْإِمَامِ او همدارنګه که هغه تر امام مخکي وو (نو هم د هغه لمونځ فاسديږي) لِتَرْكِهِ فَرْضَ الْمَقَامِ ځکه چي هغه فرض ځای پرېښووی.

اللغات: ﴿أَمَّ﴾ د نصر د باب ماضي صيغه ده: امامت کول، امام جوړېدل، ﴿مُظْلِمَةٍ﴾ تاريکه، تياره، تورتم.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که يو امام په توره تياره کي يو قوم ته امامت ورکړی، او دا امامت که په يو کور کي وو يا په دښت کي وو او داسي سری نه وو چي له هغه څخه قبله معلومه کړي، نو امام تر تحري وروسته قبله معلومه کړه او د مشرق طرف ته يې لمونځ وکړی او کوم خلک چي د امام شاته وه هغوی هم تحري وکړه، نو له هغوی څخه هر يوه خپل طرف ته لمونځ وکړی، يعني پر کوم طرف چي يې غالب ګومان راغلی هغه طرف ته يې لمونځ وکړی، او حال دا چي دا ټوله د امام شاته وه، يو هم له امام څخه مخته نه وو، او بيا که هغوی په دې خبر وو او که نه وو چي امام څه کوي يعني کوم طرف ته يې مخ دی، خو دومره خبر وو چي امام مخ ته دی، دلته يو اعتراض کېداسی هغه دا چي لمونځ خو د شپې په تياره دی، نو بيا خو خلک له جهري آواز څخه ولي اندازه نه معلوموي، نو جواب دا دی چي شايد د قضاء لمونځ وي يا جهر ځني هېر سوی وي يا له اواز څخه صرف دا معلومېږي چي امام مخته دی، او دا نه ورته معلومېږي چي د امام مخ کوم طرف ته دی، يا له دښمن يا ډاکوګانو څخه د بيرې په وجه امام جهر نه کوي، او د اخفاء کوښښ کوي، حاصل دا چي په دې صورت کي د دوی لمونځ جائز دی، ځکه چي د دوی مخ و هغه طرف ته سو کوم چي هر يوه په خپل تحري سره معلوم کړی، او همدا ضروري وه.

وهذه المخالفة الخ او پاته سو دا مخالفت چي د امام مخ يو طرف ته وي او د قوم مخ بل طرف ته وي نو دا د لمانځه له صحت څخه مانع نه دی، لکه په کعبه کي چي دننه د هر يوه مخ جلا جلا طرف ته وي بيا هم لمونځ جائز دی.

ومن علم منهم الخ او په پورتني صورت کي يعني که امام په تياره کي لمونځ ورکوی، نو که په مقتديانو کي چا ته د خپل امام حال معلوم سو، نو د هغه لمونځ فاسديږي، ځکه چي ده خپل طرف صحيح وګڼی او د نورو طرف يې غلط وګڼی، نو په امام پسي يې اقتداء صحيح نه سوه، ځکه چي ده د خپل امام د خطاء کېدلو عقيده وکړه. همدارنګه که څوک له امام ـ ي وو نو هم يې لمونځ فاسديږي، ځکه چي ده خپل فرض ځای يعني خپل د درېدلو ځای يې پرېښووی (چي هغه د امام شا ته درېدل دي). والله اعلم بالصواب

بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ

(دا) باب د لمانځه د کیفیت (او حالت په بیان کي) دی

تشریح: تر دې مخکي چي څومره بابونه هم صاحب د کتاب د لمانځه په باره کي بیان کړل، هغه ټوله د وسائلو او مقدماتو (سریزو) له قبیلې څخه ول، اوس له دې ځایه مقاصد یعني د لمانځه حالت و کیفیت (څرنګوالی) او داسي نور بیانوي.

صاحب د عنایه رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي د لغتپوهانو په نیز وصف او صفة دواړه مترادف الفاظ دي (یعني که څه هم لفظونه یې جلا دي خو معنیٰ یې یوه ده) او د صفة په آخر کي چي کومه تاء راغلې ده هغه د وصف له واو څخه بدل ده، لکه وعد او عدة چي دواړه مترادف دي، او د عدة تاء د وعد له واو څخه بدل ده.

په عامه توګه صفت هغه وصف ته ویل کیږي چي هغه د موصوف په ذات سره قائم وي، لکه علم، سپینوالی، توروالی او داسي نور (چي دا په انسان سره قائم دی)، د بعضو خلکو رایه دا ده چي: الصفة هی الأمارة اللازمة بذات الموصوف الذی یعرف بها، (یعني صفت د هغه نښې (علامې) نوم دی چي هغه د موصوف د ذات سر لازمه وي او په هغه سره د موصوف پېژندنه کیږي)، او د متکلمینو په نیز وصف د صفت کونکي خبرو ته ویل کیږي، او صفت هغه معنیٰ ته ویل کیږي چي هغه د موصوف په ذات سره قائمه وي، صاحب د عنایه رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي له صفت څخه مراد د لمانځه هغه کیفیت او صورت دی چي د لمانځه له ارکانو او عوارضو یعني قیام، رکوع او سجود او نورو څخه حاصلیږي. (عنایه ج:۱، ص:۲۸۰)

د لمانځه فرضونه

فَرَائِضُ الصَّلَاةِ سِتَّةٌ: اَلتَّحْرِيمَةُ د لمانځه فرضونه شپږ (۶) دي: (اول فرض) تحریمه (ده) لِقَوْلِهٖ تَعَالیٰ: وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ځکه د الله فرمان دی: د خپل پروردګار لویي بیان کړه وَالْمُرَادُ تَكْبِيرَةُ الِافْتِتَاحِ او له تحریمې څخه مراد د لمانځه د شروع کولو تکبیر دی وَالْقِيَامُ لِقَوْلِهٖ تَعَالیٰ: وَقُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ [البقرة: ۲۳۸] او (بل فرض) قیامه (ولاړه) ده ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: الله جل جلاله لره د عاجزی او خشوع په حالت کي درېږئ! وَالْقِرَاءَةُ لِقَوْلِهٖ تَعَالیٰ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ [المزمل: ۲۰] او (بل فرض) قراءت (دی) ځکه الله تعالیٰ فرمایلي دي: له قرآن څخه چي کوم آسانه وي هغه وایاست وَالرُّكُوعُ وَالسُّجُودُ لِقَوْلِهٖ تَعَالیٰ: وَارْكَعُوا وَاسْجُدُوا [الحج: ۷۷] او (بل فرض) رکوع او سجده (ده) ځکه د الله تعالیٰ فرمان دی: تاسو رکوع او سجده کوئ! وَالْقَعْدَةُ فِي آخِرِ الصَّلَاةِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ او (بل فرض) د لمانځه په آخر کي د تشهد په اندازه ناسته (ده) لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ● حِينَ عَلَّمَهُ التَّشَهُّدَ ځکه کله چي

● تخریج: أخرجه ابو داؤد فی کتاب الصلاة، باب التشهد، حدیث رقم: ۹۷۰.

نبي ﷺ حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته تشهد وروښووی نو نبي ﷺ هغه ته داسي وفرمايل إِذَا قُلْتَ هَذَا أَوْ فَعَلْتَ هَذَا فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُكَ كله چي ته دا ووايې يا داسي وکړې نو ستا لمونځ پوره سو عَلَّقَ التَّمَامَ بِالْفِعْلِ نبي ﷺ د لمونځ پوره والی په فعل پوري معلق کړی قَرَأَ أَوْلَمْ يَقْرَأْ هغه که يې تشهد ويلی وي او که نه وي.

اللغات: ﴿قَانِتِيْنَ﴾ د نصر له باب څخه د اسم فاعل جمع صيغه ده، واحد يې قَانِتٌ دی: تابعداره، فرمان برداره.. ﴿عَلَّقَ﴾ د تفعيل د باب ماضي صيغه ده: راځړول، موقوف کول. ﴿التَّمَام﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پوره کېدل، بشپړ کېدل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي په ښه توګه په دې دريو خبرو ځان پوه کړئ چي په عنايه او نورو کي په ډېر ارزښت سره دا خبري ذکر سوي دي: (۱) اوله خبره دا چي فرائض جمع د فريضة ده، نو د اعدادو د قاعدې مطابق دلته عدد مذکر راتلل پکار دي او د سِتَّةٌ پر ځای بايد د سِتٌّ لفظ راوړل سي، ځکه چي د اعدادو قاعده دا ده چي کله معدود مؤنث وي نو عدد مذکر راوړل پکار دي، او دلته فرائض مؤنث دي نو د ستة پر ځای ست راوړل پکار وو، لېکن د هغه پر ځای مؤنث يعني ستة راوړل سو څه وجه ده؟، صاحب د عنايه او نورو د دې جواب داسي کړی دی چي په عبارت کي فرائض د فُرُوض په تأويل سره اوښتی دی، خو تر تأويل وروسته بيا هم اعتراض کېدای سي، ځکه چي فروض جمع د فرض ده، او د غير ذوي العقول جمع په حکم کي د واحد مونث وي، نو په دې لعتبار سره هم د ستة پر ځای ست راوړل پکار وو، نو غوره جواب دا دی چي دلته ستة شايد د کاتب (ليکونکي) غلطي وي، کنې په بعضي نسخو کي د ست لفظ راغلی دی.

(۲) دويمه خبره دا ده چي صاحب د کتاب فرائض الصلاة ووايی، او أرکان الصلاة يې نه ووايی، ځکه چي د أرکان په مقابله کي د فرائض لفظ عام دی، فرائضو او ارکانو ټولو ته شامل دی، که يې أرکان ويلي وای نو ډېر شيان به له فرائضو څخه وتلي وای.

(۳) دريمه خبره دا ده چي فرض هغه حکم ته ويل کيږي چي د هغه ثبوت په قطعي دليل سره سوی وي او عمل پر کول ضروري وي، رکن هغه شي ته ويل کيږي چي پر هغه يو بل شی موقوف وي، يا چي د هغه په زريعه سره د يو بل شي تکميل او بشپړ تيا کيږي او هغه شی (يعني رکن) په دې کي داخل وي، او شرط د هغه شي نوم دی چي پر هغه باندي د يو شي وجود موقوفه وي، لېکن شرط د دې شي له حقيقت او ماهيت څخه خارج وي او د دې شي په وجود کي بالذات مؤثر نه وي.

اوس د عبارت تشريح ته ګوري!: د عبارت حاصل دا دی چي د لمانځه ټوله فرضونه شپږ (۶) دي، په هغو کي له ټولو څخه ① اول فرض تکبيرِ تحريمه يعني الله أکبر ويل او لمونځ شروع کول دي، او د دې دليل د الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمان وربک فکبر دی، او له دې آيت څخه استدلال په دې توګه کيږي، چي ټولو مفسرينو له فکبر څخه تکبير تحريمه مر[ا]د ي دی، او صرف دغه يو تکبير دی چي په لمانځه کي فرض او ضروري دی، او دې تکبير ته تحريمه ځکه [و]يل [ک]يږي چي د دې تکبير تر ويلو وروسته هغه ټوله شيان حراميږي، کوم چي تر تکبير مخکي د هغو کول مباح او حلال وو (عنايه ج۱، ص۲۸۰). ② د لمانځه دويم فرض قيامه ده، يعني که لمونځ ګذاره په ولاړه لمونځ کولای سي او هيڅ عذر نه لري، نو د ده

لپاره په ولاړه لمانځ کول فرض دي، او د ولاړي د فرضيت دليل په خپله د قرآن کريم دا فرمان دی: وقوموا لله قانتين. ③ دريم فرض قرائت دی، يعني د قرآن کريم دومره اندازه قرائت چي په هغه سره لمونځ جائز کيږي، هم فرض دي، او د دې دليل د قرآن کريم دا آيت دی: فاقرؤا ما تيسر من القرآن. ④ څلورم فرض رکوع ده، او ⑤ پنځم فرض سجده ده يعني که لمونځ ګزاره هيڅ عذر نه لري، نو د هغه لپاره رکوع هم فرض ده او سجده هم فرض ده، او د دې دواړو د فرضيت دليل د الله تعالىٰ دا فرمان دی: واركعوا واسجدوا. ⑥ شپږم فرض په قعدۀ اخيره(آخره ناسته) کي د تشهد ويلو په اندازه کښېنستل دي، ښکاره دي وي چي د تشهد ويل جلا خبره ده او د تشهد په اندازه کښېنستل جلا خبره ده، دلته چي کوم شی مقصود دی هغه د تشهد په اندازه کښېنستل دي، ځکه کله چي نبي ﷺ حضرت ابن مسعود ﷺ ته د تشهد تعليم ورکړی نو نبي ﷺ په آخر کي دا جمله هم وفرمايله إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك، (يعني کله چي تا تشهد ووايی يا د تشهد ويلو په اندازه کښېنستې نو ستا لمونځ پوره سو)، په دې حديث سره په دې توګه استدلال کيږي چي نبي ﷺ د ابن مسعود ﷺ د لمانځه پوره کېدل تر دوو شيانو پوري معلق کړل: د تشهد د ويلو سره، او له تشهد ويلو څخه بغير صرف د تشهد په اندازه کښېنستلو سره، نو په دواړو کي چي هر صورت راسي لمونځ يې کيږي، هغه که قعود مع القراءة وي او که قعود بدون القراءة وي، اصلي شی قعود دی.

د لمانځه د فرضونو دليلونه

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د لمانځه د شپږو فرضونو لپاره د قرآن او حديث له ظاهري الفاظو څخه استدلال کړی دی، لېکن صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله او صاحب د بنايه رَحِمَهُ الله او نورو پر دې موقع د استدلال وجه هم ذکر کړې ده، او هغه يې دا سي ذکر کړې دي چي په قرآن کريم کي چي په کومو آيتونو سره فرضونه ثابت کړی سوی دی په هغو ټولو کي د امر صيغه استعمال سوې ده او امر د وجوب لپاره راځي، نو ځکه به دا ذکر سوي شيان د لمانځه له واجباتو څخه وي، او څرنګه چي د لمانځه له حالت څخه ماسوا په نورو حالتونو کي تکبير، قيام او رکوع او داسي نور واجب او ضروري نه دي، نو ځکه به دا شيان په لمانځه کي واجب وي، په هدايه کي دا ذکر سوي دي چي دا شپږ شيان د فرائضو له قبيلې څخه دي او د استدلال له وجهې څخه صرف وجوب ثابتيږي، نو په ښکاره توګه د استدلال وجه صحيح نه معلوميږي، خو د محققينو رايه دا ده چي هغه واجب کوم چي د أرکانو په باره کي استعماليږي او هغه واجب کوم چي د نورو شيانو لپاره استعماليږي، د هغو دواړو واجباتو په مينځ کي فرق سته، له أرکانو څخه ماسوا چي کوم واجب استعماليږي له هغه څخه د ضروري او لازموالي مفهوم را وځي، او په ارکانو يعني په لمانځه کي چي کوم واجب استعماليږي هغه د لمانځه لپاره د بشپړ کېدونکي او متمم حيثيت لري، يعني له دې واجب څخه ماسوا به لمونځ نه پوره کيږي، او که چا دا پرېښووی نو د هغه لمونځ به نابشپړ او ناقص پاته کيږي، او تقريباً همدغه حال د فرضو د پرېښوولو هم دی چي د هغو د پرېښوولو په وجه هم لمونځ ناقص پاته کيږي بلکي فاسديږي، نو په دې حواله سره د استدلال ذکر سوې وجه صحيح کېدای سي. (والله اعلم)

د لمانځه واجبات

قَالَ: وَمَا سِوَىٰ ذٰلِكَ فَهُوَ سُنَّةٌ فرمايي: چي له دې (فرائضو) څخه ماسوا چي کوم افعال دي هغه (ټوله) سنت دي أَطْلَقَ اسْمَ السُّنَّةِ امام قدوري د دې ټولو افعالو لپاره د سنت نوم استعمال کړی وَفِيهَا وَاجِبَاتٌ كَقِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ وَضَمِّ

السُّوْرَةِ إِلَيْهَا حال دا چي په دې افعالو كي ډېر واجبات(هم) سته لکه د سورۀ الفاتحه ويل او د هغې سره بل سورت يو ځای کول وَمُرَاعَاةِ التَّرْتِيْبِ فِيْمَا شُرِعَ مُكَرَّرًا مِنَ الْأَفْعَالِ او كوم افعال چي مكرر مشروع سوي دي په هغو كي د ترتيب خيال ساتل وَالْقَعْدَةِ الْأُولٰى وَقِرَاءَةِ التَّشَهُّدِ فِي الْقَعْدَةِ الْأَخِيْرَةِ او په اوله او آخره ناسته كي تشهد ويل وَالْقُنُوْتِ فِي الْوِتْرِ وَتَكْبِيْرَاتِ الْعِيْدَيْنِ او په وترو كي د قنوت دعاء ويل او د اخترونو تكبيرونه وَالْجَهْرِ فِيْمَا يُجْهَرُ فِيْهِ او په كومو لمونځونو كي چي جهر(په لوړ آواز قرائت) واجب وي په هغو كي جهر كول وَالْمُخَافَتَةِ فِيْمَا يُخَافَتُ فِيْهِ او چي په كومو لمونځ كي اخفاء(په كرار آواز قرائت) واجب وي په هغو كي اخفاء كول وَلِهٰذَا تَجِبُ عَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ بِتَرْكِهَا نو په دې وجه په دې ټولو كي د (هر) يوه په پرېښوولو سره پر لمونځ كونكي د سهوي لپاره دوې سجدې واجبيږي هٰذَا هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده وَتَسْمِيَتُهَا سُنَّةً فِي الْكِتَابِ لِمَا أَنَّهُ ثَبَتَ وُجُوْبُهَا بِالسُّنَّةِ او دې(شيانو)ته په قدوري كي په دې وجه د سنت نوم وركول سوی دی ځكه چي دا شيان په سنت(يعني په حديث) سره ثابت دي.

اللغات: ﴿ضَمّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: يو ځای كول، ﴿الْقُنُوْت﴾ د نصر د باب مصدر دی: اطاعت كول، فرمان برداري كول، دلته مراد ځني دعائي قنوت ده، ﴿الْمُخَافَتَة﴾ د مفاعله د باب مصدر دی: په كرار آواز ويل.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالكل ښكاره دی او په عبارت كي صرف دا ښوول سوي ده چي له فرضونو څخه ماسوا چي په لمانځه كي څومره افعال دي، له هغو څخه بعضي سنت دي او بعضي واجب دي، خو دلته امام قدوري رَحِمَهُ الله سنت او واجب دواړه په يوه نامه سره ياد كړي دي، چي د هغه وجه صاحب د هدايې د عبارت په آخر كي بيانوي فرمايي: چي په ذكر سوي عبارت كي چي كوم واجبات هم امام قدوري رَحِمَهُ الله د سنت په نامه سره ياد كړي دي، له هغو څخه هغه سنت مراد نه دي چي په عامه توګه سره فهمول كيږي، بلكي له هغو څخه مراد هغه واجبات دي چي د هغو وجوب په سنت يعني په حديث سره ثابت سوی وي، هم په دې وجه پر دوی د سنت اطلاق كيږي، (يعني دې واجباتو ته سنت ځكه ويل كيږي چي د دوی ثبوت په سنت او حديثو سره سوی دی).

لنډه دا چي له فرضونو څخه ماسوا د الحمدلله ويل، سورت ور سره يو ځای كول، په مكرره افعالو كي د ترتيب خيال ساتل، اوله ناسته(قعدۀ اولیٰ) او داسي نور د لمانځه له واجباتو څخه دي، او د واجب حكم دا دی چي كه په هېره پاته سي نو سجدۀ سهو به كوي او كه قصداً پرېښوول سي نو لمونځ به راګرځوي. او صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله فرمايي چي له سنت څخه مراد دا دي چي نبي ﷺ په پابندي سره پر هغه عمل كړی وي او بې له عذره يې هيڅكله هم پرې ايښی نه وي، لكه په لمانځه كي ثناء، تعوذ او داسي نور ويل.

د لمانځه شروع كولو طريقه، او تكبير تحريمه شرط ده، كه نه؟ (د فقهاؤ قولونه)

وَإِذَا شَرَعَ فِي الصَّلٰوةِ كَبَّرَ او چي كله (لمونځ كونكی) لمونځ شروع كړي نو تكبير دې ووايي لِمَا تَلَوْنَا د هغه آيت په وجه كوم چي موږ تلاوت كړی وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: تَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيْرُ او نبي ﷺ فرمايلي دي: د لمانځه تحريم

تکبیر دی وَهُوَشَرْطٌ عِنْدَنَا خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او دا زموږ په نیز شرط دی په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله حَتّٰی أَنَّ مَنْ يُحْرِمُ لِلْفَرْضِ تر دې چې که یو څوک د فرض لمانځه لپاره تحریمه وتړي كَانَ لَهُ أَنْ يُؤَدِّيَ بِهَا التَّطَوُّعَ نو د هغه لپاره دا جائز دي چې په دغه تحریمه سره نفلي لمونځ وکړي وَهُوَيَقُولُ: إِنَّهُ يُشْتَرَطُ لَهَا مَا يُشْتَرَطُ لِسَائِرِ الْأَرْكَانِ او امام شافعي فرمايي: چې د تحریمې لپاره هر هغه شی شرط دی کوم چې د نورو ارکانو لپاره شرط وي وَهٰذَا آيَةُ الرُّكْنِيَّةِ او دا د رکنیت نښه ده وَلَنَا: أَنَّهُ عَطَفَ الصَّلَاةَ عَلَيْهِ فِي قَوْلِهِ تَعَالٰى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّٰى[سورة الاعلى: ١٥] او زموږ دليل دا دی چې د الله تعالیٰ په دې قول وذکر اسم ربه فصلّٰی کې لمونځ عطف سوی دی په تکبیر تحریمه باندې وَمُقْتَضَاهُ الْمُغَايَرَةُ او عطف د مغایرت تقاضا کوي وَلِهٰذَا لَا يَتَكَرَّرُ كَتَكَرُّرِ الْأَرْكَانِ هم په دې وجه د نورو ارکانو د مکرر کېدلو په شان تکبیر تحریمه نه مکرر کیږي وَمُرَاعَاةُ الشَّرَائِطِ لِمَا يَتَّصِلُ بِهِ مِنَ الْقِيَامِ او (د لمانځه) د ټولو شرطونو ځکه خیال ساتل کیږي چې هغوی د ولاړي سره متصل (جوخت) دي.

اللغات: ﴿تَلَوْنَا﴾ د نصر د باب ماضي صيغه ده: لوستل، تلاوت کول. ﴿تَطَوُّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: په کوښښ او تکلف سره فرمان برداري کول، داسې عبادت کول کوم چې واجب نه وي، نفلي عبادت. ﴿مُقْتَضٰی﴾ د افتعال د باب اسم مفعول دی: تقاضا، غوښتنه. ﴿مُغَايَرَة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: یو له بل څخه بدلېدل.

تشریح: **مسئله:** دا ده چې کله لمونځ ګزاره د لمونځ شروع کولو اراده وکړي، هغه که فرضي لمونځ وي او که نفلي، نو تکبیر تحریمه دې په ولاړه ووايي، نو که یو سړي په ناسته تکبیر تحریمه ووېل او بیا ودرېدی، نو د هغه لمونځ نه صحيح کیږي، او که یو سړي په لمانځه کې د شرکت په اراده راغلی او امام په رکوع کې وو، او دې سړي د رکوع لپاره ملا کښته کړه، او تکبیر یې ووايي نو په دې صورت کې که دا سړی د تکبیر ویلو په وخت کې ولاړې ته نژدې وو نو لمونځ یې جائز دي، کنه نه دی، او که یو سړي امام په رکوع کې ونیوی، او د رکوع لپاره یې په ولاړه تکبیر ووايي، نو هم جائز دی، ځکه چې د ده اراده لغو ده، او د ولاړې په حال کې به د ده تکبیر د تحریمې لپاره ګرځول کیږي.

دليل: هغه آيت دی کوم چې مخکې تېر سو یعني وربك فكبّر، او دویم دليل د نبي ﷺ دا قول دی: تحريمها التكبير.

صاحب د هدایې فرمايي چې تکبیر تحریمه زموږ په نیز شرط ده او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز رکن ده، ثمر د اختلاف داسې ښکاره کیږي چې څرنګه زموږ په نیز تحریمه شرط ده نو د فرضو په تحریمه به نفل اداء کول جائز وي، او څرنګه چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز رکن ده، نو د ده په نیز به د فرضو په تحریمه نفل اداء کول جائز نه وي، وجه دا ده چې په یوه شرط باندې ډېر لمونځونه کول جائز دي، خو په یوه رکن باندې ډېر لمونځونه جائز نه دي.

د امام شافعي دليل: د تکبیر تحریمه پر رکنیت د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د تکبیر تحریمه لپاره هر هغه شی شرط دی کوم چې د نورو ارکانو لپاره شرط وي، لکه طهارت، د عورت پټول. مخامخ پر قبلې کېدل. نیت او وخت یعني لکه څرنګه چې دا شیان د قیام، قراءت، رکوع او سجدې او د داسې نورو ارکانو لپاره شرط دي، همدغه رنګه د تکبیر تحریمه لپاره هم شرط دي، او د کوم شي لپاره چې هغه ټولې خبرې شرط وي کومې چې د ټولو ارکانو لپاره شرط وي. نو دا د هغه شي د رکنیت نښه ده، یعني پر نورو ارکانو به قیاسیږي، او دا به هم رکن ګرځول کیږي.

زموږ دليل: دا دی چي د الله تعالیٰ په دې قول وذکراسم ربه فصلّی کي د فصلّی عطف پر وذکراسم ربه باندي سوی دی، يعني د لمانځه عطف پر تکبير تحريمه باندي سوی دی، او عطف د مغايرت تقاضا کوي، يعني د معطوف عليه او معطوف په مينځ کي تغاير(فرق) ضروري دی، اوس که تکبير رکن ومنل سي نو د کل عطف به پر جزء باندي راسي، او څرنګه چي دلته کُل هغه جزء ته شامل هم دی، نو له دې څخه به عطف د شي علی نفسه لازم دي، او دا ناجائز دي، نو په دې وجه موږ وايو چي تکبير تحريمه رکن نه دی، بلکي شرط دی، او څرنګه چي شرط د شي له هغه شي څخه خارج وي، نو ځکه به په تکبير تحريمه او لمانځه کي تغاير وي، او عطف به صحيح وي، نو ثابته سوه چي تکبير تحريمه د لمانځه لپاره شرط دی رکن نه دی.

دويم دليل: دا دی چي څرنګه نور ارکان په لمانځه کي مکرر دي، تکبير تحريمه مکرره نه ده، نو دا د دې خبري نښه ده چي تکبير تحريمه رکن نه ده، کنې د نورو ارکانو په ډول به تکبير تحريمه هم مکرره وای.

جواب: په ومراعاة الشرائط سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي د دې ذکر سوو شرائطو(طهارت، د عورت پټول او داسي نورو) خيال ساتل خاص د تکبير تحريمه لپاره نه دي بلکي د قيامي(ولاړي) لپاره دي کوم چي د تکبير تحريمه سره متصل ده، او رکن ده، نو په دې سره د تکبير تحريمه رکن کېدل نه ثابتېږي.

د تکبير سره لاسونه پورته کول او د دې صحيح وخت

وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيرِ او لمونځ ګزاره به د تکبير سره خپل دواړه لاسونه پورته کوي وَهُوَ سُنَّةٌ او دا سنت دي لِأَنَّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● وَاظَبَ عَلَيْهِ ځکه نبي ﷺ پر دې همېشتوب کړی دی وَهَذَا اللَّفْظُ يُشِيرُ إِلَى اشْتِرَاطِ الْمُقَارَنَةِ او دا لفظ اشاره کوي د مقارنت د شرطيت و طرف ته وَهُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او دا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوي دي وَالْمَحْكِيُّ عَنِ الطَّحَاوِيِّ او همدا له امام طحاوي رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي وَالْأَصَحُّ ● أَنَّهُ يَرْفَعُ يَدَيْهِ أَوَّلًا ثُمَّ يُكَبِّرُ او صحيح دا ده چي اول به دواړه لاسونه پورته کوي او بيا به تکبير وايي لِأَنَّ فِعْلَهُ نَفْيُ الْكِبْرِيَاءِ عَنْ غَيْرِ اللهِ ځکه چي د لمونځ ګزاره فعل (يعني لاسونه پورته کول) له غير الله څخه د لويي نفي کول دي وَالنَّفْيُ مُقَدَّمٌ او نفي مخکي وي.

اللغات: ﴿المقارنة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو تربله سره نژدې کېدل. ﴿محکي﴾ د ضرب د باب اسم مفعول دی: را نقل سوی، حکايت کړی سوی. ﴿کبرياء﴾ تکبر.

تشريح: مسئله: دا ده چي د لمونځ کونکي لپاره د لمانځه د شروع کولو په وخت کي د تکبير تحريمه ويل فرض دي، او د تکبير تحريمه طريقه دا ده چي خپل دواړه لاسونه دي د الله اکبر ويلو سره پورته وکړي او دا عمل يعني لاسونه پورته کول سنت دی، ځکه چي نبي ﷺ پر دې همېشتوب کړی دی، پاته سو دا سوال چي لاسونه به د الله اکبر ويلو سره پورته کېږي، او که د الله اکبر تر ويلو مخکي؟ نو په دې لړ کي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله او له امام طحاوي رَحِمَهُ الله څخه را نقل

● تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم والبخاري في كتاب الاذان، باب رفع اليدين في التكبير الاولى، حديث رقم:۱۷۳۵ و مسلم في كتاب الصلاة، باب استحباب رفع اليدين، حديث رقم:۲۱، ۲۴، ۲۵.

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كذا في فتح القدير ج:۱ ص:۲۴۴. [القول الراجح، ج:۱، ص:۶۹]

سوي دي چي د الله اکبر ويلو سره دي يو ځای لاسونه پورته کړي يعني د تکبير تحريمه او رفع يدين په مينځ کي مقارنت ضروري دی، د امام قدور رَحِمَهُ الله هم دغه رايه ده، ځکه چي د يرفع يديه مع التکبير ځخه همدغه فهمول کيږي.

صاحب د هدايې فرمايي چي صحيح دا ده چي لمونځ کونکي دي خپل لاسونه لول پورته کړي بيا دي تکبير ووايي (دا قول د طرفينو دی)، او شمس الائمه سرخسي او نور ټوله مشايخ هم د دې قائل دي، او د دوی دليل دا دی چي دلته دوه شيان جمع کيږي: (۱) د لمونځ کونکي فعل (۲) د لمونځ کونکی قول يعني الله اکبر ويل، او لمونځ کونکی په دې دواړو کي د فعل په ذريعه له غير الله ځخه د عظمت او لويي نفي کوي، او د قول په ذريعه د الله لپاره عظمت او لويي ثابتوي، او قاعده دا ده چي که په يوه مسئله کي نفي او اثبات دواړه سره جمع سي نو نفي به پر اثبات مخکي وي، نو دلته به هم نفي يعني د لمونځ کونکي فعل چي لاسونه پورته کول دي پر اثبات يعني د تکبير تحريمه پر ويلو مخکي وي، نو اول به لاسونه پورته کوي بيا به تکبير تحريمه وايي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله وعليه عامة المشائخ. (فتح القدير ج:۱، ص:۲۴۴). [القول الراجح، ج:۱، ص:۶۹]

لاسونه به تر اوږو او که د غوږو تر نرمۍ پوري پورته کيږي؟(د فقهاؤ قولونه)

وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ او لمونځ گزاره به خپل دواړه لاسونه پورته کوي حَتَّى يُحَاذِيَ بِإِبْهَامَيْهِ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ تر دې چي خپلي دواړي بتمي گوتي د خپلو دواړو غوږونو د نرمۍ سره برابري کړي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ: يَرْفَعُ إِلَى مَنْكِبَيْهِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به يې تر اوږو پوري پورته کوي وَعَلَى هَذَا تَكْبِيرَةُ الْقُنُوتِ وَالْأَعْيَادِ وَالْجِنَازَةِ او د قنوت، اخترونو او د جنازې د لمانځه تکبيرونه هم پر دغه اختلاف دي لَهُ حَدِيثُ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د حضرت ابو حميد الساعدي رضي الله عنه حديث دی قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَى مَنْكِبَيْهِ هغه فرمايي چي کله به رسول الله ﷺ تکبير وايی نو خپل دواړو لاسونه به يې تر اوږو پوري پورته کول وَلَنَا رِوَايَةُ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ وَالْبَرَاءِ وَأَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او زموږ دليل د حضرت وائل بن حجر، حضرت براء او حضرت انس رَضِيَ الله عَنْهُمْ روايت دی أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ چي نبي ﷺ به کله تکبير ووايی نو خپل دواړه لاسونه به يې د دواړو غوږونو تر برابر پوري پورته کول وَلِأَنَّ رَفْعَ الْيَدِ لِإِعْلَامِ الْأَصَمِّ او په دې وجه هم چي د لاس پورته کول د کاڼه سړي د خبرولو لپاره دي وَهُوَ بِمَا قُلْنَاهُ او دا په هغه صورت کي حاصليږي کوم چي موږ ذکر کړی (يعني کوڼ په هغه وخت کي په ښه توګه خبريږي چي تر غوږو پوري لاسونه پورته کړی سي) وَمَا رَوَاهُ يُحْمَلُ عَلَى حَالَةِ الْعُذْرِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله بيان سوی روايت به د عذر پر حالت حمل کيږي.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الأذان، باب سنة التشهد في الجلوس، حديث رقم:۸۲۸.

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الصلاة، باب وضع يده اليمنى على اليسرى، حديث رقم:۵۴.

اللغات: ﴿يحاذي﴾ د مفاعلې د باب مضارع صيغه ده: يو د بل سره برابرېدل. ﴿إبهام﴾ بټه ګوته، د لاس په پنځو ګوتو کې پنډه ګوته کومه چې له نورو څلورو ګوتو څخه جلا وي. ﴿شحمة﴾ د غوږ نرمی. ﴿منکب﴾ وږه، (اوږه، ووږه). ﴿أعياد﴾ جمع ده، واحد يې عيد دی: داختر ورځ. ﴿أعصم﴾ کوڼ.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې زموږ په نېز به په تکبير تحريمه کې دواړه لاسونه تر غوږونو پورې پورته کيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز به صرف تر اُوږو پورې پورته کيږي، د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُما الله هم دغه مسلک دی، همدغه اختلاف د قنوت، اخترونو، جنازې او د داسې نورو په تکبيرونو کې هم دی، يعني زموږ په نېز به تر غوږونو پورې لاسونه پورته کيږي او د دوی په نېز به تر اُوږو پورې پورته کيږي.

د امام شافعي او نورو دليل: د حضرت ابو حميد ساعدي رَحِمَهُ الله هغه حديث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو، چې نبي ﷺ به د تکبير تحريمه ويلو په وخت کې تر اُوږو پورې لاسونه پورته کول، په دې حديث سره دليل په دې توګه نيول کيږي چې په حديث کې په ښکاره توګه د إلى منکبيه مضمون راغلی دی، نو اوس که د دې په خلاف فتوىٰ ورکول سي نو ښکاره ده چې بيا د صريح نص په ړاګه مخالفت راځي چې هغه په هيڅ صورت کې هم صحيح نه دی، نو ځکه به په تکبير تحريمه کې تر اُوږو پورې لاسونه پورته کيږي هغه که مطلق لمونځ وي، او که د جنازې يا بل لمونځ وي.

زموږ دليل: هغه حديث دی، کوم چې له حضرت وائل بن حجر، حضرت براء بن عازب او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او نورو صحابه وو څخه را نقل سوي دي، چې له هغه څخه دا خبره څرګنديږي چې کله به نبي ﷺ تکبير تحريمه ويل، نو خپل دواړه لاسونه به يې د غوږونو تر برابر يا د غوږونو تر نرمۍ پورې پورته کول. د حديث مضمون په کتاب کې ذکر سو، همدارنګه دويم حديث په بيهقي او نورو کې د حضرت انس ﷺ په حواله را نقل سوی دی، د حدث مضمون داسې دی: كان النبي ﷺ إذا افتتح الصلاة كبّر ثم رفع يديه حتى يحاذي بإبهاميه أذنيه. (يعني نبي ﷺ چې به کله لمونځ شروع کوی نو تکبير تحريمه به يې ويل او خپل لاسونه به يې پورته کول تر دې چې بټې ګوتې به يې د غوږونو سره برابرې کړې)، له دې څخه هم معلومه سوه چې په تکبير تحريمه کې چې کوم د لاسونو پورته کېدل دي هغه به تر ووږو پورې نه وي بلکې دغوږو سره به برابر او مساوي وي.

عقلي دليل: زموږ د مذهب په تائيد کې عقلي دليل دا دی چې د تکبير تحريمه په وخت کې لاس پورته کول کاڼه سړي ته د لمانځه د شروع کېدلو د خبر ورکولو لپاره دي، او ښکاره ده چې خبر په هغه وخت کې په پوره توګه ورکول کېدای سي چې کله لاسونه تر غوږو پورې پورته کړی سي، ځکه چې کله امام تر غوږو پورې لاسونه پورته کړي، نو کوڼ سړی به پوه سي چې تکبير وويل سو، نو په خپله به هم تکبير ووايي او لمونځ به شروع کړي.

وما رواه الخ پاته سو د حضرت ابو حميد ساعدي ﷺ روايت چې په هغه کې تر اُوږو پورې د لاسونو پورته کولو مضمون راغلی دی نو د هغه جواب دا دی چې هغه د عذر پر صورت حمل کيږي. يعني په عامو حالتونو کې به نبي ﷺ او د نبي ﷺ صحابه وو په تکبير تحريمه کې لاسونه تر غوږو پورې پورته کول، لېکن څرنګه چې په يخ او په پنډو کالو کې تر غوږونو پورې لاس پورته کول ستونزمن وه، نو ځکه به يې صرف تر اُوږو پورې لاسونه پورته کول، او زموږ پر دې خبره دليل د حضرت وائل بن حجر ﷺ دا حديث دی: قدمت المدينة فوجدتهم يرفعون أيديهم إلى الأذنين. ثم قدمت عليهم من قابل و عليهم الأكسية والبرانس من شدة البرد فوجدتهم يرفعون أيديهم إلى المناكب. (يعني زه مدينې ته راغلم نو ما خلک وليدل چې لاسونه يې تر غوږو پورې پورته کول، بيا چې کله را روان کال راغلم نو د سخت يخ له کبله

خلکو پنډ کالي او خولی لرونکي کالي اغوستي وه، او ومې ولیدل چې (په دې وار) هغوی تر اوږو پورې لاسونه پورته کول. (عنایه ج:۱، ص:۲۸۸)

ښځه به تر کومه ځایه لاسونه پورته کوي؟

وَالْمَرْأَةُ تَرْفَعُ يَدَيْهَا حِذَاءَ مَنْكِبَيْهَا او ښځه به خپل لاسونه تر خپلو اوږو پورې پورته کوي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح ده لِأَنَّهُ أَسْتَرُ لَهَا ځکه چې دا دې لپاره ډېر پرده ده.

اللغات: ﴿حِذَاء﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: برابر بدل. ﴿أَسْتَرُ﴾ زیات پرده لرونکی، زیات پټوونکی.

تشریح: د تکبیر تحریمه په وخت کې به ښځه تر خپلو اوږو پورې لاسونه پورته کوي، صحیح قول همدغه دی، او حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه روایت کړی دی چې ښځه به خپل لاسونه تر غوږو پورې پورته کوي، د حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله د روایت وجه دا ده چې د لاس پورته کول (رفع یدین) له ورغوو څخه متحقق کیږي او مخکې تېر سوه چې د ښځې ورغوي عورت نه دي، نو ځکه به تر غوږو پورې په لاس پورته کولو کې نارینه او ښځه دواړه برابر وي، او د صحیح قول دلیل دا دی چې تر غوږو پورې په لاس پورته کولو کې د ښځې لپاره زیاته پرده ده. نو په دې وجه د ښځې لپاره تر اوږو پورې لاس پورته کول مناسب دي.

د الله اکبر پر ځای د الله تعالی نور اسماء حسنیٰ ویل(او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

فَإِنْ قَالَ بَدَلَ التَّكْبِيرِ اللَّهُ أَجَلُّ أَوْ أَعْظَمُ أَوْ الرَّحْمَنُ أَكْبَرُ أَوْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ بیا که لمونځ کونکي د الله أکبر ویلو پر ځای الله أجل یا الله أعظم یا الرحمن أکبر، یا لا إله إلا الله ووایی أَوْ غَيْرَهُ مِنْ أَسْمَاءِ اللَّهِ تَعَالَى یا له دې څخه ملسوا یې د الله تعالیٰ له نومونو څخه یو بل نوم ووایی أَجْزَأَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللَّهُ نو د طرفینو په نېز د هغه لپاره (دا) جائز دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ●: إِنْ كَانَ يُحْسِنُ التَّكْبِيرَ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: که یې تکبیر په ښه ډول سره ویلی سو لَمْ يُجْزِئْهُ إِلَّا قَوْلُهُ اللَّهُ أَكْبَرُ أَوْ اللَّهُ الْأَكْبَرُ أَوْ اللَّهُ الْكَبِيرُ نو د هغه لپاره له الله أکبر، الله الأکبر او الله الکبیر څخه ملسوا نور څه ویل جائز نه دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَا يَجُوزُ إِلَّا بِالْأَوَّلَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې صرف لولنی دوې کلمې جائز دي وَقَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَا يَجُوزُ إِلَّا بِالْأَوَّلِ او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي: چې صرف لوله کلمه (یعني الله أکبر) جائز دی لِأَنَّهُ هُوَ الْمَنْقُولُ ځکه چې همدغه کلمه را نقل سوې ده وَالْأَصْلُ فِيهِ التَّوْقِيفُ او په دې کې هم د شریعت له طرفه خبر بدل اصل دي وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ يَقُولُ: إِدْخَالُ الْأَلِفِ وَاللَّامِ فِيهِ أَبْلَغُ فِي الثَّنَاءِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې د الف لام داخلول په تعریف کې مبالغه پیدا کوي فَقَامَ مَقَامَهُ نو ځکه الاکبر د أکبر قائم مقام سو وَأَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ يَقُولُ: إِنَّ أَفْعَلَ وَفَعِيلًا فِي صِفَاتِهِ تَعَالَى سَوَاءٌ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چې د أفعل او فعیل صیغې د الله په تعریف کې برابري دي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ لَا يُحْسِنُ په خلاف د هغه صورت چې کله هغه سړی په ښه ډول سره

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۵۷. [القول الراجح، ج:۱، ص:۷۰]

تکبير نه سي ويلی لِأَنَّهُ لَا يَقْدِرُ إِلَّا عَلَى الْمَعْنَى ځکه چي (په دې صورت کي) هغه صرف پر معنیٰ قدرت لري وَلَهُمَا: أَنَّ التَّكْبِيرَ هُوَ التَّعْظِيمُ لُغَةً د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي د تکبير لغوي معنیٰ د تعظيم ده وَهُوَ حَاصِلٌ او هغه (په نورو الفاظو سره هم) حاصليږي.

اللغات: ﴿أَجَلّ﴾ زيات لوی، ﴿أَجْزَأَ﴾ د افعال ماضي ده: کافي سو، اداء سو (مجازاً جائز سو).

تشريح: په دې عبارت کي هغه الفاظ بيانيږي چي د هغو په ذريعه سره لمونځ شروع کول جائز دي، د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په هر هغه لفظ سره لمونځ شروع کول جائز دي چي هغه د الله تعالیٰ په تعظيم باندي دلالت کوي، هغه که الله أکبر وي يا الله الأکبر يا الله الکبير يا الله أجل يا الله أعظم يا الرحمن أکبر يا لا إله إلا الله يا الحمد لله يا سبحان الله وي، يا که د الله په نومونو کي يو بل نوم وي نو دا ټوله جائز دي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: که لمونځ کونکی په ښه توګه تکبير ويلای سو، نو صرف په دريو الفاظو الله أکبر، الله الأکبر الله الکبير کي په يوه لفظ باندي په لمانځه شروع کول جائز دي، له دې څخه ماسوا په بل هيڅ لفظ باندي جائز نه دي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي صرف په الله أکبر او الله الأکبر لمونځ شروع کول جائز دي، او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي: صرف په الله أکبر جائز دي، همدا د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ الله قول دی.

د امام مالک دليل: دا دی چي له نبي ﷺ څخه صرف الله أکبر را نقل سوی دی، او څرنګه چي د لمانځه په باب کي اصل توقيف يعني د شريعت له طرفه خبر بلل دي، او نبي ﷺ موږ د لمانځه د شروع کولو لپاره په الله أکبر سره خبر کړي يو، نو ځکه به صرف په دغه کلمې سره لمونځ شروع کول جائز وي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي بېشکه له نبي ﷺ څخه الله أکبر را نقل سوی دی، لېکن الأکبر د معرف باللام کېدلو په وجه د أکبر په مقابله کي زيات بليغ دی، نو ځکه به دا د الله أکبر قائم مقام وي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي د الله تعالیٰ په صفاتو کي أفعل (پر وزن د اسم تفضيل) او فعيل (په معنیٰ د فاعل) دواړه سره برابر دي، ځکه چي له دې څخه د الله په صفاتو کي زياتوب ثابتول مراد نه دي، ځکه په اصل عظمت او لوی والي کي د الله تعالیٰ سره هيڅوک برابر نه دی چي د أفعل صيغه دي د زياتوب لپاره وګرځول سي، لکه څرنګه چي د بندګانو په صفتونو کي راځي نو افعل او فعيل به دواړه د الله په صفاتو کي برابر وي. د دې په خلاف که هغه سړي په ښه توګه سره تکبير نه سو ويلای نو څرنګه چي د هغه په وس وي کي هغه بول دي د تعظيم معنیٰ اداء کړي، ځکه چي دا سړی صرف پر معنیٰ قادر دی، د تکبير پر الفاظو قادر نه دی.

د طرفينو دليل: دا دی چي په لغت کي تکبير د تعظيم په معنیٰ سره راځي، د الله تعالیٰ قول دی: وربك فكبر يعني فعظم او فلما رأينه أكبرنه يعني عظمنه، او د تعظيم معنیٰ په هغو ټولو الفاظو سره پوره کيږي، کوم چي موږ ذکر کړل، نو ځکه به د لمانځه شروع په هر هغه لفظ سره صحيح وي چي هغه د الله پر تعظيم دلالت کوي.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی، وقال العلامة وهبة الذحيلي مدظله العالي: و أجاز ابو حنيفة رَحِمَهُ الله ومحمد رَحِمَهُ الله افتتاح الصلوة بكل تعبير خالصا لله تعالى فيه تكبير و تعظيم كقول المصلي: الله أجل. إلى أن قال

يشتمل على معنى التعظيم فأشبه قوله الله اكبر ولو افتتح بقوله اللهم فالأصح أنه يجزئه لأن معناه يا الله (فقه اسلامي ج۱، ص۶۳۲). [القول الراجح ج۱، ص۷۱]

په فارسي ژبه د قرائت کولو حکم (د فقهاؤ قولونه او دليلونه)

فَإِنِ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ بِالْفَارِسِيَّةِ بيا كه يو سړي په فارسي ژبه لمونځ شروع كړى أَوْ قَرَأَ فِيهَا بِالْفَارِسِيَّةِ يا په لمانځه كي يې په فارسي ژبه قرائت وكړى أَوْ ذَبَحَ وَسَمَّى بِالْفَارِسِيَّةِ يا يې ځاروى حلال كړى او تسميه يې په فارسي ورېله وَهُوَ يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ حال دا چي دا سړى په عربي ښه پوهېدى أَجْزَأَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز د ده لپاره دا جائز دي وَقَالَا●: لَا يُجْزِئُهُ إِلَّا فِي الذَّبِيحَةِ او صاحبين فرمايي: چي صرف په ذبيحه كي جائز دي وَإِنْ لَمْ يُحْسِنِ الْعَرَبِيَّةَ أَجْزَأَهُ او كه هغه سړى په عربي ښه نه پوهېدى نو دا جائز دي أَمَّا الْكَلَامُ فِي الِافْتِتَاحِ فَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ مَعَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْعَرَبِيَّةِ او د لمانځه د شروع كولو په باره كي چي كوم كلام دى نو د عربي په مسئله كي امام محمد رَحِمَهُ الله د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله سره دى وَمَعَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْفَارِسِيَّةِ او د فارسي په مسئله كي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دى لِأَنَّ لُغَةَ الْعَرَبِ لَهَا مِنَ الْمَزِيَّةِ ځكه چي عربي ژبي ته هغه فضيلت (او ارزښت) حاصل دى مَا لَيْسَ لِغَيْرِهَا چي هغه نورو ژبو لره نشته وَأَمَّا الْكَلَامُ فِي الْقِرَاءَةِ فَوَجْهُ قَوْلِهِمَا أَنَّ الْقُرْآنَ اِسْمٌ لِمَنْظُومٍ عَرَبِيٍّ او پاته شو د قرائت په باره كي كلام نو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د قول دليل دا دى چي قرآن د عربي كلام نوم دى كَمَا نَطَقَ بِهِ النَّصُّ لكه څرنگه چي نص په دې باره كي گويا دى إِلَّا أَنَّ عِنْدَ الْعَجْزِ يُكْتَفَى بِالْمَعْنَى ليكن د عجز (عاجزى) په وخت كي به پر معنىٰ اكتفاء كيږي كَالْإِيمَاءِ لكه اشاره (يعني لكه څرنگه چي په ركوع او سجدې باندي د قدرت نه درلودلو په وخت كي په اشاره اكتفاء كيږي) بِخِلَافِ التَّسْمِيَةِ په خلاف د تسميې لِأَنَّ الذِّكْرَ يَحْصُلُ بِكُلِّ لِسَانٍ ځكه چي ذكر په هر ژبه سره حاصليږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ قَوْلُهُ تَعَالَى: وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ [الشعراء:۱۹۶] او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د الله تعالىٰ دا فرمان دى: وإنه لفي زبر الأولين (او بېشكه قرآن په مخكينيو كتابونو كي وو) وَلَمْ يَكُنْ فِيهَا بِهَذِهِ اللُّغَةِ او په مخكينيو كتابونو كي قرآن په عربي ژبه نه وو وَلِهَذَا يَجُوزُ عِنْدَ الْعَجْزِ هم په دې وجه د عجز په وخت كي په غير عربي باندي هم (تلاوت) جائز دى إِلَّا أَنَّهُ يَصِيرُ مُسِيئًا لِمُخَالَفَةِ السُّنَّةِ الْمُتَوَارَثَةِ ليكن د سنتِ متوارثه د مخالفت په وجه به (په غير عربي باندي) قرائت كونكى گنهكاره وي وَيَجُوزُ بِأَيِّ لِسَانٍ كَانَ سِوَى الْفَارِسِيَّةِ او له فارسي ژبي څخه ماسوا په هره ژبه كي (قرائت كول) جائز دي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِمَا تَلَوْنَا د هغه آيت په وجه كوم چي موږ تلاوت كړى وَالْمَعْنَى لَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ اللُّغَاتِ او د ژبو په بدلون سره په معنىٰ كي هيڅ بدلون نه راځي وَالْخِلَافُ فِي الِاعْتِدَادِ

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۵۷. [القول الراجح، ج:۱، ص:۷۱]

او اختلاف په اعتبار کي دی وَلَا خِلَافَ فِيْ أَنَّهُ لَا فَسَادَ او په دې خبره کي اختلاف نشته چي لمونځ نه فاسديږي وَيُرْوَى رُجُوْعُهُ فِيْ أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ إِلَى قَوْلِهِمَا او په اصل مسئله کي د صاحبينو د قول و طرف ته د امام صاحب رجوع را نقل سوې ده وَعَلَيْهِ الِاعْتِمَادُ او هم پر دې اعتماد دی وَالْخُطْبَةُ وَالتَّشَهُّدُ عَلَى هٰذَا الِاخْتِلَافِ په خطبه او تشهد کي هم دغه اختلاف دی وَفِي الْأَذَانِ يُعْتَبَرُ التَّعَارُفُ او په اذان کي تعارف معتبر دی.

اللغات: ﴿مَزِيَّة﴾ فضيلت، لوړ والی، (ارزښت)، ﴿نَطَقَ﴾ د نصر د باب ماضي صيغه ده: ويل، ﴿اِعْتِدَاد﴾ معتبر کېدل، شمارل، ﴿اِيْمَاء﴾ اشاره، ﴿السُّنَّةُ الْمُتَوَارِثَةُ﴾ هغه سنت کوم چي تر اوسه را روان دی، ﴿مَنْظُوْم﴾ ترتيب کړی سوی کلام، ﴿النَّص﴾ قرآن او حديث ته نص ويل کيږي، ﴿زُبُر﴾ جمع ده، واحد يې زَبُوْرٌ دی: صحيفه، کتاب.

تشريح: په فارسي ژبه لمونځ شروع کول او په لمانځه کي دننه په فارسي قرائت کول، او د څاروي حلالولو په وخت کي په فارسي ژبه تسميه ويل مثلاً: بنام خدائی بزرگ ويل د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي، که دا سړی پر عربي ژبه قدرت لري او که يې نه لري، او صاحبين فرمايي: چي که پر عربي ژبه قدرت لري نو په فارسي ويل جائز نه دي، او د څاروي حلالولو په وخت کي په فارسي ژبه بلکي په هره ژبه تسمَيه جائز ده، او که پر عربي يې قدرت نه وي نو توله په فارسي ژبه باندي جائز دي.

په تکبير تحريمه کي تفصيل دا دی چي امام محمد رَحِمَهُ الله په عربي ژبه کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی يعني څرنګه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په عربي کي عموم دی او د امام صاحب په نېز په هر هغه کلمې او جملې سره لمونځ شروع کېدای سي چي هغه پر تعظيم دلالت کوي، همدارنګه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هم په هري داسي کلمې او جملې سره لمونځ په عربي ژبه شروع کېدای سي، او په فارسي ژبه کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی، يعني لکه څرنګه چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر عربي د قدرت سره سره په غير عربي مثلاً په فارسي او نورو باندي لمونځ شروع کول جائز نه دي، همدارنګه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هم په غير عربي مثلاً په فارسي او نورو باندي لمونځ شروع کول جائز نه دي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي عربي ژبي ته يو ځانګړی فضيلت او ارزښت حاصل دی کوم چي بلي ژبي ته حاصل نه دی، د نبي ﷺ فرمان دی: تفضل لسان العربي على سائر الألسنة أنا عربي والقرآن عربي ولسان أهل الجنة عربي. (عربي ژبه پر ټولو ژبو فضيلت لري، زه عربي يم، قرآن عربي دی، او د جنتيانو ژبه به عربي وي).

پاته سو د قرائت مسئله، نو د صاحبينو دليل دا دی چي د کوم شي حکم چي په لمانځه کي سوی دی هغه د قرآن قرائت دی، او قرآن د هغه عربي الفاظو نوم دی کوم چي پر معنیٰ دلالت کوي، او په مصاحفو کي مکتوب دی، او موږ ته په متوتر نقل سره را نقل سوی دی، الله تعالیٰ فرمايي: إنا جعلنه قرآنا عربيا، او فرمايي قرآنا عربيا غير ذي عوج لعلهم يتقون. لنډه دا چي مأمور به د قرآن کريم قرائت دی، او قرآن په عربي کي دی، نو ځکه به په عربي ژبه قرائت کول فرض وي، بلکي د دې تقاضا خو دا ده چي په حالت د عجز کي دي هم عربي الفاظ نه پرېښوول کيږي، خو خبره دا ده چي د عجز په وخت کي په معنیٰ باندي ځکه اکتفاء وکړی سوه چي تکليف د ما لايطاق لازم نه سي، لکه څرنګه چي يو سړی پر

رکوع او سجده باندي قدرت نه لري نو د هغه لپاره په رکوع او سجده کي صرف اشاره کافي ده، رکوع او سجده کول ضروري نه دي.

بخلاف التسمية الخ په خلاف د تسميې وېلو د څاروي د حلالولو په وخت کي چي هغه په فارسي ژبه هم جائز ده، که څه هم په عربي ژبه قدرت لري، ځکه چي دلته مقصود تسميه نه ده، بلکي ذکر دی، الله تعالیٰ فرمايلي دي: وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ (سورة الأنعام: ١٢١) او ذکر په هره ژبه کېدای سي.

د امام ابو حنيفه دليل: دا دی چي الله تعالیٰ فرمايلي دي: وانّه لفی زبر الأولين، (يعني قرآن په پخوانيو کتابونو کي وو)، معلومه سوه چي په پخوانيو کتابونو کي د قرآن معنیٰ وه، نو ثابته سوه چي قرآن د معنیٰ نوم دی، د نظم(الفاظو) نوم نه دی، او کله چي قرآن د ترجمې په توګه په لمانځه کي په فارسي ژبه ووېل سي نو دا به د قرآن پر معنیٰ د مشتمل کېدلو په وجه جائز وي، ځکه چي د قرآن قرائت خو پيدا سو، او څرنګه چي قرآن په مخکنيو کتابونو کي په عربي الفاظو سره موجود نه وو، نو ځکه به پر عربي الفاظو د قدرت نه درلودلو په وخت کي په فارسي ژبه قرائت کول جائز وي، لېکن ګنهګاره به وي ځکه چي هغه د سنت متواتره مخالفت وکړی.

دويم دليل: دا دی چي د فارس(پارس) خلکو له حضرت سلمان فارسي ﷺ څخه د خط په ذريعه دا غوښتنه وکړه چي زموږ لپاره په فارسي ژبه سوره فاتحه وليکه را واېې ستوه، سلمان فارسي ﷺ په فارسي ژبه سورة الفاتحه وليکله، او هغو به په لمانځه کي سورت فاتحه په فارسي ويل، تر دې چي هغو عربي ژبه زده کړه، سلمان فارسي رَحِمَهُ الله تر ليکلو وروسته سورت فاتحه نبي ﷺ ته وربنکاره کړه، نبي ﷺ هيڅ انکار نه وکړی، نو له دې څخه هم ثابته سوه چي په لمانځه کي په فارسي ژبه قرائت کول جائز دي.

ويجوز بأى لسان الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: لکه څرنګه چي په فارسي ژبه په لمانځه کي قرائت کول جائز دي، همدغه رنګه له فارسي ژبي څخه ماسوا په هره ژبه قرائت جائزدی، همدا صحيح قول دی.او د ابو سعيد رَحِمَهُ الله قول دا دی چي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله صرف په فارسي ژبه قرائت کول جائز ګرځولی دی، له فارسي څخه ماسوا يې په نورو ژبو اجازت نه دی ورکړی، وجه يې دا ده چي فارسي ژبه د عربي سره نژدې ده، نو ځکه په فارسي کي د قرائت اجازه سوې ده، او څرنګه چي نورو ژبو ته دا نژديکت حاصل نه دی، نو ځکه په هغو قرائت کول جائز نه دي، او د صحيح قول دليل دا آيت وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ دی، ځکه څرنګه چي په مخکني کتابو کي په عربي ژبه قرآن نه وو همدارنګه په فارسي ژبه هم نه وو، دويم دليل دا دی چي بلي ژبي ته د قرآن د نقلولو په وخت کي اعتماد پر معنیٰ کيږي او معنیٰ د ژبو په اختلاف سره نه بدليږي، نو ځکه په ترکي، هندي او هره ژبه کي جائز دی.

والخلاف في الاعتداد الخ د دې حاصل دا دی چي د صاحبينو او امام صاحب په مينځ کي چي کوم د عربي او غير عربي اختلاف دی هغه د اعتبار دی، يعني د صاحبينو په نېز پر عربي ژبه د قدرت سره سره په غير عربي قرائت کول معتبر نه دی او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز معتبر دی، پاته سوه د لمانځه د صحت مسئله نو لمونځ د دواړو په نېز صحيح دی، په دې سره د لمانځه په صحيح والي کي څه خبره نسته.

ويروى الخ فرمايي چي په اصل مسئله يعني د قرائت بالعربية په سلسله کي امام صاحب رَحِمَهُ الله د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د مسلک وطرف ته رجوع وکړه، نو اوس د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک معتمد، مستند او مفتیٰ به دی، او په عربي ژبه باندي

د پوهېدونکو لپاره په غیر عربي ژبه قرآن ویل جائز نه دي، د دې رجوع روایت امام ابو بکر رازی رَحِمَهُ الله بیان کړی دی.
(عنایه ج۱، ص۲۹۱)

والخطبة الخ فرمایي چې په خطبه او التحیات کې هم د امام صاحب او صاحبینو په مینځ کې اختلاف دی، نو د امام صاحب په نېز خطبه او تشهد په فارسي او نورو ژبو هم جائز دي، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز له عربي ژبې څخه ماسوا په بله ژبه جائز نه دي، او د اذان په سلسله کې د عرف اعتبار ردی، یعني غوره او اصل همدغه دی چې اذان هم په عربي ژبه وي او په هغه کلمو سره وي چې په عامه توګه رواج دي، لېکن که په یو ځای کې په غیر عربي ژبه د اذان کولو رواج وي او خلک په غیر عربي ژبه اداء سوي کلمې اذان ګڼي، نو دا هم جائز دي، ځکه چې د اذان مقصد اعلان او خبر ورکول دي، او د عرف په اعتبار سره د هر ځای او هري سیمي په اعلان کي فرق وي، فقط والله أعلم.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي راجح قول د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دی، قال العلامة اکمل الدین البابرتی رَحِمَهُ الله (زیرول رجوعه) روی ابو بکر الرازی أن أبا حنیفة رَحِمَهُ الله رجع إلی قولهما وعلیه الاعتماد لتنزله منزلة الاجماع.

په "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ" سره د لمانځه د شروع کولو حکم

وَإِنِ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ بِاللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ او که یو څوک په اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ سره لمونځ شروع کړی لَا تَجُوْزُ نو دا جائز نه دي لِأَنَّهُ مَشُوْبٌ بِحَاجَتِهِ ځکه چې دا جمله د هغه پر حاجت مشتمله ده فَلَمْ يَكُنْ تَعْظِيْمًا خَالِصًا نو خالص تعظیم نه سو وَإِنِ افْتَتَحَ بِقَوْلِهِ اَللّٰهُمَّ فَقَدْ قِيْلَ يُجْزِئُهُ او که څوک په اللهم سره لمونځ شروع کړی نو یو قول دا دی چې جائز دي لِأَنَّ مَعْنَاهُ يَا اَللّٰهُ ځکه چې د دې معنیٰ ده: یا الله وَقِيْلَ لَا يُجْزِئُهُ او بل قول دا دی چې جائز نه دي لِأَنَّ مَعْنَاهُ يَا اَللّٰهُ أُمَّنَا بِخَيْرٍ ځکه چې د دې معنیٰ ده: اې الله زموږ د خیر اراده وکړې فَكَانَ سُؤَالًا نو دا هم غوښتنه سوه.

اللغات: ﴿مَشُوْبٌ﴾ ګډ، مختلط، (مشتمل).

تشریح: او که یو سړي لمونځ په اللهم اغفر لی سره شروع کړی نو د هغه لمونځ جائز نه دی، ځکه که څه هم اللهم اغفر لی د تعظیم معنیٰ ورکوي، لېکن د تعظیم سره سره د ضرورت او حاجت معنیٰ هم پکښې سته، نو ځکه په دې جملې سره لمونځ شروع کول جائز نه دي، ځکه چې د لمانځه د شروع کولو لپاره داسې جمله پکار ده چې خاص د تعظیم معنیٰ ورکوي.

همدارنګه که یو سړي صرف په اَللّٰهُمَّ سره لمونځ شروع کړی نو د هغه د لمانځه په جواز او نه جواز کې دوه قولونه دي:

(۱) د بصرې د علماؤ قول دا دی چې په دې کلمې سره لمونځ شروع کېدای سي، ځکه چې د دې معنیٰ ده: یا الله، نو دا د خالص تعظیم لپاره سوه، او په دې کې د حاجت او ضرورت هیڅ ګډون نسته (۲) دویم قول د کوفې د عالمانو دی چې په دې کلمې سره هم لمونځ شروع کول جائز نه دي، ځکه چې د دې معنیٰ ده: اې الله! زموږ د خیر اراده وکړې! او ښکاره ده چې په دې صورت کې دا کلمه پر خالص تعظیم دلالت نه کوي، نو ځکه به په دې کلمې سره لمونځ شروع کول جائز نه وي. (عنایه ج۱، ص۲۹۲)

په لمانځه کې د لاس نیولو طریقه (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

قَالَ: وَيَعْتَمِدُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى تَحْتَ السُّرَّةِ مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي: چې لمونځ کونکي به په راسته لاس سره چپه لاس نیسي تر نامه لاندې لِقَوْلِهٖ عليه السلام: إِنَّ مِنَ السُّنَّةِ وَضْعَ الْيَمِيْنِ عَلَى الشِّمَالِ تَحْتَ السُّرَّةِ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: چې تر نامه لاندې راسته لاس پر چپه لاس ایښودل سنت دي وَهُوَ حُجَّةٌ عَلٰى مَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْإِرْسَالِ او دا حدیث د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف د لاسونو د راځړلو په باره کې حجت دی وَعَلَى الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْوَضْعِ عَلَى الصَّدْرِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف پر سینه باندې د لاس ایښولو په باره کې حجت دی وَلِأَنَّ الْوَضْعَ تَحْتَ السُّرَّةِ أَقْرَبُ إِلَى التَّعْظِيمِ او په دې وجه (هم) چې تر نامه لاندې لاس ایښوول تعظیم ته زیات نژدې دي وَهُوَ الْمَقْصُوْدُ او تعظیم مطلوب دی ثُمَّ الْاِعْتِمَادُ سُنَّةُ الْقِيَامِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او بیا لاس نیول د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د ولاړې (قیامي) سنت دی حَتّٰى لَا يُرْسِلَ حَالَةَ الثَّنَاءِ تر دې چې د ثناء په حالت کې به هم (لاسونه) نه ایله کوي وَالْأَصْلُ أَنَّ كُلَّ قِيَامٍ فِيْهِ ذِكْرٌ مَسْنُوْنٌ يَعْتَمِدُ فِيْهِ او (په دې باره کې) اصل قاعده دا ده چې هره هغه ولاړه چې په هغه کې سنت ذکر وي نو په هغه کې به لاسونه نیسي وَمَا لَا فَلَا او چې په کومه ولاړه کې سنت ذکر نه وي به هغه کې به یې نه نیسي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحیح قول دی فَيَعْتَمِدُ فِيْ حَالَةِ الْقُنُوْتِ وَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ نو د دعائي قنوت په حالت او د جنازې په لمانځه کې به لاسونه نیسي وَيُرْسِلُ فِي الْقَوْمَةِ وَبَيْنَ تَكْبِيْرَاتِ الْأَعْيَادِ او په قومه او د اخترونو په تکبیرونو کې به لاسونه ایله کوي.

اللغات: ﴿يَعْتَمِدُ﴾ د افتعال د باب مضارع صیغه ده: مرسته اخیستل، نیول، تړل. ﴿سُرَّة﴾ نوم (ناف). ﴿قَوْمَة﴾ تر رکوع کولو وروسته چې د دربدلو څومره اندازه وي هغه ته قومه وايي.

تشریح: په دې عبارت کې د لاس نیولو په اړه څلور مسئلې ذکر سوي دي: (۱) په لمانځه کې به راسته لاس پر چپه لاس ایښوول کیږي، که نه؟ (۲) څرنګه به یې ایږدي؟ (۳) چیرې به یې ایږدي؟ (۴) کله به یې ایږدي.

اوله مسئله: په اوله مسئله کې زمونږ د دریو علماؤ قول دا دی چې په لمانځه کې راسته پر چپه لاس ایښوول سنت دي، او امام مالک رَحِمَهُ الله وايي چې إرسال دي کوي یعني په لمانځه کې دي لاسونه ایله کوي او که خوښه یې وي نو تړي دي یې، نو د امام مالک رَحِمَهُ الله په نیز ارسال عزیمت او اعتماد (لاس نیول) رخصت دی.

زمونږ دلیل: دا دی چې نبي ﷺ پر دې همېشتوب کړی دی او فرمایلي یې دي: إنا معشر الانبياء أمرنا بأن نأخذ شمائلنا بأيماننا في الصلاة. (یعني زمونږ د نبیانو جماعت ته حکم سوی دی چې په لمانځه کې په راسته لاس سره چپه لاس ونیسو) او حضرت علي رضي الله عنه فرمایي: من السنة أن يضع المصلي يمينه على شماله تحت السرة في الصلاة. صاحب د هدایې دا اثر

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب وضع اليمنى على اليسرى، حديث رقم: ۷۵۵.

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كذا في رد المحتار ج: ۱، ص: ۳۵۹. [القول الراجح، ج: ۱، ص: ۷۲]

په دې الفاظو سره ذکر کړی دی: إن من السنة وضع اليمين على الشمال تحت السرة. د دواړو حاصل دا دی چې حضرت علي رضي الله عنه فرمايلي دي: (په لمانځه کې راسته لاس پر چپه لاس ايښوول سنت دي). دلته دا خبره د يادوني وړ ده چې د هدايې په اصلي نسخه کې دا عبارت دا ډول ليکل سوی وو لقول علي رضي الله عنه إن من السنة الخ لېکن ناپوه ليکوالانو دا لقوله عليه السلام ليکلی دی.

او په ابو داؤد کې راغلي دي: عن ابن مسعود رضي الله عنهما أنه كان يصلي فوضع يده اليسرى على اليمنى فرآه النبي صلى الله عليه وسلم فوضع يده اليمنى على اليسرى. (روايت دی چې ابن مسعود رضي الله عنه لمونځ کوی، نو خپل چپه لاس يې پر راسته لاس کېښوی، نبي صلى الله عليه وسلم چې وليدی، نو د ابن مسعود رضي الله عنه راسته لاس يې پر چپه لاس کېښوی). لنډه دا چې له دې رواياتو څخه ثابته سوه چې سنت د راسته لاس پر چپه لاس ايښوول دي، نو دا حديثونه د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دي او زموږ مذهب په ثابتيږي.

دويمه مسئله: دا ده چې راسته لاس به پر چپه لاس څنګه ايږدي؟ طريقه يې څنګه ده؟. د دې طريقه يې دا ده چې د راسته لاس ورغوی دې د چپه لاس د ورغوي پر شا کېښږدي، او د راسته لاس په بټه او غټه ګوته دي د چپه لاس مروند ونيسي. (عنايه)

دريمه مسئله: د لاس د ايښولو د ځای ده، نو زموږ په نېز افضله او غوره دا ده چې تر نامه لاندي دي لاسونه ونيسي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر سينه لاسونه ايښوول افضله دي.

د امام شافعي دليل: د الله تعالیٰ دا قول: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ دی. (يعني د خپل رب لپاره لمونځ وکړه او پر سينه راسته لاس پر چپه لاس کېښږده)، علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله او صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله فرمايي چې مفسرينو ويلي دي: چې له وانحر څخه مراد راسته لاس پر چپه لاس ايښوول دي، دويم دليل دا دی چې سينه د ايمان د نور ځای دی، نو ځکه په لمانځه کې دننه د دې حفاظت کول غوره دي.

زموږ دليل: د حضرت علي رضي الله عنه اثر دی يعني: إن من السنة وضع اليمين على الشمال تحت السرة، او د سنت له لفظ څخه په عامه توګه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت مراد وي، نو ثابته سوه چې تر نامه لاندي لاس ايښوول سنت دي.

دويم دليل: دا دی چې تعظيم په دې کې دی چې تر نامه لاندي لاس کېښوول سي، او په لمانځه کې تعظيم مطلوب او مقصود وي، نو په دې وجه هم تر نامه لاندي لاس ايښوول افضله دي، صاحب د کفايه رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې تر نامه لاندي په لاس ايښوولو کې د اهل کتاب سره د مشابهت خطره هم ليري کيږي، او دا طريقه د عورت پټوالي ته هم زيات نژدې ده، نو په دې وجه هم تر نامه لاندي لاس نيول غوره دي.

جواب: د امام شافعي د دليل جواب دا دی چې په وانحر سره دليل نيول صحيح نه دي، ځکه چې په آيت کې له وانحر څخه مراد دلوی اختر تر لمانځه وروسته د قرباني د څاروي نحر کول (حلالول) دي. (عنايه)

څلورمه مسئله: دا ده چې لمونځ کونکی به لاسونه کله نيسي، نو په دې باره کې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله مذهب دا دی چې لاس نيول د ولاړي سنت دی او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د قرائت سنت دی، مطلب دا چې د شيخينو په نېز به لمونځ کونکی په ثناء کې لاسونه نيسي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به ثناء کې لاسونه ايله کوي، لاکله چې قرائت شروع سي نو لاسونه به نيسي.

والأصل أن كل الخ صاحب د هدايې د لاس نيولو او ايله كولو په باره كې دا قاعده بيان كړې ده چې هره هغه ولاړه (قيامه) چې په هغې كې يو ذكر كول سنت وي، (يعنې د ولاړې په جريان كې يو سنت ذكر ويل مشروع وي) نو په داسې ولاړه كې دې لاسونه نيسي، او كومه ولاړه چې داسې نه وي نو په هغې كې لاسونه نيول سنت نه دي، همدا قول صحيح دی، نو تر دې اصل لاندې به په قنوت او د جنازې په لمانځه كې لاس نيول كيږي، ځكه چې په دې كې ذكر سنت او مشروع دی، يعنې په قنوت كې دعاء ويل كيږي او د جنازې په لمانځه كې درود شريف او نورې دعاوې ويل كيږي، او څرنګه چې په قومه او د اخترونو په تكبيرونو كې يو خاص سنت ذكر نشته، نو ځكه به په هغو كې لاسونه ايله كول (ځړول) سنت وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله كې راجح قول د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دی، او صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله ليكلي دي: وبه كان يفتي شمس الائمة السرخسي رَحِمَهُ الله وبرهان الائمة صدر الشهيد. (عنايه ج:۱، ص:۲۹۳)؛ وقال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله ووضع الرجل يمينه على يساره تحت سرته آخذا رسغها بخنصره و ابهامه. هو المختار الى أن كما فرغ من التكبير بلاارسال فى الاصح. (رد المحتار ج:۱، ص:۳۵۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۷۲]

په ثناء كې به څه ويل كيږي؟ (د فقهاؤ قولونه)

ثُمَّ يَقُوْلُ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ إِلٰى آخِرِهٖ بيا دې لمونځ كونكی سبحانك اللهم وبحمدك تر آخره پورې ووايي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يَضُمُّ إِلَيْهِ قَوْلَهٗ إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ [سورة الانعام:۷۹] إِلٰى آخِرِهٖ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې د ثناء سره دې د الله تعالىٰ قول انى وجهت وجهي تر آخره پورې يو ځای كوي لِرِوَايَةِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ يَقُوْلُ ذٰلِكَ ځكه له حضرت علي رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې نبي ﷺ به دا ويله وَلَهُمَا ● رِوَايَةُ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د طرفينو لپاره د حضرت انس رضي الله عنه روايت دليل دی أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ كَبَّرَ وَقَرَأَ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ إِلٰى آخِرِهٖ چې كله به نبي ﷺ لمونځ شروع كړی نو تكبير به يې ووايی او سبحانك اللهم وبحمدك به يې تر آخره پورې وويله وَلَمْ يَزِدْ عَلٰى هٰذَا او پر دې به يې زياتوب نه كوی (بعضو شارحينو د ولم يزد ضمير حضرت انس رضي الله عنه ته راجع كړی دی) وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلَى التَّهَجُّدِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت سوی حديث د تهجدو پر لمانځه حمل سوی دی وَقَوْلُهٗ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ لَمْ يُذْكَرْ فِي الْمَشَاهِيْرِ او دا قول وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ په مشهوره حديثونو كې نه دی ذكر سوی فَلَا يَأْتِيْ بِهٖ فِي الْفَرَائِضِ نو ځكه دې لمونځ كونكی دا په فرضي لمونځونو كې نه وايي وَالْأَوْلٰى أَنْ لَا يَأْتِيَ بِالتَّوَجُّهِ قَبْلَ التَّكْبِيْرِ او غوره دا ده چې تر تكبير تحريمه مخكې دې يې انى وجهت (هم) نه وايي لِتَتَّصِلَ النِّيَّةُ بِهٖ د دې لپاره چې نيت د تكبير سره متصل (جوخت) سي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده.

● تخريج: أخرجه البيهقى فى كتاب الصلوٰة، باب من روى الجمع بينهما، حديث رقم: ۲۳۵۱.

● القول الراجح: قول الطرفين، كذا فى مجمع الانهر ج:۱، ص:۹۴. [القول الراجح، ج:۱، ص:۷۳]

● تخريج: أخرجه البيهقى فى كتاب الصلوٰة، باب الاستفتاح بسبحانك اللهم وبحمدك، حديث رقم:۲۳۲۷.

اللغات: ﴿وَجَّهْتُ﴾ د تفعيل د باب ماضي صيغه ده: مخ كول، مخ كرځول. ﴿لَمْ يَزِدْ﴾ د ضرب له باب څخه دجحد صيغه ده: زياتوب كول، اضافه كول. ﴿مَشَاهِيْر﴾ جمع ده، واحد يې مَشْهُوْر دى: د حديث يو قسم دى.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چې لمونځ كزاره به تر تكبير تحريمه ويلو او تر نامه لاندې لاس نيولو وروسته ثناء يعني سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك وايي، او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به صرف پر دغه ثناء اكتفاء كوي او له ثناء څخه ماسوا به بله دعاء نه وايي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ثناء سره دې إني وجهت وجهي... تر آخره پورې هم وايي، ځكه چې د حضرت علي ﷺ په روايت كې دي چې نبي ﷺ به تر ثناء وروسته دا دعاء ويل.

د طرفينو دليل: د حضرت انس ﷺ هغه حديث دى چې په هغه كې له نبي ﷺ څخه صرف د ثناء ويلو ذكر سوى دى او نوره اضافه څني ثابته نه ده، له دې حديث څخه په ښكاره توګه دا فهمول كيږي چې په فرض لمونځونو كې به پر ثناء زياتوب نه كوي، نو ځكه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله روايت فقهاؤ پر تهجدو حمل كړى دى، ځكه چې د فرائضو په مقابله كې په نوافلو كې زيات وسعت سته. صاحب د هدايې فرمايي چې د لمونځ كزاره لپاره غوره دا ده چې تر نيت كولو وروسته او تر تكبير تحريمه مخكې هم إني وجهت...الخ نه ووايي، د دې لپاره چې په نيت او تكبير كې اتصال راسي، او د يوبلې دعاء په ذريعه د دواړو په مينځ كې فصل را نه سي، ځكه چې تكبير تحريمه د نيت سره يو ځاى كول ډېر غوره دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله كې راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دى، قال عبد الله داماد آفندى رَحِمَهُ الله: ولا يضم وجهت وجهي إلى آخره، إلى أن قال قبل الشروع ولا بعده وهو الصحيح المعتمد (مجمع الانهر ج:١، ص:٩٢). [القول الراجح، ج:١، ص:٧٣]

تر قرائت مخكې د أَعُوْذُ بِاللهِ ويلو بيان

وَيَسْتَعِيْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ او لمونځ كزاره به پناه غواړي په الله سره له ترټلي شيطان څخه (يعني اعوذ بالله...الخ به وايي) لِقَوْلِهِ تَعَالَى فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ [النحل: ٩٨] ځكه الله تعالىٰ فرمايلي دي: كله چې تاسو قرآن واياست نو په الله ﷻ له ترټلي شيطان څخه پناه طلب كوئ مَعْنَاهُ: إِذَا أَرَدْتَ قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ معنىٰ يې دا ده: اذا أردت قراءة القرآن (يعني كله چې تاسو د قرآن لوستلو اراده وكړى) وَالْأَوْلَى أَنْ يَقُوْلَ أَسْتَعِيْذُ بِاللهِ لِيُوَافِقَ الْقُرْآنَ او غوره دا ده چې أستعيذ بالله من الشيطان الرجيم ووايي د دې لپاره چې د قرآن سره موافق سي وَيَقْرُبُ مِنْهُ أَعُوْذُ بِاللهِ او أعوذ بالله من الشيطان الرجيم هم دې ته نژدې ده ثُمَّ التَّعَوُّذُ تَبَعٌ لِلْقِرَاءَةِ دُوْنَ الثَّنَاءِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ* بيا أعوذ بالله د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د قرائت تابع ده، د ثناء تابع نه ده لِمَا تَلَوْنَا د هغه آيت په وجه كوم چې موږ تلاوت كړى حَتَّى يَأْتِيَ بِهِ الْمَسْبُوْقُ دُوْنَ الْمُقْتَدِيْ تر دې چې صرف به مسبوق أعوذ بالله وايي مقتدي

* القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٣٦٢. [القول الراجح، ج:١، ص:٧٤]

به یې نه وایي وَيُؤَخِّرُ عَنْ تَكْبِيْرَاتِ الْعِيْدِ او امام به أعوذ بالله د اختر تر تکبیرونو وروسته وایي خِلَافًا لِأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله.

اللغات: ﴿رجیم﴾ تړتل سوی، شړل سوی، مردود. ﴿أستعیذ﴾ زه پناه غواړم. ﴿تعوذ﴾ أعوذ بالله من الشیطان الرجیم ویل، (په پناه کي راتلل).

تشریح: مسئله: دا ده چي کله لمونځ گزاره له ثناء ویلو څخه فارغه سي نو د ده لپاره حکم دا دی چي تر الحمد لله ویلو مخکي تعوّذ (اعوذ بالله) دوایي، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمایي چي تعوّذ دي نه وایي.

د امام مالک دلیل: د حضرت انس رضي الله عنه دا روایت دی: صليتُ خلف رسول الله ﷺ وخلف أبي بكر وعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وكانوا يفتتحون القراءة بالحمد لله رب العالمين، (ما د نبي ﷺ او د ابوبکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تر شا لمونځ کړی دی، او دې حضراتو به په الحمد لله رب العالمين سره قرائت شروع کوی)، نو له دې روایت څخه معلومیږي چي تر قرائت مخکي به تعوّذ او نور هیڅ نه وایي، ځکه چي په دې حدیث کي د تعوّذ ذکر نسته.

زموږ دلیل: دا دی چي قرآن کریم په ښکاره توګه دا اعلان کړی دی: فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ (النحل: ۹۸)، او د دې اعلان په وجه خو تر قرآن لوستلو مخکي تعوّذ ویل واجب کېدل پکار دي، ځکه چي فاستعذ د امر صیغه ده، او امر د وجوب لپاره راځي، خو صاحب د عنایې وایي چي څرنګه سلفو حضراتو د تعوّذ پر سنتوالي اجماع کړې ده، نو ځکه موږ هم دا سنت وګرځوو. او دا تعوّذ تر قرائت مخکي سنت دي، ځکه چي "قراءة القرآن" د "إذا أردت قراءة القرآن" په معنیٰ سره دی، لکه "إذا قمتم إلى الصلاة" چي د "إذا أردتم" په معنیٰ سره دی، نو ځکه به تعوذ تر قرائت مخکي ویل کیږي.

ولأولى الخ فرمایي چي لمونځ کونکي لره د تعوذ لپاره د أستعيذ بالله من الشيطان الرجيم ویل زیات غوره دي، ځکه چي دا د قرآن کریم د آیت فاستعذ بالله... الخ سره مطابق او موافق دی، او دې ته نژدې نژدې أعوذ بالله من الشيطان الرجيم دی، نو ځکه دا هم ویل کېدلای سي، په نهایه شرح هدایه کي راغلي دي چي أعوذ بالله ... الخ په اکثره حدیثونو کي تعوذ ګرځول سوی دی، او هم پر دې د خلکو عمل دی، او همدغه غوره او مختاره مذهب دی.

ثم التعوذ الخ د دې حاصل دا دی چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز تعوّذ د قرائت تابع دی، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نيز د ثناء تابع دی.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چي تعوذ تر ثناء وروسته دی او د دعاء کېدلو په اعتبار سره د ثناء له جنس څخه دی، او د هر شي تابع تر هغه وروسته اداء کیږي، نو ځکه به تر ثناء وروسته تعوذ ویل کیږي او د کوم سړي لپاره چي ثناء ویل سنت وي، د هغه لپاره به تعوّذ هم سنت وي.

د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دلیل: دا دی چي په قرآن کریم کي له إذا قرأت څخه مراد إذا أردت قراءة القرآن دی. او دا هله صحیح کېدلای سي چي کله موږ تعوذ د قرائت تابع وګرځوو، نو ځکه موږ تعوذ د قرائت تابع وګرځوی، او زموږ په نيز چي پر کوم سړي قرائت واجب وي د هغه لپاره تعوذ ویل سنت دي، مثلاً! مسبوق (هغه مقتدی چي د لمانځه بعضي حصه څني تېره

سوی وي)، پر هغه قرائت واجب دی، نو د هغه لپاره به تعوذ ویل سنت وي، او څرنګه چي پر هغه مقتدي قرائت واجب نه دی چي تو له لمونځ يې د امام سره نيولی وي، نو ځکه به د هغه لپاره تعوذ ويل سنت نه وي.

ديوځرالخ فرمايي: چي امام به د اختر په لمونځونو کي تر تکبيرونو وروسته تعوّذ وايي، ځکه چي د اختر د لمونځونو په اولو رکعتونو کي تر تکبيرونو وروسته قرائت ويل کيږي، نو له دې څخه هم معلومه سوه چي تعوذ د قرائت تابع دی نه د ثناء.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفينو دی، قال المفتي غلام قادر النعماني. قد اختلفت الفاظ الفتوى في الترجيح لكن الراجح قول الطرفين لأن قولهما موافق لنص القرآن. قال الله تعالى: فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ (النحل، ٩٨). [القول الراجح ج١، ص٧٢]

د بسم الله ويلو بيان

وَيَقْرَأُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ او لمونځ کونکی به بسم الله الرحمن الرحيم وايي هَكَذَا نُقِلَ فِي الْمَشَاهِيرِ● همدغه رنګه په مشهوره حديثونو کي را نقل سوي دي.

تشريح: فرمايي: څرنګه چي د لمونځ ګزاره لپاره أعوذ بالله ويل سنت دي، همدارنګه د هغه لپاره بسم الله ويل هم سنت دي، دليل او تفصيل به يې په لاندي عبارت کي ذکر سي. ښکاره دي وي چي زموږ په نيز بسم الله نه د سورة الفاتحه جزء ده او نه د يو بل سورت بلکي د سورتونو په مينځ د فصل کولو لپاره ده، په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله.

په اعوذ بالله، بسم الله او آمين کي د سر او جهر بحث

وَيُسِرُّ بِهِمَا او لمونځ کونکی به تعوّذ (اعوذ بالله) او تسميه (بسم الله) په کراره وايي لِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَرْبَعٌ يُخْفِيهِنَّ الْإِمَامُ وَذَكَرَ مِنْهَا التَّعَوُّذَ وَالتَّسْمِيَةَ وَآمِينَ ځکه ابن مسعود رَحِمَهُ الله فرمايي: څلورشيان داسي دي کوم چي به امام په کراره وايي او له هغو څخه يې تعوذ، تسميه او آمين (هم) ذکر کړل وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: يَجْهَرُ بِالتَّسْمِيَةِ عِنْدَ الْجَهْرِ بِالْقِرَاءَةِ او امام شافعي فرمايي: چي تسميه به په جهر (يعني په لوړ آواز) سره وايي د جهري قرائت په وخت کي لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ جَهَرَ● فِي صَلَاتِهِ بِالتَّسْمِيَةِ ځکه روايت سوی دی چي نبي ﷺ په خپل لمانځه کي بسم الله په جهر سره ويله قُلْنَا: هُوَ مَحْمُولٌ عَلَى التَّعْلِيمِ موږ جواب ورکوو: چي دا پر تعليم حمل کيږي لِأَنَّ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَخْبَرَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● كَانَ لَا يَجْهَرُ بِهَا ځکه حضرت انس رضي الله عنه خبر ورکړی دی چي رسول الله ﷺ به په جهر بسم الله نه ويله ثُمَّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنَّهُ لَا يَأْتِي بِهَا فِي أَوَّلِ كُلِّ رَكْعَةٍ بيا له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي بسم الله به د هر رکعت په اول کي نه وايي كَالتَّعَوُّذِ لکه څرنګه چي

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلوٰة، في باب من رأى الجهر ببسم الله الرحمٰن الرحيم، حديث رقم:٢٤٥.

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الصلاة، باب وجوب قرأة بسم الله الرحمٰن الرحيم في الصلاة، حديث رقم: ١١٤٣، ١١٤٦، ١١٤٧.

● تخريج: أخرجه النسائي في كتاب الافتتاح، باب ترك الجهر ببسم الله الرحمٰن الرحيم، حديث رقم:٩٠٧.

اعوذ بالله (په هر رکعت کي نه ویل کيږي) وَعَنْهُ أَنَّهُ يَأْتِي بِهَا اِحْتِيَاطًا او دویم روایت دا دی چي احتیاطاً به بسم الله وایي وَهُوَ قَوْلُهُمَا او دا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله قول (هم) دی وَلَا يَأْتِي بِهَا بَيْنَ السُّوْرَةِ وَالْفَاتِحَةِ او د الحمد لله او سورت په مینځ کي به بسم الله نه وايي إِلَّا عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ مګر د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز فَإِنَّهُ يَأْتِي بِهَا فِي صَلَاةِ الْمُخَافَتَةِ ځکه (د هغه په نیز به) بسم الله په سرّي لمانځه (د الحمد لله او سورت په مینځ کي) وايي.

اللغات: ﴿يسر﴾ د افعال مضارع ده: په کراره او سوکه ویل، ﴿جملة﴾ ټوله، مجموعه، ﴿المخافتة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په پټه ویل، په کراره ویل.

تشریح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي زموږ په نیز په سرّي او جهري دواړو لمونځونو کي تعوّذ او تسمیه په کراره ویل کیږي، لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي په جهري لمونځونو کي به تسمیه هم په جهر سره ویل کیږي.

د امام شافعي دلیل: هغه حدیث دی کوم چي له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه رانقل سوی دی: أن النبي ﷺ كان يجهر ببسم الله الرحمن الرحيم او همدا ډول روایت له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت سوی دی، له دې څخه معلومیږي چي نبي ﷺ به تسمیه جهراً (په زوره) ویله، بیا صاحب د فتح القدیر د نسائي او نورو په حواله سره د نعیم مجمر رَحِمَهُ الله دا قول هم رانقل کړی دی: صليت وراء أبي هريرة رضی الله عنه فقرأ بسم الله الرحمن الرحيم، ثم قرأ بأم القرآن حتى بلغ ولا الضالين، فقال آمين، ثم يقول إذا سلم والذي نفسي بيده إني لأشبهكم صلاة برسول الله ﷺ، (یعني ما په حضرت ابو هریره رضی الله عنه پسي لمونځ وکړی، هغه بسم الله الرحمن الرحيم وویله، بیا یې سورة فاتحه وویله بیا یې آمین ووایی او تر سلام ګرځولو وروسته یې وفرمایل: چي زه په تاسو ټولو کي د لمانځه په حواله د رسول الله ﷺ سره زیات مشابه یم)(یعني تر تاسو ټولو زما لمونځ د نبي ﷺ د لمانځه سره زیات مشابه دی)، له دې واقعې څخه هم معلومیږي چي په جهري لمونځونو کي به تسمیه جهراً ویل کیږي، ځکه حضرت ابو هریره رضی الله عنه چي کوم جهر کړی دی هغه به یقیناً له نبي ﷺ څخه رانقل سوی وي. (فتح القدير ج۱، ص۲۹۶)

زموږ دلیل: د حضرت ابن مسعود رَحِمَهُ الله فرمان دی چي څلور شیان داسي دي چي امام به یې په کراره وایي او په دې څلور شیانو کي یې تسمیه هم شمار کړه. **دویم دلیل:** د حضرت انس رضی الله عنه دا قول دی: صليت خلف رسول الله ﷺ وخلف أبي بكر وعمر وعثمان رضي الله عنهم فلم أسمع أحدا منهم يجهرون ببسم الله الرحمن الرحيم (یعني ما په نبي ﷺ او درې خلیفه ګانو پسي لمونځ کړی دی لیکن له یوه څخه مي بسم الله الرحیم په زوره نه ده اورېدلې). **دریم دلیل:** د حضرت ابن عباس رَحِمَهُ الله دا روایت دی کوم چي حازمي بیان کړی دی: لم يجهر النبي ﷺ بالبسملة حتى مات، (چي نبي ﷺ تر مړګه پوري بسم الله [په لمانځه کي] جهراً ویلې نه ده)، همدارنګه امام طحاوي رَحِمَهُ الله له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه دا رانقل کړي دي چي: الجهر قراءة الأعراب، (یعني بسم الله جهراً ویل د صحرایانو[او کوچیانو) قرائت دی)، له دې ټولو آثار او روایتونو څخه معلومیږي چي بسم الله په کراره ویل سنت دي، ځکه چي همدغه د نبي ﷺ او د صحابه وو معمول وو، او همدغه له دوی څخه رانقل سوي دي.

جواب: پاته سو د امام شافعي رَحِمَهُ الله هغه حدیث چي په هغه کي د تسمیه بالجهر خبره راغلې ده، نو د هغه یو جواب دا دی چي د اسلام په شروع کي تسمیه او آمین او نور ټوله جهراً ویل کېدله، لیکن څه وخت چي دا آیت أدعوا ربكم تضرعاً

وحفية را نازل سو، له هغه وخته څخه جهر بند سو دويم جواب دا دی چې د بسم الله او نورو سره متعلق د جهر روايتونه پر تعليم او تعلّم (ښوونې او زده کړې) باندې حمل سوي دي، يعني تر کومه وخته چې په خلکو کې اسلامي تعليمات عام سوي نه وو تر هغه وخته به په لمانځه او نورو کې د تعليم لپاره په تسميه، ثناء، تعوذ او نورو کې جهر کېدی، لکه څرنګه چې له حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چې هغه د تعليم لپاره تر تکبير تحريمه وروسته ثناء هم جهراً ويلې ده.

ثم عن أبي حنيفة رَحِمَهُ الله الخ د دې حاصل دا دی چې آيا تسميه به د هر رکعت په شروع کې ويل کېږي يا به صرف د اول رکعت په شروع کې ويل کيږي، لکه تعوذ چې صرف په اول رکعت کې ويل کېږي، په دې سلسله کې دامام اعظم رَحِمَهُ الله دوه روايتونه دي: (۱) اول روايت چې د هغه راوي حسن بن زياد رَحِمَهُ الله دی دا دی: چې صرف د اول رکعت په شروع کې به تسميه ويل کيږي، ځکه چې تسميه د سورة الفاتحه جزء نه ده، بلکې د لمانځ د افتتاح (شروع کولو) لپاره ويل کيږي، نو د يوه لمانځه لپاره يو وار تسميه ويل کافي دي، د هر رکعت په شروع کې تسميه ويل ضروري نه دي. (۲) دويم روايت چې د هغه راوي امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی دا دی: چې که احتياطاً د هر رکعت په شروع کې تسميه وويل سي نو غوره ده، ځکه چې د تسميې د سورة فاتحه په جزء کېدلو او نه کېدلو کې اختلاف دی، نو د احتياط تقاضا همدغه ده چې د هر رکعت په شروع کې وويل سي، همدغه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول هم دی.

ولا يأتي بها الخ فرمايي چې د سورة فاتحې او سورت په مينځ کې به بسم الله نه ويل کيږي، ليکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په سري لمونځونو کې د سورة فاتحې او سورة په مينځ کې تسميه ويل مستحب دي، ځکه چې داسې کول د دې آيت فإذا قرأت القرآن... الخ سره زيات نژدې او مناسب دي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دی، قال العلامة عبد الله داماد آفندی رَحِمَهُ الله: اول کل ركعة عندهما وعند الامام في رواية اخرى عنه في الركعة الاولى فقط والاول احوط وعليه الفتوی (مجمع الانهر ج:۱، ص:۹۵). [القول الراجح ج:۱، ص:۷۶]

د الحمد لله سره د سورت يوځای کولو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

ثُمَّ يَقْرَأُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ بيا به لمونځ کونکی سورت فاتحه (الحمد لله) وايي وَسُورَةً أَوْ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَيِّ سُوَرَةٍ شَاءَ او يو سورت يا درې آيتونه چې له کوم سورت څخه يې خوښه وي فَقِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ لَا تَتَعَيَّنُ رُكْنًا عِنْدَنَا نو د سورت فاتحه رکن کېدل زموږ په نيز متعين نه دي وَكَذَا ضَمُّ السُّورَةِ إِلَيْهَا همدارنګه د سورت فاتحې سره د سورت يوځای کول هم (رکن نه دي) خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْفَاتِحَةِ په سورت فاتحه کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَلِمَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ فِيهِمَا او د امام مالک رَحِمَهُ الله په دواړو کې اختلاف دی لَهُ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● د امام مالک

رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا قول دی لَا صَلَاةَ إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مَعَهَا چي د سورتِ فاتحې او له سورت څخه ماسوا لمونځ نه دی(يعني لمونځ نه صحيح کيږي) وَلِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ قَوْلُه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● لَا صَلَاةَ إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا قول دی: چي له سورتِ فاتحې څخه بغير لمونځ نه دی وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ [المزمل: ٢٠] او زموږ دليل د الله تعالیٰ دا فرمان دی: واياست هغه کوم چي تاسو ته په قرآن کي آسانه وي وَالزِّيَادَةُ عَلَيْهِ بِخَبَرِ الْوَاحِدِ لَا يَجُوزُ او پر قرآن کريم باندي په خبر واحد سره زياتوب جائز نه دی لٰكِنَّهُ يُوجِبُ الْعَمَلَ ليکن خبر واحد عمل واجبوي فَقُلْنَا بِوُجُوبِهِمَا نو ځکه موږ دواړو (يعني سورتِ فاتحې او د سورت يو ځای کولو) ته واجب وايو.

تخريج: ﴿تيسّر﴾ د تفعّل ماضي ده: آسانه کېدل. ﴿فاتحة الكتاب﴾ سورتِ فاتحه. (الحمد لله).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نيز سورتِ فاتحه ويل او بل سورت ور سره يو ځای کول واجب دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز سورتِ فاتحه ويل رکن دي او د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز سورتِ فاتحه ويل او سورت ور سره يو ځای کول دواړه رکن دي.

د امام مالک دليل: دا دی چي نبي ﷺ په خپل دې فرمان لا صلاة إلا بفاتحة الكتاب و سورة معها کي د لا په ذريعه له سورتِ فاتحې او ضمّ سورت څخه بغير د لمانځه نفي کړي دي(يعني په کوم لمانځه کي چي سورتِ فاتحه او بل سورت نه ويل سي نو هغه بالکل لمونځ نه دی)، او ښکاره خبره ده چي د کوم شي په پرېښوولو سره چي د لمانځه نفي کيږي نو هغه رکن وي، نو ځکه به دا دواړه شيان د لمانځه رکن وي.

د امام شافعي دليل: هم لا صلاة إلا بفاتحة الكتاب دی، او استدلال د امام مالک رَحِمَهُ الله په توګه کوي.

زموږ دليل: د قرآن کريم دا آيت دی: فاقرؤا ما تيسّر من القرآن، په دې آيت سره موږ په دې توګه دليل نيسي چي الله ﷻ تر ما تيسّر وروسته د من القرآن ذکر مطلق کړی دی، او قاعده دا ده: المطلق يجري على إطلاقه، نو تر دې قاعدې لاندي به د ادنیٰ ما يطلق عليه اسم القرآن په اندازه ويل فرض وي(يعني صرف دومره اندازه به فرض وي چي پر هغه د قرآن اطلاق وسي)، او له دې څخه علاوه به د سورت ور سره يو ځای کول، يا سورتِ فاتحه ويل واجب وي.

جواب: والزيادة الخ له دې ځايه د امام مالک رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چي ورو ره! د فرضيت او رکنيت ثابتولو لپاره ټينګ دليل پکار دي، او په مذکوره مسئله کي چي تاسو په کومو حديثونو سره د سورتِ فاتحه او ضمّ سورتِ رکنيت ثابتوی هغه خبر واحد دي، او خبر واحد ظنی الثبوت وي چي په هغه سره فرضيت يا رکنيت نه سي ثابتېدلای، نو ځکه به په دې حديثونو سره ستاسو استدلال باطل وي؛ هو! اخبار آحاد عمل واجبوي، يعني د کوم عمل سره چي تعلق لري په هغه کي وجوب ثابتوي، نو ځکه موږ دا دواړه واجب ګرځوو.

● تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم؛ البخاري في كتاب التوحيد، باب سمى النبي ﷺ الصلاة عملا، حديث رقم:٧٥٣٤؛ و ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب من ترك القرأة في الصلاة بفاتحة الكتاب، حديث: ٨١٩ .

د امام او مقتدي لپاره د آمين ويلو حکم (او په دې باره کې د فقهاؤ قولونه)

وَإِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ او کله چې امام وَ لَا الضَّالِّينَ ووايي قَالَ آمِينَ نو امام دې آمين ووايي وَيَقُولُهَا الْمُؤْتَمُّ او مقتدي دې هم آمين ووايي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوا ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: کله چې امام آمين ووايي نو تاسو هم آمين واياست وَلَا مُتَمَسَّكَ لِمَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ فِي قَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● إِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ مِنْ حَيْثُ الْقِسْمَةِ او د امام مالک رَحِمَهُ الله لپاره د نبي ﷺ په دې قول إذا قال الإمام ولا الضآلين فقولوا آمين کې د تقسيم په اعتبار سره هيڅ دليل نشته لِأَنَّهُ قَالَ فِي آخِرِهِ ځکه نبي ﷺ د حديث په آخر کې دا (هم) فرمايلي دي فَإِنَّ الْإِمَامَ يَقُولُهَا (يعني امام به هم آمين وايي).

اللغات: ﴿الْمُؤْتَمُّ﴾ مقتدي، ﴿أَمَّنَ﴾ د تفعيل د باب ماضي صيغه ده: آمين ويل، ﴿مُتَمَسَّك﴾ دليل، د تيمسک ځای.

تشريح: مسئله: دا ده چې د سورت فاتحې تر ختمېدلو وروسته چې کله امام ولا الضآلين ووايي، نو امام او مقتدي دواړو له آمين ويل پکار دي.

زموږ دليل: دا حديث دی: إذا أمن الإمام فأمنوا فإنه من وافق تأمينه تأمين الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه. (کله چې امام آمين ووايي نو تاسو هم آمين واياست ځکه چې د چا آمين د فرشتو د آمين ويلو سره برابر سي نو د هغه تېر سوي ټول ګناهونه معاف کيږي)، امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چې صرف مقتدی به آمين وايي، امام به آمين نه وايي.

د امام مالک دليل: دا حديث دی: اذا قال الإمام "ولا الضآلين" فقولوا آمين، پوره حديث مسلم داسي را نقل کړی دی: إنما جعل الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فإذا كبر فكبروا وإذا قرأ فأنصتوا وإذا قال "ولا الضآلين" فقولوا آمين، (امام خو جوړ سوی د دې لپاره دی چې د هغه اقتداء وکړی سي، نو ځکه تاسو له هغه څخه اختلاف مه کوئ، کله چې هغه تکبير ووايي نو تاسو تکبير واياست، او کله چې هغه قرائت کوي نو تاسو چُپ اووسئ، او کله چې هغه ولا الضآلين ووايي، نو تاسو آمين واياست)، امام مالک رَحِمَهُ الله په دې حديث سره په دې توګه دليل نيسي چې نبي ﷺ د امام او مقتدي په مينځ کي تقسيم کړی دی، نو د امام په برخه کي د قرائت پوره کول دی، او د مقتدي په برخه کي آمين ويل دي، او څرنګه چې تقسيم د شرکت منافي دی، نو ځکه به په آمين ويلو کي امام او مقتدی دواړه شريک نه وي، بلکي صرف مقتدی به آمين وايي.

جواب: د امام مالک رَحِمَهُ الله د حديث جواب دا دی چې د دې حديث په آخر کي راغلي دي: فإن الإمام يقولها، يعني امام به هم آمين وايي نو معلومه سوه چې له دې حديث څخه تقسيم او وېش مراد نه دی.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فی كتاب الصلاة، باب التأمين وراء الامام، حديث رقم: ۹۳۶.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فی كتاب الصلاة، باب التأمين وراء الامام، حديث رقم: ۹۳۵.

آمين په خرنګه ويل کيږي

قَالَ: وَيُخْفُونَهَا فرمايي: چې امام او توله خلک به آمين په کراره وايي لِمَا رَوَيْنَاهُ مِنْ حَدِيْثِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ د ابن مسعود ﷺ په حديث سره بيان کړی وَلِأَنَّهُ دُعَاءٌ فَيَكُوْنُ مَبْنَاهُ عَلَى الْإِخْفَاءِ او په دې وجه هم چې آمين دعاء ده نو ځکه به د دې بنياد په اخفاء باندې وي وَالْمَدُّ وَالْقَصْرُ فِيْهِ وَجْهَانِ او په آمين کې دوه لغتونه دي يعني مد او قصر وَالتَّشْدِيْدُ فِيْهِ خَطَأٌ فَاحِشٌ ليکن آمين مشدد ويل بنکاره غلطي ده.

اللغات: ﴿يخفونها﴾ د افعال مضارع ده: په پټه او کراره ويل، ﴿مد﴾ کشول، اوږدول، ﴿قصر﴾ کوچنی کول، د مد ضد، ﴿فاحش﴾ بد، هغه چې بد معلوميږي.

تشريح: زموږ په نيز د امام او ټولو مقتديانو لپاره آمين په کراره ويل سنت دي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله وايي چې په جهر سره دې يې وايي.

د امام شافعي دليل: د ابو داؤد روايت دی: عن وائل بن حجر قال كان رسول الله إذا قرأ ولا الضالين قال آمين ورفع بها صوته.

او په ترمذي کې راغلي دي ومد بها صوته. (يعني وائل بن حجر ﷺ وايي چې کله به نبي ﷺ ولا الضالين ووايی نو آمين به يې ووايی او په آمين سره به يې خپل آواز پورته کړی).

زموږ دليل: د ابن مسعود ﷺ حديث دی کوم چې مخکې تېر شو يعني: قال اربع يخفيهن الامام التعوذ وبسم الله الرحمن الرحيم و اللهم ربنا لك الحمد و آمين. او په بل روايت کې راغلي دي: خمس يخفيهن الامام. له دې روايت څخه هم د آمين کرار ويل ثابتيږي. **دويم دليل:** دا دی چې آمين د اِسْتَجِبْ په معنیٰ سره دی، او د استجب معنیٰ ده: اې الله! (زموږ دعاء) قبوله کړه (يعني د استجب لفظ دعاء ده)، او په دعاء کې به اخفاء (کراروالی) وي، ځکه چې الله فرمايلي دي: ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً. نو ځکه به په آمين کې اخفاء کول سنت وي.

جواب: د امام د شافعي د دليل جواب دا دی چې علقمه بن وائل چې له خپل پلار وائل څخه کوم روايت کړی دی په هغه کې خفض به صوته راغلي دي، نو د تعارض په وجه سره دواړه دليلونه د استدلال وړ نه دي، او د ابن مسعود ﷺ حديث کوم چې زموږ دليل دی، د استدلال وړ دی.

والمد والقصر الخ صاحب د هدايې فرمايي چې د آمين په الف کې د مد او قصر دواړه صورتونه جائز دي، يعني په مد سره ويل هم جائز دي، او بغير له مده ويل هم جائز دي، ليکن آمين په تشديد سره ويل صحيح نه دي، بلکې دا بنکاره غلطي ده، او د بعضي علماؤ په نيز خو لمونځ هم فاسدوي.

فايده: د آمين د لفظ همزه بعضي خلکو ممدوده ويلې ده او بعضي خلکو مقصوره ويلې ده، خو بنکاره دې وي چې په دواړو صورتونو کې به د فَعِيْل وزن پاتيږي، نو د ممدوده ويلو په صورت کې به الف د اشباع وي، او د ممدوده ويلو دليل يې د "مجنون" دا شعر دی: ويرحم الله عبداً قال آمينا، په دې کې آمين ممدوده استعمال سوی دی، او په دې کې آخري الف هم د اشباع دی.

د رکوع په وخت کي تکبير ويل

قَالَ: ثُمَّ يُكَبِّرُ فرمايي: چي بيا به لمونځ کونکي تکبير ووايي وَيَرْكَعُ او رکوع به وکړي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ: وَيُكَبِّرُ مَعَ الِانْحِطَاطِ او په جامع صغير کي راغلي دي: چي د ټيټېدلو سره دي تکبير وايي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ يُكَبِّرُ عِنْدَ كُلِّ خَفْضٍ وَرَفْعٍ ځکه چي نبي ﷺ به د هر وار کښته کېدلو او را پورته کېدلو سره تکبير وايي وَيَحْذِفُ التَّكْبِيْرَ حَذْفًا او تکبير به په ښه قصر (لنډون) سره وايي لِأَنَّ الْمَدَّ فِي أَوَّلِهِ خَطَأٌ مِنْ حَيْثُ الدِّيْنُ ځکه چي د تکبير په شروع کي مدّ کول ديني غلطي ده لِكَوْنِهِ اِسْتِفْهَامًا ځکه چي دا استفهام دی وَفِي آخِرِهِ لَحْنٌ مِنْ حَيْثُ اللُّغَةُ او د تکبير په آخر کي مد کول لغوي غلطي ده.

اللغات: ﴿الانحطاط﴾ دانفعال مصدر دی: کوږ والی، کښته والی، ټيټوالی، ﴿الخفض﴾ د ضرب مصدر دی: کښته کېدل، لاندي کېدل، ﴿لحن﴾ غلطي، خطا.

تشريح: مسئله: دا ده چي لمونځ کونکی دي تر قرائت پوره کولو وروسته بغير له څه ځنډه تکبير ووايي، او بيا دي رکوع وکړي، د امام قدوري رَحِمَهُ الله په نيز هم دا مذهب صحيح دی، او په جامع صغير کي دي چي رکوع ته د تللو په وخت کي به تکبير وايي، يعني رکوع ته د ټيټېدلو په وخت کي به تکبير شروع کوي، امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چي همدا صحيح ده.

دليل: دا دی چي نبي ﷺ به د هر کښته کېدلو او پورته کېدلو په وخت کي تکبير وايی، د دې روايت ابن مسعود ﷺ داسي کړی دی: كان النبي ﷺ يكبر في كل خفض و رفع وقيام وقعود و أبوبكر و عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، (يعني نبي کريم ﷺ او شيخينو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به د هر کښته والي او پورته والي او د ولاړي او ناستي په وخت کي تکبير وايی)، نو په دې حديث سره هم رکوع ته د تللو په وخت کي تکبير ويل ثابت سوه).

ويحذف الخ د دې حاصل دا دی چي په الله أکبر کي به نه په شروع کي مد کوي او نه په آخر کي، په شروع کي د مد کولو مطلب دا دی چي د الله الف په مد سره اداء کړی سي لکه آلله، ځکه چي دلته بيا د استفهام معنیٰ ورکوي، او د الله أکبر معنیٰ به سي: آيا الله غټ دی؟ حال دا چي د شريعت له رويه دا معنیٰ بالکل غلطه ده، ځکه چي د تکبير په ذريعه سره د خدای لويي ثابتيږي، شک او تردد نه ثابتيږي.

همدارنګه په آخر کي د مد کولو مطلب دا دی چي په دويم لفظ يعني أکبر کي الف د زبر(زور) پر ځای په مد سره وويل سي يعني أکبار وويل سي، نو دا هم غلطي ده، ځکه چي په دې صورت کي يې ترجمه داسي کيږي چي: الله آيا غټ دی؟ او ښکاره ده چي دا ترجمه هم بالکل غلطه ده او د شريعت له نظره خلاف ده، همدارنګه د أکبر په آخر کي مد کول هم يو ډول لغوي غلطي ده، نو ځکه لمونځ ګزار ته له داسي غلطيو څخه ځان ساتل پکار دي او بالکل په صحيح توګه سره اَللهُ أَكْبَرُ ويل پکار دي.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب ما جاء في التكبير عند الركوع والسجود، حديث رقم: ٢٥٣.

د رکوع طریقه او تسبیح

وَيَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ او لمونځ کونکی به په خپلو دواړو لاسو سره خپل دواړه زنګونان نیسي وَيُفَرِّجُ بَيْنَ أَصَابِعِهِ او د ګوتو په مینځ کې به پراخي راولي(یعني د ګوتو په مینځ کي به فاصله راولي) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِأَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ • ځکه نبي ﷺ حضرت انس رضی الله عنه ته فرمایلي وو إِذَا رَكَعْتَ فَضَعْ يَدَيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ کله چي ته رکوع کوې نو خپل دواړه لاسونه پر خپلو دواړو زنګونانو ایږده وَفَرِّجْ بَيْنَ أَصَابِعِكَ او دخپلو ګوتو په مینځ کي پراخي راوله وَلَا يُنْدَبُ إِلَى التَّفْرِيجِ إِلَّا فِي هَذِهِ الْحَالَةِ او صرف په دغه حالت کي (د ګوتو) پراخوالی مستحب دی لِيَكُونَ أَمْكَنَ مِنَ الْأَخْذِ دې لپاره چي په ښه توګه سره(د زنګونانو) نیول ممکنه وي وَلَا إِلَى الضَّمِّ إِلَّا فِي حَالَةِ السُّجُودِ او د ګوتو یو ځای کول (جوختول) صرف د سجدې په حالت کي مستحب دي وَفِيمَا وَرَاءَ ذَلِكَ يُتْرَكُ عَلَى الْعَادَةِ او له ذکر سوو حالتونو څخه علاوه به ګوتي پر خپل عادت پرېښوول کیږي وَيَبْسُطُ ظَهْرَهُ او لمونځ کونکي به خپله ملا (په رکوع کي) غوړوي (یعني خپله ملا به هواره ساتي) لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • كَانَ إِذَا رَكَعَ بَسَطَ ظَهْرَهُ ځکه کله چي به نبي ﷺ رکوع کوله نو ملا به یې هواره ساتله وَلَا يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَلَا يُنَكِّسُهُ او لمونځ کونکی به (په رکوع کي) نه سر پورته کوي او نه به یې کښته کوي(ټیټوي) لِأَنَّ النَّبِيَّ • عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كَانَ إِذَا رَكَعَ لَا يُصَوِّبُ رَأْسَهُ وَلَا يُقْنِعُهُ ځکه نبي ﷺ چي به کله رکوع کوله نو نه به یې سر کښته کوی او نه به یې پورته کوی وَيَقُولُ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثَلَاثًا او (په رکوع کي به) درې واره سبحان ربي العظیم وایي وَذَلِكَ أَدْنَاهُ او درې واره د دې کمه اندازه ده لِقَوْلِهِ • عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ فِي رُكُوعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثَلَاثًا ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي: کله چي په تاسو کي څوک رکوع کوي نو هغه دي په رکوع کي درې واره سبحان ربي العظیم وایي وَذَلِكَ أَدْنَاهُ او دا یې کمه اندازه ده أَيْ أَدْنَى كَمَالِ الْجَمْعِ یعني د جمعي د کمال کمه اندازه ده.

اللغات: ﴿رُكْبَتَيْهِ﴾ تثنیه ده، واحد یې رُكْبَةٌ دی: زنګون، ﴿يَبْسُطُ﴾ د نصر د باب مضارع صیغه ده: غوړول، ﴿يُفَرِّجُ﴾ د تفعیل د باب مضارع صیغه ده: غوړول، ﴿يُنْدَبُ﴾ دا هم د نصر د باب مضارع ده: مستحب کېدل، ﴿يُصَوِّبُ﴾ د تفعیل د باب مضارع صیغه ده: پورته کول، سیده کول، ﴿يُنَكِّسُ﴾ د ضرب د باب مضارع صیغه ده: سر کښته کول.

• تخریج: أخرجه ابو داؤد فی کتاب الصلاة، باب الصلاة من لایقیم صلبه فی الرکوع، حدیث رقم:۸۵۹، ۸۶۳.

• تخریج: أخرجه ابن ماجه فی کتاب الاقامة، باب الرکوع فی الصلاة، حدیث رقم:۸۷۲.

• تخریج: أخرجه الترمذي فی کتاب الصلاة، باب ما جاء فی وصف الصلاة، حدیث رقم:۳۰۲.

• تخریج: أخرجه ابو داؤد فی کتاب الصلاة، باب مقدار الرکوع والسجود، حدیث رقم:۸۸۶.

تشریح: په دې عبارت کي د رکوع طريقه او د رکوع تسبيح بيانيږي، نو د رکوع سنت طريقه دا ده چي لمونځ کونکی دې په خپلو دواړو لاسونو خپل دواړه زنګونان ونيسي، او د لاس ګوتي دې پراخه پريږدي، او دواړه پنډۍ دې سيده ولري.

دليل: دا دی چي نبي ﷺ حضرت انس رضي الله عنه ته (کوم چي د نبي ﷺ خادم وو) وفرمايل: اې بچيه! کله چي ته رکوع کوې نو دواړه لاسونه پر زنګونانو ايږده، او خپلي ګوتي پراخي لره.

ويندب الخ صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د رکوع په حالت کي ګوتي پراخه کول(خوروول) مستحب دي، د دې لپاره چي په ګوتو باندي زنګونان په ښه ډول سره ونيول سي، او له رکوع څخه ملسوا په بل حالت کي ګوتي پراخه ساتل مستحب نه دي، او د سجدې په حالت کي د لاس ګوتي يو ځای کول (جوختول) مستحب دي، د دې لپاره چي د ګوتو سرونه د قبلې وطرف ته متوجه سي، له دې دواړو حالتونو څخه به ملسوا په نورو حالتونو کي ګوتي پر خپل عادت پرېښول کيږي، يعني نه به سره يو ځای کيږي او نه به سره پراخه کيږي بلکي خپل پر طبعي حالت به ايښول کيږي، د رکوع په حالت کي به لمونځ کونکی ملا دومره اندازه هواره او برابره ساتي چي که پر ملا له اوبو څخه ډکه پياله(کوپ) کېښول سي نو هغه به پر خپل ځای ولاړه پاته وي او بنوري به نه.

دليل: دا دی چي نبي ﷺ به کله رکوع کوله، نو خپله شا به يې هواره او برابره ساتله. د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايت دی: أنه كان يعتدل لو وضع على ظهره قدح ماء تستقر (يعني نبي ﷺ به ملا دومره هواره ساتله چي که د هغه پر ملا د اوبو ډکه پياله ايښول سوې وای نو هغه به پر خپل ځای پاته وای (يعني بنوريدلای به نه)).

ولا يرفع رأسه الخ صاحب د قدوري رَحِمَهُ الله وايي چي د رکوع په حالت کي به سر نه پورته کوي او نه به يې کښته کوي، يعني د کوناټو سره به يې برابروي، دليل يې دا چي کله به رسول الله ﷺ رکوع کوله، نو خپل سر به يې نه کښته کوی او نه به يې پورته کوی.

د رکوع تسبيحات: د رکوع تسبيحات دا دي: چي درې واره به سبحان ربي العظيم وايي، درې واره يې ويل کمه اندازه ده، کنې پنځه يا اووه يا له دې څخه يې زيات هم ويلای سي، دليل د نبي ﷺ دا قول دی: إذا ركع أحدكم فليقل في ركوعه سبحان ربي العظيم ثلثا، (يعني کله چي په تاسو کي څوک رکوع کوي نو په خپله رکوع کي دې درې واره سبحان ربي العظيم وايي) او درې واره د جمع د کمال او بشپړتيا کمه درجه ده.

په قومه کي به امام او مقتدي څه وايي؟ (د فقهاؤ قولونه)

ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ بيا به امام خپل سر راپورته کړي **وَيَقُولُ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ** او سمع الله لمن حمده به ووايي **وَيَقُولُ الْمُؤْتَمُّ: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ** او مقتدي به ربنا لک الحمد ووايي **وَلَا يَقُولُهَا الْإِمَامُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله** او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز به امام ربنا لک الحمد نه وايي **وَقَالَا يَقُولُهَا فِي نَفْسِهِ** او صاحبين رَحِمَهُ الله فرمايي چي په خپل زړه کي به يې وايي **لِمَا رَوَىٰ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ** د هغه حديث په وجه کوم چي له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت سوی دی **أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ** • **كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الذِّكْرَيْنِ** چي نبي ﷺ به دواړه ذکرونه جمع کوله **وَلِأَنَّهُ حَرَّضَ**

• تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الأذان، باب ما يقول الإمام ومن خلفه إذا رفع رأسه من الركوع، حديث رقم:۷۹۵.

غَيْرُهُ فَلَا يَنْسٰى نَفْسَهُ او په دې وجه هم چې امام مقتديان دې ته وهڅول نو خپل ځان به نه هېروي وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ قَوْلُه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی إِذَا قَالَ الْإِمَامُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ چې کله امام سمع الله لمن حمده ووايي فَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ نو تاسو ربنا لك الحمد وواياست هٰذِهٖ قِسْمَةٌ دا تقسيم (وېش) دی وَأَنَّهَا تُنَافِي الشِّرْكَةَ او تقسيم د شرکت منافي (ضد) دی وَلِهٰذَا لَا يَأْتِي الْمُؤْتَمُّ بِالتَّسْمِيْعِ عِنْدَنَا نو ځکه به زموږ په نيز مقتدی سمع الله لمن حمده نه وايي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَلِأَنَّهُ يَقَعُ تَحْمِيْدُهُ بَعْدَ تَحْمِيْدِ الْمُقْتَدِيْ او په دې وجه هم چې د امام ربنا لك الحمد به د مقتدي له ربنا لك الحمد څخه وروسته واقع سي وَهُوَ خِلَافُ مَوْضُوْعِ الْإِمَامَةِ او دا د امامت له شان (او مرتبې) څخه خلاف دي وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى حَالَةِ الْاِنْفِرَادِ او صاحبينو چې کوم روايت کړی دی هغه د منفرد والي پر حالت حمل سوی دی وَالْمُنْفَرِدُ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا فِي الْأَصَحِّ او منفرد به د صحيح قول مطابق دواړه ذکرونه جمع کوي وَإِنْ كَانَ يُرْوٰى الْاِكْتِفَاءُ بِالتَّسْمِيْعِ که څه هم دا روايت سته چې منفرد به صرف پر سمع الله لمن حمده اکتفاء کوي وَيُرْوٰى بِالتَّحْمِيْدِ او يو روايت دا هم سته چې منفرد به صرف پر ربنا لك الحمد اکتفاء کوي وَالْإِمَامُ بِالدَّلَالَةِ عَلَيْهِ آتٍ بِهٖ مَعْنًى او امام په ربنا لك الحمد د دلالت کولو په وجه د معنیٰ په توګه د ربنا لك الحمد اداء کونکی سو.

اللغات: ﴿حرّض﴾ د تفعيل د باب ماضي صيغه ده: ترغيب ورکول، پارول، هڅول. ﴿تسميع﴾ سمع الله لمن حمده ويل. ﴿تحميد﴾ ربنا لك الحمد ويل.

تشريح: د عبارت تر حل مخکي دا خبره په ياد لرئ! چې تسميع د سمع الله لمن حمده مخفف دی، او تحميد د ربنا لك الحمد مخفف دی، حنفي عالمان خو پر دې خبره متفق دي چې که لمونځ ګزاره يوازي لمونځ کوي (يعني منفرد وي) نو تسميع او تحميد به دواړه وايي، همدارنګه که يو سړی په بل چا پسې لمونځ کوي نو هغه به صرف تحميد وايي، لېکن اختلاف په دې کي دی چې امام به په خپله دواړه وايي او که به صرف پر تسميع اکتفاء کوي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې امام به صرف پر تسميع اکتفاء کوي او تحميد به نه وايي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې د منفرد په ډول به امام هم تسميع او تحميد دواړه جمع کوي.

د صاحبينو دليل: د حضرت ابو هريره رضی الله عنه دا حديث دی: أن النبي ﷺ كان يجمع بين الذكرين، او په صحيحين کي د حضرت ابو هريره رضی الله عنه يو بل حديث هم دې ته نږدې سته چې د هغه په آخر کي راغلي دي: ثم يقول سمع الله لمن حمده حين يرفع صلبه من الركوع ثم يقول وهو قائم ربنا لك الحمد...الخ، (يعني نبي ﷺ چې به کله له رکوع څخه خپله ملا راپورته کوله نو سمع الله لمن حمده به يې وايی، او بيا به يې د ولاړي په حالت کي ربنا لك الحمد وايی)، له دې دواړو روايتونو څخه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله استدلال په دې توګه دی چې په دې روايت کي له نبي ﷺ څخه جمع بين التسميع

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب فضل اللهم ربنا لك الحمد، حديث رقم:٧٩٦.

والتحميد ثابته سوه، او نبي ﷺ به په خپل ژوند مبارک کي زياتره او اکثره امامت ورکوی، نو معلومه سوه چي نبي ﷺ به د امامت په حالت کي جمع بين الذکرين کوله، نو ځکه موږ هم دا د امام لپاره سنت او مستحب وګرځول، که څه هم هغه يې په زړه کي ووايي.

د صاحبينو عقلي دليل: دا دی چي کله امام په تسميع ويلو سره مقتديان پر ذکر را هڅوي او د ذکر ترغيب ورکوي، نو عقلاً هم دا خبره په ذهن کي راځي چي امام دي په خپله هم هغه ذکر اداء کړي، ځکه چي هغه ته دا په ښه توګه معلومه ده چي د داسي نه کولو په صورت کي به د أتأمرون الناس بالبر وتنسون أنفسكم تر وعيد لاندي راسي.

د امام صاحب دليل: ولأبي حنيفة رَحِمَهُ الله له دې ځايه د امام صاحب دليل بيانوي حاصل يې دا دی چي نبي ﷺ فرمايلي دي کله چي امام سمع الله لمن حمده ووايي نو مقتدي به ربنا لك الحمد وايي، او د نبي ﷺ دا فرمان په اصل کي د امام او د مقتدي لپاره د تقسيم او وېش حيثيت لري، يعني پر دې موقع د اما وظيفه تسميع ده او د متقديانو وظيفه تحميد ده، نو کله چي د امام او مقتديانو په مينځ کي تقسيم وکړی سو، نو اوس د امام يا د مقتدي لپاره د دې دواړو جمع کول د نبي ﷺ د فرمان هم خلاف دي او له تقسيم څخه هم منافي دي، نو ځکه زموږ په نيز (د امام صاحب په نېز) به امام تحميد نه وايي، او مقتدی به تسميع نه وايي، که څه هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د مقتدي لپاره تسميع هم جائز ده، لېکن زموږ په نېز به په اتفاق سره مقتدی تسميع نه وايي.

د امام صاحب عقلي دليل: دا دی چي د امام په حق کي د امامت شان دا دی چي مقتدي به د ده اتباع او تابعداري کوي، او د تابعداري مفهوم هغه وخت ثابتيږي چي کله امام مخکي تحميد ووايي او مقتدي وروسته تحميد ووايي، حال دا چي په مذکوره مسئله کي چي کله امام سمع الله لمن حمده ووايي، نو د مقتديانو پر ژبه د ربنا لك الحمد کلمه جاري سي، اوس که موږ امام هم د تحميد مکلّف وګرځوو نو ښکاره ده چي د امام تحميد به د مقتديانو تر تحميد وروسته واقع سي، او دا د امامت له شان څخه هم خلاف ده او د اتباع له مفهوم څخه هم منافي ده، نو ځکه د امام لپاره د تحميد وظيفه سنت او مستحب نه ده.

جواب: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله له وما رواه څخه د صاحبينو د حديث جواب ورکوي فرمايي چي دا د انفراد او يوازي والي پر حالت حمل دي، او د دې خو امام صاحب هم قائل دی چي منفرد به تسميع او تحميد دواړه جمع کوي، همدا صحيح ده.

د صاحبينو د عقلي دليل جواب دا دی چي کله امام مقتديان تحميد ته هڅوي، نو څومره مقتديان چي تحميد وايي د ټولو له طرفه به امام ته ثواب رسيږي، نو ګواکي امام په معنوي توګه باندي هم تحميد ووايي، نو ځکه اوس د امام لپاره د تحميد ويلو ضرورت نسته.

د ارکانو د تعديل بيان (او د قومې، سجدې، جلسې حکم، او په دې باره کي د فقهاؤ قولونه او دليلونه)

قَالَ: ثُمَّ إِذَا اسْتَوَى قَائِمًا فرمايي چي بيا کله لمونځ کونکی سيده ودرېږي كَبَّرَ وَسَجَدَ نو تکبير به ووايي او سجده به وکړي أَمَّا التَّكْبِيرُ وَالسُّجُودُ فَلِمَا بَيَّنَّا هر چي تکبير او سجده کول دي نو دا له هغه دليل څخه ثابت دي کوم چي موږ بيان کړی وَأَمَّا الِاسْتِوَاءُ قَائِمًا فَلَيْسَ بِفَرْضٍ او پاته سو سيده درېدل نو هغه فرض نه دي وَكَذَا الْجَلْسَةُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ همدارنګه د دوو سجدو په مينځ کي کښېنستل (هم فرض نه دي) وَالطُّمَأْنِينَةُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ او

(همدارنګه) په رکوع او سجده کې آرام کول (هم فرض نه دي) وَهٰذَا ● عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ دا حکم د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی قَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: يَفْتَرِضُ ذٰلِكَ كُلُّهُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا ټول شيان فرض دي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ ● دا امام شافعي رَحِمَهُ الله قول هم دی لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قُمْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: ولاړ سه لمونځ وکړه ځکه چې تا لمونځ نه دی کړی قَالَهُ لِأَعْرَابِيٍّ حِيْنَ أَخَفَّ الصَّلَاةَ دا جمله نبي ﷺ يو صحرايي ته فرمايلې وه چې کله هغه په تخفيف سره لمونځ وکړی وَلَهُمَا أَنَّ الرُّكُوْعَ هُوَ الِانْحِنَاءُ وَالسُّجُوْدَ هُوَ الِانْخِفَاضُ لُغَةً د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې د لغت په اعتبار سره د رکوع معنیٰ ده: ټيټېدل (کږېدل) او د سجدې معنیٰ ده: کښته کېدل فَتَتَعَلَّقُ الرُّكْنِيَّةُ بِالْأَدْنٰى فِيْهِمَا نو ځکه به فرض په دې دواړو کې د ادنیٰ سره تعلق لري وَكَذَا فِي الِانْتِقَالِ إِذْ هُوَ غَيْرُ مَقْصُوْدٍ او همدغه حال په منتقل کېدلو کې هم دی ځکه چې هغه مقصود نه دي وَفِيْ آخِرِ مَا رُوِيَ تَسْمِيَتُهُ إِيَّاهُ صَلَاةً او امام شافعي رَحِمَهُ الله چې کوم (د صحرايي) روايت کړی دی د هغه په آخر کې دې ته لمونځ ويل سوي دي حَيْثُ قَالَ: وَمَا نَقَصْتَ مِنْ هٰذَا شَيْئًا فَقَدْ نَقَصْتَ مِنْ صَلَاتِكَ لکه څرنګه چې نبي ﷺ فرمايلي دي: که تا کوم شی له دې څخه کم کړی نو ستا په لمانځه کې کمي راغله ثُمَّ الْقَوْمَةُ وَالْجَلْسَةُ سُنَّةٌ عِنْدَهُمَا بيا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز قومه او جلسه سنت دي وَكَذَا الطُّمَأْنِيْنَةُ فِيْ تَخْرِيْجِ الْجُرْجَانِيِّ رَحِمَهُ اللهُ همدارنګه د امام جرجاني رَحِمَهُ الله د تخريج مطابق اطمينان (تعديلِ ارکان) سنت دی وَفِيْ تَخْرِيْجِ الْكَرْخِيِّ رَحِمَهُ اللهُ وَاجِبَةٌ او د امام کرخي رَحِمَهُ الله د تخريج مطابق واجب دی حَتّٰى تَجِبَ سَجْدَتَا السَّهْوِ بِتَرْكِهَا عِنْدَهُ تر دې چې د امام کرخي رَحِمَهُ الله په نيز د اطمينان په پرېښوولو سره د سهوي دوې سجدې واجبيږي.

اللغات: ﴿إِسْتِوَاءْ﴾ برابرېدل، سيده کېدل، ﴿إِنْحِنَاءْ﴾ کږېدل، ټيټېدل، ﴿إِنْخِفَاضْ﴾ کښته کېدل، ﴿قَوْمَة﴾ له رکوع څخه د پورته کېدلو په وخت کې ولاړه، ﴿جَلْسَة﴾ د دوو سجدو په مينځ کې ناسته.

تشريح: **مسئله**: داده چې کله لمونځ ګزاره له رکوع څخه راپورته سي او سيده ودرېږي، نو تکبير دې ووايي او سجدې ته دې ولاړ سي، دليل يې مخکې تېر سوی چې انه ﷺ کان يکبر عند کل خفض ورفع، او د سجدې دليل د الله تعالیٰ دا قول وارکعوا واسجدوا دی. صاحب د هدايه رَحِمَهُ الله فرمايي چې تعديل د ارکانو يعني له رکوع څخه سيده درېدل چې قومه ورته وايي، او د دواړو سجدو په مينځ کې کښېنستل او په رکوع او سجده کې اطمينان يعني د څه وخت لپاره وقفه کول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز فرض نه دي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز تعديل د ارکانو فرض دی، امام شافعي رَحِمَهُ

● القول الراجح: قول أبي حنيفة و محمد رَحِمَهُمَا الله، يعني أنها واجبة ويلزم سجود السهو بتركها ساهياً كذا في الفقه الاسلامي ج:۱، ص:۶۶. [القول الراجح، ج:۱، ص:۷۹]

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب صلاة من لايقيم صلبه في الركوع والسجود، حديث رقم:۸۵۶.

الله هم د دې قائل دی، ثمره د اختلاف دا ده چې د تعدیل له ارکانو څخه علاوه.به د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز لمونځ جائز وي، خو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز به جائز نه وي.

د امام ابو یوسف دلیل: د اعرابي یعني د صحرایي حدیث دی، د صحرایي نوم خلاد بن رافع ﷺ وو، په صحیحینو کې دا حدیث په دې الفاظو سره روایت سوی دی:

أَنَّ أَعْرَابِيًّا دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ، فَرَجَعَ فَصَلَّى كَمَا صَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ لَهُ: ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ. فَقَالَ لَهُ فِي الثَّالِثَةِ. وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ فَعَلِّمْنِي. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا حَتَّى تَقْضِيَهَا. (یعني یو صحرایي مسجد ته راغلی لمونځ یې وکړی، بیا راغلی نبي ﷺ ته یې سلام وکړی، نبي ﷺ ورته وفرمایل: واپس ولاړه سه لمونځ وکړه ځکه چې تا لمونځ کړی نه دی، (یعني ستا لمونځ سوی نه دی) نو هغه واپس ولاړی او د اول وار په څېر یې بیا لمونځ وکړی بیا راغلی او د الله رسول ﷺ ته یې سلام وکړی، نبي ﷺ ورته بیا وفرمایل: واپس ولاړه سه لمونځ وکړه ځکه چې تا لمونځ کړی نه دی، نو هغه صحرایي په دریم وار نبي ﷺ ته وویل: په هغه ذات دې مې قسم وي چې ته یې رښتوني پیغمبر رالېږلی یې له دې څخه ماسوا کوم صورت غوره دی تاسو هغه ما ته وښیه یاست، نبي ﷺ ورته وفرمایل: کله چې ته د لمانځه لپاره ودرېږې نو تکبیر ووایه بیا چې له قرآن څخه کوم در ته اسانه وي هغه ووایه بیا رکوع وکړه تر دې چې د رکوع په حالت کې مطمئن سې، بیا دغسې په خپل ټوله لمانځه کې وکړه تر دې چې لمونځ پوره سي).

په دې حدیث سره په دې توګه دلیل نیول کیږي چې د تعدیلِ ارکان د پرېښودلو په وجه نبي ﷺ د لمانځه نفي وکړه، او ویې فرمایل: فإنك لم تصل، او دا مرتبه د فرضو وي، ځکه چې له فرضو څخه ماسوا د بل شي په منتفي کېدلو سره لمونځ نه منتفي کیږي، نو ثابته سوه چې په لمانځه کې تعدیل د ارکانو فرض دی.

د طرفینو دلیل: د الله تعالیٰ دا فرمان دی: واركعوا واسجدوا، په دې توګه چې رکوع ویل کیږي مطلقاً ټیټېدلو ته او سجده ویل کیږي کښته کېدلو ته، یعني پر مخکه مخ لګولو ته، نو مطلق رکوع او مطلق سجده فرض سوه او له آیت څخه هم دا مطلوب دی، او څرنګه چې دا آیت خاص د رکوع او سجدې پر معنیٰ دلالت کوي، او خاص د بیان محتاج نه وي، نو ځکه د صحرایي حدیث د دې آیت لپاره بیان نه سي واقع کېدلای، او که تاسو وایاست چې دا آیت دې د صحرایي په حدیث سره منسوخ وګرځول سي، نو موږ وایو چې دا هم ممکنه نه ده، ځکه چې دا حدیث خبر واحد دی، او په خبر واحد سره کتاب الله نه سي منسوخ کېدلای، نو ثابته سوه چې مطلق ټیټېدل او پر مځکه مخ ایښوول فرض دي.

جواب: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله چې د صحرایي کوم حدیث ذکر کړی، د هغه جواب دا دی چې نبي ﷺ د دې حدیث په آخر کې داسې ویلي دي: وما نقصت من هذا شيئا فقد نقص من صلاتك. (یعني که په دې شیانو کې تا کمي وکړه، نو ستا په لمانځه کې به کمي راسي)، په دې جمله کې نبي ﷺ د تعدیلِ ارکان د پرېښوولو سره سره د صحرایي عبادت ته لمونځ ویلي دي، او د صلاة نوم یې ورکړی دی، نو که تعدیل د ارکانو فرض وای نو نبي ﷺ به د صحرایي پر عبادت د صلاة نوم نه ایښوولای، لهذا معلومه سوه چې د تعدیلِ ارکان په پرېښوولو سره په لمانځه کې نقصان راځي، خو لمونځ نه

فاسديږي، او ښکاره ده چي د فرضو مرتبه داسي نه وي، نو د صحرايي له حديث څخه د ارکانو د تعديل فرضيت نه ثابتيږي.

ثم القومة الخ صاحب د هدايې فرمايي چي قومه او د دواړو سجدو په مينځ کي جلسه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز سنت ده او پاته سو په رکوع او سجده کي د اطمينان حکم نو د دې په تخريج کي اختلاف دی، د امام ابو عبد الله جرجاني رَحِمَهُ الله تخريج دا دی چي اطمينان هم سنت دی، او د امام کرخي رَحِمَهُ الله تخريج دا دی چي واجب دیٌ، تر دې چي د امام کرخي په نيز د اطمينان په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبيږي.

د جرجاني رَحِمَهُ الله د قول وجه دا ده چي اطمينان د رکن د تکميل (بشپړتيا) لپاره مشروع سوی دی او کوم شی چي د رکن د تکميل لپاره وي هغه سنت وي، نو اطمينان به هم سنت وي، او د امام کرخي د قول وجه دا ده چي اطمينان د داسي رکن د تکميل لپاره مشروع سوی دی چي هغه بذات خود مقصود دی، او کوم شی چي داسي وي هغه واجب وي، نو ځکه به دا اطمينان واجب وي.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی، قال العلامة جلال الدين الخوارزمي رَحِمَهُ الله (قوله ثم القومة والجلسة سنة) أي القومة بعد ما رفع رأسه من الركوع والجلسة بين السجدتين سنة عندهما وكذا الطمأنينة في الركوع والسجود عند عبد الله الجرجاني رَحِمَهُ الله. (الكفاية ص: ۲۶۲). [القول الراجح ج: ۱، ص: ۷۹]

د سجدې طريقه

وَيَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ او (لمونځ کونکي به) په سجده کي دواړه لاسونه پر مځکه اږدي لِأَنَّ وَائِلَ بْنَ حُجْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ● وَصَفَ صَلَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځکه چي وائل بن حجر ﷺ (چي کله) د نبي ﷺ لمونځ بيان کړی فَسَجَدَ نو سجده يې وکړه وَادَّعَمَ عَلَى رَاحَتَيْهِ او پر دواړو ورغوو يې تکيه ولګوله وَرَفَعَ عَجِيزَتَهُ او شاتنی حصه يې پورته کړه وَوَضَعَ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ او (لمونځ کونکي به) خپل مخ د دواړو ورغوو په مينځ کي اږدي وَيَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ او دواړه لاسونه به د دواړو غوږونو پر برابر اږدي لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● فَعَلَ كَذٰلِكَ ځکه روايت سوی دی چي رسول الله هم داسي کړي دي.

اللغات: ﴿إِدَّعَمَ﴾ په اصل کي إِدْتَعَمَ وو، چي د صرفي قانون په وجه سره إِدَّعَمَ ځني جوړ سو: پر ورغوي تکيه کول. ﴿رَاحَتَيْنِ﴾ دواړه ورغوي، ﴿عَجِيزَةٌ﴾ د انسان شاتنی حصه، کوناټي (سرين).

تشريح: فرمايي: چي کله لمونځ کونکی سجده وکړي نو تر ټولو مخکي دي پر مځکه لاسونه کښېږدي بيا دي خپل مخ د دواړو ورغوو په مينځ کي کښېږدي، خپل کوناټي دي پورته کړي، او دواړه لاسونه دي د دواړو غوږونو پر برابر کښېږدي، دا د سجدې سنت طريقه ده، همدغه له نبي ﷺ څخه را نقل سوې ده، لکه څرنګه چي په خپله د رسول الله ﷺ صحابي حضرت وائل بن حجر هم داسي سجده کړې ده، سربېره پر دې علامه ابن الهمام له ابو حميد ساعدي ﷺ، حضرت براء بن عازب ﷺ او له حضرت وائل بن حجر ﷺ څخه بېلا بېل روايتونه را نقل کړي دي چي په هغه کي

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب صفة السجود، حديث رقم: ۸۹۶.

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الصلاة، باب وضع يده اليمنى على اليسرى، حديث رقم: ۷۹۶.

همدغه مضمون دی چي: أنه ﷺ لما سجد وضع كفيه حذاء منكبيه ووضع يديه حذاء أذنيه. (يعني نبي ﷺ به د سجدې کولو په وخت کي خپل دواړه ورغوي د اوږو پر برابر ايښوول، او دواړه لاسونه به يې د غوږونو پر برابر ايښوول). (فتح القدير ج۱، ص۳۰۹)

پر پزه او تندي د سجدې کولو يا پر يوه د اکتفاء کولو حکم (او په دې باره کي د فقهاؤ قولونه)

قَالَ: وَسَجَدَ عَلَى أَنْفِهِ وَجَبْهَتِهِ فرمايي: چي لمونځ کونکي به پر خپله پزه او پر خپل تندي سجده وکړي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● وَاظَبَ عَلَيْهِ ځکه چي نبي ﷺ پر دې همېشتوب کړی دی فَإِنِ اقْتَصَرَ عَلَى أَحَدِهِمَا بيا که يې په دې دواړو کي پر يوه اکتفاء وکړه جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز جائز دي وَقَالَا ●: لَا يَجُوزُ الِاقْتِصَارُ عَلَى الْأَنْفِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ او صاحبين فرمايي: چي بغير له عذره پر پزه اکتفاء کول جائز نه دي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْهُ او همدغه روايت له امام صاحب څخه دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ ما ته حکم سوی دی چي پر اوو هډوکو سجده وکړم وَعَدَّ مِنْهَا الْجَبْهَةَ او له هغو څخه يې (يو) تندی شمار کړی وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ السُّجُودَ يَتَحَقَّقُ بِوَضْعِ بَعْضِ الْوَجْهِ د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د مخ د بعضي حصې په ايښوولو سره سجده ثابتيږي وَهُوَ الْمَأْمُورُ بِهِ او همد دې حکم سوی دی إِلَّا أَنَّ الْخَدَّ وَالذَّقَنَ خَارِجٌ بِالْإِجْمَاعِ خو باړخوګان او زنه په اجماع سره وتلي دي وَالْمَذْكُورُ فِيمَا رُوِيَ الْوَجْهُ فِي الْمَشْهُورِ او په مشهوره روايت کي (صرف) مخ ذکر سوی دی وَوَضْعُ الْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ سُنَّةٌ عِنْدَنَا او د دواړو لاسونو او دواړو زنګونانو ايښوول زموږ په نيز سنت دي لِتَحَقُّقِ السُّجُودِ بِدُونِهِمَا ځکه چي له دوی څخه بغير هم سجده ثابتيږي وَأَمَّا وَضْعُ الْقَدَمَيْنِ پاته سو د دواړو پښو ايښوول فَقَدْ ذَكَرَ الْقُدُورِيُّ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ فَرِيضَةٌ فِي السُّجُودِ نو امام قدوري رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چي هغه په سجده کي فرض دي.

اللغات: ﴿أَنْف﴾ پزه، ﴿جَبْهَتِهِ﴾ د دې په آخر کي هاء د ضمير ده: تندی، د تندي هډوکی، ﴿خَدّ﴾ باړخو، ﴿ذَقَن﴾ زنه.

تشريح: په دې عبارت کي د سجدې طريقه بيانيږي، حاصل يې دا دی چي لمونځ کونکي به پر پزه او تندي دواړو سجده کوي، ځکه چي نبي ﷺ هميشه داسي کړي دي، لکه څرنګه چي په طبراني شريف کي د ابو يعلىٰ رَحِمَهُ الله په حواله سره دا حديث ذکر سوی دی: كان ﷺ يضع أنفه على الأرض مع جبهته. (يعني نبي ﷺ به د سجدې په وخت کي د تندي سره پزه هم پر مځکه ايښووله)، له دې څخه معلوميږي چي نبي ﷺ به همېشه پر دواړو سجده کوله. بيا که يو سړی صرف پر تندي سجده وکړي نو زموږ په نيز دا جائز دي، ليکن که يو سړی په سجده کي صرف پر پزه اکتفاء

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب سنة الجلوس في التشهد، حديث رقم:۸۲۸.
● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كذا في فتح القدير ج:۱، ص:۲۶۴.
● تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم: البخاري في كتاب الاذان، باب السجود على سبعة اعظم، حديث:۸۰۹ - ۸۱۰، ومسلم في كتاب الصلاة، حديث رقم:۲۲۸.

وكړه، نو د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز دا صورت هم جائز دی، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز له يو عذر څخه بغير پر پزه اکتفاء کول جائز نه دي.

د صاحبينو دليل: هغه حديث دی کوم چې په زياتره کتابونو کي سته يعني: أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ (ما ته پر اوو هډوکو د سجدې کولو حکم سوی دی)، صاحبين رَحِمَهُمَا الله په دې حديث سره دليل په دې توګه نيسي چې پر کومو اوو هډوکو چې نبي ﷺ ته د سجدې کولو حکم سوی دی په هغو کي پزه نسته، هغه اووه هډوکي دا دي: (۱) تندی (۲ – ۳) دواړه لاسونه (۴ – ۵) دواړه زنګونان، (۶ – ۷) د دواړو پښو (قدمونو) سرونه؛ په دې اوو (۷) سره وو کي پزه نسته، نو ګواکي پزه د سجدې ځای هم نه دی، نو ځکه به پر دې اکتفاء کول هم جائز نه وي، خو څرنګه چې د مخ او تندي سره جوخت ده، نو له سجدې څخه به هم جلا نه وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې په قرآن کريم کي د واسجدوا په ذريعه سره د مطلق سجدې حکم سوی دی، او پر مځکه د مخ په بعضي حصې ايښوولو سره هم سجده ثابتيږي، ځکه چې ټوله مخ پر مځکه ايښوول ناممکنه دی، ځکه چې پزه او تندی دواړه راپورته سوي هډوکي دي او په پوره توګه پر مځکه نه سي ايښوول کېدلای، نو ځکه به د بعضي مخ ايښوول مأمور به وي (يعني کوم امر چې د مخ ايښوولو سوی دی له هغه څخه به پوره مخ نه بلکي بعضي مخ مراد وي)، او څرنګه چې تندی د سجدې محل (ځای) دی او يوازي پر تندي اکتفاء کول جائز هم دي، نو ځکه به پزه هم د سجدې محل وي او صرف پر پزه به اکتفاء کول جائز هم وي.

جواب: والمذكور فيما الخ له دې ځايه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د قياس جواب ورکول سوی دی، تفصيل يې دا دی: صاحبينو چې کوم حديث يعني أمرت على أن أسجد... الخ ذکر کړی دی، په دې حديث کي خو د جبهة لفظ دی، لېکن دا حديث په نورو طريقو سره هم روايت سوی دی، او په هغو ټولو کي د جبهة پر ځای د وجه لفظ راغلی دی، لکه څرنګه چې په سنن اربعه ؤ کي د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په حواله همدغه حديث داسي ذکر سوی دی: أنه سمع رسول الله ﷺ يقول إذا سجد العبد سجد معه سبعة آراب: وجهه وكفاه وركبتاه وقدماه. (يعني کله چې بنده سجده کوي نو د هغه سره اووه اندامونه سجده کوي، مخ، دواړه ورغوي، دواړه زنګونان، دواړه پښې). نو له دې څخه معلومه سوه چې په مشهوره حديثونو کي د جبهة پر ځای د وجه لفظ دی او په وجه کي پزه او تندی دواړه شامل دي نو ځکه مونږ وويل چې د سجدې په حکم کي به پزه او تندی دواړه برابر وي.

ووضع اليدين الخ د دې حاصل دا دی چې زمونږ په نېز دواړه لاسونه او دواړه زنګونان په سجده کي پر مځکه ايښوول سنت دي، او د امام زفر او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله او نورو په نېز واجب دي، د دوی دليل د ابن عباس دا حديث دی: أمرت أن أسجد... الخ، او په دې حديث سره دليل په دې توګه نيسي چې نبي ﷺ ته چې پر کومو اوو اندامونو د سجدې حکم سوی دی په هغه کي دا دواړه اندامونه هم سته، نو ځکه به د دوی ايښوول هم لازم او واجب وي، ځکه چې امر وجوب ثابتوي.

جواب: د امام زفر او امام شافعي د دليل جواب دا دی چې څرنګه امر د وجوب لپاره راځي همدا ډول د استحباب لپاره هم راځي، او دلته له امر څخه استحباب مراد دی، ځکه چې د دې دوو اندامونو د سجدې په عمل کي خاص دخل نسته. مونږ

جواب: دا دی چي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا له حدیث څخه دا ثابتیږي چي دا دواړه اندامونه د سجدې محل (ځای) دي، لیکن د سجدې له محل څخه دا نه لازمیږي چي پر مځکه به د دوی ایښوول هم لازمي او ضروري وي.

و أما وضع القدمين الخ فرمايي چي په سجده کي د دواړو پښو د ایښوولو مسئله د امام قدوري رَحِمَهُ الله د صراحت مطلق فرض او واجب معلومیږي، نوکه یو سړی د خپلو پښو ګوتي له مځکي څخه پورته کړي او سجده وکړي نو د هغه سجده جائز نه ده، همدا مسلک د امام کرخي رَحِمَهُ الله او ابوبکر جصاص رَحِمَهُ الله دی، لیکن د علامه تمرتاشي رَحِمَهُ الله قول دا دی چي د لاسو او پښو ایښوولو مسئله برابره ده، یعني څرنګه چي د لاسو ایښوول سنت دي، همدارنګه د پښو ایښوول هم سنت دي، صاحب د عنایه رَحِمَهُ الله فرمايي: وهو الذي يدل عليه كلام شيخ الإسلام في مبسوطه وهو الحق. (عنايه ج۱، ص۳۱۱)

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دی، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله و تحمل الكراهة المروية عنه على كراهة التحريم وعلى هذا فجمل بعض المتأخرين الفتوى على الرواية الاخرى الموافقة لقولهما (فتح القدير ج۱، ص۲۶۴). [القول الراجح، ج۱، ص۱۸۱]

دلنګوټې پر ول (پېچ) او پر زیاته جامه د سجدې کولو حکم

قَالَ: فَإِنْ سَجَدَ عَلَى كَوْرِ عِمَامَتِهِ فرمايي: بیاکه یو لمونځ کونکي د لنګوټې پر ول (پېچ) باندي سجده وکړه **أَوْ فَاضِلِ ثَوْبِهِ** یا یې پر خپلو زیاتو کالو (جامو) باندي سجده وکړه **جَازَ** نو دا جائز دي **لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْجُدُ عَلَى كَوْرِ عِمَامَتِهِ**● ځکه نبي ﷺ به د خپلي لنګوټې پر پېچ باندي سجده کوله **وَيُرْوَى أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ**● او روایت سوی دی چي نبي ﷺ به یوه جامه کي لمونځ کوی **يَتَّقِي بِفُضُولِهِ حَرَّ الْأَرْضِ وَبَرْدَهَا** چي د هغې په زیاتنۍ حصه به یې د مځکي له ګرموالي او یخوالي څخه ځان ساتی.

اللغات: ﴿كَوْر﴾ د لونګوټې ول (د لنګوټې هغه پېچ ته ویل کیږي چي د لنګوټې ترلو په وخت کي تندی پټ کړي).

﴿فَاضِلِ الثَّوْبِ﴾ د کالو باقي مانده حصه، د کالو زیاته حصه لکه لمن او داسي نور.

تشریح: زموږ په نېز د لنګوټې پر ول او د کالو پر زیاته حصه سجده کول جائز دي، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د لنګوټې پر ول سجده کول جائز نه دي، ځکه چي د ده په نېز دا واجب دي چي د سجدې په وخت کي به پر تندي یو شی نه وي، بلکي ښکاره به وي.

زموږ دلیل: د ابن عباس رضي الله عنه حدیث دی: أن النبي ﷺ كان يسجد على كور عمامته. (یعني نبي ﷺ به په د لنګوټې پر ول او پېچ سجده کوله)، له عبد الله بن ابی اوفیٰ څخه روایت دی: قال: رأيت رسول الله يسجد على كور عمامته. (عبد الله بن ابی اوفیٰ فرمايي: ما رسول الله ولیدی چي د لنګوټې پر ول یې سجده وکړه).

دویم دلیل: دا دی چي له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی: أن النبي ﷺ صلى في ثواب واحد تبقى بفضوله حر الارض و بردها، (یعني نبي ﷺ په یوه جامه کي لمونځ وکړی او د هغې په زیاتنۍ حصه باندي یې د مځکي له ګرمي او یخ څخه

● تخريج: أخرجه عبد الرزاق في مصنفه، باب السجود على العمامة، حديث رقم: ۱۵۶۴.

● تخريج: أخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه، باب في الرجل يسجد على ثوبه من الحر، حديث رقم: ۲۷۷.

ځان وساتي)، بل روايت د حضرت انس ﷺ دی: كان نصلي مع النبي ﷺ في شدة الحر فاذا لم يستطع احدنا أن يمكن وجهه من الارض بسط ثوبه فسجد عليه. (له حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي موږ به د نبي ﷺ سره په سخته ګرمي کي لمونځ کوی. چا چي به وس نه درلودی چي پر مځکه مخ کښېږدي نو خپله جامه به يې غوړوله او پر هغه به يې سجده کوله).

په سجده کي دواړه متان (ليځي) پراخه ساتل

وَيُبْدِي ضَبْعَيْهِ او لمونځ کونکي به خپل دواړه متان خلاص لري **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ** ● **وَأَبْدِ ضَبْعَيْكَ** ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: خپل دواړه متان خلاص لره **وَيُرْوَى وَأَبِدَّ مِنَ الْإِبْدَادِ**: او په يوه روايت کي وَ أَبِدْ راغلي دي چي هغه له إبداد څخه اخيستل سوی دی **وَهُوَ الْمَدُّ** او د هغه معنیٰ ده: کشول (يعني خپل متان او لاسونه کش کړه) **وَالْأَوَّلُ مِنَ الْإِبْدَاءِ وَهُوَ الْإِظْهَارُ** او اول (يعني وَأَبْدِ) له إبداء څخه را اخيستل سوی دی چي د هغه معنیٰ ده ښکاره کول (او خلاصول).

اللغات: ﴿ضَبْعَيْن﴾ تثنيه ده، واحد يې ضَبْعٌ دی مټ او ليځي ته هم ويل کيږي او د بغل (اړخ) لپاره هم استعماليږي.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د سجدې په حالت کي به لمونځ کونکی خپل متان پراخه ساتي، د حيوان په ډول به پر مځکه نه غوړيږي، دليل دا روايت دی: عن آدم بن علي البكري قال رأني ابن عمر ﷺ وانا اصلي لا أتجافى عن الارض بذراعي فقال يا ابن أخي لا تبسط بسط السبع وادعم على راحتيك وابد ضبعيك فانك اذا فعلت ذلك سجد كل عضو منك. (آدم بن علي البكري فرمايي چي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا زه وليدم، په داسي حال کي چي ما لمونځ کوی، او له مځکي څخه مي لاسونه نه جلا کول، نو ورته يې فرمايل: اې وراره! د درندګانو په ډول مه غوړيږه او پر خپلو ورغوو تکيه کوه او خپل متان خلاص ساته، ځکه چي کله ته داسي وکړې نو ستا هر اندام به سجده وکړي).

ويروی الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په يوه روايت کي أبِدّ د دال په تشديد سره راغلي دی چي دا له إبداد څخه مشتق دی او معنیٰ يې ده: کشول، يعني خپل متان کشوه، او اول له إبداء څخه مشتق دی چي معنیٰ يې ده: ښکاره کول، يعني خپل متان ښکاره کوه، معنیٰ دا چي پراخ او خلاص يې ساته (خو مطلب د دواړو يو دی).

په سجده کي نس له ورنو څخه ليري ساتل

وَيُجَافِي بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ او لمونځ کونکي به خپل نس له خپلو ورنو څخه جلا ساتي **لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ** ● **كَانَ إِذَا سَجَدَ** ځکه کله چي به نبي ﷺ سجده کوله **جَافَى** نو نس به يې له ورنو څخه جلا ساتی **حَتَّى أَنَّ بَهْمَةً لَوْ أَرَادَتْ أَنْ تَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لَمَرَّتْ** تر دې که سيرلي (ورغومي) د نبي ﷺ د دواړو لاسونو په مينځ کي تېرېدل غوښتلای نو تېر سوی به وای **وَقِيلَ إِذَا كَانَ فِي الصَّفِّ لَا يُجَافِي** او يو قول دا دی چي که لمونځ کونکی په صف کي وو نو جلا دي يې نه ساتي **كَيْ لَا يُؤْذِيَ جَارَهُ** چي همسايه ته تکليف ورنه کړي.

● تخريج: أخرجه عبد الرزاق في مصنفه، باب السجود، حديث رقم: ٢٩٢٧.

● تخريج: [illegible] في كتاب الصلاة، باب الاعتدال في السجود، حديث رقم: [illegible]

اللغات: ﴿يُجَافِي﴾ د مفاعلې د باب مضارع صيغه ده: جلا ساتل، ليري ساتل، پراخه كول، ﴿فخذ﴾ ورون، ﴿بَهْمَة﴾ سېرلى (ورغومى)، د وزې كوچنى بچى.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې لمونځ كونكې به د سجدې په حالت كې خپل نس له ورنو څخه جلا ساتي، دليل دا دى چې كله به نبي ﷺ سجده كول نو نس به يې له ورنو څخه جلا ساتى او څنګلې به له مځكې څخه پورته ساتلې، تر دې اندازه چې يو ورغومې به هم د ده د لاسونو تر مينځ په آساني سره وتلى سو، خو بعضې فقهاؤ ويلې دي چې كه څوك په صف كې وي نو لاسونه دې نه غوړوي (اوليځې دې نه پراخه كوي) چې نژدې لمونځ كونكې ته تكليف نه ورسيږي.

په سجده كې د پښې ګوتې د قبلې و طرف ته كول

وَيُوَجِّهُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ او لمونځ كونكې به د خپلو پښو ګوتې د قبلې و طرف ته كوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● إِذَا سَجَدَ الْمُؤْمِنُ سَجَدَ كُلُّ عُضْوٍ مِنْهُ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي كله چې مؤمن سجده كوي نو د هغه هر اندام سجده كوي فَلْيُوَجِّهْ مِنْ أَعْضَائِهِ الْقِبْلَةَ مَا اسْتَطَاعَ نو چې څومره يې وس وي خپل اندامونه دې د قبلې و طرف ته مخامخ كوي.

اللغات: ﴿يُوَجِّهُ﴾ د تفعيل مضارع ده: مخامخ كول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د لمونځ ګزاره لپاره په سجده كې د خپلو دواړو پښو ګوتې پر مځكه درول او سرونه يې د قبلې وطرف ته كول هم سنت او مستحب دي، ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي چې كله مؤمن سجده كوي نو د هغه ټوله اندامونه هم سجده كوي، لهذا د وس مطابق لمونځ كونكې لره خپل اندامونه د قبلې و طرف ته كول پكار دي، د دې لپاره چې په پوره ډول سره سجده اداء سي.

د سجدې تسبيح

وَيَقُولُ فِي سُجُودِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثًا او لمونځ ګزاره به په سجده كې درې واره سبحان ربى الاعلى وايي وَذَلِكَ أَدْنَاهُ او دا يې كمه اندازه ده لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● د نبي ﷺ د دې قول په وجه إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ فِي سُجُودِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثًا كله چې په تاسو كې څوک سجده كوي نو هغه دې په سجده كې درې واره سبحان ربى الأعلى وايي وَذَلِكَ أَدْنَاهُ او دا كمه يې اندازه ده أَيْ أَدْنَى كَمَالِ الْجَمْعِ يعني د جمعې د بشپړ تيا كمه اندازه ده وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَزِيدَ عَلَى الثَّلَاثِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ او په ركوع او سجده كې پر درېو اضافه كول مستحب دي بَعْدَ أَنْ يَخْتِمَ بِالْوِتْرِ په دې شرط چې پر طاق شمېر يې ختم كړي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ يَخْتِمُ بِالْوِتْرِ ځكه نبي ﷺ به پر طاق شمېر ختمول وَإِنْ كَانَ إِمَامًا لَا يَزِيدُ عَلَى وَجْهٍ او كه لمونځ ګزاره امام وو نو دومره اضافه دې نه كوي يُمِلُّ الْقَوْمَ چې مقتديان ستړي كړي (او په تكليف سي) حَتَّى لَا يُؤَدِّيَ إِلَى التَّنْفِيرِ د دې لپاره چې دا زياتوب (او اضافه) د نفرت

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصلاة، باب سنة الجلوس في التشهد، حديث رقم: ۸۲۸.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب ما يقول الرجل في ركوعه وسجوده، حديث رقم: ۸۷۰.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب ما جاء في التسبيح في الركوع والسجود، حديث رقم: ۲۶۱.

سبب جوړ نه سي ثُمَّ تَسْبِيْحَاتُ الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ سُنَّةٌ بيا د ركوع او سجدو تسبيحات ويل سنت دي لِأَنَّ النَّصَّ تَنَاوَلَهُمَا ځکه چي نص(يعني آيت) ركوع او سجدې دواړو ته شامل دي دُوْنَ تَسْبِيْحَاتِهِمَا د دوى تسبيحاتو ته شامل نه دى فَلَايُزَادُ عَلَى النَّصِّ نو ځکه به پر نص زياتوب نه كيږي.

اللغات: ﴿يزل﴾ د انفعال د باب مضارع صيغه ده: ستړي كول. ﴿تنفر﴾ بيزارول، نفرت وركول.

تشريح: مسئله: داده چي د لمونځ كونكي لپاره په سجده كي درې واره سبحان ربي الأعلى ويل سنت دي او دا د دريو شمېر د تسبيحاتو كمه اندازه. كنې موږ د ركوع د تسبيحاتو په ترڅ كي ويلي وو چي تر پنځو يا اوو ځلو پوري يې د ويلو اجازه سته، درې واره ويل له نبي ﷺ څخه را نقل سوي دي، او دا هم را نقل سوي دي چي د دريو شمېر د تسبيحاتو كمه اندازه ده.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي كه لمونځ كونكى يوازي(منفرد) وي يا مقتدي وي نو د هغه لپاره په ركوع او سجده كي له دريو وارو څخه زيات تسبيحات ويل مستحب دي، لېكن شرط دا دى چي پر طاق شمېر به يې ختموي، مثلاً پنځه واره يا اووه واره، ځكه چي پر طاق شمېر ختمول د نبي ﷺ معمول وو، لېكن كه څوك امام وو نو دومره دي يې نه زياتوي چي خلک په ستړيا او بوج اخته سي، او د هغو په زړو كي د لمانځه د اوږدوالي په وجه له امام څخه نفرت او بدخوندي پيدا سي، ځكه چي د امام لپاره د نبي ﷺ فرمان دا دى: مَنْ أَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ بِالصَّلَاةِ فَإِنَّ فِيْهِمُ الضَّعِيْفَ وَالْمَرِيْضَ وَذَا الْحَاجَةِ. (يعني امام ته پكار دي چي خلكو ته لنډ لمونځ وركړي، ځكه چي په مقتديانو كي سپين ږيري، ناجوړي، حاجت مند او هر ډول خلک سته).

ثم تسبيحات الخ صاحب د هدايې فرمايي چي د ركوع او سجدې تسبيحات سنت دي ځكه چي د واركعوا واسجدوا نص صرف ركوع او سجدې ته شامل دى، و دې تسبيحاتو ته شامل نه دى، نو ځكه به دا تسبيحات فرض نه وي، لېكن څرنګه چي له نبي ﷺ څخه د دې ويل را نقل سوي دي، نو په دې وجه به سنت وي، يا ته سوه دا خبره چي په إذا سجد أحدكم فليقل...الخ كي خو د فليقل په ذريعه سره أمر سوى دى، نو ښكاره خبره ده چي څرنګه أمر د وجوب لپاره راځي همدارنګه د استحباب لپاره هم راځي، وهو المراد ههنا.

د ښځي لپاره د سجدې طريقه

وَالْمَرْأَةُ تَنْخَفِضُ فِيْ سُجُوْدِهَا او ښځه به په خپله سجده كي (بالكل) ټيټېږي(يعني په پوره توګه به سره راټوليږي) وَتُلْزِقُ بَطْنَهَا بِفَخِذَيْهَا او خپل نس به د خپلو ورنو سره يو ځاى كوي(جوختوي) لِأَنَّ ذٰلِكَ أَسْتَرُ لَهَا ځكه داسي كول د دې په حق كي زيات ستر دى.

اللغات: ﴿تنخفض﴾ د انفعال د باب مضارع صيغه ده: ټيټېدل، لاندي كېدل. ﴿تلزق﴾ د فتح د باب مضارع صيغه ده: موښتول، جوختول، يو ځاى كول.

تشریح: په دې عبارت کې د ښځې د سجدې طریقه بیان سوې ده،نو فرمایي چې ښځه دې د سجدې په وخت کې تیټیږي یعنې مخکې ته دې ډېر نژدې کیږي او نس دې د ورنو سره جوختوي، دلیل دا دی چې په داسې طریقه سجده کول د ښځې لپاره زیاته پرده ده، او په شریعت کې د ښځې په حق کې مطلوب پرده ده.

د دوو سجدو په مینځ کې د ناستې (جلسې) بیان

قَالَ: ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيُكَبِّرُ فرمایي: بیا دې لمونځ گزاره(له سجدې څخه) خپل سر راپورته کړي اوتکبیر دې ووایې لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ روایت کړی فَإِذَا اطْمَأَنَّ جَالِسًا كَبَّرَ وَسَجَدَ بیا چې کله په اطمینان(آرام)سره کېښېني نو تکبیر دې ووایې او سجده دې وکړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • فِي حَدِيْثِ الْأَعْرَابِيِّ ځکه د صحرایي په حدیث کې نبي ﷺ دا جمله فرمایلې وه ثُمَّ ارْفَعْ رَأْسَكَ حَتّٰى تَسْتَوِيَ جَالِسًا بیا ته خپل سر پورته کړه تر دې چې سیده کېښې وَلَوْلَمْ يَسْتَوِ جَالِسًا وَسَجَدَ أُخْرٰى او که سیده نه کېښېنستی (تکبیر یې ووایي) او دویمه سجده یې وکړه أَجْزَأَهُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله نېز دا جائز دي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او موږ د دې بیان کړی دی وَتَكَلَّمُوْا فِيْ مِقْدَارِ الرَّفْعِ او فقهاوو د سر راپورته کولو په اندازه کې خبره کړې ده وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ إِذَا كَانَ إِلَى السُّجُوْدِ أَقْرَبُ لَا يَجُوْزُ خو زیاته صحیح داده چې که لمونځ کونکی سجدې ته زیات نژدې وو نوجائز نه دي لِأَنَّهُ يُعَدُّ سَاجِدًا ځکه چې هغه سجده کونکی شمارل کیږي وَإِنْ كَانَ إِلَى الْجُلُوْسِ أَقْرَبُ جَازَ او که ناستې ته زیات نژدې وو نو جائز دي لِأَنَّهُ يُعَدُّ جَالِسًا ځکه چې (اوس) هغه ناست شمارل کیږي فَتَتَحَقَّقُ الثَّانِيَةُ نودویمه سجده ثابته سوه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله لمونځ گذاره اوله سجده وکړي نو په تکبیر ویلو سره دې سر راپورته کړي او په اطمینان سره دې کېښېني بیا دې دویم وار تکبیر ووایي او دویمه سجده دې وکړي، صاحب د هدایې فرمایي چې دویمې سجدې ته د تللو په وخت کې د تکبیر ویلو دلیل هغه حدیث دی کوم چې موږ مخکې بیان کړی یعنې: کان النبي ﷺ یسجد عندکل خفض ورفع، او د دوو سجدو په مینځ کې په اطمینان او آرام سره د کېښېنستلو دلیل د اعرابي یعنې د خلاد بن رافع حدیث دی، چې په هغه کې دا مضمون هم راغلی دی: ثم ارفع رأسك حتی تستوی قائما...الخ. تر دې مخکې دا خبره په ښه تفصیل سره بیان سوه چې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز تعدیل د ارکانو فرض دی او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز تعدیل د ارکانو فرض نه دی، نو که یو سړی تر اولې سجدې وروسته په اطمینان سره نه کېښېني او دویمه سجده وکړي نو د طرفینو رَحِمَهُ الله په نېز په دې کې هیڅ حرج نسته، د هغه لمونځ کیږي، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د هغه لمونځ فاسدیږي، د هر یوه دلیل مخکې بیان سو.

وتکلموا الخ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې مشائخو په دې کې اختلاف کړی دی چې له اولې سجدې څخه چې څومره سر را پورته سي نو جلسه (ناسته) به گڼل کیږي او دویمه سجده به جائز وي، د دې اختلاف حاصل دا دی چې که لمونځ کونکي له اولې سجدې څخه دومره سر را پورته کړی چې ناستې ته نژدې سو نو پوه سه! چې هغه کېښېنستی،

• تخریج: أخرجه البخاری فی کتاب الاذان، باب امر النبي ﷺ الذي لا یتم رکوعه بالاعادة، حدیث رقم: ۷۹۳.

نو اوس د هغه لپاره دويمه سجده جائز ده، او که سريې لږ راپورته کړی يعني سجدې ته نژدې وو نو ګواکې هغه سر نه دی راپورته کړی، نو اوس به د هغه لپاره دويمه سجده صحيح نه وي.

څه وجه ده چې په هر رکعت کې رکوع يوه ده او سجدې دوې دي؟؟

د دې څه علت دی چې په يوه رکعت کې سجدې دوې دي او رکوع يوه ده ؟ په دې کې د زياتره حضراتو رايه دا ده چې دامسئله توقيفي ده، يعني څرنګه چې په شريعت کې همدا سې را نقل سوي دي نو پر ته له يو اعتراض او سوال څخه مونږ ته پر دې عمل کول ضروري دي.

لېکن د بعضو خلګو رايه دا ده چې دوې سجدې د شيطان د ذليله کولو او رسوا کولو لپاره دي، ځکه چې الله تعالیٰ ده ته د سجدې حکم کړی وو چې حضرت آدم عليه السلام ته سجده وکړه، لېکن ده نه وکړه، نو ځکه موږ د شيطان د رسوا کولو او ذليله کولو لپاره دوې سجدې کوو، په سجده سهو کې نبي ﷺ هم د دې و طرف ته اشاره کړې ده چې فرمايي: هما ترغيمًا للشيطان، (يعني د سهوې لپاره دوې سجدې د شيطان د ذليله کولو لپاره دي).

او بعضو ويلي دي چې په اوله سجده کې و دې طرف ته اشاره ده چې انسان له خاورو څخه پيدا سوی دی او په دويمه سجده کې دا اشاره ده چې بيرته به خاورو ته ځي، يعني دوې سجدې د الله تعالیٰ له دې قول څخه را اخيستل سوي دي: مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ (سورة طه، ۵۵). [عنايه ج:۱، ص:۳۱۵/۳۱۶]

له دويمې سجدې څخه د راپورته کېدلو صحيح طريقه

قَالَ: فَإِذَا اطْمَأَنَّ سَاجِدًا كَبَّرَ فرمايي: چې کله په اطمينان سره سجده وکړي نو تکبير دې ووايي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او موږ د دې بيان کړی دی وَاسْتَوَى قَائِمًا عَلَى صُدُورِ قَدَمَيْهِ او د خپلو پښو پر سينو دې سيده ودرېږي وَلَا يَقْعُدُ او نه دې کښېني وَلَا يَعْتَمِدُ بِيَدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ او نه دې په خپلو لاسو سره پر ځمکه تکيه لګوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: يَجْلِسُ جَلْسَةً خَفِيفَةً امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې لږ څه دې کښېني ثُمَّ يَنْهَضُ مُعْتَمِدًا عَلَى الْأَرْضِ بيا دې پر ځمکه په تکيه لګولو سره ولاړ سي لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● فَعَلَ ذٰلِكَ ځکه چې نبي ﷺ داسې کړي دي وَلَنَا حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او زموږ دليل د حضرت ابوهريره رضي الله عنه (دا) حديث دی أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ يَنْهَضُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى صُدُورِ قَدَمَيْهِ چې نبي ﷺ به په لمانځه کې د خپلو پښو پر تلو ولاړېدی وَمَا رَوَاهُ مَحْمُولٌ عَلَى حَالَةِ الْكِبَرِ او کوم حديث چې امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه د بوډا والي (سپين ږيروالي) پر حالت حمل سوی دي وَلِأَنَّ هٰذِهِ قَعْدَةُ اسْتِرَاحَةٍ او په دې وجه هم چې دا د استراحت ناسته ده وَالصَّلَاةُ مَا وُضِعَتْ لَهَا او لمونځ د استراحت لپاره نه دی وضع سوی.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الصلاة، باب من استوى قاعدا في وتر من صلاته ثم نهض، حديث رقم:۸۲۳.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب ما جاء كيف النهوض من السجود، حديث رقم:۲۸۸

اللغات: ﴿صُدُوْرِ قَدَمَيْهِ﴾ صدور جمع د صَدْرٌ ده: د پښو سينه، يا د پښو تله. ﴿يَعْتَمِدُ﴾ د افتعال د باب مضارع صيغه ده: تکيه کول (تکيه لګول)، باور کول. ﴿يَنْهَضُ﴾ د فتح د باب مضارع صيغه ده: پورته کېدل، درېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله لمونځ ګزاره په ښه آرام او طمينان سره دويمه سجده وکړي نو تکبير دې ووايي او د خپلو پښو پر تلو دې سيده ودرېږي او له درېدلو څخه مخکې دې نه کښېني او نه دې د درېدلو لپاره خپل لاسونه پر مځکه تکيه کوي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د تکبير ويلو متعلق خو دليل هغه حديث دی کوم چې مخکې بيان سو، يعني: كان النبي ﷺ يكبر عند كل خفض و رفع، پاته سو د نه کښېنستلو او په مځکه باندې د لاس نه تکيه کولو مسئله، نو په دې کې زموږ دليل د حضرت ابو هريره ﷺ هغه حديث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو يعني: أن النبي ﷺ كان ينهض في الصلاة على صدور قدميه، په دې حديث کې په ښکاره توګه سره ويل سوي دي چې نبي ﷺ به په لمانځه کې له ناستې او تکيه لګولو څخه بغير سيده درېدی، د دې په خلاف چې امام شافعي رَحِمَهُ الله کومه ناسته او تکيه لګول ثابتوي هغه مناسب نه معلومېږي.

د امام شافعي دليل: امام شافعي رَحِمَهُ الله د حضرت مالک بن الحويرث ﷺ په دې حديث سره دليل نيسي، يعني ناسته او تکيه لګول په دې حديث سره ثابتوي چې: أن النبي ﷺ كان إذا رفع رأسه من السجود قعد ثم نهض، (کله چې به نبي ﷺ له سجدې څخه سر راپورته کړی نو (اول) به کښېنستی بيا به ولاړ سو)، له دې حديث څخه معلومه سوه چې تر دويمې سجدې وروسته ناسته سنت ده.

جواب: زموږ له طرفه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث جواب دا دی چې د نبي ﷺ دا عادت همېشه نه وو، بلکې په سپين ږيروالي کې چې کله د نبي ﷺ بدن ضعيف او دروند سو او د دوی لپاره په سيده درېدلو کې تکليف وو، نو داسې به يې کول، يعني دا عمل پر عذر مبني وو، او د عذر په حالت کې خو موږ هم د ناستې او تکيه کولو اجازه ورکوو، خو تاسو د ځوانانو لپاره هم د بوډاتوب عمل ثابتوئ، دويمه خبره ده دا ده چې تر دويمې سجدې وروسته ناسته خو د استراحت او آرام لپاره ده، او تاسو ته ښه معلومه ده چې لمونځ د عبادت او بندګۍ لپاره فرض سوی دی، د آرام او استراحت لپاره نه دی فرض سوی، (خو د عذر حالت له دې څخه جلا دی).

د دويم رکعت طريقه

وَيَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولٰى او په دويم رکعت کې دې هغه څه وکړي کوم چې يې په اول رکعت کې وکړه لِأَنَّهُ تَكْرَارُ الْأَرْكَانِ ځکه چې دا د ارکانو تکرار دی إِلَّا أَنَّهُ لَا يَسْتَفْتِحُ وَلَا يَتَعَوَّذُ لېکن (په دويم رکعت کې به) ثناء او تعوذ نه وايي لِأَنَّهُمَا لَمْ يُشْرَعَا إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً ځکه چې دا دواړه صرف يو وار مشروع سوي دي.

اللغات: ﴿لَا يَسْتَفْتِحُ﴾ د استفعال د باب مضارع منفي صيغه ده: د نوي سره شروع کول. ﴿لَا يَتَعَوَّذُ﴾ د تفعّل د باب مضارع منفي صيغه ده: اعوذ بالله ويل.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې په دويم رکعت کې به هم د اول رکعت په څېر سورت فاتحه، ضمّ سورت (يعني بل سورت ور سره يو ځای کول)، او رکوع او سجده کوي، دليل دا دی چې په دويم رکعت کې د ارکانو تکرار دی، او تکرار د ارکانو د اعمالو د تکرار تقاضا کوي، نو ځکه وويل سوه چې په دويم رکعت کې دې د اول رکعت

په ډول عمل کوي، هو! دومره فرق سته چي په دويم رکعت کي به نه سبحانك اللهم وايي او نه به اعوذ بالله وايي، ځکه چي دا دواړه شيان صرف يو وار مشروع سوي دي، ځکه کومو صحابه وو چي له نبي ﷺ څخه د لمانځه روايت کړی دی هغوی دا شيان صرف يو وار را نقل کړي دي.

د رفع يدين (لاس پورته کولو) حکم (د فقهاؤ قولونه او دليلونه)

وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ او لمونځ کونکي دې لاسونه نه پورته کوي إِلَّا فِي التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى مګر په اول تکبير کي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی فِي الرُّكُوعِ وَالرَّفْعِ مِنْهُ رکوع ته په تللو او له رکوع څخه په را پورته کېدلو کي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • لَا تُرْفَعُ الْأَيْدِي إِلَّا فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: لاسونه به نه پورته کيږي مګر په اوو (۷) ځايونو کي تَكْبِيرَةُ الِافْتِتَاحِ وَتَكْبِيرَةُ الْقُنُوتِ وَتَكْبِيرَاتُ الْعِيدَيْنِ [۱] د لمانځه د شروع کېدلو په تکبير کي [۲] د قنوت په تکبير کي [۳] او د اخترونو په تکبيرونو کي وَذَكَرَ الْأَرْبَعَ فِي الْحَجِّ او څلور ځايونه يې په حج کي بيان کړي دي وَالَّذِي يُرْوَى مِنَ الرَّفْعِ مَحْمُولٌ عَلَى الِابْتِدَاءِ او کوم حديث چي د رفع يدين په باره کي روايت سوی دی هغه د اسلام پر شروع حمل کيږي كَذَا نُقِلَ عَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدارنګه له ابن زبير رضي الله عنه څخه را نقل سوي دي.

اللغات: ﴿رفع يدين﴾ لاسونه پورته کول، ﴿مواطن﴾ جمع ده، واحد يې مَوْطِن دی: ځای.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي زموږ په نېز صرف د تکبير تحريمه ويلو په وخت کي رفع يدين (لاسونه پورته کيږي، له دې څخه ماسوا په نورو ځايونو کي مثلاً رکوع ته د تللو په وخت کي، له رکوع څخه د سر را پورته کولو په وخت کي او سجدې ته د تللو په وخت کي صرف تکبير ويل کيږي، لاسونه نه پورته کيږي، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز له تکبير تحريمه څخه ماسوا رکوع ته د تللو په وخت کي او له رکوع څخه د سر را پورته کولو په وخت کي هم لاسونه پورته کيږي.

امام شافعي دليل: د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا حديث دی: أن النبي ﷺ كان يرفع يديه عند الركوع وعند رفع الرأس من الركوع. (يعني نبي ﷺ به رکوع ته د تللو او له رکوع څخه د را پورته کېدلو په وخت کي لاسونه پورته کول)، له دې څخه معلومه سوه چي له تکبير تحريمه څخه علاوه په دې ځايونو کي هم رفع يدين سته.

زموږ دليل: هغه حديث دی کوم چي په کتاب کي ذکر سو، د دې حديث روايت کونکی حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دی، هغه فرمايي چي نبي ﷺ وفرمايل: لا ترفع الأيدي إلا في سبع مواطن. (يعني له اوو ځايونو څخه ماسوا به چيري هم رفع يدين نه کيږي)، او هغه اوه ځايونه دا دي: (۱) تکبير تحريمه (۲) د قنوت تکبير (۳) د اخترونو تکبيرونه (۴) د جمرو تکبيرونه (۵) د صفا و مروه تکبير (۶) د عرفات تکبيرونه (۷) د حجر اسود تکبيرونه، په دې حديث سره موږ په دې توګه دليل نيسو چي نبي ﷺ رفع يدين په دې اوو ځايونو کي حصر کړی دی، او په دې اوو ځايونو کي رکوع ته د تللو او له رکوع څخه د را پورته کېدلو تکبيرونه نسته، نو ځکه به په دې ځايونو کي لاسونه پورته کول صحيح نه وي.

• تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، باب رفع اليدين إذا رأى البيت، حديث رقم: ۹۲۱۰.

جواب: والذی الخ له دې ځايه صاحب د هدايې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث جواب ورکوي فرمايي چې دا حديث د اسلام پر ابتداء (شروع) باندې حمل سوی دی، يعني د اسلام په شروع کې به رکوع او نورو ته د تللو په وخت کې لاسونه پورته کېدل، خو وروسته دا حکم منسوخ سو، او په دې نسخ باندې دليل د حضرت عبد الله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا فرمان دی: أنه رأى رجلا يصلي في المسجد الحرام يرفع يديه عند الركوع وعند رفع الرأس من الركوع فلما فرغ من صلاته قال له لا تفعل فإن هذا شيء فعله رسول الله ﷺ ثم تركه. (عبد الله ابن زبير ﷺ په مسجد حرام کې يو سړی وليدی چې هغه د لمانځه په جريان کې رکوع ته د تللو په وخت کې او له رکوع څخه د سر راپورته کولو په وخت کې رفع يدين کوی، څه وخت چې هغه له خپل لمانځه څخه فارغ سو، نو حضرت ابن زبير هغه ته وفرمايل چې په دې ځايونو کې رفع يدين مه کوه، ځکه چې نبي ﷺ به رفع يدين کوی لېکن بيا يې پرېښوول)، نو معلومه سوه چې مخکې د رکوع او نورو په تکبيرونو کې د رفع يدين حکم خو مشروع وو، لېکن وروسته منسوخ سو.

زموږ دويم دليل: د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا فرمان هم دی: إن العشرة الذين شهد لهم النبي ﷺ بالجنة لم يكونوا يرفعون أيديهم إلا عند افتتاح الصلاة. (يعني عشره مبشره وو به هم له تکبير تحريمه څخه ماسوا رفع يدين نه کوی).
(عنايه ج:۱، ص: ۳۲۰/۳۲۱)

د دويمې ناستې او آخرې ناستې طريقه

وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اوکله چې لمونځ کونکی په دويم رکعت کې له دويمې سجدې څخه خپل سر راپورته کړي **اِفْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى فَجَلَسَ عَلَيْهَا** نو چپه پښه دې وغوړي او پر هغه دې کښېني **وَنَصَبَ الْيُمْنٰى نَصْبًا** او راسته پښه دې (سمه) ودروي **وَوَجَّهَ أَصَابِعَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ** او د هغې ګوتې دې د قبلې و طرف ته کړي **هٰكَذَا وَصَفَتْ عَائِشَةُ قُعُوْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● فِي الصَّلَاةِ** همدارنګه حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په لمانځه کې د نبي ﷺ ناسته بيان کړه **وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ** او خپل دواړه لاسونه دې پر دواړو ورنو کښېږدي **وَبَسَطَ أَصَابِعَهُ** او ګوتې دې وغوړوي **وَتَشَهَّدَ** او تشهد دې ووايي **يُرْوٰى ذٰلِكَ فِي حَدِيْثِ وَائِلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ●** دا د حضرت وائل ﷺ په حديث کې روايت سوي دي **وَلِأَنَّ فِيْهِ تَوْجِيْهَ أَصَابِعِ يَدَيْهِ إِلَى الْقِبْلَةِ** او په دې وجه (هم) چې په دې کې د قبلې و طرف ته د ګوتو متوجه کېدل دي **وَإِنْ كَانَتِ امْرَأَةً جَلَسَتْ عَلٰى أَلْيَتِهَا الْيُسْرٰى** او که لمونځ کونکې ښځه وه نو هغه دې پر خپل چپه کوناټي کښېني **وَأَخْرَجَتْ رِجْلَيْهَا مِنَ الْجَانِبِ الْأَيْمَنِ** او خپلې دواړې پښې دې له راسته طرف څخه راوباسي **لِأَنَّهُ أَسْتَرُ لَهَا** ځکه چې دا د هغې لپاره زيات پرده ده.

اللغات: ﴿افْتَرَشَ﴾ د افتعال باب دی: غوړول، ﴿نَصَبَ﴾ د فتح باب دی: درول، ﴿أَلْيَة﴾ د کوناټو يو طرف، (يو کوناټی).

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الصلاة، باب ما يجمع صفة الصلاة، وما يفتتح به، حديث رقم: ۲۴۰.
● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب صفة الجلوس في الصلاة، حديث رقم: ۱۱۶.

تشریح: امام قدوري رَحِمَهُ الله په دې عبارت کې د قعدې طريقه او څرنګوالی بيان کړی دی، فرمايي چې کله لومړنۍ ګزاره د دويم رکعت له دويمې سجدې څخه سر راپورته کړي نو خپله چپه پښه دې وغوړوي پر هغه دې کښيني او راسته پښه دې داسې ودروي چې ګوتې يې د قبلې و طرف ته سي، ځکه حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په لمانځه کې د نبي ﷺ ناسته همداسې بيان کړې ده، بيا چې کله لومړنۍ ګزاره په دې طريقه سره کښيني، نو د ده لپاره حکم دا دی چې خپل دواړو لاسونه دې پر ورنو کښيږدي، او د لاسو ګوتې دې پر ورنو وغوړوي بيا دې تشهد ووايي، د لاس د ګوتو په باره کې دې دا خبره هم په ذهن کې لري چې هغه دې د قبلې و طرف ته وي، لکه څرنګه چې تر دې مخکې تاسو وويل چې تر څومره د انسان وس هغومره دې خپل اندامونه په لمانځه کې د قبلې و طرف ته متوجه کوي.

وإن كانت الخ د دې حاصل دا دی چې په لمانځه کې به د ښځې ناسته د نارينه له ناستې څخه جلا وي، طريقه يې دا ده چې ښځه به پر چپه کوناټې کښيني او له راسته طرف څخه به خپلې پښې دباندې راباسي، ځکه چې په دې طريقه کې د هغې په حق کې پرده زياته ده، او د ښځې په حق کې پرده مطلوب ده، لکه څرنګه چې د دغه مقصد په خاطر د ښځې سجده هم له نارينه څخه جلا ده.

د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه تشهد(التحيات)

وَالتَّشَهُّدُ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ إِلٰى آخِرِهٖ او تشهد دا دی: التحيات لله........الخ وَهٰذَا تَشَهُّدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دا د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه تشهد دی فَإِنَّهُ قَالَ أَخَذَ● رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيَّ ځکه ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل: چې رسول الله ﷺ زما لاسونه ونيول وَعَلَّمَنِي التَّشَهُّدَ كَمَا كَانَ يُعَلِّمُنِيْ سُوْرَةً مِنَ الْقُرْآنِ او ماته يې تشهد داسې را زده کړی لکه څرنګه چې به يې د قرآن يو سورت را زده کوی وَقَالَ: قُلِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ إِلٰى آخِرِهٖ او ويې فرمايل: ووايه! التحيات لله.....الخ وَالْأَخْذُ بِهٰذَا أَوْلٰى مِنَ الْأَخْذِ بِتَشَهُّدِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او پر دې تشهد عمل کول د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا له تشهد څخه زيات غوره دي وَهُوَ قَوْلُهُ اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ سَلَامٌ عَلَيْنَا إِلٰى آخِرِهٖ او د ابن عباس رضي الله عنه تشهد دا دی: التحيات المباركات.....الخ لِأَنَّ فِيْهِ الْأَمْرَ ځکه چې د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه په التحيات کې (د قليل په ذريعه سره) امر (سوی) دی وَأَقَلُّهُ الْاِسْتِحْبَابُ او د امر کمه درجه د استحباب ده وَالْأَلِفُ وَاللَّامُ وَهُمَا لِلْاِسْتِغْرَاقِ او (په السلام عليك کې) الف او لام دواړه د استغراق لپاره دي وَزِيَادَةُ الْوَاوِ وَهِيَ لِتَجْدِيْدِ الْكَلَامِ او (په والصلوات کې) واو زيات سوی دی چې هغه د خبرو د نوي کولو لپاره دی كَمَا فِي الْقَسَمِ لکه په قسم کې (چې واو د خبرو د نوي کولو لپاره وي) وَتَأْكِيْدُ التَّعْلِيْمِ او د دې تشهد د زده کولو تأکيد (ټينګار) سوی دی (يعني نبي ﷺ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته د دې تشهد پر زده کولو ټينګار کړی دی نو په دې وجه هم دا تشهد غوره دی).

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب التشهد في الآخرة، حديث رقم: ۸۳۱ ومسلم في كتاب الصلاة باب التشهد في الصلاة، حديث رقم: ٥٥

اللغات: ﴿التَّحِيَّات﴾ جمع ده، واحد يې تَحِيَّةٌ دی: د عاجزۍ ښکاره کولو ته، سلام. ﴿إسْتِغْرَاق﴾ يو شی په بشپړه توګه نيول.

تشريح: په دې عبارت کې د تشهد بيان دی، د عبارت تر حل مخکې په دې خبره پوه سئ چې زموږ په نېز په اوله نسته کې د تشهد ويل واجب دی، ليکن اختلاف په دې کې دی چې کوم تشهد ويل غوره او افضله دي، زموږ په نېز د عبد الله ابن مسعود ﷺ تشهد ويل افضله دي، او د شوافعو په نېز د عبدالله ابن عباس ﷺ تشهد ويل افضله دي، او له دې دواړو څخه ماسوا له حضرت عمر، حضرت علي، حضرت عائشه او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او نورو څخه هم د تشهد کلمې او الفاظ را نقل سوي دي.

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تشهد دا دی: اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، سَلَامٌ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ.

- امام شافعي رَحِمَهُ الله د دې تشهد ويل افضله ګڼلي دي، او د دې يې څو وجهې بيان کړي دي:

(۱) د ابن عباس ﷺ په تشهد کې د مبارکات کلمه زياته ده چې هغه د ابن مسعود ﷺ په تشهد کې نسته. (۲) د ابن عباس ﷺ تشهد د قرآن کريم موافق دی، الله تعالیٰ فرمايي: تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً. (۳) ابن عباس ﷺ د سلام لفظ بغير له الف لام څخه ذکر کړی دی او په قرآن کريم کې هم اکثره سلامونه د الف لام څخه خالي دي، مثلاً: سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ، سَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ او داسې نور، نو په دې حواله سره هم د ابن عباس ﷺ تشهد د قرآن سره مشابه دی. (۴) د ابن عباس ﷺ تشهد د ابن مسعود ﷺ تر تشهد وروسته دی ځکه چې ابن عباس ﷺ تر ابن مسعود ﷺ په عمر کې کوچنی وو، او دا خبره ښکاره ده چې وروستنی حکم د مخکنې حکم لپاره ناسخ وي، نو امام شافعي رَحِمَهُ الله وايي چې د دې څلورو وجهو په سبب موږ د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تشهد اختيار کړی دی، او د هغه تشهد افضله ګڼو.

- احنافو د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تشهد اختيار کړی دی، او د هغه هم ډېرې وجهې دي، چې څلور له هغو څخه مصنف رَحِمَهُ الله بيان کړي دي:

اول د ابن مسعود ﷺ تشهد ته ګورئ:

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

مصنف چې کومې وجهې ليکلي دي هغه دا دي: (۱) اوله وجه دا ده چې نبي ﷺ د امر په صيغه قُلْ سره ابن مسعود ﷺ ته د دې تشهد تعليم ورکړی دی، او د امر کمه درجه استحباب ده، نو د امر په وجه همدغه تشهد مستحب دی. (۲) په دې کې د سلام لفظ په الف لام سره معرفه دی (السلام)، او دا د استغراق فايده ورکوي، يعني ټولو سلامونو ته شامليږي، او بغير له الف لام څخه دا فايده نه ورکوي کوم چې د ابن عباس ﷺ په حديث کې دی. (۳) تر الصلوات مخکې واو زيات سوی دی يعني والصلوات، همدارنګه تر الطيبات مخکې هم واو زيات سوی دی چې په دې سره کلام خپل مينځ کې جلا کيږي او کلام د نوي سره شروع کيږي. (۴) نبي ﷺ د ابن مسعود لاس ونيوی او دا تشهد يې ور ازده کړی چې له دې څخه د تعليم تأکيد او توجه ښکاره کيږي. دوې وجهې يې موږ نوري ذکر کوو: (۵) د زياتره محدثينو رايه دا ده

چي د ابن مسعود ﷺ تشهد د اسناد په اعتبار سره "احسن" دی. (۶) زیاتره صحابه وو همدغه تشهد اختیار کړی دی او خلکو ته یې د دې تعلیم هم ورکړی دی.

جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله چي کومې د ترجیح وجهې بیان کړې دي د هغه جوابونه دا دي: (۱) د اولې وجهې جواب یې دا دی چي که دیوې کلمې زیاتونه د افضیلت سبب وای نو د حضرت جابر ﷺ تشهد به اولیٰ وای ځکه چي په هغه کي بسم الله الرحمن الرحيم زیاته سوې ده، او د ابن مسعود ﷺ په تشهد کي واو او الف لام او لفظ د "عبده" دواړه زیات سوي دی، نو ځکه به د ابن مسعود ﷺ تشهد اولیٰ وي، (۲) د دویمې وجهې جواب یې دا دی چي د قرآن سره موافق کېدل د افضلیت سبب نه دی، ځکه چي د لمانځه په ناسته(قعده) کي د قرآن ویل مکروه دي، نو د قرآن د قرائت سره به موافقت څرنګه مستحب وي، (۳) د دریمې وجهې یې جواب دا دی چي څرنګه سلام بغیر له الف لام څخه په قرآن کي راغلی دی همدارنګه د الف لام سره هم راغلی دی، الله تعالیٰ فرمایلي دي: وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُ (سورة مريم،۳۳)، وَالسَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى (سورة طه،۴۷)، (۴) د څلورمې وجهې جواب یې دا دی چي داسې نه ده چي د تشهد په باره کي د ابن عباس ﷺ حدیث وروسته دی، بلکي د ابن مسعود ﷺ حدیث وروسته دی، لکه څرنګه چي له امام کرخي رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي ابن مسعود ﷺ وفرمایل: د اسلام په ابتداء کي به موږ التحيات الطاهرات المباركات الزاكيات وایی، نو له دې څخه هم معلومه سوه چي د ابن مسعود ﷺ تشهد د ابن عباس ﷺ له تشهد څخه وروسته دی.

فوائد: له التحيات څخه مراد قولي عبادتونه دي، له صلوات څخه مراد بدني عبادتونه دي، له الطيبات څخه مراد مالي عبادتونه دي، او السلام عليك له هغه سلام څخه دی کوم چي د معراج په شپه کي الله رب العزت د نبي ﷺ د التحيات لله والصلوات والطيبات په جواب کي فرمایلی وو؛ یعني نبي ﷺ چي کله د معراج په شپه کي د لوی څښتن ﷻ په دربار کي حاضر سو نو ویې فرمایل: التحيات لله والصلوات والطيبات، الله تعالیٰ په جواب کي وفرمایل: السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته، بیا نبي ﷺ وفرمایل: السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، ملائکو چي واوریدل نو ویې فرمایل: أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمد عبده ورسوله.

په اوله ناسته کي د تشهد حکم

وَلَا يَزِيدُ عَلَى هٰذَا فِي الْقَعْدَةِ الْأُوْلٰى او په اوله ناسته کي به پر دې تشهد زیاتوب نه کوي لِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا● ځکه حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمایلي دي عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّشَهُّدَ فِيْ وَسْطِ الصَّلَاةِ وَآخِرِهَا نبي ﷺ ماته د لمانځه په مینځ او د لمانځه په آخر (یعني په دې دواړو ځایونو) کي تشهد را وښووی فَإِذَا كَانَ وَسْطُ الصَّلَاةِ نو چي کله به د لمانځه مینځ وو نَهَضَ إِذَا فَرَغَ مِنَ التَّشَهُّدِ نو (فوراً) به ودرېدی کله چي به له تشهد څخه فارغه سو وَإِذَا كَانَ آخِرَ الصَّلَاةِ او کله چي به د لمانځه آخر وو دَعَا لِنَفْسِهِ بِمَا شَاءَ نو د خپل ځان لپاره چي به یې کومه دعاء خوښه وه هغه به یې وکړه.

● تخریج: أخرجه احمد في مسنده، حديث رقم:۴۵۹۰.

اللغات: ﴿علمني﴾ د تفعیل د باب ماضي صیغه ده، په آخر کي نون د وقایه او یاء د متکلم ده: تعلیم ورکول، ور ښوول.

تشریح: فرمایي چي لمونځ ګزاره دي په اوله ناسته کي پر تشهد زیاتوب نه کوي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله جدید(نوی) قول دا دی چي په اوله ناسته کي هم پر نبی ﷺ باندي درود ویل سنت دي.

د امام شافعي دلیل: د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حدیث دی: فی کل رکعتین تشهد وسلام علی المرسلین، یعني په هر دوو رکعتونو کي تشهد او سلام علی المرسلین سته.

زمونږ دلیل: د ابن مسعود رضی الله عنه قول دی: علمنی رسول الله ﷺ التشهد فی وسط الصلوٰة وآخرها فإذا کان فی وسط الصلوٰة نهض إذا فرغ من التشهد وإذا کان آخر الصلوٰة دعا لنفسه ما شاء.

جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله چي کوم د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حدیث ذکر کړی دی د هغه جواب دا دی چي له سلام علی المرسلین څخه مراد درود شریف نه دی بلکي د تشهد دا سلام ځني مراد دی: السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین.

د آخري دوو رکعتونو د قرائت بیان

وَيَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَحْدَهَا او په آخري دوو رکعتو کي به صرف سورت فاتحه وایي لِحَدِيثِ أَبِي قَتَادَةَ د حضرت ابو قتاده رضی الله عنه د حدیث په وجه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ • قَرَأَ فِي الْأُخْرَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ چي نبي ﷺ په آخري دوو رکعتو کي سورت فاتحه ویله وَهَذَا بَيَانُ الْأَفْضَلِ او دا د افضلیت (غوره والي) بیان دی هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح ده لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ فَرْضٌ فِي الرَّكْعَتَيْنِ ځکه چي قرائت کول خو په(اولو) دوو رکعتونو کي فرض دي عَلَى مَا يَأْتِيكَ مِنْ بَعْدُ إِنْ شَاءَ اللهُ چي بحث به يې انشاء الله وروسته راسي.

اللغات: ﴿وحدها﴾ یوازي.

تشریح: مسئله: دا ده چي د ماپښین، مازیګر او ماخوستن په آخري دوو رکعتونو کي به او د ماښام په آخري رکعت کي به فقط سورت فاتحه(الحمد لله) ویل کیږي، دلیل د ابی قتاده رضی الله عنه حدیث دی: أنه ﷺ کان یقرأ فی الرکعتین الاولیین من الظهر والعصر بفاتحة الکتاب وسورتین وفی الاخریین بفاتحة الکتاب. (صحیحین) (یعني نبي ﷺ به د ماپښین او مازیګر په اولو دوو رکعتونو کي سورت فاتحه او بل سورت وایی، او په آخري دوو رکعتونو کي به یې سورت فاتحه ویله).

وهذا بیان الخ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي دا بیان د افضلیت دی، یعني په آخري دوو رکعتونو کي سورت فاتحه ویل افضله او مستحب دي، لهذا که چا په آخري دوو رکعتو کي سورت فاتحه او تسبیح دواړه پرېښوول نو هیڅ حرج نسته، او پر هغه سجده سهوه هم واجب نه ده، لیکن ویل یې افضله او غوره دي، همدا صحیح روایت دی. حسن بن زیاد رَحِمَهُ الله له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا هم را نقل کړی دی چي په آخري دوو رکعتونو کي سورت فاتحه

• تخریج: أخرجه البخاری فی کتاب الاذان فی باب القراءة فی الظهر، حدیث رقم: ۷۵۹.

وریل واجب دي، نو که له چا څخه په هېره پاته سوه نو پر هغه سجده سهوه واجب ده؛ دلیل يې دا دی چې په آخري دوو رکعتونو کي قیامه (ولاړه) مقصود ده، نو ځکه دالّه ذکر او قرائت څخه خالي ساتل مکروه دي، لکه څرنګه چې رکوع او سجده له ذکر څخه خالي ساتل مکروه دي، او د صحیح قول دلیل دا دی چې قرائت صرف په اولو دوو رکعتونو کي فرض دی، چې تفصیل به يې انشاء الله وروسته راسي. فانتظروا انی معکم من المنتظرین.

د آخري ناستي (قعدهٔ اخیره) بیان

وَجَلَسَ فِي الْأَخِيرَةِ او لمونځ ګزاره به په آخره ناسته کي داسي کښېني كَمَا جَلَسَ فِي الْأُوْلٰى څرنګه چې په اوله ناسته کي کښېنستی وو لِمَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ وَائِلٍ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د حضرت وائل ﷺ او د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حدیثونو په وجه کوم چې موږ روایت کړل وَلِأَنَّهَا أَشَقُّ عَلَى الْبَدَنِ او په دې وجه (هم) چې داسي کښېنستل پر بدن بوج (او تکلیف) دي فَكَانَ أَوْلٰى مِنَ التَّوَرُّكِ الَّذِي يَمِيلُ إِلَيْهِ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللهُ نو ځکه به دا له هغه تورّک څخه غوره وي چې د هغه و طرف ته امام مالک رَحِمَهُ الله رغبت کړی دی وَالَّذِي يُرْوٰى او هغه حدیث کوم چې (د تورّک په باره کي) رانقل سوی دی أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● قَعَدَ مُتَوَرِّكًا چې نبي ﷺ د تورّک پر طریقه کښېنستی ضَعَّفَهُ الطَّحَاوِيُّ رَحِمَهُ الله نو امام طحاوي رَحِمَهُ الله هغه ضعیف ګرځولی دی أَوْ يُحْمَلُ عَلٰى حَالَةِ الْكِبَرِ یا هغه به د بوډوالتوب پر حالت حمل کیږي.

اللغات: ﴿أشق﴾ د نصر د باب اسم تفضیل دی: زیات سخت، زیات دروند. ﴿تورك﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: دواړي پښې يو طرف ته ایستل او پر کوناټو کښېنستل، پر کوناټو تکیه لګول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله لمونځ کونکی په څلورم رکعت کي له دویمي سجدې څخه فارغه سي نو آخرنه ناسته دي وکړي، او په دې ناسته کي دي بالکل په هغه حالت او شکل باندي کښېني لکه په اوله ناسته کي چې کښېنستی وو، یعني چپه پښه دي وغوړوي او پر هغه دي کښېني، او راسته پښه دي ودروي، ځکه چې په ناسته کي همدغه طریقه د حضرت وائل بن حجر ﷺ او د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا له حدیثونو څخه ثابته ده، او بیا په دې طریقه سره کښېنستل پر بدن باندي بوج او تکلیف دي، او په عبادت کي همدغه مطلوب دي (ځکه چې څومره د عبادت بوج زیات وي هغومره يې ثواب زیات وي)، نو په دې وجه به هم دغه طریقه غوره وي.

د دې په خلاف امام مالک رَحِمَهُ الله د متورکا ناستي قائل دی، یعني پر دواړو کوناټو کښېنستل او پښې يوه طرف ایستل د امام مالک رَحِمَهُ الله په نېز سنت دي.

د امام مالک دلیل: دا دی چې نبي ﷺ به پر دغه طریقه کښېنستی، لیکن صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله جواب دا ورکوي چې د متورکا ناستي په باره کي چې کوم حدیث نبي ﷺ ته منسوب دی، هغه ضعیف دی، او امام طحاوي رَحِمَهُ الله د هغه د ضعف علت بیانوي فرمايي چې: هذا من حديث عبد الحميد بن جعفر، وهو ضعيف عند نقله الحديث، (یعني دا مضمون د عبد الحمید بن جعفر له حدیث څخه را اخیستل سوی دی او د هغه حدیث ضعیف وي). (عنایه)، نو ځکه به په دې

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب من ذكر التورك في الرابعة، حديث رقم: ۹۶۶.

حدیث سره دلیل نیول صحیح نه وي، ځکه چي دا حدیث د وائل بن حجر ﷺ او د حضرت عائشې رضي الله عنها د حدیث سره مقابله نه سي کولای.

په لمانځه کي د تشهد او درود حیثیت (د فقهاؤ قولونه او دلیلونه)

وَيَتَشَهَّدُ او (په آخره ناسته کي به هم لمونځ کونکی) تشهد وايي وَهُوَوَاجِبٌ عِنْدَنَا او تشهد زموږ په نيز واجب دي وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ او پر نبي ﷺ به درود وايي وَهُوَلَيْسَ بِفَرِيْضَةٍ عِنْدَنَا او درود زموږ په نيز فرض نه دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِيْهِمَا او په دې دواړو کي د امام شافعي رحمه الله اختلاف دی لِقَوْلِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ • ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا قُلْتَ هٰذَا أَوْ فَعَلْتَ هٰذَا فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُكَ کله چي تا تشهد ووايی يا داسي دي وکړه نو ستا لمونځ پوره سو إِنْ شِئْتَ أَنْ تَقُوْمَ فَقُمْ که غواړې چي ولاړ سې نو ولاړ سه وَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَقْعُدَ فَاقْعُدْ او که غواړې چي کښېنې نو کښېنه وَالصَّلَاةُ عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ خَارِجَ الصَّلَاةِ وَاجِبَةٌ او له لمانځه څخه دباندي پر نبي ﷺ درود ويل واجب دي إِمَّا مَرَّةً وَاحِدَةً يا څو يو وار واجب دي كَمَا قَالَهُ الْكَرْخِيُّ رَحِمَهُ اللهُ لکه څرنګه چي امام کرخي رحمه الله ويلي دي أَوْ كُلَّمَا ذُكِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يا چي کله هم د نبي ﷺ يادونه وسي كَمَا اخْتَارَهُ الطَّحَاوِيُّ لکه څرنګه چي امام طحاوي رحمه الله دغه اختيار کړي دي فَكَفَيْنَا مُؤْنَةَ الْأَمْرِ نو په آيت کي د امر د صيغې خبره زموږ لپاره کافي سوه (يعني د امر د صيغې تقاضا بس همدومره ده) وَالْفَرْضُ الْمَرْوِيُّ فِي التَّشَهُّدِ او د تشهد په باره کي چي په حديث کي کوم فرض رانقل سوي دي هُوَالتَّقْدِيْرُ د هغه معنیٰ د اندازه کولو ده.

اللغات: ﴿صلاة﴾ درود، لمونځ، ﴿مرة﴾ يو وار، يو ځل، ﴿مؤنة﴾ بوج، تکليف، سامان.

تشريح: په آخره ناسته کي تشهد ويل زموږ په نيز واجب دي او درود شريف ويل واجب او فرض نه دي، بلکي سنت دي، د امام شافعي رحمه الله په نيز د تشهد ويل او پر نبي ﷺ درود ويل دواړه فرض دي.

د امام شافعي دليل: د ابن مسعود ﷺ حديث دی: أنه قال كنا نقول قبل أن يفترض التشهد السلام على الله السلام على جبريل وميكائيل فقال النبي ﷺ: قولوا التحيات لله...الخ، بيا په آخر کي فرمايي: إذا قلت هذا او فعلت هذا فقد تمت صلاتك، په دې حديث سره امام شافعي رحمه الله په درې طريقو سره دليل نيسي، (۱) اول دا چي ابن مسعود ﷺ فرمايي: قبل أن يفترض التشهد، يعني پر تشهد د فرضو اطلاق سوی دی، نو له دې څخه ثابته سوه چي تشهد فرض دی، (۲) دويم دا چي نبي ﷺ وفرمايل قولوا التحيات لله او قولوا د امر صيغه ده، او امر د وجوب لپاره وي، نو معلومه سوه چي التحيات ويل واجب دي، او د امام شافعي رحمه الله په نيز واجب او فرض دواړه يو شی دي، نو کله چي التحيات ويل واجب سو نو فرض به هم وي، (۳) دريم دا چي نبي ﷺ د لمانځه پوره والی په تشهد پوري معلق کړی دي، له دې څخه معلومه

---

۱ • اخرجه دار قطني في كتاب الصلاة، باب صفة التشهد ووجوبه، حديث رقم: ۱۳۱۹، ۱۳۲۰، ۱۳۲۱.

سوه چي له تشهد څخه بغير لمونځ نه پوره کيږي، او چي له کوم شي څخه بغير لمونځ نه پوره کيږي هغه فرض وي، نو معلومه سوه چي تشهد ويل فرض دي.

جواب: زموږ له طرف جواب دا دی چي په قبل أن يفترض التشهد کي له فرض څخه لغوي معنیٰ مراد ده، يعني تقدير(اندازه کول)، الله تعالیٰ فرمايلي دي: فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ (البقرة:۲۳۷)، يعني قَدَّرْتُم اوس يې مطلب دا سو چي "د تشهد له مقدر کېدلو او معلومېدلو څخه مخکي به موږ دا ويل: والسلام على الله ...الخ"، نو پر تشهد د فرضو اطلاق صحيح نه سو؛ دوهم جواب دا دی چي دلته دامر صيغه د تعليم او تلقين لپاره ده، نو له دې څخه فرضيت نه ثابتيږي، د دريم جواب دا دی چي په حديث کي د لمانځه پوره کېدل په دې دواړو کي د يوه سره يعني په تشهد ويلو او په آخره ناسته کي د يوه سره معلق سوي دي، او پر دې د ټولو اتفاق دی چي د لمانځه پوره کېدل پر آخره ناسته معلق دي، ځکه چي که آخره ناسته پرېښوول سي نو لمونځ نه صحيح کيږي، نو کله چي د لمانځه پوره کېدل پر آخره ناسته معلق سوه، نو قرائت(ويل) به پر تشهد نه معلق کيږي، د دې لپاره چي اختيار پاته سي، ځکه چي نبي ﷺ د ناستي او قراءت(ويلو) اختيار ورکړی دی، چي په دې کي د يوه په اداء کولو سره لمونځ پوره کيږي، نو که موږ تشهد هم فرض کړو، نو اختيار ختم سو.

والصلاة الخ مخکي موږ وويل چي درود شريف هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز فرض دی، هغه په دې آيت سره دليل نيسي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا (الاحزاب:۵۶)، په داسي توګه چي صلّوا د امر صيغه ده، او امر د وجوب لپاره وي، او له لمانځه څخه دباندي درود ويل واجب نه دي، نو ثابته سوه چي په لمانځه کي دننه درود ويل واجب دي. **دوهم دليل:** د امام شافعي رَحِمَهُ الله دوهم دليل دا دی چي نبي ﷺ فرمايي: لا صلاة لمن لم يصل علىّ فى صلاته. (يعني څوک چي پر ما په لمانځه کي درود نه ووايي نو د هغه لمونځ نه صحيح کيږي)، او ښکاره ده چي د لمانځه نه صحيح والی د فرضو د پرېښوولو په وجه راځي، د سنتو په پرېښوولو سره نه راځي، نو ثابته سوه چي درود شريف ويل فرض دي.

د امام شافعي د اول دليل جواب: د اول دليل جواب يې دا دی چي موږ دا خبره نه منو چي له لمانځه څخه دباندي درود ويل واجب نه دي، ځکه چي صلّوا د امر صيغه ده، او امر د تکرار تقاضا نه کوي، او امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله هم د نبي ﷺ ذکر وسي، نو درود ويل واجب دي، خو په وار وار درود ويل ځکه واجب نه دي چي امر د تکرار تقاضا نه کوي، ځکه چي د درود د واجبوالي متعلق دی د سبب متکرر سره، او هغه سبب متکرر د نبي ذکر (يادېدل) دي، نو د ذکر په تکرار سره به درود مکرره وي، لکه څرنګه چي د وختونو په تکرار سره د لمانځه وجوب مکرره کيږي، لهذا چي کله له لمانځه څخه دباندي درود ويل واجب سو، نو په امر يعني صلوا عليه باندي عمل وسو، او په لمانځه کي د درود واجبولو څه ضرورت نسته.

د دوهم دليل جواب: دا دی چي دا حديث د کمال پر نفي محمول دی، يعني له درود څخه بغير لمونځ کامل او بشپړ نه دی، لکه څرنګه چي لا صلاة لجار المسجد إلا فى المسجد د کمال پر نفي محمول دی، او په دې باندي قرينه دا ده چي نبي ﷺ صحرائي ته د لمانځه د تعليم ورکولو په وخت کي نبي ﷺ درود ذکر نه کړی، که درود فرض وای نو نبي ﷺ به حتماً ذکر کولای.

فايده: پاته سوه دا خبره چي پر نبي ﷺ به درود شريف په کوم کيفيت او طريقه سره ويل کيږي، نو په دې باره کي عيسى بن ابان رَحِمَهُ الله په کتاب الحج على اهل المدينة کي ذکر کړي دي چي له امام صاحب څخه د درود په باره کي

پوښتنه وسوه، نو هغه فرمايل چې دا دي وايې: اللّٰهم صلّ على محمد وعلى ال محمد كما صليت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد، صاحب د كفايه ليكلي دي چې دا درود د كعب بن عجره ﷺ د حديث سره موافق دی. حضرت علي، ابن عباس او جابر رضي الله عنهم نبي ﷺ ته ورېل چې موږ ته خو پر تا د سلام كولو طريقه معلومه ده لېكن درود به څرنګه وايو، نو نبي ﷺ وفرمايل: داسي واياست: اللّٰهم صلّ على محمد وعلى ال محمد وبارك على محمد وعلى آل محمد وارحم محمد وال محمد كما صليت وباركت وترحمت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم في العالمين انك حميد مجيد.

په آخره ناسته كې د ماثوره(را نقل سوو) دعاګانو ويل

قَالَ: وَدَعَا بِمَا يُشْبِهُ أَلْفَاظَ الْقُرْآنِ وَالْأَدْعِيَةِ الْمَأْثُورَةِ فرمايي چې په داسي الفاظو سره به دعاء كوي چې هغه د قرآن د الفاظو سره او د را نقل سوو دعاګانو سره مشابه(ورته) وي لِمَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه دليل په وجه كوم چې موږ د ابن مسعود رضي الله عنهما له حديث څخه بيان كړی قَالَ لَهُ النَّبِيُّ● عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ چې نبي ﷺ هغه ته وفرمايل ثُمَّ اخْتَرْ مِنَ الدُّعَاءِ أَطْيَبَهُ وَأَعْجَبَهُ إِلَيْكَ بيا ته هغه دعاء غوره كړه چې هغه تاته ډېره جالبه او زياته ښه معلومه سي وَيَبْدَأُ بِالصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دعاء به پر نبي ﷺ په درود ويلو سره شروع كوي لِيَكُونَ أَقْرَبَ إِلَى الْإِجَابَةِ دي لپاره چې قبوليت ته زياته نژدې سي.

اللغات: ﴿أَدْعِيَة﴾ جمع ده، واحد يې: دعاء دی: بلل، نداء، ﴿أَطْيَب﴾ اسم تفضيل دی: زيات پاک، زيات صفا او خوشبودار، ﴿أَعْجَب﴾ دا هم اسم تفضيل دی: زيات ښه، په زړه پوري.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې لمونځ كوونكی دي په آخره ناسته كې تر تشهد او درود ويلو وروسته دعاء كوي، او د دې خبرې اهتمام او پابندي دي كوي چې د دعاء كلمې په قرآن كې د ذكر سوو دعاګانو د الفاظو سره مشابه وي، مثلاً دا دعاء دي كوي: اللّٰهم اغفرلي ولوالدي ...الخ رب اجعلني مقيم الصلاة، ربنا إننا سمعنا مناديا...الخ، ربنا وآتنا ما وعدتنا...الخ او نور، يا دي دعاء په حديثونو كې د ذكر سوو دعاګانو د الفاظو سره مشابه وي، مثلاً: اللّٰهم إني ظلمت نفسي...الخ، اللّٰهم إنا نسألك من خير ما سألك منه عبدك ونبيك سيدنا محمد ﷺ او داسي نور، كومې دعاوې چې را نقل سوي دي هغه دي يادي كړي او هغه دي وايېږ

دليل: د دعاء كولو دليل هم د حضرت ابن مسعود رضي الله عنهما حديث دی، ځكه چې د هغه په آخر كې دا الفاظ ذكر سوي دي: ثم اختر من الدعاء...الخ، ښكاره دي چې أطيب او أعجب په معنیٰ كې خاص فرق نه لري.

ويبدأ الخ فرمايي چې كله دعاء شروع كوي نو په درود سره دي يې شروع كوي، ځكه چې الله درود شريف ضروري قبلوي، نو د درود په ضمن كې به د لمونځ ګزاره دعاء هم قبوله كړي، ځكه چې الله كريم دی، او له كريم ذات څخه دا ليرې ده چې هغه د دعاء څه حصه قبوله كړي او څه دي رد كړي. (عنايه)

● أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب ما يتخير من الدعاء بعد التشهد، حديث رقم: ٨٣٥.

په آخره ناسته کې کومې دعاوې ممنوع دي

وَلَا يَدْعُوْ بِمَا يُشْبِهُ كَلَامَ النَّاسِ او لمونځ گزاره دې په (آخره ناسته کې په) داسې الفاظو سره دعاء نه کوي چې هغه د خلکو د کلام (خبرو) سره مشابه وي تَحَرُّزًا عَنِ الْفَسَادِ دلمانځه له فساد ځنځه د ځان ساتلو لپاره وَلِهٰذَا يَأْتِيْ بِالْمَأْثُوْرِ الْمَحْفُوْظِ نو ځکه دې هغه دعاء کوي چې هغه په حديث کې رانقل سوې وي او محفوظه (خوندي) وي وَمَا لَا يَسْتَحِيْلُ سُؤَالُهُ مِنَ الْعِبَادِ او هغه شيان چې دهغه غوښتل له بندګانو ځنځه ناممکنه نه وي كَقَوْلِهِ اَللّٰهُمَّ زَوِّجْنِيْ فُلَانَةً لکه دهغه اللهم زوجني فلانة ويل يُشْبِهُ كَلَامَهُمْ (نو دا) دخلکو دخبرو (كلامُ الناس) سره مشابه دي وَمَا يَسْتَحِيْلُ او د کومو شيانو غوښتنه چې (له بندګانو ځنځه) ناممکنه وي كَقَوْلِهِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ لکه دهغه اللهم اغفرلي ويل لَيْسَ مِنْ كَلَامِهِمْ دا دخلکو دخبرو (كلامُ الناس) ځنځه نه دي وَقَوْلُهُ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ مِنْ قَبِيْلِ الْأَوَّلِ او دهغه اللهم ارزقني ويل د كلام الناس له قبيلې ځنځه دي لِاسْتِعْمَالِهَا فِيْمَا بَيْنَ الْعِبَادِ ځکه چې د بندګانو په مينځ کې دا استعمالیږي يُقَالُ: رَزَقَ الْأَمِيْرُ الْجَيْشَ ويل کيږي: رزق الأمير الجيش (امير لښکر ته روزي ورکړه).

اللغات: ﴿مأثور﴾ اسم مفعول دی: را نقل سوی، روايت سوی، (يعني هغه دعاوي چې له نبي ﷺ ځنځه را نقل سوي وي) ﴿يستحيل﴾ د استفعال د باب مضارع صيغه ده: ناممکنه کېدل، محاله کېدل. ﴿زوّج﴾ د امر صيغه ده د تفعيل له باب ځنځه: واده کول، نکاح کول. ﴿الجيش﴾ لښکر، فوج.

تشريح: مسئله: دا ده چې لمونځ کونکی دې تر درود وروسته په داسې الفاظو سره دعا نه کوي چې هغه د خلکو د کلام (خبرو) سره مشابه وي، د دې لپاره چې د لمانځه دغه آخري جزء له فاسدېدلو ځنځه خوندي پاته سي، نو په دې وجه وويل سوه چې لمونځ گزار ته پکار دي چې رانقل سوي دعاګانې ووايي.

د خلکو د كلام سره مشابه دعاء لمونځ فاسدوي، که نه؟ ښکاره دې وي چې تر تشهد وروسته که په داسې الفاظو سره دعاء وسي چې هغه د خلکو د خبرو سره مشابه وي نو په دې سره ټوله لمونځ نه فاسدیږي، ځکه که تر تشهد وروسته حقيقةً هم د خلکو خبري پيدا سي، نو لمونځ نه فاسديږي، نو په هغه خبرو سره خو په طريقه اولیٰ نه فاسدیږي چې هغه صرف د خلکو د خبرو سره مشابه وي، دا حکم د صاحبينو په نيز دی، همدارنګه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هم نه فاسدیږي، ځکه چې كلامُ الناس په خپله د لمونځ گزاره له طرف ځنځه خروج بصنعه (يعني له لمانځه ځنځه وتل) دي. نو ځکه به په دې سره لمونځ پوره کيږي، او هغه دعاء کوم چې د خلکو د خبرو سره مشابه او تر تشهد وروسته وسي، نو هغه به له لمانځه ځنځه دباندې شمارل کيږي، او لمونځ به نه ور سره فاسديږي. (عنيه)

د خلکو د كلام سره د مشابه کېدلو معنیٰ: پاته سوه دا خبره چې کومه دعاء د خلکو د خبرو سره مشابهت لري. او کومه دعاء د خلکو د خبرو سره مشابهت نه لري، نو په دې باره کې فرمايي چې د کومو شيانو غوښتنه له بندګانو ځنځه ناممکنه نه وي لکه دا قول: اللهم زوجنى فلانة (اې الله! د فلانکۍ ښځې سره زما واده وکړې) نو دا د خلکو د خبرو سره مشابه دي. او د کومو شيانو غوښتنه چې له بندګانو ځنځه محاله او ناممکنه وي لکه دا قول: اللهم اغفرلي (اې الله! ما ته بخښنه وکړې) نو دا د خلکو د خبرو سره مشابه نه دي، او دا قول: اللهم ارزقني (الهي! رزق راکړې) نو دا د اول قسم يعني د خلکو د خبرو

سره مشابه دي، همدا صحيح ده، دليل يې دا دی چې داسي خبره د خلکو په مينځ کي استعماليږي، لکه څرنګه چې ويل سوي دي: رزق الامير الجيش، (امير ولښکر ته رزق او روزي ورکړه).

راسته او چپه طرف ته سلام ګرځول، او په سلام کي د نيت حکم

ثُمَّ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ بيا دي خپل راسته طرف ته سلام وګرځوي فَيَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ او ودې وايي: السلام عليكم ورحمة الله وَعَنْ يَسَارِهِ مِثْلَ ذٰلِكَ او چپه طرف ته دي هم داسي ووايي لِمَا رَوَى ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه د هغه حديث په وجه چي ابن مسعود رضي الله عنه روايت کړی دی أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ چي نبي ﷺ به راسته طرف ته سلام (داسي) ګرځوی حَتّٰى يُرَىٰ بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْمَنِ تر دې چي د نبي ﷺ د راسته باړخو (رخسار) سپينوالی به ليدل کېدی وَعَنْ يَسَارِهِ حَتّٰى يُرَىٰ بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْسَرِ او چپه طرف ته به يې سلام ګرځوی تر دې چي د چپه باړخو سپينوالی به يې ليدل کېدی وَيَنْوِي بِالتَّسْلِيمَةِ الْأُولٰى مَنْ عَلٰى يَمِينِهِ او لمونځ کونکی دي په اول سلام کي د هغو نيت کوي کوم چي د ده راسته طرف ته وي مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْحَفَظَةِ يعني د خلکو او د ښځو او د حفاظت کونکو فرشتو وَكَذٰلِكَ فِي الثَّانِيَةِ او همدا نيت دي په دويم سلام کي هم کوي لِأَنَّ الْأَعْمَالَ بِالنِّيَّاتِ ځکه چي د اعمالو مدار پر نيتونو دی (نو که په سلام کي د مقتديانو او فرشتو نيت وکړي نو هغو ته به ثواب حاصليږي) وَلَا يَنْوِي النِّسَاءَ فِي زَمَانِنَا او زموږ په زمانه کي دي د ښځو نيت نه کوي وَلَا مَنْ لَا شِرْكَةَ لَهُ فِي صَلَاتِهِ او نه دي د هغو خلکو نيت کوي چي په لمانځه شريک نه وي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ الْخِطَابَ حَظُّ الْحَاضِرِينَ ځکه چي خطاب د حاضرينو حق دی.

اللغات: ﴿بياض﴾ سپينوالی، ځلا، ﴿خد﴾ باړخو، اننګي (رخسار)، ﴿حفظة﴾ جمع ده، واحد يې حافظ دی: ساتونکي فرشتې، کراماً کاتبين، ﴿حظ﴾ حصه، برخه، حق.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي لمونځ کوونکي به تر تشهد او درود او دعاء ويلو وروسته دواړو طرفونو ته سلام ګرځوي، اول به راسته طرف ته او بيا چپه طرف ته، او د سلام الفاظ دا دي: السلام عليكم ورحمة الله. (يعني پر تاسو دي سلام او د الله رحمت وي)، د جمهورو عالمانو او د سترو صحابه کرامو لکه حضرت عمر، حضرت علي او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنهم هم دا مذهب دی.

دليل: د حضرت عبد الله بن مسعود رَحِمَهُ الله حديث دی: أن النبي ﷺ كان يسلم عن يمينه حتى يرى بياض خده الأيمن و عن يساره حتى يرى بياض خده الأيسر.

وينوى الخ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د اول سلام ګرځولو پهٔ وخت کي به د هغه خلکو نيت کوي کوم چي د ده راسته طرف ته وي، هغه که نارينه وي او که ښځي، همدارنګه به د ساتونکو فرشتو نيت کوي، او چپه طرف ته به هم د دې انسانانو او فرشتو نيت کوي.

● أخرجه النسائي في كتاب التطبيق، باب التكبير، عند رفع من السجود، حديث رقم: ١١٤٣.

دليل: دا دی چې د دې اعمالو مدار پر نيت دی، لکه په حديث کې چې هم راغلي دي.

ولاينوي الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې زموږ په زمانه کې به د ښځو نيت نه کوي ځکه چې په دې زمانه کې د ښځو مسجد ته راتلل د متأخرينو په اجماع سره پرېښوول سوي دي، (نو د دوی د نيت ضرورت پاته نه سو).

ولا من لا شركة الخ او کوم مسلمانان چې په لمانځه کې شريک نه وي د هغوی نيت به هم نه کوي، همدا صحيح قول دی، او حاکم شهيد رَحِمَهُ الله ويلي دي چې د ټولو خلکو او ښځو نيت به کوي هغه که په لمانځه کې شريک وي او که نه وي، د دې لپاره چې دا سلام د تشهد د سلام يعني د: السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين سره موافق سي.

د صحيح قول دليل دا دی چې په السلام عليکم کې خطاب حاضرينو ته دی، او خطاب د حاضرينو حصه ده، نو ځکه به په سلام کې صرف د حاضرينو نيت کيږي.

مقتدي او يوازې لمونځ کونکی به په سلام کې د چا نيت کوي؟

وَلَا بُدَّ لِلْمُقْتَدِيْ مِنْ نِيَّةِ إِمَامِهِ او د مقتدي لپاره د خپل امام نيت کول ضروري دي فَإِنْ كَانَ الْإِمَامُ مِنَ الْجَانِبِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ نو که امام راسته طرف ته وو يا چپه طرف ته وو نَوَاهُ فِيْهِمْ نو د خلکو سره به د هغه نيت (هم) کوي وَإِنْ كَانَ بِحِذَائِهِ او که امام د مقتدي مخ ته وو (يعني مقتدي د امام راسته يا چپه طرف ته نه وو بلکې خاص د امام شاته وو) نَوَاهُ فِي الْأُوْلٰى عِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ نو (په داسي صورت کې به) په اول سلام کې د هغه نيت کوي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز تَرْجِيْحًا لِلْجَانِبِ الْأَيْمَنِ راسته طرف ته د ترجيح ورکولو په وجه (يعني د راسته طرف د غوره ګڼلو په وجه) وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ● وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نَوَاهُ فِيْهِمَا او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز او همدغه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله يو روايت دی چې په دواړو طرفونو کې به د امام نيت کوي لِأَنَّهُ ذُوْ حَظٍّ مِنَ الْجَانِبَيْنِ ځکه چې امام په دواړو طرفونو کې حصه لرونکی دی وَالْمُنْفَرِدُ يَنْوِي الْحَفَظَةَ لَا غَيْرُ او منفرد (يوازې لمونځ کونکی) به صرف د ساتونکو فرښتو نيت کوي لِأَنَّهُ لَيْسَ مَعَهُ سِوَاهُمْ ځکه چې له هغو څخه ماسوا نور څوک د ده سره نسته.

اللغات: ﴿ترجيح﴾ غوره ګڼنه، ښه ګڼنه.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې مقتدي دې په خپل سلام کې د خپل امام نيت هم کوي، هغه که امام راسته طرف ته وي يا چپه طرف ته، د مقتدي لپاره د امام نيت ضروري دی، او که امام د مقتدي په مقابل کې وو يعني بالکل د مقتدي مخ ته وو، نو په دې صورت کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز حکم دا دی چې مقتدي دې په اول سلام کې د امام نيت کوي، ځکه چې اول سلام راسته طرف ته وي او راسته طرف ته فضيلت حاصل دی، په حديث کې راغلي دي: كان رسول الله ﷺ يحب التيامن في كل شيء...الخ (يعني رسول الله ﷺ په هر شي کې راسته والی خوښوی). او د امام محمد او امام اعظم رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې هم دې په راسته طرف کې د امام نيت کوي او هم دې په چپه طرف کې، ځکه چې

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:۱، ص:۳۹. [القول الراجح ج:۱، ص:۸۲]

امام له دواړو طرفونو څخه حصه لري، (يعني ګواکي امام د مقتدي دواړو طرفونو ته واقع دی) نو ځکه به هغه په دواړو سلامونو کي د نيت کولو حقداره وي.

والمنفرد الخ او منفرد سړی کوم چي يوازي لمونځ کوي، هغه دي په دواړو طرفونو کي د ساتونکو فرشتو (کراماً کاتبين) نيت کوي، ځکه چي په السلام عليکم کي خطاب حاضرينو ته دی، او له فرشتو څخه علاوه بل هيڅوک د ده سره نشته، نو ځکه به صرف د هغو نيت کوي.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة جلال الدين الخوارزمی رَحِمَهُ الله (قوله لا بد للمقتدی من نية امامه) تخصيص الامام بالذکر يؤيد قول من يقول انه ينوی من يشارکه فی الصلوة، کذا فی الجامع الصغير لقاضيخان رَحِمَهُ الله، (کفايه ج۱، ص۲۷۹)، [القول الراجح، ج۱، ص۸۲]

امام به په سلام کي د چا نيت کوي؟

وَالْإِمَامُ يَنْوِي بِالتَّسْلِيمَتَيْنِ او امام به په دواړو سلامو کي نيت کوي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده وَلَا يَنْوِي فِي الْمَلَائِكَةِ عَدَدًا مَحْصُورًا او په ملائکو کي به د يو متعين شمېر نيت نه کوي لِأَنَّ الْأَخْبَارَ فِي عَدَدِهِمْ قَدِ اخْتَلَفَتْ ځکه چي د دوی د شمېر متعلق حديثونه مختلف دي فَأَشْبَهَ الْإِيمَانَ بِالْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نو دا پر نبيانو عليهم السلام باندي د ايمان راوړلو په څېر سو ثُمَّ إِصَابَةُ لَفْظِ السَّلَامِ وَاجِبَةٌ عِنْدَنَا بيا زموږ په نيز د سلام لفظ اداء کول واجب دي وَلَيْسَتْ بِفَرْضٍ او فرض نه دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله (په دې کي) اختلاف دی هُوَ يَتَمَسَّكُ بِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● هغه د نبي ﷺ په دې قول سره دليل نيسي تَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ چي د لمانځه تحريمه په تکبير سره کيږي او د لمانځه ختمېدل په سلام سره کيږي وَلَنَا مَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ● ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او زموږ دليل د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا هغه حديث دئ کوم چي موږ بيان کړی (چي په هغه کي اختيار ورکول سوی دی) وَالتَّخْيِيرُ يُنَافِي الْفَرْضِيَّةَ وَالْوُجُوبَ او اختيار ورکول د فرض کېدلو او واجبېدلو دواړو منافي دی إِلَّا أَنَّا أَثْبَتْنَا الْوُجُوبَ بِمَا رَوَاهُ احْتِيَاطًا خو بيا هم موږ د امام شافعي رَحِمَهُ الله د بيان سوي روايت په وجه د احتياط په توګه وجوب ثابت کړی دی وَبِمِثْلِهِ لَا تَثْبُتُ الْفَرْضِيَّةُ خو په داسي روايت سره فرضيت نه ثابتيږي، والله أعلم.

اللغات: ﴿محصور﴾ معلوم، متعين، شمېرل سوی، ټاکل سوی، ﴿أشبه﴾ د افعال باب دی: مشابه کېدل، ورته کېدل، ﴿إصابة﴾ د افعال د باب مصدر دی: رسول، راوړول، اچول، اداء کول، ﴿يتمسك﴾ د تفعّل د باب مضارع صيغه ده: دليل نيول، تکيه کول، نيول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چي امام به په خپلو دواړو سلامونو کي د ساتونکو فرشتو او د دواړو طرفونو مقتدياتو نيت کوي، همدا صحيح قول دی، بعضو ويلي دي چي امام د نيت محتاج نه دی، او بعضو ويلي دي چي په يوه سلام کي نيت کول کافي دي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په فرشتو کي به د معين او ټاکلي شمېر نيت نه کوي، بلکي مطلق به د

● تخريج: أخرجه دار قطنی فی کتاب الصلاة، باب تحليل الصلاة التسليم.

● تخريج: قدمه تخريجه، راجع تحت حديث رقم:۴۵.

فرشتو نیت کوي، ځکه چې د ساتونکو فرشتو شمېر په آثارو او حدیثونو کې مختلف ذکر سوی دی (په یوه روایت کې دوه، په بل روایت کې پنځه، او په بعضو کې شپېته، او په بعضو کې یو سل و شپېته).

په سلام کې د "السلام" لفظ ضروري دی

ثم إصابة الخ له دې ځایه دا را ښیي چې زموږ په نېز د السلام لفظ ادا کول واجب دي، فرض نه دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د السلام لفظ اداء کول فرض دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل د نبي ﷺ دا فرمان دی: تحليلها التسليم له دې فرمان څخه امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل په دې توګه نیسي چې تر دې مخکې نبي ﷺ تحريمها التكبير ویلي دي چې له هغه څخه مراد تکبیر تحریمه ده، او تکبیر تحریمه په لمانځه کې فرض ده، نو ځکه به د السلام اداء کول هم په لمانځه کې فرض وي، ځکه څرنګه چې په تحريمها التكبير کې حصر دی؛ همدارنګه په تحليلها التسليم کې هم حصر دی، نو لکه څرنګه چې له تکبیر څخه بغیر په لمانځه کې داخلېدل صحیح نه دي، همدارنګه له سلام څخه بغیر له لمانځه څخه وتل صحیح نه دي.

زموږ دلیل: دا دی چې کله نبي ﷺ ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته د تشهد تعلیم ورکړی، نو داسې یې ورته وفرمایل: إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك، إن شئت أن تقوم فقم، وإن شئت أن تقعد فاقعد. (یعني تر تشهد وروسته ستا لمونځ پوره کېږي، نو بیا که ته غواړې چې ولاړ سې نو ولاړ سه او که غواړې چې کښېنې نو ناست ووسه). له دې څخه معلومه سوه چې د لمانځه آخري رکن او آخري فرض د تشهد په اندازه کښېنستل دي، او تر هغه وروسته لمونځ کونکي ته اختیار دی که غواړي نو له لمانځه څخه دې ولاړ سي او که غواړي نو ناست دې ووسي، او دعاوي دې ووایي، او اختیار د فرضیت او وجوب دواړو منافي دی، نو ځکه د السلام لفظ به نه فرض وي او نه واجب، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله چې کوم دلیل بیان کړی دی څرنګه چې په هغه کې په حصر سره تحليلها السلام ویل سوی دی، نو ځکه د احتیاط په وجه موږ د السلام ادا ینه واجب وګرځول، او بیا دا حدیث د خبر واحد له قبیلې څخه دی، او خبر واحد وجوب ثابتوی سي، فرضیت هیڅکله ثابتولای نه سي، ځکه چې د فرضیت د ثبوت لپاره قطعي نص ضروري دی، هغه دلته نسته، نو ځکه به د السلام ادا ینه فرض نه وي، لېکن له وجوب څخه یې انکار نه سي کېدی.

فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ

(دا) فصل د قرائت (د احكامو په بيان كي) دى

تشريح: تر دې مخكي صاحب د كتاب د لمانځه فرائض، اركان، واجبات او سنتونه بيان كړل چي د هغو په ضمن كي د قرائت يادونه هم وسوه، خو څرنګه چي د قرائت احكام ډېر پيښيږي يعني كثير الوقوع دي، او متعلقات يې هم بې شمېره دي، نو ځكه په تفصيلي توګه د هغو ټولو د بيانولو لپاره د قرائت احكام په جلا او عليحده فصل كي بيانوي، او د قرائت له دوو قسمونو څخه يعني له سرّي او جهري څخه د قرائت بالجهر احكام مخكي بيانوي، وجه يې دا ده چي قرائت بالجهر داسي صفت دى چي په هغه سره په پوره او كامله توګه اداء ثابتيږي. (منايه ج۱، ص۲۳۱)

د جهري او سرّي لمونځونو بيان

قَالَ: وَيَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ فرمايي: چي لمونځ ګزاره به په لوړ اواز سره قرائت كوي فِي الْفَجْرِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ د سهار په لمانځه كي او د ماښام او ماخوستن په اولو دوو ركعتو كي إِنْ كَانَ إِمَامًا كه دا لمونځ ګزاره امام وو وَيُخْفِي فِي الْأُخْرَيَيْنِ او په آخري دوو ركعتو كي به په كراره قرائت كوي هَذَا هُوَ الْمُتَوَارَثُ● همدغه متوارث دي (يعني همدغه د نبي ﷺ او د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او د تابعينو له زماني څخه را نقل سوي دي او تر اوسه عمل په كيږي) وَإِنْ كَانَ مُنْفَرِدًا او كه لمونځ ګزاره منفرد(يوازي لمونځ كونكى) وو فَهُوَ مُخَيَّرٌ نو هغه ته اختيار دى إِنْ شَاءَ جَهَرَ وَأَسْمَعَ نَفْسَهُ كه غواړي نو جهري قرائت دي وكړي او په خپل ځان دي يې واوري لِأَنَّهُ إِمَامٌ فِي حَقِّ نَفْسِهِ ځكه چي هغه د خپل ځان په حق كي امام دى وَإِنْ شَاءَ خَافَتَ او كه غواړي نو په كراره سره دي قرائت وكړي لِأَنَّهُ لَيْسَ خَلْفَهُ مَنْ يُسْمِعُهُ ځكه د ده شاته داسي څوك نسته چي دى خپل قرائت په واوري وَالْأَفْضَلُ هُوَ الْجَهْرُ لِيَكُونَ الْأَدَاءُ عَلَى هَيْئَةِ الْجَمَاعَةِ او جهري قرائت غوره دى د دې لپاره چي اداء د جماعت په توګه وي وَيُخْفِيهَا الْإِمَامُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ او امام به د ماپښين او مازيګر په لمانځه كي سرّي قرائت كوي وَإِنْ كَانَ بِعَرَفَةَ كه څه هم هغه په عرفات كي وي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ●صَلَاةُ النَّهَارِ عَجْمَاءُ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي: د ورځي لمونځ ګونګ دى أَيْ لَيْسَتْ فِيهَا قِرَاءَةٌ مَسْمُوعَةٌ يعني په هغه كي داسي قرائت نسته چي واوريدل سي وَفِي عَرَفَةَ خِلَافُ مَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ او په عرفات كي د امام مالک رَحِمَهُ الله اختلاف دى وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَاهُ او د هغه په خلاف زموږ روايت سوى حديث حجت دى (يعني: صلاة النهار عجماء).

● تخريج: أخرجه العجلوني في كشف الخفاء، حديث رقم: ۱۶۰۹؛ و رواه عبد الرزاق في مصنفه من قول مجاهد.

● تخريج: قال الزيلعي في نصب الراية ج:۲، ص:۲ غريب ورواه عبد الرزاق في مصنفه، من قول مجاهد وابي عبيدة فقال اخبرنا محمد عن عبد الكريم الجزري، قال: سمعت ابا عبيدة يقول: صلاة النهار عجماء.

اللغات: ﴿**التوارث**﴾ په ورثه کي تر لاسه سوی شی، مراد ځني را نقل سوی شی دي، ﴿**هيأة**﴾ صورت، شکل، حالت، توګه، ﴿**جماعة**﴾ کونکی، د څه ویلو او خبرو کولو شخصه بې برخي، ﴿**عرفة**﴾ په مکه مکرمه کي د یو ځای نوم دی چي د حج له مشاعرو څخه یو ستر مشعر دی.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که لمونځ کونکی امام وي نو پر هغه د سهار په دوو رکعتونو او د ماښام او ماخوستن په اولو دوو رکعتونو کي قرائت په لوړ اواز سره (جهرا) کول واجب دي، او په پاته رکعتونو کي يعني د ماښام په دریم رکعت او د ماخوستن په آخري دوو رکعتونو کي قرائت په کراره (سرا) کول واجب دي، همدغه له نبي ﷺ او صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او تابعينو څخه را نقل سوي دي.

بیا په جهري لمانځه کي جهر کول او په سرّي لمانځه کي اخفاء کول (یعني په کراره ویل) واجب دي، او وجوب له سنت (یعني حدیث) څخه ثابت دی.

نقلي دليل: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی: أنه قال في كل صلاة يقرأ فما أسمعنا رسول الله ﷺ أسمعناكم وما أخفى علينا أخفينا عليكم (یعني په هر لمانځه کي د قرآن قرائت کيږي، نو رسول الله ﷺ چي په کوم ځای کي په موږ قرائت اورولی وو، موږ په تاسو واوروی او چيري چي یې پر موږ پټ کړی وو، موږ پر تاسو پټ کړی)؛ حاصل دا چي په کومو لمونځونو کي رسول الله ﷺ جهر کړی وو او په موږ یې اورېدلی وو، نو په هغو کي موږ جهر کړی دی، او په تاسو مو اورېدلی دی، او په کومو لمونځونو کي چي رسول الله ﷺ اخفاء کړې وه، نو په هغو کي موږ اخفاء کړې ده، او په تاسو مو هلته قرائت نه دي اورېدلی، نو معلومه سوه چي په جهري لمونځونو کي جهر او په سري لمونځونو کي اخفاء په سنت سره ثابت دي، او د امت اجماع هم دلیل دی، ځکه چي د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر اوسه پوري په جهري لمونځونو کي پر جهر او په سري لمونځونو کي پر اخفاء د ټوله امت اجماع ده.

عقلي دليل: دا دی چي قرائت د لمانځه له ارکانو څخه یو رکن دی، نو څرنګه چي د ټولو ارکانو ښکاره کول ضروري دي همداړنګه د قرائت ښکاره کول هم ضروري دي، همدا وجه وه چي د اسلام په شروع کي به نبي ﷺ په ټولو لمونځونو کي قرائت بالجهر کوی، او مشرکينو چي به قرائت واورېدی نو نبي ﷺ ته به یې تکليف رسوی او رد و بد به یې ویل، نو الله تعالیٰ دا آيت را نازل کړی: وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا [سورة الإسراء: ١١٠] (یعني نه په ټولو لمونځونو کي جهر کوه او نه په ټولو لمونځونو کي اخفاء کوه) وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا [سورة الإسراء: ١١٠] (بلکي مينځنۍ لاره اختيار کړه)، یعني د شپې په لمونځونو کي جهر کوه او د ورځي په لمونځونو کي اخفاء کوه، نو تر دې آيت وروسته نبي ﷺ د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کي اخفاء شروع کړه، ځکه چي په دې دوو وختونو کي به کفار د تکليف رسولو لپاره فارغه وه، لېکن په نورو وختونو کي به په خوراک، خوب یا غفلت او خپل مينځوي ګپ شپ سره مشغوله وه، نو ځکه په دې نورو وختونو کي نبي ﷺ جهر اختيار کړی.

وإن كان منفردا الخ لېکن که لمونځ ګزاره منفرد وو، نو هغه ته اختيار دی، که خوښه یې وي، نو جهر دي وکړي او په خپل ځان دي یې واوري، ځکه چي دی د خپل ځان په حق کي امام دی، او که خوښه یې نو اخفاء دي وکړي، ځکه چي بل داسي څوک د ده سره نسته چي دی خپل قرائت په واوري، هر چي لوی څښتن ﷻ دی نو هغه هر پټ او ښکاره اوري، حاصل دا چي پر منفرد نه جهر واجب دی او نه اخفاء، لېکن جهر افضل دی، د دې لپاره چي د منفرد لمونځ د جماعت په شکل سي.

ويخفيها الإمام الخ د ماپښين او مازيګر په لمانځه کي پر امام اخفاء يعني په کراره قرائت کول واجب دي، نو کله چي د جماعت په حالت کي اخفاء کول واجب دي، نو پر منفرد به په طريقه اولیٰ سره په ماپښين او مازيګر کي اخفاء کول واجب وي.

دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: صلاة النهار عجماء. (يعني ورځنی لمونځ ګونګ دی) يعني داسي قرائت پکښي نسته چي واورېدل سي، حاصل دا چي د ورځي په لمونځونو کي قرائت خو سته خو په کراره به ويل کيږي نه دا چي په لوړ اواز سره، حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د دې حديث تفسير داسي کړی دی: لا قراءة في هاتين الصلاتين، يعني د ورځي په دې دوو لمونځونو کي قرائت نسته، نه په جهر سره او نه په اخفاء سره، خو د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا تفسير صحيح نه دی. ځکه چي يو وار له خباب بن ارت رضي الله عنه ځخه پوښتنه وسوه چي: بم عرفتم قراءة رسول الله ﷺ في صلاة الظهر والعصر. قال باضطراب لحيته. (يعني تاسو څرنګه وپېژندله چي نبي ﷺ د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کي قرائت کوي، نو خباب بن ارت رضي الله عنه وفرمايل چي د نبي ﷺ د ږيري مبارکي په ښورېدلو سره).

وفي عرفة الخ زموږ په نيز د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کي علی الاطلاق اخفاء واجب ده، که څه هم دا لمونځونه په عرفات کي اداء کړی سي، يا په بل ځای کي اداء کړی سي، ليکن امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي چي په عرفات کي په دې دوارو لمونځونو کي جهر واجب دی.

د امام مالک دليل: دا دی چي په عرفات کي په لوی جماعت سره دا لمونځونه اداء کيږي، نو لکه څرنګه چي د جمعې په ورځ جهر کيږي، دلته به هم جهر کيږي.

جواب: د امام مالک رَحِمَهُ الله په خلاف هغه حديث حجت دی کوم چي موږ روايت کړی يعني: صلاة النهار عجماء، او د دې په خلاف د امام مالک رَحِمَهُ الله هيڅ دليل نسته.

په جمعه، اختر او نفلي لمانځه کي د جهر حکم

ويجهر في الجمعة والعيدين او امام به د جمعې او اخترونو په لمونځونو کي جهر کوي (يعني په لوړ اواز به قرائت کوي) لورود النقل المستفيض بالجهر ځکه چي د جهر په باره کي مشهوره حديث وارد سوی دی وفي التطوع بالنهار يخافت او په نفلي لمانځه کي به اخفاء کوي (يعني په پټه به قرائت کوي) وفي الليل يتخير او د شپې په نفلي لمانځه کي ورته اختيار دی إعتبارا بالفرض في حق المنفرد د منفرد په حق کي په فرضو باندي په قياسولو سره وهذا لأنه مكمل له او دا حکم په دې وجه دی چي نفل د فرضو لپاره پوره کونکي دي فيكون تبعاله نو ځکه به نفل د فرضو تابع وي.

اللغات: ﴿المستفيض﴾ عام، مشهور، د حديثو يو قسم دی چي له متواتر ځخه د کمي درجې او له خبرِ واحد ځخه د لوړي درجې دی، ﴿مکمّل﴾ د تفعيل د باب اسم فاعل دی: بشپړ کونکی، پوره کونکی.

تشريح: مسئله: دا ده چي پر امام د جمعې او اخترونو په لمونځونو کي جهري قرائت واجب دی، او په دې لړ کي مشهوره حديثونه او روايتونه سته، څرنګه چي زياتره محدثينو دا روايت بيان کړی دی: أنه ﷺ كان يقرأ في العيدين ويوم الجمعة "سبح اسم ربك الأعلى، وهل أتاك حديث الغاشية"، له دې ځخه ماسوا په مسلم شريف کي د ابو واقد ليثي

ﷺ دا روايت ذکر سوی دی چې له هغه شخه حضرت عمر ﷺ پوښتنه وکړه: ما کان يقرأ به رسول الله ﷺ في الأضحی والفطر فقال کان يقرأ ق والقرآن المجيد، و اقتربت الساعة، (يعني نبي ﷺ به په اخترونو کي کوم سورتونه، هغه جواب ورکړی چې سورة ق او سورة اقتربت الساعة)، ښکاره خبره ده چې نبي ﷺ به قرائت بالجهر کوی نو ځکه به صحابه وو ته معلومه وه چې نبي ﷺ به دا سورتونه ويله.

وفي التطوع الخ د دې حاصل دا دی چې د ورځې په نفلي لمونځونو کې اخفاء واجب ده، او د شپې په نفلي لمونځونو کې لمونځ گزار لره اختيار دی، که غواړي نو اخفاء دې وکړي او که غواړي نو جهر دې وکړي، ځکه چې نفل کونکی پر هغه سړي قياس کړی سوی دی چې هغه منفرد وي او فرض کوي، يعني څرنگه چې پر يوازي فرض کونکي سړي د ورځې په لمونځونو کې يعني په ماپښين او مازيگر کې اخفاء واجب ده، او د شپې په لمونځونو کې ورته اختيار دی، همدارنگه پر متنفل هم د ورځې په نفلونو کې اخفاء واجب ده، او د شپې په نفلو کې ورته اختيار دی.

وهذا الخ فرمايي چې نفل کونکی ځکه د فرض کونکي تابع دی چې په نفلو سره فرض پوره کيږي، په دې توگه چې نفل کونکی انسان به يقيناً هم د فرضو پابندي کوي، او کوم سړی چې نفل کوي نو اندازه وکړئ چې هغه به په څومره خشوع و خضوع، عاجزی او په څومره توجه سره فرض اداء کوي، او په دې باره کې په حديث کې هم بيان سوی دی، چې الله پاک به د قيامت په ورځ ووايي چې وگورئ زما د بنده لپاره يو نفلي لمونځ سته که نه؟ نو که وو، الله پاک به وفرمايي: چې په دې سره د ده فرضي لمونځونه ور پوره کړئ!.

د جهري لمانځه په قضاء راگرځولو کي د جهر حکم

وَمَنْ فَاتَتْهُ الْعِشَاءُ او له چا شخه چې د ماخوستن لمونځ فوت (قضا) سي فَصَلَّاهَا بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ او بيا يې هغه تر لمر راختلو وروسته وکړي (يعني تر لمر ختلو وروسته يې را وگرځوي) إِنْ أَمَّ فِيهَا جَهَرَ نو که هغه سړی په دې لمانځه کې امامت ورکوی نو په جهر سره دې قرائت وکړي (يعني په لوړ اواز دې قرائت وکړي) كَمَا فَعَلَ[●] رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لکه څرنگه چې رسول الله ﷺ وکړی حِينَ قَضَى الْفَجْرَ غَدَاةَ لَيْلَةِ التَّعْرِيسِ بِجَمَاعَةٍ کله چې نبي ﷺ د سهار د لمانځه قضاء د ليلة التعريس په سهار را وگرځوله وَإِنْ كَانَ وَحْدَهُ خَافَتَ حَتْمًا او که دا سړی يوازې (تنها) وو نو خامخا به اخفاء کوي (يعني په پټه به قرائت کوي) وَلَا يَتَخَيَّرُ او ده ته اختيار نه سته هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ الْجَهْرَ يَخْتَصُّ إِمَّا بِالْجَمَاعَةِ حَتْمًا ځکه چې جهر خو يا د جماعت سره خاص دی أَوْ بِالْوَقْتِ فِي حَقِّ الْمُنْفَرِدِ عَلَى وَجْهِ التَّخْيِيرِ يا د منفرد په حق کې د اختيار په توگه د وخت سره خاص دی وَلَمْ يُوجَدْ أَحَدُهُمَا او (دلته) له دواړو شخه يو هم نسته.

اللغات: ﴿أَمَّ﴾ د نصر د باب ماضي صيغه ده: امامت ورکول، امام جوړيدل، ﴿خَافَتَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي صيغه ده: پټول، په کراره ويل، ﴿حَتْمًا﴾ خامخا، لازمي، يقيني، ﴿لَيْلَةُ التَّعْرِيسِ﴾ د کوچ او کډې شپه، (له دې څخه مراد هغه شپه ده چې کله نبي ﷺ او صحابه رضي الله عنهم د جهاد له سفر شخه واپس راتلل، په لاره کي د خوب لپاره يو ځای تم سول، او حضرت بلال ﷺ د را

● أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب قضاء الصلاة الفائتة، حديث رقم: ۳۱۱.

ویښوولو نمه واري خپل په غاړه واخیستل، خو تولهبیده سول او هغه وخت راپورته سول چې لمر راوختې، بیا نبي ﷺ له هغه ځای څخه د کوچ حکم وکړی، کله چې لمر یو نېزه راپورته سو نو د سهار لمونځ یې را وګرځوي)

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که له یو چا څخه د ماخوستن لمونځ قضاء سي، او هغه د دې قضاء په را روانه ورځ کې تر لمر راختلو وروسته راګرځول غواړي نو د دې دوه صورتونه دي: (۱) یا به هغه په جماعت سره د لمانځه قضاء را ګرځوي، (۲) یا به یې یو ازې راګرځوي، که اول صورت وي یعني هغه سړی په جماعت سره قضاء را ګرځوي، او د خلکو امامت کوي، نو د هغه لپاره حکم دا دی چې جهري قرائت به کوي، ځکه چې کله له نبي ﷺ څخه د لیلة التعریس په وخت کې د سهار لمونځ قضاء سو، نو نبي ﷺ د دې لمانځه قضاء تر لمر راختلو وروسته په جماعت سره را وګرځوله، او قرائت بالجهر یې وکړی، نو دا قصه د دې خبري دلیل ده چې کله قضائي لمونځ په جماعت سره را ګرځول کیږي نو که هغه جهري لمونځ وو، جهر به پکښې کیږي. لیکن که هغه سړی یوازي د لمانځه قضاء راګرځول (یعني منفرد وو)، نو د هغه لپاره حکم دا دی چې هغه به خامخا اخفاء یعني په کراره به قرائت کوي، او د هغه لپاره دا ختیار نسته چې جهر وکړي، همدا قول صحیح دی، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په هو الصحیح سره د د شمس الائمه سرخسي، فخر الاسلام بزدوي او د قاضي خان او نورو له هغه قول څخه احتراز کړی دی چې په هغه کې دوی د منفرد لپاره هم جهر غوره ګڼلی دی، او دا یل یې دا بیان کړی دی چې د ماخوستن په لمانځه کې جهري قرائت کیږي، نو په قضاء راوړلو کې به یې هم جهري قرائت کیږي چې اداء د قضاء سره موافق سي. (عنایه)

په لمانځه کې د سورت فاتحې یا قرائت هېرېدلو بیان

وَمَنْ قَرَأَ فِي الْعِشَاءِ فِي الْأُولَيَيْنِ السُّورَةَ او چا چې د ماخوستن په اولو دوو رکعتو کې سورت ووایی وَلَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ خو سورت فاتحه یې نه ویله لَمْ يُعِدْ فِي الْأُخْرَيَيْنِ نو په آخري دوو رکعتو کې به سورت فاتحه نه راګرځوي وَإِنْ قَرَأَ الْفَاتِحَةَ وَلَمْ يَزِدْ عَلَيْهَا او که یې صرف سورت فاتحه ویل او پر هغه یې د سورت اضافه نه وکړه قَرَأَ فِي الْأُخْرَيَيْنِ الْفَاتِحَةَ وَالسُّورَةَ نو په آخري دوو رکعتو کې به سورت فاتحه او سورت دواړه وایي وَجَهَرَ او په جهر (لوړ اواز) سره به قرائت کوي وَهٰذَا● عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ او دا حکم د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَقْضِي وَاحِدَةً مِنْهُمَا امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چې له سورت فاتحه او سورت څخه به یو هم نه راګرځوي لِأَنَّ الْوَاجِبَ إِذَا فَاتَ عَنْ وَقْتِهِ ځکه کله چې واجب له خپل وخت څخه فوت (قضاء) سي لَا يُقْضَى إِلَّا بِدَلِيلٍ نو له دلیل څخه به بغیر د هغه قضاء نه راوړل کیږي وَلَهُمَا او د طرفینو دلیل دا دی وَهُوَ الْفَرْقُ بَيْنَ الْوَجْهَيْنِ او په دواړو خبرو کې د فرق وجه همدغه ده أَنَّ قِرَاءَةَ الْفَاتِحَةِ شُرِعَتْ عَلَى وَجْهٍ يَتَرَتَّبُ عَلَيْهَا السُّورَةُ چې د سورت فاتحې ویل داسې مشروع سوي دي چې پر دې به سورت مرتب وي (یعني د دې سره به یو سورت یو ځای کیږي) فَلَوْ قَضَاهَا فِي الْأُخْرَيَيْنِ نو (اوس) که په آخري دوو رکعتونو کې سورت فاتحه را وګرځوي تَتَرَتَّبُ الْفَاتِحَةُ عَلَى السُّورَةِ نو فاتحه به پر سورت مرتبه سي (یعني سورت فاتحه به تر سورت وروسته سي) وَهٰذَا خِلَافُ الْمَوْضُوعِ او دا له موضوع څخه خلاف دي بِخِلَافِ مَا إِذَا

● القول الراجح: قول الطرفین، کذا فی فتح القدیر ج:۱، ص:۲۸۶. [القول الراجح، ج:۱، ص:۸۴]

تَرَكَ السُّوْرَةَ په خلاف د هغه صورت چې کله سورت پرېږدي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ قَضَاؤُهَا عَلَى الْوَجْهِ الْمَشْرُوْعِ ځکه چې د مشروع طريقې مطابق د سورت قضاء راګرځول ممکن دي ثُمَّ ذُكِرَ هٰهُنَا مَا يَدُلُّ عَلَى الْوُجُوْبِ بيا دلته (يعني په جامع صغير کې) هغه عبارت بيان سوی دی کوم چې پر وجوب دلالت کوي وَفِي الْأَصْلِ بِلَفْظَةِ الْاِسْتِحْبَابِ او په اصل (يعني مبسوط) کې د استحباب په لفظ سره دی لِأَنَّهَا إِنْ كَانَتْ مُؤَخَّرَةً فَغَيْرُ مَوْصُوْلَةٍ بِالْفَاتِحَةِ ځکه که سورت وروسته سي نو هغه به د فاتحې سره متصل نه سي فَلَمْ يُمْكِنْ مُرَاعَاةُ مَوْضُوْعِهَا مِنْ كُلِّ وَجْهٍ نو په هر اعتبار سره د هغه د موضوع خيال ساتل ممکن نه سو.

اللغات: ﴿لَمْ يُعِدْ﴾ د افعال د باب جحد معلوم نفي دی: راګرځول، دوباره کول. ﴿مَشْرُوْع﴾ تاکل سوی، شروع سوی، فيصله سوی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د ماخوستن په اولو دوو رکعتونو کې د سورت فاتحې پر ځای يو سورت ووايي او سورت فاتحه يې نه ووېل، نو اوس په آخري دوو رکعتونو کې به د دې قضاء نه راوړي، او که يو سړي په اولو دوو رکعتونو کې صرف سورت فاتحه ووېل او سورت يې ور سره يو ځای نه کړی، نو په آخري دوو رکعتو کې به هغه سړی سورت فاتحه هم وايي او سورت به هم ور سره يو ځای کوي، او جهري قرائت به کوي، دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَااللهُ په نېز دی، امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: چې په دواړو صورتونو کې به لمونځ ګزاره د هيڅ شي قضاء نه راوړي، بلکې پر خپل حال به لمونځ کوي، او په آخر کې به سجدهٔ سهو کوي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې له سورت او سورت فاتحې څخه هر يو واجب دی (همدا وجه ده چې که له دې دواړو څخه يو په هېره پاته سي نو سجدهٔ سهو واجبيږي، بيا برابره خبره ده که په نورو رکعتونو کې د دې قضاء راوړل سي او که نه)، او د واجب په باره کې قاعده دا ده چې کله هغه له خپل وخت څخه فوت سي (يعني په خپل وخت کې اداء نه کړی سي) نو بغير له يو دليل څخه به د هغه قضاء نه راوړل کيږي، او دلته د واجب د قضاء راوړلو هيڅ دليل نسته، نو ځکه به يې قضاء هم نه راوړل کيږي، دلته د واجب پر قضاء دليل په دې وجه نسته چې د قضاء معنیٰ ده: چې شريعت د کوم شي لپاره کوم حق او وخت ټاکلی وي د قضاء په ذريعه سره هغه شی و هغه حق او وخت ته واپس کول، او څرنګه چې شريعت په آخري دوو رکعتونو کې سورت نه دی مشروع کړی، نو ځکه به د هغه قرائت قضاء په آخري رکعتونو کې نه راوړل کيږي کوم چې په اولو دوو رکعتونو کې قضاء سوی ذي.

د طرفينو دليل: د ولهذا الخ څخه د طرفينو دليل بيانوي، د دوی دليل دا دی چې فاتحه په داسې طريقه سره مشروع سوې ده چې پر هغې بل سورت مرتب کړل سي، يعنې داسې مشروع سوې ده چې فاتحه مخکې وي او بل سورت وروسته وي، نو که فاتحه په آخري دوو رکعتونو کې راوګرځول سي نو فاتحه به تر سورت وروسته سي، او دا له مشروع او موضوع څخه خلاف دي، (ځکه چې په دې صورت کې به سورت مخکې وي او سورت فاتحه به وروسته وي) نو ځکه به د فاتحې قضاء په آخري دوو رکعتونو کې نه راوړل کيږي. لېکن په دويم صورت کې يعنې چې کله لمونځ کونکي په اولو دوو رکعتونو کې سورت فاتحه ويلې وي او سورت يې ويلی نه وي، نو په آخري دوو رکعتونو کې به يې قضاء راوړي، ځکه چې په دې صورت کې پر مشروع طريقه قضاء راوړل ممکن دي، ځکه چې مشروع طريقه دا ده چې تر فاتحې وروسته دې سورت وي، او دلته هم دغه ډول ده. (او په دواړو صورتونو کې همدغه فرق دی).

ثم ذكر الخ له دې ځایه دا رابنیي چې په هدایه کې د جامع صغیر کوم عبارت ذکر سوی دی یعني قرأ في العشاء في الأخریین... الخ، له دې څخه دا مطلب را وځي چې په آخري دوو رکعتونو کې قرائت واجب دی ځکه چې قرأ دلته د إقرأ په معنیٰ سره دی او امر د وجوب لپاره راځي، نو له دې څخه د قرائت واجبوالی ثابتیږي، او په مبسوط کې بیا دا عبارت ذکر دی: إذا ترك السورة في الأولیین أحب إليّ أن یقضیها، او ښکاره ده چې د أحب له لفظ څخه استحباب ثابتیږي، نه وجوب.

د جامع صغیر د عبارت دلیل هم هغه دی کوم چې د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دی، لېکن په مبسوط کې چې کوم د استحباب عبارت دی د هغه دلیل دا دی چې په پورتنۍ مسئله کې خو سورت بې له شکه تر سورت فاتحې وروسته سو، لېکن د اولي فاتحې سره جوخت نه سو ځکه چې د اولي فاتحې او سورت په مینځ کې دویمه فاتحه(یعني هغه فاتحه چې په آخري دوو رکعتونو کې ویل کیږي) واقع سوه، او د اولي فاتحې او سورت په مینځ کې یې فصل راوستی، نو من کل الوجوه د مشروع رعایت نه وسو، یعني من کل الوجوه تر سورت فاتحې وروسته سورت نه راغلی، نو په دې وجه په مبسوط کې وویل سوه چې د سورت قضاء راوړل مستحب دي، واجب نه دي.

په آخري رکعتونو کې د سورت د قضاء راوړلو طریقه او حکم

> وَيَجْهَرُ بِهِمَا او لمونځ گزاره به په سورت او فاتحه دواړو کې جهر کوي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحیح قول دی لِأَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ الْجَهْرِ وَالْمُخَافَتَةِ فِي رَكْعَةٍ وَاحِدَةٍ شَنِيعٌ ځکه چې په یوه رکعت کې د جهر او سرّ جمع کول ناوړه(او بد) دي وَتَغْيِيرُ النَّفْلِ وَهُوَ الْفَاتِحَةُ أَوْلَى او د نفلو یعني د فاتحې بدلول(او جهر کول) غوره دي.

اللغات: ﴿جهر﴾ په لوړ اواز سره ویل، ښکاره کول، ﴿شنیع﴾ بد، ناجائز، نا روا.

تشریح: مسئله : دا ده چې کله لمونځ گزاره په آخري دوو رکعتونو کې د سورت فاتحې سره د سورت قضاء راوړي، نو دواړه به په جهر سره وایي، همدا صحیح ده، په صحیح ویلو سره یې له هغه قولونو څخه احتراز وکړی، چې له هغو څخه په بعضو کې د سرّي قرائت بیان دی، لکه د حضرت هشام رَحِمَهُ الله او امام محمد رَحِمَهُ الله څخه چې همدغه روایت سوی دی، او په بعضو کې ویل سوي ذي چې صرف به په سورت کې جهري قرائت وي، او سورت فاتحه به په اخفاء سره ویل کیږي، دا قول ابن سماعه له شیخینو څخه را نقل کړی دی.

خو صحیح دا ده چې په دواړو کې به قرائت بالجهر وي، ځکه چې په یوه رکعت کې جهر او خفاء دواړه جمع کول بد او ناوړه دي، او په دواړو کې اخفاء کول هم ناخوښه او غیر مستحسن دي، ځکه چې په دې صورت کې واجب د مستحب په صورت بدیلیږي(یعني سورت کوم چې واجب دی په اولو رکعتونو کې جهراً ویل کیږي او فاتحه کوم چې په آخري دوو رکعتونو کې مستحب ده سراً ویل کیږي نو اوس که د سورت قضاء په آخري دوو رکعتونو کې راوړل سي نو سورت دی هم جهراً وویل سي او فاتحه دي هم جهراً وویل سي یعني فاتحه دي له سراً څخه را واړول سي په جهراً دي بدله سي، او دا صحیح طریقه ده لکه څرنګه په کتاب کې هم دا حکم دی، لېکن که سورت چې هغه په اولو رکعتونو کې واجب دی دلته سراً وویل سي نو ښکاره ده چې سورت له خپل جهري قرائت څخه را واړول سو او په سرّي قرائت بدل سو نو ګواکې له وجوب څخه راواړول سو په استحباب بدل سو) او تاسو ته معلومه ده چې د مستحب په مقابله کې واجب لوړه درجه لري، نو ځکه غوره صورت همدغه دی، چې په دواړو کې قرائت بالجهر وسي، ځکه چې په دې کې هیڅ خرابي نه راځي، بلکې دلته ادنیٰ یعني فاتحه د اعلیٰ یعني د سورت تابع کیږي، او دا طریقه غوره او افضله. (عنایه)

د جهر او سرّ (اخفاء) تعريف

ثُمَّ الْمُخَافَتَةُ أَنْ يُّسْمِعَ نَفْسَهُ بيا اخفاء (يعني سرّي قرائت كول) دا دي چي لمونځ ګزاره يې په خپل ځان واوري وَالْجَهْرُ أَنْ يُّسْمِعَ غَيْرَهُ او جهر دا دی چي په بل چا يې واوري وَهٰذَا عِنْدَ الْفَقِيْهِ أَبِيْ جَعْفَرٍ الْهِنْدُوَانِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او دا تعريف د فقيه ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله په نېز دی لِأَنَّ مُجَرَّدَ حَرَكَةِ اللِّسَانِ لَا يُسَمّٰى قِرَاءَةً بِدُوْنِ الصَّوْتِ ځکه چي بغير له آواز څخه فقط ژبې ښورولو ته قرائت نه ويل کيږي وَقَالَ الْكَرْخِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: أَدْنَى الْجَهْرِ أَنْ يُّسْمِعَ نَفْسَهُ او امام کرخي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د جهر کمه اندازه دا ده چي په خپل ځان يې واوري وَأَدْنَى الْمُخَافَتَةِ تَصْحِيْحُ الْحُرُوْفِ او د اخفاء کمه اندازه دا ده چي حروف صحيح کړی سي لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ فِعْلُ اللِّسَانِ ځکه چي قرائت د ژبې کار دی دُوْنَ الصِّمَاخِ نه د غوږ (يعني د غوږو کار نه دی) وَفِيْ لَفْظِ الْكِتَابِ إِشَارَةٌ إِلٰى هٰذَا او د متن په لفظ کي هم ودغه طرف ته اشاره ده وَعَلٰى هٰذَا الْأَصْلِ كُلُّ مَا يَتَعَلَّقُ بِالنُّطْقِ او پر همدغه قاعدې به هر هغه شی (متفرع کيږي) چي د هغه د وينګ(ويلو) سره تعلق لري كَالطَّلَاقِ وَالْعِتَاقِ وَالْإِسْتِثْنَاءِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ لکه طلاق، عتاق، استثناء او له دې څخه ماسوا نور.

اللغات: ﴿صوت﴾ آواز، ﴿مجرد﴾ يوازي، تنها، ﴿صماخ﴾ غوږ، د غوږ سوری، ﴿نطق﴾ وينګ، ويل، د ويلو ورتيا، ﴿عتاق﴾ آزادول، غلام پرېښول.

تشريح: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دې عبارت کي د جهر او خفاء دوه تعريفه کړي دي، او د دوو حنفي امامانو طرف ته يې منسوب کړي دي:

(۱) اول تعريف کوم چي د فقيه ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله دی، دا دی: چي اخفاء (يا سري قرائت) دومره آواز را ايستلو ته ويل کيږي چي وينونکي يې په خپله واوري، او جهر هغه آواز ته ويل کيږي چي له وينونکي څخه علاوه يې بل څوک هم واوري، ځکه چي له آواز څخه بغير صرف ژبې ښورولو ته قرائت نه ويل کيږي، نه په عرف کي او نه په عادت او لغت کي. (عنايه)

(۲) دويم تعريف کوم چي د امام کرخي رَحِمَهُ الله دی، دا دی: چي د جهر کمه اندازه دا ده چي وينونکي يې په خپله واوري، او د اخفاء کمه اندازه دا ده چي قرائت په داسي اندازه سره وکړی سي چي په هغه کي حروف صحيح اداء سي، ځکه چي د قرائت تعلق د ژبې سره دی نه د غوږ سره، نو ځکه به په دې کي د غوږ د اورېدلو هيڅ دخل نه وي.

وفي لفظ الخ فرمايي چي په متن يعني د قدوري په الفاظو کي چي کوم څه ذکر سوي دي يعني: فهو مخير إن شاء جهر و أسمع نفسه وإن شاء خافت (دا جمله د فصل په شروع کي ذکر سوې ده) نو په دې جمله کي هم د امام کرخي رَحِمَهُ الله د قول و طرف ته اشاره ده، ځکه چي په دې کي هم د جهر تعريف دا سوی دی چي په خپل ځان يې واوري، يعني په و أسمع نفسه سره د جهر تعريف سوی دی.

وعلى هذا الخ د دې حاصل دا دی چي د جهر او اخفاء په تعريف کي چي کوم اختلاف د امام کرخي رَحِمَهُ الله او د ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله ذکر سو، دا اختلاف به په هر هغه شي کي جاري کيږي چي د هغه تعلق د نطق، او ويلو سره وي، د مثال

په توګه که يو چا په أنتِ طالق سره خپلې ښځې طلاق ورکړی، يا يې په أنتَ حرٌ سره خپل غلام آزاد کړی، او په خپله يې هم دا کلمې نه واورېدلې، نو د امام کرخي رَحِمَهُ الله په نيز به طلاق او عتاق واقع کيږي، ځکه چې د هغه په نيز خو د اخفاء کمه اندازه راغله (چې هغه د حروفو صحيح اداينه ده)، او د فقيه ابو جعفر رَحِمَهُ الله په نيز به طلاق او عتاق نه واقع کيږي ځکه چې د اخفاء کمه اندازه نه راغله(چې هغه په خپل ځان اورول دي)، همدارنګه که يو سړي په جهري آواز سره أنتِ طالق او أنتَ حرٌ ووايي او متصلاً يې استثناء وکړه، ليکن دا استثناء يې په دومره کښته اواز سره وکړه چې خپله يې هم نه واورېدله، نو د امام کرخي رَحِمَهُ الله په نيز به استثناء معتبره وي، ليکن د فقيه ابو جعفر رَحِمَهُ الله په نيز به دا استثناء هيڅ اعتبار نه کيږي، او سملستي به طلاق او عتاق واقع کيږي. (عنايه ج:١، ص:٣٣٩)

د قرائت هغه اندازه چې لمونځ په صحيح کيږي(د فقهاؤ قولونه او دليلونه)

وَأَدْنَى مَا يُجْزِئُ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلَاةِ او د قرائت هغه لږ مقدار کوم چې په لمانځه کې کفايت کوي آيَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ هغه يوه آيت دی د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا: ثَلَاثُ آيَاتٍ قِصَارٍ او صاحبين فرمايي چې درې کوچنې آيتونه دي أَوْ آيَةٌ طَوِيلَةٌ يا يو غټ آيت دی لِأَنَّهُ لَا يُسَمَّى قَارِئًا بِدُونِهِ ځکه چې تر دې کم لستونکي ته لستونکی نه ويل کيږي فَأَشْبَهَ قِرَاءَةَ مَا دُونَ الْآيَةِ نو داسې سو لکه تر يوه آيت چې يې کم لوستلی وي وَلَهُ قَوْلُهُ تَعَالَى فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ [المزمل: ٢٠] او د امام صاحب دليل د الله تعالىٰ دا قول دی: فاقرؤا...الخ مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ چې دا آيت بغير له څه تفصيل څخه وارد سوی دی إِلَّا أَنَّ مَا دُونَ الْآيَةِ خَارِجٌ مګر دا چې تر يوه آيت کم خارج(وتلی) دی وَالْآيَةُ لَيْسَتْ فِي مَعْنَاهُ او پوره آيت تر يوه آيت د کم په معنیٰ کې نه دی.

اللغات: ﴿قِصَار﴾ جمع ده، واحد يې قاصِرٌ دی: لنډ، کم، کوچنی، ﴿فَصْل﴾ جلا کول، فاصله، (تفصيل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د قرائت کم او لږ مقدار(اندازه) چې په هغه سره لمونځ صحيح کيږي، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز يو آيت دی لکه: فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ثُمَّ نَظَرَ او د صاحبينو رَحِمَهُ الله په نيز د دې مقدار درې کوچنې آيتونه دي، يا يو غټ آيت چې د دريو کوچنيو آيتونو سره برابر وي، غټ آيت لکه آيت الکرسي او نور. او کوچنې درې آيتونه لکه سورت کوثر، نو که څوک تر دې کم قرائت وکړي نو د هغه لمونځ نه صحيح کيږي. ځکه چې په عرف کې تر دې کم ويونکي ته قاري نه ويل کيږي، نو تر دې کم ويونکی د هغه سړي سره مشابه سو چې هغه تر يوه آيت کم ويلی وي، او چا چې تر يوه آيت کم ويلي وي د هغه لمونځ نه صحيح کيږي، نو ځکه به له دې مقدار څخه په کم قرائت سره هم لمونځ نه صحيح کيږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې دا آيت کوم چې د قرائت سره تعلق لري: فاقرءوا ما تيسّر من القرآن مطلق دی، او په دې کې د يوه آيت، ما دون الآيت(تر يوه آيت کم) همدارنګه د مافوق الآيت (تر يوه آيت زيات) هيڅ تفصيل نسته، نو په دې اعتبار سره خو په مطلق قرائت سره لمونځ جائز کېدل پکار وو، که څه هم هغه له آيت څخه کم وي، ليکن څرنګه

● القول الراجح: قول الصاحبين، كذا في الكفاية ج:١، ص:٢٩٠. [القول الراجح، ج:١، ص:٨٢]

چي له ما تيسر من القران څخه په اجماع تر يوه آيت کم ايستل سوی دی، نو ځکه به تر يوه آيت په کم سره لمونځ نه جائز کيږي.

او له فاقرؤا ما تيسر من القران څخه ځکه ما دون الآيت ايستل سوی دی چي من القران مطلق دی، نو د المطلق يجري على إطلاقه په وجه به د من القران څخه د قرآن فرد کامل مراد وي، او د لمانځه د جواز په لړ کي د قرآن فرد کامل لږ تر لږه يو آيت دی، ځکه چي يو آيت حقيقتاً هم قرآن دی او حکماً هم قرآن دی، او تر يوه آيت کم خو حقيقتاً قرآن دی، لېکن حکماً قرآن نه دی، ځکه چي د حائضې او جنب لپاره د مادون الآيت ويلو اجازت سته. نو له دې څخه معلومه سوه چي ما دون الآيت حکماً د قرآن فرد کامل نه دی، نو کله چي فرد کامل نه سو، نو دا به د فاقرؤا ما تيسر من القرآن مصداق هم نه وي، او په دومره اندازه قرائت سره به لمونځ هم نه صحيح کيږي، ځکه چي د لمانځه لپاره د قرآن قرائت ضروري دی، او تر يوه آيت کم قرآن نه دی.

والآية الخ د دې حاصل دا دی چي تر يوه آيت کم د پوره آيت سره نه سي لاحق کېدلای، ځکه چي پوره آيت د هغه په معنیٰ او درجه کي نه دی.

په سفر کي د لمانځه د قرائت حکم

وَفِي السَّفَرِ يَقْرَأُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ او په سفر کي به سورت فاتحه وايي وَأَيِّ سُورَةٍ شَاءَ او کوم سورت چي وغواړي (هغه دي ور سره يو ځای کوي) لِمَا رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • قَرَأَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ فِي سَفَرِهِ بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ چي نبي ﷺ په خپل سفر کي د سهار په لمانځه کي معوذتين (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) وويل وَلِأَنَّ لِلسَّفَرِ أَثَرًا فِي إِسْقَاطِ شَطْرِ الصَّلَاةِ او په دې وجه (هم) چي د نيم لمانځه په ساقطولو کي د سفر اثر دی فَلَأَنْ يُؤَثِّرَ فِي تَخْفِيفِ الْقِرَاءَةِ أَوْلَى نو ځکه به د قرائت په تخفيف کي په طريقهٔ اولیٰ اثر کوي وَهَذَا إِذَا كَانَ عَلَى عَجَلَةٍ مِنَ السَّيْرِ او دا حکم هغه وخت دی چي د تګ تلواريې وي وَإِنْ كَانَ فِي أَمَنَةٍ وَقَرَارٍ او که مسافر د امن او سکون په حالت کي وي يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ نَحْوَ سُورَةِ الْبُرُوجِ وَانْشَقَّتْ نو د سهار په لمانځه کي به د سورت بروج او د سورت انشقاق په څېر سورت وايي لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ مُرَاعَاةُ السُّنَّةِ مَعَ التَّخْفِيفِ ځکه چي د هغه لپاره د تخفيف سره سره د سنت خيال ساتل (هم) يمکن دي.

اللغات: ﴿شطر﴾ نيم، معتبره اندازه، ﴿عجلة﴾ تلوار، بېړه، چابکي، ﴿سير﴾ سفر کول، تګ کول، ﴿أمنة﴾ سکون، امن، ﴿قرار﴾ هوسايي، قراري.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د سفر په لمانځه کي د قرائت ذکر کوي، فرمايي چي د سفر په حالت کي سنت قرائت دا دی چي مسافر دي سورة فاتحه او کوم سورت چي وغواړي هغه دي ووايي، که کوچنی سورت ووايي نو هم سنت اداء کيږي، ځکه روايت دی چي نبي ﷺ د سفر په حالت کي د سهار په لمانځه کي قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ووايي، دا حديث ابو داؤد او نسائي د عقبه بن عامر ﷺ په حواله سره روايت کړی دی، او د دې په آخر کي

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الوتر، باب المعوذتين، حديث رقم: ۱۴۶۲.

ذکر سوي دي: فلما نزل لصلاة الصبح صلّٰی بهما صلاة الصبح للناس. (يعني کله چي نبي ﷺ د سهار د لمانځه لپاره را شوه سو نو خلکو ته يې په همدې دوو سورتونو سره لمونځ ورکيو).

عقلي دليل: دا دی چي سفر نيم لمونځ ساقطوي، نو کله چي سفر نيم لمونځ ساقطوي، نو قرائت به طريقه اولیٰ سره کوچنی کوي، مطلب دا چي کله د سفر په وجه په اصل لمانځه کي څه کمي راغله نو د دې په وصف يعني په قرائت کي خو به په طريقه اولیٰ سره کمي راځي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله وايي چي دومره اندازه تخفيف به هغه وخت کوي، چي کله دا سړی په تلوار کي وي، او که د امن او قرارۍ په حالت کي وي مثلاً په يو کور کي وي او اراده يې دا وي چي په آرام سره به څه وخت دلته تېر کړم بيا به روان سم، يا يو بل داسي صورت وي، نو په داسي وخت کي دي د سهار په لمانځه کي والسماء ذات البروج او إذا السماء انشقت وايي، ځکه چي دا ډول به تخفيف هم راسي، او د سنتو خيال به هم وساتل سي.

د اقامت په حال کي د سهار په لمانځه کي د قرائت اندازه

وَيَقْرَأُ فِي الْحَضَرِ او د اقامت په حال کي دي وايي فِي الْفَجْرِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ د سهارو په دواړو رکعتونو کي بِأَرْبَعِينَ آيَةً أَوْ خَمْسِينَ آيَةً سِوَى فَاتِحَةِ الْكِتَابِ له سورت فاتحې څخه ماسوا څلوېښت يا پنځوس آيتونه وَيُرْوَى مِنْ أَرْبَعِينَ إِلَى سِتِّينَ او يو روايت دا دی چي له څلوېښتو څخه تر شپېتو پوري وَمِنْ سِتِّينَ إِلَى مِائَةٍ او له شپېتو څخه تر سلو پوري وَبِكُلٍّ ذَٰلِكَ وَرَدَ الْأَثَرُ او د دې هر روايت په باره کي حديث راغلی دی وَوَجْهُ التَّوْفِيقِ او (د ټولو روايتونو په مينځ کي) د موافقت طريقه دا ده أَنَّهُ يَقْرَأُ بِالرَّاغِبِينَ مِائَةً چي د (اوږده قرائت د) شوقيانو لپاره دي سل آيتونه وايي وَبِالْكُسَالَى أَرْبَعِينَ او د سستانو (کمزورو) لپاره دي څلوېښت آيتونه وايي وَبِالْأَوْسَاطِ مَا بَيْنَ خَمْسِينَ إِلَى سِتِّينَ او د مينځنۍ درجې خلکو لپاره دي له پنځوسو څخه تر شپېتو آيتونو پوري وايي وَقِيلَ: يَنْظُرُ إِلَى طُولِ اللَّيَالِي وَقِصَرِهَا او ويل سوي دي: چي د شپو اوږدوالی او کوچنيوالي ته دي ګوري وَإِلَى كَثْرَةِ الْأَشْغَالِ وَقِلَّتِهَا او د کارونو ډېرښت او کمښت ته دي ګوري.

اللغات: ﴿حضر﴾ د سفر ضد، په کور کي د پاته کېدلو حالت، په ښار کي اوسېدنه، اقامت، ﴿كُسالى﴾ جمع ده، واحد يې: کَسْلان دی: سست، ټمبل، (کمزوری)، ﴿ليالي﴾ جمع ده، واحد يې: لَيْل دی: شپه.

تشريح: مسئله: دا ده چي لمونځ کونکي دي د اقامت او حَضَر په حالت کي د سهار په دواړو رکعتونو کي له سورت فاتحې څخه ماسوا څلوېښت آيتونه وايي، يا دي پنځوس آيتونه وايي، يعني په هر رکعت کي دي شل يا پنځوېشت آيتونه وايي، او په يوه روايت کي راغلي دي چي په دواړو رکعتونو کي دي له څلوېښتو څخه واخله تر شپېتو پوري وايي، او په يوه کي له شپېتو څخه تر سلو پوري ذکر سوي دي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله وايي چي په دې کي د هريوه لپاره حديث سته، لکه څرنګه چي له ابن عباس څخه روايت دی: أن النبي ﷺ قرأ في الفجر يوم الجمعة الٓمٓ تنزيل السجدة وهل أتى على الانسان. (يعني نبي ﷺ د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کي الم تنزيل السجده او هل أتى على الانسان ووايي)، په اول سورت کي دېرش آيتونه دي او په دويم سورت کي يو دېرش آيتونه دي، (نو ټوله يو شپېته

آيتونه سوه)، په مسلم شريف كي د جابر بن سمر ﷺ دا حديث ذكر سوى دى: أن النبي ﷺ كان يقرأ في الفجر بـ ق، او له ابو هريره ﷺ څخه روايت دى: قال كان رسول الله ﷺ يقرأ في الفجر مابين الستين إلى مائة اية.

په مختلفه روايتونو كي د توفيق وجه: صاحب د هدايې وايي چي په دې ټولو روايتونو كي د توفيق او ترتيب وجه دا ده چي كه مقتديان د قرائت اوږدلو زيات شوق لري، نو تر سلو آيتونو پوري دي قرائت كوي، او كه مقتديان سست، تمبل يا ضعيفه وي، نو څلوېښت آيتونه دي وايي، او كه مقتديان د مينځنى درجې خلك وي نو پنځوس، شپېته آيتونه دي وايي.

وقيل الخ د ځينو خلكو قول دا دى چي امام ته پكار دي چي د شپو اوږدوالي او لنډوالي ته دي ګوري، يعني د ژمي په شپو كي دي زيات قرائت كوي، او د ګرمى په شپو كي دي كم قرائت كوي، او امام ته پكار دي چي د خپلو مقتديانو د كارونو ډېرښت او كمښت ته هم وګوري، يعني كه مقتديان زيات مصروفه وي نو مختصره قرائت دي كوي، او كه فارغ وي نو اوږد قرائت دي كوي.

د ماپښين په لمانځه كي د قرائت اندازه

قَالَ: وَفِي الظُّهْرِ مِثْلَ ذٰلِكَ فرمايي: او د ماپښين په لمانځه كي دي د سهار په څېر قرائت كوي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي سَعَةِ الْوَقْتِ ځكه چي سهار او ماپښين دواړه د وخت په پراختيا كي سره برابر دي وَقَالَ فِي الْأَصْلِ او امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط كي (دا) فرمايلي دي أَوْ دُونَهُ يا دي (د ماپښين په لمانځه كي) له سهار څخه كم قرائت كوي لِأَنَّهُ وَقْتُ الِاشْتِغَالِ ځكه چي دا د مشغولتيا (او كار) وخت دى فَيَنْقُصُ عَنْهُ تَحَرُّزًا عَنِ الْمَلَالِ نو له سهار څخه دي يې كم كړي له بيزارى څخه د ځان ساتلو لپاره (يعني چي خلك بېزاره نه سي).

اللغات: ﴿سَعَة﴾ پراخي، ﴿تَحَرُّزًا﴾ د تفعّل د باب مصدر دى: خوندي كېدل، ځان ساتل، ﴿مَلَال﴾ ستړيا، بېزاري.

تشريح: د ماپښين په لمانځه كي دي دومره اندازه قرائت كوي كوم چي د سهار په لمانځه كي ذكر سو، ځكه چي د وخت په پراخى كي دواړه سره برابر دي، او روايت سوى دى چي نبي ﷺ به د ماپښين په لمانځه كي الم تنزيل السجدة ويله، او موږ مخكي ذكر كړه چي نبي ﷺ به د سهار په اول ركعت كي الم تنزيل السجدة او په دويم ركعت كي هل أتى على الانسان وايى، نو ثابته سوه چي نبي ﷺ به د ماپښين په لمانځه كي هغه ويل كوم چي به يې د سهار په دوو ركعتونو كي ويل.

وقال في الأصل الخ امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط كي ويلي دي چي: أو دونه. يعني د ماپښين په لمانځه كي دي د سهار د لمانځه په مقابله كي كم قرائت كوي، ځكه چي د ماپښين وخت د مشغوليت او مصروفيت وخت دى، نو ځكه به قرائت كم كوي، چي پر خلكو بوج نه سي او په دوى كي بېزاري پيدا نه سي، او ابو سعيد خدري ﷺ روايت كړى دى چي: أنه ﷺ كان يقرأ في الظهر قدر ثلاثين آية وهو نحو سورة الملك. (يعني نبي ﷺ به د ماپښين په لمانځه كي د دېرشو آيتونو په اندازه قرائت كوى، لكه سورة الملك [تبارك الذي]).

د مازیګر، ماښام او ماخوستن په لمونځونو کې د قرائت اندازه

وَالْعَصْرُ وَالْعِشَاءُ سَوَاءٌ او د مازیګر او ماخوستن لمونځونه سره برابر دي يَقْرَأُ فِيهِمَا بِأَوْسَاطِ الْمُفَصَّلِ په دوی کې به اوساطِ مفصّل وايي وَفِي الْمَغْرِبِ دُونَ ذَلِكَ او په ماښام کې به له دې څخه کم (وايي) يَقْرَأُ فِيهِمَا بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ (يعني) د ماښام په لمانځه کې به قصارِ مفصّل وايي وَالْأَصْلُ فِيهِ كِتَابُ عُمَرَ رضي الله عنه او په دې باره کې اصل د حضرت عمر رضي الله عنه خط دی إِلَى أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِي رضي الله عنه کوم چې يې ابو موسی اشعري رضي الله عنه ته ليکلی وو أَنِ اقْرَأْ فِي الْفَجْرِ وَالظُّهْرِ بِطِوَالِ الْمُفَصَّلِ چې د سهار او ماپښين په لمانځه کې طوال مفصل وايه وَفِي الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ بِأَوْسَاطِ الْمُفَصَّلِ او د مازیګر او ماخوستن په لمانځه کې اوساطِ مفصل وايه وَفِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ او د ماښام په لمانځه کې قصارمفصل وايه وَلِأَنَّ مَبْنَى الْمَغْرِبِ عَلَى الْعَجَلَةِ او په دې وجه هم چې د ماښام بنياد پر تلوار(او چابکی) دی وَالتَّخْفِيفُ أَلْيَقُ بِهَا او تخفيف(سپکوالی) د ماښام سره زيات لايق دی وَالْعَصْرُ وَالْعِشَاءُ يُسْتَحَبُّ فِيهِمَا التَّأْخِيرُ او د مازیګر او ماخوستن په لمونځونو کې تأخير مستحب دی وَقَدْ يَقَعَانِ بِالتَّطْوِيلِ فِي وَقْتٍ غَيْرِ مُسْتَحَبٍّ او(کله ناکله) په قرائت اوږدولو سره دا دواړه په غير مستحب وخت کې واقع کيږي فَيُوَقَّتُ فِيهِمَا بِالْأَوْسَاطِ نو ځکه به په دوی دواړو کې اوساط مفصل ټاکي.

اللغات: ﴿عجلة﴾ تلوار، بيړه، جلتي، چابکي، ﴿أليق﴾ زيات مناسب، زيات لائق، ﴿يوقت﴾ د تفعيل د باب مضارع ده، وَقَّتَ يُوَقِّتُ تَوْقِيتًا: ټاکل، مقررول، معلومول، متعين کول.

طوال مفصل، اوساط مفصل او قصارِ مفصل څه ته وايي؟

دعبارت تر تشريح مخکې د طوالِ مفصل، اوساط مفصل او قصارِ مفصل تعريف ته ګورئ:

له طوال مفصل څخه مراد اوږده سورتونه دي، او دا له سورتِ حجرات څخه واخله تر سورتِ بروج پورې دي. او دې سورتونو ته طوال مفصل ويل کيږي. له اوساط مفصل څخه مراد د مينځوى درجې سورتونه دي يعني چې نه زيات اوږده وي او نه زيات کوچني، او دا له سورتِ بروج څخه واخله تر سورت البينه(لم يكن الذين كفروا) پورې دي. له قصار مفصل څخه مراد کوچني سورتونه دي، او دا له سورت البينه څخه د قرآن تر آخره يعني تر سورتُ الناس پورې دي.

تشريح: امام قدور رَحِمَهُ الله فرمايي چې د وخت د پراختيا په حواله د مازیګر او ماخوستن لمونځونه دواړه سره برابر دي، نو په دې دواړو کې به اوساطِ مفصل وايي. **دليل:** د جابر بن سمره رضي الله عنه روايت دی: أن النبي ﷺ كان يقرأ في الركعتين الأولين من العصر والسماء ذات البروج والسماء والطارق، (يعني نبي به ﷺ د مازیګر په دوو رکعتونو کې والسماء ذات البروج او والسماء والطارق ويل). **دويم دليل:** د معاذ بن جبل رضي الله عنه حديث دی: أن قومه شكوا إلى رسول الله ﷺ تطويل قرائته في العشاء فقال له النبي ﷺ أفتان أنت يا معاذ اين انت من سبح اسم ربك الاعلى والشمس وضحها، (يعني د معاذ بن جبل رضي الله عنه قوم نبي ﷺ ته شکايت وکړی چې معاذ رضي الله عنه د ماخوستن په لمانځه کې قرائت اوږدوي، نو نبي ﷺ معاذ ته ووېل چې اې معاذ! آيا ته خلک په فتنه کې مبتلا کوې، چيرې يې ته له سبح اسم ربك الاعلى او له والشمس وضحها څخه)،

يعني دا سورتونه ولې نه وايي، لنډه دا چې دواړه روايتونه پر دې خبره دلالت كوي چې د مازيګر او ماخوستن په لمونځونو كي اوساط مفصل ويل مستحب او غوره دي.

وفي المغرب الخ او د ماښام په لمانځه كي دې قصارِ مفصل وايي. دليل: دا روايت دې: أنه ﷺ قرأ في صلاة المغرب بالمعوذتين، يعني نبي ﷺ د ماښام په لمانځه كي معوذتين وويل.

والأصل فيه الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ټولو لمونځونو د مستحب قرائت په باره كي اصل هغه خط دى كوم چې دويم خليفه امير المؤمنين سيدنا عمر بن الخطاب ﷺ د ابو موسیٰ اشعري ﷺ په نامه استولى وو : أن اقرأ في الفجر والظهر بطوال المفصل وفي العصر والعشاء باوساط المفصل وفي المغرب بقصار المفصل. (يعني په سهار او ماپښين كي طوال مفصل وايه او په مازيګر او ماخوستن كي اوساط مفصل وايه، او په ماښام كي قصار مفصل وايه).

عقلي دليل: دا دى چې د ماښام مدار پر تلوار دى، او د تلوار سره تخفيف مناسب دى، نو ځكه به كوچني سورتونه پكښي ويل كيږي؛ او په مازيګر او ماخوستن كي تأخير مستحب دى، نو په دې كي به هم قرائت مختصره وي، ځكه كه په دې كي اوږد قرائت وسي، نو دا لمونځونه به له خپل مستحب وختونو څخه ووځي، او په غير مستحب وخت كي به داخل سي، او دا استحباب په اوساط مفصل ويلو سره حاصليږي، نو ځكه به په دې لمونځونو كي اوساط مفصل ويل كيږي.

د سهار اول ركعت د دويم ركعت په نسبت اوږدول

وَيُطِيْلُ الرَّكْعَةَ الْأُولٰى مِنَ الْفَجْرِ عَلَى الثَّانِيَةِ او امام به د سهار د لمانځه اول ركعت تر دويم ركعت اوږدوي إِعَانَةً لِلنَّاسِ عَلٰى إِدْرَاكِ الْجَمَاعَةِ چې د خلكو سره (په دې كي) مرسته وكړي چې هغوى د جماعت لمونځ ونيسي.

اللغات: ﴿يُطِيْلُ﴾ د افعال د باب مضارع صيغه ده: أَطَالَ يُطِيْلُ: اوږدول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دى چې امام ته پكار دي چې د سهار د لمانځه اول ركعت د دويم ركعت په نسبت اوږد كړي، ځكه چې په دې توګه په آسانۍ سره خلك جماعت نيولای سي، او امام ته به هم د دې ثواب رسيږي، او صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله وايي: چې د نبي ﷺ له زمانې څخه تر اوسه پوري دا عادت او معمول را روان دى چې امامان د سهار د لمانځه اول ركعت د دويم ركعت په نسبت اوږدوي.

له سهار څخه ماسوا په نورو لمونځونو كي اول ركعت د دويم ركعت په نسبت اوږدول

قَالَ: وَرَكْعَتَا الظُّهْرِ سَوَاءٌ فرمايي: چې د ماپښين دواړه ركعتونه برابر دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او دا حكم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دى وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ ● امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي أَحَبُّ إِلَيَّ زما خوښه دا ده أَنْ يُطِيْلَ الرَّكْعَةَ الْأُولٰى عَلٰى غَيْرِهَا فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا چې په ټولو لمونځونو كي دې لول ركعت تر دويم ركعت اوږدوي لِمَا رُوِيَ ځكه روايت سوى دى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● كَانَ يُطِيْلُ الرَّكْعَةَ الْأُولٰى عَلٰى غَيْرِهَا فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا چې نبي

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله كذا في رد المحتار ج:١، ص:٢٠١. [القول الراجح، ج:١، ص:٨۶]

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب القراءة في الظهر، حديث رقم:٧٥٧.

ﷺ به په ټولو لمونځونو کي اول رکعت تر دويم رکعت اوږدوی وَلَهُمَا أَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ اِسْتَوَيَا فِي اسْتِحْقَاقِ الْقِرَاءَةِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي د قرائت په حق کي دواړه رکعتونه برابر دي فَيَسْتَوِيَانِ فِي الْمِقْدَارِ نو په مقدار کي به هم سره برابر وي بِخِلَافِ الْفَجْرِ په خلاف د سهار د لمانځه لِأَنَّهُ وَقْتُ نَوْمٍ وَغَفْلَةٍ ځکه چي د سهار وخت د خوب او غفلت وخت دی وَالْحَدِيثُ مَحْمُولٌ عَلَى الْإِطَالَةِ مِنْ حَيْثُ الثَّنَاءِ وَالتَّعَوُّذِ وَالتَّسْمِيَةِ او حديث به پر دې حمل کيږي چي (د نبي ﷺ لمونځ به) په ثناء، اعوذ بالله او بسم الله سره اوږدېدی وَلَا مُعْتَبَرَ بِالزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ بِمَا دُونَ ثَلَاثِ آيَاتٍ او له دريو آيتونو څخه په کم کي د زياتوب او کمښت هيڅ اعتبار نسته لِعَدَمِ إِمْكَانِ الِاحْتِرَازِ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ حَرَجٍ ځکه چي له حرج (او تکليف) څخه بغير له دې څخه ځان ساتل ممکن نه دي.

اللغات: ﴿يطيل﴾ د افعال د باب مضارع صيغه ده: أطال يطيل: اوږدول. ﴿إحتراز﴾ د افتعال د باب مصدر دی: خوندي کېدل، پرېز کول، ځان ساتل. ﴿حرج﴾ تکليف، سختي، ستونزه.

تشريح: په مخکني مسئله کي ووېل سوه چي د سهار په لمانځه کي به په اتفاق سره اول رکعت تر دويم رکعت اوږدېږي، لېکن د سهار له لمانځه څخه ماسوا په نورو لمونځونو کي د شيخينو مذهب دا دی چي دواړه رکعتونه به خپل مينځ کي سره برابر وي، اول رکعت به تر دويم رکعت نه اوږدېږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي په ټولو لمونځونو کي اول رکعت تر دويم رکعت اوږدول مستحب دي.

د امام محمد دليل: د ابو قتاده رضي الله عنه روايت دی: أن النبي ﷺ كان يطيل الركعة الاولى على غيرها في الصلوات كلها.

د شيخينو دليل: دا دی چي د قرائت په حق کي دواړه رکعتونه برابر دي، يعني د دواړو رکعتونو حق دا دی چي قرائت پکښې وکړی سي، نو کله چي په حق کي برابر دي، نو په مقدار کي هم برابرېدل پکار دي، په خلاف د سهار د لمانځه، ځکه چي د سهار وخت په غيراختياري توګه سره د غفلت او خوب وخت دی، نو په ټوله لمانځه کي د خلګو د شريکولو لپاره به اول رکعت اوږدېږي.

جواب: امام محمد رَحِمَهُ الله چي کوم حديث ذکر کړی دی د هغه جواب دا دی چي د نبي ﷺ اول رکعت به ځکه اوږدېدلې چي په دې کي به سبحانك اللهم، اعوذ بالله او بسم الله ويل کېدله کوم چي په دويم رکعت کي نه ويل کيږي، او پاته سو د قرائت حق نو په هغه کي دواړه رکعتونه برابر دي.

ولا معتبر الخ صاحب د هدايې فرمايي چي دويم رکعت تر اول رکعت اوږدول بالاتفاق مکروه دي، لېکن دا اوږدوالی په يوه آيت يا دوو آيتونو سره نه ثابتيږي، مثلاً که يو سړي په اول رکعت کي شپږ (۶) آيتونه وويل او په دويم کي يې اووه (۷) يا اته (۸) آيتونه وويل نو ښکاره خبره ده چي دويم رکعت دوه آيته اوږد سو، لېکن د دومره اوږدوالي او زياتوب هيڅ اعتبار نسته، ځکه چي له نبي ﷺ څخه د ماښام په لمانځه کي قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ثابت دي، او د قل اعوذ برب الفلق په مقابله کي قل اعوذ برب الناس اوږد دی، ځکه چي په قل اعوذ برب الناس کي يو آيت زيات دی، نو ځکه به په يوه يا دوو آيتونو سره کراهت نه راځي، ځکه چي له تکليف او حرج څخه بغير له دې څخه ځان ساتل ممکن نه دي، والحرج مدفوع في الشرع، هو! که درې يا له دريو څخه زيات آيتونه ووايي نو دا مکروه دي.

د قرائت لپاره د يو ځانګړي سورت معلومولو حکم

وَلَيْسَ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ قِرَاءَةُ سُورَةٍ بِعَيْنِهَا او په هيڅ يوه لمانځه کې (هم) د يو داسې معلوم سورت ويل صحيح نه دي لَا يَجُوزُ غَيْرُهَا چې له هغه څخه ماسوا دې د بل ويل جائز نه وي لِإِطْلَاقِ مَا تَلَوْنَا د هغه آيت د مطلق کېدلو په وجه کوم چې موږ تلاوت کړی وَيُكْرَهُ او مکروه دي أَنْ يُوَقِّتَ بِشَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ لِشَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ چې يو څوک د لمانځه لپاره د قرآن يوه حصه متعينه کړي لِمَا فِيهِ مِنْ هَجْرِ الْبَاقِي ځکه چې په دې کې د پاته قرآن پرېښوول راځي وَإِيهَامِ التَّفْضِيلِ او (د متعينې حصې) د فضيلت وهم راځي.

اللغات: ﴿هجر﴾ د نصر د باب مصدر دی: پرېښوول، ﴿إيهام﴾ د افعال د باب مصدر دی: وهم پیدا کول، په وهم کې اچول، (وهم راتلل).

تشريح: **مسئله:** دا ده چې په يوه لمانځه کې يو سورت په داسې توګه سره متعين کول او دا خيال کول چې له دې څخه ماسوا دا لمونځ جائز نه دی، صحيح نه دي، دليل د الله تعالیٰ دا قول دی: فاقرءوا ما تيسر من القرآن. او دا آيت مطلق دی، او د اطلاق تقاضا دا ده چې يو معلوم سورت دې نه متعينه کېږي، او د يوه لمانځه لپاره د يو سورت يا يو آيت معلومول مکروه دي، ځکه چې يو خو په دې کې د باقي قرآن پاته کېدل راځي، دويم دا چې د فضيلت وهم پيدا کېږي يعني چې دا سورت د قرآن تر نورو سورتونو افضله دی، حال دا چې په افضيلت کې ټوله قرآن برابر دی.

د قرائت خلف الامام (يعني د امام تر شا د قرائت کولو) شرعي حيثيت

وَلَا يَقْرَأُ الْمُؤْتَمُّ خَلْفَ الْإِمَامِ او مقتدي به د امام تر شا قرائت نه کوي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْفَاتِحَةِ په سورت فاتحه کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی لَهُ أَنَّ الْقِرَاءَةَ رُكْنٌ مِنَ الْأَرْكَانِ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې قرائت د لمانځه له ارکانو څخه يو رکن دی فَيَشْتَرِكَانِ فِيهِ نو امام او مقتدي به دواړه په دې کې شريک وي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] او زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دی مَنْ كَانَ لَهُ إِمَامٌ چې د چا لپاره امام وي فَقِرَاءَةُ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ نو د امام قرائت د هغه لپاره قرائت دی وَعَلَيْهِ إِجْمَاعُ الصَّحَابَةِ او پر دې د صحابه وو اجماع ده وَهُوَ رُكْنٌ مُشْتَرَكٌ بَيْنَهُمَا او قرائت (خو) د امام او مقتدي په مينځ کې مشترک رکن دی لَكِنْ حَظُّ الْمُقْتَدِي الْإِنْصَاتُ وَالْإِسْتِمَاعُ لېکن د مقتدي حصه چپ پاته کېدل او په غور سره غوږ نيول دي قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نبي ﷺ فرمايلي دي وَإِذَا قَرَأَ الْإِمَامُ فَأَنْصِتُوا[2] کله چې امام قرائت کوي نو تاسو چپ اوسئ! وَيُسْتَحْسَنُ عَلَى سَبِيلِ الْاِحْتِيَاطِ او د احتياط په

[1] أخرجه ابن ماجه في كتاب الاقامة، باب اذا قرأ الامام فانصتوا، حديث رقم: ٨٥٠.

[2] أخرجه ابن ماجه في كتاب الاقامة، باب اذا قرأ الامام فانصتوا، حديث رقم: ٨٤٧.

ټوګه د سورتِ فاتحې ويل نښه دي فِيْمَا يُرْوٰى عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ د امام محمد رَحِمَهُ الله په روايت کي وَيُكْرَهُ عِنْدَهُمَا لېکن د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مکروه دي لِمَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ● ځکه چي د مقتدي د قرائت په باره کي وعيد راغلی دی.

اللغات: ﴿المؤتم﴾ مقتدی، ﴿حظ﴾ حصه، حق، برخه، ﴿إنصات﴾ د افعال د باب مصدر دی: چپ پاته کېدل، خاموشي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نيز د مقتدي لپاره قرائت کول مکروه دي، هغه که جهري لمونځ وي او که سرّي لمونځ وي، له قرائت څخه هم مراد مطلق قرائت دی، يعني نه قرآن ويل صحيح دي او نه سورتِ فاتحه، د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي پر مقتدي په هر لمانځه کي سورت فاتحه ويل واجب دي هغه که سرّي لمونځ او که جهري، همدا وجه ده چي د شوافعو په نيز د امام لپاره حکم دا دی چي تر سورتِ فاتحه ويلو وروسته به دومره اندازه چپ پاته کيږي چي مقتديان فاتحه ووايي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي قرائت د لمانځه له ارکانو څخه يو رکن دی، نو څرنګه چي امام او مقتدي د لمانځه په نورو ارکانو کي مثلاً په قيام، رکوع او سجود کي سره شريک دي، همدارنګه په دې رکن کي هم دواړه سره شريک دي.

زموږ اول دليل: دا دی چي د زياترو صحابه وو پر دې خبر اجماع ده چي د مقتدي لپاره قرائت کول صحيح نه دي، لکه څرنګه چي صاحب د عنايه ليکلي دي: روی عن ثمانين نفرا من كبار الصحابة منع المقتدي عن القراءة خلف الامام، (يعني د مقتدي لپاره د امام تر شا قرائت کول تقريباً له اتيا(۸۰) غټو صحابه وو څخه را نقل سوي دي)، امام شعبي رَحِمَهُ الله فرمايي چي: أدركت سبعين بدريًا كلهم يمنعون المقتدي عن القراءة خلف الامام، (ما اويا [۷۰] بدري صحابه وليدل چي په دوی کي هريوه د امام تر شا له قرائت څخه مقتدي منع کوی)، نو په دې حواله سره هم دا خبره ثابته سوه چي د مقتدي لپاره د امام تر شا قرائت جائز نه دی.

جواب: وهو ركن الخ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي وو چي قرائت د لمانځه رکن دی نو ځکه به امام او مقتدي دواړو پکښي شامل وي، له دې ځای څخه صاحب د هدايې د دې خبري رد کوي فرمايي چي د قرائت رکن کېدل موږ په سر او سترګو منو، او د نور ارکانو په ډول په دې رکن کي هم د امام او مقتدي دواړو شريکېدل پکار دي، خو زموږ په مخکي مجبوري دا ده چي په دې رکن کي د امام او مقتدي په مينځ کي تقسيم او وېش سوی دی، د امام وظيفه قرائت کول دي او د مقتدي وظيفه چپ پاته کېدل او د امام قرائت په غور سره اورېدل دي، څرنګه چي په خپله قرآن کريم اعلان کړی دی: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا (سورة الأعراف،۲۰۴)، (يعني کله چي قرآن ويل کيږي نو چپ او خاموشه اوسئ!)، په دې آيت کي له قرائت څخه مراد د لمانځه قرائت دی، له دې آيت څخه زموږ استدلال په دې توګه دی چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: أن أصحاب رسول الله ﷺ لما قرءوا خلفه فخلطوا عليه القراءة فنزلت، (يعني کله چي به صحابه وو په لمانځه کي د نبي ﷺ شاته قرائت کوی، او پر نبي ﷺ به قرائت ګډ وډ سو نو دا آيت نازل سو)؛ له دې څخه معلومه سوه چي د دې آيت تعلق د لمانځه سره دی، او په لمانځه کي د مقتديانو لپاره قرائت جائز نه دی. **دويم دليل:** په دې لړ کي زموږ دويم دليل هغه حديث دی کوم چي له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت سوی دی: انما جعل الامام ليؤتم به فاذا كبّر

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۴۰۲. [القول الراجح،ج:۱، ص:۸۷]

فکبّروا و اذا قرأ فانصتوا. (یعني امام ځکه امام جوړیږي چي د هغه اقتداء وکړی سي، نو کله چي هغه تکبیر ووایي نو تاسو هم تکبیر وایاست او کله چي هغه قرائت وکړي نو خاموشه اوسئ!). په دې حدیث سره هم د مقتدي لپاره د امام تر شا له قرائت کولو څخه منع ثابته سوه. (عنایه ج:۱، ص:۲۴۸)

ویستحسن الخ د دې حاصل دا دی چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د مقتدي لپاره سورت فاتحه ویل مستحسن او غوره دي، ځکه چي د حضرت عباده بن صامت ﷺ په حدیث کي سورت فاتحه ویل راغلي دي، لیکن د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مقتدي لپاره فاتحه ویل مکروه دي، ځکه چي په دې باره کي وعید راغلی دی، په عنایه کي راغلي دي چي نبي ﷺ وفرمایل: من قرأ خلف الامام ففی فیه جمرة وقال قد أخطأ السنة. (یعني کوم سړی چي د امام تر شا قرائت وکړی نو د هغه په خوله کي سکروټه ده او ویې فرمایل چي هغه له سنت څخه مخ واړوی). له حضرت عمر ﷺ څخه روایت دی چي هغوی وفرمایل: لیت فی فم الذی یقرأ خلف الامام حجرا و غیر ذلك. (کاشکي! د امام تر شا د قرائت کونکي په خوله کي ډبره او داسي نور وای او هغه قرائت نه سوی کولای). د دې وعیدونو په سبب د شیخینو په نېز د امام تر شا قرائت کول مکروه دي. علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي صحیح دا ده چي امام محمد رَحِمَهُ الله هم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله سره موافق دی (یعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز هم قرائت خلف الامام مکروه دی)، ځکه چي په کتاب الآثار کي د علقمه بن قیس په حواله سره روایت سوی دي چي امام محمد رَحِمَهُ الله په هیڅ یوه جهري او سري لمانځه کي هم قرائت خلف الامام کړی نه دي، او د کوم سړي عمل چي د هغه له روایت او قول څخه مخالف وي، نو د هغه عمل حجت او دلیل جوړیږي، قول یې دلیل نه جوړیږي.. (فتح القدیر ج:۱، ص:۳۴۹)

د امام د قرائت او خطبو په وخت کي د مقتدي لپاره څه حکم دی؟

وَيَسْتَمِعُ وَيُنْصِتُ او مقتدي به (د امام قرائت) په غور سره اوري او چپ به اوسي وَإِنْ قَرَأَ الْإِمَامُ آيَةَ التَّرْغِيبِ وَالتَّرْهِيبِ که څه هم امام د ترغیب او ترهیب آیت ووایي لِأَنَّ الِاسْتِمَاعَ وَالْإِنْصَاتَ فَرْضٌ بِالنَّصِّ ځکه چي اورېدل او چپ پاته کېدل په (قرآني) نص سره فرض دي وَالْقِرَاءَةُ وَسُؤَالُ الْجَنَّةِ وَالتَّعَوُّذُ مِنَ النَّارِ او لوستل، د جنت غوښتنه کول، او له اُور څخه پناه غوښتل كُلُّ ذَلِكَ مُخِلٌّ بِهِ دا ټوله شیان په اورېدلو کي خلل راولي وَكَذَلِكَ فِي الْخُطْبَةِ او همدارنګه په خطبه کي (به هم غوږ ایږدي او چپ به پاتېږي) وَكَذَلِكَ إِنْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او همدارنګه (به غوږ ایږدي او چپ به پاتېږي کله) چي (خطیب) پر نبي ﷺ درود ووایي لِفَرْضِيَّةِ الِاسْتِمَاعِ ځکه چي اورېدل فرض دي إِلَّا أَنْ يَقْرَأَ الْخَطِيبُ قَوْلَهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ الْآيَةَ [الاحزاب: ۵۶] مګر دا چي خطیب د الله تعالیٰ دا قول ووایي: یا أیها الذین أمنوا صلوا علیه الآیة فَيُصَلِّي السَّامِعُ فِي نَفْسِهِ نو اورېدونکي به په خپل زړه کي درود شریف وایي وَاخْتَلَفُوا فِي النَّائِي عَنِ الْمِنْبَرِ او د فقهاوو اختلاف دی په هغه سړي کي چي له منبر څخه لیري وي وَالْأَحْوَطُ هُوَ السُّكُوتُ خو (د هغه لپاره) زیات احتیاط په چپتیا کي دی إِقَامَةً لِفَرْضِ الْإِنْصَاتِ د چپ پاتېدلو د فرض قائمولو لپاره. والله أعلم.

اللغات: ﴿ترغيب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: شوق ورکول، هڅول. ﴿ترهيب﴾ ليرې کول، نفرت ورکول، ډارول. ﴿مخل﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: خلل اچوونکی، جلا کونکی، پرده. ﴿ثالوي﴾ ليري.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله امام قرائت کوي نو ټوله مقتديان دي چپ اوسيږي، او د امام قرائت دي په غور سره اوري، او که امام د ترغيب يو آيت مثلاً: وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ (سورة هود، ۱۰۸) او د ترهيب يو آيت مثلاً: فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ (سورة هود، ۱۰۶) ووايي نو هم به مقتدي چپ وي، او د امام قرائت دي اوري، ځکه چې د قرآني نص: فإذا قرئ القرآن فاستمعوا له و أنصتوا او د حديث إذا قرأ الإمام فانصتوا په وجه د قرآن د قرائت په وخت کې چپ پاته کېدل ضروري دي، نو د ترغيب او ترهيب هر ډول قرائت په دې کې داخل دی، او که يو سړی د امام سره قرائت کوي يا د ترغيب دآيت په وخت کې د جنت غوښتنه کوي يا د ترهيب د آيت په وخت کې له جهنم څخه پناه غواړي نو ښکاره ده چې په اورېدلو او چپ پاته کېدلو کې خلل راځي، کوم چې صحيح نه دی. وكذالك الخ فرمايي چې دا د چپ پاته کېدلو او په غور اورېدلو حکم په هغه وخت کې هم دی چې کله امام د جمعې خطبه وايي، ځکه چې له حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی: من قال لصاحبه والإمام يخطب: أنصت فقد لغا. ومن لغا فلاصلاة له. (يعني کوم چا چې د امام د خطبې ويلو په وخت کې خپل ملګري ته وويل: چپ سه!، نو هغه لغو کار وکړی او چا چې لغو کار وکړی، نو د هغه لمونځ نه کيږي)، فکر وکړئ! چې کله د خطبې د اورېدلو ترغيب ورکول هم لغو کار دی، نو د خطبې په وخت کې خبري کول او خطبه نه اورېدل به څومره غټ جرم وي، او همدغه حکم هلته هم دی چې کله امام په خطبه کې پر نبي کريم ﷺ درود ووايي، يعني په دغه وخت کې به هم مقتدي خاموش او چپ وي، ځکه چې د جمعې خطبه اورېدل واجب دي، او په دې وخت کې درود ويل واجب نه دي، لېکن که امام په خطبه کې دا آيت يا أيها الذين آمنوا صلّوا عليه...الخ ووايي نو په دې صورت کې اورېدونکي ته پکار دي، چې په زړه کې درود شريف ووايي، ځکه کله چې خطيب دا آيت ووايي نو ګواکي د دې خبري وضاحت يې وکړی چې د الله او د هغه فرشتې پر نبي ﷺ درود وايي، او په خپله يې زه هم وايم، لهذا تاسو يې هم ووايئ. دا حکم په هغه وخت کې دی چې کله اورېدونکی د منبر سره نژدې وي، او د خطبې اواز اوري، لېکن که يو سړی له منبر څخه ليرې وي لو تر هغه پورې د خطبې اواز نه رسيږي، نو آيا د هغه لپاره چپ پاته کېدل افضله دي که قرآن ويل؟ په دې لړ کې د محمد بن سلمة ﷺ رايه دا ده چې چپ پاته کېدل غوره دي، همدا د امام کرخي رَحِمَهُ الله او د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله په نېز مختاره دي، ځکه چې د قرآن د قرائت په وخت کې دوه شيان فرض دي: (۱) چپ پاته کېدل (۲) په غور سره اورېدل. او که چې د ليري والي په وجه اورېدل ناممکنه سو، نو د چپ پاته کېدلو حکم به پاته وي او چپ اوسېدل به غوره لو افضله وي. او د ځيني خلکو رايه دا ده چې قرآن ويل غوره او افضله دي، د امام فضلي رَحِمَهُ الله همدغه رايه ده، دليل دا دی چې د قرآن د قرائت په وخت کې د قرآن د فهمولو لپاره چپ پاته کېدل فرض دي، لېکن د نه اورېدلو په وجه چې کله د قرآن فهمول لو فکر پکښې کول پاته سو، نو لمونځ ګزاره ته پکار دي چې خالي نه کښېني، بلکې قرآن دي وايي چې نور ثواب تر لاسه کړي. (عنايه ج:۱، ص:۳۵۲)



بَابُ الْإِمَامَةِ

(دا) باب د امامت (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: تر دې مخکې صاحب د کتاب د امام افعال هم ذکر کړل، یعني د جهر او اخفاء وجوب، او د قرائت متعین کول، همداسې یې د مقتدي افعال هم ذکر کړل یعني د استماع او انصات وجوب، اوس له دې ځایه امامت او د امامت د حقدار احکام او مسائل بیانوي، چې په ښه توګه دا ښکاره سې چې د لمانځه ورکولو لپاره څرنګه سړی پکار دی.

د جماعت شرعي حیثیت

اَلْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ جماعت سنت مؤکده دی **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ**● ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي **اَلْجَمَاعَةُ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى** جماعت له سنن هدیٰ څخه دی **لَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا الْمُنَافِقُ** له دې څخه به صرف منافق شاته پاتېږي.

اللغات: ﴿سُنَن﴾ جمع ده، واحد یې سُنَّةٌ دی: طریقه، په دین کې د یو شي را نقل سوې طریقه. ﴿الْهُدٰى﴾ هغه سنت چې عمل پر کول د هدایت لامل وي او پرېښوول یې د ګمراهۍ لامل وي، ﴿يَتَخَلَّفُ﴾ د تفعل د باب مضارع صیغه ده: شاته پاته کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې په جماعت سره لمونځ کول سنت مؤکده دي، او د چا په زړه کې چې یو ذره اسلام هم وي نو هغه به د جماعت پابندي کوي، او له جماعت څخه به نه شاته کېږي، ځکه چې له جماعت څخه شاته کېدل د منافقانو کار دی، نبي ﷺ جماعت له سنن هدیٰ څخه ګرځولی دی، نو یاد لره! چې هر هغه سنت چې په هغه باندې عمل کول د هدایت سبب او د خلاصون ذریعه وي او د هغه پرېښوول د ګمراهۍ او ذلالت لامل وي هغه سنت، سنت هدیٰ دی، او په اصطلاح کې د سنت دوه قسمه دي: ① سنت هدیٰ ② سنت زائده؛

① سنت هدیٰ هغه سنت دی چې نبي ﷺ د عبادت په طریقه په پابندي سره اداء کړی وي.

② او سنت زائده هغه سنت دی چې نبي ﷺ د عادت په توګه په پابندي سره اداء کړی وي خو کله کله یې پرې ایښی هم وي.

د جماعت تأکید په ډېرو حدیثونو کې راغلی دی، لکه څرنګه چې په یو حدیث کې ذکر سوي دي چې د جماعت لمونځ له یوازي لمانځه څخه اوویشت (۲۷) درجې زیات فضیلت لري، په ابن ماجه کې راغلي دي: من سمع النداء فلم يأته لا صلاة له إلا من عذر، (یعني کوم سړی چې اذان واوري بیا هم مسجد ته رانه سي نو د هغه لمونځ نه کیږي، مګر دا چې یو عذر ولري)، او د جماعت د پرېښوونکي لپاره ډېر وعیدونه راغلي دي، لکه څرنګه چې په صحیحین او نورو کې ذکر سوي دي: لقد هممت أن أمر بالمؤذن فيؤذن، ثم أمر رجلا فيصلي بالناس ثم أنطلق معي برجال معهم حزم الحطب إلى قوم يتخلفون عن الصلاة فأحرق عليهم بيوتهم بالنار، (د حدیث مفهوم دا دی چې زړه مې غواړي چې په یو مؤذن اذان

● أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب صلاة الجماعة، حديث رقم:۲۵۶.

وكرم او په يو سري خلكو ته لمونځ وركرم او بيا داسي دېر خلک دځان سره روان كرم چي د هغو سره لرګي (بوټي) وي او د كورو وطرف ته مخ كرم او د هغو خلكو و كورو ته اُور ور واچوم كوم چي له لمانځه شخه شاته پاتيږي)؛ په دې حديث سره استدلال په دې معنیٰ دی چي په دې كي لا يتخلفون عن الصلاة شخه د لمانځه پرېښوونكي مراد نه دی، بلكي د جماعت پرېښوونكي مراد دي، ځكه چي د لمانځه د پرېښوونكو وعيد له دې شخه هم زيات دی. (عنايه، فتح القدير)

د امامت د منصب زيات حقداره څوک دی؟

وَأَوْلَى النَّاسِ بِالْإِمَامَةِ أَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ او په خلكو كي د امامت تر ټولو زيات حقداره هغه څوک دی چي په سنتو زيات عالم (خبر) وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ● رَحِمَهُ اللهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخه روايت دی أَقْرَؤُهُمْ (چي د قرائت زيات حقداره هغه دی) چي تر ټولو زيات قاري وي لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ لَا بُدَّ مِنْهَا ځكه چي د لمانځه لپاره قرائت ضروري دی وَالْحَاجَةُ إِلَى الْعِلْمِ إِذَا نَابَتْ نَائِبَةٌ او د علم ضرورت هغه وخت پيښيږي چي يوه واقعه پيښه سي وَنَحْنُ نَقُولُ الْقِرَاءَةُ مُفْتَقَرٌ إِلَيْهَا لِرُكْنٍ وَاحِدٍ او موږ وايو چي د قرائت ضرورت د يوه ركن لپاره دی وَالْعِلْمُ لِسَائِرِ الْأَرْكَانِ او د علم ضرورت د ټولو اركانو لپاره دی.

اللغات: ﴿أَوْلَى﴾ زيات حقداره، زيات لائق، ﴿نَابَتْ﴾ د نصر د باب واحده مؤنثه غائبه صيغه ده: پيښېدل، واقع كېدل، ﴿نَائِبَةٌ﴾ پيښه، واقعه، حادثه.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز تر ټولو زيات د امامت حقداره هغه سړی دی چي د مخارجو د صحيح ويلو سره سره په خلكو كي تر ټولو زيات په فقه او شريعت خبر وي، لېكن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د امامت زيات حقداره هغه سړی دی چي هغه تر ټولو زيات قاري وي او تر ټولو ښه قرآن وايي، ځكه چي قرائت د لمانځه يو ركن دی، نو په دې كي چي كوم څوک دېر مهارت لري هغه به د امامت زيات حقداره وي، او د "علم او فقهي" ضرورت هغه وخت پيښيږي، چي كله د لمانځه يو فاسدونكی شی (مفسدِ صلاة) مخ ته راسي، او په علمه توګه قاريان حضرات دومره علم لري چي په هغه سره د مفسدِ صلاة اصلاح وكړی سي، نو ځكه به د أعلم بالسنة په مقابله كي أقرأ بالقرآن ته د مخكي كېدلو زيات حق حاصل وي.

د طرفينو دليل: او د امام د ابو يوسف رَحِمَهُ الله د دليل جواب دا دی چي د قرائت ضرورت صرف د يو ركن په وجه سره دی، او د علم ضرورت د ټولو اركانو لپاره دی، او تر فكر كولو وروسته معلوميږي چي د قرائت لپاره هم د علم ضرورت سته، نو ځكه به د علم ضرورت د قرائت له ضرورت شخه عام او تام (پوره) وي، او أعلم بالسنة به پر أقرأ بالقرآن مخكي او لوړ وي، او د دې خبري تائيد په هغه حديث سره هم كيږي چي د هغه تخريج حاكم داسي كړی دی: يؤم القوم أقدمهم هجرة، فإن كانوا في الهجرة سواء فأفقههم في الدين، فإن كانوا في الفقه سواء فأقرؤهم للقرآن، په دې حديث سره استدلال په دې توګه كيږي چي په دې كي أفقه تر أقرأ مخكي سوي دي، نو ځكه موږ هم أفقه پر أقرأ مخكي كړی.

● القول الراجح: قول الطرفين، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۴۱۲.

که په علم کې ټوله خلک برابر وه نو څوک حقداره دی؟

فَإِنْ تَسَاوَوْا بیا که ټوله په علم کې برابر سوه فَأَقْرَؤُهُمْ نو په خلکو کې چې تر ټولو ښه قاري وي (هغه دامامت حقداره دی) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ تَعَالَى هغه سړی به د قوم امامت کوي چې تر ټولو زيات د قرآن ښه ويونکی وي فَإِنْ كَانُوا سَوَاءً بيا که (په دې صفت) کې ټوله خلک برابر وه فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ نو هغه سړی(زيات حقداره دی) چې په سنت زيات عالم(خبر) وي وَأَقْرَؤُهُمْ كَانَ أَعْلَمَهُمْ او په صحابه وو کې چې به کوم يو ښه قاري وو هغه به زيات عالم هم وو لِأَنَّهُمْ كَانُوا يَتَلَقَّوْنَهُ بِأَحْكَامِهِ ځکه چې هغوی به قرآن د خپلو احکامو سره زده کوی فَقُدِّمَ فِي الْحَدِيثِ نو ځکه په حديث کې أقرء(زيات قاري) مخکې کړی سو وَلَا كَذَلِكَ فِي زَمَانِنَا لیکن زموږ په زمانه کې داسې نه ده فَقَدَّمْنَا الْأَعْلَمَ نو ځکه موږ أعلم(زيات عالم) مخکې کړی.

اللغات: ﴿تَسَاوَوْا﴾ د تفاعل د باب ماضي جمع صيغه: يو د بل سره برابريدل. ﴿يَتَلَقَّوْنَ﴾ د تفعيل د باب مضارع صيغه ده: زده کول، حاصلول، تر لاسه کول.

تشريح: مسئله: دا ده که په اعلم بالسنة کې ټوله حاضرين خلک برابر وه، نو اوس به په دوی کې هغه يو غوره وي چې هغه تر ټولو ښه قاري وي.

دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: يؤم القوم اقرأهم لكتاب الله فان كانوا سواء فأعلمهم بالسنة. په دې حديث سره د استدلال وجه ښکاره ده، ليکن پر دې دوه سواله کيږي.

اول سوال: دا چې يؤم القوم د امر په معنیٰ سره دی، او امر د وجوب لپاره راځي، نو مطلب يې دا سو چې کوم ترتيب په حديث کې ذکر سوی دی، د هغه خيال ساتل به واجب وي، يعني زيات قاري به پر زيات عالم مخکې کول واجب وي، حال دا چې داسې نه ده، بلکې دغه حديث د ترتيب افضيليت بيانوي، جواز نه بيانوي. **دويم سوال:** دا دی چې په دې حديث سره استدلال د مدعیٰ خلاف دی، حال دا چې مدعیٰ د زيات عالم مخکې کول دي، او حديث دلالت کوي د زيات قاري پر مخکې کولو، نو ځکه دا حديث په استدلال کې ذکر کول صحيح نه دي.

د اول سوال جواب: دا دی چې يؤم القوم د امر په معنیٰ سره نه دی، بلکې دا د إخبار صيغه ده(يعني د خبر ورکولو صيغه ده) يا دا چې يؤم القوم د مشروعيت د بيانولو لپاره دی، او دا معنیٰ يې حقيقت دی، او قاعده دا ده چې تر کومه وخت په حقيقت عمل کول ممکن وي، تر هغه وخته به د مجاز و طرف ته رجوع نه کيږي، نو ځکه به دلته د مجاز و طرف ته رجوع نه کيږي، او دا يؤم القوم به د امر په معنیٰ سره نه وي. **د دويم سوال جواب:** دا دی چې په صحابه وو کې به کوم يو زيات قاري وو هغه به زيات عالم هم وو، ځکه چې په هغه زمانه کې به خلکو قرآن د خپلو احکامو سره زده کوی، لکه څرنګه چې له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه په دوولس کاله کې سورت بقره ياده کړه، ښکاره خبره ده چې په دومره ډېر وخت کې به د سورت بقره يادول د خپلو احکامو سره وه، نو د صحابه وو په زمانه کې چې به کوم يو زيات

● أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب من أحق بالامامة، حديث رقم: ۲۹۰.

قاري وو هغه به زيات عالم هم وو، نو ځکه په حديث کې زيات قاري پر زيات عالم مخکې کړی سو. او څرنګه چې زموږ په زمانه کې داسې نه ده، نو ځکه موږ زيات عالم پر زيات قاري مخکې کړی.

که په علم او قرائت کې ټول برابر وه نو څوک حقداره دی؟

فَإِنْ تَسَاوَوْا بيا که (په علم او قرائت کې) ټوله برابر سوه فَأَوْرَعُهُمْ نو په خلګو کې تر ټولو تقوا داره (پرهېزګاره) سړی (د امامت حقداره) دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي مَنْ صَلَّى خَلْفَ عَالِمٍ تَقِيٍّ کوم سړي چې په تقوا داره عالم پسې لمونځ وکړی فَكَأَنَّمَا صَلَّى خَلْفَ نَبِيٍّ ګواکې هغه په يو نبي پسې لمونځ وکړی.

اللغات: ﴿أَوْرَع﴾ زيات پرهېزګار، زيات متقي، ﴿تَقِيّ﴾ متقي، پرهېزګار، ﴿الْوَرَع﴾ الاجتناب عن الشبهات، ﴿التقوى﴾ الاجتناب عن المحرمات.

تشريح: په ورع او تقوی کې فرق دا دی چې ورع له شبهاتو (شکمنو شيانو) څخه پرهېز کولو ته ويل کېږي، او تقوی له محرماتو (حرامو شيانو) څخه پرهېز کولو ته ويل کېږي.

مسئله: دا ده که ټوله حاضرين خلک په علم او قرائت کې برابر وه، نو بيا به په دوی کې زيات پرهېزګاره غوره وي.

دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: من صلى خلف عالم تقي فكأنما صلى خلف نبي، د دې حديث په باره کې ملا علي قاري رَحِمَهُ الله ليکلي دي چې دا حديث موضوعي دی، مولانا ثمير الدين مدّ ظله العالي فرمايي: چې ما د حديثو په ذخيره کې دا بول حديث پيدا نه کړی، لېکن دې ته نژدې حديث مې پيدا کړی چې هغه د مستدرک للحاکم. په دريم جلد، ص: ۲۴۶ کې را نقل سوی دی: قال: قال رسول الله ﷺ إن سركم أن تقبل صلوتكم فليؤمكم خياركم فانهم وفدكم فيما بينكم وبين ربكم عز وجل، د حديث مفهوم دا دی (که تاسو غواړئ چې ستاسو لمونځونه قبول سي نو په تاسو کې دې نېک او ښه سړی ستاسو امامت وکړي).

که په علم، قرائت، او تقوىٰ کې ټوله برابر وه نو څوک د امامت حقداره دی؟

فَإِنْ تَسَاوَوْا بيا که (په علم، قرائت او تقوا کې) ټوله خلک برابر سوه فَأَسَنُّهُمْ نو په دوی کې له ټولو څخه د زيات عمر والا سړی (د امامت زيات حقداره) دی لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● لِابْنَيْ أَبِي مُلَيْكَةَ ځکه نبي ﷺ د ابو مليکه دوو زامنو ته فرمايلي وو وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا سِنًّا په تاسو دواړو کې دې هغه امامت کوي چې په عمر کې غټ وي وَلِأَنَّ فِي تَقْدِيمِهِ تَكْثِيرَ الْجَمَاعَةِ او په دې وجه هم چې د غټ عمره سړي په مخته کولو سره جماعت زياتېږي.

اللغات: ﴿أَسَنّ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات عمر والا.

تشريح: مسئله: دا ده چې که په مذکوره شيانو کې ټوله خلک برابر سوه، نو په حاضرينو کې به هغه يو تر ټولو زيات غوره وي چې د زيات عمر والا وي. **نقلي دليل:** د نبي ﷺ دا قول دی د ابو مليکه و دوو زامنو ته: وليؤمكما أكبركما. **عقلي دليل:** دا دی چې د مشر سړي په مخکې کولو د جماعت وګړي زيات راځي، او مخکې تېر سوي دي چې د جماعت وګړي د

● أخرجه البيهقي في سننه في كتاب الصلوٰة، باب اجعلوا ائمتكم خياركم، حديث رقم: ۵۱۳۲.

● أخرجه البيهقي في سننه في كتاب الصلوٰة، باب اذا استووا في الفقه والقراءة، حديث رقم: ۵۲۹۳.

الله تعالیٰ زيات خوښ دی، په حديث کي راځي: من لم يوقر کبيرنا فليس منا، (چا چي د مشر سړي احترام نه وکړی هغه زموږ څخه نه دی)، نو کله چي خلک مشر او د زيات عمر والا انسان خپل امام جوړ کړي، نو دا د هغه لپاره ښه احترام دی.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله دا نه دي ذکر کړي چي که ټوله په عمر کي برابر سوه نو بيا به څوک غوره وي، خو نورو فقهاوو د دې صراحت کړی دی چي که ټوله په عمر کي برابر سوه، نو بيا به په ټولو کي غوره هغه يو وي چي اخلاق يې تر ټولو ښه وي، ځکه چي په حديث کي راغلي دي: خياركم أحسنكم أخلاقا، او که په اخلاقو کي ټول برابر سوه، نو په هغوی کي چي څوک زيات ښايسته وي، هغه به د امامت لپاره غوره وي. لنډه دا چي تر ټولو زيات د امامت حقداره هغه څوک دی چي هغه په علم، قرائت، نېکي، نسب، اخلاق، ښائست او داسي نورو ټولو شيان کي افضله وي، ځکه چي په دې کي د نبي ﷺ اقتداء ده، او نبي ﷺ خپل تر مرګه پوري امامت وکړی، او په دې ټولو صفتونو کي نبي ﷺ تر ټولو انسانانو مخکي وو.

د کومو خلکو امامت مکروه دی؟

وَيُكْرَهُ تَقْدِيمُ الْعَبْدِ او د (امامت لپاره) غلام مخته کول مکروه دي لِأَنَّهُ لَا يَتَفَرَّغُ لِلتَّعَلُّمِ ځکه چي هغه د زده کړي لپاره فراغت نه لري وَالْأَعْرَابِيِّ او د صحرايي (مخته کول هم مکروه دي) لِأَنَّ الْغَالِبَ فِيهِمُ الْجَهْلُ ځکه چي په دوی کي جهالت (ناپوهي) زياته وي وَالْفَاسِقِ او د فاسق (مخته کول هم مکروه دي) لِأَنَّهُ لَا يَهْتَمُّ لِأَمْرِ دِينِهِ ځکه چي هغه خپل ديني کار ته خاص ارزښت نه ورکوي (او د دين لپاره هيڅ بندوبست نه کوي) وَالْأَعْمَى او دړانده سړي لِأَنَّهُ لَا يَتَوَقَّى النَّجَاسَةَ ځکه چي هغه له نجاست (پليتي) څخه نه سي خوندي کېدلی وَوَلَدِ الزِّنَا او د ارموني (حرام زاده) لِأَنَّهُ لَيْسَ لَهُ أَبٌ يُثَقِّفُهُ ځکه چي د هغه پلار نه وي چي شفقت پر وکړي فَيَغْلِبُ عَلَيْهِ الْجَهْلُ نو پر هغه (هم) جهل غالبه وي وَلِأَنَّ فِي تَقْدِيمِ هَؤُلَاءِ تَنْفِيرَ الْجَمَاعَةِ او په دې وجه (هم) چي د دې خلکو په مخته کولو سره د جماعت خلک په نفرت کي اچول دي فَيُكْرَهُ نو ځکه به د دوی مخته کول مکروه وي وَإِنْ تَقَدَّمُوا جَازَ او که دا خلک مخته سي نو جائز دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ لمونځ کوئ! د هر نېک او بد سړي تر شا.

اللغات: ﴿يَتَفَرَّغُ﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: فارغ کېدل، فرصت پيدا کېدل، ﴿يَهْتَمُّ﴾ د افتعال د باب مضارع صيغه ده: اهتمام او بندوبست کول، ارزښت ورکول، ﴿أَعْمَى﴾ ړوند، ﴿يَتَوَقَّى﴾ د تفعيل د باب مضارع صيغه ده: خوندي کېدل، محفوظه کېدل، ﴿تَنْفِيرٌ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ليري کول، په نفرت کي اچول.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي غلام امام جوړول مکروه دي، ځکه چي امامت يو مهم او لوړ منصب دی، او د امامت لپاره د يو علمي او عملي مهارت ضرورت دی، لېکن غلام ټوله وخت د خپل بادار په خدمت کي وي، د زده کړي لو

● تخريج: اخرجه بيهقي في سننه في كتاب الصلوٰة، خلف من لايحمد فعله، حديث رقم: ٥٣٠٠.

تعلیم لپاره فراغت نه لري، نو ځکه د هغه په اقتداء کې لمونځ کول مکروه دي، لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې که په يو غلام کې د امامت صفتونه وي نو د هغه امام جوړول صحيح دي، او هيڅ کراهت پکښې نسته، ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: اسمعوا و أطيعوا ولو أمّر عليكم عبد حبشي. (يعني که حبشي غلام هم ستاسو امير جوړ کړی سي نو هم تاسو د هغه اطاعت او فرمان برداري کوئ).

جواب: زموږ له طرفه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث اول جواب دا دی چې په دې حديث کې د امارت او خلافت بيان دی، يعني که يو مسلمان د مسلمانانو خلفيه جوړ کړی سي، نو پر مسلمانانو د هغه اطاعت ضروري دی، نو په دې حديث سره د امامت لپاره دليل نيول صحيح نه دي. دويم جواب: دا دی چې د غلام په مخته کولو کې د جماعت د کمښت انديښنه ده، ځکه چې د هغه پر مخکې والي به ډېر خلک اعتراض کوي، او خپل لمونځونه به جلا کوي، حال دا چې په شريعت کې د جماعت ډېرښت مطلوب دی، نو په دې حواله سره هم د امام جوړول صحيح نه دي.

ولا أعرابي الخ فرمايي چې د صحرايي امام جوړول صحيح نه دي، ځکه چې په هغه کې هم ناپوهي غالبه وي، او د صحراء اوسېدونکو ته د ديني احکامو هيڅ فکر نه وي، او د امامت لپاره په احکامو او مسائلو پوره خبرتيا ضروري ده، نو د جهل د غلبې په سبب د صحرايي امامت هم مکروه دی.

والفاسق الخ همدارنګه د فاسق امامت مکروه دی، ځکه چې هغه د خپل دين او د خپل ايمان هيڅ لحاظ نه کوي، او ديني کارونو ته خاص اهميت نه ورکوي، او د شريعت په خلاف کارونو کې په بې فکري سره بوخت وي.

والأعمى الخ فرمايي چې د ړانده سړي امامت هم مکروه دی، ځکه چې د امامت لپاره د طهارت صفت ډېر ضروري دی، او ړوند سړی له نجاستونو څخه ځان نه سي خوندي کولای، نو په دې حواله سره د هغه امامت مکروه دی.

وولد الزنا الخ همدارنګه د ارموني امامت هم مکروه دی، ځکه چې د هغه پلار نه وي، او نه د هغه د پالني، تعليم او ساتني يو بندوبست کيږي، نو ځکه په هغه کې جهالت غالبه وي، نو څرنګه چې د جهالت په وجه د صحرايي امامت مکروه دی، همدارنګه د ولد زنا امامت هم مکروه دی، او بل دا چې د پورتني خلکو په مخته کولو کې خلک نفرت او عار محسوسوي، او ډېر ځله خو د ډېري غټې فتنې سبب جوړيږي، نو د دې خلکو په امام نه جوړولو کې عافيت او راحت دی، لېکن که بيا هم د امامت لپاره دا خلک مخته کړی سي، نو امامت يې په هر حال جائز دی، ځکه چې د نبي ﷺ فرمان دی: صلوا خلف كل بر وفاجر (يعني د هر نېک او بد تر شا لمونځ کوئ!)، او ښکاره ده چې له اعرابي، فاسق او ولد زنا څخه به هر يو يا خو بد وي يا خو به فاجر وي، نو هر څه چې وي خو په اقتداء کې يې لمونځ جائز دی.

د امام لپاره د کومو خبرو خيال ساتل پکار دي؟

> **وَلَا يُطَوِّلُ الْإِمَامُ بِهِمُ الصَّلَاةَ** او امام به پر خلکو لمونځ نه اوږدوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي مَنْ أَمَّ قَوْمًا کوم سړی چې خلکو ته امامت ورکوي فَلْيُصَلِّ بِهِمْ صَلَاةَ أَضْعَفِهِمْ نو هغوی ته دې د هغوی د ضعيف سړي مطابق لمونځ ورکوي فَإِنَّ فِيهِمَا الْمَرِيضَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ ځکه چې په لمونځ کونکو کې ناروغه، سپين ږيري او ضرورت مند (هر ډول خلک) وي.

● أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب إذا صلى لنفسه، حديث رقم: ۷۰۳.

تشريح: مسئله: دا ده چې امام به خلګو ته اوږد لمونځ نه ورکوي، دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: څوک چې قوم ته لمونځ ورکوي، نو د هغوی د کمزوي سړي مطابق دي لمونځ ورکوي ځکه چې په مقتديانو کې ناروغه خلک هم وي، سپين ږيري او حاجتمن هم وي، او د دې دليل د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث هم دی، ځکه چې معاذ رضي الله عنه خپل قوم ته اوږده لمونځونه ورکول، نو د قوم خلګو نبي ﷺ ته شکايت وکړی، نبي ﷺ وفرمايل: أفتان أنت يا معاذ. دا حديث مخکې تېر سو، او دا خبره په صحيح سند سره ثابته ده چې يو وار نبي ﷺ د سهار په لمانځه کې قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس وويل، کله چې نبي ﷺ له لمانځه څخه فارغ سو، نو صحابه وو عرض وکړی، اې د الله رسوله! تاسو لمونځ ډېر مختصره وکړی، نبي ﷺ وفرمايل: د کوچني د ژړا په وجه ما ته دا ډېره سوه چې د دې مور په فتنه کې ونه لوېږي، له دې واقعې څخه معلومېږي چې د امام لپاره د خپل قوم د حال خيال ساتل مناسب دي.

د ښځو د جماعت حکم

وَيُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ او مکروه دي د ښځو لپاره أَنْ يُصَلِّيْنَ وَحْدَهُنَّ الْجَمَاعَةَ چې يوازي په جماعت سره لمونځ وکړي لِأَنَّهَا لَا تَخْلُوْ عَنْ ارْتِكَابِ مُحَرَّمٍ ځکه چې دا به د يو حرام کار له کولو څخه خالي نه وي وَهُوَ قِيَامُ الْإِمَامِ وَسَطَ الصَّفِّ او هغه (حرام کار) درېدل د امام دي په مېنځ د صف کې فَيُكْرَهُ كَالْعُرَاةِ نو د لڅو خلګو په ډول به د دوی جماعت هم مکروه وي وَإِنْ فَعَلْنَ قَامَتِ الْإِمَامُ وَسْطَهُنَّ او که (بيا هم) ښځو جماعت کوی نو امام به د دوی په مېنځ کې درېږي لِأَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَعَلَتْ كَذٰلِكَ ● ځکه حضرت عائشې رضي الله عنها همداسې کړي وو وَحُمِلَ فِعْلُهَا الْجَمَاعَةَ عَلَى ابْتِدَاءِ الْإِسْلَامِ لېکن د حضرت عائشې رضي الله عنها دا کار (يعني امامت ورکول) به د اسلام پر شروع حمل کېږي وَلِأَنَّ فِي التَّقَدُّمِ زِيَادَةَ الْكَشْفِ او په دې وجه (هم) چې (د ښځې) په مخته کولو کې د عورت لڅېدل زيات دي.

اللغات: ﴿تخلو﴾ د نصر باب ماضي صيغه ده: خالي کېدل. ﴿ارتكاب﴾ د افتعال د باب مصدر دی: عمل کول. په ګناه کې مبتلا کېدل، يو کار په خپله کول. ﴿عراة﴾ جمع ده، واحد يې عاری دی: لڅ. بربنډ. ﴿كشف﴾ لڅېدل. ښکاره کېدل، پرده ليري کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چې د ښځو جلا او ځان ته جماعت کول مکروه تحريمي دي، ځکه چې د ښځو جماعت کول د حرام (مکروه) فعل څخه خالي نه وي، ځکه چې د ښځو امامه به يا له ښځو څخه مخکې ولاړه وي، يا به د دوی په مېنځ کې ولاړه وي، په اول صورت کې د عورت ښکاره کېدل زيات راځي، حال دا چې دا مکروه دي. او په دويم سورت کې امامې خپل ځای پرېښوول راځي، حال دا چې دا هم مکروه دی. او جماعت سنت دی. او قاعده دا ده چې د مکروه کار کولو په نسبت د سنت پرېښوول غوره دي، نو ځکه د ښځو په حق کې د جماعت سنت پرېښوول سوی دی. او د ښځو حالت د لڅو (بربنډو) خلګو حالت په ډول دی، يعني لکه څرنګه چې د لڅو جماعت مکروه دی، همدغه رنګه د ښځو جماعت هم مکره دی.

● أخرجه بيهقي في السنن في كتاب الصلوٰة، باب المرأة تؤم النساء، حديث رقم: ٥٣٥٥.

فإن فعلن الخ صاحب د قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي که ښځو سره د دې تحريمي کراهته د جماعت لمونځ بيا هم کول خوښتله، نو امامه به د دوی په مينځ کي درېږي، ځکه چي حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا همداسي کړي وو.

سوال: د لته يو سوال کيږي چي کله چي حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په جماعت لمونځ کړی دی نو بيا دا مکروه تحريمي ولي دی؟

جواب: دا دی چي د حضرت عائشې رَحِمَهُ الله دا فعل د اسلام پر ابتداء او شروع باندي حمل سوی دی، يعني حضرت عائشې رَحِمَهُ الله ښځو ته امامت د اسلام په اول وخت کي ورکړی وو.

سوال: خو پر دې جواب هم اعتراض کيږي چي تر نبوت وروسته نبي ﷺ دیارلس کاله په مکه شريف کي تېر کړل، او بيا يې په مدينه منوره کي د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره د شپږو کالو په عمر کي نکاح وکړه، بيا چي کله حضرت عائشه د نهو(۹) کالو سوه، نو واده يې ور سره وکړی، او د نبي ﷺ په ژوند کي نهه کاله پاته سو، او د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د امامت واقعه تر بلوغت وروسته واقع سوې ده، نو په دې صورت کي به دا فعل څرنګه د اسلام پر ابتداء حمل کيږي.

جواب: دا دی چي د اسلام پر ابتداء باندي له حمل کولو څخه مراد دا دی چي د ښځو جماعت حکم منسوخ دی، يعني حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خو وکړی ليکن اوس دا حکم منسوخ سوی دی، او په دې زمانه کي د ښځو لپاره په کورونو کي لمونځ کول زيات غوره دي.

که مقتدي يو وي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ صَلَّى مَعَ وَاحِدٍ او څوک چي د يوه سړي سره لمونځ کوي أَقَامَهُ عَنْ يَمِينِهِ نو هغه دي خپل راسته طرف ته ودروي لِحَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د حديث په وجه فَإِنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● صَلَّى بِهِ ځکه چي نبي ﷺ هغه ته لمونځ ورکړی وَأَقَامَهُ عَنْ يَمِينِهِ او هغه يې خپل راسته طرف ته ودروی وَلَا يَتَأَخَّرُ عَنِ الْإِمَامِ او دا (يوازي) مقتدي به له امام څخه نه شاته کيږي وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ ● أَنَّهُ يَضَعُ أَصَابِعَهُ عِنْدَ عَقِبِ الْإِمَامِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي دا (يوازي) مقتدي به خپل (د پښي) ګوتي د امام د پوندي سره برابروي وَالْأَوَّلُ هُوَ الظَّاهِرُ ليکن اول قول ښکاره دی فَإِنْ صَلَّى خَلْفَهُ أَوْ فِي يَسَارِهِ او که دې يوه سړي د امام شاته يا د هغه وچپه طرف ته لمونځ وکړی جَازَ نو جائز دی وَهُوَ مُسِيءٌ ليکن دی به ګنهګاره وي لِأَنَّهُ خَالَفَ السُّنَّةَ ځکه چي ده د سنتو مخالفت وکړی.

اللغات: ﴿أصابع﴾ جمع ده، واحد يې: إِصْبَعٌ دی: ګوته، ﴿عقب﴾ پونده، جمع يې: أَعْقَابٌ راځي، ﴿مسيءٌ﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: ګنهګاره(ګناهکاره)، مجرم، بد کار کونکی.

● أخرجه البخاري في كتاب العلم، باب السمر في العلم، حديث رقم: ١١٨ ومسلم في كتاب للمسافرين، حديث رقم: ١٨١.

● القول الراجح: قول الاول، أی ومن صلى مع واحد أقامه عن يمينه كما رجحه في الهداية بقوله: والاول، هو الظاهر، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٤١٩. [القول الراجح، ج:١، ص:٨٨]

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د امام سره صرف یو مقتدي وي، نو په دې صورت کې سنت طریقه دا ده چې هغه یوازې مقتدی دې د امام راسته طرف ته ودرېږي. دلیل د ابن عباس رضي الله عنه حدیث دی، پوره حدیث داسې دی:

بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ لِأُرَاقِبَ صَلَاةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ، فَانْتَبَهَ فَقَالَ: نَامَتِ الْعُيُونُ وَغَارَتِ النُّجُومُ وَبَقِيَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ، ثُمَّ قَرَأَ آخِرَ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ [آل عمران: ۱۹۰] إلى آخرها، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقٍ فَتَوَضَّأَ وَافْتَتَحَ، فَقُمْتُ وَتَوَضَّأْتُ وَوَقَفْتُ عَلَى يَسَارِهِ، فَأَخَذَ بِأُذُنِي وَأَدَارَنِي خَلْفَهُ حَتَّى أَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ. (متفق علیه)

(ابن عباس فرمایي: چې ما د خپلې خاله میمونې رضي الله عنها په کور کې شپه تېره کړه، چې د نبي ﷺ د شپې لمونځ وګورم، نو نبي ﷺ را پورته سو، او ویې فرمایل: سترګې بیدې سوې، او ستوري پټ سول، او حی او قیوم ذات پاته دی، بیا نبي ﷺ د سورت آل عمران آخري آیتونه یعني له إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيٰتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ څخه د سورت تر آخره پوري ووېل. بیا نبي ﷺ له یو را ځړول سوي ژي څخه اوبه را وخیستلې، اودس یې وکړی، او لمونځ یې شروع کړی، نو زه هم را پورته سوم، اودس مې وکړی، او د نبي ﷺ چپه طرف ته ودرېدلم، لیکن نبي ﷺ زه تر غوږ ونیولم، د خپلې شا پر طرف یې را وګرځولم او راسته طرف ته یې ودرولم). له دې حدیث څخه معلومه سوه چې که د امام سره یو مقتدی وي نو هغه راسته طرف ته درول غوره دي.

وعن محمد الخ او له امام محمد رحمه الله څخه را نقل سوي دي که د امام سره یو مقتدی وي نو د امام سره دې بالکل برابر نه درېږي، بلکې د امام شاته دې درېږي، او د خپلې پښې ګوتې دې د امام د پوندي سره برابروي، د دې لپاره چې نه په پوره توګه شاته کېدل ثابت سي او نه په پوره توګه محاذاة او برابري ثابته سي، لیکن صاحب د هدایې فرمایي چې اول قول ښکاره دی (یعني چې د امام سره به برابر درېږي) ځکه چې هغه د ابن عباس رضي الله عنه په حدیث سره ثابت دي، او په حدیث کې مطلق د راسته طرف ذکر سته، د شاته او مخته هیڅ تصریح سوې نه ده.

که مقتدیان دوه وي نو څه حکم دی؟

> وَإِنْ أَمَّ اثْنَيْنِ او که یوه سړي د دوو خلکو امامت کوی تَقَدَّمَ عَلَيْهِمَا نو هغه به تر دوی مخکې کېږي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ● يَتَوَسَّطُهُمَا او له امام ابو یوسف رحمه الله څخه روایت دی چې هغه به د دوی په مینځ کې درېږي وَنُقِلَ ذٰلِكَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ● او همدغه له حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه را نقل سوي دي وَلَنَا أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● تَقَدَّمَ عَلَى أَنَسٍ وَالْيَتِيمِ حِينَ صَلَّى بِهِمَا او زموږ دلیل دا دی ﷺ چې کله نبي ﷺ حضرت انس رضي الله عنه او (د هغه ورور) حضرت یتیم رضي الله عنه ته لمونځ ورکوی نو له دوی څخه مخکې سو فَهٰذَا لِلْأَفْضَلِيَّةِ نو دا د افضلیت (غوره والي) دلیل دی وَالْأَثَرُ دَلِيلُ الْإِبَاحَةِ او (د ابن مسعود رضي الله عنه) اثر د روایښت دلیل دی.

● القول الراجح: قول الجمهور، كذا في رد المحتار ج:۱، ص: ۳۲۰. [القول الراج، ج:۱، ص: ۸۹]

● أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب الندب الى وضع الايدى، حديث رقم: ۲۸.

● أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب جواز الجماعة في النافلة، حديث رقم: ۲۶۶.

اللغات: ﴿يَتَوَسَّطُ﴾ د تفعيل د باب مضارع صيغه ده: په مينځ کي راتلل، په مينځ کي کېدل. ﴿يَتِيمُ﴾ هلک، کم عمره کوچنی، يتيم د حضرت انس رضي الله عنه پلرنی ورور وو(يعني په پلار ور سره شريک وه)، او نوم يې عمير وو، او د حديثو په کتابونو کي د ده نوم: ضميرة بن سعد الحميری المدنی هم ذکر سوی دی، والله اعلم. (عنايه ج:۱، ص:۳۶۷)

تشريح: مسئله: دا ده که دوه مقتديان وه، نو په دې صورت کې زموږ په نېز د امام مخته کېدل سنت او غوره دي، لېکن که امام په مينځ کي ودرېږي، نو هم جائز دي، هيڅ حرج پکښي نسته، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله هم دا خبره کوي، او په ...ايه کي له حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه هم دغه را نقل سوي دي چي حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حضرت علقمه رضي الله عنه او حضرت اسود رضي الله عنه ته لمونځ ورکوی نو د دوی په مينځ کي ودرېدی لومونځ يې ورکړی، نو د دې اثر په وجه سره په مينځ کي درېدل مباح دي، لېکن غوره او سنت دا ده چي که مقتديان دوه وي نو امام دي له دوی څخه مخکي سي، لکه څرنګه چي حضرت انس رضي الله عنه فرمايي: صففت أنا واليتيم وراءه والعجوز من ورائنا فصلّى لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ركعتين ...الخ (يعني زه او زما وروړ يتيم د نبي صلى الله عليه وسلم شا ته صف جوړ کړی او سپين سرې انا زموږ شا ته ولاړه وه)؛ له دې څخه معلومه سوه چي که مقتديان دوه وي نو د دوی لپاره د امام شاته درېدل سنت دي.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د جمهورو دی، يعني که مقتديان دوه وي، نو د امام شاته به درېږي، وقال في الهندية: وإذا كان معه اثنان قاما خلفه (هندية ج:۱، ص:۸۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۹۰]

د نارينه وُ لپاره د ښځو او کوچنيانو د اقتداء حکم

وَلَا يَجُوزُ لِلرِّجَالِ او د خلکو لپاره جائز نه دي أَنْ يَقْتَدُوا بِامْرَأَةٍ وَصَبِيٍّ چي په ښځي او کوچني پسي اقتداء وکړي أَمَّا الْمَرْأَةُ فَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● هر چي ښځه ده نو په دې وجه چي نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي أَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللهُ وروسته کړئ ښځي څرنګه چي الله تعالیٰ وروسته کړي دي فَلَا يَجُوزُ تَقْدِيمُهَا نو ځکه د هغوی مخته کول جائز نه دي وَأَمَّا الصَّبِيُّ فَلِأَنَّهُ مُتَنَفِّلٌ او هر چي کوچنی دی نو په دې وجه (د هغه امامت صحيح نه دی) چي هغه نفل کونکی دی فَلَا يَجُوزُ اقْتِدَاءُ الْمُفْتَرِضِ بِهِ نو د فرض کونکي اقتداء په نفل کونکي پسي جائز نه ده وَفِي التَّرَاوِيحِ وَالسُّنَنِ الْمُطْلَقَةِ جَوَّزَهُ مَشَايِخُ بَلْخٍ او په ترايحو او مطلق سنتو کي د بلخ مشايخو د کوچني اقتداء جائز ګرځولې ده وَلَمْ يُجَوِّزْهُ مَشَايِخُنَا رَحِمَهُمُ اللهُ لېکن زموږ مشايخ يې جائز نه ګڼي وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّقَ الْخِلَافَ فِي النَّفْلِ الْمُطْلَقِ بَيْنَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ● رَحِمَهُمَا اللهُ او له مشايخو څخه بعضو په مطلق نفلو کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په مينځ کي اختلاف متحقق(ثابت) کړی دی وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا او غوره مذهب دا دی چي په ټولو لمونځونو کي د کوچني اقتداء جائز نه ده لِأَنَّ نَفْلَ الصَّبِيِّ دُونَ نَفْلِ الْبَالِغِ ځکه د کوچني نفل(هم) د بالغ تر نفلو کمزوري دي حَيْثُ لَا يَلْزَمُهُ الْقَضَاءُ بِالْإِفْسَادِ بِالْإِجْمَاعِ ځکه چي د کوچني لپاره په نفل فاسدولو سره پر کوچني بالاجماع قضاء راوړل نه

● أخرجه مسلم هذا الحديث في معناه في كتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف و اقامتها، حديث رقم:۱۳۲.

● القول الراجح: قول أبي يوسف، كذا في الدرالمختار ج:۱، ص:۴۲۷. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۹۰]

لازمیږي وَلَا يَبْنِي الْقَوِيُّ عَلَى الضَّعِيفِ او د قوي بناء پر کمزوري نه کیږي بِخِلَافِ الْمَظْنُونِ په خلاف د گومان کونکي د لمانځه(بله معنی یې داسې هم کیږي: په خلاف د هغه لمانځه چې گومان پکښې سوی وي، یا د گومان په وجه پر ځان لازم کړی سوی وي) لِأَنَّهُ مُجْتَهِدٌ فِيهِ ځکه چې هغه مجتهد فيه دی فَاعْتُبِرَ الْعَارِضُ عَدَمًا نو دا اعتبار وسو چې گواکي عارض سته نه بِخِلَافِ اقْتِدَاءِ الصَّبِيِّ بِالصَّبِيِّ په خلاف د کوچني د اقتداء په کوچني پسې لِأَنَّ الصَّلَاةَ مُتَّحِدَةٌ ځکه چې د دواړو لمونځ یو(متحد) دی(نو ځکه به د کوچني اقتداء په کوچني پسې صحیح وي).

اللغات: ﴿علّق﴾ د تفعیل د باب ماضي صیغه ده: ځړنه کول، ژوره کتنه کول او یو شی په ثابتول. ﴿مظنون﴾ گمان کړی سوی، شکمن، مشتبه.

تشریح: مسئله: دا ده چې د خلکو لپاره په ښځو او کوچنیانو پسې اقتداء کول جائز نه دي، ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي:

أخروهن من حيث أخرهن الله، په دې حدیث سره استدلال په دې توگه کیږي چې د حيث د لفظ څخه مراد ځای دی، او چې په کوم ځای کي د ښځو وروسته کول واجب دي، هغه د لمانځه له ځای څخه ماسوا بل ځای نه دي، نو ثابته سوه چې الله تعالیٰ ښځي د لمانځه په ځای کي وروسته کړي دي، يعني دا حق یې نه دی ورکړی چې ښځه د خلکو امامت وکړي، او بعضي حضراتو فرمايلي دي چې حيث د تعليل لپاره دی، نو اوس یې معنیٰ دا سوه چې: "تاسو ښځي وروسته کړئ! ځکه چې الله تعالیٰ دوی وروسته کړي دي"، يعني الله تعالیٰ دوی په شهادت(گواهي)، وراثت، بادشاهي او په نورو ټولو ملکیتونو کي وروسته کړي دي، نو هر کله چې الله ښځه وروسته کړې ده، نو د هغې مخکي کول يعني امام جوړول به هم جائز نه وي.

و أما الصبي الخ پاته سو د کوچني د امامت خبره، نو د کوچني امامت په دې وجه جائز نه دی چې هغه نفل کونکی دی، (یعني هغه چې هر لمونځ کوي هغه لمونځ نفل گرځي)، نو د فرض کونکي اقتداء په نفل کونکي پسې جائز نه ده، صاحب د هدایې فرمايي چې په تراويحو او سنن مطلقه کي اختلاف دی: د بلخ د مشائخو په نیز په تراويحو او سنن مطلقه وو کي د کوچني امام جوړول جائز دي؛ او زموږ د مشائخو يعني د ما وراء النهر د مشائخو په نیز جائز نه دي.

سنن مطلقه: له سنن مطلقه څخه مراد سنن رواتب دي یعني هغه سنت لمونځونه کوم چې تر فرضو مخکي او وروسته مشروع سوي دي، د یوه روایت مطابق د اختر لمونځ هم سنت دی، او د وترو، کسوف، خسوف او استسقاء لمونځونه هم د صاحبينو په نیز سنت دي. لنډه دا چې د بلخ د مشائخو په نیز په تراويحو او سنن مطلقه وو کي د کوچني امام جوړول جائز دي، لېکن زموږ د ما وراء النهر یعني د بخارا او سمرقند د مشائخو په نیز جائز نه دي.

دلیل: د بلخ مشائخ دا پر مظنونه لمونځ قیاسوي، مظنونه لمونځ دا دی چې مثلاً یو سړی دا گومان وکړي چې د هغه پر ذمه یو لمونځ واجب دی، نو په دغه گومان سره یې لمونځ شروع کړي، بیا د لمانځه په مینځ کي یو داسې مفسد شی ورپېښ سو چې په هغه سره یې لمونځ فاسد سو، نو اوس د دغه فاسد سوي لمانځه قضاء راوړل واجب دي، که نه؟ نو په دې باره کي د ائمه ثلاثه وو په نیز حکم دا دی چې قضاء یې واجب نه ده، لېکن د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز قضاء واجب ده، همدارنگه که یو بالغ انسان نفلي لمونځ کوي، او په دې مظنونه لمونځ والا پسې یې اقتداء وکړه نو اقتداء او لمونځ یې جائز دي. اوس د بلخ د مشائخو قیاس حاصل دا سو چې نفل په شروع کولو سره واجبیږي، او مظنونه لمونځ په شروع

کولو سره نه واجبیږي، نو کله چي نفل کونکی په دې د مظنونه لمونځ والا سړي پسي اقتداء کولای سي، نو همدارنګه به نفل اداء کونکی هم د کوچني اقتداء کولای سي.

ومنهم من حقق الخ فرمايي چي زموږ په مشائخو کي بعضو د مطلق نفلو په صورت کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله او د امام محمد رَحِمَهُ الله په مينځ کي اختلاف بيان کړی دی، يعني امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله وايي چي په مطلق نفلو کي هم د بالغ سړي اقتداء کول په کوچني پسي جائز نه ده، او امام محمد رَحِمَهُ الله وايي چي جائز ده، صاحب د هدايې فرمايي: لېکن صحيح دا ده چي په هيڅ يوه لمانځه کي هم د کوچني امامت او اقتداء کول صحيح نه دي، هغه که فرض وي او که نفل، ځکه چي د کوچني لمونځ په هر اعتبار سره د بالغينو له لمانځه څخه کم او کمزوری دی، او پر کمزوري شي د قوي بناء هيڅکله نه سي کېدلای.

بخلاف المظنون الخ له دې ځایه د بلغ د مشائخو جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چي بالغ سړی چي کومه اقتداء په کوچني پسي کوي دا اقتداء د مظنونه لمونځ والا پر اقتداء قیاسول صحیح نه دي، ځکه چي مظنونه لمونځ مختلف فیه دی، يعني اختلاف پکښي سوی دی، د امام زافر رَحِمَهُ الله په نېز د مظنونه لمونځ د فاسدېدلو په صورت کي پر ظان (ګومان کونکي) باندي قضاء راوړل واجب دي، او د کوچني لمونځ مختلف فيه نه دی، ځکه چي بالاجماع پر هغه قضاء راوړل واجب نه دي، همدارنګه کوچنيتوب (طفوليت) يو داسي امر دی چي تر بالغتوب پوري خامخا پاته کيږي. نو د بالغ لمونځ د هغه د لمانځه سره متحد نه دی، ځکه چي د فاسدولو په صورت کي پر بالغ قضاء واجبيږي. او پر نابالغ قضاء نه واجبيږي، د دې په خلاف مظنونه لمونځ دی، ځکه چي ظن (ګومان) يو عارضي شی دی، او معدوم (نيستي) ګڼل سوی دی، نو که نفل کونکی په مظنونه لمانځه والا پسي اقتداء وکړي نو د دواړو لمونځ متحد دی، په ځانګړي توګه د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز ځکه چي د فساد په صورت کي پر دواړو قضاء واجبيږي.

لنډه دا چي د بالغ او نابالغ لمونځ غيرمتحد دی، او د بالغ او ظان (ګومان کونکي) لمونځ متحد دی. په ځانګړي توګه د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز، نو د دې فرق په وجه اقتداء البالغ بالصبي د ظان پر اقتداء قياسول قياس مع الفارق دی. د دې په خلاف که يو نابالغ کوچنی په بل نابالغه پسي اقتداء وکړي نو اقتداء يې جائز ده، ځکه چي د دواړو لمونځونه متحد دي. ځکه چي پر يوه هم قضاء راوړل واجب نه دي، نو دا ګواکي د کمزوري بناء پر کمزوري سوه.

د صفونو د ترتيب بيان

وَيَصُفُّ الرِّجَالُ اول به خلک صف جوړوي ثُمَّ الصِّبْيَانُ بيا به کوچنيان (صف جوړوي) ثُمَّ النِّسَاءُ بيا به ښځي (صف جوړوي) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] ځکه د نبي ﷺ فرمان دی لِيَلِيَنِيْ مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهٰى په تلسو کي دي بالغ او عقلمن خلک ماته نژدې کيږي وَلِأَنَّ الْمُحَاذَاةَ مُفْسِدَةٌ او په دې وجه هم چي د ښځي (او نر) برابر والی (او نژدې والی) لمونځ فاسدوي فَيُؤَخَّرْنَ نو ځکه به ښځي شاته کيږي.

اللغات: ﴿يصف﴾ د نصرد باب مضارع صيغه ده: صف جوړول، ﴿صبيان﴾ کوچنيان، ﴿أولوا الأحلام﴾ د پوهي خاوندان، بالغه خلک، عالمان.

---

[1] أخرجه مسلم في كتاب الصلوٰة، باب تسوية الصفوف و اقامتها، حديث رقم:١٢٢.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د جماعت په لمانځه کې به امام تر ټولو مخکې وي، او تر امام شاته به اول د نارینه وو صف جوړیږي، که څه هم د هغوی صفونه ډېر سي، بیا به د کوچنیانو صف جوړیږي، بیا به د ښځیانو صف جوړیږي او په آخر کې به د ښځو صف جوړیږي، ځکه چې نبي ﷺ فرمایلي دي: لیلینی منکم...الخ، په دې حدیث سره استدلال په دې توګه دی چې په حدیث کې له الأحلام څخه بالغ او له النهی څخه عقلمن خلک مراد دي، ځکه چې أحلام جمع د حلم ده، معنیٰ یې ده: ما یراه النائم یعني خوب، لیکن زیاتره وخت د بالغتوب په معنیٰ استعمالیږي، نو ځکه به له دې څخه بالغ خلک مراد وي، او نُهیٰ جمع د نُهیة ده، معنیٰ یې ده: عقل او پوهې، او ښکاره ده چې عقل او بالغتوب په خلکو کې وي، نو په دې سره د خلکو د صف مخکې کېدل ثابت سو، او څرنګه چې په نارینه توب کې کوچنیان د خلکو کې تابع دي، نو ځکه به تر خلکو وروسته د کوچنیانو صف جوړیږي، ځکه چې تابع تر متبوع وروسته وي، تر دې وروسته به د نرښځیانو، او په آخر کې به د ښځو صف جوړیږي، ځکه چې د ښځو محاذات لمونځ فاسدوي، نو د لمانځه د حفاظت په سبب به ښځې شاته کیږي.

او د ښځو د شاته کېدلو بل دلیل د حضرت انس رضي الله عنه د أنا حضرت ملیکه رضي الله عنها هغه واقعه هم ده چې په هغه کې حضرت ملیکه رضي الله عنها د حضرت انس او د حضرت یتیم رضي الله عنهما شاته ولاړه وه، او نبي ﷺ لمونځ ورکوی، حال دا چې حضرت ملیکه یوازې وه (خو بیا هم شاته ولاړه وه).

د ښځو د محاذات مسئله

﴿وَإِنْ حَاذَتْهُ امْرَأَةٌ﴾ او که ښځه د یو سړي سره برابره سو (په لمانځه کې) ﴿وَهُمَا مُشْتَرِكَانِ فِي صَلَاةٍ وَاحِدَةٍ﴾ او حال دا چې دواړه په لمانځه کې شریک وه ﴿فَسَدَتْ صَلَاتُهُ﴾ نو د سړي لمونځ فاسدیږي ﴿إِنْ نَوَى الْإِمَامُ إِمَامَتَهَا﴾ په دې شرط چې امام د دې ښځې د امامت نیت کړی وي ﴿وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا تَفْسُدَ﴾ او قیاس دا دی چې د سړي لمونځ دې فاسد نه سي ﴿وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ﴾ همدغه د امام شافعي رحمه الله قول دی ﴿اعْتِبَارًا بِصَلَاتِهَا﴾ د ښځې پر لمانځه باندې په قیاسولو سره ﴿حَيْثُ لَا تَفْسُدُ﴾ ځکه چې د ښځې لمونځ نه فاسدیږي ﴿وَجْهُ الْإِسْتِحْسَانِ مَا رَوَيْنَاهُ﴾ د استحسان دلیل هغه حدیث دی کوم چې موږ روایت کړی ﴿وَأَنَّهُ مِنَ الْمَشَاهِيرِ﴾ او هغه حدیث له مشهوره حدیثونو څخه دی ﴿وَهُوَ الْمُخَاطَبُ بِهِ﴾ او نارینه (سړی) د هغه مخاطب دی ﴿دُونَهَا﴾ ښځه نه ده ﴿فَيَكُونُ هُوَ التَّارِكُ لِفَرْضِ الْمَقَامِ﴾ نو سړی به د فرض مقام (ځای) پرېښوونکی وي ﴿فَتَفْسُدُ صَلَاتُهُ دُونَ صَلَاتِهَا﴾ نو ځکه به د سړي لمونځ فاسدیږي نه د ښځې ﴿كَالْمَأْمُومِ إِذَا تَقَدَّمَ عَلَى الْإِمَامِ﴾ لکه متقدی چې کله تر امام مخکې سي (نو صرف د مقتدي لمونځ فاسدیږي).

اللغات: ﴿حَاذَتْ﴾ د مفاعلې د باب واحده مؤنثه ماضي صیغه ده: یو د بل سره سیده کېدل، برابرېدل. ﴿مَشَاهِيرُ﴾ جمع ده، واحد یې مَشْهُوْر: د حدیث یو قسم دی. ﴿مَأْمُوْم﴾ مقتدی (په لمانځه کې تر امام شاته درېدونکی).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که یو ځای په جماعت سره لمونځ شروع وي، او یوه ښځه راسي د یو نارینه لمونځ ګزاره پر برابر باندې ودریږي، او هم د دغه لمونځ نیت وکړي، همدارنګه امام هم د دې ښځې نیت وکړي، نو په دې

صورت کي زموږ په نيز د دې نارينه لمونځ فاسديږي. خو د قياس تقاضا دا ده چي د نارينه لمونځ دي فاسد نه وي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول هم دا دی.

د امام شافعي دليل: دليل قياس دی، يعني څرنګه چي په دې صورت کي د ښځي لمونځ نه فاسديږي. نو د قياس تقاضا دا ده چي د نارينه لمونځ دي هم فاسد نه سي. ځکه چي په محاذات(برابر والي) کي دواړه شريک دي. او بيا محاذات هم د ښځي له طرفه راغلی دی، نو کله چي دا محاذات د ښځي د لمانځه لپاره مفسد نه دی نو د نارينه د لمانځه لپاره په څرنګه مفسد وي؟

د استحسان دليل: هغه حديث دی کوم چي تر دې مخکي ذکر سو. يعني: أخروهن من حيث أخرهن الله. او په دې حديث سره دليل په دې توګه نيول کيږي، چي نبي ﷺ په أخروهن سره خلګو ته حطاب کړی دی او د ښځو شاته کولو حکم يې ورته کړی دي، نو د دې فرمان په وجه خلګو ته پکاري دي چي هغوی د دې خبري خيال وساتي چي که ښځي مسجد ته راسي نو شاته دي يې ودروي، يا دي يې بالکل جلا کړي. لکه په حرم شريف او نورو ځايو کي، د دې لپاره چي محاذات را نه سي. اوس که يوه ښځه د يو نارينه څنګ (برابر) ته راسي ودريږي نو مطلب يې دا دی چي دې سړي په أخروهن باندي عمل نه دی کړی، او خپل څنګ ته يې د ښځي په درولو سره خپل فرض مقام (تقدم من المرأة) پرېښوده، نو ځکه به صرف د ده لمونځ فاسديږي، د ښځي لمونځ به نه فاسديږي، لکه يو مقتدي چي په لمانځه کي د خپل امام څخه مخ ته سي نو د فرض مقام په پرېښوولو سره صرف د مقتدي لمونځ فاسديږي. او د امام پر لمانځه باندي هيڅ اثر نه لوېږي، همدارنګه په دې مسئلې کي هم صرف د نارينه لمونځ فاسديږي، د ښځي په لمانځه کي هيڅ خلل نه راځي.

فايده: صاحب د عنايي رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي د ښځي محاذات په دې شرط سره لمونځ فاسدوي چي د ښځي پښه د نارينه د يو اندام سره برابره سي، او هغه ښځه مشتهاة(يعني د شهوت قابله) وي، او امام د هغې د امامت نيت کړی، او مطلق لمونځ وي يعني د جنازې او نورو لمونځ نه وي، نارينه او ښځه په تحريمه او اداء کي مشترک وي، او د دواړو په مينځ کي يو حائل (او پرده) نه وي. (عنايه ج:۱، ص:۳۷۱)، دا تفصيل به په کتاب کي هم راسي.

که امام د محاذي ښځي د امامت نيت نه وکړي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ لَمْ يَنْوِ إِمَامَتَهَا او که امام د ښځي د امامت نيت نه وي کړی لَمْ تَضُرَّهُ نو د ښځي محاذات نارينه ته هيڅ تاوان نه رسوي وَلَا تَجُوزُ صَلَاتُهَا او د ښځي لمونځ به جائز نه وي لِأَنَّ الِاشْتِرَاكَ لَا يَثْبُتُ دُونَهَا عِنْدَنَا ځکه چي زموږ په نيز د امامت له نيت څخه بغير اشتراک نه ثابتيږي خِلَافًا لِزُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی أَلَا تَرَى أَنَّهُ يَلْزَمُهُ التَّرْتِيبُ فِي الْمَقَامِ آيا ته نه ګوري چي د امام لپاره د مقام(د درېدلو د ځای) ترتيب ضروري دی فَيَتَوَقَّفُ عَلَى الْتِزَامِهِ نو دا خبره به د امام پر لازمولو موقوفه وي كَالِاقْتِدَاءِ لکه اقتداء(چي هم دا ډول ده) إِنَّمَا يُشْتَرَطُ نِيَّةُ الْإِمَامَةِ او د امامت نيت هغه وخت شرط دی إِذَا ائْتَمَّتْ مُحَاذِيَةً چي کله ښځي د محاذات(برابروالي) په حالت کي نيت کړی وي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بِجَنْبِهَا رَجُلٌ او که د ښځي پر څنګ يو سړی نه وي فَفِيهِ رِوَايَتَانِ نو په دې صورت کي دوه روايتونه دي وَالْفَرْقُ عَلَى إِحْدَاهُمَا او له دواړو څخه په يوه کي فرق دا دی أَنَّ الْفَسَادَ فِي الْأَوَّلِ لَازِمٌ چي په اول(يعني د محاذات په) صورت

کي د لمانځه فاسدېدل لازمي (يقيني) دي وَفِي الثَّانِي مُحْتَمَلٌ او په دويم صورت (يعني د ښاته دربدلو په صورت) کي د لمانځه د فاسدېدلو احتمال دی.

اللغات: ﴿اشْتَرَكَ﴾ د افتعال د باب واحده مؤنثه ماضي صيغه ده: اقتداء کول، په جماعت کي شريکېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د ښځي محاذات په هغه وخت کي لمونځ فاسدوي چي امام د دې ښځي نيت کړی وي، لېکن که امام د دې ښځي نيت نه وي کړی، نو په دې صورت کي د دې ښځي محاذات د سړي پر لمانځه هيڅ اغېزه نه کوي، او په خپله د دې ښځي لمونځ فاسدېږي، ځکه چي کله امام ګرسره د دې د امامت نيت کړی نه وي، نو نه دا د سړي سره شريکه ده او نه د امام سره، نو د سړي سره د اشتراک نه کېدلو په وجه د سړي لمونځ نه فاسدېږي، او د امام سره د اشتراک نه کېدلو په وجه د ښځي لمونځ نه صحيح کېږي.

لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي د امام له نيت څخه بغير هم د ښځي په محاذات سره د سړي لمونځ فاسدېږي، ځکه چي د سړي لمونځ په هغه وخت کي هم جائز دی چي امام يې د امامت نه وي کړی، نو همدارنګه به د امام له نيت څخه بغير د ښځي لمونځ هم صحيح وي، ګواکي امام زفر رَحِمَهُ الله دلته هم د مخکي په څېر له قياس څخه کار اخيستی دی. او د ښځي اقتداء يې د سړي پر اقتداء باندي قياس کړې ده.

لېکن زموږ په نېز نيت زيات ضروري دی، هغه په دې توګه چي د نبي ﷺ د فرمان أخروهن ... الخ په وجه سره پر امام باندي لازم دي چي هغه د لمانځه د صفونو خيال وساتي، او هر سړی پر خپل ځای باندي ودروي، او کوم شی چي د امام پر لازم والي باندي موقوف وي نو ښکاره ده چي د هغه شي لازموالي به د امام له طرفه کېږي، که يې امام لازم کړي نو لازم به وي، کنې نه به وي، لکه پر مقتدي چي د اقتداء نيت کول لازم دي، نو کله چي مقتدي د امام د اقتداء نيت وکړي، نو په دې نيت سره هغه خپل لمونځ د امام په ضمانت کي ورکوي، يعني د اقتداء په نيت سره به د ده د لمونځ فساد او صحت د امام د لمانځه پر فساد او صحت باندي موقوف وي، او دا حکم هغه وخت جاري کېدای سي چي کله مقتدي پر ځان باندي اقتداء لازمه کړي، همدارنګه د امام لپاره دا هم ضروري ده چي هغه د ښځو د امامت نيت وکړي، د دې لپاره چي د ښځو د لمانځه صحت او فساد د امام د لمانځه پر صحت او فساد باندي موقوف سي، او ښکاره ده چي دا شی په نيت سره حاصلېږي، نو ځکه موږ وايو چي که امام د يو ښځي د امامت نيت کړی وي نو بيا به د دې په لمانځه کي شريکېدل صحيح وي، کنې نه به وي.

إنما يشترط الخ د دې حاصل دا دی چي د امام لپاره د امامت نيت کول په هغه وخت کي شرط او معتبر دي چي کله ښځه د يو سړي پر څنګ او برابره سي او د امام د قتداء نيت وکړي، لېکن که ښځه د امام سره محاذي وي نو په نيت کولو سره د امام لمونځ فاسدېږي، او که د يو سړي سره برابره سي نو د امام په نيت کولو سره د هغه سړي لمونځ فاسدېږي. ځکه چي په نيت کولو سره به د دې په لمانځه کي شريکېدل ثابت سي، او همدغه شی خطرناک دی. لېکن که د ښځي پر برابر سړی نه وي نو په دې صورت کي د نيت په اړه دوه روايتونه دي:

(۱) اول روايت دا دی چي په دې صورت کي هم د امام لپاره د دې ښځي نيت کول شرط دي، ځکه که څه هم اوس د ښځي له طرفه محاذات نسته، خو کېدای سي چي په وروسته کي به محاذات ثابت سي، نو د دې احتمال په وجه نيت شرط دی.

(۲) دويم روايت دا دی چي کله د ښځي پر برابر سړی نه وي، نو احتمال يې هم نشته چي وروسته به سړی راسي، نو ځکه به د امام لپاره د هغې نيت شرط نه وي.
صاحب د هدايې فرمايي چي له دواړو راويتونو څخه په يوه کي (يعني د نيت د نه شرط کېدلو والا په روايت کي) او په اول صورت کي يعني چي کله محاذات وي فرق دا دی چي د محاذات په صورت کي فساد لازمي او يقيني دی، نو ځکه نيت شرط او ضروري دی، د دې لپاره چي د امام په لازمولو سره فساد واقع سي، او فقط محاذات مفسد نه وګرځول سي، او په دويم صورت چي کله صرف د محاذات احتمال وي، نو نيت ضروري نه دی، ځکه چي د احتمال په وجه سره هيڅ شی نه شرط کيږي. (والله اعلم)

د محاذات د شرطونو بيان

وَمِنْ شَرَائِطِ الْمُحَاذَاةِ او د محاذات له شرطونو څخه دا دي **أَنْ تَكُوْنَ الصَّلَاةُ مُشْتَرَكَةً** چي د ښځي او نر لمونځ به مشترک وي **وَأَنْ تَكُوْنَ مُطْلَقَةً** او دا چي لمونځ به مطلق وي (يعني د رکوع او سجدې والا لمونځ به وي) **وَأَنْ تَكُوْنَ الْمَرْأَةُ مِنْ أَهْلِ الشَّهْوَةِ** او دا چي ښځه به د شهوت قابله وي **وَأَنْ لَا يَكُوْنَ بَيْنَهُمَا حَائِلٌ** او (بل) دا چي د نر او ښځي په مينځ کي به يوه پرده (او منع کونکی شی) نه وي **لِأَنَّهَا عُرِفَتْ مُفْسِدَةً بِالنَّصِّ بِخِلَافِ الْقِيَاسِ** ځکه چي د ښځي په محاذات سره د لمانځه فاسدېدل د نص په ذريعه سره د قياس خلاف ثابت دي **فَيُرَاعَىٰ جَمِيْعُ مَا وَرَدَ بِهِ النَّصُّ** نو ځکه به د هغو ټولو شرطونو خيال ساتل کيږي چي د هغو په باره کي نص (حديث) وارد سوی دی.

اللغات: ﴿أَهْلِ الشَّهْوَةِ﴾ هغه ښځه چي د شهوت قابله وي (يعني شهوت لري)، ﴿حائل﴾ مانع، خنډ، پرده، بندونکی.
تشريح: په دې عبارت کي د هغه محاذات شرطونه بيانيږي چي لمونځ فاسدوي، دا شرطونه خو موږ مخکي د عنايې په حواله سره (په مختصره توګه) بيان کړل، لېکن دلته په تفصيل سره ذکر کيږي:
(۱) اول شرط دا دی چي د سړي او ښځي دواړو لمونځ به مشترک وي، يعني د دواړو په لمانځه کي به د تحريمې او اداء په اعتبار سره اتحاد (يو والی) او اشتراک وي، د تحريمې په اعتبار سره د اتحاد مطلب دا دی چي دواړو به د يوه امام پر تحريمه د خپلې تحريمې بناء کړې وي، يا په دوی دواړو کي به يو د بل پر تحريمه بناء کړې وي په دې توګه چي په ښځه او نر کي يو امام او بل مقتدي وي، او د اداء په اعتبار سره د اشتراک مطلب دا دی چي هغه لمونځ کوم چي دوی يې اداء کوي په هغه کي به حقيقتاً يا حکماً يو څوک د دوی امام وي، د حقيقتاً امام مطلب دا دی چي دواړه مسبوق وي او له شروع څخه په لمانځه کي د امام سره شريک وي، او د حکماً امام مطلب دا دی چي مثلاً يو سړي او يوې ښځي په څلور رکعتيز لمانځه کي په دريم رکعت کي د يو امام اقتداء کړې وي، او د قتداء په وخت کي د دوی په مينځ کي محاذات نه وي، لېکن دواړو ته حدث لاحق سي (يعني دواړه بې اودسه سي) خو کله چي اودس وکړي، واپس راسي، نو امام خپل لمونځ پوره کړی وي، نو دوی (بيرته) لمونځ شروع کړي (يعني دواړه لاحقين سي)، او د لاحق کېدلو په وخت کي په دواړو کي محاذات راسي (يعني مخکي خو محاذات نه وي لېکن کله چي اودس وکړي دوباره د لمانځه لپاره راسي نو د دوی په مينځ کي محاذات واقع سي)، نو اوس حکماً د امام په اقتداء کي د اداء په اعتبار سره شريک سول، نو په دې صورت کي هم د دوی لمونځ فاسديږي (فتح القدير). (۲) دويم شرط دا دی چي دا لمونځ به مطلق وي، يعني د رکوع او سجدې والا لمونځ به وي، د جنازې او داسي نورو لمونځونه به نه وي. (۳) دريم شرط دا دی چي ښځه به د شهوت قابله وي (يعني شهوت به لري) هغه

که دا ښځه مینځه وي یا آزاده وي، یا خپله ښځه وي. یا مور یا خور یا داسې نوري محرماتې وي. (۴) څلورم شرط دا دی چې د سړي او ښځې په مینځ کې به یوه پرده او حائل نه وي، بلکې محاذات به بغیر له حائل څخه وي.
نو که دا څلور سره شرطونه پیدا سول، د ښځې محاذات به لمونځ فاسدوي. کنې! نه به یې فاسدوي، ځکه چې محاذات د لمانځه لپاره مفسد کېدل د أخروهن من حیث أخرهن الله له نص (حدیث) څخه خلاف القیاس ثابت دی. (یعنې په محاذات سره د لمانځه فاسدېدل د قیاس خلاف دي، خو څرنګه چې په حدیث سره ثابت دي نو موږ به یې منو او پوره خیال به یې ساتو)، نو که په دې کې یو شرط هم نیستې سو، نو محاذات به مفسد نه وي.

د ښځې لپاره د جماعت په لمانځه کې د شرکت (ګډون) حکم

وَيُكْرَهُ لَهُنَّ حُضُورُ الْجَمَاعَاتِ او د ښځو لپاره جماعت ته حاضرېدل مکروه دي يَعْنِيْ الشَّوَابَّ مِنْهُنَّ یعنې د ځوانو ښځو لپاره لِمَا فِيْهِ مِنْ خَوْفِ الْفِتْنَةِ ځکه په دې کې د فتنې اندېښنه سته.

اللغات: ﴿شَوَابّ﴾ جمع ده، واحد یې: شَابَّةٌ دی: ځوانه ښځه، پېغله.

تشریح: د پېغلو ښځو لپاره په جماعت کې حاضرېدل مکروه دي. او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې روا دي.

د امام شافعي دلیل: د نبي ﷺ دا قول دی: لا تمنعوا أماء الله مساجد الله. (یعنې د الله مینځې د الله له مسجدونو څخه مه بندوئ). او په بل روایت کې راغلي دي: إذا استأذنت أحدكم امرأته إلى المسجد فلا يمنعها. (یعنې که په تاسو کې له یوه څخه خپله ښځه مسجد ته د تللو اجازت وغواړي، نو هغه دې دا نه منع کوي).

زموږ دلیل: دا دی چې د پېغلو ښځو په حاضرېدلو کې د فتنې ېره سته، نو ځکه به هغوی له مسجد څخه منع کېږي. **دویم دلیل:** دا دی چې کله حضرت عمر رضي الله عنه ښځې له مسجدونو څخه بندي کړې، نو ښځو حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته شکایت وکړی، حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمایل: که نبي ﷺ ته د اوسني حالت خبر وای، او دا ستونزې ورته معلومې وای، چې هغه نن سبا حضرت عمر رضي الله عنه ته معلومې دي، نو نبي ﷺ به (هم) بالکل اجازت نه ورکولای.

زموږ د مذهب تائید په هغه حدیث سره هم کېږي کوم چې عبد البر په خپل سند سره له حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روایت کړی دی: أيها الناس انهوا نساءكم عن لبس الزينة والتبختر في المساجد فإن بني اسرائيل لم يلعنوا حتى لبست نساءهم الزينة وتبخترن في المساجد. (اې خلکو! خپلې ښځې په مسجدونو کې د ښایستو او د فخرجنو کالو (جامو) له اغوستلو څخه منع کړئ. ځکه چې پر بني اسرائیلو هغه وخت لعنت وسو چې د هغو ښځو په مسجدونو کې د ښایست، فخر او غرور کالي واغوستل). خو څرنګه چې زموږ په دې اوسني زمانه کې د فاسقانو غلبه زیاته ده، نو ځکه مطلقاً ښځې منع دي. هغه که یې ښایست لو سینګار کړی وي، که نه وي.

د سپین سرو ښځو لپاره په جماعت کې د ګډون حکم (او د فقهاؤ قولونه)

وَلَا بَأْسَ لِلْعَجُوْزِ او د سپین سري ښځې لپاره هیڅ حرج (او پروا) نسته أَنْ تَخْرُجَ فِي الْفَجْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ چې د سهار، ماښام او د ماخوستن د لمونځونو لپاره را ووځي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ دا حکم د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نیز دی وَقَالَا●: يَخْرُجْنَ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې سپین سرې (بوډۍ) ښځه دې په ټولو لمونځونو کې راوځي لِأَنَّهُ لَا فِتْنَةَ لِقِلَّةِ الرَّغْبَةِ إِلَيْهَا ځکه (په سپین سرې ښځه کې د خلکو) د رغبت د کمښت په

● القول الراجح: هو عدم الجواز مطلقاً، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٤١٨. [القول الراجح، ج:١، ص:٩١]

وجه هيڅ فتنه نسته فَلَا يُكْرَهُ كَمَا فِي الْعِيْدِ نو ځکه به د سپين سرو ښځو راوتل مکرو نه وي لکه په اختر کي وَلَهُ: أَنَّ فَرْطَ الشَّبَقِ حَامِلٌ او د امام صاحب دليل دا دی: چي د شهوت زياتوالی (سختوالی) د جماع باعث (لامل) دی فَتَقَعُ الْفِتْنَةُ نو ځکه به فتنه واقع سي غَيْرَ أَنَّ الْفُسَّاقَ اِنْتِشَارُهُمْ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْجُمُعَةِ خو فاسقان (بد خلک) په ماپښين، مازيګر او جمعه کي خواره وي (نو په دې وختونو کي د فتني زيات امکان سته) أَمَّا فِي الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ فَهُمْ نَائِمُوْنَ خو په سهار او ماخوستن کي هغوی بيده وي وَفِي الْمَغْرِبِ بِالطَّعَامِ مَشْغُوْلُوْنَ او د ماښام په وخت کي په خوراک بوخت وي (نو په دې وختونو کي د فتني امکان کم وي) وَالْجَبَّانَةُ مُتَّسِعَةٌ او عيدګاه پراخه وي فَيُمْكِنُهَا الِاعْتِزَالُ عَنِ الرِّجَالِ نو (هلته) د ښځو لپاره له خلکو څخه جلا کېدل ممکنه دي فَلَا يُكْرَهُ نو ځکه به (په اختر کي د دوی راوتل) مکروه نه وي.

اللغات: ﴿عجوز﴾ بوډا، بوډۍ، د ډېر عمر انسان (د ښځي او نر دواړو لپاره استعماليږي). ﴿فرط﴾ زياتوالی، ډېرښت. ﴿شبق﴾ شهوت، جنسي غوښتنه، د سمع له باب څخه دی. شَبِقَ يَشْبَقُ: شهوت والا کېدل. ﴿جبانة﴾ صحرا، بيابان، خلاص ځای، عيدګاه (هغه ځای چي د اخترونو لمونځونه پکي کيږي).

تشريح: امام صاحب رَحِمَهُ الله سپين سري ښځي د ماپښين او مازيګر په وخت کي له راوتلو څخه منع کړي دي. لېکن د سهار، ماخوستن او ماښام په وخت کي يې اجازت ورکړی دی، او صاحبينو رَحِمَهُ الله په ټولو لمونځونو کي اجازت ورکړی دی.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د سپين سرو ښځو وطرف ته طبعي ميلان (رغبت) کم وي. نو ځکه د هغوی را وتل هم مکروه نه دي، لکه په اختر کي چي د هغوی را وتل بالاتفاق جائز دي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د شهوت ډېروالی او سختوالی د جماع سبب دی. نو ځکه به د سپين سرو ښځو په را وتلو کي هم فتنه وي، هو! دومره خبره ده چي فاسقان خلک د ماپښين، مازيګر او د جمعې په وختونو کي ګرځي راګرځي، نو ځکه دي په دې وختونو کي سپين سري ښځي نه را وځي. پاته سو د سهار او ماخوستن وخت. نو په دې وختونو کي دا غلط خلک بيده وي، او د ماښام په وخت کي په خوراک مشغوله وي؛ معلومه سوه چي په دې دريو وختونو کي له فاسقانو څخه امان سته، نو ځکه به په دې دريو وختونو کي د لمانځه لپاره د سپين سرو ښځو را وتل جائز وي.

جواب: صاحبِ د هدايي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د صاحبينو قياس صحيح نه دی، ځکه چي د اختر لمونځ عموماً په خلاص ځای او عيدګاه کي کيږي، او عيدګاه پراخه وي، نو په پراخه ميدان کي دا ممکنه ده چي سپين سري ښځي دي له نرانو څخه يو طرف ته او جلا وي، نو په دې وجه په اختر کي د دوی راوتل مکرونه دي.

فوائد: څرنګه چي په اوسني وخت کي فساد عام دی، نو ځکه په ټولو لمونځونو کي د سپين سرو ښځو را وتل مکروه دي. (عنايه)

راجح قول: په پورتنی مسئله کي راجح قول دا آخري قول دی، يعني مطلقاً د ښځو راوتل جائز نه دي، قال العلامة البابرتي رَحِمَهُ الله: والفتوى اليوم على كراهة حضورهن في الصلوات كلها لظهور الفساد. (العنايه على هامش الفتح القدير ج:۱، ص:۳۱۸). [القول الراجح ج:۱، ص:۹۱]

د پاکې ښځې لپاره د مستحاضې ښځې د اقتداء حکم

قَالَ: وَلَا يُصَلِّي الطَّاهِرُ فرمايي: چې پاک سړي دې لمونځ نه کوي خَلْفَ مَنْ هُوَ فِيْ مَعْنَى الْمُسْتَحَاضَةِ په هغه چا پسې چې د مستحاضې په معنیٰ سره وي وَلَا الطَّاهِرَةُ خَلْفَ الْمُسْتَحَاضَةِ او نه دې پاکه ښځه په مستحاضې ښځې پسې لمونځ کوي لِأَنَّ الصَّحِيْحَ أَقْوٰى حَالًا مِنَ الْمَعْذُوْرِ ځکه چې صحيح انسان تر معذوره انسان د حال په اعتبار سره زيات قوي وي وَالشَّيْءُ لَا يَتَضَمَّنُ مَا هُوَ فَوْقَهُ او يو شی د هغه شي لپاره ضامن نه سي کېدلای کوم چې تر هغه لوړ وي وَالْإِمَامُ ضَامِنٌ او امام ضامن وي بِمَعْنٰى تَضَمُّنِ صَلَاتِهِ صَلَاةَ الْمُقْتَدِيْ په دې معنیٰ چې د ده لمونځ د مقتدي د لمانځه ضامن دی.

اللغات: ﴿ضَامِن﴾ ذمه وار، ضمانت کونکی، کفيل، ﴿أَقْوٰى﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات زوروړ، د ډېر قوت خاوند.

تشريح: مستحاضه او کوم څوک چې د مستحاضه په حکم کې هغه ته د فقهاؤ په اصطلاح کې معذور ويل کېږي.

صورت د مسئلې: دا دی چې هيڅ يو جوړ روغ او پاک سړی دې په معذوره سړي پسې لمونځ نه کوي، او نه دې هيڅ يوه روغه او پاکه ښځه په معذورې او مستحاضې ښځې پسې لمونځ کوي، ځکه روغ او پاک سړی د معذوره او مستحاضه په نسبت زيات قوي وي، او د لمانځه په باره کې حکم دا دی چې د امام لمونځ د مقتدي د لمانځه ضامن دی، ځکه چې د مقتدي لمونځ د صحت او فساد په اعتبار د امام پر لمانځه موقوف وي، نو په دې حواله سره په رُتبه کې د مقتدي لمونځ د امام د لمانځه په مقابله کې کم وي، او قاعده دا ده چې يو شی د بل شي ضامن هغه وخت جوړېدای سي چې دا بل شی تر هغه شي لاندې وي، لېکن د هغه شي ضامن نه سي جوړېدلای چې تر هغه لوړ وي، خو که په ذکر سوي صورت کې د روغ انسان لپاره د معذوره انسان د اقتداء اجازت وسي، نو ښکاره ده چې ضعيفه به د قوي لپاره ضامن جوړ سي کوم چې صحيح نه دي، نو ځکه د غير معذور لپاره د معذور اقتدا هم صحيح نه ده.

د قاري لپاره په امي (نالوستي) پسې او د پټ سړي لپاره په لڅ سړي پسې د اقتداء حکم

وَلَا يُصَلِّي الْقَارِئُ خَلْفَ الْأُمِّيِّ او لمونځ به نه کوي قاري سړی په امي سړي (نالوستي) پسې وَلَا الْمُكْتَسِيْ خَلْفَ الْعَارِيْ او نه به (لمونځ کوي) جامې اغوستونکی په لڅ پسې لِقُوَّةِ حَالِهِمَا ځکه چې د قاري او جامې اغوستونکي حال قوي دی (په نسبت د امي او لڅ ته).

اللغات: ﴿أُمِّيّ﴾ نا لوستی، بې تعليمه، نا خبره، ﴿مُكْتَسِيْ﴾ هغه چې جامې يې اغوستي وي (پټ)، ﴿عَارِيْ﴾ لڅ، برېند.

تشريح: مسئله: دا ده چې د قاري (او عالم) لپاره د امي (او نا لوستي) اقتداء کول او د پټ (هغه چې کالي يې اغوستي وي) لپاره د لڅ (برېند) اقتداء کول صحيح نه دي، ځکه چې د قاري او کالي اغوستونکي حالت د امي او لڅ د حالت په پرتله کې زيات قوي وي، نو اوس که د دوی د اقتداء اجازت ورکول سي، نو ښکاره ده چې ضعيف به د قوي لپاره ضامن جوړ سي، او پر ضعيف به د قوي بناء راسي، او له دې څخه يو هم صحيح نه دي.

آیا اودس والا په تیمم والا پسې لمونځ کولای سي؟

وَيَجُوزُ أَنْ يَؤُمَّ الْمُتَيَمِّمُ الْمُتَوَضِّئِيْنَ او تیمّم کونکي لره د اودس کونکو امامت جائز دی وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او دا حکم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دی وَقَالَ مُحَمَّد رَحِمَهُ اللهُ ●: لَا يَجُوْزُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي جائز نه دی لِأَنَّهٗ طَهَارَةٌ ضَرُوْرِيَّةٌ ځکه چي تیمّم د مجبورۍ طهارت دی وَالطَّهَارَةُ بِالْمَاءِ أَصْلِيَّةٌ او د اوبو طهارت اصلي طهارت دی وَلَهُمَا أَنَّهٗ طَهَارَةٌ مُطْلَقَةٌ د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي تیمّم مطلق طهارت دی وَلِهٰذَا لَا يَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ الْحَاجَةِ همدغه وجه ده چي د ضرورت مطابق نه متعین کیږي.

اللغات: ﴿الْمُتَيَمِّم﴾ هغه چي تیمّم یې کړی وي، (تیمّم والا) ﴿الْمُتَوَضِّئ﴾ هغه چي اودس یې کړی وي، (اودس والا).

تشریح: په دې باره کي اختلاف دی چي اودس کونکی د تیمّم والا اقتداء کولای سي، که نه؟ شیخین رَحِمَهُمَا الله دا جائز ګرځوي، او امام محمد رَحِمَهُ الله یې ناجائز ګرځوي.

د امام محمد دلیل: دا دی چي تیمّم ضروري طهارت دی یعني د اوبو د نشتون په وخت کي یا یې پر استعمال د قدرت نه لرلو په وخت کي د مجبورۍ په وجه تیمّم کیږي، نو ځکه تیمّم کونکی د معذور په درجه کي سو، او په اوبو سره چي کوم اودس دی هغه اصلي طهارت او قوي دی، نو ځکه معذوره د اصلي طهارت والا اقتداء نه سي کولای.

د شیخینو دلیل: دا دی چي تیمّم مطلق طهارت دی، یعني غیر مؤقت دی، او د مستحاضې ښځي د طهارت په ډول مؤقت نه دی، همدغه وجه ده چي تیمّم په حاجت او ضرورت سره مقدر نه دی، (لکه څرنګه چي اودس مقدر دی)، بلکي که تر لسو کالو پوري هم اوبه پیدا نه سي، یا یې پر استعمال قدرت را نه سي نو تیمّم به جائز وي، نو کله چي تیمّم طهارت مطلقه سو، نو د تیمّم کونکي او اودس والا حال سره برابر سو، او چي کله د دواړو حال برابر سو، نو یو د بل امامت کولای سي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دی، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله بعد بسط المسئلة و دل على صحة هذا الاعتبار حديث عمر بن العاص انه بعثه النبي ﷺ اميرا على سرية فاجنب وصلّى باصحابه بالتيمم لخوف البرد وعلم النبي ﷺ فلم يأمرهم بالاعادة. (فتح القدير ج:۱، ص:۳۲۰). [القول الراجح ج:۱، ص:۹۲]

پر موزو د مسح کونکی او د پښو د پرېولونکی حکم

وَيَؤُمُّ الْمَاسِحُ الْغَاسِلِيْنَ او (پر موزو) مسح کوونکي والا د (پښو) پرېولونکو خلکو امامت کولای سي لِأَنَّ الْخُفَّ مَانِعٌ سِرَايَةَ الْحَدَثِ إِلَى الْقَدَمِ ځکه چي موزه حدث (بې اودسي) منع کوي (له دې څخه) چي پښې ته سرایت وکړي وَمَا حَلَّ بِالْخُفِّ يُزِيْلُهُ الْمَسْحُ او کوم حدث چي په موزه کي سرایت کړی وي هغه مسح لیري کوي بِخِلَافِ الْمُسْتَحَاضَةِ په خلاف د مستحاضې ښځي لِأَنَّ الْحَدَثَ لَمْ يُعْتَبَرْ شَرْعًا ځکه چي په هغه وخت کي د حدث زائلېدل شرعاً معتبر نه دي مَعَ قِيَامِهٖ حَقِيْقَةً کله چي په حقیقت کي حدث موجود وي.

● القول الراجح: قول الشيخين، كذا في فتح القدير ج:۱، ص:۳۲۰. [القول الراجح، ج:۱، ص:۹۲]

اللغات: ﴿ماسح﴾ هغه چې پر موزو يې مسح کړې وي (مسح کونکې). ﴿خف﴾ موزه. ﴿سرايت﴾ رسېدل. حلول کول. ننوتل. ﴿حدث﴾ بې اودسي، ناپاکي. ﴿حل﴾ شوه کېدل. دننه کېدل. پراو کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې پر موزو مسح کونکی د پښو د پرېولونکي امامت کولای سي. **دليل**: دا دی چې موزو والا خپلې پښې پرېولې دي او بيا يې موزې اغوستي دي او موزه داسې ده چې حدث منع کوي له دې څخه چې په موزه کې سرايت (حلول) وکړي. (يعنې حدث له دې څخه منع کوي چې موزو ته وردننه سي). نو دا سړی د پښو پرېولونکی پاته سو، پاته سوه دا خبره چې حدث په موزو کې حلول وکړي، نو د دې جواب دا دی چې کوم څه چې په موزو کې حلول کړی دی هغه مسح ليرې کوي. نو ځکه به د موزې والا طهارت د پرېولونکي په ډول پاته وي.

د دې په خلاف مستحاضه ښځه ده يعنې په مستحاضې پسې د معذور والي په وجه اقتداء جائز نه ده. د دې وجه دا ده چې د معذور حدث په حقيقت کې قائم دی. نو د حدث په موجود والي سره شريعت هغه معذور ګرځولی دی. داسې نه ده چې شريعت د هغه حدث زائل ګرځولی وي، نو څرنګه چې په معذور کې حدث په حقيقت کې قائم دی، نو ځکه به د غير معذور لپاره د معذور اقتداء کول جائز نه وي.

د ولاړ لپاره په ناست پسې د اقتداء حکم

> وَيُصَلِّي الْقَائِمُ خَلْفَ الْقَاعِدِ• او ولاړ سړی په ناست سړي پسې لمونځ کولای سي (د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز) وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يَجُوزُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې داسې جائز نه ده وَهُوَ الْقِيَاسُ او دا قياس دی (يعنې د قياس تقاضا همدغه ده) لِقُوَّةِ حَالِ الْقَائِمِ ځکه چې د ولاړ سړي حالت مضبوط دی وَنَحْنُ تَرَكْنَاهُ بِالنَّصِّ او مونږ د حديث په وجه دا خبره پرېښوولې وَهُوَ مَا رُوِيَ او هغه حديث دغه روايت دی أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ صَلَّى آخِرَ صَلَاتِهِ قَاعِدًا وَالْقَوْمُ خَلْفَهُ قِيَامٌ چې نبي ﷺ آخري لمونځ په ناسته وکړی او ټوله خلک په نبي ﷺ پسې ولاړ وه.

الغات: ﴿قاعد﴾ ناست. ﴿قيام﴾ جمع د قائم ده: ولاړ.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز ناست سړی د ولاړو خلکو امامت کولای سي، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز ناست سړی د ولاړو امامت نه سي کولای، همدغه د قياس تقاضا ده. ځکه چې د ولاړ سړي حالت د ناست د حالت په پرتله کې ډېر قوي دی، او د قوي لپاره د ضعيف اقتداء کول صحيح نه دي، ځکه چې په دې صورت کې د قوي بناء پر ضعيف راځي او دا صحيح نه دي.

د شيخينو دليل: دا دی چې د امام محمد رَحِمَهُ الله قول خو د قياس او عقل له رويه ښه ښکاري، لېکن موږ څه وکړو، زموږ سره مجبوري دا ده چې دلته يو مهم (او مشهور) حديث سته. او هغه حديث د ولاړ لپاره په ناست پسې لمونځ جائز ګرځوي، د هغه تفصيل دا دی چې کله په آخر د عمر کې د نبي ﷺ مرض زيات سو، نو نبي ﷺ ابو بکر ﷺ ته د لمانځه ورکولو حکم وکړی، او کله چې صديق اکبر ﷺ د لمانځه ورکولو لپاره ولاړ سو، نو د نبي ﷺ حالت لږ غوندي ښه سو، او د حضرت علي ﷺ او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په مرسته سره د منبر وطرف ته راووتی، ابو بکر ﷺ چې د نبي ﷺ ګنبهاری واورېدی نو شاته سو، او نبي ﷺ پر مسئله کښېنستی خلکو ته يې لمونځ ورکړی، او ټولو صحابه وو د

• القول الراجح: قول الشيخين، قال العلامة قاضي خان رَحِمَهُ الله: وصح اقتداء القائم بالقاعد الذي يركع ويسجد ج: ۱، ص:۳۴، وكذا في الدر المختار ج:۱، ص:۴۳۵. [القول الراجح، ج:۱، ص:۵۱۸]

نبي ﷺ په اقتداء کې لمونځ وکړی، دا واقعه په دې سلسله کې د صريح نص حيثيت لري. او په داکه وايي چې د ولاړ سړي لمونځ په ناست پسې جائز دی، او د نص په مقابله کې به عقل او قياس پرېښوول کيږي.

په اشاره سره د لمونځ کونکي د اقتداء حکم

وَيُصَلِّي الْمُومِئُ خَلْفَ مِثْلِهِ او په اشاره سره لمونځ کونکی د ځان په شان په بل اشاره کونکي پسې لمونځ کولای سي لِاسْتِوَائِهِمَا فِي الْحَالِ ځکه چې دوی دواړه په حالت کې برابر دي إِلَّا أَنْ يُومِئَ الْمُؤْتَمُّ قَاعِدًا وَالْإِمَامُ مُضْطَجِعًا مګر دا چې مقتدی په ناسته اشاره کوي او امام په پروته اشاره کوي (نو اقتداء جائز نه ده) لِأَنَّ الْقُعُودَ مُعْتَبَرٌ ځکه چې ناسته معتبره ده فَيَثْبُتُ بِهِ الْقُوَّةُ نو په دې سره قوت ثابتيږي.

اللغات: ﴿المومئ﴾ اشاره کونکی، ﴿المضطجع﴾ تکيه کونکی، پروت، د شا پر تخته پروت.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې په اشاره سره لمونځ کونکی د خپل ځان په څېر په بل اشاره کونکي پسې لمونځ کولای سي، ځکه چې دا دواړه په حالت کې سره برابر او مساوي دي، نو په دوی کې د بناء الضعيف على القوي يا د تضمين الضعيف القوي خرابي نه راځي. او څرنګه چې همدغه د ناجائز والي لامل او علت دی، نو کله چې دا علت معلوم او نيستي سو، نو د لمانځه جواز هم ثابتيږي.

لېکن که مقتدي په ناستي په اشاره سره لمونځ کوی، او امام په پروتي په اشاره سره لمونځ کوی، نو په دې صورت کې اقتداء صحيح نه ده، ځکه چې ناسته يو معتبر رکن دی، او د مقتدي د ناستي حالت د امام د پروتي له حالت څخه غوره او قوي دی، نو ځکه د قوي والي په وجه سره په دې صورت کې هم اقتداء صحيح نه دي، همدا وجه ده چې هغه سړی په پروتي نفل نه سي کولای کوم چې پر ناسته قدرت لري.

د رکوع او سجده کونکي لپاره د اشاره کونکي د اقتداء حکم

وَلَا يُصَلِّي الَّذِي يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ خَلْفَ الْمُومِئِ او رکوع او سجدې والا دي په اشاره کونکي پسې لمونځ نه کوي لِأَنَّ حَالَ الْمُقْتَدِي أَقْوَى ځکه چې د مقتدي حال (له امام څخه) ډېر قوي دی وَفِيهِ خِلَافُ زُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ او په دې کې د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کوم سړی په رکوع او سجده سره پر لمانځه کولو قدرت لري، د هغه لپاره د اشاره کونکي په اقتداء کې لمونځ صحيح نه دی، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله وايي چې د رکوع او سجدې والا په اشاره کونکي پسې اقتداء کولای سي.

د امام زفر دليل: دا دی چې اشاره د رکوع او سجدې بدل او خليفه ده، او په بدل سره يو شی اداء کول داسې دي لکه په اصل سره اداء کول، همدا وجه ده چې تيمّم والا د اودس کونکي امامت کولای سي.

زمو دليل: دا دی چې په دې مسئله کې د مقتدي حال زيات قوي دی، او د امام حالت زيات ضعيف دی. او مخکې دا اصول تېر سو چې ضعيف د قوي امامت نه سي کولای. پاته سوه دا خبره چې اشاره د رکوع او سجدې بدل ده، نو موږ دا خبره نه منو، ځکه چې اشاره د رکوع او سجدې بعضي حصه ده، او د شي بعضي حصه، د پوره شي بدل نه سي کيدلای.

د فرض کونکي لپاره په نفل کونکي پسې د اقتداء حکم

وَلَا يُصَلِّي الْمُفْتَرِضُ خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ او فرض کونکی دې په نفل کونکي پسې لمونځ نه کوي لِأَنَّ الِاقْتِدَاءَ بِنَاءٌ ځکه چې د اقتداء مطلب بناء کول دي وَوَصْفُ الْفَرْضِيَّةِ مَعْدُومٌ فِيْ حَقِّ الْإِمَامِ او د فرضيت وصف د امام په حق کې معدوم (نيستي) دی فَلَا يَتَحَقَّقُ الْبِنَاءُ عَلَى الْمَعْدُوْمِ نو پر معدوم بناء نه ثابتيږي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که يو سړی نفلي لمونځ کوي، نو په هغه پسې د فرض کونکي اقتداء جائز نه ده. ځکه چې اقتداء بناء کولو ته ويل کيږي، او بناء يو وجودي امر دی، ځکه چې بناء دې ته ويل کيږي چې يو سړی د بل سړي په افعالو او صفاتو کې تابعداري وکړي، او دا خبره ښکاره ده چې تابعداري وجودي مفهوم لري، سلبي مفهوم نه لري، او د وجودي امر بناء پر عدمي امر صحيح نه ده، نو څرنګه چې په ذکر سوې مسئله کې د فرضيت وصف د امام په حق کې معدوم (عدمي) دی، نو ځکه بناء نه متحققه کيږي، او کله چې بناء متحققه نه سوه، نو اقتداء کول به هم صحيح نه وي.

که د امام او مقتدي فرض سره جلا وي نو په دې صورت کې د اقتداء حکم

قَالَ: وَلَا مَنْ يُصَلِّي فَرْضًا فرمايي: او نه دې اقتداء کوي هغه سړی چې فرض کوي خَلْفَ مَنْ يُصَلِّي فَرْضًا آخَرَ په هغه سړي پسې چې هغه نور (جلا) فرض کوي لِأَنَّ الِاقْتِدَاءَ شِرْكَةٌ وَمُوَافَقَةٌ ځکه چې اقتداء شرکت (ګډون) او موافقت ته ويل کيږي فَلَا بُدَّ مِنَ الِاتِّحَادِ نو ځکه (د دواړو) په لمانځه کې يو والی ضروري دی وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ يَصِحُّ فِيْ جَمِيْعِ ذٰلِكَ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز په دې ټولو صورتونو کې اقتداء صحيح ده لِأَنَّ الِاقْتِدَاءَ عِنْدَهُ أَدَاءٌ عَلَى سَبِيْلِ الْمُوَافَقَةِ ځکه چې اقتداء د هغه په نيز د موافقت په توګه اداء کول دي وَعِنْدَنَا مَعْنَى التَّضَمُّنِ مُرَاعًى او زموږ (د احنافو) په نيز د ضامن کېدلو د معنیٰ لحاظ کيږي.

اللغات: ﴿تضمُّن﴾ د تفعيل مصدر دی: شاملېدل، ضامن کېدل. ﴿مُرَاعًى﴾ د مفاعلې د باب اسم مفعول دی: هغه چې رعايت او لحاظ يې سوی وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی مثلاً د ماپښين لمونځ کوي، او بل سړی د مازيګر لمونځ کوي، نو په دوی کې د يوه لپاره د دويم اقتداء صحيح نه ده. ځکه چې زموږ په نيز اقتداء په تکبير تحريمه کې شريکېدلو (شرکت في التحريمه) ته او په افعالو کې موافقت کولو (موافقت في الافعال) ته ويل کيږي، او ښکاره ده چې د فرض د بدلون په وجه په تحريمه کې شرکت نه سي کېدلای، که څه هم په افعالو کې شرکت او موافقت راسي، او د اقتداء د صحيح کېدلو لپاره په تحريمه او افعالو دواړو کې اتحاد او يو والی ضروري دی، همدغه زموږ مسلک دی، امام مالک رَحِمَهُ الله او امام احمد رَحِمَهُ الله هم د دې قائل دي.

وعند الشافعي الخ د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې په ټولو صورتونو کې يعني په دې ذکر سوي صورت کې او په هغو ټولو صورتونو کې کوم چې مخکې بيان سول، اقتداء صحيح ده، هغه که د فرضو والا اقتداء په

نفلو والا پسي وي، او که د رکوع او سجدې والا اقتداء په اشاره کونکي پسي وي، یا یو بل داسي صورت وي، لنډه چي دا چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دې ټولو صورتو کي اقتداء صحيح ده.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز اقتداء صرف دې ته ویل کیږي چي یو سړی د بل چا موافقت (او تابعداري) صرف په افعالو کي وکړي، په تحريمه کي د شرکت ضرورت نشته، نوکله چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د اقتداء لپاره شرکت فی التحريمه ضروري نه دی، نو ښکاره ده چي په دې صورت کي هر سړی خپل خپل لمونځ کوي، نو که څوک فرض کوي، او څوک نفل کوي یا دواړه جلا جلا فرض کوي، په دې سره د بل پر لمانځه هيڅ اغېزه نه پرېوځي، او د هر سړي لمونځ به پر خپل ځای صحيح وي، او د هيچا لمونځ به هم د بل تر لمانځه قوي نه وي، بلکي هر يو به پر خپل خپل ځای غښتلی (پلوان) وي، لېکن زموږ په نېز دا ټول اقتداء ته د اقتداء نوم ورکول صحيح نه دي، ځکه چي په اقتداء کي د دې حديث: الإمام ضامن په وجه د تضمّن او ضمانت معنیٰ پټه ده، يعني امام د مقتدي د لمانځه ضامن دی، نو ځکه موږ پورتني صورتونو ته د اقتداء نوم ورکولای سو، لېکن د شوافعو په نېز دې صورتونو ته د اقتداء نوم ورکول صحيح نه دي.

د نفل کونکي لپاره په فرض کونکي پسي د اقتداء حکم

وَيُصَلِّي الْمُتَنَفِّلُ خَلْفَ الْمُفْتَرِضِ او نفل کونکی په فرض کونکي پسي اقتداء کولای سي لِأَنَّ الْحَاجَةَ فِي حَقِّهِ إِلَى أَصْلِ الصَّلَاةِ ځکه چي د نفل کونکي لپاره د اصل لمانځه ضرورت دی وَهُوَ مَوْجُودٌ فِي حَقِّ الْإِمَامِ او هغه د امام په حق کي سته فَيَتَحَقَّقُ الْبِنَاءُ نو بناء ثابتيږي.

تشريح: فرض والا خو په نفل والا پسي لمونځ نه سي کولای، لېکن نفل والا په فرض کونکي پسي لمونځ کولای سي، دليل يې دا دی چي د نفل کونکي په حق کي صرف د اصل لمانځه ضرورت دی، او دلته اصل لمونځ د امام په حق کي هم سته، نو ځکه د نفل کونکي اقتداء په فرض کونکي پسي کېدای سي، وجه دا ده چي د نفلي لمانځه د صحت لپاره مطلق نيت کافي دی او پر مطلق نيت فرض هم متشمل وي، نو ځکه به اقتداء صحيح وي.

که تر اقتداء وروسته معلومه سي چي امام بې اودسه دی نو څه حکم دی؟

وَمَنِ اقْتَدَى بِإِمَامٍ او که يو چا په يو امام پسي اقتداء وکړه ثُمَّ عَلِمَ أَنَّ إِمَامَهُ مُحْدِثٌ بيا ورته معلومه سوه چي د هغه امام بې اودسه دی أَعَادَ نو هغه دې خپل لمونځ راوګرځوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي مَنْ أَمَّ قَوْمًا کوم سړي چي ديو قوم امامت وکړي ثُمَّ ظَهَرَ أَنَّهُ كَانَ مُحْدِثًا أَوْ جُنُبًا او بيا (وروسته) ښکاره سي چي امام بې اودسه وو يا جنب وو أَعَادَ صَلَاتَهُ وَأَعَادُوا نو امام دي (هم خپل) لمونځ را وګرځوي او (ټوله) مقتديان دي (هم خپل) لمونځونه را وګرځوي وَفِيهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او په دې کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی بِنَاءً عَلَى مَا تَقَدَّمَ (امام شافعي) پر هغه دلي بناء کوي کوم چي مخکي تېر سو وَنَحْنُ نَعْتَبِرُ مَعْنَى التَّضَمُّنِ او موږ د ضامن کېدلو د معنیٰ اعتبار کوو وَذَلِكَ فِي الْجَوَازِ وَالْفَسَادِ او دا ضامن کېدل د لمانځه په جائز کېدلو او د لمانځه په فاسدېدلو (يعني په دواړو) کي سته.

● أخرجه دارقطني في كتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الامام وهو جنب، حديث رقم: ۱۳۵۴- ۱۳۵۵.

اللغات: ﴿المحدث﴾ د افعال اسم فاعل دی: بې اودسه، ناپاک.

تشریح: مسئله: دا ده که چا د یو امام په اقتداء کي لمونځ وکړی، او وروسته معلومه سوه چي امام بې اودسه وو یا جنب وو، نو د امام لپاره هم د لمانځه را ګرځول واجب دي او پر مقتدي هم واجب دي، ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: چا چي د يو قوم امامت وکړی، او وروسته ښکاره سوه چي هغه بې اودسه وو يا جنب وو نو هغه دي هم خپل لمونځ را وګرځوي. او خلګ دي هم لمونځونه را وګرځوي. امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي په دې صورت کي صرف پر امام لمونځ را ګرځول واجب دي، نه پر مقتديانو، ځکه چي دا خبره مخکي تېره سوه چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز اقتداء دې ته ويل کيږي چي يو سړی د بل چا موافقت (او تابعداري) صرف په افعالو کي وکړي. او په تحريمه کي د اشتراک د نشتوالي په وجه د امام لمونځ د صحت او فساد په اعتبار سره د مقتديانو د لمانځه ضامن نه دی، نو ځکه به د امام حدث صرف د امام په حق کي نقصاني وي، او د مقتديانو پر لمانځه به د هغه د حدث هيڅ اغيزه نه وي. بلکي د هغوی لمونځ به صحيح او جائز وي، ځکه چي په مقتديانو کي هر يوه خپل خپل لمونځ وکړی، نو که موږ د مقتديانو لمونځ فاسد وګرځوو، نو دا داسي سو لکه بغير له يوه جرمه څخه څوک مجرم ګڼل، او دا صحيح نه دي.

د دې په خلاف زموږ په نېز د اقتداء په معنیٰ کي د موافقت سره سره د تضمن معنیٰ هم سته (ځکه په حديث کي راغلي دي: الامام ضامن) او زمو په نېز په اقتداء کي شرکت فی التحريم هم سته، نو ځکه به د امام لمونځ د صحت او فساد په حواله سره د مقتديانو د لمانځه ضامن وي، او په ذکر سوې مسئله کي چي څرنګه د امام لمونځ د بې اودسی (حدث) په وجه سره واجبُ الاعاده دی، نو ځکه به د مقتديانو لمونځ هم واجبُ الاعاده وي. کنې د دې حديث: الامام ضامن له موجب څخه به انحراف راسي کوم چي صحيح نه دی.

فايده: په ذکر سوي صورت کي چي تر اقتداء وروسته د را ګرځولو کوم حکم بيان سوی دی دا پر هغه صورت مبنی چي کله تر اقتداء مخکي د حدث علم نه وي، ليکن که تر اقتداء مخکي د حدث علم وي نو په دې صورت کي بالاتفاق اقتداء صحيح نه ده. (عنايه ج:۱، ص:۳۵۸)

د قاريانو او اميانو لپاره د امي د اقتداء حکم

وَإِذَا صَلَّى أُمِّيٌّ بِقَوْمٍ يَقْرَءُونَ وَبِقَوْمٍ أُمِّيِّينَ او که يو امي سړي قاريانو او اميانو (دواړو) ته لمونځ ورکړي فَصَلَاتُهُمْ فَاسِدَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دوی ټولو لمونځ فاسد دی وَقَالَا●: صَلَاةُ الْإِمَامِ وَمَنْ لَا يَقْرَأُ تَامَّةٌ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د امام او د اميانو لمونځ پوره دی لِأَنَّهُ مَعْذُورٌ ځکه چي امام معذوره دی (يعني امي دی) أَمَّ قَوْمًا مَعْذُورِينَ او د معذوره خلګو (اميانو) امامت يې وکړی فَصَارَ كَمَا إِذَا أَمَّ الْعَارِي عُرَاةً وَلَابِسِينَ نو دا داسي سو لکه لغ (برښد) سړی چي د لغو خلګو او د کالو اغوستونکو خلګو امامت وکړي وَلَهُ أَنَّ الْإِمَامَ تَرَكَ فَرْضَ الْقِرَاءَةِ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَيْهَا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي امام پر قرائت د قدرت سره سره فرض قرائت پرېښوی فَتَفْسُدُ صَلَاتُهُ نو ځکه به د هغه لمونځ فاسديږي وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَوِ اقْتَدَى بِالْقَارِئِ او دا په دې

● القول الراجح: قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۴۳۸. [القول الراجح، ج:۱، ص:۹۲]

وجه چي كه امي سړی د قاري اقتداء وكړي تَكُوْنُ قِرَاءَتُهُ قِرَاءَةً لَهُ نو د قاري قرائت به د امي لپاره قرائت وي بِخِلَافِ تِلْكَ الْمَسْأَلَةِ وَأَمْثَالِهَا په خلاف د هغه مسئلې او د هغه په ډول د نورو مسئلو لِأَنَّ الْمَوْجُوْدَ فِيْ حَقِّ الْإِمَامِ ځكه كوم شی چي د امام په حق كي موجود وي لَا يَكُوْنُ مَوْجُوْدًا فِيْ حَقِّ الْمُقْتَدِيْ هغه د مقتدي په حق كي نه موجوديږي.

اللغات: ﴿عُرَاةٌ﴾ جمع د عَارٍ ده: لغړ، بربنډ. ﴿أَمْثَال﴾ جمع د مِثْل: مشابه، هم مثل.

تشريح:

د امّي وجه تسميه: امي (او نالوستي سړي) ته امي ځكه ويل كيږي چي دا منسوب الى الأم دی، او اُمّ مور ته ويل كيږي، يعني څرنګه چي مور دی زيږولی وو، هغسي (اوس) هم دی، يعني لكه څرنګه چي د زيږيدلو په وخت كي بې تعليمه او نا لوستی وو او هيڅ ليكل يې نه سوه كولای، همدارنګه اوس هم دی، او دا لفظ چي په قرآن، حديثو او په عربي ژبه كي هر ځای راسي، نو له دې څخه مراد هغه سړی دی چي پر ليكلو او ويلو قدرت نه لري، نو كوم سړی چي د قرآن يو آيت ويلای سي، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز هغه امي نه دی، او د صاحبينو رَحِمَهُ الله په نېز چي څوك پر درې آيته يا يو غټ آيت قدرت لري هغه له امي والي څخه وتلی دی. (عنايه)

صورت د مسئلې: دا دی كه يوه امي سړي اميانو او قاريانو دواړو ته لمونځ وركړی، نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز د ټولو لمونځ فاسد سو، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دا دی چي د امام او اميانو لمونځ صحيح سو، لېكن د قاريانو لمونځ فاسد سو.

د صاحبينو دليل: دا دی چي دلته يو معذوره سړي يعني امي و معذوره خلكو يعني اميانو ته امامت وركړی، او دا په اتفاق سره جائز او صحيح دي. او داسي سو لكه يو لغړ سړی چي لغړو او پټو خلكو ته امامت وركړي، نو په دې صورت كي په اتفاق سره د لغړ امام او لغړو مقتديانو لمونځ جائز دی، او د عورت پټونكو مقتديانو لمونځ فاسد دی، همدارنګه دلته هم د امي امام او اميانو مقتديانو لمونځ جائزدی، او د قاريانو لمونځ فاسد دی.

د امام صاحب دليل: دا دی چي كه يو سړی پر قرائت قدرت لري، خو د قدرت سره سره قرائت پرېږدي نو د هغه لمونځ فاسديږي، همدارنګه په دې خلكو كي قاريان مقتديان هم وه، نو كه قاري امام جوړ سوی وای نو د ټولو خلكو لمونځ به صحيح وای، لېكن دې امي امام خپل پر ځای قاري امام جوړ نه كړی، نو ګواكي پر قرائت يې د قدرت سره سره قرائت پرېښووی، ځكه چي د امام قرائت داسي دی لكه د مقتدي قرائت، څرنګه چي په حديث كي راځي: من كان له امام فقراءة الامام له قراءة. لېكن په داسي نه كولو سره د دغه امي امام لمونځ فاسد سو، او كله چي د امام لمونځ فاسد سو نو د ټولو لمونځ فاسد سو، ځكه چي د امام لمونځ د صحت او فساد په اعتبار سره د مقتدي د لمانځه ضامن وي.

جواب: له بخلاف تلك المسئلة...الخ څخه د صاحبينو د قياس جواب وركوي، فرمايي چي د دې په خلاف د لغړو او پټو خلكو د جماعت مسئله ده، او د دې په ډول نوري مسئلې هم دي، مثلاً ګونګي سړي د ګونګيانو او قاريانو امامت وكړي، يا اشاره كونكي د اشاره كونكو او پر ركوع او سجدې د قدرت لرونكو امامت وكړي، نو په دې ډول مسئلو سره دليل نيول صحيح نه دي، ځكه چي په ذكر سوې مسئله كي د حديث په روی سره د امام قرائت د مقتدي لپاره قرائت ګرځول سوی دی، لېكن په نورو مسئلو كي چي د امام لپاره كوم شی ثابت وي، هغه د مقتدي لپاره نه سي ثابتېدلای، د مثال په توګه د امام په كالو اغوستلو سره مقتديان كالي اغوستونكي (لابسين) نه شمارل كيږي، او نه داسي ده چي كه امام پر ركوع او

سجدې قدرت لري نو مقتديان به هم پر رکوع قدرت لرونکي شمارل کيږي، (يعني داسي نه سي کېدلای)، لهذا د قرائت په مسئله او په دې مسئلو کي د مخکي او اسمان فرق دی، نو ځکه به د دوی په مينځ کي قياس بالکل صحيح نه وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دی، چي هغه فرمايي که امي سړي قاريانو او اميانو ته لمونځ ورکړی نو د ټولو لمونځ فاسد دی يعني هم د امام، او هم د ټولو مقتدياتو هغه که اميان وي او که قاريان.

وقال العلامة قاضي خان رَحِمَهُ الله: ولا يصح اقتداء امي وقاري بامي ولا بالاخرس. (خانية ج۱، ص۸۹). [القول الراجح ج۱، ص۹۴]

د قاري او امي لپاره د جلا جلا لمونځ کولو حکم

وَلَوْ كَانَ يُصَلِّي الْأُمِّيُّ وَحْدَهُ او که امي يوازي لمونځ کوی وَالْقَارِئُ وَحْدَهُ او قاري (هم) يوازي لمونځ کوی جَازَ نو جائز دي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهُ لَمْ يَظْهَرْ مِنْهُمَا رَغْبَةٌ فِي الْجَمَاعَةِ ځکه چي د دواړو له طرفه په جماعت کي رغبت (شوق) نه دي ښکاره سوی.

اللغات: ﴿وَحْدَه﴾ يوازي، يک تنها. ﴿رَغْبَةٌ﴾ شوق، خواهش، غوښتنه.

تشريح: مسئله: دا ده که يو امي ځان ته جلا لمونځ وکړی او هلته يو قاري هم وو او هغه هم جلا لمونځ وکړي، نو د دواړو لمونځ صحيح دی، ځکه چي شريعت د اقتداء په صورت کي د امام قرائت د مقتدي لپاره قرائت گرځولی دی، او دلته خو د امي او قاري اقتداء پرېږده، صرف د اقتداء رغبت هم ښکاره سوی نه دي، نو ځکه به د دواړو لمونځ پر خپل خپل ځای جائز او صحيح وي، او له فساد څخه به خوندي وي.

په هو الصحيح ويلو سره صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د امام مالک رَحِمَهُ الله او ابو حاتم رَحِمَهُ الله له هغه قولونو څخه احتراز کړی دی، چي په هغو کي په دې صورت کي هم امي پر قرائت قادر بلل سوی دی، او لمونځ يې فاسد گرځول سوی دی، لېکن صحيح هغه دي کوم چي موږ بيان کړه.

که امام په آخري دوو رکعتونو کي امي مخته کړی نو څه حکم دی؟

فَإِنْ قَرَأَ الْإِمَامُ فِي الْأُولَيَيْنِ او که امام په اولو دوو رکعتو کي قرائت وکړی ثُمَّ قَدَّمَ فِي الْأُخْرَيَيْنِ أُمِّيًّا او بيا يې يو امي سړی په آخري دوو رکعتو کي مخته کړی (يعني خپل خليفه يې جوړ کړی) فَسَدَتْ صَلَاتُهُمْ نو د ټولو مقتديانو لمونځ فاسد سو وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: لَا تَفْسُدُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نه فاسديږي لِتَأَدِّي فَرْضِ الْقِرَاءَةِ ځکه چي فرض قرائت اداء سو وَلَنَا أَنَّ كُلَّ رَكْعَةٍ صَلَاةٌ او زموږ دليل دا دی چي هر رکعت لمونځ دی فَلَا تَخْلُو عَنِ الْقِرَاءَةِ نو هر رکعت به له قرائت څخه خالي نه وي إِمَّا تَحْقِيقًا أَوْ تَقْدِيرًا هغه که حقيقتاً قرائت وي او که تقديراً وَلَا تَقْدِيرَ فِي حَقِّ الْأُمِّيِّ او د امي په حق کي تقديراً قرائت (هم) نسته لِانْعِدَامِ الْأَهْلِيَّةِ ځکه چي په هغه کي (د قرائت) اهليت (ورتيا) نسته وَكَذَا عَلَى هٰذَا او همدارنګه به په دې حکم سره (لمونځ فاسديږي) لَوْ قَدَّمَهُ فِي التَّشَهُّدِ که يې امي سړی په تشهد کي مخته کړی وَاللهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ او الله په حقيقي حال زيات خبر دی.

اللغات: ﴿تَأَدِّي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: اداء کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو قاري امام لمونځ شروع کړی، او اول دوه رکعتونه يې پوره کړل، په دريم رکعت کې بې اودسه سو، نو د دا نورو رکعتو لپاره يې يو امي سړی را مخته ګړی او د خپل ځان خليفه يې جوړ کړی. نو په دې صورت کې زموږ په نيز د ټولو خلکو لمونځ فاسديږي، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ټولو لمونځ صحيح دی.

د امام زفر دليل: دا دی چې د امام له طرفه د لمانځه د فاسدېدلو خطره صرف د قرائت په باره کې ده، لېکن په ذکر سوي صورت کې امام په دواړو رکعتونو کې قرائت پوره کړی او په آخري رکعتو کې يې امي خپل خليفه او امام جوړ کړی، نو ځکه به په دې صورت کې د امي په امامت سره لمونځ نه فاسديږي، ځکه چې په آخري رکعتو کې قرائت فرض نه دی، نو امي به د فرضو پرېښوونکي نه شمارل کيږي، او کله چې هغه د فرضو پرېښوونکی نه سو، نو لمونځ به يې صحيح وي، او کله چې د هغه لمونځ صحيح سو، نو کومو خلکو چې په هغه پسې اقتداء کړې وي، د هغو لمونځ به هم صحيح وي.

زموږ دليل: دا دی چې په دوه رکعتيز، يا درې رکعتيز، يا څلور رکعتيز لمانځه کې هر رکعت د لمانځه دی، يعني هر رکعت لمونځ دی، او د لمانځه يو رکعت هم له قرائت څخه خالي نه دی، هغه که حقيقتاً قرائت وي لکه د اولو دوو رکعتو قرائت، او که تقديراً قرائت وي، لکه په آخري رکعتو کې چې سورت فاتحه ويل کيږي، او له حديث څخه دا خبره ثابته ده چې د اولو دوو رکعتونو قرائت د آخري رکعتونو لپاره هم قرائت دی، او د امي په حق کې خو نه حقيقتاً قرائت ثابت دی او نه تقديراً، ځکه چې په ده کې د قرائت اهليت نسته، نو څرنګه چې په اولو رکعتو کې د ده د امام جوړول صحيح نه دي، همدارنګه په آخري رکعتو کې هم د ده امام جوړول صحيح نه دي، تر دې چې په تشهد يعني په آخري ناسته کې هم د ده امامت زموږ په نيز صحيح نه دی، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله په دې صورت کې دا صحيح ګرځوي.



بَابُ الْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ

(دا) باب په لمانځه کي د بې اودسه کېدلو (په بيان کي)

تشريح: تر دې مخکي مصنف رَحِمَهُ الله هغه احکام ذکر کړل چي د هغو په ذريعه انسان له عوارضو څخه خوندي کېدى سي، اوس په دې باب کي د هغه عوارضو ذکر کوي چي هغه د لمانځه لپاره فاسدونکي (مُفسد) او مانع وي، او څرنګه چي د مُفسد په مقابله کي مُصلح مخکي وي، نو په دې وجه صاحب د هدايې دلته اول غير مفسده عوارض بيانوي، او عوارضِ مفسده او مانعه وروسته بيانوي. (عنايه ج:١ ص:٣٨٩)

که په لمانځه کي امام بې اودسه سي نو څه حکم دى؟

وَمَنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ فِي الصَّلَاةِ او کوم سړى چي په لمانځه کي بې اودسه سو اِنْصَرَفَ واپس دي سي فَإِنْ كَانَ إِمَامًا يا که دا سړى امام وو اِسْتَخْلَفَ نو (خپل) خليفه دي جوړ کړي وَتَوَضَّأَ وَبَنَى او اودس وکړي او (پر مخکني لمانځه دي) بناء وکړي وَالْقِيَاسُ أَنْ يَسْتَقْبِلَ او قياس دا دى چي دا سړى دي د سره لمونځ وکړي وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِي رَحِمَهُ اللهُ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله قول دى لِأَنَّ الْحَدَثَ يُنَافِيهَا ځکه چي حدث د لمانځه سره منافي دى وَالْمَشْيُ وَالْإِنْحِرَافُ يُفْسِدَانِهَا او تګ او له قبلې څخه مخ اړول دواړه د لمانځه فاسدونکي دي فَأَشْبَهَ الْحَدَثَ الْعَمْدَ نو دا حدث داسي سو لکه قصداً حدث وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او زموږ دليل د نبي ﷺ دا قول دى مَنْ قَاءَ● أَوْ رَعَفَ أَوْ أَمْذَى فِي صَلَاتِهِ چا چي قى وکړى يا يې پزه ورېني سوه يا مذي څني ووتل په لمانځه کي فَلْيَنْصَرِفْ نو هغه دي واپس سي وَلْيَتَوَضَّأْ اودس وکړي وَلْيَبْنِ عَلَى صَلَاتِهِ او پر خپل لمانځه دي بناء وکړي مَا لَمْ يَتَكَلَّمْ تر څو چي يې خبري نه وي کړي وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● او نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ کله چي په تاسو کي څوک لمونځ کوي فَقَاءَ أَوْ رَعَفَ نو قى يې وکړي يا يې پزه ورېني وکړي فَلْيَضَعْ يَدَهُ عَلَى فِيهِ نو پر خوله دي لاس کښېږدي وَلْيُقَدِّمْ مَنْ لَمْ يُسْبَقْ بِشَيْءٍ او غير مسبوق سړى دي مخته کړي (يعني داسي سړى دي مخته کړي چي يو رکعت هم نه وي څني تېر سوى) وَالْبَلْوَى فِيمَا يُسْبَقُ او ابتلاء (عموم بلوىٰ) خو په هغه حدث کي ده کوم چي بې اختياره ووځي دُونَ مَا يَتَعَمَّدُ نه په هغه حدث کي کوم چي قصداً وکړي (يعني په هغه بې اودسۍ کي عموم بلوىٰ نسته کوم چي يې لمونځ ګزاره په خپل قصد وکړي) فَلَا يَلْحَقُ بِهِ نو بې اختيار حدث به د قصداً حدث سره نه يو ځاى کېږي وَالْإِسْتِئْنَافُ أَفْضَلُ او له سره لمونځ کول افضله دي تَحَرُّزًا عَنْ شُبْهَةِ الْخِلَافِ د اختلاف له شبهې څخه د ځان ژغورلو لپاره وَقِيلَ إِنَّ الْمُنْفَرِدَ يَسْتَقْبِلُ او ويل

● أخرجه ابن ماجه في كتاب الاقامة، باب ما جاء في البناء على الصلاة، حديث رقم: ١٢٢١.

● أخرجه ابن ماجة في كتاب الاقامة، باب ما جاء فيمن أحدث في الصلاة، حديث رقم: ١٢٢٢.

سوي دي چي منفرد به له سره لمونځ را ګرځوي وَالْإِمَامَ وَالْمُقْتَدِيَ يَبْنِيَ او امام او مقتدي به (پر مخکني لمانځه) بناء کوي صِيَانَةً لِفَضِيْلَةِ الْجَمَاعَةِ چي د جماعت فضيلت خوندي سي.

اللغات: ﴿إِنْحِرَاف﴾ د انفعال مصدر دی: ګرځېدل، اوښتل، ليري کېدل. ﴿قَاءَ﴾ د ضرب د باب ماضي صيغه ده؛ قی کول، خوا ګرځېدل. ﴿رُعَاف﴾ پزه ويني کېدل، له پزه څخه ويني را بهېدل. ﴿بَلْوَىٰ﴾ ازمايښت، ابتلا. ﴿إِسْتِئْنَاف﴾ له نوي سره شروع کول، له شروع څخه راګرځول، يو کار له سره شروع کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که يو سړی په لمانځه مصروفه وو، او د لمانځه په دوران کي بې اودسه سو، نو د هغه لپاره حکم دا دی چي بغير له څه فکر او ځنډ څخه دي فوراً مخ را واړوي، دا اودس ځای ته دي ولاړ سي، اودس دي وکړي، او پر لمانځه دي بناء وکړي، او که هغه سړی امام وو نو د هغه لپاره اول حکم دا دی چي له لمانځه څخه دي ليري سي او بل سړی دي خپل نائب (خليفه) جوړ کړي، او خپله دي ولاړ سي اودس دي وکړي او پر لمانځه دي بناء وکړي، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي د فوراً مخ را اړولو حکم په دې وجه سوی دی چي که تر بې اودسی وروسته لږ ځنډ وکړي (يعني لږ ودرېږي) نو په بې اودسی سره به د لمانځه د يو جزء اداء کونکی سي، او په بې اودسی سره لمونځ جائز نه دی، نو په دې وجه لږ غوندي توقف هم د هغه ټوله لمونځ فاسدوي. نو په هر حال زموږ په نيز خو حکم همدغه دی چي هغه سړی دي اودس وکړي او د لمانځه بناء دي وکړي، لېکن د قياس تقاضا دا ده چي داسي سړی دي له نوي سره لمونځ وکړي؛ او دا خبره امام شافعي رَحِمَهُ الله هم کوي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي د لمانځه لپاره پاکي شرط ده، ځکه چي بې اودسي د لمانځه منافي ده، همدارنګه په لمانځه کي مخامخ پر قبله درېدل هم شرط دي، او په لمانځه کي تګ کول، ګرځېدل، مخ را اړول منع دي، لېکن کله چي لمونځ ګزاره مخ را واړوي ولاړ سي اودس وکړي، نو په دې صورت کي له قبلې څخه مخ اوښتنه هم راغله، او تګ هم راغلی، او دا دواړه شيان لمونځ فاسدوي، نو دلته يو مُفسد نه بلکي ډېر مفاسد جمع سول، نو ځکه د نوي سره لمونځ کول ضروري دي، د بناء کولو اجازه او ګنجايش نسته، لکه څرنګه چي په قصداً او اختياري حدث (بې اودسي) کي د سره لمونځ کول ضروري دي، همدارنګه به په بېله قصده او بېله اختياره حدث کي هم له سره لمونځ کول ضروري وي، او د بناء اجازه به نه وي.

زموږ دليل: هغه دوه حديثونه دي کوم چي په کتاب کي ذکر سوه، په اول حديث کي د وليبن على صلاته حکم سوی دی او دا امر کمه درجه د اباحت او جواز ده، او مقصود هم د بناء جواز دی، نو په دې حديث سره خو د بناء جواز ثابت سو، او په دويم حديث کي د وَليقدم من لم يسبق...الخ حکم راغلی دی، کوم چي د امام سره تعلق لري، يعني د امام لپاره د بې اودسه کېدلو په وخت کي غير مسبوق يعني مدرک سړی خليفه جوړول ضروري دي، د مدرک خليفه جوړول ځکه ضروري دي، چي خلګو ته پوره لمونځ ورکړي، لېکن که يو مسبوق سړی خليفه جوړ کړي، نو د سلام ګرځولو په وخت کي به دا مسبوق دويم خليفه جوړوي، ځکه چي د سلام ګرځولو اجازه ده ته نسته، نو ځکه به د سلام ګرځولو لپاره د دويم خليفه جوړول ضروري وي، نو په دې توګه به د لمانځه پوره خشوع و خضوع، سکون و اطمينان ختم سي، لهذا امام ته پکار دي چي په دې صورت کي يو مدرک مقتدي خليفه جوړ کړي، مسبوق مقتدي مخته نه کړي.

جواب: له والبلوی الخ څخه د امام شافعي د قياس جواب ورکوي ځکه چي امام شافعي رَحِمَهُ الله غير اختياري (بېله قصده) حدث پر اختياري (قصداً) حدث قياسوي، او فرمايي چي لمونځ به له سره او شروع څخه راګرځول کيږي، نو

له دې ځایه د هغه قول او قیاس رد کیږي، خلاصه یې دا ده چې بېله قصده (غیر عمد) حدث پر قصداً حدث قیاسول صحیح نه دي، ځکه چې په دواړو کې فرق دی په دې توګه چې غیر عمد حدث په غیر اختیاري توګه له انسان څخه وځي، او په انسان په دې کې معذوره وي، او قصداً حدث په اختیاري توګه وځي، او په هغه کې انسان معذوره نه وي، نو په دې وجه به بېله قصده حدث پر قصداً حدث قیاسول صحیح نه وي لأن القیاس لایصح مع الفارق.

والاستیناف الخ فرمایي چې زموږ په نېز خو بناء جائز ده، لیکن لمونځ د سره راګرځول افضله او غوره دي، د دې لپاره چې د اختلاف له شک څخه خوندي سي، د ځینو رایه دا ده چې د منفرد لپاره له سره لمونځ راګرځول غوره دي، او د امام او مقتدي لپاره بناء کول افضله دي، ځکه چې د منفرد لپاره جماعت هیڅ مسئله نه ده، لیکن د امام او مقتدي لپاره د جماعت د فضیلت ساتلو مسئله سته، نو ځکه د دوی لپاره بناء کول افضله دي، والله اعلم.

که منفرد سړی په لمانځه کې بې اودسه سي نو څه حکم دی؟

وَالْمُنْفَرِدُ اِنْ شَاءَ اَتَمَّ فِىْ مَنْزِلِهٖ او منفرد که وغواړي نو پر خپل ځای دي لمونځ پوره کړي وَاِنْ شَاءَ عَادَ اِلٰى مَكَانِهٖ او که وغواړي نو خپل (مخکني) ځای ته دي واپس راسي وَالْمُقْتَدِىْ يَعُوْدُ اِلٰى مَكَانِهٖ او مقتدی به خپل ځای ته واپس ځي اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ اِمَامُهٗ قَدْ فَرَغَ خو دا چې د هغه د امام فارغه سوی وي اَوْ لَا يَكُوْنَ بَيْنَهُمَا حَائِلٌ یا دا چې د دوی دواړو په مینځ کې څه حائل (خند) نه وي.

اللغات: ﴿منزله﴾ کور، دلته مراد ځني نوی ځای دی یعني هغه ځای دی چیري چې یې اودس کړی وي، ﴿مکانه﴾ ځای، دلته مراد ځني پخوانی ځای دي یعني هغه ځای چیري چې یې لمونځ کړی وي.

تشریح: فرمایي: چې د لمانځه د بناء په باره کې د منفرد (یوازې لمونځ کونکي) لپاره اختیار دی، که غواړي نو پر هغه ځای دې بناء وکړي چیري چې یې اودس کړی وي او لمونځ دې پوره کړي، د دې لپاره چې له زیات تګ او ګرځېدلو څخه محفوظ سي، او که غواړي نو خپل اول او پخواني ځای ته دې راسي او لمونځ دې پوره کړي، د دې لپاره چې پر یوه ځای ټول لمونځ اداء سي، لیکن د مقتدي لپاره دا اختیار نسته، بلکې د هغه لپاره پر خپل اول ځای لمونځ پوره کول واجب دي، لیکن که مقتدی له اودس څخه فارغ سو او په دې وخت کې امام له لمانځه څخه هم فارغ سو نو په دې صورت کې د مقتدي لپاره پر خپل ځای (یعني د اوداسه پر ځای) د لمانځه پوره کول صحیح دي، همدارنګه په هغه وخت کې هم پر خپل ځای لمونځ کول صحیح دي کله چې د امام او مقتدي په مینځ کې یو داسې حائل (خند) وي چې هغه له لمانځه څخه مانع وي، لکه واله (نهر)، یا غټ دېوال او داسې نور.

د ګومان کونکي سړي د لمانځه حکم؟

وَمَنْ ظَنَّ اَنَّهٗ اَحْدَثَ او څوک چې دا ګومان وکړي چې هغه (په لمانځه کې) بې اودسه سو فَخَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ او له مسجد څخه را ووځي ثُمَّ عَلِمَ اَنَّهٗ لَمْ يُحْدِثْ بیا ورته معلومه سي چې هغه نه دي بې اودسه سوی اِسْتَقْبَلَ الصَّلٰوةَ نو دا سړی به له سره لمونځ کوي وَاِنْ لَمْ يَكُنْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ او که له مسجد څخه نه را ووځي يُصَلِّىْ مَا بَقِيَ نو پاته لمونځ به کوي وَالْقِيَاسُ فِيْهِمَا الْاِسْتِقْبَالُ او قیاس دا دی چې په دواړو صورتونو کې به له سره لمونځ کوي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ او همدغه له امام محمد رَحِمَهُ اللّٰه څخه یو روایت دی لِوُجُوْدِ الْاِنْصِرَافِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ ځکه چې بغیر له یو

عذره واپس کېدل (او له قبلې څخه مخ اوښتل) راغله وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهُ انْصَرَفَ عَلَى قَصْدِ الْإِصْلَاحِ داستحسان وجه دا ده چې دا سړی د اصلاح په نیت واپس سو أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ تَحَقَّقَ مَا تَوَهَّمَهُ آیا ته نه ګورې که هغه خبره ثابته وای د کومې چې ده ګومان وکړی بَنَى عَلَى صَلَاتِهِ نو ده به پر خپل لمانځه بناء کولای فَأُلْحِقَ قَصْدُ الْإِصْلَاحِ بِحَقِيقَتِهِ نو د اصلاح نیت به په حقیقي اصلاح پورې ملحق کیږي مَا لَمْ يَخْتَلِفِ الْمَكَانُ بِالْخُرُوجِ تر څو چې له مسجد څخه د وتلو په وجه ځای بدل نه کړي.

اللغات: ﴿إِسْتَقْبَلَ﴾ له سره کول، له شروع څخه کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که دیو سړي په لمانځه کې دا ګومان سو چې د ده اودس مات سو (یعني په لمانځه کې بې اودسه سو)، نو په دغه ګومان کې تر مسجد ووتی، او تر وتلو وروسته ورته معلومه سوه چې نه دی بې اودسه سوی، دا خو صرف یو ګومان وو، نو په دې صورت کې د ده لپاره له سره لمونځ کول ضروري دي، د بناء کولو اجازه ورته نسته، لېکن که دا سړی تر مسجد وتلی نه وي، بلکې په مسجد کې دننه ورته معلومه سي چې نه دی بې اودسه سوی، نو اوس ده ته د بناء کولو اجازه سته، او پر ده د سره لمونځ راګرځول ضروري نه دي، دا استحسان دی، لېکن د قیاس تقاضا دا ده چې پر دې سړي په دواړو صورتونو کې د سره لمونځ راګرځول ضروري دي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله یو روایت هم داسې دی.

د قیاس دلیل: دا دی چې په لمانځه کې مخ پر قبلې درېدل شرط دي، او بې له څه عذره له قبلې څخه مخ اړول لمونځ فاسدوي، او په ذکر سوې مسئله کې مخ اوښتنه بېله څه عذره دي، ځکه چې هغه سړی په حقیقت کې بې اودسه نه وو، بلکې هغه ته صرف د بې اودسی (حدث) وهم (ګومان) وو، لېکن بیا یې هم له قبلې څخه مخ واړوی، نو ځکه د هغه لمونځ فاسدیږي، او د سره به لمونځ کوي، هغه که له مسجد څخه را وتلی وي، که نه وي.

د استحسان دلیل: دا دی چې دا سړی د لمانځه د اصلاح او سمون په نیت را ووتی، او له قبلې څخه یې مخ واړوی، همدا وجه ده که د ده وهم (ګومان) صحیح وای، او په رښتیا هم بې اودسه وای، نو د ده لپاره به د لمانځه بناء کول صحیح وای، نو ځکه به دلته صرف د اصلاح نیت او اراده په حقیقي اصلاح پورې ملحق کیږي، او د بې اودسی (حدث) د ګومان په صورت کې به هم د ده لپاره د بناء کولو اجازه وي، خو په دې شرط چې تر مسجد وتلی نه وي، فقط تر صف وتلی وي، لېکن که تر مسجد ووځي، نو په دې صورت کې د ده لپاره د بناء کولو اجازه نسته، ځکه چې له مسجد څخه د وتلو په صورت کې د لمانځه په ځای کې بدلون راځي، او د لمانځه د ځای بدلون تحریمه باطلوي، او د تحریمې د باطلوالي په وخت کې د لمانځه له سره راګرځولو څخه ماسوا بله چاره نسته.

د ګومان کونکي امام د لمانځه حکم

وَإِنْ كَانَ اسْتَخْلَفَ او که دې ګومان کونکي سړي (یو مقتدی) خپل خلیفه جوړ کړی فَسَدَتْ صَلَاتُهُ نو د ده لمونځ فاسدیږي لِأَنَّهُ عَمَلٌ كَثِيرٌ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ ځکه چې دا بغیر له یو عذره عمل کثیر دی وَهَذَا بِخِلَافِ مَا او دا صورت له دې صورت څخه خلاف دی إِذَا ظَنَّ أَنَّهُ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ چې کله دی دا ګومان وکړي چې ده بې اودسه لمونځ شروع کړی دی فَانْصَرَفَ نو مخ وګرځوی ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ عَلَى وُضُوءٍ بیا ورته معلومه سي چې په اوداسه وو حَيْثُ تَفْسُدُ نو (په دې صورت کې هم) د ده لمونځ فاسدیږي وَإِنْ لَمْ يَخْرُجْ که څه هم له مسجد څخه نه ووځي لِأَنَّ الِانْصِرَافَ عَلَى سَبِيلِ الرَّفْضِ ځکه چې دا مخ ګرځول د لمانځه پرېښوولو لپاره دي أَلَا تَرَى آیا ته نه ګورې أَنَّهُ لَوْ تَحَقَّقَ مَا تَوَهَّمَهُ چې

که هغه شی ثابت سوی وای کوم چي يې ده گومان کړی دی يَسْتَقْبِلُهُ نو د سره به يې لمونځ کولای فَهٰذَا هُوَ الْحَرْفُ نو په دې مسئله کي همدغه اصلي قاعده ده وَمَكَانُ الصُّفُوفِ فِي الصَّحْرَاءِ لَهُ حُكْمُ الْمَسْجِدِ او په صحراء (بيابان) کي د صفونو ځای د مسجد په حکم کي دی وَلَوْ تَقَدَّمَ قُدَّامَهُ او که دی مخته سو د صف پر مخکني طرف فَالْحَدُّ السُّتْرَةُ نو ستره حد ده وَإِنْ لَمْ تَكُنْ او که (مخته) سترنه وه فَمِقْدَارُ الصُّفُوفِ خَلْفَهُ نو شاته د صفونو اندازه (حد ده) وَإِنْ كَانَ مُنْفَرِدًا او که گومان کونکی يوازي لمونځ کونکی وو فَمَوْضِعُ سُجُودِهِ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ نو له هر طرفه د ده د سجدې ځای حد دی.

اللغات: ﴿إِنْصَرَفَ﴾ د انفعال د باب ماضي صيغه ده: گرځېدل، ليري کېدل، واپس کېدل، ﴿رَفْض﴾ پرېښوول، ﴿قُدَّام﴾ د مخ خوا، مخکني طرف.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د بې اودسی گومان امام وکړی، بيا يې يو بل څوک خليفه (هم) جوړ کړي، نو په دې صورت کي د امام لمونځ فاسدېږي، ځکه چي دا عمل کثير (ډېر عمل) دی، او څرنگه چي دلته هيڅ عذر هم نسته، نو ځکه به دا لمونځ فاسد وي، ځکه بېله يو عذره کثير عمل لمونځ فاسدوي.

وهذا بخلاف الخ او دا صورت د هغه صورت برعکس دی، چي که يو څوک دا گومان وکړي چي هغه بې اودسه لمونځ شروع کړی دی، او د دغه گومان په وجه خپل له ځای څخه ليري سي، لېکن بيا ورته معلومه سوه چي هغه خو په اوداسه وو، نو په دې صورت کي د هغه لمونځ فاسدېږي، که څه هم له مسجد څخه وتلی نه وي، ځکه په دې صورت کي انصراف (يعني له قبلې څخه مخ اړول او له ځای څخه ليري کېدل) علی سبيل رفض يعني د لمانځه د پرېښوولو په توگه وو، او هر هغه انصرف کوم چي د لمانځه د پرېښوولو په توگه وي هغه لمونځ فاسدوي، نو ځکه به دا انصراف هم لمونځ فاسدوي.

'همدا وجه ده که د هغه گومان رښتيا وای يعني رښتيا هم بې اودسه وای، نو بنکاره ده چي هغه به له سره لمونځ کولای، ځکه چي په دې صورت کي به د هغه انصراف د لمانځه د پرېښوولو په توگه وای، نو ځکه به د ده لمونځ فاسد وای، او په دې لړ کي همدغه اصل دی، يعني کوم انصرف او گرځېدل چي د اصلاح په اراده سره وي هغه د لمانځه فاسدوونکی نه دی، لېکن کوم انصرف چي د لمانځه د پرېښېدلو (رفض) په اراده سره وي، هغه حتماً د لمانځه فاسدوونکي دی.

ومکان الصفوف الخ فرمايي چي که يو سړی د مسجد پر ځای په صحراء يا ميدان کي لمونځ کوي، او داسي پېښه راسي (لکه پورته چي بيان سوه) نو د ده لپاره د صفونو ځای د مسجد حکم لري، که دی تر صفو ووتی نو گواکي تر مسجد ووتی، نو د ده لمونځ به فاسد وي، او د ده لپاره به د بناء کولو اجازه نه وي، لېکن که تر صفو دباندي نه ووتی، نو له مسجد څخه به وتونکی نه شمارل کيږي، او د ده لپاره به د بناء کولو اجازه وي؛ لېکن که په صحراء کې لمونځ گزاره د شا پر طرف نه ووتی، بلکي پر مخکني طرف وړاندي ولاړتی، نو که مخته سترہ وه، نو له سترې څخه د تېرېدلو په صورت کي به له مسجد څخه وتونکی شمارل کيږي؛ لېکن که مخته ستره نه وه، نو تر شا چي څومره صفونه وي، نو د هغو صفونو مقدار (اندازه) به د ده لپاره د وتلو او نه وتلو حيثيت لري، مثلاً که صفونه ټوله پنځه وي، او مساحت يې لس گزه وي، نو اوس که دا سړی د مخ پر طرف د لس گزو څخه ووځي (يعني تر لس گزه تېر سي)، نو وتونکي به شمارل کيږي، کنې نه به شمارل کيږي.

وإن كان منفردا الخ او كه لمونځ ګزاره منفرد وو، نو د ده لپاره هیڅ صف نسته، بلكي د ښنو له ځایه څخه واخله د سجدې تر ځایه پوري چي كوم ځای دی (چي تقریباً څلور فوټه (فټه) كیږي) هغه د مسجد په حكم كي دي، او له څلورو سره وو طرفونو څخه دغومره ځای (یعني تقریباً څلور فوټه) د مسجد په حكم كي دی، نو كه له راسته طرف یا چپه طرف یا له مخ یا شا څخه تر څلورو فوټو زیات ووتی، نو بیا پر اول لمانځه بناء نه سي كولای. او كه له دې څخه كم ووتی نو بیا بناء كولای سي.

د لمانځه په دوران كي د بې هوښه كېدلو یا لېونتوب حكم

وَإِنْ جُنَّ او كه (په لمانځه كي) یو سړی لېونی سو أَوْ نَامَ فَاحْتَلَمَ یا بیده سو نو احتلام ورته راغلی (یعني شیطان خطا ایستی) أَوْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ یا بې هوښه سو إِسْتَقْبَلَ نو لمونځ به له سره كوي (یعني لمونځ به له شروع څخه راګرځوي) لِأَنَّهُ يَنْدُرُ وُجُودُ هَذِهِ الْعَوَارِضِ ځكه چي د داسي عوارضو (حدثونو) پېښېدل نادر دي فَلَمْ يَكُنْ فِي مَعْنَى مَا وَرَدَ بِهِ النَّصُّ نو ځكه به دا په هغه درجه كي نه وي چي د هغه په باره كي نص (حدیث) راغلی دی وَكَذَلِكَ إِذَا قَهْقَهَ او همدارنګه كه لمونځ ګزاره په قهقه خندا سره وخندل (نو لمونځ به له سره كوي) لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْكَلَامِ ځكه چي قهقه خندا د خبرو په شیر ده وَهُوَ قَاطِعٌ او خبري لمونځ ماتوي (فاسدوي).

اللغات: ﴿جُنَّ﴾ د نصر د باب ماضي مجهول صیغه ده: لېونی كېدل. ﴿يَنْدُرُ﴾ د نصر د باب مضارع معلوم صیغه ده: نادره كېدل، كمېدل، كله كله كېدل.

تشریح: **مسئله**: دا ده كه لمونځ كونكی لېونی سو، یا د لمانځه په حالت كي بیده سو او شیطان خطا ایستی، یا بې هوښه سو، نو لمونځ به د سره را ګرځوي، بیا برابره ده كه دا لمونځ كونكی یوازي وي (یعني یوازي لمونځ كوي). او كه مقتدي وي او كه امام وي. دلیل یې دا دی چي په لمانځه كي د دا ډول عوارضو (پېښو) راتلل نادره دي، نو ځكه به دا عوارض د هغه عوارضو په معنیٰ كي نه وي، چي د هغو په باره كي دا حدیث راغلی دي: من قاء او رعف في صلاته...الخ. خلاصه دا چي هغه حدث كوم چي نادره نه وي (بلكي هر وخت پېښېږي لكه قی، باد، د پزي وینې) نو په داسي حدث كي بناء جائز ده، او په نادره حدث كي بناء جائز نه ده. همدارنګه كه لمونځ ګزاره قهقهه خندا وكړه، نو هم بناء جائز نه ده، بلكي له سره به لمونځ كوي، ځكه چي قهقهه خندا د خبرو په شیر ده، او په خبرو سره لمونځ فاسدیږي، ځكه نبي ﷺ فرمایلي دي: مالم يتكلم يعني تر څو چي یې خبري كړي نه وي نو بناء كولای سي، لېكن كه یې خبري وكړي، نو بناء جائز نه ده.

له قرائت څخه د عاجزه كېدلو حكم (او د فقهاؤ قولونه)

وَإِنْ حُصِرَ الْإِمَامُ عَنِ الْقِرَاءَةِ او كه امام له قرائت څخه بند سو (یعني له قرائت څخه عاجزه سو) فَقَدَّمَ غَيْرَهُ او بل سړی یې مخته كړی أَجْزَأَهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ● رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نیز د خلكو لمونځ جائز دی وَقَالَا: لَا يُجْزِئُهُمْ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي د هغوی لمونځ جائز نه دی لِأَنَّهُ يَنْدُرُ وُجُودُهُ ځكه چي له قرائت څخه

● القول الراجح: قول ابی حنیفة رَحِمَهُ الله، كذا فی رد المحتار ج:١، ص:٤٢٦. [القول الراجح ج:١، ص:٩٥]

عاجزه کېدل نادره وي فَأَشْبَهَ الْجَنَابَةَ نو دا د جنابت په ډول سو وَلَهُ أَنَّ الاسْتِخْلَافَ لِعِلَّةِ الْعَجْزِ او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي خليفه جوړول د عاجزه کېدلو په وجه دي وَهُوَ هٰهُنَا أَلْزَمُ او د خليفه جوړولو ضرورت دلته زيات دی وَالْعَجْزُ عَنِ الْقِرَاءَةِ غَيْرُ نَادِرٍ او له قرائت څخه عاجزه کېدل نادره نه دي فَلَا يَلْحَقُ بِالْجَنَابَةِ نو د جنابت سره به نه ملحق کيږي وَلَوْ قَرَأَ مِقْدَارَ مَا تَجُوزُ بِهِ الصَّلَاةُ او که امام دومره اندازه قرائت کړی وو چي په هغه سره لمونځ جائز کېدی لَا يَجُوزُ الاسْتِخْلَافُ بِالْإِجْمَاعِ نو خليفه جوړول په اجماع سره جائز نه دي لِعَدَمِ الْحَاجَةِ إِلَيْهِ ځکه چي خليفه جوړولو ته ضرورت نسته وَإِنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ بَعْدَ التَّشَهُّدِ او که لمونځ گذاره تر تشهد وروسته بې اودسه سو تَوَضَّأَ وَسَلَّمَ نو اودس دي وکړي او سلام دي وگرځوي لِأَنَّ التَّسْلِيمَ وَاجِبٌ ځکه چي سلام گرځول واجب دي فَلَا بُدَّ مِنَ التَّوَضُّؤِ نو ځکه به اودس کول ضروري وي لِيَأْتِيَ بِهِ چي سلام (په اودسه سره) اداء کړي.

اللغات: ﴿حُصِرَ﴾ د ماضي مجهول صيغه ده: بندېدل، منع کېدل، (عاجزه کېدل)، ﴿أَلْزَمُ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات ضروري، زيات لازم.

تشريح: په دې عبارت کي درې بېلابېلې مسئلې بيانيږي:

(۱) **اوله مسئله:** دا ده که يو امام له قرائت څخه عاجزه سو، نور قرائت يې نه سو کولای، بيا يې يو دويم سړی خپل خليفه جوړ کړی، او د امامت لپاره يې را مخته کړی، نو د امام صاحب په نېز دا صحيح دي، او د خلکو لمونځ هم جائز دی، صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي دا صحيح نه دي، نو ځکه به د خلکو لمونځ هم جائز نه وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي داسي حالت پېښېدل ډېر شاذ او نادره دي، نو دا د جنابت د حالت سره مشابه سو، يعني څرنگه چي جنابت د ما ورد به النص په معنیٰ سره نه دی، او د جنابت د پېښېدلو په وخت کي له سره لمونځ کول ضروري دي او خليفه جوړول صحيح نه دي، همدارنگه په دې حالت کي هم له سره لمونځ کول ضروري دي، او خليفه جوړول صحيح نه دي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي د خليفه جوړولو علت او سبب د رکن له اداء کېدلو څخه عاجزه کېدل دي (يعني عجز دی)، او د قرآن په هېرېدلو او له قرائت څخه په عاجزه کېدلو کي دا عجز په پوره توگه سته، ځکه چي که اودس مات سي، نو له مسجد څخه په وتلو او اودس کولو سره د دې تلافي کېدی سي، لېکن که له يو سړي څخه قرآن هېر سي، نو هيڅ ځای د دې تلافي نه سي کېدلی، نو ځکه په دې صورت کي د نورو احداثو په پرتله کي عاجزي زياته ده، نو په دې صورت کي په طريقه اولیٰ سره خليفه جوړول صحيح دي، او کله چي خليفه جوړول صحيح دي، نو ښکاره ده چي لمونځ به هم صحيح وي.

جواب: له والقراءة الخ څخه د صاحبينو د دليل جواب ورکوي چي هغوی وايي له قرائت څخه عاجزه کېدل نادره دي، فرمايي چي دا صورت نادره نه دی، بلکي زيات پېښيږي، نو ځکه دا نادر گرځول او د جنابت سره تړل او لمونځ فاسد په گرځول صحيح نه دي.

(۲) **دويمه مسئله:** دا ده که امام دومره اندازه قرائت کړی وو چي په هغه سره لمونځ صحيح کيږي، او بيا قرآن ځني هېر سو (يعني له قرائت څخه عاجزه سو)، نو اوس د ده لپاره بالاتفاق خليفه جوړول صحيح نه دي، نه د امام صاحب رَحِمَهُ الله

په نیز، نه د صاحبینو رَحِمَهُ الله په نیز، ځکه چې ده د ما تجوز به الصلاة په اندازه قرائت وکړی، نو اوس فرض قرائت اداء سو، او د خلیفه جوړولو هیڅ ضرورت نسته، او دا خو تاسو ته هم معلومه ده چې بېله ضرورته خلیفه جوړول صحیح نه دي.

كه تر تشهد وروسته انسان بې اودسه سي نو څه حكم دى؟

(۳) دریمه مسئله: دا ده که لمونځ گزاره په آخره ناسته کي تر تشهدویلو وروسته بې اودسه سو، نو د ده لپاره حکم دا دی چي ولاړ دي سي، اودس دي وکړي او سلام دي وگرځوي، ځکه چي سلام گرځول واجب دي، نو د واجب د اداء کولو لپاره اودس هم ضروري دی.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، یعني که امام هسي په یو وجه له قرائت څخه عاجزه سو، نو په داسي صورت کي د بل سړي مخته کول او امام جوړول صحیح دي، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله في النهاية انما يجوز الاستخلاف إذا لحقه خجل او خوف فامتنعت عليه القرأة. (فتح القدير ج:۱، ص:۳۳۴). (القول الراجح ج:۱، ص:۱۹۵)

تر تشهد وروسته قصداً اودس ماتول

وَإِنْ تَعَمَّدَ الْحَدَثَ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ او که لمونځ گزاره په دې حالت کي (تر تشهد وروسته) په قصده ځان بې اودسه کړی. أَوْ تَكَلَّمَ یا یې خبري وکړې أَوْ عَمِلَ عَمَلًا يُنَافِي الصَّلَاةَ یا یې داسي یو کار وکړی چي د لمانځه سره منافي (مخالف) وو تَمَّتْ صَلَاتُهُ نو د هغه لمونځ پوره سو لِأَنَّهُ يَتَعَذَّرُ الْبِنَاءُ لِوُجُوْدِ الْقَاطِعِ ځکه چي د لمانځه د فسلونکي شي د پیدا کېدلو په وجه بناء کول متعذره (مشکل) دي لٰكِنْ لَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ خو پر ده د لمانځه راگرځول (هم) نسته لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ عَلَيْهِ شَيْءٌ مِنَ الْأَرْكَانِ ځکه چي له فرضو څخه یو فرض (هم) پر ده پاته نه دي.

اللغات: ﴿تَعَمَّدَ﴾ د تفعّل د باب ماضي صیغه ده: یو کار قصداً کول، د قصد او ارادې له مخي، په نیت سره. ﴿إعادة﴾ دافعال د باب مصدر دی: راگرځول، دویم وار کول.

تشریح: مسئله: دا ده که تر تشهد وروسته لمونځ گزاره قصداً اودس مات کړی، یا یې قصداً خبري وکړې، یا یې یو بل داسي کار وکړی کوم چي د لمانځه منافي وو، نو د ده لمونځ پوره سوه، دلیل یې دا دی چي د لمانځه د فاسدونکي شي د پیدا کېدلو په وجه خو بناء کول مشکل سو، لېکن پر ده د لمانځه راگرځول هم نسته، ځکه چي ټوله ارکان (فرضونه) پوره سوه او یو داسي رکن نسته چي پر ده پاته وي، او پاته سو تحلیل اوخروج بصنعه (یعني په خپل فعل له لمانځه څخه وتل)، نو هغه هم په قصداً فعل سره راغله، که څه هم د سلام په لفظ سره تحلیل واجب وو، لېکن په دې سره په ارکانو کي هیڅ فساد نه راځي، او د عبد الله ابن مسعود رَحِمَهُ الله حدیث هم د دې تقاضا کوي (لکه څرنگه چي په هغه کي ویل سوي دي: که تر تشهد وروسته ستا زړه وغواړي چي ولاړ سې، نو ولاړ سه).

كه تيمم كونكي په لمانځه كي اوبه ووینی نو څه حكم دى؟

فَإِنْ رَأَى الْمُتَيَمِّمُ الْمَاءَ فِيْ صَلَاتِهِ که تیمم والا په خپل لمانځه کي اوبه ولیدې بَطَلَتْ نو د هغه لمونځ باطل سو وَقَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او دا مسئله مخکي تېره سوې ده.

تشريح: فرمايي كه تيمّم والا په لمانځه كي دننه اوبه وليدلې، او پر استعمال يې قادره هم وو، نو د ده لمونځ باطل سو، او دا مسئله په پوره وضاحت سره په باب التيمم كي تېره سوې ده، نو د دوېم ځل لپاره يې دلته نه ذكر كوو.

مسائل اثنا عشريه (يعني هغه دوولس مسئلې چي تر تشهد وروسته د بې اودسه كېدلو په باره كي دي)

فَإِنْ رَآهُ بَعْدَمَا قَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ [١] بيا كه تيمّم والا (متيمّم) د تشهد په اندازه له كښېنستلو څخه وروسته اوبه وليدې أَوْ كَانَ مَاسِحًا فَانْقَضَتْ مُدَّةُ مَسْحِهِ [٢] يا يې پر موزو مسح كړې وه او د مسحې موده يې پوره سوه أَوْ عَلِمَ عُلْيَةً بِعَمَلٍ يَسِيرٍ [٣] يا يې په لږ عمل سره موزې وكښلې أَوْ كَانَ أُمِّيًّا فَتَعَلَّمَ سُورَةً [۴] يا امي (نالوستی) وو او يو سورت يې زده كړی أَوْ عُرْيَانًا فَوَجَدَ ثَوْبًا [۵] يا لغړ (برېند) وو نو كالي يې پيدا كړه أَوْ مُومِيًا فَقَدَرَ عَلَى الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ [۶] يا په اشاره لمونځ كونكی وو نو پر ركوع او سجده قادره سو أَوْ تَذَكَّرَ فَائِتَةً عَلَيْهِ قَبْلَ هٰذِهِ [٧] يا قضائي لمونځ په ياد ورغلی كوم چي تر دې مخكي د ده پر ذمه واجب وو أَوْ أَحْدَثَ الْإِمَامُ الْقَارِئُ فَاسْتَخْلَفَ أُمِّيًّا [٨] يا قاري امام بې اودسه سو نو امي سړی يې د ځان خليفه جوړ كړی أَوْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ فِي الْفَجْرِ [٩] يا د سهار په لمانځه كي لمر راوختی أَوْ دَخَلَ وَقْتُ الْعَصْرِ [١٠] يا د مازيگر وخت داخل سو وَهُوَ فِي الْجُمُعَةِ په داسي حال كي چي هغه د جمعې په لمانځه كي وو أَوْ كَانَ مَاسِحًا عَلَى الْجَبِيرَةِ [١١] يا يې پر پټی مسح كړې وه فَسَقَطَتْ عَنْ بُرْءٍ او هغه د زخم ښه كېدلو په وجه ايله سوه (ليري سوه) أَوْ كَانَ صَاحِبَ عُذْرٍ فَانْقَطَعَ عُذْرُهُ [١٢] يا معذوره وو او عذر يې ختم سو كَالْمُسْتَحَاضَةِ وَمَنْ بِمَعْنَاهَا لكه مستحاضه ښځه او هغه چي د مستحاضې په معنیٰ وي (لكه سلسل بول والا او داسي نور) بَطَلَتِ الصَّلَاةُ فِي قَوْلِ● أَبِي حَنِيفَةَ رحِمَهُ اللهُ نو (په دې ټولو صورتونو كي) د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز د هغه لمونځ باطل سو وَقَالَا تَمَّتْ صَلَاتُهُ او صاحبين رَحِمَهُ الله فرمايي چي لمونځ يې پوره سو وَقِيلَ الْأَصْلُ فِيهِ او ويل سوي دي چي په دې باب كي اصل قاعده دا ده أَنَّ الْخُرُوجَ عَنِ الصَّلَاةِ بِصُنْعِ الْمُصَلِّي فَرْضٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رحِمَهُ اللهُ چي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز د لمونځ گزاره په خپل فعل له لمانځه څخه وتل فرض دي وَلَيْسَ بِفَرْضٍ عِنْدَهُمَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز فرض نه دي فَاعْتِرَاضُ هٰذِهِ الْعَوَارِضِ عِنْدَهُ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز په دې حالت كي د دغه عوارضو (حدثونو) پېښېدل داسي دي كَاعْتِرَاضِهَا فِي خِلَالِ الصَّلَاةِ لكه د لمانځه په مينځ كي د دې عوارضو پېښېدل وَعِنْدَهُمَا كَاعْتِرَاضِهَا بَعْدَ التَّسْلِيمِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز (د دغه عوارضو پېښېدل داسي دي) لكه تر سلام وروسته د دې عوارضو پېښېدل لَهُمَا مَا رَوَيْنَا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ● رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د صاحبينو دليل د ابن مسعود

● القول الراجح: قول ابى حنيفة رَحِمَهُ الله، قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله فى رد المحتار ج: ١، ص:۴۴٩: ومن المقرر طلب الاحتياط فى صحة العبادة لتبرأ ذمة المكلف بها وليس الاحتياط الا بقول الامام الاعظم رَحِمَهُ الله انها تبطل [القول الراجح ج:١، ص:٩٧]

● قد مرّ تخريجه فى حديث رقم:۴۵، راجع.

رَحِمَهُ الله حديث دی کوم چي موږ روايت کړی وَلَهُ أَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ أَدَاءُ صَلَاةٍ أُخْرَىٰ إِلَّا بِالْخُرُوجِ مِنْ هٰذِهِ او د امام صاحب دليل دا دی چي دلمونځ ګزاره لپاره له دې لمانځه څخه د وتلو بغير د بل لمونځ اداء کول ممکن نه دي وَمَا لَا يُتَوَصَّلُ إِلَى الْفَرْضِ إِلَّا بِهِ او هر هغه شی چي له هغه څخه بغير تر فرضو پوري رسېدل ممکن نه وي يَكُونُ فَرْضًا هغه (هم) فرض وي وَمَعْنٰى قَوْلِهِ تَمَّتْ او په حديث کي د نبي ﷺ د دې قول: تمّت صلوته معنیٰ ده قَارَبَتِ التَّمَامَ (يعني) لمونځ پوره کېدلو ته نژدې سو وَالْإِسْتِخْلَافُ لَيْسَ بِمُفْسِدٍ او خليفه جوړول فاسدوونکي نه دي (د لمانځه لپاره) حَتّٰى يَجُوْزَ فِيْ حَقِّ الْقَارِئِ تر دې چي د قاري په حق کي (خليفه جوړول) جائز دي وَإِنَّمَا الْفَسَادُ ضَرُوْرَةُ حُكْمٍ شَرْعِيٍّ او د لمانځه فاسدېدل خو د يو شرعي حکم د ضرورت په وجه سره دي وَهُوَ عَدَمُ صَلَاحِيَّةِ الْإِمَامَةِ او هغه حکم (د امي سړي) د امامت صلاحيت نه لرل دي.

اللغات: ﴿إنقضت﴾ د انفعال د باب ماضي صيغه ده: ختمېدل، ﴿خلع﴾ د فتح د باب ماضي صيغه ده: کښته کېدل، ﴿عُريان﴾ لڅ، برېنډ، ﴿المؤمي﴾ اشاره کونکی، ﴿جبيرة﴾ پټی، پلستر، ﴿برء﴾ ږکېدل، د زخم جوړېدل، ﴿صُنع﴾ کار، کوښښ.

تشريح: په دې عبارت کي هغه دوولس مسئلې بيانيږي چي هغه د تشهد په اندازه تر کښېنستلو وروسته پيښي سي، او دې مسئلو ته د فقهاؤ په اصطلاح کي مسائل اثناعشريه وايي، چي هغه دا دي:
(١) تيمّم کونکي لمونځ ګزاره د تشهد په اندازه تر کښېنستلو وروسته اوبه وليدلې. (٢) يو سړي پر موزو مسح کړې وه او د تشهد په اندازه تر کښېنستلو وروسته يې د مسحي موده پوره سوه. (٣) يو سړي موزې په پښو کړي وې، او د تشهد په اندازه تر ناستي وروسته يې په عملِ يسير يعني په معمولي غوندي عمل سره يې موزې وېستلې، عملِ يسير دا دی چي موزې داسي سستي وي چي د لاسو ضرورت پيدا نه سي، صرف د پښې په معمولي غوندي ښورېدلو سره موزه وخيږي. (٤) يا لمونځ ګذاره امي وو، او د تشهد په اندازه تر ناستي وروسته يې د قرآن يو سورت زده کړی، صاحب د عنايې ويلي دي چي له دې څخه مراد دا دی چي قرآن يې هېر سوی وو، لېکن د تشهد په اندازه تر کښېنستلو وروسته يې په يادسو، دا يې مطلب نه دی چي په دې وخت کي يې زده کړی، ځکه چي د زده کړي لپاره تعليم ضروري دي، او تعليم د لمانځه منافي فعل دی، او بعضو ويلي دي چي د سورت د زده کړي مطلب دا دی چي ده بېله اختياره واورېدی، او بغير له کوښښ څخه د ده يادسو. (٥) لمونځ ګزاره لڅ لمونځ کوی، او د تشهد تر اندازې وروسته يې کالي پيدا کړل. (٦) يا لمونځ ګزاره په اشاره سره لمونځ کوی او د تشهد تر اندازې وروسته يې پر رکوع او سجده قدرت پيدا کړی. (٧) يا ده ته د تشهد په اندازه تر ناستي وروسته قضاء سوی لمونځ ور په يادسو، مثلاً د ماپښين په لمانځه کي د تشهد په اندازه تر کښېنستلو وروسته په يادورغله چي د سهار لمونځ له ده څخه قضاء سوی دی، حال دا چي د صاحب ترتيب کېدلو په وجه هغه مخکي کول پکار وو. (٨) يا د تشهد په اندازه تر ناستي وروسته قاري امام بې اودسه سو او خليفه يې امي سړی جوړ کړی. (٩) يا تشهد په اندازه له ناستي څخه وروسته د سهار لمر راوختی. (١٠) يا د تشهد په اندازه تر ناستي وروسته د مازيګر وخت داخل سو، حال دا چي دا سړی تر اوسه لا د جمعې په لمانځه کي وو. (١١) يا دا چي لمونځ ګزاره په پټي باندي مسح کړې وه، نو د تشهد په اندازه تر ناستي وروسته پټی د زخم جوړوالي په وجه ليري سوه.

(١٢) یا یو سړی معذوره وو، او د معذورینو د احکامو مطابق یې لمونځ کوی، او تر تشهد وروسته یې عذر ختم سو. لکه مستحاضه ښځه یا د دې په معنیٰ نور معذورین، د مثال په توګه سلسل بول والا، یا هغه چې هر وخت یې پزه وینې کوي او داسې نور.

دا ټوله دوولس مسئلې دي، د دې حکم دا دی چې د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز په دې ټولو صوتونو کې لمونځ باطلیږي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې ټولو صورتونو کې لمونځ صحیح او پوره کیږي.

والاصل الخ او بعضې مشائخو فرمایلې دي چې په دې باب کې اصل دا دی چې د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز له لمانځه ځخه وتل د لمونځ کونکي په خپل اختیار سره فرض دي، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز فرض نه دي، نو د دې اصل پر بنیاد د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز په آخري ناسته کې تر تشهد وروسته د دې عوارضو (حدثونو) راتګ کوم چې هر یو جلا جلا ذکر سو داسې دی، لکه د لمانځه په مینځ کې چې راغلي وي. او د لمانځه په مینځ کې د دې عوارضو راتګ لمونځ فاسدوي، نو د تشهد په اندازه تر آخري ناستې وروسته هم د دې عوارضو راتګ لمونځ فاسدوي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز تر آخري ناستې وروسته د دې عوارضو راتګ داسې دی لکه تر سلام وروسته چې راغلي وي. او دا ښکاره خبره ده چې تر سلام ګرځولو وروسته یو عارض لمونځ نه فاسدي.

د صاحبینو دلیل: د عبد الله ابن مسعود ﷺ دا حدیث دی: چې رسول الله ﷺ حضرت ابن مسعود ﷺ ته فرمایلي وو: إذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك إن شئت أن تقوم فقم... (یعني کله چې تا تشهد وویله. یا د تشهد په اندازه کښېنستې نو ستا لمونځ پوره سو، که ته غواړې چې ولاړ سې، نو ولاړ سه!). صاحبین په دې حدیث سره دلیل په دې توګه نیسي دی چې نبي ﷺ د لمانځه پوره کېدل په تشهد ویلو یا د تشهد په اندازه د ناستې سره معلق کړه. نو کوم سړی چې د لمانځه پوره والی په بل شي پورې معلق کوي، هغه له دې نص ځخه مخالفت کوي. لنډه دا چې په دې مسئلو کې هم دا خبره کیږي: "چې که د تشهد په اندازه تر ناستې وروسته یعني که تر آخري ناستې وروسته دا عورض مخته راغله، او دا خبره نه کیږي چې که تر آخري ناستې مخکې راغله"؛ او پر آخره ناسته خو لمونځ پوره کیږي. نو که چې پر آخره ناسته لمونځ پوره کیږي، نو تر آخري ناستې وروسته به لمونځ ځرنګه باطل سي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چې لمونځ ګزاره کوم لمونځ کوي د هغه لپاره له دې لمانځه ځخه وتل. او په بل وخت کې د بل فرضي لمانځه کول فرض دي، او بل فرضي لمونځ تر هغه وخته نه سي اداء کېدلای تر ځو چې لمونځ ګزاره له دې لمانځه ځخه نه ووځي، ګواکې د بل فرض اداء کول له دې فرضو ځخه پر وتلو موقوف دي، او دا خبره تسلیم سوې ده چې کوم شه پر فرضو موقوف وي هغه فرض وي، نو ځکه زموږ په نېز خروج بصنع المصلی (یعني د لمونځ ګزاره په خپل فعل له لمانځه ځخه وتل) فرض دي، او د لمونځ ګزاره لپاره تر تشهد وروسته داسې کول ضروري دي، خو که هغه داسې نه وکړه، نو هغه د فرضو پرېښوونکی سو، او د فرضو په پرېښوولو سره لمونځ باطلیږي، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که تر تشهد وروسته هم له پورتني دوولسو عوارضو ځخه یو عارض مخته راسي نو لمونځ به باطلیږي.

جواب: له ومعنیٰ قوله تمت الخ ځخه د ابن مسعود ﷺ د حدیث جواب دی، د جواب حاصل دا دی چې په حدیث کې تمت صلاتك په معنیٰ سره د قاربت التمام دی، نو معنیٰ یې داسوه: "کله چې ته تشهد ووایې نو ستا لمونځ پوره کېدلو ته نژدې سو"، د دې مثال داسې دی لکه د نبي ﷺ دا قول: من وقف بعرفته فقد تم حجه. (یعني ځوک چې پر عرفت

ودرېدی، د هغه حج پوره سو)، حال دا چي تر وقوفِ عرفات وروسته لا طواف زيارت پاته وي چي هغه فرض دی، نو دلته همدا معنیٰ ده چي حج پوره کېدلو ته نژدې سو.

والاستخلاف الخ په دې سره د يو مقدر سوال جواب ورکوي، سوال دا دی چي کله د تشهد په اندازې تر ناستي وروسته قاري امام بې اودسه سي، او امي سړی خليفه جوړ کړي، نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز بايد د دهٔ لمونځ فاسد نه سي، ځکه چي خليفه جوړول لمُونځ نه فاسدوي، ځکه که دې بې اودسه قاري امام بل قاري خليفه جوړ کړی وای نو لمونځ به نه فاسدېدلای، نو همدارنګه دلته هم لمونځ نه فاسدېدل پکار وو.

جواب دا چي بېشکه خليفه جوړول لمونځ نه فاسدوي، همدا وجه ده چي د قاري لپاره د بل قاري خليفه جوړول جائز دي، خو په ذکر سوې مسئله کي فساد د خليفه جوړولو په وجه نه دی، بلکي د بل شي په وجه دی، او هغه بل شی د شرعي حکم ضرورت دی، او د شرعي حکم ضرورت دا دی چي کوم امي خليفه جوړ کړی سو، په هغه کي د امامت صلاحيت(ورتيا) نسته، نو په امام کي د امامت د صلاحيت د نشتون په وجه لمونځ فاسدېږي، نه دا چي د خليفه جوړولو په وجه.

که امام د لمانځه په دوران کي بې اودسه سي نو څه حکم دی؟

> وَمَنِ اقْتَدٰى بِإِمَامٍ او څوک چي په امام پسي اقتداء وکړي بَعْدَ مَا صَلّٰى رَكْعَةً وروسته له دې چي امام يو رکعت کړی وي(يعني په دويم رکعت کي په امام پسي اقتداء وکړي) فَأَحْدَثَ الْإِمَامُ او امام بې اودسه سي فَقَدَّمَهُ او بيا امام همدغه مسبوق(چي له ده څخه يو رکعت تېر سوی دی) مخته کړي أَجْزَأَهُ نو جائز دي لِوُجُودِ الْمُشَارَكَةِ فِي التَّحْرِيمَةِ ځکه چي په تحريمه کي مشارکت(ګډون) سته وَالْأَوْلٰى لِلْإِمَامِ أَنْ يُقَدِّمَ مُدْرِكًا خو د امام لپاره غوره دا ده چي مدرک سړی(يعني هغه سړي چي ټوله رکعتونه يې نيولي وي) مخته کړي لِأَنَّهُ أَقْدَرُ عَلٰى إِتْمَامِ صَلَاتِهِ ځکه چي مدرک د امام د لمانځه پر پوره کولو زيات قادره دی وَيَنْبَغِيْ لِهٰذَا الْمَسْبُوْقِ أَنْ لَا يَتَقَدَّمَ او دې مسبوق لپاره مناسب دا ده چي مخته نه سي لِعَجْزِهِ عَنِ التَّسْلِيْمِ ځکه چي دی له سلام ګرځولو څخه عاجزه دی.

اللغات: ﴿أَحْدَثَ﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده: اودس ماتېدل، ﴿مُدْرِك﴾ هغه مقتدی چي له شروع څخه يې لمونځ نيولی وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د امام اقتداء وکړه په داسي حال کي چي امام يو رکعت کړی وو. نو ښکاره ده چي دا سړی مسبوق سو، په نورو الفاظو داسي هم ويل کېدای سي چي که يو مسبوق سړي د امام اقتداء وکړه، او امام بې اودسه سو، اومسبوق يې مخته کړی يعني مسبوق يې خپل خليفه جوړ کړی، نو دا جائز دي، ځکه چي امام او مسبوق دواړه په تحريمه کي مشترک دي، نو د هغه خليفه جوړول هم صحيح دي. لېکن غوره دا ده چي امام يو مدرک سړی خليفه جوړ کړي، ځکه چي مدرک د امام د لمانځه پر پوره کولو زيات قدرت لري، ځکه که مسبوق خليفه جوړ کړی سي، نو مسبوق به د سلام ګرځولو لپاره بل څوک خليفه جوړوي، او ښکاره ده چي په دې صورت کي دوه واره خليفه جوړول راځي، او يو وار خليفه جوړول غوره دي په نسبت سره و بار بار خليفه جوړولو ته.

که مسبوق خليفه جوړ سي نو څه حکم دی؟

فَلَوْتَقَدَّمَ بيا که (دا) مسبوق سړی مخته سو يَبْتَدِئُ مِنْ حَيْثُ انْتَهَى إِلَيْهِ الْإِمَامُ نو له هغه ځايه به لمونځ شروع کوي کوم ځای ته چي امام رسېدلی وو لِقِيَامِهِ مَقَامَهُ ځکه چي (اوس دا) مسبوق د امام پر ځای ولاړ دی (يعني دامام قائم مقام دی) وَإِذَا انْتَهَى إِلَى السَّلَامِ يُقَدِّمُ مُدْرِكًا او کله چي (دا مسبوق سړی) سلام ته ورسېږي نو (يو) مدرک سړی به مخته کړي يُسَلِّمُ بِهِمْ چي (دا مدرک سړی به) په قوم سره سلام وګرځوي فَلَوْ أَنَّهُ حِينَ أَتَمَّ صَلَاةَ الْإِمَامِ قَهْقَهَ بيا که (دا) مسبوق خليفه دامام د لمانځه د پوره کولو په وخت کي تهقهه خندا وکړه أَوْ أَحْدَثَ مُتَعَمِّدًا يا يې قصداً ځان بې اودسه کړی أَوْ تَكَلَّمَ يا يې خبري وکړې أَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ يا له مسجد څخه ووتی فَسَدَتْ صَلَاتُهُ نو د ده لمونځ فاسد سو وَصَلَاةُ الْقَوْمِ تَامَّةٌ او د مقتديانو لمونځ پوره سو لِأَنَّ الْمُفْسِدَ فِي حَقِّهِ وُجِدَ فِي خِلَالِ الصَّلَاةِ ځکه چي فاسدونکی شی د مسبوق په حق کي د لمانځه په دوران کي واقع سو وَفِي حَقِّهِمْ بَعْدَ تَمَامِ أَرْكَانِهَا او د مقتديانو په حق کي د لمانځه د ارکانو تر پوره کېدلو وروسته (واقع سو) وَالْإِمَامُ الْأَوَّلُ إِنْ كَانَ فَرَغَ لَا تَفْسُدُ صَلَاتُهُ او که اول امام (له لمانځه څخه) فارغ سوی وو نو د هغه لمونځ نه فاسدېږي وَإِنْ لَمْ يَفْرُغْ تَفْسُدُ او که نه وو فارغ سوی نو د هغه لمونځ (هم) فاسدېږي وَهُوَ الْأَصَحُّ همدا زيات صحيح ده.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که بې اودسه امام خپل خليفه يو مسبوق مقتدی جوړ کړی، نو دا مسبوق دي له هغه ځايه څخه لمونځ شروع کړي تر کومه ځايه چي امام رسېدلی وي، ځکه چي دی دامام قائم مقام دی، او کله چي مسبوق لمونځ پوره کړي او تر سلام ګرځولو پوري ورسېږي، نو په خپله دي شاته سي، او يو مدرک دي رامخته کړي، د دې لپاره چي هغه په مقتديانو سلام وګرځوي او د دوی لمونځ ور پوره کړي، او مسبوق خليفه به مدرک په دې وجه مخته کوي ځکه چي مسبوق په خپله له سلام ګرځولو څخه عاجزه دی، ځکه چي تر اوسه پر ده يو رکعت لا پاته دی، نو له داسي سړي څخه دي مرسته طلب کړي چي هغه د سلام قدرت لري.

فلو أنه حين الخ او که صورت داسي سو چي کله مسبوق خليفه د امام لمونځ پوره کړی، نو تهقهه خندا يې وکړه، يا يې قصداً اودس مات کړی، يا يې خبري وکړې، يا له مسجد څخه ووتی، نو په دې صورتونو کي د مسبوق خليفه لمونځ په خپله فاسد سو، همدارنګه که په مقتديانو کي يو مسبوق وو، نو د هغه لمونځ هم فاسد سو، او د پاته مقتديانو لمونځ پوره سو، په دې شرط چي دا مقتديان له اوله څخه تر آخره پوري د امام سره شريک سوي وي.

دليل: دا دی چي د لمانځه فاسدونکی شی د مسبوق په حق کي د لمانځه په مينځ کي راغلی، او د مقتديانو په حق کي د ټولو ارکانو تر پوره کېدلو وروسته راغلی، او دا خبره تسليم سوې ده چي د لمانځه په مينځ کي د مُفسد شي راتلل لمونځ فاسدوي، لېکن د ارکانو تر پوره کېدلو وروسته لمونځ نه فاسدوي.

والإمام الاول الخ پاته سو اول امام نو د هغه دوه حالتونه دي نو که هغه اودس کړی وو او په لمانځه کي شريک سوی وو، او د دويم امام سره يې خپل لمونځ پوره کړی وو نو د هغه لمونځ هم پوره سو، لېکن که هغه د دويم امام سره لمونځ پوره کړی نه وو، نو په دې صورت کي صحيح دا ده چي د هغه لمونځ هم فاسدېږي، ځکه چي هغه د دويم امام يعني د مسبوق

مقتدي دی، او څرنګه چې د مسبوق لمونځ فاسد سوی دی، نو ځکه به د هغه لمونځ هم فاسديږي، صاحب د هدايې په اصح وېلو سره د ابو حفص له هغه روايت څخه احتراز کړی دی چې په هغه کې د اول امام لمونځ فاسد نه بلکې صحيح ګرځول سوی دی.

که امام تر تشهد وروسته لمونځ فاسد کړي نو د مسبوق د لمانځه حکم

فَإِنْ لَمْ يُحْدِثِ الْإِمَامُ الْأَوَّلُ (لېکن) که اول امام بې اودسه نه سو وَقَعَدَ قَدْرَ التَّشَهُّدِ او د تشهد په اندازه کښېنستی ثُمَّ قَهْقَهَ أَوْ أَحْدَثَ مُتَعَمِّدًا بيا يې قهقهه خندا وکړه يا يې قصداً ځان بې اودسه کړی فَسَدَتْ صَلَاةُ الَّذِي لَمْ يُدْرِكْ أَوَّلَ صَلَاتِهِ عِنْدَ •أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز د هغه سړي لمونځ فاسديږي چې د لمانځه اوله حصه يې نېولې نه وي (يعني د مسبوق لمونځ فاسديږي) وَقَالَا: لَا تَفْسُدُ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې لمونځ يې نه فاسديږي وَإِنْ تَكَلَّمَ أَوْ خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ او که امام خبري وکړي يا له مسجد څخه ووتی لَمْ تَفْسُدْ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا نو لمونځ نه فاسديږي په اتفاق سره د دې تولو عالمانو لَهُمَا أَنَّ صَلَاةَ الْمُقْتَدِي بِنَاءٌ عَلَى صَلَاةِ الْإِمَامِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې د مقتدي لمونځ د امام پر لمانځه مبني دی جَوَازًا وَفَسَادًا د جواز او فساد دواړو په اعتبار سره وَلَمْ تَفْسُدْ صَلَاةُ الْإِمَامِ او د امام لمونځ نه دي فاسد سوی فَكَذَا صَلَاتُهُ همدارنګه به د مقتدي لمونځ هم (فاسد نه وي) وَصَارَ كَالسَّلَامِ وَالْكَلَامِ او دا د سلام او خبرو په څېر سو (يعني لکه څرنګه چې تر تشهد وروسته د امام په خبرو او سلام ګرځولو سره د مسبوق لمونځ نه فاسديږي، همدارنګه په ذکر سوې مسئله کې هم د هغه لمونځ نه فاسديږي) وَلَهُ أَنَّ الْقَهْقَهَةَ مُفْسِدَةٌ لِلْجُزْءِ الَّذِي يُلَاقِيهِ مِنْ صَلَاةِ الْإِمَامِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې قهقهه د هغه جزء لپاره فاسدونکې ده کوم چې د امام د لمانځه سره متصل وي (يعني قهقهه چې په کومه حصه کې هم واقع سي نو د امام د لمانځه هغه حصه ورفاسدوي) فَيُفْسِدُ مِثْلَهُ مِنْ صَلَاةِ الْمُقْتَدِي نو د دغه جزء په شان به د مقتدي د لمانځه جزء هم فاسديږي غَيْرَ أَنَّ الْإِمَامَ لَا يَحْتَاجُ إِلَى الْبِنَاءِ لېکن امام بناء ته ضرورت نه لري (د فرائضو د پوره کېدلو په وجه) وَالْمَسْبُوقُ يَحْتَاجُ إِلَيْهِ او مسبوق بناء ته ضرورت لري (او دلته پر فاسد لمونځ بناء کوي) وَالْبِنَاءُ عَلَى الْفَاسِدِ فَاسِدٌ او پر فاسد شي بناء کول (هم) فاسد وي بِخِلَافِ السَّلَامِ لِأَنَّهُ مُنْهٍ په خلاف د سلام ځکه چې هغه د لمانځه پوره کونکی دی وَالْكَلَامُ فِي مَعْنَاهُ او خبري هم د سلام په معنیٰ سره دي وَيَنْتَقِضُ وُضُوءُ الْإِمَامِ او د امام اودس ماتيږي لِوُجُودِ الْقَهْقَهَةِ فِي حُرْمَةِ الصَّلَاةِ د لمانځه په حرمت کې د قهقهه خندا راتللو په وجه.

اللغات: ﴿يلاقي﴾ د مفاعلې د باب مضارع ده: يو ځای کېدل، (متصل کېدل). ﴿ينتقض﴾ د افتعال د باب مضارع ده: ماتېدل له نقض څخه دی.

• القول الراجح: قول ابی حنيفة، كذا في الدر المختار ج:۱، ص:۴۵۲. [القول الراجح ج:۱، ص:۹۸]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو سړي خلكو ته لمونځ وركوی، او په مقتديانو كي مسبوق او مدرك يعني هر ډول خلك وه، او په اولو ركعتو كي خو د امام اودس مات نه سو، ليكن په آخره ناسته كي د تشهد په اندازه تر كښېناستلو وروسته امام په زوره وخندل يعني قهقهه خندا يې وكړه، او قصداً يې اودس مات كړی، نو په دې صورت كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په مقتديانو كي د هغو خلكو لمونځ فاسديږي كوم چي مسبوق دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز نه فاسديږي، خو د مدرك مقتديانو لمونځ بالاتفاق صحيح دی، همدارنګه كه امام ته له قهقهې څخه علاوه بل عارض ور پېښ سو، د مثال په توګه خبري يې وكړې، يا له مسجد څخه ووتی، نو بالاتفاق د هيچا لمونځ هم نه فاسديږي، نه د مدرك مقتديانو او نه د مسبوق مقتديانو.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د مقتدي لمونځ هغه كه مدرك وي او كه مسبوق د جواز او فساد په اعتبار سره د امام پر لمانځه مبني او موقوف دی، او په ذكر سوې مسئله كي چي څرنګه د امام لمونځ فاسد سوی نه دی، همدارنګه به د مقتديانو لمونځ هم نه فاسديږي.

د امام صاحب دليل: دا دی چي دا ښكاره خبره ده چي په قهقهه سره لمونځ فاسديږي، او چي د لمانځه د هر جزء سره قهقهه متصله سي هغه جزء فاسديږي، او څرنګه چي د مقتديانو لمونځ د صحت او فساد په اعتبار سره د امام پر لمانځه موقوف دی، نو قهقهه چي د امام د لمانځه كوم جزء ور فاسد كړي د مقتديانو د لمانځه هم هغه جزء ور فاسدوي، او څرنګه چي په ذكر سوې مسئله كي قهقهه په آخره ناسته كي تر تشهد وروسته پېښه سوې ده، نو د امام او د مدرك مقتديانو پر لمانځه به د دې قهقهې هيڅ اثر نه وي، ځكه چي په آخره ناسته كي د تشهد په اندازه كښېنستل د لمانځه آخري ركن دی، او قهقهه د آخري ركن تر اداء كېدلو وروسته پېښه سوې ده، نو ځكه به دا قهقهه د امام او مدرك مقتديانو اصل لمونځ نه فاسدوي، ځكه چي په آخره ناسته كي د تشهد په اندازه تر كښېنستلو وروسته د دوی لمونځ پوره سو، ليكن دا قهقهه به د مسبوقينو لمونځ فاسدوي، ځكه چي د مسبوق والي په وجه د دوی لمونځ تر اوسه لا نه دی پوره سوی، بلكي پر دې لمانځه نور پاته سوی لمونځ بناء كوي، او څرنګه چي د دوی په حق كي د لمانځه دا جزء فاسد سوی دی، نو ځكه به د دوی ټوله لمونځ فاسد وي، ځكه چي پر فاسد لمونځ بناء كول صحيح نه دي، د دې په خلاف د امام او د مدرك مقتديانو لمونځ صحيح دی، ځكه چي د امام او مدرك لپاره د بناء كولو هيڅ ضرورت نسته.

بخلاف السلام الخ فرمايي چي د سلام او خبرو (كلام) مسئله جلا ده د قهقهې او د قصداً حدث له مسئلې څخه، ځكه چي السلام عليكم لمونځ نه دی بلكي د لمانځه پوره كونكی لفظ دی، يعني د سلام په ذريعه لمونځ پوره كيږي، او څرنګه چي د سلام په ډول كلام هم خطاب دی، نو ځكه به كلام هم د سلام په معنىٰ كي وي، نو نه به په سلام سره لمونځ فاسديږي او نه په كلام سره، او بيا دا دواړه پر قهقهه او حدث قياسول هم صحيح نه دي، ځكه چي مورد ښوولي دي چي قهقهه او داسي نور لمونځ فاسدونكي دي او سلام او داسي نور د لمانځه پوره كونكي دي.

وينتقض الخ د دې حاصل دا دی چي د امام صاحب او طرفينو رَحِمَهُمُ الله په نيز په ذكر سوې مسئله كي خو د امام لمونځ نه فاسديږي، ځكه چي دا قهقهه د لمانځه د اركانو له بشپړتيا څخه وروسته راغلې ده، خو د دوی په نيز د امام اودس ماتيږي، او هغه ته د را روان لمانځه لپاره د نوي اودس كول ضروري دي، ځكه چي د هغه دا قهقهه د لمانځه په حرمت كي راغله، او د لمانځه په حرمت كي راتلونكې قهقهه اودس ماتوي، د لمانځه د حرمت مطلب دا دی، چي دا قهقهه په داسي وخت كي راغله چي د لمانځه ختمېدلو ته لا دومره وخت پاته وو، چي په هغه كي قهقهه او داسي نور شيان حرام وه، يعني څرنګه چي تر اوسه صرف تشهد پوره سوی وو، سلام نه وو ګرځول سوی، نو ځكه دا قهقهه اوس صحيح نه وه. د

دې په خلاف امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې څرنګه په ذکر سوې مسئله کې د امام لمونځ صحيح دی، همدارنګه د هغه اودس هم پاته دی، ځکه چې د امام زفر رَحِمَهُ الله په نيز قاعده دا ده چې أن كل قهقهة توجب إعادة الصلاة توجب الوضوء، وما لا فلا. يعني د ده په نيز چې کومه خندا د لمانځه د راګرځولو سبب وي هغه خندا د اودس لپاره فاسدونکې هم ده، او په ذکر سوې مسئله کې چې څرنګه د دې قهقهې په سبب لمونځ نه راګرځول کيږي، نو ځکه به اودس هم نه فاسدوي. (منيه ج:١، ص:٢٠١)

راجح قول: په پورتنې مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی. قال العلامة عبيد الله بن مسعود بن تاج الشريعة رَحِمَهُ الله وهكذا قهقهة الامام وحدثه عمدا صلوة المسبوق أي يبطل بعد التشهد صلوة المسبوق لوقوعه في خلال صلوته. (شرح الوقاية ج:١، ص:١٨٦). [القول الراجح ج:١، ص:٩٨]

که د لمانځه په يو رکن کې انسان بې اودسه سي نو هغه رکن به راګرځول کيږي، که نه؟

> **وَمَنْ أَحْدَثَ** او کوم سړی چې بې اودسه سو **فِي رُكُوعِهِ أَوْ سُجُودِهِ** په خپله رکوع يا سجده کې **تَوَضَّأَ وَبَنَى** نو هغه دې اودس وکړي او د لمانځه بناء دې وکړي **وَلَا يَعْتَدُّ بِالَّتِي أَحْدَثَ فِيهَا** او هغه رکن (يعني رکوع او سجده) دې نه شماري چې په هغه کې بې اودسه سوی وي **لِأَنَّ إِتْمَامَ الرُّكْنِ بِالِانْتِقَالِ** ځکه چې رکن په نقل کېدلو سره پوره کيږي **وَمَعَ الْحَدَثِ لَا يَتَحَقَّقُ** او د حدث په وجه انتقال ثابت نه سو **فَلَا بُدَّ مِنَ الْإِعَادَةِ** نو ځکه د رکن راګرځول ضروري دي **وَلَوْ كَانَ إِمَامًا** او که دا بې اودسه امام وو **فَقَدَّمَ غَيْرَهُ** او بل سړی يې مخته کړی (يعني خليفه يې جوړ کړی) **دَامَ الْمُقَدَّمُ عَلَى الرُّكُوعِ** نو مخته کړی سوی (خليفه) دې پر رکوع دوام وکړي **لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ الْإِتْمَامُ بِالِاسْتِدَامَةِ** ځکه چې د خليفه لپاره په دوام سره د رکوع پوره کول ممکن دي.

اللغات: ﴿لا يعتدّ﴾ د افتعال د باب نفي صيغه ده: شمارل، ﴿دام﴾ د نصر د باب ماضي ده: پاته کېدل، همېشتوب.
﴿المقدّم﴾ کوم يو چې مخکې سوی وي (مراد ځنې خليفه دی)، ﴿استدامة﴾ پاته کېدل، همېشتوب.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی په رکوع يا سجده کې بې اودسه سو، نو د هغه لپاره حکم دا دی چې اودس دې وکړي او پر لمانځه دې بناء وکړي، او په کومه رکوع يا سجده يعني په کوم رکن کې چې بې اودسه سوی وو، هغه دې پوره نه شماري، بلکې د بناء کولو په وخت کې دې هغه را وګرځوي، ځکه چې يو رکن هغه وخت پوره کيږي چې کله بل رکن ته منتقل سي، او د بې اودسی (حدث) په وخت کې د بل رکن و طرف ته منتقل کېدل ممکن نه دي، ځکه څرنګه چې د رکن د اداء کولو لپاره طهارت شرط دی، همدارنګه دويم رکن ته د انتقال لپاره هم طهارت شرط دی، او د حدث په وجه سره طهارت ختم سوی دی، همدا وجه ده چې په کوم رکن کې حدث راسي، د هغه رکن راګرځول به ضروري وي.

ولو كان إماماً الخ د دې حاصل دا دی چې که دا سړی امام وو او په رکوع کې بې اودسه سو، او بيا يې په تېښته (يعني په رکوع کې دننه) بل مقتدي خليفه جوړ کړی، نو د دې خليفه لپاره له شروع څخه د رکوع کولو ضرورت نسته، بلکې د رکوع په اندازه دې په همدغه رکوع کې پاته سي، دليل يې دا دی چې په کوم رکن کې چې دوام کيږي او د هغه د اداء کولو لپاره څه وخت پکار وي، په هغه کې پاته کېدلو او استدامت ته د انشاء حکم ور کول کيږي، (يعني که لمونځ کونکی

په هغه رکن کې پاته سي او له شروع څخه يې نه راوګرځوي نو دا حکم به کیږي چي لمونځ کونکي دا رکن له شروع څخه کړی دی)، نو دلته هم د خليفه لپاره په استدامت او پاته کېدلو سره د رکوع پوره کول ممکن دي، نو ځکه ووېل سوه چي هغه دي په رکوع د رکوع په اندازه پاته سي، له شروع څخه د رکوع کولو هيڅ ضرورت نسته.

د لمانځه په ارکانو کي د ترتيب هېرېدلو حکم
(او د دې د بېلا بېلو صورتونو بيان)

وَلَوْتَذَكَّرَ وَهُوَرَاكِعٌ أَوْسَاجِدٌ او که لمونځ ګزار ته د رکوع يا سجدې په حالت کي په ياد ورغله أَنَّ عَلَيْهِ سَجْدَةً چي پر ده يوه سجده پاته وه فَانْحَطَّ مِنْ رُكُوعِهِ نو هغه له رکوع څخه د سجدې د قضاء راوړلو لپاره ټيټ سو أَوْ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ سُجُودِهِ يا يې خپل سر له سجدې څخه پورته کړی فَسَجَدَهَا او قضاء سوې سجده يې وکړه يُعِيدُ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ نو رکوع او سجده به راګرځوي وَهٰذَا بَيَانُ الْأَوْلٰى او دا بيان د افضيلت (اولويت) دی لِتَقَعَ أَفْعَالُ الصَّلَاةِ مُرَتَّبَةً بِالْقَدْرِ الْمُمْكِنِ د دې لپاره چي تر خپلې وسه (او طاقته) د لمانځه افعال په ترتيب سره اداء سي وَإِنْ لَمْ يُعِدْ أَجْزَأَهُ او که رکوع يا سجده يې نه را وګرځوله نو دا هم د ده لپاره جائز دي لِأَنَّ التَّرْتِيبَ فِي أَفْعَالِ الصَّلَاةِ لَيْسَ بِشَرْطٍ ځکه چي د لمانځه په افعالو کي ترتيب شرط نه دی وَلِأَنَّ الِانْتِقَالَ مَعَ الطَّهَارَةِ شَرْطٌ او ځکه چي په اودسه سره منتقل کېدل شرط دي وَقَدْ وُجِدَ او هغه پيدا سوه (يعني هغه دلته سته) وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ* أَنَّهُ يَلْزَمُهُ إِعَادَةُ الرُّكُوعِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ څخه روايت دی چي پر دې لمونځ ګزاره د رکوع او سجدې راګرځول ضروري دي لِأَنَّ الْقَوْمَةَ فَرْضٌ عِنْدَهُ ځکه چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ په نيز قومه فرض ده.

اللغات: ﴿تَذَكَّرَ﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: په يادېدل، په ياد راتلل. ﴿اِنْحَطَّ﴾ د انفعال د باب ماضي ده: کېدل، ټيټېدل، کښته کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که لمونځ ګزار ته د رکوع په وخت کي دا په ياد ورغله چي پر ده مخکي د تلاوت سجده يا يو بله سجد پاته وه، يا د سجدې په حالت کي په ياد ورغله چي پر ده بله سجده پاته وي، نو د رکوع يا د سجدې په حالت کي يې سر ټيټ کړی او قضائي سجده يې راوګرځول، نو د ده قضائي سجده خو صحيح سوه، لېکن په کومه رکوع يا سجده کي چي يې قضائي سجده وکړه، هغه رکوع او سجده به راګرځوي، او دا راګرځول غوره او مستحب دي، د دې لپاره چي حتى الامکان افعال په ترتيب سره اداء سي، او له رکوع او سجدې څخه قضائي سجده مخکي کول ممکن دي، نو ځکه به د هغې مخکي کول غوره وي.

وإن لم يعد الخ خو که رکوع او سجده يې نه را وګرځول، نو بيا هم صحيح ده، ځکه چي په کومه رکوع او سجده کي چي قضائي سجده په ياد ورغلې وي هغه رکوع او سجده خو په حقيقت کي سوې ده، خو راګرځول يې صرف د ترتيب په

* القول الراجح: قول الطرفين، قال العلامة عبيد الله بن مسعود رَحِمَهُ اللهُ: و إن تذكر في ركوع او سجوده أنه ترک سجدة هو في الركعة الاولى فقضاؤها لا يجب عليه اعادة الركوع او السجود الذى تذكره فيه لكن إن اعادا أن يكون مندوباً، شرح الوقاية ج:١، ١٤٢. [القول الراجح ج:١، ص: ٩٩]

وجه دي، لېکن څرنګه چې د لمانځه په افعالو کې ترتیب شرط نه دی. نو ځکه که په افعالو کې ترتیب را نه سي نو په لمانځه کې هیڅ فرق نه راځي.

دلیل: په افعالو کې د ترتیب د نه شرط کېدلو دلیل دا دی چې مسبوق (هغه سړی چې څه لمونځ ځني تېر سوی وي)، هغه خپل لمونځ له هغه ځایه شروع کوي له کوم ځای څخه چې امام ونیسي. بیا د امام تر سلام ګرځولو وروسته پاته سوی لمونځ راګرځوي، ګواکې مسبوق آخري لمونځ اول اداء کوي او اول لمونځ وروسته اداء کوي. نو که ترتیب شرط وای نو د مسبوق لپاره به د جماعت د عذر په وجه د ترتیب پرېښوول جائز نه وای.

وعن أبي يوسف الخ فرمایي چې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز که لمونځ ګزاره په رکوع کې وو، او په رکوع کې قضائي سجده په یاد ورغله، بیا بغیر له دې څخه چې له رکوع څخه سر راپورته کړي د دې قضائي سجدې د اداء کولو لپاره ټیټ او منتقل سو، نو په دې صورت کې پر ده د دې رکوع راګرځول ضروري دي، ځکه چې د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز له رکوع څخه سر راپورته کول او قومه کول فرض دي، نو لمونځ ګزاره چې کله سیده سجدې ته ولاړی سر یې راپورته نه کړی، نو هغه دا فرض پرېښووی، او رکوع یې اداء نه سوه، نو ځکه به پر ده د دې رکوع راګرځول ضروري یې.

که د امام شاته صرف یو مقتدي وي او امام بې اودسه سي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ أَمَّ رَجُلًا وَاحِدًا او که یو چا یوه سړي ته لمونځ ورکوی (یعني مقتدي یې صرف یو وو) فَأَحْدَثَ وَخَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ نو بیا دغه لمونځ ورکوونکی (یعني امام) بې اودسه سو او له مسجد څخه ووتی فَالْمَأْمُومُ إِمَامٌ نو مقتدي امام دی نَوَى أَوْ لَمْ يَنْوِ هغه که اول امام د ده د امامت نیت کړی وي او که نه وي لِمَا فِيهِ مِنْ صِيَانَةِ الصَّلَاةِ ځکه چې په دې کې د لمانځه ساتنه ده وَتَعْيِينُ الْأَوَّلِ لِقَطْعِ الْمُزَاحَمَةِ او د اول امام لپاره (د یو سړي) متعین کول د مزاحمت (خند او انتشار) د مخنیوي لپاره دي وَلَا مُزَاحَمَةَ هٰهُنَا او دلته هیڅ مزاحمت نسته وَيُتِمُّ الْأَوَّلُ صَلَاتَهُ مُقْتَدِيًا بِالثَّانِي او اول امام به خپل لمونځ پوره کوي د دویم (امام) په اقتداء کولو سره (یعني اول امام دي تر اودس کولو وروسته د دویم امام مقتدي جوړ سي او خپل لمونځ دي پوره کړي) كَمَا إِذَا اسْتَخْلَفَهُ حَقِيقَةً لکه په هغه صورت کې چې کله یې حقیقتًا دویم امام خلیفه جوړ کړی وي وَلَوْ لَمْ يَكُنْ خَلْفَهُ إِلَّا صَبِيٌّ أَوْ امْرَأَةٌ او که د بې اودسه امام شاته صرف کوچنی یا ښځه وه قِيلَ تَفْسُدُ صَلَاتُهُ نو یو قول دا دی چې د امام لمونځ فاسدیږي لِاسْتِخْلَافِ مَنْ لَا يَصْلُحُ لِلْإِمَامَةِ د هغه چا د خلیفه جوړېدلو په وجه چې هغه د امامت صلاحیت (ورتیا) نه لري وَقِيلَ لَا تَفْسُدُ او بل قول دا دی چې د بې اودسه امام لمونځ نه فاسدیږي لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَدِ الِاسْتِخْلَافُ قَصْدًا ځکه چې قصداً د خلیفه جوړول نه دي راغلي (یعني امام په خپل قصد سره ښځه یا کوچنی د امامت لپاره نه دي مخته کړي) وَهُوَ لَا يَصْلُحُ لِلْإِمَامَةِ او (په خپله) دا (کوچنی او ښځه) د امامت صلاحیت نه لري.

اللغات: ﴿أَمَّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: امامت کول، لمونځ ورکول. ﴿مَأْمُوم﴾ مقتدي. ﴿صِيَانَة﴾ ساتنه، ژغورنه، حفاظت. ﴿مُزَاحَمَة﴾ خند، ستونزه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یوه سړي د بل سړي امامت وکړی، (یعني له امام څخه ملسوا صرف یو مقتدي وو) بیا امام بې اودسه سو، او له مسجد څخه ووتی، نو د هغه پر ځای مقتدي په خپله امام ګرځي، برابره خبره ده که اول امام د

ـه ده د خلافت نيت کړی وي، که نه وي، خو په دې شرط چي دی د امامت اهل (لائق) وي. (په دې عبارت کي دا احتمال هم سته چي مقتدي د خليفه کېدلو نيت کړی وي، که نه وي).

دليل: دا دی چي په دې صورت کي يعني د مقتدي په امام کېدلو کي د مقتدي د لمانځه ساتنه او محافظت دی، ځکه ی مقتدی امام نه کړی سي نو د امامت ځای به خالي پاته سي، او کله چي د امامت ځای له امام څخه خالي سي نو د مقتدي لمونځ فاسديږي، نو ځکه موږ وويل چي په ذکر سوي صورت کي مقتدي په خپله امام ګرځي.

وتعين الأول الخ له دې ځايه ديو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا دی چي د مقتدي په خپله امام جوړېدل موږ نه منو، ځکه د بې اودسه کېدلو په وخت کي دا دويم سړی (مقتدی) هغه وخت امام جوړېږي چي کله د اول امام له طرفه د ده تعيين وسي، او دلته تعيين نه دي سوی، نو ځکه موږ د ده امامت نه منو.

جواب: صاحب د هدايې د دې جواب ورکوي چي ورور! تعين هلته کېږي چي هلته له امام څخه ماسوا مقتدی يو نه وي بلکي ډېر وي، د دې لپاره چي په مقتديانو کي انتشار او خندا را نه سي (يعني ديو زړه به غوارې چي زه مخته سم او د بل زړه به غوارې چي زه مخته سم، يا دا چي هيڅوک به هم نه مخته کېږي نو له دې کبله به کړکېچ او انتشار پيدا سي)، او څرنګه چي په ذکر سوې مسئله کي صرف يو مقتدی دی، نو معلومه ده چي هيڅ کړکېچ او انتشار نه پيدا کېږي، نو ځکه دلته د تعيين ضرورت نسته، او بې له تعيينه په اتوماتيک توګه سرۀ مقتدی امام جوړېږي، نو کله چي دا سړی په خپله امام جوړ سو، نو اول امام به اودس وکړي، او په دې امام پسي به اقتداء وکړي او خپل لمونځ به پوره کړي، لکه څرنګه چي په هغه صورت کي به يې هم د دې امام اقتداء کولای کله چي يې دی حقيقتاً خليفه جوړ کړی وای.

ولولم يكن الخ فرمايي که د بې اودسه امام شاته نابالغه کوچنی يا ښځه وه، بل څوک نه وو، نو په دې باره کي د مشائخو اختلاف دی، د بعضو خيال دا دی چي د امام لمونځ فاسديږي، ځکه چي ده هغه انسان خليفه جوړ کړی کوم چي د امامت اهل او لايق نه دی، نو کله چي کوچنی يا ښځه د امامت لپاره که څه هم حکماً متعين کړل سوه، نو بې اودسه امام د دوی اقتداء کونکی سو، او قاعده دا ده چي کوم سړی د داسې انسان اقتداء کوي چي هغه د امامت اهل نه وي، نو د هغه لمونځ فاسديږي، او بعضو مشائخو ويلي دي چي د هغه لمونځ نه فاسديږي، ځکه چي د لمانځه فاسدېدل خو د مقتدي پر خليفه کېدلو موقوف دي، او هغه دلته نسته، ځکه چي خليفه جوړول به حقيقةً وي يا حکماً، او دلته له دواړو څخه يو هم نسته، حقيقةً خو ځکه نسته چي دې امام خو قصداً څوک خليفه نه دي جوړ کړی، او حکماً ځکه نسته چي کوچنی يا ښځه د امامت صلاحيت او لياقت نه لري، نو کله چي په دې دواړو کي د امامت صلاحيت نسته، نو حکماً هم نه سي خليفه کېدلای، نو کله چي نه حقيقةً خليفه کېدل ثابت سوه او نه حکماً نو د بې اودسه امام لمونځ به هم فاسد نه وي ځکه چي د امام د لمانځه فاسدېدل د مقتدي په خليفه کېدلو باندي مبني دي، والله اعلم بالصواب.

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَمَا يُكْرَهُ فِيهَا

(دا) باب د هغه شيانو (په بيان کې) دی چې لمونځ فاسدوي او د هغه شيانو (په بيان کې) دی چې په لمانځه کې مکروه دي

تشريح: صاحب د کتاب په دې باب کې هم د لمانځه عوارض بيانوي، او تر دې مخکې يې هم عوارض بيان کړل، ليکن مخکې د هغه عوارضو بيان وو کوم چې غير اختياري او آسماني وه، او اوس هغه عوارض بيانوي کوم چې اختياري او کسبي دي، او ځرنګه چې غير اختياري عوارض د اختياري عوارضو په پرتله کې زيات معروف او مشهور دي او زيات واقع کېدونکي دي، نو ځکه يې هغه مخکې بيان کړه، اوس اختياري عوارض بيانوي.

په لمانځه کې په خبرو سره د لمانځه د باطلېدلو حکم

وَمَنْ تَكَلَّمَ فِي صَلَاتِهِ عَامِدًا أَوْ سَاهِيًا او چا چې قصداً يا په هېره سره په خپل لمانځه کې خبرې وکړې بَطَلَتْ صَلَاتُهُ نو د هغه لمونځ باطل سو خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْخَطَإِ وَالنِّسْيَانِ په خطاء او هېره کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَمَفْزَعُه الْحَدِيْثُ الْمَعْرُوْفُ● د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل (هغه) مشهوره حديث دی وَلَنَا: قَوْلُه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● او زموږ دليل دا دی: چې نبي ﷺ فرمايلي دي إِنَّ صَلَاتَنَا هٰذِهٖ لَا يَصْلُحُ فِيْهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ بې له شکه زموږ په دې لمانځه کې د خلکو خبرې صحيح نه دي وَإِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيْحُ وَالتَّهْلِيْلُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ (بلکې) دا خو صرف تسبيح، تهليل او قرائت دی وَمَا رَوَاهُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى رَفْعِ الْإِثْمِ او کوم حديث چې امام شافعي رَحِمَهُ الله روايت کړی دی هغه د ګناه په پورته کېدلو حمل سوی دی بِخِلَافِ السَّلَامِ سَاهِيًا په خلاف په هېره سره د سلام ګرځولو لِأَنَّهُ مِنَ الْأَذْكَارِ ځکه چې سلام له ذکرونو څخه دی فَيُعْتَبَرُ ذِكْرًا فِي حَالَةِ النِّسْيَانِ نو ځکه به د هېرې په حالت کې سلام ذکر ګرځول کېږي وَكَلَامًا فِي حَالَةِ التَّعَمُّدِ او د قصد په حالت کې به سلام خبرې ګرځول کېږي لِمَا فِيْهِ مِنْ كَافِ الْخِطَابِ ځکه چې په السلام عليکم کې کاف د خطاب دی.

اللغات: ﴿سَاهِيًا﴾ هېروونکی، ﴿مَفْزَعُ﴾ پناه ځای، مراد ځنې دليل دی، ﴿تَهْلِيْل﴾ کلمه ويل (يعني لا إله إلا الله ويل)، ﴿نسيان﴾ هېره، له ياده وتنه.

تشريح: سهو ويل کېږي له قوت مدرکه څخه د يو صورت زائلېدل، او نسيان ويل کېږي له قوت حافظه څخه د يو صورت زائلېدل، تر دې چې د کسب جديد (دوباره يادولو) احتياج پېښ سي، او خطاء دا ده چې صورت خو پاته وي

● أخرجه ابن ماجه في كتاب الطلاق، باب طلاق المكره، حديث رقم: ٢٠٤٥.

● أخرجه مسلم في كتاب المساجد باب تحريم الكلام، في الصلاة، حديث رقم: ٣٣.

خو کله چې د یو شي د تکلم اراده وکړي. نو بیا له ارادې بل شی پر ژبه راسي، دلته له سهو څخه عامه معنیٰ مراد ده او دواړو سره قسمونو ته شامله ده. او څرنګه چې د سهو او نسیان په مینځ کې د شرعي حکم له رویه هیڅ فرق نسته. نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله هم د دوی په مینځ کې هیڅ فرق نه دی کړی.

صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي په لمانځه کې قصداً یا په سهو سره خبري وکړې (یعني کلام یې وکړي). نو د ده لمونځ باطل سو. کلام څه ته ویل کیږي؟. کلام د داسي حروفو و آواز ته وایي چې د معنیٰ فایده ورکوي. کله یو حرف د معنیٰ فایده ورکوي لکه: قِ! معنیٰ یې ده: خوندي سه!. ځان وژغوره!. او که یو حرف بې معنیٰ وي نو کلام نه دی. لیکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز د خطا او نسیان په صورت کې په کلام سره لمونځ نه فاسدیږي، په دې شرط چې کلام اوږد نه وي، ځکه چې اوږد کلام د خطاء او نسیان سره منافي دی.

د امام شافعي دلیل: دا مشهوره حدیث دی: رفع عن أمتي الخطاء والنسيان. (یعني زما له امت څخه خطاء او نسیان پورته کړی سوي دي)؛ په دې حدیث سره دلیل په دې توګه نیسي چې حکم پر دوه قسمه دی: (۱) دنیاوي حکم (د لمانځه فاسدونکی) (۲) او اُخروي حکم (ګناهکاره کېدل)، نو ګواکي نبي ﷺ وفرمایل چې زما له امت څخه دواړه حکمونه یعني د دنیاوي او اُخروي خطاء او نسیان حکمونه پورته سوي دي، یعني په دې دواړو کې نه یو شی فاسدونکی دی او نه یو شی په آخرت کې د یو ګناه سبب دی؛ صاحب د عنایې رَحِمَهُ الله لیکلي دي چې له دې څخه په دې توګه دلیل نیسي چې د دې دواړو حقیقت خو غیر مرفوع دی، ځکه چې دا دواړه په خلګو کې موجود دي، نو د دې حکم یعني مفسد کېدل به مرفوع وي.

زموږ دلیل: د معاویه بن الحکم اسلمي رضی الله عنه حدیث دی، پوره حدیث داسي دي: قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَطَسَ بَعْضُ الْقَوْمِ فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ اللهُ. فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ: وَاثُكْلَ أُمَّاهُ مَالِي أَرَاكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ شَزَرًا؟ فَضَرَبُوا أَيْدِيَهُمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ فَعَلِمْتُ أَنَّهُمْ يُسَكِّتُونَنِي فَلَمَّا فَرَغَ النَّبِيُّ دَعَانِي. فَوَاللهِ مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ مَا قَهَرَنِي وَلَا زَجَرَنِي وَلَكِنْ قَالَ إِنَّ صَلَاتَنَا هٰذِهِ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ وَإِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيحُ وَالتَّهْلِيلُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ.

(معاویه بن الحکم رضی الله عنه فرمایي: چې ما په رسول الله ﷺ پسي لمونځ کوی نو یو سړي نوږی (انتروشی) وکړی، ما ده ته په جواب کې: يرحمك الله ووایې، نو ما ته خلګو په تېره نظر سره وکتل، ما وویل: د ده مور دې بوره سي، ما څه چم وکړی چې تاسو په تېرو سترګو را ته ګورئ، نو هغوی خپل ورونان په خپلو لاسونو ووهل، نو زه پوه سوم چې دوی ما چپول (خاموشه کول) غواړي، نو کله چې نبي ﷺ له لمانځه څخه فارغه سو، نو زه یې راوغوښتلم، په الله دې مې قسم وي چې ما له نبي ﷺ څخه ښه معلم (ښوونکی) نه دی لیدلی، دوی ﷺ نه ما ته غصه وکړه، او نه یې زه ورټلم، بلکي ویې فرمایل چې زموږ په دې لمانځه کې د خلګو د خبرو هیڅ ګنجایش نسته، دا خو صرف تسبیح، تهلیل او د قرآن قرائت ته ویل کیږي).

له دې حدیث څخه معلومه سوه چې په لمانځه کې خبري نه کول د لمانځه حق دی، لکه څرنګه چې طهارت د لمانځه حق دی، نو څرنګه چې په د طهارت په نیستوالي سره لمونځ نه جائز کیږي، همدارنګه د کلام په شتون (وجود) سره به هم لمونځ جائز نه وي.

جواب: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حدیث جواب دا دی چې په حدیث: رُفع عن أمتي الخطأ والنسيان کې له رُفع څخه مراد د ګناه پورته کېدل دي، ځکه چې د دې سره دوه حکمونه متعلق کېدی سي: (۱) دنیاوي (۲) اخروي، دنیاوي حکم د

لمانځه فساد او جواز دی، او اخروي حکم پر هغه د ګناه مرتب کېدل، او په حديث شريف کي بالاجماع اخروي حکم يعني د ګناه پورته کېدل مراد دي. نو ځکه به اوس له دې څخه دنيوي حکم يعني د لمانځه فساد نه مراديږي. ځکه چي زموږ په نېز عموم مشترک جائز نه دی.

بخلاف والسلام الخ په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس جواب ورکوي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله د قياس حاصل دا دی چي سلام د کلام په ډول دی. ځکه چي په دې دواړو کي هريو قاطع د لمانځه دی. او د سلام په حق کي د عمد او نسيان په باره کي تفصيل دی، يعني سهواً سلام مفسد نه دی، او عمداً مفسد دی. نو همدغه تفصيل په کلام کي هم پکار دی، يعني بايد سهواً کلام هم مفسد نه سي او عمداً کلام مفسد سي.

د جواب حاصل دا دی چي سلام په پوره توګه د کلام په ډول هم نه دی. ځکه سلام خو د لمانځه له ذکرونو څخه يو ذکر دی دی، او په التحيات کي هم ويل کيږي. يعني: السلام عليك أيها النبي، او سلام د الله تعالیٰ په اسماء حسنیٰ کي هم سته، لېکن سلام د خطاب په وجه د کلام حکم هم اخيستی دي، (يعني د السلام عليكم په "كم" کي خلکو ته خطاب دی، نو ځکه د کلام په حکم کي هم سو)، لنډه دا چي السلام عليكم من وجه ذکر دی، او من وجه کلام دی، نو موږ په دواړو وجوهو عمل وکړی، نو که سلام په هېره وو، نو دا به د ذکرونو سره ملحق کيږي، او لمونځ به نه په فاسديږي، او که قصداً وو، نو د کلام سره به ملحق کيږي او لمونځ به په فاسديږي.

په لمانځه کي د اسوېلي کولو، ژړلو او د غم څرګندولو حکم

فَإِنْ أَنَّ فِيهَا او که چا په لمانځه کي سوګلی (سلګی) وکړې (يعني ترټه او نوبلي ژړا يې وکړه، يا معنی دا چي د ګېږوي په توګه يې وژړل) أَوْ تَأَوَّهَ يا يې اسوېلی وکښل (يعني آه يا اف يې وکړی) أَوْ بَكَى فَارْتَفَعَ بُكَاؤُهُ يا يې وژړل او ژړا يې پورته سوه فَإِنْ كَانَ مِنْ ذِكْرِ الْجَنَّةِ أَوِ النَّارِ نو که دا (شيان) د جنت يا د دوږخ د ياد په وجه وه لَمْ يَقْطَعْهَا نو لمونځ نه فاسدوي لِأَنَّهُ يَدُلُّ عَلَى زِيَادَةِ الْخُشُوعِ ځکه چي دا د خشوع (بيري) پر زياتوالي دلالت کوي وَإِنْ كَانَ مِنْ وَجَعٍ أَوْ مُصِيبَةٍ او که د درد يا مصيبت په وجه وه قَطَعَهَا نو لمونځ فاسدوي لِأَنَّ فِيهِ إِظْهَارُ الْجَزَعِ وَالتَّأَسُّفِ ځکه چي په دې کي د غم او افسوس څرګندول دي فَكَانَ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ نو ځکه به دا د کلام الناس له قبيلې څخه وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ● أَنَّ قَوْلَهُ آهٍ لَمْ يُفْسِدْ فِي الْحَالَيْنِ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي چي آه کول په دواړو حالتونو (يعني د خشوع او مصيبت په حالت) کي لمونځ نه فاسدوي وَأُوهٍ يُفْسِدُهُ او اُوه کول لمونځ فاسدوي وَقِيلَ الْأَصْلُ عِنْدَهُ او ويل سوي دي چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز اصل دا دی أَنَّ الْكَلِمَةَ إِذَا اشْتَمَلَتْ عَلَى حَرْفَيْنِ چي کلمه کله پر دوو حرفونو مشتمله وي وَهُمَا زَائِدَتَانِ او هغه دواړه زيات وي أَوْ إِحْدَاهُمَا يا په هغه دواړو کي يو زيات وي لَا تُفْسِدُ نو لمونځ نه فاسديږي وَإِنْ كَانَتَا أَصْلِيَّتَيْنِ او که هغه دواړه حروف اصلي وي تُفْسِدُ نو لمونځ فاسديږي وَحُرُوفُ الزَّوَائِدِ جَمَعُوهَا فِي قَوْلِهِمْ: اَلْيَوْمَ تَنْسَاهُ او لغتپوهانو حروف زائده په خپل قول: اليوم تنساه کي جمع کړي دي وَهَذَا لَا يَقْوَى او دا اصل قوي نه دی لِأَنَّ

● القول الراجح: قول الطرفين، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٢٥٧. [القول الراجح، ج:١، ص:١٠٠]

كَلَامَ النَّاسِ فِي مُتَفَاهَمِ الْعُرْفِ يَتْبَعُ وُجُوْدَ حُرُوْفِ الْهِجَاءِ وَإِفْهَامِ الْمَعْنٰى ځکه چې د عُرف په اصطلاح کې كلامُ الناس د حروفو د وجود او د معنیٰ د پوهولو تابع وي وَيَتَحَقَّقُ ذٰلِكَ فِي حُرُوْفٍ كُلُّهَا زَوَائِدُ او دا په داسې حروفو کې هم ثابتیږي چې د هغو ټوله حروف زیات وي.

اللغات: ﴿أَنَّ﴾ په سوګلی سره ژړل، بعضې شارحینو یې د زګیروي کولو معنیٰ کړې ده، ﴿تَأَوَّهَ﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: اسوېلی کښل، آه او اُف کول، سړې ساوې کښل، ﴿بَكٰى﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ژړل، ﴿جَزَع﴾ بېره، غم، پرېشاني، ﴿تَأَسُّف﴾ افسوس، حسرت.

تشريح: مسئله: دا ده که یو سړی د لمانځه په حالت کې دژړا په توګه زګیروی وکړي، یا اسوېلی یې وکښل یعنې آه آه یا اُوه اُوه یا اُف یې وکړی، یا یې په لمانځه کې یې وژړل او دومره په زوره یې وژړل چې له ژړا څخه حروف پیدا شول، نو دده د لمانځه څه حکم دی؟

فرمایي چې که دا پورته افعال د جنت یا جهنم د یادېدلو په وجه صادر سول، نو په دې سره د ده لمونځ نه فاسدیږي، او د ده لمونځ به صحیح وي، ځکه چې د جنت یا جهنم د یاد په وجه د دې افعالو صادرېدل د دې خبرې دلیل دا دی چې دا سړی په لمانځه کې په پوره توګه متوجه دی، او د الله په یاد کې غرق دی، او ډېره خشوع وخضوع لري، نو د دې شیانو په صادرېدلو سره د ده په لمانځه کې نوره ترقي او لوړوالی راځي، لیکن که د دې سړي آه یا اُوه کول یا ژړل د یو درد یا یو غم په وجه وه نو بیا د ده لمونځ فاسدیږي، ځکه چې په دې صورت کې آه او ژړا د غم او افسوس کولو ښېنه ده، نو د ده دا عمل به له كلامُ الناس څخه وي (یعنې د خبرو له جنس څخه وي)، او كلامُ الناس که په لمانځه کې صراحتاً وي نو لمونځ فاسدوي، او که کنایةً وي نو هم یې فاسدوي.

وعن أبي يوسف الخ له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چې که لمونځ ګزاره په لمانځه کې آه آه کوی نو په دواړو صورتونو کې لمونځ نه فاسدیږي، یعنې که د جنت او جهنم د یاد په وجه وي، او که د مصیبت یا درد په وجه وي، په دواړو صورتونو کې لمونځ نه فاسدیږي، او که لمونځ ګزاره اُوه اُوه کوي، نو په دواړو صورتونو کې لمونځ فاسدیږي، بعضې خلګو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله اُصول او ضابطه دا ښوولې ده چې که دا ډول کلمې پر دوو حروفو مشتملې وي، او دواړه حروف زائد وي، یا یو زائد وي نو په دې سره لمونځ نه فاسدیږي، او که دواړه اصلي وي نو لمونځ فاسدیږي، صاحب د عنایې رَحِمَهُ الله لیکلي دي چې د دې قول بنیاد دا دی چې د عربو په کلام کې د هرې خبرې بنیاد پر دریو حروفو دی، چې په هغه کې اول حرف د کلام د شروع لپاره وي. دوېم حرف د وقف کولو لپاره وي او درېم حرف د فصل او فرق لپاره وي، نو ځکه نه به د یوه حرف اعتبار کیږي، نه به د دوو حروفو اعتبار کیږي، په دې شرط چې له دوی څخه یو حرف زیات وي؛ لیکن که دوه حرفونه وي او دواړه اصلي وي، یا درې حرفونه وي او په هغو کې دوه اصلي وي نو په دې صورت کې د للأكثر حكم الكل د قاعدې په وجه به د هغو اعتبار کیږي، په دې ځای کې دا خبره هم په ذهن کې ونیسئ! چې لغت پوهانو ټوله زائد حروف په اليوم تنساه کې جمع کړي دي، نو له دې حروفو څخه ماسوا چې نور کوم حروف دي هغو ته اصلي ویل کیږي، اوس حروف زوائدو ته وګورئ! او آه ته وګورئ! چې امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د آه په کولو سره ولې لمونځ نه فاسدوي؟، ځکه چې په دې کې خو اول دوه حروف دي، او بیا هغه دواړه زائد هم دي، د دې په خلاف په اُوه سره ولې لمونځ فاسدوي؟، ځکه چې په دې کې له دوو حروفو څخه زیات حروف دي، او په دې باب کې د حروفو شمېر

معتبر دی، د هغو اصلي یا زائد کېدل معتبر نه دي، او څرنګه چي درې حروفٌ د جمعې اندازه ده. او دا اندازه د عربو په کلام کي متعارفه ده. نو ځکه به اُوه لمونځ فاسدوي.

وهذا لا یقوی الخ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دا اصول زیات زورور نه معلومیږي، ځکه چي د عرف په اصطلاح کي د کلامُ النّاس تحقق پر دوو شیانو موقوف دی: (۱) په دې کلام کي به حروف هجاء موجود وي، (۲) او دا کلام به مفید معنیٰ لره وي، نو هره هغه جمله یا کلام چي په هغه کي دا دوې خبري وي نو هغه به لمونځ فاسدوي، هغه که یې حروف اصلي او که زائد. او صاحب د نهایې وایي چي که چا دا جمله په لمانځه کي ووېل: أنتم سألتمونیها الیوم. نو په دې جملي کي مبتداء، خبر، فعل، فاعل، مفعول او داسي نور ټول موجود دي، او ټول حروف یې زائد دي، لېکن بیا هم دا جمله د ده لمونځ فاسدوي، ځکه چي دا جمله پر حروفِ هجاء او پر معنیٰ مشتمله ده.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دی. یعني که ژړا او نور افعال د درد یا مصیبت په وجه وه، نو لمونځ فاسدوي. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۰۰]

په لمانځه کي د عذر په وجه یا بې له عذره د ټوخې، انتروشی او داسي نورو کولو حکم

وَإِنْ تَنَحْنَحَ بِغَيْرِ عُذْرٍ او که لمونځ ګزاره غاړه تازه کړه بې له عذره بِأَنْ لَمْ يَكُنْ مَدْفُوعًا إِلَيْهِ په دې توګه چي هغه د غاړې تازه کولو ته مجبوره نه وو وَحَصَلَ بِهِ الْحُرُوفُ او له دې څخه حروف پیدا سوه يَنْبَغِي أَنْ يُفْسِدَ عِنْدَهُمَا نو مناسب دا دي چي د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز لمونځ فاسد سي وَإِنْ كَانَ بِعُذْرٍ او که غاړه تازه کول د عذر په وجه وه فَهُوَ عَفْوٌ نو هغه معاف دي كَالْعُطَاسِ وَالْجُشَاءِ لکه نوړی (انتروشی) او اروی إِذَا حَصَلَ بِهِ حُرُوفٌ کله چي له دې څخه حروف پیدا سي.

اللغات: ﴿تَنَحْنَحَ﴾ غاړه تازه کول، غاړه صفا کول. ﴿مَدْفُوْع﴾ مجبور. ﴿عُطَاس﴾ په ضمه د عین سره: انتروشی، نوړی، پرنجی. ﴿جُشَاء﴾ اروی، تېغ.

تشریح: مسئله: دا ده که لمونځ کونکي په لمانځه کي غاړه تازه کړه او د هغه په وجه حروف هم پیدا سوه. مثلاً: أح أح یا أح أح یې وکړی، نو د دې دوه صورتونه دي، د عذره په وجه به وي یا به بې له عذره وي، که بې له عذره وي یعني اضطراري نه وي بلکي اختیاري وي، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې سره لمونځ فاسدیږي، او که د عذر په وجه وي نو دا معاف دي، یعني لمونځ نه په فاسدیږي، لکه څرنګه چي په نوړي او اروي سره لمونځ نه فاسدیږي، که څه له دې څخه حروف ښکاره سي.

په لمانځه کي د نوړي (انتروشي) د جواب ورکولو حکم

وَمَنْ عَطَسَ او که چا ته نوړی (انتروشی) راغلی فَقَالَ لَهُ آخَرُ: يَرْحَمُكَ اللهُ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ او بل سړي کوم چي په لمانځه کي وو د هغه په جواب کي: یرحمك الله ووایی فَسَدَتْ صَلَاتُهُ نو د هغه لمونځ فاسد سو لِأَنَّهُ يَجْرِي فِي مُخَاطَبَاتِ النَّاسِ ځکه چي دا د خلکو په خطاباتو (او خبرو اترو) کي جاري دی فَكَانَ مِنْ كَلَامِهِمْ نو دا به د خلکو له خبرو (کلام) څخه وي بِخِلَافِ مَا إِذَا قَالَ الْعَاطِسُ أَوِ السَّامِعُ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ په خلاف د هغه صورت چي کله نوړی کونکی یا اورېدونکی ووایي: الحمد لله (نو لمونځ نه فاسدیږي) عَلَى مَا قَالُوا لکه څرنګه چي فقهاؤ ویلي دي لِأَنَّهُ لَمْ يَتَعَارَفْ جَوَابًا ځکه چي دا د جواب په توګه متعارف نه دي (یعني د خلکو عرف داسي نه دی چي د نوړي په جواب کي الحمد لله وایي).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي انتروشي(نوږی) وکړی. او بل سړي کوم چي په لمانځه کي وو، ده ته د نوږي جواب ورکړي يعني: يرحمك الله يې ووايي. نو د هغه لمانځ فاسديږي، ځکه چي په دې کي د خطاب کاف دی، او دا پوول کلام(خبري) د خلکو په مينځ کي جاري او رواني هم دي.(يعني خلک خپل مينځ کي د نوږي په جواب کي يرحمك الله وايي) نو ځکه دا به د كلامُ الناس له جنس څخه وي، او په كلامُ الناس سره لمونځ فاسديږي. نو ځکه به په يرحمك الله ويلو سره هم لمونځ فاسديږي.

د دې په خلاف که يو سړی تر نوږي کولو وروسته الحمد لله ووايي، يا اورېدونکی الحمد لله ووايي، او دواړه په لمانځه کي وي، نو په دې سلسله کي د مشائخو قول دا دی چي لمونځ نه فاسديږي، ځکه چي الحمد لله ويل په عرف کي جواب نه شمارل کيږي، (بلکي دا د الله ذکر دی)، او په ذكرُ الله سره لمونځ نه فاسديږي، نو ځکه ورېل سوه چي په الحمد لله ويلو سره لمونځ نه فاسديږي.

له خپل امام څخه ماسوا بل چا ته د لقمې(فتحي) ورکول حکم

وَإِنْ اسْتَفْتَحَ او که يو چا فتح(لقمه) وغوښتل فَفَتَحَ عَلَيْهِ فِي صَلَاتِهِ او لونځ کزاره په خپل لمانځه کي هغه ته فتح ورکړه تَفْسُدُ نو د ده لمونځ فاسديږي وَمَعْنَاهُ أَنْ يَفْتَحَ الْمُصَلِّيْ عَلَى غَيْرِ إِمَامِهِ مطلب يې دا دی چي لمونځ کزاره له خپل امام څخه ماسوا بل چاته فتح ورکړي(نو لمونځ يې فاسديږي) لِأَنَّهُ تَعْلِيْمٌ وَتَعَلُّمٌ ځکه چي دا ښوول او زده کول دي فَكَانَ مِنْ جِنْسِ كَلَامِ النَّاسِ نو دا د كلامُ الناس(يعني د خلکو د خبرو) له جنس څخه سو ثُمَّ شَرَطَ التَّكْرَارَ فِي الْأَصْلِ بيا امام محمد رَحِمَهُ الله په اصل(يعني مبسوط) کي تکرار شرط کړی دی لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَعْمَالِ الصَّلَاةِ ځکه چي دا د لمانځه له افعالو څخه نه دي فَيُعْفَى الْقَلِيْلُ مِنْهُ نو د دې لږ اندازه به معاف وي وَلَمْ يُشْتَرَطْ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ او په جامع صغير کي دا شرط نه دي لګول سوی لِأَنَّ الْكَلَامَ بِنَفْسِهِ قَاطِعٌ ځکه چي په خپله خبري لمونځ قطع کوي (فاسدوي) وَإِنْ قَلَّ که څه هم لږ وي.

اللغات: ﴿إِسْتَفْتَحَ﴾ د استفعال ماضي ده: لقمه غوښتل، فتح غوښتل، يعني دا غوښتل چي زما غلطي را اصلاح کړه.

﴿فَفَتَحَ﴾ د فتح ماضي ده: فتح ورکول، يعني غلطي ور ښوول. ﴿يُعْفَى﴾ د مضارع مجهول صيغه ده: معاف کېدل.

تشريح: له دې ځايه د فتحي (لقمې) ورکولو او د فتحي اخيستلو(قبلولو) صورتونه بيانيږي، چي ټوله صورتونه يې څلور دي، او په وقفه وقفه سره بيانيږي، په دې عبارت کي چي کوم صورت بيانيږي هغه دا دی چي يو سړی لمونځ کوي او د ده په بغل کي بل سړی هم لمونځ کوي، او دا دواړه امام او مقتدي نه وي، بلکي هر يو خپل خپل لمونځ کوي، نو اوس که په دوی کي يو له بل څخه فتحه وغواړي، او هغه بل سړی فتحه ورکړي، نو د دواړو لمونځ فاسديږي. ځکه چي د لمانځه د متحد نه کېدلو په وجه دا صورت د تعليم او تعلم يعني د ښوولو او زده کړي په پوول سو، او تعليم او تعلم له كلامُ الناس د قبيلې څخه دی، او كلامُ الناس لمونځ فاسدوي، نو ځکه به دا صورت هم لمونځ فاسدوي، صاحب د هدايې له ومعناه الخ څخه همدغه بيانوي چي د فتحي ورکونکي او فتحي اخيستونکي لمونځونه به جلا جلا وي.

ثم شرط الخ فرمايي چي امام محمد رَحِمَهُ الله پر دې موقع په مبسوط کي دا شرط هم لګولی دی چي که فتحه ورکول له يوه وار څخه زيات وي، نو لمونځ فاسدوي، ځکه چي دا د لمانځه له اعمالو څخه خارج ده، او د لمانځه له اعمالو څخه چي کوم شی خارج وي د هغه حکم دا دی چي که هغه عمل کثير (ډېر عمل) وي نو فاسدونکی به وي، کنې نه به وي، ځکه له لمانځه له افعالو څخه ماسوا په نورو افعالو کي عمل قليل معاف دی، او ښکاره ده چي هر عمل هغه وخت کثير کيږي، چي کله په هغه کي تکرار وي. نو ځکه د تکرار شرط ولګول سو؛ لېکن په جامع صغير کي دا شرط نه دي ذکر سوی، ځکه چي په لمانځه کوم عمل هم د لمانځه له افعالو څخه ماسوا وي هغه به د کلامُ الناس يا د افعالُ الناس له جنس څخه وي، او کلام الناس يا افعالُ الناس مطلقاً د لمانځه فاسدونکي دي، هغه که قليل وي او که کثير.

خپل امام ته د لقمې(فتحې) ورکولو حکم

وَإِنْ فَتَحَ عَلَى إِمَامِهِ او که مقتدي خپل امام ته فتح ورکړه لَمْ يَكُنْ كَلَامًا اسْتِحْسَانًا نو د استحسان په وجه دا کلام نه دی (يعني د استحسان په وجه به دا فتح خبري نه شمارل کيږي) لِأَنَّهُ مُضْطَرٌّ إِلَى إِصْلَاحِ صَلَاتِهِ ځکه چي مقتدي د خپل لمانځه د اصلاح لپاره مجبوره دی فَكَانَ هَذَا مِنْ أَعْمَالِ صَلَاتِهِ مَعْنًى نو دا فتح ورکول به په معنوي توګه د هغه د لمانځه له اعمالو څخه وي وَيَنْوِي الْفَتْحَ عَلَى إِمَامِهِ او مقتدي به خپل امام ته د فتح ورکولو نيت کوي دُونَ الْقِرَاءَةِ د قرائت نيت به نه کوي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهُ مُرَخَّصٌ فِيهِ ځکه چي د فتح ورکولو اجازه (رخصت) هغه ته سته وَقِرَاءَتُهُ مَمْنُوعٌ عَنْهَا لېکن قرائت د هغه لپاره منع دی.

اللغات: ﴿مُضْطَرٌّ﴾ د افتعال اسم مفعول دی: مجبور. ﴿مُرَخَّص﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: هغه څوک چي رخصت او اجازه ورکول سوې وي.

تشريح: په دې عبارت کي دويم صورت بيانيږي، حاصل يې دا دی چي که د فتحه ورکونکي او فتحه اخيستونکي دواړو لمونځ يو او متحد وو، په دې توګه چي فتح اخيستونکی امام وو او فتح ورکونکی مقتدي وو. نو په دې صورت کي د مقتدي فتحه ورکول کلام نه دی، او نه په دې سره لمونځ فاسديږي، په دې لړ کي دليل هغه حديث دی کوم چي عنايه او نورو په دې الفاظو سره ذکر دی:

نقلي دليل: ان رسول الله ﷺ قرأ في الصلاة سورة المؤمنين فترك منها كلمة فلما فرغ منها قال ألم يكن فيكم أبي بن كعب. فقال بلى يا رسول الله. فقال ﷺ هلا فتحت علي فقال ظننت أنها نسخت. فقال ﷺ لو نسخت لأنبأتكم.

(يعني نبي ﷺ په لمانځه کي سورتِ مؤمنين ووايی او په دې کي يوه کلمه څني پاته سو، کله چي نبي ﷺ له لمانځه څخه فارغه سو، نو له خلکو څخه يې پوښتنه وکړه، آيا په تاسو کي ابی بن کعب نسته. نو ابی بن کعب ووېل: اې د الله رسوله! حاضر يم، نبي ﷺ وفرمايل چي تا ما ته فتحه ولي نه راکړه، نو هغه ووېل: ما دا ګومان کړی وو چي دا کلمه منسوخه سوې ده، نو نبي ﷺ وفرمايل که منسوخه سوې وای نو ما به تاسو ته خبر درکړی وای). له دې حديث څخه په ډاګه ښکاره کيږي چي که مقتدي خپل امام ته فتحه ورکړه نو په هغه سره لمونځ نه فاسديږي.

عقلي دليل: په دې لړ کي عقلي دليل دا دی چي د مقتدي لمونځ د امام پر لمانځه موقوف دی، نو د امام د هېري په وخت کي مقتدي د خپل لمانځه د اصلاح لپاره فتحه ورکولو ته مجبوره دی، (ځکه که فتحه نه ورکړي نو د امام لمونځ به فاسد سي او کله چي د

امام لمونځ فاسد سو نو د مقتدي لمونځ به هم فاسد سي) نو ځکه به فتحه ورکول د مقتدي د لمانځه په اعمالو کې داخله وي، او د لمانځه له اعمالو څخه یو عمل هم لمونځ نه فاسدوي، نو د مقتدي فتحه ورکول به هم لمونځ نه فاسدوي.

وینوی الخ د دې حاصل دا دی چې مقتدی به د فتحې ورکولو په وخت کې د فتحې ورکولو نیت کوي، د قراءت نیت به نه کوي، همدا صحیح ده، ځکه چې شریعت ده ته د فتحې ورکولو اجازه ورکړې ده لېکن د قراءت کولو اجازه یې ورکړې نه ده، نو ده کوم شي اجازه چې ورکول سوې ده، د ده لپاره هغه اختیارول پکار دي.

بغیر له ضرورته امام ته فتحه ورکول

وَلَوْ كَانَ الْإِمَامُ انْتَقَلَ إِلٰى آيَةٍ أُخْرٰى او که امام د بل آیت و طرف ته منتقل سوی وو تَفْسُدُ صَلَاةُ الْفَاتِحِ نو د فتح ورکونکي لمونځ فاسدیږي وَتَفْسُدُ صَلَاةُ الْإِمَامِ لَوْ أَخَذَ بِقَوْلِهِ او که امام د ده فتح واخیستله لو د امام لمونځ هم فاسدیږي لِوُجُوْدِ التَّلْقِيْنِ وَالتَّلَقُّنِ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ ځکه چې د مقتدي تلقین(فتح ورکول) او د امام تلقن(فتح اخیستل) بې له ضرورت راغله وَيَنْبَغِيْ لِلْمُقْتَدِيْ أَنْ لَا يُعَجِّلَ بِالْفَتْحِ او مقتدي ته پکار دي چې په فتح ورکولو کې تلوار نه وکړي وَلِلْإِمَامِ أَنْ لَا يُلْجِئَهُمْ إِلَيْهِ او امام ته هم پکار دي چې فتح ورکولو ته مقتدیان مجبوره نه کړي بَلْ يَرْكَعُ۝إِذَا جَاءَ أَوَانُهُ بلکې چې کله هم د فتحې(لقمې) وخت راسي نو رکوع دې کوي أَوْ يَنْتَقِلُ۝إِلٰى آيَةٍ أُخْرٰى یا دې د بل آیت وطرف ته نقل کیږي.

اللغات: ﴿فاتح﴾ فتح ورکونکی، لقمه ورکونکی ﴿تلقین﴾ پوهونه، نصیحت کول، دلته مراد فتح ورکول دي، ﴿تلقن﴾ پوهېدل، په نصیحت عمل کول، دلته مراد فتح اخیستل دي، ﴿ینبغی﴾ مناسب دا دي، ﴿لا یلجئهم﴾ د افعال له باب څخه د نفي صیغه ده، الجاء،یلجئ: مجبورول، اړ ایستل.

تشریح: په دې عبارت کې د بیان سوي مسئلې حاصل دا دی چې په لمانځه کې فتحه ورکول او فتحه اخیستل د استحسان پر بنیاد صحیح دي، لېکن د عقل او قیاس تقاضا خو دا ده چې فتحه ورکول او اخیستل دې په لمانځه کې بالکل صحیح نه وي، ځکه چې په لمانځه کې مقتدی له قراءت څخه منع سوی دی، خو بیا هم د استحسان پر بنسټ د فتحې ورکولو او اخیستلو اجازه ورکړل سوې ده، همدا وجه ده که له امام څخه یو آیت هېر سو او د فتحې اخیستلو په غرض یې بار بار وایی، لیکن په مقتدیانو کې چا فتحه نه ورکړه، او بیا له هغه آیت څخه ووتی، او وروسته یو مقتدي فتحه ورکړه، نو د مقتدي لمونځ فاسدیږي، او که امام د ده فتحه واخیستله نو د امام لمونځ هم فاسدیږي، ځکه چې په دې صورت کې بې له ضرورته د فتحې ورکول او د فتحې اخیستل راغله، او ښکاره ده چې دا مسئله پر استحسان مبني ده، نو بې له ضرورته به د دې جواز نه وي، نو ځکه به په ذکر سوې مسئله کې د امام او مقتدي دواړو لمونځ فاسد وي.

وینبغی الخ صاحب د هدایې فرمایي: مقتدي ته پکار دي چې په فتحه ورکولو کې دې تېزي او تلوار نه کوي، چې محض امام بند سوی لا نه وي، دی د فتحې وار پر وکړي، بلکې امام ته دې د راګرځولو او دوباره ویلو موقع ورکړي، چې دویم وار یې راوګرځوي او صحیح یې کړي، او د فتحې ضرورت پاته نه سي؛ همدارنګه امام ته هم پکار دي چې مقتدیان فتحه ورکولو ته مجبوره نه کړي، بلکې خپل تر وسه دې دا کوښښ کوي چې کله هم د فتحې موقع راسي نو فوراً دې رکوع کوي، یا دې د یو بل آیت وطرف ته ځي، او له فتحې اخیستلو څخه دې ځان ژغوري، لېکن دا حکم په

هغه وخت کي دی چي کله يې د ماتجوز به الصلاة په اندازه قرآن ويلی وي، يعني دومره اندازه قرائت يې کړی وي چي په هغه سره لمونځ صحيح کيږي.

په لمانځه کي د يو سړي د سوال جواب په "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ" سره ورکول

فَلَوْ أَجَابَ رَجُلًا فِي الصَّلَاةِ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ او که لمونځ کونکي چا ته په لمانځه کي په لا إله إلا الله سره جواب ورکړی فَهٰذَا كَلَامٌ مُفْسِدٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ نو دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د لمانځه فاسدونکي خبري دي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ: لَا يَكُونُ مُفْسِدًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي لمونځ نه فاسدوي وَهٰذَا الْخِلَافُ فِيمَا إِذَا أَرَادَ بِهِ جَوَابَهُ او دا اختلاف په هغه صورت کي دی چي لمونځ گزاره په دې کلام سره د سوال کونکي د جواب اراده وي لَهُ أَنَّهُ ثَنَاءٌ بِصِيغَتِهِ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي دا جمله د صيغې په اعتبار سره د الله تعريف دی فَلَا يَتَغَيَّرُ بِعَزِيمَتِهِ نو د لمونځ کونکي په نيت سره به د دې حقيقت نه بدليږي وَلَهُمَا أَنَّهُ أَخْرَجَ الْكَلَامَ مَخْرَجَ الْجَوَابِ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي هغه لا إله إلا الله د جواب په توگه استعمال کړې ده وَهُوَ يَحْتَمِلُهُ او دا د جواب احتمال هم لري فَيُجْعَلُ جَوَابًا نو ځکه به جواب گرځول کيږي كَالتَّشْمِيتِ لکه د نوږي (انتروشي) جواب ورکول وَالْاِسْتِرْجَاعِ او إنا لله وإنا إليه راجعون ويل (چي په دې دواړو سره هم لمونځ فاسديږي) عَلَى الْخِلَافِ فِي الصَّحِيحِ په دې باره کي هم صحيح خبره دا ده چي اختلاف دی.

اللغات: ﴿صيغة﴾ لفظه، اصل، ﴿عزيمة﴾ اراده، عزم، ﴿تشميت﴾ د نوږي والا په جواب کي يرحمك الله ويل، ﴿استرجاع﴾ د مصيبت په وخت کي إنا لله وإنا إليه راجعون ويل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي لمونځ کوی، او بل سړي دا جمله وويله: أإله مع الله (آيا د الله سره بل معبود [د عبادت لائق] شته)، نو پر دې د لمونځ گزاره له خولې څخه ووتل: لا إله إلا الله، (له الله څخه ماسوا هيڅ څوک د عبادت لائق نشته)، نو اوس د ده لمونځ فاسد دی، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز په دې کلام سره لمونځ نه فاسديږي، او لمونځ يې بالکل صحيح دی.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي لا إله إلا الله د خپل وضع سوي معنیٰ په اعتبار سره د الله ﷻ د حمد او تعريف معنیٰ ورکوي، نو په دې سره د جواب ورکولو په وخت کي د دې موضوعي معنیٰ نه بدليږي، بلکي د الله د حمد او ثناء په معنی کي به وي، نو په ذکر سوې مسئله کي که څه هم لمونځ گزاره په لا إله إلا الله سره د بل سړي د جواب اراده کړې ده، خو بيا هم دا کلمه پر حمد او ثناء مشتمله ده، او د الله په حمد او ثناء سره لمونځ بالکل نه باطليږي، نو ځکه په ذکر سوې مسئله کي به هم لمونځ باطل نه وي

● القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كذا في الدر المختار ج:١، ص:١٥٩. [القول الراجح، ج:١، ص:١٠١]

د طرفينو دليل: دا دی چې په ذكر سوي مسئلې كي لا إله إلا الله د ثناء او جواب دواړو احتمال لري، نو ځكه به دا په دواړو معناګانو كي مشترك وي، نو كله چي لمونځ ګزاره د جواب په اراده سره د دې يوه معنیٰ مراده كړه چي هغه د جواب معنیٰ ده، نو اوس ئې له دې څخه دويمه معنیٰ يعني ثناء او تعريف مرادول صحيح نه وي، ځكه چي زموږ په نيز عموم مشترك جائز نه دی، نو دا جمله هم د تشميت يعني د يرحمك الله ويلو په ډول سوه، او تشميت لمونځ فاسدوي ځكه چي هغه د كلامُ الناس له جنس څخه دی، نو دا جمله به هم په دې ځای كي لمونځ فاسدوي.

والاسترجاع الخ د دې حاصل دا دی چي كه يو سړي خلكو ته د يو چا د مړيني خبر وركړی، او بل سړي چي دلته يې لمونځ كوی په لمانځه كي يې إنا لله وإنا إليه راجعون ووايي، نو په دې صورت كي هم صحيح خبره دا ده چي د طرفينو او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په مينځ كي اختلاف سته، يعني د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز لمونځ فاسديږي، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز لمونځ نه فاسديږي، ليكن له مشائخو څخه بعضو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په دې صورت كي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله هم فكره بللی دی، او دا صورت يې متفق عليه ګرځولی دی، او علت يې دا بيان كړی دی چي لا إله إلا الله د خالص تعريف او ثناء لپاره دی، نو ځكه لمونځ نه فاسدوي، ليكن إنا لله ...الخ صرف د حمد او ثناء لپاره نه دی، بلكي د مصيبت، غم او ستونزي په وخت كي استعماليږي، نو ځكه به په دې صورت كي لمونځ فاسديږي. ليكن صحيح خبره دا ده چي په دې صورت كي هم اختلاف دی لكه مخكي چي موږ وويل، يعني د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز استرجاع هم لمونځ نه فاسدوي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله كي راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی، وقال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وكذا يفسدها كل ما قصد به الجواب، كأن قيل أمع الله إله، فقال: لا إله إلا الله، أو قيل: ما لك، فقال الخيل والبغال والحمير إلى أن قال: والصحيح قولهما عملاً بقصد التكلم (الدر المختار ج:۱، ص:۱۵۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۰۱]

په لمانځه كي كلمه، ثناء، يا يو آيت د بل سړي د خبرولو لپاره ويل

وَإِنْ أَرَادَ بِهِ إِعْلَامَهُ أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ او كه په كلمه، ثناء يا د قرآن په ويلو سره يې اراده بل ته خبر وركول وو چي زه په لمانځه كي يم لَمْ تَفْسُدْ بِالْإِجْمَاعِ نو په اجماع سره لمونځ نه فاسديږي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا نَابَتْ أَحَدَكُمْ نَائِبَةٌ فِي الصَّلَاةِ كه په تاسو كي چا ته په لمانځه كي څه واقعه پېښه سي فَلْيُسَبِّحْ نو تسبيح دې وايي.

اللغات: ﴿إِعْلَام﴾ د افعال مصدر دی: خبر وركول، ور ښوول، ﴿نَابَتْ﴾ د نصر واحده مؤنثه غائبه ماضي صيغه ده: پېښېدل، واقع كېدل، ﴿نَائِبَة﴾ پېښه، حادثه، واقعه.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو سړي لمونځ كوی او يو بل سړي د ده په تلاش كي وو، او نعري يې وهلې چي فلانكيه څه سوې؟ يا يو سړی د ده مخته تېرېدی، يا داسي يو بل صورت وو، نو د دې سړي لپاره حكم دا دی چي لا إله إلا الله دې ووايي يا دې تسبيح ووايي او خبر دې وركړي چي زه په لمانځه كي يم، او په داسي كولو سره د ده پر لمانځه بالاتفاق هيڅ اغېزه نه پرېوځي، يعني د ده لمونځ نه فاسديږي، نه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز او نه د طرفينو رَحِمَهُ الله په نيز، ځكه

چي د نبي ﷺ فرمان دی: إذا نابت أحدكم نائبة في الصلاة فليسبح فإن التسبيح للرجال والتصفيق للنساء. (يعني كه د لمونځ ګزار مخته څه واقعه راسي، نو ده ته پکار دي چي تسبيح ووايي، ځکه چي د نارينه وو لپاره په داسي ځايو کي تسبيح ويل او د ښځو لپاره تصفيق کول پکار دي). تصفيق دا دی چي ښځه خپل د راسته لاس ورغوی د چپه لاس د ورغوي پر شابه ووهي.

د لمانځه په دوران کي بل لمونځ شروع کول

وَمَنْ صَلَّى رَكْعَةً مِنَ الظُّهْرِ او که چا د ماپښين د لمانځه يو رکعت وکړی ثُمَّ افْتَتَحَ الْعَصْرَ أَوِ التَّطَوُّعَ بيا يې (تر يوه رکعت وروسته) د مازيګر لمونځ شروع کړی يا يې نفل شروع کړه فَقَدْ نَقَضَ الظُّهْرَ نو د ماپښين لمونځ يې فاسد سو لِأَنَّهُ صَحَّ شُرُوعُهُ فِي غَيْرِهِ ځکه چي په بل لمانځه سره د ده شروع کول صحيح سو فَيَخْرُجُ عَنْهُ نو د اول لمانځه څخه وځي.

اللغات: ﴿تطوع﴾ نفل، ﴿نقض﴾ د نصر د باب ماضي ده: ماتول، (فاسدول).

تشريح: که يو چا مثلاً د ماپښين د لمانځه يو رکعت وکړی، بيا يې د مازيګر لمونځ شروع کړي يا يې د نفلي لمانځه نيت وکړی، او دا نيت يې په زړه کي وکړی، په ژبه سره نه، او تر غوږو پوري يې لاس هم پورته نه کړی، نو په دې صورت کي اول لمونځ يعني د ماپښين لمونځ باطل سو، دليل يې دا دی چي د دې سړي دويم لمونځ شروع کول شرعاً صحيح دي او د دويم لمانځه د شروع کولو لپاره له اول لمانځه څخه وتل ضروري دي، نو کله چي له اول لمانځه څخه ووتی، نو هغه باطل سو.

د لمانځه په دوران کي لمونځ له سره شروع کول

وَلَوِ افْتَتَحَ الظُّهْرَ بَعْدَمَا صَلَّى مِنْهَا رَكْعَةً او که د ماپښين تر يوه رکعت کولو وروسته يې بيا د ماپښين لمونځ (له سره) شروع کړی فَهِيَ هِيَ نو دا دويم لمونځ هغه اول لمونځ دی (يعني دا دويم لمونځ هغه د ماپښين لمونځ دی) وَيَجْتَزِئُ بِتِلْكَ الرَّكْعَةِ او اول رکعت به شمارل کيږي لِأَنَّهُ نَوَى الشُّرُوعَ فِي عَيْنِ مَا هُوَ فِيهِ ځکه چي لمونځ ګزاره د داسي لمونځ د شروع کولو نيت وکړی چي په هغه کي دی د مخه لا وو فَلَغَتْ نِيَّتُهُ نو ځکه به د ده نيت لغو وي وَبَقِيَ الْمَنْوِيُّ عَلَى حَالِهِ او د کوم نيت چي يې (اول) کړی وو هغه به پر خپل حال پاته وي.

اللغات: ﴿يجتزئ﴾ د افتعال مضارع ده: کافي کېدل، دلته مراد ځني شمارل او حسابل دي، ﴿لغت﴾ د نصر ماضي ده: لغو کېدل، ﴿منوي﴾ د ضرب اسم مفعول دی: د کوم شي نيت چي سوی وي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو چا اول د ماپښين لمونځ شروع کړی، تر يوه رکعت وروسته يې بيا د دغه ماپښين د لمانځه نيت له تکبير تحريمه ويلو څخه بغير په ژبه سره وکړی، نو دا دويم لمونځ هغه اول لمونځ دی، يعني له اول لمانځه څخه نه وځي، او کوم رکعت چي يې کړی دی هغه هم شمارل کيږي، نو که تر دې وروسته يې درې رکعته وکړه نو د ماپښين فرض يې اداء سوه، او که تر دې وروسته يې څلور رکعته وکړه په دې ګومان چي زما اول رکعت يې باطل سو، او پر دريم رکعت کښېنستي هم نه، نو د آخري ناستي د پرېښوولو په وجه د ده لمونځ باطل سو. دليل يې دا دی چي لمونځ ګزاره بعينه د هغه شي د شروع کولو نيت کړی دی چي په هغه کي اول دی وو، نو ځکه به د ده نيت لغو وي، او د کوم شي نيت چي يې مخکي کړی وي هغه به پر خپل حال پاته وي.

په لمانځه کې له قرآن شريف څخه تلاوت کول

وَإِذَا قَرَأَ الْإِمَامُ مِنَ الْمُصْحَفِ او که امام له قرآن کريم څخه قرائت وکړي فَسَدَتْ صَلَاتُهُ عِنْدَ* أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز د هغه لمونځ فاسد سو وَقَالَا: هِيَ تَامَّةٌ او صاحبين فرمايي: چې د هغه لمونځ پوره دی لِأَنَّهَا عِبَادَةٌ انْضَافَتْ إِلَى عِبَادَةٍ أُخْرَى ځکه چې (دلته) يو عبادت (يعني قرآن ته کتل) د بل عبادت (يعني د قرائت) سره يو ځای سو إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ خو دا مکروه دي لِأَنَّهُ تَشَبُّهٌ بِصُنْعِ أَهْلِ الْكِتَابِ ځکه چې دا طريقه د اهلِ کتابو (عيسائيانو) د طريقې سره مشابه ده وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دليل دا دی أَنَّ حَمْلَ الْمُصْحَفِ وَالنَّظَرَ فِيهِ وَتَقْلِيبَ الْأَوْرَاقِ عَمَلٌ كَثِيرٌ چې د قرآن اخيستل او قرآن ته کتل او د ورقو (پاڼو) اړول را اړول عملِ کثير دی وَلِأَنَّهُ تَلَقُّنٌ مِنَ الْمُصْحَفِ او په دې وجه (هم) چې دا له قرآن څخه زده کول دي فَصَارَ كَمَا إِذَا تَلَقَّنَ مِنْ غَيْرِهِ نو دا داسې سو لکه له بل چا څخه زده کول وَعَلَى هَذَا لَا فَرْقَ بَيْنَ الْمَوْضُوعِ وَالْمَحْمُولِ او په دې صورت کې د ايښوول سوي قرآن او د را اخيستل سوي قرآن په مينځ کې هيڅ فرق نسته وَعَلَى الْأَوَّلِ يَفْتَرِقَانِ. او په اول صورت کې د دواړو په مينځ کې فرق سته.

اللغات: ﴿المصحف﴾ قرآن شريف. ﴿إنضافت﴾ د انفعال د باب ماضي صيغه ده: اضافه کول، ور سره يو ځای کول. ﴿الصنع﴾ کار، عمل. ﴿تقليب﴾ د تفعيل مصدر دی: اړول، کرځول. ﴿المحمول﴾ د ضرب اسم مفعول دی: پوره ته کړی سوی، اخيستل سوی، مراد ځني دا دي چې په لمانځه کې چا قرآن په لاس کې را اخيستی وي. ﴿الموضوع﴾ د فتح اسم مفعول دی: ايښوول سوی، مراد ځني دا دي چې قرآن په رحل (رحيل) يا بل شي کې پروت وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو امام يا يو لمونځ گزاره له قرآن پاک څخه تلاوت کوی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د هغه لمونځ فاسديږي، ليکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيزيې لمونځ نه فاسديږي، ليکن دا مکروه دي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې قرائت او تلاوت کول يو عبادت دی، او قرآن ته کتل هم يو عبادت دی، نو په دې وجه له قرآن څخه په قرائت کولو لمونځ نه فاسديږي، بلکې نور به په ښه طريقه سره اداء سي، ځکه يو عبادت چې کله د بل عبادت سره يو ځای سي نو نور طاقت او تقويه پکښې راسي، او بيا د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په باره کې روايت دی چې د هغې يو غلام د ذکوان په نامه وو، دې غلام چې به کله د روژې په مياشت کې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته قرائت کوی، نو له قرآن څخه به يې کوی، له دې څخه هم جواز ثابتيږي، ليکن څرنګه چې دا صورت د اهل کتابو د طريقې سره څه مشابهت لري، نو ځکه مکروه دی، د اهل کتابو عادت دا وو چې هغوی به هر ډول اذکار په لاس کې اخيستل او ويل به يې، او نبي ﷺ موږ د اهل کتابو له مشابهت څخه منع کړي يو، نو په دې حواله سره دا صورت مکروه دی.

د امام صاحب دليل: دا دی چې د قرآن شريف راپورته کول او له هغه څخه قرائت کول، او بيا يې پاڼې اړول را اړول عمل کثير دی، او عمل کثير لمونځ فاسدوي، نو ځکه به له قرآن څخه د قرائت په کولو سره لمونځ فاسديږي، او دويم دليل دا دی چې له قرآن څخه قرائت کول له بل چا څخه د قرآن زده کولو په درجه کې دي، او مخکې موږ وويل چې بې له

---

* القول الراجح: قول ابی حنيفة رَحِمَهُ الله، کذا فی رد المحتار ج:١، ص:۴٦١. [القول الراجح، ج:١، ص:١٠٢]

ضرورت نه له بل ځا څخه قرآن زده کول او نتحه اخيستل لمونځ فاسدوي، نو ځکه به له قرآن څخه قرآئت کول هم لمونځ فاسدوونکي وي.

وعلى هذا الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دويم دليل په رڼا کې که انسان په خپله قرآن را اخيستی وي، او له هغه څخه قرائت کوي يا يې قرآن مخته په رحل يا بل شي کې ايښی وي، يا يو بل ځای پروت وي او دی يې وينې او له هغه څخه قرائت کوي، نو په دې دواړو صورتونو کې هيڅ فرق نسته، او په دواړو صورتونو کې لمونځ فاسديږي، ځکه چې له قرآن څخه زده کړه په دواړو صورونو کې ستـه، او زده کړه لمونځ فاسدوي؛ د دې په خلاف د اول دليل په رڼا کې د دې صورتونو په مينځ کې فرق ستـه، هغه دا چې د قرآن را اخيستلو په صورت کې به د عملِ کثير په وجه لمونځ فاسد وي، لېکن که قرآن خلاص يو ځای پروت وي، او له هغه څخه قرائت کيږي، نو دا لمونځ به فاسد نه وي، ځکه چې په دې صورت کې عملِ کثير نسته.

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة قاضي خان رَحِمَهُ الله: إذا قرأ المصلى من المصحف فسدت صلوته فى قول ابى حنيفة رَحِمَهُ الله ولو نظر فى المصحف أو المحراب ففهم ولم يقرأ لا تفسد صلوته، وهو الصحيح (الخانية ج۱، ص۶۵). [القول الراجح، ج۱، ص۱۰۲]

که په لمانځه کې يو خط ته کتل او په هغه پوهېدل

وَلَوْنَظَرَاِلَى مَكْتُوْبٍ او که لمونځ گزاره (له قرآن څخه ماسوا) بل ليکل سوي شي ته وکتل وَفَهِمَهُ او په هغه پوه سو فَالصَّحِيْحُ اَنَّهُ لَاتَفْسُدُ صَلَاتُهُ بِالْإِجْمَاعِ نو صحيح قول دا دی چې په اجماع سره د هغه لمونځ نه فاسديږي بِخِلَافِ مَا إِذَا حَلَفَ لَا يَقْرَأُ كِتَابَ فُلَانٍ په خلاف د هغه چې صورت چې کله هغه قسم کړی وي چې د فلانکي کتاب به نه وايم حَيْثُ يَحْنَثُ بِالْفَهْمِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ نو (په دې صورت کې) د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په پوهېدلو سره دغه سړی حانث کيږي (يعني قسم يې ماتيږي) لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ هُنَالِكَ الْفَهْمُ ځکه چې دلته مقصود پوهېدل دي أَمَّا فَسَادُ الصَّلَاةِ فَبِالْعَمَلِ الْكَثِيْرِ پاته سو د لمانځه فاسدېدل نو هغه په عملِ کثير سره راځي وَلَمْ يُوْجَدْ او عملِ کثير (دلته) نسته.

اللغات: ﴿مكتوب﴾ د نصر اسم مفعول دی: ليکل سوی، (مراد ځنې خط دی). ﴿يحنث﴾ د فتح مضارع ده: قسم ماتېدل.

تشريح: **مسئله:** دا ده که لمونځ گزاره د لمانځه په دوران کې له قرآن څخه ما سوا بل ليکل سوي شي ته وکتل او په هغه پوه سو، لېکن په ژبه سره يې تلفظ او تکلم نه په وکړی، نو بالاتفاق په دې سره لمونځ نه فاسديږي، همدا صحيح ده، صاحب د کتاب په فالصحيح سره له هغه قول څخه احتراز کړی دی چې بعضي مشائخو ويلي دي چې په ذکر سوې مسئله کې د نه فاسدېدلو قول د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دی، کنې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې صورت کې هم لمونځ فاسديږي، مگر صحيح قول همدغه دی چې په دې صورت کې د هيچا په نېز لمونځ نه فاسديږي، نه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز او نه د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز، ځکه چې د لمانځه د فاسدېدلو لپاره عمل کثير پکار دی، او هغه دلته نسته.

بخلاف الخ د دې په خلاف که يو سړي قسم وکړی چې د فلانکي سړي کتاب به نه وايم، بيا پر هغه کتاب د ده نظر ولوېدی، او په هغه کې په ليکل سوي عبارت باندې پوه سو، نو په دې صورت کې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز قسم کونکی حانث کيږي، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز هغه نه حانث کيږي.

د امام محمد دليل: دا دی چې د ويلو مقصد پوهېدل دي، نو د نه ويلو قسم به پر نه پوهېدلو حمل کيږي، او په پوهېدلو سره به قسم کونکی حانث کيږي، که څه هم تکلّم او تلفظ نه وکړي، ځکه چې په شريعت کې د معناګانو اعتبار کيږي، د الفاظو اعتبار نه کيږي، د فقهي مشهوره قاعده ده: الاعتبار للمعاني لا للمباني.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چې په ذکر سوې مسئله قسم کونکي د نه ويلو قسم کړی دی، نو قسم به صرف په ويلو سره ماتيږي، په پوهېدلو او پوهولو سره به نه ماتيږي، ځکه چې د ويلو تعلق د ژبې ښورولو سره دی. او دلته د ژبې ښورېدل نه دي راغلي، نو ځکه تر کومه وخت چې دکتاب عبارت په ژبه نه ووايي. تر هغه وخته به نه حانث کيږي، که څه هم دی يې ډېر وګنې.

همدارنګه د لمانځه د فساد مسئله ده، چې صرف په پوهېدلو سره هم لمونځ نه فاسديږي، ځکه چې د لمانځه د فساد لپاره د عملِ کثير ضرورت دی، او بغير له تکلمه پوهېدل مورږ عملِ کثير نه سو ګرځولای، نو ځکه به صرف د پوهېدلو په وجه د لمانځه د فساد حکم نه لګوو.

د لمونځ ګزار مخته د ښځې تېرېدل

وَإِنْ مَرَّتْ اِمْرَأَةٌ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ او که د لمونځ کونکي مخته يو ښځه تېره سوه لَمْ تَقْطَعِ الصَّلاَةَ نو دا تېرېدل لمونځ نه فاسدوي لِقَوْلِه عَلَيْهِ الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا يَقْطَعُ الصَّلاَةَ مُرُوْرُ شَيْءٍ د هيڅ شي تېرېدل لمونځ نه فاسدوي إِلاَّ أَنَّ الْمَارَّ آثِمٌ لېکن تېرېدونکي به ګنهکاره وي لِقَوْلِه عَلَيْهِ الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَوْ عَلِمَ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ ● که هغه سړي ته معلومه سي کوم چې د لمونځ کونکي مخته تېرېږي مَاذَا عَلَيْهِ مِنَ الْوِزْرِ چې پر ده څومره ګناه ده لَوَقَفَ أَرْبَعِيْنَ نو هغه به تر څلوېښتو پوري ولاړ وي وَإِنَّمَا يَأْثَمُ إِذَا مَرَّ فِيْ مَوْضِعِ سُجُوْدِهِ او تېرېدونکي هغه وخت ګنهکاره کيږي چې کله هغه د لمونځ کونکي د سجدې په ځای کې تېر سي عَلَى مَا قِيْلَ لکه څرنګه چې ويل سوي دي وَلَا يَكُوْنُ بَيْنَهُمَا حَائِلٌ او (چې) د دواړه په مېنځ کې څه حائل (پرده) هم نه وي وَتُحَاذِيْ أَعْضَاءُ الْمَارِّ أَعْضَاءَهُ او د تېرېدونکي اندامونه د لمونځ ګزاره د اندامونو سره برابر سي لَوْ كَانَ يُصَلِّيْ عَلَى الدُّكَّانِ (په هغه صورت کې) که لمونځ ګزاره پر دوکانچه (چوتره) لمونځ کوی.

اللغات: ﴿آثم﴾ ګنهکاره (ګناهکاره)، مجرم، ﴿وِزْر﴾ ګناه، بوج، ﴿دُكَّان﴾ لوړ ځای، دوکانچه، چوتره.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې زموږ په نېز د لمونځ ګزاره مخته د سړي، ښځې، خره او داسې نورو په تېرېدلو سره د هغه لمونځ نه فاسديږي، او اصحابِ ظواهر وايي: چې د دې شيانو په تېرېدلو سره لمونځ فاسديږي.

● أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب من قال لا يقطع الصلاة، حديث رقم:۷۱۹.

● أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب ماينهى عن المرور، حديث رقم:۷۰۱.

د اصحاب ظواهر دليل: دا حديث دی: تقطع المرأة الصلاة والكلب والحمار، (يعني ښځه، سپی او خر لمونځ فاسدوي)، نو له دې څخه معلومه سوه چي ښځه او خر د لمانځه فاسدونکي دي، او د دوی په تېرېدلو سره لمونځ فاسدېږي.

جواب: زموږ له طرفه د دې حديث جواب دا دی چي دا حديث موضوعي دی، او د استدلال وړ نه دی، ځکه چي صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي: أنكرتها عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حين بلغتها فقال يا أهل العراق والشقاق والنفاق قرنتمونا بالحمر والكلاب، كان رسول الله ﷺ يصلي و أنا معترضة بين يديه اعتراض الجنازة فإذا سجد حبست رجلي وإذا قام مددتها (الحديث منيه، ج۱، ص۴۱۴)، (يعني کله چي حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته دا حديث ورسېدی، نو هغه ناراضه سوه، او په سختي سره يې د دې انکار وکړی، او داسي يې وفرمايل چي: اې عراقيانو! او اې د نفاق او شقاق خاوندانو! ستاسو دې پېره غرقه سي تاسو خو موږ د خرو او سپيانو په صف کي ودرولو، واورئ! کله چي به نبي ﷺ لمونځ کوی نو زه به د جنازې په څېر د نبي ﷺ مخته پرته وم، چي نبي ﷺ به سجده کول نو ما به خپلي پښې را ټولولې او چي نبي ﷺ به ولاړ سو نو ما به (بېرته) غوړولې)، په دې حديث سره دا خبره په ډاګه ښکاره کېږي چي د ښځي تېرېدل لمونځ نه فاسدوي، ځکه کله چي د لمونځ گزار مخ ته د ښځي استقرار لمونځ نه فاسدوي، نو د مُرور څه حيثيت دی، همدارنګه د سپي، او خره تېرېدل هم لمونځ نه فاسدوي، دليل دا حديث دی: لا يقطع الصلاة مرور شيئ، يعني د هيڅ شي تېرېدل هم لمونځ نه فاسدوي، او ځرنګه چي شی عام دی، او نکره دی، نو ځکه به د عموم فايده ورکوي، ځکه قاعده دا ده: چي کله نکره تحت النفي واقع سي نو د عموم فايده ورکوي، نو ځکه دلته به هم په شي کي سپی، سپی او خر ټوله داخل وي، او د هيڅ شي تېرېدل به هم د لمانځه فاسدونکي نه وي، لېکن که تېرېدونکي انسان وي نو په داسي حرکت کولو سره به انسان حتماً گنهګاره کېږي، ځکه چي د نبي ﷺ فرمان دی: که د لمونځ گزاره مخ ته د تېرېدلو عذب او سزا تېرېدونکي ته معلومه سي نو هغه به څلوېښت کاله له خپل ځخه نه وښوري او پر دغه ځای به پاته وي، او په بل قول کي راغلي دي څلوېښت مياشتي، او په بل کي راغلي دي څلوېښت ورځي، خير خو له حديث څخه دا ثابتېږي چي د لمونځ گزاره مخته ته تېرېدل ډېر غټ جرم دی او عذاب به يې ډېر سخت وي.

وإنمايأثم الخ له دې ځايه دا را ښيي چي د تېرېدلو اندازه څومره ده، او په څه ډول تېرېدلو سره لمونځ گزاره گنهګاره کېږي، نو په دې سلسله کي يو څو اقوال دي، او بيا د صحراء او مسجد فرق هم سته، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي که لمونځ گزاره په صحرا کي لمونځ کوی نو د سجدې په ځای کي په تېرېدلو سره انسان گنهګاره کېږي، وهو اختيار شمس الائمة السرخسي و شيخ الاسلام و قاضي خان، يعني د دې حضراتو په نېز ښه او خوښ قول همدغه دی، د علامه فخر الدين رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي که لمونځ گزاره د سجدې ځای ته ګوري لمونځ کوي او تېرېدونکي په نظر نه ورځي، نو بيا تېرېدل مکروه نه وي، همدارنګه تېرېدونکی گنهګاره نه دی، بعضي خلکو په دوو او درې صفونو سره د دې اندازه بيان کړې ده، او بعضو په درې ذراعه او بعضو په پنځه ذراعه سره د دې اندازه بيان کړې ده، او بعضو په څلوېښت ذراعه سره د دې اندازه ذکر کړې ده، والله اعلم؛ او که لمونځ گزاره په مسجد کي لمونځ کوی، نو په دې صورت کي د بعضي حضراتو رايه دا ده چي د لمونځ گزاره او د قبلې د دېوال تر مېنځ تېرېدل صحيح نه دي، او گناه لري، او د بعضي حضراتو رايه دا ده چي تر پنځوس ذراعو مخته تېرېدای سي، په هغه کي هيڅ حرج نسته. (منيه ج۱، ص۴۱۵)

ولايكون بينهما الخ فرمايي چي تېرېدونکي په هغه وخت کي گنهګاره کېږي چي کله د ده او د لمونځ گزاره تر مېنځ يو شی مثلاً دېوال، ستن (پيلر) او داسي بل شي حائل نه وي، لېکن که دېوال او داسي نور حائل وي، نو په دې صورت کي

په تېرېدلو کي هېڅ حرج نسته، او که لمونځ ګزاره پر دوکانچه یا پر یو بل لوړ ځای لمونځ کوي، نو په دې صورت کي که تېرېدونکي دومره نژدې تېرېدی چي د ده اندامونه د لمونځ ګزاره د اندامونو سره برابر او مقابل سوه، نو بیا دی ګنهکاره کیږي، کنې نه ګنهکاره، او که پر دومره لوړ ځای یې لمونځ کوی چي هغه د انسان د قد(تنې) په اندازه لوړ وو، نو په دې صورت کي تېرېدونکی نه ګنهکاره کیږي.

په صحرا (میدان) کي د لمونځ کونکي لپاره ستره درول

وَيَنْبَغِيْ لِمَنْ يُصَلِّيْ فِي الصَّحْرَاءِ او ښوک چي په صحراء(میدان) کي لمونځ کوي د هغه لپاره مناسب دا ده أَنْ يَتَّخِذَ أَمَامَهُ سُتْرَةً چي مخته ستره ودروي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي إِذَا صَلّٰى أَحَدُكُمْ فِي الصَّحْرَاءِ کله چي ستاسو څخه ښوک په صحرا کي لمونځ کوي فَلْيَجْعَلْ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةً نو خپل مخته دي ستره ودروي وَمِقْدَارُهَا ذِرَاعٌ فَصَاعِدًا او د سترې مقدار یو ذراع یا له دې څخه زیات دي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ آیا له تاسو څخه یو سړی دا کولای نه سي إِذَا صَلّٰى فِي الصَّحْرَاءِ چي کله هغه په صحرا کي لمونځ کوي أَنْ يَكُوْنَ أَمَامَهُ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ چي د هغه و مخ ته دي د کجاوې د لرګي په ډول یو شی وي وَقِيْلَ يَنْبَغِيْ أَنْ تَكُوْنَ فِيْ غِلَظِ الْأُصْبُعِ او وېل سوي دي مناسب دا ده چي ستره به د ګوتي په اندازه پنډه وي لِأَنَّ مَا دُوْنَهُ لَا يَبْدُوْ لِلنَّاظِرِ مِنْ بَعِيْدٍ ځکه چي تر دې نرۍ ستره له لیري څخه کتونکي ته په نظر نه راځي فَلَا يَحْصُلُ الْمَقْصُوْدُ نو مقصود نه (په) حاصلیږي.

اللغات: ﴿صحراء﴾ ناآباده میدان، صحرا، بیابان، ﴿ذراع﴾ یو لاس، شرعي ګز، ﴿رحل﴾ کجاوه، ﴿مؤخرة﴾ د کجاوې هغه لرګي ته وېل کیږي کوم چي د سپاره(راکب) د سر سره برابر وي (منایه)، ﴿غلظ﴾ پنډوالی.

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړي په صحرا او میدان کي لمونځ کوی نو خپل مخته دي ستره ودروي، او ستره درول مستحب دي، دلیل د نبي ﷺ دا قول دی: إذا صلی أحدکم فی الصحراء فلیجعل بین یدیه سترة، پاته سوه دا خبره چي د سترې اندازه به څومره وي، نو په دې باره کي فرمایي چي د سترې اوږدوالی لږ تر لږه یوه ذراع پکار دی، او زیات چي څومره وي، څه حرج پکښې نسته، دلیل د نبي ﷺ دا قول دی: أیعجز أحدکم إذا صلی فی الصحراء أن یکون امامه مثل مؤخرة الرحل، (مؤخرة د میم په ضمه او د خاء په کسره سره هغه لرګي ته وېل کیږي چي هغه د کجاوې شاته وي او د سپور سړي د سر سره برابر وي، د خاء په شد سره وېل غلط دی، رحل کجاوې ته وېل کیږي)، صاحب د قدوري رَحِمَهُ الله وایي چي د سترې پنډوالی د یوې ګوتي په اندازه پکار دی، دلیل یې دا دی چي تر دې کم پنډوالی له لیري څخه خلکو ته نه معلومیږي، او تر دې چي کومه ستره نرۍ وي په هغه سره مقصود نه حاصلیږي، نو ځکه وېل سوه چي لږ تر لږه به ستره د یوې ګوتي په اندازه پنډه وي.

● أخرجه ابو داؤد فی کتاب الصلاة، باب الخط إذا لم یجد عصاً، حدیث رقم: ۶۸۹.

● أخرجه مسلم فی کتاب الصلوٰة، باب سترة المصلی، حدیث رقم: ۲۴۱.

د سترې درولو ادبونه

وَيَقْرُبُ مِنَ السُّتْرَةِ او لمونځ گزاره دې سترې ته نژدې دربږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ• ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي مَنْ صَلَّى إِلَى سُتْرَةٍ كوم سړی چې سترې ته لمونځ كوی فَلْيَدْنُ مِنْهَا نو هغه ته پكار دي چې سترې ته نژدې شي وَيَجْعَلُ السُّتْرَةَ عَلَى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ أَوْ عَلَى الْأَيْسَرِ او ستره دې د راسته يا چپه ورځي (وروځي) پر طرف دروي بِهِ وَرَدَ الْأَثَرُ• او په دغه باره کې اثر وارد سوی دی وَلَا بَأْسَ بِتَرْكِ السُّتْرَةِ او د سترې په پرېښوولو کې څه خبره نسته إِذَا أَمِنَ الْمُرُورَ وَلَمْ يُوَاجِهِ الطَّرِيقَ كله چې لمونځ گزاره له تېرېدلو څخه په امن وي او پر لاري مخامخ نه وي.

اللغات: ﴿فَلْيَدْنُ﴾ د نصرب له باب څخه امر غائب دی: نژدې كېدل. ﴿حاجب﴾ د سترگو ورځه (وروځه).

تشريح: په عبارت کې د سترې په اړه دوه (٢) حکمونه بيان سوي دي: (١) اول حکم دا دی چې لمونځ كونكي ته پكار دي چې سترې ته بالكل نژدې ودرېږي، ليرې دې نه ځني دربږي، ځکه په حديث کې د دې تأكيد راغلی دی.

(٢) دويم حکم دا دی چې لمونځ كونكي دې ستره بالكل مخامخ نه دروي بلكې د خپل راسته يا چپه ورځي سره دې يې برابروي، ځکه له نبي ﷺ څخه همدغه ډول رانقل سوي دي، لکه په عنايه کې چې ذكر دي: روى عنه ﷺ ما صلى إلى شجرة ولا إلى عود ولا إلى غمود إلا جعله على حاجبه الأيمن ولم يصمده صمداً... الخ (يعني نبي ﷺ چې به كله هم درختي يا لرگي او نورو ته لمونځ كوی نو هغه به يې د راسته ورځي سره برابرول، او بالكل به يې مخته نه درول).

ولا بأس الخ د دې حاصل دا دی چې د سترې درولو اصلي علت د يو چا د تېرېدلو احتمال او انديښنه ده، نو كه د تېرېدلو خطره او احتمال نه وي، او لمونځ گزاره بالكل د لاري مخته ولاړ هم نه وي، په دې صورت کې كه څه هم ستره نه ودروي، نو څه پروا نه لري، ځکه چې د علت د نيستوالي په وجه معلول هم ختمېږي.

د امام ستره د مقتديانو لپاره كافي كېدل

وَسُتْرَةُ الْإِمَامِ سُتْرَةٌ لِلْقَوْمِ او د امام ستره د قوم لپاره (هم) ستره ده لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ صَلَّى بِبَطْحَاءَ مَكَّةَ إِلَى عَنَزَةٍ ځکه نبي ﷺ د مکې په بطحا کې د لکړې (امسا) و طرف ته لمونځ وکړی وَلَمْ يَكُنْ لِلْقَوْمِ سُتْرَةٌ او د قوم لپاره ستره نه وه.

اللغات: ﴿بطحاء﴾ ډبرينه ځمکه. ﴿عنزه﴾ په اصل کې هغه لکړې ته ويل كېږي چې په آخر کې يې د نيزې هغه تېره اوسپنه لگېدلې كوم چې د نېزې په لاندينۍ حصه کې وي، بعضي شارحينو ويلي دي چې له عنزة څخه مراد "نېزه" ده، خو صحيح دا ده چې لکړه ځني مراده.

تشريح: فرمايي كه لمونځ په جماعت سره كېدی او هلته د سترې درولو ضرورت پېښ سو، نو صرف د امام لپاره ستره درول ضروري دي، او د امام ستره د مقتديانو لپاره هم ستره شمارل كېږي، او د مقتديانو لپاره د جلا سترې درولو ضرورت نسته، دليل دا دی چې كله نبي ﷺ د مکې شريفې په بطحاء کې خلكو ته لمونځ وركوی، نو صرف د نبي ﷺ مخته

ستره وه، د مقتديانو مخته ستره نه وه، لهذا ځرنګه چې د امام قرائت د مقتديانو لپاره قرائت ګرځول کيږي، همدارنګه به د امام ستره د مقتديانو لپاره ستره ګرځول کيږي، او د دوی لپاره به د جلا سترې درولو هيڅ ضرورت نه وي.

ستره په مځکه کې ښخول

وَيُعْتَبَرُ الْغَرْزُ او د سترې درول(ښخول) معتبر دي دُوْنَ الْإِلْقَاءِ د سترې غورځول(معتبر نه دي) وَالْخَطِّ او نه ليکه(کرښه) کښل (معتبر دي) لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ لَا يَحْصُلُ بِهِ ځکه په دې سره مقصود نه حاصليږي.

اللغات: ﴿الغرز﴾ درول، جګول، ښخول، ﴿الإلقاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: غورځول، اچول، ﴿الخط﴾ د نصر د باب مصدر دی: ليکه کښل (کاږل).

تشريح: مسئله: دا ده چې ستره په مځکه کې درول او ښخول معتبره دي، د دې لپاره چې د هوا يا بل شي په وجه غورځېدلې نه سي، ځکه چې د سترې مقصد همدغه دی چې خلکو ته دا وښوول سي چې يو څوک لمونځ کوي، او ښکاره ده چې دا صرف د سترې په درولو سره حاصليږي، نو ځکه صرف د سترې اېښوولو يا د کرښې کښلو هيڅ اعتبار نسته، ځکه چې په دې طريقه سره مقصود نه حاصليږي.

که ستره نه وه نو څه حکم دی؟

وَيَدْرَأُ الْمَارَّ او لمونځ ګزاره دې تيرېدونکي منع کوي إِذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ که د لمونځ ګزاره مخته ستره نه وه أَوْ مَرَّ بَيْنَهُ وَبَيْنَ السُّتْرَةِ يا که تيرېدونکی د لمونځ ګزاره او سترې په مېنځ کې تېر سو (نو هم دې يې منع کوي) لِقَوْلِهِ• عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي فَادْرَءُوْا مَا اسْتَطَعْتُمْ څومره چې ستاسو وس وي(تيرېدونکی) منع کوئ! وَيَدْرَأُ بِالْإِشَارَةِ او په اشاره سره دې يې منع کوي كَمَا فَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ• بِوَلَدَيْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لکه څرنګه چې نبي ﷺ د ام سلمه رضي الله عنها د دواړو ځامنو سره داسي کړي وو أَوْ يَدْفَعُ بِالتَّسْبِيْحِ يا دې يې د تسبيح په ذريعه سره منع کوي لِمَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ د هغه حديث په وجه کوم چې موږ مخکي روايت کړی وَيُكْرَهُ الْجَمْعُ بَيْنَهُمَا (خو) اشاره او تسبيح دواړه جمع کول مکروه دي لِأَنَّ بِأَحَدِهِمَا كِفَايَةً ځکه له دوی څخه يو (هم) کافي دی.

اللغات: ﴿يدرأ﴾ د فتح د باب مضارع ده: ليري کول، منع کول، ﴿كفاية﴾ کفايت، ضرورت پوره کونکی شی.

تشريح: مسئله: دا ده که د لمونځ ګزار مخته ستره نه وي، يا ستره خو وي، لېکن د سترې او لمونځ ګزار تر مېنځ يو څوک د تيرېدلو اراده لري، نو لمونځ ګزاره دې دا تيرېدونکی منع کړي، ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: فادرؤا ما استطعتم (يعني څومره چې ممکنه وي تيرېدونکی منع کړئ!). پاته سوه دا خبره چې لمونځ ګزار به تيرېدونکی څرنګه منع کوي، په دې باره کي فرمايي: چې په اشارې سره دې يې منع کوي، لکه نبي ﷺ چې د ام سلمه رضي الله عنها دوه کوچنيان منع کړي وو، صاحب د عنايې او بنايې د دې تفصيل داسي ذکر کړی دی: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِهَا فَقَامَ وَلَدُهَا عُمَرُ لِيَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَشَارَ إِلَيْهِ أَنْ قِفْ، فَوَقَفَ، ثُمَّ قَامَتْ بِنْتُهَا زَيْنَبُ لِتَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَأَشَارَ إِلَيْهَا أَنْ قِفِيْ فَأَبَتْ فَمَرَّتْ.

• أخرجه مسلم في كتاب الصلاة، باب منع المارّ بين يدي المصلي، حديث رقم: ٢٥٨.

• أخرجه ابن ماجه في كتاب الاقامة، باب ما يقطع الصلوة، حديث رقم: ٩٤٨.

ملګنا أخرج من عند الله قال: ثالثهنّ الفضل ناقصات العقل والدين صواحب يوسف صواحب يوسف يغلبن الكرام ويغلبهن اللئام. (نبي کريم ﷺ د حضرت ام سلمه رضي الله عنها په کور کې لمونځ کوی، د ام سلمې رضي الله عنها ځوی ولاړ سو چې د نبي ﷺ مخته تېر سي، نبي ﷺ هغه ته اشاره وکړه چې ودرېږه، نو هغه ودرېدی، بیا د ام سلمې رضي الله عنها لور د تېرېدلو لپاره را ولاړه سوه نبي ﷺ هغې ته هم اشاره وکړه چې ودرېږه، لیکن هغې نه ومنله او تېره سوه، کله چې نبي ﷺ له لمانځه څخه فارغه سو، نو ویې ویل چې د (ابن آدم لوني)، د دين او عقل ناقصي، او د يوسف (عليه السلام) او كرسف لاروباني دي، پر نېکانو او ښو خلکو غالبه کیږي، بې وقوفه او کم اصله خلک پر دوی غالبه کیږي)؛ لنډه دا چې له دې حديث څخه په اشاره باندي منع کول ثابت سوه.

او يدفعه بالتسبيح الخ يا دي يې په تسبيح ويلو سره منع کړي، دليل يې مخکي تېر سو يعني د نبي ﷺ دا قول: إذا نابت أحدكم نائبة في الصلاة فليسبح. لیکن اشاره او تسبيح دواړه جمع کول مکروه دي، ځکه چې په دواړو کې يو کفايت کوي، نو د بل څه ضرورت نسته.



فَصْلٌ أَيْ هٰذَا فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ الْمُفْسِدِ

دا فصل د لمانځه د فاسدونکو شيانو (په بيان کې) دی

تشريح: مخکي تر دې صاحب د کتاب مفسدات بيان کړل، اوس له دې ځايه صرف مکروهات بيانوي، او ځرنګه چې مفسد تر مکروه زيات قوي وي، نو ځکه يې مفسدات مخکي کړل.

په لمانځه کې په جامو(کپړو) او بدن سره بازي کول

ويكره للمصلي او لمونځ کونکي لره مکروه دي أن يعبث بثوبه أو بجسده چې په خپلو جامو يا بدن سره بازي کوي لقوله عليه الصلاة والسلام ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إن الله تعالى كره لكم ثلاثا چې الله تعالیٰ ستاسو لپاره درې شيان مکروه ګرځولي دي وذكر منها العبث في الصلاة او نبي ﷺ له هغه درېو شيانو څخه په لمانځه کې عبث کار هم ذکر کړی ولأن العبث خارج الصلاة حرام او په دې وجه هم چې له لمانځه څخه دباندي لا عبث کار حرام دی فما ظنك في الصلاة نو په لمانځه کې ستا څه خيال دی!؟

اللغات: ﴿عبث﴾ بې فايدې کار.

تشريح: مسئله: دا ده چې د لمونځ ګزاره لپاره په خپل بدن يا جامو سره بازي کول مکروه دي. دليل دا دی چې نبي ﷺ فرمايلي دي: الله تعالیٰ ستاسو لپاره درې شيان مکروه کړي دي، چې له هغو څخه يو په لمانځه کې دننه بازي او لوبې کول دي، او له نورو دوو څخه

● أخرجه قضاعي في مسندالشهاب، باب ان الله كره لكم العبث في الصلاة، حديث رقم:۱۰۸۷، ج:۲.

يو د روژې په حالت کې ګنده او چټلې خبرې کول دي، او دويم شی په هديره کې خندل دي؛ دويم دليل دا دی چې عبث کار خو له لمانځه څخه دباندې هم حرام دی، نو په لمانځه کې ستا څه خيال دی!؟ يعني په لمانځه کې خو په طريقه اولیٰ حرام دی.

په لمانځه کې شګې ليرې کول

وَلَا يُقَلِّبُ الْحَصَا او شګې دې (هم) په لمانځه کې نه ليرې کوي لِأَنَّهُ نَوْعُ عَبَثٍ ځکه چې دا هم يو ډول عبث کار دی إِلَّا أَنْ لَا يُمْكِنَهُ مِنَ السُّجُودِ خو دا چې د لمونځ ګزاره لپاره سجده کول ممکن نه وي فَيُسَوِّيَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً نو يو وار به يې برابروي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه د نبي ﷺ فرمان دی مَرَّةً يَا أَبَا ذَرٍّ وَإِلَّا فَذَرْ اې ابوذره! يو وار (داسې کوه) کنې پرې يې ږده يې وَلِأَنَّ فِيهِ إِصْلَاحَ صَلَاتِهِ او ځکه چې په دې کې د لمونځ ګزاره د لمانځه اصلاح (هم) ده.

اللغات: ﴿حصا﴾ شګې، کوچنۍ ډبرې، ﴿فذر﴾ ذَرْ دامر صيغه ده: پرېښوول.

تشريح: مسئله: دا ده چې د لمونځ ګزاره لپاره په لمانځه کې شګې ليرې کول، يا داسې بل شی اړول را اړول هم مکروه دي، ځکه چې دا هم يو ډول عبث کار دی، او عبث کار مکروه دی، نو دا به هم مکروه وي، ليکن که له شګو او ډبرو ليرې کولو څخه بغير سجده کول ممکن نه وي، نو په دې صورت کې يې يو وار ليرې کولای سي، په يو وار ليرې کولو کې هيڅ حرج نسته، ځکه نبي ﷺ حضرت ابو ذر ؓ ته د يو وار داسې کولو اجازه ورکړې وه، څرنګه چې په مصنف عبد الرزاق کې د حضرت ابو ذر غفاري ؓ په حواله سره را نقل سوي دي: سألت النبي ﷺ عن كل شئ حتى سألته عن مسح الحصى فقال واحدة، أو دع، (يعني ما له نبي ﷺ د هر شي په باره کې پوښتنه کړې ده تر دې چې د شګو ليرې کولو په باره کې مې هم پوښتنه څنې وکړه، نو نبي ﷺ وفرمايل چې صرف يو وار د ليرې کولو اجازه سته، د دويم وار اجازه نسته)؛ او ښه خبره دا ده چې يو وار يې هم ليرې نه کړي. (فتح القدير ج:۱، ص: ۴۲۰)

عقلي دليل: دا دی چې د شګو او داسې نورو په ليرې کولو کې د لمونځ کونکي د لمانځه اصلاح هم ده، په دې توګه چې کله شګې او نور ليرې سي، نو لمونځ کونکي به په ښه سکون او اطمينان سره لمونځ وکړی، او ښکاره ده چې په کوم شي سره د لمانځه اصلاح کيږي، هغه عبث نه وي، همدا وجه ده چې د يو وار شګو ليرې کولو رخصت او اجازه سته.

په لمانځه کې په ګوتو ټکان کول او پر تشه (ډډه) لاس ايښوول

وَلَا يُفَرْقِعُ أَصَابِعَهُ او لمونځ ګزاره به په ګوتو ټکان نه کوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا تُفَرْقِعْ أَصَابِعَكَ وَأَنْتَ تُصَلِّيْ د لمانځه په حالت کې په ګوتو ټکان مه کوه وَلَا يَتَخَصَّرُ او لمونځ ګزاره به تخصّر هم نه کوي وَهُوَ وَضْعُ الْيَدِ عَلَى الْخَاصِرَةِ او تخصّر پر تشه (ډډه) لاس ايښوول دي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى عَنِ الْاِخْتِصَارِ فِي الصَّلَاةِ ځکه نبي ﷺ په لمانځه کې له تخصّر څخه منع فرمايلې ده وَلِأَنَّ فِيهِ تَرْكَ الْوَضْعِ الْمَسْنُوْنِ او په دې وجه (هم) چې په تخصّر کې د سنت طريقې پرېښوول دي.

● أخرجه احمد في مسنده، باب رقم: ۳۵، حديث رقم: ۲۱۴۴۶ في معناه.

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الاقامة، باب ما يكره في الصلاة، حديث رقم: ۶۹۵.

● تخريج: البيهقي في السنن الكبرىٰ، باب كراهية التخصر، حديث رقم: ۳۷۰.

اللغات: ﴿يُفَرقِعُ﴾ د فعلله د باب مضارع صيغه ده: په ګوتو ټکان کول، له ګوتو څخه ټکان ايستل، ﴿يَتَخَصَّرُ﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: پر تش لاس ايښول، ﴿الخاصرة﴾ تش، ډډه، اړخ (د نس له دواړو طرفونو څخه خالي حصه چې تر پښتيو لاندې واقع ده).

تشريح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بيان سوي دي: (۱) اوله مسئله دا ده چې د لمونځ ګزار لپاره د لمانځه په دوران کې په ګوتو ټکان کول مکروه دي، ځکه نبي ﷺ له دې څخه منع کړې ده، په کتاب کې چې د حديث کوم الفاظ ذکر سوي دي، بعينه همدغه الفاظ په ابن ماجه کې د حضرت علي رضي الله عنه په حواله سره هم ذکر سوي دي. (۲) دويمه مسئله دا ده چې د لمونځ ګزار لپاره تخصّر او اختصار هم مکروه دی، ځکه نبي ﷺ له دې څخه منع فرمايلې ده، لکه څرنګه چې مشهورو محدثينو د حضرت ابو هريره رضي الله عنه په حواله سره دا روايت را نقل کړی دی: نهى رسول الله ﷺ أن يصلي الرجل مختصراً، صاحب د هدايې د اختصار تعريف داسې کړی دی: وضع اليد على الخاصرة، يعني پر تشه لاس ايښولو ته تخصّر او اختصار ويل کيږي، او په لمانځه کې داسې کول ممنوع او مکروه دي، او بيا خو لمونځ ګزار ته د لمانځه په حالت کې تر نامه لاندې د لاسونو ايښوولو حکم سوی دی، نو ښکاره ده چې کوم سړی پر تشه لاس اېږدي نو هغه به د سنت طريقې پرېښوونکی سي، نو په دې وجه هم په لمانځه کې داسې کول مکروه دي.

همدارنګه په دنيوي محفلو او مجلسو کې هم په ګوتو ټکان کول او پر ډډه لاس ايښول مکروه او ناخوښه ګڼل کيږي، نو به د مالکُ الملک او احکم الحاکمين په دربار کې او بيا د عبادت په وخت کې به څرنګه د دې اجازه وي.

په لمانځه کې شا وخوا، چپه او راسته طرف ته کتل

> **وَلَا يَلْتَفِتُ** او لمونځ ګزاره دې (شا وخوا) نه ګوري **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ**● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي **لَوْ عَلِمَ الْمُصَلِّيْ مَنْ يُنَاجِيْ مَا الْتَفَتَ** که لمونځ ګزاره په دې پوه سي چې د چا سره مناجات کوي نو التفات به نه وکړي **وَلَوْ نَظَرَ بِمُؤْخِرِ عَيْنَيْهِ يَمْنَةً وَيَسْرَةً** او که لمونځ ګزاره د سترګو تر طرفونو (ېخونو) راسته او چپه طرف ته وګوري **مِنْ غَيْرِ أَنْ يَلْوِيَ عُنُقَهُ** بغير له غاړې پېچلو (او مخ اړولو) څخه **لَا يُكْرَهُ** نو مکروه نه دي **لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ**● **كَانَ يُلَاحِظُ أَصْحَابَهُ فِيْ صَلَاتِهِ بِمُوْقِ عَيْنَيْهِ** ځکه نبي ﷺ به په لمانځه کې خپل اصحابو ته د سترګو تر بغلونو کتل.

اللغات: ﴿المؤخر﴾ په ضمه د ميم او په کسره د خاء سره: آخري طرف، بغل، مراځني د سترګو ېخ او آخري طرف دی، ﴿يلوي﴾ د ضرب د باب مضارع ده: اړول، ګرځول، کږول، ﴿عنق﴾ غاړه، ﴿مُوْق﴾ همزه په واؤ سره اړول هم صحيح دي يعني: مُؤق: د سترګو ېخ، د سترګو آخري طرف، ګوشهٔ چشم.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې لمونځ ګزاره دې د لمانځه په دوران کې شاوخوا، دلته و هلته نه ګوري، ځکه چې دی په لمانځه کې د الله سره مناجات او خبرې کوي، او په دې وخت کې داسې کول د توجه د نيستوالي دليل دي، او دا بالکل مناسب نه دي، په خپله نبي کريم ﷺ فرمايي چې که لمونځ ګزار ته دا معلومه سي يعني ده ته د دې خبرې احساس وسي چې دی د کوم ذات سره مناجات کوي، نو التفات خو پرېږده، د التفات سوچ به هم نه وکړي، ځکه چې تر څو بنده

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب التفات الصلاة، حديث رقم: ۹۰۹ بمعناه.

● تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الجمعة، باب ماذكر في التفات الصلاة، حديث: ۵۸۷.

په پوره توجه سره په لمانځه کې مشغوله وي، تر هغه وخته هغه د الله ﷻ د رحمت په سايه کې وي، ليکن څرنګه چې هغه له لمانځه څخه خپله توجه ليرې کړي، نو الهي رحمت هم مخ څخې واړوي، له حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي ﷺ وفرمايل: لا يزال الله تعالى مقبلا على العبد وهو في صلاته مالم يلتفت، فإذا التفت انصرف عنه. (فتح القدير)

ولو نظر الخ د دې حاصل دا دی چې که په لمانځه کې التفات کول ډېر ضروري وو او د يو شي په سبب يې له التفاته د لمانځه په خشوع و خضوع او توجه کې خلل راتلی، نو په دې صورت کې د سترګو تر بڼلونو کتل جائز دي، خو په دې شرط چې غاړه د قبلې له طرف څخه ونه ګرځيږي، دليل دا دی چې نبي ﷺ به د سترګو تر بڼلونو صحابه وو رضي الله عنهم ته کتل.

په لمانځه کې د سپي په ډول کښېنستل

وَلَا يُقْعِي او لمونځ کونکي دې د سپي په څېر نه کښېني وَلَا يَفْتَرِشُ ذِرَاعَيْهِ او نه دې خپلې ليڅې (متان) غوړوي لِقَوْلِ أَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ° څکه ابو ذر رضي الله عنه فرمايلي دي نَهَانِيْ خَلِيْلِيْ عَنْ ثَلَاثٍ: أَنْ أَنْقُرَ نَقْرَ الدِّيْكِ زما خليل (ملګري) ﷺ زه له دريو شيانو څخه منع کړی يم: (يو دا) چې د چرګ په ډول منبوکه ووهم وَأَنْ أُقْعِيَ إِقْعَاءَ الْكَلْبِ (دويم دا) چې د سپي په ډول کښېنم وَأَنْ أَفْتَرِشَ افْتِرَاشَ الثَّعْلَبِ (دريم دا) چې د ګيدړ (چغال) په ډول لاسونه وغوړوم وَالْإِقْعَاءُ: أَنْ يَضَعَ أَلْيَتَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ او اقعاء دا ده چې انسان خپل کوناټي پر ځمکه کښېږدي وَيَنْصِبَ رُكْبَتَيْهِ نَصْبًا او خپل دواړه زنګونان ودروي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿يُقْعِي﴾ د افعال باب دی: د سپي په ډول کښېنستل، ﴿يَفْتَرِشُ﴾ د افتعال باب دی: پر ځمکه غوړول، ﴿أَنْقُرَ﴾ د نصر باب دی: منبوکه وهل، ﴿الدِّيْك﴾ چرګ، ﴿الثَّعْلَب﴾ ګيدړ، چغال، ﴿أَلْيَتَيْن﴾ دواړه کوناټي (همېشه تثنيه استعماليږي).

تشريح: صاحب د قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د سپي په ډول ناسته او د سجدې په حالت کې لاسونه او ليڅې ځمکه غوړول مکروه دي، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په دليل کې د حضرت ابو ذر رضي الله عنه قول پيش کړی دی، خو د هدايې شارحينو رَحِمَهُمُ الله ويلي دي چې امام احمد رَحِمَهُ الله په خپل مسند کې په دې اړه د امام ابو هريره رضي الله عنه روايت پيش کړی دی، مطلب دا چې د ابو ذر رضي الله عنه قول غريب دی، د حديث متن دا دی: نهاني رسول الله ﷺ عن ثلاثة عن نقرة كنقرة الديك واقعاء كاقعاء الكلب والتفات كالتفات الثعلب، (ابو هريره رضي الله عنه وفرمايل: چې زه رسول الله ﷺ له دريو څيزو څخه منع يم: يو د چرګ په ډول له منبوکه وهلو څخه (يعني سجده دومره لنډه کول لکه چرګ چې منبوکه وهي او سر پورته کړي)، دويم يې د سپي په شان له ناستې څخه منع کړی يم (يعني په التحيات او د دواړو سجدو په مينځ کې د سپي په ډول کښېنستل)، دريم يې د ګيدړ په ډول له شا وخوا کتلو څخه منع کړی يم). او د ابو ذر په حديث کې کوم چې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی، دريمه څيزه داسې ذکر شوې ده چې: ان افترش افتراش الثعلب يعني د ګيدړ په ډول يې (په سجده کې) پر ځمکه له لاسونو غوړولو څخه منع کړی يم.

د اقعاء معنی: د اقعاء دوه تفسیره سوي دي: يو د امام طحاوي رَحِمَهُ الله دی، او دويم د امام کرخي رَحِمَهُ الله دی، د امام طحاوي په نيز اقعاء دا ده چي لمونځ گزاره پر کوناټي کښيني او دواړه ورنونه ودروي او دواړه زنگونان د سينې سره جوخت کړي (ومښلوي)، او دواړه لاسونه پر مځکه کښيږدي، همدا صحيح تفسير دی، صاحب د هدايې هم دغه تفسير اختيار کړی دی، د امام کرخي رَحِمَهُ الله په نيز اقعاء دا ده چي خپلي دواړه پښې ودروي او کوناټي پر پوندو کښيږدي او دواړه زنگونان پر مځکه کښيږدي، ليکن دا تفسير صحيح نه دی.

په لمانځه کي د سلام جواب ورکول

وَلَا يَرُدُّ السَّلَامَ بِلِسَانِهِ او لمونځ کونکي دي په ژبه د سلام جواب نه ورکوي لِأَنَّهُ كَلَامٌ ځکه چي دا کلام (خبري) دي وَلَا بِيَدِهِ او نه دي په لاس سره (د سلام جواب ورکوي) لِأَنَّهُ سَلَامٌ مَعْنًى ځکه چي دا (هم) معناً سلام دی حَتَّى لَوْ صَافَحَ بِنِيَّةِ التَّسْلِيمِ تر دې که د سلام په نيت سره يې مصافحه وکړه تَفْسُدُ صَلَاتُهُ نو لمونځ يې فاسديږي.

اللغات: ﴿صَافَحَ﴾ مصافحه کول، يو بل ته لاس ورکول، روغبړ کول. ﴿تَسْلِيم﴾ سلام کول.

تشريح: مسئله: دا ده چي د لمانځه په دوران کي د لمونځ گزار لپاره په ژبه او لاس سره د سلام جواب ورکول صحيح نه دي، او لمونځ په فاسديږي، په ژبه سره د سلام جواب ورکول ځکه صحيح نه دي، چي سلام کلام (اوخبري) دي، او کلام لمونځ فاسدوي، او په لاس سره جواب ځکه ورکول صحيح نه دي، چي په لاس سره د جواب اشاره کول هم د سلام معنیٰ لري، همدا وجه ده که يو څوک په لمانځه کي د سلام په نيت خپل لاس د يو چا په لاس کي ورکړي، نو د هغه لمونځ فاسديږي، ځکه چي لاس اوږدول او روغبړ کول عمل کثير دی، او عملِ کثير لمونځ فاسدوي، نو ځکه په دې صورت کي لمونځ فاسديږي.

په لمانځه کي چارزانو کښېنستل او ورېښتيان تړل

وَلَا يَتَرَبَّعُ او لمونځ کونکي دي چارزانو نه کښيني إِلَّا مِنْ عُذْرٍ خو دا چي يو څه عذر وي لِأَنَّ فِيهِ تَرْكَ سُنَّةِ الْقُعُودِ ځکه چي په چارزانو ناسته کي د سنت ناستي پرېښوول دي وَلَا يَعْقِصُ شَعْرَهُ او لمونځ کونکي دي د خپلو ورېښتيانو عقص هم نه کوي وَهُوَ أَنْ يَجْمَعَ شَعْرَهُ عَلَى هَامَتِهِ او عقص دا دی چي ورېښتيان په ترندي باندي راټول کړي وَيَشُدَّهُ بِخَيْطٍ او په تار سره يې وتړي أَوْ بِصَمْغٍ يا يې په کنډورو سره ومښلوي لِيَتَلَبَّدَ چي سره را ټول (يعني سره غونچه سي) فَقَدْ رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● نَهَى أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ وَهُوَ مَعْقُوصٌ چي نبي ﷺ د معقوص کېدلو په حالت کي سړي ته لمونځ کولو څخه منع کړی دی.

اللغات: ﴿يَتَرَبَّعُ﴾ چارزانو کښېنستل. ﴿يَعْقِصُ﴾ د ضرب د باب مضارع ده: ورېښتيان تړل، جمع کول. ﴿هَامَة﴾ د سر هلوکي، مجازاً تندي او سر ته هم ويل کيږي. ﴿خَيْط﴾ تار، سپېسی. ﴿يَتَلَبَّدُ﴾ د تفعّل د مضارع ده: يو ځای کېدل. جوړه کېدل، غونچه کېدل.

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الاقامة، باب كفّ الشعر والثوب في الصلاة، حديث: ١١٢٢.

تشريح: مسئله: دا ده چې د لمانځه په حالت کې بې له عذره چارزانو کښېښستل مکروه دي، ځکه چې په دا ډول ناستې سره د سنت ناستې پرېښوول راځي، او بعضي حضراتو يې د كراهت علت دا بيان كړى دى چې دا د كبرجنو خلكو ناسته ده، نو د دې علت په وجه داسې ناسته له لمانځه څخه دباندې هم مكروه ده، ليكن شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله او نورو دا خبره رد كړې ده، ځكه چې له لمانځه څخه دباندې د نبي ﷺ چارزانو ناسته ثابته ده. (فتح القدير)، همدارنګه به په مسجد نبوي کې د حضرت عمر رضي الله عنه ناسته هم تربعاً(چارزانو) کېدل؛ صحيح خبره دا ده چې د چارزانو ناستې په نسبت پر دواړو زنګونو کښېښستل تواضع ته ډېر نږدې دي، همدا وجه ده چې د لمانځه په حالت کې هم دغه ډول ناسته غوره او اولیٰ ده، خو که يو عذر وي، نو بيا چارزانو ناسته څه پروانه لري.

ولايعقص الخ فرمايي چې د لمونځ گزاره لپاره د لمانځه په حالت کې عقص کول، يعنې د سر له وېښتيانو څخه چوټې جوړول هم مكروه دي، صاحب د كفايې رَحِمَهُ الله د عقص درې صورتونه ليکلي دي: (۱) د سر له وېښتيانو څخه کوڅۍ (يا چوټي) جوړول لکه څرنګه چې يې ښځې جوړوي (۲) د سر وېښتيان پر تندي (يا د سر پر مينځ) سره جمع كول او په تار باندې تړل(چې غونچه غوندې څنې جوړ سي) (۳) د سر وېښتيان پر تندي (يا د سر پر مينځ) سره را ټولول او په کنډوړو يا بل سرېښناكه شي سره مښلول.

دليل: دابو رافع حديث دى: قال نهى رسول الله ﷺ أن يصلي الرجل و رأسه معقوص.

په لمانځه کې کالي(جامې) را ټولول او سَدَلْ كول

> وَلَا يَكُفُّ ثَوْبَهُ او لمونځ گزاره دې خپل كالي (هم) نه راټولوي لِأَنَّهُ نَوْعُ تَجَبُّرٍ ځكه چې دا هم يو ډول تكبر دى وَلَا يَسْدُلُ ثَوْبَهُ او نه دې خپل كالي را ځړوي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نَهَى● عَنِ السَّدْلِ ځكه نبي ﷺ له كالو ځړولو څخه منع كړې ده وَهُوَ أَنْ يَجْعَلَ ثَوْبَهُ عَلَى رَأْسِهِ وَكَتِفَيْهِ او د كالو راځړول دا دي چې خپل كالي پر سر او اوږو باندې واچوي ثُمَّ يُرْسِلَ أَطْرَافَهُ مِنْ جَوَانِبِهِ بيا پر خپل اړخونو(او اوږو) باندې د كالو طرفونه راوځړوي.

اللغات: ﴿يَكُفُّ﴾ د نصر د باب مضارع ده: را ټولول، را جمع كول، درول، ﴿تَجَبُّر﴾ د تفعّل د باب مصدر دى: تكبر كول، لويي كول، ﴿يَسْدُلُ﴾ د نصر د باب مضارع ده: ځړول، ځوړندول، ﴿كَتِف﴾ اوږه، ﴿يُرْسِلُ﴾ د افعال بابِ دى: پرېښوول، راځړول، ﴿جَوَانِب﴾ جمع ده، واحد يې جانِبٌ دى: طرف، بغل.

تشريح: د كالو را ټولو معنیٰ دا ده چې د سجدې كولو په وخت كې د شا او د مخ د طرف كالي راپورته كول، لوس حاصل د مسئلې دا سو چې كه كالي پر مځكه باندې لوېدله، نو نه دې يې راپورته او نه دې يې راګرځوي، ځكه چې په دې كې يو ډول تكبر دى.

ولايسدل الخ فرمايي چې د لمونځ گزار لپاره خپل كالي بې ډوله را ځړول هم مكروه دي، ځكه چې دا د متكبرينو طريقه ده، او عجمي باچاهانو به دا ځان لپاره د فخر او لويي ذريعه ګڼل، او بل دا چې دا طريقه له خشوع و خضوع څخه هم منافي ده، نو ځكه نبي ﷺ له دې څخه منع كړې ده، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د كالو د راځړلو صورت دا دى

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب الصلاة، باب السدل فى الصلاة، حديث:۶۴۳.

چې لمونځ ګزاره خپلې جامې (یا پټو[څادر]) پر سر او اوږو واچوي، او پر دواړو اوږو یا تر دواړو لاسو لاندې یې را یله کړي د دې لپاره چې را وڅړیږي، صاحب د کفایې وایې چې د کالو راځړول دا دي چې پټو یا چپنه پر اوږو واچوي، او لستوڼي یې نه واغوندي، بلکې را ځړېدلې یې پرېږدي.

په لمانځه کې قصداً یا په هېره سره خوراک کول

وَلَا يَأْكُلُ وَلَا يَشْرَبُ او لمونځ ګزاره دي نه(یو شی) خوري او نه څښي لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَعْمَالِ الصَّلَاةِ ځکه چې خوراک او څښاک د لمانځه له اعمالو څخه نه دي فَإِنْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ بیا که لمونځ ګزاره خوراک یا څښاک وکړی عَامِدًا أَوْ نَاسِيًا هغه که قصداً وو او که په هېره وو فَسَدَتْ صَلَاتُهُ نو د هغه لمونځ فاسد سو لِأَنَّهُ عَمَلٌ كَثِيرٌ ځکه چې دا عملِ کثیر دی وَحَالَةُ الصَّلَاةِ مُذَكِّرَةٌ او د لمانځه حالت ور په یادونکې دی.

اللغات: ﴿عامدًا﴾ قصداً، په قصدسره، د قصد له موخې، ﴿ناسیًا﴾ په هېره، په سهوه، ﴿مذكّرة﴾ د تفعیل د باب واحد مؤنث اسم فاعل دی: ور په یادول، په یاد ور ورستل.

تشریح: مسئله: دا ده چې د لمانځه په حالت کې خوراک او څښاک لمونځ فاسدوي، لمونځ که فرض وي، که نفل وي، او خوراک، څښاک قصداً وي، که په سهوه او هېره سره وي، دلیل دا دی چې له خوراک او څښاک څخه هر یو عمل کثیر دی، او عملِ کثیر لمونځ فاسدوي، نو ځکه به په دې دواړو صورتونو کې لمونځ فاسدیږي.

وحالة الصلوٰة مذكرة له دې ځایه د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا دی چې څرنګه د روژې په حالت کې په هېره سره خوراک او څښاک معاف دی، همدارنګه د لمانځه په حالت کې هم معاف کېدل پکار دي.

جواب: د لمانځه حالت د روژې په څېر نه دی، ځکه چې د لمانځه حالت په یاد ور ورستونکی دی، یعنې د بیداری او خبرداری حالت دی، او په لمانځه کې انسان هر وخت بیداره او ویښ وي، د دې په خلاف د روژې حالت هغه په یاد ورستونکی نه دی، او په عامه توګه خلک په روژه کې په هېره سره خوراک کوي، نو په دې وجه د روژې په حالت کې هېره او نسیان معاف دی.

په محراب کې د امام د دربدلو بېلا بېل صورتونه

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَكُونَ مَقَامُ الْإِمَامِ فِي الْمَسْجِدِ او څه پروا نه لري چې امام په مسجد کې ولاړ وي وَسُجُودُهُ فِي الطَّاقِ او سجده یې په محراب کې وي وَيُكْرَهُ أَنْ يَقُومَ فِي الطَّاقِ خو مکروه دا دي چې امام په محراب کې ولاړ وي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ صَنِيعَ أَهْلِ الْكِتَابِ ځکه چې دا د عیسایانو د عمل سره مشابه دي مِنْ حَيْثُ تَخْصِيصِ الْإِمَامِ بِالْمَكَانِ په دې توګه چې هغوی د امام ځای خاصوي(یعني امام ته یو ځانګړی ځای ورکوي) بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ سُجُودُهُ فِي الطَّاقِ په خلاف د هغه صورت چې د امام سجده په محراب کې وي وَيُكْرَهُ أَنْ يَكُونَ الْإِمَامُ وَحْدَهُ عَلَى الدُّكَّانِ او مکروه دي چې امام یوازې پر دوکانچه(چوتره) ولاړ وي لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَكَذَا عَلَى الْقَلْبِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ او همدارنګه د دې برعکس (هم) د ظاهر الروایة مطابق مکروه دي لِأَنَّهُ ازْدِرَاءٌ بِالْإِمَامِ ځکه چې دا د امام سپکاوی دی.

اللغات: ﴿طاق﴾ محراب، د ختي په ډول وداني، ﴿صنيع﴾ طرز، عمل، د کار کولو طريقه، ﴿دکان﴾ دوکانچه، لوړی ځای، ﴿ازدراء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: بې ادبي کول، ملندې وهل، سپکاوی، سپک گڼنه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که امام ولاړ په مسجد کې وي او سجده په محراب کې کوي، نو په دې کې هيڅ حرج نشته، يعني که د امام پښې په مسجد کې وي او سجده يې په محراب کې اداء کيږي، نو په دې سره پر لمانځه هيڅ اغېزه نه پرېوځي، ځکه چې په دې صورت کې د يو ځاى سره د مشابهت او نورو خطره نشته، د دې په خلاف که د امام پښې هم په محراب کې وي او سجده يې هم په محراب کې وي، نو دا صورت مکروه دی، ځکه چې په دې کې د اهل کتابو (عيسائيانو) سره مشابهت راځي، لکه څرنګه چې د اهل کتابو طريقه دا وه چې هغوی به خپل امام له نورو مقتديانو څخه جلا او ممتاز ګڼی، او امام به يې په محراب کې په داسې انداز سره دروی، چې اتصال او تړاو يې بالکل د نورو سره ختم شي، نو څرنګه چې په محراب کې د دربدلو په صورت کې د دوی سره مشابهت راځي، نو ځکه دا صورت مکروه دی، او زموږ په نيز خو امام هم لمونځ کوونکی دی، او مقتدي هم لمونځ کوونکی دی، او په دواړو کې هيڅ امتياز او فرق نشته.

بخلاف ما إذا كان الخ فرمايي چې که د امام قدم (پښې) په مسجد کې وي او سجده يې په محراب کې وي نو په دې کې هيڅ حرج نشته، ځکه چې په لمانځه کې د پښو اعتبار دی، کله چې پښې په مسجد کې وي نو د مقتديانو سره به د امام ظاهري ربط او تړاو هم باقي پاته وي، او د اهل کتابو سره به مشابهت هم نه راځي، نو ځکه دا صورت مکروه نه دی.

ويكره أن يكون الامام وحده الخ فرمايي که امام پر لوړ ځای ولاړ وي او مقتدی لاندې وي، يا مقتدی پر لوړ ځای وي او امام لاندې وي نو دا دواړه صورتونه مکروه دي، ځکه چې په اول صورت کې د اهل کتابو سره مشابهت دی، هغه ځکه چې کله امام پر لوړ ځای ودريږي، نو ښکاره ده چې امام به له مقتديانو څخه ممتاز او معتبر ګڼل کيږي، نو ځکه دا صورت خو د اهل کتابو د مشابهت په وجه مکروه دی، او دويم صورت ځکه مکروه دی چې کله مقتدي پر لوړ ځای وي او امام لاندې وي، نو مقتدي به ممتاز او معتبر ګڼل کيږي، او امام به لاندې وي، او امتياز او اعتبار د تعظيم سبب دی، نو په دې صورت کې به د مقتدي تعظيم راشي، او د امام تحقير او سپکاوی به وشي، نو ځکه دا صورت هم مکروه دی.

فائده: صاحب د کتاب د لوړوالي او ارتفاع هيڅ اندازه بيان کړې نه ده، ليکن صاحب د عنايي رحمه الله په دې کې درې قولونه ذکر کړي دي: (۱) اول د امام طحاوي رحمه الله و طرف ته منسوب دی، هغه دا چې لوړوالی که د يوه سړي د قد (تنې) برابر وي، نو مکروه دی، کنې نه دی (۲) دويم قول دا دی چې که لوړوالی دومره وي چې په هغه سره د امام امتياز او اعتبار راشي، نو مکروه دی (۳) دريم قول دا دی چې که د امام او مقتديانو په مينځ کې د يوه ذراع (شرعي ګز) په اندازه لوړوالی او ارتفاع وي، نو مکروه دی، او همدا دريم قول معتبر دی. (عنايه ج۱، ص۲۲۶)

د سړي د شا (ملا) و طرف ته لمونځ کول

ولا بأس بأن يصلي إلى ظهر رجل او د يو داسې سړي د شا و طرف ته په لمونځ کولو کې هيڅ پروا نشته قاعد يتحدث چې هغه ناست وي او خبرې کوي لأن ابن عمر رضي الله عنهما ربما كان يستتر بنافع* في بعض أسفاره ځکه ابن عمر رضي الله عنهما به ډېر کرته خپل په بعضې سفرونو کې له حضرت نافع رحمه الله څخه ستره جوړول (او لمونځ به يې کوی).

* قال الزيلعي رحمه الله: رواه ابن ابي شيبة في مصنفه نصب الراية ج:۲، ص:۹۷.

اللغات: ﴿ظَهر﴾ ملا، شا. ﴿يَتَحَدَّثُ﴾ د تفعّل د مضارع صيغه ده: خبري اترې كول. ﴿أَسْفَار﴾ جمع د سَفَرْ ده: سفر، له يوه ځايه وبل ليرې ځاى ته تګ كول.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو سړى نلمنځ ونډي خبري كوي، نو د هغه د ملا و طرف ته لمونځ كول مكروه نه دي، ځكه چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به د سفر په دوران كې له خپل غلام حضرت نافع رضی الله عنه څخه ستره جوړول او د هغه د ملا و طرف ته به يې لمونځ كوى، نو دا د دې خبرې ښكاره دليل دى چې د ناست سړي د ملا وطرف ته په لمونځ كولو كې هيڅ حرج نشته. صاحب د قدوري رَحِمَهُ اللهُ په ملا (ظهر) ذكر كولو سره له مخ (وجه) څخه احتراز كړى دى، او دا اشاره يې كړې ده چې د بل سړي د مخ وطرف ته لمونځ كول مكروه دي، لكه څرنګه چې روايت دى چې حضرت عمر رضی الله عنه يو سړى وليدلو چې د بل سړي د مخ وطرف ته يې لمونځ كوى، نو په دوره يې ووهلو، او ورته يې وويل: تستقبل الصورة في صلاتك. (يعني په خپل لمانځه كې تصوير ته مخامخ كيږې). او ناست سړي ته يې وويل: أتستقبل المصلي بوجهك. (يعني آيا خپل مخ د لمونځ كونكې و طرف ته كوې). نو له دې څخه معلومه سوه چې د انسان د مخ و طرف ته لمونځ كول مكروه دي.

په لمانځه كې مخ ته قرآن مجيد يا توره ايښوول

وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يُصَلِّيَ او څه پروا نشته چې يو سړى لمونځ كوي وَبَيْنَ يَدَيْهِ مُصْحَفٌ مُعَلَّقٌ او مخته يې قرآن شريف راځړېږي (يا پروت وي) أَوْ سَيْفٌ مُعَلَّقٌ يا توره راځړېږي لِأَنَّهُمَا لَا يُعْبَدَانِ ځكه چې د قرآن او تورې عبادت نه كيږي وَبِاعْتِبَارِهِ تَثْبُتُ الْكَرَاهَةُ او د عبادت په اعتبار سره كراهت ثابتيږي.

اللغات: ﴿المُصْحَف﴾ مُجلد كتاب، مجازاً قرآن مجيد. ﴿مُعَلَّق﴾ راځړول سوى. ﴿سَيْف﴾ توره، جمع يې: أَسْيَاف راځي.

تشريح: مسئله: دا ده كه يو سړي لمونځ كوى او مخته يې قرآن مجيد پروت وو يا راځړېدلى، يا يوه توره پرته وه يا راځړېدله، نو په دې كې هيڅ حرج نشته، د ده لمونځ صحيح دى، ځكه چې نه د قرآن شريف عبادت كيږي، او نه د تورې عبادت كيږي، نو د تورې په وجه د لمونځ ګزاره خشوع و خضوع نه متأثره كيږي، او هم په دغه وجه كراهت پيدا كيږي، يعني كه د دې شيانو عبادت (كافرانو يا مشركانو) كولاى، نو ښكاره ده چې د دې شيانو په ليدلو سره به د لمونځ ګزاره په خيال كې د غيرُ الله خيال راتلاى، او د ده پر خشوع و خضوع او توجه به يې منفي اغېزه كولاى، خو څرنګه چې د دې شيانو عبادت (هيڅ ځاى هم) نه كيږي، نو ځكه به د دوى په مخامخ كېدلو سره د غيرُ الله د عبادت خيال هم نه پيدا كيږي.

پر داسې فرش لمونځ كول چې عكس (فوټو) پكښې وي

وَلَا بَأْسَ او هيڅ حرج نشته بِأَنْ يُصَلِّيَ عَلَى بِسَاطٍ فِيهِ تَصَاوِيرُ چې لمونځ ګزاره پر داسې فرش (يا كپړه) لمونځ وكړي چې په هغه كې عكسونه (تصويرونه) وي لِأَنَّ فِيهِ اِسْتِهَانَةً بِالصُّوَرِ ځكه چې په دې كې د تصويرونو سپكاوى دى وَلَا يَسْجُدُ عَلَى التَّصَاوِيرِ او پر عكسونو به سجده نه كوي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ عِبَادَةَ الصُّوَرَةِ ځكه چې دا د عكس د عبادت سره مشابه دي وَأُطْلِقَ الْكَرَاهَةَ فِي الْأَصْلِ او په مبسوط كې كراهت مطلق ليكل سوى دى لِأَنَّ الْمُصَلَّى مُعَظَّمٌ ځكه چې مسله (جاى نماز) د تعظيم وړ ده.

اللغات: ﴿بِسَاطٌ﴾ فرش، مجازاً کپړې او بسترې ته هم ويل کيږي، ﴿إِسْتِهَانَةٌ﴾ د استعمال د باب مصدر دی: سپکاوی، بې عزتي کول، حقير گڼنه، ﴿مُصَلّٰی﴾ مَسَلّه، مصله، جای نماز، هغه کپړه چې انسان لمونځ پر کوي.

تشريح: مسئله: دا ده که په يوه بستره يا کوربچه(نالي) کې تصويرونه(عکسونه) وي، هغه که د ذي روحو(ساکښو) وي او که د غير ذي روحو(غير ساکښو) وي، يا په پټو(څادر) يا مسله(جای نماز) يا بل شی کې تصويرونه وي، نو پر هغه درېدل او لمونځ کول مکروه نه دي، ځکه چې پر هغه شي د درېدلو کې د تصويرونو سپکاوی او تذليل کيږي، لېکن پر تصويرونو يې سجده کول مکروه دي، ځکه چې په دې صورت کې د تصوير د عبادت سره مشابهت راځي، چې هغه په هيڅ حال کې هم صحيح نه دی.

دا مسئله خو د جامع صغير ده چې پر تصويرونو درېدل او لمونځ کول صحيح گرځول سوي دي، او پر هغو سجده کول مکروه گرځول سوي دي، لېکن په مبسوط کې امام محمد رَحِمَهُ الله پر تصوير والا مسله(جای نماز) باندې مطلقاً لمونځ کول مکروه گرځولي دي، هغه که پر تصويرو باندې سجده راسي او که را نه سي، او دليل يې دا بيان کړی دی چې مسله د تعظيم او عزت لائق شی دی، او په تصوير والا مسله کې د مسلې سره سره د تصوير تعظيم هم کيږي، او په شريعت کې د تصوير د تعظيم هيڅ اجازه نسته، نو ځکه به پر تصوير داره مسله لمونځ کول مکروه وي.

که د لمونځ گزاره چپه يا راسته يا لوړ طرف ته عکس(فوټو) وو نو څه حکم دی؟

> وَيُكْرَهُ او مکروه دي أَنْ يَكُونَ فَوْقَ رَأْسِهِ فِي السَّقْفِ چې د لمونځ کونکي پر سر په چت(بام) کې أَوْ بَيْنَ يَدَيْهِ يا د ده مخته أَوْ بِحِذَائِهِ يا د ده پر برابر(يعني راسته او چپه طرف ته) تَصَاوِيرُ أَوْ صُورَةٌ مُعَلَّقَةٌ عکسونه(تصويرونه) وي يا يو را ځړول سوی تصوير وي لِحَدِيثِ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ• د جبرئيل عليه السلام د حديث په وجه إِنَّا لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ أَوْ صُورَةٌ چې موږ داسي کور ته نه داخليږو چې په هغه کې سپی يا تصوير وي وَلَوْ كَانَتِ الصُّورَةُ صَغِيرَةً بِحَيْثُ لَا تَبْدُو لِلنَّاظِرِ او که تصوير دومره کوچنی وو چې کتونکي ته په نظر نه راتلی لَا يُكْرَهُ نو مکروه نه دي لِأَنَّ الصِّغَارَ جِدًّا لَا تُعْبَدُ ځکه چې د زياتو کوچنيو تصويرونو عبادت نه کيږي.

اللغات: ﴿سَقْفٌ﴾ د خوني دننې بام، ﴿حِذَاءٌ﴾ برابر، او د مجاز په توگه د راسته او چپه طرف لپاره هم استعماليږي، ﴿تَبْدُو﴾ د نصر باب دی: ښکاره کېدل، څرگندېدل، ﴿صِغَارٌ﴾ جمع ده، واحد يې صَغِيرٌ دی: کوچنی، ﴿جِدًّا﴾ ډېر، زيات، ښه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که تر لمونځ گزاره لوړ پر بام(چت) تصوير وي، يا د ده مخته يا د ده پر برابر او بغل کې تصوير وي، نو د ده لمونځ مکروه دی، دليل د حضرت جبرئيل عليه السلام هغه حديث دی چې يوه جمله يې په کتاب کې ذکر سوه، پوره حديث داسي دی: أن جبرئيل عليه السلام استأذن على رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال له أدخل. فقال كيف أدخل بيتا عليه ستر فيه تماثيل أو رجال، إما أن تقع رؤسها أو تجعل بساط يوطأ، إنا معاشر الملائكة لا ندخل بيتا فيه كلب أو صورة. (يعني جبرئيل عليه السلام د نبي صلى الله عليه وسلم حجرې ته د ورتللو اجازه وغوښتل، نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: راسه!، نو حضرت جبرئيل عليه السلام وفرمايل: زه هغه کور ته څرنگه ورتلی سم چې په هغه کې داسي پرده (را ځړېږي) چې پر هغې د حيواناتو يا انسانانو

• تخريج: أخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق، باب قال إذا أحدكم آمين والملائكة في السماء، حديث رقم: ٣٢٢٤ - ٣٢٢٥.

تصويرونه وي، يا خو دي له دوی څخه سرونه پرې کړل سي يا دي بستره څني جوړه سي چي تر پښو لاندې سي (نو بيا به زه راسم)، څکه چي موږ ملائکې يو داسې کور ته نه ورځو چي په هغه کي سپی يا تصوير وي).

له دې حديث او له دې قصې څخه دليل په دې توګه نيول کيږي چي په کوم کور کي ملائکې نه داخليږي، هغه شرّ البيوت يعني بد او شرّ کور دی، او په شرّ البيوت کي لمونځ کول مکروه دي، نو په تصوير داره ځای کي به لمونځ کول هم مکروه وي.

هو! که هغه تصوير دومره کوچنی وي چي کتونکي ته په نظر نه راځي، نو په دې صورت کي که پر بام وي يا پر راسته يا چپه طرف وي، هيڅ فرق پکښي نسته، ځکه په دې مسئله کي د مکروه والي مدار او علت د تصويرونو عبادت دی، او د کوچني تصويرونو عبادت نه کيږي، نو کله چي په کوچني تصويرونو کي د مکروه والي علت يعني عبادت نسته، نو ځکه به د هغو سره لمونځ مکروه نه وي.

د هغه عکس (فوټو) حکم چي سر څني ليري سوی وي

وَإِذَا كَانَ التِّمْثَالُ مَقْطُوعَ الرَّأْسِ او که له عکس (تصوير) څخه سر پرېکړل سوی وو أَيْ مَمْحُوَّ الرَّأْسِ يعني سر څني خراب سوی (مسح سوی) وو فَلَيْسَ بِتِمْثَالٍ نو دا عکس نه دی لِأَنَّهُ لَا يُعْبَدُ بِدُونِ الرَّأْسِ ځکه چي بغير له سره د عکس عبادت نه کيږي وَصَارَ كَمَا او دا داسې ده لکه إِذَا صَلَّى إِلَى شَمْعٍ أَوْ سِرَاجٍ يو سړی چي د شمعې يا څراغ و طرف ته لمونځ وکړي عَلَى مَا قَالُوا لکه څرنګه چي فقهاؤ رحمهم الله فرمايلي دي.

اللغات: ﴿تمثال﴾ تصوير، مجسمه، صورت، ﴿ممحو﴾ د نصر د باب اسم مفعول دی: خراب سوی، مسح سوی (متاو سوی)، ﴿شمع﴾ شمعه، موم بتي، ﴿سراج﴾ څراغ.

تشريح: فرمايي که د تصوير سر نه وي يعني سر يې پرېکړل سوی وي يا بالکل خراب سوی او مسح سوی وي نو هغه په حقيقت کي تصوير نه دی، ځکه چي د سر پرېکړل سوي تصوير عبادت نه کيږي، او اوس موږ وويل چي د مکروه والي اصلي علت او بنياد عبادت دی، نو کله چي د مکروه والي علت يعني عبادت نسته، نو بيا دا تصوير پر لمانځه هيڅ اغېزه نه کوي، هغه که مخته وي، که شاته وي، که راسته يا چپه طرف ته وي او که لوړ وي، او څرنګه چي د شمعې يا څراغ په مخامخ اېښولو سره په لمانځه کي هيڅ حرج نسته، همدارنګه په سر پرېکړل سوي تصوير کي هم هيڅ حرج نسته، د زياترو فقهاؤ رايه همدغه ده، لېکن بعضو د شمعې او څراغ په مخامخ اېښولو سره لمونځ مکروه ګرځولی دی، لېکن صحيح قول د عدمِ کراهت دی.

که تصوير پر بالښت يا بستره وو نو څه حکم دی؟

وَلَوْ كَانَتِ الصُّورَةُ عَلَى وِسَادَةٍ مُلْقَاةٍ او که عکس پر اېښوول سوي بالښت وو أَوْ عَلَى بِسَاطٍ مَفْرُوشٍ يا پر غوړېدلې بستره (او کوربچه) وو لَا يُكْرَهُ نو مکروه نه دي لِأَنَّهَا تُدَاسُ ځکه چي بالښت تر شا لاندې کيږي وَتُوطَأُ او بستره تر پښو لاندې کيږي (يعني پايماله کيږي) بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الْوِسَادَةُ مَنْصُوبَةً په خلاف د هغه صورت چي بالښت ولاړ وي أَوْ كَانَتْ عَلَى السِّتْرِ يا تصوير پر پرده وي لِأَنَّهُ تَعْظِيمٌ لَهَا ځکه چي دا د تصوير تعظيم دی وَأَشَدُّهَا كَرَاهَةً او له ټولو څخه زيات کراهت په هغه صورت کي دي أَنْ تَكُونَ أَمَامَ الْمُصَلِّي چي تصوير د لمونځ ګزاره مخته وي ثُمَّ مِنْ

فَوْقَ رَأْسِهِ يا (په هغه صورت کې زيات کراهت دی) چې کله د هغه تر سر لوړ وي ثُمَّ عَلٰى يَمِيْنِهِ يا (په هغه صورت کې) چې د هغه پر راسته طرف وي ثُمَّ عَلٰى شِمَالِهِ يا (په هغه صورت کې) چې د هغه پر چپه طرف وي ثُمَّ خَلْفَهُ يا (په هغه صورت کې) چې د هغه د شا وطرف ته وي.

اللغات: ﴿وِسَادَة﴾ بالښت، ﴿مُلْقَاة﴾ اسم مفعول دی: اچول سوی، اېښوول سوی، ﴿مَفْرُوش﴾ اسم مفعول دی: غوړول سوی، ﴿مَنْصُوبَة﴾ اسم مفعول دی: درول سوی، نصب کړی سوی، ﴿سِتْر﴾ پرده.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د لمونځ کونکي مخته يو بالښت پروت وي او پر هغه تصويرونه وي يا يو بل تصوير داره بستره يا کوربچه وي نو هلته لمونځ کول مکروه نه دي، ځکه چې د بالښت او بسترې تصويرونه د تکيه وهلو او کښېنستلو په وجه لاندې کېږي، نو ښکاره ده چې په دې صورت کې د تصوير تذليل او سپکاوی کېږي، نه تعظيم، او د دې د تائيد په باره کې يوه قصه هم سته، قصه دا ده چې يو وار حسن بصري رَحِمَهُ الله او عطاء رَحِمَهُ الله يو داسې کور ته ورننوتل چې په هغه کې پر يوه کوربچه تصويرونه وه، نو عطاء رَحِمَهُ الله ولاړ سو، او حسن بصري رَحِمَهُ الله پر کښېنستی، حسن بصري عطاء رَحِمَهُ الله ته وويل: "چې د تصوير تعظيم هغه وخت کېږي چې نه پر کښېنې". هو! که بالښت ولاړ وي يا تصوير پر پرده وي، نو مکروه دي، ځکه چې دا د تصوير تعظيم دی، يعني هيڅ بې عزتي يې نه کېږي.

وأشدها كراهة الخ له دې ځايه دا خبره بيانوي چې د تصوير کراهت برابر نه دی، بلکې د تصوير د مخته او شاته کېدلو په وجه سره د تصوير په مرتبو کې فرق راځي، نو تر ټولو زيات کراهت په هغه تصوير کې دی چې د لمونځ ګزار مخته وي، يا له دې څخه کم کراهت په هغه تصوير کې دی چې د لمونځ ګزاره پر سر وي، يا له دې څخه کم دا دی چې د لمونځ ګزاره راسته طرف ته وي، يا دا چې چپه طرف ته وي، يا دا چې د لمونځ ګزاره شاته وي، بعضې علماء وايي چې که تصوير شاته وي، نو لمونځ مکروه نه دی لېکن صحيح دا ده چې په کور کې مطلق تصوير مکروه دی، ځکه چې تصوير د ملائکو د نه راتګ سبب دی، او مخکې دا خبره ذکر سوه چې کوم کور ته ملائکې نه راځي هغه شرّ البيوت دی، او په هغه کې لمونځ کول مکروه دی.

په عکس داره کالو کې لمونځ کول

وَلَوْ لَبِسَ ثَوْبًا فِيْهِ تَصَاوِيْرُ او که لمونځ کونکي داسې کالي واغوستل چې په هغه کې تصويرونه وه يُكْرَهُ نو دا مکروه دي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ حَامِلَ الصَّنَمِ ځکه چې هغه د بُت د پورته کونکي سره مشابه کېږي وَالصَّلَاةُ جَائِزَةٌ فِيْ جَمِيْعِ ذٰلِكَ او په دې ټوله مکروه صورتونو کې لمونځ جائز دی لِاسْتِجْمَاعِ شَرَائِطِهَا ځکه چې د لمانځه ټوله شرطونه موجود دي وَتُعَادُ عَلٰى وَجْهٍ غَيْرِ مَكْرُوْهٍ او په غير مکروه طريقه سره به لمونځ راګرځول کېږي وَهٰذَا الْحُكْمُ فِيْ كُلِّ صَلَاةٍ أُدِّيَتْ مَعَ الْكَرَاهَةِ او دا حکم په هر هغه لمانځه کې دی چې په کراهت سره اداء سوی وي وَلَا يُكْرَهُ تِمْثَالُ غَيْرِ ذِي الرُّوْحِ او د غير ذی روح تصوير مکروه نه دی لِأَنَّهُ لَا يُعْبَدُ ځکه چې د هغه عبادت نه کېږي.

اللغات: ﴿صَنَم﴾ بُت، هغه چې عبادت يې کېږي، ﴿اِسْتِجْمَاع﴾ د استعمال د باب مصدر دی: جمع کول او پوره کول.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې د انسان لپاره تصوير لرونکي کالي اغوستل مکروه دي. ځکه چې دا انسان د بُت د پورته کونکی سره مشابه کيږي(يعني لکه بت چې پر کالو وي)، او په هيڅ ډول هم د بت سره مشابهت صحيح نه دی.

والصلاة الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: موږ چې د تصوير د مکروه والي په باره کې څومره صورتونه بيان کړه، په هغو ټولو مکروه صورتونو کې لمونځ جائز دی، ځکه چې په دې صورتونو کې د لمانځه ټوله شرطونه جمع دي، او يو شرط هم څنې وتلی نه دي، خو مکروه دی، نو په دې مکروه صورتونو کې که چا لمونځ کړی وي، نو د احتياط لپاره دي يې په غير مکروه طريقه سره را وګرځوي، يعني داسې ځای دي يې را وګرځوي چې د تصوير يا د بل شي د کراهت شبهه نه وي، شيخ قوام الدين کاکي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چې کوم لمونځ د کراهت سره اداء سوی وي، د هغه راګرځول واجب دي، ليکن صحيح خبره دا ده چې کوم لمونځ د کراهتِ تحريمي سره اداء سوی وي. نو د هغه راګرځول واجب دي، او که د کراهت تنزيهي سره اداء سوی وي نو د هغه راګرځول مستحب دي، ځکه چې مکروه تنزيهي د مستحب په درجه کې وي. (فتح القدير)

د غير ذي روحو تصويرونه مکروه نه دي

ولايکره...الخ فرمايي چې د غير ذي روحو يعني د هغه شيانو تصويرونه مکروه نه دي چې ساه نه لري، لکه درخته، کور او داسې نور. يعني که په کالو کې د درختې يا کور او داسې نور شيانو تصويرونه وي نو په هغه کالو کې لمونځ کول مکروه نه دي، ځکه چې د غير ذي روح تصوير عبادت نه کيږي، او د کراهت مدار او انحصار پر عبادت دی.

د لمانځه په دوران کې د مار، لړم او د داسې نورو مضرو شيانو وژل

وَلَا بَأْسَ بِقَتْلِ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ فِي الصَّلَاةِ او د لمانځه په دوران کې د مار او لړم په مړه کولو کې هيڅ حرج نسته لِقَوْلِه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ[1] ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي اُقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي الصَّلَاةِ تاسو دوه توران مړه کوئ که څه هم په لمانځه کې ياست (دوه توران يعني مار او لړم) وَلِأَنَّ فِيهِ إِزَالَةُ الشُّغْلِ او په دې وجه (هم) چې په دې کې د زړه د مشغوليت(او توجه) ليرې کول دي فَأَشْبَهَ دَرْءَ الْمَارِّ نو دا د (لمونځ ګزار مخته د) تېرېدونکي سړي د منع کولو سره مشابه سو وَيَسْتَوِي جَمِيعُ أَنْوَاعِ الْحَيَّاتِ او په دې حکم کې د مار ټوله قسمونه(ډولونه) برابر دي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِإِطْلَاقِ مَا رَوَيْنَا ځکه زموږ روايت سوی حديث مطلق دی.

اللغات: ﴿حَيَّة﴾مار. ﴿عَقْرَب﴾ لړم. ﴿دَرْء﴾د فتح د باب مصدر دی: ليرې کول. منع کول. ﴿مَارّ﴾د نصر د باب اسم فاعل دی: تېرېدونکی.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي لمونځ کوي. او ده ته نژدې مار يا لړم راغلی. او دا انديښنه وه چې ضرر به را ورسوي، نو د لمانځه په دوران کې د هغه په وژلو کې هيڅ پروا نسته. **نقلي دليل**: د نبي ﷺ دا فرمان دی: اقتلوا الأسودين ولو كنتم في الصلوة. په حديث کې له أسودين څخه مراد مار او لړم دي، نو معنیٰ يې دا سوه: چې مار او لړم مړه کوئ که څه هم تاسو په لمانځه کې ياست؛ او څرنګه چې د نبي ﷺ دا فرمان مطلق دی. نو ځکه دا د مار ټولو قسمونو ته شامليږي، او

---

[1] تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب الامر في الصلاة، حديث رقم: ٩٢١.

هر ډول مار په دې حکم کې داخلیږي، هغه که زهرجن وي، که نه وي، همدارنګه دا حکم د وژلو سره تعلق لري، يعني مار دي تر هغه وخته وهل کیږي چې تر څو مړ سي، ځکه چې د قتل معنیٰ د وژلو ده، نو تر څو چې مار مړ سوی نه وي، تر هغه وخته دي وهل کیږي(که څه هم لمونځ ګزاره په لمانځه کي وي). **عقلي دليل:** دا دی چي لمونځ ګزاره که د لمانځه په حالت کي مار يا لړم مړ نه کړي، نو د ده زړه به د لمانځه پر ځای په مار او لړم کي وي، او ټوله توجه به يې د هغه و طرف ته وي، چي داسي نه له دې خوا څخه راسي، داسي نه له دې خوا څخه راسي، او دا ډول به د ده ټوله لمونځ تر مار او لړم قربان سي، نو ځکه شريعت ده ته اختيار ورکړی دی چي مړه يې کړي، چي د زړه حضور او توجه د لمانځه او د الله ﷺ و طرف ته سي، که څه هم دا عملِ کثير دی، لېکن څرنګه چي د لمانځه مخته تېرېدونکي سړی منع کول روا دي او په هغه کي هم عمل کثير دی، نو دا د ضرر رسوونکو حيواناتو مسئله هم د هغه سره مشابه ده.

صاحب د هدايي رَحِمَهُ الله په هو الصحيح سره د فقيه ابو جعفر او نورو له هغه قول څخه احتراز کوي چي هغوی وايي د سپين مار د مړه کولو اجازه نسته، او پر دې باندي دليل د نبي ﷺ دا فرمان وړاندي کوي: إياكم والحية البيضاء فإنها من الجن، (يعني سپين مار مه وژنئ، ځکه چي هغه پېري وي)

جواب: لېکن زموږ له طرفه د دې قول جواب دا دی چي زموږ بيان سوی حديث يعني: أقتلو الأسودين... الخ مطلق دی، او په هغه کي د سپين، تور او بل رنګ هيڅ تفصيل نسته، نو ځکه به د مطلق مار وژلو اجازه وي، هغه که د هر رنګ وي.

دويم جواب: صاحب د فتح القدير رَحِمَهُ الله د امام طحاوي رَحِمَهُ الله په حواله د دې دويم جواب دا ورکړی دی چي د سپينو مارانو تخصيص کول صحيح نه دی، ځکه چي نبي ﷺ له پېريانو څخه دا وعده او ژمنه اخيستې وه چي هغوی به زما د اُمت و مخ ته د سپين مار په شکل کي نه راځي، او نه به د مار په شکل کي د هغوی و کورو ته داخليږي، نو اوس که يو پېری دا ډول حرکت کوي او د مار په شکل کي راځي، نو هغه به وژل کيږي، ځکه چي هغه د وعدې مخالفت کوي. (فتح القدير ج:١، ص:٤٢١)

په لمانځه کي په لاس سره آيتونه او تسبيحات شمېرل

وَيُكْرَهُ عَدُّ الْآيِ وَالتَّسْبِيحَاتِ بِالْيَدِ فِي الصَّلَاةِ او په لمانځه کي آيتونه او تسبيحات په لاس سره شمېرل مکروه دي وَكَذٰلِكَ عَدُّ السُّوَرِ همدارنګه د سورتونو شمېرل هم مکروه دي لِأَنَّ ذٰلِكَ لَيْسَ مِنْ أَعْمَالِ الصَّلَاةِ ځکه چي دا د لمانځه له اعمالو څخه نه دي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالىٰ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِذٰلِكَ فِي الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ جَمِيعًا او له صاحبينو څخه روايت دی چي په فرائضو او نوافلو کي داسي کول څه خبره نه ده مُرَاعَاةً لِسُنَّةِ الْقِرَاءَةِ د سنت قرائت د خيال ساتلو په وجه وَالْعَمَلِ بِمَا جَاءَتْ بِهِ السُّنَّةُ او د حديث پر بيان سوي حکم د عمل کولو په وجه قُلْنَا يُمْكِنُهُ أَنْ يَعُدَّ ذٰلِكَ قَبْلَ الشُّرُوعِ موږ وايو چي د لمانځه تر شروع کولو مخکي د دې شيانو شمېرل ممکن دي فَيَسْتَغْنِيْ عَنِ الْعَدِّ بَعْدَهُ او (په دې توګه به) تر شروع کولو وروسته له شمېرلو څخه استغناء حاصله سي، والله أعلم.

اللغات: ﴿عد﴾ د نصر د باب مصدر دی: شمېرل (شمارل). ﴿آی﴾ جمع ده، واحد يې آيةٌ دی: د قرآن آيت.

تشريح: مسئله: دا ده چې په لمانځه کې دننه د لاس په ذريعه د تسبيحاتو او آيتونو شمارل مکروه دئ، لمونځ که فرض وي او که نفل، همدارنګه د سورتونو شمارل هم مکروه دي، ځکه چې د آيتونو، تسبيحاتو يا سورتونو شمارل د لمانځه له اعمالو څخه نه دي، همدا ظاهر الرواية دی، د بالید له قيد څخه معلومیږي چې د ګوتو سرونه کښېکاږل، يا په زړه کې شمارل مکروه نه دي.

مصنف رَحِمَهُ الله د في الصلوٰة په ذکر سره و دې طرف ته اشاره کړې ده چې له لمانځه څخه دباندي شمارل مکروه نه دي، لېکن د فخر الاسلام بزدوي رَحِمَهُ الله په نېز له لمانځه څخه دباندي هم د تسبيحاتو شمارل مکروه دي، او فرمايي: وكان السلف يقول نذنب ولا نحصي و نسبح ونحصي، (يعني مخکني بزرګانو به ويل چې موږ خو ګناوي بې شمېره کوو لېکن هغه نه شمارو، خو تسبيحات شمارو)؛ او له صاحبينو څخه په غير ظاهر الرواية کې روايت سوی دی چې تسبيحات، آيتونه او نور په لاس سره شمارل په فرائضو کې هم جائز دي، او په نوافلو کې هم جائز دي، او په دې کې هيڅ کراهت او بدي نسته.

د صاحبينو دليل: دليل دا دی چې ډېر کرته انسان ته د آيتونو شمارلو ضرورت پرېوځي، مثلاً هغه غواړي چې په فرض لمونځونو کې پر سنت طريقه قرائت وکړي، يعني څلوېښت يا شپېته آيتونه ووايي لکه څرنګه چې له رسول الله څخه ثابت دي، يا مثلاً په صلاة التسبيح کې چې کوم تسبيحات دي چې د هغه په اړه حديث هم راغلی دی، نو اوس ښکاره ده چې په دې دواړو صورتونو کې بغير له شمارلو څخه هيڅ چاره نسته، نو ځکه به په دې وخت کې شمارل مکروه نه وي.

د امام ابو حنيفه دليل: دا دی چې په لمانځه کې د دې شيانو د شمارلو څه ضرورت دی؟ ځکه چې تر لمانځه مخکې هم دا شيان شمارل کېدلای سي، يعني لمونځ ګزاره دې تر لمانځه مخکې دا متعين کړي چې په اول رکعت کې به يې له دې ځای څخه تر دې ځايه پوري وايم، او په دويم رکعت کې به يې له دې ځايه څخه تر دې ځايه پوري وايم، او دا طريقه دې ښه په ذهن کې ونيسي، نو په دې صورت کې به په لمانځه کې د شمارولو ضرورت نه پيښيږي، پاته سوه د صلاة التسبيح مسئله نو په هغه کې د دې ډېر ضرورت نسته چې په لاس سره دې تسبيحات وشمارل سي، بلکې د ګوتو په سرونو دې يې شماري. والله اعلم بالصواب



فَصْلٌ

تشريح: تر دې مخکې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د لمانځه مکروهات بيان کړل، اوس له دې ځايه هغه مکروهات بيانوي چې هغه له لمانځه څخه خارج وي، يعني چې له لمانځه څخه دباندې مکروه وي.

په بيت الخلاء (تشي) کې مخ او شا د قبلې وطرف ته کول

وَيُكْرَهُ اسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ بِالْفَرْجِ فِي الْخَلَاءِ او په تشي (بيت الخلا) کې په شرمګاه سره د قبلې وطرف ته مخ کول مکروه دي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● نَهَى عَنْ ذٰلِكَ ځکه نبي ﷺ له دې څخه منع کړې ده وَالْإِسْتِدْبَارُ يُكْرَهُ فِي رِوَايَةٍ او په يوه روايت کې د قبلې و طرف ته شاه کول هم مکروه دي لِمَا فِيهِ مِنْ تَرْكِ التَّعْظِيمِ ځکه چې په دې کې د تعظيم پرېښوول دي وَلَا يُكْرَهُ فِي رِوَايَةٍ او په بل روايت کې د قبلې و طرف ته شاه کول مکروه نه دي لِأَنَّ الْمُسْتَدْبِرَ ځکه چې د قبلې و طرف ته شا کوونکی په داسې حال کې وي فَرْجُهُ غَيْرُ مُوَازٍ لِلْقِبْلَةِ چې د هغه فرج (شرمګاه) پر قبله مخامخ نه وي وَمَا يَنْحَطُّ مِنْهُ يَنْحَطُّ إِلَى الْأَرْضِ او څه چې له شرمګاه څخه را لوېږي هغه پر مځکه لوېږي بِخِلَافِ الْمُسْتَقْبِلِ په خلاف د قبلې و طرف ته د مخ کوونکي لِأَنَّ فَرْجَهُ مُوَازٍ لَهَا ځکه چې د هغه شرمګاه پر قبله مخامخ وي وَمَا يَنْحَطُّ مِنْهُ يَنْحَطُّ إِلَيْهَا او کوم څه چې له شرمګاه څخه را لوېږي هغه د قبلې و طرف ته لوېږي.

اللغات: ﴿فرج﴾ شرمګاه، شرم ځای، پراخي، خلا، ﴿إستدبار﴾ د استفعال د باب مصدر دی: شا کول، ﴿موازٍ﴾ مُوَازي هم راځي، د مفاعلې د باب اسم فاعل دی: مقابل، برابر، مخامخ، متوازي، ﴿ينحط﴾ د انفعال باب دی: لوېدل.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د قضاء حاجت يعني د متيازو يا د غټو اودس ماتي په وخت کې خپله شرمګاه (ذکر) د قبلې وطرف ته کول مکروه تحريمي دي، هغه که په خلاص ميدان کې وي او که په ودانۍ کې وي، په مخ کې يو حائل لکه دېوال او داسې بل شي وي، که نه وي، په هرحال کې مکروه دي، دليل يې دا دی چې نبي ﷺ له دې څخه منع کړې ده، د نبي ﷺ ارشاد دی: عن سلمان رضي الله عنه قال قيل له لقد علمكم نبيكم كل شیء حتی الخراءة قال أجل لقد نهانا أن نستقبل بغائط أو بول (ابو داؤد). (له سلمان فارسي رضي الله عنه څخه يو چا پوښتنه وکړه چې تاسو ته پېغمبر د هر شي تعليم در کړی دی حتی د متيازو او غايطو هم (د سائل ريشخند او ملنډو په توګه وه) نو حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه وفرمايل: هو! موږ نبي ﷺ د متيازو او غايطو په حالت کې د قبلې له مخامخ کېدلو څخه منع کړي يو).

او په استدبار قبله يعني د مکې شريفې و طرف ته په شا کولو کې له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي، د يوه روايت مطابق قبلې ته په شا کولو کې هم د تعظيم پرېښوول دي، او په بل روايت کې دا دي چې قبلې ته شا کول مکروه

●تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم والبخاري في كتاب الصلاة، باب القبلة اهل مدينة والشام، حديث:۳۹۴ ومسلم في كتاب الطهارة، حديث رقم: ۵۹.

نه دي. ځکه چې د کوم سړي قبلې ته شاوي، نو د هغه شرمګاه (ذکر) د قبلې وطرف ته نه وي. او څه چې د شرمګاه څخه راوځي، هغه د مځکې و خوا ته ځي، يعني د متيازو دار(ليکه) بل طرف ته ځي، خو لنډه دا چې مخ دې د قبلې پر طرف نه کوي.

بخلاف المستقبل الخ خو په خلاف د هغه کسانو چې د قبلې و طرف ته يې مخ وي، ځکه چې د هغوی شرمګاه د قبلې و طرف ته برابره وي، او د متيازو ليکه يې د قبلې پر طرف ځي، نو ځکه قبلې ته مخ کول مکروه دي. په دې مسئله کې ډېر تفصيل سته. چې اصل چينه يې د حديثو کتابونه (سُنن) دي. د لوی دورې (دورهٔ حديث) د کال انتظار وکړئ چې پر دې مهمه مسئله به تفصيلي بحث واورئ. انشاء الله.

د مسجد پر بام وطي، متيازي او غايطه مواد کول

وَيُكْرَهُ الْمُجَامَعَةُ فَوْقَ الْمَسْجِدِ وَالْبَوْلُ وَالتَّخَلِّيْ او د مسجد پر بام کوروالی. متيازي(بولي) او غايطه مواد(ډکي متيازي) کول مکروه دي لِأَنَّ سَطْحَ الْمَسْجِدِ لَهُ حُكْمُ الْمَسْجِدِ ځکه چې د مسجد بام د مسجد په حکم کې دی حَتّٰى يَصِحَّ الْإِقْتِدَاءُ مِنْهُ بِمَنْ تَحْتَهُ تر دې چې له بامه څخه د هغه سړي اقتداء صحيح ده چې هغه تر بام لاندې وي وَلَا يَبْطُلُ الْإِعْتِكَافُ بِالصُّعُوْدِ إِلَيْهِ او (د مسجد) بام ته په ختلو سره اعتکاف نه باطليږي وَلَا يَحِلُّ لِلْجُنُبِ الْوُقُوْفُ عَلَيْهِ او د جنب سړي لپاره د مسجد پر بام باندې دړېدل جائز نه دي.

اللغات: ﴿المجامعة﴾ جماع. کوروالی. ﴿تخلي﴾ د تفعل د باب مصدر دی: خلوت اختيارول. مجازاً: د غايطو لپاره تلل. ﴿صعود﴾ د سمع د باب مصدر دی: ختل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې د مسجد په هره حصه کې جماع يا غايطه مواد او متيازي کول مکروه دي، هغه که د مسجد کونج وي يا د مسجد چت(بام) او نور وي، ځکه چې د مسجد چت هم د مسجد په حکم کې دی. همدا وجه ده که يو سړی د مسجد له چت څخه د هغه امام اقتداء وکړي چې هغه تر چت لاندې په مسجد کې وي. نو د دې سړي اقتداء صحيح ده. او که يو معتکف د مسجد چت ته وخيږي، نو د هغه اعتکاف نه باطليږي. د جنب سړي لپاره د مسجد چت ته د تللو اجازه نسته، ځکه چې د مسجد چت لره د مسجد حکم حاصل دی، او په مسجد کې دننه دا توله شيان مکروه دي، نو د مسجد پر چت به هم مکروه وي.

فايده: په ذکر سوې مسئله کې له مکروه څخه مراد مکروه تحريمي دی. (فتح القدير)

که مسجد په کور کې وي نو څه حکم دی؟

وَلَا بَأْسَ بِالْبَوْلِ فَوْقَ بَيْتٍ او د داسي کور پر بام په متيازو کولو کې هيڅ حرج نسته فِيْهِ مَسْجِدٌ چې په هغه کور کې مسجد وي وَالْمُرَادُ مَا أُعِدَّ لِلصَّلٰوةِ فِي الْبَيْتِ او دلته له مسجد څخه مراد هغه ځای دی چې په کور کې د لمانځه لپاره تيار کړی سي لِأَنَّهُ لَمْ يَأْخُذْ حُكْمَ الْمَسْجِدِ ځکه چې دغه ځای د مسجد حکم نه دی اخيستی وَإِنْ نُدِبْنَا إِلَيْهِ که څه هم موږ ته په کورنو کې د مسجد جوړولو ترغيب راکول سوی دی.

اللغات: ﴿مَسْجِدٌ﴾ دلته له مسجد څخه مراد: د لمانځه لپاره تيار سوی ځای دی. ﴿نُدِبْنَا﴾ د مجهول صيغه ده: موږ ته ترغيب راکول سوی دی، موږ هڅول سوي يو.

تشريح: مسئله: دا ده چې په کورونو کې په عامه توګه په کوم ځای کې لمونځونه کیږي، او کوم ځای چې د لمانځه لپاره ټاکل کیږي، د هغه پر چت که متیازي وکړی سي نو هیڅ خبره نه ده، ځکه چې هغه ځای د لمانځه لپاره خو متعین دی، لیکن هغه ته د مسجد حکم حاصل نه دی، همدا وجه ده چې د هغه ځای نړول، خرڅول او د هغه وارث جوړېدل ټوله صحیح دي، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې د شریعت له طرفه موږ ته له کورنو څخه د مسجد جوړولو حکم سوی دی، لکه څرنګه چې حدیث دی: لا تتخذوا بیتوکم قبوراً (یعني له خپلو کورنو څخه هدیره مه جوړوئ!)، په دې حدیث کې دا اشاره سوې ده چې په کورو کې د سنتو او نفلو پابندي کول پکار دي، لیکن فرض په مسجد کې کول پکار دي.

د مسجد دروازه بندول

وَيُكْرَهُ أَنْ يُغْلَقَ بَابُ الْمَسْجِدِ او د مسجد دروازه بندول مکروه دي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ الْمَنْعَ مِنَ الصَّلَاةِ ځکه چې دا له لمانځه څخه د منع کولو سره مشابه دي وَقِيلَ لَا بَأْسَ بِهِ او ویل سوي دي چې حرج پکښې نسته إِذَا خِيفَ عَلَى مَتَاعِ الْمَسْجِدِ چې کله د مسجد پر سامان باندي (د غلا کېدلو) بیره وي فِي غَيْرِ أَوَانِ الصَّلَاةِ د لمانځه له وختونو څخه ماسوا.

اللغات: ﴿يُغْلَقُ﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: بندول، ﴿خِيفَ﴾ د فتح د باب ماضي مجهوله ده: بېرول، ﴿أَوَان﴾ جمع د آن ده: یوه ثانیه، له جمعي څخه یې مراد وخت دی.

تشريح: مسئله: دا ده چې د مسجد دروازه بنده ساتل مکروه دي، ځکه دا داسي ده لکه یو څوک له لمانځه څخه بندول، او له لمانځه څخه بندول حرام دي، د الله ﷻ فرمان دی؛ ومن أظلم ممن منع مساجد الله أن يذكر فيها اسمه. ځینو حضراتو ویلي دي چې که د مسجد د سامان د ضایع کېدلو یا غلا کېدلو بېره وه، نو بیا په دروازه بندولو کې هیڅ بدي نسته، ځکه چې د زمانې په اختلاف سره د خلکو حالتونه هم بدلیږي، تاسو غور وکړئ چې په یوه زمانه کې د ښځو لپاره مسجد ته تلل جائز وو، لیکن د فتنې د بیرې هغوی بندي سوې، همدارنګه که په اوسني وخت کې کوم چې د فتنو او فساد وخت دی، دروزاې بندي سي نو په دې کې به هیڅ بدي نه وي، بلکي صحیح به وي.


په مسجد کې نقش و نګار (ګلکاري) کول

وَلَا بَأْسَ او څه حرج نسته بِأَنْ يُنْقَشَ الْمَسْجِدُ چې نقش کړی سي مسجد بِالْجِصِّ په ګچ سره وَالسَّاجِ او د ساج په لرګي سره وَمَاءِ الذَّهَبِ او د سرو زرو په اوبو سره وَقَوْلُهُ لَا بَأْسَ يُشِيرُ إِلَى او د امام قدوري رَحِمَهُ الله د لا بأس ویل و دې ته اشاره کوي أَنَّهُ لَا يُؤْجَرُ عَلَيْهِ چې په داسي کولو سره ثواب نه ور کول کیږي لَكِنَّهُ لَا يَأْثَمُ بِهِ لیکن داسي کونکی ګنهګاره کیږي هم نه وَقِيلَ هُوَ قُرْبَةٌ او یو قول دا دی چې دا (هم) یو ډول عبادت دی وَهَذَا إِذَا فَعَلَ مِنْ مَالِ نَفْسِهِ او دا (د لا بأس) حکم په هغه صورت کې دی چې دا (نقش و نګار) خپل له ذاتي مال څخه وکړي أَمَّا الْمُتَوَلِّي فَيَفْعَلُ مِنْ مَالِ الْوَقْفِ هر چې متولي دی نو هغه به د وقف له مال څخه هغه کار کوي مَا يَرْجِعُ إِلَى إِحْكَامِ الْبِنَاءِ چې په هغه سره (د مسجد) عمارت (ودانۍ) مضبوطه سي دُونَ مَا يَرْجِعُ إِلَى النَّقْشِ داسي کار به نه کوي چې د مسجد د نقش و نګار سره تعلق لري حَتَّى لَوْ فَعَلَ يَضْمَنُ نو که متولي داسي وکړه نو ضامن به وي وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ او الله په حقیقي حال ښه خبر دی.

اللغات: ﴿جص﴾ ګچ، ﴿ساج﴾ يو ډول قيمتي لرګی دی، ﴿يؤجر﴾ افعال د باب مجهوله صيغه ده: اجر ورکول، ثواب ورکول، مزدوري ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې په چونه، ګچ او د سرو زرو په اوبو او داسې نور سره د مسجدونو ښائسته کول او نقش ونګار کول هيڅ پروا نه لري، ليکن بعضي علماؤ د مسجدونو ښايسته کول او نقش و نګار پکښې کول مکروه ګرځولي دي، او دليل يې د حضرت علي ﷺ دا قول ذکر کړی دی: "چې کله حضرت علي يو منقش او ډېر ښايسته مسجد وليدی، نو ويې فرمايل: لمن هذه البيعة دا کليسا د چا ده"، نو ښکاره د چې د حضرت علي رَحِمَهُ الله دا فرمان په مسجدونو کي د دې مکروه عمل په وجه وو، همدارنګه نبي ﷺ د قيامت له نښو څخه يوه نښه د مسجدونو ښايسته کېدل هم شمارلي دي، ليکن صحيح دا ده چې که يو سړی په خپل شخصي مال سره په مسجد کي نقش و نګار کول او مسجد ښايسته کول غواړي، نو په دې کي هيڅ حرج نسته، لکه څرنګه چې امام قدوري رَحِمَهُ الله دا مسئله په لا بأس سره بيان کړې ده، چې له دې څخه دا اشاره تر لاسه کيږي چې که څه هم پر دې کار ثواب نه ورکول کيږي، ليکن دا سړی ګنهګاره کيږي هم نه، ځکه چې حضرت عمر ﷺ د خپل خلافت په دور کي د مسجد نبوي تعمير وکړی، او نوريې ښائسته کړی، او بيا قرآن کريم هم د إنما يعمر مساجد الله ...الخ په فرمان سره د مسجدونو د جوړولو او پخولو حکم کړی دی، او دا خبره هم پر خپل ځای تسليم سوې ده چې مسجدونه څومره ښايسته، ښکلي او په زړه پوري وي، هغومره به د خلکو د توجهاتو او پاملرنو مرکز وي، او په زيات شمېر خلک به د مسجدونو و طرف ته مخ کوي، نو په دې حواله سره هم د مسجد نقش و نګار او ښکلي کول مستحسن او غوره دي.

نو ځکه بعضي خلکو تر دې پوري ويلي دي چې د مسجدونو ښايسته کول هم يو ډول عبادت دی، ليکن دا حکم په هغه صورت کي دی چې کله يو سړی په خپل شخصي او ذاتي مال سره د ښايست او نقش ونګار کار تر سره کوي، هم په دې وجه متولي سړي ته د وقف او چندې په مال سره د هغه کار کولو اجازه خو سته چې په هغه سره د مسجد عمارت او ودانی مضبوطه سي، او نور ټينګوالی او استحکام پکښې راسي، ليکن د هغه لپاره د وقف په پيسو سره د مسجد د نقش ونګار کولو او د مسجد ښايسته کولو حق نسته، او که داسې کوي، نو د دې حساب او تاوان به ورکوي.



بَابُ صَلَاةِ الْوِتْرِ

(دا) باب د وترو د لمانځه (په بیان کي) دی

تشریح: کله چي مصنف رَحِمَهُ الله له فرائضو او د هغوله متعلقاتو یعني وختونو، کیفیت، اداء کامل او قاصر څخه فارغ سو، نو اوس په دې باب کي د هغه لمانځه بیان کوي. کوم چي تر فرضو کم او تر نفلو زیات دی، یعني صلاة وتر، او د دوی په مینځ کي د مناسبت وجه دا ده چي وروسته نوافل بیانیږي. نو واجب یعني وتر یې د فرضو او نفلو په مینځ کي بیان کړه. لکه څرنګه چي د واجبو حق همدارنګه دی.

د وترو د لمانځه شرعي حیثیت

الْوِتْرُ وَاجِبٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ● وتر د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نیز واجب دي وَقَالَا سُنَّةٌ لِظُهُورِ آثَارِ السُّنَنِ فِيهِ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي وتر سنت دي ځکه په وترو کي د سنتونو آثاره ښکاره دي حَيْثُ لَا يُكَفَّرُ جَاحِدُهُ په دې توګه چي د وترو منکر نه کافر کیږي وَلَا يُؤَذَّنُ لَه او د وترو لپاره به اذان نه کیږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله قَوْلُه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله دلیل د نبي ﷺ دا فرمان دی إِنَّ اللهَ تَعَالَى زَادَكُمْ صَلَاةً أَلَا وَهِيَ الْوِتْرُ بېشکه الله ستاسو لپاره یو لمونځ زیات کړی خبردار! چي هغه وتر دي فَصَلُّوهَا مَا بَيْنَ الْعِشَاءِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ نو ذا د ماخوستن او د سهار راختلو (طلوع فجر) په مینځ کي کوئ أَمْرٌ دا امر دی وَهُوَ لِلْوُجُوبِ او امر د وجوب لپاره وي وَلِهَذَا وَجَبَ الْقَضَاءُ بِالْإِجْمَاعِ نو هم په دې وجه د وترو قضاء راوړل په اجماع سره واجب دي وَإِنَّمَا لَمْ يُكَفَّرْ جَاحِدُهُ او د وترو منکر ځکه نه کافر کیږي لِأَنَّ وُجُوبَهُ ثَبَتَ بِالسُّنَّةِ چي د وترو وجوب په حدیثو سره ثابت دی وَهُوَ الْمَعْنَى بِمَا رُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ سُنَّةٌ او همدغه مطلب د هغه روایت دی چي هغه له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوی دی چي وتر سنت دي وَهُوَ يُؤَدَّى فِي وَقْتِ الْعِشَاءِ او وتر د ماخوستن په وخت کي اداء کیږي فَاكْتُفِيَ بِأَذَانِه وَإِقَامَتِه نو ځکه (په وترو) کي د ماخوستن پر اذان او اقامت اکتفاء وسوه.

اللغات: ﴿جاحد﴾ د فتح د باب اسم فاعل دی: انکار کول. نه منل، ﴿فَاكْتُفِيَ﴾ د افتعال د باب مجهوله صیغه ده: اکتفاء کول کول، کافي کېدل.

تشریح: د وترو په باره کي له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه درې روایتونه دي: (۱) اول دا چي وتر واجب دي، (۲) دویم دا چي وتر سنت مؤکده دی، همدا مسلک د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دی، (۳) دریم دا چي وتر فرض دي، او دا قول امام زفر او مالکیانو اختیار کړی دی.

● القول الراجح: قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله كذا في رد المحتار ج:١، ص:٤٩١.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الوضوء، باب استحباب الوتر، حديث رقم:١٤١٨. [القول الراجح، ج:١، ص:١٠٥]

د صاحبينو دليل: دا دی چي په وترو کي د سنتو آثار ښکاره دي، مثلاً د سنتو په ډول د وترومنکر هم کافر نه دی. او نه د وترو لپاره اذان سته، لکه څرنګه چي د سنتو لپاره اذان نسته، نو معلومه سوه چي وتر سنت دي، او صاحب د شرح نقايې رَحِمَهُ الله د صاحبينو له طرفه نقلي دليل دا بيان کړی دی چي نبي ﷺ يو صحرايي ته وفرمايل: خمس صلاة كتبهن الله عليك قال هل علی غيرها قال إلا أن تطوع. (الله تعالیٰ پر تا باندي پنځه لمونځونه فرض کړي دي، صحرايي وويل: آيا له دې څخه ماسوا نور فرض هم پر ما سته. نبي ﷺ وفرمايل: نه! خو دا چي ته نفل وکړې)؛ له دې حديث څخه معلومه سوه چي د پنځه وختونو له لمونځونو څخه ماسوا نور ټوله نفل دي، نو ځکه د وترو واجب کېدل نه ثابتيږي، ځکه چي وتر له پنځو لمونځونو څخه ماسوا دي، بل دا چي په صحيحينو کي له ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه را نقل سوي دي: أن النبي ﷺ أوتر علی البعير. (چي نبي کريم ﷺ وتر پر اوښ وکړه)، او دا خبره ښکاره ده چي پر سپرلي نفلي لمونځ اداء کيږي. فرض او واجب نه اداء کيږي، نو که واجب وای، نو نبي ﷺ به د سپرتيا په حالت کي نه کولای.

د امام صاحب دليل: د نبي ﷺ دا فرمان دی: إن الله زادكم صلاة ألا وهي الوتر فصلوها ما بين العشاء إلى طلوع الفجر. صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي په دې حديث سره په شو طريقو استدلال سوی دی: اول دا چي د زياتوب نسبت الله تعالیٰ ته سوی دی، او د سنتو نسبت رسول الله ﷺ ته کيږي، نو که وتر سنت وای، نو په حديث کي به الله تعالیٰ ته د نسبت پر ځای رسول ته نسبت سوی وای؛ خو څرنګه چي نبي ﷺ ته نسبت نه دی سوی، نوځکه به د وترو لمونځ سنت نه وي، بلکي واجب به وي، دويم دا چي پر يو شي زياتوب هغه وخت کيږي، چي مزيد عليه شي يعني هغه چي پر هغه زياتوب سوی وي، محدود العدد وي، او دا خبره منل سوې ده چي نوافل غير محدود دي. د دې څه انتهاء نسته. نو زياتوب په فرائضو کي کيږي، ځکه چي فرائض محدود العدد دي، او څرنګه چي مزيد (د کوم چي زياتوب سوی وي) د مزيد عليه له جنس څخه کېدل ضروري دي، نو د دې مقتضا دا ده، چي پر فرائضو د کوم شي زياتوب سوی وي. هغه دي هم يعني وتر دي هم فرض وي، خو څرنګه چي حديث خبر واحد دی، او خبر واحد غير قطعي دليل دی. او په غير قطعي دليل سره فرض نه ثابتيږي، نو ځکه به وتر له فرضو څخه د کمي درجې وي، چي هغه واجب دي، دريم دا چي په ذکر سوي حديث کي فصلوها د امر صيغه ده، او امر د وجوب لپاره وي، نو له دې څخه هم د وترو وجوب ثابتيږي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د وترو قضاء هم په دغه وجه واجب ده چي دوی واجب دي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله تائيد په دې حديث سره هم کيږي، چي نبي ﷺ فرمايلي دي: الوتر حق واجب فمن لم يوتر فليس منا، (يعني وتر حق واجب دي، چا چي وتر نه وکړل، نو هغه زموږ څخه ...) په مسلم کي د ابو سعيد خدري رضي الله عنه حديث دی: أن النبي ﷺ قال أوتروا قبل أن تصبحوا، (يعني نبي ﷺ فرمايلي دي چي له سهار راختلو څخه مخکي وتر کوئ)، په دې حديث کي: اوتروا، د امر صيغه ده، او امر پر وجوب دلالت کوي.

جواب: د صاحبينو د عقلي دليل جواب دا دی چي د وترو منکر ځکه کافر نه دی چي د وترو ثبوت په سنت غير متواتره سره دی، او کوم چي له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه روايت سوي دی، چي وتر سنت دی، د هغه معنیٰ هم دا ده چي د وترو ثبوت په سنت سره سوی دی. څرنګه چي د وترو لمونځ د ماخوستن په وخت کي اداء کيږي، نو ځکه به د ماخوستن پر اذان او اقامت اکتفاء کيږي، د وترو لپاره به د جلا اذان او قامت ضرورت نه وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام صاحب دی، يعني وتر واجب دي، وقال فی الهندية عن ابي حنيفة رَحِمَهُ الله عنه فی الوتر ثلاث روايات فی رواية فريضة وفی رواية سنة مؤكدة وفی رواية واجب وهی آخر اقواله، وهو الصحيح، (الهندية ج:١، ص:١١٠). [القول الراجح ج:١، ص:١٠٥]

د وترو درې رکعتونه به په يوه سلام سره کيږي

قَالَ: اَلْوِتْرُثَلَاثُ رَكَعَاتٍ فرمايي: چي وتر درې رکعته دي لَا يُفْصَلُ بَيْنَهُنَّ بِسَلَامٍ د هغو په مينځ کي به د سلام په ذريعه سره فصل نه کيږي لِمَا رَوَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ځکه چي حضرت عائشې رضي الله عنها روايت کړی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● كَانَ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ چي نبي ﷺ به درې رکعته وتر کول وَحَكَى الْحَسَنُ رَحِمَهُ اللهُ إِجْمَاعَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى الثَّلَاثِ او حضرت حسن بصري رَحِمَهُ الله پر درېو رکعتونو د مسلمانانو اجماع را نقل کړې ده وَهٰذَا أَحَدُ أَقْوَالِ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له اقوالو څخه يو قول دی وَفِي قَوْلٍ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په بل قول کي راغلي دي يُوتِرُ بِتَسْلِيمَتَيْنِ چي په دوو سلامونو سره به وتر کوي وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ او همدغه د امام مالک رَحِمَهُ الله قول دی وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِمَا مَا رَوَيْنَاهُ او د دوی په خلاف هغه روايت حجت دی چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿يُفْصَلُ﴾ د ضراب مضارع ده: جلا کول، فاصله ورکول، ﴿تَسْلِيمَة﴾ په يوه وار سلام ورېلو سره دواړه طرفونو ته مخ گرځول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي زموږ په نېز وتر درې رکعته دي په يوه سلام سره، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله او امام مالک رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د وترو درې رکعته دي په دوو سلامو سره، له دې څخه علاوه د دې حضراتو په نېز له يوه رکعت څخه واخله تر نهو رکعتو پوري اقوال سته، لېکن معتبر قول يې هغه دی کوم چي موږ بيان کړی يعني د وترو درې رکعته دي په دوو سلامو سره، دې حضراتو د خپل دريځ لپاره په څو طريقو سره استدلال کړی دی، اول استدلال يې دا دی چي په مشکوة شريف کي د صحيحينو په حواله سره د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی چي په هغه کي دا مضمون وارد سوی دی: ويوتر بواحدة، (يعني نبي ﷺ به يو رکعت وتر کوی). په دې حديث سره دليل په دې توګه نيسي چي نبي ﷺ به پر اولو دوو رکعتو سلام ګرځوی، وروسته به يې د هغو سره يو رکعت يو ځای کوي، او هغه رکعت چي به يې پوره کړی بيا به يې سلام ګرځوی. د دې خضراتو دويم دليل دا حديث دی: صلاة الليل مثنى مثنى (يعني د شپې لمونځونه دوه دوه رکعته دي)، او شرنګه چي وتر هم د شپې کيږي، نو ځکه به په وترو کي هم پر دويم رکعت سلام ګرځول کيږي او وروسته به دريم رکعت ور سره يو ځای کيږي. دريم دليل يې دا دی چي په بخاري شريف کي د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په باره کي روايت سوی دی: كان يسلم بين الركعة والركعتين في الوتر...الخ (يعني حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به د وترو د يوه او دوو رکعتونو په مينځ کي سلام ګرځوی)، نو له دې څخه هم معلومه سوه چي د وترو په دريو رکعتونو کي به دوه واره سلام ګرځول کيږي.

● تخريج: أخرجه النسائی فی کتاب الصلاة، باب کيف الوتر بثلاث، حديث رقم:١٦٩٨ والطحاوی فی شرح معانی الآثار، باب الوتر، حديث:١٦٥٤.

زموږ اول دليل: د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا حديث دی: كان رسول الله يوتر بثلاث لا يسلم الّا فی آخرهن (يعني نبي ﷺ به وتر په دريو رکعتو سره کوله، او صرف په آخري رکعت کي به يې سلام ګرځوی). **دويم دليل:** د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا حديث دی: ثم أوتر بثلاث...الخ. **دريم دليل:** په نسائي شريف کي د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا حديث دی: كان النبي ﷺ لا يسلم فی رکعتي الوتر (يعني نبي ﷺ به د وترو په دوو رکعتو کي سلام نه ګرځوی). **څلورم دليل:** د حضرت ابی بن کعب ﷺ هغه حديث دی کوم چي په ترمذي او نورو کي ذکر سوی دی، چي په آخر کي يې دا جمله راغلې ده: لا يسلم الّا فی اخرهن. **پنځم دليل:** په مصنف بن ابی شيبه کي د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ الله دا قول دی: أجمع المسلمون على أن الوتر ثلاثة لا يسلم الّا فی آخرهين...الخ. له دې ټولو رواياتو څخه دا خبره ښکاره کيږي چي وتر درې رکعته دي، او درې سره په يوه سلام دي.

جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله او نورو چي کوم حديثونه ذکر کړي دي، د هغو اول حديث جواب دا دی چي د يوتر بواحدة هغه مطلب صحيح نه دی کوم چي يې دوی څني اخلي چي په وترو کي دوه سلامه ثابتوي، بلکي صحيح مطلب يې دا دی چي نبي ﷺ به په وترو کي د دوو رکعتو سره دريم رکعت هم يو ځای کوی، او د دې دريم په ذريعه سره به يې جفت طاق جوړول، او پر دې مطلب قرينه دا ده چي نبي ﷺ له صلاة بتيراء يعني صرف له يوه رکعت والا لمانځه څخه منع فرمايلې ده، د دويم حديث صلاة الليل مثنى... الخ جواب يې دا دی چي د وترو سره د دې هيڅ تعلق نسته، دا د نفلو سره تعلق لري، او موږ هم د شپې نفلونه دوه دوه رکعته افضله او غوره ګڼو، د دريم دليل يعني د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د معمول جواب يې دا دی چي د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا عمل د ده د نورو اعمالو سره معارض دی ځکه چي له ده څخه وتر په يوه سلام هم ثابت دي، نو څرنګه چي د ده د نورو اعمالو او د دې عمل تر مينځ تعارض دی، نو د إذا تعارضا تساقطا په وجه به په دې سره دليل نيول صحيح نه وي.

دعائي قنوت به کله ويل کيږي؟ تر رکوع مخکي که وروسته (د فقهاؤ قولونه)

وَيَقْنُتُ فِي الثَّالِثَةِ قَبْلَ الرُّكُوعِ او د دريم رکعت تر رکوع مخکي به قنوت وايي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ بَعْدَهُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تر رکوع وروسته به يې وايي لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَنَتَ فِي آخِرِ الْوِتْرِ ځکه روايت دی چي نبي ﷺ د وترو په آخر کي قنوت وواېی وَهُوَ بَعْدَ الرُّكُوعِ او د وترو آخر تر رکوع وروسته دی وَلَنَا مَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَنَتَ قَبْلَ الرُّكُوعِ او زموږ دليل دا روايت دی چي نبي ﷺ تر رکوع مخکي قنوت وواېی وَمَا زَادَ عَلَى نِصْفِ الشَّيْءِ آخِرُهُ او کومه حصه چي د يوه شي تر نيمايي زياته سي هغه ته د شي آخر ويل کيږي.

اللغات: ﴿يَقْنُتُ﴾ د نصر د باب مضارع ده: دعائي قنوت ويل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چي زموږ په نيز به وتر کونکی تر رکوع مخکي دعائي قنوت وايي، لېکن د شوافعو په نيز به تر رکوع وروسته دعائي قنوت وايي.

د شوافعو دليل: د حضرت ابو هريره ﷺ دا حديث دی: أنه ﷺ قنت بعد الركوع. (يعني نبي ﷺ تر رکوع وروسته دعائي قنوت وويله)، په بل روايت کي راغلي دي: قنت فی آخر الوتر. (يعني نبي ﷺ د وترو په آخر کي دعائي قنوت

وربله)، او د وترو آخر په دريم رکعت کي تر رکوع وروسته کېدای سي، نو ځکه به د دعائي قنوت محل تر رکوع وروسته وي، نه مخکي.

زموږ دليل: د حضرت ابی بن کعب ﷺ دا حديث دی: أن رسول الله ﷺ كان يوتر فيقنت قبل الركوع. (يعني نبي ﷺ چي به کله وتر کول نو تر رکوع مخکي به يې دعائي قنوت وېله). **دويم دليل:** د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا حديث دی: أن النبی ﷺ كان يوتر بثلاث ويجعل القنوت قبل الركوع. (يعني نبي ﷺ به وتر په درې رکعتو سره کوله. او دعائي قنوت به يې تر رکوع مخکي وېله)؛ له دې روايتونو څخه معلومه سوه چي دعائي قنوت به تر رکوع مخکي وېل کېږي نه وروسته.

جواب: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د اول حديث جواب دا دی چي د ابو هريره ﷺ په حديث کي چي د کوم قنوت يادونه سوې ده له هغه څخه د وترو قنوت مراد نه دی، بلکي له هغه څخه قنوت نازله مراد دی. او د قنوت نازله په باره کي خو موږ هم دا وايو چي تر رکوع وروسته به وي، د دويم حديث جواب يې دا دی چي د يو شي له نيمايي څخه چي کومه حصه زياته سي، هغه ته آخر وېل کېږي، نو له فی آخر الوتر څخه به تر نيمايي وروسته والا حصه مراده وي. او دا حصه تر رکوع مخکي هم کېدی سي، او په آثارو او قرائنو سره د دې تائيد هم سوی. نو ځکه به همدغه مخکنۍ حصه مراد وي. او تر رکوع مخکي به دعائي قنوت وېل افضله وي.

قنوت به ټوله کاله وېل کېږي (او د امام شافعي مسلک)

وَيَقْنُتُ فِي جَمِيعِ السَّنَةِ او ټوله کال به قنوت وايي **خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي غَيْرِ النِّصْفِ الْأَخِيرِ مِنْ رَمَضَانَ** لېکن د روژې د مياشتي په آخري نيمه حصه (يعني آخري پنځلسو ورځو) کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لِلْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ** (زموږ دليل) د نبي ﷺ دا قول دی حسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته **حِيْنَ عَلَّمَهُ دُعَاءَ الْقُنُوتِ**° کله چي يې هغه ته دعائي قنوت ور وښووله **اِجْعَلْ هٰذَا فِي وِتْرِكَ** (چي) دا دعاء په خپلو وترو کي شامله کړه **مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ** په دې حديث کي (د دې) هيڅ تفصيل نسته (چي په دې وخت کي يې شامله کړه او په دې وخت کي يې مه شاملوه)

اللغات: ﴿فَصْل﴾ جلا لوالی، تفصيل.

تشريح: زموږ په نيز په وترو کي ټوله کال دعائي قنوت وېل واجب دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز صرف د رمضان په آخري نيمه حصه کي دعائي قنوت وېل مستحب دي، او نور په ټوله کال کي بې له کراهته جائز دی (واجب او مستحب نه دی).

د امام شافعي دليل: دا اثر دی: أن عمر ﷺ أمر أبي بن كعب بالإمامة فی ليال رمضان و أمر القنوت فی النصف الأخير منه. (يعني حضرت عمر ﷺ ابی بن کعب ﷺ ته په رمضان کي د امامت حکم وکړی، او د رمضان په آخري نيمه حصه کي يې د دعائي قنوت حکم ورته وکړی).

جواب: د امام شافعي د دليل جواب دا دی چي له قنوت څخه مراد په لمانځه کي دننه قرائت اوږدول دي. يعني حضرت عمر ﷺ ابی بن کعب ﷺ ته د رمضان په آخري نيمه حصه کي د قرائت اوږدولو حکم وکړی، تر دې جواب وروسته دا اثر امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل نه سي کېدلای.

° تخريج: [illegible] ١٤٢٥

او كه تسليم هم سي چي له قنوت څخه مراد دعائي قنوت ده، نو موږ بيا دا جواب ورکوو: چي دا ديو صحابي اثر دی، او امام شافعي رَحِمَهُ الله د صحابي اثر د استدلال وړ نه ګڼي.

سوال: خو د امام شافعي رَحِمَهُ الله له طرفه دا اعتراض کېدلای سي چي دا اثر ځکه د استدلال وړ دی چي دا اجماع معنیٰ لري، ځکه چي حضرت ابی بن کعب ﷺ د صحابه وو يو لوی جماعت ته امامت ورکړی، او هيڅ صحابي انکار نه وکړی، نو ځکه به دا اثر د اجماع په حکم کي وي او د اجماع قائم مقام به وي.

جواب: خو موږ په جواب کي وايو چي د ابن عمر ﷺ اختلاف ثابت دی، ځکه چي ابن عمر ﷺ فرمايي: لا أعرف القنوت إلا طول القيام، (يعني زما په نيز له رکعت اوږدولو څخه ماسوا د قنوت بله هيڅ معنیٰ نسته (يعني زما په نيز قنوت صرف د رکعت اوږدولو ته وايي))، نو د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د اختلاف باوجود به اجماع څرنګه ثابته وي.

زموږ دليل: دا حديث دی چي نبي ﷺ حسن بن علي ﷺ ته د دعائي قنوت تعليم ورکړی، او بيا يې ورته وفرمايل: اجعل هذا في وترك، يعني دا دعا په خپل وترو کي داخله کړه، په دې کي د رمضان او غير رمضان هيڅ تفصيل نسته، نو له دې څخه ټوله کال د دعائي قنوت ويل ثابت سو.

د وترو په هر رکعت کي به سورت فاتحه او بل سورت ويل کيږي

وَيَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ مِنَ الْوِتْرِ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً او د وترو په هر رکعت کي به فاتحه او سورت وايي لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ ځکه الله تعالیٰ فرمايلي دي فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ [المزمل: ٢٠] وايږاست هغه له قرآن څخه کوم چي آسانه وي.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د وترو په هر رکعت کي سورت فاتحه او بل سورت ويل په اتفاق سره واجب دي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز خو په دې وجه چي وتر سنت دي، او د سنتو او نفلو په هر رکعت کي قرائت سته، او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز وتر که څه هم واجب دي، خو څرنګه چي د وترو د وجوب ثبوت په سنت سره سوی دی، او سنت يقين نه فايده کوي، نو ځکه د دې په وجوب کي يو قسم شک پاته سو، نو د احتياط په وجه امام ابو حنيفة رَحِمَهُ الله په هر رکعت کي قرائت واجب وګرځوی، لکه څرنګه چي د سنتو او نوافلو په هر رکعت کي قرائت واجب دی.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله چي کوم دليل ذکر کړی دی يعني: فاقرءوا... الخ، نو په دې سره د مطلق قرائت لپاره دليل نيول کېدای سي، د سورت فاتحه او د بل سورت د تعيين استدلال نه سي ځني کېدلای.

د دعائي قنوت ويلو طريقه

وَإِنْ أَرَادَ أَنْ يَقْنُتَ كَبَّرَ او که لمونځ کونکي د دعائي قنوت اراده وکړي نو تکبير دي ووايي لِأَنَّ الْحَالَةَ قَدِ اخْتَلَفَتْ ځکه چي حالت بدل سو وَرَفَعَ يَدَيْهِ او دواړه لاسونه دي پورته کړي وَقَنَتَ او قنوت دي ووايي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا تُرْفَعُ الْأَيْدِيْ إِلَّا فِيْ سَبْعِ مَوَاطِنَ لاسونه به صرف په اوو (٧) ځايونو کي پورته کيږي وَذَكَرَ مِنْهَا الْقُنُوْتَ او له هغو اوو ځايونو څخه يې يو قنوت (هم) ذکر کړی.

اللغات: ﴿أَيْدِيْ﴾ جمع د يَدٌ ده: لاس، ﴿مَوَاطِن﴾ جمع د مَوْطِنٌ ده: ځای، مقام.

● تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، باب رفع اليدين، حديث رقم: ٩١١.

تشریح: مسئله: دا ده چي کله لمونځ ګزاره د دعائي قنوت ويلو اراده وکړي، نو هغه ته پکار دي چي تکبير ووايي، ځکه چي تر تکبير مخکي هغه په قرائت کي مشغوله وو، او تر تکبير وروسته به د قرائت په مشابه يعني دعاء سره مشغوليږي، نو د قرائت او دعاء په مينځ کي د فرق کولو لپاره او د انتقال د اطلاع ورکولو لپاره پر ده تکبير ويل واجب دي، او د دې تکبير سره به لاسونه هم پورته کوي، ځکه نبي چي په کومو اوو ځايونو کي د لاسونو پورته کول واجب ګرځولو دي. په هغه کي قنوت هم سته، نو پر دې موقع به هم لاسونه پورته کوي.

آيا دعائي قنوت به په نورو لمونځونو کي ويل کيږي؟

وَلَا يَقْنُتُ فِي صَلَاةٍ غَيْرِهَا او له وترو څخه ماسوا به په بل لمانځه کي قنوت (دعائي قنوت) نه وايي **خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْفَجْرِ** د سهار په لمانځه کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی **لِمَا رَوَى ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ**● ځکه ابن مسعود رَحِمَهُ الله روايت کړی دی **أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَنَتَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ شَهْرًا** چي نبي ﷺ تر يوې مياشتي پوري د سهار په لمانځه کي قنوت وايی **ثُمَّ تَرَكَهُ** بيا يې پرېښوو.

اللغات: ﴿شَهْرًا﴾ شهر: مياشته.

تشریح: مسئله: دا ده چي د احنافو په نيز له وترو څخه ماسوا په بل لمانځه کي دعائي قنوت ويل نسته، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د سهار په لمانځه کي قنوت ويل سنت دي.

د امام شافعي دليل: د انس ﷺ حديث دی: كان النبي ﷺ يقنت في صلاة الفجر إلى أن فارق الدنيا. (يعني نبي ﷺ به د سهار په لمانځه کي قنوت وايی تر دې چي له دنيا څخه رخصت سو).

زموږ دليل: د ابن مسعود ﷺ حديث دی: أن النبي ﷺ قنت في صلاة الفجر شهراً يدعو على حي من أحياء العرب. (نبي ﷺ يوه مياشت د سهار په لمانځه کي د عربو د يوې قبيلې لپاره د ښېرا (ښېرا) په توګه دعائي قنوت ويله). بل دليل دا دی چي په خپله له حضرت انس ﷺ څخه را نقل سوي دي چي: قال قنت رسول الله ﷺ في صلاة الفجر شهراً أو قال أربعين يوما على أهل ذكوان و عصية حين قتلوا القراء وهم سبعون رجلاً أو ثمانون. (يعني نبي ﷺ يوه مياشت يا څلوېښت ورځي دعائي قنوت ويله، مقصد يې هغه خلکو ته ښېرا کول وو چي هغو اويا يا اتيا قاريان شهيدان کړه). له دې حديث څخه هم معلومه سوه چي نبي ﷺ د سهار په لمانځه کي له يو څه وخت څخه علاوه دعائي قنوت ويلې نه ده. بل دليل دا دی چي ابو عثمان نهندي رَحِمَهُ الله فرمايي: صليت خلف أبي بكر ﷺ سنتين و صليت خلف عمر ﷺ كذالك فلم أر واحدا منهما يقنت في صلاة الفجر (يعني ما په ابو بکر او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا پسي دوه کاله لمونځ وکړی، خو په دوی کي مي له يوه څخه هم د سهار په لمانځه کي دعائي قنوت اوريدلې نه ده).

که امام د سهار په لمانځه کي دعائي قنوت وويله نو مقتدی به څه کوي؟

فَإِنْ قَنَتَ الْإِمَامُ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ بيا که امام د سهار په لمانځه کي دعائي قنوت وويله **يَسْكُتُ مَنْ خَلْفَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ** نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به مقتدی چپ پاتيږي **وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: يُتَابِعُهُ** او امام ابو

● أخرجه بيهقي في سننه، باب ما يجوز في الدعاء، حديث رقم:٣٢٥.

يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي مقتدي به د امام تابعداري (پيروي) کوي لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِإِمَامِهِ ځکه مقتدي د امام تابع دی وَالْقُنُوْتُ مُجْتَهَدٌ فِيْهِ او د سهار په لمانځه کي قنوت ويل مختلف فيه دي(يعني اختلاف پکښې سته) وَلَهُمَا أَنَّهُ مَنْسُوْخٌ او د طرفينو دليل دا دی چي دا منسوخ سوي دي وَلَا مُتَابَعَةَ فِيْهِ او په منسوخ کي به تابعداري نه کيږي ثُمَّ قِيْلَ يَقِفُ قَائِمًا بيا يو قول دا دی چي مقتدی به ولاړ اوسي لِيُتَابِعَهُ فِيْمَا تَجِبُ مُتَابَعَتُه د دې لپاره چي د امام تابعداري(متابعت)وکړي په هغه شي کي چي د هغه متابعت واجب دی وَقِيْلَ يَقْعُدُ تَحْقِيْقًا لِلْمُخَالَفَةِ او دويم قول دا دی چي د مخالفت ثابتولو لپاره دي مقتدی کښېني لِأَنَّ السَّاكِتَ شَرِيْكُ الدَّاعِي ځکه چي چپ (خاموش) سړی د داعي(بلونکي) سري شريک وي وَالْأَوَّلُ أَظْهَرُ او اول قول زيات ښکاره دی وَدَلَّتِ الْمَسْأَلَةُ عَلَى جَوَازِ الْاِقْتِدَاءِ بِالشَّفْعَوِيَّةِ او دغه مسئلې پر دې خبري دلالت وکړی چي په شافعي مذهب والا(امام) پسي اقتداء کول جائز دي وَعَلَى الْمُتَابَعَةِ فِي قِرَاءَةِ الْقُنُوْتِ فِي الْوِتْرِ او پر دې خبري يې (هم) دلالت وکړی چي په وترو کي به مقتدی د قنوت په ويلو کي د امام تابعداري کوي وَإِذَا عَلِمَ الْمُقْتَدِيْ مِنْهُ مَا يَزْعَمُ بِهِ فَسَادَ صَلَاتِهِ او کله چي (حنفي) مقتدي ته له (خپل شافعي المذهب) امام څخه داسي خبره معلومه سي چي په هغه سره د ده لمونځ فاسديږي كَالْفَصْدِ وَغَيْرِهِ لکه ښکر لګول او داسي نور لَا يُجْزِئُهُ الْاِقْتِدَاءُ بِهِ نو د دغه (حنفي) مقتدي لپاره د دې (شافعي) امام اقتداء کول جائز نه دي وَالْمُخْتَارُ فِي الْقُنُوْتِ الْإِخْفَاءُ او د قنوت په سلسله کي اخفاء غوره ده لِأَنَّهُ دُعَاءٌ ځکه چي قنوت دعاء ده.

تشريح: په دې عبارت کي څو مسئلې بيان سوي دي چي له هغو څخه اوله مسئله دا ده چي که امام د سهار په لمانځه کي دعائي قنوت وايي او هغه شافعي المذهب وو، نو د ده په اقتداء کي چي څومره حنفي مقتديان شريک دي، د هغو ټولو لپاره د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حکم دا دی چي هغوی دي چپ اوسي، او دعائي قنوت دي نه وايي، امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي حنفي مقتديانو ته په دې صورت کي هم د خپل امام اتباع(تابعداري) ضروري ده، او د امام سره د دوی لپاره هم قنوت ويل ضروري دي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي کله مقتديانو د امام ماقتداء وکړه، نو د دوی لپاره په ټولو شيانو کي د امام اتباع ضروري سوه، او بيا چي څرنګه د سهار په لمانځه کي قنوت ويل او نه ويل مختلف فيه دي(يعني اختلاف پکښې سته)، نو د دې اختلاف په وجه به اصل شی يعني تابعداري نه پرېښوول کيږي، او پر مقتديانو به د امام اتباع ضروري وي، او په اتباع کي قنوت ويل هم شامل دي، نو ځکه به د دوی لپاره د قنوت ويل هم ضروري وي.

د طرفينو دليل: دا دی چي تابعداري په هغه شيانو کي راتلاسی چي هغه ثابت او موجود وي، او څرنګه چي د سهار په لمانځه کي د قنوت ويل منسوخ سوي دي، نو ځکه په دې کي تابعداري هم ضروري نه ده، ځکه چي په منسوخه سوو شيانو کي اتباع ضروري نه وي، نو له همدې کبله به په ذکر سوې مسئله کي مقتديان خاموش اوسي، او قنوت به نه ايي، خو دا خاموشي او چُپتيابه څه رنګه وي؟ نو په دې باره کي دوې رايې دي: (١) اوله رايه دا ده چي مقتديان به ولاړ په حال کي چپ اوسي، (٢) او دويمه رايه دا ده چي مقتديان به د ناستي په حال کي چپ اوسي، د دې لپاره چي د شافعي المسلک امام پوره مخالفت ثابت سي، ځکه چي صرف په چپ پاته کېدلو سره مخالفت نه ثابتيږي، ځکه چپ او

خاموشه لمونځ ګزاره هم حکماً قاري منل کیږي، لکه په فرضي لمونځونو کي د امام قرائت د خاموش مقتدي لپاره قرائت منل سوی دی، نو د پوره مخالفت ثابتولو لپاره دي مقتدي کښېني، لیکن صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي اوله رایه یعني د ولاړي په حال کي خاموشه اوسېدل زیات ظاهر دي، ځکه چي امام مشروع او غیر مشروع هر ډول کار کوي، نو په مشروع کي به د هغه اتباع کیږي، او په غیر مشروع کي به د هغه اتباع نه کیږي، او څرنګه چي د ولاړي په حالت کي اقتداء کول مشروع امر دی، نو ځکه به پر مقتدیانو د ولاړي په حالت کي چپ اوسېدل ضروري وي.

ودلت المسئلة الخ له دې ځایه دا راښیي چي په عبارت کي چي کومه د قنوت مسئله بیان سوه، له هغې څخه نوري دوې مسئلې هم ښکاره سوې: (۱) اول خو دا مسئله ښکاره سوه چي د حنفي مقتدي لپاره د شافعي امام اقتداء کول صحیح دي. او په دې کي هیڅ ډول کراهت او بدي نسته. (۲) او دویمه مسئله دا وُاضحه سوه چي د مقتدي لپاره د وترو په لمانځه کي قنوت ویل واجب دي، ځکه چي په وترو کي بذات خود قنوت واجب دي، همدا وجه ده چي د دې په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبیږي، نو کله چي په وترو کي بذات خود قنوت واجب وي، نو پر لمونځ ګزاره به د دې ویل هم واجب وي، که څه هم هغه د شافعي امام اقتداء کوي (او لوړ چي کومه مسئله بیان سوه، هغه د وترو سره نه بلکي د سهار د لمانځه سره تعلق لري).

وإذا علم الخ د دې حاصل دا دی چي که حنفي مقتدي ته په خپل شافعي امام کي په یقیني توګه یو داسي خبره معلومه سي چي هغه د احنافو په نېز لمونځ فاسدوي، نو د دې حنفي مقتدي لپاره د هغه اقتداء کول جائز نه دي. د مثال په توګه شافعي امام اودس وکړی بیا یې ښکر ولګوی یا یې له غیر سبیلینو څخه نجاست ووتی، او اودس یې نه راو ګرځوی. نو د دې حنفي مقتدي لپاره د هغه اقتداء کول جائز نه دي، ځکه چي دا شیان که څه هم د شوافعو په نېز اودس نه ماتوي. لیکن د احنافو په نېز اودس ماتوي، ځکه چي د حنفي مقتدي د ګومان مطابق د هغه امام بې اودسه سو، او په بې اودسه پسي اقتداء کول جائز نه دي.

والمختار الخ فرمایي چي په دعائي قنوت کي اخفاء یعني په کراره او پټه ویل غوره او مستحسنه دي، ځکه چي دا دعاء ده، او د دعاګانو په سلسله کي د قرآن مجید اعلان دا دی: أدعو ربکم تضرعًا وخفیه. نو په دې وجه په دعائي قنوت کي هم اخفاء غوره ده، که څه هم بعضي حضرات وایي چي دعائي قنوت دي په جهر یعني په زوره ویل کیږي. او په دلیل کي وایي چي دعائي قنوت د قرآن سره مشابه دی، لیکن اخفاء غوره او افضله ده.



بَابُ النَّوَافِلِ

(دا) باب د نفلونو (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: تر دې مخکي صاحب د کتاب د فرضو او واجبو بیان وکړی، اوس په دې باب کي د سنتو او نفلو بیان کوي؛ د نفل معنیٰ ده: هغه لمونځ چي پر فرضو زیات وي، نو څرنګه چي دا معنیٰ سنتو ته هم شاملیږي، نو ځکه یې په عنوان کي فقط د "نوافل" لفظ ذکر کړی، او د "سنن" لفظ یې ذکر نه کړی.

د ورځي او شپې د مؤکده او غیر مؤکده سنتونو د رکعتونو شمیر

اَلسُّنَّةُ رَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ د سهار (تر لمانځه) مخکي دوه رکعته سنت دي وَأَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَانِ او تر ماپښین مخکي څلور رکعته او تر ماپښین وروسته دوه رکعته سنت دي وَأَرْبَعٌ قَبْلَ الْعَصْرِ او تر مازیګر مخکي څلور رکعته سنت دي وَإِنْ شَاءَ رَكْعَتَيْنِ او که وغواړي نو دوه رکعته دي وکړي وَرَكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ او تر ماښام وروسته دوه رکعته سنت دي وَأَرْبَعٌ قَبْلَ الْعِشَاءِ وَأَرْبَعٌ بَعْدَهَا او تر ماخوستن مخکي څلور رکعته او تر ماخوستن وروسته څلور رکعته سنت دي وَإِنْ شَاءَ رَكْعَتَيْنِ او که وغواړي نو دوه رکعته دي وکړي وَالْأَصْلُ فِيهِ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د دې لمونځونو په سنت والي کي اصل د نبي ﷺ دا فرمان دی مَنْ ثَابَرَ● عَلَىٰ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ چا چي په شپه او ورځ کي پر دوولسو رکعتونو همېشتوب وکړی بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ الله تعالیٰ به د هغه لپاره په جنت کي یو کور جوړ کړي وَفَسَّرَ عَلَىٰ نَحْوِ مَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ او نبي ﷺ (په حدیث کي د دې دوولسو رکعتونو) هم دغه رنګه تفصیل بیان کړی دی لکه څرنګه چي په قدوري (متن) کي ذکر دی غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرِ الْأَرْبَعَ قَبْلَ الْعَصْرِ لیکن نبي ﷺ تر مازیګر مخکي څلور رکعته ذکر کړي نه دي فَلِهَذَا سَمَّاهُ فِي الْأَصْلِ حَسَنًا نو په دې وجه امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي دې څلورو رکعتونو ته حسن ویلي دي وَخُيِّرَ لِاخْتِلَافِ الْآثَارِ او د آثارو د اختلاف په وجه لمونځ ګزاره ته اختیار ورکول سوی دی وَالْأَفْضَلُ هُوَ الْأَرْبَعُ خو غوره دا ده چي څلور رکعته وکړي وَلَمْ يَذْكُرِ الْأَرْبَعَ قَبْلَ الْعِشَاءِ او نبي ﷺ تر ماخوستن مخکي څلور رکعت هم ذکر کړي نه دي فَلِهَذَا كَانَ مُسْتَحَبًّا لِعَدَمِ الْمُوَاظَبَةِ نو ځکه به هغه هم د نه همېشتوب په وجه مستحب وي وَذَكَرَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ او په دې حدیث کي نبي ﷺ تر ماخوستن وروسته دوه رکعته ذکر کړي دي وَفِي غَيْرِهِ ذَكَرَ الْأَرْبَعَ او په بل حدیث کي یې څلور رکعته ذکر کړي دي فَلِهَذَا خُيِّرَ نو په دې وجه لمونځ ګزار ته اختیار ورکول سوی دی إِلَّا أَنَّ الْأَرْبَعَ أَفْضَلُ خو څلور

● تخریج: أخرجه مسلم فی کتاب صلوٰة المسافرین، باب فضل السنن، حدیث رقم:۱۰۳.

رکعته غوره دي خُصُوْصًا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ په ځانګړي توګه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز عَلٰى مَا عُرِفَ مِنْ مَذْهَبِه لکه څرنګه چي دا خبره د هغه له مذهب څخه معلومه ده وَالْأَرْبَعُ قَبْلَ الظُّهْرِ بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ عِنْدَنَا او زموږ په نيز تر ماپښين مخکي څلور رکعته په يوه سلام سره دي كَذَا قَالَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● همداسي رسول الله ﷺ فرمايلي دي وَفِيْهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی.

اللغات: ﴿ثَابَرَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: همېشتوب کول، پابندي کول، ﴿الْمُوَاظَبَة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: همېشتوب.

تشريح: په عبارت کي چي کومه مسئله بيان سوې ده، بالکل آسانه ده، او په هغې کي د سنتو تفصيل ځېرل سوی دی، د عبارت تر حل مخکي په لنډه توګه دا خبره په ياد لرئ چي سنت پر دوه قسمه دي: (١) سننِ مؤکده، (٢) سننِ غير مؤکده، سنن مؤکده هغو سنتونو ته ويل کيږي چي نبي ﷺ پر هغو د کله نا کله پرېښوولو سره همېشتوب کړی وي او سنن غير مؤکده هغو سنتونو ته ويل کيږي چي پر هغو نبي ﷺ همېشتوب نه وي کړی، امام قدوري رَحِمَهُ الله چي په متن کي کوم عبارت ذکر کړی دی، په هغه کي مؤکده او غير مؤکده دواړه قسمه سنتونه داخل دي، تاسو د آسانتيا په خاطر دا خبره په ذهن کي کښېږدئ چي د سنن مؤکده وو شمېر دوولس (١٢) رکعته دي، دوه رکعته د سهار تر لمانځه مخکي، څلور رکعته د ماپښين تر لمانځه مخکي، دوه رکعته د ماپښين تر لمانځه وروسته، دوه رکعته د ماښام تر لمانځه وروسته، دوه رکعته د ماخوستن تر لمانځه وروسته، دا ټوله دوولس رکعته سوه، چي دا له سننِ مؤکده وو څخه شمېرل کيږي، او هم د دغو په باره کي د نبي ﷺ دا فرمان وارد سوی دی: من ثابر على ثنتى عشرة ركعة فى اليوم والليلة بنى الله له بيتا فى الجنة، له دې څخه ماسوا چي کوم سنتونه بيان سوي دي هغه ټوله سنن غير مؤکده دي، لېکن د هغو کول او اداء کول له پرېښوولو څخه افضله دي، خو په کله کله پرېښوولو کي يې هېڅ پروا نسته.

وفسرها على نحو الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د نبي ﷺ په حديث ثنتى عشرة ركعة کي هم هغسي وضاحت سوی دی کوم چي امام قدوري رَحِمَهُ الله کړی دی، (يعني څرنګه چي په قدوري کي د رکعتونو شمېر ذکر سوی دی، هغسي په حديث کي هم ذکر سوی دی) يعني په سهار، ماپښين، ماښام او ماخوستن کي چي څرنګه سنن مؤکده په قدوري کي بيان سوي دي، همدارنګه په سپېڅلي حديث کي هم بيان سوي، او څرنګه چي په حديث کي صرف د سنن مؤکده وو يادونه سوې ده، نو ځکه د مازيګر تر لمانځه مخکي د څلورو رکعتو بيان هم په حديث کي نسته، همدا وجه ده چي حضرت امام محمد رَحِمَهُ الله په خپل کتاب مبسوط کي د مازيګر تر لمانځه مخکي څلور رکعته احسن او غوره ګڼلي دي، همدارنګه د مازيګر تر لمانځه مخکي د نبي ﷺ په معمول کي د آثارو د اختلاف په وجه امام محمد رَحِمَهُ الله لمونځ ګزار ته دا اختيار ورکړی دی چي که هغه غواړي نو څلور رکعته دي کوي، او که غواړي نو پر دوو رکعتو دي اکتفاء کوي، د آثارو اختلاف صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله داسي څرګند کړی دی چي له ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روايت نقل سوي دي: قال رسول الله ﷺ رحم الله امرأ صلى قبل العصر أربعا، (يعني الله تعالىٰ دي پر هغه سړي رحم وکړي چي هغه د مازيګر تر لمانځه

● تخريج: أخرجه ابو داؤد فى كتاب التطوع، باب الاربع قبل الظهر، حديث رقم:١٢٦٩.

مخکې څلور رکعته وکړي)، او له حضرت علي رضی الله عنه څخه را نقل سوي دي: كان النبي ﷺ يصلي قبل العصر ركعتين، (یعني نبي ﷺ به د مازیګر تر لمانځه مخکې دوه رکعته کول)، نو کله چې د مازیګر تر لمانځه مخکې د نبي ﷺ په عمل کې آثار مختلفه سوه، نو لمونځ ګزار ته به د دوو او څلورو رکعتو په مینځ کې اختیار وي؛ بیا هم څلور رکعته کول به د دوو په مقابله کې افضله او غوره وي، ځکه چې په دې کې شمېر هم زیات دی او ثواب هم.

ولم يذكر الأربع الخ فرمايي چې نبي ﷺ په ثنتی عشرة ركعة والا حديث کې تر ماخوستن مخکې د څلور رکعتو یادونه هم نه ده کړې، نو ځکه تر ماخوستن مخکې څلور رکعته مستحب ګرځولو سوي دي، ځکه چې پر دې نبي ﷺ همېشتوب هم کړی نه دی، او په دې حدیث کې تر ماخوستن وروسته د دوو رکعتو ذکر سوی دی، او په یو بل حدیث کې د څلور رکعتو ذکر سوی دی، لکه څرنګه د ابن عمر رضي الله عنهما روایت دی چې نبي ﷺ وفرمایل: من صلى بعد العشاء أربع ركعات كن كمثلهن من ليلة القدر، (یعني څوک چې تر ماخوستن وروسته څلور رکعته وکړي، نو دا څلور رکعته به د هغو څلورو رکعتو سره برابر سي کوم چې د لیلة القدر په شپه کې اداء سوي وي)؛ له دې حدیث څخه ثابتیږي چې تر ماخوستن وروسته څلور رکعته سنت دي، او له ثنتی عشرة والا حديث څخه دوه رکعته ثابتیږي، نو په دې وجه فقهاؤ لمونځ ګزار ته دا اختیار ورکړی دی چې دوه رکعته هم کولای سي او څلور رکعته هم کولای سي، لېکن د ثواب په حواله سره څلور رکعته افضله دي، او د امام اعظم رحمه الله په نېز خو څلور رکعته نور هم غوره او افضله دي، ځکه چې د ده په نېز صلاة الليل أربع ركعات بتسليمة واحدة کول افضله دي (یعني د ده په نېز نفل او سنت لمونځ د شپې څلور رکعته په یوه سلام سره کول ډېر غوره دي)، او د صاحبینو رحمهما الله په نېز دوه رکعته افضله دي.

قال: الأربع قبل الظهر الخ د دې حاصل دا دی چې زموږ په نېز د ماپښین تر لمانځه مخکې په یوه سلام سره څلور رکعته کول افضله دي، او له نبي ﷺ څخه هم دارنګه را نقل سوي دي، لکه څرنګه چې د حضرت ابو ایوب انصاري رضی الله عنه حدیث دی، هغه فرمایي: أن النبي ﷺ كان يصلي بعد الزوال أربع ركعات فقلت؟ ما هذا الصلاة التي تداوم عليها. فقال هذه ساعة تفتح فيها أبواب السماء، و أحب أن يصعد لي فيها عمل صالح. فقلت، أفي كلهن قراءة؟ قال نعم. فقلت أبتسليمة، أم بتسليمتين فقال بتسليمة واحدة، (یعني نبي ﷺ به تر زوال وروسته څلور رکعته لمونځ اداء کوی، ما پوښتنه ځني وکړه چې دا کوم لمونځ دی چې تاسو همېشتوب پر کوی، نو دوی ﷺ وفرمایل: دا هغه ساعت دی چې په دې کې د آسمان دروازې خلاصیږي، او زه دا غواړم چې په دې ساعت کې زما یو نېک عمل لوړ وخیږي، ما پوښتنه وکړه، چې آیا په هر رکعت کې قرائت سته، نو دوی ﷺ وفرمایل: هو!، بیا ما پوښتنه وکړه چې دا څلور رکعته په یوه سلام سره دي او که په دوو سلامو سره، نبي ﷺ جواب راکړی چې په یو سلام سره).

دا حدیث په دې باره کې زیات څرګند او مفصل دلیل دی چې د ماپښین تر لمانځه مخکې چې کوم څلور رکعته کیږي، هغه به په یوه سلام سره کیږي، لېکن امام شافعي رحمه الله بیا هم اختلاف کوي، د دې مفصل دلیل ته نه ګوري، او په دوو سلامو سره دا سنت افضله ګڼي.

د امام شافعي دليل: په دې لړ کې د امام شافعي رحمه الله دليل د حضرت ابو هريره رضی الله عنه دا حدیث دی: أن النبي ﷺ كان يصليهن بتسليمتين، (یعني نبي ﷺ به د ماپښین تر لمانځه مخکې څلور رکعته په دوو سلامو سره کول).

جواب: لیکن زموږ له طرفه د دې جواب دا دی چې بتسلیمتین په معنیٰ سره د بتشهدین دی، او د حال په ویلو سره محل مراد سوی دی، یعني نبي ﷺ به څلور رکعته په دوو تشهدو سره کوله. او دا حکم زموږ په نیز هم دی، د حضرت ابو هریره رضي الله عنه د حدیث دغه مطلب حضرت ابن مسعود رضي الله عنه هم بیان کړی دی. (عنایه)

د ورځې او شپې د نفلي لمونځونو د رکعتونو د مقدار بیان

قَالَ: وَنَوَافِلُ النَّهَارِ إِنْ شَاءَ صَلَّى بِتَسْلِيمَةٍ رَكْعَتَيْنِ فرمایي: چې د ورځې نفلونه که لمونځ ګزاره وغواړي نو دوه رکعته دې په یوه سلام کوي وَإِنْ شَاءَ أَرْبَعًا او که وغواړي نو څلور رکعته دې (په یوه سلام) کوي وَتُكْرَهُ الزِّيَادَةُ عَلَى ذٰلِكَ او پر دې زیاتوب مکروه دی وَأَمَّا نَافِلَةُ اللَّيْلِ پاته سوه د شپې نفلونه قَالَ أَبُوحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ●: إِنْ صَلَّى ثَمَانِ رَكَعَاتٍ بِتَسْلِيمَةٍ جَازَ نو امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله فرمایي؛ که په یوه سلام اته رکعته وکړي نو(هم) جائز دي وَتُكْرَهُ الزِّيَادَةُ لیکن پر دې زیاتوب مکروه دی وَقَالَا: لَا يَزِيْدُ بِاللَّيْلِ عَلَى رَكْعَتَيْنِ بِتَسْلِيمَةٍ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې د شپې (په نفلونو کې) به په یوه سلام سره پر دوو رکعتو زیاتوب نه کوي وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ لَمْ يَذْكُرِ الثَّمَانِيَ فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ او په جامع صغیر کې د شپې په نفلونو کې د اتو رکعتو ذکر نه دی سوی وَدَلِيلُ الْكَرَاهَةِ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● لَمْ يَزِدْ عَلَى ذٰلِكَ او د کراهت دلیل دا دی چې نبي ﷺ پر اتو رکعتو زیاتوب نه دی کړی وَلَوْلَا الْكَرَاهَةُ لَزَادَ تَعْلِيمًا لِلْجَوَازِ او که کراهت نه وای نو د جواز ښوولو لپاره به یې له اتو څخه (ضرور) زیاتولای.

تشریح: د ورځې او د شپې د نفلونو د مقدار په باره کې د جواز او افضلیت په حواله سره د علماؤ اختلاف دی. په دې عبارت کې جواز بیان سوی دی، او په را روان عبارت کې افضلیت بیانیږي، نو د جواز په باره کې حکم دا دی چې په ورځ کې له زیاتو څخه زیات څلور رکعته په یوه سلام سره کېدلای سي، او پر څلور رکعتو زیاتوب مکروه دی، او د شپې په نفلو کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز له زیاتو څخه زیات اته رکعته په یوه سلام سره کېدلای سي، او له اتو رکعتو څخه زیاتوب مکروه دی، او تقریباً د ټولو احنافو علماؤ همدغه رایه او په جواز او اباحت کې یې د هیڅ اختلاف سته، نه په شپه کې او نه په ورځ کې، لیکن امام شافعي رَحِمَهُ الله په شپه کې له څلورو رکعتو څخه زیات مکروه ګڼي، همدارنګه په جامع صغیر کې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه هم د ښان پر ځای د ښپږ قول ذکر دی، چې له هغه څخه دا ښکاري چې امام محمد رَحِمَهُ الله په شپه کې له شپږو څخه زیاتوب مکروه ګڼي، لنډه دا چې په شپه کې پر اتو رکعتو زیاتوب ځکه مکروه دی چې نبي ﷺ د شپې په یوه سلام سره پر اتو رکعتو هیڅ کله اضافه کړې نه ده، او که اضافه مکروه نه وای، نو نبي ﷺ به د جواز ښوولو لپاره یو وار ضرور اضافه کولای، نو معلومه سوه چې په شپه کې له اتو رکعتو څخه زیات په یوه سلام سره کول مکروه دي، او امام قدوري رَحِمَهُ الله چې په وقالا لا یزید فی ...الخ کې کوم قول تر دوو رکعتو د زیات نه کولو بیان کړی دی، هغه په اصل کې د افضلیت سره تعلق لري، نه د اباحت سره، نو په دې سره به د اباحت او جواز په باره کې اعتراض نه کیږي.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في الدر المختار ج:١، ص:٥٠٠. [القول الراجح، ج:١، ص:١٠٦]

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب صلوٰة المسافرين، باب جامع صلوٰة الليل، حديث رقم:١٣٩.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی چي د ورځي په یو سلام سره څلور رکعته نفل کولای سي، او د شپې په یوه سلام سره اته رکعته نفل کولای سي، او پر دې زیاتوب مکروه دی، وقال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله وتكره الزيادة على اربع في نفل النهار وعلى ثمان ليلا بتسليمة لانه لم يرد (الدر المختار ج۱، ص:۵۰۰). [القول الراجح، ج۱، ص:۱۰۷]

د ورځي او شپې د نفلي لمونځونو د افضله مقدار بیان

وَالْأَفْضَلُ فِي اللَّيْلِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ مَثْنٰى مَثْنٰى او په شپه کي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز دوه دوه رکعته افضله(غوره) دي وَفِي النَّهَارِ أَرْبَعٌ أَرْبَعٌ او په ورځ کي څلور څلور رکعته (افضله دي) وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ فِيهِمَا مَثْنٰى مَثْنٰى او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په شپه او ورځ دواړو کي دوه دوه رکعته (افضله) دي وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِيهِمَا أَرْبَعٌ أَرْبَعٌ• او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په شپه او ورځ دواړو کي څلور څلور رکعته (افضله) دي لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ• د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل د نبي ﷺ دا قول دی صَلَاةُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنٰى مَثْنٰى چي د شپې او ورځي لمونځ دوه دوه رکعته دی وَلَهُمَا: اَلْاِعْتِبَارُ بِالتَّرَاوِيحِ او د صاحبینو دلیل دا دی: چي هغوی پر تراویحو قیاس کوي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله دلیل دا دی أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ• كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْعِشَاءِ أَرْبَعًا أَرْبَعًا چي نبي ﷺ به د ماخوستن تر لمانځه وروسته څلور څلور رکعته کول رَوَتْهُ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا• دا حدیث حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روایت کړی دی وَكَانَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يُوَاظِبُ عَلَى الْأَرْبَعِ فِي الضُّحٰى او نبي ﷺ به په څاښت کي(هم) پر څلورو رکعتو همېشتوب کوی وَلِأَنَّهُ أَدْوَمُ تَحْرِيمَةً او په دې وجه (هم) چي په څلورو رکعتو کي د تحریمې دوام دی (یعني په څلورو رکعتو کي تکبیر تحریمه تر ډېره وخته پاتیږي په نسبت د دوو رکعتو ته) فَيَكُونُ أَكْثَرَ مَشَقَّةً لهذا په دې کي به تکلف زیات وي وَأَزْيَدَ فَضِيلَةً نو فضیلت (او ثواب) به یې هم زیات وي وَلِهٰذَا لَوْ نَذَرَ همدا وجه ده که یو سړی نذر وکړي أَنْ يُصَلِّيَ أَرْبَعًا بِتَسْلِيمَةٍ چي هغه به په یوه سلام سره څلور رکعته کوي لَا يَخْرُجُ عَنْهُ بِتَسْلِيمَتَيْنِ نو په دوو سلامونو سره هغه له دې نذر څخه نه سي وتلای وَعَلَى الْقَلْبِ يَخْرُجُ او د دې په بر عکس کي (یعني که د دوو رکعتو نذر یې وکړی او څلور یې وکړه نو) له نذر څخه وتلی سي وَالتَّرَاوِيحُ تُؤَدّٰى بِجَمَاعَةٍ او تراویح به په جماعت سره اداء کیږي فَيُرَاعٰى فِيهَا جِهَةُ التَّيْسِيرِ نو ځکه به په هغو کي د آسانی خیال ساتل کیږي وَمَعْنٰى مَا رَوَاهُ شَفْعًا او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د بیان سوي حدیث معنیٰ دا ده چي شفعه(جفت) دې یې اداء کړي لَا وِتْرًا طاق دې یې نه اداء کوي وَاللهُ أَعْلَمُ او الله زیات خبر دی.

• القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في البحر الرائق ج:۱، ص:۵۴ [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۰۸]

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب التطوع، باب صلوٰة النهار، حديث رقم:۱۲۹۵.

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب التطوع، باب في صلاة الليل، حديث رقم:۱۳۴۶.

• تخريج: أخرجه مسلم في كتاب صلوٰة المسافرين، حديث رقم: ۷۹.

اللغات: ﴿مَثْنٰی﴾ دوه دوه، ﴿صُحی﴾ څاښت، ﴿أَدْوَمُ﴾ تر ډېره وخته پاته کېدونکي، څنډني. ﴿شَفْع﴾ جفت (جوت، جوړه)، ﴿وِتْر﴾ طاق.

تشريح: په دې عبارت کې د شپې او ورځې د نفلونو په مقدار او اندازه کې د افضيلت په حواله سره بيان سوی دی، حاصل يې دا دی چې د صاحبينو په نېز د شپې نفلونه په دوو رکعتو سره کول افضله دي. او د ورځې نفلونه په څلورو رکعتو سره کول افضله دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د شپې او ورځې دواړو نفلونه په دوو رکعتو سره کول افضله دي، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د شپې او ورځې دواړو نفلونه په څلورو رکعته سره کول افضله دي.

د امام شافعي دليل: د نبي ﷺ دا فرمان دی: صلاة الليل والنهار مثنى مثنى، (يعني د شپې او ورځې نفلي لمونځ دوه دوه رکعته دي)، نو د دې حديث په وجه په شپه او ورځ دواړو کې دوه دوه رکعته کول افضله دي.

د صاحبينو دليل: قياس دی يعني پر ترايحو قياس کوي، يعني څرنګه چې په ترايحو کې لمونځ دوه دوه رکعته دی، همدارنګه به په نفلو کې هم دوه رکعته وي چې د شپې به دوه رکعته کول افضله وي، او پاته سوه د ورځې مسئله، نو د ورځې په باره کې د دوی هغه دليل دی کوم چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی.

د امام صاحب دليل: دا دی چې نبي ﷺ به د ماخوستن تر لمانځه وروسته څلور رکعته په يوه سلام سره کول، همدارنګه به يې په يوه سلام سره د څاښت په وخت کې په پابندي سره څلور رکعته کول. ګواکي د نبي ﷺ معمول د ورځې او شپې په څلور رکعتو سره نفل کول وو. نو د امت لپاره د نبي ﷺ معمول واجبُ العمل دی، نو ځکه د ورځې او شپې په څلورو رکعتو سره نفل کول افضله دي.

د امام صاحب عقلي دليل: دا دی چې په يوه سلام سره د څلورو رکعتو په کولو کې د تکبير تحريمه دوام او څنډ هم سته، او په مينځ کې د نه فارغه کېدلو په وجه مشقت او تکليف هم زيات دی، او په کوم عبادت کې چې تکليف او مشقت زيات وي هغه افضله وي، نو ځکه به په يوه سلام سره څلور رکعته اداء کول افضله وي په نسبت سره د دوو رکعتو ته، همدا وجه ده که يو سړي پر ځان دا نذر ومنی چې هغه به په يوه سلام سره څلور رکعته کوي، او بيا يې د يوه سلام پر ځای په دوو سلامونو سره څلور رکعته وکړه، نو د ده دا نذر به نه اداء کيږي، او که يې دا نذر ومنی چې په دوو سلامونو سره به څلور رکعتونه کوي، نو بيا يې په يو سلام سره وکړه، نو نذر يې پوره کيږي، په دې دواړو صورتونو کې فرق دا دی چې په اول صورت کې چې ده په يوه سلام سره د څلور رکعتو کولو نذر وکړی، نو دا ګواکي ده پر افضله طريقه د لمانځه کولو نذر وکړی، بيا چې کله ده په دوو سلامونو سره لمونځ وکړی، نو افضل (اعلیٰ) يې د مفضول (ادنیٰ) په شکل اداء کړی، نو ځکه به نذر پوره نه وي، هو! که په دوو سلامو سره يعني په مفضوله او ادانیٰ طريقه سره يې نذر وکړی، او بيا يې په يوه سلام يعني افضله طريقه سره اداء کړی، نو نذر يې پوره کيږي، ځکه چې افضل په مفضول کې داخلېدای سي، خو په مفضول کې افضل لره هيڅ ګنجايش نسته.

د صاحبينو د قياس جواب: له والتراويح الخ څخه د صاحبينو د قياس جواب ورکوي، حاصل يې دا دی چې نفل پر تراويحو قياسول صحيح نه دي، ځکه چې د تراويحو لمونځ په جماعت سره اداء کيږي، او په جماعت کې روغ او ناروغه هر ډول خلک وي، نو د دوی د رعايت او خيال ساتلو په وجه په ترايحو کې دوه دوه رکعته اداء کيږي، لېکن نفل د دې په خلاف دي ځکه چې نفل په انفرادي توګه سره اداء کيږي، او په هغه کې د هيڅ رعايت او خيال ساتلو وجه نسته، نو ځکه به په نفلو کې څلور څلور رکعته کول افضله او غوره وي، او دا به پر تراويحو نه قياسيږي.

د امام شافعي د دليل جواب: له ومعنى ما رواه الخ څخه د امام شافعي رَحِمَهُ الله د بيان سوي روايت جواب ورکوي فرمايي چي په دې کي له مثنى مثنى څخه مراد دوه دوه رکعته نه دي، بلکي د دې مفهوم دا دی چي د شپې او د ورځې ټوله لمونځونه دي شفعاً شفعاً يعني جفت جفت او جوړه جوړه اداء کيږي، او هيڅ لمونځ دي هم وتراً يعني طاق او په يوه رکعت سره نه اداء کيږي، ځکه چي نبي ﷺ له صلاة بتيراء څخه منع کړې ده.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، يعني په شپه او ورځ دواړو کي په څلورو رکعتو سره نفل کول افضله دي، وقال في الهندية: والافضل فيهما رباع لأنه أدوم تحريمة فيكون أكثر مشقة و أزيد فضيلة (الهندية ج:١، ص:١١٣). [القول الراجح ج:١، ص:١٠٨]



فَصْلٌ فِي الْقِرَاءَةِ

(دا) فصل د قرائت (داحکامو په بيان کي) دی

تشريح: کله چي صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د فرائضو، واجباتو، سنتو او نفلو په اعتبار سره د لمانځه له قسمونو او انواعو څخه فارغ سو، نو اوس د قرائت مسئلې بيانوي، څرنګه چي د لمانځه په اختلاف او بدلون سره په قرائت کي هم اختلاف او بدلون راځي، نو ځکه د لمانځه تر مسئلو وروسته د قرائت مسئلې بيانوي، چي د مسئلو په پوهه او تطبيق ورکولو کي آسانې راسي.

د فرضي لمانځه په رکعتونو کي د قرائت تفصيل (او د فقهاؤ قولونه)

وَالْقِرَاءَةُ فِي الْفَرْضِ وَاجِبَةٌ فِي الرَّكْعَتَيْنِ او د فرضو په (اولو) دوو رکعتو کي قرائت کول واجب دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ فِي الرَّكَعَاتِ كُلِّهَا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د فرضو په هر رکعت کي (قرائت کول واجب دي) لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا صَلَاةَ إِلَّا بِقِرَاءَةٍ چي له قرائت څخه بغير لمونځ نه کيږي وَكُلُّ رَكْعَةٍ صَلَاةٌ او هر رکعت لمونځ دی وَقَالَ مَالِكٌ رحمه الله او امام مالک رَحِمَهُ الله فرمايي فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ چي په دريو رکعتو کي (قرائت واجب) دی إِقَامَةً لِلْأَكْثَرِ مَقَامَ الْكُلِّ تَيْسِيرًا د آسانۍ لپاره اکثر د کل په قائم مقام کولو سره (يعني دا سانتيا په خاطر به اکثر د کل پر ځای درول کيږي) وَلَنَا قَوْلُهُ تَعَالَى: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ [المزمل: ٢٠] او زموږ دليل د الله تعالى دا قول دی: فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ (له قرآن څخه هغه وايئست چي آسانه وي) وَالْأَمْرُ بِالْفِعْلِ لَا يَقْتَضِي التَّكْرَارَ او د فعل امر د تکرار تقاضا نه کوي وَإِنَّمَا أَوْجَبْنَا فِي الثَّانِيَةِ اِسْتِدْلَالًا بِالْأُولَى او موږ په دويم رکعت کي قرائت واجب کړی

• تخريج: أخرجه مسلم في كتاب الصلوٰة، باب وجوب قرأة الفاتحة، حديث رقم: ٣٢.

پر اول رکعت باندې په قیاسولو سره لِأَنَّهُمَا يَتَشَاكَلَانِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه چې دا دواړه رکعتونه په هر اعتبار سره مشابه دي فَأَمَّا الْأُخْرَيَانِ پاتې سوه آخري دوه رکعتونه فَيُفَارِقَانِهِمَا نو هغه له اولو دوو رکعتونو څخه بېل (او مختلف) دي فِي حَقِّ السُّقُوطِ بِالسَّفَرِ [١] په سفر کې د ساقطېدلو په وجه وَصِفَةِ الْقِرَاءَةِ [٢] او د قرائت په صفت کې وَقَدْرِهَا [٣] او د قرائت په مقدار (اندازه) کې فَلَا تَلْحَقَانِ بِهِمَا نو ځکه به دا آخري دوه رکعته داولو دوو رکعتونو سره نه ملحق کېږي وَالصَّلَاةُ فِيمَا رُوِيَ مَذْكُورَةٌ صَرِيحًا او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په بیان سوي حدیث کې د "صلاة" لفظ ښکاره ذکر سوی دی فَتَنْصَرِفُ إِلَى الْكَامِلَةِ نو ځکه به "صلاة" د کامل (بشپړ) لمونځ و طرف ته کرځول کېږي وَهِيَ الرَّكْعَتَانِ عُرْفًا او بشپړ لمونځ په عرف کې دوه رکعته دی كَمَنْ حَلَفَ لَا يُصَلِّي صَلَاةً لکه یو څوک چې قسم وکړي چې یو (پوره) لمونځ به نه کوم بِخِلَافِ مَا إِذَا حَلَفَ لَا يُصَلِّي په خلاف د هغه صورت چې کله قسم وکړي چې هیڅ لمونځ به (هم) نه کوم (یعني په اول قسم کې د "صلاة" لفظ ذکر سوی دی او په دویم قسم کې نه دی ذکر سوی، نو په اول قسم کې که پوره دوه رکعته وکړي نو حانثیږي، او که یو رکعت وکړي نو نه حانثیږي، او په دویم صورت کې که یو رکعت هم وکړي نو حانثیږي).

اللغات: ﴿يَتَشَاكَلَانِ﴾ د تفاعل له باب څخه د تثنیه مذکر غائب مضارع صیغه ده: یو د بل سره مشابه کېدل، هم شکله کېدل، ﴿يُفَارِقَانِ﴾ د مفاعلې له باب څخه مخکنی صیغه ده: یو له بل څخه جلا کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نېز په د فرضو د څلور رکعتیز لمانځه په اولو رکعتو کې قرائت کول واجب دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چې په هر هر رکعت کې یې قرائت کول واجب دي، او د امام مالک رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې په درې رکعتو کې یې قرائت کول واجب دي.

د امام شافعي دلیل: دا دی چې نبي ﷺ د لا صلاة إلا بقراءة په ذریعه د هغه لمانځه نفي کړې دی چې په هغه کې قرائت نه وسي، او د لمانځه هر رکعت د لمانځه درجه او د لمانځه په مرتبه کې دی، نو ځکه په هر رکعت کې قرائت کول واجب دي.

د امام مالک دلیل: همدغه حدیث دی، او فرمایي چې د حدیث له رویه پکار دا وو چې په هر رکعت کې قرائت واجب وای، خو څرنګه چې په شریعت کې په ډېرو احکامو کې اکثر ته د کُل حکم ورکول سوی دی، نو ځکه زموږ په نېز اکثر ته د کل درجه ورکول سوې ده، او څرنګه چې درې رکعته د څلورو اکثر دي، نو د د آسانی په خاطر په درې رکعتو کې قرائت واجب وګرځول سو.

زموږ دلیل: د قرآن کریم دا اعلان دی: فاقرؤا ...الخ، او په دې سره موږ دلیل په دې توګه نیسو چې الله جل جلاله د امر په صیغه یعني د فاقرؤا په ذریعه سره د قرآن د قرائت حکم کړی دی، نو ځکه قرائت کول واجب دي، خو څرنګه چې امر د تکرار تقاضا نه کوي، نو ځکه صرف په یوه رکعت کې به قرائت واجب وي، خو دویم رکعت د ارکانو، فرائضو او نورو په اعتبار سره د اول رکعت په شېر او مشابه دی، نو ځکه موږ له اول رکعت څخه استدلال کوو د دلالة النص په توګه په دویم رکعت کې هم قرائت واجب ګرځوو.

د فرضي لمانځه په آخري دوو رکعتونو کي د قرائت حکم

وَهُوَ مُخَيَّرٌ فِي الْأُخْرَيَيْنِ او لمونځ گزار ته اختيار دی په آخري دوو رکعتونو کي مَعْنَاهُ مطلب يې دا دی إِنْ شَاءَ سَكَتَ وَإِنْ شَاءَ قَرَأَ که يې زړه غواړي نو چپ دي دريږي او که يې زړه غواړه نو قرائت دي کوي وَإِنْ شَاءَ سَبَّحَ او که يې زړه غواړي نو تسبيح دي وايي كَذَا رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ همدغه له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله را نقل سوي دي وَهُوَ الْمَأْثُورُ عَنْ عَلِيٍّ وَابْنِ مَسْعُودٍ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او همدغه له حضرت علي، حضرت ابن مسعود او حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه را نقل سوي دي إِلَّا أَنَّ الْأَفْضَلَ أَنْ يَقْرَأَ خو افضله دا ده چي قرائت وکړي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دَاوَمَ عَلَى ذٰلِكَ ځکه چي نبي ﷺ پر دې همېشتوب کړی دی وَلِهَذَا لَا يَجِبُ السَّهْوُ بِتَرْكِهَا فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ همدغه وجه ده چي (په آخري دوو رکعتونو کي) د ظاهر الروايه مطابق د قرائت په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو نه واجبيږي.

تشريح: صاحب د قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي په آخري دوو رکعتو کي لمونځ گزار ته اختيار دی که سورت فاتحه ايي، يا د دې تسبيحاتو په اندازه خاموشه(چپ) دريږي، يا دې تسبيحات وايي، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله همدغه روايت دی، يعني ظاهر الرواية همدغه دی، او تسبيح ويل له حضرت علي، ابن مسعود او حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه هم را نقل سوي دي، خو په آخري دوو رکعتو کي قرائتِ کول افضله دي، ځکه چي نبي ﷺ د کله نا کله پرېښوولو سره پر دې همېشتوب کړی دی، همدا وجه ده چي که په آخري رکعتو کي سورت فاتحه پرېښوول سي، نو سجدهٔ سهو نه واجبيږي، نو له دې څخه هم په آخري رکعتو کي د سورتِ فاتحې د قرائت افضل والي معلوميږي، صاحب د هدايې فرمايي: چي ظاهر الرواية همدغه دی.

امام حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام اعظم څخه روايتِ کړی دی چي که په آخري رکعتو کي لمونځ گزاره نه قرائت وکړي او نه يې قصداً تسبيح ورېل نو گنهکاره به وي، او که سهواً يې دا شيان پرېښوول نو سجدهٔ سهو به واجب وي، دليل دا دی چي په آخري رکعتو کي ولاړه(قيامه) مقصود ده، نو ځکه به دا له قرائت او ذکر څخه خالي پرېښوول مکروه وي، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي ظاهر الرواية ډېر صحيح دی، ځکه چي په ولاړه کي خو اصل قرائت دی نو کله چي قرائت ساقط سو، نو ولاړه خالي پاته سو، نو داسي سوه لکه د مقتدي ولاړه. (عنايه)

په نفلي لمونځونو کي د قرائت حکم

وَالْقِرَاءَةُ وَاجِبَةٌ فِي جَمِيعِ رَكَعَاتِ النَّفْلِ وَفِي جَمِيعِ رَكَعَاتِ الْوِتْرِ او د نفلو او وترو په ټولو رکعتونو کي قرائت واجب دی أَمَّا النَّفْلُ په نفلو کي خو په دې وجه واجب دی فَلِأَنَّ كُلَّ شَفْعٍ مِنْهُ صَلَاةٌ عَلَى حِدَةٍ ځکه چي د نفلو هره شفعه (يعني هر دوه رکعته) جلا(او ځانته) لمونځ دی وَالْقِيَامُ إِلَى الثَّالِثَةِ كَتَحْرِيمَةٍ مُبْتَدَأَةٍ او د درېيم رکعت لپاره ولاړېدل د نوي(مستقلي) تحريمې په څېر دی(يعني گواکي د نفلو درېيم رکعت په جلا تحريمه سره شروع کيږي) وَلِهَذَا لَا يَجِبُ بِالتَّحْرِيمَةِ الْأُولَى إِلَّا رَكْعَتَانِ نو ځکه په اوله تحريمه سره صرف دوه رکعته واجب دي فِي الْمَشْهُورِ عَنْ أَصْحَابِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ زموږ له اصحابو څخه د مشهوره روايت مطابق وَلِهَذَا قَالُوا نو هم په دغه وجه زموږ علماؤ فرمايلي دي يَسْتَفْتِحُ فِي

الثَّالِثَةِ أَيْ يَقُوْلُ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ چې په دریم رکعت کې به ثناء یعني سبحانك اللهم ..الخ وايي وَأَمَّا الْوِتْرُفَلِلْاِحْتِيَاطِ او پاتې سو وتر نو (په هغه کې) د احتیاط لپاره (په هر رکعت کې قرائت واجب) دی.

اللغات: ﴿شفع﴾ جفت(جوت)، مراد ځني دوه رکعته دي، ﴿يستفتح﴾ دویم وار شروع کول.

تشريح: مسئله: دا ده چې قرائت د نفلو او وترو په ټولو رکعتونو کې واجب دی، د نفلو په ټولو رکعتونو کې قرائت ځکه واجب دی چې د نفلو هر دوه رکعته جلا او مستقل لمونځ دی، نو په اوله تحریمه سره دوه رکعته واجب سوه، که څه هم نیت یې تر دوو رکعتو زیات کړی وي، د احنافو علماؤ مشهوره قول همدغه دی، تر دې که یو چا د څلور رکعتو نفلي لمانځه نیت وکړی بیا یې دا لمونځ د دوو رکعتو تر پوره کولو مخکې فاسد کړی، نو پر ده به د شروع کولو په وجه صرف د اولو دوو رکعتو قضاء واجب وي، نو معلومه سوه چې په اولې تحریمې سره صرف دوه رکعته لازمیږي.

څرنګه چې هر دوه رکعته بېل او مستقل لمونځ دی، نو هم په دې وجه د احنافو مشائخو ویلي دي چې دریم رکعت ته دي د ولاړېدلو په وخت کې ثناء وايي، ځکه چې د دریم رکعت لپاره د بدل د نوي تحریمې په مرتبه کې دي، او د وترو په ټولو رکعتو کې قرائت ځکه واجب دی چې په لمانځه کې قرائت بذات خود مقصود رکن دی، او د وترو وجوب په حدیثو سره ثابت دی، نو د نفل کېدلو احتمال یې پیدا سو، نو د احتیاط په وجه د وترو په ټولو رکعتو کې قرائت واجب کړی سو، حاصل دا چې د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز که څه هم د وترو لمونځ واجب دی، خو څرنګه چې د نفل کېدلو آثار په هغه کې ښکاره دي، نو موږ احتیاطاً د هغه په هر رکعت د سنتو او نفلو په شير قرائت واجب کړی.

که تر شروع کولو وروسته نفل فاسد کړي سي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَمَنْ شَرَعَ فِيْ نَافِلَةٍ فرمايي: چا چې نفلي لمونځ شروع کړی ثُمَّ أَفْسَدَهَا او بیا یې فاسد کړی قَضَاهَا نو د هغه قضاء به راوړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: لَا قَضَاءَ عَلَيْهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر هغه قضاء واجب نه ده لِأَنَّهُ مُتَبَرِّعٌ فِيْهِ ځکه چې هغه په نفلي لمانځه کې متبرع دی (یعني استحساناً یې کوي) وَلَا لُزُوْمَ عَلَى الْمُتَبَرِّعِ او پر تبرع کونکي هيڅ شی نه لازمیږي وَلَنَا أَنَّ الْمُؤَدّٰى او زموږ دليل دا دی چې د لمانځه کومه حصه چې اداء سوې ده وَقَعَ قُرْبَةً هغه عبادت ګرځېدلې ده فَيَلْزَمُ الْإِتْمَامُ ضَرُوْرَةَ صِيَانَتِهِ عَنِ الْبُطْلَانِ نو له باطلوالي څخه د خوندي کولو لپاره به د هغې پوره کول ضروري دي.

اللغات: ﴿متبرع﴾ د تفعيل د باب اسم فاعل دی: هغه شوک چې بغير له واجب کېدلو څخه يو کار کوي، ﴿إتمام﴾ د افعال مصدر دی: پوره کول، ﴿صيانة﴾ ساتنه، ژغورنه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي نفلي لمونځ تر شروع کولو وروسته فاسد کړی، نو زموږ په نېز پر دې سړي د هغه قضاء واجب ده، او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر داسې سړي هيڅ قضاء نسته، ځکه چې نفل کونکی متبرع وي، یعني بغير له وجوب او لزوم څخه هغه دا نفلي کار تر سره کوي، او شريعت پر متبرع هيڅ شی نه لازموي، نو ځکه به په ذکر سوې مسئله کې پر نفل کونکي متبرع هم قضاء لازمه نه وي.

زموږ دليل: دا دی چې نفل کونکی چې د لمانځه کومه حصه اداء کوي، هغه عبادت جوړه سوې ده، نو له باطلوالي څخه د ژغورلو لپاره د دې عبادت پوره کول ضروري ګرځول سوي دي، اوس که يو سړی دا پوره نه کړي، او همدغسې نابشپړ يې پرېږدي، نو پر ده به د دې قضاء لازمه وي.

جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله چې کومه خبره کوي چې پر متبرع هيڅ شی لازم نه دی، د هغه جواب دا دی چې دا حکم مطلق نه دی، بلکي په دې کي تفصيل سته، او هغه دا چې پر متبرع خو له شروع څخه يقيناً هم هيڅ شی لازم نه دی، او موږ هم دا خبره کوو، خو کله چې متبرع يوه تبرع شروع کړي، نو اوس به پر هغه د دې شي پوره کول لازمي او ضروري وي، او څرنګه چې زموږ بيان د بعد الشروع سره متعلق دی، نو ځکه به پر متبرع د دې نفلو پوره کول ضروري وي، او د فساد په صورت کي به د دې قضاء راوړل هم پر ضروري وي.

په څلور رکعتيز نفلو کي د آخري دوو رکعتونو د فاسدولو بېلا بېل صورتونه

وَإِنْ صَلَّى أَرْبَعًا او که يو سړي څلور رکعته نفلي لمونځ شروع کړی وَقَرَأَ فِي الْأُولَيَيْنِ او په اولو دوو رکعتو کي يې قرائت وکړی وَقَعَدَ او کښېنستی ثُمَّ أَفْسَدَ الْأُخْرَيَيْنِ بيا يې آخري دوه رکعته فاسد کړل قَضَى رَكْعَتَيْنِ نو هغه به د (آخري) دوو رکعتونو قضاء راوړي لِأَنَّ الشَّفْعَ الْأَوَّلَ قَدْ تَمَّ ځکه چې اول دوه رکعته خو پوره سوي دي وَالْقِيَامُ إِلَى الثَّالِثَةِ بِمَنْزِلَةِ تَحْرِيمَةٍ مُبْتَدَأَةٍ او دريم رکعت ته ولاړېدل د نوي (او مستقلي) تحريمي په درجه کي دي فَيَكُونُ مُلْزِمًا نو دا تحريمه به (د آخري دوو رکعتونو) لازمونکې وي هَذَا إِذَا أَفْسَدَ الْأُخْرَيَيْنِ بَعْدَ الشُّرُوعِ فِيهِمَا او دا (د واجبېدلو) حکم په هغه صورت کي دی چې کله يې آخري دوه رکعته تر شروع کولو وروسته فاسد کړي وي وَلَوْ أَفْسَدَ قَبْلَ الشُّرُوعِ فِي الشَّفْعِ الثَّانِي او که آخري دوه رکعته يې تر شروع کولو مخکي فاسد کړي وي لَا يَقْضِي الْأُخْرَيَيْنِ نو د آخري دوو رکعتونو قضاء به نه راوړي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ • أَنَّهُ يَقْضِي او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې قضاء به يې راوړي اعْتِبَارًا لِلشُّرُوعِ بِالنَّذْرِ امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شروع کول پر نذر قياسوي وَلَهُمَا أَنَّ الشُّرُوعَ يُلْزِمُ مَا شَرَعَ فِيهِ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې شروع کول هغه شی لازموي کوم چې شروع کړی سوی وي وَمَا لَا صِحَّةَ لَهُ إِلَّا بِهِ او (هغه شی لازموي) چې هغه له شروع کړی سوي شي څخه بغير نه صحيح کېږي وَصِحَّةُ الشَّفْعِ الْأَوَّلِ لَا تَتَعَلَّقُ بِالثَّانِي او د اولو دوو رکعتونو صحت پر آخري دوو رکعتونو موقوف نه دی بِخِلَافِ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ په خلاف د دويم رکعت وَعَلَى هَذَا سُنَّةُ الظُّهْرِ او هم پر دې اختلاف د ماپښين سنت دي لِأَنَّهَا نَافِلَةٌ ځکه چې هغه نفل دي وَقِيلَ او يو قول دا دی يَقْضِي أَرْبَعًا احْتِيَاطًا چې لمونځ ګزاره به د احتياط په توګه څلور رکعته راګرځوي لِأَنَّهَا بِمَنْزِلَةِ صَلَاةٍ وَاحِدَةٍ ځکه چې هغه د يوه لمانځه په مرتبه کي دي.

اللغات: ﴿الشَّفْعُ الْأَوَّلُ﴾ اول دوه رکعته. ﴿الشَّفْعُ الثَّانِي﴾ آخري دوه رکعته.

• القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَاالله، كذا في فتح القدير ج:١ ص:٣٦٩. [القول الراجح، ج:١، ص:١٠٨]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د څلورو رکعتو په نيت نفل شروع کړل، او په اولو دوو رکعتو کې يې واجب قرائت هم وکړی، او پر دويم رکعت يې قعده(ناسته) هم وکړه، بيا يې دويمه شفعه(آخري دوه رکعته) فاسده کړه، نو پر ده صرف د دويمې شفعې قضاء واجب ده. په دې مسئله کې په دويم رکعت کې د ناستې قيد په دې وجه ذکر کړی سو، چې که پر دويم رکعت نه کښېني، او آخري شفعه فاسده کړي، نو په اتفاق سره د څلورو رکعتونو قضاء پر واجب ده، لنډه دا چې که دريم رکعت ته د يې تر ولاړېدلو وروسته دويمه شفع فاسده کړه، نو پر ده صرف د دويمې شفعې قضاء واجب ده، ځکه چې اوله شفعه خو پوره سوې ده، او د دريم رکعت لپاره ولاړه د نوي تحريمې په مرتبه کې ده، نو په دې تحريمه سره يوازې دويمه شفعه لازمه سوه، نو د فساد په صورت کې به هم صرف د دې قضاء واجب وي.

هذا إذا أفسد الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د دويمې شفعې د قضاء راوړلو حکم په هغه وخت کې دی چې په دې يې شروع کړې وي او بيا يې فاسده کړې وي، او که دريم رکعت ته تر ولاړېدلو مخکې يې دويمه شفعه فاسده کړې وي، نو پر ده د هيڅ شي قضاء واجب نه ده، ځکه چې د دويم رکعت پر ناسته(قعده) اوله شفعه پوره سوه، او دويمه شفعه يې لا نه ده شروع کړې، نو اوس د اولې شفعې قضاء خو په دې وجه نسته چې هغه خو پوره سوه، او د دويمې شفعې قضاء ځکه نسته چې په هغې تر اوس شروع نه ده سوې.

له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې که يې اوله شفعه فاسده کړې وي، او که دويمه شفعه، په هر صورت کې به د څلورو رکعتو قضاء واجب وي.

د امام ابو يوسف دليل: قياس دی، يعني امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په څلور رکعتيز نفلي لمانځه شروع کول پر نذر قياسوي، يعني لکه څرنګه چې د څلور رکعتو نفلو په نذر کولو سره څلور رکعتونه واجبېږي، همدغه رنګه که چاد څلورو رکعتو په نيت سره نفل شروع کړل، نو پر هغه څلور رکعته واجبيږي، تر دې که په اوله شفعه کې يې نفل باطل کړل، نو بيا به هم د څلورو رکعتونو قضاء واجب وي، او که په دويمه شفعه کې يې نفل فاسد کړل، نو به هم د څلورو رکعتو قضاء واجب وي، د دې قياس علت جامعه او سبب لزوم دی يعني لکه څنګه چې په نذر سره نفل لازميږي، همدغه رنګه په شروع کولو سره هم نفل لازميږي.

د طرفينو دليل: دا دی چې په يو شي شروع کول د هغه شي د وجوب سبب وي کوم چې شروع سوی وي، همدارنګه د هغه شي د وجوب سبب وي، چې پر هغه د شروع سوي شي صحت موقوفه وي، مثلاً د نفلي لمانځه په شروع کولو سره اول رکعت واجبيږي، ځکه چې اول رکعت ماشرع فيه(شروع کړی سوی شی) دی، او د اول رکعت صحت موقوفه دی پر دويم رکعت، نو په شروع کولو سره دويم رکعت هم واجب سو. پاته سوه شفع ثاني (آخري دوه رکعته) نو هغه نه ما شرع فيه دي، او نه پر دې دويمې شفعې د ماشرع فيه صحت موقوف دی، نو په اولې شفعې په شروع کولو سره به دويمه شفعه نه واجبيږي، او هر کله چې دويمه شفعه واجب نه سوه، نو د اولې شفعې په باطلېدلو سره به د دويمې شفعې قضاء هم نه واجبيږي، همدغه رنګه که دويمه شفعه باطله کړي، نو صرف د دويمې شفعې قضاء به واجب وي، د اولې شفعې قضاء به واجب نه وي، د دې په خلاف که په نذر کې په يوه سلام سره د څلورو رکعتو نذر وکړي، نو په يو سلام سره به څلور رکعته واجب وي، او که په دوو سلامو سره څلور رکعته وکړي، نو نذر يې نه پوره کيږي.

وعلى هذا سنة الظهر الخ همدغه اختلاف تر ماپښين مخکې په څلورو رکعتو سنتو کې دی، يعني که چا د ماپښين تر لمانځه مخکې د څلورو رکعتو سنت نيت وکړی او لمونځ يې شروع کړی، بيا يې اول دوه رکعته وکړه او د دريم لپاره

چې ولاړ سو نو فاسد يې کړل، نو امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به د څلور رکعتو قضاء راوړي، او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د دوو رکعتو قضاء راوړي.

وقيل الخ بعضي علماؤ فرمايلي دي چي په دې صورت کي به د احتياط لپاره د څلورو رکعتو قضاء راوړي، ځکه چي دا څلور رکعتونه د يو لمانځه په مرتبه کي دي، ځکه که يوه ښځه د دې سنتو په اوله شفعه کي وه او خپل خاوند دې ته د طلاق خيار ورکړی، او دې څلور رکعته پوره کړل سلام يې وګرځوي، نو د دې ښځي خيار نه باطليږي، حال دا چي د مجلس په بدليدلو سره خيار باطليږي، او د کلو په بدلون سره مجلس بدليږي، نو معلومه سوه چي تر ماپښين مخکي څلور رکعته سنت يو لمونځ دی، ليکن که اوله شفعه جلا لمونځ وای او دويمه شفعه جلا لمونځ وای نو د دويمي شفعي په شروع کولو سره به يې خيار باطل سوی وای، ځکه چي د عمل په بدلون سره مجلس بدليږي.

راجح قول: په پورتني مسئله کي راجح قول د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دی چي دوی فرمايي: که چا د نفلو په څلور رکعتيز لمانځه کي دويمه شفعه تر شروع کولو مخکي فاسده کړه نو د هغي قضاء به نه راوړي، وقال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: وقد رجع ابو يوسف رَحِمَهُ الله عن قوله. (فتح القدير ج:۱، ص:۳۹۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۰۹]

د څلور رکعتيز نفلي لمانځه په ټولو رکعتونو کي د قرائت پرېښوولو بېلا بېل صورتونه

وَإِنْ صَلَّى أَرْبَعًا او که لمونځ کزاره څلور رکعته نفلي لمونځ وکړی وَلَمْ يَقْرَأْ فِيهِنَّ شَيْئًا او په يوه رکعت کي يې هم قرائت نه وکړی أَعَادَ رَكْعَتَيْنِ نو هغه به دوه رکعتونه را ګرځوي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ دا حکم د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَقْضِي أَرْبَعًا او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به هغه سړی څلور رکعته راګرځوي وَهَذِهِ الْمَسْأَلَةُ عَلَى ثَمَانِيَةِ أَوْجُهٍ او د دې مسئلي اته صورتونه دي وَالْأَصْلُ فِيهَا او اصل په دې مسئله کي دا دی أَنَّ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ تَرْكَ الْقِرَاءَةِ فِي الْأُولَيَيْنِ أَوْ فِي إِحْدَاهُمَا يُوجِبُ بُطْلَانَ التَّحْرِيمَةِ چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز په اولو دوو رکعتونو کي يا له هغو څخه په يوه کي قرائت پرېښوول د تحريمې بطلان (باطليدل) واجبوي لِأَنَّهَا تُعْقَدُ لِلْأَفْعَالِ ځکه چي تحريمه د افعالو (د اداء کولو) لپاره تړل کيږي وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَرْكُ الْقِرَاءَةِ فِي الشَّفْعِ الْأَوَّلِ لَا يُوجِبُ بُطْلَانَ التَّحْرِيمَةِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز په اولو دوو رکعتونو کي قرائت پرېښوول د تحريمې بطلان نه واجبوي وَإِنَّمَا يُوجِبُ فَسَادَ الْأَدَاءِ بلکي د اداء فساد واجبوي (يعني صرف اداء فاسدوي) لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ رُكْنٌ زَائِدٌ ځکه چي قرائت زائد رکن دی أَلَا تَرَى أَنَّ لِلصَّلَاةِ وُجُودًا بِدُونِهَا آيا ته نه ګورې چي له قرائت څخه بغير هم د لمانځه وجود سته غَيْرَ أَنَّهُ لَا صِحَّةَ لِلْأَدَاءِ إِلَّا بِهَا خو له قرائت څخه بغير اداء نه صحيح کيږي وَفَسَادُ الْأَدَاءِ لَا يَزِيدُ عَلَى تَرْكِهِ او د اداء فاسدېدل د اداء تر پرېښوولو زيات نه دي فَلَا يُبْطِلُ التَّحْرِيمَةَ نو ځکه تحريمه نه باطلوي وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَرْكُ الْقِرَاءَةِ فِي الْأُولَيَيْنِ يُوجِبُ بُطْلَانَ التَّحْرِيمَةِ او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز په اولو دوو رکعتونو کي د قرائت پرېښوول د تحريمې بطلان واجبوي وَفِي إِحْدَاهُمَا لَا يُوجِبُ او له دواړو څخه په يوه کي يې پرېښوول د تحريمې بطلان نه واجبوي لِأَنَّ كُلَّ شَفْعٍ مِنَ التَّطَوُّعِ صَلَاةٌ عَلَى حِدَةٍ ځکه چي د نفلو هر دوه رکعته جلا (مستقل)

لمونځ دی وَفَسَادُهَا بِتَرْكِ الْقِرَاءَةِ فِي رَكْعَةٍ وَاحِدَةٍ مُجْتَهَدٌ فِيهِ او په يوه رکعت کې د قرائت په پرېښوولو سره د لمانځه فسادېدل مختلف فيه دي (يعني اختلاف پکښې سته) فَقَضَيْنَا بِالْفَسَادِ فِي حَقِّ وُجُوبِ الْقَضَاءِ نو ځکه موږ د قضاء د واجبېدلو په حق کې د لمانځه د فساد فيصله وکړه وَحَكَمْنَا بِبَقَاءِ التَّحْرِيمَةِ فِي حَقِّ لُزُومِ الشَّفْعِ الثَّانِي إِحْتِيَاطًا او د آخري دوو رکعتونو د لازمېدلو په حق کې مو احتياطًا د تحريمې د پاته کېدلو فيصله وکړه إِذَا ثَبَتَ هٰذَا نو کله چې دا ټوله اصول ثابته سوه نَقُولُ: إِذَا لَمْ يَقْرَأْ فِي الْكُلِّ قَضٰى رَكْعَتَيْنِ عِنْدَهُمَا• نو موږ وايو: چې که لمونځ ګزاره په څلور سره رکعتونو کې قرائت نه وکړی نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به دوه رکعتونه راګرځوي لِأَنَّ التَّحْرِيمَةَ قَدْ بَطَلَتْ بِتَرْكِ الْقِرَاءَةِ فِي الشَّفْعِ الْأَوَّلِ عِنْدَهُمَا ځکه چې په اولو دوو رکعتونو کې د قرائت د پرېښوولو په وجه د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز تحريمه باطله سوه فَلَمْ يَصِحَّ الشُّرُوعُ فِي الشَّفْعِ الثَّانِي نو د آخري دوو رکعتونو شروع کول به صحيح نه وي وَبَقِيَتْ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز تحريمه باقي پاته سوه فَصَحَّ الشُّرُوعُ فِي الشَّفْعِ الثَّانِي نو په آخري دوو رکعتونو به شروع کول صحيح وي ثُمَّ إِذَا فَسَدَ الْكُلُّ بِتَرْكِ الْقِرَاءَةِ فِيهِ بيا چې کله لمونځ ګزاره د قرائت په پرېښوولو سره ټوله لمونځ فاسد کړی فَعَلَيْهِ قَضَاءُ الْأَرْبَعِ عِنْدَهُ نو اوس به د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه د څلور سره رکعتونو قضاء راوړل واجب وي.

اللغات: ﴿الشَّفْعُ الْأَوَّلُ﴾ اول دوه رکعته، ﴿الشَّفْعُ الثَّانِي﴾ آخري دوه رکعته.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو سړي د څلورو رکعتو نفلو نيت وتړی، او په يوه رکعت کې هم يې قرائت نه وکړی، نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر ده د دوو رکعتو قضاء واجب ده، او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د څلورو رکعتو قضاء پر واجب ده، اصلاً په دې مسئله کې چې کوم اختلاف دی، هغه د ائمه وو د خپلو خپلو اصولو د اختلاف په وجه سره دی، او په احتمالي توګه سره په دې مسئله کې ټول اته (۸) صورتونه جوړېږي، نو اول هغه اته صورتونو ته پام وکړئ، وروسته به اصول ذکر کړو:

﴿اته صورتونه دا دي﴾

[۱] اول دا چې لمونځ ګزاره په څلور سره وو (يعني په ټولو) رکعتونو کې قرائت پرېږدي

[۲] په شفع ثاني کې يې پرېږدي

[۳] په شفع اول کې يې پرېږدي

[۴] په شفع ثاني کې يې په يوه رکعت کې پرېږدي

[۵] په شفع اول کې يې په يوه رکعت کې پرېږدي

[۶] د شفع اول او شفع ثاني په يوه يوه رکعت کې يې پرېږدي

[۷] د شفع ثاني په دواړو رکعتونو کې او د شفع اول په يوه رکعت کې يې پرېږدي

[۸] د شفع اول په دواړو رکعتونو کې او د شفع ثاني په يوه رکعت کې يې پرېږدي

• القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كذا في البحر الرائق ج:۱، ص:۵۹. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۱۰]

صاحب د کتاب د ائمه وو له اصولو څخه تر ټولو مخکې د امام محمد رَحِمَهُ الله اصل بیانوي حاصل یې دا دی چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز په اولو دوو رکعتو کې یا له دوی څخه په یوه رکعت کې د قرائت په پرېښوولو سره تحریمه باطلیږي، ځکه چې تحریمه د افعالو د اداء کولو لپاره ترل کیږي، او د قرائت په پرېښوولو سره بالاتفاق افعال فاسدیږي، نو ځکه به په دې سره تحریمه هم باطلیږي. د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله اصل دا دی چې په اوله شفعه کې د قرائت په پرېښوولو سره تحریمه نه باطلیږي، خو اداء په فاسدیږي، تحریمه ځکه نه په فاسدیږي چې قرائت یو زائد رکن دی، او د ګونګي په حق کې له قرائت څخه بغیر هم لمونځ متحقق کیږي، نو ځکه به د قرائت په پرېښوولو سره پر تحریمه هیڅ اثر نه پرېوځي، لیکن څرنګه چې د قرائت په پرېښوولو سره اداء نه صحیح کیږي، نو ځکه به صرف اداء فاسدیږي، او د اداء فساد د اداء تر پرېښوولو زیات نه دی، یعني که یو سړی بې اودسه سي، او هغه اداء پرېږدي د اودس لپاره ولاړ سي، نو په دې صورت کې هم تحریمه نه باطلیږي، نو کله چې د اداء په پرېښوولو سره تحریمه نه باطلیږي. نو د اداء په فساد سره خو به په طریقه اولیٰ نه باطلیږي.

د حضرت امام اعظم رَحِمَهُ الله اصل دا دی چې په اولو دوو رکعتو کې د قرائت په پرېښوولو سره خو تحریمه باطلیږي، لیکن په یوه رکعت کې د قرائت په پرېښوولو سره تحریمه نه باطلیږي، ځکه چې د نفل هره شفعه جلا لمونځ دی. نو هغه له قرائت څخه خالي کول د لمانځه خالي کول دي، او د لمانځه خالي کولو په صورت کې تحریمه باطلیږي، او د هغه قضاء واجبیږي، لیکن په یوه رکعت کې د قرائت په پرېښوولو سره د لمانځه فساد بدل مختلف فیه دی. د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ الله او نورو په نیز که د سهار په یوه رکعت کې قرائت وکړی سو، نو لمونځ کیږي. لیکن د نورو حضراتو په نیز د سهار په هر رکعت کې قرائت کول ضروري دي، او دا خبره فیصله سوې ده چې په اختلاف سره تخفیف راځي، نو ځکه موږ همدغه وکړه، چې د قضاء د وجوب په حق کې مو د لمانځه د فساد فیصله وکړه. او دا مو وویل چې که په یوه رکعت کې قرائت پرېښوول سو نو لمونځ فاسدیږي، او د هغه قضاء به واجب وي. لیکن د دې قرائت په پرېښوولو سره به پر تحریمه هیڅ اثر نه کیږي، او د شفعې ثاني په حق کې به تحریمه پر خپل ځای پاته وي.

اوس له دې اصولو څخه وروسته د عبارت حاصل دا دی چې که لمونځ ګزاره په یوه رکعت کې هم قرائت نه وکړی، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د هغه تحریمه باطلیږي، او د دوی په نیز د دویمې شفعې شروع کېدل نه دي راغلي، نو ځکه به پر هغه صرف د اولې شفعې قضاء واجب وي، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز چې څرنګه د قرائت په پرېښوولو سره پر تحریمه هیڅ اثر نه پرېوځي، نو په دې وجه د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز د هغه تحریمه پاته ده او دویمې شفعې ته هم شامله ده، نو ځکه به هغه د اولې او دویمې دواړو شفعو شروع کونکی وي، خو څرنګه چې یې په یوه رکعت کې هم قرائت نه دي کړی، نو ځکه به پر ده د څلور سره وو رکعتونو قضاء واجب وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دی چې دوی فرمایي: که چا څلور رکعته نفلي لمونځ وکړی او په یوه رکعت کې یې هم قرائت نه وکړی، نو دوو رکعتو قضاء به راوړي، قال المفتي غلام قادر النعماني. وقد علم من هذا أنه لا خلاف في الأخذ بقول الامام إذا وافقه أحدهما ولذا قال الامام قاضيخان رَحِمَهُ الله وإن كانت المسئلة مختلفا فيها بين أصحابنا رَحِمَهُ الله، فإن كان مع أبي حنيفة رَحِمَهُ الله أحد صاحبيه. يأخذ بقولهما أي بقول الإمام ومن وافقه(شرح عقود رسم المفتي ص: ۷۱). [القول الراجح ج: ۱، ص: ۱۱۰]

د څلور رکعتیز نفلي لمانځه په اولو دوو یا آخري دوو رکعتونو کې د قرائت پرېښوولو حکم

وَلَوْقَرَأَفِي الْأُولَيَيْنِ او که لمونځ ګزاره په اولو دوو رکعتو کي قرائت وکړی لَاغَيْرُ په آخري دوو رکعتو کي یې قرائت نه وکړی قَضَلَيْهِ قَضَاءُ الْأُخْرَيَيْنِ بِالْإِجْمَاعِ نو پر هغه بالاجماع د آخري دوو رکعتو قضاء واجب ده لِأَنَّ التَّحْرِيْمَةَ لَمْ تَبْطُلْ ځکه چي تحریمه (د هیڅا په نېز) باطله نه ده فَصَحَّ الشُّرُوْعُ فِي الشَّفْعِ الثَّانِيْ نو په دویمه شفعه شروع کول صحیح سو ثُمَّ فَسَادُهُ بِتَرْكِ الْقِرَاءَةِ لَا يُوْجِبُ فَسَادَ الشَّفْعِ الْأَوَّلِ بیا د قرائت پرېښوولو په وجه د دویمي شفعي فساد د اولي شفعي فساد نه واجبوي وَلَوْقَرَأَفِي الْأُخْرَيَيْنِ او که لمونځ ګزاره په آخري دوو رکعتو کي قرائت وکړی لَاغَيْرُ او په اولو دوو رکعتو کي یې نه وکړی قَضَلَيْهِ قَضَاءُ الْأُولَيَيْنِ بِالْإِجْمَاعِ نو پر هغه بالاجماع د اولو دوو رکعتو قضاء واجب ده لِأَنَّ عِنْدَهُمَا لَمْ يَصِحَّ الشُّرُوْعُ فِي الشَّفْعِ الثَّانِيْ ځکه چي د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د دویمي شفعي شروع کول صحیح نه دي وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ إِنْ صَحَّ لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز که څه هم صحیح دي فَقَدْ أَدَّاهُمَا خو هغه آخري دوه رکعتونه اداء کړل.

اللغات: ﴿الشَّفْعُ الْأَوَّلُ﴾ اول دوه رکعته، ﴿الشَّفْعُ الثَّانِي﴾ آخري دوه رکعته.

تشریح: **مسئله:** دا ده که لمونځ ګزاره د څلور رکعتیز نفلي لمانځه په اولو دوو رکعتو کي قرائت وکړي، او په آخري دوو رکعتو کي یې قرائت نه وکړي، نو بالاتفاق پر ده د آخري دوو رکعتو قضاء راوړل واجب دي، ځکه چي په اوله شفعه کي د قرائت کولو په وجه تحریمه باطله نه سوه، نو کله چي تحریمه باطله نوه سوه، نو د دویمي شفعي شروع کول هم صحیح سو، لېکن د قرائت پرېښوولو په وجه د دویمي شفعي په فاسدېدلو سره اوله شفعه نه فاسدیږي، نو کله چي صرف دویمه شفعه فاسده سوه، نه اوله، نو قضاء به هم د دویمي شفعي واجب وي، نه د اولي شفعي. ښکاره دي وي چي دا حکم په هغه وخت کي دی چي کله یې پر اوله شفعه قعده (ناسته) کړې وي، نو که یې قعده نه وي کړې نو د څلور سره وو رکعتو قضاء واجب ده، د دویمي شفعي قضاء به د قرائت پرېښوولو په وجه واجب وي، او د اولي شفعي قضاء به د قعدې د پرېښوولو په وجه واجب وي.

ولو قرأ في الأخريين الخ فرماییکه لمونځ ګزاره صرف په آخري دوو رکعتو کي قرائت وکړی او اول دوه رکعتونه یې له قرائت څخه خالي پرېښوول نو په دې صورت کي بالاتفاق پر ده د اولو دوو رکعتو قضاء راوړل واجب دي، د طرفینو رحمهما الله په نېز خو په دې وجه چي په اولو دوو رکعتو کي د قرائت د پرېښوولو په وجه په دویمه شفعه شروع کول هم صحیح نه دي، ځکه چي د ده تحریمه باطله سوه، نو په دې وجه پر دې سري صرف د اولو رکعتو قضاء واجب ده. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز هم پر ده د اولو دوو رکعتو قضاء واجب ده، ځکه چي د قرائت د پرېښوولو سره سره که څه هم د ده په نېز دویمه شفعه شروع کول صحیح دي، خو څرنګه چي دې سړي دویمه شفعه په قرائت سره اداء کړې ده. نو ځکه به د ده په نېز له شفعي ثاني څخه دلته هیڅ بحث نه کیږي او پر لمونځ ګزاره به صرف د اولي شفعي قضاء واجب وي.

د څلور رکعتیز نفلي لمانځه په زیاتو رکعتونو کي د قرائت پرېښوولو بېلا بېل صورتونه

وَلَوْقَرَأَفِي الْأُولَيَيْنِ وَإِحْدَى الْأُخْرَيَيْنِ او که لمونځ ګزاره په اولو دوو رکعتو او د آخري دوو رکعتو په یوه رکعت کي قرائت وکړی قَضَلَيْهِ قَضَاءُ الْأُخْرَيَيْنِ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق پر ده د آخري دوو رکعتونو قضاء واجب ده وَلَوْ قَرَأَفِي

الْأُخْرَيَيْنِ وَإِحْدَى الْأُولَيَيْنِ او که ده په آخري دوو رکعتو کي او د اولو دوو رکعتو په يوه رکعت کي يې قرائت وکړی قَعَلَيْهِ قَضَاءُ الْأُولَيَيْنِ بِالْإِجْمَاعِ نو بالاتفاق پر ده د اولو دوو رکعتونو قضاء واجب ده وَلَوْ قَرَأَ فِي إِحْدَى الْأُولَيَيْنِ وَإِحْدَى الْأُخْرَيَيْنِ او که ده د اولو دوو رکعتونو په يوه رکعت کي او دآخري دوو رکعتونو په يوه رکعت کي قرائت وکړی عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ قَضَاءُ الْأَرْبَعِ نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر قول د څلور سره وو رکعتونو قضاء واجب ده وَكَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او همدا حکم د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز دی لِأَنَّ التَّحْرِيمَةَ بَاقِيَةٌ ځکه چي تحريمه پاته ده وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ قَضَاءُ الْأُولَيَيْنِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز پر ده د اولو دوو رکعتونو قضاء واجب ده لِأَنَّ التَّحْرِيمَةَ قَدِ ارْتَفَعَتْ عِنْدَهُ ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز تحريمه ختمه سوه وَقَدْ أَنْكَرَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ عَنْهُ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه د دې روايت انکار وکړی وَقَالَ: رَوَيْتُ لَكَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّهُ يَلْزَمُهُ قَضَاءُ رَكْعَتَيْنِ او (امام محمد رَحِمَهُ الله ته يې) وويل: چي ما تا ته د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دا روايت بيان کړی وو (چي په دې صورت کي) پر لمونځ گزاره د دوو رکعتونو قضاء واجب ده وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ• لَمْ يَرْجِعْ عَنْ رِوَايَتِهِ عَنْهُ لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله د امام ابو حنيفه د دې روايت له رانقل کولو څخه رجوع نه وکړه.

تشريح: په دې عبارت کي درې صورتونه ذکر سوي دي: (۱) يو دا که لمونځ گزاره په اولو دواړو رکعتونو کي او له آخري دوو رکعتونو څخه يې په يوه رکعت کي قرائت کړی وي، په دې صورت کي په اتفاق سره دآخري دوو رکعتونو قضاء واجب ده. (۲) دويم دا چي په آخري دواړو رکعتونو کي او له اولو دوو څخه يې په يوه رکعت کي قرائت کړی وي، نو په دې صورت کي په اتفاق سره د اولو دوو قضاء واجب ده. (۳) دريم دا چي له اولو دوو څخه يې په يوه کي او له آخري دوو څخه يې هم په يوه کي قرائت کړی وي، نو په دې صورت کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د څلور سره وو رکعتونو قضاء واجب ده، همدا د امام اعظم رَحِمَهُ الله مذهب دی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د اولو دوو رکعتونو قضاء واجب ده.

د امام محمد دليل: دا دی چي له اولو دوو څخه په يوه رکعت کي د قرائت په پرېښودلو سره تحريمه ختمه سوه، يعني تحريمه باطله سوه، ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د اولي شفعي په يوه رکعت کي د قرائت په پرېښودلو سره تحريمه باطلېږي، نو چي تحريمه باطله سوه، نو د دويمي شفعي شروع کول هم صحيح نه سو، او کله چي د دويمي شفعي شروع کول صحيح نه سو، نو د دې قضاء به هم واجب نه وي، بلکي صرف د اولي شفعي قضاء به واجب وي.

د امام ابو يوسف دليل: څرنگه چي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز د قرائت په پرېښودلو سره تحريمه نه باطلېږي، نو ځکه د ده په نيز په دويمه شفعه شروع کول صحيح دي، نو څرنگه چي دلته د دواړو شفعو په يوه يوه رکعت کي قرائت پرېښوول سوی دی، نو ځکه به د دواړو شفعو يعني د څلور سره رکعتونو قضاء واجب وي.

وقد أنكر أبو يوسف هذه الرواية الخ صاحب د هدايې له دې ځايه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله مذهب د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په واسطه سره بيان کړی دی چي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز هم د څلورو رکعتونو قضاء واجب ده، لېکن امام محمد رَحِمَهُ

• القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۵۱۳. [القول الراجح، ج۱، ص:۱۱۰]

الله چې کله له جامع صغير څخه فارغه سو، نو جامع صغير يې په امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله واوړېدى، پر دې موقع امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله امام محمد رَحِمَهُ الله ته وويل چې ما ستا مخ ته له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا روايت نه وو رانقل کړى، بلکې ما ستا مخ ته له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه دا روايت رانقل کړى وو چې پر دې سري د دوو رکعتو قضاء واجب ده، امام محمد رَحِمَهُ الله وويل چې داسې نه ده، بلکې تا ماته همدغه روايت رانقل کړى چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هم پر دې سري د څلورو رکعتو قضاء واجب ده.

خو امام محمد رَحِمَهُ الله خپل پر يادابنت داسې کلک ولاړ وو چې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله تر انکار وروسته يې هم رجوع نه وکړه، ځکه چې د ده قول د امام صاحب د اصل موافق دى کوم چې مخکې تېر سو، د اصل عبارت دا دى: وعند أبي حنيفة رَحِمَهُ الله ترك القراءة في الأولين يوجب بطلان التحريمة وفي إحداهما لا يوجب، لأن كل شفع من التطوع صلاة على حدة، د دې اصل په رڼا کې تاسو خپله فيصله کولاى سئ چې د امام محمد رَحِمَهُ الله دريځ صحيح دى او که د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله انکار؟ (تر لږ غور وروسته به در ته معلومه سي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله خبره بالکل صحيح ده).

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دى، قال العلامة بن الهمام رَحِمَهُ الله واعتمدت المشائخ رواية محمد رَحِمَهُ الله مع تصريحهم في الاصول. (فتح القدير ج:۱، ص:۳۹۹). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۱۰]

فقط په يوه رکعت کې د قرائت کولو حکم (د فقهاؤ قولونه)

وَلَوْقَرَأَفِي إِحْدَى الْأُولَيَيْنِ او که لمونځ ګزاره (فقط) له اولو دوو رکعتونو څخه په يوه رکعت کې قرائت وکړى **لَاغَيْرُ** او په نورو کې يې نه وکړى **قَضَى أَرْبَعًا عِنْدَهُمَا** نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به هغه د څلورو رکعتونو قضاء راوړي **وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ• قَضَى رَكْعَتَيْنِ** او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به د دوو رکعتونو قضاء راوړي **وَلَوْقَرَأَفِي إِحْدَى الْأُخْرَيَيْنِ** او که هغه (فقط) له آخري دوو رکعتونو څخه په يوه کې قرائت وکړى **لَاغَيْرُ** او په نورو کې يې نه وکړى **قَضَى أَرْبَعًا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ** نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به د څلورو رکعتونو قضاء راوړي **وَعِنْدَهُمَا رَكْعَتَيْنِ** او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به د دوو رکعتونو قضاء راوړي **قَالَ: وَتَفْسِيرُ قَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ• لَا يُصَلِّي بَعْدَ صَلَاةٍ مِثْلُهَا** امام محمد رَحِمَهُ الله (په جامع صغير کې) وايي: چې د نبي ﷺ د دې قول: لا يصلي بعد صلاة مثلها تفسير دا دى **يَعْنِيْ رَكْعَتَيْنِ بِقِرَاءَةٍ** يعني دوه رکعته به د قرائت سره کوي **وَرَكْعَتَيْنِ بِغَيْرِقِرَاءَةٍ** او دوه رکعته به بغير له قرائته کوي **فَيَكُونُ بَيَانُ فَرْضِيَّةِ الْقِرَاءَةِ فِي رَكَعَاتِ النَّفْلِ كُلِّهَا** نو دا حديث به د نفلو په ټولو رکعتونو کې د قرائت د فرض کېدلو بيان وي.

تشريح: په دې عبارت کې هم د احنافو پر اُصولو دوې متفرع سوي مسئلې بيان سوي دي:

(۱) اوله مسئله دا ده که لمونځ ګزاره په څلور رکعتيز نفلي لمانځه کې صرف د اولي شفعي په يوه رکعت کې قرائت وکړى، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز پر ده د څلور سره وو رکعتونو قضاء واجب ده، دليل يې دا دى چې د اولي شفعي په

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۵۱۳. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۱۲]

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوة، باب اذا صلى في جماعة ثم ادرك جماعة، حديث رقم:۵۷۹.

یوه رکعت کي د قرائت په کولو سره د شیخینو په نیز د دې سري تحریمه پاته ده. نو د دویمي شفعي شروع کول هم صحیح سو، او څرنګه چي دلته لمونځ ګزاره په یوه شفعه کي هم پوره قرائت کړی نه دي، نو ځکه به پر ده د څلورو سره وو رکعتونو قضاء واجب وي، لیکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز پر ده صرف د دوو رکعتونو قضاء واجب ده، ځکه کله چي یې په اوله شفعه کي پوره قرائت نه وکړی، نو د دویمي شفعي شروع کول صحیح نه سو، نو په دې وجه به صرف د اولي شفعي قضاء واجب وي.

(۲) دویمه مسئله دا ده چي که لمونځ ګزاره په آخري دوو رکعتونو کي صرف په یوه رکعت کي قرائت وکړی او په اولو دوو رکعتونو کي یې په یوه رکعت کي هم قرائت نه وکړی، نو په دې صورت کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز پر ده د څلورو رکعتونو قضاء واجب ده، ځکه په اولو رکعتو کي له قرائت څخه بغیر هم د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز د دې سري تحریمه پاته ده، او د ده لپاره د دویمي شفعي شروع کول صحیح دي، نو ځکه به پر ده د ټولو رکعتونو قضاء واجب وي، او څرنګه چي د طرفینو په نیز په اوله شفعه کي د قرائت په پرېښوولو سره تحریمه باطلیږي، نو د دویمي شفعي شروع کول یې صحیح نه سو، نو کله چي د هغې شروع کول صحیح نه سو، نو قضاء به یې هم واجب نه وي، بلکي صرف د اولي شفعي قضاء به د قرائت پرېښوولو په وجه واجب وي.

وقال وتفسير الخ فرمايي چي د امام محمد په نظر کي د نبي ﷺ د فرمان لا يصلى بعد صلاة مثلها (چي هیڅوک دي د فرضي لمانځه په څیر بل لمونځ نه کوي) مفهوم همدغه دی چي د نفلو او سنتو په ټولو رکعتونو کي قرائت فرض دی، یعني د حدیث مطلب دا دی چي د فرضو په څیر دي هیڅوک داسي څلور رکعته تر فرضو وروسته یا مخکي نه کوي چي دوه رکعته یې په قرائت وکړي، او دوه رکعته یې له قرائت څخه خالي کړي، بلکي د نفلو او سنتو په ټولو رکعتونو کي به قرائت کوي، نو له دې حدیث څخه د نفلو او سنتو په ټولو رکعتونو کي د قرائت فرضیت ثابت سو.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی، وقال في الهندية: أي لو ترك القرأة في ركعة أو ركعتين فسد ذالك الشفع، (الهندية ج:١، ص:١١٣). [القول الراجح، ج:١، ص:١١١]

بې له عذره نفلي لمونځ په ناستي کول

وَيُصَلِّي النَّافِلَةَ قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ او لمونځ ګزاره پر ولاړي د قدرت سره سره په ناستي نفل کولای سي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ* ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي صَلَاةُ الْقَاعِدِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ صَلَاةِ الْقَائِمِ د ناست سړي د لمانځه ثواب د ولاړ سړي د لمانځه (له ثواب) څخه نیمی دی وَلِأَنَّ الصَّلَاةَ خَيْرٌ مَوْضُوعٌ او په دې وجه هم چي لمونځ غوره موضوع ده (یعني هر وخت تر لاسه کېدونکې نېکي ده) وَرُبَّمَا يَشُقُّ عَلَيْهِ الْقِيَامُ او کله کله پر لمونځ ګزاره په ولاړه کي تکلیف وي فَيَجُوزُ لَهُ تَرْكُهُ نو د هغه لپاره ولاړه پرېښوول جائز دي كَيْ لَا يَنْقَطِعَ عَنْهُ د دې لپاره چي له هغه څخه دا غوره موضوع پاته نه سي وَاخْتَلَفُوا فِي كَيْفِيَّةِ الْقُعُودِ او فقهاؤ د ناستي په کیفیت (څرنګوالي) کي اختلاف کړی دی وَالْمُخْتَارُ أَنْ يَقْعُدَ كَمَا يَقْعُدُ فِي حَالَةِ التَّشَهُّدِ لیکن مختاره (غوره) دا ده چي داسي به کښېني لکه څرنګه چي په تشهد کي کښېني لِأَنَّهُ عُهِدَ مَشْرُوعًا فِي الصَّلَاةِ ځکه چي د لمانځه په حالت کي همدغه ناسته مشهوره او مشروع ده.

---

* تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلاة، باب في صلاة القاعد، حديث رقم: ٩٥٠، ٩٥١.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی پر قیامه یعنې پر ولاړه او درېدلو قدرت لري، نو بیا هم دهغه لپاره په ناستې نفل کول صحیح او جائز دي. ځکه نبي ﷺ د ناستي دلمانځه ثواب د ولاړي د لمانځه په مقابله کې نیم ګرځولی دی. او دا خبره فیصله سوې ده چې پر ولاړي د قدرت سره نفلي لمونځ په ناستې کول بې له کراهته جائز او صحیح دی، خو د دې ثواب به نیمی وي په نسبت د ولاړي و لمانځه ته.

عقلي دلیل: دا دی چې نفلي لمونځ خیر موضوع ده، یعنې بنده دا نېکي هر وخت تر لاسه کولای سي او هر وخت ده ته د نفلي لمونځ اجازه سته، او د دې لپاره هیڅ یو ځانګړی وخت ټاکل سوی نه دی، لنډه دا چې نفلي لمونځ واجب نه دی، او کوم شی چې داسې وي نو په هغه کې به هیڅ یو داسې شرط نه لګیږي چې هغه د دې د پرېښوولو سبب سي، ځکه کوم شی چې د خیر د پرېښوولو سبب وي هغه خیر نه سي کېدلای، او د ولاړي شرط لګول د نفلو د پرېښوولو سبب جوړیږي، ځکه ډېر کرته پر لمونځ ګزاره ولاړه بوج وي، نو که ولاړه د نفلي لمانځه لپاره شرط سي، نو زیاتره کمزوري خلک به د ولاړي د بوج او تکلیف په وجه نفل پرېږدي، حال دا چې نفل خیر موضوع ده، یعنې په ټولو وختونو کې تر لاسه کېدونکې نېکي ده، نو په دې وجه د نفلي لمانځه لپاره ولاړه او قیامه شرط نه سوه.

واختلفوا الخ د دې حاصل دا دی چې په ناستې سره د لمونځ کولو په وخت کې د ناستې د څرنګوالي او کیفیت په اړه د علماؤ رایې مختلفي دي، له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کې دوه روایتونه دي: (۱) اول روایت دا دی چې څرنګه لمونځ ګزار ته آسانه وي، هغسې دې کېني، ځکه کله چې ولاړه پاته سي، نو اوس په ناسته کې د زړه د خوښې اجازه سته، او د ناستې یو ځانګړې صفت ته به نه کتل کیږي، (۲) دویم روایت دا دی چې لمونځ ګزار دې چلرزانو کېني ځکه چې دا برابره ناسته ده، له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې د احتباء په ډول دې کېني، ځکه چې نبي ﷺ به د خپل ژوند مبارک په آخري ورځو کې هم د احتباء په ډول کېنېنستی، د احتباء کیفیت دا دی چې دواړه کوناتې دې پر ځمکه کېنږدي، او دواړه زنګونان دې ودروي.

او له امام زفر رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې داسې دې کېني لکه څرنګه چې په تشهد کې کېني، ځکه چې په دې کیفیت سره ناسته په لمانځه کې مشروع ده، او په دې کې زیاته خشوع ده، او همدا قول فقیه ابو اللیث او شمس الائمة السرخسي او مصنف رَحِمَهُمُ الله هم اختیار کړی دی. (عنایه ج:۱، ص:۴۷۹)

د ولاړي په حالت کې نفل شروع کول او بیا وروسته کېنېنستل

وَإِنْ افْتَتَحَهَا قَائِمًا او که یو چا نفل د ولاړي په حالت کې شروع کړه ثُمَّ قَعَدَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ او بیا بې له عذره کېنېنستی جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي وَهَذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَعِنْدَهُمَا لَا يُجْزِئُهُ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز نه دي وَهُوَ قِيَاسٌ او دا قیاس دی لِأَنَّ الشُّرُوعَ مُعْتَبَرٌ بِالنَّذْرِ ځکه چې شروع پر نذر قیاس کړی سوې ده لَهُ أَنَّهُ لَمْ يُبَاشِرِ الْقِيَامَ فِيمَا بَقِيَ د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې لمونځ ګزاره په پاته لمانځه کې ولاړه نه وکړه وَلَمَّا بَاشَرَ صَحَّ بِدُونِهِ او په کوم لمانځه کې چې یې ولاړه وکړه هغه هم بغیر له ولاړي صحیح دي بِخِلَافِ النَّذْرِ په خلاف د نذر لِأَنَّهُ الْتَزَمَهُ نَصًّا ځکه چې لمونځ ګزاره (په نذر کې پر ځان) صراحتاً ولاړه

---

* القول الراجح: قول ابی حنیفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۵۱۵. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۱۲]

لازمه کړه حَتّٰی لَوْلَمْ يَنُصَّ عَلَى الْقِيَامِ تر دې که نذر کونکی د ولاړې صراحت نه وکړي لَا يَلْزَمُهُ الْقِيَامُ عِنْدَ بَعْضِ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمُ اللهُ نو د بعضې مشائخو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر هغه ولاړه نه لازمېږي.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړي نفلي لمونځ په ولاړې شروع کړی، بيا بې له عذره کښېنستی، نو دا د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ناجائز دي، د امام صاحب حکم استحساني دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله حکم قياسي دی.

د صاحبينو دليل: قياس دی، يعني دوی د نفلي لمانځه شروع کول پر نذر کړی سوي لمانځه قياسوي، يعني که يو چا دا نذر وکړی چې په ولاړه به لمونځ کوم، نو د هغه لپاره په ناسته لمونځ کول جائز نه دي، همدا ډول که چا په ولاړه نفلي لمونځ شروع کړی نو د هغه لپاره به هم په ناستي سره جائز نه وي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې په نفلي لمانځه کې پر لمونځ کونکي ولاړه (قيامه) واجب نه ده، لهذا پر ولاړې د قدرت سره سره د ولاړې پرېښوول هم جائز دي، او دلته لمونځ کزاره د لمانځه په يو څه حصه کې ولاړه پرې اېښې ده، لېکن تاسو خو وګورئ چې کومه حصه يې په ولاړې اداء کړې ده، هغه هم بغير له ولاړې جائز ده، ځکه چې ټوله نفلي لمونځ هم بې ولاړې کول جائز دي، نو کله چې ټوله نفلي لمونځ بې ولاړې جائز دی، نو د ناستي او د ولاړې په مجموعې سره خو به په طريقه اولیٰ جائز وي.

دليل جواب: بخلاف النذر الخ له دې ځايه د صاحبينو د قياس جواب ورکوي، فرمايي: د دې په خلاف نذر دی، ځکه چې د نذر په صورت کې هغه صراحتاً او په ښکاره توګه پر ځان ولاړه لازمه کړې ده، نو نذر به صرف د ولاړې په حالت کې پوره کېږي، او په نفلو کې خو هغه هيڅ يو شی پر ځان لازم کړی نه دي، نو ځکه به په نفلو کې پر هغه ولاړه لازمه نه وي، همدغه وجه ده چې بعضي مشائخ چې په هغو کې فخر الاسلام بزدوي رَحِمَهُ الله هم دی تر دې اندازې پورې وايي: چې که يو لمونځ کزاره په نذر منل سوي لمانځه کې د ولاړې وضاحت نه وکړي، نو د هغه لپاره ولاړه ضروري نه ده.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، قال في الهندية: وإذا افتتح التطوع قائما ثم أراد أن يقعد من غير عذر فله ذالك عند أبي حنيفة رَحِمَهُ الله إستحسانا، كذا في المحيط (الهندية ج۱، ص۱۱۴). [القول الراجح ج۱، ص۱۱۲]

پر سپرلي د نفل کولو حکم (او د فقهاؤ قولونه)

وَمَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ او کوم سړی چې له ښار څخه بهاندې وي يَتَنَفَّلُ عَلَى دَابَّتِهِ هغه پر خپل سپرلي نفل کولای سي إِلَى أَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَتْ کوم طرف ته چې هم سپرلي مخ کړي يُومِئُ إِيمَاءً (او) اشاره به کوي لِحَدِيثِ• ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د حديث په وجه قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه فرمايي: ما رسول الله ﷺ وليدی يُصَلِّي عَلَى حِمَارٍ چې پر خره باندې يې لمونځ کوی وَهُوَ مُتَوَجِّهٌ إِلَى خَيْبَرَ په داسي حال کې چې نبي ﷺ د خيبر پر طرف روان وو يُومِئُ إِيمَاءً او په اشاره سره يې لمونځ کوی وَلِأَنَّ النَّوَافِلَ غَيْرُ مُخْتَصَّةٍ بِوَقْتٍ او په دې وجه هم چې نفلي لمونځونه د وخت سره خاص نه دي فَلَوْ أَلْزَمْنَاهُ النُّزُولَ وَالِاسْتِقْبَالَ نو که موږ پر هغه له سپرلي څخه را شوه

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب صلاة المسافر، باب التطوع على الراحلة، حديث رقم:۱۲۲۶.

کېدل او د قبلې وطرف ته مخ کول لازم کړو تَنْقَطِعُ عَنْهُ النَّافِلَةُ نو له هغه شخصه به نفلي لمونځ پاته سي أَوْ يَنْقَطِعُ هُوَعَنِ الْقَافِلَةِ یا به له کاروان شخصه جلا سي أَمَّا الْفَرَائِضُ فَمُخْتَصَّةٌ بِوَقْتٍ هر چي فرضي لمونځونه دي نو هغه د وخت سره خاص دي وَالسُّنَنُ الرَّوَاتِبُ نَوَافِلُ او رواتب سنتونه (هم) نفل دي وَعَنْ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله شخصه روايت دی أَنَّهُ يَنْزِلُ لِسُنَّةِ الْفَجْرِ چي سپور سړی به د سهار د سنتو لپاره (له سپرلي شخصه) را ښکته کيږي لِأَنَّهَا آكَدُ مِنْ سَائِرِهَا ځکه چي دا له نورو ټولو سنتونو شخصه زيات مؤکد دي وَالتَّقْيِيْدُ بِخَارِجِ الْمِصْرِ او (په متن کي) له ښار شخصه د دباندي (يعني د خارج المصر) قيد لګول يَنْفِيْ اِشْتِرَاطَ السَّفَرِ د سفر د شرط نفي کوي وَالْجَوَازَ فِي الْمِصْرِ او په ښار کي (پر سپرلي د نفلو) د جائز کېدلو نفي (هم) کوي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ • أَنَّهُ يَجُوْزُ فِي الْمِصْرِ أَيْضًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخصه روايت دی چي په ښار کي هم (پر سپرلي نفل کول) جائز دي وَوَجْهُ الظَّاهِرِ او د ظاهر الرواية دليل دا دی أَنَّ النَّصَّ وَرَدَ خَارِجَ الْمِصْرِ چي حديث له ښار شخصه د دباندي (نفل کولو) په باره کي راغلی دی وَالْحَاجَةُ إِلَى الرُّكُوْبِ فِيْهِ أَغْلَبُ او له ښار شخصه دباندي سپرتيا ته زياته اړتيا سته.

اللغات: ﴿يُوْمِئُ﴾ د افعال د باب مضارع صيغه ده: اشاره کول. ﴿السُّنَنُ الرَّوَاتِبُ﴾ سنت مؤکده. ﴿آكَدُ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مؤکد، زيات ټينګ. ﴿رُكُوْب﴾ د فتح مصدر دی: سپرتيا، سپرېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی له ښار شخصه دباندي وو، او پر سپرلي يا داسي بل شي سپور وو، نو د ده لپاره دا جائز دي چي پر سپرلي د ناستي په حالت کي نفل وکړي، او پر ده نه ولاړه او سجده ضروري ده، او نه مخ پر قبله کېدل ضروري دي، بلکي کوم طرف ته چي د ده سپرلی روان وو، هغه طرف د ده قبله ده، او د رکوع او سجدو پر ځای دي دا سړی اشاره کوي. د دې په باره کي تر ټولو ښېن او ښرګنده دليل دا ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا هغه حديث دی چي په هغه کي پر سپرلي د نبي ﷺ نفل کول ثابت دي، او په اشارې سره د رکوع او سجدې کول هم ثابت دي، او دا حکم مطلق دی يعني که عذر وي، که نه وي، په دواړو حالتونو کي پر سپرلي نفل کول جائز دي.

عقلي دليل: په دې باره کي عقلي دليل دا دی چي د نفلو لپاره يو ځانګړی او ټاکلی وخت نسته، بلکي هر وخت د دې اجازه سته، نو اوس که موږ د سپور سړي لپاره له سپرلي شخصه را ښکته کېدل او د قبلې پر طرف مخ کول لازم وګرځوو، نو له هغه شخصه به نفل پاته سي، په دې توګه چي درېدل او را ښکته کېدل به د ده لپاره ستونزمن او بوج وي، او د لازموالي په وجه به هغه پر دې شيانو قدرت نه لري، يا که هغه را ښکته سي او مخ پر قبله سي نو له کاروان والا شخصه به شاته پاته سي، نو په دې وجه د سپرتيا په حالت کي نه را ښکته کېدل لازم دي او نه مخ پر قبله کېدل لازم دي، بلکي کوم طرف ته چي هم د سپرلي مخ وي، د سپور لپاره هغه طرف ته د نفلي لمونځ کولو اجازه سته.

و أما الفرائض الخ له دې ځايه دا را ښيي چي نفل مطلقاً پر سپرلي جائز دي، هغه که عذر وي، که نه وي، لېکن په فرضو کي دا اختيار نسته، بلکي د فرضو مسئله دا ده چي که عذر وي، مثلاً د يو درنده يا دښمن بېره وي، يا د غلا او ډاکې

• القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله أنه لا يجوز النفل على الدابة في المصر، وقال العلامة ابن نجيم رَحِمَهُ الله: وقيد بخارج المصر لانه لا يجوز التنفل عليها في المصر البحر الرائق ج:٢، ص:٦٢، وكذا في رد المحتار ج:١، ص:٥١٦. [القول الراجح، ج:١، ص:١١٣]

اندېښنه وي، یا سپور سړی ډېر سپین ږیری (بوډا) وي، او په خپله نه سي سپرېدلی، او بل خپلوانکی یې هم نه وي، نو څرنګه چي په دې ټولو صورتونو کي عذر سته، نو پر سپرلي په ناستي سره فرض کول جائز دي، او د دې د جائز والي دلیل د قران کریم دا اعلان دی: فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا. (یعني که تاسو ته د یو شي بېره وي نو په ولاړه یا د سپرتیا په حالت کي لمونځ کوئ)، له دې آیت څخه همدغه خبره ښکاره سوه چي د عذر په وخت کي پر سپرلي د فرضي لمونځ اجازه سته، او بې له عذره یې هیڅ اجازه نسته.

والسنن الرواتب الخ فرمايي چي مؤکد سنتونه هم د نفلو په درجه کي دي، نو څرنګه چي بې له عذره او د عذر سره پر سپرلي د نفلو اجازه سته، همدارنګه د سنتو اجازت هم سته، خو له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي څرنګه د سهار سنت له ټولو سنتو څخه ډېر مهم او ډېر مؤکد دی، نو ځکه که د سهار سنت پر سپرلي نه وکړی سي نو ډېره به ښوره او افضله وي، خو هسي هم په جواز کي یې شک و شبهه نسته، خبره صرف په افضیلت کي ده.

والتقیید الخ له دې ځایه دا را ښیي چي په قدوري کي چي کوم د خارج المصر (یعني له ښار څخه د دباندي) قید لګول سوی دی، هغه قید احترازي دی، او د هغه قید دوه مقصده ده: (۱) اول مقصد دا چي له ښار څخه دباندي پر سپرلي مطلقاً نفلي لمونځ جائز دی، هغه که سپور سړی مقیم وي او که مسافر وي، (۲) دویم مقصدا دا چي په ښار کي پر سپرلي د نفلي لمونځ جواز نسته، ځکه چي له ښار څخه دباندي پر سپرلي چي کوم د نفلو جواز دی هغه خلاف قیاس له نص څخه ثابت دی، او د ښار څخه دباندي حصه د ښار په حکم کي هم نه ده، نو په ښار کي به دته پر قیاس عمل کیږي، او له ښار څخه دباندي به خلاف القیاس پر نص عمل کیږي.

وعن أبي یوسف الخ له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا دی چي په ښار او آبادي کي هم پر سپرلي نفل جائز دي، ځکه چي له نبي ﷺ څخه په مدینه منوره کي پر سپرلي نفل ثابت دی، خو د دې جواب دا دی چي دا عمل ډېر شاذ او نادر دی، او ممکنه ده چي له دې څخه به ماسوا هیڅکله هم نبي ﷺ داسي کړي نه وي، نو په دې سره دلیل نیول، او په ښار کي پر سپرلي د نفلو اجازه ورکول صحیح نه دي. د دې په خلاف د ظاهر الرویه دلیل دا دی چي نص یعني دابن عمر رَضِيَ الله عَنْهُمَا حدیث له ښار څخه د دباندي په باره کي وارد سوی دی، او له ښار څخه دباندي د سپرلي ضرورت زیات پرېوځي، نو ځکه به نص د ما ورد به النص سره خاص وي، او له ښار یا آبادي څخه به دباندي د دې اجازه نه وي.

د نفلو په دوران کي له سپرلي څخه راشوه کېدل

فَإِنِ افْتَتَحَ التَّطَوُّعَ رَاكِبًا نو که یو سړي پر سپرلي نفلي لمونځ شروع کړی ثُمَّ نَزَلَ بیا راشوه سو يَبْنِي نو دا سړی به پر هغه لمانځه بناء کوي وَإِنْ صَلَّى رَكْعَةً نَازِلًا ثُمَّ رَكِبَ او که یو رکعت یې کښته پر ځمکه وکړی او بیا سپور سو إِسْتَقْبَلَ نو له سره به لمونځ کوي لِأَنَّ إِحْرَامَ الرَّاكِبِ اِنْعَقَدَ مُجَوِّزًا لِلرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ ځکه چي د سپور کس تحریمه په داسي حال کي منعقده سوه چي هغه د رکوع او سجدې جائز ګرځوونکې وه لِقُدْرَتِهِ عَلَى النُّزُولِ ځکه چي دا سړی پر شوه کېدلو قادره وو فَإِنْ أَتَى بِهِمَا صَحَّ نو کله چي ده دواړه اداء کړه نو صحیح دي وَإِحْرَامُ النَّازِلِ اِنْعَقَدَ لِوُجُوبِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ او (پر ځمکه) د لاندي سړي تحریمه د رکوع او سجدې د واجبولو لپاره منعقده سوه فَلَا يَقْدِرُ عَلَى تَرْكِ مَا لَزِمَهُ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ نو هغه بې له عذره د هغه شي پر پرېښوولو قادر نه دی کوم چي یې (پر ځان) لازم کړی دی وَعَنْ أَبِي

يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ • أَنَّهُ يَسْتَقْبِلُ إِذَا نَزَلَ أَيْضًا او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي کله هغه له سپرلي څخه را شوه سي نو هم به له سره لمونځ کوي وَكَذَا عَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ إِذَا نَزَلَ بَعْدَ مَا صَلَّى رَكْعَةً او همدارنګه له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي کله تر يوه رکعت کولو وروسته را شوه سي (نو له سره به لمونځ کوي) وَالْأَصَحُّ هُوَ الْأَوَّلُ وَهُوَ الظَّاهِرُ لېکن زيات صحيح هغه اول روايت يعني ظاهر الرواية دی.

اللغات: ﴿إِحْرَام﴾ تکبير تحريمه. ﴿إِسْتِقْبَال﴾ د استفعال د باب ماضي صيغه ده: مخامخ کېدل، له نوي سره شروع کول، له شروع څخه کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي پر سپرلي نفلي لمونځ شروع کړی، او تر يوه رکعت کولو وروسته را شوه سو، نو اوس به دا سړی پر هغه لمانځه بناء کوي، يعني هغه لمونځ به کوي، او له شروع څخه د لمانځه کولو ضرورت نسته، د دې په خلاف که يو سړي پر ځمکه نفلي لمونځ شروع کړی، او تر يوه رکعت کولو وروسته پر سپرلي سپور سو، نو اوس د هغه لپاره دغه لمونځ پوره کول صحيح نه دي، بلکي پر هغه له شروع څخه د دې لمانځه کول ضروري دي.

دليل: له دليل څخه مخکي يوه مقدمه په ذهن کي ونيسئ، مقدمه دا ده چي د بعضي لمانځه بناء کول پر بعضي لمانځه باندي هغه وخت جائز ده کله چي دواړو ته يوه تحريمه شامله وي، او که دواړو ته يوه تحريمه شامله نه وه، نو بناء جائز نه ده.

اوس دليل دا سو چي د سپرتيا په حالت کي چي کومه تحريمه تړل سوې ده، هغه د رکوع او سجدې اشاره هم جائز کوي او له اشارې څخه ماسوا په خپله رکوع او سجده هم جائز کوي، په دې توګه چي که دا سړیَ د لمانځه له باطلونکي عمل څخه بغير له سپرلي څخه را شوه سي او په رکوع او سجده سره لمونځ وکړي، نو اوس چي ده کوم لمونځ پر سپرلي کړی دی، او کوم چي يې لاندي په رکوع او سجده سره کړی دی، دواړو ته يوه تحريمه شامله ده، نو کله چي دواړو ته يوه تحريمه شامله ده نو د يوه بناء پر بل باندي هم جائز ده، خو کومه تحريمه چي پر ځمکه تړل سوې ده، هغه فقط د رکوع او سجدې لپاره منعقده سوې ده، او فقط رکوع او سجدې ته شامله ده، يعني په دې سره صرف رکوع او سجده واجب سوي ده، اشاره نه ده واجب سوې، ځکه چي دغه سړی کوم چي يې پر ځمکه تحريمه تړلې ده پر دې قادر نه دی چي د لمانځه له باطلونکي عمل څخه بغير سپور سي او اشاره وکړي، او د لمانځه باطلوونکی عمل، عملِ کثير دی، نو کوم لمونځ چي يې په رکوع او سجده سره پر ځمکه کړی دی، اوکوم لمونځ چي يې د سپرتيا په حالت کي په اشاره اداء کړی دی، دې دواړو ته يوه تحريمه شامله نه ده، او کله چي يوه تحريمه دواړو ته شامله نه ده، نو د يوه بناء به پر بل هم جائز نه دي.

دويم دليل: د دې مسئلې دليل داسې هم کېدای سي چي په رکوع او سجده سره لمونځ کول اصل دي، او په اشاره سره لمونځ کول فرع او خلافُ الاصل دي، نو اوس ښکاره ده چي د سپور لپاره د راشوه کېدلو په حالت کي لمونځ اداء کول داسې دي لکه چي له ادنیٰ او فرع څخه د اعلیٰ او اصل و طرف ته رجوع کول نو دا عقلاً او شرعاً ممکن او صحيح دي، لېکن د دې په خلاف د لاندي سړي لپاره د سپرتيا په حالت کي لمونځ پوره کول داسې دي لکه له اعلیٰ څخه د ادنیٰ و طرف ته رجوع کول، کوم چي عقلاً او شرعاً ناممکنه دي، لېکن که يو شرعي عذر وي نو د دې ګنجايش سته، لېکن بې له عذره د دې هيڅ ګنجايش نسته. (شارح احسن الهدايه)

• القول الراجح: قول ابی حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا فی الدر المختار ج:١، ص:٥١٧. [القول الراجح، ج:١، ص:١١٥]

وعن أبي يوسف الخ فرمايي چې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چې د سپور سړي لپاره هم د راشوه کېدلو په حالت کې لمونځ پوره کول صحيح نه دي، بلکې پر ده هم له شروع څخه لمونځ کول ضروري دي، ځکه چې د سپر تيا په حالت کې د لمانځه شروع کول او بيا د راشوه کېدلو په حالت کې د هغه پوره کول داسې دي لکه پر ضعيف د قوي بناء کول، او پر ضعيف د قوي بناء صحيح نه ده، نو ځکه په دې صورت کې هم د سره لمونځ کول ضروري دي، همدارنګه له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې که سپور سړی تر يوه رکعت وروسته را شوه سوی وي، نو بيا د هغه لپاره بناء کول جائز نه دي، لېکن که د يوه رکعت تر پوره کولو مخکې را شوه سوی وي، نو بيا د هغه لپاره د بناء کولو اجازه سته، لېکن صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې صحيح همدغه ده کوم چې په ظاهر الرواية کې ذکر دي، يعني د سپور لپاره د راشوه کېدلو په حالت کې بناء کول جائز دي، ځکه چې د سپر تيا په حالت کې دا سړی هم پر رکوع او سجده حکماً قادره دی، او د ده تحريمه د راشوه کېدلو(نزول) حالت ته هم شامله ده، نو کله چې د ده تحريمه د نزول حالت ته شامله ده، نو ښکاره ده چې د ده لپاره د هغه اعمالو او افعالو اجازه هم سته کوم چې د نزول په وخت کې کيږي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی يعني: که چا د سپر تيا په حالت کې نفل شروع کړه، او وروسته را شوه سو، نو پر هغه لمانځه بناء کول جائز دي، قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: والأصح هو الظاهر عنهم يعني إذا نزل يبني مطلقاً (فتح القدير ج:۱، ص:۴۰۶). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۱۵]



فَصْلٌ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ

(دا) فصل د روژې د مياشتې د تراويحو (په بيان کې) دی

تشريح: څرنګه چې تراويح څه غوندې له نفلو څخه مختلف دي، نو ځکه تراويح په جلا فصل کې بيانوي، تراويح له عامو نفلو څخه په يو څو شيانو کې مختلف دي: (۱) اول دا چې په عامو نفلو کې جماعت نسته، او په تراويحو کې جماعت سته، (۲) دويم دا چې په نفلو کې د رکعتونو ټاکلې او معلومه اندازه نسته، او د تراويحو په رکعتونو کې د رکعتونو اندازه معلومه ده چې شل رکعته دي، (۳) دريم دا چې نفل د يو وخت سره خاص نه دي، او تراويح د روژې د مياشتې سره خاص دي، (۴) څلورم دا چې په ترايحو کې يو وار د قرآن ختمول سنت دي، او په نفلو کې دا سنت نه دي. (عنايه)

التراويح جمع د ترويحة ده، د ترويحة معنی ده: إيصال الراحة آرام رسول (هوسا کول)، نو څرنګه چې په تراويحو کې تر هرو څلور رکعتونو وروسته ترويحه يعني د آرام او ځان هوسا کولو لپاره ناسته کيږي، نو ځکه هرو څلورو رکعتو ته ترويحة ويل کيږي، او ټولو شلو رکعتو ته تراويح ويل کيږي. (عنايه ج:۱، ص:۴۸۲)

د تراويحو شرعي حيثيت او د رکعتونو شمېر

يُسْتَحَبُّ أَنْ يَجْتَمِعَ النَّاسُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ بَعْدَ الْعِشَاءِ مستحب دي چې د روژې په مياشت کې خلک د ماخوستن تر لمانځه وروسته سره راجمع سي فَيُصَلِّيَ بِهِمْ إِمَامُهُمْ خَمْسَ تَرْوِيحَاتٍ نو امام به دوی ته پنځه ترويحې ورکړي كُلَّ تَرْوِيحَةٍ بِتَسْلِيمَتَيْنِ چې هر ترويحه به په دوو سلامونو سره وي وَيَجْلِسَ بَيْنَ كُلِّ تَرْوِيحَتَيْنِ مِقْدَارَ تَرْوِيحَةٍ او د هرو دوو ترويحو په مينځ کې به د يوې ترويحې په اندازه کښېني ثُمَّ يُوتِرَ بِهِمْ بيا به امام (په آخر کې) خلکو ته وتر ورکوي ذَكَرَ لَفْظَ الِاسْتِحْبَابِ امام قدوري رَحِمَهُ الله د استحباب لفظ ذکر کړی دی وَالْأَصَحُّ أَنَّهَا سُنَّةٌ خو صحيح دا ده چې تراويح سنت دي كَذَا رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ همدارنګه حضرت حسن رَحِمَهُ الله له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه روايت کړي دي لِأَنَّهُ وَاظَبَ عَلَيْهَا الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُونَ ځکه چې خلفاءِ راشدينو پر دې همېشتوب کړی دی وَالنَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بَيَّنَ الْعُذْرَ فِي تَرْكِهِ الْمُوَاظَبَةَ• او نبي ﷺ د همېشتوب د پرېښوولو په باره کې عذر بيان کړی دی وَهُوَ خَشْيَةُ أَنْ تُكْتَبَ عَلَيْنَا او هغه عذر دا ډېره وه چې تراويح به پر موږ فرض سي.

اللغات: ﴿ترويحه﴾ څلور رکعته، ﴿الخشية﴾ ډېره، انديښنه.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې د روژې په مياشت کې د ماخوستن تر لمانځه وروسته د تراويحو په غرض د خلکو را جمع کېدل سنت دي، او امام به دوی ته پنځه ترويحې ورکوي، او هره ترويحه به په دوو سلامونو سره اداء کوي، او د هرو دوارو ترويحو په مينځ کې به د يوې ترويحې په اندازه د آرام لپاره ناسته کوي، بيا به په آخر کې د وترو لمونځ ورکوي.

ذکر لفظ الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې امام قدوري رَحِمَهُ الله د تراويحو د مشروعيت لپاره د استحباب لفظ ذکر کړی دی، لېکن صحيح دا ده چې تراويح سنت مؤکده دی، او همدا له امام اعظم څخه روايت سوي دي، ځکه چې د تراويحو پر لمانځه خلفاءِ راشدينو (يعني ابو بکر، عمر، علي، عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) همېشتوب کړی دی، او د خلفاء راشدينو قول او عمل د امت لپاره حجت او دليل دی، نبي ﷺ فرمايلي دي: عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين من بعدي، (يعني اې خلکو! پر تاسو زما او تر ما وروسته د راتلونکو خليفه ګانو پر سنت عمل کول ضروري دی). او څرنګه چې خلفاءِ راشدينو پر دې سنت همېشتوب کړی دی، نو ځکه به زموږ لپاره هم پر دې همېشتوب کول او په پابندي سره اداء کول سنت وي.

سوال: پاته سوه دا خبره چې کله د تراويحو لمونځ دومره ضروري او مهم دی، او سنتِ مؤکده دی، نو بيا نبي ﷺ پر دې همېشتوب ولې نه دي کړی.

جواب: دا دی چې نبي ﷺ د تراويحو لمونځ په پوره اهتمام سره شروع کړی، خو کله چې نبي ﷺ د خلکو زيات شوق لو د تراويحو په باره کې يې د دوی زياته پملرنه وليدله، نو تر دوو ورځو وروسته يې پرېښوولې او د پرېښوولو وجه يې دا بيان کړه چې ما ته دا انديښنه ده چې داسي نه پر خلکو د تراويحو لمونځ فرض وګرځول سي.

• تخريج: من حديث عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، رواه البخاري في التهجد باب رقم: ۵

سوال: کله چې تراويح سنت مؤکده دی، نو امام قدوري رَحِمَهُ الله د ويستحب لفظ ولې استعمال کړی؟
جواب: مخکني مشائخو د مستحب لفظ د "ډېر ښه" لپاره استعمالوی، او "ډېر ښه" واجبو ته هم شامل دي، نو ممکنه ده چې د مستحب لفظ دلته په همدغه معنیٰ سره وي، يعني د تراويحو لپاره را جمع کېدل ډېر ښه او ډېر فضيلت لري، او ډېر فضيلت سنت لري.

دويم جواب: دا دی چې امام قدوري رَحِمَهُ الله د خلکو را جمع کېدلو ته مستحب ويلي دي، نه تراويحو ته، نو داسي يې وګڼه چې د روژې په مياشت کې د ماخوستن تر لمانځه وروسته د تراويحو لپاره را جمع کېدل مستحب دي، لېکن د تراويحو لمونځ سنت دی.

دريم جواب: دا دی چې له بعضي صحيح روايتونو څخه ثابت دي چې نبي ﷺ تراويح د وترو سره يوولس رکعته کړي دي، او له بعضي روايتونو څخه شل رکعته ثابته دي، نو ځينې حضراتو د دې دواړو حديثونو په مينځ کي داسي موافقت ورکړی دی چې اته رکعت له وترو څخه ماسوا سنت دي، او شل رکعته مستحب دي، نو دلته کېدای سي چې امام قدوري رَحِمَهُ الله د مستحب په لفظ سره پر همدغه قول عمل کړی وي، يعني شل رکعته په ينځه ترويحو سره مستحب دي.

د تراويحو د جماعت شرعي حيثيت

وَالسُّنَّةُ فِيهَا الْجَمَاعَةُ او په تراويحو کي جماعت سنت دی لٰكِنْ عَلٰى وَجْهِ الْكِفَايَةِ لېکن د کفايه په توګه دی(يعني سنت کفايي دی) حَتّٰى لَوِ امْتَنَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ عَنْ إِقَامَتِهَا تر دې که د يو مسجد (ټوله) خلک تراويح پرېږدي كَانُوا مُسِيئِيْنَ نو (ټوله) به ګنهکاره وي وَلَوْ أَقَامَهَا الْبَعْضُ فَالْمُتَخَلِّفُ عَنِ الْجَمَاعَةِ تَارِكٌ لِلْفَضِيْلَةِ او که بعضو خلکو تراويح وکړې نو شاته پاته کېدونکي (پرېښوونکي) به د فضيلت پرېښوونکي وي لِأَنَّ أَفْرَادَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُم رُوِيَ عَنْهُمُ التَّخَلُّفُ* ځکه چې له ځينو صحابه وو څخه شاته پاته کېدل (پرېښوول) را نقل سوي دي وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْجُلُوْسِ بَيْنَ التَّرْوِيْحَتَيْنِ مِقْدَارُ التَّرْوِيْحَةِ او د دوو ترويحو په مينځ کي د يوې ترويحې په اندازه کښېنستل مستحب دي وَكَذَا بَيْنَ الْخَامِسَةِ وَبَيْنَ الْوِتْرِ همدغه رنګه د پنځمي ترويحې او د وترو په مينځ کي(هم د ترويحې په اندازه کښېنستل مستحب دي) لِعَادَةِ أَهْلِ الْحَرَمَيْنِ ځکه چې د اهل حرمينو همدغه عادت دی وَاسْتَحْسَنَ الْبَعْضُ الِاسْتِرَاحَةَ عَلٰى خَمْسِ تَسْلِيمَاتٍ او بعضو حضراتو پر پنځو سلامونو استراحت غوره ګڼلی دی وَلَيْسَ بِصَحِيْحٍ او دا صحيح نه ده وَقَوْلُهُ: ثُمَّ يُوْتِرُ بِهِمْ او د ماتن(امام قدوري) رَحِمَهُ الله دا قول: ثم يوتر بهم (يعني [په آخر کي به] امام خلکو ته وتر ورکوي) يُشِيْرُ إِلٰى (دا قول) اشاره کوي و دې طرف ته أَنَّ وَقْتَهَا بَعْدَ الْعِشَاءِ قَبْلَ الْوِتْرِ چې د تراويحو وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته او تر وترو مخکي دی وَبِهِ قَالَ عَامَّةُ الْمَشَايِخِ او همدغه د علمو مشائخو رَحِمَهُمُ الله قول دی وَالْأَصَحُّ أَنَّ وَقْتَهَا بَعْدَ الْعِشَاءِ إِلٰى آخِرِ اللَّيْلِ قَبْلَ الْوِتْرِ او زياته صحيح دا ده چې د تراويحو وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته

* اثر: نادی: عن ابن عمر أنه كان لايقوم مع الناس في شهر رمضان، قال وكان سالم والقاسم لا يقومون مع الناس. مصنف ابن ابي شيبه، ج:۲، ص:۱۶۸، باب رقم: ۶۸۰، أثر رقم: ۷۷۱۳ .

دی (بیا) د شپې تر آخري حصې پورې تر وترو مخکې دی وَبَعْدَهُ او تر وترو وروسته (هم) دی لِأَنَّهَا نَوَافِلُ سُنَّتْ بَعْدَ الْعِشَاءِ ځکه چې تراویح نفل دي (او) د ماخوستن تر لمانځه وروسته سنت سوي دي وَلَمْ يَذْكُرْ قَدْرَ الْقِرَاءَةِ فِيهَا او امام قدوري رَحِمَهُ الله په تراویحو کې د قرائت اندازه ذکر نه کړه وَأَكْثَرُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمُ الله عَلَى أَنَّ السُّنَّةَ فِيهَا الْخَتْمُ مَرَّةً خو د اکثرو مشائخو رَحِمَهُمُ الله رایه دا ده چې په تراویحو کې یو وار قرآن ختمول سنت دي فَلَا يُتْرَكُ لِكَسَلِ الْقَوْمِ نو د قوم د کهالی (سستوالي) په وجه به نه پرېښوول کیږي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ التَّشَهُّدِ مِنَ الدَّعَوَاتِ په خلاف د هغو دعاګانو چې تر تشهد وروسته وي حَيْثُ يَتْرُكُهَا نو هغه امام پرېښوولای سي لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِسُنَّةٍ ځکه چې هغه دعاوې سنت نه دي.

اللغات: ﴿مسيئين﴾ جمع د مُسِيئٌ ده: خطا کونکی، ګنهکاره. ﴿کسل﴾ سستي (کهالي).

تشریح: په دې عبارت کې د تراویحو متعلق څو مسئلې بیان سوي دي، نو ټوله به انشاء الله په ترتیب ذکر سي:

(١) اوله مسئله خو دا بیان سوې ده، چې د تراویحو لمونځ په جماعت سره سنت کفایه دی، او د سنتِ کفایه مطلب دا دی، چې که یو څو خلک یې اداء کړي نو له نور خلکو څخه دا حکم ساقطیږي، لکه څرنګه چې صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله دا څرګندونه کړې ده او فرمایي: چې که د مسجد ټوله خلک تراویح نه وکړي، نو ټوله ګنهکاره کیږي، خو که بعضو خلک یې وکړي، نو کونکو ته به یې فضیلت او ثواب ورکول کیږي، او نه کونکي به ګنهګاره وي، او یوازې کونکي به یې له ثواب څخه بې برخې وي.

دلیل: د دې دلیل چې تراویح سنت کفایه دي، دا دی چې په صحابه وو کې به بعضې صحابه په کورونو کې تراویح کولې، او مسجد ته به نه تلل، چې له هغو صحابه وو څخه ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او حضرت عروه ﷺ هم دي، دا حضرات د نبي ﷺ په دې فرمان سره دلیل نیسي: عليكم بالصلاة في بيوتكم فإن خير صلاة المرء في بيته إلا المكتوبة. (یعني پر تاسو په خپلو کورونو کې لمونځ کول (هم) ضروري دي، ځکه چې له فرضي لمونځ څخه علاوه د انسان لمونځ په خپل کور کې ښه دی). او څرنګه چې تراویح فرض نه دي، نو ځکه دا هم په کور کې اداء کول زیات غوره دي په نسبت د دې ته چې په مسجد کې اداء کړی سي، له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې که په کور کې ممکنه وي چې د تراویحو د قرائت او سنت به ښه خیال وساتل سي، نو په داسې وخت کې تراویح په کور کې کول زیات غوره دي. (فتح القدیر)

تر څلورو رکعتونو وروسته د ناستې حکم

والمستحب في الجلوس الخ له دې ځایه دا راښیي چې په تراویحو کې د هرو دوو ترویحو په مینځ کې یعني پر څلورو رکعتو دیوې ترویحې په اندازه کښېنستل مستحب دي، همدارنګه د پنځمې ترویحې او وترو په مینځ کې هم. یعني د شلو رکعتو تر پوره کېدلو وروسته او له وترو کولو څخه مخکې هم دیوې ترویحې په اندازه کښېنستل مستحب دي، ځکه چې د مکې مکرمې او د مدینې شریف د خلکو عادت همدغه ډول دی، صاحب د هدایې صرف ناسته بیان کړې ده، او د ناستې یې هیڅ تفصیل بیان کړی نه دی، چې خاموش (چپ) به کښېني، یا به تسبیح، دعاء یا بل شي وایي، نو په دې اړه صاحب د عنایې رَحِمَهُ الله وایي چې: چپ دې کښېني، ځکه چې د ناستې مقصد راحت او آرام دی، او آرام په چپ

کښېنستلو کي دی، لېکن غوره دا ده چي تسبيح يا دعاء ووايي، ځکه چي په ناسته کي چي کوم راحت دی هغه د ولاړې په مقابله کي دی نه د قرائت او اذکارو په مقابله کي، او بيا خو قرائت هم صرف د امام کار دی نه د مقتديانو، نو ځکه به د مقتديانو په حق کي جلوس مع الدعاء تر جلوس مع السکوت غوره وي، او د مدينې او مکې خلګو خو به ګردسره ناسته نه کول، بلکي دهري ترويحې وروسته به يې طواف کوی، نو له دې څخه هم دا خبره په ذهن کي راځي چي د مقتديانو لپاره د چپ کښېنستلو او نندارې کولو څخه غوره دا ده چي د الله يو ذکر وکړي.

تر لسو رکعتونو وروسته د ناستي حيثيت

واستحسن البعض الخ فرمايي چي د ځيني مشائخو په نېز پر خمس تسليمات، يعني پر لس رکعتو کښېنستل او آرام کول غوره دي، لېکن دا قول صحيح نه دی، ځکه چي دا طريقه له را نقل سوي طريقې څخه خلاف ده، او په دې کي تکليف او مشقت هم زيات دی.

د تراويحو صحيح وخت او د وترو د جماعت بيان

وقوله ثم يوتربهم الخ د دې حاصل دا دی چي د تراويحو د وخت په سلسله کي درې اقوال دي، يو قول دا دی چي د تراويحو وخت تر ماخوستن وروسته يعني د ماخوستن تر لمانځه وروسته او تر وترو مخکي دی او همدغه د علمو مشائخو رايه ده، نو که يو چا د ماخوستن تر لمانځه مخکي يا تر وترو وروسته تراويح وکړې، نو د هغه تراويحو اعتبار نسته، ځکه چي د تراويحو وخت د صحابه وو له معمول څخه معلوم سوی دی، او صحابه وو د ماخوستن تر لمانځه وروسته او تر وترو مخکي تراويح کړي دي، نو هم په دغه وخت کي به تراويح صحيح وي، او د بلخ د مشائخو نظريه دا ده چي د تراويحو وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته دی، بيا د طلوع فجر تر مخکي پوري دی، ځکه چي تراويحو ته قيام الليل (يعني د شپې لمونځ) ويل سوي دي، نو د شپې په هره حصه کي يې د اداء کولو اجازه سته، په دې لړ کي تر ټولو غوره او معتمد قول دا دی چي د تراويحو وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته دی، هغه که تر وترو مخکي وسي او که تر وترو وروسته، خو د ماخوستن تر لمانځه به وروسته وي، همدا وجه ده که چا د ماخوستن تر لمانځه مخکي تراويح وکړې، نو هغه صحيح نه دي، لېکن که تر وترو يې مخکي يا وروسته وکړې، نو په دواړو صورتو کي د هغه تراويح صحيح او معتبره دي.

د تراويحو په شلو رکعتونو کي به څومره اندازه قرائت کيږي

ولم يذكر قدر القراءة الخ فرمايي چي امام قدوري رَحِمَهُ الله د قرائت هيڅ اندازه بيان نه کړه، خو په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی، د بعضو رايه دا ده چي په هرو دوو رکعتو کي به دومره قرآن ويل کيږي څومره چي د ماښام په لمانځه کي ويل کيږي، ځکه چي نفل له فرضو څخه د کمي درجې دي، نو په نفلو کي به د أخف القراءة في المکتوبة اعتبار کيږي، او څرنګه چي په ټولو فرضونو کي تر ټولو مختصره قرائت د ماښام په لمانځه کي کيږي، نو ځکه به د تراويحو په هر دوو رکعتو کي همدومره قرائت کيږي، حضرت حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له امام اعظم رَحِمَهُ الله څخه روايت کړی چي په هر رکعت کي د لسو آيتونو په ويلو سره به ټوله شلو رکعتونو کي دوه سوه آيتونه کيږي، نو په دې توګه به په ټوله مياشت کي شپږ زره آيتونه سي، او د قرآن آيتونه هم تقريباً له شپږ زرو څخه څه زيات دي، نو په دې صورت کي به په آسانۍ سره


یو قرآن ختم سي، او همدا سنت دي، نو ځکه فقهاؤ فرمایلي دي چي د خلګو د کهالی او سستوالي په وجه به له یوه قرآن څخه کم نه ختمیږي، او که خلک د اوږدو رکعتونو او ډېر قرائت سره زیات شوق لري نو له یوه قرآن څخه په زیات ختمولو کي هم هیڅ حرج نسته.

بخلاف ما بعد التشهد الخ د دې حاصل دا دی چي که امام ته دا اندېښنه وسوه چي ما قرائت اوږد کړی، او خلک ستړي سوه، نو که په دامي وخت کي تر تشهد وروسته دعاوي پرېږدي، نو هیڅ حرج نسته، ځکه چي دا سنت نه دي، خو د درود شریف ویل مناسب دي، هغه دې نه پرېږدي، ځکه چي د درود ویل د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز فرض دي، او زموږ په نېز احتیاط هم په دې کي چي وې وایي.

د روژې له میاشتي څخه علاوه د وترو د جماعت حکم

وَلَا يُصَلِّي الْوِتْرُ بِجَمَاعَةٍ فِي غَيْرِ شَهْرِ رَمَضَانَ او د روژې له میاشتي څخه ماسوا به وتر په جماعت سره نه کوي عَلَيْهِ إِجْمَاعُ الْمُسْلِمِينَ هم پر دې د مسلمانانو اجماع ده وَاللهُ أَعْلَمُ او الله زیات خبر دی.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي د روژې له میاشتي څخه ماسوا به په جماعت سره وتر نه کیږي، دلیل دا دی چي حضرت عمر رضی الله عنه صرف د روژې په میاشت کي په جماعت سره وتر کړي وو، او څرنګه چي له دې څخه ماسوا وتر په جماعت سره کول ثابت نه دي، نو د روژې له میاشتي څخه ماسوا به په نورو وختو کي وتر په جماعت سره خلاف اولیٰ دي.



بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيْضَةِ

(دا) باب د فرضي لمانځه د نيولو (موندلو، په بيان کي) دی

تشريح: کله چي صاحب د کتاب له فرائضو، واجباتو سنتو او نفلو څه فارغه سو، نو اوس په پوره توګه د لمونځونو د اداء کولو بيان شروع کوي، او څرنګه چي د جماعت لمونځ د يوازي لمانځه په مقابله کي زيات بشپړ او افضله دی، نو ځکه په دې باب کي په بنه تفصيل سره د جماعت فضيلت او احکام بيانوي.

د لمانځه په دوران کي د جماعت درېدلو حکم

وَمَنْ صَلّٰى رَكْعَةً مِنَ الظُّهْرِ او چا چي د ماپښين د لمانځه يو رکعت وکړی **ثُمَّ أُقِيْمَتْ** (او) بيا د ماپښين جماعت ودرېدی **يُصَلِّيْ أُخْرٰى** نو دا سړی دي دويم رکعت هم وکړي **صِيَانَةً لِلْمُؤَدّٰى عَنِ الْبُطْلَانِ** له باطلوالي څخه د اداء کړی سوي وي لمانځه د خوندي کولو لپاره **ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ** بيا دي د مقتديانو سره (په لمانځه کي) داخل سي **إِحْرَازًا لِفَضِيْلَةِ الْجَمَاعَةِ** د جماعت د ثواب حاصلولو لپاره **وَإِنْ لَمْ يُقَيِّدِ الْأُوْلٰى بِالسَّجْدَةِ** او که دې سړي د ماپښين اول رکعت په سجده مقيد کړی نه وو (يعني د اول رکعت سجده يې کړې نه وه) **يَقْطَعُ** نو لمونځ دي ختم کړي (يعني لمونځ دي پرېږدي) **وَيَشْرَعُ مَعَ الْإِمَامِ** او د امام سره دي (لمونځ) شروع کړي **هُوَ الصَّحِيْحُ** همدا صحيح ده **لِأَنَّهُ بِمَحَلِّ الرَّفْضِ** ځکه چي تر يوه رکعت کم د پرېښوولو په ځای کي دی **وَهٰذَا الْقَطْعُ لِلْإِكْمَالِ** او دا ختمول (په بنه توګه) د پوره کولو لپاره دي **بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ فِي النَّفْلِ** په خلاف د دې چي دا سړی په نفلو کي وي **لِأَنَّهُ لَيْسَ لِلْإِكْمَالِ** ځکه چي د نفلو ختمول د پوره کولو لپاره نه دي **وَلَوْ كَانَ فِي السُّنَّةِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَالْجُمُعَةِ** او که دا سړی د ماپښين له لمانځه يا د جمعې له لمانځه څخه په مخکينيو سنتو کي وو **فَأُقِيْمَ أَوْ خَطَبَ** بيا اقامت شروع سو يا خطبه شروع سوه **يَقْطَعُ عَلٰى رَأْسِ الرَّكْعَتَيْنِ** نو پر دوو رکعتو به لمونځ ختموي **يُرْوٰى ذٰلِكَ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ** دا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي **وَقَدْ قِيْلَ يُتِمُّهَا** او (دا هم) ويل سوي دي چي څلور سره رکعته به پوره کوي.

اللغات: ﴿الْمُؤَدّٰى﴾ د تفعيل اسم مفعول دی: داء کړی سوی، ﴿إِحْرَاز﴾ د افعال مصدر دی: حاصلول، تر لاسه کول. ﴿رَفْض﴾ د ضرب مصدر دی: پرېښوول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي يوازې د ماپښين لمونځ کوي، او يو رکعت يې پوره کړی وو چي د دغه لمانځه د جماعت لپاره اقامت شروع سو (يعني د ماپښين لمونځ ودرېدی)، نو اوس د دې سړي لپاره حکم ما دی چي دويم رکعت دي هم وکړي، د دې لپاره چي اول رکعت له باطلوالي څخه وساتل سي، او سلام دي وګرځوي، او بيا دي په جماعت کي شريک سي، د دې لپاره چي د جماعت فضيلت حاصل کړي، او د يوه رکعت سره د دويم رکعت يو ځای

کولو حکم ځکه ورکول سوی دی چي په حديث کي له يو رکعت لمونځ (صلاة بتيراء) څخه منع سوې ده، نو ځکه د دويم رکعت ور سره يو ځای کول ضروري دي، لېکن دا حکم په هغه صورت کي دی چي کله دې سړي د اول رکعت سجده هم کړې وي، لېکن که ده د اول رکعت سجده نه وي کړې، او جماعت ودرېږي، نو اوس د ده لپاره حکم دا دی چي لمونځ دي ختم کړي يعني لمونځ دي پرېږدي، او په جماعت کي دي شريک سي، ځکه چي کله ده سجده نه وي کړې نو د ده يو رکعت هم پوره سوی نه دی، نو په پرېښوولو کي يې هم څه باک نسته، ځکه چي د رکعت تر پوره کېدلو مخکي دې لمانځه ته بتيراء يعني يو رکعت والا لمونځ نه ويل کيږي، همدارنګه که يو سړی په څلور رکعتيز لمانځه کي له آخري ناستي څخه بغير د پنځم رکعت لپاره ولاړ سي، نو د هغه لپاره هم شرعي حکم دغه دی چي که د پنځم رکعت سجده يې نه وي کړې، نو کښېني دي، همدارنګه به په ذکر سوې مسئله کي هم که دې سړي د اول رکعت سجده نه وي کړې نو هغه به دا لمونځ پرېږدي او جماعت به شروع کوي، همدا صحيح ده، ځکه چي دا لمونځ د پرېښوولو په ځای کي دی، او د دې پرېښوول او ختم کول د إکمال يعني په کامله او بشپړه طريقه سره د فرضو د اداء کولو لپاره دی، او داسي کول صحيح دي.

هو الصحيح الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله د هو الصحيح په ويلو سره د شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله او نورو له هغه قول څخه احتراز کړی دی چي په هغه کي ويل سوي دي: که د اول رکعت سجده يې نه وي کړې نو هم دي دوه رکعته پوره کړي، دليل يې دا ی چي که څه هم دا حصه له سجدې کولو څخه مخکي لمونځ او رکعت نه دی، خو بيا هم عبادت دی، او بيا د فرضو په نيت سره شروع سوی دی، نو نور مهم سو، نو د جماعت په وجه سره به کوم چي سنت دی دا عبادت نه پرېښوول کيږي، لېکن زموږ له طرفه جواب دا دی چي په ذکر سوې مسئله کي د دې حصې پرېښوول او ختمول په دې وجه نه دي چي دا دي پرېښوول سي او سنت دي اداء کړی سي، بلکي په دې وجه دي چي د دې په پرېښوولو سره به فرض په پوره او کامله طريقه يعني په جماعت سره اداء کړی سي، نو ځکه به د دې پرېښوول صحيح او جائز وي.

بخلاف ما إذا كان الخ فرمايي چي د دې په خلاف که يو سړی نفلي لمونځ کوي، او داسي صورت را مخته سي، نو په دې صورت کي د ده لپاره نفل پرېښوول او ختمول صحيح نه دي، بلکي دوه رکعته دي پوره کړي او وروسته دي په فرضي لمانځه کي شريک سي، ځکه چي دَ نفلو پرېښوول بې ځايه او بېکاره دي، نو د نفلي لمانځه په صورت کي ختمول او پرېښوول هم صحيح نه دي، بلکي تر دوو رکعتو پوره کولو وروسته په جماعت کي د شريک کېدلو اجازه سته.

ولو كان في السنة الخ د دې حاصل دا دی که يو څوک د ماپښين يا د جمعې په مخکينيو سنتو کي مشغول وو، او لمونځ ودرېدی، يا امام د خطبې لپاره ودرېدی نو په دې صورت کي هم د ده لپاره حکم همدغه دی چي دوه رکعته دي پوره کړي او په جماعت کي دي شريک سي، هغه که يې د اول رکعت سجده کړې وي، که نه وي، ځکه چي تر دې مخکي تاسو دا ويلي دي چي سنت د نفلو په درجه کي دي، نو کوم حکم چي د نفلو وي هغه به د سنتو هم وي، او څرنګه چي په نفلو کي د دوو رکعتو پوره کول ضروري دي، نو په سنتو کي به هم د دوو رکعتو پوره کول ضروري وي.

يروى ذلك الخ فرمايي چي دا قول له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه را نقل دی او په دې سلسله کي يو بل قول دا دی چي که يو سړي د څلورو رکعتو سنتو نيت تړلی وي نو د هغه لپاره د څلور سره وو رکعتو پوره کول ضروري دي، ځکه چي څلور سره رکعته د يوه لمانځه په درجه کي دی، نو پر دوو رکعتو پرېښوول صحيح نه دي، خو دا قول ډېر ضعيف دی، او

د ضعيفوالي دليل يې دا دی چې د تمريض يعني د قيلَ په صيغه سره بيان سو، او بيا به شايد ده ته دا هم معلومه نه وي چې سنت د نفلو په درجه کې دي، او د نفلو هره شفعه (يعني هر دوه رکعته) جلا لمونځ دی، والله أعلم.

تر دريو رکعتو وروسته د جماعت د دربدلو حکم

وَإِنْ كَانَ قَدْ صَلَّى ثَلَاثًا مِنَ الظُّهْرِ او که يو سړي د ماپښين (د لمانځه) درې رکعته کړي وه يُتِمُّهَا نو (څلور سره) دي پوره کړي لِأَنَّ لِلْأَكْثَرِ حُكْمَ الْكُلِّ ځکه چې اکثر لره حکم د کُل دی فَلَا يَحْتَمِلُ النَّقْضَ نو د ماتولو (پرېښوولو) گنجايش نه لري بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ فِي الثَّالِثَةِ بَعْدُ په خلاف د هغه صورت چې تر اوسه لا دی په دريم رکعت کې وي (يعني دريم رکعت يې لا پوره کړی نه وي) وَلَمْ يُقَيِّدْهَا بِالسَّجْدَةِ او په سجده سره يې مقيد کړی نه وي (يعني د دريم رکعت سجده يې لا تراوسه نه وي کړې) حَيْثُ يَقْطَعُهَا نو دا لمونځ ختموای سي (يعني پرېښوای سي) لِأَنَّهُ مَحَلُّ الرَّفْضِ ځکه چې دا د پرېښوولو ځای دی وَيَتَخَيَّرُ إِنْ شَاءَ عَادَ فَقَعَدَ وَسَلَّمَ او ده ته اختيار دی که غواړي نو (د پرېښوولو په وخت کې) دي را وگرځيږي او کښېني دي سلام دي وگرځوي وَإِنْ شَاءَ كَبَّرَ قَائِمًا او که غواړي په ولاړه دي تکبير ووايي يَنْوِي الدُّخُولَ فِي صَلَاةِ الْإِمَامِ (او) د امام په لمانځه کې دي د داخلېدلو نيت وکړي وَإِذَا أَتَمَّهَا يَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ او کله چې د ماپښين لمونځ پوره کړي نو د خلکو (مقتديانو) سره دې داخل سي وَالَّذِي يُصَلِّي مَعَهُمْ نَافِلَةٌ او کوم لمونځ چې د دوی سره کوي هغه به نفل وي لِأَنَّ الْفَرْضَ لَا يَتَكَرَّرُ فِي وَقْتٍ وَاحِدٍ ځکه چې په يوه وخت کې فرض نه سي مکرر کېدلای.

اللغات: ﴿لا يتكرّر﴾ د تفعّل د باب مضارع نفي صيغه ده: مکرر کېدل، بيا بيا کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړي يو ازې د ماپښين لمونځ کوی او درې رکعته يې پوره کړي وه چې د ماپښين جماعت ودرېدی، نو اوس د ده لپاره حکم دا دی چې څلور رکعت دي هم پوره کړي، او د لمانځه تر پوره کولو وروسته دي په جماعت کې شريک سي، ځکه چې کله ده په څلورو رکعتو کې درې رکعته کړي وي، نو ده د څلورو اکثره حصه اداء کړې ده، او دا د فارغ کېدلو سره مشابه سو، ځکه چې اکثر د کُل په درجه کې دی، نو کله چې دی د فارغ سره مشابه سو، نو اوس به هغه وخت په جماعت کې داخليږي چې کله دا څلور رکعته پوره کړي، لکه څرنگه چې په هغه صورت کې هم دا حکم دی چې کله دی له لمانځه څخه فارغ سي، يا د څلورم رکعت په ناسته (قعده) کې وي.

بخلاف ما إذا الخ د دې حاصل دا دی چې که دا سړی صرف په دريم رکعت کې وو، او د دريم رکعت سجده يې کړې نه وه، نو اوس د ده لپاره حکم دا دی چې لمونځ دي پرېږدي، او په جماعت کې دي شريک سي، ځکه چې د دوو رکعتو د پوره کېدلو په وجه د ده لمانځه ته بتيراء يعني يو رکعت والا لمونځ نه ويل کيږي، نو ده ته د لمانځه د پرېښوولو حق سته، او دا اختيار هم ورته سته چې په دريم رکعت کې له ولاړې څخه د ناستې (قعود) و طرف ته را وگرځيږي، او قعده وکړي پر مشروع طريقه لمونځ پرېږدي، او که وغواړي نو د ولاړې په حالت کې دي د امام په لمانځه کې د داخلېدلو نيت وکړي او تکبير دي ووايي، او په جماعت کې دي شريک سي، د دې لپاره چې د جماعت لمونځ ژر ونيسي او د څنډ په وجه سره د جماعت زياته برخه پاته نه سي.

وإذا أتمها الخ د دغه عبارت تعلق د متن د دې عبارت وإن كان قد صلى ثلاثا سره دی، او حاصل يې دا دی چې كله دا سړی د ماپښين لمونځ پوره کړي، نو چې په جماعت کې شرکت کوي، د نفلو په نيتو سره به شركت کوي، ځکه چې ده خو فرض وکړه، او په يوه وخت کې يو فرضي لمونځ دوه واره نه سي اداء کېدلای، نو په دې وجه د بعضو خلکو رايه دا ده چې دا سړی دې په جماعت کې نه شريک کيږي، لېكن افضله او غوره دا ده چې دا سړی دې په جماعت کې شريک سي، ځکه چې که دی په جماعت کې شريک نه سي، نو خلک به پر ده تهمت ووايي چې د جماعت له لمانځه څخه يې اعراض وکړی، او د شريک کېدلو په صورت کې به دا تهمت نه وي. (عنايه)

د سهار د لمانځه په دويم رکعت کې د جماعت د دربدلو حکم

فإن صلى من الفجر ركعة او که يو سړي د سهار (د لمانځه) يو رکعت کړی وو ثم أقيمت بيا جماعت ودربدی يقطع نو دا سړی دې لمونځ ختم کړي (پرېږدي) ويدخل معهم او د خلکو سره دې (په جماعت) کې داخل سي لأنه لو أضاف إليها أخرى ځکه که دی دويم رکعت ور سره يو ځای کړي تفوته الجماعة نو جماعت به ځني فوت سي وكذا إذا قام إلى الثانية قبل أن يقيدها بالسجدة او همدارنګه هغه وخت چې کله دی د دويم رکعت لپاره ولاړ سوی وي خو په سجده سره يې مقيد کړی نه وي (يعني د دويم رکعت لپاره يې سجده کړې نه وي نو هم دې لمونځ پرېږدي او په جماعت کې دې داخل سي) وبعد الإتمام لا يشرع في صلاة الإمام او د لمانځه تر پوره کولو وروسته دې دا سړی د امام سره د جماعت لمونځ نه شروع کوي لكراهة التنفل بعد الفجر ځکه چې د سهار تر لمانځه وروسته نفل مکروه دي وكذا بعد العصر او همدارنګه د مازيګر تر لمانځه وروسته (هم) لما قلنا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وكذا بعد المغرب في ظاهر الرواية او همدارنګه په ظاهر الرواية کې د ماښام تر لمانځه وروسته (هم) لأن التنفل بالثلاث مكروه ځکه چې درې رکعته نفل کول مکروه دي وفي جعلها أربعا مخالفة لإمامه او په څلور رکعته کولو کې يې د امام مخالفت دی.

اللغات: ﴿التنفل﴾ د تفعل د باب مصدر دی، نفل کول. ﴿جعل﴾ د فتح د باب مصدر دی: ګرځول، جوړول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د سهار د فرضو يو رکعت کړی وو، او بيا جماعت ودربدی، نو دا سړی دې خپل دا لمونځ پرېږدي او د خلکو سره دې په جماعت کې شريک سي، ځکه که دويم رکعت هم وکړي، نو د ده لمونځ به پوره سي، او جماعت به ځني پاته سي، حال دا چې جماعت سنت مؤکده دی، نو د جماعت د فضيلت حاصلولو لپاره دې دغه لمونځ پرېږدي کوم چې يې يوازې شروع کړی دی، همدارنګه که دا سړی د سهار د دويم رکعت لپاره ولاړ سوی وو لېکن د دويم رکعت سجده يې نه وه کړې، نو په دې صورت کې دې هم لمونځ پرېږدي، په جماعت کې دې شريک سي، خو که ده د سهار لمونځ پوره کړی وو، او بيا جماعت ودربدی، نو اوس دې په جماعت کې شرکت نه کوي، ځکه چې په دې صورت کې هغه د امام سره کوم لمونځ کوي هغه به نفل وي، حال دا چې د سهار تر لمانځه وروسته تر لمر راختلو پورې نفل مکروه دي، همدارنګه د مازيګر تر لمانځه وروسته تر لمر لوېدلو پورې نفل مکروه دي.

وكذا بعد المغرب الخ فرمايي چې که چا يوازې د ماښام لمونځ کړی وو نو هغه دې هم د ظاهر الرواية مطابق په جماعت کې شرکت نه کوي، ځکه که په جماعت کې شريک سي، نو دوه صورتونه دي: يا به د امام سره يو ځای سلام ګرځوي، يا به د

امام تر فارغه کېدلو وروسته يو ركعت بل هم كوي د دې لپاره چې څلور ركعته سي، (درې د امام سره او يو د امام تر فارغه کېدلو وروسته)، په اول صورت كي (يعني چي د امام سره يو ځای سلام ګرځوي) نفل به درې ركعته سي، حال دا چي درې ركعته نفل کول مكروه دي، او په دويم صورت كي (يعني چي يو ركعت بل هم وكړي) د امام مخالفت به راسي، او دا هم صحيح نه دي، نو ځكه وويل سوه كه يو څا يوازي د ماښام لمونځ كړی وو او بيا جماعت ودرېدی، نو په جماعت كي به شركت نه كوي.

تر اذان وروسته له مسجد څخه د وتلو حكم

وَمَنْ دَخَلَ مَسْجِدًا قَدْ أُذِّنَ فِيهِ او كه يو سړی داسي مسجد ته داخل سو چي په هغه كي اذان سوی وو يُكْرَهُ لَهُ أَنْ يَخْرُجَ نو د هغه لپاره دا مكروه دي چي له مسجد څخه ووځي حَتَّى يُصَلِّيَ تر دې چي لمونځ وكړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا يَخْرُجُ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ النِّدَاءِ إِلَّا مُنَافِقٌ تر اذان وروسته له مسجد څخه يا خو منافق وځي أَوْ رَجُلٌ يَخْرُجُ لِحَاجَةٍ يُرِيدُ الرُّجُوعَ يا داسي سړی وځي چي د يو ضرورت لپاره ولاړ سي او د واپس راتللو اراده لري قَالَ: إِلَّا إِذَا كَانَ مِمَّنْ يَنْتَظِمُ بِهِ أَمْرُ جَمَاعَةٍ فرمايي: خو دا چي د هغه په ذريعه د جماعت د يو كار انتظام كيږي لِأَنَّهُ تَرْكُ صُورَةٍ ځكه چي دا وتل خو په ښكاره (د جماعت) پرېښوول دي تَكْمِيلٌ مَعْنًى (او) په باطن كي (د جماعت) پوره كول دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه يو سړی داسي مسجد ته داخل سو چي په هغه كي اذان سوی وو، نو د هغه سړي به دوه حاله وي، يا خو به يې لمونځ كړی وي يا به يې نه وي كړی، كه يې لمونځ كړی وي، نو د هغه حكم به وروسته (په را روانه مسئله كي) بيان كړو، او كه يې لمونځ نه وي كړی، نو بيا دوه صورتونه دي: يا خو به دا مسجد د ده د خپلي محلې (كلي) وي يا به نه وي، كه د كلي مسجد يې وي نو تر لمونځ كولو مخكي له مسجد څخه وتل مكروه دي، ځكه چي مؤذن ده ته د لمانځه دعوت وركړی دی، نو دا دعوت دي قبول كړي او بغير له لمانځه څخه دي نه وځي، او كه دا مسجد د ده د كلي نه وي، نو بيا دوه صورتونه دي: يا به د ده د خپل كلي خلكو په خپل مسجد كي لمونځ كړی وي، يا به نه وي، كه اول صورت وي نو له مسجد څخه بېله لمانځه وتل مكروه دي، ځكه چي دی په دې مسجد كي د داخلېدلو په وجه د دې مسجد له خلكو څخه سو، او كه دويم صورت وي نو سړی د خپل كلي په مسجد كي د لمانځه كولو لپاره وتلی سي، ځكه چي پر ده د خپل كلي په مسجد كي لمونځ واجب دی. (عنايه)، صاحب د هدايې دا مسئله داسي ذكر كړې ده چي كه يو سړی په داسي مسجد كي داخل سو چي په هغه كي اذان سوی وو نو بېله لمانځه له مسجد څخه وتل مكروه دي.

دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: لا يخرج من المسجد بعد نداء إلا منافق أو رجل يخرج لحاجته يريد الرجوع. (مراسيل ابي داؤد)

قال: إلا إذا كان الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي كه دې سړي د بل مسجد د يو كار سره تعلق درلودی د مثال په توګه د بل مسجد امام يا مؤذن وو، نو تر اذان وروسته هم د ده لپاره وتل جائز دي، ځكه چي دا وتل خو په ښكاره د جماعت پرېښوول دي لېكن په باطن كي پوره كېدل دي.

سوال: پاته سو دا اعتراض چي له حديث څخه ثابت دي چي تر اذان وروسته له مسجد څخه وتل مطلق منع دي، هغه كه دا سړی د بل مسجد سره تعلق لري او كه نه لري.

● تخريج: أخرجه ابو داؤد و معناه في كتاب الاذان، باب إذا اذن و ... حديث رقم: ٧٣٤ ،

جواب: دا دی چي په حديث کي مقصود د تهمت بنديز دی، يعني که څوک تر اذان وروسته له مسجد څخه ووځي نو خلک به دا تهمت پر وايي چي هغه له لمانځه څخه اعراض وکړی، او د امام او مؤذن په حق کي دا تهمت نسته، يعني دا دواړه تو له خلک پيژني چي دا په بل مسجد کي اذان يا لمونځ ورکوي، نو ځکه په دې دواړو کي هيڅ حرج نسته چي ووځي.

که تر اذان وروسته يې لمونځ کړی وي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ كَانَ قَدْ صَلَّى او که دې سړي لمونځ کړی وو وَكَانَتِ الظُّهْرَ أَوِ الْعِشَاءَ او دا لمونځ د ماپښين يا ماخوستن وو فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَخْرُجَ نو (له مسجد څخه په وتلو) کي څه باک نسته لِأَنَّهُ أَجَابَ دَاعِيَ اللهِ مَرَّةً ځکه چي هغه يو وار د مؤذن (اذان کونکي) دعوت قبول کړی دی إِلَّا إِذَا أَخَذَ الْمُؤَذِّنُ فِي الْإِقَامَةِ خو که مؤذن اقامت شروع کړی (نو نه دي وځي) لِأَنَّهُ يُتَّهَمُ بِمُخَالَفَةِ الْجَمَاعَةِ عِيَانًا ځکه چي (په دې وخت کي په وتلو سره) دی په ښکاره توګه د جماعت په مخالفت سره متهم کيږي وَإِنْ كَانَتِ الْعَصْرَ أَوِ الْمَغْرِبَ أَوِ الْفَجْرَ او که دا لمونځ د مازيګر يا د ماښام يا د سهار وو خَرَجَ نو ودي وځي وَإِنْ أَخَذَ الْمُؤَذِّنُ فِيهَا که څه هم مؤذن اقامت شروع کړي وي لِكَرَاهَةِ التَّنَفُّلِ بَعْدَهَا ځکه چي تر دې لمونځونو وروسته نفل کول مکروه دي.

اللغات: ﴿دَاعِيَ اللهِ﴾ د الله و طرف ته بلونکی، يعني اذان کونکی (مؤذن).

تشريح: په دې عبارت کي هغه صورت ذکر سوی دی چي په مخکني مسئله کي يې وعده وسو.

صورت د مسئلې: دا دي که يو سړی هغه مسجد ته ورغلی چي په هغه کي اذان سوی وو او دې سړي دغه لمونځ کړی وو د کوم لپاره چي اذان سوی دی، نو اوس که دا لمونځ د ماپښين يا ماخوستن وو، نو د ده لپاره له مسجد څخه وتل صحيح دي او په دې کي هيڅ خبره نسته، ځکه چي دې سړي يو وار د الله ﷻ د داعي يعني مؤذن دعوت قبول کړی دی، هو! که د دغه لمانځه لپاره اقامت شروع سو، نو په دې صورت کي به دا سړی له مسجد څخه نه وځي، بلکه په جماعت کي به شرکت کوي، که څه هم دغه لمونځ يې کړی وي.

دليل: دا دی چي که دی تر اقامت او جماعت شروع کېدلو وروسته ووځي نو خلک به پر ده دا تهمت وايي چي دی د جماعت مخالفت کوي، نو له تهمت څخه د خوندي کېدلو لپاره دي په جماعت کي شريک سي، او دا لمونځ کوم چي يې په جماعت سره اداء کوي نفل به وي، ځکه چي فرض يې مخکي اداء کړي دي، لېکن که دا لمونځ د مازيګر، ماښام يا سهار وي، نو دا سړی تر اقامت او جماعت شروع کېدلو وروسته هم له مسجد څخه وتلی سي، ځکه چي ده خو فرض اداء کړي دي نو اوس چي کوم لمونځ کوي هغه به نفل وي، او د مازيګر او سهار تر لمونځونو وروسته نفل مکروه دي، او د ماښام تر لمانځه وروسته که څه هم نفل مکروه نه دي، خو په جماعت کي د شريک کېدلو په وجه به نفل درې رکعته وي، حال دا چي درې رکعته نفل کول مکروه دي، او که ته وايې چي د امام تر سلام ګرځېدلو وروسته دي بل رکعت وکړي چي نفل يې څلور رکعته سي، نو په دې صورت کي هم د امام مخالفت راځي، او د امام مخالفت صحيح نه دی.

د سهار د لمانځه په وخت کې د سهار د سنتو حکم

وَمَنْ إِنْتَهٰى إِلَى الْإِمَامِ فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ او که يو سړی د سهار په لمانځه کې امام ته په داسې حال کې ورسيدی وَهُوَ لَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ چې د سهار دوه رکعته سنت يې کړي نه وه إِنْ خَشِيَ أَنْ تَفُوْتَهُ رَكْعَةٌ نو که (اوس) د دې سړي دا ېره وه چې يو رکعت به څنې فوت سي (تېر سي) وَيُدْرِكَ الْأُخْرٰى او بل رکعت به ونيسي يُصَلِّيْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ نو د سهار دوه رکعته سنت دې د مسجد د دروازې سره وکړي ثُمَّ يَدْخُلُ بيا دې (په جماعت کې) شريک سي لِأَنَّهُ أَمْكَنَهُ الْجَمْعُ بَيْنَ الْفَضِيْلَتَيْنِ ځکه چې د ده لپاره د دواړو فضيلتونو جمع کول ممکن دي وَإِنْ خَشِيَ فَوْتَهُمَا او که ده ته د دواړو رکعتونو د فوتېدلو ېره وه دَخَلَ مَعَ الْإِمَامِ نو د امام سره دې داخل سي لِأَنَّ ثَوَابَ الْجَمَاعَةِ أَعْظَمُ ځکه چې د جماعت ثواب ډېر زيات دی وَالْوَعِيْدُ بِالتَّرْكِ أَلْزَمُ او د جماعت پرېښودلو وعيد ډېر سخت دی بِخِلَافِ سُنَّةِ الظُّهْرِ په خلاف د ماپښين د سنتو حَيْثُ يَتْرُكُهَا فِي الْحَالَتَيْنِ چې دا په دواړو حالتونو کې پرېښوول سي لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَدَاؤُهَا فِي الْوَقْتِ بَعْدَ الْفَرْضِ ځکه چې د ماپښين د سنتو تر فرضو وروسته په (خپل) وخت کې اداء کول ممکن دي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده وَإِنَّمَا الْإِخْتِلَافُ بَيْنَ أَبِيْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللهُ• فِيْ تَقْدِيْمِهَا عَلَى الرَّكْعَتَيْنِ وَتَأْخِيْرِهَا عَنْهُمَا خو د صاحبينو په مينځ کې اختلاف صرف په دې باره کې دی چې مخکښې څلور رکعته (سنت) به تر دوو رکعتو (سنتو) مخکې کوي او که وروسته کوي وَلَا كَذٰلِكَ سُنَّةُ الْفَجْرِ او د سهار په سنتو کې دا خبره نسته عَلٰى مَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى لکه څرنګه چې به موږ د دې بيان وکړو انشاء الله تعالیٰ وَالتَّقْيِيْدُ بِالْأَدَاءِ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ او د مسجد د دروازې سره د سهار د سنتو د اداء کولو قيد لګول يَدُلُّ عَلَى الْكَرَاهَةِ فِي الْمَسْجِدِ دلالت کوي (پر دې خبره) چې په مسجد کې اداء کول مکروه دي إِذَا كَانَ الْإِمَامُ فِي الصَّلَاةِ خو چې کله امام په لمانځه کې وي وَالْأَفْضَلُ فِيْ عَامَّةِ السُّنَنِ وَالنَّوَافِلِ الْمَنْزِلُ او د عامو سنتو او نفلو په باره کې کور افضله (غوره) دی (يعني افضله دا ده چې په کور کې وکړی سي) هُوَ الْمَرْوِيُّ• عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ همدا له نبي ﷺ څخه را نقل سوي دي.

اللغات: ﴿إِنْتَهٰى﴾ د افتعال ماضي ده: رسېدل، ختمېدل. ﴿الْمَنْزِلُ﴾ کور.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که يو سړی په داسې وخت کې مسجد ته ورغلی چې امام د سهار لمونځ کوی، او دې سړي تر اوسه د سهار سنت کړي نه وه، نو اوس پوښتنه دا ده چې دا سړی دې له سنتو څخه بغير په جماعت کې شريک سي، او که اول دې سنت وکړي بيا دې په جماعت کې شريک سي؟، نو د دې جواب دا دی: که د ده دا ېره وه چې

• القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ اللهُ أي تقديم الركعتين الشفع بعد الفرض على الاربع التي فاتت، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ اللهُ الأولى تقديم الركعتين لأن الاربع فاتت عن الموضع المسنون فلا تفوت الركعتين عن موضعهما قصداً بلا ضرورة. فتح القدير ج ١، ص ٤١٥ [القول الراجح، ج ١، ص ١١٦]

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الوتر، باب فضل التطوع في البيت، حديث رقم ١٤٢٧ - ١٤٢٨

که اول سنت وکړي نو له فرضو څخه به يو رکعت تېر سي، او دويم رکعت به ونيسي، نو په دې صورت کي دې اول د مسجد د دراوزې سره د سهار سنت وکړي، بيا دې د امام سره په جماعت کي شريک سي.

دليل: دا دی چي د سهار سنت تر ټولو سنتو قوي او افضل دي، نبي ﷺ فرمايلي دي: صلوهما وإن طردتكم الخيل (يعني د سهار دوه رکعته سنت کوي که څه هم آسونه تاسو تر پښو لاندي (پايماله) کړي)، همدارنګه د سهار د يو رکعت نيول داسي دي لکه ټوله لمونځ نيول، ځکه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: من أدرك ركعة من الفجر فقد أدرك الصلوة (يعني چا چي د سهار يو رکعت ونيوی، نو ګواکي هغه ټوله لمونځ ونيوی)، نو دلته دواړه فضيلتونه يعني د سهار د سنتو فضيلت او د جماعت فضيلت جمع کول ممکن دي، نو ځکه دي اول سنت وکړي او بيا دي په جماعت کي شريک سي چي دواړه فضيلتونه حاصل کړي.

او که د هغه دا ېره وه چي که د سهار په سنتو کي مشغول سم نو د فرضو دواړه رکعتونه به را څخه تېر سي، نو په دې صورت کي حکم دا دی چي سنت دي نه کوي بلکي دامام سره دي په جماعت کي شريک سي.

دليل: ځکه چي د جماعت ثواب ډېر زيات دی، د نبي ﷺ فرمان دی: صلوة الجماعة تفضل صلوة المنفرد بسبع وعشرين درجة. (يعني د جماعت لمونځ د يوازي لمانځه په نسبت اويا (۷۰) درجې افضله دی)، او د جماعت په پرېښوولو باندي سخت وعيد راغلی دی، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: تارك الجماعة ملعون. (يعني د جماعت پرېښوونکی لعنتي دی)، او داسي نور سخت وعيدونه هم راغلي دي، حاصل د دليل دا دی چي کله د جماعت ثواب هم زيات دی او د جماعت په پرېښوولو باندي وعيد هم راغلی دی نو ځکه به دا سړی په جماعت کي شريک کيږي، او سنت به پرېږدي.

بخلاف سنة الظهر الخ او همدغه صورت که د ماپښين په سنتو کي راپېښ سو، يعني که يو سړی د ماپښين په وخت کي مسجد ته راغلی او د ماپښين جماعت ولاړ وو، او د ده د ماپښين سنت نه وه کړي، نو اوس به دا سړی د ماپښين سنت مخکي کوي او که په جماعت کي به شريک کيږي، او سنت به پرېږدي؟، نو په دې باره کي مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: که د ده دا ېره وه چي که سنت وکړم نو لمونځ به را څخه تېر سي هغه که يو رکعت تيرېږي او که ټوله لمونځ تيرېږي، په دې دواړو صورتونو کي به سنت پرېږدي، او په جماعت کي به شريک کيږي، ځکه چي په وخت کي دننه تر فرضو وروسته د سنتو اداء کول ممکن دي، نو کله چي تر فرضو وروسته د سنتو اداء کول ممکن دي، نو د سنتو په وجه دي د جماعت فضيلت نه پرېږدي، او همدغه صحيح قول دی.

دليل: له حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي يو وار له نبي کريم ﷺ څخه د ماپښين څلور رکعته سنت فوت سول، نو نبي کريم ﷺ تر فرضو وروسته د هغو قضاء راوړه. (عنايه)

د ماپښين څلور رکعته سنت قضاء کېدل: لېکن اختلاف په دې باره کي دی چي کله د ماپښين تر فرضو مخکي څلور رکعته سنت فوت سي، نو د ماپښين تر فرضو وروسته چي کوم دوه رکعته سنت دي، نو تر هغه دوه رکعته به مخکي د دې څلورو رکعتو سنتو قضاء راوړي او که تر هغه دوو رکعتو وروسته، نو په دې باره کي د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي اول دي وروستني دوه رکعته سنت وکړي، او بيا دي مخکني څلور رکعته (قضاء سوي) سنت وکړي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي اول دي د څلورو رکعتو سنتو قضاء راوړي، بيا دي دوه رکعته سنت وکړي.

د امام ابو يوسف دليل: دا دی چي دا څلور رکعته خو د خپل مسنون (سنت) ځای څخه فوت سوي دي او د دوی مسنون ځای تر فرضو مخکي دی، نو د دې په وجه دي وروستني دوه رکعته له خپل مسنون ځای څخه نه فوت کوي، همدارنګه

دا څلور رکعته سنت د خپل ځای يعني له قبل الفرض څخه وروسته سول نو ځکه به اوس وروسته وروسته وي. او د دې په وجه به وروستني دوه رکعته سنت نه وروسته کيږي، بلکي هغه به اول اداء کوي، بيا به څلور رکعته سنت راګرځوي.
د امام محمد دليل: دليل دا دی چې تر ماپښين مخکي څلور رکعته سنت خو هسې هم وروسته سول، خو اوس دي نور نه وروسته کيږي، نو ځکه مناسب دا ده چې اول دي مخکني څلور رکعت سنت وکړي او بيا دي وروستني دوه رکعته سنت وکړي.

والتقييد الخ د دې حاصل دا دی چې په قدوري کي د عند باب المسجد کوم قيد لګول سو دی له هغه څخه دا مفهوم را وځي چې که امام د سهار په فرضي لمانځه کي مشغول وو، نو لمونځ ګزار ته په مسجد کي دننه د سهار سنت کول پکار نه دي، داسي کول مکروه دي، نو ځکه ووېل سوه چې د سهار سنت دي د دروازې سره اداء کوي، لېکن که د مسجد د دروازې سره خالي ځای نه وو نو د مسجد يوې ستني (پيلر) ته دي ودرېږي سنت دي وکړي، لېکن داسي دي هيڅکله نه کوي چې د جماعت په صف کي سنت وکړي، ځکه چې دا سخت مکروه دي.
له تراويحو څخه ماسوا نور سنت او نوافل په کور کي کول غوره دي: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې له تراويحو څخه علاوه په نورو عامو سنتو او نفلو کي افضله دا ده چې په کور کي وکړی سي، همداسي له نبي ﷺ څخه را نقل سوي دي، لکه څرنګه چې په حديث کي راځي: (۱) نوّروا بيوتكم بالصلاة ولا تجعلوها قبوراً، (يعني خپل کورونه په لمانځه سره ځلانده کړئ او هديره مه ګڼئ جوړئ)، ښکاره ده چې له لمانځه څخه مراد سنت او نفل دي، نه فرض ځکه چې د فرضو لپاره مسجد دی. (۲) همدارنګه په بل ځای کي راځي: أن جميع سنن رسول الله ﷺ و وتره كان في بيته، (يعني د نبي ﷺ ټوله سنت او وتر ته به کور کي وه). همدارنګه نور هم ډېر حديثونه سته چې په کور کي د سنتو او نفلو افضل والی ګڼي ثابتيږي.
راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی يعني که له چا څخه د ماپښين مخکني څلور رکعته سنت پاته سوه، نو تر فرضو وروسته به يې قضاء هغه وخت را ګرځوي چې کله هغه دوه رکعته سنت اداء کړي کوم چې تر فرضو وروسته دي، علامه ابن عابدين رَحِمَهُ الله فرمايي چې پر همدغه قول فتویٰ ده. او مفتي غلام قادر نعماني وايي: ښکاره دا ده چې دا اختلاف په افضليت کي دی، په جواز او نه جواز کي نه دی، نو که چا څلور رکعته مخکي وکړه نو څه حرج نسته، وګورئ: [القول الراجح ج:۱، ص:۱۱۶]

که د سهار سنت قضاء سي نو څه وخت به يې قضاء راوړل کيږي؟

قَالَ: وَإِذَا فَاتَتْهُ رَكْعَتَا الْفَجْرِ فرمايي: که له يو چا څخه د سهار دوه رکعته سنت فوت (قضاء) سي لَا يَقْضِيهِمَا قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ نو تر لمر راختلو مخکي دي د هغو قضاء نه راوړي لِأَنَّهُ يَبْقَى نَفْلًا مُطْلَقًا ځکه چې دا دواړه رکعته (اوس) فقط نفل پاته سوه وَهُوَ مَكْرُوهٌ بَعْدَ الصُّبْحِ او د سهار تر لمانځه وروسته نفل کول مکروه دي وَلَا بَعْدَ ارْتِفَاعِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به يې تر لمر راختلو وروسته هم قضاء نه

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَاالله، كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۴۹۹. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۱۷]

راوړي وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَقْضِيَهُمَا إِلَى وَقْتِ الزَّوَالِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې زما دا خوښه ده چې تر زواله پورې د هغو قضاء راوړي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● قضاهُمَا بَعْدَ ارْتِفَاعِ الشَّمْسِ غَدَاةَ لَيْلَةِ التَّعْرِيسِ ځکه چې نبي کریم ﷺ د ليلة التعريس په سهار تر لمر راختلو وروسته د هغو قضاء راوړه وَلَهُمَا: أَنَّ الْأَصْلَ فِي السُّنَّةِ أَنْ لَا تُقْضَى او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې په سنتو کې اصل دا دی چې قضاء به يې نه راوړل کيږي لِاخْتِصَاصِ الْقَضَاءِ بِالْوَاجِبِ ځکه چې قضاء د واجبو سره خاص ده وَالْحَدِيثُ وَرَدَ فِي قَضَائِهِمَا تَبَعًا لِلْفَرْضِ او حديث د فرضو په اتباع کې د هغو د قضاء راوړلو په باره کې وارد سوی دی فَبَقِيَ مَا وَرَاءَهُ عَلَى الْأَصْلِ نو له فرضو څخه علاوه (خپل) پر اصل پاته سوه وَإِنَّمَا تُقْضَى تَبَعًا لَهُ او د دې دوو رکعتو قضاء به د فرضو په اتباع کې راوړل کيږي وَهُوَ يُصَلِّي بِالْجَمَاعَةِ (برابره ده) که فرض په جماعت سره کوي (يعني که په جماعت سره د فرضو قضاء راوړي) أَوْ وَحْدَهُ يا يوازي لمونځ کوي إِلَى وَقْتِ الزَّوَالِ تر زواله پورې وَفِيمَا بَعْدَهُ اخْتِلَافُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمُ اللهُ او تر زوال وروسته د فقهاو رَحِمَهُمُ الله اختلاف دی وَأَمَّا سَائِرُ السُّنَنِ سِوَاهَا او پاته سوه نور سنت بغير د سهار له سنتو څخه فَلَا تُقْضَى بَعْدَ الْوَقْتِ وَحْدَهَا نو تر خپل وخت وروسته به د هغو قضاء يوازې نه راوړل کيږي وَاخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِي قَضَائِهَا تَبَعًا لِلْفَرْضِ او علماؤ رَحِمَهُمُ الله د فرضو په اتباع کې د هغو په قضاء راوړلو کې اختلاف کړی دی.

اللغات: ﴿اِرْتِفَاعُ الشَّمْسِ﴾ د افتعال مصدر دی: د لمر راختل، يعني د اشراق وخت. ﴿غَدَاةً﴾ ورځ.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که له يو چا څخه د سهار سنت فوت سي، نو د هغه قضاء به راوړي او که نه؟ پر دې ټوله متفق دي چې تر لمر راختلو مخکې دې د هغو قضاء نه راوړي، ځکه کله چې سنت له خپل ځای څخه فوت سي نو نفل کرځي، او د سهار تر لمانځه وروسته تر لمر راختلو پورې نفل کول مکروه دي، نو تر لمر راختلو مخکې به د دې قضاء نه راوړي، او تر لمر راختلو وروسته يې په قضاء راوړلو کې اختلاف دی. د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به يې تر لمر راختلو وروسته هم قضاء نه راوړل کيږي. (يعني د شيخينو په نيزيې قضاء راوړل واجب نه دي)، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې واجب خو نه دي، خو غوره دا ده چې قضاء يې راوړي.

د امام محمد دليل: دا دی چې د تعريس په شپه کې تر لمر راختلو وروسته نبي کريم ﷺ د سهار د سنتو قضاء راوړه.

د شيخينو دليل: دا دی چې په اصل کې د سنتو قضاء نه راوړل کيږي، ځکه چې قضاء د واجب سره خاص ده. د قضاء تعريف دا دی: تسليم ما وجب بالأمر (يعني کوم شی چې په يو حکم سره واجب سوی وي د هغه شي ذور سپارلو نوم قضاء ده)، او څرنګه چې سنت واجب نه دي، نو ځکه د هغو قضاء راوړل هيڅ مطلب نه لري.

جواب: د امام محمد رَحِمَهُ الله د ليلة التعريس د حديث جواب دا دی چې پر دې موقع نبي ﷺ د فرضو په تبعيت کې د سهار د سنتو قضاء راوړه.

● تخريج: أخرجه مسلم في كتاب المساجد، باب قضاء الفائتة، حديث رقم: ١٥٦٠—٣١١

وإنما تقضى تبعًا له الخ د دې د چې حاصل دا دی چې د فرضو په تبعیت کې د سهار د سنتو قضاء فقط تر زواله پورې را ورل کېدلای سي، لېکن که یو سړي تر زواله پورې قضاء نه راوړه او لمر زائل سو، نو اوس څه حکم دی؟ د قضاء راوړلو اجازه سته او که نه؟ په دې اړه د مشائخو اختلاف دی، د بعضي حضراتو رایه دا ده چې تر زوال وروسته هم د فرضو په تبعیت کې د سنتو قضاء راوړل کېدلای سي، او د بعضي حضراتو رایه دا ده چې تر زوال وروسته یې قضاء نه سي راوړل کېدلای، ځکه چې په لیلة التعریس کې خلافُ القیاس تر لمر راختلو وروسته د دې قضاء راوړل ثابت دي، نو د دې واقعې په سبب تر زوال وروسته د قضاء راوړلو اجازه نسته، لېکن تر زوال مخکې جائز دي، هغه که فرض په جماعت سره اداء کوي او که یې یوازې کوي.

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دی، وقال العلامة احمد الطحطاوی رَحِمَهُ الله: و أفاد الكلام أنها لا تقضى قبل طلوع الشمس وحدها أصلا ولا بعد الطلوع وهو المعتمد (حاشية الطحطاوي ص: ۳۰۰). [القول الراجح ج: ۱، ص: ۱۱۷]

که چا د ماپښین د لمانځه صرف یو رکعت ونیوی نو څه حکم دی؟

وَمَنْ أَدْرَكَ مِنَ الظُّهْرِ رَكْعَةً او کوم سړي چې د ماپښین (د لمانځه) یو رکعت ونیوی وَلَمْ يُدْرِكِ الثَّلَاثَ او درې رکعته یې نه ونیول فَإِنَّهُ لَمْ يُصَلِّ الظُّهْرَ بِجَمَاعَةٍ نو هغه د ماپښین لمونځ په جماعت سره نه وکړی (یعني د جماعت نیونکی نه شمارل کیږي) وَقَالَ مُحَمَّدٌ: قَدْ أَدْرَكَ فَضْلَ الْجَمَاعَةِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چې هغه د جماعت ثواب حاصل کړی لِأَنَّ مَنْ أَدْرَكَ آخِرَ الشَّيْءِ فَقَدْ أَدْرَكَهُ ځکه چا چې د یو شي آخر حاصل کړی نو ده هغه شی حاصل کړی فَصَارَ مُحْرِزًا ثَوَابَ الْجَمَاعَةِ نو دا سړی د جماعت د ثواب حاصلونکی سو لَكِنَّهُ لَمْ يُصَلِّهَا بِالْجَمَاعَةِ حَقِيقَةً خو په حقیقت کې یې (د ماپښین لمونځ) په جماعت سره نه وکړی وَلِهَذَا يَحْنَثُ بِهِ فِي يَمِينِهِ لَا يُدْرِكُ الْجَمَاعَةَ همدا وجه ده چې (صرف) د یوه رکعت په نیولو سره په خپل دې قسم کې حانثیږي: چې جماعت به نه نیسي (یعني که یو څوک قسم وکړي چې جماعت به نه نیسم نو په دې وخت کې فقط د یوه رکعت په نیولو سره هم حانثیږي) وَلَا يَحْنَثُ فِي يَمِينِهِ لَا يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْجَمَاعَةِ او په خپل دې قسم کې نه حانثیږي: چې د ماپښین لمونځ به جماعت سره نه کوي (یعني که یو څوک قسم وکړي چې د ماپښین لمونځ به په جماعت سره نه کوم نو فقط د یوه رکعت په نیولو سره نه حانثیږي).

اللغات: ﴿محرزًا﴾ حاصلوونکی، تر لاسه کونکی، ﴿یمین﴾ قسم.

تشریح: مسئله: دا ده که یو چا په څلور رکعتیز لمانځه کې یو رکعت د امام سره ونیوی، او درې رکعته یې نه ونیول، نو دا به ویل کیږي چې ده په جماعت سره لمونځ نه دي کړی، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چې د جماعت فضیلت ور ته حاصل سو، په متن کې خو د امام محمد رَحِمَهُ الله تخصیص سوی دی، کنې دا حکم د احنافو په نېز متفق علیه دی. دلیل دا دی چې کوم چا د یو شي آخري جزء تر لاسه کړی، نو ګواکي ده هغه شی تر لاسه کړی، لهذا دا سړی د جماعت د فضیلت حاصلوونکی سو، خو په حقیقت کې یې دا لمونځ په جماعت سره نه دي کړی، همدا وجه ده چې که یو چا قسم وکړی چې جماعت به نه نیسم، بیا یې یو رکعت ونیوی نو دا سړی حانث سو، ځکه چې دې سړي ته د جماعت فضیلت او ثواب حاصل سو، او که دا قسم یې وکړی چې زه به د ماپښین لمونځ په جماعت سره نه کوم، بیا یې یو

رکعت د امام سره ونيوی، نو دا سړی نه حانث کيږي، ځکه چې په حقيقت کې ده په جماعت سره د ماپښين لمونځ نه دی کړی.

که څوک مسجد ته په داسې وخت کې ورسېدی چې لمونځ سوی وو نو څه حکم دی؟

وَمَنْ أَتَى مَسْجِدًا قَدْ صُلِّيَ فِيهِ او که يو سړی هغه مسجد ته راغلی چې په هغه کې لمونځ سوی وو فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَتَطَوَّعَ قَبْلَ الْمَكْتُوبَةِ نو هيڅ باک نسته چې تر فرضو مخکې نفلي لمونځ وکړي مَا بَدَا لَهُ مَا دَامَ فِي الْوَقْتِ تر څو چې ده ته معلومه وي چې هغه په وخت کې دی وَمُرَادُهُ إِذَا كَانَ فِي الْوَقْتِ سَعَةٌ د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد دا دی چې که په وخت کې پراخي وه وَإِنْ كَانَ فِيهِ ضِيقٌ او که په وخت کې تنګي وه تَرَكَهُ نو نفل دې پرېږدي قِيلَ هَذَا فِي غَيْرِ سُنَّةِ الظُّهْرِ وَالْفَجْرِ ويل سوي دي چې دا حکم د ماپښين او د سهار له سنتو څخه ماسوا (په نورو سنتو) کې دی لِأَنَّ لَهُمَا زِيَادَةَ مَزِيَّةٍ ځکه چې د ماپښين او د سهار سنتو ته زيات فضيلت (او خصوصيت) حاصل دی قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • فِي سُنَّةِ الْفَجْرِ نبي ﷺ د سهار د سنتو په باره کې فرمايلي دي صَلُّوهُمَا وَلَوْ طَرَدَتْكُمُ الْخَيْلُ د سهار دوه رکعته سنت کوئ که څه هم آسونه تاسو تر پښو لاندې (پايماله) کړي وَقَالَ فِي الْأُخْرَى او د ماپښين د سنتو په باره کې يې فرمايلي دي مَنْ تَرَكَ الْأَرْبَعَ قَبْلَ الظُّهْرِ لَمْ تَنَلْهُ شَفَاعَتِي چا چې د ماپښين تر لمانځه مخکې څلور رکعته (سنت) پرېښوول هغه ته به زما شفاعت نصيب نه سي وَقِيلَ هَذَا فِي الْجَمِيعِ او ويل سوي دي چې دا حکم د ټولو سنتونو په باره کې دی لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَاظَبَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَدَاءِ الْمَكْتُوبَاتِ بِجَمَاعَةٍ ځکه چې نبي کريم ﷺ په جماعت سره د فرضو اداء کولو په وخت کې پر دې سنتو همېشتوب کړی دی وَلَا سُنَّةَ دُونَ الْمُوَاظَبَةِ او له همېشتوب څخه بغير سنت نه سي کېدلای وَالْأَوْلَى أَنْ لَا يَتْرُكَهَا فِي الْأَحْوَالِ كُلِّهَا او غوره دا ده چې په هيڅ يو حالت کې سنت نه پرېښوول سي لِكَوْنِهَا مُكَمِّلَاتٍ لِلْفَرَائِضِ ځکه چې سنت د فرضو لپاره بشپړ کوونکي دي إِلَّا إِذَا خَافَ فَوْتَ الْوَقْتِ خو کله چې د وخت پر تېرېدلو وېرېږي.

اللغات: ﴿يَتَطَوَّعُ﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: نفل اداء کول. ﴿سَعَةٌ﴾ ګنجايش، پراخي. ﴿ضِيقٌ﴾ تنګي. ﴿مَزِيَّةٌ﴾ فضيلت، ځانګړتيا. ﴿لَمْ تَنَلْهُ﴾ د فتح له باب څخه د جحد معلوم صيغه ده: حاصلېدل، نصيب کېدل، تر لاسه کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو له چا څخه د جماعت لمونځ پاته سو او هغه داسې مسجد ته راغلی چې په هغه کې جماعت سوی وو، يا يې په کور کې د فرضي لمونځ اراده وکړه، نو په دې کې هيڅ خبره نسته چې دی تر فرضو مخکې چې څومره وغواړي سنت او نفل اداء کړي، خو په دې شرط چې په وخت کې ګنجايش وي، او که وخت تنګ وو نو اول دې فرض لمونځ وکړي، چې فرضي لمونځ له خپل وخت څخه قضاء نه سي.

قيل الخ ځيني حضراتو ويلي دي چې د سنتو او نفلو پرېښوولو حکم هلته دی چې د سهار او ماپښين سنت نه وي، ځکه چې د سهار او ماپښين سنت د نورو سنتونو په مقابله کې زيات فضيلت لري، نو که څه هم وخت تنګ وي، هغه به

• تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب التطوع، باب ركعتي الفجر، باب في تخفيفهما، حديث رقم:١٢٥٨.

ضرور کوي، هو! که وخت دومره تنګ سو چي له فرضي لمانځه څخه ماسوا د بل هيڅ شي ګنجايش نه وو، نو په داسي نازک صورت کي د سهار او ماپښين سنتونه هم پرېښوولای سي.

وقيل الخ ځيني حضرات وربلي دي چي د وخت د تنګوالي په صورت کي د سنتو پرېښوولو حکم په ټولو سنتو کي دی، هغه که د ماپښين او سهار سنت وي او که له دې څخه ماسوا نور سنت وي، ځکه نبي ﷺ به پر سنتو همېشتوب هغه وخت کوی چي کله به يې فرض په جماعت سره کوله، او کله چي به يې فرض يوازي کول نو پر سنتو يې همېشتوب نه کوی، او بيا له همېشتوب څخه سنت نه ثابتيږي، نو د منفرد په حق کي به دا لمونځونه سنت نه وي بلکي نفل به وي او په نفلو کي اختيار دی که يې کوي او که يې نه کوي، نو ځکه وربل سوه چي د نه کولو حکم په ټولو سنتو کي دی.

والأولى الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي غوره دا ده چي دا سنتونه په هيڅ حال کي هم نه پرېږدي، هغه که په وخت کي تنګي وي او که پراخي، فرض لمونځ په جماعت سره کوي او که يې يوازي کوي، مقيم وي، که مسافر، ځکه چي سنت د فرضو لپاره پوره کونکي دي، نو د فرضو د ثواب د پوره کولو لپاره دي په هيڅ حال کي سنت نه پرېږدي، خلفاء راشدينو، او جليل القدر صحابه وو او تابعينو هم پر دې عمل کړی دی چي سنتونه به يې په هيڅ وخت کي هم نه پرېښوول، هو! که د وخت د تېرېدلو بېره وه نو سنت دي پرېږدي او فرض دي اداء کړي. (عنايه)

چا چي امام په رکوع کي نه ونيوی نو د هغه څه حکم دی؟

وَمَنْ انْتَهٰى إِلَى الْإِمَامِ فِيْ رُكُوْعِهٖ او څوک چي امام ته په رکوع کي ورسېدی (يعني امام يې په رکوع کي ونيوی) فَكَبَّرَ او تکبير تحريمه يې ووايی وَوَقَفَ ليکن ودرېدی حَتّٰى رَفَعَ الْإِمَامُ رَأْسَهٗ تر دې چي امام سر را پورته کړی لَا يَصِيْرُ مُدْرِكًا لِتِلْكَ الرَّكْعَةِ نو دا سړی د دې رکعت نيوونکی نه سو خِلَافًا لِزُفَرَ د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی هُوَ يَقُوْلُ: أَدْرَكَ الْإِمَامَ فِيْمَا لَهٗ حُكْمُ الْقِيَامِ هغه فرمايي چي امام يې په داسي حالت کي ونيوی چي د هغه حکم د ولاړي دی فَصَارَ كَمَا لَوْ أَدْرَكَهٗ فِيْ حَقِيْقَةِ الْقِيَامِ نو دا داسي سو لکه په حقيقت کي چي يې امام په ولاړه نيولی وي وَلَنَا: أَنَّ الشَّرْطَ هُوَ الْمُشَارَكَةُ فِيْ أَفْعَالِ الصَّلَاةِ او زموږ دليل دا دی: چي (د رکعت نيولو لپاره) د لمانځه په افعالو کي شرکت کول شرط دی وَلَمْ يُوْجَدْ لَا فِي الْقِيَامِ وَلَا فِي الرُّكُوْعِ او (دلته) شرکت کول نه په ولاړه کي راغلی دي او نه په رکوع کي (نو ځکه به يې رکعت نيولی نه وي).

اللغات: ﴿الْمُشَارَكَةُ﴾ شرکت کول، ګډون کول.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی مسجد ته په داسي حال کي ورسېدی چي جماعت شروع سوی وو او امام په رکوع کي وو، نو دې سړي تکبير ووايی او لږ وخت ودرېدی تر دې چي امام سر را پورته کړی، نو د علماء ثلاثه وو په نېز هغه د دې رکعت نيونکی نه شمارل کيږي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا سړی د دې رکعت نيونکی شمارل کيږي، همدغه قول د سفيان ثوري، ابن ابي ليلیٰ او د عبدالله بن مبارک هم دی.

د امام زفر دليل: دا دی چي دې سړي امام د رکوع په حالت کي ونيوی که څه هم په خپله يې رکوع نه وکړه، او رکوع ته د قيلمي (ولاړي) حکم حاصل دی، نو د رکوع په حالت کي نيول داسي دي لکه د ولاړي په حالت کي نيول، او د ولاړي په وخت کي نيونکی د رکعت نيونکی وي، نو ځکه به د رکوع په حالت کي د امام نيونکی هم د دغه رکعت نيونکی شمارل کيږي.

د علماء ثلاثه وو دليل: دا دی چي اقتداء د لمانځه په افعالو کي شرکت کولو ته ويل کيږي، او دلته شرکت نسته، نه په ولاړه کي او نه په رکوع کي، نو کله چي د دې رکعت نه په ولاړه کي شرکت سته او نه په رکوع کي، نو دا سړی به د دې رکعت نيونکی هم نه شمارل کيږي.

جواب: د امام زفر رَحِمَهُ الله دا خبره چي رکوع ته د ولاړي حکم حاصل دی، موږ نه منو ځکه چي د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حديث دی: إذا أدركت الإمام راكعاً فركعت قبل أن يرفع رأسه فقد أدركت تلك الركعة وإن رفع رأسه قبل أن يركع فاتتك تلك الركعة. (يعني کله چي تا امام د رکوع په حالت کي ونيوی، بيا تا د امام تر سر راپورته کولو مخکي رکوع وکړه، نو تا دغه رکعت ونيوی او که ستا تر رکوع کولو مخکي امام سر راپورته کړی نو دا رکعت ستا څخه تېر (فوت) سو).

چا چي تر امام مخکي رکوع وکړه نو د هغه څه حکم دی؟

وَلَوْ رَكَعَ الْمُقْتَدِيْ قَبْلَ إِمَامِهِ او که مقتدي تر خپل امام مخکي رکوع وکړه فَأَدْرَكَهُ الْإِمَامُ فِيْهِ بيا امام هغه په دې رکوع کي ونيوی جَازَ نو دا جائز دي (يعني دا رکوع د ده لپاره کافي ده) وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يُجْزِئُهُ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دا جائز نه دي (يعني دا رکوع د ده لپاره کافي نه ده) لِأَنَّ مَا أَتَى بِهِ قَبْلَ الْإِمَامِ ځکه مقتدي چي کومه رکوع تر امام مخکي وکړه غَيْرُ مُعْتَدٍّ بِهِ هغه معتبره نه ده فَكَذَا مَا يَبْنِيْ عَلَيْهِ نو همدارنګه به هغه هم معتبر نه وي کوم چي پر دې بناء کيږي وَلَنَا: أَنَّ الشَّرْطَ هُوَ الْمُشَارَكَةُ فِيْ جُزْءٍ وَاحِدٍ او زموږ دليل دا دی: چي (صرف) په يوه جزء کي شرکت کول شرط دي كَمَا فِي الطَّرَفِ الْأَوَّلِ لکه څنګه چي په اوله حصه کي (شرکت کول)، والله اعلم.

تشريح: مسئله: دا ده که مقتدي تر امام مخکي رکوع ته ولاړ، بيا امام هم رکوع ته ولاړ تر دې چي دواړه په رکوع کي شريک سوه، نو په دې صورت کي د مقتدي لمونځ نه فاسديږي، همدغه حکم د سجدې په صورت کي دی، خو په دې سره د مقتدي لمونځ مکروه کيږي، ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي: لا تبادروني بالركوع والسجود. (يعني په رکوع او سجده کي زما څخه مه مخته کيږئ!)، همدارنګه نبي ﷺ فرمايلي دي: أما يخشى الذي يركع قبل الامام أن يحول رأسه رأس الحمار. (آيا هغه سړی نه ويريږي چي تر امام مخکي رکوع کوي چي سره يې د خره سي). امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي د مقتدي لمونځ جائز نه دی، نو پر مقتدي د دې رکوع راګرځول واجب دي، او که يې نه راوګرځوي نو لمونځ يې نه صحيح کيږي.

د امام زفر دليل: دا دی چي مقتدي د رکوع کومه حصه له امام څخه مخکي اداء کړې ده هغه معتبره نه ده، ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إنما جعل الامام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه. (يعني امام د دې لپاره جوړيږي چي د هغه اقتداء وکړی سي نو له هغه څخه اختلاف مه کوئ)، نو کومه حصه چي معتبره نه سوه او فاسده سوه نو پر هغې حصې چي کومه حصه بناء کيږي هغه به هم فاسده وي، لأن البناء على الفاسد فاسد، نو ځکه به د ده لمونځ فاسد وي.

زموږ دليل: دا دی چي د اقتداء د صحت لپاره د رکن په يو جزء کي شرکت شرط دی، او څرنګه چي په ذکر سوې مسئله د رکوع په آخر کي شرکت سته، نو ځکه اقتداء صحيح ده، او کله چي اقتداء صحيح ده، نو د مقتدي لمونځ هم صحيح سو، او لکه څرنګه چي په اوله حصه يعني د رکوع په اول جزء کي که شرکت راغلی وای، په دې توګه چي مقتدي د امام سره يو ځای رکوع کړې وای او د امام تر سر راپورته کولو مخکي مقتدي سر راپورته کړی وی نو د شرکت راتلو په وجه به اقتداء صحيح وای، همدارنګه به په دې صورت کي هم د مقتدي اقتداء صحيح وي، ځکه چي د رکن يعني د رکوع په آخري جزء کي شرکت سته، او دا شرکت د لمانځه د صحت لپاره کافي دی. والله أعلم بالصواب

بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ

(دا) باب د قضاء سوو لمونځونو د قضاء راوړلو (په بيان کي) دی

تشريح: تر دې مخکي صاحب د کتاب د اداء او د اداء د متعلقاتو احکام بيان کړل، اوس له دې ځايه د قضاء احکام بيانوي، او ځرنګه چي د قضاء په مقابله کي اداء اصل ده، نو ځکه اداء مخکي بيان سوه، او قضاء وروسته بيانيږي.

الأداء عبارة عن تسليم نفس الواجب بسبب إلى مستحقه. والقضاء عبارة عن تسليم مثل الواجب. (يعني خپل مستحق ته د نفسِ واجب اداء کولو ته اداء ويل کيږي، او خپل مستحق ته د مثلِ واجب اداء کولو ته قضاء ويل کيږي).

د قضاء سوي لمانځه د قضاء راوړلو وخت

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ او له چا ځخه چي لمونځ قضاء(فوت) سي قَضَاهَا إِذَا ذَكَرَهَا نو کله چي يې په ياد سي د هغه قضاء دي راوړي وَقَدَّمَهَا عَلَى فَرْضِ الْوَقْتِ او تر وختي فرضو دي يې مخکي کړي وَالْأَصْلُ فِيهِ أَنَّ التَّرْتِيبَ بَيْنَ الْفَوَائِتِ وَفَرْضِ الْوَقْتِ عِنْدَنَا مُسْتَحَقٌّ او اصل په دې کي دا دی چي زموږ په نېز د قضاء سوو (لمونځونو) او د وختي فرضي (لمانځه) په مينځ کي ترتيب واجب دی وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ مُسْتَحَبٌّ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز مستحب دی لِأَنَّ كُلَّ فَرْضٍ أَصْلٌ بِنَفْسِهِ فَلَا يَكُونُ شَرْطًا لِغَيْرِهِ ځکه هر فرض په خپله يو اصل دی نو دا به د بل لپاره شرط نه وي وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی مَنْ نَامَ عَنْ صَلَاةٍ أَوْ نَسِيَهَا ځوک چي د لمانځه په وخت کي بيده(ويده) سو او يا لمونځ ځني هېر سو فَلَمْ يَذْكُرْهَا إِلَّا وَهُوَ مَعَ الْإِمَامِ او دا لمونځ په هغه حال کي په ياد ورغلی چي دا سړی د امام سره وو (يعني په جماعت کي وو) فَلْيُصَلِّ الَّتِي هُوَ فِيهَا نو (اول) دي هغه لمونځ وکړي چي په کوم کي (شريک) دی (د امام سره) ثُمَّ لِيُصَلِّ الَّتِي ذَكَرَهَا بيا دي په ياد ورغلی لمونځ وکړي ثُمَّ لِيُعِدِ الَّتِي صَلَّى مَعَ الْإِمَامِ بيا دي هغه لمونځ راوګرځوي کوم چي يې د امام سره کړی دی.

اللغات: ﴿فَوَائِت﴾ جمع ده، واحد يې فَائِتَةٌ دی: قضاء سوی لمونځ، فوت سوی لمونځ، ﴿لِيُعِدْ﴾ د افعال له باب ځخه د امرِ غائب صيغه ده: راوګرځول، بيرته کول.

تشريح: د مسئلې تر صورت مخکي دا اصل په ذهن کي ونيسئ چي زموږ په نېز د قضاء سوو او وختي لمونځونو په مينځ کي ترتيب واجب دی، يعني پر لمونځ ګزاره دا لازم دي چي اول دي قضاء سوی لمونځ وکړي او بيا دي وختي لمونځ وکړي، د دې په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د قضاءسوو او وختي لمونځونو په مينځ کي ترتيب مستحب دی، او که يو سړی بې له قضاء سوي لمانځه وختي لمونځ وکړي، نو هيڅ حرج نسته.

● تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب الصلاة، باب قضاء الصلاة، حديث رقم: ۱۲۲۹.

صورت د مسئلې: دا دی که له یو سړي شخه فرضي لمونځ قضاء سي، نو هغه دي د دويم فرضي لمانځه تر کولو مخکي دغه قضاء سوی لمونځ را وګرځوي، او تر هغه وروسته دي فرضي لمونځ وکړي.

دليل: دا دی چي د دغه حديث: من نام عن صلاة په آخر کي په ثم ليعد التي صلى مع الإمام سره د امر د صيغې په ذريعه تر وختي لمانځه (وقتي لمانځه) مخکي د قضاء سوي لمانځه د راګرځولو حکم سوی دی، په دې توګه چي نبي ﷺ د قضاء سوي لمانځه د يادېدلو په صورت کي د وختي لمانځه د راګرځولو حکم کړی دی، او د لمانځه راګرځول د واجب پرېښودلو په وجه کيږي، نو له دې شخه معلومه سوه، چي قضاء سوی لمونځ پر وختي لمونځ مخکي کول ضروري او واجب دي، او که يو چا قضائي لمونځ وروسته کړی، نو په دې صورت کي د وختي لمانځه راګرځول واجب دي.

لېکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي داسي نه ده، يعني نه خو پر وختي لمانځه د قضائي لمانځه مخکي کول واجب دي، او نه د وختي لمانځه د مخکي اداء کولو په صورت کي د وختي لمانځه راګرځول واجب دي.

د امام شافعي دليل: دا دی چي هر فرض په خپله اصل دی (يعني بذات خود واجب او اصل دی) نو هغه د دويم شي لپاره شرط نه سي جوړېدلای، ځکه چي شرط تابع وي، او د اصالت او تبعيت په مينځ کي منافات دی، نو که د وختي لمانځه لپاره د قضاء سوي لمانځه راګرځول واجب (او شرط) وګرځول سي، نو په دې صورت کي به قضاء سوي لمونځ تابع وګرځيږي، حال دا چي قضاء سوی لمونځ د فرض کېدلو په وجه په خپله اصل دی، نو ثابته سوه چي قضائي لمونځ پر وختي لمانځه مخکي کول واجب نه دي.

په قضاء کي د ترتيب ساقطوونکو شيانو بيان

وَلَوْخَافَ فَوْتَ الْوَقْتِ او که لمونځ ګزار ته د وخت د فوتېدلو (تېرېدلو) بېره وه يُقَدِّمُ الْوَقْتِيَّةَ نو وختي لمونځ دي (پر قضاء سوي لمانځه) مخکي کړي ثُمَّ يَقْضِيهَا بيا دي د قضاء سوي لمانځه قضاء راوړي لِأَنَّ التَّرْتِيبَ يَسْقُطُ بِضِيْقِ الْوَقْتِ ځکه چي د وخت د تنګېدلو په وجه ترتيب ساقطيږي وَكَذَا بِالنِّسْيَانِ وَكَثْرَةِ الْفَوَائِتِ همدارنګه په هېره او د قضاء سوو لمونځونو په ډېرښت سره (هم ترتيب ساقطيږي) كَيْ لَا يُؤَدِّيَ إِلَى تَفْوِيتِ الْوَقْتِيَّةِ د دې لپاره چي د وختي لمانځه د فوتولو سبب جوړ نه سي.

اللغات: ﴿ضِيْق﴾ تنګي، ﴿نِسْيَان﴾ هېره، ﴿تَفْوِيت﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: فوت کول، قضاء کول.

تشريح: په دې عبارت کي هغه شيان بيانيږي چي ترتيب په ساقطيږي، او هغه درې شيان دي: (۱) که د وخت د فوتېدلو او تېرېدلو بېره وي (۲) که له انسان شخه قضائي لمونځ هېر سي (۳) که قضائي لمونځونه ډېر سي، نو د دې تفصيل په رڼا کي د عبارت حاصل دا سو چي که له دې درېو شيانو شخه يو شی راغلی نو په دې صورت کي قضائي لمونځ وروسته کول او وختي لمونځ مخکي کول صحيح دي، ځکه که داسي نه وسي، نو وختي لمونځ به قضاء سي، او د قضائي لمانځه په وجه د وختي لمانځه قضاء کول يا د تنګی په وخت کي اداء کول صحيح نه دي، ځکه چي د اداء مقام له قضاء شخه لوړ دی.

که د وخت د تنګوالي سره قضاء سوی لمونځ مخکي کړی سي نو څه حکم دی؟

وَلَوْقَدَّمَ الْفَائِتَةَ او که لمونځ ګزاره (د وخت د تنګوالي په صورت کي) قضاء سوی لمونځ مخکي کړی جَازَ نو (هم) جائز دي لِأَنَّ النَّهْيَ عَنْ تَقْدِيمِهَا ځکه له مخکي کولو شخه چي کوم ممانعت دی لِمَعْنًى فِيْ غَيْرِهَا هغه د داسي معنیٰ په

وجه دی کوم چې په غیر کې ده بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ فِي الْوَقْتِ سَعَةٌ په خلاف د هغه صورت چې کله په وخت کې پراخي(ګنجایش) وي وَقَدَّمَ الْوَقْتِيَّةَ او وختي لمونځ مخکې کړي حَيْثُ لَا يَجُوزُ نو (دا) جائز نه دي لِأَنَّهُ أَدَّاهَا قَبْلَ وَقْتِهَا الثَّابِتِ بِالْحَدِيثِ ځکه چې دا يې له خپل هغه وخت څخه مخکې اداء کړی کوم چې په حدیث سره ثابت دی.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو چا د وخت د تنګوالي سره سره قضائي لمونځ وکړی او وختي لمونځ يې پرېښوی، نو قضائي لمونځ خو به يې اداء سي لېکن په دې وجه به ګناهکاره وي چې وختي لمونځ يې په خپل وخت کې اداء نه کړی، او صحیح ځکه دی چې د قضائي لمانځه د مخکې کولو ممانعت او بندیز د داسې معنیٰ په وجه سره دی چې هغه په غیر یعني په وختي لمانځه کې ده، ځکه چې د وختي لمانځه په رعایت کې د وخت د تنګوالي په صورت کې د قضائي لمانځه د وروسته کولو حکم راغلی دی، لېکن کله چې هغه د وختي لمانځه رعایت نه وکړی. او اول يې قضائي لمونځ اداء کړی، نو د هغه دا کار جائز دی، خو د وختي لمانځه د قضاء کولو په وجه به ګنهګاره وي.

بخلاف الخ د دې په خلاف که په وخت کې ګنجایش او پراخي وه او بیا يې وختي لمونځ تر قضائي لمانځه مخکې وکړی نو داسې کول جائز نه دي ځکه دا داسې سو لکه هغه چې وختي لمونځ تر خپل وخت مخکې اداء کړی، او تر وخت مخکې يې په دې وجه اداء کړی چې په حدیث کې راغلي چې د وختي لمانځه وخت تر قضائي لمانځه وروسته دی او کوم لمونځ چې تر وخت مخکې وسي، هغه صحیح نه دی، نو ځکه به په هغه صورت کې وختي لمونځ پر قضائي لمونځ مخکې کول صحیح نه وي چې په وخت کې ګنجایش او پراخي وي.

په قضاء سوو لمونځونو کې د ترتیب حکم

وَلَوْ فَاتَتْهُ صَلَوَاتٌ او که له هغه څخه ډېر لمونځونه قضاء (فوت) سوه رَتَّبَهَا فِي الْقَضَاءِ كَمَا وَجَبَتْ فِي الْأَصْلِ نو په قضاء راوړلو کې دې يې په هغه ترتیب سره اداء کړي لکه څرنګه چې په اداء کې واجب سوي وه لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • شُغِلَ عَنْ أَرْبَعِ صَلَوَاتٍ يَوْمَ الْخَنْدَقِ ځکه نبي کریم ﷺ د خندق په ورځ له څلورو لمونځونو څخه مشغوله کړی سو فَقَضَاهُنَّ مُرَتَّبًا نو نبي ﷺ هغه څلور لمونځونه په ترتیب سره اداء کړل ثُمَّ قَالَ: صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي بیا يې وفرمایل: تاسو داسې لمونځ کوئ لکه څرنګه چې تاسو ما پر لمونځ کولو وینئ إِلَّا أَنْ تَزِيدَ الْفَوَائِتُ عَلَى سِتِّ صَلَوَاتٍ خو دا چې قضاء سوي لمونځونه تر شپږو زيات سي (نو بیا ترتیب ساقطیږي) لِأَنَّ الْفَوَائِتَ قَدْ كَثُرَتْ ځکه چې (په دې صورت کې) قضاء سوي لمونځونه ډېر سول فَيَسْقُطُ التَّرْتِيبُ فِيمَا بَيْنَ الْفَوَائِتِ نَفْسِهَا نو په خپله به د قضاء سوو لمونځونو په مینځ کې ترتیب ساقطیږي كَمَا سَقَطَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْوَقْتِيَّةِ لکه څرنګه چې د قضاء سوو او وختي لمونځونو په مینځ کې ترتیب ساقط سو وَحَدُّ الْكَثْرَةِ او د ډېرښت حد دا دی أَنْ تَصِيرَ الْفَوَائِتُ سِتًّا لِخُرُوجِ وَقْتِ الصَّلَاةِ

• تخریج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلوٰة، باب ما جاء في الرجل تفوت الصلوات، حديث رقم: ١٧٩

السَّادِسَةِ چې د شپږم لمانځه د وخت د وتلو په وجه قضاء سوي لمونځونه شپږ سي وَهُوَ الْمُرَادُ بِالْمَذْكُورِ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ• او په جامع صغير کي چي کوم ذکر دي له هغه څخه هم دغه مراد دي وَهُوَ قَوْلُهُ او په جامع صغير کي د امام محمد رَحِمَهُ الله دا قول دی وَإِنْ فَاتَتْهُ أَكْثَرُ مِنْ صَلَاةِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ او که له يو چا څخه د يوې ورځي او شپې تر لمونځونو زيات لمونځونه قضاء سي أَجْزَأَتْهُ الَّتِي بَدَأَ بِهَا نو د هغه لپاره هغه لمونځ کافي دی په کوم چي يې شروع کړې ده لِأَنَّهُ إِذَا زَادَ عَلَى يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ تَصِيرُ سِتًّا ځکه چي کله قضاء سوي لمونځونه پر يوې ورځي او شپې زيات سي نو شپږ کرځي وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ او له امام محمد څخه (بل) روايت دا دی أَنَّهُ اعْتَبَرَ دُخُولَ وَقْتِ السَّادِسَةِ چي هغه د شپږم لمانځه د وخت د داخلېدلو اعتبار کړی دی وَالْأَوَّلُ هُوَ الصَّحِيحُ (ليکن) اول قول صحيح دی لِأَنَّ الْكَثْرَةَ بِالدُّخُولِ فِي حَدِّ التَّكْرَارِ ځکه چي ډېرښت د تکرار په حد کي په داخلېدلو سره راځي وَذَلِكَ فِي الْأَوَّلِ او دا په اول قول کي دي.

اللغات: ﴿شُغِلَ﴾ د فتح د باب ماضي مجهول صيغه ده: مشغوله کېدل، بوختېدل. ﴿أَجْزَأَتْهُ﴾ د افعال د باب ماضي صيغه ده: کافي کېدل، جائز کېدل.

تشريح: مسئله دا ده چي څرنګه ترتيب د وختي او قضائي لمونځونو په مينځ کي فرض دی، همدغه ډول په خپله د قضائي لمونځونو په مينځ کي فرض دی، نو که يو څو لمونځونه قضاء سول، د هغو قضاء به هم په هغه ترتيب سره راوړي په کوم ترتيب چي دا واجب سوي دي. (په دې شرط چي تر شپږو لمونځونو زيات نه سي، ځکه که تر شپږو لمونځونو زيات سي، نو بيا "يو څو لمونځونه" نه بلکي "ډېر لمونځونه" سول)

دليل: د نبي کريم ﷺ دا حديث دی: عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: إن المشركين شغلوا رسول الله ﷺ عن اربع صلوات يوم الخندق حتى ذهب من الليل ما شاء الله فأمر بلالا فأذن ثم أقام فصلى الظهر ثم أقام فصلى العصر ثم أقام فصلى المغرب ثم أقام فصلى العشاء؛ ثم قال صلوا كما رأيتموني أصلي. له دې حديث څخه ثابته سوه چي په کوم ترتيب سره لمونځونه قضاء سوي وو، په هغه ترتيب سره نبي کريم ﷺ د هغو قضاء راوړه، او بيا يې حکم وکړی: صلوا كما رأيتموني أصلي (تاسو داسي لمونځ کوئ لکه څرنګه چي زه لمونځ کوم).

وحد الكثرة الخ فرمايي چي د قضائي لمونځونو د ډېرښت (کثرت) لپاره د شپږم لمانځه د وخت وتل شرط دي، د شپږم لمانځه د وخت داخلېدل معتبر نه دي، ځکه چي په دې سره په لمونځونو کي تکرار نه پيدا کيږي، او د کثرت لپاره تکرار ضروري دي، (يعني کله چي د شپږم لمانځه وخت ووځي، نو بيا به مثلاً داسي ورېل کېدای سي چي زما څخه د ماپښين دوه لمونځونه قضاء سوي دي او داسي نور).

وهو المراد بالمذكور الخ او کوم چي امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغير کي بيان کړي دي يعني: که له يو سړي څخه تر يوې ورځي او شپې زيات لمونځونه قضاء سي، نو هغه چي د هر لمانځه قضاء څخه شروع کوي، کافي دي، له دې څخه همدغه مرا دي چي کله قضائي لمونځونه شپږو ته ورسيږي، يا تر شپږو زيات سي، نو بيا په هغو کي ترتيب

• القول الراجح: قول الشيخين أي خروج الوقت السادسة و عند محمد رَحِمَهُ الله المعتبر دخول وقت السادسة، و قال العلامة علاء الدين الحصكفي رَحِمَهُ الله لدخولها في حد التكرار المقتضي للحرج بخروج وقت السادسة على الأصح رد المحتار ج:۱، ص:۵۳۹. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۱۸]

ساقطیږي، خو له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا رانقل سوی دی چي کله د شپږم قضائي لمونځ وخت داخل سي نو ترتیب ساقطیږي، لېکن د اول قول په مقابله کي د دې قول هیڅ ارزښت نسته، او اول قول صحیح دی، دلیل یې دا دی چي د کثرت(ډېرښت) لفظ هغه وخت صادقیږي چي کله په لمونځونو کي تکرار شروع سي، او تکرار هغه وخت راځي چي کله د شپږم لمانځه وخت ووځي، ځکه چي کله د شپږم لمانځه وخت ووځي، نو د قضائي لمونځونو تکرار شروع سي.

لوی څښتن ﷻ دې پر صاحب د عنایې رحم وکړي، هغوی پر دې موقع یوه بله خبره هم لېکلې ده او د پاملرني وړه ده چي د قضائي لمونځونو ډېرښت او مکرروالی د اغماء (بې هوښه کېدلو) پر مسئله باندي هم قیاسېدلای سي، ځکه چي د بې هوښی د حالت هم دغه حکم دی چي که له یوسړي څخه تریوې ورځي او شپې زیات لمونځونه قضاء سي، نو پر هغه د دې لمونځونو قضاء واجب نه ده، ځکه چي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تریوې ورځي او شپې زیات بې هوښه وو، لېکن کله چي په هوښ کي راغلی نو د قضاء سوو لمونځونو قضاء یې نه راوړه، د دې په خلاف حضرت علي او حضرت عمار یاسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا تریوې ورځي او شپې کم بې هوښه وو، نو تر ځوړېدلو وروسته دې حضراتو د قضائي لمونځونو قضاء راوړه، له دې څخه هم دا خبره څرګندیږي چي د کثرت حدّ ته د رسېدلو لپاره د وخت تېرېدل ضروري دي. (عنایه ج:۱، ص:۵۱۰)

که تر شپږو لمونځونو زیات لمونځونه قضاء سي نو د راګرځولو صحیح طریقه

وَلَوِ اجْتَمَعَتِ الْفَوَائِتُ الْقَدِيمَةُ وَالْحَدِيثَةُ او که نوي او زاړه قضاء سوي لمونځونه سره جمع سول قِيلَ تَجُوزُ الْوَقْتِيَّةُ مَعَ تَذَكُّرِ الْحَدِيثَةِ نو یو قول دا دی چي د نوي لمانځه د یادېدلو په وخت کي هم وختي لمونځ جائز دی لِكَثْرَةِ الْفَوَائِتِ ځکه چي قضاء سوي لمونځونه ډېر دي وَقِيلَ لَا تَجُوزُ او دویم قول دا دی چي جائز نه دی وَيُجْعَلُ الْمَاضِي كَأَنْ لَمْ يَكُنْ او تېرسوي لمونځونه به د نه کېدلو په ډول ګڼل کیږي (یعني قضاء سوي لمونځونه داسي وګڼه چي ګردسره قضاء سوي نه دي) زَجْرًا لَهُ عَنِ التَّهَاوُنِ چي د سستوالي په وجه د ده غندنه (رټنه) وسي.

اللغات: ﴿قديمة﴾ پخواني، ﴿حديثة﴾ نوي، ﴿زجر﴾ د غلطی احساس ورکول، غندنه، رټنه، ﴿تهاون﴾ سستي کول، قصور.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي مثلاً له یو سړي څخه د یوې میاشتي لمونځونه قضاء سوه، او د هغو قضاء راوړل یې شروع کړه، خو د هغو تر پوره کولو مخکي بیا له هغه څخه شو لمونځ قضاء سول، لېکن دا شو لمونځونه له شپږو څخه کم وه نو اول قضاء سوو لمونځونو ته قدیمه او دا وروستني قضاء سوو لمونځونو ته جدیده ویل کیږي، نو اوس که د دې سړي دا تر شپږو کم قضائي لمونځونه یعني جدیده قضائي لمونځونه په یاد وه او وختي لمونځ یې کوی، نو د ده لپاره د وختي لمانځه اجازه سته، که نسته؟ په دې باره کي د مشائخو اختلاف دی، د بعضي مشائخو رایه دا ده چي د جدیده فوائتو (قضائي لمونځونو) د یاد په وخت کي هم د دې سړي لپاره وختي لمونځ جائز دی، ځکه که څه هم دا فوائت تر شپږو کم دي، خو د قدیمه فوائتو سره چي یو ځای سي نو تر شپږو زیاتیږي، او په حد د تکرار کي داخلیږي، نو کله چي د تکرار په حد کي داخل سول نو د ډېروالي په وجه د فوائتو او وختي لمونځونو په مینځ کي ترتیب ساقط سو، او د فوائتو د یاد په وخت کي به هم وختي لمونځ جائز وي.

په دې سلسله کې د بعضې متأخرينو مشائخو رايه دا ده چې د جديده فوائتو د ياد په وخت کې وختي لمونځ کول جائز نه دي، ځکه چې د جديده فوائتو شمېر له شپږو څخه کم دی، او د وخت تنګوالی او هېره هم نسته، نو ځکه په دې صورت کې دې لمونځ ګزاره اول فائته (قضائي) لمونځ وکړي، بيا دې وختي لمونځ وکړي، پاتې سوه قديمه قضائي لمونځونه نو شريعت د ده په حق کې هغه لمونځونه معدوم (نيستي) ګرځولي دي، ګواکې پخواني فوائت د ده پر ذمه ذ سره سته نه، د دې لپاره چې ده ته عبرت حاصل سي او دا نصيحت تر لاسه کړي چې د آينده لپاره يو لمونځ ځني قضاء نه سي، او بيا د وختي لمانځه د پرېښولو او د قضائي لمونځ د کولو نوبت را نه سي، لېکن صاحب د عنايې او علامه ابن الهمام دلته اول قول معتبر او معتمد ګرځولی دی او پر هغه فتوىٰ هم ده.

که په قضاء راوړلو سره قضاء سوي لمونځونه تر شپږو کم سي نو څه حکم دی؟

> وَلَوْ قَضَى بَعْضَ الْفَوَائِتِ او که لمونځ ګزاره بعضې قضاء سوي لمونځونه راوګرځوله حَتّٰى قَلَّ مَا بَقِيَ تر دې چې پاتې لمونځونه (تر شپږو) کم سول عَادَ التَّرْتِيْبُ عِنْدَ الْبَعْضِ● نو د بعضو حضراتو په نېز ترتيب (بيرته) راګرځي وَهُوَ الْأَظْهَرُ او همدا قول زيات ظاهر دی فَإِنَّهُ رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدٍ فِيْمَنْ ځکه چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د هغه سړي په باره کې روايت دی تَرَكَ صَلَاةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ چې هغه ديوې ورځې او شپې لمونځونه پرې ايښي وي وَجَعَلَ يَقْضِيْ مِنَ الْغَدِ مَعَ كُلِّ وَقْتِيَّةٍ فَائِتَةً او د را رواني ورځې (له سهار) څخه د هر وختي لمانځه سره يو قضاء سوی لمونځ اداء کوي فَالْفَوَائِتُ جَائِزَةٌ عَلٰى كُلِّ حَالٍ نو د قضاء سوو لمونځونو اداء کېدل خو په هر حال کې جائز دي وَالْوَقْتِيَّاتُ فَاسِدَةٌ إِنْ قَدَّمَهَا لېکن وختي لمونځونه فاسد دي که يې تر قضاء سوو لمونځونو مخکې کړي وه لِدُخُوْلِ الْفَوَائِتِ فِيْ حَدِّ الْقِلَّةِ ځکه چې قضاء سوي لمونځونه د قلت (کمښت) په حد کې داخل سول وَإِنْ أَخَّرَهَا فَكَذٰلِكَ او که يې وختي لمونځونه وروسته کړه نو همدغه حکم دی (يعني هم وختي لمونځونه فاسد دي) إِلَّا الْعِشَاءَ الْأَخِيْرَةَ ما سوا له آخري ماخوستن څخه (يعني د ماخوستن لمونځ نه فاسديږي) لِأَنَّهُ لَا فَائِتَةَ عَلَيْهِ فِيْ ظَنِّهِ حَالَ أَدَائِهَا ځکه چې د ماخوستن د لمانځه د اداء کولو پر موقع د ده په ګومان کې پر ده هېڅ قضاءيي لمونځ نسته.

اللغات: ﴿غد﴾ سبا، را روانه ورځ.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که د يو سړي پر غاړه دېر لمونځونه وه، او هغه هره ورځ دوه دوه، درې درې لمونځونه راګرځول، تر دې چې زياتره قضائي لمونځونه يې راوګرځول، او پر غاړه يې قضائي لمونځونه تر شپږو کم پاتې سوه، نو آيا اوس به هم قضائي لمونځونه تر وختي لمونځونو مخکې کوي، يا که د قضائي لمونځونو د ياد په وخت کې هم د ده لپاره د وختي لمانځه اجازه سته؟ نو په دې سلسله کې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه دوه روايتونه دي: (۱) اول روايت دا دی چې اوس پر دې سړي ترتيب واجب سو، لهذا د ده لپاره وختي لمونځ پر قضائي لمونځ مخته کول صحيح نه دي، بلکې اول دې قضائي لمونځ کوي او بيا دې وختي لمونځ کوي، او دويم روايت دا دی چې اوس هم د دې سړي لپاره

● القول الراجح: هو عدم عود الترتيب كما قال الشيخ احمد الطحطاوي رَحِمَهُ الله: و لم يعد الترتيب بين الفوائت التي كانت كثرة بعودها إلى القليلة بقضاء بعضها لأن الساقط لايعود في أصح الروايتين، وعليه الفتوىٰ، و ترجيح عود الترتيب ترجيح بلا مرجّح. حاشية الطحطاوي ص: ۲۴۱. [القول الراجح، ج: ۱، ص: ۲۰۱]

وختي لمونځ تر قضائي لمانځه مخکي کول صحيح دي، او د شمس الائمه سرخسي، قاضي خان او د صاحب د محيط او د عنايې والا ټولو همدغه رايه او پر همدغه فتوىٰ ده.

دليل: د دې قول دليل دا دی چي کله د قضائي لمونځونو د ډېرښت په وجه يو وار د ده له ذمې څخه ترتيب ساقط سو، نو تر کومه وخته چي دا قضائي لمونځونه په بشپړه توګه پوره سوي نه وي، تر هغه وخته ترتيب نه را ګرځي.

لېکن د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله په نېز اول روايت زيات ظاهر دی، او صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله وايي چي اول روايت هم درايةً ظاهر دی، او هم روايةً. درايةً خو ځکه چي د ترتيب د ساقط کېدلو علت د قضائي لمونځونو ډېرښت وو، ځکه چي ډېرښت مفضي إلى الحرج دی يعني د تکليف سبب دی، او حرج او تکليف په شريعت کي لېري سوي دي، لېکن کله چي علت ختم سو او د قضائي لمونځونو شمېر له ډېرښت څخه د کمښت حد ته را ورسېدی، نو ترتيب به بېرته راګرځي، ځکه چي د علت په ختمېدلو سره معلول او حکم هم ختمېږي.

او روايةً ځکه ظاهر دی چي له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه د هغه سړي په باره کي روايت دی چي له هغه څخه ديوې ورځي او شپې لمونځونه قضاء سوي وي، د مثال په توګه د سهار له لمانځه څخه واخله د ماخوستن تر لمانځه پوري څني قضاء سوي وي، او بيا را روانه ورځ د هر وختي لمانځه سره يو قضاء سوی لمونځ راګرځوي، مثلاً د سهار د لمانځه سره د تيري ورځي د سهار د لمانځه قضاء راوړي، او د ماپښين د لمانځه سره د تيري ورځي د ماپښين قضاء راوړي او داسي نور، نو په دې صورت کي خو قضائي لمونځونه په هر حال کي جائز دي، هغه که يې پر وختي لمونځونو مخکي کړي وي يا يې وروسته کړي وي، خو دومره فرق ضرور سته چي د قضائي لمونځونو د مخکي والي په صورت کي وختي لمونځونه ټوله يعني د سهار څخه تر ماخوستنه پوري فاسدېږي، ځکه چي قضائي لمونځونه تر شپږو کم دي، او د کمښت په حد کي داخل دي، نو د دوی او وختي لمونځونو په مينځ کي ترتيب ضروري دي او پر وختي لمونځونو د دوی مخکي کول ضروري دي، لېکن کله چي يې تر قضائي لمانځه مخکي مثلاً د سهار تر قضائي لمانځه مخکي يې اول وختي لمونځ وکړی نو وختي لمونځ فاسد سو، او په دې توګه د قضائي لمونځونو شمېره شپږ سوه، لېکن کله چي ده اول د تيري ورځي د سهار د لمانځه قضاء راوړه، نو څرنګه چي دا قضاء صحيح ده، نو اوس د ده پر ذمه صرف پنځه قضائي لمونځونه پاته سوه، او دا سړی بيرته صاحب د ترتيب سو، اوس د ماپښين په وخت کي د ده لپاره حکم دا دی چي اول دې قضائي لمونځ وکړي او بيا دې وختي لمونځ وکړي، لېکن که ده له جهل څخه کار واخيستی او د قضائي لمانځه د ياد په وخت کي يې هم د ماپښين وختي لمونځ وکړی نو دا لمونځ يې هم فاسدېږي او د قضائي لمونځونو شمېر يې شپږ کيږي، او کله چي وروسته هغه د قضائي لمونځ قضاء راوړه، نو څرنګه چي قضاء راوړل صحيح دي، نو له شپږو څخه بيا د تيري ورځي د ماپښين لمونځ وځي او د قضائي لمونځونو شمېر يو وار بيا پنځه کيږي، او دا سړی صاحب د ترتيب پاته کيږي، او کله چي هم دی وختي لمونځ مخکي کوي، تر هغه وخته فساد پر جاري کيږي، نو ځکه موږ مطلق دا وويل چي د دې سړي لپاره وختي لمونځونه پر قضائي لمونځونو مخکي کول صحيح نه دي.

وإن أخرها فكذلك الخ د دې حاصل دا دی چي په ذکر سوې مسئله کي لمونځ ګزاره د هر اړخ څخه را ګير دی، ځکه چي وختي لمونځونه پر قضائي لمونځونو مخکي کول خو د ده لپاره صحيح نه دي، همدارنګه د وختي لمونځونو په وروسته کولو کي هم هيڅ چاره نسته، او په دې صورت کي هم د ده لپاره د خلاصون لاره نسته، بلکي څرنګه چي د وختي لمونځونو د مخکي والي په صورت کي وختي لمونځونه فاسدېږي، همدارنګه د وختي لمونځونو د وروسته والي په صورت کي هم هغه فاسدېږي، ځکه که دې سړي مثلاً را روانه ورځ اول د سهار قضاء راوړه او بيا يې د سهار وختي لمونځ وکړی نو قضاء يې صحيح ده، خو وختي لمونځ يې فاسد دی، ځکه چي دا سړی صاحب د ترتيب دی او تر لوسه

پر ده څلور لمونځونه پاته دي، همدغه حال د ماپښين، مازيګر او نورو هم دی، لېکن که هغه ته د دې مسئلو علم نه وو، نو د هغه په حق کې د ماخوستن وختي او قضائي دواړه لمونځونه صحيح دي، د قضائي په صحت کې خو هيڅ خبره نشته، او د وختي د صحيح والي علت دا دی چې د ماخوستن د وختي لمانځه اداء کولو په وخت کې هغه سړی دا ګڼي چې پر ما هيڅ قضائي لمونځ نشته، نو څرنګه چې د قضائي لمونځ د هېرېدلو په وخت کې د وختي لمونځ کول جائز دي، همدارنګه په دې صورت کې هم د دې سړي لپاره د ماخوستن وختي لمونځ جائز دی، لېکن ښکاره دي وي چې دا حکم هغه وخت دی چې کله دا سړی نا خبره وي، لېکن که ده ته د ترتيب د وجوب علم وو، نو بيا د ده په حق کې د ماخوستن وختي لمونځ هم جائز نه دی، بلکې فاسد دی.

د قضائي لمانځه د يادابنت په وخت کې وختي لمونځ کول

وَمَنْ صَلَّى الْعَصْرَ او چا چې د مازيګر (لمونځ) وکړی وَهُوَ ذَاكِرٌ أَنَّهُ لَمْ يُصَلِّ الظُّهْرَ په داسې حال کې چې دا يې په ياد وه چې د ماپښين لمونځ يې نه دي کړی فَهِيَ فَاسِدَةٌ نو دا د مازيګر (لمونځ) فاسد دی إِلَّا إِذَا كَانَ فِي آخِرِ الْوَقْتِ خو که دا يادېدل د مازيګر په آخري وخت کې وه (نو د مازيګر لمونځ فاسد نه دی) وَهِيَ مَسْأَلَةُ التَّرْتِيبِ او دا مسئله د ترتيب ده وَإِذَا فَسَدَتِ الْفَرْضِيَّةُ او کله چې فرضيت فاسد سو لَا يَبْطُلُ أَصْلُ الصَّلَاةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز اصل لمونځ نه فاسدېږي وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ● يَبْطُلُ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز باطلېږي لِأَنَّ التَّحْرِيمَةَ عُقِدَتْ لِلْفَرْضِ ځکه چې تحريمه د فرضو لپاره تړل سوې ده فَإِذَا بَطَلَتِ الْفَرْضِيَّةُ بَطَلَتِ التَّحْرِيمَةُ أَصْلاً نو کله چې فرضيت باطل سو نو اصل تحريمه به هم باطلېږي وَلَهُمَا: أَنَّهَا عُقِدَتْ لِأَصْلِ الصَّلَاةِ بِوَصْفِ الْفَرْضِيَّةِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې تحريمه د فرضيت په وصف سره د اصل لمانځه لپاره تړل سوې ده فَلَمْ يَكُنْ مِنْ ضَرُورَةِ بُطْلَانِ الْوَصْفِ بُطْلَانُ الْأَصْلِ نو د وصف باطلېدلو په وجه به اصل نه باطلېږي.

اللغات: ﴿عُقِدَتْ﴾ د نصر د باب ماضي مجهوله صيغه ده: منعقد کول، تړل.

تشريح: **مسئله** : دا ده که يو سړي د مازيګر لمونځ کوی او دا يې په ياد وه چې تر اوسه يې د ماپښين لمونځ نه دي کړی نو د مازيګر لمونځ يې فاسديږي، ځکه چې ده ترتيب پرېښووی، حال دا چې پر ده ترتيب فرض دی، هو! که د مازيګر لمونځ يې د مازيګر په آخري وخت کې کوی، او دا يې په ياد وه چې د ماپښين لمونځ يې نه دي کړی نو د مازيګر لمونځ يې صحيح دی، ځکه چې د وخت تنګېدل ترتيب ساقطوي.

و إذا فسدت الخ پاته سوه دا خبره چې (په اول صورت کې) د ترتيب په فوت کېدلو سره چې کله فرضيت باطل سو (يعني د مازيګر لمونځ باطل سو)، نو اصل لمونځ هم باطلېږي، که نه ؟(يعني اصل لمونځ چې څلور رکعته دي هغه نفل پاته کېږي او که نفل هم نه پاته کېږي بلکې بالکل فاسدېږي؟) نو په دې باره کې اختلاف دی، شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې اصل لمونځ نه باطلېږي، يعني د ترتيب د نيستوالي په وجه که څه هم فرض باطل سو، لېکن نفل پاته کېږي.

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٥٣٧.

لنډه دا چې د مازيګر لمونځ به د فرضو اداء نه شمارل کيږي بلکې د نفلو اداء به شمارل کيږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې د فرضيت په باطلېدلو سره اصل لمونځ هم باطليږي، يعني د مازيګر دا لمونځ نه فرض شمارل کيږي او نه نفل، ثمره د اختلاف په دې صورت کې ښکاره کيږي چې که يو سړي د مازيګر لمونځ په داسې حال کې شروع کړی چې وخت پراخه وو او د ماپښين قضائي لمونځ يې په ياد وو، بيا دې سړي په لمانځه کې قهقه وکړه، نو د شيخينو په نېز د ده اودس ماتيږي، ځکه چې د شيخينو په نېز اصل لمونځ پاته دی، او د لمانځه په حالت کې قهقهه خندا کول اودس ماتوي، نو ځکه د دوی په نېز اودس ماتيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز يې اودس نه ماتيږي، ځکه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز اصل لمونځ باطل سو، نو د ده په نېز دا قهقهه خندا د لمانځه په حالت کې نه ده، او له لمانځه څخه دباندې قهقهه خندا اودس نه ماتوي، نو ځکه په دې صورت کې قهقهه خندا اودس نه ماتوي.

د امام محمد دليل: په پورتنۍ مسئله کې د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې تحريمه د مازيګر د لمانځه لپاره منعقده سوې ده، او هر هغه شی چې د هغه لپاره تحريمه منعقده سي، کله چې هغه باطل سي نو تحريمه هم باطليږي، ځکه چې تحريمه د دې شي د حاصلولو ذريعه ده، نو کله چې مقصود باطل سو نو د هغه وسيله او ذريعه هم باطله سوه، او کله چې تحريمه باطله سوه نو اصل (مطلق) لمونځ هم باطل سو، او کله چې اصل لمونځ باطل سو نو نه فرض اداء کيږي او نه نفل.

د شيخينو دليل: دا دی چې تحريمه د مطلق (أصل) لمانځه لپاره نه ده منعقده سوې چې د دې په باطلوالي سره دې اصل لمونځ هم باطل سي، بلکې د تحريمې انعقاد په وصف فرضيت سره د لمانځه د اداء کولو لپاره سوی دی او دلته صرف وصف فرضيت باطل سوی دی، نو په دې سره پر اصل لمانځه هيڅ اثر نه لوېږي ځکه چې د وصف بطلان د اصل بطلان ته لازم نه دی، نو په ذکر سوې مسئله کې صرف د دې سړي فرض لمونځ باطليږي، نفل او تطوع به د ده په حق کې پاته وي.

صاحب د فتح القدير د دې مسئلې يو بل مثال داسې بيان کړی دی چې که پر يو سړي د قسم کفاره واجب وي، او د مسکينۍ (غريبتوب) په وجه دا سړی پر إطعام او کسوة باندې قدرت نه لري، او روژې شروع کړي، او له دوو، درو روژو څخه وروسته مالداره سي، نو اوس د ده لپاره په إطعام او کسوة سره کفار ورکول ضروري دي، لېکن کومې روژې چې يې نيولې دي هغه نه دي باطلې سوې، بلکې د هغو د کفارت وصف يعنې د کفارې لپاره يې اداء کېدل باطل سوه، او اصل روژې به يې نفل شمارل کيږي، همدارنګه په پورتنۍ مسئله کې به هم د لمونځ ګزاره د فرضيت وصف باطل وي، او اصل لمونځ به يې باطل نه وي، بلکې په نفل سره به بدليږي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دی يعنې اصل لمونځ فاسد نه دی بلکې نفل شمارل کيږي. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۲۰]

د مازيګر لمونځ د موقوف فساد په توګه فاسدېدل (او د دې مطلب)

ثُمَّ الْعَصْرُ يَفْسُدُ فَسَادًا مَوْقُوفًا بيا (د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز) د مازيګر لمونځ د موقوف فساد په توګه فاسديږي حَتَّى لَوْ صَلَّى سِتَّ صَلَوَاتٍ تر دې که يې شپږ لمونځونه وکړل وَلَمْ يُعِدِ الظُّهْرَ او د ماپښين لمونځ يې نه راوګرځوی اِنْقَلَبَ الْكُلُّ جَائِزًا نو ټوله لمونځونه جائز ګرځي وَهٰذَا عِنْدَ* أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او دا حکم د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز دی وَعِنْدَهُمَا يَفْسُدُ فَسَادًا بَاتًّا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د مازيګر لمونځ يقيني فاسديږي (نه د موقوف

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُمَاالله كذا في رد المحتار ج:۱، ص:۵۳۰. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۲۳]

فساد په توګه) لَا جَوَازَ لَهُ بِحَالٍ او په هیڅ صورت کي هم نه جائز کیږي وَقَدْ عُرِفَ ذٰلِكَ فِي مَوْضِعِهِ او دا خبره پر خپل ځای معلومه سوې ده.

اللغات: ﴿موقوف﴾ پر یو بل شي ولاړ، پر یو بل شي منحصر، ﴿بتاتا﴾ یقیني، حتمي، پوخ.

تشریح: په مخکني عبارت کي ویل سوي وو چي که یو څوک د مازیګر لمونځ کوی، او دا یې په یاد وه چي د ماپښین لمونځ یې تر اوسه نه دي کړی، نو د ترتیب د فوت کېدلو په وجه د ده د مازیګر لمونځ فاسد دی، لیکن په دې کي اختلاف دی چي د مازیګر دا لمونځ په موقوف فساد سره فاسد دی او که په حتمي او یقیني فساد سره فاسد دی؟ نو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز دا لمونځ په فساد موقوف سره فاسد دی، تر دې که شپږ لمونځونه وکړي، یعني له دغه مازیګره څخه تر را روان مازیګره پوري، او د ماپښین قضائي لمونځ نه را وګرځوي، نو دا ټوله لمونځونه یې جائز دي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي د مازیګر او د را روانو پنځو لمونځونو د فساد علت د ترتیب واجب کېدل دي، یعني د مازیګر، ماښام، ماخوستن، سهار او ماپښین لمونځونه یې ځکه فاسد دي چي ده تر اوسه د تیري ورځي د ماپښین لمونځ نه دي را ګرځولی، حال دا چي د ترتیب تقاضا دا وه چي د تیري ورځي د ماپښین لمونځ یې راګرځولی وای، لیکن کله چي ده د را رواني ورځي د مازیګر لمونځ هم وکړی نو اوس ګویا د تیري ورځي د ماپښین له لمانځه څخه شپږ لمونځونه فاسد سول. او شپږ لمونځونه کثیر (ډېر) دي، او مخکي ذکر سول چي د قضائي لمونځونو په ډېرښت سره ترتیب ساقطیږي، نو کله چي دې سړي د را رواني ورځي د مازیګر لمونځ اداء کړی نو د قضائي لمونځونو د ډېرښت په وجه سره ترتیب ساقط سو، او کله چي ترتیب ساقط سو نو ټوله لمونځونه یې جائز سوه.

صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي د مازیګر لمونځ حتماً او قطعاً فاسدیږي (یعني فساد یې حتمي او یقیني دی)، یعني په هیڅ حال کي هم جائز نه دی، د دې صورت دا دی چي مثلاً یو سړي د ماپښین لمونځ نه وکړی، بیا د ماپښین تر لمانځه وروسته پنځه لمونځونه په خپل خپل وخت کي وکړه نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز پنځه سره فاسد دي.

د صاحبینو دلیل: دا دی چي د ترتیب د ساقطېدلو علت د قضائي لمونځونو کثرت (ډېرښت) دی او قاعده دا ده چي حکم تر علت وروسته وي، نو د ترتیب د ساقطېدلو حکم به هغه وخت وي چي کله قضائي لمونځونه کثیر (شپږ) سي، نو که د قضائي لمانځه یعني د ماپښین له لمانځه څخه بغیر پنځه لمونځونه په خپل خپل وخت کي وکړي نو پنځه سره لمونځونه به یې په قطعي او یقیني توګه سره فاسد وي، ځکه چي د ترتیب د ساقطېدلو علت نه سو پیدا.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، قال الاستاذ المفتی غلام قادر النعمانی: ثبت ترجیح قول الامام رَحِمَهُ الله علی ترتیب أصول الإفتاء التی ذکر العلامة ابن عابدین رَحِمَهُ الله في "شرح عقود رسم المفتی" الاستحسان مقدم علی القیاس، وقول الامام رَحِمَهُ الله هو الاستحسان. (و قول الصاحبین رَحِمَهُمَا الله القیاس). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۲۳]

له وترو څخه بغیر د سهار د لمانځه حکم

وَلَوْ صَلَّى الْفَجْرَ او که یو سړي د سهار لمونځ وکړی وَهُوَ ذَاكِرٌ أَنَّهُ لَمْ يُوتِرْ په داسي حال کي چي د هغه په یاد وه چي وتر یې نه دي کړي فَهِيَ فَاسِدَةٌ عِنْدَ* أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز د هغه د سهار لمونځ فاسد سو

* القول الراجح: قول أبی حنیفة رَحِمَهُ الله کذا فی رد المحتار ج:۱، ص:۵۳۶. [القول الراجح، ج:۱، ص: ۱۲۴]

خِلَافًا لَهُمَا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی وَهَذَا بِنَاءٌ عَلَى او دا حکم پر دي اصل مبني دی أَنَّ الْوِتْرَ وَاجِبَةٌ عِنْدَهُ سُنَّةٌ عِنْدَهُمَا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وتر واجب دي (او) د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز سنت دي وَلَا تَرْتِيبَ فِيمَا بَيْنَ الْفَرَائِضِ وَالسُّنَنِ او د فرضو او سنتو په مينځ کي ترتيب واجب نه دی وَعَلَى هَذَا إِذَا صَلَّى الْعِشَاءَ لو هم پر دې بناء که يو سړي د ماخوستن لمونځ وکړی ثُمَّ تَوَضَّأَ وَصَلَّى السُّنَّةَ وَالْوِتْرَ بيا يې اودس وکړی او سنت او وتر يې وکړل ثُمَّ تَبَيَّنَ أَنَّهُ صَلَّى الْعِشَاءَ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ بيا ورته معلومه سوه چي د ماخوستن لمونځ يې بې اودسه کړی وو فَعِنْدَهُ• يُعِيدُ الْعِشَاءَ وَالسُّنَنَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به د ماخوستن فرض او سنت راګرځوي دُونَ الْوِتْرِ وتر به نه راګرځوي لِأَنَّ الْوِتْرَ فَرْضٌ عَلَى حِدَةٍ عِنْدَهُ ځکه چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وتر جلا (او مستقل) فرض دي وَعِنْدَهُمَا يُعِيدُ الْوِتْرَ أَيْضًا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به وتر هم راګرځوي لِكَوْنِهِ تَبَعًا لِلْعِشَاءِ ځکه چي وتر د ماخوستن تابع دي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د سهار لمونځ کوي، حال دا چي د وترو لمونځ يې تر اوسه کړی نه وو، او د وترو لمونځ يې په ياد هم وو چي تر اوسه يې نه کړی دي، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د سهار لمونځ فاسد دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز فاسد نه دی، د امام صاحب او صاحبينو په مينځ کي دا اختلاف پر دې خبره مبني دي چي د امام صاحب په نيز د وترو لمونځ واجب دی، او د صاحبينو په نيز سنت دی، او دا خبره تسليم سوې ده چي ترتيب فقط د فرضي لمونځونو په مينځ کي واجب دی، او واجب لمونځ هم د فرضو په درجه کي دی، لېکن د سنتو او نفلو په مينځ کي واجب نه دی، نو څرنګه چي د امام صاحب په نيز وتر واجب دي، نو ځکه به د وترو او د سهار په لمانځه کي ترتيب واجب وي، او څرنګه چي دې سړي د ترتيب رعايت کړی نه دي، نو ځکه به يې د سهار لمونځ فاسد وي، او د صاحبينو په نيز وتر د ماخوستن له لمانځه څخه دي (او سنت دي) نو ځکه به د سهار د لمانځه او د وترو په مينځ کي ترتيب واجب نه وي.

وعلى هذا الخ او دا مسئله هم پر دغه اصول مبني ده چي د امام صاحب په نيز وتر واجب دي او د صاحبينو په نيز سنت دي. د مسئلې حاصل دا دی چي که يو سړي د ماخوستن لمونځ وکړی بيا يې اودس وکړی، او تر اودس کولو وروسته يې سنت او وتر هم اداء کړه او بيا ورته معلومه سوه چي هغه د ماخوستن لمونځ بې اودسه کړی دی، نو اوس د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز پر دې سړي د ماخوستن د لمانځه او سنتو راګرځول واجب دي، او د وترو راګرځول پر واجب نه دي، ځکه که څه هم د سنتو په بول وتر هم د ماخوستن د لمانځه تابع دي، لېکن څرنګه چي وتر ځانته او مستقل واجب دي، نو ځکه سنت خو به راګرځول کېږي، لېکن وتر به نه راګرځول کېږي، د دې په خلاف د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز چي څرنګه د سنتو راګرځول ضروري دي، همدارنګه د وترو راګرځول هم ضروري دي، ځکه څرنګه چي د ماخوستن سنت د ماخوستن د لمانځه تابع دي، همدارنګه د وترو لمونځ هم د دوی په نيز سنت دی، او د ماخوستن د لمانځه تابع دی، نو څرنګه چي د سنتو راګرځول ضروري دي، همدارنګه د وترو راګرځول هم ضروري دي.

راجح قول: د پورتني عبارت په دواړو مسئلو کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، د اولي مسئلې په باره کي مفتي غلام قادر نعماني وايي: والمتون على قول الامام رَحِمَهُ الله، كما في الهداية والكنز والوقاية وغيرها (القول الراجح ج:۱، ص:۱۲۴)، او په آخر کي وايي: الراجح فى كلتا المسئلتين قول الامام لأن الوتر واجب على الصحيح عند الاحناف.... (القول الراجح، ج:۱، ص:۱۲۴) والله أعلم بالصواب

• القول الراجح: قول ابى حنيفة رَحِمَهُ الله أى لا يعيد الوتر، كذا فى رد المحتار ج:۱، ص:۵۳۸. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۲۴]

بَابُ سُجُوْدِ السَّهْوِ

(دا) باب د سهوي د سجدې (په بيان کي) دی

تشريح: تر دې مخکي صاحب د کتاب د اداء او قضاء احکام بيان کړل، اوس له دې ځايه د هغه شي احکام او مسائل بيانوي چي هغه په اداء يا قضاء کي د واقع کېدونکي نقصان او خطاء تلافي کوي، يعني د سجدهٔ سهو احکام او مسائل بيانوي؛ او څرنګه چي په لمانځه کي د سهوي په وجه دوې سجدې واجبيږي، نو په عنوان کي چي کوم عبارت ذکر سو، هغه د إضافة المسبب إلى السبب له قبيلې څخه دی.

د دوو سجدو حکمت: حکيم الامت اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د سهوي د دوو سجدو حکمت دا دی چي په اوله سجده کي نفس ته په دې خبره تنبيه ورکول دي چي زه له دې خاوري څخه پيدا سوی يم او دوهمه سجده پر دې خبره دلالت کوي چي دغه خاورو ته به بيرته ورځم.

د سجده سهوي د وجوب وخت او د اداء کولو طريقه

يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ فِي الزِّيَادَةِ وَالنُّقْصَانِ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ السَّلَامِ لمونځ کونکي به (په لمانځه کي د سهوي په وجه) د زياتوب او کمښت په صورت کي تر سلام وروسته د سهوي لپاره دوې سجدې کوي ثُمَّ يَتَشَهَّدُ ثُمَّ يُسَلِّمُ بيا به تشهد وايي بيا به سلام ګرځوي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ يَسْجُدُ قَبْلَ السَّلَامِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز به تر سلام مخکي سجده کوي لِمَا رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● سَجَدَ لِلسَّهْوِ قَبْلَ السَّلَامِ چي نبي کريم ﷺ تر سلام مخکي سجدهٔ سهو وکړه وَلَنَا قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● او زموږ دليل د نبي ﷺ (دا) قول دی لِكُلِّ سَهْوٍ سَجْدَتَانِ بَعْدَ السَّلَامِ د هري سهوي لپاره تر سلام وروسته دوې سجدې دي وَرُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ او روايت سوی دی چي نبي ﷺ تر سلام وروسته د سهوي دوې سجدې وکړې فَتَعَارَضَتْ رِوَايَتَا فِعْلِهِ نو د نبي کريم ﷺ د فعل دوه روايتونه سره متعارض سول فَبَقِيَ التَّمَسُّكُ بِقَوْلِهِ سَالِمًا او د نبي کريم ﷺ په قول سره دليل نيول صحيح (او بې له معارضه) پاته سوه وَلِأَنَّ سُجُوْدَ السَّهْوِ مِمَّا لَا يَتَكَرَّرُ او ځکه چي سجدهٔ سهو له هغه شيانو څخه ده چي نه مکرر کيږي (يعني بار بار نه کيږي) فَيُؤَخَّرُ عَنِ السَّلَامِ نو ځکه به تر سلام وروسته کيږي حَتّٰى لَوْ سَهَى عَنِ السَّلَامِ تر دې که سلام (هم) ځني هېر سو يَنْجَبِرُ بِهِ نو په دې سجدهٔ سهو سره به د هغه تلافي کوي وَهٰذَا

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب السهو، باب ماجاء في السهو إذا قام من ركعتي الفريضة، حديث: ١٢٢٤.

● تخريج: أخرجه في كتاب الصلوٰة، باب من نسي أن يتشهد، حديث رقم: ١٠٣٨

● تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الصلوٰة، باب من نسي أن يتشهد، حديث رقم: ١٠٣٦.

الْخِلَافُ فِي الْأَوْلَوِيَّةِ او دا اختلاف په غوره والي کي دی وَيَأْتِي بِتَسْلِيمَتَيْنِ او دوه سلامه به ګرځوي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح قول دی صَرْفًا لِلسَّلَامِ الْمَذْكُورِ إِلَى مَا هُوَ الْمَعْهُودُ په حديث کي د ذکر سوي سلام د ګرځولو لپاره د معهود (سلام) و طرف ته وَيَأْتِي بِالصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَالدُّعَاءِ فِي قَعْدَةِ السَّهْوِ او د سجدۀ سهوي په ناسته(قعده) کي به پر نبي ﷺ درود وايي او دعاء به (هم) کوي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ الدُّعَاءَ مَوْضِعُهُ آخِرُ الصَّلَاةِ ځکه چي د دعاء ځای د لمانځه آخري حصه ده.

اللغات: ﴿سَهْو﴾ هېره، تېروتنه، ناپامي، خطا، ﴿تَعَارَضَتْ﴾ د تفاعل د باب ماضي صيغه ده: يو تر بله مخالف کېدل، معارض کېدل ﴿تَمَسُّك﴾ د تفعّل مصدر دی: دليل نيول، استدلال کول، منګولي لګول، ﴿تَسَاقُط﴾ له تعارض څخه خوندي، ﴿يَنْجَبِرُ﴾ د انفعال د باب مضارع صيغه ده: تلافي او جبران کېدل، عوض کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی په لمانځه کي يو شی په هېره (سهوه) سره کم کړي يا يې زيات کړي، نو پر دې سړي لازم دي چي هغه د دې کمي يا زياتوب لپاره د سهوي دوې سجدې وکړي، په دې دواړو سجدو سره به د کمي يا زياتوب مسئله حل سي، اوس پاته سوه دا مسئله چي د سهوي سجدې به تر سلام وروسته وي او که مخکي؟ نو په دې لړ کي زموږ او د شوافعو اختلاف دی، لېکن په ياد لرئ چي دا اختلاف په جواز اوغير جواز کي نه دی، بلکي په اولیٰ او غير اولیٰ (يعني په افضل والي) کي دی، لکه څرنګه چي په خپله صاحب د هدايې د دې څرګندونه کړې ده، نو زموږ په نېز سجدۀ سهو تر سلام وروسته کول زيات اولیٰ او افضله دي، او د شوافعو په نېز تر سلام مخکي کول غوره او افضله دی، او په دې سلسله کي دواړه قسمه روايات سته.

د امام شافعي دليل: شوافع په دې روايت سره دليل نيسي چي: أنه سجد للسهو قبل السلام. (يعني نبي ﷺ سجدۀ سهو تر سلام مخکي وکړه)، نو له دې څخه معلومېږي چي سجدۀ سهو به تر سلام مخکي وي.

د امام ابو حنيفه دليل: د نبي ﷺ دا قول دی: لكل سهو سجدتان بعد السلام (ابو داؤد ابن ماجه)، دويم حديث فعلي دی يعني: سجد سجدتي السهو بعد السلام. (يعني نبي ﷺ تر سلام وروسته دوې سجدۀ سهوي وکړې). صاحب د هدايې وايي چي دوه فعلي حديثونه سره متعارض سول، نو دا دواړه پرېږدو، د نبي ﷺ پر قول عمل کوو، او د نبي ﷺ قول دا دی چي د سهوي لپاره دوې سجدې تر سلام وروسته دي.

د امام ابو حنيفه عقلي دليل: دا دی چي په اجماع سره سجدۀ سهو نه تکرارېږي، او تر سلام مخکي د سجدۀ سهو د تکرار امکان سته، په دې توګه چي که تر سلام مخکي سجده وکړي، بيا چي کله د سلام ګرځولو وخت راسي نو ده ته شک سي چي درې رکعته يې کړي دي او که څلور، په دغه سوچ کي سلام ځني وځنډېږي (يعني د سوچ په وجه يې په سلام کي تأخير راسي) بيا پۀ ياد ورسي چي څلور رکعته يې کړي دي نو اوس د سلام د ځنډولو په وجه پر ده دويم وار سجدۀ سهو واجب ده؛ نو اوس که دا سړی دويمه سجدۀ سهو نه وکړي، نو په لمانځه کي يې يو داسي نقص پاته سو چي د هغه تلافي نه وسوه، او که دويمه سجدۀ سهو وکړي نو سجدۀ سهو به مکرره سي، حال دا چي دا بالاجماع غير مشروع دي، نو ځکه مناسب دا ده چي سجدۀ سهو تر سلام وروسته وسي چي د ټولو خطاګانو (او سهوو) تلافي ممکنه وي.

ويأتي بتسليمتين الخ د دې حاصل دا دی چي کله دا خبره ثابته سوه چي د احنافو په نيز به سجدهٔ سهو تر سلام وروسته اداء کيږي، نو اوس دا مسئله هم واورئ! چي د صحيح قول مطابق سجدهٔ سهو به تر دوو سلامونو وروسته اداء کيږي، ځکه چيري چي هم په حديث او نورو کي د سلام يادونه سوې ده، هلته له سلام څخه دوه سلامونه مراد دي، نو دلته به هم له دوو سلامو څخه وروسته سجدهٔ سهو اداء کيږي، صاحب د کتاب په هو الصحيح سره د فخر الاسلام بزدوي او علامه کرخي رَحِمَهُمَا الله له هغه قول څخه احتراز کړی دی چي دوی وايي صرف تر يوه سلام وروسته به سجدهٔ سهو کوي، او دا دليل ذکر کوي چي په دوو سلامونو کي يو سلام د قوم لپاره وي او دويم سلام د لمانځه د ختمولو لپاره وي، او په سجدهٔ سهو سره خو د لمانځه ختمول مقصود نه دي، نو ځکه به پر يوه سلام اکتفاء کوي، خو زيات صحيح اول قول دی.

ويأتي بالصلاة الخ د دې حاصل دا دی چي د صحيح قول مطابق د سجدهٔ سهوي په ناسته کي به درود شريف او دعاء هم ويل کيږي، ځکه چي د دعاء ځای د لمانځه آخري حصه ده، او د سجدهٔ سهوي ناسته (قعده) هم د لمانځه آخري حصه ده، نو درود او دعاء به دواړه پکښي ويل کيږي، د دې په خلاف د امام طحاوي رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د سجدهٔ سهوي په ناسته (قعده) کي به هم درود لو دعاء ويل کيږي او د لمانځه په ناسته (قعده) کي به هم ويل کيږي، (د لمانځه د ناستي څخه مراد هغه ناسته ده کوم چي تر سجدهٔ سهوي مخکي وي، د صحيح قول مطابق به په دې ناسته کي صرف تشهد ويل کيږي او بيا به سجدهٔ سهو کيږي او تر سجدهٔ سهوي وروسته چي کومه ناسته وي په هغه کي به درود او دعاء ويل کيږي، دا مسلک د امام محمد رَحِمَهُ الله دی او همدا صحيح دی، او همدغه علامه فخر الاسلام رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی).

هغه سببونه چي د هغو په وجه سجده سهو واجبيږي

قَالَ: فرمايي وَيَلْزَمُهُ السَّهْوُ او په لمونځ کزاره باندي سجدهٔ سهو (هغه وخت) لازميږي إِذَا زَادَ فِي صَلَاتِهِ فِعْلًا مِنْ جِنْسِهَا لَيْسَ مِنْهَا چي کله په لمانځه کي يو داسي فعل زيات کړي چي هغه د لمانځه له جنس څخه وي (لېکن) د لمانځه جزء نه وي وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ سَجْدَةَ السَّهْوِ وَاجِبَةٌ او دا حکم پر دې خبره دلالت کوي چي سجدهٔ سهو واجب ده هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده لِأَنَّهَا تَجِبُ لِجَبْرِ نَقْصٍ ځکه چي سجدهٔ سهو د هر هغه نقصان د تلافي کولو لپاره واجب ده تَمَكَّنَ فِي الْعِبَادَةِ کوم نقصان چي په لمانځه کي ځای ونيسي فَتَكُونُ وَاجِبَةً نو دا به واجب وي كَالدِّمَاءِ فِي الْحَجِّ لکه په حج کي قربانياني وَإِذَا كَانَ وَاجِبًا او کله چي دا سجدهٔ سهو واجب سوه لَا يَجِبُ إِلَّا بِتَرْكِ وَاجِبٍ نو نه به واجبيږي مګر د واجبو په پرېښوولو سره أَوْ تَأْخِيرِهِ يا د واجبو په ځنډلو سره أَوْ تَأْخِيرِ رُكْنٍ سَاهِيًا يا په هېره د يو فرض په ځنډلو سره هَذَا هُوَ الْأَصْلُ قاعده همدا ده وَإِنَّمَا وَجَبَ بِالزِّيَادَةِ او د زياتوب په سبب سجدهٔ سجوه په دې وجه واجبيږي لِأَنَّهَا لَا تَعْرَى عَنْ تَأْخِيرِ رُكْنٍ أَوْ تَرْكِ وَاجِبٍ ځکه چي زياتوب د يو رکن له ځنډلو يا د يو واجب له پرېښوولو څخه خالي نه وي.

اللغات: ﴿المِقْدَارُ مِنْ جِنْسِهَا لَيْسَ مِنْهَا﴾ داسې کار چې د لمانځه له جنس څخه خو وي لېکن د لمانځه جزء نه وي، ﴿جَابِر﴾ تلافي، عوض، جبران. ﴿دِمَاءِ﴾ جمع د دَمْ ده: هغه قربانيانې چې په حج کې دجنايت په وجه واجبيږي. ﴿لَا تَعْرَى﴾ د فتح د باب مضارع منفي صيغه ده: خالي کېدل.

تشريح: په مخکني عبارت کې امام قدوري رَحِمَهُ اللّٰه بيان کړه چې سجدهٔ سهو د کمۍ يا زياتوب په وجه سره واجبيږي، خو دا ذکر نه سوه چې کوم زياتوب او کمي څني مراد دي، نو له دې ځايه د هغه تفصيل ذکر کيږي، امام قدوري رَحِمَهُ اللّٰه فرمايي چې سجدهٔ سهو د هر هغه فعل په زياتولو سره لازميږي چې هغه فعل خو د لمانځه له جنس څخه وي لېکن د لمانځه جزء نه وي، د مثال په توګه د يوه رکعت لپاره دوې رکوعې وکړي يا درې سجدې وکړي، نو يوه رکوع او يوه سجده کوم چې زياتې سوې دي، هغه که څه هم د لمانځه له جنس څخه دي خو د لمانځه جزء نه دي، نو ځکه به په دې صورت کې سجدهٔ سهو واجبيږي.

ويلزمه السهو الخ صاحب د هدايې وايي چې د ماتن دا قول ويلزمه الخ د سجدهٔ سهوي پر واجبېدلو دلالت کوي. او د وجوب قول يې صحيح دی، همدغه مسلک د امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا اللّٰه هم دی، لېکن د بعضې حنفي علماؤ په نېز سجدهٔ سهو سنت ده، لکه امام ابو الحسن کرخي رَحِمَهُ اللّٰه.

دليل: د صحيح قول دليل دا دی چې سجدهٔ سهو د هغه نقصان د پوره کولو لپاره واجبيږي، کوم چې په عبادت کې پيدا سوی وي، نو که د سجدهٔ سهوي په ذريعه نقصان پوره نه کړی سي، نو د لمانځه راګرځول به واجب وي چې نقصان پوره سي، نو کله چې د نقصان په وجه د لمانځه راګرځول واجب دي، نو سجدهٔ سهو به هم واجب وي، ځکه چې په دې سره هم نقصان پوره کيږي، لکه د لمانځه په راګرځولو سره چې نقصان پوره کيږي، او د سجدهٔ سهوي مثال داسې لکه په حج کې د يو جنايت لپاره قرباني کول، يعنې که د احرام په حالت کې جنايت وسي نو په هغه سره په حج کې نقصان پيدا کيږي، او د دې نقصان تلافي په قربانۍ سره کيږي، او قرباني واجب ده، نو څرنګه چې په حج کې د جنايت لپاره قرباني واجب ده همدغه رنګه په لمانځه کې د سهوي لپاره سجده سهو واجب ده.

وإذان كان واجبا الخ فرمايي: څرنګه چې سجدهٔ سهو واجب ده، نو دا هغه وخت واجبيږي کله چې په لمانځه کې په سهوه سره يو واجب پاته سي يا واجب وځنډول سي، يا يو رکن وځنډول سي، د واجب د پاته کېدلو مثال اوله نلسته ده، يا د اخترونو تکبيرات دي (لېکن په اخترونو کې به د ډېرې ګڼې ګوڼې [ارش] په وجه امام سجدهٔ سهو نه کوي). د واجب د ځنډولو مثال لکه د پنځم رکعت لپاره ولاړېدل، ځکه چې په دې سره سلام وځنډېدی، او سلام واجب دی. او د رکن د ځنډولو مثال لکه په اوله ناسته کې تر تشهد وروسته درود ويل، نو د دريم رکعت ولاړه کوم چې رکن او فرض ده وځنډېده؛ لنډه دا چې د سجدهٔ سهو په واجب کېدلو کې اصل دا دی چې سجدهٔ سهو هغه وخت واجبيږي چې سهواً يو واجب پرېښول سي يا يو واجب يا رکن وځنډول سي.

وإنما وجبت الزيادة الخ له دې ځايه د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا دی چې تاسو وويل چې سجدهٔ سهو د واجب په پرېښوولو سره يا د واجب او رکن په ځنډولو سره واجبيږي، نو د زياتوب په صورت کې پکار دا دي چې سجدهٔ سهو واجب نه کړی سي.

جواب: دا دی چې د زياتوب په صورت کې هم د يو رکن ځنډول يا د يو واجب پرېښوول راځي، نو که څوک درې سجدې وکړي نو په دريمه سجده سره ولاړه (قيامه) "کوم چې رکن او فرض ده" ځنډيږي، د واجب پرېښوولو مثال

لکه په آخره ناسته (قعده) کې چې په هېره د پنځم رکعت لپاره ولاړ سي، او د پنځم رکعت سجده هم وکړي، نو حکم دا دی چې د دې سره دې شپږم رکعت یو ځای کړي، د دې لپاره چې څلور رکعته فرض سي او دوه رکعته نفل شمار سي، تر هغه وروسته دې سلام وګرځوي، نو په دې صورت کې هم تر څلورم رکعت وروسته سلام کوم چې واجب دی پرېښودل سو، نو ثابته سوه چې زیاتوب هم دیو رکن د تأخیر او دیو واجب د پرېښوولو سبب جوړیږي.

د سنت په پرېښوولو سره د سجده سهوي حکم (او د سنت صحیح مطلب)

قَالَ: فرمایي وَيَلْزَمُهُ او پر لمونځ ګزاره (هغه وخت هم) سجدهٔ سهو واجبیږي إِذَا تَرَكَ فِعْلًا مَسْنُونًا چې کله هغه (په لمانځه کې) یو سنت فعل پرېږدي كَأَنَّهُ أَرَادَ بِهِ فِعْلًا وَاجِبًا ګواکي له سنت فعل څخه د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد واجب فعل دی إِلَّا أَنَّهُ أَرَادَ بِتَسْمِيَتِهِ سُنَّةً أَنَّ وُجُوبَهَا بِالسُّنَّةِ خو واجب ته د سنت په ویلو سره د امام قدوري رَحِمَهُ الله اراده دا ده چې د واجب شي وجوب په حدیث سره سوی دی.

اللغات: ﴿تَسْمِيَة﴾ د تفعیل مصدر دی: نوم ایښوول، نوم ورکول. ﴿بِالسُّنَّةِ﴾ له سنت څخه مراد دلته حدیث دی.

تشریح: مسئله: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمایي چې که لمونځ ګزاره یو سنت فعل پرېښووی، نو سجدهٔ سهو پر واجب ده، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په متن کې له سنت فعل څخه مراد واجب دی؛ ځکه چې د سنت فعل په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو نه واجبیږي، بلکې د واجب په پرېښوولو سره سجده واجبیږي، پاتې سوه دا خبره چې په متن کې فعلاً مسنونا ولې ویل سوي دي؟

جواب: دا دی چې د دې خبرې د ښوولو لپاره چې واجب هم په سنت یعني په حدیث سره ثابت دي.

د واجب په پرېښوولو سره د سجده سهوي حکم

قَالَ: فرمایي أَوْ تَرَكَ قِرَاءَةَ الْفَاتِحَةِ یا (که) لمونځ ګزاره (په هېره) سورتِ فاتحه ویل پرېښوول (نو سجدهٔ سهو واجبیږي) لِأَنَّهَا وَاجِبَةٌ ځکه چې (په لمانځه کې) سورتِ فاتحه واجب ده أَوِ الْقُنُوتَ یا یې دعائي قنوت پرېښوول أَوِ التَّشَهُّدَ أَوْ تَكْبِيرَاتِ الْعِيدَيْنِ یا یې تشهد او د اخترونو تکبیرات پرېښوول (نو په دې ټولو صورتونو کې سجدهٔ سهو پر واجب ده) لِأَنَّهَا وَاجِبَاتٌ ځکه چې دا ټوله شیان واجب دي فَإِنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وَاظَبَ عَلَيْهَا مِنْ غَيْرِ تَرْكِهَا مَرَّةً ځکه نبي ﷺ بغیر له یوه وار پرېښوولو څخه پر دې همېشتوب کړی دی (یعني نبي ﷺ دا شیان یو وار هم نه دي پرې ایښي) وَهِيَ أَمَارَةُ الْوُجُوبِ او دا د واجب کېدلو نښه (علامه) ده وَلِأَنَّهَا تُضَافُ إِلَى جَمِيعِ الصَّلَاةِ او په دې وجه (هم) چې دا شیان د ټوله لمانځه و طرف ته منسوبیږي فَدَلَّ عَلَى أَنَّهَا مِنْ خَصَائِصِهَا نو دا پر دې خبره دلالت کوي چې دا شیان د لمانځه له خصوصیاتو (ځانګړتیاوو) څخه دي وَذَٰلِكَ بِالْوُجُوبِ او دا خصوصیت کېدل به د واجب کېدلو په وجه وي ثُمَّ ذِكْرُ التَّشَهُّدِ يَحْتَمِلُ الْقَعْدَةَ الْأُولَى وَالثَّانِيَةَ بیا د تشهد (مطلقاً) ذکر کول د اولې ناستي (قعدهٔ اولی) او دویمې ناستي (قعدهٔ ثانیه) دواړو احتمال لري وَالْقِرَاءَةَ فِيهِمَا او په دې دواړو ناستو کې د تشهد ویلو (احتمال لري) وَكُلُّ

ذٰلِكَ وَاجِبٌ او له دې شیانو څخه هر شی واجب دی وَفِيْهَا سَجْدَةُ السَّهْوِ نو په دې شیانو کې به سجدهٔ سهو هم واجب وي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا قول صحیح دی.

اللغات: ﴿واظبه﴾ همېشتوب او پابندي کول. ﴿أمارة﴾ نښه، علامه. ﴿خصائص﴾ جمع ده، واحد یې خاصّهٔ دی، خصوصیات، ځانګړتیاوې.

تشریح: په دې عبارت کې د هغو شیانو تفصیل ذکر کېږي چې د هغو په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبېږي، فرمایي: چې په لمانځه کې د سورت فاتحه پرېښوول هم سجدهٔ سهو واجبوي، ځکه چې د سورت فاتحه ویل واجب دي، خو دا یاد ساتل پکار دي چې د فرضي لمونځ په اولو دوو رکعت کې د سورت فاتحه په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبېږي، نه په آخري دوو رکعتو کې، ځکه چې په آخري دوو رکعتو کې سورت فاتحه ویل واجب نه دي، بلکې مستحب دي، لېکن له امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله څخه د حسن بن زیاد روایت دا دی چې په آخري دوو رکعتو کې هم د فاتحې په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبېږي؛ او تشهد پرېښوول، او په وترو کې دعائي قنوت او داخترونو تکبیرونه پرېښوول هم سجدهٔ سهو واجبوي.

دلیل: دا دی چې دا درې سره شیان واجب دي، او د واجب په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبېږي، نو د دې په پرېښوولو سره به هم سجدهٔ سهو واجبېږي، او د دې شیانو د واجب کېدلو دلیل دا دی چې نبي کریم ﷺ پر دې شیانو همېشتوب کړی دی، او هیڅ کله یې هم پرې اېښي نه دي، او پر یو شي بغیر له پرېښوولو څخه د نبي ﷺ همېشتوب کول د هغه شي د وجوب دلیل دی.

دویم عقلي دلیل: دا دی چې دا شیان د ټوله لمانځه و طرف ته منسوبېږي، یعني خلک وایي: د وترو دعائي قنوت، نو دعائي قنوت یې د ټوله لمانځه و طرف ته منسوب کړه، همدارنګه وایي: د اخترونو تکبیرونه، نو تکبیرونه یې د ټوله لمانځه و طرف ته منسوب کړه، او وایي: د لمانځه تشهد، نو د تشهد نسبت یې د ټوله لمانځه وطرف ته وکړی؛ او د دې شیانو د ټوله لمانځه و طرف ته منسوبېدل د دې خبرې دلیل دی چې دا شیان د لمانځه له خصوصیاتو څخه دي، او کوم شیان چې د لمانځه له خصوصیاتو څخه وي هغه واجب دي، نو ځکه به دا شیان هم واجب وي.

ثم ذکر التشهد الخ د دې حاصل دا دی چې امام قدوري رَحِمَهُ الله په متن کې د "التشهد" لفظ مطلق ذکر کړی دی، نو په دې کې اوله ناسته او آخره ناسته او په دواړو کې تشهد ویل یعني دا ټوله پکښې شامل او داخل دي، او د دې په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبېږي، او دا صحیح قول دی، صاحب د هدایې په هو الصحیح سره له هغه قول څخه احتراز کړی دی چې په هغه کې د اولې ناستې تشهد ته واجب نه بلکې سنت ویل سوي دي.

په جهري لمانځه کې سرّي قرائت کول یا په سرّي کې جهري قرائت کول

وَلَوْجَهَرَ الْإِمَامُ او که امام په هغه لمونځونو کې جهري (په زوره) قرائت وکړی فِيْمَا يُخَافَتُ چې په هغو کې سرّي (په پټه) قرائت کېږي أَوْ خَافَتَ یا یې په هغه لمونځونو کې سرّي قرائت وکړی فِيْمَا يُجْهَرُ چې په هغو کې جهري قرائت کېږي تَلْزَمُهُ سَجْدَتَا السَّهْوِ نو پر هغه د سهوې دوې سجدې لازمېږي لِأَنَّ الْجَهْرَ فِيْ مَوْضِعِهٖ وَالْمُخَافَتَةَ فِيْ مَوْضِعِهَا مِنَ الْوَاجِبَاتِ ځکه چې جهر پر خپل ځای او اخفاء پر خپل ځای له واجباتو څخه دي وَاخْتَلَفَتِ الرِّوَايَةُ فِي الْمِقْدَارِ او

د (آيت) د مقدار په باره کې په روايت کې اختلاف دی وَالْأَصَحُّ قَدْرُ مَا تَجُوزُ بِهِ الصَّلَاةُ فِي الْفَصْلَيْنِ او صحيح روايت دا دی چې (د جهر او د اخفاء) په دواړو صورتونو کې چې په څومره مقدار سره لمونځ جائز کيږي (نو په دواړو صورتونو کې په هغومره مقداره سره سجدهٔ سهو واجبيږي) لِأَنَّ الْيَسِيرَ مِنَ الْجَهْرِ وَالْإِخْفَاءِ لَا يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ ځکه چې د لږ غونډي جهر او اخفاء څخه ځان ساتل ممکن نه دي وَعَنِ الْكَثِيرِ مُمْكِنٌ او له ډېر (جهر او اخفاء) څخه ځان ساتل ممکن دي وَمَا يَصِحُّ بِهِ الصَّلَاةُ كَثِيرٌ او په څومره مقدار چې لمونځ صحيح کيږي هغه کثير (ډېر) دی غَيْرَ أَنَّ ذَلِكَ عِنْدَهُ آيَةٌ وَاحِدَةٌ خو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز دا مقدار يو آيت دی وَعِنْدَهُمَا ثَلَاثُ آيَاتٍ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز درې آيته دي وَهَذَا فِي حَقِّ الْإِمَامِ دُونَ الْمُنْفَرِدِ او په دې دواړو صورتونو کې د سجدهٔ سهوې واجبېدل د امام په حق کې دي، نه د منفرد په حق کې لِأَنَّ الْجَهْرَ وَالْمُخَافَتَةَ مِنْ خَصَائِصِ الْجَمَاعَةِ ځکه چې جهر او اخفاء د جماعت له ځانګړتياوو (خصوصياتو) څخه دي.

اللغات: ﴿جهر﴾ د فتح د باب ماضي ده: په زوره ويل، ﴿خافت﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: په کراره ويل، ﴿المنفرد﴾ د انفعال اسم فاعل دی: يوازې لمونځ کونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نېز د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کې اخفاء يعني سرّي قرائت کول او د سهار، ماښام او ماخوستن په لمونځونو کې جهري يعني په زوره قرائت کول واجب دي، اوس که يو سړی د دې په خلاف يعني په ماپښين يا مازيګر کې خو جهري قرائت وکړي او په سهار او نورو کې سرّي قرائت وکړي، نو زموږ په نېز د واجب د پرېښوولو په وجه پر دې سړي دوې سجدهٔ سهوې واجب دي، ځکه چې د واجب په پرېښوولو سره سجدهٔ سهو واجبيږي.

د دې خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې په هيڅ يو لمانځه کې هم جهر يا اخفاء کول واجب نه دي، نو په دې صورتونو کې به پر لمونځ ګزاره سجدهٔ سهو نه واجبيږي.

د امام شافعي دليل: دا حديث دی: أن النبي ﷺ كان يسمعنا الآية والآيتين من الظهر والعصر (يعني نبي ﷺ به د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کې يو، دوه آيته په موږ اورېدل)، نو له دې څخه معلومه سوه چې په ماپښين او مازيګر کې اخفاء واجب نه ده، نو کله چې په دې لمونځونو کې اخفاء واجب نه ده، نو له دې څخه به ماسوا په نورو لمونځونو کې هم جهر واجب نه وي.

جواب: د امام شافعي د دليل جواب دا دی چې په صحابه وو د نبي ﷺ اورېدل د دې خبرې د ښوولو لپاره وو چې امت ته معلومه سي چې د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کې قرائت سته، بل جواب دا دی چې ممکنه ده چې حضرت قتاده ﷺ به نبي کريم ﷺ ته ډېر نژدې وو، او د نبي ﷺ د اخفاء آواز به يې هم صفا اورېدی.

زموږ دليل: د نبي ﷺ هغه فرمان دی چې د مکې له کافرانو څخه د قرآن د خوندي کولو لپاره صادر سوی دی، يعني کله چې به مسلمانانو د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کې جهري قرائت کوی نو کفار به مسجد ته نژدې راغله، چغې، نارې او شور به يې جوړ کړی، او پر لمونځ کونکو به يې خپل قرائت ګډوډ کړی، نو د قرآن او لمانځه د خوندي کولو لپاره نبي ﷺ د ورځې په لمونځونو کې يعني د ماپښين او مازيګر په لمونځونو کې د سرّي قرائت حکم وکړی، نو له هغه وخت

ځخه په دې لمونځونو کې سرّي قرائت شروع سوی دی چې وروسته یې د وجوب شکل اختیار کړی، لهذا اوس که یو سړی له دې ځخه مخالفت کوي، نو پر هغه د واجب د پرېښوولو په وجه سجدهٔ سهو واجبیږي.

واختلفت الروایة الخ فرمایي چې د جهر او اخفاء په وجه د سجدهٔ سهوي د واجب کېدلو په حواله د قرائت په اندازه کې اختلاف دی، په ظاهر الروایه کې دي چې مطلقاً برعکس کول(یعني په جهري لمونځونو کې اخفاء کول او په سرّي لمونځونو کې جهر کول) سجدهٔ سهو واجبوي، او په دې کې د قرائت هیڅ اندازه نسته، بلکې لږ او ډېر دواړه برابر دي، لېکن صحیح روایت دا دی چې که دومره اندازه جهر یا اخفاء وکړي چې په هغه سره لمونځ جائز کېږي، یعني د ماتجوز به الصلاة په اندازه په جهري لمانځه کې سرّي قرائت وکړي، یا په سرّي لمانځه کې جهري قرائت وکړي، نو په هغه سره سجدهٔ سهو واجبیږي، لېکن تر ماتجوز به الصلاة کم قرائت معاف دی ځکه چې هغه معمولي غوندې دی، او له هغه ځخه ځان ساتل ناممکنه دي، او د ماتجوز به الصلاة اندازه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز یو غټ آیت دی، او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز درې کوچنې آیتونه دي.

وهذا في حق الإمام الخ فرمایي چې د جهر او اخفاء برعکس کول او اړول د امام په حق کې دي یعني که امام په جهري لمانځه کې سرّي قرائت یا په سرّي لمانځه کې جهري قرائت وکړي نو سجدهٔ سهو واجبیږي، او دا حکم د منفرد (کوم چې یوازې لمونځ کوي) په حق کې نه دی، یعني که منفرد داسې وکړي، نو پر هغه سجدهٔ سهو نه واجبیږي، ځکه چې د جهر او اخفاء د جماعت له خصوصیاتو ځخه دي، نو د سجدهٔ سهو د واجبېدلو تعلق به هم د جماعت سره وي، او د انفرادي حالت سره به د دې هیڅ تعلق نه وي.

د امام په سهوي(هېرې) سره پر مقتدي او امام دواړو سجدهٔ سهو لازمېدل

قَالَ: وَسَهْوُ الْإِمَامِ يُوجِبُ عَلَى الْمُؤْتَمِّ السُّجُودَ فرمایي: چې د امام سهوه پر مقتدي (هم) سجدهٔ سهو واجبوي لِتَقَرُّرِ السَّبَبِ الْمُوجِبِ فِي حَقِّ الْأَصْلِ ځکه چې د اصل(امام) په حق کې د سجدهٔ سهوي واجبوونکی سبب ثابت سو وَلِهَذَا يَلْزَمُهُ حُكْمُ الْإِقَامَةِ بِنِيَّةِ الْإِمَامِ هم په دې وجه پر مقتدي د اقامت (مقیم کېدلو) حکم د امام په نیت سره لازمیږي فَإِنْ لَمْ يَسْجُدِ الْإِمَامُ لَمْ يَسْجُدِ الْمُؤْتَمُّ بیا که امام سجده نه وکړي نو مقتدی به هم سجده نه کوي لِأَنَّهُ يَصِيرُ مُخَالِفًا لِإِمَامِهِ ځکه چې (په دې صورت کې به) مقتدی له خپل امام ځخه مخالفت کوونکی سي وَمَا الْتَزَمَ الْأَدَاءَ إِلَّا مُتَابِعًا حال دا چې مقتدي د امام په اطاعت کې د (لمانځه) اداء کولو التزام کړی دی.

اللغات: ﴿المؤتم﴾ مقتدي، ﴿إقامة﴾ مقیم کېدل، سفر پرېښوول، ﴿التزم﴾ خپل په غاړه اخیستل، خپل پر ذمه اخیستل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو امام په لمانځه کې سهوه سو، نو سجدهٔ سهو به پر امام هم واجب وي، او پر مقتدي هم، هغه که مقتدي لاحق وي او که مسبوق، نو د مسبوق لپاره حکم دا دی چې کله امام سلام گرځوي نو نه دي ولاړیږي بلکې سجدهٔ سهو دې د امام سره وکړي او تر دویم سلام وروسته دې ولاړ سي او پاته لمونځ دې پوره کړي. دلیل دا دی چې د امام په سهوي سره پر مقتدي سجدهٔ سهو په دې وجه واجب ده ځکه چې امام اصل دی، او مقتدي یې تابع دی، نو کله چې د اصل په حق کې سجدهٔ سهو واجب سوه، نو د تابع او فرع په حق کې به په درجه اولیٰ واجب وي.

ولهذا الخ د دې تعلق د امام د اصل والي سره دی، حاصل يې دا دی چې که امام او مقتديان ټوله مسافرين وه، او د مسافر توب لمونځ يې کوی، خو د لمانځه په دوران کې امام د اقامت نيت وکړي، نو دا نيت به د مقتدياتو له طرفه هم معتبر وي، او د دوی لپاره به د جلا نيت کولو هيڅ ضرورت نه وي، ځکه چې هغوی د امام تابع دي، او د متبوع قول او عمل د تابع لپاره هم حجت او دليل وي.

فإن لم يسجد الخ فرمايي که امام د سهوي په صورت کې سجدهٔ سهو نه وکړه، نو د مقتدياتو لپاره هم د سجدهٔ سهوي کولو اجازه نسته، ځکه که امام سجدهٔ سهو نه وکړه، او مقتدياتو وکړه، نو په دې صورت کې به مقتديان د خپل امام مخالفت کونکي سي، حال دا چې مقتدي د امام د تابعدارۍ او موافقت لپاره اقتداء کړې ده، او د موافقت او مخالفت په مينځ کې ښکاره تضاد دی.

د مقتدي په هېرې سره سجده سهو لازمېدل

فَإِنْ سَهَا الْمُؤْتَمُّ بيا که مقتدی سهوه سو لَمْ يَلْزَمِ الْإِمَامَ وَلَا الْمُؤْتَمَّ السُّجُودُ نو نه پر امام سجدهٔ سهو لازم ده او نه پر مقتدي لِأَنَّهُ لَوْ سَجَدَ وَحْدَهُ ځکه که مقتدي يوازې سجدهٔ سهو وکړه كَانَ مُخَالِفًا لِإِمَامِهِ نو دی به له خپل امام څخه مخالفت کونکی سي وَلَوْ تَابَعَهُ الْإِمَامُ او که امام هم د ده تابعداري وکړه يَنْقَلِبُ الْأَصْلُ تَبَعًا نو کوم چې اصل دی هغه به تابع وګرځيږي (يعني امام به [کوم چې اصل دی] د مقتدي تابع سي).

اللغات: ﴿سها﴾ هېرېدل، ﴿وحده﴾ يوازې، ځانته، ﴿ينقلب﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ګرځېدل، اوښتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که له مقتدي څخه په لمانځه کې څه سهوه وسوه، د مثال په توګه په اوله ناسته کې يې تشهد نه ووايی نو د ده د سهوي په وجه سره نه پر امام سجدهٔ سهو لازميږي او نه پر مقتدي، ځکه چې د صحت او فساد په اعتبار سره د امام لمونځ د مقتدي پر لمانځه نه مبني کيږي، نو د مقتدي د لمانځه په ناقصوالي سره د امام لمونځ نه ناقص کيږي، او کله چې د امام په لمانځه کې هيڅ نقص واقع نه سو، نو سجدهٔ سهو هم نه پر واجبيږي، او کله چې پر امام سجدهٔ سهو واجب نه سوه نو پر مقتدي هم نه واجبيږي، ځکه که پر مقتدي سجدهٔ سهو واجب سي نو هغه به يا يوازې سجدهٔ سهو کوي يا به يې امام هم ور سره کوي، په اول صورت کې د امام مخالفت راځي، او په دويم صورت کې موضوع اوړي، يعني امام کوم چې اصل دی هغه به تابع سي او مقتدي کوم چې تابع دی هغه به اصل سي. او دا دواړه خبرې جائز نه دي، يعني د امام مخالفت او د موضوع اوښتل دواړه جائز نه دي، نو کله چې دا دواړه ناجائز دي، نو پر مقتدي به سجدهٔ سهو هم واجب نه وي.

که اوله ناسته (قعدهٔ اولی) هېره سي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ سَهَا عَنِ الْقَعْدَةِ الْأُولَى او د کوم سړي چې اوله ناسته هېره سوه ثُمَّ تَذَكَّرَ وَهُوَ إِلَى حَالَةِ الْقُعُودِ أَقْرَبُ بيا په داسې حال کې په ياد ورغله چې د ناستې و حال ته زيات نژدې وو عَادَ نو دا سړی دې (د ناستې و طرف ته) را وګرځيږي وَقَعَدَ وَتَشَهَّدَ او کښېني دې او تشهد دې ووايي لِأَنَّ مَا يَقْرُبُ مِنَ الشَّيْءِ ځکه چې کوم شی يو شي ته نژدې وي يَأْخُذُ حُكْمَهُ هغه د دغه شي حکم اخلي ثُمَّ قِيلَ يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ لِلتَّأْخِيرِ بيا يو قول دا دی چې د ځنډېدلو په وجه دې سجدهٔ سهو وکړي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا يَسْجُدُ او زياته صحيح دا ده چې سجدهٔ سهو دې نه کوي كَمَا إِذَا لَمْ يَقُمْ لکه کرد سره چې ولاړ

سوی نه دي وَلَوْكَانَ إِلَى الْقِيَامِ أَقْرَبَ لَمْ يَعُدْ او که ولاړې ته زیات نژدې وو نو (د ناستې وطرف ته) دې نه را ګرځي لِأَنَّهُ كَالْقَائِمِ مَعْنًى ځکه چې دی په معنیٰ کې د ولاړ په شیر دی وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ او سجدهٔ سهو دې وکړي لِأَنَّهُ تَرَكَ الْوَاجِبَ ځکه چې ده واجب پرېښوو.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که له یو چا څخه په څلور رکعتیز یا دري رکعتیز فرضي لمانځه کې اوله ناسته (قعدهٔ اولیٰ) هېره سي او بیا په یاد ورسي، نو د دې دوه صورتونه دي: یا به ناستې ته زیات نژدې وي، په دې توګه چې زنګونان به یې نه وي راپورته کړي، یا به ولاړې ته زیات نژدې وي په دې توګه چې زنګونان به یې راپورته کړي وي، نو که اول صورت وي نو د ناستې و طرف ته دې را وګرځي او تشهد دې ووایي، ځکه چې یو شي ته نژدې د هغه شي په حکم کې دی، لکه د اختر او جمعې د لمانځه په حق کې د ښار شاوخوا (فناء) ته د ښار حکم حاصل دی، ځکه چې فناء ښار ته نژدې وي، پاته سوه دا خبره چې پر دې سړي سجدهٔ سهو واجب ده، که نه، نو د ځینې حضراتو رایه دا ده چې سجدهٔ سهو پر واجب ده، ځکه چې اوله ناسته کوم چې واجب ده هغه وځنډول سوه، لېکن صحیح قول دا دی چې سجدهٔ سهو واجب نه ده، ځکه کله چې شي ته نژدې د هغه شي په حکم کې دی نو ګواکې هغه ولاړ سوی نه دی، نو کله چې داسې ده نو اوله ناسته ځنډول سوې نه ده، او کله چې ځنډول سوې نه ده نو سجدهٔ سهو هم واجب نه ده.

او که دویم صورت وو یعنې سړی د ولاړې و طرف ته نژدې وي[یعنې زنګونان یې پورته کړي وي]، نو د ناستې و طرف ته دې نه راګرځي، بلکې د دریم رکعت لپاره دې ولاړ سي، ځکه چې اوس دا قاعده ذکر سوه چې یو شي ته نژدې د شي په حکم کې دی، نو کله چې دا سړی ولاړې ته نژدې دی، نو معناً د ولاړ په حکم کې سو، او د ولاړ لپاره د اولې ناسته و طرف ته راګرځېدل جائز نه دي، ځکه چې د دریم رکعت ولاړه فرض ده، او اوله ناسته واجب ده، او د واجب په وجه فرض پرېښوول صحیح نه دي، خو په دې صورت کې سجدهٔ سهو واجب ده، ځکه چې ده واجب یعنې اوله ناسته پرېښوولې.

که په څلور رکعتیز لمانځه کې پنځم رکعت ته ولاړ سي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ سَهَا عَنِ الْقَعْدَةِ الْأَخِيرَةِ او که له لمونځ ګزار څخه آخري ناسته هېره سوه حَتَّى قَامَ إِلَى الْخَامِسَةِ تر دې چې د پنځم رکعت لپاره ولاړ سو رَجَعَ إِلَى الْقَعْدَةِ مَا لَمْ يَسْجُدْ نو تر څو چې یې (د پنځم رکعت لپاره) سجده نه وي کړې را ودې ګرځېږي (د ناستې و طرف ته) لِأَنَّ فِيهِ إِصْلَاحَ صَلَاتِهِ ځکه چې په دې کې د هغه د لمانځه اصلاح (سمونه) ده وَأَمْكَنَهُ ذَلِكَ او د هغه لپاره د اصلاح امکان هم سته لِأَنَّ مَا دُونَ الرَّكْعَةِ بِمَحَلِّ الرَّفْضِ ځکه چې له یوه رکعت څخه کم د پرېښوولو په ځای کې دی (یعنې تر یوه رکعت کم لمونځ پرېښوول کېدای سي) قَالَ: وَأَلْغَى الْخَامِسَةَ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: او پنځم رکعت دې ختم کړي لِأَنَّهُ رَجَعَ إِلَى شَيْءٍ مَحَلُّهُ قَبْلَهَا ځکه چې دا لمونځ ګزاره د داسې شي وطرف ته را ګرځېدلی دي چې د هغه محل (ځای) تر پنځم رکعت مخکې دی فَيَرْتَفِضُ نو ځکه به پنځم رکعت پرېږدي وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ او سجدهٔ سهو دې وکړي لِأَنَّهُ أَخَّرَ وَاجِبًا ځکه چې هغه یو واجب وروسته کړی (یعنې سلام او آخره ناسته یې وځنډول).

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که له لمونځ ګزار څخه آخره ناسته هېره سي او د دې پر ځای چې پر څلورم رکعت کښېني پنځم رکعت ته ولاړ سي، نو تر کومه وخته چې یې د پنځم رکعت لپاره سجده نه وي کړې تر هغه وخته ده ته دا اختیار سته چې بیرته د ناستې و طرف ته را وګرځېږي، او تشهد دې ووایي سلام دې وګرځوي او سجدهٔ سهو دې

وکړي، ځکه چې په دا ډول کولو سره د ده لمونځ صحیح کیږي، او د ده لپاره د خپل لمانځه صحیح کول ممکن هم دي، ځکه تر څو چې د پنځم رکعت لپاره سجده نه وکړي نو هغه یو رکعت نه دی، نو تر یوه رکعت د کم پرېښوول هیڅ پروا نه لري، ځکه چې تر یوه رکعت کم نه حقیقتاً لمونځ دی او نه حکماً، او د دې پنځم رکعت په پرېښوولو سره لمونځ ګزاره د داسې رکن و طرف ته راګرځي چې د هغه ځای او محل تر پنځم رکعت مخکې دی، یعنې د آخري ناستې و طرف ته راګرځي، او آخره ناسته فرض ده، نو د دې په رعایت کې به پنځم رکعت پرېښوول کیږي، خو څرنګه چې پنځم رکعت ته د ولاړېدلو په وجه رکن یعنې آخري ناسته وځنډېدل، نو ځکه به د هغې د ځنډېدلو لپاره سجدهٔ سهو کول ضروري وي.

که د پنځم رکعت لپاره سجده هم وسي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ بِسَجْدَةٍ او که لمونځ کونکي پنځم رکعت په سجده سره مقید کړی (یعني د پنځم رکعت لپاره یې سجده وکړه) بَطَلَ فَرْضُهُ عِنْدَنَا نو زموږ په نیز د هغه فرض باطل سو خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِأَنَّهُ اسْتَحْكَمَ شُرُوعَهُ فِي النَّافِلَةِ قَبْلَ إِكْمَالِ أَرْكَانِ الْمَكْتُوبَةِ ځکه چې د فرضو د ارکانو تر پوره کولو مخکې د هغه په نفلو شروع کول مضبوط سول (یعني هغه د فرضو تر پوره کولو مخکې نفل شروع کړه) وَمِنْ ضَرُورَتِهِ خُرُوجُهُ عَنِ الْفَرْضِ حال دا چې د هغه لپاره له فرضو څخه وتل ضروري وه وَهَذَا لِأَنَّ الرَّكْعَةَ بِسَجْدَةٍ وَاحِدَةٍ صَلَاةٌ حَقِيقَةً او دا ځکه چې رکعت په یوې سجدې سره په حقیقت کې لمونځ دی (یعني کله چې د رکعت لپاره سجده وکړی سي نو په حقیقت کې هغه یو رکعت لمونځ ګرځي) حَتَّى يَحْنَثَ بِهَا فِي يَمِينِهِ لَا يُصَلِّي تر دې چې لمونځ کونکي د "لایصلی" په قسم کې د یوې سجدې والا په رکعت سره حانثیږي (یعني قسم یې ماتیږي) وَتَحَوَّلَتْ صَلَاتُهُ نَفْلًا عِنْدَ• أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د هغه لمونځ په نفلو بدل سو خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ عَلَى مَا مَرَّ د امام محمد رَحِمَهُ الله اختلاف دی لکه څرنګه چې (مخکې) تېر سو.

اللغات: ﴿قَيَّدَ﴾ د تفعیل د باب ماضي صیغه ده: مقید کول. ﴿اِسْتَحْكَمَ﴾ د استفعال د باب ماضي صیغه ده: مضبوطه کول، ټینګول. ﴿يَحْنَثُ﴾ د فتح د باب مضارع صیغه ده: قسم ماتېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي په څلور رکعتیز فرض لمانځه کې آخري ناسته (قعده اخیره) نه وکړه (بلکې ځنې هېره سوه) او د پنځم رکعت لپاره ولاړ سو تر دې چې د پنځم رکعت سجده یې هم وکړه، نو اوس زموږ په نیز د ده فرض لمونځ باطل سو، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز د ده لپاره حکم دا دی چې پنځم رکعت دې پرېږدي او بیرته دې آخري ناستې ته راسي التحیات او نور دې ووایي او سلام دې وګرځوي.

د امام شافعي دلیل: دا دی چې له نبي ﷺ څخه د ماپښین په لمانځه کې پنځه رکعته ثبت دي، او د لمانځه راګرځول نه دي ځنې را نقل سوي.

• القول الراجع: قول الشيخين، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٥٥٢. [القول الراجح، ج:١، ص:١٢٥]

زموږ دليل: دا دی چي دا سړی يو فرضي لمونځ کوي، نو تر کومه وخته چي دغه يو فرضي لمونځ پوره نه کړي، تر هغه وخته د دوهم لپاره د دوېم لمونځ شروع کول صحيح نه دي، لېکن کله چي دې سړي فرضي لمونځ پوره نه کړی او آخره ناسته يې پرېښوول او د پنځم رکعت لپاره ولاړ سو او د پنځم رکعت سجده يې هم وکړه، نو اوس د ده له طرفه د فرضو د ارکانو تر پوره کولو مخکي په نفلو شروع کول مؤکد او محکم سوه، حال دا چي د ده لپاره د فرضو ارکان پوره کول او له فرضو څخه وتل ضروري وه، لېکن کله چي ده داسي نه وکړه او نفل يې شروع کړه نو ښکاره ده چي د ده فرض به باطل وي.

وهذا الخ له دې عبارت څخه دا ربنيي چي د پنځم رکعت له سجدې کولو څخه مخکي فرض ولي نه باطلېږي، او په خپله پنځم رکعت ولي بېکاره پاتېږي، او د پنځم رکعت تر سجدې کولو وروسته فرض ولي باطلېږي، نو د دې وجه دا ښيي چي تر سجدې کولو مخکي رکعت پوره نه وو، او نه له رکعت څخه لمونځ جوړ سوی وو، نو ځکه که تر سجدې کولو مخکي بېرته کښېني نو پنځم رکعت به بېکاره وي، خو تر سجدې کولو وروسته يو رکعت پوره سو، او لمونځ څني جوړ سو، نو ګواکي د فرضو تر پوره کولو مخکي يې نفل شروع کړل، او قاعده دا ده که څوک د فرضو تر پوره کولو مخکي نفل شروع کړي، او هغه محکم کړي نو فرض باطلېږي، نو ځکه به دلته فرض باطل وي، او د دې دليل چي تر سجدې کولو وروسته يو رکعت پوره کېږي او لمونځ څني جوړېږي، دا دی چي که يو څوک قسم وکړي: لا يصلی (چي لمونځ به نه کوم)، نو که د اول رکعت لپاره سجده وکړي نو حانثېږي، او که سجده نه وکړي، صرف ولاړ، قرائت او رکوع وکړي، نو نه حانثېږي، له دې څخه هم معلومه سوه چي تر سجدې وروسته يو رکعت پوره کېږي او لمونځ څني جوړېږي، نه تر سجدې مخکي.

وتحولت صلاته الخ فرمايي چي کله د احنافو په نېز د دې سړي فرض لمونځ باطل سو، نو آيا د ده اصل لمونځ به هم باطل وي، کنه؟، فرمايي چي په دې مسئله کي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله او د امام محمد رَحِمَهُ الله هغه اختلاف دلته هم ستون کوم چي تر دې مخکي بيان سو، يعني د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا لمونځ نفل جوړېږي، او د نفل ثواب هغه ته رسېږي، ځکه چي د دوی په نېز د لمانځه د صفت په باطلېدلو سره اصل لمونځ نه باطلېږي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز اصل لمونځ باطلېږي، ځکه چي د ده په نېز د لمانځه د صفت په باطلېدلو سره تحريمه هم باطلېږي، نو ځکه به هغه نفل لمونځ باقي پاته نه وي، د دې مسئلې پوره تفصيل په باب قضاء الفوائت کي تېر سو.

راجح قول: په پورتنی مسئله کي راجح قول د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دی، يعني که د پنځم رکعت لپاره سجده وکړي نو لمونځ يې نفل ګرځي، كما قال العلامة أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: ولا شك أن بطلان وصف الفرضية وتحوله نفلاً أولىٰ من بطلان أصل الصلوٰة و وصفها. [راجح قول ج:١، ص:١٢٥]

د شپږم رکعت د يو ځای کولو حکم

لِيَضُمَّ إِلَيْهَا رَكْعَةً سَادِسَةً نو د دې پنځو رکعتو سره دي شپږم رکعت (هم) يو ځای کړي وَلَوْلَمْ يَضُمَّ لَاشَيْءَ عَلَيْهِ او که ور سره يو ځای يې نه کړي نو پر هغه هيڅ شی واجب نه دي لِأَنَّهُ مَظْنُونٌ ځکه چي دا د ګمان لمونځ دی (يعني ګمان پکښې سوی دی) ثُمَّ إِنَّمَا يَبْطُلُ فَرْضُهُ بِوَضْعِ الْجَبْهَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ بيا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د تندي په اېښوولو سره د هغه فرض باطلېږي لِأَنَّهُ سُجُودٌ كَامِلٌ ځکه چي دا بشپړه سجده ده وَعِنْدَ● مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ بِرَفْعِهِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په سر پورته کولو سره (د هغه فرض باطلېږي) لِأَنَّ تَمَامَ الشَّيْءِ بِآخِرِهِ ځکه چي د يو شي

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة جلال الدين الخوارزمي رَحِمَهُ الله: قوله وعند محمد رَحِمَهُ الله برفعه الجبهة وهو المختار للفتوىٰ. [القول الراجح، ج:١، ص:١٢٦]

پوره کېدل د هغه په آخر سره کيږي وَهُوَ الرَّفْعُ او هغه سر پورته کول دي وَلَمْ يَصِحَّ مَعَ الْحَدَثِ (همدا وجه ده چې) دا سر پورته کول په بې اودسی سره صحيح نه دي (يعني د بې اودسی په وخت کې په سر راپورته کولو سره سجده نه پوره کيږي) وَثَمَرَةُ الْاِخْتِلَافِ تَظْهَرُ فِيْمَا إِذَا سَبَقَهُ الْحَدَثُ فِي السُّجُوْدِ او نتيجه د اختلاف په دې صورت کې ښکاره کيږي چې کله هغه د سجدې په حالت کې بې اودسه سي بَنٰى عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ (نو په دې صورت کې به) د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز بناء کوي خِلَافًا لِأَبِيْ يُوْسُفَ په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله.

اللغات: ﴿يَضُلُّ﴾ د نصر مضارع صيغه ده: يو ځای کول. ﴿مَظْنُوْنٌ﴾ د نصر اسم مفعول دی: شکمن، ګمان پکښې کړی سوی، غيريقيني. ﴿الْجَبْهَةَ﴾ تندی. ﴿ثَمَرَةٌ﴾ نتيجه، پايله.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که له يو سړي څخه په څلور رکعتيز لمانځه کې آخره ناسته هېره سوه او د پنځم رکعت لپاره ولاړ سو او د پنځم رکعت سجده يې هم وکړه، نو څرنګه چې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز صرف د ده فرض باطليږي، اصل لمونځ يې نه باطليږي، نو ځکه اوس ده ته پکار دي چې د پنځم رکعت سره يو بل رکعت يو ځای کړي چې تو له شپږ رکعته سي، د دې لپاره چې د ده لمونځ جفت(جوت) سي او طاق پاته نه سي، ځکه چې په نفل کې طاق عدد نسته. بيا هم که هغه داسي نه وکړي او شپږم رکعت نه ور سره يو ځای کړي نو هم هيڅ پروا نه لري، ځکه چې دا لمونځ مظنون دی يعني دا سړی په دې لمانځه کې قصداً د پنځم رکعت لپاره نه دي ولاړ سوی بلکې د وهم ګومان(او هيري) په وجه ولاړ سوی دی(يعني پنځم رکعت يې په دې ګومان سره شروع کړی دی چې تر اوسه څلور رکعته نه دي پوره سوي)، او د ګومان په وجه نه يو شی واجبيږي، او نه د يو شي قضاء راوړل کيږي.

ثم انما يبطل فرضه الخ څرنګه چې مخکې معلومه سوه چې د پنځم رکعت لپاره د سجدې په کولو سره فرض لمونځ باطليږي، نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز چې پر مځکه سر کښېږدي نو سجده يې پوره کيږي او فرض يې باطليږي، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا اثر دی: عن ابن عمر قال: إذا وضع الرجل جبهته بالأرض أجزاه (مصنف ابن ابی شيبة ج:۱، ص:۲۲۶)، په دې اثر کې راغلي دي چې پر مځکه په تندي ايښودلو سره سجده پوره کيږي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چې کله له مځکې څخه سر راپورته کړي نو بيا يې سجده پوره کيږي او فرض يې باطليږي، ځکه چې يو شی هغه وخت پوره کيږي چې کله هغه شی آخري حدّ ته ورسيږي، او سجده آخري حدّ ته هغه وخت رسيږي چې کله له مځکې څخه راپورته کړی سي، همدا وجه ده چې که يو څوک په سجده کې سر کښېږدي او د سر تر راپورته کولو مخکې بې اودسه سي، نو هغه سجده پوره نه شمارل کيږي. له دې څخه معلومه سوه چې سجده تر سر راپورته کولو وروسته پوره کيږي.

راجح قول: په پورتنی مسئله کې راجح قول د امام محمد رَحِمَهُ الله دی، وقال العلامة جلال الدين الخوارزمی رَحِمَهُ الله: قوله وعند محمد رَحِمَهُ الله برفعه الجبهة وهو المختار للفتوی (کفايه ج:۱، ص:۴۴۶). [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۲۶]

په آخره ناسته کې د تشهد ويلو او بيا د پنځم رکعت لپاره د ولاړېدلو بيان

وَلَوْ قَعَدَ فِي الرَّابِعَةِ او که لمونځ کونکي په څلورم رکعت کې ناسته(قعده) وکړه ثُمَّ قَامَ بيا ولاړ سو وَلَمْ يُسَلِّمْ او سلام يې نه وګرځوی عَادَ إِلَى الْقَعْدَةِ مَا لَمْ يَسْجُدْ لِلْخَامِسَةِ نو تر څو چې يې د پنځم رکعت لپاره سجده کړې نه وي نو د ناستې و طرف ته دي (بيرته) را وګرځيږي وَسَلَّمَ او سلام دي وګرځوي لِأَنَّ التَّسْلِيْمَ فِيْ حَالَةِ الْقِيَامِ غَيْرُ مَشْرُوْعٍ ځکه چې د ولاړې په حالت کې سلام ګرځول مشروع نه دي وَأَمْكَنَهُ الْإِقَامَةُ عَلٰى وَجْهِهِ بِالْقُعُوْدِ او د ده لپاره په ناستې

په مشروع طريقه سره سلام قائم کول ممکن دي لِأَنَّ مَا دُوْنَ الرَّكْعَةِ بِمَحَلِّ الرَّفْضِ ځکه چي تر يوه رکعت کم لمونځ د پرېښوولو په محل کي دی (يعني پرېښوول کېدای سي).

اللغات: ﴿غَيْرُ مَشْرُوْعٍ﴾ نامشروع، ناجائز. ﴿مَحَلُّ الرَّفْضِ﴾ هغه ځای چي پرېښوول کېدلای سي (يعني پرېښوول يې صحيح وي).

تشريح: تر دې ځايه خو د هغو صورتونو بيان وو چي په هغه کي له لمونځ گزار څخه آخري ناسته هېره سي او د پنځم رکعت لپاره ولاړ سي، له دې ځايه دا راښيي چي که لمونځ گزاره د تشهد په اندازه آخري ناسته وکړي، خو سلام نه وگرځوي او په هېره سره د پنځم رکعت لپاره ولاړ سي، نو حکم دا دی چي که د پنځم رکعت سجده يې کړي نه وي نو د ناستي وطرف ته دي (بيرته) راوگرځېږي، او سلام دي وگرځوي، ځکه چي په ولاړه سلام گرځول مشروع نه دي، او ځرنگه چي په دې صورت کي د لمونځ گزار لپاره پر مشروع طريقه يعني په ناستي سره سلام گرځول ممکن دي، نو ځکه دي پر مشروع طريقه عمل وکړي، او د ده لپاره په ناستي يعني په مشروع طريقه سره سلام گرځول په دې توگه ممکن دي چي کله ده د پنځم رکعت سجده نه کړې وي، نو ښکاره ده چي دا رکعت لمونځ نه دی، او چي کله لمونځ نه سو نو د دې رفض يعني پرېښوول هم صحيح دي، نو ځکه په دې صورت کي د لمونځ گزاره لپاره شرعي حکم همدغه دی چي له پنځم رکعت څخه دي د ناستي و طرف ته راوگرځيږي، او سلام دي وگرځوي.

تر پنځم رکعت وروسته شپږم رکعت کول

وَإِنْ قَيَّدَ الْخَامِسَةَ بِالسَّجْدَةِ او که يې پنځم رکعت په سجده سره مقيد کړی (يعني که يې د پنځم رکعت لپاره سجده وکړه) ثُمَّ تَذَكَّرَ بيا يې په ياد سوه (چي دا خو پنځم رکعت دی) ضَمَّ إِلَيْهَا رَكْعَةً أُخْرٰى نو د هغه سره دي يو بل رکعت هم يو ځای کړي وَتَمَّ فَرْضُهُ او د ده فرض پوره سوه لِأَنَّ الْبَاقِيَ إِصَابَةُ لَفْظَةِ السَّلَامِ ځکه چي (صرف) د سلام لفظ اداء کول پاته دي وَهِيَ وَاجِبَةٌ او سلام واجب دی وَإِنَّمَا يَضُمُّ إِلَيْهَا أُخْرٰى او بل رکعت به په دې وجه ور سره يو ځای کوي لِتَصِيْرَ الرَّكْعَتَانِ نَفْلًا چي دوه رکعته نفل سي لِأَنَّ الرَّكْعَةَ الْوَاحِدَةَ لَا تُجْزِئُهُ ځکه چي يو رکعت جائز نه دی لِنَهْيِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَنِ الْبُتَيْرَاءِ● ځکه نبي ﷺ له بتيراء لمانځه څخه منع کړې ده (يعني د يوه رکعت له لمانځه څخه يې منع کړې ده) ثُمَّ لَا تَنُوْبَانِ عَنْ سُنَّةِ الظُّهْرِ بيا دا دوه رکعته د ماپښين د سنتو پر ځای نه درېږي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحيح ده لِأَنَّ الْمُوَاظَبَةَ عَلَيْهَا بِتَحْرِيْمَةٍ مُبْتَدَأَةٍ ځکه چي پر دې دوو رکعتو (به د نبي کريم ﷺ) همېشتوب په نوې تحريمه سره وو.

اللغات: ﴿إِصَابَةٌ﴾ اداء کول. ﴿لَا تَنُوْبَانِ﴾ د نصر د باب مضارع منفي صيغه ده: نائب کېدل. قائم مقام کېدل. پر ځای درېدل. ﴿مُبْتَدَأَةٌ﴾ نوې.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی پر څلورم رکعت کښېنستی او بيا په هېره د پنځم رکعت لپاره ولاړ سو او د پنځم رکعت سجده يې هم وکړه او بيا په يادورغله، نو اوس د ده لپاره حکم دا دی چي د دې رکعت سره دي شپږم رکعت هم يو ځای کړي، نو په دې صورت کي به فرض لمونځ پوره سي، او پنځم او شپږم رکعت به يې نفل سي، فرض لمونځ

● أخرجه البيهقي في كتاب الصلاة بمعناه، باب الوتر بركعة واحدة، حديث رقم: ۴۹۱.

خو به یې ځکه پوره سي چي له لماتحه څخه د سلام په لفظ سره وتل زموږ په نېز واجب دي، او په دې صورت کي د سلام لفظ پرېښوول سو او د واجب په پرېښولو سره لمونځ نه فاسدیږي، نو ځکه په دې صورت کي فرض لمونځ نه فاسدیږي، پاته سنو دا چي د واجب په پرېښوولو سره نقصان پیدا سو، نو هغه نقصان په سجدهٔ سهو سره پوره کیږي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي که شپږم رکعت ور سره یو ځای کړي نو فرض لمونځ یې فاسدیږي، ځکه چي په دې صورت کي دا سړی د دویم لماتحه و طرف ته منتقل سو، حال دا چي د سلام لفظ لا تر اوسه پاته دی، او د سلام لفظ د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز فرض دی، او د فرض په پرېښوولو سره لمونځ فاسدیږي، نو ځکه به په دې صورت کي لمونځ فاسدیږي.

وانما یضم إلیها الخ فرمایي چي پر لمونځ گزاره د پنځم رکعت سره د شپږم رکعت یو ځای کول واجب او لازم دي، د دې لپاره چي له شپږو څخه څلور رکعته فرض سي او دوه رکعت نفل سي، او د دې لپاره چي له فرضو څخه ملسوا یو رکعت پاته نه سي، ځکه نبي ﷺ له صلاة بتیراء څخه منع کړې ده، او صلاة بتیراء یو رکعت والا لمانځه ته وایي.

ثم لا تنوبان الخ فرمایي چي که لمونځ گزار ته دا پورتنی صورت د ماپښین په لمانځه کي ور پېښ سو نو کوم دوه رکعته چي زیات سوي دي هغه د دې لپاره د ماپښین د دوو رکعتو سنتو پر ځای نه سي دربدلای، همدا صحیح قول دی، ځکه چي د ماپښین دوه رکعته سنت په نوې او جلا تحریمه سره اداء کول ضروري دي، ځکه چي همدغه د نبي ﷺ معمول وو، او ټوله ژوند به یې پر دې عمل کوی.

د شپږم رکعت په آخر کي د سجدهٔ سهو حکم

وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ إِسْتِحْسَانًا او سجدهٔ سهو دي وکړي استحساناً لِتَمَكُّنِ النُّقْصَانِ فِي الْفَرْضِ بِالْخُرُوجِ لَا عَلَى الْوَجْهِ الْمَسْنُوْنِ ځکه چي نقصان راغلی په فرضو کي په غیر مسنون (نا سنت) توګه سره د وتلو په وجه (یعني چي کله له فرضو څخه په غیر مسنون طریقه سره ووتی نو په فرضو کي یې نقصان راغلی) وَفِي النَّفْلِ بِالدُّخُوْلِ لَا عَلَى الْوَجْهِ الْمَسْنُوْنِ او نقصان راغلی په نفلو کي په نا سنت توګه سره د داخلیدلو په وجه وَلَوْ قَطَعَهَا لَمْ يَلْزَمْهُ الْقَضَاءُ او که دا (پنځم) رکعت قطع کړي (پرېږدي) نو پر ده قضاء نه لازمیږي لِأَنَّهُ مَظْنُوْنٌ ځکه چي دا د ګومان (او هیري) لمونځ دی وَلَوِ اقْتَدٰى بِهٖ إِنْسَانٌ فِيْهِمَا او که په دې دوو رکعتونو کي یو سړي د ده اقتداء وکړه يُصَلِّيْ سِتًّا عِنْدَ* مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به هغه سړی شپږ رکعته کوي لِأَنَّهُ الْمُؤَدّٰى بِهٰذِهِ التَّحْرِيْمَةِ ځکه چي دوه رکعته (هم) په دغه تحریمه سره اداء سوي دي وَعِنْدَهُمَا رَكْعَتَيْنِ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به (صرف) دوه رکعت کوي لِأَنَّهُ اسْتَحْكَمَ خُرُوْجُهُ عَنِ الْفَرْضِ ځکه چي له فرضو څخه د ده وتل محکم (ټینګ) سوي دي وَلَوْ أَفْسَدَهُ الْمُقْتَدِيْ او که مقتدي دا فاسد کړل

---

* القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:١، ص: ٥٥٢٠. [القول الراجح ج:١، ص:١٢٨]

فَلَا قَضَاءَ عَلَيْهِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز پر مقتدي قضاء نشته اِعْتِبَارًا بِالْإِمَامِ امام محمد رَحِمَهُ الله پر امام قياس كوي وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَقْضِيْ رَكْعَتَيْنِ او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز به مقتدی د دوو ركعتونو قضاء راوړي لِأَنَّ السُّقُوْطَ بِعَارِضٍ يَخُصُّ الْإِمَامَ ځكه چي (له امام څخه) ساقطيدل د داسي عارض په وجه سره دي كوم چي د امام سره خاص دی.

اللغات: ﴿الْمُؤَدّٰی﴾ د تفعيل له باب څخه د اسم مفعول صيغه ده: اداء كړی سوی.

تشريح: فرمايي په مخكني عبارت كي چي كوم د سجدهٔ سهو خبره وسوه يعني: كه لمونځ گزاره په آخره ناسته كي د تشهد په اندازه كښېنستی، بيا په هېره سره د پنځم ركعت لپاره ولاړ سو، او د پنځم ركعت سجده يې هم وكړه، نو اوس حكم دا دی چي شپږم ركعت دي هم وكړي او په آخر كي دي سجدهٔ سهو وكړي، نو په دې سجدهٔ سهو كي د استحسان او قياس دوې جلا جلا نظريې دي، د استحسان له رويه پر دې سري سجدهٔ سهو واجب ده، ليكن د قياس له رويه سجدهٔ سهو پر واجب نه ده، ځكه چي لمونځ گزاره په فرضي لمانځه كي سهوه سوی دی، او دی په نفلي لمانځه كي د سجدهٔ سهوي كولو مكلف جوړيږي، نو عقلاً او قياساً دا خبره له فهمه ليري ده، ځكه چي په كوم لمونځ كي سهوه سوې وي، په هغه كي به سجدهٔ سهو واجب وي، او د دې سجدي ادائينه به هم په هغه لمانځه كي كيږي، همدغه د قياس تقاضا ده، نو په ذكر سوې مسئله كي د فرضو د سجد سهوي حكم په نفلو كي د قياس مطابق نه دی، خو استحساناً واجب ده.

دليل: د استحسان دليل دا دی چي دلته دوې خرابياني سته: (۱) اوله خرابي خو دا ده چي له لمانځه څخه د وتلو لپاره د السلام عليكم په ذريعه سره سلام گرځول واجب دي، او همدغه سنت طريقه ده، ليكن په ذكر سوې مسئله كي دا طريقه پريښوول سوې ده. (۲) او دويمه خرابي دا ده چي د فرضو په تحريمه نفل شروع كړی سوي دي، حال دا چي د نفلو لپاره جلا تحريمه ترل واجب دي، نو دلته په فرضو او نفلو دواړو كي كمي راغله، او څرنگه چي دواړه لمونځونه په يوه تحريمه سره اداء كيږي، نو تو له لمونځ به يعني شپږ ركعته به د يوه لمانځه په درجه گرځول كيږي او دا به ويل كيږي چي دا يو پوره لمونځ دی، او د يوه لمانځه په آخر كي سجدهٔ سهو كېدای سي، نو ځكه به په دې صورت كي هم په آخر كي سجدهٔ سهو كيږي، او دا سجدهٔ سهو به د فرضو د سهوي وي، كه څه هم دا د نفلو په آخر كي وسي.

ولو قطعها الخ فرمايي چي كه لمونځ گزاره په ذكر سوې مسئله كي د پنځم ركعت لپاره سجده وكړي خو شپږم ركعت ور سره يو ځای نه كړي بلكي لمونځ ختم كړي، نو پر ده هيڅ حرج نشته او نه پر ده د دې دوو ركعتونو قضاء ضروري ده، ځكه چي ده دا دوه ركعته قصداً نه دي شروع كړي، بلكي په هېره او په دې گومان يې شروع كړي دي چي زه څلورم ركعت كوم، او د هغه لمانځه قضاء نشته چي په هېره او گومان شروع سوی وي: إن الله تجاوز لي عن أمتي الخطأ والنسيان و ما استكرهوا عليه. (ابن ماجه، باب طلاق المكروه والناسي)

ولو اقتدی به إنسان الخ د دې حاصل دا دی كه يو سړي په دغه د هيري او گومان والا په پنځم او شپږم ركعت كي د دې سړي اقتداء وكړه، نو اوس به دا مقتدی څه كوي، او څومره ركعته به كوي، نو په دې لړ كي د امام محمد رَحِمَهُ الله رايه دا ده چي مقتدی به شپږ ركعته كوي، يعني كه په پنځم ركعت كي يې اقتداء پسي وكړه نو د امام سلام تر گرځولو وروسته به څلور ركعته نور كوي، او كه په شپږم كي يې اقتداء پسي وكړه نو د امام تر سلام وروسته به پنځه ركعته نور كوي په

● القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة الفتویٰ هنا علی قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله فتح القدير ج:۱، ص:۴۳۸. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۲۹]

دې توګه چې يو رکعت به وکړي او ناسته به وکړي، بيا به پر دوه رکعته کېنيني او بيا به دوه رکعته وکړي او آخري ناسته به وکړي او سلام به وګرځوي.

د امام محمد دليل: دا دی چې مقتدي د دې امام اقتداء وکړه، او امام شپږ رکعته کوي، او په مخکني تحريمه سره شپږ رکعته کوي، نو پر مقتدي به هم شپږ رکعته اداء کول ضروري وي.

د دې په خلاف د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر مقتدي صرف دوه رکعته ضروري دي، نو که يې په پنځم رکعت کې د امام اقتداء وکړه، نو د امام سره دې سلام وګرځوي، او که په شپږم رکعت کې يې اقتداء وکړه، نو د امام تر سلام وروسته دې صرف يو رکعت وکړي او سلام به وګرځوي، ځکه چې د نفلو د شروع کولو په وجه دده د امام له فرضو څخه وتل محکم او مضبوط سوي دي (يعني کله چې امام څلور رکعته فرض پوره کړه او دوه رکعته نفل يې شروع کړه، نو د نفلو شروع کولو په وجه له فرضو څخه د هغه وتل محکم سو، يعني په محکمه توګه له فرضو څخه ووتی) نو اوس به د مقتدي اقتداء صرف په نفلو کې صحيح او معتبره وي، او څرنګه چې امام دوه رکعته نفل کوي، نو پر مقتدي به هم صرف دوه رکعته لازم او ضروري وي.

ولو أفسده الخ د دې حاصل دا دی که مقتدي تر اقتداء کولو وروسته دا لمونځ فاسد کړی نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز څرنګه چې پر امام د دې قضاء واجب نه ده، همدارنګه پر مقتدي هم د دې قضاء واجب نه ده، ځکه چې د مقتدي حال د امام تر حال قوي نه دی، نو کله چې پر امام قضاء واجب نه ده، نو پر مقتدي به هم نه وي.

د دې په خلاف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر مقتدي قضاء واجب ده، ځکه چې د امام په حق کې د قضاء ساقطېدل د يو عارض يعني ګومان (ظن) په وجه سره وو، خو څرنګه چې عارض د امام سره خاص دی، نو د قضاء ساقطېدل به هم د امام سره خاص وي، او د مقتدي څخه به قضاء نه ساقطيږي، ځکه چې د مقتدي په حق کې هيڅ عارض نسته.

د نفلي لمانځه په اولو دوو رکعتونو کې سهوه کېدل

قَالَ: وَمَنْ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ تَطَوُّعًا فرمايي: که يو سړي دوه رکعته نفلي لمونځ وکړی فَسَهَا فِيهِمَا او په دې کې سهوه سو وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ او سجدۀ سهو يې (هم) وکړه ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ أُخْرَيَيْنِ بيا يې وغوښتل چې نور دوه رکعته وکړي لَمْ يَبْنِ نو (پر دغه دوو رکعتو به) بناء نه کوي لِأَنَّ السُّجُودَ يَبْطُلُ لِوُقُوعِهِ فِي وَسَطِ الصَّلَاةِ ځکه چې سجدۀ سهو د لمانځه په مېنځ کې د واقع کېدلو په وجه بناء باطلوي بِخِلَافِ الْمُسَافِرِ إِذَا سَجَدَ السَّهْوَ په خلاف د مسافر چې کله هغه سجدۀ سهو وکړي ثُمَّ نَوَى الْإِقَامَةَ بيا د اقامت نيت وکړي حَيْثُ يَبْنِي نو هغه بناء کولای سي لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يَبْنِ ځکه که هغه بناء ونه کړي تَبْطُلُ جَمِيعُ الصَّلَاةِ نو ټوله لمونځ يې باطليږي وَمَعَ هٰذَا لَوْ أَدَّى او که د دې سره سره دغه سړي پر دوو رکعتو نور لمونځ اداء کړی (يعني پر دوو رکعتو يې د نور لمانځه بناء وکړه) صَحَّ نو صحيح ده لِبَقَاءِ التَّحْرِيمَةِ ځکه چې تحريمه پاته ده وَيَبْطُلُ سُجُودُ السَّهْوِ او سجدۀ سهو باطليږي هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿لَمْ يَبْنِ﴾ د ضرب له باب څخه جحد معلوم صيغه ده: بناء کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي دوه رکعته نفلي لمونځ شروع کړی، او بيا پکښې سهوه سو او سجدۀ سهو يې هم وکړه، اوس که دی پر دې دوو رکعتو نفلو نور دوه رکعته نفل کول غواړي، نو کولای يې نه سي، يعني دده لپاره پر دې دوو رکعتو د نورو دوو رکعتو بناء کول صحيح نه دي، ځکه چې د لمانځه په مېنځ کې سجدۀ سهو واقع سوه، او د

لمانځه په مینځ کي د سجدهٔ سهوي په واقع کېدلو سره بناء باطلیږي، ځکه چي سجدهٔ سهو د لمانځه په آخر کي مشروع ده، نه د لمانځه په مینځ کي، نو اوس د ده په حق کي غوره دا ده چي هغه اول دوه رکعته پوره کړي، او بیا دي په نوې تحریمه سره نور دوه رکعته وکړي.

بخلاف المسافر الخ فرمايي که يو سړی مسافر وي، او د قصر په نيت د دوو رکعتو فرضو نيت وتړي او د لمانځه په مينځ کي سهوه سي، او سجدهٔ سهو هم وکړي، خو تر سلام ګرځولو مخکي د اقامت نيت وکړي، نو ښکاره ده چي اوس به هغه د دوو رکعتو پر ځای څلور رکعته کوي، نو اوس که د دغه دوو رکعتو سره نور دوه رکعته يو ځای کړي يعني بناء وکړي، نو د ده لپاره دا بناء صحيح ده، او د مسافر په حق کي د لمانځه په مينځ کي د سجدهٔ سهو په واقع کېدلو سره بناء نه باطليږي، ځکه چي پر مسافر د مقيم کېدلو په وجه اوس څلور رکعته فرض دي، او ده تر اوسه دوه رکعته کړي دي، اوس که موږ د ده په حق کي بناء جائز نه وګرځوو، نو د ده دوه رکعته به باطل سي، نو ځکه به د ده په حق کي بناء جائز وي، ځکه چي په دې صورت کي صرف د واجب يعني د سجدهٔ سهوي باطلېدل راځي، او د بناء د نه جائز کېدلو په صورت کي فرض باطليږي، او د واجبو ابطال له فرضو د ابطال څخه سپک دی، نو د يختار أهون الشرين قاعدې په وجه به د ده لپاره د بناء اجازه وي.

او د نفل کونکي لپاره به د بناء اجازه نه وي بيا هم که هغه بناء وکړي او نور دوه رکعته وکړي نو صحيح به وي، ځکه چي تر سلام ګرځولو مخکي د هغه تحريمه پاته ده، او د تحريمې بقاء د لمانځه د جواز لپاره کافي ده، لېکن کومه سجده سهوه چي يې پر دوو رکعتو کړې ده، هغه به باطله وي، او دويم وار به سجده سهوه کوي.

که د امام د سجده سهوي په وخت کي يو مقتدي راسي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ سَلَّمَ او که يو امام (د لمانځه په آخر کي) سلام وګرځوی وَعَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ حال دا چي پر هغه (لا) د سهوي دوې سجدې پاته وي فَدَخَلَ رَجُلٌ فِي صَلَاتِهِ بَعْدَ التَّسْلِيمِ او د امام تر سلام ګرځولو وروسته يو سړی د امام په لمانځه کي داخل سو فَإِنْ سَجَدَ الْإِمَامُ كَانَ دَاخِلًا نو که امام سجدهٔ سهو وکړه نو دا سړی به په لمانځه کي داخل وي (يعني په لمانځه کي به داخل شمارل کيږي) وَإِلَّا فَلَا کنې نو داخل به نه وي وَهَذَا عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ او دا حکم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دی وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: هُوَ دَاخِلٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا سړی په لمانځه کي داخل دی سَجَدَ الْإِمَامُ أَوْ لَمْ يَسْجُدْ هغه که امام سجدهٔ سهو کړې وي او که نه وي لِأَنَّ عِنْدَهُ سَلَامُ مَنْ عَلَيْهِ السَّهْوُ لَا يُخْرِجُهُ عَنِ الصَّلَاةِ أَصْلًا ځکه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د هغه سړي سلام (ګرځول) چي سجدهٔ سهو پر واجب وي هغه بالکل له لمانځه څخه نه باسي (يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز چي پر کوم سړي سجدهٔ سهو پاته وي د هغه په سلام ګرځولو سره بالکل لمونځ نه ختميږي) لِأَنَّهَا وَجَبَتْ جَبْرًا لِلنُّقْصَانِ ځکه چي سجدهٔ سهو د نقصان د تلافي لپاره واجب سوې ده فَلَا بُدَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ فِي إِحْرَامِ الصَّلَاةِ نو ځکه ضروري ده چي دا سړی دي د لمانځه په احرام (او حالت) کي وي وَعِنْدَهُمَا يُخْرِجُهُ

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله بعد تفصيل المسئلة: و التوقف في بقاء التحريمة و بطلانها أصح لأن التحريمة واحدة فإذا بطلت لا تعود إلا بإعادة و لم توجد فتح القدير ج:١، ص: ٣٥٠. [القول الراجح ج:١، ص:١٣٠]

عَلَىٰ سَبِيلِ التَّوَقُّفِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز (سلام ګرځول) لمونځ کونکی د توقف په توګه (له لمانځه) څخه باسي لِأَنَّهُ مُحَلِّلٌ فِي نَفْسِهِ ځکه چې سلام خو په خپل ذات کې حلالونکی دی (يعني د لمانځه ختمونکی دی) وَإِنَّمَا لَا يَعْمَلُ لېکن دلته سلام خپل عمل نه کوي (يعني لمونځ نه ختموي) لِحَاجَتِهِ إِلَىٰ أَدَاءِ السَّجْدَةِ ځکه چې دلته د سجدې اداء کولو ضرورت سته فَلَا يَظْهَرُ دُونَهَا نو د سجدهٔ سهوې تر کولو به مخکې د سلام عمل نه ښکاره کیږي وَلَا حَاجَةَ عَلَىٰ اعْتِبَارِ عَدَمِ الْعَوْدِ او د نه را ګرځولو په اعتبار سره هيڅ ضرورت نسته (يعني که امام سجدهٔ سهو نه را وګرځوي نو تر سلام وروسته د لمانځه ختمولو هيڅ ضرورت نسته) وَيَظْهَرُ الِاخْتِلَافُ فِي هَذَا [١] او (د) اختلاف (ثمره خو به يو) په دې مسئله کې ښکاره کیږي وَفِي انْتِقَاضِ الطَّهَارَةِ بِالْقَهْقَهَةِ [٢] او (بل به) په قهقهه خندا سره په اودس ماتېدلو کې (ښکاره کیږي) وَتَغَيُّرِ الْفَرْضِ بِنِيَّةِ الْإِقَامَةِ فِي هَذِهِ الْحَالَةِ [٣] او (بل به) په دې حالت کې د اقامت په نيت سره د فرضو په بدلېدلو کې (ښکاره کیږي).

اللغات: ﴿مُحَلِّلٌ﴾ حلالوونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که پر يو امام سجدهٔ سهو واجب وه، او د سجدهٔ سهوې له اداء کولو څخه بغیر یې سلام وګرځوی، او بل سړی راغلی د ده تر سلام ګرځولو وروسته د ده په لمانځه کې داخل او شريک سو، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی که تر سلام ګرځولو وروسته امام سجدهٔ سهو وکړه نو دا مقتدی د ده په لمانځه کې داخل او شريک شمارل کیږي، او که امام سجدهٔ سهو ونه کړه نو د ده په لمانځه کې به شريک او داخل نه شمارل کیږي.

د سجدهٔ سهوې سلام د لمانځه له حرمت څخه لمونځ ګزاره باسي، که نه؟: دا مسئله او له دې څخه ماسوا نور دېرې مسئلې پر دې اصل موقوفې دي چې پر چا سجده سهوه واجب وي، نو سلام هغه د لمانځه له حرمت څخه باسي او که نه؟ په دې باره کې د امام محمد رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې د دې سړي سلام دی له لمانځه څخه نه باسي، نه موقوفاً او نه باتاً (قطعي)، همدا قول د امام زفر رَحِمَهُ الله دی.

د امام محمد دليل: دا دی چې سجدهٔ سهو د هغه نقصان د تلافی او جبران لپاره واجب ده کوم نقصان چې په مؤدی يعني په اداء سوي لمانځه کې پيدا سوی وي، او تلافي په هغه وخت کې متحقق کیږي چې هغه شی موجود وي چې د هغه تلافي کول مقصود وي، يعني د سجدې په ذريعه د لمانځه د نقصان تلافي هغه وخت کېدای سي چې کله لمونځ موجود وي، او د لمانځه بقاء پر تحريمه موقوفه ده، نو معلومه سوه چې پر چا چې سجدهٔ سهو واجب وي، د هغه سلام ګرځول هغه د لمانځه له احرامه څخه نه خارجوي، بلکې د سلام بلوجود تحريمه پاته کیږي، نو کله چې تر سلام وروسته تحريمه پاته ده، نو تر سلام وروسته به د هغه اقتداء کول هم صحيح وي، هغه که امام سجدهٔ سهو وکړي او که نه وکړي.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله مذهب دا دی چې سلام هغه له لمانځه څخه موقوفاً باسي، د موقوفاً مطلب دا دی چې تر سلام وروسته که هغه سجدهٔ سهو وکړه نو ويل کیږي به چې تحريمه پاته ده، او چې تحريمه پاته ده نو د بل لمونځ کونکي اقتداء کول به هم (په هغه پسې) صحيح وي، او که تر سلام وروسته هغه سجده نه وکړه، نو ويل کیږي به چې تحريمه پاته نه سوه او کله چې تحريمه پاته نه سوه نو اقتداء به يې هم صحيح نه وي.

د شيخينو دليل: دا دی چې سلام په خپله محلل دی يعني له لمانځه څخه باسونکی او د لمانځه ختمونکی دی، لکه د نبي ﷺ فرمان دی: تحليلها التسليم هو! که يو مانع پيښ سي نو لفظ د سلام به خپل عمل نه کوي، او مانع د سجدهٔ سهوي اداء کول دي، نو که تر سلام وروسته سجدهٔ سهو وکړي، نو مانع پيدا سو، نو ځکه به سلام خپل عمل نه کوي، يعني لمونځ گزار به له لمانځه څخه نه باسي، او که سجدهٔ سهو نه وکړي، نو د سلام د عمل مانع يعني د تحليل مانع پيدا نه سو په دې وجه به لفظ د سلام خپل عمل کوي، يعني لمونځ گزاره به له لمانځه څخه باسي، نو له دليل څخه ثابته سوه چې پر کوم سړي سجدهٔ سهو واجب وي د هغه سلام هغه موقوفاً له لمانځه څخه باسي.

ويظهر الاختلاف الخ د شيخينو او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د اختلاف نتيجه په دې درې مسئلو کي ښکاره کيږي: (١) اوله مسئله دا ده که يو څا تر سلام گرځولو وروسته او تر سجدهٔ سهو کولو مخکي د امام اقتداء وکړه، نو د شيخينو په نيز که امام سجدهٔ سهو وکړي نو د مقتدي اقتداء به صحيح وي، او د امام محمد په نيز که سجدهٔ سهو وکړي او که نه وکړي، په هر حال کي به د مقتدي اقتداء صحيح وي، ځکه که سجدهٔ سهو هم نه وکړي نو بيا به هم تر سلام وروسته د هغه تحريمه پاته وي. (٢) دويمه مسئله دا ده که تر سلام وروسته دغه امام قهقهه خندا وکړه، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز د هغه اودس ماتيږي، ځکه چې تر اوسه لا تحريمه پاته ده، نو ځکه د لمانځه په مينځ کي قهقهه واقع سوه. او د شيخينو په نيز که سجدهٔ سهو وکړي نو د هغه اودس ماتيږي، ځکه چې په دې صورت کي به د لمانځه په مينځ کي قهقهه واقع سي، او که سجدهٔ سهو نه وکړي نو اودس يې نه ماتيږي، ځکه گواکي تر سلام وروسته لمونځ ختم سو، او قهقهه تر لمانځه وروسته واقع سوه. (٣) دريمه مسئله دا ده که يو مسافر د ماپښين فرضي لمونځ دوه رکعته کوي او تر سلام وروسته يې د اقامت نيت وکړی، نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز به فرض بدليږي او څلور رکعته به کوي، ځکه چې تر اوسه لا تحريمه پاته ده، او د شيخينو په نيز که مسافر سجدهٔ سهو وکړي نو د هغه فرض به څلور رکعتو ته بدليږي، او که سجدهٔ سهو نه وکړي، نو د هغه فرض به څلورو رکعتو ته نه بدليږي، ځکه چې د سلام په وخت کي د هغه لمونځ ختم سو. (ځکه اصول دا دی چې د امام په محمد رَحِمَهُ الله په نيز که سجدهٔ سهو وکړي او که نه وکړي تر سلام وروسته به تحريمه هم پاته وي، او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز که سجدهٔ سهو وکړي نو تحريمه به پاته وي، او که يې نه وکړي نو پر سلام به تحريمه هم ختميږي).

که تر سلام وروسته څوک سجدهٔ سهو نه وکړي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ سَلَّمَ يُرِيْدُ بِهِ قَطْعَ الصَّلَاةِ او څوک چې د لمانځه د ختمولو په اراده سره سلام وکړي وَعَلَيْهِ سَهْوٌ حال دا چې پر هغه سجدهٔ سهو پاته وي فَعَلَيْهِ أَنْ يَّسْجُدَ لِلسَّهْوِ نو پر هغه ضروري ده چې سجدهٔ سهو وکړي لِأَنَّ السَّلَامَ غَيْرُ قَاطِعٍ ځکه چې سلام لمونځ نه ختمونکی دی (يعني لمونځ نه ختموي) وَنِيَّتُهُ تَغْيِيْرُ لِلْمَشْرُوْعِ او د هغه نيت د (يو) مشروع (شي) بدلوونکی دی فَلَغَتْ نو ځکه به د هغه نيت بېکاره وي.

اللغات: ﴿قَطع﴾ د فتح د باب مصدر دی: ختمول. ﴿لَغَتْ﴾ د نصر د باب ماضي صيغه ده: لغو کېدل، بېکاره کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که پر يو سړي سجدهٔ سهو واجب وه، او دې سړي په قصده او عمداً د لمانځه ختمولو په نيت سره سلام وگرځوی، نو تر کومه وخته چې هغه سجدهٔ سهو نه وکړي تر هغه وخته له لمانځه څخه نه سي وتلای، ځکه چې سلام خو لمونځ ختموي، لېکن پر کوم سړي چې سجدهٔ سهو واجب وي د هغه په سلام لمونځ نه ختميږي، نو تر کومه

وخته چي هغه سجدۂ سهو نه وکړي تر هغه وخته له لمانځه څخه نه سي وتلای، که یو وار نه بلکي لس واره هم سلام وکړي له لمانځه څخه نه سي وتلای، او د لمانځه ختمولو چي څومره پوخ نیت هم وکړي، نیت به یې بېکاره وي، ځکه چي په سلام سره د لمانځه ختمول مشروع سوي دي او د مشروع کار ختمول د بنده په اختیار کي نه دي.

د لمانځه په رکعتونو کي د اول وار لپاره د شک کونکي سړي حکم

وَمَنْ شَكَّ فِيْ صَلَاتِهٖ او څوک چي په خپل لمانځه کي شکمن سو فَلَمْ يَدْرِ أَثَلَاثًا صَلّٰى أَمْ أَرْبَعًا او هغه ته دا معلومه نه وه چي درې رکعته یې کړي دي او که څلور وَذٰلِكَ أَوَّلُ مَا عَرَضَ لَهٗ او دا اول وار وو چي ده ته شک ور پېښ سو إِسْتَأْنَفَ نو دا سړی دي د نوي سره (له شروع څخه) لمونځ وکړي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاتِهٖ أَنَّهٗ كَمْ صَلّٰى کله چي په تاسو کي څوک په خپل لمانځه کي شکمن سي چي څومره (رکعتونه) یې کړي دي فَلْيَسْتَقْبِلِ الصَّلَاةَ نو له شروع څخه دي لمونځ وکړي.

اللغات: ﴿إِسْتَأْنَفَ﴾ د استفعال ماضي ده: له نوي سره کول، له شروع څخه کول.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دي چي که یو سړي ته په لمانځه کي شک سي او په یقین سره دا ورته معلومه نه وي چي څو رکعته یې کړي دي، او په خپل ژوند کي یې دا اول وار وي چي شک ورته پېښ سي، نو اوس حکم دا دی چي دا سړی دي له نوي سره لمونځ وکړي، ځکه په حدیث شریف کي د شکمن لپاره له شروع څخه د لمونځ کولو حکم سوی دی.

فایده: د وذلك أول ما عرض له په مصداق کي د فقهاوو اختلاف دی، صاحب د اجناس وایي چي له دې څخه مراد دا دي، چي سړی په خپل ژوند کي اول وار سهوه سي، د شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله او د نورو فقهاوو په نیز د دې مطلب دا دی چي هېره او سهوه د ده په عادت او فطرت کي نه وي، خو په یو وجه سره سهوه سي، د فخر الاسلام بزدوي رَحِمَهُ الله رایه دا ده چي له دې څخه مراد دا دي چي په نورو کارو کي خو سهو کیږي، لیکن په لمانځه کي یې دا اوله سهوه وي، په دې درې سره قولونو کي د شمس الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله قول زیات غوره دی، او د قیاس مطابق دی.

هر وخت او په وار وار د شک کونکي سړي حکم

وَإِنْ كَانَ يَعْرِضُ لَهٗ كَثِيْرًا او که لمونځ کونکي ته دا شک ډېر (او په وار وار) ور پېښېدی بَنٰى عَلٰى أَكْبَرِ رَأْيِهٖ نو خپل پر غالب ګومان دي بناء کوي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي مَنْ شَكَّ • فِيْ صَلَاتِهٖ کوم سړي ته چي په لمانځه کي شک سو فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ نو هغه دي د صحیح خبري لپاره اندازه ولګوي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهٗ رَأْيٌ او که د هغه هیڅ ګومان نه وو. بَنٰى عَلَى الْيَقِيْنِ نو پر یقین دي بناء کوي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ • ځکه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي مَنْ شَكَّ فِيْ صَلَاتِهٖ فَلَمْ يَدْرِ أَثَلَاثًا صَلّٰى أَمْ أَرْبَعًا چا ته چي په خپل لمانځه کي شک سو او ورته معلومه نه

• تخریج: أخرجه في العرف الشذي في شرح سنن ترمذي، حديث رقم: ٣٢٠، ج: ٢.

• تخریج: أخرجه البخاري في كتاب الصلاة، باب التوجه نحو القبلة، حديث رقم: ٤٠١.

• تخریج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب فيمن شك في الزيادة والنقصان، حديث رقم: ٣٩٦.

وه چي درې رکعته يې وکړه که څلور بَنٰی عَلَی الْأَقَلِّ نو پر کم دي بناء وکړي وَالْإِسْتِقْبَالُ بِالسَّلَامِ أَوْلٰی او له نوي سره په سلام شروع کول غوره دي(يعني د شک په صورت کي چي کله لمونځ د نوي سره شروع کوي نو مخکي لمونځ په سلام سره ختمول غوره دي) لِأَنَّهٗ عُرِفَ مُحَلِّلًا ځکه چي سلام د (لمانځه د) حلالوونکي په توګه پيژندل سوی دی دُوْنَ الْكَلَامِ نه خبري وَمُجَرَّدُ النِّيَّةِ يَلْغُوْ او خالي نيت بيکاره دی وَعِنْدَ الْبِنَاءِ عَلَی الْأَقَلِّ يَقْعُدُ فِيْ كُلِّ مَوْضِعٍ يَتَوَهَّمُ آخِرَ صَلَاتِهٖ او پر کم بانْدي د بناء کولو په وخت کي دي لمونځ کونکي په هر هغه ځای کي کښيني چي هلته د آخري لمانځه وهم وي كَيْ لَا يَصِيْرَ تَارِكًا فَرْضَ الْقَعْدَةِ د دې لپاره چي د فرض ناستي (قعدې) پرېښوونکی نه سي، والله أعلم.

اللغات: ﴿أكبر رأيي﴾ غالب ګومان، ﴿فليتحر﴾ د تفعّل له باب څخه د امر غائب صيغه ده: اندازه لګول، ﴿يلغو﴾ د تفعّل له باب څخه د مضارع صيغه ده: بيکاره او لغوه کيدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی د رکعتونو د شمار په باره کي زيات شکمن کيدی، نو د دې دوه صورتونه دي: يا خو به د ده يو طرف ته غالب ګومان وي يا به يې نه وي، که يې غالب ګومان وي نو د هغه مطابق دي عمل وکړي.

نقلي دليل: دا حديث دی: من شك في صلاته فيتحر الصواب، ملا علي قاري د بخاري و مسلم په حواله سره دا حديث څه په داسي تفصيل سره بيان کړی دی: عن ابن مسعود أن النبي ﷺ قال إذا شك أحدكم فليتحر الصواب وليتم عليه ثم ليسلم ثم ليسجد سجدتين، (يعني کله چي په تاسو کي يو چا ته شک ور پيښ سي نو هغه دي د صحيح خبري لپاره تحري وکړي او د تحري او غالب ګومان مطابق دي عمل وکړي بيا دي سلام وګرځوي او دوې سجدې دي وکړي).

عقلي دليل: دا دی چي که هر وار د لمانځه را ګرځولو حکم ورکړل سي نو حرج او تکليف به راسي، نو د حرج ليري کولو لپاره به پر غالب ګومان عمل کيږي.

او که يوطرف ته يې هم غالب ګومان نه وي نو پر کمه اندازه دي عمل وکړي يعني که په درې يا څلورو رکعتو کي يې شک سو او يو طرف ته يې غالب ګومان نه وو، نو درې رکعته دي وکړي، دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: من شك في صلاته فلم يدر أثلاثا صلى أم أربعا بنى على الأقل.

والاستقبال بالسلام الخ له دې عبارت څخه د مصنف رَحِمَهُ الله مقصد دا دی چي که يې اراده دا وي چي له شروع څخه لمونځ وکړي نو دغه اوسني او شکمن لمونځ په سلام سره ختمول زيات غوره دی، يعني سم سلام دي وګرځوي. او له شروع څخه دي لمونځ وکړي، او په خبرو سره لمونځ ختمول غوره نه دي، ځکه چي په شريعت کي سلام ته محلل (حلالوونکی او د لمانځه ختموونکی) ويل سوي دي، نه خبرو ته، خبري خو لمونځ فاسدوي. نبي ﷺ فرمايلي دي: تحليلها السلام.

ومجرد النية الخ فرمايي چي څرنګه د خبرو په ذريعه سره لمونځ ختمول غوره نه دي، همدارنګه صرف په نيت سره هم لمونځ ختمول غوره نه دي، يعني دا چي لمونځ کونکي صرف په ولاړه نيت وکړي دويم لمونځ شروع کړي، دا هم غير اولیٰ ده، بلکي نيت دي د داسي عمل سره يو ځای کړي چي هغه د لمانځه د ختمولو لپاره مشروع سوی وي يعني سلام.

وعند البناء على الأقل الخ د دې عبارت حاصل دا دی چې که لمونځ کونکي ته د رکعتونو د شمار په باره کې هر وخت شک پیښیدی، او غالب گومان یې هم نه وو، نو د ده لپاره حکم دا دی چې پر کمه اندازه دې بناء کوي (لکه اوس چې ذکر سول)، نو پر کمه اندازه د بناء کولو په صورت کې دې دا سرې پر هر رکعت ناسته کوي، د مثال په توگه لمونځ کونکي ته په څلور رکعتیز لمانځه کې دا شک سو چې دا اول رکعت دی او که دویم رکعت دی، او یو طرف ته یې غالب گومان هم نه وو، نو هغه دې دا اول رکعت وگڼي، لیکن د دې اول رکعت تر پوره کولو وروسته دې ناسته (قعده) وکړي، ځکه چې دا هم ممکنه ده چې دا دې دویم رکعت وي، او پر دویم رکعته ناسته واجب ده، نو ځکه دې ناسته وکړي، بیا دې ولاړ سي، او دویم رکعت دې وکړي او ناسته دې وکړي ځکه چې لمونځ کونکي دا دویم رکعت گرځولی دی، بیا دې ولاړ سي دریم رکعت دې وکړي او بیا دې ناسته وکړي ځکه چې ممکنه ده چې دا دې څلورم رکعت وي او پر څلورم رکعت ناسته فرض ده، بیا دې ولاړ سي څلورم رکعت دې وکړي او ناسته دې وکړي، ځکه چې د لمونځ کونکي په نیز دا د څلورم رکعت په حکم کې دی، او پر څلورم رکعت ناسته فرض ده، صاحب د هدایې فرمایي چې دا طریقه دې په دې وجه کوي، چې فرض ناسته څني پاته نه سي، لنډه دا چې د فرض او واجب ناستې د پاته کېدلو د اندېښنې په وخت کې دې پر هر رکعت ناسته کوي چې صورت یې موږ اوس په تفصیل سره بیان کړی.



بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيْضِ

(دا) باب د ناروغه د لمانځه (په بيان کي) دی

تشريح: تر دې مخکي صاحب د کتاب د سجدهٔ سهوې احکام بيان کړل، اوس له دې ځايه د مريض (ناروغه) د لمانځه احکام بيانوي، د دې دواړو په مينځ کي مناسبت دا دی چي سهوه (هېره) او مرض دواړه عوارض دي، او دواړه آسماني يعني غير اختياري عوارض دي، نو ځکه يو تر بل وروسته بيانيږي، او څرنګه چي د سهوې عارض د مرض په مقابله کي زيات پيښيږي، او په خپله مريض هم د سهوې تر اغېز لاندي راځي، نو ځکه د سهوې احکام د مريض تر احکامو مخکي بيان سول. (عنايه ج:۲، ص:۳)

د داسي مريض حکم چي پر ولاړه قدرت نه لري

إِذَا عَجَزَ الْمَرِيْضُ عَنِ الْقِيَامِ کله چي مريض له ولاړي څخه عاجزه سي صَلّٰى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ نو په ناسته دي په رکوع او سجده سره لمونځ کوي لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ لِعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ • ځکه نبي ﷺ عمران بن حصين ﷺ ته (چي د بواسيرو په مرض مبتلا وو) فرمايلي وو صَلِّ قَائِمًا په ولاړه لمونځ کوه فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ که په ولاړي دي لمونځ نه سو کولای فَقَاعِدًا نو بيا په ناسته لمونځ کوه فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ او که په ناسته دي (هم) لمونځ نه سو کولای فَعَلَى الْجَنْبِ تُوْمِئُ إِيْمَاءً نو پر بغل باندي (په پروتي سره) په اشاره لمونځ کوه وَلِأَنَّ الطَّاعَةَ بِحَسَبِ الطَّاقَةِ او په دې وجه (هم) چي طاعت په اندازه د وس (او توان) وي.

اللغات: ﴿عجز﴾ د سمع د باب ماضي ده: عاجزه کېدل، بې وسه کېدل، ﴿جنب﴾ ارخ، څنګ، بغل.

تشريح: **مسئله:** دا ده که يو سړی مريض وي او دومره کمزوری او ضعيفه سي چي لمونځ په ولاړي نه سي کولای، نو د هغه لپاره حکم دا دی چي په ناسته دي لمونځ وکړي او په ناسته دي رکوع او سجده اداء کوي، او که مرض دومره سخت سي چي په ناسته هم لمونځ نه سي کولای نو حکم دا دی چي په پروته دي په اشاره سره لمونځ کوي.

نقلي دليل: ځکه چي عمران بن حصين ﷺ د بواسيرو په مرض مبتلا وو، او له نبي ﷺ څخه يې د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه، نو نبي ﷺ اول په ولاړه د لمونځ کولو حکم ورته وکړی، او ورته يې فرمايل: "چي که پر ولاړه هم قدرت نه لرې نو په ناستي لمونځ کوه او که پر ناسته هم قدرت نه لرې نو په پروتي لمونځ کوه". د نبي ﷺ دا حکم د دې خبري ښکاره دليل دی چي په هر ډول مرضونو کي دا آساني سته، او مريض ته د دې د اختيارولو او پر دې د عمل کولو حکم دی.

• تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الصلاة، باب ما جاء أن صلاة القاعد على النصف من صلاة القائم، حديث رقم: ۳۷۲.

عقلي دليل: دا دی چې پر بندګانو د وس او توان مطابق اطاعت کول ضروري دي، نو د چا چې په کوم حالت او صورت سره د عبادت کولو وس او توان وي او په کوم حالت کې عبادت ورته آسانه وي، نو د هغه په حق کې د عبادت او اطاعت هغه حالت ضروري واجب دی، او په دې وجه هم چې قرآن کريم په ډاګه دا اعلان کړی دی: لا يكلف الله نفساً إلا وسعها.

د مريض لپاره د رکوع او سجدې طريقه

قَالَ: فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ فرمايي: که (بيا) يې د رکوع او سجدې وس نه درلودی أَوْمَأَ إِيمَاءً نو اشاره دې کوي يَعْنِي قَاعِدًا يعني په ناستې سره لِأَنَّهُ وُسْعُ مِثْلِهِ ځکه چې دا يې اداء کول د ده په وس کې دي وَجَعَلَ سُجُودَهُ أَخْفَضَ مِنْ رُكُوعِهِ او خپله سجده دې د رکوع په نسبت کښته کوي لِأَنَّهُ قَائِمٌ مَقَامَهُمَا ځکه چې اشاره د دې دواړو قائم مقام ده فَأَخَذَ حُكْمَهُمَا نو ځکه يې د دواړو حکم واخيستی وَلَا يَرْفَعُ إِلَى وَجْهِهِ شَيْئًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ او خپل مخ ته دې يو داسې شی نه راپورته کوي چې پر هغه سجده وکړي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ• ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تَسْجُدَ عَلَى الْأَرْضِ فَاسْجُدْ که په ځمکه باندې د سجدې کولو قدرت لرې نو پر ځمکه سجده کوه وَإِلَّا فَأَوْمِ بِرَأْسِكَ کنې په خپل سر اشاره کوه فَإِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ او که لمونځ ګزاره داسې وکړه وَهُوَ يَخْفِضُ رَأْسَهُ په داسې حال کې چې سر يې (هم) ټيټوی أَجْزَأَهُ لِوُجُودِ الْإِيمَاءِ نو د هغه لپاره دا کافي ده ځکه چې اشاره راغله فَإِنْ وَضَعَ ذٰلِكَ عَلَى جَبْهَتِهِ او که دا شی يې پر تندي کېښوی لَا يُجْزِئُهُ لِانْعِدَامِهِ نو دا د هغه لپاره کافي نه ده ځکه چې اشاره نه راغله.

اللغات: ﴿أَوْمَأَ﴾ د افعال د باب ماضي ده: اشاره کول. ﴿أَخْفَضَ﴾ د سمع د باب اسم تفضيل دی: زيات کښته، زيات ټيټ.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې که مريض پر رکوع او سجده کولو قدرت نه لري، نو په ناسته دې په اشاره سره رکوع او سجده کوي، ځکه چې په دغه وخت کې د ده طاقت او توان همدومره دی، او مخکې تېر سول چې طاعت د وس او طاقت مطابق واجبيږي، خو د سجدې اشاره دې د رکوع په نسبت کښته کوي، يعني د سجدې د اشاره کولو په وخت کې دې سر زيات ټيټوي.

دليل: دا دی چې اشاره د رکوع او سجدې پر ځای ولاړه ده، نو ځکه د رکوع او سجدې په حکم کې به وي، او څرنګه چې سجده د رکوع په نسبت کښته وي، نو د سجدې اشاره به هم د رکوع د اشارې په نسبت کښته وي.

ولا يرفع الخ امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې مريض به د سجدې لپاره يو شی مثلاً لرګی، بالښت او داسې بل شی نه راپورته کوي، دليل دا حديث دی: إن قدرت أن تسجد على الأرض فاسجد و إلا فأوم برأسك.

وإن فعل ذلك الخ فرمايي چې د مريض سړي لپاره لرګی، بالښت او نور راپورته کول مکروه دي، لېکن بيا هم که يو مريض د لمانځه په وخت کې داسې وکړه نو د دې به دوه صورتونه وي: (۱) د رکوع او سجدې لپاره به سره ټيټوي يا به يې نه ټيټوي، که يې سر ټيټوی نو دا کافي ده، ځکه چې په سر ټيټولو سره اشاره راغله، او همدغه اشاره پر ده فرض ده، خو دا

• تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، باب الايماء بالركوع والسجود إذا عجز عنهما، حديث رقم: ٣٦٦٩.

صورت صرف مکروه دی، او که لرګی یا بالښت یې را پورته کوی او تندی پر لګوی، او سر یې بالکل نه ټیټوی، نو په دې ډول سره رکوع او سجده نه اداء کیږي، ځکه چې په دې صورت کې اشاره نسته، حال دا چې اشاره فرض ده.

د هغه مریض لپاره د لمانځه طریقه چې له ناستې څخه عاجزه وي

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْقُعُودَ او که مریض پر ناسته (هم) قدرت نه درلودی اِسْتَلْقَى عَلَى ظَهْرِهِ نو پر خپله شا دې پرېوځي وَجَعَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْقِبْلَةِ او خپلې پښې دې د قبلې و طرف ته کړي وَأَوْمَأَ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ او رکوع او سجده دې په اشاره سره کوي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● ځکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي يُصَلِّي الْمَرِيضُ قَائِمًا ناروغه(مريض) به په ولاړې لمونځ کوي فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا او که د ولاړې وس یې نه وو نو په ناستې به یې کوي فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَى قَفَاهُ او که د ناستې وس یې (هم) نه وو نو د څټې پر طرف (يعني د شا پر تخته) به لمونځ کوي يُومِئُ إِيمَاءً او اشاره به کوي فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ او که پر دې یې (هم) قدرت نه وو فَاللّٰهُ تَعَالَى أَحَقُّ بِقَبُولِ الْعُذْرِ مِنْهُ نو الله (د دې) زيات لائق دی چې له هغه څخه عذر قبول کړي.

اللغات: ﴿اِسْتَلْقَى﴾ د استفعال د باب ماضي ده: د شا پر تخته بيدېدل. ﴿قَفَا﴾ څټه، ورمېږ، د غاړې د شا طرف.

تشريح: په دې عبارت کې هم د مريض د حالت او د مريض لمانځه بيان دی، فرمايي چې که لمونځ کونکی په ناستې په اشاره سره هم لمونځ نه سو کولای، نو او س حکم دا دی چې پر شا دې پرېوځي او خپلې پښې دې د قبلې پر طرف کړي په اشاره سره دې رکوع او سجده کوي، او تر سر دې لاندې يو پنډ بالښت کېښږدي، چې په اشاره کولو کې آسانې وي.

دليل: په دې سلسله کې دليل د نبي ﷺ هغه حديث کوم چې په کتاب کې ذکر سو، چې د هغه په آخر کې دا دي: که په ناستې مريض لمونځ نه سو کولای نو د څټې پر طرف يعني پر شا دې پرېوځي او په اشاره دې لمونځ کوي، دا د مريض لپاره آخري صورت دی، او که هغه داسې هم نه سي کولای، نو اوس د هغه لپاره د لمانځه کولو بل صورت نسته، لهذا د الله ﷻ له سپېڅلې ذات څخه دا اميد سته چې د هغه عذر قبول کړي.

د عذر د قبلېدلو دوه مطلبه کېدای سي: (۱) اول مطلب دا چې الله تعالیٰ به په اوس وخت کې له هغه څخه اداء ساقطه کړي، لېکن د جوړوالي په صورت کې به د دې لمونځونو قضاء پر واجب وي، (۲) او دويم مطلب دا چې اداء او قضاء به دواړه د هغه له ذمې څخه ساقط کړي، لکه څرنګه صاحب د عنايې د دې مطلب ته ميلان کړی دی. (عنايه ج۲، ص۶)

په پروتې سره پر ډډه(اړخ) د لمونځ کولو حکم

قَالَ: وَإِنِ اسْتَلْقَى عَلَى جَنْبِهِ او که مريض پر اړخ پرېوتی وَوَجْهُهُ إِلَى الْقِبْلَةِ او د هغه مخ د قبلې پر طرف وو فَأَوْمَأَ او اشاره یې کول جَازَ نو (دا) جائز دي لِمَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ د هغه حديث په وجه کوم چې موږ مخکې بيان کړی إِلَّا أَنَّ الْأُولَى هِيَ الْأَوْلَى عِنْدَنَا لېکن زموږ په نېز اول صورت (يعني د شا پر تخته پرېوتل) زيات غوره دي خِلَافًا لِلشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ په خلاف د امام شافعي رَحِمَهُ الله لِأَنَّ إِشَارَةَ الْمُسْتَلْقِي تَقَعُ إِلَى هَوَاءِ الْكَعْبَةِ ځکه چې د شا پر تخته باندې د پروت لمونځ کونکي اشاره د کعبې (مبارکې) د فضا و طرف ته راځي وَإِشَارَةُ الْمُضْطَجِعِ عَلَى جَنْبِهِ إِلَى جَانِبِ قَدَمَيْهِ او

● تخريج: أخرجه دار قطني، باب صلاة المريض لايستطيع القيام، حديث رقم: ۱۴۱۰ - ۱۴۱۲.

پر اړخ بالندي د پروت لمونځ كونكي اشاره د هغه د پښو و طرف ته راځي وَبِهِ تَتَأَدَّى الصَّلَاةُ او لمونځ هم د كعبې د فضا وطرف ته په اشاره كولو سره اداء كيږي.

اللغات: ﴿هَوَاء﴾ فضاء، د كعبې تر بام لوړه فضاء. ﴿الْمُضْطَجِع﴾ دافتعال اسم فاعل دی: پر بغل پرېوتونكی.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي كه مريض پر بغل (اړخ) پرېوځي او په اشاره سره لمونځ كوي، په داسي حال كي چي د ده مخ د قبلې پر طرف وي، نو دا هم جائز دی، دليل د عمران بن حصين ﷺ حديث دی چي په آخر كي يې دا دي: فإن لم تستطع فعلى الجنب تؤمي إيماء، كوم چي د باب په اول كي ذكر سو. او د الله دا فرمان: يذكرون الله قياما وقعودا و على جنوبهم هم پر دې دلالت كوي، خو د احنافو په نيز اول صورت يعني پر شا پرېوتل او اشاره كول زيات غوره دي، او د شوافعو په نيز پر اړخ پرېوتل زيات غوره دي، زموږ په نيز ځكه پر شا پرېوتل غوره ګرځول سوي دي چي د پر شا پرېوتونكي اشاره د كعبې په فضاء كي واقع كيږي، لېكن پر بغل د پرېوتونكي اشاره د پښو پر طرف واقع كيږي، او بيا د پښو په واسطه د قبلې پر طرف واقع كيږي، نو بنكاره ده چي په كوم صورت كي سيده او بې له څه خنډه د قبلې و طرف ته اشاره كيږي، هغه صورت به زيات غوره وي.

وبه تتأدى الصلاة الخ مطلب يې دا دی چي كله د مريض لمونځ كونكي اشاره د كعبې د فضاء وطرف ته سي نو ګواكي دا د كعبې و طرف ته سوه، او لمونځ هم په هغه وخت كي اداء كيږي چي كله د لمونځ كونكي اشاره د قبلې و طرف ته وي، نو ځكه دا صورت غوره دی.

د هغه مريض حكم چي په سر هم اشاره نه سي كولای

فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعِ الْإِيمَاءَ بِرَأْسِهِ او كه مريض په خپل سر هم د اشارې كولو وس نه درلودی أُخِّرَتِ الصَّلَاةُ عَنْهُ نو له هغه شخصه به لمونځ وروسته كيږي وَلَا يُومِئُ بِعَيْنَيْهِ وَلَا بِقَلْبِهِ وَلَا بِحَاجِبَيْهِ او اشاره به نه كوي په خپلو ستر ګو سره او نه په خپل زړه سره او نه په خپلو ورځو (وروځو) سره خِلَافًا لِزُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ● لِمَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ د امام زفر رَحِمَهُ الله اختلاف دی د هغه دليل په وجه كوم چي مخكي بيان كړی وَلِأَنَّ نَصْبَ الْإِبْدَالِ بِالرَّأْيِ مُمْتَنِعٌ او په دې وجه (هم) چي په (خپله) رايه سره د بدل ټاكل منع دي وَلَا قِيَاسَ عَلَى الرَّأْسِ او پر سر قياس نه سي كېدلای لِأَنَّهُ يَتَأَدَّى بِهِ رُكْنُ الصَّلَاةِ ځكه چي په سر د لمانځه ركن اداء كيږي دُونَ الْعَيْنِ وَأُخْتَيْهَا نه دا چي په ستر ګو او د ستر ګو په خوندو (يعني په زړه او ورځو) سره وَقَوْلُهُ أُخِّرَتْ عَنْهُ إِشَارَةٌ إِلَى او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا وينا: أُخرت عنه و دې طرف ته اشاره ده أَنَّهُ لَا تَسْقُطُ عَنْهُ الصَّلَاةُ چي له مريض څخه به لمونځ نه ساقطيږي (صرف وروسته كيږي به) وَإِنْ كَانَ الْعَجْزُ أَكْثَرَ مِنْ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ كه څه هم دا عاجزه كېدل تر يوې ورځي او شپې زيات وي إِذَا كَانَ مُفِيقًا په دې شرط چي په هوښ كي وي (يعني حواس او هوښ يې پر خپل ځای وي) هُوَ الصَّحِيحُ صحيح قول همدا دی لِأَنَّهُ يَفْهَمُ مَضْمُونَ الْخِطَابِ ځكه چي هوښ لرونكی سړی د خطاب (مخاطب والي) په مضمون پوهيږي بِخِلَافِ الْمُغْمَى عَلَيْهِ په خلاف د بې هوښه سړي.

● القول الراجح: قول علمائنا الثلاثة يعني لا يؤمئ بعينه ولا بقلبه..... كما قال العلامة قاضيخان رَحِمَهُ الله: إذا عجز المريض عن الايماء بالرأس في ظاهر الرواية يسقط عنه فرض الصلوة ولايعتبر الايماء بالعين والحاجبين، الخانيه ج:١، ص:٨٣. [القول الراجح ج:١، ص:١٣١]

اللغات: ﴿أُخِّرَتْ﴾ د تفعیل د باب ماضي مجهول دی: وروسته کول، ځنډول. ﴿عاجِزِيْنَ﴾ ورځې. ﴿المُفِيْقُ﴾ هغه چې هوښ او حواس یې پر ځای وي.

تشریح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي که د یو سړي مرض دومره زیات سو چې په سر یې هم اشاره نه سوه کولای نو د ده په حق کې به لمونځ وروسته کیږي، (یعني لمونځ به ځنډوي وروسته به یې قضاء راوړي). او د ده لپاره به په سترګو، زړه او وریځو سره اشاره کافي نه وي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې مریض به په سترګو او زړه سره اشاره کوي او چې کله جوړ سي دا لمونځ به را ګرځوي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله همدا مسلک دی.

زموږ دلیل: د نبي ﷺ هغه حدیث دی کوم چې مخکې تېر سو یعني: إن قدرت أن تسجد على الارض فاسجد وإلا فأومِ برأسك، په دې حدیث کې په آخري صورت کې سر بیان سوی دی، که له سر څخه ماسوا په بل اندام سره اشاره جائز وای نو نبي ﷺ به هغه ضرور بیانولای، نو د نبي ﷺ نه بیانول د نه جواز دلیل دی.

عقلي دلیل: دا دی چې اشاره په حقیقت کې د رکوع او سجدې بدل (او قائم مقام) ده، او بدل په خپله رایه سره متعین کول منع دي، او په حدیث کې د سر د اشارې ذکر سته، نه د سترګو او نورو، نو که په دې شیانو سره د اشاره کولو اجازه ورکړل سي، نو بدل به په خپله رایه متعین کړل سي، حال دا چې دا جائز نه دي، او که تاسو ووایاست چې دا په رایه سره د بدل متعین کول نه دي، بلکې دا خو د سر پر حکم قیاسول دي، یعني څرنګه چې په سره اشاره کول د رکوع او سجدې لپاره کافي دي، همدارنګه په سترګو او نورو سره اشاره کول هم کافي دي، نو جواب دا دی چې سترګې او نور پر سر قیاسول صحیح نه دي، ځکه چې په سر د لمانځه یو رکن یعني سجده اداء کیږي، او په سترګو، وریځو او زړه سجده نه اداء کیږي، یعني په دې درې اندامونو سره د سجدې په ادا ینه کې هیڅ دخل نسته، نو د دې فرق په وجه به یو پر بل قیاسول څرنګه صحیح وي.

و أخرت عنه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په متن کې کوم د لمانځه د ځنډولو (وروسته کولو) حکم سوی دی، هغه د دې خبرې و طرف ته اشاره کوي چې په ذکر سوې مسئله کې به د مریض له ذمې څخه لمونځ نه ساقطیږي، بلکې لمونځ به د ده په حق کې ځنډول کیږي او لمونځ به د ده پر ذمه پاته وي، چې هر وخت جوړ سي نو قضاء به یې پر واجب وي، که څه هم دا د سخت مرض حالت له یوې ورځې او شپې څخه زیات وي، خو په دې شرط چې په دې موده کې مریض په هوښ کې وي، همدا قول صحیح دی، ځکه چې کله مریض په هوښ کې وي نو د مخاطبوالي په مضمون یعني په أقیموا الصلاة او د لمانځه په حکم پوهېدای سي، او له هغه سړي څخه فرض نه ساقطیږي چې د خطاب په مضمون او د لمانځه په حکم پوهیږي، نو په ذکر سوې مسئله کې د دې سړي له ذمې څخه فرض نه ساقطیږي، د دې په خلاف که یو سړی تر یوې ورځې او شپې زیات بې هوښه وي نو د هغه له ذمې څخه لمونځ معاف کیږي، ځکه چې هغه د خطاب په مفهوم نه پوهیږي.

په فتاویٰ قاضي خان او داسې نورو کې دا حکم ذکر سوی دی چې که د مریض دا حالت چې په سر هم د اشارې کولو قدرت نه لري، له یوې ورځې او شپې څخه زیات سي، نو د مریض له ذمې څخه لمونځونه ساقطیږي او قضاء یې پر لازم نه ده، او که له یوې ورځې او شپې څخه کم وي نو نه ځنې ساقطیږي او قضاء یې پر لازم ده. (کفایه)

د هغه مريض حکم چې ولاړه کولای سي لیکن رکوع او سجده نه سي کولای

قَالَ: وَإِنْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ فرمايي: او که مريض پر ولاړه قدرت درلودی وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ او پر رکوع او سجدې يې قدرت نه درلودی لَمْ يَلْزَمْهُ الْقِيَامُ نو پر هغه ولاړه لازم نه ده وَيُصَلِّي قَاعِدًا يُومِئُ إِيمَاءً او په ناسته دي په اشاره سره لمونځ کوي لِأَنَّ رُكْنِيَّةَ الْقِيَامِ لِلتَّوَسُّلِ بِهِ إِلَى السَّجْدَةِ ځکه چې د ولاړي رکن کېدل د سجدې د وسيلې لپاره دي لِمَا فِيهَا مِنْ نِهَايَةِ التَّعْظِيمِ ځکه چې په سجده کي زيات تعظيم دی فَإِذَا كَانَ لَا يَتَعَقَّبُهُ السُّجُودُ خو کله چې ولاړه داسي وي چې تر هغې وروسته سجده نه وي لَا يَكُونُ رُكْنًا نو (بيا) به ولاړه رکن نه وي فَيَتَخَيَّرُ نو ځکه به مريض ته اختيار وي وَالْأَفْضَلُ هُوَ الْإِيمَاءُ قَاعِدًا او افضل په ناستي اشاره کول دي لِأَنَّهُ أَشْبَهُ بِالسُّجُودِ ځکه چې په ناستي اشاره کول د (حقيقي) سجدې سره زيات مشابهت لري.

اللغات: ﴿توسُّل﴾ د تفعُّل د باب مصدر دی: وسيله جوړول. ﴿نهاية﴾ د غټې درجې. ﴿يتعقَّب﴾ د تفعُّل د باب مضارع ده: وروسته راتلل، ور پسې کېدل.

تشريح: مسئله: دا ده که يو سړی داسي مريض وي چې پر ولاړه خو قدرت لري لیکن پر رکوع او سجده قدرت نه لري، نو پر هغه ولاړه لازمه نه ده، بلکي په ناسته دي په اشاره سره لمونځ کوي، امام زفر رَحِمَهُ الله او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې که پر ولاړه يې قدرت وي او پر رکوع او سجده يې قدرت نه وي، نو ولاړه نه ځني ساقطيږي.

د امام زفر او امام شافعي دليل: دا دی چې ولاړه (قيام) رکن دی، او مريض له دې څخه عاجز (هم) نه دی، بلکي د دويم رکن يعني له رکوع او سجده څخه عاجز دی، نو له رکوع او سجدې څخه به د عاجز والي په وجه ولاړه ولې ساقطيږي؟

زموږ دليل: دا دی چې ولاړه محض په دې غرض سره رکن ده چې دا د سجدې اداء کولو وسيله ده، او ولاړه د سجدې وسيله په دې وجه ده چې په هغه سجده کې تعظيم بيخي زيات وي چې تر ولاړي وروسته وي (يعني چې له ولاړي څخه کښېنسته سي او سجده وکړي په دې سجده کي تعظيم ډېر زيات دی)، او په دې کي په پوره توګه د الله د لويي اظهار او اقرار دی، نو کله چې تر ولاړي وروسته سجده نه وي هغه ولاړه به رکن نه وي، او کله چې په دې حالت کي ولاړه رکن پاته نه سوه، نو مريض لمونځ کونکي ته اختيار دی چې که ولاړه کوي او که يې نه کوي، خو غوره دا ده چې په ناسته دي رکوع او سجده په اشاره سره کوي، ځکه چې په ناستي سره د سجدې اشاره کول د حقيقي سجدې سره زيات مشابه دي، ځکه چې د ناستي پر وخت په اشاره کولو کي سر زيات مځکي ته نژدې کيږي په نسبت د ولاړي پر وخت په اشاره کولو سره.

د لمانځه په مېنځ کي د ناروغه کېدلو حکم

وَإِنْ صَلَّى الصَّحِيحُ بَعْضَ صَلَاتِهِ قَائِمًا او که روغ (جوړ) سړي په ولاړه د لمانځه يو څه حصه اداء کړه ثُمَّ حَدَثَ بِهِ مَرَضٌ بيا يو مرض ورپېښ سو يُتِمُّهَا قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ نو په ناسته دي په رکوع او سجده سره لمونځ پوره کړي أَوْ يُومِئُ يا په اشاره سره دي لمونځ وکړي إِنْ لَمْ يَقْدِرْ که يې (پر رکوع او سجده) قدرت نه درلودی أَوْ مُسْتَلْقِيًا يا دي د شا پر تخته لمونځ وکړي إِنْ لَمْ يَقْدِرْ که يې (پر اشاره) قدرت نه درلودی لِأَنَّهُ بِنَاءُ الْأَدْنَى عَلَى الْأَعْلَى ځکه چې دا بناء د ادنی

ده پر اعلىٰ فَصَارَ كَالاِقْتِدَاءِ نو دا د اقتداء په څير سوه.

اللغات: ﴿الْمُسْتَلْقِي﴾ د استفعال د باب اسم فاعل دی: پر شا پرېوتل، مطلق پرېوتلو ته هم ويل کيږي.

تشريح: مسئله: دا ده که جوړ سړي د لمانځه يوه حصه په ولاړې اداء کړه، بيا د لمانځه په مينځ کي داسي مرض ورپېښ سو چي پر ولاړه يې قدرت ختم سو، نو که پر رکوع او سجده يې قدرت وو نو په ناسته دي په رکوع او سجده سره پاته لمونځ پوره کړي، او که پر رکوع او سجده يې هم قدرت نه وو، نو په اشاره سره دي رکوع او سجده وکړي او پاته لمونځ دي پوره کړي، او که دومره سخت مريض سو چي پر ناسته يې هم قدرت ختم سو، نو د شا پر تخته (ستونی ستخ) دي پرېوځي، او لمونځ دي پوره کړي.

دليل: دا دی چي په دغه درې سره صورتونو کي د ادنىٰ بناء پر اعلىٰ کيږي، او د ادنىٰ بناء پر اعلىٰ کول جائز دي، لکه څرنګه چي د ادنىٰ حالت والا اقتداء په اعلىٰ حالت والا پسي جائز ده، يعني څرنګه چي د ناست مقتدي اقتداء په ولاړ امام پسي جائز ده، همدارنګه د خپل ځان په حق کي دا خبره جائز ده چي د لمانځه اوله حصه په ولاړه وکړی سي، او بيا د عذر په وجه پاته حصه په ناستي پوره کړی سي.

د لمانځه په مينځ کي د روغېدلو حکم (د فقهاؤ قولونه)

وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ لِمَرَضٍ او کوم سړی چي د يو مرض په وجه په ناستي په رکوع او سجده سره لمونځ کوی ثُمَّ صَحَّ بيا جوړ (روغ) سو بَنَى عَلَى صَلَاتِهِ قَائِمًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ● رَحِمَهُمَا اللهُ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به په ولاړې سره پر خپل لمانځه بناء کوي وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: اِسْتَقْبَلَ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له شروع څخه به لمونځ کوي بِنَاءً عَلَى اخْتِلَافِهِمْ فِي الاِقْتِدَاءِ (دا مسئله) د اقتداء په باره کي د دوی پر اختلاف مبني ده وَقَدْ تَقَدَّمَ بَيَانُهُ او د دې بيان مخکي تېر سو.

اللغات: ﴿اِسْتَقْبَلَ﴾ له شروع څخه کول، له نوي سره کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د يو مرض په وجه په ناستي په رکوع او سجده سره د لمانځه يوه حصه اداء کړه، او بيا د لمانځه په مينځ کي جوړ سو او پر ولاړه قادر سو، نو د شيخينو په نېز به د ولاړې په حالت کي بناء کوي (يعني خپل پاته لمونځ به په ولاړه پوره کوي)، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز به د سره لمونځ کوي.

د امام محمد رَحِمَهُ الله او شيخينو رَحِمَهُمَا الله اصل اختلاف په دې خبره کي دی چي ولاړ سړی په ناست سړي پسي اقتداء کولای سي، که نه؟ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي اقتدا نه سي کولای، او شيخين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي اقتداء کولای سي، يعني د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د ولاړ اقتداء په ناست پسي جائز نه ده، او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز ده، نو څرنګه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د ولاړ اقتداء په ناست پسي جائز نه ده، نو ځکه د ده په نېز د ولاړې د لمانځه بناء

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، قال صاحب القول الراجح للمفتي غلام قادر النعماني: فاقتداء القائم خلف القاعد صحيح عندهما أى عند أبي حنيفة وأبي يوسف رَحِمَهُمَا الله فكذا البناء أيضًا صحيح. [القول الراجح ج:١، ص:١٣٢]

کول د ناستي پر لمانځه هم جائز نه ده، او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د ولاړ اقتداء په ناست پسي جائز ده، نو د دوی په نیز د ولاړي لمونځ د ناستي پر لمانځه مبني کول جائز دي.

د لمانځه په مینځ کي پر رکوع او سجدې د قدرت پیدا کولو حکم

وَإِنْ صَلَّى بَعْضَ صَلَاتِهِ بِإِيمَاءٍ او که یو مریض د لمانځه څه حصه په اشاره سره اداء کړه ثُمَّ قَدَرَ عَلَى الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ بیا یې پر رکوع او سجدې قدرت پیدا کړی اِسْتَأْنَفَ عِنْدَهُمْ جَمِيعًا نو د ټولو په نیز به د سره لمونځ کوي لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ اقْتِدَاءُ الرَّاكِعِ بِالْمُومِئِ ځکه چي د رکوع کونکي اقتداء په اشاره کونکي پسي جائز نه ده فَكَذَا الْبِنَاءُ همدارنګه به بناء هم جائز نه وي.

اللغات: ﴿اِسْتَأْنَفَ﴾ له نوي سره شروع کول. ﴿الْمُومِئ﴾ اشاره کونکی.

تشریح: مسئله: دا ده که یو سړي د مرض او عذر په وجه د لمانځه یو څه حصه په اشاره سره وکړه، بیا د لمانځه په مینځ کي پر سجده او رکوع قادره سو، نو د امام صاحب او صاحبینو ټولو په نیز به له نوي سره لمونځ کوي، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي چي په دې صورت کي هم بناء کول جائز دي، ځکه د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز د رکوع کونکي اقتداء په اشاره کونکي پسي جائز ده. لیکن زموږ په نیز جائز نه ده.

که په نفلي لمانځه کي د ستړیا په وجه پر یو شي تکیه وکړي نو څه حکم دی؟

وَمَنِ افْتَتَحَ التَّطَوُّعَ قَائِمًا او څوک چي په ولاړه نفلي لمونځ شروع کړي ثُمَّ أَعْيَى بیا ستړی سي لَا بَأْسَ نو د هغه لپاره هیڅ حرج نسته بِأَنْ يَتَوَكَّأَ عَلَى عَصًا أَوْ حَائِطٍ چي پر لکړه یا پر دېوال تکیه ولګوي أَوْ يَقْعُدَ یا کښېني لِأَنَّ هَذَا عُذْرٌ ځکه چي دا عذر دی وَإِنْ كَانَ الِاتِّكَاءُ بِغَيْرِ عُذْرٍ يُكْرَهُ او که تکیه لګول بې له عذره وو نو دا مکروه دي لِأَنَّهُ إِسَاءَةٌ فِي الْأَدَبِ ځکه چي دا بې ادبي ده وَقِيلَ لَا يُكْرَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او یو قول دا دی چي د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نیز مکروه نه دي لِأَنَّهُ لَوْ قَعَدَ عِنْدَهُ بِغَيْرِ عُذْرٍ يَجُوزُ ځکه که لمونځ کونکي بې له عذره کښېني نو (هم) د امام صاحب په نیز (د هغه ناسته) جائز ده فَكَذَا لَا يُكْرَهُ الِاتِّكَاءُ همدغه رنګه به تکیه لګول هم مکروه نه وي وَعِنْدَهُمَا يُكْرَهُ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز مکروه دي لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ الْقُعُودُ عِنْدَهُمَا ځکه چي د دوی په نیز (په نفلي لمانځه کي) کښېناستل جائز نه دي فَيُكْرَهُ الِاتِّكَاءُ نو (بې له عذر) به تکیه لګول (هم) مکروه وي.

اللغات: ﴿أَعْيَى﴾ د افعال د باب ماضي ده: ستړي کېدل، ستومانه کېدل. ﴿يَتَوَكَّأَ﴾ د تفعل د باب مضارع ده: تکیه لګول، تکیه کول. ﴿حَائِط﴾ دېوال. ﴿إِسَاءَةٌ﴾ د افعال مصدر دی: د کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو چا نفلي لمونځ په ولاړه شروع کړی، بیا یې پر یو شي تکیه ولګول، نو د دې دوه صورتونه دي: تکیه لګول به یې د عذر په وجه وي یا به بې له عذره وي، که اول صورت وي مثلاً د ستړیا په وجه وي، نو جائز دي او هیڅ حرج پکښې نسته، او که دویم صورت وي نو ځیني مشائخو ویلي دي چي په اتفاق د احنافو سره دا مکروه دي، وجه د کراهت یې دا ده چي بې له عذره په تکیه لګولو کي بې ادبي او بې احترامي ده، خو یو قول دا دی چي د

امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بې له عذره هم تکيه لګول مکروه نه دي لکه څرنګه چي د ده په نېز بې له عذره کښېنستل هم مکروه نه دي، ليکن صحيح قول دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که څه هم بې له عذره کښېنستل جائز دي، ليکن بې له عذره تکيه لګول جائز نه دي، بلکي مکروه دي، او په دواړو کي فرق دا دی چي نفل کونکي ته له شروع څخه لا د نفلو لپاره په ولاړه او ناسته کي اختيار سته، يعني څرنګه چي د ده لپاره نفل په ولاړه شروع کول صحيح دي، همدارنګه په ناسته شروع کول هم صحيح دي، نو کله چي له شروع څخه نفل کونکي ته اختيار دی، نو د نفلو په مېنځ او آخر کي هم په ناسته او ولاړه کي اختيار ورته سته، او که بې له عذره په نفلو کي کښېنستي نو هيڅ قباحت او کراهت نسته. د دې په خلاف نفل کونکي ته له شروع څخه په تکيه لګولو او نه لګولو کي هيڅ اختيار نسته، بلکي د ده لپاره بغير له تکيه لګولو څخه نفل شروع کول صحيح دي، او د ده لپاره له شروع څخه بې له عذره تکيه لګول مکروه دي، نو کله چي ده ته له شروع څخه د تکيه لګولو او نه لګولو اختيار نسته، او د ده لپاره له شروع څخه بې له عذره تکيه لګول مکروه دي، نو په مېنځ او آخر کي هم به ده ته د تکيه لګولو هيڅ اختيار نه وي، او بې له عذره به په مېنځ او آخر کي هم تکيه لګول مکروه وي. (عنايه)

وعندهمايكره الخ فرمايي: څرنګه چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز بې له عذره کښېنستل مکروه دي، نو د دوی په نېز بې له عذره تکيه لګول هم مکروه دي، خو د عذر په صورت کي لمونځ کونکي ته اجازه سته.

په نفلي لمانځه کي د بې له عذره کښېنستلو حکم

> وَإِنْ قَعَدَ بِغَيْرِ عُذْرٍ او که نفل کونکی بې له عذره کښېنستی يُكْرَهُ بِالِاتِّفَاقِ نو دا په اتفاق سره مکروه دي وَتَجُوزُ الصَّلَاةُ عِنْدَهُ (خو په دې صورت کي) د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز لمونځ جائز دی وَلَا تَجُوزُ عِنْدَهُمَا● او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز نه دی وَقَدْ مَرَّ فِي بَابِ النَّوَافِلِ او دا مسئله په بابُ النوافل کي تېره سوه.

اللغات: ﴿مَرَّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: تېرېدل.

تشريح: مسئله: دا ده چي د نفل کونکي لپاره بې له عذره د نفل په مېنځ کي کښېنستل بالاتفاق مکروه دي. يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز هم مکروه دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز هم، او د بې له عذره کښېنستونکي په لمانځه کي بيا اختلاف دی، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه لمونځ جائز دی، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز نه دی. او دا مسئله په باب النوافل کي تر فصل القراءة لاندي په پوره تفصيل سره بيان سوه.

تسامح: په دې عبارت کي څه سهوه سوې ده هغه داسي چي بې له عذره کښېنستل د صاحبينو په نېز ناجائز دي، او ناجائز ته د مکروه نوم ورکول صحيح نه دي، نو د صاحبينو د مسلک پر بنياد به د يکره بالاتفاق ويل څرنګه صحيح وي، (يعني پکار دا وه چي د صاحبينو د مسلک لپاره لايجوز ويل سوي وای)، دويمه خبره دلته دا ده چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د نفلي لمانځه په مېنځ کي بې له عذره کښېنستل مکروه بلل سوي دي، حال دا چي مخکي موږ وويل چي د امام صاحب په نېز بې له عذره کښېنستل مکروه نه دي، نو د دواړو په مېنځ کي تطبيق دا دی چي د مبسوط د روايت مطابق د

● القول الراجح: قول الامام رَحِمَهُ الله، كما قال فخر الاسلام: لو قعد فى النفل من غير عذر لا يكره فى الصحيح، الكفاية ج:١، ص:٣٦٢. [القول الراجح ج:١، ص:١٣٣]

امام صاحب صحيح قول د نه مكروه والى دي، او يو قول يې د مكروه والي هم سته، نو په تېره مسئله كې يې صحيح قول ذكر سو، او دلته يې دويم قول ذكر سو.

په كښتى (بېړى) كې بې له عذره په ناستي سره د لمونځ كولو حكم (د فقهاؤ قولونه)

وَمَنْ صَلَّى فِي السَّفِينَةِ قَاعِدًا مِنْ غَيْرِ عِلَّةٍ او چا چې بې له څه عذره په كښتى كې لمونځ وكړى أَجْزَأَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز د هغه لمونځ جائز دى وَالْقِيَامُ أَفْضَلُ خو ولاړه افضله ده وَقَالَا: لَا يُجْزِئُهُ او صاحبين فرمايي: چې جائز نه دى إِلَّا مِنْ عُذْرٍ خو د يو عذر په وجه (جائز دى) لِأَنَّ الْقِيَامَ مَقْدُورٌ عَلَيْهِ ځكه چې پر ولاړه د هغه قدرت سته فَلَا يُتْرَكُ إِلَّا لِعِلَّةٍ نو بې له عذره به نه پرېښوول كيږي وَلَهُ: أَنَّ الْغَالِبَ فِيهَا دَوَرَانُ الرَّأْسِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چې په كښتى كې زياتره وخت سر ګرځي وَهُوَ كَالْمُتَحَقِّقِ او دا د حقيقتاً سر ګرځېدلو په ډول دي إِلَّا أَنَّ الْقِيَامَ أَفْضَلُ خو ولاړه افضله ده لِأَنَّهُ أَبْعَدُ عَنْ شُبْهَةِ الْخِلَافِ ځكه چې ولاړه د اختلاف له شبهې څخه ليري ده وَالْخُرُوجُ أَفْضَلُ مَا أَمْكَنَهُ او ښومره چې ممكنه وي له كښتى څخه راوتل (او لمونځ كول) افضله دي لِأَنَّهُ أَسْكَنُ لِقَلْبِهِ ځكه چې په دې كې د لمونځ كونكي د زړه اطمينان زيات وي وَالْخِلَافُ فِي غَيْرِ الْمَرْبُوطَةِ او (په ناستي سره د لمونځ كولو) اختلاف په هغه كښتى كې دى چې (د سمندر پر غاړه) تړل سوې نه وي وَالْمَرْبُوطَةُ كَالشَّطِّ او تړل سوې كښتى د سمندر د غاړي (څنډي) په څېر ده هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿سَفِينَةٌ﴾ كښتى، بېړى، ﴿دَوَرَانُ الرَّأْسِ﴾ د سر ګرځېدل، چورلېدل، ﴿مَرْبُوطَةٌ﴾ د نصر د باب مؤنث اسم مفعول دى: تړل سوې، ﴿شَطٌّ﴾ د سمندر او درياب غاړه (څنډه، ساحل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى چې كه كښتى روانه وي، او يو سړى بې له عذره په كښتى كې په ناسته لمونځ كوي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې سړي لمونځ بې له كراهته جائز دى، خو بيا هم د ده لپاره په ولاړه لمونځ كول غوره او افضله دي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دى چې د ده لپاره بې له عذره په ناسته لمونځ كول جائز نه دي، ځكه چې دى په كښتى كې په ولاړي سره د لمونځ كولو قدرت لري، نو ځكه بې له عذره ولاړه پرېښوول او كښېنستل جائز نه دي.

د امام صاحب دليل: دا دى چې په كښتى كې د سفر په وخت كې اكثره پر سر چكر راځي او سر پر له ګرځي، او په شريعت كې اكثر او غالب ته د متحقق درجه وركول سوې ده، يعني د يو شي اكثره او غالبه كېدل داسې دي لكه چې ګردسره هغه شى ثابت او متحقق دى، نو ځكه په كښتى كې په ولاړه لمونځ كول يو ډول عذر سو، نو كه يو چا په ناسته لمونځ كوى نو د عذر په وجه د هغه لمونځ جائز دى، خو بيا هم د هغه لپاره په ولاړه لمونځ كول اولىٰ او افضله دي، ځكه چې د ولاړي په لمانځه كې د هيڅچا اختلاف نسته، او د ناستي په لمانځه كې اختلاف دى، او له اختلاف څخه ځان كتل غوره دي.

---

❶ القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله و قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله أظهر، رد المحتار ج:۱، ص:۵۶۳. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۳۲]

والخروج افضل الخ فرمايي که د لمونځ کونکي لپاره له کښتۍ څخه ښکته کېدل او په وچه باندې لمونځ کول ممکن وي نو ښکته دې شي او لمونځ دې وکړي، ځکه چې دا تر ټولو ښه صورت او غوره طريقه ده، ځکه په دې صورت کې به هغه دوې فائدې تر لاسه کړي: (۱) يو خو به له اختلاف څخه ځان وژغوري، (۲) او دويمه فايده به دا وي چې زړه به يې هم په لمانځه کې مطمئن او په سکون وي.

والخلاف في غير المربوطة الخ فرمايي چې د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله په مينځ کې دا ذکر سوی اختلاف په هغه صورت کې دی چې کله کښتۍ روانه وي، او ترل سوې نه وي، لېکن که کښتۍ ترل سوې وي، (يعني د سمندر د غاړې سره ولاړه وي او پرېوتې ترل سوې وي) نو په دې صورت کې د هيڅ چا په نېز هم په ناستې لمونځ کول جائز نه دي، ځکه چې ترل سوې کښتۍ د سمندر د غاړې (ساحل) په شان ده، او د سمندر پر غاړه بې له عذره لمونځ په ناستې کول جائز نه دي، نو ځکه به په ترل سوې کښتۍ کې هم بې له عذره په ناستې لمونځ کول جائز نه وي.

د بې هوښۍ په سبب د ډېرو قضا سوو لمونځونو حکم

وَمَنْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ أَوْ دُوْنَهَا او کوم سړی چې پنځه لمونځونه يا تر دې کم بې هوښه سي قَضَى نو د دې لمونځونو قضاء به راوړي وَإِنْ كَانَ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ او که تر پنځو لمونځونو زيات بې هوښه سي لَمْ يَقْضِ نو قضاء به يې نه راوړي وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی (يعني دا د استحسان تقاضا ده) وَالْقِيَاسُ أَنْ لَا قَضَاءَ عَلَيْهِ إِذَا اسْتَوْعَبَ الْإِغْمَاءُ وَقْتَ صَلَاةٍ كَامِلًا او قياس دا دی چې کله بې هوښي د يوه لمانځه ټوله وخت ونيسي نو پر بې هوښه سړي به (مطلقًا) قضاء نه وي لِتَحَقُّقِ الْعَجْزِ د عاجزۍ د ثابتوالي په وجه فَشَابَهَ الْجُنُوْنَ نو بې هوښي د لېونتوب سره مشابه سوه وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ د استحسان وجه دا ده أَنَّ الْمُدَّةَ إِذَا طَالَتْ چې کله د بې هوښۍ موده اوږده سي كَثُرَتِ الْفَوَائِتُ نو قضائي لمونځونه ډېر سي فَيَتَحَرَّجُ فِي الْأَدَاءِ نو د هغو په قضاء راوړلو کې تکليف (او حرج) وي وَإِذَا قَصُرَتْ قَلَّتْ او چې کله موده کمه سي نو قضائي لمونځونه لږ سي فَلَا حَرَجَ نو (هيڅ) تکليف نه وي وَالْكَثِيْرُ أَنْ تَزِيْدَ عَلٰى يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ او زيات دا دي چې قضائي لمونځونه تر يوې ورځې او شپې زيات سي لِأَنَّهُ يَدْخُلُ فِيْ حَدِّ التَّكْرَارِ ځکه چې (په دې صورت کې) هغه د تکرار په حد کې داخلېږي وَالْجُنُوْنُ كَالْإِغْمَاءِ او لېونتوب د بې هوښۍ په شان دی كَذَا ذَكَرَهُ أَبُوْ سُلَيْمَانَ رَحِمَهُ اللهُ همدا رنګه علامه ابو سليمان رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي بِخِلَافِ النَّوْمِ په خلاف د خوب لِأَنَّ امْتِدَادَهُ نَادِرٌ ځکه چې د خوب اوږدېدل نادر دي (يعني خوب دومره ډېر وخت نه نيسي لکه بې هوښي او لېونتوب) فَيَلْحَقُ بِالْقَاصِرِ نو خوب به د کوچني (مودې والا) عذر سره ملحق کېږي ثُمَّ الزِّيَادَةُ تُعْتَبَرُ مِنْ حَيْثُ الْأَوْقَاتِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ● رَحِمَهُ اللهُ بيا زياتوب (او ډېربښت) د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د وختونو په اعتبار سره معتبر دی لِأَنَّ التَّكْرَارَ يَتَحَقَّقُ بِهِ ځکه چې تکرار (هم) د وختونو په

● القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُمَاالله كما قال العلامة ابن الهمام رَحِمَهُ الله: وهو الأصح، أى قول محمد رَحِمَهُ الله أصح الأقوال فتح القدير ج: ١، ص:٤٦٣. [القول الراجح ج:١، ص:١٣٥]

زیاتوب سره ثابتیږي وَعِنْدَهُمَا مِنْ حَيْثُ السَّاعَاتِ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز زیاتوب د ساعتونو په اعتبار سره معتبر دی هُوَ الْمَأْثُورُ عَنْ عَلِيٍّ وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ همدا له حضرت علي ﷺ او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه را نقل سوي دي.

اللغات: «أُغْمِيَ» د افعال د باب ماضي مجهوله ده: بې هوښه کېدل، «اِسْتَوْعَبَ» د استفعال د باب ماضي ده: کښېباسل، پوره نیول، غوړېدل، «اِمْتَدَادٌ» اوږدېدل، «مَأْثُورٌ» را نقل سوی، (منقول)، روایت سوی.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو سړی له پنځو لمونځونو څخه زیات بې هوښه سو نو له هغه څخه چي کوم لمونځونه قضاء سول، د هغو لمونځونو قضاء راوړل واجب نه ده، دا حکم د استحسان دی، او د قیاس تقاضا دا ده چي که د یوه لمانځه په ټوله وخت کي بې هوښه وو نو پر هغه قضاء واجب نه ده، همدا مسلک د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ الله هم دی، حنابله وایي چي د قضاء سوو لمونځونو قضاء واجب ده، که څه هم زرو (۱۰۰۰) لمونځونو ته ورسیږي، لنډه دا چي د حنابله وو په نیز د بې هوښۍ په وجه د د قضاء سوو لمونځونو را ګرځول واجب دي، هغه که ډېر وي، که لږ وي، او د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله په نیز که بې هوښۍ د یوه لمانځه پوره وخت ونیوی او یو لمونځ څني قضاء سو، نو د دې یوه لمانځه قضاء هم پر واجب نه ده، نور خو لا پرېږده، یعني د بې هوښۍ په وجه قضاء سوي لمونځونه که ډېر وي، که لږ، د دوی په نیز یې قضاء واجب نه ده، زموږ علماؤ میڅوی لاره اختیار کړې ده فرمایي: که د بې هوښۍ په وجه قضاء سوي لمونځونه لږ وي نو د هغو قضاء واجب ده، او که ډېر وي نو قضاء یې واجب نه ده.

د اما حنبل دلیل: دا دی چي بې هوښي یو قسم مرض دی، او په مریض کي چي څومره لمونځونو قضاء سي د هغو قضاء راوړل واجب وي، نو په دې صورت کي به هم د قضاء سوو لمونځونو قضاء راوړل واجب وي، که څه هم ډېر ولي نه وي.

د امام مالک او امام شافعي دلیل: دا دی چي کله بې هوښه سړی د لمانځه په ټوله وخت کي بې هوښه سو، نو د ده په حق کي د لمانځه له اداء کولو څخه عاجزي ثابته سوه، او عاجزي د خطاب له مفهوم څخه مانع ده (یعني بې هوښه سړی د لمانځه په حکم اقیموا الصلاة نه سي پوهېدلای)، نو ځکه به پر بې هوښه سړي د لمانځه ادایته واجب نه وي، او کله چي ادایته واجب نه سوه، نو قضاء به بیا د څه شي واجبیږي، او د بعضو په قول دا مسئله د لېونتوب سره مشابه ده، یعني څرنګه چي د لېونتوب په حالت کي پر یو سړي د لمانځه پوره وخت تېر سي نو له هغه څخه د دغه لمونځ قضاء ساقطیږي، همدارنګه دلته هم که بې هوښي د یوه لمانځه پوره وخت ونیسي نو له بې هوښه سړي څخه به هم قضاء ساقطیږي.

زموږ دلیل: وجه الاستحسان الخ له دې ځایه زموږ دلیل بیانیږي، زموږ دلیل دا دی چي د بې هوښۍ موده چي کله اوږده سي نو قضاء سوي لمونځونه ډېر سي، نو اوس که د دې ډېرو قضاء سوو لمونځونو د قضاء راوړلو حکم وسي نو سړی به په تکلیف (او حرج) مبتلا سي، او څرنګه چي په اسلام کي تکلیف (حرج) لیري سوی دی، نو ځکه به د ډېرو قضاء سوو لمونځونو قضاء واجب نه وي، او که د بې هوښۍ موده لږ وي نو قضاء سوي لمونځونه به هم لږ وي، او څرنګه چي د لږو قضاسوو لمونځونو په راګرځولو کي هیڅ حرج نسته، نو ځکه د لږ قضاء سوو لمونځونو د قضاء حکم وسو.

ښکاره دي وي چي د ډېر (کثیر) حد دا دی چي قضاء سوي لمونځونه تر یوې شپې او ورځي زیات سي، تر دې چي د شپږم لمانځه وخت ووځي، ځکه چي کله د شپږم لمانځه وخت ووځي نو په لمونځونو کي تکرار شروع سي، او تر تکرار وروسته بیا کثرت (ډېرښت) شروع کیږي.

جواب: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د والجنون كالاغماء څخه د د دوی د قياس جواب ورکوي، د جواب حاصل دا دی چې بې هوښي د لېونتوب په ډول نه ده، بلکي لېونتوب د بې هوښی په ډول دی، يعني که لېونتوب تر پنځو لمونځونو زيات سو، نو قضاء ساقطيږي، او که تر پنځو لمونځونو کم وو، بيا نه ساقطيږي، نو د بې هوښی مسئله پر لېونتوب قياسول صحيح نه ده، ځکه چې لېونتوب د بې هوښی په ډول دی، علامه ابو سليمان جوزجاني رَحِمَهُ الله همدغه ذکر کړي دي.

بخلاف النوام الخ فرمايي چې د خوب مسئله د بې هوښی او ليونتوب په خلاف ده، نو که خوب تر پنځو لمونځونو زيات سي، نو هم قضاء نه ساقطيږي، ځکه چې د خوب تر ډېري مودې اوږدېدل شاذ و نادر دي، نو ځکه به خوب د کوچنۍ مودې والا عذر سره ملحق کيږي نه د اوږدې مودې والا عذر سره.

ثم الزيادة الخ له دې ځايه دا راښيي چې آيا د قضاسوو لمونځونو(فوائتو) د زياتوب او کثرت اعتبار په وختونو سره کيږي او که په ساعتونو سره؟ نو په دې سلسله کي د حنفي فقهاؤ اختلاف دی، د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د دې د زياتوب اعتبار په وختونو سره کيږي، يعني که له بې هوښه سړي څخه شپږ لمونځونه قضاء سوه او د شپږم لمانځه پوره وخت ووتی نو دا به ويل کيږي چې اوس قضاء سوي لمونځونه(فوائت) ډېر سوه، ځکه چې د شپږم لمانځه د وخت په وتلو سره تکرار ثابتيږي، او د فوائتو د زياتوب درا ومدار پر تکرار دی، د دې په خلاف د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د زياتوب ثبوت په ساعتونو سره کيږي، او همدا حکم له حضرت علي او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه روايت سوی دی، يعني که له يوې ورځي او شپې څخه يو ساعت هم زيات سي نو قضاء ساقطيږي، د دوی دليل دا دی چې په نورو ډېرو ځايونو کي هم پر ساعتونو د حکم مدار دی، علامه عبد الحي لکنوي رَحِمَهُ الله د دې يو مثال داسي بيان کړی دی چې که مثلاً يو سړی تر زوال مخکي بې هوښه سي او را روانه ورځ هغه سړی تر زوال وروسته جوړ سي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه له ذمې څخه قضاء ساقطيږي، ځکه چې بې هوښي تر يوې ورځي او شپې يو ساعت زياته راغله، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د دې سړي له ذمې څخه قضاء نه ساقطيږي، ځکه چې تر اوسه د شپږم لمانځه وخت يعني د ماپښين وخت وتلی نه دی.



بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ

(دا) باب د سجدهٔ تلاوت (د احکامو په بيان کي) دی

تشریح: پکار خو دا وه چي تر سجدهٔ سهو وروسته سملستي سجدهٔ تلاوت بيان سوې واى، ځکه چي په دواړو کي سجده واجب ده. خو څرنګه چي په سهوه او مرض کي د آسماني او غير اختياري عارض په اعتبار سره مطابقت سته، (يعنې هېره او مرض دواړه آسماني او غير اختياري عوارض دي او د انسان په اختيار کي نه دي) نو ځکه يې د سجدهٔ سهو او سجدهٔ تلاوت په مېنځ کي باب صلاة المريض ذکر کړی.

صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله وايي چي د سجدهٔ تلاوت لپاره هم هغه ټوله شيان شرط دي کوم چي د لمانځه لپاره شرط دي، نو ځکه په مکروه وختونو کي سجدهٔ تلاوت صحيح نه ده. او څرنګه چي د سجدهٔ تلاوت د وجوب علت او سبب تلاوت دی، نو د سجدة التلاوة اضافة د إضافة السبب إلى السبب له قبيلې څخه دی.

په قرآن مجيد کي ټوله څومره سجدې دي او په کومو کومو سورتونو کي دي

قَالَ: سُجُوْدُ التِّلَاوَةِ فِي الْقُرْآنِ أَرْبَعَ عَشْرَةَ فرمايي: چي په قرآن کي د تلاوت سجدې څوارلس دي فِيْ آخِرِ الْأَعْرَافِ [۱] د سورتِ اعراف په آخر کي وَفِي الرَّعْدِ [۲] او په سورتِ رعد کي وَالنَّحْلِ [۳] او په سورتِ نحل کي وَبَنِيْ إِسْرَائِيْلَ [۴] او په سورت بني اسرائيل کي وَمَرْيَمَ [۵] او په سورت مريم کي وَالْأُولٰى فِي الْحَجِّ [۶] او په سورت حج کي اوله سجده وَالْفُرْقَانِ [۷] او په سورت فرقان کي وَالنَّمْلِ [۸] او په سورت نمل کي وَالٓمّٓ تَنْزِيْلِ [۹] او په سورت الٓمّٓ تنزيل کي وَصٓ [۱۰] او په سورتِ صٓ وَحٰمٓ السَّجْدَةِ [۱۱] او په سورت حٰمٓ سجده کي وَالنَّجْمِ [۱۲] او په سورت والنجم کي وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ [۱۳] او په سورت انشقاق کي وَاقْرَأْ [۱۴] او په سورت اقرآء کي كَذَا كُتِبَ فِيْ مُصْحَفِ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدا رنګه د حضرت عثمان رضي الله عنه په مصحف کي ليکل سوي دي وَهُوَ الْمُعْتَمَدُ او هم هغه معتبر دی وَالسَّجْدَةُ الثَّانِيَةُ فِي الْحَجِّ لِلصَّلَاةِ عِنْدَنَا او په سورت حج کي دويمه سجده زموږ (د احنافو) په نېز د لمانځه په باره کي ده وَمَوْضِعُ السَّجْدَةِ فِيْ حٰمٓ السَّجْدَةِ عِنْدَ قَوْلِهِ لَا يَسْأَمُوْنَ [فصلت: ۳۸] فِيْ قَوْلِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ او په سورت حٰمٓ السجدة کي د سجدې ځای د حضرت عمر رضي الله عنه د قول مطابق لايسامون دی وَهُوَ الْمَأْخُوْذُ لِلْاِحْتِيَاطِ او همدا قول د احتياط په وجه اخيستل سوی دی (يعني پر همدغه به قول د احتياط په وجه عمل کيږي).

اللغات: ﴿المصحف﴾ قرآن شريف، مجلد کتاب.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي په څوارلس آيتونو کي سجدهٔ تلاوت ذکر سوې ده، او په دې څوارلس ځايونو کي زموږ په نېز پر تلاوت کونکي او اورېدونکي دواړو سجدهٔ تلاوت واجب ده، او هغه څوارلس آيتونه دا دي:

(۱)... إِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُوْنَهُ وَلَهُ يَسْجُدُوْنَ. ﴿سورة الاعراف: ۲۰۶ پ: ۹، رکوع: ۱۴﴾

(۲)... وللهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْأٰصَالِ. ﴿سورة الرعد:١٥ پ:١٣، رکوع:٨﴾

(۳)... يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ. ﴿سورة النحل:٥٠ پ:١٤، رکوع:١٢﴾

(۴)... وَيَخِرُّوْنَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا. ﴿سورة بني اسرائيل:١٠٩ پ:١٥، رکوع:١٢﴾

(۵)... إِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا. ﴿سورة مريم:٥٨ پ:١٦، رکوع:٧﴾

(۶)... په سورتِ حج کي اوله سجده: وَمَنْ يُّهِنِ اللهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ إِنَّ اللهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ. ﴿سورة الحج:١٨ پ:١٧، رکوع:٩﴾

(۷)... وَإِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا. ﴿سورة الفرقان:٦٠ پ:١٩، رکوع:١٧﴾

(۸)... أَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ. ﴿سورة النمل:٢٦ پ:١٩، رکوع:١٧﴾

(۹)... إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ إِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ. ﴿سورة السجدة (الم تنزيل):١٥ پ:٢١، رکوع:١٥﴾

(۱۰)... وَظَنَّ دَاوٗدُ أَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّأَنَابَ. ﴿سورة ص:٢٤ پ:٢٣، رکوع:١١﴾

(۱۱)... فَإِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ. ﴿حم السجدة:٣٨ پ:٢٤، رکوع:١٩﴾

(۱۲)... فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا. ﴿سورة النجم:٦٢ پ:٢٧، رکوع:٧﴾

(۱۳)... وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ. ﴿سورة الانشقاق:٢١ پ:٣٠، رکوع:٩﴾

(۱۴)... وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ. ﴿سورة العلق:١٩ پ:٣٠، رکوع:٢١﴾

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي دغه څوارلس ځايونه کوم چي د سجدهٔ تلاوت په باره کي بيان سول د حضرت عثمان ﷺ د قرآن مجيد د ذکر سوو ځايونو سره برابر دي، او څرنګه چي د حضرت عثمان ﷺ قرآن پاک ډېر معتبر او معتمد قرآن دی، نو ځکه به په هغه کي بيان سوي ځايونه هم د اعتماد او اعتبار وړ وي.

والسجدة الثانية الخ صاحب د هدايې له دې عبارت څخه د سورتِ حج د سجدې په باره کي زموږ او د شوافعو د اختلاف و طرف ته اشاره کوي، فرمايي: چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په سورت حج کي دواړه سجدې سجدهٔ تلاوت دي (په سورت حج کي دويم د سجدې آيت دا دی: يٰأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (سورة الحج: ٧٧) او د سورت صٓ سجده د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د شکر سجده ده، او د شوافعو په نېز هم د سجدو شمېر څوارلس دي، لېکن فرق دا دی چي زموږ په نېز د سورتِ حج اوله سجده سجدهٔ تلاوت ده، لېکن دويمه سجده سجدهٔ تلاوت نه ده، بلکي سجدهٔ صلاة (يعني د لمانځه سجده) ده، او امام شافعي رَحِمَهُ الله د سورتِ حج دواړه سجدې سجدهٔ تلاوت مني.

د امام شافعي دليل: امام شافعي رَحِمَهُ الله د عقبه بن عامر ﷺ په حديث سره دليل نيسي: أن رسول الله ﷺ قال فضلت الحج بسجدتين من لم يسجدهما لم يقرأهما، (يعني سورت حج ته د دوو سجدو په وجه فضيلت ورکول سوی دی،

كه چا په دوی كې سجده نه وكړه نو ګواكي هغه ګردسره دا سجدې نه وويلې). له دې څخه معلومه سوه چې د سورت حج دواړه سجدې د سجدۀ تلاوت دي.

زموږ دليل: پر دې چې د سورت حج اوله سجده سجدۀ تلاوت ده هغه اثر دی كوم چې له ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم څخه روايت سوی دی: سجدة التلاوة فى الحج هى الأولى وسجدة الثانية للصلاة. (يعني د سورت حج اوله سجده خو سجدۀ تلاوت ده. او دويمه سجده سجدۀ صلاة ده. او څرنګه چې ابن عباس رئيس المفسرين دی، نو ځكه به د قرآن او د قرآن د اړوند احكامو په باره كې د هغه قول زيات معتبر وي، او د سورتِ حج د دويمي سجدې د سجدۀ صلاة پر كېدلو يو. قرينه دا هم ده چې الله تعالیٰ دا سجده د ركوع سره يو ځای كړې ده يعني په واركعوا واسجدوا سره يې د سجدې كولو حكم كړی دی، او چيري چې هم په قرآن كې سجده د ركوع سره يو ځای بيان سوې وي، له هغه څخه عموماً سجدۀ صلاة مراد وي.

جواب: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د حديث تأويل دا دی چې په دې كې هم د سورتِ حج له اولي سجدې څخه سجدۀ تلاوت او له دويمي سجدې څخه سجدۀ صلاة مراد ده. او د نبي ﷺ د حديث مقصد دا دی چې خلكو ته دواړه آيتونه ويل پكار دي، او يو آيت ويل او تر بل آيت تېرېدل پكار نه دي، هكذا في الكفاية.

وموضوع السجدة الخ فرمايي چې په سورت حمٓ السجدة كې د سجدې ځای د لا يسأمون جمله ده، او همدا له حضرت عمر رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي، او پر دې په عمل كولو كې احتياط هم دی.

سجده تلات پر چا واجب ده؟

> **وَالسَّجْدَةُ وَاجِبَةٌ** او سجده واجب ده **فِيْ هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ** په دې (تيرسوو) ځايونو كې **عَلَى التَّالِيْ** پر تلاوت كونكي باندې **وَالسَّامِعِ** او پر اورېدونكي باندې **سَوَاءٌ قَصَدَ سَمَاعَ الْقُرْآنِ** هغه كه يې د قرآن اورېدلو اراده كړې وي **أَوْلَمْ يَقْصُدْ** او كه يې نه وي كړې **لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ** ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي **اَلسَّجْدَةُ عَلٰى مَنْ سَمِعَهَا** سجده پر هغه چا (هم واجب) ده چې آيت د سجدې واوري **وَعَلٰى مَنْ تَلَاهَا** او پر هغه چا (هم واجب) ده چې آيت د سجدې تلاوت كړي **وَهِيَ كَلِمَةُ إِيْجَابٍ** او "على" كلمه د وجوب ده **وَهُوَ غَيْرُ مُقَيَّدٍ بِالْقَصْدِ** او دا په ارادې پوري مقيد نه ده.

اللغات: ﴿تالي﴾ تلاوت كونكی.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله وايي: چې په دې څوارلس ذكر سوو ځايونو كې سجده كول پر تلاوت كونكي او اورېدونكي دواړو واجب ده، اورېدونكي كه د اورېدلو قصد كړی وي، كه نه وي، د امام مالک، امام شافعي او امام حنبل رَحِمَهُمُ الله په نيز سجدۀ تلاوت سنت ده.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چې زيد ابن ثابت د نبي ﷺ په مخ كې سورت نجم تلاوت كړی، لېكن نه زيد بن ثابت ﷺ سجده وكړه او نه نبي ﷺ سجده وكړه، نو له دې څخه ثابته سوه چې سجدۀ تلاوت واجب نه ده، بلكي سنت ده، ځكه كه واجب وای نو نه به نبي ﷺ پرېښوولای او نه به زيد بن ثابت ﷺ.

زموږ دليل: دا حديث دی: السجدة على من سمعها و على من تلاها. له دې څخه موږ دليل په دې توګه نيسو چې په حديث كې د

● تخريج: أخرجه البخارى فى كتاب سجود القرآن، باب من رأى ان الله عزّوجلّ لم يوجب السجود، حديث رقم:١٠٧٧، لفظه على من استمعها.

"علی" لفظ راځلی دی کوم چې پر لازموالي او واجبوالي دلالت کوي، او څرنګه چې دا حدیث د قصد او ارادې په قید سره مقید نه دی، نو ځکه به پر هر اوریدونکي سجدهٔ تلاوت واجب وي، هغه که د اوریدلو اراده کړي وي او که نه وي.

جواب: امام مالک رَحِمَهُ الله او نورو چې کوم حدیث ذکر کړی دی د هغو جواب دا دی چې نبي ﷺ په هغه وخت کې فوراً (سمدستي) سجده نه وکړه، او فوراً سجده نه کول زموږ په نیز هم جائز دي، همدارنګه له فوراً سجده نه کولو څخه دا نه لازمیږي چې ګرسره به یې سجده کړې نه وي، بلکې کیدای سي چې نبي ﷺ به وروسته سجده کړې وي، نو د دې احتمال په وجه د سجدهٔ تلاوت وجوب نه ختمیږي.

د امام او مقتدي لپاره د سجدې د آیت د لوستلو بیلا بیل صورتونه او د هغو حکمونه

وَإِذَا تَلَا الْإِمَامُ آيَةَ السَّجْدَةِ او که امام د سجدې آیت تلاوت کړی سَجَدَهَا نو امام دې سجده وکړي وَسَجَدَهَا الْمَأْمُومُ مَعَهُ او مقتدی دې (هم) د هغه سره سجده وکړي لِالْتِزَامِهِ مُتَابَعَتَهُ ځکه چې مقتدي پر خپل ځان د امام تابعداري لازمه کړې ده وَإِذَا تَلَا الْمَأْمُومُ او که مقتدي د سجدې آیت تلاوت کړی لَمْ يَسْجُدِ الْإِمَامُ وَلَا الْمَأْمُومُ نو نه به امام سجده کوي او نه مقتدی فِي الصَّلَاةِ وَلَا بَعْدَ الْفَرَاغِ نه په لمانځه کې او نه له لمانځه څخه تر فراغت وروسته عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ (دا حکم) د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز (دی) وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَسْجُدُونَهَا إِذَا فَرَغُوا او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې امام او مقتديان به تر لمانځه څخه تر فراغت وروسته سجده کوي لِأَنَّ السَّبَبَ قَدْ تَقَرَّرَ ځکه چې (د سجدې د وجوب) سبب ثابت سو وَلَا مَانِعَ او (له سجده کولو څخه) هیڅ مانع (هم) نسته بِخِلَافِ حَالَةِ الصَّلَاةِ په خلاف د لمانځه له حالت څخه لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى خِلَافِ وَضْعِ الْإِمَامَةِ أَوِ التِّلَاوَةِ ځکه چې هغه رسوول کوي تر هغه شي پوري چې هغه خلاف دی د امامت یا تلاوت له موضوع څخه وَلَهُمَا: أَنَّ الْمُقْتَدِيَ مَحْجُورٌ عَنِ الْقِرَاءَةِ او د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چې مقتدي له قرائت کولو څخه بند سوی دی لِنَفَاذِ تَصَرُّفِ الْإِمَامِ عَلَيْهِ ځکه چې پر هغه د امام تصرف نافذ دی وَتَصَرُّفُ الْمَحْجُورِ لَا حُكْمَ لَهُ او کوم شوک چې بند کړی سوی وي د هغه تصرف (يعني تلاوت) لره هیڅ حکم نسته بِخِلَافِ الْجُنُبِ وَالْحَائِضِ په خلاف د جنب او حائضې ښځې لِأَنَّهُمَا عَنِ الْقِرَاءَةِ مَنْهِيَّانِ ځکه چې دا دواړه (فقط) له قرائت څخه منع سوي دي إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجِبُ عَلَى الْحَائِضِ بِتِلَاوَتِهَا خو پر حائضې ښځې د خپل تلاوت په وجه (سجده) واجب نه ده كَمَا لَا يَجِبُ بِسَمَاعِهَا لکه څنګه چې پر هغې د سجدې د آیت په اوریدلو سره (هم) سجده واجب نه ده لِانْعِدَامِ أَهْلِيَّةِ الصَّلَاةِ ځکه چې په هغې کې د لمانځه اهلیت نسته بِخِلَافِ الْجُنُبِ په خلاف د جنب (ځکه چې پر هغه سجده واجب ده، او دا بیا جلا خبره ده چې تر غسل وروسته به سجده کوي).

اللغات: ﴿مأموم﴾ مقتدي، ﴿محجور﴾ بند کړی سوی، پابند.

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: ولو تلا ها المؤتم لم يسجد المصلي أصلا لا في الصلاة ولا بعدها. الدرالمختار ج:١، ص:٥۶۶. [القول الراجح ج:١، ص:١٣۶]

تشریح: په دې عبارت کې دوې مسئلې بیان سوي دي: (۱) اوله مسئله دا ده که د لمانځه په دوران کي امام د سجدې آیت ووایی، نو پر امام هم سجده واجب ده او پر مقتدیانو هم سجده واجب ده، ځکه چي مقتدیانو د امام د تابعداری التزام کړی دی، یعني د امام تابعداري یې پر ځان لازمه کړې ده (چي موږ به په هر شي کي په امام پسي اقتداء کوو)، نو هر شی چي پر امام واجب سي هغه به پر مقتدیانو هم واجب او لازم وي.

(۲) دویمه مسئله دا ده که د لمانځه په دوران کي یو مقتدي د سجدې آیت تلاوت کړی، او په لوړ آواز سره یې تلاوت کړی، نو اوس په دې صورت کي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز حکم دا دی چي پر هیچا هم سجده واجب نه ده، نه پر امام او نه پر مقتدیانو، او نه دې دا خلک په لمانځه کي دننه سجده کوي او نه تر فراغت وروسته، د دې په خلاف د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د لمانځه په دوران کي خو پر دې خلکو سجده واجب نه ده، لېکن کله چي له لمانځه څخه فارغه سي، نو پر دوی ټولو سجده واجب ده.

د امام محمد دلیل: دا دی چي د سجدې د واجب کېدلو سبب د سجدهٔ تلاوت وجود دی، نو کله چي مقتدي د سجدې آیت تلاوت کړی نو ښکاره ده چي د سجدې د وجوب سبب موجود سو، نو ځکه به سجده واجب وي، لېکن څرنګه چي د لمانځه په حالت کي سجده کول ممکن نه دي، نو په لمانځه کي به پر دوی کول ضروري نه وي، خو تر لمانځه وروسته به پر دوی سجده کول واجب او ضروري وي، او د لمانځه په مینځ کي ځکه سجده ضروري نه ده چي په لمانځه کي به د سجدې کولو دوه حالتونه وي: (۱) یا خو به مخکي مقتدی سجده کوي (۲) یا به امام مخکي سجده کوي، او دواړه صورتونه نا ممکن دي، ځکه که اول مقتدی سجده وکړي نو دا د امامت له موضوع څخه خلاف دي، ځکه چي د مقتدي کېدلو په حیثیت دا خبره ضروري ده چي اول به امام سجده کوي نه مقتدي، کنې د موضوع قلب او بدلون به راسي، او له متبوع څخه به تابع جوړ سي، او دا شرعاً صحیح نه دي، همدارنګه که اول امام سجده وکړي، نو دا هم شرعاً صحیح نه دي، ځکه چي د سجدې آیت مقتدي تلاوت کړی دی، نو مقتدي ته اول سجده کول پکار دي، او تاسو ته معلومه سوه چي مقتدی هم مخکي سجده نه سي کولای، نو د لمانځه په دوران کي د سجدې کولو هېڅ صورت صحیح نه دی، نو ځکه به پر دوی په لمانځه کي دننه سجده واجب نه وي، او د لمانځه تر فراغت وروسته به سجده پر واجب وي.

د شیخینو دلیل: دا دی چي د اقتداء کولو په وجه مقتدی له قرائت او نورو اعمالو څخه بند کړی سوی دی، (یعني محجور دی)، ځکه چي د امام قرائت او د امام اعمال د مقتدي په حق کي هم د قرائت او اعمالو درجه لري، لکه څرنګه چي په حدیث کي هم دا مفهوم بیان سوی دی: من کان له إمام فقراءة الإمام قراءة له، (یعني د امام قرائت د مقتدي لپاره هم قرائت دی)، نو مقتدی په لمانځه کي له قرائت څخه بالکل منع سوی دی، لهذا د ده له طرفه د سجدې د آیت تلاوت کول صحیح نه دي، او کله چي د مقتدي تلاوت شرعا صحیح نه سو، نو د هغه د تلاوت به هم هېڅ حکم نه وي، او کله چي د هغه د تلاوت هېڅ حکم نسته، نو د هغه په تلاوت سره به سجده نه واجبېږي، ځکه چي د بند کړی سوي (محجور) د تصرفاتو هېڅ اعتبار نسته.

بخلاف الجنب والحائض الخ له دې ځایه د یو مقدّر سوال جواب ورکول سوی دی:

سوال: دا دی چي حائضه او جنب هم له قرائت څخه منع کړي سوي دي، (یعني ممنوع دي) لېکن که بیا هم له دوی څخه یو قرائت وکړي او بل سړي یې واوري نو پر هغه سجده واجب ده، حال دا چي په ذکر سوې مسئله کي تاسو له امام څخه هم سجده ساقطه کړه، آخر د دې وجه څه ده؟

جواب: دا دی چې د محجور او ممنوع په مینځ کې فرق سته، ځکه چې د محجور قول او فعل بالکل معتبر نه وي، د هغه قول او فعل تعلق که د حلالو سره وي او که د حرامو سره، د دې په خلاف د ممنوع قول او فعل معتبر وي، تر دې فرق وروسته صورت د مسئلې ته ګورئ، څرنګه چې په ذکر سوې مسئله کې مقتدی محجور دی (یعني د قرائت بندیز پر لګول سوی دی) نو ځکه د هغه قرائت بالکل معتبر نه دی، او کله چې د هغه قرائت معتبر نه سو، نو ښکاره ده چې د هغه د تلاوت په وجه پر امام هم سجده نه واجبیږي، د دې په خلاف جنب او حائضه له قرائت څخه منع کړی سوي دي، نو څرنګه چې د دوی قرائت معتبر دی، نو ځکه به د دوی په تلاوت سره پر اورېدونکو سجدهٔ تلاوت واجبیږي، نو کله چې په محجور او ممنوع کې دا فرق سته، نو یو پر بل قیاسول صحیح نه دي.

إلا إنه يجب الخ له دې ځایه د حائضې او جنب په مینځ کې فرق بیانیږي، حاصل یې دا دی چې په خپله د حائضې او جنب په مینځ کې (هم) فرق سته، هغه داسې چې پر حائضې ښځې نه د سجدې د آیت په تلاوت کولو سره سجدهٔ تلاوت واجبیږي، او نه د سجدې د آیت په اورېدلو سره، ځکه چې په دې کې لمانځه اهلیت او لیاقت نسته، او په چا کې د لمانځه اهلیت نیستي وي، پر هغه هیڅ شی هم نه لازمیږي، د دې په خلاف که جنب د سجدې آیت تلات کړي یا یې واوري نو په دواړو صورتونو کې سجده پر واجبیږي، ځکه چې په ده کې اهلیت سته، او په جنب کې اهلیت په دې توګه سته چې دی په خپل وخت کې دننه غسل کولای سي، نو کله چې غسل وکړي نو د سجدې اداء پر واجب سوه، کنې قضاء به یې پر واجب وي.

تر لمانځه دباندې د بل سړي لپاره د سجدې آیت اورېدل

وَلَوْسَمِعَهَا رَجُلٌ خَارِجَ الصَّلَاةِ او که تر لمانځه دباندې یو سړي د سجدې آیت واورېدی سَجَدَهَا نو سجده دې وکړي هُوَ الصَّحِيْحُ همدا صحیح ده لِأَنَّ الْحَجْرَثَبَتَ فِيْ حَقِّهِمْ ځکه چې (د سجدې کولو) بندیز(صرف) د مقتدیانو په حق کې ثابت دی فَلَا يَعْدُوْهُمْ نو له هغوی څخه به تجاوز نه کوي.

اللغات: ﴿حجر﴾ بندیز، ممانعت، پابندي، ﴿لايعدو﴾ د نصر له باب څخه د نفي صیغه ده: تجاوز کول.

تشریح: **مسئله:** دا ده که له امام یا مقتدي څخه ماسوا بل سړي چې هغه له لمانځه څخه خارج(دباندې) وو له مقتدي څخه د سجدې آیت واورېدی، نو پر هغه سجده کول واجب دي، ځکه چې د مقتدي په تلاوت کړی سوي آیت سره پر امام او مقتدي ځکه سجده نه واجبیږي چې شرعي مانع سته(لکه په تېره سوې مسئله کې چې تفصیل ذکر سو)، نو دا ممانعت او بندیز صرف د مقتدیانو په حق کې ثابت دی، نورو ته تجاوز نه کوي، نو ځکه به له نورو څخه سجده نه ساقطیږي، بلکې پر دوی به سجده کول واجب وي.

که لمونځ ګزاره له خارجي (دباندیني) سړي څخه د سجدې آیت واوري نو څه حکم دی؟

وَإِنْ سَمِعُوْا وَهُمْ فِي الصَّلَاةِ سَجْدَةً او که خلکو د لمانځه په حالت کې د سجدې آیت واورېدی مِنْ رَجُلٍ لَيْسَ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ له داسې سړي څخه چې هغه د دوی سره په لمانځه کې شریک نه وو لَمْ يَسْجُدُوْهَا فِي الصَّلَاةِ نو دوی به په لمانځه کې سجده نه کوي لِأَنَّهَا لَيْسَتْ بِصَلَاتِيَّةٍ ځکه چې دا سجده د لمانځه سجده نه ده لِأَنَّ سِمَاعَهُمْ هٰذِهِ السَّجْدَةَ لَيْسَ مِنْ أَفْعَالِ الصَّلَاةِ ځکه چې د دې خلکو د سجدې د آیت اورېدل د لمانځه له افعالو څخه نه دي وَسَجَدُوْهَا بَعْدَهَا

او تر لمانځه وروسته به سجده وکړي لِتَحَقُّقِ سَبَبِهَا ځکه د سجدې سبب متحقق سو وَلَوْسَجَدُوْهَا فِي الصَّلَاةِ او که دې خلکو په لمانځه کي سجده وکړه لَمْ يُجْزِهِمْ نو دا د دوی لپاره کافي نه ده لِأَنَّهُ نَاقِصٌ ځکه چي دا سجده ناقصه ده لِمَكَانِ النَّهْيِ ځکه چي (په لمانځه کي له سجدې څخه) منع سوې ده فَلَا يَتَأَدَّى بِهِ الْكَامِلُ نو په دې سره به کامله سجده نه اداء کیږي.

اللغات: ﴿تحقق﴾ د تفعّل مصدر دی: ثابتېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د لمانځه په حالت کي یو څو خلکو له یو داسي سړي څخه د سجدې آیت واورېدی چي هغه د دوی سره په لمانځه کي شریک نه وو، نو دا خلک دي د لمانځه په حالت کي سجدۀ تلاوت نه کوي، ځکه چي دا سجده د لمانځه سجده نه ده، او د لمانځه سجده ځکه نه ده چي د دې خلکو دا اورېدل د لمانځه له افعالو څخه نه دي. ځکه چي د لمانځه افعال خو یا فرض وي یا واجب یا سنت، او د دې سجدې آیت اورېدل له دې څخه یو شی هم نه دی، لنډه دا چي سجده د لمانځه له افعالو څخه نه ده، او کوم شی چي د لمانځه له افعالو څخه نه وي نو په لمانځه کي دننه د هغه اداء کول هم جائز نه دي، لهذا ثابته سوه چي دا خلک دي په لمانځه کي دننه سجدۀ تلاوت نه کوي، خو تر لمانځه وروسته سجدۀ تلاوت کول واجب دي، ځکه چي د سجدې د واجب کېدلو سبب مخکي پیدا سوی دی چي هغه د سجدې د آیت اورېدل دي، یعني څرنګه چي دوی په لمانځه کي دننه د سجدې آیت واورېدی او هلته د سجدې کول صحیح نه وو، نو ځکه به تر لمانځه وروسته دا سبب متحقق کیږي او پر دوی به سجده واجب وي.

ولو سجدوها الخ د دې حاصل دا دی چي که بیا هم دې خلکو په لمانځه کي سجدۀ تلاوت وکړه، نو دا جائز نه دي، او تر لمانځه وروسته بیا د دې راګرځول واجب دي، ځکه که په لمانځه کي دننه د دې ادا‌ینه جائز ومنل سي، نو دا اداء به ناقص وي، ځکه چي د لمانځه له افعالو څخه ماسوا نور افعال په لمانځه کي دننه اداء کول مشروع او صحیح نه دي، لنډه دا چي دا سجده به ناقص وي، او د اورېدلو په وجه چي کومه سجده واجب سوې ده هغه کامله ده، او قاعده دا ده چي کامل واجب په ناقصه توګه سره نه اداء کیږي، نو ځکه به د دې خلکو لپاره په لمانځه کي دننه سجدۀ تلاوت کول صحیح نه وي.

که په ذکر سوي صورت کي سجده وکړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَأَعَادُوْهَا فرمايي: چي تو له خلک به دا سجده را وګرځوي لِتَقَرُّرِ سَبَبِهَا ځکه چي د سجدې سبب ثابت سو وَلَمْ يُعِيْدُوا الصَّلَاةَ او لمونځ به نه راګرځوي لِأَنَّ مُجَرَّدَ السَّجْدَةِ لَا يُنَافِي إِحْرَامَ الصَّلَاةِ ځکه چي صرف سجده د لمانځه له احرام څخه منافي نه ده وَفِي النَّوَادِرِ أَنَّهَا تُفْسِدُ او د نوادر په روایت کي دي چي لمونځ فاسدیږي لِأَنَّهُمْ زَادُوْا فِيْهَا مَا لَيْسَ مِنْهَا ځکه چي دې خلکو په لمانځه کي داسي سجده زیاته کړه چي هغه له لمانځه څخه نه ده وَقِيْلَ هُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ او بعضي حضراتو ویلي دي چي دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی.

اللغات: ﴿إحرام﴾ تکبیر تحریمه.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله وايي چي په لمانځه کي دې خلکو کومه سجده وکړه، هغه شرعاً صحیح نه ده، نو ځکه تر لمانځه وروسته دي هغه سجدۀ تلاوت را وګرځوي، ځکه چي د سجدۀ تلاوت سبب یعني اورېدل راغله، او څرنګه چي لمونځ فاسد سوی نه دی، نو ځکه د لمانځه د راګرځولو ضرورت نسته، او لمونځ ځکه فاسد سوی نه دی چي لمونځ خو یا

د يو رکن پرېښوولو په وجه فاسديږي، يا په لمانځه کي د مخالف او منافي شي راتلولو په وجه فاسديږي، او دلته دواړه خبري نسته، ځکه چي سجده له لمانځه څخه منافي نه ده.

د نوادر روايت دا دی چي په دې صورت کي لمونځ فاسديږي، ځکه چي دې خلکو په لمانځه کي يو داسي شی زيات کړی چي هغه د لمانځه له افعالو څخه نه دی، ځيني حضراتو ويلي دي چي د لمانځه فاسدېدل د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې صورت کي لمونځ نه فاسديږي، د اختلاف بنياد دا دی چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د سجدې زياتول لمونځ فاسدوي، او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په هغه زياتوب سره لمونځ نه فاسديږي کوم زياتوب چي تر يو رکعت کم وي.

د خارجي(دباديني) سړي لپاره د سجدې آيت اورېدل او بيا په لمانځه کي شرکت کول

فَإِنْ قَرَأَهَا الْإِمَامُ بيا که امام د سجدې آيت ووايي وَسَمِعَهَا رَجُلٌ لَيْسَ مَعَهُ فِي الصَّلَاةِ او يو داسي سړي واورېدی چي هغه د امام سره په لمانځه کي شريک نه وو فَدَخَلَ مَعَهُ بَعْدَمَا سَجَدَهَا الْإِمَامُ بيا د امام تر سجدې کولو وروسته هغه سړی د امام سره په لمانځه کي شريک سو لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ أَنْ يَسْجُدَهَا نو پر هغه سجده کول واجب نه دي لِأَنَّهُ صَارَ مُدْرِكًا لَهَا بِإِدْرَاكِ الرَّكْعَةِ ځکه چي هغه سړی د رکعت په نيولو سره د سجدې نيونکی (هم) سو وَإِنْ دَخَلَ مَعَهُ قَبْلَ أَنْ يَسْجُدَهَا او که د امام تر سجدې کولو مخکي هغه د امام سره په لمانځه کي شريک سو سَجَدَهَا مَعَهُ نو د امام سره دي سجده وکړي لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يَسْمَعْهَا ځکه که ده د سجدې آيت اورېدلی هم نه وای سَجَدَهَا مَعَهُ نو (هم) به يې د امام سره سجده کولای فَهَهُنَا أَوْلَى نو دلته به په درجه اولیٰ سره سجده کوي وَإِنْ لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُ او که دا سړی د امام سره شريک نه سو سَجَدَهَا وَحْدَهُ نو يوازي دي سجده وکړي لِتَحَقُّقِ السَّبَبِ ځکه چي (د سجدې) سبب ثابت سو.

اللغات: ﴿هٰهُنَا﴾ دلته، ﴿تحقق﴾ ثابتېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که امام په لمانځه کي د سجدې آيت تلاوت کړی او يو داسي سړي دا آيت واورېدی چي هغه په لمانځه کي د امام سره شريک نه وو، او امام سجده وکړه، بيا دا سړی په همدغه رکعت کي د امام سره شريک سو، نو پر دې سړي جلا سجده کول واجب نه دي، ځکه چي د دې رکعت په نيولو سره دا سړی د سجدې هم نيوونکي سو، او که په دويم رکعت کي د امام سره شريک سو نو د لمانځه تر فراغت وروسته دي سجده وکړي، ځکه چي کله دې سړي هغه رکعت نه ونيوی په کوم چي د سجدې آيت ويل سوی وو نو نه يې قرائت ونيوی او نه يې د قرائت متعلقات يعني سجده ونيول، نو کله چي يې سجده نه ونيول نو تر فراغت وروسته به سجده پر واجب وي.

او که دا سړی د امام تر سجدهٔ تلاوت کولو مخکي د امام سره شريک سو، نو د امام سره دي سجده و کړي، ځکه که بالکل دې سړي د امام سجده اورېدلې نه وای، په دې توګه چي امام د سجدې آيت پټ ويلی وای نو هم به د امام سره پر ده سجده کول واجب وای، نو په دې صورت کي پر ده چي ده د سجدې آيت اورېدلای هم دی نو په درجه اولیٰ سره به پر ده سجده کول واجب وي، او که دا سړی د امام سره شريک نه سو نو له لمانځه څخه دباندي به پر ده سجده واجب وي، ځکه چي د سجدې د واجب کېدلو سبب يعني اورېدل ثابت سو (يعني د سجدې آيت خوېږ واورېدی).

د لمانځه سجده تلاوت له لمانځه څخه دباندې اداء کول

وَكُلُّ سَجْدَةٍ وَجَبَتْ فِي الصَّلَاةِ او هر هغه سجدهٔ تلاوت چې په لمانځه کې واجب سي فَلَمْ يَسْجُدْهَا فِيْهَا لیکن لمونځ کونکې یې په لمانځه کې اداء نه کړي لَمْ تُقْضَ خَارِجَ الصَّلَاةِ نو له لمانځه څخه دباندې به (هم) د هغې قضاء نه راوړل کیږي لِأَنَّهَا صَلَاتِيَّةٌ ځکه دا د لمانځه سجده ده وَلَهَا مَزِيَّةُ الصَّلَاةِ او دې سجدې ته د لمانځه خصوصیت حاصل دی فَلَا تَتَأَدّٰى بِالنَّاقِصِ نو په ناقصه توګه به نه اداء کیږي.

اللغات: ﴿مَزِيَّة﴾ فضیلت، خصوصیت، ځانګړتیا، ﴿تَتَأَدّٰی﴾ د تفعل د باب مضارع صیغه ده: اداء کیدل.

تشریح: په دې عبارت سره امام قدوري رَحِمَهُ الله د یوې کُلي قاعدې و طرف ته اشاره کوي، قاعده دا ده چې هره هغه سجده چې په لمانځه کې دننه د سجدې د آیت په تلاوت کولو سره واجبه سي او په لمانځه کې دننه اداء نه سي، نو له لمانځه څخه دباندې (هم) په اداء کولو سره نه اداء کیږي. دلیل دا دی چې دا سجده د لمانځه سجده ده، د لمانځه د سجدې مطلب دا دی چې د کوم آیت په تلاوت سره چې دا سجده واجب سوې ده، د هغه آیت تلاوت د لمانځه له افعالو څخه دی، نو دا سجده د لمانځه سجده سو، او بیا د لمانځه په وجه سره په دې کې فضیلت راغلی، نو په لمانځه کې د سجدهٔ تلاوت واجب کېدل کامل سو، او کوم شی چې کامل واجب سوی وي، هغه په ناقصه توګه سره نه اداء کیږي، او دا خبره ښکاره ده چې له لمانځه څخه دباندې د لمانځه په شیر فضیلت نسته، نو له لمانځه څخه دباندې اداء کېدونکې سجده به ناقصه وي، نو ځکه به له لمانځه څخه دباندې صحیح هم نه وي.

که یو آیت له لمانځه څخه دباندې هم تلاوت کړي او په لمانځه کې هم نو څه حکم دی؟

وَمَنْ تَلَا سَجْدَةً او که یو چا د سجدې آیت تلاوت کړی فَلَمْ يَسْجُدْهَا بیا یې سجده نه وکړه حَتّٰى دَخَلَ فِي صَلَاةٍ تر دې چې په لمانځه کې داخل سو فَأَعَادَهَا نو هغه د سجدې آیت یې (په لمانځه کې) هم ووایی وَسَجَدَ او سجده یې وکړه أَجْزَأَتْهُ السَّجْدَةُ عَنِ التِّلَاوَتَيْنِ نو دا سجده له دواړو تلاوتونو څخه د ده لپاره کافي ده لِأَنَّ الثَّانِيَةَ أَقْوٰى ځکه چې دویمه سجده زیاته قوي ده لِكَوْنِهَا صَلَاتِيَّةً ځکه چې هغه د لمانځه سجده ده فَاسْتَتْبَعَتِ الْأُولٰى نو دا سجده به اولې سجدې ته شامله وي (او که فَاسْتُتْبِعَتْ یعني په معلومه صیغه سره وویل سي نو معنیٰ یې داسې کیږي: نو اوله سجده به د دې سجدې تلع وي) وَفِي النَّوَادِرِ يَسْجُدُ أُخْرٰى بَعْدَ الْفَرَاغِ او په نوادر کې دي چې د لمانځه تر فراغت وروسته به دویمه سجده کوي لِأَنَّ لِلْأُولٰى قُوَّةَ السَّبْقِ ځکه چې اولې سجدې ته د مخکیتوب قوت حاصل دی فَاسْتَوَيَا نو دواړې سجدې برابر سوې قُلْنَا: لِلثَّانِيَةِ قُوَّةُ اتِّصَالِ الْمَقْصُوْدِ مونږ جواب ورکوو: چې دویمې سجدې ته د مقصود سره د متصلوالي قوت (هم) حاصل دی فَتَرَجَّحَتْ بِهَا نو د دې قوت په وجه به دویمې سجدې ته ترجیح حاصله وي.

اللغات: ﴿أَقْوٰی﴾ اسم تفضیل دی: زیات طاقتور، ﴿سَبْق﴾ د فتح مصدر دی: مخکې کېدل، اول کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي له لمانځه څخه دباندې د سجدې آیت تلاوت کړی، خو سجده یې نه وکړه، او بیا په لمانځه کې مشغول سو، او په لمانځه کې یې بیا هغه د سجدې آیت تلاوت کړی، او سجده یې وکړه، نو په دې

سجده سره د هغه دواړي سجدې اداء سوې، او تر لمانځه وروسته پر هغه بله سجدهٔ تلاوت واجب نه ده، ځکه چي دا دويمه سجده چي هغه په لمانځه کي اداء کړه د لمانځه سجده ده، نو په دې حواله دې ته څه غوندي طاقت او خصوصيت حاصل دی، نو اوله سجده د دې سجدې په ضمن کي اداء سوه، نو د جلا سجدې کولو ضرورت نسته.

وفي النوادر الخ فرمايي چي په نوادر کي دا حکم ذکر سوی دی چي پر دې سري تر لمانځه وروسته يوه بله سجده کول واجب دي، ځکه چي له لمانځه څخه دباندي چي کومه سجده پر دې سري واجب سوې ده، هغه د لمانځه په سجدې سره نه اداء کيږي، ځکه چي هغه مخکي ده يعني هغې ته تقدّم او سبقت حاصل دی، نو ځکه په قوت کي دواړي سجدې سره برابري دي، او کله چي دواړه برابري دي، نو يوه به د بل په ضمن کي داخليږي هم نه، او تر لمانځه وروسته به بله سجده کوي.

قلنا الخ زموږ له طرفه جواب دا دی چي دويمي سجدې ته يو بل قوت هم حاصل دی، او هغه قوت دا دی چي دا سجده د اداء سره متصله او جوخت ده، يعني څرنګه چي سجده واجب سوه، په هغه ګړي يې اداء کړه، د دې په خلاف اولي سجدې ته دا خصوصيت حاصل نه دی، ځکه چي هغه له لمانځه څخه دباندي واجب سوې ده او تر اوسه نه ده اداء سوې، نو ځکه دې سجدې ته به تر مخکني سجدې ترجيح حاصله وي او هغه به د دې دويمي سجدې تابع وي او د دې په ضمن کي به اداء کيږي، او د جلا کولو به يې هيڅ ضرورت نه وي.

که يو آيت له لمانځه څخه دباندي تلاوت کړي او سجده وکړي او په لمانځه کي بيا هغه آيت تلاوت کړي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ تَلَاهَا او که يو چا (له لمانځه څخه دباندي) د سجدې آيت تلاوت کړی **فَسَجَدَ** او (د هغه لپاره) يې سجده وکړه **ثُمَّ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ** او بيا په لمانځه کي داخل سو **فَتَلَاهَا** او همدغه آيت يې (بيا) تلاوت کړي **سَجَدَ لَهَا** نو د دې لپاره به (هم) سجده کوي **لِأَنَّ الثَّانِيَةَ هِيَ الْمُسْتَتْبِعَةُ** ځکه چي دويمه سجده خو (په خپله) تابع جوړونکې ده (نو د اولي سجدې به څنګه تابع سي) **وَلَا وَجْهَ إِلَى إِلْحَاقِهَا بِالْأُولَى** او د اولي سجدې سره د دې (لمانځه د) سجدې د ملحق کولو هيڅ وجه نسته **لِأَنَّهُ يُؤَدِّي إِلَى** ځکه چي دا الحاق د دې خبري وطرف ته رسول کوي **سَبْقِ الْحُكْمِ عَلَى السَّبَبِ** چي حکم به تر سبب مخکي سي.

اللغات: ﴿المستتبعة﴾ د استفعال د باب مؤنث اسم فاعل دی: تابع جوړول، تابع کول. ﴿إلحاق﴾ د افعال مصدر دی: يو ځای کول، جوختول، مېښلول.

تشريح: مسئله: دا ده که يو چا له لمانځه څخه بهر د سجدې آيت تلاوت کړی او سجده يې وکړه، بيا په لمانځه کي داخل سو، او همدغه د سجدې آيت يې تلاوت کړی، نو اوس حکم دا دی چي دا سړی دې په لمانځه کي هم سجده وکړي، او د لمانځه سجده به د اولي سجدې نه تابع کوي، (يعني داسې به نه کوي چي اوله سجده د دواړو سجدو لپاره کافي وګرځوي) ځکه چي د متبوع جوړېدلو صلاحيت په دويمه سجده کي سته، په اوله سجده کي نسته، ځکه چي دويمي سجدې ته د لمانځه د اتصال خصوصيت حاصل دی، نو کله چي دمتبوع جوړېدلو صلاحيت په دويمه سجده کي سته نو ښکاره ده چي دا به د اولي تابع نه ګرځول کيږي، کنې له تابع څخه به متبوع جوړ سي کوم چي صحيح نه دی. او که دويمه سجده د اولي سره ملحق سي نو دا خرابي هم پيښيږي چي حکم به پر سبب مخکي سي، ځکه چي کله

دویمه سجده د اولې سجدې سره ملحق کړی سي نو مطلب یې به دا سي چې د دویمې سجدې لپاره تلاوت وروسته وسو او سجده مخکې وسوه(یعني حکم کوم چې سجده ده مخکې اداء سوه او د سجدې سبب یعني آیت وروسته تلاوت کړی سو)، او دا له قاعدې څخه خلاف خبره ده، نو ځکه به د لمانځه سجده د اولې سجدې نه تابع کیږي، او په لمانځه کې به جلا سجده کوي.

که په یوه مجلس کې د سجدې آیت څو ځله وویل سي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ كَرَّرَ تِلَاوَةَ سَجْدَةٍ وَاحِدَةٍ فِي مَجْلِسٍ وَاحِدٍ او چا چې په یوه مجلس کې د سجدې آیت څو واره تلاوت کړی أَجْزَأَتْهُ سَجْدَةٌ وَاحِدَةٌ نو د هغه لپاره یوه سجده کافي ده فَإِنْ قَرَأَهَا فِي مَجْلِسِهِ او که (یو وار یې) په خپل مجلس کې د سجدې آیت ووایی فَسَجَدَهَا او سجده یې وکړه ثُمَّ ذَهَبَ بیا ولاړی وَرَجَعَ او بیرته راغلی فَقَرَأَهَا او (دویم وار یې) بیا د سجدې آیت ووایی سَجَدَهَا ثَانِيَةً نو دویمه سجده به هم کوي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ سَجَدَ لِلْأُولَى او که د اول آیت لپاره یې سجده کړې نه وه فَعَلَيْهِ السَّجْدَتَانِ نو پر هغه به دوې سجدې وي فَالْأَصْلُ أَنَّ مَبْنَى السَّجْدَةِ عَلَى التَّدَاخُلِ دَفْعًا لِلْحَرَجِ نو اصل قاعده دا ده چې د سجدې دارومدار د تکلیف لیرې کولو په وجه پر تداخل باندې دی وَهُوَ تَدَاخُلٌ فِي السَّبَبِ او دا د سبب تداخل دی دُونَ الْحُكْمِ نه د حکم وَهَذَا أَلْيَقُ بِالْعِبَادَاتِ او د سبب تداخل د عباداتو سره زیات مناسب دی وَالثَّانِي بِالْعُقُوبَاتِ او دویم (یعني د حکم تداخل) د عقوباتو سره زیات مناسب دی وَإِمْكَانُ التَّدَاخُلِ عِنْدَ اتِّحَادِ الْمَجْلِسِ او د مجلس د اتحاد(یو والي) په صورت کې د تداخل امکان سته لِكَوْنِهِ جَامِعًا لِلْمُتَفَرِّقَاتِ ځکه چې مجلس بېلا بېل شیان جمع کوي فَإِذَا اخْتَلَفَ لیکن کله چې مجلس مختلف سي عَادَ الْحُكْمُ إِلَى الْأَصْلِ نو حکم د اصل و طرف ته راګرځي وَلَا يَخْتَلِفُ بِمُجَرَّدِ الْقِيَامِ او صرف په ولاړه سره مجلس نه بدلیږي بِخِلَافِ الْمُخَيَّرَةِ په خلاف د اختیار ورکړل سوي ښځي لِأَنَّهُ دَلِيلُ الْإِعْرَاضِ ځکه چې د هغې ولاړېدل د اعراض دلیل دی وَهُوَ الْمُبْطِلُ هُنَالِكَ او اعراض کول دلته اختیار باطلوي وَفِي تَسْدِيَةِ الثَّوْبِ يَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ او د کپړو (جامو) په وودلو کې د سجدې وجوب مکرر کیږي[پوره تفصیل په تشریح کې وګوره] وَفِي الْمُنْتَقِلِ مِنْ غُصْنٍ إِلَى غُصْنٍ كَذَلِكَ فِي الْأَصَحِّ همدارنګه د صحیح قول مطابق له یوه ښاخه څخه تر بل ښاخه پوري په منتقل کېدلو کې هم د سجدې وجوب مکرر کیږي وَكَذَا فِي الدِّيَاسَةِ لِلِاحْتِيَاطِ او په غوبل کولو (غله میده کولو) کې هم دغه حکم دی(یعني د سجدې وجوب مکرر کیږي).

اللغات: ﴿تداخل﴾ د تفاعل مصدر دی: یو په بل ننوتل، یو په بل کې داخلېدل او یو شی څني جوړېدل. ﴿تسدیة﴾ د تفعیل مصدر دی: تو کر وودل(اوبدل)، ﴿غصن﴾ ښاخ، مراد څني هغه لرګیان دي چې جولا په هغه سره تو کر وودي، ﴿دیاسة﴾ غوبل، په درمند ځای کې په غوایانو غله میده کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړي په یوه مجلس کې د سجدې یو آیت څو واره تلاوت کړی، نو د هغه لپاره یوه سجده کول کافي دي، او د څو واره تلاوت کولو په وجه څو سجدې نه واجبیږي، هو! که هغه د سجدې آیت تلاوت

کړي، بیا یو ځای ولاړ ي، بیرته راغلی بیا یې هغه آیت تلاوت کړي نو دوهمه سجده به کوي، ځکه چې د ده مجلس بدل سو، همدارنګه که ده اوله سجده کړې نه وي، نو اوس به دوې سجدې کوي، یوه به د اول تلاوت وي، او بله به د دویم تلاوت وي.

صاحب د هدایې فرمایي: چې د قیاس په تقاضا د هر آیت په ویلو سره د جلا جلا سجدې واجبېدل پکار دي، ځکه چې تلاوت د سجدې سبب دی، نو هر څومره چې سبب یعني تلاوت تکرارېږي هغومره به حکم یعني سجده مکرر کیږي، خو دلته استحساناً د حرج لیرې کولو لپاره تداخل کیږي یعني د سجدې آیت چې هر څو واره په یوه مجلس کي تکرار سي هغه ټوله وارونه به په یو سجده کي داخلیږي او یوه سجده به د ټولو لپاره کافي وي.

حرج او تکلیف ځکه دی چې مسلمانان د قرآن د زده کړي او ښوونې (تعلیم) متحاج دي، او زده کړه او ښوونه بغیر له تکرار څخه نه حاصلیږي، نو که په یوه مجلس کي د سجدې د یوه آیت په بار بار تکرار سره سجده لازمه کړی سي نو پر مسلمانانو به حرج سي، او په شریعت کي حرج لیرې سوی دی، نو ځکه وویل سوه چې په دې صورت کي یوه سجده واجب ده.

د تداخل قسمونه: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په دې باره کي یوه بله قاعده بیانوي فرمایي چې د تداخل دوه قسمونه دي: (۱) تداخل فی السبب، (۲) تداخل فی الحکم، تداخل فی السبب دا دی چې اسباب خو متعدد وي، لیکن حکم یو وي، مثلاً د سجدې آیت وېل د سجدې سبب دی، نو که لس واره د سجدې آیت تلاوت کړي سي، نو لس سجدې سوې، او سجده کول حکم دي، نو اوس چې لس واره د آیت تلاوت یو وار تلاوت وګرځول سو نو دا په سبب کي تداخل سو، ځکه چې لس سببونه په یوه سبب کي داخل سول، او د دې په وجه سره یوه سجده لازم سوه چې هغه یو حکم دی، او د تداخل فی الحکم مطلب دا دی چې د هر هر سبب جلا جلا حکم وي خو د تداخل په وجه د هر سبب جلا جلا حکم ثابت نه سي، مثلاً یو څوک څو واره زنا وکړي نو دا زنا د څو واره حد لګولو سبب سوه، یعني هره زنا د جلا حد لګولو سبب سوه، نو سببونه جلا جلا سوه، خو د ټولو لپاره به یوه حد لګیږي نو دا د هر هر سبب په جلا جلا حکم کي تداخل سو، او بیا د عباداتو لپاره تداخل فی السبب زیات مناسب دی، او د عقوباتو لپاره تداخل فی الحکم زیات مناسب دی، تداخل فی السبب یعني په سبب کي دننه تداخل په دې وجه د عباداتو لپاره مناسب دی ځکه چې مسلمانان د قرآن د تعلیم محتاجه دي، او دا خبره منل سوې ده چې د تعلیم لپاره تکرار ضروري دي، ځکه چې په تکرار او بار بار کولو سره په ښه ډول خبري په ذهن کي خوندي کیږي، او بیا ژر له ذهن څخه نه وځي، حاصل دا چې د قرآن د تعلیم لپاره تکرار ضروري دی، نو اوس که موږ هر وار د سجدۀ تلاوت په وجه جلا جلا سجده واجب وګرځوو نو ښکاره ده چې په دې کي ډېر تکلیف او حرج دی، نو د تکلیف لیري کولو لپاره په عباداتو کي تداخل فی السبب زیات مناسب دی. د دې په خلاف په عقوباتو او تعزیراتو کي تداخل فی الحکم زیات مناسب دی، ځکه چې الله رحیم ذات دی، نو سبب یعني ګناه چې هر څومره وي حکم به یو وي یعني په حکم کي به تداخل کیږي او عقاب او حد به یو وار ور کول کیږي. نو په عقوباتو کي تداخل فی الحکم زیات مناسب دی، همدا وجه ده چې په حدیث کي ویل سوي دي: "ستاسو چې څومره وس وي د حد ساقطولو کوښښ کوئ".

د تداخل شرط: له وإمكان التداخل څخه د تداخل شرط رابنیي، فرمایي چې د تداخل شرط دا دی چې آیت او مجلس به یو (واحد) وي، دلیل دا دی چې حرج د مجلسِ واحده او د آیتِ واحده په صورت کي راځي، او له دې څخه ملسوا نور ټوله صورتونه به پر اصل یعني پر قیاس پاته وي، بل دلیل دا دی چې تداخل هغه وخت صحیح کیږي چې یو داسي جامع شی پیدا سي چې ټوله سببونه جمع کړي، او ټوله سببونه د یوه سبب په درجه کي وګرځوي، او داسي جامع شی

مجلس دی، ځکه چې مجلس جلا جلا او متفرق شیان جمع کوي، مثلاً که یو شوک جلا جلا لړ قی وکړي نو که مجلس یو وو، نو ټوله به جمع کیږي، نو له دې څخه معلومه سوه چې مجلس بیلا بیل شیان جمع کوي، همدارنګه ی مجلس یو وو او څو واره د سجدې آیت وویل سو نو بیا به هم یوه سجده لازمیږي، او که مجلس یو نه وو، نو حکم به د خپل اصل یعني د قیاس و طرف ته ګرځي، یعني د یوه آیت په بار بار تلاوت کولو سره به بار بار سجده واجبیږي.

د مجلس اتحاد او ختلاف کله ثابتیږي: پاته سوه دا خبره چې د مجلس بدلېدل کله متحقق کیږي، نو په دې باره کې صاحب د کفایې وایي چې که له اول مجلس څخه را پورته سي او لیري ولاړ سي نو د مجلس د بدلېدلو حکم به لګیږي، او که نژدې ولاړ سي، نو د مجلس د یو والي (اتحاد) حکم به لګیږي، او د نژدې او لیري په مینځ کې فرق دا دی چې د دوو یا دریو قدمونو په اندازه تګ کول نژدې اندازه ده، او له دې څخه زیات لیري اندازه ده، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې صرف په ولاړېدلو سره مجلس نه مختلف کیږي، بلکې تر څو چې له دې مجلس څخه نه ووځي او ولاړ نه سي تر هغه وخته به د مجلس د بدلېدلو حکم نه کیږي، په خلاف د مخیّرې ښځي، مخیّره هغه ښځي ته ویل کیږي چې خاوند هغې ته اختیارِ نفسْ وواېي او د طلاق اختیار ورکړي، نو که مخیّرې ښځي د خیار الفاظ واورېدل او ولاړه سوه نو د دې خیار باطلیږي، لېکن د خیار باطلېدل یې په دې وجه نه دي چې مجلس بدل سو بلکې په دې وجه دي چې ولاړېدل د اعراض دلیل دی، او صراحةً یا دلالةً اعراض د مخیرې ښځي خیار باطلوي.

ولی تسدیة الثوب الخ فرمایي: [۱] که یو سړی د ټوکر او کپړو د اوبدلو (وودلو) کار کوی، او د کار په دوران کې د ټوکر د اوږده تار (یعني هغه تار چې د ټوکر په اوږدول کې وي او تقریباً دېر اوږد وي) د وودلو لپاره له یوه ځای څخه بل ځای ته تللی، او د تګ او راتګ په وخت کې یې بار بار د سجدې آیت وایي، نو څومره واره چې یې آیت ویلی وي، هغومره به سجدهٔ تلاوت پر واجب وي، ځکه چې د ټوکر اوږد تار تقریباً دېرش میټره اوږد وي، نو د دې د وودلو لپاره چې له یوه ځای څخه بل ځای ته منتقل کیږي، نو په دې سره مجلس بدلیږي، او د مجلس په بدلېدلو سره حکم او سبب مکرر کیږي، نو ځکه به په دې صورت کې پر ټوکر وودونکي هغومره سجدې واجب وي څومره چې یې آیت تلاوت کړی وي. [۲] همدارنګه که یو سړی یو وار د درختي پر یوه ښاخ کښېنستی او د سجدې آیت یې تلاوت کړی او بیا پر بل ښاخ کښېنستی او همدغه آیت یې بیا تلاوت کړی، نو اوس به هم پر ده دوې سجدې واجب وي، ځکه چې د ښاخ بدلېدل د مجلس د بدلېدلو په درجه کې دي. [۳] او همدغه حکم په هغه صورت کې هم دی چې کله یو شوک په درمندځای[1] کې په غوایانو فصل او غله (لکه اوربشې او داسې نور) میده کوي، اود درمند ځای په ګردی(ګول) دائره کې غوایان راګرځوي چې له اوربشو او داسې نورو څخه دانه را ووځي، نو دا ګردی دائره تقریباً پنځلس میټره وي. نو کله چې دی په دې دوران کې هر وار د سجدې آیت وایي، نو جلا جلا سجده به پر واجب وي، ځکه چې د غوایانو په راګرځولو سره هم مجلس بدلیږي، او احتیاط هم په دغه کې دی چې د هر آیت لپاره جلا سجده وکړي.

که په سامع او تالي کې د یوه مجلس بدل سي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ تَبَدَّلَ مَجْلِسُ السَّامِعِ او که د اورېدونکي مجلس بدل سي دُونَ التَّالِي نه د تلاوت کونکي يَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ عَلَى السَّامِعِ نو (صرف) پر اورېدونکي وجوب مکرر کیږي لِأَنَّ السَّبَبَ فِي حَقِّهِ السَّمَاعُ ځکه چې د سجدې د وجوب

[1] درمند ځای: د غلو، دانو، حبوبو او د فصل میده کولو ځای ته ویل کوم چې ملوّر یعني ګول او ګردی وي.

سبب د اورېدونكي په حق كي د تلاوت اوربدل دي وَكَذَا إِذَا تَبَدَّلَ مَجْلِسُ التَّالِي دُوْنَ السَّامِعِ او همدارنګه چي كله د تلاوت كونكي مجلس بدل سي نه د اورېدونكي عَلٰى مَا قِيْلَ څرنګه چي ويل سوي دي وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا يَتَكَرَّرُ الْوُجُوْبُ عَلَى السَّامِعِ او صحيح دا ده چي پر اورېدونكي وجوب نه مكرر كيږي لِمَا قُلْنَا د هغه دليل په وجه چي موږ مخكي بيان كړى.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه د آيت اورېدونكي مجلس بدل سو، خو د تلاوت كونكي مجلس بدل نه سو، نو په اتفاق سر پر سامع وجوب د سجدې مكرر كيږي (يعني د چا مجلس چي بدل سي، نو په اتفاق سره پر هغه وجوب د سجدې مكرر كيږي).

دليل: دا دى چي د اورېدونكي په حق كي د سجدۀ تلاوت د وجوب سبب اوربدل دي، او څرنګه چي د مجلس بدلېدلو په وجه اوربدل مكرر كيږي، نو په دې وجه به وجوب د سجدې هم مكرر وي، او كه د تلاوت كونكي مجلس بدل سو، او د اورېدونكي مجلس بدل نه سو، نو د علامه فخر الاسلام رَحِمَهُ الله د قول مطابق په دې صورت كي هم پر اورېدونكي وجوب د سجدې مكرر كيږي.

دليل: دا دى چي د اوربدلو بنياد پر تلاوت دى، نو كه د تلاوت كونكي مجلس مختلف سي، نو د اورېدونكي پر مجلس به هم د مجلس د اختلاف حكم لګيږي، او پر ده به هم وجوب د سجدې مكرر كيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي صحيح خبره دا ده چي په دې صورت كي پر اورېدونكي وجوب د سجدې نه مكرر كيږي، ځكه چي د اورېدونكي په حق كي د سجدې د واجب كېدلو سبب اوربدل دي، نو تر څو چي د اورېدونكي مجلس بدل نه سي تر هغه وخته به په اوربدلو كي تكرار نه راځي، او تر څو چي په اوربدلو كي تكرار نه وي راغلى، تر هغه وخته به وجوب د سجدې هم نه مكرر كيږي.

د سجدۀ تلاوت طريقه

وَمَنْ أَرَادَ السُّجُوْدَ او څوك چي دسجدۀ تلاوت كولو اراده وكړي كَبَّرَ نو هغه دي تكبير وكړي وَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ لېكن خپل لاسونه دي نه پورته كوي وَسَجَدَ او سجده دي وكړي ثُمَّ كَبَّرَ بيا دي تكبير وكړي وَرَفَعَ رَأْسَهُ او سر دي را پورته كړي اِعْتِبَارًا بِسَجْدَةِ الصَّلَاةِ د لمانځه پر سجدې په قياسولو سره وَهُوَ الْمَرْوِيُّ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ او همدغه له ابن مسعود رَحِمَهُ الله څخه را نقل سوي دي وَلَا تَشَهُّدَ عَلَيْهِ وَلَا سَلَامَ او پر هغه نه التحيات سته او نه سلام لِأَنَّ ذٰلِكَ لِلتَّحَلُّلِ ځكه چي سلام له لمانځه څخه د وتلو لپاره وي وَهُوَ يَسْتَدْعِيْ سَبْقَ التَّحْرِيْمَةِ او له لمانځه څخه وتل د تحريمې د مخكي والي تقاضا كوي (يعني له لمانځه څخه وتل د دې خبري تقاضا كوي چي تحريمه دي مخكي ترل سوي وي) وَهِيَ مُنْعَدِمَةٌ حال دا چي تحريمه نسته (يعني تحريمه مخكي نه ده ترل سوې).

اللغات: ﴿تَحَلُّل﴾ د تفعّل مصدر دى: له لمانځه څخه وتل، حلال كېدل، ﴿يَسْتَدْعِيْ﴾ د استفعال د مضارع ده: تقاضا كول، غوښتل.

تشريح: په دې عبارت كي د سجدۀ تلاوت طريقه بيان سوې ده، نو طريقه يې دا ده چي پر كوم سړي سجدۀ تلاوت واجب سي، او هغه يې د اداء كولو اراده وكړي، نو څرنګه چي د لمانځه لپاره سجده كيږي، هغه رنګه سجده دي وكړي، يعني بغير د لاسو پورته كولو څخه دي تكبير ووايي سجده دي وكړي، بيا دي تكبير ووايي سر دي را پورته كړي.

دليل: دا دى چي په لمانځه كي هم دغسي سجده كيږي، او له ابن مسعود ﷺ څخه د سجدۀ تلاوت همدغه طريقه روايت سوې ده.

ولا تشهد الخ فرمايي چي پر سجده كونكي سړي نه تشهد (التحيات) ويل واجب دي، او نه سلام ګرځول، ځكه چي سلام له لمانځه څخه د وتلو او د لمانځه د ختمولو لپاره ګرځول كيږي، او له لمانځه څخه د وتلو لپاره د لمانځه شروع كول ضروري دي، او د

لمانځه د شروع کولو لپاره تحريمه ضروري ده، او دلته تحريمه نسته، نو چې تحريمه نسته، نو د لمانځه شروع کول او له لمانځه څخه وتل به هم نه وي.

فائده: په قدوري او هدايه کي په دې اړه څه ويل سوي نه دي، چي په سجدهٔ تلاوت کي به څه وايي، نو په دې باره کي بعضو خو دا ويلي دي چي د لمانځه په سجده کي چي څه ويل کيږي، هغه دي په سجدهٔ تلاوت کي هم وايي، او بعضي وايي چي په سجدهٔ تلاوت کي دي دا وايي: سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا.

د تلاوت په دوران کي د سجدې د آيت پرېښوولو حکم

قَالَ: وَيُكْرَهُ أَنْ يَقْرَأَ السُّوْرَةَ فِي الصَّلَاةِ أَوْ غَيْرِهَا امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: دا مکروه دي چي انسان په لمانځه کي يا بغير له لمانځه څخه يو سورت ووايي وَيَدَعَ آيَةَ السَّجْدَةِ او د سجدې آيت پرېږدي لِأَنَّهُ يُشْبِهُ الِاسْتِنْكَافَ عَنْهَا ځکه چي دا له دې آيت څخه د مخ اړولو سره مشابه دي (يعني په تلاوت کي د سجدې آيت پرېښوول داسي دي لکه بالکل د سجدې له آيت څخه اعراض کول) وَلَا بَأْسَ او په دې صورت کي هيڅ حرج نسته بِأَنْ يَقْرَأَ آيَةَ السَّجْدَةِ چي د سجدې آيت ووايي وَيَدَعَ مَا سِوَاهَا او له دې څخه ماسوا پرېږدي لِأَنَّهُ مُبَادَرَةٌ إِلَيْهَا ځکه چي په داسي کولو سره د سجدې و طرف ته چټکتيا (او تېزي) کول دي قَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَقْرَأَ قَبْلَهَا آيَةً أَوْ آيَتَيْنِ امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي زما په نيز خوښه خبره دا ده چي تلاوت کوونکی د سجدې تر آيت مخکي يو يا دوه آيتونه (هم) ووايي دَفْعًا لِوَهْمِ التَّفْضِيْلِ د سجدې د آيت د فضيلت د وهم لېري کولو لپاره (يعني چي دا وهم را نه سي چي د سجدې آيت تر نورو آيتونو زيات فضيلت لري) وَاسْتَحْسَنُوا إِخْفَاءَهَا او فقهاؤ د سجدې د آيت په کراره ويل غوره ګرځولي دي شَفَقَةً عَلَى السَّامِعِيْنَ پر اورېدونکو د شفقت کولو لپاره، والله أعلم.

اللغات: ﴿يَدَعُ﴾ پرېښوول، ﴿اِسْتِنْكَاف﴾ اعراض کول، مخ اړول، ﴿اَلْمُبَادَرَة﴾ تېزي کول، چټکتيا کول، تلوار او چابکي کول.

تشريح: په دې عبارت کي امام محمد رَحِمَهُ الله د سجدهٔ تلاوت په باره کي دوه حکمونه بيان کړي دي:

(۱) اول حکم دا دی چي کوم څوک په لمانځه کي يا له لمانځه څخه علاوه يو داسي سورت ووايي چي په هغه کي د سجدې آيت وي، نو داسي دي هيڅکله نه کوي چي کله د سجدې آيت ته ورسيږي نو هغه پرېږدي، او د سجدې کولو له ډېري څخه د سجدې تر آيت واوړي، ځکه چي په داسي کولو کي د سجدې له آيت څخه د اعراض او مخ اړولو شبهه راځي، او د قرآن له هيڅ يو آيت څخه هم اعراض کول حرام دي، نو کوم شی چي د حرام سره مشابه وي، هغه که حرام نه وي، مکروه خو به ضرور وي، نو تلاوت کوونکي او تلاوت اورېدونکي ته داسي حرکت کول ښکار نه دي.

(۲) دويم حکم دا دی که يو سړی صرف د سجدې آيت ووايي، شاته او مخته نور آيتونه پرېږدي، نو په دې کي هيڅ حرج نسته، ځکه چي په داسي کولو کي د سجدې د آيت و طرف ته مبادره او وړاندېتوب کول راځي، نو په دې کي د اعراض وهم او شبهه نسته، لهٰذا په داسي کولو کي هيڅ حرج نسته، بيا هم داسي کول ښه نه دي، ځکه چي د قرآن کريم ټوله آيتونه په فضيلت او ثواب کي برابر دي، نو يو آيت ويل او نور پرېښوول مناسب نه دي، نو ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي زما په نيز د سجدې تر آيت مخکي يو يا دوه آيتونه ويل مستحب او خوښ دي، چي دا وهم پيدا نه سي چي د سجدې آيتونه تر نورو آيتونو لوړ او غوره دي.

واستحسنوا الخ فرمايي چي فقهاؤ رَحِمَهُمُ الله پر اورېدونکو (سامعينو) د شفقت او مهرباني کولو لپاره او د سجدې له تکليف څخه د خوندي کولو لپاره د سجدې آيتونه په کرار آواز ويل غوره ګرځولي دي، (ځکه چي په دې اوسني زمانه کي خلک فرائض نه اداء کوي، نو د واجباتو به څه پابندي وکړي). والله أعلم بالصواب

بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

(دا) باب د مسافر د لمانځه (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: تر دې مخکي صاحب د کتاب د سجدهٔ تلاوت احکام بیان کړل، اوس له دې ځایه د مسافر د لمانځه احکام او مسائل بیانوي، د دوی په مینځ کي د مناسبت وجه دا ده چي له دې دواړو څخه هر یو عارضی شی دی، ځکه چي نه یو انسان ټوله وخت یا د وخت زیاتره حصه سجدهٔ تلاوت کوي، او نه یو سړی ټوله وخت په سفر کي وي، لهذا په دې حواله سره د دواړو په مینځ کي اتحاد او یو والی دی، نو ځکه یو تر بل وروسته بیانوي، خو څرنګه چي د سجدهٔ تلاوت عارض په عبادت بدل سوی دی، نو په دې وجه یې د سجدهٔ تلاوت احکام د سفر تر احکامو مخکي بیان کړه، ځکه چي سفر په عبادت بدل سوی نه دی.

د سفر لغوي او اصطلاحي معنی: د سفر لغوي معنیٰ ده : مسافه او فاصله پرېکول، د سفر اصطلاحي معنیٰ ده: داسي کار کول چي په هغه سره احکام بدل سي، د مثال په توګه په لمانځه کي قصر، په روژو کي د افطار اجازه، د مسحي موده تر درې ورځو او درې شپو پوري رسېدل.

د سفر شرعي مسافه (فاصله)

السَّفَرُ الَّذِيْ يَتَغَيَّرُ بِهِ الْأَحْكَامُ هغه سفر چي احکام په بدلیږي دا دی أَنْ يَّقْصُدَ الْإِنْسَانُ مَسِيْرًا ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا چي انسان تر درې ورځو او درې شپو پوري د تګ (مزل) اراده وکړي بِسَيْرِ الْإِبِلِ د اوښ په تګ سره وَمَشْيِ الْأَقْدَامِ (یا) د پښو په تګ سره لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي يَمْسَحُ الْمُقِيْمُ كَمَالَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ مقیم به پوره یوه ورځ او یوه شپه مسح کوي وَالْمُسَافِرُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيْهَا او مسافر به درې ورځي او درې شپې (مسح کوي) عَمَّتِ الرُّخْصَةُ الْجِنْسَ (دا) رخصت عام سو جنس (د مسافر) ته وَمِنْ ضَرُوْرَتِهٖ عُمُوْمُ التَّقْدِيْرِ او د جنس له ضرورت څخه د تقدیر عموم دی (یعني د ورځو تعیین دې هم عام سي) وَقَدَّرَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ بِيَوْمَيْنِ وَأَكْثَرِ الْيَوْمِ الثَّالِثِ (نو) امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د سفر اندازه دوې ورځي او د دریمي ورځي اکثره حصه متعینه کړې ده وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ بِيَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فِيْ قَوْلٍ او په یو قول کي امام شافعي رَحِمَهُ الله یوه ورځ او یوه شپه متعین کړې ده وَكَفٰى بِالسُّنَّةِ حُجَّةً عَلَيْهِمَا او (زموږ بیان سوی) حدیث د دواړو په خلاف د حجت لپاره کافي دی.

اللغات: ﴿مَسِيْرَةٌ﴾ تګ، پیمایښت، ﴿سَيْر﴾ تګ، چال، مزل ﴿عَمَّتْ﴾ د نصر د باب ماضي صیغه ده: عام کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي په کوم سفر سره احکام بدلیږي، او په لمانځه او نورو کي قصر په ثابتیږي، له هغه څخه مراد مطلق سفر نه دی، بلکي هغه سفر مراد دی چي انسان درې ورځي او درې شپې د تګ اراده وکړي، هغه که د اوښ

● تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الطهارة، باب ماجاء في التوقيت في المسح، حديث رقم: ۵۵۵، ۵۵۶.

په مزل(رفتار) سره تګ کوي یا د پیاده تلونکو په رفتار سره تګ کوي، دا خبره په ذهن کې یاده ساتل پکار ده چې د هر ملک په کال کې له ټولو څخه کوچنۍ ورځ معتبره ده، همدارنګه شپه او ورځ ۴۲ ساعتونه(ګینټې) تګ کول مراد نه دي، بلکې له هرې ورځې څخه تر زواله پورې تلل مرادي دي، ځکه چې ۲۴ ساعتونه تګ نه د انسان په وس کې دي، او نه د یو سپرلي په طاقت کې دي، لهٰذا چې هر روځ له سهار څخه تر زواله پورې چې په درې ورځو او شپو کې کومه مسافه پرېکړل سي، هغه د سفر مسافه ده. (همدارنګه نه له سفر څخه د شپې سفر کول مراد دي، بلکې له سهار څخه تر زواله پورې.......

ځکه چې شپه د آرام او استراحت لپاره ده، او له ثلاثة أيام څخه وروسته د ولياليها په زياتوب سره هم د دغه وطرف ته اشاره سوې ده. احسن الهدايه ج:۲، ص: ۳۱۲)

دليل: د درې ورځو او درې شپو په اندازه باندې د نبي کريم ﷺ په دې حديث سره استدلال سوی دی: يمسح المقيم كمال يوم وليلة والمسافر ثلثة أيام ولياليها، او له دې څخه استدلال په دې توګه کيږي چې د المسافر الف لام استغراقي دی، نو د مسح رخصت هر مسافر ته شامل سو، يعني هر مسافر درې ورځې او درې شپې مسح کولای سي، او هر مسافر درې ورځې او درې شپې هغه وخت مسح کولای سي، چې کله د سفر کمه موده درې ورځې او درې شپې وي، او که د سفر کمه موده له دې څخه کمه ومنل سي، نو بيا به هر مسافر درې ورځې او درې شپې مسح نه سي کولای، حال دا چې له حديث څخه د هر مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې مسح کول ثابت دي، نو ثابته سوه چې د سفر کمه موده درې ورځې او درې شپې ده.

زموږ د مذهب تائيد په دې حديث سره هم کيږي چې: لا تسافر المرأة فوق ثلاثة أيام ولياليها إلا ومعها زوجها أو ذو رحم محرم منها، په حديث کې د فوق لفظ زائد دی، او دا خبره تسليم سوې ده چې د ښځې لپاره د سفر له مودې څخه کم بغير له محرم څخه د سفر کولو اجازه سته، نو څرنګه چې په حديث کې درې ورځې او درې شپې ښځه بغير له محرمه له سفر کولو څخه منع سوې ده، نو ځکه به د سفر موده درې ورځې او درې شپې وي.

وقدّر أبويوسف الخ فرمايي چې له حنفي علماؤ څخه د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز د سفر کمه موده دوې پوره ورځې او د درېمې ورځې اکثره حصه ده، او د يو قول مطابق د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز يوه ورځ او يوه شپه د سفر کمه موده، امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې د سفر کمه موده څلور فرسخه ده، همدارنګه د امام شافعي رَحِمَهُ الله يو قول دی، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې زموږ بيان سوی حديث د دواړو مخالف قولونو په خلاف حجت دی.

د فرسخ او شرعي و انګريزي ميل په اعتبار سره د سفر موده

د شرعي ميل په اعتبار سره د سفر کمه موده اته څلوېښت(۴۸) ميله کيږي، او د فرسخ په اعتبار سره شپاړس(۱۶) فرسخه کيږي، ځکه چې يو فرسخ درې شرعي ميله کيږي، او د انګريزي ميل په اعتبار سره څلور پنځوس(۵۴) ميله کيږي، ځکه چې انګريزي ميل تر شرعي ميل کوچنی دی، په يوه ورځ کې په مينځوي مزل سره عموماً شپاړس ميله مسافه قطع کيږي، نو په درې ورځو کې اته څلوېښت ميله مسافه سوه، نو که يو څوک اته څلوېښت ميله سفر وکړي، نو د سفر احکام به جاري کيږي. (اثمار الهدايه ج:۲، ص: ۲۱۵)

د شرعي ميل، انګريزي ميل، ميټر او کيلو ميټر اندازه د لاس او ګز په اعتبار سره

څه شي؟	څومره؟	کيږي
يو شرعي ميل	څلور زره (۴۰۰۰) لاسه	کيږي
يو شرعي ميل	دوه زره (۲۰۰۰) ګزه	کيږي
يو شرعي ميل	تقريباً اتلس سوه اته ويشت (۱۸۲۸,۷۹۸) ميټره	کيږي
يو شرعي ميل	تقريباً يو (۱,۸۲۸۷۹۸) کيلوميټر	کيږي
يو ميټر	(۱,۰۹۳۶۱۴۳) ګزه	کيږي (يعني تقريباً له يوه ګز څخه لږ زيا تيږي)
يو کيلو ميټر	زر (۱۰۰۰) ميټره	کيږي
يو انګريزي ميل	درې زره پنځه سوه شل (۳۵۲۰) لاسه	کيږي
يو انګريزي ميل	اولس سوه شپيته (۱۷۶۰) ګزه	کيږي
۴۸ شرعي ميله	تقريباً څلور پنځوس (۵۴,۵۴۵۲) انګريزي ميله	کيږي
۴۸ شرعي ميله	تقريباً اوه اتيا (۸۷,۷۸۲) کيلو ميټره	کيږي

د منځنۍ درجې مزل (تګ) معتبر دی

وَالسَّيْرُ الْمَذْكُورُ هُوَ الْوَسَطُ او له ذکر سوي مزل څخه د منځنۍ درجې مزل مراد دی (يعني په مخکې عبارت کې چې د کوم مزل (او تګ) ذکر سو له هغه څخه مراد دا دي چې په منځنۍ درجه به مزل کوي) وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ التَّقْدِيرُ بِالْمَرَاحِلِ او له امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې (د سفر د مودې) اندازه به په مرحلو (پړاونو) سره کيږي وَهُوَ قَرِيبٌ مِنَ الْأَوَّلِ او دا روايت د اول روايت سره زيات نږدې دی وَلَا مُعْتَبَرَ بِالْفَرَاسِخِ او (د سفر د مودې په اندازه کې) د فرسخونو اعتبار نسته هُوَ الصَّحِيحُ همدا صحيح ده.

اللغات: ﴿مَرَاحِل﴾ جمع د مرحلې ده: پړاوونه، منزلونه، رباطونه.

تشريح: فرمايي: په قدوري کې چې د سير الإبل يا سير الأقدام په ذريعه سره د کوم مزل ذکر سوی دی، له هغه څخه د منځوی اومتعدلې درجې مزل مراد دی، نه ډېر تېز او نه ډېر کرار، بلکې منځنی تګ، له امام صاحب څخه يو روايت دا دی چې د سفر کمه موده درې منزلونه (پړاوونه) دي يعني که يو چا د درېو منزلونو په اراده سفر شروع کړی، نو هغه ته شرعاً مسافر ويل کيږي، صاحب د هدايې فرمايي چې د امام صاحب دا قول د اول قول يعني ثلاثة أيام ولياليها سره نږدې دی، ځکه چې په مخکنی زمانه کې به خلکو عموماً په يوه ورځ کې يو منزل سفر کوی.

ولا معتبر الخ فرمايي چې د صحيح قول مطابق به د سفر د مودې په تعيين کې د فرسخ اعتبار نه کيږي. يو فرسخ درې ميله کيږي، علمو مشائخو د فرسخ اعتبار کړی دی، لکه څرنګه چې بعضو د شپاړس فرسخو، او بعضو د پنځلس فرسخو ذکر کړی دی.

د اوبو تګ د ځمکې له تګ څخه مختلف دی

وَلَا يُعْتَبَرُ السَّيْرُ فِي الْمَاءِ او د اوبو تګ معتبر نه دی مَعْنَاهُ لَا يُعْتَبَرُ بِهِ السَّيْرُ فِي الْبَرِّ د دې معنیٰ دا ده چې د کوم تګ اعتبار چې په وچه (بې اوبو ځمکه) کې کيږي په اوبو کې به د هغه اعتبار نه کيږي فَأَمَّا الْمُعْتَبَرُ فِي الْبَحْرِ نو په سمندر کې هغه تګ معتبر دی فَمَا يَلِيقُ بِحَالِهِ چې هغه د سمندر د حال سره مناسب وي كَمَا فِي الْجَبَلِ لکه څرنګه چې په غره کې (هم دغه حکم دی).

اللغات: ﴿بَرّ﴾ وچه، بې اوبو ځمکه، ﴿جَبَل﴾ غر.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې په سمندري سفر کې به د هغه مسافې اعتبار کيږي چې د سمندر د حال سره مناسبه وي، يعني که هوا برابره وي، نو په سمندر کې چې په درې ورځو او درې شپو کې کښتۍ څومره اندازه مسافه پرېکړي، هغه به د سفر موده وي، لکه څرنګه چې د غرو په سفر کې د درې ورځو او درې شپو اعتبار سوی دی. که څه هم په هواره ځمکه کې دومره مسافه له دې څخه په کومه موده کې پرېکيږي. او د متن د عبارت حاصل دا دی چې په سمندري سفر کې به د وچې ځمکې د مزل اعتبار نه کيږي، د مثال په توګه يوه وطن ته د رسېدلو لپاره دوې لارې دي، يوه د وچې ځمکې لاره ده بله د اوبو (سمندر) لاره ده، پر وچه لاره درې ورځې او درې شپې مسافه ده، او د اوبو له لارې څخه دوې ورځې مسافه ده، نو که يو سړی پر وچه لاره ولاړ سي، نو د هغه لپاره به د مسافر رخصت حاصل وي، او که د اوبو د لارې څخه ولاړ سي، نو د سفر رخصت به ورته حاصل نه وي.

د قصر شرعي حيثيت

قَالَ: وَفَرْضُ الْمُسَافِرِ فِي الرُّبَاعِيَّةِ رَكْعَتَانِ فرمايي: چې په څلور رکعتيز لمانځه کې د مسافر فرض لمونځ دوه رکعته دی لَا يَزِيدُ عَلَيْهِمَا (او) پر دې به زياتوب نه کوي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ فَرْضُهُ الْأَرْبَعُ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر مسافر څلور رکعته لمونځ فرض دی وَالْقَصْرُ رُخْصَةٌ او (په لمانځه کې) قصر کول رخصت دی اعْتِبَارًا بِالصَّوْمِ په روژې باندې په قياسولو سره (يعني امام شافعي رَحِمَهُ الله سفر پر روژې قياسوي) وَلَنَا أَنَّ الشَّفْعَ الثَّانِيَ لَا يُقْضَى لو زموږ دليل دا دی چې د دويمې شفعې نه قضاء راوړل کيږي وَلَا يُأْثَمُ عَلَى تَرْكِهِ او نه لمونځ کونکی د هغې په پرېښودلو سره ګنهګاره کيږي وَهَذَا آيَةُ النَّافِلَةِ او دا د نفل کېدلو نښه ده بِخِلَافِ الصَّوْمِ په خلاف د روژې لِأَنَّهُ يُقْضَى ځکه چې د روژې قضاء راوړل کيږي.

اللغات: ﴿رُبَاعِيَّة﴾ د څلورو رکعتو والا لمونځ، څلور رکعتيز لمونځ، ﴿قَصْر﴾ مختصر کول، لنډول، لږول، ﴿شَفْع﴾ دوه رکعته، شفع ثاني: آخري دوه رکعته.

تشريح: امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي: د اقامت په حالت کي چي کوم څلور رکعته لمونځ فرض دی، په هغه دوه رکعته کيږي، او زموږ (د احنافو) په نيز دا فرض دي، او مسافر ته څلور رکعته جائز نه دي، په شرعي سفر کي دويم رکعت کښېنستی، نو سجدۀ سهو به کوي، او که سجدۀ سهو وکړي، نو لمونځ خو به يې جائز وي، ليکن ناقص به وي، ځکه چي په دې صورت کي اول دوه رکعته فرض سوه، او آخري دوه رکعته نفل سوه، او که پر دويم رکعت نه کښېني، نو ټوله رکعتونه به يې نفل سي، فرض لمونځ يې نه کيږي.

زموږ دليلونه: (۱) اول دليل دا دی چي که مسافر قصر وکړي، او آخري دوه رکعته پرېږدي، نو قضاء يې نه راوړل کيږي او نه د هغو په پرېښوولو سره ګنهکاره کيږي، او د قضاء نه واجبېدل او نه ګنهکاره کېدل د دې نښه ده چي دوېمه شفعه نفل ده، نو ثابته سوه چي پر مسافر په څلور رکعتيز لمانځه کي فقط دوه رکعته واجب دي. (۲) زموږ دويم دليل دا دی چي له ډېرو حديثونو څخه ثابت دي چي نبي ﷺ او صحابه وو به په سفر کي څلور رکعتيز لمونځ دوه رکعته کوی، نو ځکه د سفر لمونځ دوه رکعته دی، له دې څخه زيات کول جائز نه دي. (۳) دريم دليل: په مسلم شريف کي د ابن عباس حديث دی: قال إن الله فرض الصلوة على لسان نبيكم على المسافر ركعتين وعلى المقيم أربعًا، له دې حديث څخه معلومه سوه چي په سفر کي فرض لمونځ دوه رکعته دی. (۴) څلورم دليل: په بخاري شريف کي راغلي دي: سمعت أنسًا يقول خرجنا مع النبي ﷺ من المدينة إلى مكة فكان يصلي ركعتين ركعتين حتى رجعنا إلى المدينة قلت أقمتم بمكة شيئًا قال أقمنا بها عشرا، له دې حديث څخه هم معلومه سوه چي نبي ﷺ به په سفر کي دوه رکعته لمونځ کوی.

د امام شافعي مسلک: د امام شافعي، امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نيز په سفر کي د قصر کولو رخصت سته، خو څلور رکعته کول افضل دي، يعني که دوه رکعته وکړي، صحيح دي، هيڅ کراهت پکښې نسته، ځکه چي په حديث سره ثابت دي، ليکن که څلور رکعته وکړي نو افضله دي، لنډه دا چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز قصر کول فرض نه دي، بلکي صرف رخصت يې سته.

د امام شافعي دليل (۱) امام شافعي رَحِمَهُ الله پر روژه قياس کوي، يعني څرنګه چي د مسافر لپاره د روژې په مياشت کي د افطار اجازه (رخصت) سته او روژه نيول افضله دي، همدارنګه په څلور رکعتيز لمانځه کي د قصر اجازه ورکول سوې ده، کنې اتمام افضله دی، (۲) دويم دليل دا آيت دی: وإذا ضربتم في الأرض فليس عليكم جناح أن تقصروا من الصلوة [سورة النساء: ۱۰۱]، د دې آيت معنیٰ ده چي کله تاسو سفر کوئ نو هيڅ پروا (جناح) په دې کي نسته چي تاسو په لمانځه کي قصر وکړئ، د دې پروا (جناح) له لفظ څخه معلومېږي چي که قصر وکړي نو هم هيڅ پروا نسته، او که اتمام وکړي نو هم هيڅ خبره نه ده، نو ځکه به اتمام افضله وي، ليکن څرنګه چي قصر په حديث سره ثابت دی، نو هغه مکروه ګڼل پکار نه دي، (۳) دريم دليل: د بخاري دا حديث دی: عن عبد الله قال صليت مع النبي ﷺ بمنى ركعتين و أبي بكر وعمر و مع عثمان صدرا من امارته ثم أتمها، په دې حديث کي حضرت عثمان رضي الله عنه اتمام کړی دی، نو له دې څخه معلومېږي چي اتمام کول هم جائز دي، (۴) څلورم دليل: په دار قطني کي حديث دی: عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنهَا أن النبي ﷺ كان يقصر في السفر ويتم ويفطر ويصوم، په دې حديث کي راغلي دي چي نبي ﷺ به قصر هم کوی، او اتمام به يې هم کوی، نو ځکه اتمام کول جائز دي.

جواب: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايلي وو: څرنګه چي په روژه کي د مسافر لپاره رخصت او اختيار سته، چي که روژه نيسي او که يې پرېږدي او وروسته يې قضاء راوړي، همدارنګه په څلور رکعتيز لمانځه کي هم مسافر ته اجازه سته، نو د دې جواب موږ دا ورکوو چي په لمانځه او روژو کي فرق سته، ځکه که په لمانځه کي آخري دوه رکعته مسافر پرېږدي نو پر هغه هيڅ ګناه نسته، او نه يې قضاء سته، او که روژه پرېږدي، نو د هغې قضاء سته، لهذا معلومه شوه چي روژه جلا ده، او لمونځ جلا دی، نو ځکه لمونځ پر روژه قياسول صحيح نه دي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله اصلي دلائل هغه حديثونه دي کوم چي پورته ذکر سول، او د هغو ټولو جوابونه په نورو شروحو کي په تفصيل سره بيان سوي دي، خو د کتاب د اوږدوالي له بيري يې موږ نه ذکر کوو.

د قصر نه کولو حکم

وَإِنْ صَلَّى أَرْبَعًا او که مسافر څلور رکعته لمونځ وکړی وَقَعَدَ فِي الثَّانِيَةِ قَدْرَ التَّشَهُّدِ او په دويم رکعت کي د تشهد(التحيات) په اندازه کښېنستی(مطلب دا چي قصر يې نه وکړي) أَجْزَأَتْهُ الْأُولَيَانِ عَنِ الْفَرْضِ نو اول دوه رکعته له فرضو څخه د ده لپاره کافي دي وَالْأُخْرَيَانِ لَهُ نَافِلَةٌ او آخري دوه رکعته د ده لپاره نفل دي اِعْتِبَارًا بِالْفَجْرِ د سهار پر لمانځه په قياسولو سره وَيَصِيرُ مُسِيئًا لِتَأْخِيرِ السَّلَامِ او د سلام ځنډولو په وجه به ګنهکاره وي وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ فِي الثَّانِيَةِ قَدْرَهَا او که په دويم رکعت کي د تشهد په اندازه نه کښېنستی بَطَلَتْ نو لمونځ يې باطل سو لِاخْتِلَاطِ النَّافِلَةِ بِهَا قَبْلَ إِكْمَالِ أَرْكَانِهَا ځکه چي د فرضو د ارکانو تر پوره کولو مخکي نفل په فرضو ګډ سول.

اللغات: ﴿المسيئ﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: ګنهکار، ګناهکار، غلط کار کونکی، ﴿الاختلاط﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ګډېدل، يو ځای کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مسافر د دوو رکعتو پر ځای څلور رکعته وکړه، او د تشهد په اندازه پر دويم رکعت کښېنستی، نو اول دوه رکعته به فرض او آخري دوه رکعته به نفل شمارل کيږي، او دا مسئله د سهار په لمانځه قياس سوې ده، يعني که يو چا د سهار په لمانځه کي د دوو پر ځای څلور رکعته وکړه، او پر دويم رکعت کښېنستی، نو دوه رکعته به يې فرض او دوه رکعته به يې نفل وي، خو د سلام د ځنډولو (تأخير) په وجه به ګنهکاره وي، او که مسافر پر دويم رکعت نه کښېنستی، نو لمونځ يې باطليږي(لکه څرنګه چي څوک د سهار په لمانځه کي پر دويم رکعت نه کښېني نو هم يې لمونځ باطليږي). دليل دا دی چي په دې صورت کي به د فرضي لمانځه د ارکانو تر پوره کولو مخکي د فرضي لمانځه سره نفلي لمونځ ګډ(مخلوط) سي، او د فرضي لمانځه ارکان ځکه پوره سوي نه دي چي پر دويم رکعت ناسته کوم چي د قصر په وجه رکن ده هغه پرېښول سوه، نو د فرضي لمانځه د ارکانو تر پوره کولو مخکي په نفلو شروع وسوه، او د ارکانو تر پوره کولو مخکي نفل شروع کول او نفل په فرضو مخلوط کول لمونځ باطلوي، نو ځکه به د ده لمونځ باطل وي.

د قصر شروع کولو ځای

وَإِذَا فَارَقَ الْمُسَافِرُ بُيُوتَ الْمِصْرِ او کله چي مسافر د ښار له کورونو څخه جلا سي صَلَّى رَكْعَتَيْنِ نو لمونځ به دوه رکعته کوي(يعني قصر به کوي) لِأَنَّ الْإِقَامَةَ تَتَعَلَّقُ بِدُخُولِهَا ځکه چي اقامت په ښار کي د داخلېدلو سره تعلق لري فَيَتَعَلَّقُ

السَّفَرُ بِالْخُرُوجِ عَنْهَا نو سفر به له ښار څخه تر وتلو پورې تعلق لري وَفِيْهِ الْأَثَرُ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او په دې باره کې د حضرت علي ﷺ اثر دی لَوْ جَاوَزْنَا هٰذَا الْخُصَّ (چې) که موږ له دې کوډلې څخه تېر سو لَقَصَرْنَا نو قصر به کوو.

اللغات: ﴿جاوز﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: جلا کېدل. ﴿الخص﴾ له خاشو څخه جوړه سوې کوچنۍ خونه. مراد ځني هغه کوډله ده چې په دښت کې د آرام لپاره جوړه سوې وي.

تشريح: په دې عبارت کې دا بيانيږي چې مسافر به تر سفر شروع کولو وروسته کله قصر شروع کوي. نو د دې حکم دا دی چې کله مسافر د ښار له آبادۍ څخه ووځي، نو پر هغه قصر کول واجبيږي. دليل دا دی چې کله مسافر د خپل ښار په آبادي کې داخل سي، نو د هغه سره د اقامت حکم متعلق کيږي، نو همدارنګه کله چې له دې آبادي څخه ووځي نو د سفر حکم به هم ور سره متعلق کيږي، او په دې باره کې د حضرت علي ﷺ اثر هم را نقل سوی دی: لو جاوزنا هذا الخص لقصرنا، خُص وايي د بانس، لرګو، يا خاشو کوچنۍ کوډلې ته. حاصل دا چې حضرت علي ﷺ وفرمايل: "که موږ له دې کوډلې څخه تېر سو"، نو قصر به کوو، د دې تائيد د حضرت انس ﷺ په حديث سره هم کيږي: قال صليت مع رسول الله ﷺ الظهر بالمدينة أربعا والعصر بذي الحليفة ركعتين، (حضرت انس ﷺ فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ سره په مدينه منوره کې د ماپښين لمونځ څلور رکعته وکړی، او په ذو الحليفه کې مي د مازيګر لمونځ دوه رکعته وکړی). او ذو الحليفه د مدينې منورې له آبادۍ څخه وتلی ځای دی، نو معلومه سوه چې کله مسافر د ښار له آبادۍ او کورونو څخه ووځي نو قصر به کوي.

د سفر انتها (پای)

وَلَا يَزَالُ عَلٰى حُكْمِ السَّفَرِ او مسافر به تر هغه وخته د سفر په حکم کې وي حَتّٰى يَنْوِيَ الْإِقَامَةَ فِيْ بَلْدَةٍ أَوْ قَرْيَةٍ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا أَوْ أَكْثَرَ تر څو چې په يو ښار يا يو کلي (مجله) کې د پنځلس ورځو يا تر دې د زياتې اقامت (پاته کېدلو) نيت وکړي وَإِنْ نَوٰى أَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ او که تر دې د کم نيت وکړي قَصَرَ نو قصر به کوي لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنِ اعْتِبَارِ مُدَّةٍ ځکه چې (په اقامت کې) د يو مودې اعتبار کول ضروري دي لِأَنَّ السَّفَرَ يُجَامِعُهُ اللُّبْثُ ځکه چې درنګ کول (يعني پاته کېدل) د سفر لپاره جامع دي* فَقَدَّرْنَاهَا بِمُدَّةِ الطُّهْرِ نو ځکه موږ د طهر په مودې سره د اقامت د مودې اندازه ولګوله لِأَنَّهُمَا مُدَّتَانِ مُوْجِبَتَانِ ځکه چې دا دواړه مودې واجبونکي دي وَهُوَ مَأْثُوْرٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او همدا اندازه له ابن عباس او بن عمر رضي الله عنهم څخه رانقل سوې ده وَالْأَثَرُ فِيْ مِثْلِهِ كَالْخَبَرِ او په داسي مسئله کې د صحابي قول (اثر) هم د حديث په ډول وي وَالتَّقْيِيْدُ بِالْبَلْدَةِ وَالْقَرْيَةِ يُشِيْرُ إِلٰى او د ښار او کلي (محلې) قيد لګول ودې خبرې ته اشاره کوي أَنَّهُ لَا تَصِحُّ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ فِي الْمَفَازَةِ چې په دښت (او ځنګله) کې د اقامت نيت کول صحيح نه دي وَهُوَ الظَّاهِرُ او همدا ظاهر روايت دی

★ (يعني په سفر کي خو څه ناڅه پاته کېدل راځي ځکه چې مسافر يو، دوه ساعته د ځان هوسا کولو لپاره حتمًا يو ځای درېږي او لږ درېدلو او پاته کېدلو ته اقامت نه سي ويل کېدلای).

اللغات: ﴿بلدة﴾ښار، ﴿قرية﴾ کلی، محله، ﴿لُبث﴾ لَبث هم راځي، يعني بفتح اللا او بضم اللام دواړه صحيح دي، د سمع د باب مصدر دی: دريدل، درنګ کول، پاته کېدل، ﴿مأثور﴾ منقول، ﴿مفازة﴾ بيابان، دښت، ځنګل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د سفر حکم به تر هغه وخته پاته وي تر څو چي په يو ښار يا کلي کي د پنځلسو ورځو يا تر دې د زياتو ورځو د پاته کېدلو نيت نه وکړي، او چي د پنځلسو ورځو يا تر دې د زيات پاته کېدلو نيت وکړي، نو د سفر حکم ختميږي، او دا سړی مقيم شمارل کيږي، او که تر پنځلسو ورځو د کم پاته کېدلو نيت وکړي، نو زموږ په نېز دا سړی مقيم نه دی، بلکي قصر لمونځ به کوي، لېکن امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د څلورو ورځو د پاته کېدلو په نيت سره انسان مقيم کيږي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله يو قول دا دی چي که تر څلورو ورځو زيات پاته سو، نو هغه مقيم دی، که يې نيت کړی وي او که نه وي، لنډه دا چي زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په مينځ کي دوه اختلافه دي: (۱) اول اختلاف دا چي د مقيم کېدلو لپاره لږ تر لږه د څومره ورځو پاته کېدلو (اقامت) نيت ضروري دی؟، نو زموږ په نېز د پنځلسو ورځو په نيت سره مسافر مقيم شمارل کيږي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د څلورو ورځو په نيت سره مقيم شمارل کيږي.

د امام شافعي دليل: د قرآن دا آيت دی: وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَوٰةِ. په دې آيت کي الله تعالیٰ د ضرب فی الارض يعني په ځمکه کي د ګرځېدلو په وجه قصر مباح ګرځولی دی، نو د دې مخالف مفهوم دا دی چي که ضرب في الارض نه وي، نو قصر به مباح نه وي، او مسافر چي کله د اقامت نيت وکړي، نو ضرب فی الارض يې پرېښوو، او چي ضرب فی الارض يې پرېښوو، نو د ده لپاره قصر مباح پاته نه سو، خو پر دې دا سوال کيږي چي که تر څلورو ورځو د کم اقامت نيت وکړي، نو بيا هم د قصر کولو اجازه پکار نه ده، ځکه چي په دې صورت کي ضرب فی الارض (يعني په ځمکه کي تلل او ګرځېدل) نه راغله، نو د دې جواب دا دی چي که څه هم د آيت تقاضا همدغه ده چي د څلورو ورځو په اقامت سره دي هم د قصر حکم پاته نه سي، خو موږ د اجماع د دليل په وجه له څلور ورځو څخه په کم شوک مقيم و ګرځيږي.

(۲) **د اقامت لپاره نيت شرط دی**: دويم اختلاف دا دی چي د اقامت لپاره زموږ په نېز نيت شرط دی، زموږ په نېز بغير د اقامت له نيت څخه مسافر نه مقيم کيږي، که څه هم د پنځلسو ورځو څخه زيات اقامت وکړي، او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د اقامت لپاره نيت شرط نه دی.

د امام شافعي دليل. د حضرت عثمان رضي الله عنه دا قول دی: من أقام أربعاً أتمّ (يعني که يو چا څلور ورځي اقامت وکړی، هغه دي پوره لمونځ کوي)، په دې قول کي د نيت ذکر نسته، نو ثابته سوه چي د اقامت لپاره نيت ضروري نه دی.

زموږ دليل: دا دی چي د مسافر لپاره دا ضروري نه ده چي دی دي شپه او ورځ ۲۴ ساعته روان وي، بلکي دی ډېر واره دريږي هم، او تر ډېر وخته پوري د آرام او ناسي نورو لپاره دريږي، نو معلومه سوه چي سفر او لبث (دريدل) دواړه سره جمع کيږي، او دا خبره هم تر لمر سپينه ده چي د پاته کېدلو نوم اقامت او مقيم کېدل دي، خو د دې دواړو په مينځ کي د فرق کولو لپاره د يوې مودې اعتبار کول ضروري دي، نو د دې لپاره موږ د طهر پر مودې قياس وکړی، او موده د اقامت مو پنځلس ورځي وټاکله.

تقدرناها الخ پاته سوه دا خبره چي د قياس وجه څه ده؟ يعني د طهر او اقامت په مينځ کي علت مشترکه څه دی؟، نو صاحب د هدايې فرمايي چي د طهر او سفر دواړو مودې واجبوونکي دي، يعني څرنګه چي د حيض په وجه کوم لمونځ ساقط سوی وي، نو د طهر په وجه هغه لمونځ واجبيږي، همدارنګه د سفر وړه په وجه چي کوم لمونځ ساقط سوی وي، نو د اقامت په وجه سره هغه څلور رکعته کيږي، نو دواړه شيان د عبادت واجبوونکي سوه، نو څرنګه چي د طهر موده پنځلس ورځي ده، نو د اقامت موده به هم پنځلس ورځي وي، او تر دې به کمه نه وي، همدغه وجه ده چي د طهر د ضد يعني د حيض کمه موده درې ورځي ده، او د اقامت د ضد يعني د سفر کمه موده هم درې ورځي ده.

وهومأثور الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د اقامت د مودې پنځلس ورځي کېدل له ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه را نقل سوي دي، لکه څرنګه چي مجاهد روايت کړی دی: عن ابن عباس وابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قالا: إذا أدخلت بلدة و أنت مسافر وفي عزمك أن تقيم بها خمسة عشر يوما فأكمل الصلوة وإن كنت لا تدري متى تظعن فاقصر (يعني ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فرمايي: کله چي ته يو ښار ته داخل سې، په داسي حال کي چي مسافر يې، او ستا اراده د پنځلسو ورځو د پاته کېدلو وي، نو لمونځ پوره کوه، او که معلومات درته نه وي چي کله به (بيا) سفر کوم (يعني کله به له ښار څخه وځم) نو قصر کوه)، صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي د پنځلسو ورځو تحديد او ټاکل له شرعي مقدراتو څخه دي، او شرعي مقدرات او د ورځو ټاکل او تحديد داسي شی دي چي د عقل هيڅ لار پکښي نسته، او قاعده دا ده چي په کوم شي کي د عقل دخل نه وي په هغه کي د صحابي اثر د حديث په منزله دی، ګواکي ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د پنځلسو ورځو تعيين له نبي ﷺ څخه اورېدلی دی، او بيا يې ذکر کړی دی.

والتقييد الخ فرمايي: په قدوري کي چي کوم په ښار او کلي کي د اقامت کولو شرط لګول سوی دی، هغه و دې طرف ته اشاره کوي چي په صحراء او بيابان کي د اقامت نيت صحيح نه دی، او که څوک په بيابان کي د اقامت په نيت سره تر پنځلس ورځو زيات د اقامت نيت وکړي، نو هم هغه سړی مقيم نه پاته کيږي، او د هغه لپاره په لمانځه کي د قصر اجازه سته، همدا ظاهر الرواية دی، کنې له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي که کوچيان او شپنيان په يو بيابان او صحرا کي د پنځلسو ورځو د اقامت نيت وکړي او خېمې ودروي، نو هغوی مقيم ګرځي، او د هغوی لپاره به قصر کول صحيح نه وي، ليکن ظاهر الرواية مخکنی قول دی. (بنايه، کفايه)

که اراده وکړي چي نن به له ښار څخه ځم ليکن تر دوو کالو پوري پاته وي نو قصر به کوي

وَلَوْ دَخَلَ مِصْرًا عَلٰى عَزْمِ أَنْ يَخْرُجَ غَدًا أَوْ بَعْدَ غَدٍ او که يو مسافر په دې اراده سره يو ښار ته داخل سي چي سبا يا بل سبا به (بيرته له ښار څخه) وځي وَلَمْ يَنْوِ مُدَّةَ الْإِقَامَةِ او د اقامت د مودې نيت يې کړی نه وي حَتّٰى بَقِيَ عَلٰى ذٰلِكَ سِنِيْنَ تر دې چي څو کاله په دې اراده (په دغه ښار کي) پاته سي قَصَرَ نو قصر به کوي لِأَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَقَامَ بِأَذَرْبِيْجَانَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ ځکه چي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په آذربائيجان کي شپږ مياشتي پاته سو وَكَانَ يَقْصُرُ او په لمانځه کي به يې قصر کوی وَعَنْ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مِثْلُ ذٰلِكَ او د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ له يوه جماعت څخه هم دغه ډول را نقل سوي دي.

اللغات: ﴿سِنِيْنَ﴾ جمع د سَنَةٌ ده، مراد څني څو کاله دي.

تشريح: په تېر عبارت کي ذکر سوه چي د اقامت لپاره د پنځلسو ورځو د پاته کېدلو نيت ضروري دی، نو په دې عبارت کي پر هغه خبره تفريع کوي فرمايي: که مسافر په ښار کي په دې نيت سره داخل سي چي سبا يا بل سبا به ځم، او د پنځلسو ورځو د پاته کېدلو نيت نه وکړي، تر دې چي په دغه سبا بل سبا کي څو کاله تېر سي، نو قصر به کوي او مقيم نه ورته ويل کيږي. دليل دا دی چي ابن عمر ﷺ په آذربيجان کي شپږ مياشتي په دې حال کي وو، چي نن به ځم، سبا به ځم، خو هغه په دې شپږو مياشتو کي قصر لمونځ کوی، همدارنګه په مصنف ابن شيبه کي له ډېرو صحابه وو څخه را نقل سوي دي چي هغوی به په سفر کي وه، او تر شپږو مياشتو به زيات يو ځای پاته سوه، لېکن د پنځلسو ورځو نيت به يې نه وو، نو قصر به يې کوی، لکه څرنګه چي عقلمه بن قيس ﷺ په خوارزم کي دوه کاله پاته سو، او په لمانځه کي يې قصر کوی، او سعد ابن ابی وقاص ﷺ په نيشاپور کي دوې مياشتي پاته سو او قصر يې کوی.

په دارُ الحرب کي د اسلامي لښکر لپاره د قصر حکم

وَإِذَا دَخَلَ الْعَسْكَرُ أَرْضَ الْحَرْبِ او کله چي (اسلامي) لښکر د کافرانو ملک (دار الحرب) ته داخل سي فَنَوَوُا الْإِقَامَةَ بِهَا او هلته (د پنځلسو ورځو) پاته کېدلو نيت وکړي قَصَرُوا نو (هم) به قصر کوي وَكَذَا همدارنګه به قصر کوي إِذَا حَاصَرُوا فِيهَا مَدِينَةً أَوْ حِصْنًا چي کله په دار الحرب کي يو ښار يا يوه کلا محاصره کړي لِأَنَّ الدَّاخِلَ بَيْنَ أَنْ يُهْزَمَ فَيَقِرَّ ځکه چي (دار الحرب ته) داخلېدونکی لښکر د دوو خبرو په مينځ کي متردّد دی چي يا به ماته (شکست) وخوري او وبه تښتي وَبَيْنَ أَنْ يَهْزِمَ فَيَقِرَّ يا به دښمن ته ماته ورکړي او هلته به پاته سي فَلَمْ تَكُنْ دَارَ إِقَامَةٍ نو ځکه به دا ځای د دوی لپاره دار الاقامه نه وي.

اللغات: ﴿عَسْكَر﴾ لښکر، فوج، ﴿حَاصَرُوا﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: محاصره کول، کلا بند کول، چاپېره کېدل، ﴿يُهْزَمُ﴾ په عبارت کي اول يُهْزَمُ د ضرب له باب څخه د مضارع مجهوله صيغه ده چي مجهولي معنیٰ يې ده: ماته خوړل، ﴿يَهْزِمُ﴾ او دويم يَهْزِمُ د تفعيل له باب څخه د مضارع معلومي صيغه ده: ماته ورکول، او داسي هم کېدای سي چي دواړه د ضرب له باب څخه سي يعني اوله مجهوله سي او دويمه معلومه سي، ﴿فَيَفِرُّ﴾ د ضرب د باب مضارع ده: تښتېدل، ﴿فَيَقِرُّ﴾ دا هم د ضرب د باب مضارع ده: په يو ځای کي قرار کول، پاته کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي هغه اسلامي لښکر کوم چي د کفارو علاقو ته د اسلام خپرولو او پورته کولو لپاره ځي، که هغوی د کفارو د جنګ علاقو (دار الحراب) ته ورسيږي او د پنځلسو ورځو د اقامت نيت وکړي نو هم به قصر کوي، يعني پر هغوی د اقامت حکم نه جاري کيږي، همدارنګه که هغوی يو ښار يا يو کلا فتح کړي نو هم به پر هغوی د اقامت حکم نه جاريږي، ځکه چي په دار الحرب کي هغوی ته استقرار او استقلال حاصل نه دی، يعني د دوی هلته پاته کېدل او اوسېدل يقيني نه دي، ځکه چي د لښکر دوه حالتونه دي، او له دواړو حالتونو څخه يو حالت هم دوی مقيم نه سي جوړولای، ځکه چي يا خدای مه کړه دا لښکر به ماته وخوري نو ښکاره ده چي د تيښتي (فرار) لار به اختياروي، او يا به کامياب سي او کفارو ته به ماته ورکړي او استقرار او قرار به ورته حاصل سي، نو د دې فرار او قرار د شکمن کېدلو په وجه دارُ الحرب ته دارُ الاقامه نه سي ويل کېدلای، نو ځکه به په دار الحراب کي د اقامت نيت معتبر نه وي.

په دار الاسلام کي د اسلامي لښکر د اقامت حکم

وَكَذَا إِذَا حَاصَرُوْا أَهْلَ الْبَغْيِ فِيْ دَارِ الْإِسْلَامِ فِيْ غَيْرِ مِصْرٍ همدارنګه که اسلامي لښکر په دار الاسلام کي له ښار څخه ماسوا په یو بل ځای کي باغیان محاصر کړل أَوْ حَاصَرُوْهُمْ فِي الْبَحْرِ یا یې په سمندر کي محاصره کړل(نو د اقامت د نیت اعتبار یې نشته) لِأَنَّ حَالَهُمْ مُبْطِلٌ عَزِيْمَتَهُمْ ځکه چي د دوی حال د دوی اراده باطلوي وَعِنْدَ زُفَرَ● رَحِمَهُ اللهُ يَصِحُّ فِي الْوَجْهَيْنِ او د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز په دواړو صورتونو کي (د اقامت نیت) صحیح دی إِذَا كَانَتِ الشَّوْكَةُ لَهُمْ په دې شرط چي غلبه د اسلامي لښکر وي لِلتَّمَكُّنِ مِنَ الْقَرَارِ ظَاهِرًا ځکه چي (په دې صورت کي) په ښکاره توګه دوی ته د پاته کېدلو قدرت سته وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَصِحُّ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز (د اقامت نیت) هغه وخت صحیح دی إِذَا كَانُوْا فِيْ بُيُوْتِ الْمَدَرِ چي کله اسلامي لښکر د خاورو په کورونو کي وي لِأَنَّهُ مَوْضِعُ إِقَامَةٍ ځکه چي دا د اقامت کولو ځایونه دي وَنِيَّةُ الْإِقَامَةِ مِنْ أَهْلِ الْكَلَأِ وَهُمْ أَهْلُ الْأَخْبِيَةِ او د وښو والاوو (ګیاه دارو خلکو) د اقامت نیت کله چي هغوی د خېمو اوسېدونکي وي قِيْلَ: لَا تَصِحُّ نو ویل سوي دي چي صحیح نه دی(یعني د هغو د اقامت نیت صحیح نه دی) وَالْأَصَحُّ أَنَّهُمْ مُقِيْمُوْنَ خو صحیح قول دا دی چي هغوی مقیم دي يُرْوَى ذٰلِكَ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ دا قول له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی لِأَنَّ الْإِقَامَةَ أَصْلٌ ځکه چي اقامت اصل دی فَلَا تَبْطُلُ بِالْاِنْتِقَالِ مِنْ مَرْعًى إِلٰى مَرْعًى نو ځکه به له یوې چراګاه(څر ځای) څخه تر بلي چراګاه پوري په منتقل کېدلو سره (اقامت) نه باطلیږي.

اللغات: ﴿عزيمة﴾ اراده، ﴿بُيُوْتُ مَدَرٍ﴾ د خاورو کورونه، ﴿أَهْلُ الْبَغْيِ﴾ باغیان، بغاوت کونکي، مراد ځني هغه خلک دي چي د عادل باچا په خلاف د بغاوت او سرکښۍ بیرغ پورته کړي، ﴿أَهْلُ الْكَلَأِ﴾ د وښو پلورنکي، یا د وښو کسب کونکي، دلته مراد ځني هغه شپنیان دي، چي خېمې یې په وښو کي درولي وي، او رمه پر څري، ﴿أَخْبِيَة﴾ خیمې، ﴿مَرْعًى﴾ چراګاه، څر ځای، د رمې د څرولو ځای.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که اسلامي لښکر په دار الاسلام کي باغیان(بغاوت کونکي) محاصره کړه، لېکن دا محاصر له آبادۍ څخه لیري په یو دښت، یا یو سمندر او جزیرې کي وسوه، او تر محاصرې کولو وروسته اسلامي لښکر هلته د پنځلس ورځو د اقامت نیت وکړی، نو د هغوی دا نیت معتبر نه دی، بلکي پر هغوی قصر ضروري دی. دلیل دا دی چي اسلامي لښکر په دې صورت کي هم د قرار او فرار(تیښتې) په مینځ کي مترَدّد(شکمن) دی، (لکه په مخکنۍ مسئله کي چي هم دغه صورت وو)، نو دا د تردد او شک حالت د دوی اقامت باطلوي، ځکه څرنګه چي د دوی د فتحې او کامیابۍ امکان سته، همدارنګه یې د شکست او ماتې امکان هم سته، د علامه مرغیناني رَحِمَهُ الله له بیان سوي دلیل څخه معلومیږي چي په عبارت کي د في غير مصر او في البحر قیدونه اتفاقي دي، همدا وجه ده که اسلامي لښکر د باغیانو په ښار

● القول الراجح: قول الجمهور رَحِمَهُمُ الله، كما قال العلامة عالم بن العلاء: أهل البغي اذا اتبعوا في دار البغي وحاصرناهم لاتصح منا نية الاقامة التاتارخانية ج:۲، ص:۶. [القول الراجح، ج:۱، ص:۱۳۸]

کي اقامت وکړي، او په کلا کي يې دننه دوی محاصره کړه، نو هم به د اسلامي لښکر د اقامت نيت صحيح نه وي، ځکه چي د باغيانو ښار تر فتحي وروسته د بيابان او دښت په ډول دی، ځکه چي اسلامي لښکر په دې کي نه پاته کيږي، بلکي واپس ځي.

وعند زفر الخ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي کله اسلامي لښکر په دار الحرب کي کفار محاصره کړي، يا په دار الاسلام کي په يو دښت او ميدان کي کفار او باغيان محاصره کړي، په دواړو صورتو کي د اقامت نيت کول صحيح دي، لېکن دا حکم په هغه صورت کي دی چي کله په ملک (وطن) کي دننه اسلامي لښکر ته قوت او غلبه حاصله وي، ځکه چي په دې صورت کي په داګه دوی ته پر استقرار او پاته کېدلو قدرت ستته، د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چي په پورتني دواړو صورتونو کي د اقامت نيت کول هغه وخت صحيح دی چي تر محاصرې کولو وروسته اسلامي لښکر د خاورو په کورونو کي استوګن سي، نو بيا به د هغوی له طرفه د اقامت نيت معتبر وي، (ځکه چي په هغه زمانه کي به د خاورو کورونه د اقامت ځايونه شمارل کېدله)، او که په خېمو کي استوګن سول نو د هغوی نيت به معتبر نه وي، دليل دا دی چي د اقامت ځای او مقام کورونه او عمارتونه وي، خېمې د د اقامت ځای نه وي.

ونية الإقامة الخ صاحب د هدايې فرمايي: چي هغه خلګ چي کسب او کار يې حيوانان وي، او چيري چي واښه او به وريني هلته خېمې دروي، بيا چي کله هلته واښه ختم سي، نو له هغه ځای څخه ځي، او يو بل د موقعې ځای پيدا کوي او هلته پاته کيږي لکه کوچيان او شپنيان، نو د دوی د اقامت د نيت په صحيح کېدلو او نه صحيح کېدلو کي د علماؤ اختلاف دی، نو د بعضي علماؤ خيال دا دی چي د دې خلکو د اقامت نيت نه صحيح کيږي، ځکه چي خېمې او داسي ځايونه د اقامت ځايونه نه دي، لېکن صحيح قول دا دی چي دا خلګ مقيم دي، يعني ګرد سره له شروع څخه مسافرين نه دي، ځکه چي اقامت اصل دی او د اقامت د باطلېدلو او د سفر د جاري کېدلو لپاره لږ تر لږه د دريو ورځو او دريو شپو په اندازه سفر کول ضروري دي، لېکن د دوی حال دا دی چي له يوې چراګاه څخه تر بلې چراګاه پوري ځي، او بيا که په مينځ کي يو څه واښه وريني، نو هلته پاته کيږي، نو ځکه د هغوی په حق کي د ثلاثة أيام ولياليها مسافه ثابته نه سوه، او دا خلګ د سره مسافر نه سوه، نو کله چي دا مسافر نه سوه، نو مقيم به وي.

د مسافر لپاره د مقيم د اقتداء حکم

> وَإِنِ اقْتَدَى الْمُسَافِرُ بِالْمُقِيمِ فِي الْوَقْتِ او که مسافر په وخت کي دننه د مقيم اقتداء وکړه أَتَمَّ أَرْبَعًا نو څلور رکعته به پوره کوي لِأَنَّهُ يَتَغَيَّرُ فَرْضُهُ إِلَى أَرْبَعٍ لِلتَّبَعِيَّةِ ځکه چي د تابع کېدلو په وجه د مسافر فرض په څلورو رکعتونو بدليږي كَمَا يَتَغَيَّرُ بِنِيَّةِ الْإِقَامَةِ لکه څرنګه چي د اقامت په نيت سره (فرض) بدليږي لِاتِّصَالِ الْمُغَيِّرِ بِالسَّبَبِ وَهُوَ الْوَقْتُ ځکه چي بدلوونکي شی د سبب يعني د وخت سره متصل سو.

اللغات: ﴿المغير﴾ د تفعيل د باب اسم فاعل دی: بدلوونکی، دلته مراد ځني اقتداء ده، ځکه د امام اقتداء لمونځ بدلوي.

تشريح: په دې عبارت کي د دوو خبرو حکم بيان سوی دی: يو د مسافر په مقيم پسي د اقتداء کولو حکم، دويم د مقيم په مسافر پسي د اقتداء کولو حکم، اول صورت په وخت کي دننه جائز دی، خو د وخت تر وتلو وروسته جائز نه دی، او دزيم صورت په وخت کي هم جائز دی، او تر وخت وروسته هم، امام قدوري رَحِمَهُ الله داول صورت تر بيانولو وروسته

فرمايي: كه مسافر په وخت كي دننه په مقيم پسي اقتداء وكړي، يعني كه په څلور ركعتيز لمانځه كي مسافر د مقيم اقتدا په وخت كي دننه وكړي، نو مسافر به هم څلور ركعته كوي.

دليل: دا دی چي مسافر د دې مقيم سري د متابعت (تابعداری) التزام وكړی، يعني پر ځان يې د ده تابعداري د اقتدا په ذريعه لازمه كړه، او د مقيم فرض لمونځ څلور ركعته دی، او څرنګه چي د هغه سړی د متابعت التزام كوي، چي د هغه فريضه څلور ركعته وي، نو د تابع كېدلو په وجه د هغه فريضه هم په څلورو ركعتونو بدليږي، لكه څرنګه چي د اقامت په نيت سره هم د مسافر فريضه په څلورو ركعتونو بدليږي.

لا تمال المغيرله دې ځايه علت جامعه بيانوي، هغه دا چي مغيّر (يعني دوه ركعته په څلورو بدلونكی) شی كوم چي اقتداء ده او سبب (يعني د وخت) سره يو ځای سوه، ځكه چي هغه د مقيم اقتداء هم وكړه او په وخت كي يې دننه هم وكړه نو دواړه سره يو ځای سوه، نو ځكه به څلور ركعته كوي، او تر وخت ختمېدلو وروسته د مسافر اقتدا په مقيم پسي جائز نه ده، ځكه چي وخت د بدلون (بدلولو) سبب دی، او كله چي وخت ختم سو نو د بدلون سبب ختم سو، فتدبّر.

د مسافر لپاره د قضا سوي لمانځه د اقتداء حكم

وَإِنْ دَخَلَ مَعَهُ فِي فَائِتَةٍ او كه مسافر د مقيم سره په يو قضائي (فوت سوي) لمانځه كي داخل سو لَمْ تَجُزْهُ نو اقتداء يې جائز نه ده لِأَنَّهُ لَا يَتَغَيَّرُ بَعْدَ الْوَقْتِ ځكه چي د مسافر فرض تر وخت وروسته نه بدليږي لِانْقِضَاءِ السَّبَبِ د سبب (يعني د وخت) د تېرېدلو په وجه كَمَا لَا يَتَغَيَّرُ بِنِيَّةِ الْإِقَامَةِ لكه څرنګه چي په نيت د اقامت سره نه بدليږي فَيَكُونُ اقْتِدَاءُ الْمُفْتَرِضِ بِالْمُتَنَفِّلِ فِي حَقِّ الْقَعْدَةِ أَوِ الْقِرَاءَةِ نو په حق د قعدې (ناستي) او قرائت كي به د فرض كونكي اقتداء په نفل كونكي پسي راسي.

اللغات: ﴿انقضاء﴾ د انفعال مصدر دی: ختمېدل، تېرېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه وخت تېر سي او له مسافر څخه لمونځ قضاء سي، نو اوس د مسافر لپاره د دې لمانځه په قضاء راوړلو كي د مقيم اقتداء جائز نه ده، ځكه چي د لمانځه د قضاء كېدلو په صورت كي وخت ووځي، او څرنګه چي د فرض لمانځه سبب وخت دی او مغيّر (بدلوونكی شی) يعني اقتداء چي كله د وخت سره يو ځای سي نو هلته بيا د مسافر دوه ركعتيز فرض څلورو ركعتو ته اوړي، لېكن څرنګه چي په دې صورت كي سبب يعني وخت تېر سوی دی، نو ښكاره ده چي مغيّر خپل عمل نه سي كولای، نو د مسافر فرض به په څلورو ركعتو هم نه بدليږي، او په دې صورت كي به د مسافر اقتدا هم صحيح نه وي، همدا وجه ده كه يو مسافر هغه وخت د اقامت نيت وكړي چي كله د يو لمانځه وخت ووځي، نو هغه د دې لمانځه په ذريعه سره مقيم نه شمارل كيږي، ځكه چي مغيّر د سبب سره يعني د وخت سره نه دي متصل سوی.

فيكون اقتداء المفترض الخ د دې حاصل دا دی چي په قضائي لمانځه كي د مسافر لپاره د مقيم د اقتداء د نه صحيح كېدلو يو علت خو هغه دی كوم چي بيان سو، او دويم علت دا دی چي كه موږ دا صورت جائز وګرځوو، نو د وخت له تېرېدلو (انقضاء) څخه به ماسوا بله خرابي هم راسي، او هغه دا چي په دې صورت كي به اقتداء المفترض خلف المتنفل فی حق القعدة راسي، يا فی حق القراءة به راسي، ځكه كه مسافر په اولو دوو ركعتو كي د مقيم اقتداء وكړي نو فی حق القعدة به دا

خرابي راسي، ځکه چي مخکي موږ هم ذکر کړي دي چي د مسافر په حق كي اوله ناسته فرض ده، او د مقيم په حق كي نفل ده، او که مسافر په آخري دوو رکعتو كي د مقيم اقتدا وکړي نو اقتداء المفترض خلف المتنفل فی حق القراءة به راسي، ځکه چي د مسافر په حق كي په دې رکعتونو كي قرائت کول فرض دي، او د مقيم په حق كي نفل دي، نو په دې وجه هم په ذکر سوي صورت كي اقتداء کول صحيح نه دي.

د مسافر لپاره د مقيم د امامت حکم

وَإِنْ صَلَّى الْمُسَافِرُ بِالْمُقِيمِينَ رَكْعَتَيْنِ او که مسافر مقيمو خلکو ته دوه رکعته لمونځ ورکړي سَلَّمَ نو مسافر امام دي سلام وګرځوي وَأَتَمَّ الْمُقِيمُونَ صَلَاتَهُمْ او مقيم خلک دي خپل لمونځ پوره کړي لِأَنَّ الْمُقْتَدِيَ الْتَزَمَ الْمُوَافَقَةَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ ځکه چي مقتدي (صرف) په دوو رکعتو كي د موافقت التزام کړی دی فَيَنْفَرِدُ فِي الْبَاقِي كَالْمَسْبُوقِ نو په پاته دوو رکعتو كي به هغه منفرد(يوازي لمونځ کونکی) وي لکه مسبوق إِلَّا أَنَّهُ لَا يَقْرَأُ فِي الْأَصَحِّ خو د صحيح روايت مطابق به قرائت نه کوي لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ تَحْرِيمَةً ځکه چي هغه د تحريمې په اعتبار سره مقتدی دی لَا فِعْلًا نه د فعل په اعتبار سره وَالْفَرْضُ صَارَ مُؤَدًّى او فرض خو اداء سوه فَيَتْرُكُهَا احْتِيَاطًا نو ځکه به احتياطاً (دا سړی) قرائت پرېږدي بِخِلَافِ الْمَسْبُوقِ په خلاف د مسبوق لِأَنَّهُ أَدْرَكَ قِرَاءَةً نَافِلَةً ځکه چي هغه نفل قرائت ونيوی فَلَمْ يَتَأَدَّ الْفَرْضُ نو فرض اداء نه سوه فَكَانَ الْإِتْيَانُ أَوْلَى نو (د هغه لپاره) به قرائت کول غوره وي.

اللغات: ﴿مَسْبُوْق﴾ شاته پاته کېدونکی، هغه سړی چي د لمانځه په مينځ كي په جماعت شريک سي، يعني يو، دوه يا درې رکعته ځني تېر سوي وي.

تشريح: **صورت د مسئلې:** دا دی که يو مسافر سړي په څلور رکعتيز لمانځه كي مقيم خلکو ته لمونځ ورکړی، نو حکم دا دی چي دا مسافر امام دي پر دوو رکعتو سلام وګرځوي، او مقيم مقتديان دي سلام نه ګرځوي، بلكي د امام تر سلام ګرځولو وروسته دي خپل پاته لمونځ پوره کړي، ځکه چي دې خلکو صرف په دوو رکعتو كي د مسافر امام موافقت اومتابعت کړی دی، او څرنګه چي تر دوو رکعتو وروسته اوس هم د دوی لمونځ پاته دی، نو ځکه به په پاته لمانځه كي دا خلک مسبوق وي، او څرنګه چي مسبوق هم د امام تر لمانځه وروسته خپل تېر سوي رکعتونه پوره کوي، (يعني هغه رکعتونه پوره کوي کوم چي ځني تېر سوي وي) نو دا خلک به هم خپل لمونځ پوره کوي، خو مسبوق د تېرسوي لمانځه په پوره کولو كي قرائت هم کوي، لېکن دغه ذکر سوي مقتديان به قرائت نه کوي، همدا زياته صحيح ده، د أصح په ويلو سره يې د هغه مشائخو له قول څخه احتراز کړی دی چي هغوی وايي چي پر دې مقتديانو هم قرائت کول لازم دي، خو أصح دا ده چي نه پر دوی قرائت ضروري دی، او نه د دوی په حق كي قرائت مشروع او مستحب دی، ځکه چي دا خلک صرف د تحريمې په اعتبار سره مقتديان دي، يعني هغوی له شروع څخه د څلورو رکعتو پوره کولو تحريمه تړلې ده، نو د امام تر دوو رکعتو وروسته به هم د دوی تحريمه پاته وي، او د فعل په اعتبار سره په دې وجه مقتديان نه دي ځکه چي د اقتداء په وجه د دوی افعال د امام په افعالو كي شامل او داخل دي، او څرنګه چي امام له افعالو څخه فارغ سوی دی، نو د دې خلکو په حق كي به هم افعال ختميږي، او بيا چي څرنګه د دې خلکو له طرفه امام قرائت کړی دی، نو فرض قرائت هم اداء سو، نو ځکه په وروستني رکعتو كي احتياطاً قرائت پرېښوول غوره دي.

بخلاف المسبوق د دې په خلاف د مسبوق مسئله ده، د مسبوق په حق کې په دې وجه قرائت کول ضروري دی چې هغه په ورروستني رکعتو کې د امام سره شریک سوی دی، نو فرض قرائت خو مخکې امام اداء کړی دی، نو دی په نفل قرائت کې د امام سره شریک سو، (له نفل قرائت څخه مراد په آخري دوو رکعتونو کې د سورة الفاتحه قرائت دی ځکه چې دا نفل او مستحب دی) لهذا د ده فرض قرائت اداء نه سو، نو ځکه غوره دا ده چې مسبوق به په پاته لمانځه کې قرائت کوي.

د مسافر امام لپاره دا ویل مستحب دي: "خپل لمونځونه پوره کړئ زه مسافر یم"

قَالَ: وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ إِذَا سَلَّمَ فرمایي: چې د (مسافر) امام لپاره تر سلام ګرځولو وروسته مستحب دي أَنْ يَقُولَ: أَتِمُّوا صَلَاتَكُمْ فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ چې ووایي (مقتدیانو ته): خپل لمونځونه پوره کړئ ځکه چې موږ مسافر خلک یو لِأَنَّه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَالَهُ● حِينَ صَلَّى بِأَهْلِ مَكَّةَ ځکه کله چې نبي کریم ﷺ د مکې خلکو ته لمونځ ورکړی نو هم یې دغه خبره وکړه وَهُوَ مُسَافِرٌ په داسي حال کې چې نبي ﷺ مسافر وو.

تشریح: که امام مسافر وو نو په دویم رکعت کې به تر سلام ګرځولو وروسته داسي وایي: تاسو خپل لمونځونه پوره کړئ زه مسافر یم، ځکه کله چې نبي ﷺ په مکه کې مسافر وو، او د مکې خلکو ته یې لمونځ ورکړی، نو نبي ﷺ همداسي وفرمایل چې زه مسافر یم تاسو خپل لمونځونه پوره کړئ، پوره حدیث دا دی: عن عمران بن حصين قال غزوت مع رسول الله ﷺ و شهدت معه الفتح فأقام بمكة ثماني عشرة ليلة لا يصلي إلا ركعتين ويقول يا أهل البلد صلوا أربعا فإنا قوم سفر (ابو داؤد، باب متى يتم المسافر، ص: ۱۸۰، حديث شميره: ۱۲۲۹)، نو له دې حدیث څخه معلومه سوه چې مسافر امام به تر خپل لمانځه وروسته اعلان کوي چې زه مسافر یم، تاسو خپل لمونځونه پوره کړئ.

په وطن اصلي کې د اقامت نیت ضروري نه دی

وَإِذَا دَخَلَ الْمُسَافِرُ فِي مِصْرِهِ او کله چې مسافر خپل ښار ته داخل سي أَتَمَّ الصَّلَاةَ نو خپل لمونځ به پوره کوي وَإِنْ لَمْ يَنْوِ الْمُقَامَ فِيهِ که څه هم په ښار کې یې د اقامت نیت نه وي کړی لِأَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● وَأَصْحَابَهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كَانُوا يُسَافِرُونَ ځکه نبي کریم ﷺ او صحابه وو به سفر کوی وَيَعُودُونَ إِلَى أَوْطَانِهِمْ او (کله چې به تر سفر کولو وروسته) خپلو کورونو ته واپس راتلل مُقِيمِينَ مِنْ غَيْرِ عَزْمٍ جَدِيدٍ نو بغیر له یو نوي ارادې (نیت) څخه به مقیم کېدل.

اللغات: ﴿أَوْطَانٌ﴾ جمع ده، واحد یې وَطَنٌ دی: وطن، هیواد.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله مسافر د خپل وطن اصلي اراده وکړي، نو کله چې د وطن په آبادي کې داخل سي، مقیم ګرځي، که څه هم د اقامت نیت نه وکړي. دلیل: دا دی چې نبي ﷺ او صحابه چې به کله تر سفر پوره کولو وروسته خپل وطن ته واپس راتلل نو بغیر د اقامت له نیت څخه به مقیم کېدل.

● تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب الصلاة، باب متى يتم المسافر، حديث رقم: ۱۲۲۹؛ والترمذي في كتاب الصلاة، باب: ۳۹، حديث رقم: ۵۴۵.

● تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب الصلاة، باب المسافر ينزل بشي من ماله، حديث رقم: ۵۴۸۳.

د وطنِ اقامت د باطلېدلو بیان

وَمَنْ كَانَ لَهُ وَطَنٌ او د کوم سړي لپاره چي خپل وطن وو (یعني که یو سړی اول وار په یو وطن کي وسېدی) فَانْتَقَلَ عَنْهُ (لېکن) له هغه وطن څخه منتقل سو وَاسْتَوْطَنَ غَيْرَهُ او بل ځای یې خپل وطن جوړ کړی ثُمَّ سَافَرَ بیا یې سفر وکړی وَدَخَلَ وَطَنَهُ الْأَوَّلَ او خپل اول وطن ته داخل سو قَصَرَ نو (اوس به په لمونځونو کي) قصر کوي لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ وَطَنًا لَهُ ځکه چي دا اوس د ده وطن پاته نه سو أَلَا تَرَى آیا ته نه ګوري أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بَعْدَ الْهِجْرَةِ عَدَّ نَفْسَهُ بِمَكَّةَ مِنَ الْمُسَافِرِينَ چي نبي ﷺ تر هجرت وروسته په مکه کي خپل ځان له مسافرو څخه شمار کړی وَهَذَا لِأَنَّ الْأَصْلَ او دا حکم ځکه دی چي قاعده دا ده أَنَّ الْوَطَنَ الْأَصْلِيَّ يَبْطُلُ بِمِثْلِهِ چي وطنِ اصلي په خپل مثل (یعني وطنِ اصلي) سره باطلیږي دُونَ السَّفَرِ نه په سفر سره وَوَطَنُ الْإِقَامَةِ يَبْطُلُ بِمِثْلِهِ او وطنِ اقامت (هم) په خپل مثل (وطنِ اقامت) سره باطلیږي وَبِالسَّفَرِ او په سفر سره (هم وطنِ اقامت) باطلیږي وَبِالْأَصْلِيِّ او په وطنِ اصلي سره (هم) باطلیږي.

اللغات: ﴿اِسْتَوْطَنَ﴾ د استفعال د باب ماضي ده: وطن جوړول.

تشریح: علماو مشائخو د وطن درې قسمونه بیان کړي دي: (۱) وطنِ اصلي، (۲) وطنِ اقامت، (۳) وطنِ سکنیٰ.

(۱) وطنِ اصلي د انسان د پیدایش ځای دی یا هغه ښار چي په هغه کي د ده اهل و عیال (بال بچ) اوسیږي، او له هغه څخه د ده د تللو اراده نه وي. (۲) وطنِ اقامت هغه ښار یا کلی دی چي په هغه کي مسافر د پنځلس ورځو پاته کېدلو اراده وکړي، د دې دویم نوم وطنِ سفر هم دی. (۳) وطنِ سکنیٰ هغه ښار دی چي په هغه کي مسافر تر پنځلس ورځو د کم پاته کېدلو اراده وکړي. او قاعده دا ده چي وطنِ اصلي په وطنِ اصلي سره باطلیږي، او د عبارت مسئله پر یو بل اصل او قاعدې متفرع سوې ده هغه دا چي هر شی په هغه شي سره باطلیږي کوم چي له هغه څخه لوړ او اعلیٰ وي، همدارنګه په خپل مساوي (برابر) شي سره هم باطلیږي، او په خپل ضد او نقیض شي سره هم باطلیږي، لېکن په هغه شي سره نه باطلیږي کوم چي له هغه څخه کم وي.

اوس په عبارت کي د بیان سوې مسئلې حاصل دا دی چي که یو سړی د خپل بال بچ سره له خپل وطنِ اصلي څخه بل ځای ته ولاړی، او هغه ځای یې خپل وطن جوړ کړی، او په هغه کي یې استوګنه اختیار کړه، لو بیا دا سړي سفر وکړی خپل مخکني وطن ته راغلی نو دا سړی به په دې وطن کي مقیم نه شمارل کیږي، بلکي مسافر به وي، او قصر به کوي، ځکه چي اوس د ده اول وطن ختم سو؛ په دې باره کي تر ټولو ښکاره دلیل دا دی چي کله نبي کریم ﷺ له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړی، او د فتحِ مکه پر وخت چي بیا کله مکې ته راغلی نو هغوی ﷺ خپل ځان مسافر شمار کړی، او په قصر سره یې لمونځ کوی، او بیا مورِ مخکي دا قاعده هم بیان کړه چي وطنِ اصلي په وطنِ اصلي سره باطلیږي. ځکه چي یو شی په خپل مساوي (او مشابه) شي سره باطلیږي. لېکن وطنِ اصلي په سفر یا وطنِ اقامت سره نه باطلیږي. ځکه چي اقامت له هغه څخه کم دی، او په سفر سره وطنِ اصلي په دې وجه نه باطلیږي چي نبي ﷺ او صحابه به د غزاګانو او نورو لپاره له مدینې څخه دباندي تلل، لېکن تر واپس راتللو وروسته به له نیت څخه بغیر مقیم کېدل. لکه د دې تفصیل چي مخکي تېر سو.

د دې په خلاف وطن اقامت په هر شي سره باطليږي، يعني په وطن اصلي سره هم باطليږي، او په وطن اقامت او سفر سره هم باطليږي، په وطن اصلي سره په دې وجه باطليږي ځکه چې وطن اصلي له وطن اقامت څخه لوړ دی، او په وطن اقامت سره يې د باطلېدلو وجه مساوات او برابري ده. او په سفر سره په دې وجه باطليږي ځکه چې سفر د اقامت ضد دی، او يو شی په خپل ضد او نقيض سره باطلېدی سي.

په دوو ښارونو کې د اقامت نيت کول

وَإِذَا نَوَى الْمُسَافِرُ او کله چې مسافر نيت وکړي أَنْ يُقِيمَ بِمَكَّةَ وَمِنًى خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا چې په مکه او منیٰ کې به پنځلس ورځې اقامت کوي لَمْ يُتِمَّ الصَّلَاةَ نو لمونځ به پوره نه کوي لِأَنَّ اعْتِبَارَ النِّيَّةِ فِي مَوْضِعَيْنِ يَقْتَضِي ځکه چې په دوو ځايونو کې د (اقامت) د نيت اعتبار کول د دې تقاضا کوي اعْتِبَارَهَا فِي مَوَاضِعَ چې په نورو ډېرو ځايونو کې به (هم د اقامت) د نيت اعتبار کېږي وَهُوَ مُمْتَنِعٌ او دا ناممکنه ده لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يَعْرَى عَنْهُ ځکه چې سفر له اقامت څخه خالي نه وي إِلَّا إِذَا نَوَى الْمُسَافِرُ أَنْ يُقِيمَ بِاللَّيْلِ فِي أَحَدِهِمَا خو چې کله مسافر له دې دواړو ځايونو څخه په يوه کې د شپې د اقامت کولو نيت وکړي فَيَصِيرُ مُقِيمًا بِدُخُولِهِ فِيهِ نو هغه ځای ته په داخلېدلو سره مقيم ګرځي لِأَنَّ إِقَامَةَ الْمَرْءِ مُضَافَةٌ إِلَى مَبِيتِهِ ځکه چې د انسان مقيم کېدل د شپې د تېرولو د ځای و طرف ته منسوبيږي.

اللغات: ﴿عزم﴾ سرې، ﴿مبيت﴾ په دې کې دوه احتماله دي: يو دا چې دا مصدر ميمي دی نو معنیٰ به يې دا وي: شپه تېرول، او بل دا چې اسم ظرف دی نو معنیٰ به يې دا سي: د شپې تېرولو ځای.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مسافر په داسې دوو ځايونو کې د پنځلس ورځو د پاته کېدلو نيت وکړي چې له دواړو څخه يو مستقل نه وي، د مثال په توګه په مکه او منیٰ کې د اقامت نيت وکړي، نو دی مقيم نه شمارل کېږي، بلکې قصر به کوي، ځکه چې په دوو ځايونو کې د نيت معتبر کېدل د دې خبرې تقاضا کوي چې له دوو څخه دې په زياتو ځايونو کې هم نيت معتبر کړی سي، کنې ترجيح بلا مرجح به راسي، او د مسافر لپاره په ډېرو ځايونو کې د اقامت نيت کول ناممکنه او ممتنع دي، ځکه چې سفر په ډېرو ځايونو کې د قيام کولو څخه خالي نه وي، بلکې په ډېرو ځايونو کې قيام او اقامت کول ضروري وي، نو که په ډېرو ځايونو کې د اقامت د نيت اعتبار وکړی سي نو مطلب يې به دا سي چې انسان به هيڅ کله هم مسافر نه سي.

إلا إذا نوى الخ او که صورت دا سي وي چې په دواړو ځايونو کې د پنځلس ورځو د اقامت نيت وکړي او په دې دواړو کې په يو معلوم ځای کې د شپې تېرولو نيت وکړي، نو دا نيت به يې معتبر وي، اوس که دا سړی هغه ځای ته اول ولاړ سي په کوم ځای چې يې د ورځې تېرولو نيت وي، نو دی به مقيم نه ګرځي، او که اول هغه ځای ته ولاړ سي په کوم ځای کې چې يې د شپې تېرولو اراده او نيت کړی وي، نو دی به هغه علاقې ته په داخلېدلو سره مقيم ګرځي، او بيا به هغه علاقې ته په تګ سره مسافر نه ګرځي چې په هغه کې يې د ورځې تېرولو نيت کړی وي، ځکه چې د سړي اقامت هغه ځای ته منسوب کېږي په کوم ځای کې چې شپه تېروي، وګورئ! که له يو چا څخه پوښتنه وسي چې ته په کوم ځای کې اوسيږې!، نو دی به د هغه کلي او علاقې نوم ورښيي چې هلته دی شپې تېروي، نه د کاروبار د ځای نوم.

د سفر او حضر په قضاء سوو لمونځونو کي قصر او اِکمال

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةٌ فِي السَّفَرِ او که له يو سړي څخه په سفر کي يو لمونځ نوت (قضا) سي قَضَاهَا فِي الْحَضَرِ رَكْعَتَيْنِ نو په حضر کي به د هغه لمانځه دوه رکعته قضاء راوړي وَمَنْ فَاتَتْهُ فِي الْحَضَرِ او که له چا څخه په حضر کي لمونځ قضاء سي قَضَاهَا فِي السَّفَرِ أَرْبَعًا نو په سفر کي به د هغه څلور رکعته قضاء راوړي لِأَنَّ الْقَضَاءَ بِحَسَبِ الْأَدَاءِ ځکه چي قضاء به د اداء مطابق وي وَالْمُعْتَبَرُ فِي ذٰلِكَ آخِرُ الْوَقْتِ او په دې سلسله کي آخري وخت معتبر دی لِأَنَّهُ الْمُعْتَبَرُ فِي السَّبَبِيَّةِ ځکه چي آخري وخت د سببيت لپاره معتبر دی عِنْدَ عَدَمِ الْأَدَاءِ فِي الْوَقْتِ چي کله په وخت کي دننه اداء نه وسي.

تشریح: صورت د مسئلې: خو بالکل ښکاره دی، چي که له يو سړي څخه په سفر کي يو لمونځ قضاء سي، او هغه په حضر (يعني په حالت د اقامت) کي د هغه قضاء راوړل وغواړي، نو دوه رکعته دي وکړي، ځکه چي د قضاء وجوب د اداء په اعتبار سره دی، او څرنګه چي پر مسافر دوه رکعته اداء کول فرض دي، نو ځکه به په سفر کي څلور رکعتيز قضائي لمونځونه دوه رکعته اداء کيږي، هغه که يې په سفر کي قضاء راوړي، او که په حضر کي، او څرنګه چي د دې په خلاف پر مقيم سړي په څلور رکعتيز لمونځونو کي اتمام فرض دی، نو ځکه که له يو سړي څخه په حضر کي يو لمونځ قضاء سي، او هغه يې اداء کول وغواړي نو څلور رکعته دي کوي، هغه که يې په سفر کي قضاء راوړي او که په حضر کي.

والمعتبر الخ فرمايي چي د قضائي لمونځونو په اداء کولو کښي د آخري وخت اعتبار دی، يعني په آخري وخت کي چي دا سړی څرنګه وي؟ د هغه اعتبار به کيږي، نو که په آخري وخت کي دا سړی مسافر وي، د مثال په توګه د ماپښين لمونځ په وخت کي دننه نه وکړي او د وخت تر وتلو مخکي مسافر سي يعني د ښار له آبادۍ څخه ووځي، نو د سفر لمونځ به پر واجب وي، او د دوو رکعتونو قضاء به راوړي، او که په آخري وخت کي مقيم وي نو د اقامت لمونځ به پر واجب وي، او د څلورو رکعتو قضاء به راوړي.

فايده: له آخري وخت څخه دومره وخت مراد دی چي په هغه کي سړی د اودس کولو سره سره تحريمه هم تړلای سي. (عنايه)

په قصر کي به نېک او ګنهګاره سړی دواړه برابر وي، که نه؟ (د فقهاوو قولونه)

وَالْعَاصِيْ وَالْمُطِيْعُ فِي سَفَرِهِمَا فِي الرُّخْصَةِ سَوَاءٌ ګنهګاره او فرمان برداره (دواړه) د خپل سفر د رخصت په باره کي برابر دي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: سَفَرُ الْمَعْصِيَةِ لَا يُفِيْدُ الرُّخْصَةَ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ګناه سفر د رخصت فايده نه ورکوي لِأَنَّهَا تَثْبُتُ تَخْفِيْفًا ځکه چي رخصت تخفيف (آساني) ثابتوي فَلَا تَتَعَلَّقُ بِمَا نو رخصت به د داسي شي سره نه متعلق کيږي يُوْجِبُ التَّغْلِيْظَ چي هغه سختي واجبوي وَلَنَا إِطْلَاقُ النُّصُوْصِ او زموږ دليل د نصوصو مطلق کېدل دي وَلِأَنَّ السَّفَرَ لَيْسَ بِمَعْصِيَةٍ او په دې وجه (هم) چي (بذات خود) سفر ګناه نه ده وَإِنَّمَا الْمَعْصِيَةُ مَا او ګناه خو هغه ده يَكُوْنُ بَعْدَهُ چي تر سفر وروسته وي أَوْ يُجَاوِرُهُ يا د سفر سره متصله وي فَصَلَحَ مُتَعَلَّقُ الرُّخْصَةِ نو ځکه به د رخصت د متعلق کېدلو صلاحيت (لياقت) لري، والله أعلم.

اللغات: ﴿عاصي﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دی: نافرمانه، گنهکاره؛ ﴿المطيع﴾ د افعال د باب اسم فاعل دی: فرمان برداره(فرمان وړونکی)، نېک، اطاعت کونکی، ﴿التغليظ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سختي.

تشريح: مسئله: دا ده چې زموږ په نېز هر ډول مسافر ته د قصر رخصت او اجازه سته، هغه که په خپل سفر کې مطيع او نېک وي، يعني د يو نېک کار لپاره سفر کوي، يا که عاصي او گنهکاره وي يعني د گناه او بدو کارونو لپاره سفر کوي، د دې په خلاف امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې د سفر رخصت صرف نېک او مطيع مسافر ته سته، گنهکاره مسافر ته نه سته.

د امام شافعي دليل: دا دی چې په سفر کې د رخصت مطلب دا دی چې پر مسافر آساني او تخفيف راسي، او پر گنهکاره مسافر د تخفيف پر ځای سختي او عذاب راوېستل پکار دي، نو ځکه به گنهکار ته د قصر اجازه نه وي.

زموږ دليل: د نصوصو مطلق کېدل دي، يعني په آيتو او حديثونو کې دا فرق نسته چې نېک مسافر ته به رخصت وي او نافرمانه مسافر ته به رخصت نه وي، نو د نص د مطلق والي په وجه به ټولو ته رخصت وي هغه که نېک وي او که گنهکاره، او بل دا چې په خپله په سفر کې هيڅ گناه نسته، گناه خو د سفر تر ختمېدلو وروسته کېږي، لکه ډاکه او غلا چې تر سفر کولو وروسته کېږي، او کله کله داسې کېږي چې د سفر سره يوځای گناه کېږي، د مثال په توگه يو غلام تښتي نو د سفر سره يو ځای د تښتېدلو گناه کېږي، خو بيا هم په سفر کې هيڅ گناه نسته، گناه کول له سفر څخه جلا شی دی، او رخصت خو د سفر په وجه وي، نو ځکه به گنهکاره او نېک دواړو ته رخصت وي.



بَابُ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ

(دا) باب د جمعې د لمانځه (د احکامو په بیان کې) دی

تشریح: تر دې مخکې صاحب د کتاب باب صلاة المسافر بیان کړی، اوس له دې ځایه باب صلاة الجمعة بیانوي، د دواړو په مینځ کې د مناسبت وجه دا ده چې د هر یوه په ذریعه نیم لمونځ ساقطیږي، لکه څرنګه چې سفر په څلور رکعتیز لمونځونو کې تنصیف کوي، یعنې ټول څلور رکعتیز لمونځونه نیمی کوي، همدارنګه جمعه د ماپښین په لمانځه کې تنصیف کوي، یعنې د ماپښین لمونځ نیمی کوي، خو څرنګه چې د جمعې په مقابله کې د سفر تنصیف عام دی، او ټولو څلور کعتیزو لمونځونو ته شامل دی، نو ځکه یې د سفر احکام د جمعې تر احکامو مخکې بیان کړه، ځکه چې د جمعې تنصیف صرف د ماپښین سره خاص دی، او دومره خو تاسو ته هم معلومه ده چې عام تر خاص مخکې وي.

وجه د تسمیې: الجمعة دا لفظ د جیم او میم په ضمه سره هم ویل کیږي یعني: جُمُعَة، او د جیم په ضمه او د میم په فتحه سره هم ویل کیږي، یعنې: جُمَعَة، دا لفظ له "اجتماع" څخه مشتق دی، لکه فُرقة چې له "افتراق" څخه مشتق دی، ① او څرنګه چې د جمعې په ورځ د خلګو اجتماع کیږي یعنې خلک سره راجمع کیږي، نو ځکه دې ورځې ته جمعه وایي، ② دویم قول دا دی چې جمعې ته ځکه جمعه وایي چې په دې ورځ کې الله ﷻ بې شمیره برکتونه او انوار جمع کړي دي، ③ دریم قول دا دی چې حضرت آدم عليه السلام خپل ځان د جمعې په ورځ سره را جمع کړي وه، نو په دې مناسبت سره دې ته جمعه وایي. (بنایه ج۳، ص۴۵۰)

د جمعې د فرضیت دلائل: صاحب د بنایې لیکلي دي چې د جمعې فرضیت په کتاب، سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی، په کتاب یعنې قرآن کریم کې د الله ﷻ دا ارشاد دی: یا أیها الذین آمنو إذا نودي للصلوٰة من یوم الجمعة فاسعوا إلی ذکر الله الخ او په اتفاق د مفسرینو له ذکرُ الله څخه جمعه مراد ده، او بیا د فاسعوا امر د وجوب لپاره دی، نو له دې څخه د سعی إلی الجمعة وجوب ثابت سو، او سعی إلی الجمعة شرط دی د جمعې د لمانځه لپاره، نو کله چې یې شرط واجب سو، نو د اصل لمانځه په فرض کېدلو کې خو به هیڅ شک او شبهه نه وي.

او په حدیث سره د جمعې ثبوت دا رنګه سوی دی چې حضرت جابر او ابو سعید رضي الله عنهما فرمایي: خطبنا رسول الله ﷺ (وقال فیه) اعلموا أن الله تعالی فرض علیکم صلاة الجمعة (یعنې نبي ﷺ موږ ته په خطبه کې وویل: پوه سئ چې الله تعالیٰ پر تاسو د جمعې لمونځ فرض ګرځولی دی).

او په اجماع سره د جمعې ثبوت په دې توګه دی چې د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر اوسنی زمانې پورې له څه قیل او قال څخه بغیر جمعه فرض ګڼل کیږي، دا د دې د فرضیت ښکاره دلیل دی، او بیا عقلاً هم د جمعې فرضیت ښکاره کیږي ځکه چې الله تعالیٰ د جمعې د لمانځه په وجه موږ ته د ماپښین د لمانځه پرېښوولو حکم کړی دی او د ماپښین لمونځ فرض دی، او قاعده دا ده چې فرض د فرضو په وجه پرېښوول کیږي، یعنې یو فرض هغه وخت ساقطیږي چې په مقابله کې یې بل فرض راسي، نو په دې حواله سره هم جمعه فرض سوه.

تر ټولو مخکې د جمعې لمونځ کله وسو: کله چې نبي ﷺ له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړی، نو په قباء کې د عمرو بن عوف ﷛ په کلي (محله) کې څوارلس شپې پاته سو، هم په دې وخت کې نبي ﷺ د يوه مسجد بنياد کېښنوی، چې هغه ته په اسلام کې تر ټولو اول مسجد ويل کېږي، بيا چې کله نبي ﷺ له قباء څخه د مدينې پر طرف د جمعې په ورځ روان سو، نو په لاره کې د سالم بن عوف په کلي کې د جمعې د لمانځه وخت راغلی، نبي ﷺ له سپرلي څخه را شوه سو، او په هغه مسجد کې يې د جمعې لمونځ وکړی، کوم چې د شېلې په مېنځ کې وو (يعني په بطنُ الوادي کې وو)، نو دا په اسلام کې تر ټولو اول اداء کړی سوی د جمعې لمونځ دی، په دې جمعه کې په سلهاوو مسلمانان شريک سول، او په دې اړه پوره تفصيل په شرح سير کبير کې وګورئ.

د جمعې شرطونه: په دې باب کې د جمعې د فرضيت دوولس شرطونه بيانيږي، چې په دې دوولسو شرطونو کې شپږ داسې دي چې تعلق يې د لمونځ کونکي (مصلي) د ذات سره دی:

(۱) آزاد به وي، غلام به نه وي (۲) نارينه به وي (۳) مقيم به وي (۴) روغ به وي، مريض به نه وي (۵) پښې به يې روغې وي، ګوډ به نه وي، (۶) سترګې به يې روغې وي، ړوند به نه وي، نو له دې څخه معلومه سوه چې پر غلام، ښځه، مسافر، ناروغه، ګوډ او ړانده باندې د جمعې لمونځ فرض نه دی، او شپږ شرطونه بيا داسې دي چې د لمونځ کونکي له ذات څخه د باندې دي:

(۱) ښار به وي، نو په صحرا کې د جمعې لمونځ جائز نه دی (۲) جماعت به وي (۳) باچا يا د باچا نائب به په لمانځه کې وي (۴) د ماپښين د لمانځه وخت به وي (۵) خطبه به وي، بې له خطبې د جمعې لمونځ جائز نه دی (۶) او عامه اجازه به وي. (بنايه ج:۳، ص: ۴۷/۴۸)

د جمعې د لمانځه د صحيح کېدلو شرطونه

لَا تَصِحُّ الْجُمُعَةُ جمعه نه صحيح کيږي إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ أَوْ فِي مُصَلَّى الْمِصْرِ مګر يو په جامع ښار کې يا د ښار په فناء (اطرافو) کې (دلته له مُصلیٰ څخه مراد د ښار فناء ده که څه هم مُصلیٰ عيدګاه ته ويل کيږي) وَلَا تَجُوزُ فِي الْقُرَىٰ او جمعه جائز نه په کلي کې لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي لَا جُمُعَةَ وَلَا تَشْرِيقَ وَلَا فِطْرَ وَلَا أَضْحَى إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ چې جمعه، تکبير تشريق، او د کوچني اختر او لوی اختر لمونځ جائز نه دی لېکن په جامع ښار کې وَالْمِصْرُ الْجَامِعُ: ● كُلُّ مَوْضِعٍ لَهُ أَمِيرٌ وَقَاضٍ او جامع ښار هر هغه ځای دی چې د هغه لپاره يو امير او قاضي وي يُنَفِّذُ الْأَحْكَامَ وَيُقِيمُ الْحُدُودَ چې هغه احکام نافذوي او حدود جاري کوي وَهَذَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ او دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز دي وَعَنْهُ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه (دويم) روايت دا دی (چې جامع ښار هغه ته ويل کيږي) أَنَّهُمْ إِذَا اجْتَمَعُوا فِي أَكْبَرِ مَسَاجِدِهِمْ لَمْ يَسَعْهُمْ چې کله خلک تر ټولو په غټ کې مسجد کې جمع سي نو مسجد يې ځای نه

● تخريج: أخرجه البيهقي في سنن الكبرىٰ في كتاب الجمعة، باب العدد اذا كانوا في قرية وجبت، حديث رقم: ۵۶۱۵.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة كمال الدين بن الهمام رَحِمَهُ الله: و قال ابو حنيفة رَحِمَهُ الله للمصر كل بلدة فيها سكك و أسواق ولها رساتيق و وال ينصف المظلوم من الظالم وعالم يرجع اليه في الحوادث وهذا أخص مما اختاره المصنف رَحِمَهُ الله قيل وهو الأصح، فتح القدير ج:۲، ص:۲۵. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۳۹]

کړي (يعني په مسجد کي ځای نه سي، نو دې ته جامع ښار ويل کيږي) وَالْأَوَّلُ اخْتِيَارُ الْكَرْخِيِّ او اول تعريف امام کرخي رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی وَهُوَ الظَّاهِرُ او د مذهب ظاهر هم دغه دی وَالثَّانِي اخْتِيَارُ الثَّلْجِيِّ او دويم تعريف حضرت ثلجي رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی وَالْحُكْمُ غَيْرُ مَقْصُورٍ عَلَى الْمُصَلَّى او د جواز حکم پر عيدګاه منحصر نه دی بَلْ تَجُوزُ فِي جَمِيعِ أَفْنِيَةِ الْمِصْرِ بلکي د ښار په ټولو فناګانو کي جائز دی لِأَنَّهَا بِمَنْزِلَتِهِ فِي حَوَائِجِ أَهْلِهِ ځکه چي د ښار هره فناء د ښاريانو د اړتياوو په حواله سره د ښار په منزله کي ده.

اللغات: ﴿المُصَلّٰى﴾ عيدګاه، (دلته مجازاً فناء ځني مراد ده)، ﴿التَّشْرِيق﴾ په لوړ آواز سره تکبير ويل، ﴿أَفْنِيَة﴾ جمع ده، واحد يې فناء دی: د فناء په باره کي څو قولونه دي خو معتبر قول دا دی چي له ښار څخه دباندي هغه ټولو ځايونو او ميدانونو ته د ښار فناء ويل کيږي چي له هغه څخه د ښار خلک فايده اخلي مثلاً: د ځغاستي او لوبي ميدان، هديره، پارک، د تماشي لپاره جوړ سوي ميدانونه، چراګاه او داسي نور....، نور قولونه به وروسته ذکر سي.

تشريح: د مسئلې تر صورت مخکي بايد د دريو (۳) لفظونو تشريح په ذهن کي ونيسو:

د جامع مصر (جامع ښار) تعريف: د جامع ښار په تعريف کي اختلاف دی، د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز جامع ښار هغه دی چي په هغه کي سړکونه (عمومي لاري) او بازارونه وي، او دغه ښار خپل حاکم (واکمن) لري چي د ظالم او مظلوم په مينځ کي د انصاف پريکړه کوي، همدارنګه عالم او قاضي هم وي چي د پيښيدونکو مسئلو په اړه فتوىٰ ورکوي، له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کي درې روايتونه دي: (۱) يو دا چي جامع ښار هر هغه ځای دی چي په هغه کي امير او قاضي وي چي هغوی د احکامو پر جاري کولو او د شرعي سزاګانو پر قائمولو قدرت لري، د جامع ښار په باره کي همدغه روايت ظاهر د مذهب دی او امام کرخي رَحِمَهُ الله رَحِمَهُ الله هم اختيار کړی دی، (۲) دويم روايت دا دی چي جامع ښار دومره غټ ځای ته ويل کيږي چي که د هغه ځای له مسجدونو څخه په غټ مسجد کي د هغه ځای خلک راجمع سي نو په مسجد کي ځای نه سي، بلکي مسجد په ډک سي او څه خلک زيات سي، نو دې ځای ته جامع ښار ويل کيږي، دا روايت ابو عبدالله ثلجي رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی، (۳) دريم روايت دا دی چي هغه ښار ته جامع ښار ويل کيږي چي په هغه کي لس زره آبادي وي يعني تقريباً لس زره خلک پکښي استوګن وي، او سفيان ثوري رَحِمَهُ الله وايي چي جامع ښار هغه دی چي خلک يې د خپلو خبرو اترو په وخت کي ښار ګڼي.

د مُصَلّٰى تعريف: د ښار عيدګاه (اختر ځای) ته مُصَلّٰى ويل کيږي، يعني چيري چي د اختر لمونځ کيږي هغه ته مُصَلّٰى ويل کيږي، خو دلته له مُصَلّٰى څخه مراد د ښار فناء ده، او فناء د ښار هغه اطرافو ته ويل کيږي کوم چي د ښار سره جوخت وي، او د ښاريانو د فايدو او ګټولو لپاره جوړ سوي وي، لکه هديره، د لوبي او ځغاستي ميدان، چراګاه، عيدګاه، د حيواناتو د ذبح کولو ځای، د اوسني زمانې پارکونه او داسي نور.

د ښار د فناء څه اندازه ده؟ د ښار د فناء د اندازې په باره کي اختلاف دی: (۱) امام محمد رَحِمَهُ الله د ښار د فناء اندازه يوه غلوه ذکر کړې ده، او د يوې غلوې اطلاق له درې سوه شرعي ګزونو څخه تر څلور سوه شرعي ګزونو پوري کيږي، يعني د ښار له آبادی څخه بهر چي تر څلور سوه ګزونو پوري کومه علاقه وي هغه ته د ښار فناء ويل کيږي، (۲) امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د ښار د فناء اندازه يو ميل يا دوه ميله بيان کړې ده، (۳) بعضي علماؤ فرمايلي دي: چي د ښار اذان او غږ نعره چي تر کومه ځايه ورسيږي تر هغه ځايه پوري د ښار فناء ده.

صورت د مسئلې: تر دې تفصيل وروسته صورت د مسئلې دا دی: چې د جمعې لمونځ په ښار او د ښار په فناء دواړو ځايونو کې جائز دی، خو په کلي او قريه کې جائز نه دی(ښکاره دې وي چې دلته له کلي څخه مراد هغه صحرايي کلي او آبادي ده چې د ښار او د ښار له فناء څخه دباندې وي)، د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَاالله په نيز په کلي او قريه کې هم د جمعې لمونځ جائز دی، او صاحب د بنايې د امام شافعي رَحِمَهُ‌الله قول داسې را نقل کړی دی چې په هر هغه ځای او کلي کې جمعه کول صحيح او جائز دي چې هلته څلوېښت آزاده خلک مقيم وي، او په ژمي او ګرمي يعني په هر موسم کې هلته اوسيږي، او د امام محمد رَحِمَهُ‌الله هم دغه رايه ده.

د امام شافعي او نورو دليلونه: اول دليل: د دې حضراتو اوړل دليل دا دی چې په قرآن کريم کې له دې آيت فاسعوا څخه د جمعې فرضيت ثابتيږي، او دا آيت مطلق دی، او قاعده دا ده چې المطلق يجری علی إطلاقه، نو په دې وجه به هر ځای د جمعې د جواز حکم وي، هغه که ښار وي او که د ښار فناء وي. **دويم دليل:** د دوی دويم دليل د ابن عباس حديث دی: إن أول جمعة جمعت بعد جمعة في مسجد رسول الله ﷺ في مسجد عبد مناف بجواثا من البحرين. (يعني د نبي ﷺ له مسجد(مسجد نبوي) څخه وروسته اول د جمعې لمونځ په جواثا کې د بنو عبد مناف په مسجد کې وسو، او جواثا په بحرين کې د يو کلي نوم دی)، نو له دې حديث څخه ثابته سوه چې په کلي کې د جمعې لمونځ جائز دی.

زموږ دليل: د نبي ﷺ دا قول لا جمعة ولا تشريق.... *يعني د جمعې لمونځ، د تشريق تکبيرونه، د کوچني اختر لمونځ او د لوی اختر لمونځ صرف په ښار کې جائز دی.

جوابونه: د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَاالله د اول دليل جواب دا دی چې تاسو چې کوم دا خبره کوئ چې آيت خپل پر اطلاق پاته دی، دا خبره تاسو خپله هم ماته کړې ده، ځکه چې تاسو هم په دې آيت کې تخصيص کړی دی. لکه څرنګه چې ستاسو په نيز چې په کوم ځای کې څلوېښت خلک وي او په ژمي او ګرمي کې هلته اوسيږي، نو هلته د جمعې لمونځ صحيح دی، نو آيا دا تخصيص نه دی!، نو څرنګه چې ستا سو لپاره تخصيص صحيح دی، همدارنګه زموږ لپاره هم صحيح دی، بلکې زموږ تخصيص خو د صحابي د اثر سره برابر دی، او ستاسو تخصيص صرف عقلي او خيالي دی. **د دويم دليل جواب:** دا دی چې په حديث کې له قريه څخه مراد ښار دی، ځکه چې پخوا به د قريه اطلاق پر ښار کېدی، لکه په دې آيت کې وَ قَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ په دې کې له قريتين څخه مراد مکه او طائف دي، او مکه خو په يقيني توګه ښار دی، نو ثابته سوه چې په حديث کې له قريه څخه مراد ښار دی، دويم جواب دا دی چې جواثا په بحرين کې د يو کلا(قلعې) نوم دی، او په پخواني قلعو کې به حاکم او عالم خامخا وو، نو له دې څخه هم د دې ښار کېدل ثابت سو، همدا وجه ده چې په مبسوط کې جواثا ته د بحرين يو ښار ويل سوي دي.

والحکم غير مقصور علی المصلی الخ مطلب يې دا دی چې څرنګه د جمعې لمونځ په عيدګاه کې جائز دی، ځکه چې عيدګاه هم د ښار فناء ده، همدارنګه د ښار په څلور سره وو اطرافو او فناګانو کې يعني چې تر کومه ځايه پورې د ښار د فناء اطلاق کيږي د جمعې لمونځ جائز دی، ځکه چې د ښاريانو د اړتياوو د پوره کېدلو په حواله د ښار فناء هم د ښار په حکم کې ده.

---

* صاحب د اثمار الهدايې ليکلي دي چې تر لټون وروسته معلومه سوه چې دا قول د حضرت علي رَحِمَهُ‌الله دی (اثمار الهدايه ج:۲، ص:۲۵۳)، او صاحب د فتح القدير هم د دې صراحت کړی دی.

په منیٰ کي د جمعې حکم

وَتَجُوْزُ بِمِنًى او په منیٰ کي جمعه جائز ده إِذَا كَانَ الْأَمِيْرُ أَمِيْرَ الْحِجَازِ په دې شرط چي د حج امير د حجاز امير وي أَوْ كَانَ الْخَلِيْفَةُ مُسَافِرًا يا په خپله خليفه مسافر وي او هلته موجود وي عِنْدَ● أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ (دا د جواز حکم) د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز (دی) وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ: لَا جُمُعَةَ بِمِنًى او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چي په منیٰ کي جمعه جائز نه ده لِأَنَّهَا مِنَ الْقُرَى ځکه چي منیٰ کلی دی حَتّٰى لَا يُعَيَّدُ بِهَا تر دې چي هلته داختر لمونځ نه کيږي وَلَهُمَا أَنَّهَا تَتَمَصَّرُ فِيْ أَيَّامِ الْمَوْسِمِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي منیٰ د حج په موسم کي ښار جوړيږي وَعَدَمُ التَّعْيِيْدِ لِلتَّخْفِيْفِ او د اختر لمونځ نه کېدل د خلکو د آسانۍ لپاره دی وَلَا جُمُعَةَ بِعَرَفَاتٍ فِيْ قَوْلِهِمْ جَمِيْعًا او په اتفاق د فقهاوو په عرفات کي جمعه جائز نه ده لِأَنَّهَا فَضَاءٌ ځکه چي عرفات فضا(يعني خالي ډګر) دی وَبِمِنًى أَبْنِيَةٌ او په منیٰ کي ودانۍ (او کورونه) سته وَالتَّقْيِيْدُ بِالْخَلِيْفَةِ وَأَمِيْرِ الْحِجَازِ لِأَنَّ الْوِلَايَةَ لَهُمَا د خليفه او د حجاز د امير قيد لګول د دې لپاره دي چي (د جمعې د قائمولو حق د) ولايت دواړو ته سته أَمَّا أَمِيْرُ الْمَوْسِمِ ياته سو د حج د موسم امير فَيَلِيْ أُمُوْرَ الْحَجِّ لَا غَيْرُ نو هغه صرف د حج د أمورو متولي دی نه د بل شي (يعني صرف د حج سره د اړوند أمورو او معاملو ولايت لري).

اللغات: ﴿تتمصر﴾ د تفعّل د باب مضارع معلومه صيغه ده: ښار جوړېدل. ﴿يعيد﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله صيغه ده: د اختر جوړول، داختر لمونځ کول. ﴿الموسم﴾ زمانه، دلته ځني مراد د حج ورځي دي.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د حج په ورځو کي په منیٰ کي د جمعې لمونځ صحيح او جائز دی، خو په دې شرط چي هلته د حجاز امير موجود وي، يا په خپله د مسلمانانو خليفه د حج کولو په اراده سفر کړی وي او هلته موجود وي، د خليفه سره يې د مسافر قيد ځکه لګولی دی چي که خليفه په منیٰ کي مقيم وو نو په درجه اولیٰ به د جمعې لمونځ جائز وي، دويم د دې وهم ليري کولو لپاره چي که د حج د ورځو امير مسافر وو. نو هغه جمعه نه سي قائمولای، نو همدارنګه به خليفه هم د مسافرتوب په صورت کي جمعه نه سي قائمولای. امام قدوري رَحِمَهُ الله د دې وهم د ليري کولو لپاره وفرمايل چي د حج د ورځو امير د مسافرتوب په صورت کي بېله شکه جمعه نه سي قائمولای، لېکن د مسلمانانو خليفه د مسافرتوب په حالت کي هم د جمعې لمونځ قائمولای سي. او له دې ځخه هم دا ښکاره سوه چي که يو خليفه يا باچا د خپل ملک(هيواد) دوره کوي، نو په هر ښار کي به پر هغه د جمعې لمونځ واجب وي، لهذا په کوم ښار کي چي د جمعې ورځ تېروي، هلته به د جمعې لمونځ اداء کوي، دليل دا دی چي کله د ده په حکم سره د بل چا امام جوړېدل جائز دي، نو په خپله ده ته د جمعې د امامت کول په طريقه اولیٰ جائز دي، که څه هم مسافر وي، لنډه دا چي د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د حج په ورځو کي په منیٰ کي د جمعې لمونځ صحيح او جائز دی، لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په منیٰ کي قطعاً د جمعې لمونځ جائز نه دی.

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله وجازت الجمعة بمنى في الموسم فقط رد المحتار ج:١، ص:٥٩٥ [الفتوى الراجح ج:١ ص:١٤١]

د امام محمد دليل: دا دی چې منیٰ خو نه ښار دی، او نه د ښار فناء ده، بلکې يوه قريه او يو کلی دی. او په کلي د جمعې لمونځ جائز نه دی، نو ځکه به په منیٰ کې د جمعې لمونځ جائز نه وي، همدا وجه ده چې په منیٰ کې د لوی اختر لمونځ نه کيږي. د امام محمد رَحِمَهُ الله په نيز منیٰ د مکې مکرمې په فنا کې ځکه داخل نه ده، چې د ده په نيز د فناء اطلاق تر څلورو سوو شرعي ګزو پورې کيږي، او منیٰ تر څلورو سوو شرعي ګزو ليرې ده.

د شيخينو دليل: دا دی چې بې له شکه منیٰ ښار نه دی، خو د حج په ورځو کې ښار جوړيږي. ځکه چې هلته د حج په ورځو کې دوکانونه وي، او د مستقل بازار غونډې شکل اختيار کړي، همدارنګه د حج په ورځو کې هلته باچا يا د باچا نائب او قاضي هم وي، نو ځکه منیٰ د ښار په حکم وي، نو لکه څرنګه چې په ښار کې د جمعې لمونځ جائز دی، نو په منیٰ کې به هم د جمعې لمونځ جائز وي.

جواب: د امام محمد د دليل جواب دا دی چې په منیٰ کې د لوی اختر لمونځ په دې وجه نه کيږي چې په دې سره پر حاجيانو تکليف راځي، نو د دوی د آسانتيا لپاره په منیٰ کې د لوی اختر لمونځ نه کيږي. کنې د ښار جوړېدلو په وجه لمونځ کېدل پکار دي، ځکه چې د حج په ورځو کې له منیٰ څخه ښار جوړيږي، لکه څرنګه چې لوس مونږ ذکر کړه. دويم دا چې منیٰ په حرم کې داخله ده، نو ځکه به منیٰ د مکې شريفې له فناء څخه وي.

ولا جمعة بعرفات الخ او د عرفات په ميدان کې بالاتفاق د جمعې لمونځ جائز نه دی، ځکه چې عرفات خو فقط ميدان دی. هيڅ آبادي پکښې نشته، او د مکې شريفې په فناء کې هم داخل نه دی، نو ځکه به هلته د جمعې لمونځ جائز نه وي.

والتقييد بالخليفة الخ فرمايي: په متن کې چې کوم د حجاز د امير يا د مسلمانانو د خليفه قيد لګول سوی دی. هغه په دې وجه چې دې دواړو ته د جمعې قائمولو حق او ولايت سته، او پاته سو هغه امير چې د حج په ورځو کې صرف د حج امير وي، نو هغه ته صرف په خلکو د حج کولو کې ولايت سته، د جمعې قائمولو ولايت او حق نه لري. نو ځکه به هغه په منیٰ کې جمعه قائمولای نه سي.

د جمعې لپاره د باچا شرط کېدل (شرطيت)

وَلَا يَجُوزُ إِقَامَتُهَا إِلَّا لِلسُّلْطَانِ او د جمعې درول جائز نه دي مګر د باچا لپاره أَوْ لِمَنْ أَمَرَهُ السُّلْطَانُ يا د هغه چا لپاره (د جمعې درول جائز دي) چې باچا حکم ورته کړی وي لِأَنَّهَا تُقَامُ بِجَمْعٍ عَظِيمٍ ځکه چې جمعه په يو غټ جماعت سره قائميږي وَقَدْ تَقَعُ الْمُنَازَعَةُ فِي التَّقَدُّمِ وَالتَّقْدِيمِ او کله کله په مخکې کېدلو يا د بل په مخکې کولو کې شخړه پېښيږي وَقَدْ تَقَعُ فِي غَيْرِهِ او کله له دې څخه ماسوا په نورو خبرو کې شخړه پېښيږي فَلَا بُدَّ مِنْهُ تَتْمِيمًا لِأَمْرِهِ نو د جمعې د پوره کولو لپاره د خليفه يا د هغه د نائب شتون ضروري دی.

اللغات: ﴿التَّقَدُّم﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: خپله مخکې کېدل، دا باب لازمي دی. ﴿التَّقْدِيم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: بل مخته کول، او دا باب متعدي دی، ﴿تَتْمِيم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: يو کار پوره کول.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د جمعې د جائز کېدلو يو شرط دا دی چې د جمعې لمونځ به باچا يا د باچا نائب دروي. دليل دا دی چې د جمعې په لمانځه کې ډېر رش وي، او پر دې موقع هر ډول او د هر مزاج والا خلک وي، نو ځيني داسې خلک

هم وي چې د مخکې کېدلو شوق لري، او غواړي چې مخته سي، خو په هغه سره افتراق او جنګ پيښيږي، مثلاً د بعضو خلکو بل څوک خوښ وي، او بل سړي يې خوښ نه وي، او کله کله دا صورت هم پيښيږي چې داسي څوک نه وي چې مخته سي او امامت وکړي، لېکن د باچا يعني د امير المؤمنين يا د امير المؤمنين د نائب په امامت کي دا يوه ستونزه هم نسته، نو ځکه به د جمعې د قائمولو لپاره امير المؤمنين يا د هغه نائب ضروري وي، خو ښکاره دي وي چې په اوسنۍ زمانه کي په ډېرو هيوادونو کي امير المؤمنين نسته، نو په دې وجه که عوام يو څوک امير وټاکي، او دغه ټاکلی امير د جمعې لمونځ قائم کړي نو جائز به وي.

د جمعې لپاره د وخت شرط کېدل (شرطيت)

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْوَقْتُ او د جمعې له شرطونو څخه يو وخت دی فَتَصِحُّ فِيْ وَقْتِ الظُّهْرِ نو د ماپښين په وخت کي صحيح کيږي وَلَا تَصِحُّ بَعْدَهُ او تر ماپښين وروسته نه صحيح کيږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ❶ ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي إِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ کله چې لمر زائل سي (يعني زوال وکړي) فَصَلِّ بِالنَّاسِ الْجُمُعَةَ نو خلکو ته د جمعې لمونځ ورکوه وَلَوْ خَرَجَ الْوَقْتُ وَهُوَ فِيْهَا او که د ماپښين وخت ووځي او حال دا چې لمونځ کونکي لا د جمعې په لمانځه کي وي إِسْتَقْبَلَ الظُّهْرَ نو له شروع څخه دي د ماپښين لمونځ وکړي وَلَا يَبْنِيْهِ عَلَيْهَا او د جمعې پر لمانځه دي د ماپښين لمونځ نه بناء کوي لِاخْتِلَافِهِمَا ځکه چې د جمعې او د ماپښين لمونځ دواړه سره مختلف دي.

اللغات: ﴿إِسْتَقْبَلَ﴾ د استفعال د باب ماضي ده: له سره کول، له شروع څخه کول.

تشريح: فرمايي چې د جمعې له شرائطو څخه وخت هم دی، يعني د جمعې لمونځ د ماپښين په وخت کي صحيح دی، تر هغه وروسته صحيح نه دی. دليل دا دی چې کله نبي ﷺ مصعب بن عمير رضي الله عنه مديني منورې ته واستوی، نو ور ته وېې فرمايل: إذا مالت الشمس فصل بالناس الجمعة، همدارنګه د بخاري په روايت کي راغلي دي: عن أنس كان النبي ﷺ يصلي الجمعة حين تميل الشمس، (يعني څه وخت چې به لمر تر سر واوښتی نو نبي ﷺ به د جمعې لمونځ کوی).

ولو خرج الوقت الخ امام قدوري رحمه الله فرمايي: چې که امام او خلکو د جمعې لمونځ ناوخته شروع کړی، حتیٰ امام لا د جمعې په لمانځه کي مشغول وو چې د ماپښين وخت ووتی، نو د جمعې لمونځ فاسد سو، اوس د دوی لپاره حکم دا دی چې له نوي سره دي ماپښين لمونځ وکړي، او کوم لمونځ چې يې د جمعې په نيت کړی دی پر هغه دي د ماپښين د لمانځه بناء نه کوي، ځکه چې د جمعې او د ماپښين لمونځ سره جلا دي، او د دواړو په مينځ کي څو رنګه اختلاف دی: (۱) د رکعتونو په شمېر کي يې اختلاف دی، ځکه چې د ماپښين د لمانځه رکعتونه څلور دي، او د جمعې د لمانځه رکعتونه دوه دي، (۲) د جمعې لپاره خاص شرطونه سته، او د ماپښين د لمانځه لپاره څه شرطونه نسته، (۳) د جمعې په لمانځه کي جهري قرائت کيږي، او د ماپښين په لمانځه کي سرّي قرائت کيږي او داسي نور. (بنايه ج:۳، ص:۶۲)

❶ تخريج: أخرجه البخاری فی كتاب الجمعة، باب وقت الجمعة اذا زالت الشمس، حديث رقم: ۹۰۴.

د جمعې لپاره د خطبې شرط ګڼل (شرطيت)

وَمِنْهَا الْخُطْبَةُ او د جمعې له شرائطو څخه خطبه (هم) ده لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ● مَا صَلَّاهَا بِدُونِ الْخُطْبَةِ فِي عُمْرِهِ ځکه نبي ﷺ په خپل ټول عمر کې د جمعې يو لمونځ بې له خطبې نه دی کړی وَهِيَ قَبْلَ الصَّلَاةِ بَعْدَ الزَّوَالِ او خطبه د جمعې تر لمانځه مخکې او تر زوال وروسته شرط ده بِهِ وَرَدَتِ السُّنَّةُ هم په دې باره کې حديث راغلی دی وَيَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ او خطيب به دوې خطبې وايي يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِقَعْدَةٍ او دواړې خطبې به په ناستې سره جلا کوي بِهِ جَرَى التَّوَارُثُ هم پر دې توارث را روان دی (يعني د نبي ﷺ له زمانې څخه تر نن پورې همدغه طريقه را روانه ده).

اللغات: ﴿تَوَارُث﴾ د تفاعل مصدر دی: په وراثت کې تر لاسه کول. د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر اوسنۍ زمانې پورې چې علماؤ کومه طريقه اختيار کړې وي هغه ته توارث ويل کيږي.

تشريح: د جمعې يو شرط خطبه ده، له خطبې څخه بغير د جمعې لمونځ نه اداء کيږي. دليل دا دی چې نبي ﷺ په خپل ټوله ژوند کې يو د جمعې لمونځ بغير له خطبې څخه نه دی کړی، که خطبه د جمعې شرط نه وای، نو نبي ﷺ به يو ولږ ضرور د جواز ښکاره کولو لپاره پرېښوولای.

خطبه د جمعې تر لمانځه مخکې او تر زوال وروسته واجب ده، تر لمانځه مخکې په دې وجه واجب ده، ځکه چې خطبه د جمعې د لمانځه لپاره شرط ده، او تاسو ته معلومه ده چې شرط د يو شي پر شي مخکې وي، نو خطبه به هم د جمعې تر لمانځه مخکې وي، او تر زوال مخکې په دې وجه جائز نه ده ځکه چې تر زوال مخکې د جمعې وخت نه وي شروع سوی، نو ځکه به خطبه تر زوال وروسته وي، همدارنګه په حديث کې راغلي دي، چې وروسته به ذکر سي.

ويخطب خطبتين الخ فرمايي چې د جمعې خطبه پر دوو حصو تقسيمول پکار دي، او د دواړو په مينځ کې کښېنستل او فصل کول پکار دي، په بنايه کې راغلي دي چې دا ناسته به د دريو (۳) کوچني آيتونو په اندازه وي، او بيا زموږ په نيز دا ناسته د استراحت لپاره ده، شرط او ضروري نه ده، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز شرط ده، تر دې چې د ده په نيز په يوه خطبه اکتفاء کول جائز نه دي، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل توارث دی، زموږ دليل د جابر بن سمره رضي الله عنه حديث دی: أن النبي ﷺ كان يخطب قائماً خطبة واحدة فلما أسن جعلها خطبتين يجلس بينهما جلسة، (يعني نبي ﷺ به په ولاړې يوه خطبه ويله، بيا چې کله د دوی ﷺ عمر ډېر سو، نو دوې خطبې به يې ويلې، او د دواړو په مينځ کې به يې ناسته کول). له دې حديث څخه معلومه سوه چې د دوو خطبو په مينځ کې به ناسته د ډېر عمر او ضعيف والي په سبب وه. شرط او ضروري نه وه، خو څرنګه چې پر دې ناسته د صحابه وو او تابعينو او علماؤ توارث را روان دی، نو په دې وجه زموږ په نيز ښه دا ده چې کښېني.

● تخريج: أخرجه البخاري في كتاب الجمعة، باب أذان الجمعة، حديث: ٩١٢.

د خطبې ادبونه

وَيَخْطُبُ قَائِمًا عَلَى طَهَارَةٍ او خطيب به خطبه په اوداسه سره په ولاړې وايي لِأَنَّ الْقِيَامَ فِيهِمَا مُتَوَارَثٌ ځکه چې په خطبه کې په توارث سره ولاړه را نقل سوې ده ثُمَّ هِيَ شَرْطُ الصَّلَاةِ بيا خطبه د جمعې د لمانځه لپاره شرط ده فَيُسْتَحَبُّ فِيهَا الطَّهَارَةُ كَالْأَذَانِ نو په خطبه کې طهارت(اودس) مستحب دی لکه په اذان کې (چې مستحب دی) وَلَوْ خَطَبَ قَاعِدًا او که خطيب په ناستې خطبه وويله أَوْ عَلَى غَيْرِ طَهَارَةٍ يا بې بې اودسه (خطبه وويله) جَازَ لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ نو جائز دي ځکه چې مقصود حاصل سو إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ خو (په ناستې خطبه ويل) مکروه دي لِمُخَالَفَةِ التَّوَارُثِ د توارث د مخالفت په وجه وَلِلْفَصْلِ بَيْنَهُمَا وَبَيْنَ الصَّلَاةِ او د لمانځه او خطبې په مينځ کې د فصل راتللو په وجه.

تشريح: خطيب ته پکار دي چې په اوداسه او په ولاړې خطبه ووايي، چې د نبي ﷺ د سنت اقتداء کونکی جوړ سي، ځکه چې نبي ﷺ به خطبه په ولاړې ويله. او تر نبي ﷺ وروسته د صحابه وو او مشرانو هم دغه معمول را روان دی،(يعني د نبي ﷺ له زمانې څخه واخله تر اوسنۍ زمانې پورې دا طريقه د صحابه وو او بزرګانو په توارث را رنه ده) لهذا هر خطيب ته پر دې طريقه عمل کول پکار دي، او څرنګه چې خطبه د لمانځه لپاره شرط ده، نو ځکه په دې کې طهارت مستحب دی، لکه څرنګه چې په اذان کې هم طهارت مستحب دی، دا حکم خو زموږ په نېز دی، کنې د دريو امامانو يعني د امام شافعي، امام مالک، امام احمد رَحِمَهُمُ الله په نېز په ولاړې او په اوداسه خطبه ويل شرط او ضروري دي. نو که يو چا په ناستې خطبه وويل، يا بې بې اودسه وويل، نو زموږ په نېز مکروه دي، خو د دې حضراتو په نېز بالکل جائز نه دي، زموږ په نېز په دې معنیٰ جائز دې چې نه د خطبې لپاره ولاړه شرط ده، او نه طهارت، نو ځکه به په ناسته او بې اودسه خطبه ويلو کې د خطبې په جواز کې هيڅ حرج نه وي، ځکه چې په دې صورت کې هم مقصود حاصليږي، خو څرنګه چې په ناسته خطبه ويلو کې له توارث څخه مخالفت راځي، او په بې اودسه خطبه ويلو کې د لمانځه او خطبې په مينځ کې فصل راځي، نو ځکه به دا صورتونه مکروه وي.

په خطبه کې صرف پر ذکر اکتفاء کول جائز دي، که نه؟ (د فقهاؤ قولونه)

فَإِنِ اقْتَصَرَ عَلَى ذِكْرِ اللهِ او که خطيب (صرف) د الله پر ذکر اکتفاء وکړه جَازَ عِنْدَ• أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز جائز دي وَقَالَا: لَا بُدَّ مِنْ ذِكْرٍ طَوِيلٍ يُسَمَّى خُطْبَةً او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې دومره اوږد ذکر ضروري دی چې هغه ته خطبه وويل سي لِأَنَّ الْخُطْبَةَ هِيَ الْوَاجِبَةُ ځکه چې خطبه خو واجب ده وَالتَّسْبِيحَةُ أَوِ التَّحْمِيدَةُ لَا تُسَمَّى خُطْبَةً او تسبيح يا الحمد لله ته خطبه نه ويل کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ لَا تَجُوزُ حَتَّى يَخْطُبَ خُطْبَتَيْنِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چې خطبه نه جائز کيږي تر دې چې خطيب دوې خطبې ووايي اِعْتِبَارًا

• القول الراجح: قول ابى حنيفة رَحِمَهُ الله كما قال العلامة الحصكفى رَحِمَهُ الله : وكفت تحميدة او تهليلة و تسبيحة للخطبة المفروضة مع الكراهة، رد المحتار ج:١، ص:٥٩٨. [القول الراجح ج:١، ص:١٢٢]

لِلْمُتَعَارَفِ په عام عرف باندي په قیاسولو سره وَلَهُ قَوْلُه تَعَالَىٰ: فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ [سورة الجمعة: ۹] مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ او د امام صاحب دلیل دا دی چي الله تعالیٰ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ بغیر له تفصیله فرمایلي دي وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ او د عثمان ﷺ په باره کي را نقل سوي دي چي هغه الحمد لله وویله فَأُرْتِجَ عَلَيْهِ* او بیا یې ژبه بنده سه (بعضو شارحینو یې دا ترجمه کړې ده: او په شک کي واقع سو) فَنَزَلَ وَصَلَّى نو له منبر څخه را ښکته سو او لمونځ یې ورکړی.

اللغات: ﴿أُرْتِجَ﴾ د افتعال له باب څخه ماضي مجهوله صیغه ده او اِرْتَجَّ یا اُرْتُجَّ ویل یې غلط دي: په شک کي لوېدل، په خطبه کي بندېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که یو خطیب په خطبه کي صرف لا إله إلاّ الله ووایي، یا صرف سبحان الله ووایي، او نور شی نه ووایي، نو هم خطبه اداء سوه، او د خطبې راګرځولو ضرورت نسته. لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په خطبه کي دومره اوږد(طویل) ذکر ویل پکار دی چي هغه ته واقعي او په رښتیا خطبه ویل کیږي، ځکه چي خطبه واجب ده، او تسبیح یعني سبحان الله ویل یا تحمید یعني الحمد لله ویل خطبه نه ده، نو ځکه به په دې سره کار نه کیږي.

په دې لړ کي صاحب د عنایې رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي د امام ابو بکر اعمش رَحِمَهُ الله په نېز د خطبې اندازه د تشهد(التحیات) په مقدار ده، او په ظاهر الروایه کي دي چي د دریو آیتونو په مقدار ده، او د اما شافعي رَحِمَهُ الله رایه دا ده چي د تسبیح یا تحمید په اندازه خطبه ویل بالکل جائز نه دي، ځکه چي په عام عرف کي د دوو خطبو نوم جمعه ده، چي په اوله خطبه کي به تحمید، درود، مسلمانانو ته نصیحت او وصیت وي، او د یوه آیت پر تلاوت به مشتمله وي، او په دویمه خطبه کي به د مسلمانانو لپاره دعاء او داسي نوري کلمې ویل کیږي.

د امام صاحب دلیل: دا دی چي په کوم آیت سره خطبه واجب سوې ده یعني فاسعوا إلی ذکر الله، دغه آیت مطلق دی، او په ذکر الله کي مطلق ذکر الله ته خطبه ویل سوې ده، نو د المطلق یجری علی إطلاقه د قاعدې مطابق به دا حکم مطلق وي، او په دې کي به د دوو خطبو او داسي نورو هیڅ شرط نه لګیږي.

دویم دلیل: دا دی چي کله عثمان ﷺ تر خلیفه جوړېدلو وروسته اول وار پر منبر کښېنستی، نو د خطبې ویلو په وخت کي د هغه ﷺ ژبه ودرېدل او صرف تر الحمد لله ویلو وروسته د خطبې مضمون پر مشتبه او ګډوډ سو، او له منبر څخه را ښکته سو، لمونځ یې ورکړی، یعني عثمان ﷺ صرف په الحمد لله ویلو سره خطبه اداء کړه، نو معلومه سوه چي په خطبه کي صرف پر تحمید یا تسبیح اکتفاء کول صحیح او جائز دي.

---

* اثر: صاحب د اثمار الهدایه لیکلي دي چي تر لټون وروسته مي هم د دې اثر حواله پیدا نه کړه.

د جمعې لپاره د جماعت شرط کېدل (شرطیت)

وَمِنْ شَرَائِطِهَا الْجَمَاعَةُ او د جمعې له شرطونو څخه جماعت (هم) دی لِأَنَّ الْجُمُعَةَ مُشْتَقَّةٌ مِنْهَا ځکه چې لفظ د جمعې له جماعت څخه جوړ سوی دی وَأَقَلُّهُمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ثَلَاثَةٌ سِوَى الْإِمَامِ* او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز (د جمعې جماعت لپاره) له امام څخه ماسوا لږ تر لږه درې خلک (ضروري) دي وَقَالَا: اِثْنَانِ سِوَاهُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې له امام څخه ماسوا دوه خلک (ضروري) دي قَالَ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي وَالْأَصَحُّ أَنَّ هٰذَا قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَحْدَهُ صحیح خبره دا ده چې دا قول صرف د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دی لَهُ أَنَّ فِي الْمُثَنَّى مَعْنَى الِاجْتِمَاعِ د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې په دوو کې (هم) د اجتماع معنیٰ سته وَهِيَ مُنْبِئَةٌ عَنْهُ او لفظ د جمعې (هم) د اجتماع خبر ورکوي وَلَهُمَا أَنَّ الْجَمْعَ الصَّحِيحَ إِنَّمَا هُوَ الثَّلَاثُ او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې صحیح جمع درې (خلک) وي لِأَنَّهُ جَمْعٌ تَسْمِيَةً وَمَعْنًى ځکه چې درې د نوم او معنیٰ دواړو په اعتبار سره جمع ده وَالْجَمَاعَةُ شَرْطٌ عَلَىٰ حِدَةٍ او جماعت جلا (بېل) شرط دی وَكَذَا الْإِمَامُ او همدغه رنګه امام (جلا شرط دی) فَلَا يُعْتَبَرُ مِنْهُمْ نو ځکه به امام له مقتدیانو څخه نه شمارل کېږي.

اللغات: ﴿مُثَنّٰی﴾ دوه خلک. ﴿مُنْبِئَةٌ﴾ د افعال د باب مؤنث اسم فاعل دی: خبر ورکول.

تشریح: مسئله: دا ده چې د جمعې له شرطونو څخه يو شرط دا دی چې د جمعې لمونځ به په جماعت سره اداء کېږي، او د جماعت چې کوم شمېر دی، هغه به موجود وي، خو د دې شمېر په باره کې اختلاف دی، د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز له امام څخه ماسوا درې نور خلک ضروري دي، او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز که له امام څخه ماسوا دوه خلک نور وي، نو هم جماعت کېږي، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چې په قدوري کې امام احمد رَحِمَهُ الله د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله سره يو ځای ذکر سوی دی، خو دا صحیح نه دی، بلکې صحیح دا ده چې امام محمد رَحِمَهُ الله د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره دی.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چې جمعه له اجتماع (جمع کېدلو) څخه مشتق ده، او په دوو خلکو کې هم د اجتماع معنیٰ سته، ځکه چې په دې دواړو کې د يوه اجتماع د بل سره ده، يعني دواړه سره را جمع سوه، نو په دې اعتبار به په دوو خلکو سره هم جماعت کېږي، او د جماعت د ثبوت لپاره به له دوو څخه زيات مقدار شرط نه وي.

د طرفینو دلیل: دا دی چې په دوو سره د اجتماع معنیٰ موږ ته هم تسلیم ده، لېکن په قرآن مجید کې چې په کوم آیت سره د جمعې فرضیت ثابت سوی دی يعني فاسعوا إلى ذكر الله، نو په دې کې فاسعوا صیغه ده امر ده، او د جمع مخاطب صیغه ده، او د حقیقي جمعې اطلاق پر درې کېږي، ځکه چې درې د نوم او معنیٰ دواړو په اعتبار سره جمع ده، نو ځکه موږ وايو چې د جماعت د ثبوت لپاره به له امام څخه ماسوا درې خلک نور وي.

والجماعة شرط على حدة الخ له دې ځايه د يو سوال جواب ورکوي.

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفه رَحِمَهُ الله وهذا قول امام محمد رَحِمَهُ الله ايضاً، كما قال العلامة وهبة الزحيلي رَحِمَهُ الله: و أقلهم عند أبي حنيفة ومحمد رَحِمَهُمَا الله في الاصح ثلاثة رجال سوى الامام ولو كانوا مسافرين او مرضى لأن أقل الجمع الصحيح إنما هو الثلاث، الفقه الاسلامي ج:۲، ص:۲۷۵. [القول الراجح ج:۱، ص:۱۴۳]

سوال: دا دی چي دامام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول مطابق هم درې خلک دي، يعني دوه مقتديان چي ديوه امام سره يو ځای سي، نو درې سوه.

جواب: دا دی چي جماعت جلا او مستقل شرط دی، او امام کېدل جلا شرط دی، ځکه چي فاسعوا صيغه د جمعي ده، او جمعه د درې افرادو تقاضا کوي، او ذکر الله لپاره ديوه ذاکر (امام) وجود ضروري دی، نو له آيت څخه د څلورو خلکو وجود ثابت سو، يعني يو به امام وي، او له هغه څخه ماسوا به درې مقتديان وي، نو ښکاره سوه چي امام به له دې درو څخه نه شمارل کيږي، بلکي له امام څخه ماسوا به درې خلک نور وي.

د جمعي په لمانځه کي فقط د ښځو او کوچنيانو پاته کېدل

وَإِنْ نَفَرَ النَّاسُ قَبْلَ أَنْ يَّرْكَعَ الْإِمَامُ وَيَسْجُدَ او که خلک (مقتديان) د امام تر رکوع او سجدې کولو مخکي وتښتېدل (ولاړل) وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا النِّسَاءُ وَالصِّبْيَانُ او صرف ښځي او کوچنيان پاته سول إِسْتَقْبَلَ الظُّهْرَ عِنْدَ● أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نيز دي امام له شروع څخه د ماپښين لمونځ وکړي وَقَالَا: إِذَا نَفَرُوْا عَنْهُ بَعْدَمَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: که دامام تر لمونځ شروع کولو وروسته خلک وتښتېدل صَلَّى الْجُمُعَةَ نو امام دي د جمعي لمونځ وکړي فَإِنْ نَفَرُوْا عَنْهُ بَعْدَمَا رَكَعَ رَكْعَةً وَسَجَدَ سَجْدَةً او که د رکوع او ديوې سجدې تر کولو وروسته وتښتېدل بَنٰى عَلَى الْجُمُعَةِ نو امام دي د جمعي پر لمانځه بناء وکړي خِلَافًا لِزُفَرَ رَحِمَهُ اللهُ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله وَهُوَ يَقُوْلُ: إِنَّهَا شَرْطٌ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جماعت شرط دی فَلَا بُدَّ مِنْ دَوَامِهَا كَالْوَقْتِ نو د وخت په شان تر آخره پوري د جماعت پاته کېدل ضروري دي وَلَهُمَا أَنَّ الْجَمَاعَةَ شَرْطُ الْإِنْعِقَادِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي جماعت د جمعې د منعقد کېدلو لپاره شرط دی فَلَا يُشْتَرَطُ دَوَامُهَا كَالْخُطْبَةِ نو د خطبې په شان به تر آخره د جماعت پاته کېدل شرط نه وي وَلِأَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ أَنَّ الْإِنْعِقَادَ بِالشُّرُوْعِ فِي الصَّلَاةِ د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د جمعې انعقاد د لمانځه په شروع کولو سره کيږي وَلَا يَتِمُّ ذٰلِكَ إِلَّا بِتَمَامِ الرَّكْعَةِ او دا انعقاد نه پوره کيږي مګر په يوه رکعت پوره کېدلو سره لِأَنَّ مَا دُوْنَهَا لَيْسَ بِصَلَاةٍ ځکه چي تر يوه رکعت کم لمونځ نه دی فَلَا بُدَّ مِنْ دَوَامِهَا إِلَيْهَا نو ځکه به تر يوه رکعت پوره کېدلو پوري د جماعت پاته کېدل ضروري وي بِخِلَافِ الْخُطْبَةِ په خلاف د خطبې فَإِنَّهَا تُنَافِي الصَّلَاةَ ځکه چي خطبه خو د لمانځه منافي ده فَلَا يُشْتَرَطُ دَوَامُهَا نو تر آخره به د هغې پاته کېدل شرط نه وي وَلَا مُعْتَبَرَ بِبَقَاءِ النِّسْوَانِ وَكَذَا الصِّبْيَانِ او د ښځو او کوچنيانو د پاته کېدلو هيڅ اعتبار نسته لِأَنَّهُ لَا تَنْعَقِدُ بِهِمُ الْجُمُعَةُ ځکه چي په ښځو او کوچنيانو سره جمعه نه منعقد کيږي فَلَا تَتِمُّ بِهِمُ الْجَمَاعَةُ نو ځکه به په دوی سره جماعت (هم) نه پوره کيږي.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله كما قال العلامة أكمل الدين البابرتي رَحِمَهُ الله: فان كان قبل التقييد الركعة بالسجدة استقبل الظهر، العناية على هامش فتح القدير ج:٢، ص:٣١. [القول الراجح ج:١، ص:١٤٢]

اللغات: ﴿نَفَرَ﴾ د نصر د باب ماضي صيغه ده: وتل، تښتېدل، ځغستل،(تلل)، ﴿نِسْوَانٌ﴾ ښځې، د إِمْرَأَةٌ جمع ده خلاف القياس، ﴿صِبْيَانٌ﴾ کوچنيان، جمع د صَبِيٌّ ده.

تشريح: مسئله: دا ده که د جمعې د لمانځه تر شروع کولو مخکې خلک امام يوازې پرېږدي، او وتښتي، نو په اجماع سره به امام د ماپښين لمونځ کوي، او د جمعې د لمانځه اجازه نشته، او که د جمعې د لمانځه تر شروع کولو وروسته او د رکوع او سجدې تر کولو مخکې خلک امام پرېږدي، او وتښتي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به امام په دې صورت کې هم له سره ځنځه د ماپښين لمونځ کوي، او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به امام د جمعې پر لمانځه بناء کوي، يعني همدغه د جمعې لمونځ به پوره کوي، د ماپښين د لمانځه بالکل ضرورت نشته.

او که د امام تر رکوع او سجدې کولو وروسته خلک امام پرېږدي او وتښتي، نو په اتفاق سره د دريو امامانو يعني د امام صاحب او صاحبينو به د جمعې پر لمانځه بناء کوي، يعني د جمعې لمونځ به پوره کړي، او له سره به يې نه راګرځوي، خو د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز به په دې صورت کې هم د ماپښين لمونځ کوي.

د امام زفر دليل: دا دی چې جماعت د جمعې د اداء کولو لپاره شرط دی، لکه څرنګه چې وخت د جمعې د لمانځه لپاره شرط دی، نو څرنګه چې له اوله ځنځه تر آخره پورې د وخت وجود ضروري دی، همدغه رنګه له اولي تحريمې ځنځه د لمانځه تر آخره پورې د جماعت وجود ضروري دی، او څرنګه چې په ذکر سوي صورت کې له اول ځنځه تر آخره پورې جماعت موجود نه سو، بلکې په مېنځ کې جماعت پاته سو، لهذا د جمعې لمونځ فاسد سو، نو ځکه به پر امام د ماپښين لمونځ لازم وي.

د صاحبينو دليل: دا دی چې جماعت د جمعې د اداء کولو لپاره شرط نه دی، بلکې جماعت د جمعې د منعقد کېدلو لپاره شرط دی، نو کله چې د جمعې لمونځ منعقد(وتړل) سو، يعني شروع سو، نو بيا د جماعت خاص ضرورت نشته. نو اوس که دا جماعت پوره هم نه سي د جمعې لمونځ کيږي، لکه څرنګه چې خطبه د جمعې د منعقد کېدلو لپاره شرط ده، نو د خطبې هم تر آخره پاته کېدل د جمعې د لمانځه لپاره ضروري نه دي.

د امام صاحب دليل: دا دی چې بېشکه جماعت خو د جمعې د لمانځه د منعقد کېدلو لپاره شرط دی، خو د لمانځه منعقد کېدل د لمانځه په شروع کولو سره کيږي، او د لمانځه اطلاق د يوه رکعت پر پوره کېدلو کيږي، ځکه دا خبره تسليم سوې ده چې له يو رکعت ځنځه کم ته لمونځ نه ويل کيږي، لنډه دا چې جماعت د جمعې د لمانځه د منعقد کېدلو لپاره شرط دی،او د جمعې لمونځ په شروع کولو سره منعقد کيږي، او د لمانځه اطلاق لږ تر لږه پر يوه رکعت کيږي، نو ګواکې د جمعې لمونځ د يوه رکعت په پوره کېدلو سره شروع کيږي، لهذا تر يوه رکعت پوره کېدلو پورې به د جماعت وجود شرط وي، او رکعت په رکوع او سجده سره پوره کيږي، نو که د اول رکعت تر رکوع او سجدې پورې جماعت پاته سو، نو د جمعې لمونځ منعقد سو. اوس که د دې رکوع او سجدې تر پوره کېدلو و روسته خلک وتښتېدل. او جماعت فوت سو، نو د جمعې لمونځ نه فوت کيږي، او که تر دې مخکې وتښتېدل، نو د جمعې لمونځ فوت کيږي، ځکه چې د جمعې د لمانځه تر منعقد کېدلو مخکې د انعقاد شرط يعني جماعت ثابت سو، نو ځکه به د جمعې لمونځ فاسد وي، او پر امام به د ماپښين لمونځ واجب وي.

بخلاف الخطبة الخ په دې سره د صاحبينو د دليل جواب ورکوي، هغوی دا خبره کړې وه چې څرنګه د خطبې د جمعې تر آخره پاته کېدل ضروري نه دي، همدارنګه د جماعت تر آخره پاته کېدل ضروري نه دي؛ د دې جواب ورکوي چې د خطبې او لمانځه په مېنځ کې منافات دی ځکه که خطبه په لمانځه کې دننه وويل سي نو لمونځ فاسدوي، نو ځکه به تر

يوه رکعت پوره کېدلو پورې د خطبې پاته کېدل شرط نه وي، په خلاف د جماعت چې هغه د لمانځه سره منافي نه دی، بلکې شرط دی، نو ځکه به د يوه رکعت تر پوره کېدلو پورې د جماعت پاته کېدل شرط او ضروري وي.

ولا معتبر ببقاء النسوان الخ فرمايي چې که ټوله خلک تر رکوع او سجدې مخکې ولاړ سي، صرف ښځې او کوچنيان پاته سي، نو جماعت نه صحيح کيږي، د دې وجه دا ده چې پر دوی د جمعې لمونځ فرض نه دی، او نه په دوی سره د جمعې لمونځ منعقد کيږي، نو ځکه به د دوی په پاته کېدلو سره جماعت نه کيږي، لهذا په دې صورت کې به امام د جمعې د لمانځه پر ځای د ماپښين لمونځ کوي.

پر کومو خلکو جمعه فرض نه ده؟

وَلَا تَجِبُ الْجُمُعَةُ عَلٰى مُسَافِرٍ او جمعه واجب نه ده پر مسافر وَلَا امْرَأَةٍ وَلَا مَرِيْضٍ او (نه واجب ده) پر ښځې او ناروغه وَلَا عَبْدٍ وَلَا أَعْمٰى او (نه واجب ده) پر غلام اوړانده سړي لِأَنَّ الْمُسَافِرَ يَحْرَجُ فِي الْحُضُوْرِ ځکه چې مسافر جمعې ته په حاضرېدلو سره په تکليف کېږي وَ كَذَا الْمَرِيْضُ وَ الْأَعْمٰى همدارنګه مريض او ړوند هم (په حاضرېدلو سره په تکليف کېږي) وَالْعَبْدُ مَشْغُوْلٌ بِخِدْمَةِ الْمَوْلٰى او غلام (خو) د خپل مالک په خدمت مشغول(بوخت) وي وَ الْمَرْأَةُ بِخِدْمَةِ الزَّوْجِ او ښځه (بيا) د خپل مېړه په خدمت مشغوله وي فَعُذِرُوْا دَفْعًا لِلْحَرَجِ وَ الضَّرَرِ نو د حرج او ضرر ليري کولو لپاره به دوی ټوله معذور شمارل کيږي.

تشريح: مسئله: دا ده چې پر مسافر ښځه، مريض، کوچني، غلام او ړانده باندې د جمعې لمونځ واجب نه دی، خو که دا خلک د جمعې لمونځ وکړي، نو اداء کيږي او د ماپښين د لمانځه په بدل کې يې د جمعې لمونځ دربرې.

دليل: دا دی چې مسافر، مريض او ړانده ته د جمعې په حاضرېدلو کې تکليف پېښيږي، او غلام د خپل مالک او ښځه د خپل خاوند په چوپړ کې مشغوله وي، نو د تکليف او ضرر ليري کولو لپاره به دا حضرات د جمعې له حاضرېدلو څخه معذوره ګرځول کيږي.

معذوره خلک که د جمعې لمونځ وکړي نو څه حکم دی؟

فَإِنْ حَضَرُوْا بيا که دا معذوره خلک (جمعې ته) حاضر سي فَصَلُّوْا مَعَ النَّاسِ او د نورو خلکو سره د جمعې لمونځ وکړي أَجْزَأَهُمْ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ نو د جمعې لمونځ د دوی لپاره د دغه وخت له فرضو څخه کافي سو (يعني دا د جمعې لمونځ د دوی لپاره د ماپښين د لمانځه پر ځای ودرېدی) لِأَنَّهُمْ تَحَمَّلُوْهُ ځکه چې دوی د جمعې د لمانځه حرج او مشقت برداشت کړی فَصَارَ كَالْمُسَافِرِ إِذَا صَامَ نو داسې سو لکه مسافر چې روژه ونيسي.

تشريح: مسئله: دا ده چې کوم خلک د جمعې له اداء کولو څخه معذور ګرځول سوي دي، که هغوی جمعې ته راسي، او د خلکو سره د جمعې لمونځ اداء کړي، نو د دوی د وخت فرض اداء سو. (يعني د ماپښين لمونځ يې اداء سو)

دليل: دا دی چې پر دې خلکو جمعه ځکه واجب نه وه چې دا خلک په تکليف او مشقت کې نه پرېوځي، خو کله چې دې خلکو په خپله د جمعې مشقت او تکليف وزغمې، نو ځکه به د دوی لپاره د جمعې لمونځ جائز وي، لکه څرنګه چې د مسافر لپاره د رمضان روژه فرض نه ده، لېکن که تکليف برداشت کړي او روژه ونيسي نو روژه يې صحيح ده، همداسې که دا خلک د جمعې لمونځ وکړي، نو هم صحيح کيږي.

کوم خلک د جمعې امامت کولای سي؟

وَيَجُوْزُ لِلْمُسَافِرِ وَالْعَبْدِ وَالْمَرِيْضِ او جائز دي د مسافر، غلام او ناروغه لپاره أَنْ يَؤُمَّ فِي الْجُمُعَةِ چي د جمعې امامت وکړي وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ : لَا يُجْزِئُهُ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جائز نه دي لِأَنَّهُ لَا فَرْضَ عَلَيْهِ ځکه چي پر دوی جمعه فرض نه ده فَأَشْبَهَ الصَّبِيَّ وَالْمَرْأَةَ نو (له دوی څخه هر يو) د کوچني او ښځي سره مشابه سو وَلَنَا أَنَّ هٰذِهِ رُخْصَةٌ زموږ دليل دا دی چي دا (يعني نه فرض کېدل) رخصت دي فَإِذَا حَضَرُوْا يَقَعُ فَرْضًا خو کله چي دا خلک حاضر سي نو د دوی جمعه د فرضو پر ځای واقع کيږي عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي موږ (لږ مخکي) بيان کړه أَمَّا الصَّبِيُّ فَمَسْلُوْبُ الْأَهْلِيَّةِ هر چي کوچنی دی نو (په هغه کي) د امامت وړتيا نسته وَالْمَرْأَةُ لَا تَصْلُحُ لِإِمَامَةِ الرِّجَالِ او ښځه د خلکو د امامت صلاحيت نه لري وَتَنْعَقِدُ بِهِمُ الْجُمُعَةُ او د مسافر، غلام او ناروغ (په جماعت سره) جمعه منعقده کيږي لِأَنَّهُمْ صَلَحُوْا لِلْإِمَامَةِ ځکه چي دا خلک د امامت صلاحيت لري فَيَصْلُحُوْنَ لِلِاقْتِدَاءِ بِطَرِيْقِ الْأَوْلٰى نو په طريقه اولیٰ سره به د اقتداء (هم) صلاحيت لري.

اللغات: ﴿يَؤُمَّ﴾ د نصر د باب مضارع ده: امام جوړېدل، امامت ورکول. ﴿مَسْلُوْب﴾ د نصر اسم مفعول دی: هغه چي يو شی څني سلب کړی سوی وي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي زموږ په نېز د جمعې په لمانځه کي د مسافر، غلام، مريض او د داسي نورو امام جوړول او د دوی په اقتداء کي د جمعې لمونځ کول جائز او صحيح دي، لېکن د اما زفر رَحِمَهُ الله په نېز د دې خلکو امام جوړول جائز نه دي.

د امام زفر دليل: دا دی چي پر دې خلکو جمعه فرض نه ده، نو ځکه به د هغوی امام جوړول هم جائز نه وي، لکه څرنګه چي د ښځي او کوچني امام جوړول صحيح نه دي، ځکه چي پر ښځه او کوچني هم جمعه فرض نه ده.

زموږ دليل: دا دی چي له دې خلکو څخه جمعه ځکه ساقط سوې ده چي له دوی څخه تکليف او حرج ليري سي، خو کله چي دا معذورين په خپله تکليف برداشت کړي، او په جمعه کي شامل او شريک سي، نو دا لمونځ د دوی لپاره فرض جوړيږي، نه نفل، (يعني دالمونځ د دوی لپاره د ماپښين د فرضي لمانځه پر ځای دربرېږي)، لکه مخکي چي موږ ذکر کړه.

جواب: د امام زفر د دليل جواب دا دی چي پر کوچني او ښځه قياس کول صحيح نه دي، ځکه په کوچني کي د امامت اهليت نسته، او د امامت اهليت ځکه پکښي نسته، چي د الله ﷻ خطاب دوی ته شامل نه دی، او پاته سوه ښځه نو په ښځه کي خو نورو ښځو ته د امامت ورکولو اهليت سته لېکن د نارينه وو د امامت اهليت پکښي نسته.

وتنعقد بهم الخ په دې جمله سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مسلک جواب ورکوي، امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د مسافر، غلام او مريض امامت خو صحيح دی، خو که دا خلک صرف په دومره اندازه را جمع سي، چي په هغه اندازه سره د جمعې جماعت کيږي، نو د دوی په جماعت سره به جمعه نه منعقده کيږي؛ جواب ورکوي چي که فقط څلور معذوره خلک هم جمع سي، نو جمعه منعقده کيږي، دليل دا دی چي کله په دې خلکو کي دومره طاقت سته چي د جمعې امام دي جوړ سي، نو دا طاقت هم په طريقه اولیٰ سره لري چي جمعه دي منعقده کړي، او د دوی په اقتداء کي دي د جمعې لمونځ وسي.

بې له عذره د جمعې په ورځ د ماپښين لمونځ د جمعې تر لمانځه مخکې کول

وَمَنْ صَلَّى الظُّهْرَ فِي مَنْزِلِهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ صَلَاةِ الْإِمَامِ او چا چې د جمعې په ورځ د امام تر لمانځه مخکې په خپل کور کې د ماپښين لمونځ وکړی وَلَا عُذْرَ لَهُ حال دا چې د هغه هيڅ عذر (هم) نه وو كُرِهَ لَهُ ذٰلِكَ نو د هغه لپاره داسې کول مکروه دي وَجَازَتْ صَلَاتُهُ (لېکن) د هغه لمونځ جائز دی وَقَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللهُ: لَا يُجْزِئُهُ امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چې جائز نه دی لِأَنَّ عِنْدَهُ الْجُمُعَةَ هِيَ الْفَرِيضَةُ إِصَالَةً ځکه چې د امام زفر رَحِمَهُ الله په نېز اصلي فرض (صرف) جمعه ده وَالظُّهْرُ كَالْبَدَلِ عَنْهَا او د ماپښين لمونځ د هغه د بدل په شير دی وَلَا مَصِيْرَ إِلَى الْبَدَلِ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْأَصْلِ او پر اصل باندې د قدرت لرلو په صورت کې د بدل و طرف ته تګ نه سي کېدلای وَلَنَا أَنَّ أَصْلَ الْفَرْضِ هُوَ الظُّهْرُ فِي حَقِّ الْكَافَّةِ او زموږ دليل دا دی چې د ټولو په حق کې اصل فرض د ماپښين لمونځ دی هٰذَا هُوَ الظَّاهِرُ همدا ظاهر مذهب دی إِلَّا أَنَّهُ مَأْمُوْرٌ بِإِسْقَاطِهِ بِأَدَاءِ الْجُمُعَةِ خو (دا جلا خبره ده چې) هغه ته د جمعې د لمانځه په اداء کولو سره د ماپښين د لمانځه د ساقطولو حکم سوی دی وَهٰذَا لِأَنَّهُ مُتَمَكِّنٌ مِنْ أَدَاءِ الظُّهْرِ بِنَفْسِهِ دُوْنَ الْجُمُعَةِ او د ماپښين اصل کېدل په دې وجه دي ځکه چې دا سړی د ماپښين د لمانځه پر اداء کولو په خپله قدرت لري نه د جمعې پر لمانځه لِتَوَقُّفِهَا عَلَى شَرَائِطِهَا لَا تَتِمُّ بِهِ وَحْدَهُ ځکه چې جمعه پر داسې شرطونو موقوفه ده چې هغه په يوازې سړي سره نه پوره کېږي (يعني يوازې يو سړی نه سي پوره کولای او نه قدرت پر لري) وَعَلَى التَّمَكُّنِ يَدُوْرُ التَّكْلِيْفُ او پر قدرت د مکلف کېدلو مدار دی.

اللغات: ﴿إِصَالَةً﴾ د افعال د باب مصدر دی: اصل کېدل. ﴿مَصِيْرٌ﴾ د ضرب د باب مصدرِميمي دی: تګ کول، اختيارول. ﴿كَافَّةٌ﴾ د ټولو لپاره. ﴿تَوَقُّفٌ﴾ موتوف کېدل. ﴿يَدُوْرُ﴾ مدار کېدل. ﴿التَّكْلِيْفُ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مکلف جوړول، مکلف کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو چا د جمعې په ورځ د امام د جمعې تر لمانځه مخکې په خپل کور کې د ماپښين لمونځ وکړی، او حال دا چې هيڅ عذر يې هم نه وو، نو د هغه لمونځ خو جائز دی، لېکن مکروه دی، امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې جائز نه دی، همدا مسلک د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله هم دی.

دليل: د دې حضراتو دليل دا دی چې په اصل کې د جمعې په ورځ د جمعې لمونځ فرض دی، او د ماپښين لمونځ د هغه بدل دی، ځکه چې د جمعې په ورځ د جمعې د لمانځه و طرف ته د سعي (تګ) امر سوی دی، او تر کومه وخته چې جمعه قضاء نه سي، تر هغه وخته د ماپښين له لمانځه څخه منعه سوې ده، نو دا د دې دليل دی چې د جمعې په ورځ د جمعې لمونځ اصلي فرض دی، او دا خبره تسليم سوې ده چې تر څو چې انسان ته پر اصل قدرت وي، تر هغه وخته به د بدل وطرف ته رجوع نه کوي، نو ځکه به د عذر د نيستوالي او د جمعې د قدرت په وخت کې د ماپښين لمونځ صحيح نه وي.

زموږ دليل: دا دی چې د جمعې په ورځ اصلي فرض د ماپښين لمونځ دی، لکه په نورو ورځو کې چې هم د ماپښين لمونځ فرض دی، دليل دا دی چې په حديث کې و أول وقت الظهر حين تميل الشمس مطلق ذکر سوی دی، چې هغه د جمعې او له جمعې څخه ماسوا هرې ورځې ته عام دی، او بيا دې خبره دلالت کوي چې د جمعې په ورځ هم د ماپښين

لمونځ اصل دی، خو د جمعې د فضيلت په وجه دا حکم سوی دی چې که جمعې لمونځ اداء کړی سي، نو د ماپښين لمونځ ساقطيږي، لېکن امام زفر او نورو چې کوم ضابطه بيان کړې ده په هغه کي د دې خبري وضاحت سوی دی چې تر څو پر اصل باندي قدرت وي، تر هغه وخته بدل نه سي اداء کېدلای، او څرنګه چې زموږ په نېز د ماپښين لمونځ اصل دی، او لمونځ کونکي پر همدغه قدرت لري، او پر بدل يعني پر جمعه خو هغه قدرت نه لري، ځکه چې د جمعې لپاره د امام، خطبه او جماعت او داسي نور شرطونه پکار دي، چي هغه يوازي سړی (په کور کي) نه سي پوره کولای، د دې په خلاف د ماپښين د لمانځه لپاره دا ډول شرطونه مطلوب نه دي، او انسان يوازي د ماپښين پر لمانځه قدرت لري، او څرنګه چې مکلف کېدل د وس په اندازه دي، نو ځکه به په ذکر سوې مسئله کي د دې سړي د ماپښين لمونځ صحيح وي، خو څرنګه چې د جمعې لمونځ د ماپښين تر لمانځه فضيلت لري، نو بې له عذره به له هغه څخه اعراض کول مکروه وي.

د پورتني مسئلې څه نور وضاحت

فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَحْضُرَهَا بيا که د لمونځ کونکي په زړه کي دا خبره راغله (يعني دا فکريې وکړی) چې د جمعې لمانځه ته دي حاضر سي فَتَوَجَّهَ إِلَيْهَا نو (په دغه فکر) د جمعې د لمانځه و طرف ته ولاړی وَالْإِمَامُ فِيهَا او امام (تر اوسه) د جمعې په لمانځه کي وو بَطَلَ ظُهْرُهُ عِنْدَ• أَبِي حَنِيفَةَ بِالسَّعْيِ نو د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله په نېز د جمعې لمانځه ته په تګ سره د هغه د ماپښين لمونځ باطل سو وَقَالَا: لَا يَبْطُلُ حَتَّى يَدْخُلَ مَعَ الْإِمَامِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې د ماپښين لمونځ يې نه باطليږي تر دې چې د امام سره داخل سي لِأَنَّ السَّعْيَ دُونَ الظُّهْرِ ځکه چې د جمعې د لمانځه طرف ته تګ د ماپښين له لمانځه څخه د کمي درجې دی فَلَا يَنْقُضُهُ بَعْدَ تَمَامِهِ نو د ماپښين د لمانځه تر پوره کېدلو وروسته سعی (تګ) دا نه سي ماتولای (باطلولای) وَالْجُمُعَةُ فَوْقَهَا او د جمعې لمونځ د ماپښين له لمانځه څخه د لوړي درجې دی فَيَنْقُضُهَا نو په جمعه کي شريکېدل د جمعې لمونځ باطلوای سي وَصَارَ كَمَا إِذَا تَوَجَّهَ بَعْدَ فَرَاغِ الْإِمَامِ نو د جمعې و طرف ته تګ داسي سو لکه د امام تر فارغه کېدلو وروسته چې (د مسجد و طرف ته) ولاړ سي وَلَهُ أَنَّ السَّعْيَ إِلَى الْجُمُعَةِ مِنْ خَصَائِصِ الْجُمُعَةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د جمعې د لمانځه و طرف ته سعی د جمعې د لمانځه له ځانګړ تياوو څخه ده فَيُنَزَّلُ مَنْزِلَتَهَا فِي حَقِّ ارْتِفَاضِ الظُّهْرِ احْتِيَاطًا نو د احتياط په توګه به سعی د ماپښين د لمانځه د باطلولو په حق کي د جمعې د لمانځه په درجه کي راکښته کيږي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنْهَا په خلاف د دې چې امام د جمعې له لمانځه څخه فارغ سي (او سعی وکړي) لِأَنَّهُ لَيْسَ بِسَعْيٍ إِلَيْهَا ځکه چې دا د جمعې د لمانځه و طرف ته سعی (تګ) نه دی.

اللغات: ﴿بَدَا لَهُ﴾ چې ده ته ښکاره سي، د ده په زړه کي راسي، ﴿اِرْتِفَاض﴾ پرېښوول. (باطلول).

• القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٦٠٢. [القول الراجح ج:١، ص:١٢٥]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي د جمعې په ورځ بې له عذره په خپل کور کي د ماپښين لمونځ وکړی. او بيا په جمعه کي د شرکت په اراده سره د مسجد و طرف ته روان سو. او کله چي مسجد ته ورسېدی، نو امام د جمعې په لمانځه کي وو، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې سړي د ماپښين لمونځ باطلېږي. هغه که د امام سره په لمانځه کي شريک سي او که نه سي، صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چي که دا سړی د امام سره په لمانځه کي شريک سي نو د ماپښين لمونځ يې باطلېږي، خو که د امام سره په لمانځه کي شريک نه سي، نو په دې صورت کي صرف د جمعې لپاره په تګ لو وتلو سره د ماپښين لمونځ نه باطلېږي.

د صاحبينو دليل: دا دی چي د جمعې و طرف ته تګ کول(يعني سعي کول) د ماپښين له لمانځه څخه د کمي درجې دي، ځکه چي سعي بذات خود مقصوده نه ده، بلکي د جمعې د اداء کولو وسيله او ذريعه ده، او د ماپښين لمونځ بذات خود مقصود دی، نو کله چي د ماپښين لمونځ د لوړي درجې سو، نو سعي او تګ دا نه سي باطلولای. او په خپله د جمعې لمونځ د ماپښين له لمانځه څخه د لوړي درجې دی، نو ځکه به د جمعې په لمانځه کي تر شرکت کولو وروسته د جمعې لمونځ د ماپښين لمونځ باطلوي، لکه څرنګه چي امام د جمعې لمونځ وکړي او فارغ سي. او يو سړی د جمعې د لمانځه و طرف ته روان سي(يعني تګ وکړي)، نو په دې سره د ماپښين لمونځ نه باطلېږي، همدارنګه که امام د جمعې له لمانځه څخه لا فارغ سوی نه وي، او دا سړی د جمعې د لمانځه و طرف ته روان سي، نو په دې سره هم د ماپښين لمونځ نه باطلېږي.

د امام صاحب دليل: دا دی د جمعې(يعني د جمعې د لمانځه) و طرف ته تګ کول د جمعې له خصوصياتو لو ځانګړتياوو څخه دی، نو ځکه د جمعې و طرف ته تګ د جمعې په درجه کي سو. او هم په دې کي احتياط دی. نو څرنګه چي د جمعې په لمانځه سره د ماپښين لمونځ باطلېږي، همدارنګه به د جمعې و طرف ته په تګ کولو سره هم باطلېږي، خو په دې شرط چي د تګ تر ختمېدلو وروسته امام د جمعې په لمانځه کي مشغوله وي.

جواب: له بخلاف ما بعد الفراغ څخه د صاحبينو د دليل جواب ورکوي يعني هغو چي کوم استدلال بيان کړی يعني که امام له جمعې څخه فارغه سي، او يو سړی د امام تر فراغت وروسته د جمعې و طرف ته روان سي. نو څرنګه چي په دې سره د ماپښين لمونځ نه باطلېږي، همدارنګه به د جمعې تر فراغت مخکي په تګ سره هم د ماپښين لمونځ نه باطلېږي. د دې جواب ورکوي چي د جمعې تر فراغت وروسته تګ کول بالکل د جمعې و طرف ته تګ کول نه دي. بلکي دا خو د مسجد و طرف ته تګ کول دي، ځکه چي د جمعې و طرف ته تګ هغه وخت کېږي چي کله جمعه(يعني د جمعې لمونځ) واقعي موجود وي، او دلته جمعه ختمه سوې ده، نو اوس به د جمعې و طرف ته تګ نه وي. بلکي د مسجد و طرف ته به تګ وي، او کله چي د جمعې و طرف ته تګ نه سو، نو په دې سره به د ماپښين لمونځ څرنګه باطلېږي. لهذا د جمعې تر لمانځه وروسته به سعي او تګ د جمعې په لمانځه کي د شرکت کولو په درجه کي نه وي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کي راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی. قال العلامة كمال الدين ابن الهمام رَحِمَهُ الله قوله بطلت ظهره عند أبي حنيفة رَحِمَهُ الله بالسعي هذا اذا كان الامام في الصلوة بحيث يمكنه أن يدركها و إن لم يدركها او كان لم يشرع بعد، لكنه لا يرجو ادراكها لبعده نحوه لا تبطل عند أبي حنيفة رَحِمَهُ الله عند العراقيين و تبطل عنده في تخريج البلخيين وهو الاصح (فتح القدير ج:٢، ص:٣٢). [القول الراجح ج:١، ص:١٢٥]

د معذوره خلکو لپاره د جمعې په ورځ د ماپښين د لمانځه طريقه

وَيُكْرَهُ أَنْ يُصَلِّيَ الْمَعْذُورُ وْنَ الظُّهْرَ بِجَمَاعَةٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي الْمِصْرِ او د معذوره خلکو لپاره په ښار کې د جمعې په ورځ په جماعت سره د ماپښين لمونځ کول مکروه دي وَكَذَا أَهْلُ السِّجْنِ همدارنګه د بنديانو (قيديانو) لپاره لِمَا فِيْهِ مِنَ الْإِخْلَالِ بِالْجُمُعَةِ ځکه په دې سره د جمعې په جماعت کې خلل راځي إِذْ هِيَ جَامِعَةٌ لِلْجَمَاعَاتِ ځکه چې جمعه (خو) د ټولو جماعتونو جمع کونکې ده وَالْمَعْذُوْرُ قَدْ يَقْتَدِيْ بِهِ غَيْرُهُ او د معذوره سړي اقتداء کله غير معذوره سړی (هم) کوي بِخِلَافِ أَهْلِ السَّوَادِ په خلاف د اطرافو له خلکو څخه لِأَنَّهُ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهِمْ ځکه چې پر هغوی د جمعې لمونځ نشته وَلَوْ صَلَّى قَوْمٌ او که معذوره خلکو (په دې ورځ د ماپښين لمونځ) په جماعت سره وکړی أَجْزَأَهُمْ نو د دوی لپاره جائز دی لِاِسْتِجْمَاعِ شَرَائِطِهِ ځکه چې (دلته) د ماپښين د لمانځه ټوله شرطونه جمع دي.

اللغات: ﴿أَهْلُ السِّجْنِ﴾ د بندي خانې (زندانونو) والا، يعني بنديان. ﴿إِخْلَال﴾ د افعال د باب مصدر دی: خلل اچول، کمي کول. ﴿أَهْلُ السَّوَاد﴾ له السّواد څخه مراد هغه کلي دي چې د ښار په اطرافو کې وي.

تشريح: مسئله: دا ده چې پر معذوره خلکو مثلاً پر مسافر، مريض، غلام او داسې نورو خو د جمعې لمونځ فرض نه دی، نو ځکه به د هغو پر ذمه د وخت فرض يعنې د ماپښين لمونځ فرض وي، په دې باره کې د دوی لپاره حکم دا دی چې يوازې يوازې به د ماپښين لمونځ کوي، په جماعت سره به د ماپښين لمونځ نه کوي، که په يو ښار کې دوی مقيم وه، (يعني د معذوره خلکو لپاره د جمعې په ورځ په ښار کې دننه د ماپښين لمونځ په جماعت سره کول مکروه دي) او همدغه حکم د بنديانو لپاره هم دی، چې دوی به هم خپل لمونځونه يوازې يوازې کوي، ځکه په جماعت کولو سره د جمعې په لمانځه کې خلل واقع کيږي، ځکه چې جمعه د جماعتونو جمع کونکې ده، او که معذورين د ماپښين لمونځ په جماعت سره وکړي، نو کېدای سي چې يو نامعذوره کس به هم د دوی سره په جماعت کې شريک سي، او د جمعې د لمانځه په جماعت کې به شريک نه سي، او په دې شي سره د جمعې په لمانځه کې خلل واقع کيږي، او هر هغه شی چې په هغه سره د جمعې په لمانځه کې خلل واقع کيږي، هغه مکروه دی، نو د جمعې په ورځ به په ښار کې په جماعت سره د ماپښين لمونځ کول هم مکروه وي، دا خبره په ياد لرئ چې د في المصر قيد احترازي قيد دی، د دې مقصد دا دی چې که د (يو صحرايي) کلي خلک په کلي کې د جمعې په ورځ د ماپښين لمونځ په جماعت سره اداء کوي، نو په دې کې هيڅ حرج نشته، ځکه چې پر هغو د سره د جمعې لمونځ فرض نه دی، لهذا د دوی په جماعت سره د جمعې په لمانځه کې خلل هم نه واقع کيږي، نو د دوی دا عمل به مکروه هم نه وي.

ولو صلّى الخ فرمايي چې د معذوره خلکو لپاره خو په ښار کې په جماعت سره د ماپښين لمونځ مکروه دی، لېکن که بيا هم دې خلکو وکړی، نو د دوی د ماپښين لمونځ بېشکه صحيح او جائز دی، ځکه چې په دې صورت کې د ماپښين لمونځ د خپلو ټولو شرطو سره اداء کړی سو، او بيا د جماعت کراهت د بل شي يعنې د جمعې په وجه سره دی، نو په دې سره به په اصل لمانځه کې هيڅ فرق نه راځي.

د جمعې د لمانځه د مسبوق حکم

وَمَنْ أَدْرَكَ الْإِمَامَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ او څوک چې چې د جمعې په ورځ (د جمعې په لمانځه کې) امام ونیسي صَلّٰى مَعَهُ مَا أَدْرَكَهُ نو کوم هغه سره چې یې څومره لمونځ نیولی وي هغه دې وکړي وَبَنٰى عَلَيْهِ الْجُمُعَةَ او پر هغه دې د جمعې بناء وکړي لِقَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ● ځکه نبي ﷺ فرمایلي دي مَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوْا تاسو چې څومره لمونځ ونیسئ هغه وکړئ وَمَا فَاتَكُمْ فَاقْضُوا او څومره لمونځ چې در څخه فوت (قضا) سي د هغه قضاء راوړئ.

اللغات: ﴿مَسْبُوْق﴾ هغه سړی چې د لمانځه څه حصه ځني تېره سوې او څه حصه یې نیولې وي.

تشریح: **مسئله:** دا ده که یو سړي د جمعې په ورځ امام د جمعې په لمانځه کې تر تشهد (التحیات) مخکې په اول یا دویم رکعت کې ونیوی، نو هغه ته پکار دي چې د امام سره په لمانځه کې شریک سي، او د لمانځه کومه حصه چې یې نیولې وي هغه دي اداء کړي، او بیا چې کله امام له لمانځه څخه فارغ سي، نو دا سړی دي د فوت سوي حصې قضاء راوړي، خو داسې به نه کوي چې د جمعې د لمانځه پر ځای د ماپښین لمونځ وکړي، ځکه چې په حدیث مبارک کې دا خبره څرګنده سوې ده چې د امام د لمانځه چې کومه حصه تاسو ونیسئ هغه اداء کوئ! او کومه حصه چې فوت سي د هغه قضاء راوړئ!.

که د جمعې په ورځ امام په تشهد (التحیات) کې ونیسي نو د جمعې لمونځ یې صحیح دی، که نه؟

وَإِنْ كَانَ أَدْرَكَهُ فِي التَّشَهُّدِ أَوْ فِي سُجُوْدِ السَّهْوِ او که یې (د جمعې په لمانځه کې) امام په تشهد یا په سجدهٔ سهو کې ونیوی بَنٰى عَلَيْهَا الْجُمُعَةَ عِنْدَهُمَا● نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به پر هغه د جمعې بناء کوي وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ: إِنْ أَدْرَكَ مَعَهُ أَكْثَرَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: که یې د امام سره د دویم رکعت اکثره حصه نیولې وه بَنٰى عَلَيْهَا الْجُمُعَةَ نو پر هغه به د جمعې بناء کوي وَإِنْ أَدْرَكَ أَقَلَّهَا او که تر هغه یې کمه حصه نیولې وه بَنٰى عَلَيْهَا الظُّهْرَ نو پر هغه به د ماپښین د لمانځه بناء کوي لِأَنَّهُ جُمُعَةٌ مِنْ وَجْهٍ ظُهْرٌ مِنْ وَجْهٍ ځکه چې (د ده لپاره) دا لمونځ په یو وجه سره د جمعې لمونځ دی او په یو وجه سره د ماپښین لمونځ دی لِفَوَاتِ بَعْضِ الشَّرَائِطِ فِي حَقِّهِ ځکه چې د ده په حق کې بعضې شرطونه فوت سول فَيُصَلِّي أَرْبَعًا اعْتِبَارًا لِلظُّهْرِ نو د ماپښین د لمانځه په اعتبار کولو سره به څلور رکعته کوي وَيَقْعُدُ لَا مَحَالَةَ عَلٰى رَأْسِ الرَّكْعَتَيْنِ اعْتِبَارًا لِلْجُمُعَةِ او د جمعې د لمانځه په اعتبار کولو سره به پر دویم رکعت خامخا کښېني وَيَقْرَأُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ لِاحْتِمَالِ النَّفْلِيَّةِ او د نفلو د احتمال په وجه به په آخري دوو رکعتونو کې قرائت کوي وَلَهُمَا أَنَّهُ مُدْرِكٌ لِلْجُمُعَةِ فِي هٰذِهِ الْحَالَةِ د شیخینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې هغه په دې حالت کې د

● تخریج: أخرجه البخاري في كتاب الاذان، باب قول الرجل فاتتنا الصلاة، حديث رقم: ٦٣٥.

● القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، كذا في رد المحتار ج:١، ص:٦٠٥. [القول الراجح ج:١، ص:١٤٧]

جمعې د لمانځه نيونکی دی حَتّٰى يُشْتَرَطُ نِيَّةُ الْجُمُعَةِ تر دې چې (پر هغه) د جمعې د لمانځه نيت شرط دی وَهِيَ رَكْعَتَانِ او د جمعې لمونځ دوه رکعته دی وَلَا وَجْهَ لِمَا ذَكَرَ او کوم چې امام محمد رَحِمَهُ الله بيان کړه د هغه هيڅ وجه نسته لِأَنَّهُمَا مُخْتَلِفَانِ ځکه چې دا دواړه لمونځونه مختلف (جلا) دي فَلَا يَبْنِيْ أَحَدَهُمَا عَلٰى تَحْرِيْمَةِ الْآخَرِ نو ځکه به يو د بل پر تحريمه نه مبني کوي.

اللغات: ﴿لَا مَحَالَةَ﴾ خامخا، په يقين سره.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي امام د جمعې د لمانځه په تشهد(التحيات) کې يا په سجدهٔ سهو کې ونيوی، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به دا سړی د جمعې لمونځ پوره کوي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي که هغه د دويم رکعت اکثره حصه ونيوله، مثلاً د دويم رکعت په رکوع کې د امام سره شريک سو، نو د جمعې لمونځ به پوره کوي، او که د دويم رکعت اکثره حصه يې نه ونيوله، مثلاً تر رکوع وروسته د امام سره شريک سو، نو د ماپښين لمونځ به پوره کوي، همدا قول د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ الله دی.

د امام محمد دليل: دا دی چې په تشهد يا په سجده سهوه کې د امام سره د شريک کېدونکي لمونځ من وجه د جمعې لمونځ دی، او من وجه د ماپښين لمونځ دی، يعني دا لمونځ په يوه اعتبار سره د ماپښين لمونځ دی، او په يوه اعتبار سره د جمعې لمونځ دی، ځکه چې هغه د جمعې په نيت د امام سره شريک سوی دی، نو په دې اعتبار سره به د جمعې لمونځ وي، لېکن کله چې د خپل تېر سوي رکعت د پوره کولو لپاره ولاړ سي، نو يوازې لمونځ کونکي سي، او بې له جماعته دا يو رکعت اداء کوي، حال دا چې جماعت د جمعې لپاره شرط دی، نو په دې اعتبار سره به د ماپښين لمونځ وي، نو ځکه به هغه په دې لمانځه کې د جمعې د لمانځه هم رعايت کوي او د ماپښين د لمانځه به هم رعايت کوي، نو د ماپښين په رعايت کې به څلور رکعته لمونځ کوي، او د جمعې په رعايت کې به پر دويم رکعت خامخا کښېني، ځکه چې د جمعې لمونځ دوه رکعته دی، او څرنګه چې په آخري دوو رکعتو کې د نفل احتمال سته، نو ځکه به په هغو دوو کې د سورت فاتحې سره بل سورت هم يو ځای کوي، ځکه چې د نفل په آخري دوو رکعتو کې د سورت فاتحې سره بل سورت خامخا يو ځای کېږي.

د شيخينو دليل: د شيخينو رَحِمَهُمَا الله مسلک خو مخکي ذکر سو يعني که څوک د جمعې د لمانځه په سجدهٔ سهو يا تشهد کې د امام سره شريک سو، نو هغه به د جمعې لمونځ پوره کوي(يعني څومره لمونځ چې څني تېر سوی وي هغه به پوره کوي)، او د ماپښين لمونځ به نه کوي، دليل دا دی چې دا سړی د امام سره د جمعې د لمانځه په نيت شريک سوی دی، او د جمعې لمونځ يې نيولی دی، نو ځکه به دوه رکعته لمونځ کوي.

جواب: د ولا وجه الخ څخه د امام محمد رَحِمَهُ الله د دليل جواب ورکوي يعني امام محمد رَحِمَهُ الله چې کوم دا خبره وکړه: که يو چا تر رکوع وروسته د جمعې لمونځ ونيوی، نو هغه به د ماپښين لمونځ کوي، او په هغه کې به د جمعې رعايت هم کوي، او د ماپښين رعايت به هم کوي، د هغه جواب ورکوي فرمايي چې امام محمد رَحِمَهُ الله چې کوم د جمعې او د ماپښين دواړو خبره کړې ده، د هغه هيڅ اعتبار نسته، ځکه چې د جمعې او د ماپښين لمونځونه سره جلا دي، نو ځکه به يو د بل پر تحريمه نه سي بناء کېدلای، يعني د جمعې په تحريمه سره به د ماپښين لمونځ نه سي کېدلای.

د خطبې اورېدلو ادبونه

وَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ او کله چې امام د جمعې په ورځ (د خطبې لپاره) راووځي تَرَكَ النَّاسُ الصَّلَاةَ وَالْكَلَامَ نو خلک دې لمونځ او خبرې پرېږدي حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ تر دې چې امام له خپلې خطبې څخه فارغه سي قَالَ: وَهَذَا عِنْدَ● أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: لَا بَأْسَ بِالْكَلَامِ إِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ قَبْلَ أَنْ يَخْطُبَ صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې کله امام د خطبې لپاره راووځي نو د خطبې تر شروع کولو مخکې خبرې کول هيڅ پروا نه لري وَإِذَا نَزَلَ قَبْلَ أَنْ يُكَبِّرَ او کله چې (خطبه ووايي او له منبر څخه) را شوه سي نو (د لمانځه) تر تکبير ويلو مخکې (هم خبرې کول) هيڅ پروا نه لري لِأَنَّ الْكَرَاهَةَ لِلْإِخْلَالِ بِفَرْضِ الِاسْتِمَاعِ ځکه چې کراهت (خو) د اورېدلو په فرضيت کې د خلل واقع کېدلو په وجه دی وَلَا اِسْتِمَاعَ هُنَا او دلته اورېدل نسته بِخِلَافِ الصَّلَاةِ په خلاف د لمانځه لِأَنَّهَا قَدْ تَمْتَدُّ ځکه چې لمونځ کله نا کله اوږدېږي وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ● د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا حديث دی إِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ کله چې امام (د خطبې ويلو لپاره) راووځي فَلَا صَلَاةَ وَلَا كَلَامَ نو نه لمونځ سته او نه خبرې مِنْ غَيْرِ فَصْلٍ (او دا حديث) بغير له څه تفصيله (وارد سوی دی) وَلِأَنَّ الْكَلَامَ قَدْ يَمْتَدُّ طَبْعًا او ځکه چې طبعاً (هم) کله نا کله خبرې اوږدېږي فَأَشْبَهَ الصَّلَاةَ نو خبرې د لمانځه سره مشابه سوې.

اللغات: ﴿اِسْتِمَاع﴾ د افتعال مصدر دی: په توجه سره اورېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چې کله د جمعې په ورځ امام د خطبې ويلو لپاره پر منبر ودرېږي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز به خلک له هغه وخت څخه تر خطبې فارغه کېدلو پورې نه لمونځ کوي، او نه به خبرې کوي، خو د صحيح قول مطابق د تسبيح ويلو اجازه سته، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دی چې کله امام راووځي نو د خطبې تر شروع کېدلو مخکې او تر خطبې وروسته له تکبير څخه مخکې لمونځ کول منع دی، لېکن خبرې منع نه دي، ځکه چې پر دې موقع د خبرو لو لمانځه ممانعت په دې وجه سره دی چې د لمانځه او خبرو په وجه په خطبه اورېدلو کې خلل راځي، او خطبه اورېدل واجب دي، نو ځکه به د خطبې په وخت کې خو نه د خبرو اجازه وي، او نه د لمونځ کولو، خو مونږ دا وينو چې د خطبې د شروع کېدلو په وخت کې د لمانځه په وجه خو په اورېدلو کې خلل راځي، لېکن په خبرو سره خلل نه راځي، ځکه چې په عامه توګه خبرې مختصرې او معمولي غوندې وي، او بيا په خبرو کې دا آساني هم سته چې څرنګه امام خطبه شروع کړي، نو فوراً دې خبرې بندې کړی سي، لېکن څرنګه چې د خبرو په پرتله کې لمونځ اوږد وي. او که خطبه شروع سي. نو فوراً لمونځ ختمېدلای او باطلېدلای هم نه سي، نو په دې سره د خطبې په اورېدلو کې خلل راځي، او د خطبې اورېدل واجب دي، نو د کوم شي په وجه سره چې خلل راځي د هغه پرېښوول ضروري دي. نو ځکه موږ وويل چې خاص د

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله كذا في الدر المختار ج:١، ص:٦٠٦. [القول الراجح ج:١، ص: ١٤٧]

● تخريج: أخرجه موطأ في كتاب الجمعة، باب ما جاء في الإنصات يوم الجمعة؛ وبخاري معناه في كتاب الجمعة، باب ما جاء الإنصات يوم الجمعة حديث رقم: ٩٣٤.

خطبې په وخت کې خو خبرې او لمونځ دواړه منع دي، لیکن تر خطبې شروع کېدلو مخکې او تر خطبې وروسته د تکبیر او اقامت تر شروع کېدلو مخکې صرف د لمانځه ممانعت سته، نه د خبرو.

د امام صاحب دلیل: هغه حدیث دی کوم چې په کتاب کې ذکر سو یعنې إذا خرج الإمام فلا صلاة ولا كلام، او په دې حدیث سره دلیل په دې توګه نیسي چې په حدیث کې مطلق د امام تر راوتلو (او دربدلو) وروسته له لمانځه او خبرو څخه منع سوې ده، نو څرنګه چې د خطبې تر شروع کېدلو یا د تکبیر تر شروع کېدلو مخکې د لمانځه اجازه نسته، همدارنګه به د خبرو اجازه هم نه وي.

ولأن الكلام الخ له دې ځایه د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د دلیل جواب دی، حاصل یې دا دی چې څرنګه تاسو د لمانځه د اوږدوالي په وجه د امام د دربدلو په وخت کې لمونځ ممنوع ګرځوئ، همدارنګه کله نا کله خبرې هم اوږدېږي، او کله انسان غواړي چې خبرې بندې کړي خو هم نه بندېږي، نو څرنګه چې لمونځ د اوږدوالي په وجه د امام د دربدلو په وخت کې ممنوع سوی دی، همدارنګه به خبرې هم ممنوع کېږي، او د قبل الخطبة او د بعد الخطبة به هیڅ قید نه اینښول کېږي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة عبيد الله بن مسعود صدر الشريعة رَحِمَهُ الله وإذا خرج الإمام حرم الصلوة والكلام حتى يتم الخطبة (شرح الوقاية ج:۱، ص:۲۰۱). [القول الراجح ج:۱، ص:۱۴۸]

خرڅول او رانیول به پر اول اذان ختمېږي، که پر دویم؟

وَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ الْأَذَانَ الْأَوَّلَ او کله چې (د جمعې په ورځ) اذان کونکي اول اذان وکړي تَرَكَ النَّاسُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ نو خلک دې خرڅول او رانیول (پلورل او پېرودل) پرېږدي وَتَوَجَّهُوا إِلَى الْجُمُعَةِ او د جمعې د لمانځه وطرف ته دې متوجه سي لِقَوْلِهِ تَعَالَى د الله د دې قول په وجه سره فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ نو تاسو وځغلئ (روان سئ) د الله د ذکر و طرف ته وَذَرُوا الْبَيْعَ [الجمعة:۹] او خرڅول او رانیول پرېږدئ وَإِذَا صَعِدَ الْإِمَامُ الْمِنْبَرَ او کله چې امام منبر ته وخېژي جَلَسَ نو (پر منبر دې) کښېني وَأَذَّنَ الْمُؤَذِّنُونَ بَيْنَ يَدَيِ الْمِنْبَرِ او اذان کونکي دې د منبر مخ ته اذان وکړي (بیا دې امام خطبه ووایي) بِذَلِكَ جَرَى التَّوَارُثُ هم پر دې عمل توارث راروان دی (یعني د نبي ﷺ له زمانې څخه همدغه طریقه را روانه ده) وَلَمْ يَكُنْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا هَذَا الْأَذَانُ او د نبي ﷺ په زمانه کې به (صرف) همدغه اذان وو وَلِهَذَا قِيلَ نو ځکه ویل سوي دي هُوَ الْمُعْتَبَرُ فِي وُجُوبِ السَّعْيِ وَحُرْمَةِ الْبَيْعِ چې د جمعې وطرف ته د تګ په واجبېدلو او د خرڅولو او رانیولو په حرام کېدلو کې همدغه اذان معتبر دی وَالْأَصَحُّ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَ الْأَوَّلُ لیکن صحیح خبره دا ده چې اول اذان معتبر دی إِذَا كَانَ بَعْدَ الزَّوَالِ په دې شرط چې تر زوال وروسته وي لِحُصُولِ الْإِعْلَامِ بِهِ په هغه سره د خبرتیا د حاصلېدلو په وجه (یعني ځکه چې په اول اذان سره خلک خبرېږي چې د جمعې د لمانځه وخت داخل سو)، والله أعلم.

اللغات: ﴿صعد﴾ د سمع د باب ماضي ده: ختل، ﴿بَيْنَ يَدَي﴾ مخته.

تشریح: **صورت د مسئلې:** دا دی چې کله په ښار کې د جمعې په ورځ مؤذنان (اذان کونکي) اذانونه شروع کړي، نو خلکو ته پکار ده چې خرڅول او رانیول دې پرېږدي، او د جمعې وطرف ته دې متوجه سي.

دليل: د الله تعالىٰ دا قول دی: إِذَا نُودِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللهِ وَ ذَرُوا الْبَيْعَ، په عبارت کې له مؤذنون څخه یا د بنار ټوله اذان کونکي مراد دي، یا په دې وجه د جمعي صيغه ذكر سوه چې د اذان په باره کې به مخکې دا عادت وو چې ډېرو اذان کونکو به پرېوه ځای اذان کوی، د دې لپاره چې اوازونه د بنار و اطرافو ته ورسيږي.

پاته سوه دا خبره چې هغه کوم اذان دی چې تر هغه وروسته خرڅول او رانيول حراميږي، او د جمعې و طرف ته سعي (تګ) واجبيږي، نو په دې باره کې اختلاف دی، امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمايي: هغه اذان معتبر دی چې پر منبر باندې د امام تر کښېنستلو وروسته د امام مخته کيږي (يعني دويم اذان)، ځکه چې د نبي ﷺ، ابو بكر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې به د جمعې لپاره همدغه اذان اصل وو، بيا چې کله د دريم خليفه حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې خلک ډېر سول، نو اول اذان (هم) شروع سو، همدارنګه په قرآن پاک کې چې د کوم اذان ذکر سوی دی، له هغه څخه دويم اذان مراد دی، نه اول اذان، حسن بن زياد رَحِمَهُ الله له إمام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت کوي چې د خرڅولو، رانيولو او د جمعې وطرف ته د تګ (سعي) کولو په سلسله کې اول اذان معتبر دی، دليل دا دی چې که يو سړی پر دويم اذان خرڅول او رانيول پرېږدي او د جمعي و طرف ته سعي وکړي، نو د جمعې د لمانځه هغه سنتونه به ځني فوت سي، کوم چې د جمعې تر لمانځه مخکې کيږي، همدارنګه به خطبه اورېدل هم ځني فوت سي، او که بيا يې کور هم له مسجد څخه ليري وي نو د جمعې لمونځ هم ځني فوتېدلای سي، نو ځکه به اول اذان معتبر وي، خو په دې شرط چې اول اذان تر زوال وروسته وسي، ځکه چې د اعلان مقصد هم په دې اول اذان سره حاصليږي، همدارنګه د دغه اول اذان په اورېدلو سره خلک د جمعې د لمانځه و طرف ته سعي او تګ شروع کوي. والله أعلم بالصواب



بَابُ الْعِيْدَيْنِ

(دا) باب د کوچني اختر او لوی اختر د (لمونځونو په بيان کې) دی

تشريح: تر دې مخکې صاحب د کتاب د جمعې د لمانځه تفصيلات بيان کړل او اوس له دې ځايه د دوو اخترونو د لمانځه احکام بيانوي، د باب الجمعة او باب العيدين په مينځ کې د مناسبت وجه دا ده چې د دواړو شرطونه يو ډول دي يعني کوم شرطونه چې د جمعې د لمانځه لپاره دي هغه شرطونه د اخترونو د لمانځه لپاره هم دي همدارنګه پر کوم سړي چې د جمعې لمونځ فرض وي پر هغه د اخترونو لمونځ هم واجب دی، خو څرنګه چې د اخترونو لمونځ واجب دی لېکن د جمعې لمونځ فرض دی او ښکاره ده چې فرض تر واجبو زيات قوي دي نو ځکه يې اول د جمعې د لمانځه مسئلې بيان کړې، وروسته د اخترونو د لمانځه مسئلې بيانوي.

عيد ته ولې عيد ويل کيږي: عيد له عود څخه را اخيستل سوی دی، او د عود معنیٰ ده: واپس راتلل، راګرځېدل، او څرنګه چې دا مقدسه ورځ هر کال واپس راځي او هر کال راګرځي، نو په دې مناسبت دې ته عيد ويل کيږي، يا دا چې په دې ورځ الله ﷻ پر خپلو بندګانو بيا احسانات راګرځوي، يعني بيا يې په خپلو احساناتو سره نازوي.

د اخترونو مشروعيت: د اخترونو د وجوب او ثبوت په لړ کې د حضرت انس ﷜ دا حديث زيات أهم دی، هغه فرمايي چې: قدم رسول الله ﷺ المدينة ولأهل المدينة يومان يلعبون فيهما في الجاهلية فقال رسول الله ﷺ قدمت عليكم ولكم يومان تلعبون فيهما في الجاهلية وقد أبدلكم الله خيراً منهما يوم النحر ويوم الفطر (يعني د مدينې د خلکو لپاره دوې د بازۍ (او خوشحالۍ) ورځې وې، کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته راغلی، نو ويې فرمايل: الله تعالیٰ ستاسو لپاره د دې په بدله کې دوې بهترې ورځې درکړې، چې هغه يوه د لوی اختر ورځ ده او بله د کوچني اختر ورځ ده).

همدارنګه په بل حديث کې راځي: إن لكل قوم عيدًا وهذا عيدنا (يعني هر قوم او هر ملت د اختر او د خوشحالۍ ورځ لري، او دا ورځ زمونږ د اختر او د خوشحالۍ ده). (بنايه ج:۳، ص:۱۱۱)

دا اختر د لمانځه شرعي حيثيت

وَتَجِبُ صَلَاةُ الْعِيدِ عَلَى كُلِّ مَنْ او واجب دی د اختر لمونځ په هر هغه سړي باندې تَجِبُ عَلَيْهِ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ چې پر هغه واجب وي د جمعې لمونځ وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ: عِيدَانِ اجْتَمَعَا فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ او په جامع صغير کې دي: (چې کله) دوه اخترونه په يوه ورځ کې جمع سي (يعني چې کله د جمعې او د اختر لمونځونه په يوه ورځ کې سره جمع سي) فَالْأَوَّلُ سُنَّةٌ نو اول سنت دی وَالثَّانِي فَرِيضَةٌ او دويم فرض دی وَلَا يُتْرَكُ وَاحِدٌ مِنْهُمَا او له دوی څخه به يو نه پرېښول کيږي قَالَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَهَذَا تَنْصِيصٌ عَلَى السُّنَّةِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دا جمله د اختر د لمانځه د سنتوالي صريح بيان دی (يعني په صراحت سره دا ځني څرګنديږي چې د اختر لمونځ سنت دی) وَالْأَوَّلُ عَلَى الْوُجُوبِ او اوله (يعني د متن جمله) د واجبوالي صريح بيان دی وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او همدغه روايت د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دی وَجْهُ الْأَوَّلِ مُوَاظَبَةُ

النَّبِيّ(ص)❶ عَلَيْهَا د اول قول دليل دا دی چې نبي ﷺ د اختر پر لمانځه همېشتوب کړی دی وَوَجْهُ الثَّانِيْ قَوْلُهُ(ص)❷ فِيْ حَدِيْثِ الْأَعْرَابِيْ عَقِيْبَ سُؤَالِهِ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ او د دويم قول دليل د نبي ﷺ هغه فرمان دی کوم چې د صحرايي په حديث کې د صحرايي تر دې سوال وروسته راغلی دی: "آيا له دې پنځو لمونځونو څخه ماسوا بل لمونځ هم پر ما سته" فَقَالَ: لَا إِلَّا إِنْ تَطَوَّعَ نو نبي ﷺ وفرمايل: "نه! (يعني بل فرضي لمونځ پر تا نسته) خو دا چې ته نفل وکړې" وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ (لېکن) اول قول زيات صحيح دی وَتَسْمِيَتُهُ سُنَّةً او د اختر لمانځه ته په دې وجه سنت ويل سوي دي لِوُجُوْبِهِ بِالسُّنَّةِ ځکه چې هغه په سنت (يعني په حديث) سره واجب سوی دی.

اللغات: ﴿عقيب﴾ وروسته. ﴿تطوّع﴾ د تفعّل له باب څخه د ماضي صيغه ده: نفل کول، نېک او ښه کار کول.

تشريح: د امام قدوري رَحِمَهُ الله د بيان مطابق د اختر لمونځ واجب دی، ځکه امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چې د اختر لمونځ پر هغه سړي واجب دی، چې پر هغه د جمعې لمونځ واجب وي، او د جامع صغير د بيان مطابق د اختر لمونځ سنت دی، ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: چې که په يوه ورځ کې دوه اخترونه جمع سي، يعني د جمعې په ورځ د کوچني يا لوی اختر ورځ هم وي، نو اول يعني د اختر لمونځ سنت دی، او دويم يعني د جمعې لمونځ فرض دی. ملاعلي قاري رَحِمَهُ الله په شرح نقايه کې ليکلي دي چې زيات صحيح قول دا دی چې زموږ په نېز د اختر لمونځ واجب دی، همدا د امام صاحب روايت دی، د امام مالک، امام شافعي او د بعضو احنافو په نېز د اختر لمونځ سنت دی، او د امام احمد رَحِمَهُ الله په نېز فرض کفايي دی.

د اختر د لمانځه د واجبوالي دليل: دا دی چې نبي ﷺ پر دې همېشتوب کړی دی بغير له پرېښوولو څخه، او بغير له پرېښوولو د نبي ﷺ همېشتوب د وجوب دليل دی، او دويم قول يعني د سنت کېدلو دليل يې دا دی چې له اهلِ نجد څخه يو صحرايي راغلی، د هغه د سفر مقصد د اسلام په باره کې معلومات تر لاسه کول وو، نو نبي ﷺ د اسلام په باره کې دا هم ورښوول چې په شپه او ورځ کې پر تا پنځه لمونځ فرض دي، د دې په اورېدلو سره صحرايي وويل: هل علي غيرهن، (آيا پر ما له دې پنځو لمونځونو څخه ماسوا بل لمونځ سته)، نبي کريم ﷺ وفرمايل: إلا أن تطوع، (نسته! خو دا چې ته د نفلو په توګه يو لمونځ وکړې [نو بيا هيڅ حرج نسته]). له دې حديث څخه معلومېږي چې له پنځو لمونځونو څخه ماسوا نور ټوله لمونځونه فرض نه دي، يعني نفل دي، لهذا د اختر د لمانځه وجوب ثابت نه سو.

جواب: زموږ له طرفه د دې حديث اول جواب دا دی چې دا حديث د اختر د لمانځه د حکم تر نازلېدلو مخکې دی، او قرينه دا ده چې په دې کې د وترو د لمانځه ذکر هم سوی نه دی، حال دا چې د وترو لمونځ د ټولو په نېز واجب دی. دويم جواب دا دی چې هغه سړی د صحرا اوسېدونکی وو، او پر صحرا والا د اختر لمونځ واجب نه وي، نو ځکه نبي ﷺ د هغه د حال مطابق جواب ورکړی.

---

❶ تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب العيدين، باب صلاة العيدين، حديث رقم: ۶۲۳۶.

❷ تخريج: أخرجه المسلم في كتاب الايمان، باب بيان الصلوة، حديث رقم:۸.

وتسميته سنةً الخ پاته سوه دا خبره چي کله دا اختر لمونځ واجب دی، نو په جامع صغير کي هغه ته ولي سنت ويل سوي دي؟ جواب دا دی چي سنت په دې وجه وزته ويل سوي دي چي دا اختر لمونځ په سنت يعني په حديث سره ثابت سوی دی، (په آيت سره نه دي ثابت سوی)، نو ځکه سنت ورته وويل سوه.

د اختر تر لمانځه مخکي سنت عملونه

وَيُسْتَحَبُّ فِي يَوْمِ الْفِطْرِ أَنْ يَطْعَمَ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الْمُصَلَّى د اختر په ورځ مستحب دا ده چي انسان د عيدګاه و طرف ته تر وتلو مخکي (څه) خوراک وکړي وَيَغْتَسِلَ وَيَسْتَاكَ وَيَتَطَيَّبَ او غسل وکړي او مسواک ووهي او عطر ولګوي لِمَا رُوِيَ ځکه روايت سوی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ [1] كَانَ يَطْعَمُ فِي يَوْمِ الْفِطْرِ قَبْلَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الْمُصَلَّى چي نبي ﷺ به د کوچني اختر په ورځ د عيدګاه و طرف ته تر وتلو مخکي خوراک کوی وَكَانَ يَغْتَسِلُ فِي الْعِيدَيْنِ او نبي ﷺ به د اخترونو په ورځ غسل کوی وَلِأَنَّهُ يَوْمُ اجْتِمَاعٍ او ځکه چي د اختر ورځ د خلکو د راجمع کېدلو ورځ ده فَيُسَنُّ فِيهِ الْغُسْلُ وَالتَّطَيُّبُ نو په دې وجه هم په دې ورځ غسل کول او عطر لګول سنت دي كَمَا فِي الْجُمُعَةِ لکه څرنګه چي په جمعه کي دي وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ او (د اختر په ورځ دي) خپل ښه کالي واغوندي لِأَنَّ النَّبِيَّ (ص) [2] كَانَ لَهُ جُبَّةُ فَنَكٍ أَوْ صُوفٍ ځکه چي نبي ﷺ يوه د فنک يا د وړيو چپنه لرله يَلْبَسُهَا فِي الْأَعْيَادِ چي هغه به نبي ﷺ په اخترونو کي اغوستله.

اللغات: ﴿يستاك﴾ د استفعال د باب مضارع صيغه ده: مسواک وهل (استعمالول)، ﴿يتطيب﴾ د تفعّل د باب مضارع صيغه ده: عطر لګول. ﴿فيسن﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله صيغه ده: سنت کېدل. ﴿جبة﴾ چپنه. ﴿فنك﴾ تر ګيدړي کوچنی يو ښکلی حيوان دی چي له پوست څخه به يې چپنه او پوستين جوړېدل. فنَك هم راځي يعني د فاء او نون په فتحه سره. ﴿صوف﴾ وړی.

تشريح: فرمايي چي د اختر په ورځ د مسلمانانو لپاره يو مستحب کار دا دی چي عيدګاه ته تر تللو مخکي څه خوږ شی وخوري، د حضرت انس رضي الله عنه حديث دی: قال كان رسول الله ﷺ لا يغدو يوم الفطر حتى يأكل التمرات ويأكلهن وترًا، (حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چي نبي ﷺ به د کوچني اختر په ورځ (د اختر د لمانځه لپاره) تر هغه وخته نه تللی تر دې چي په طاق شمېر به يې يو څو خورماوي وخوړلې). او په ترمذي او ابن ماجه کي ذکر سوي دي: أن رسول الله ﷺ كان لا يخرج يوم الفطر حتى يأكل وكان لا يأكل يوم النحر حتى يصلي. (يعني نبي ﷺ به د کوچني اختر په ورځ بغير له څه خوراک څخه نه وتی، او د لوی اختر په ورځ به يې بغير له لمونځ کولو څخه خوراک نه کوی).

---

[1] تخريج: أخرجه البخاري في كتاب العيدين، باب الأكل يوم الفطر قبل الخروج.

[2] تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب العيدين، باب الزينة للعيد، حديث رقم: ۶۱۳۶.

وكان يغتسل الخ دويم مستحب کار غسل دی، لکه په ابن ماجه کې چې د فاکهه بن سعد حديث دی: أن رسول الله ﷺ كان يغتسل يوم الفطر ويوم النحر ويوم العرفة. (يعني نبي ﷺ به د کوچنی اختر په ورځ او د لوی اختر په ورځ او د عرفات په ورځ غسل کوی).

عقلي دليل: دا دی چې د اختر په ورځ خلک راجمع کيږي، چې د هغه په وجه د خلکو بدنونه خولې کوي، نو ځکه په دې ورځ غسل کول، او عطر لګول سنت دي، لکه څرنګه چې د جمعې په ورځ هم دا دوه عملونه سنت دي.

ويلبس الخ دريم مستحب کار دا دی چې له خپلو کالوڅخه دې ښه او ښکلي کالي واغوندي، ځکه چې نبي ﷺ يوه د ښک يا د وړيو چپنه لرله، چې هغه به نبي ﷺ د اختر په ورځ اغوستله. ښک يو حيوان دی چې د هغه له پوست څخه جوړ سوی پوستين ډېر ښه ښکاري.

د سرسايې(صدقة فطر) ورکولو وخت

وَيُؤَدِّيْ صَدَقَةَ الْفِطْرِ او سرسايه دې ورکړي إِغْنَاءً لِلْفَقِيْرِ د محتاجه سړي د مالداره کولو لپاره لِيَتَفَرَّغَ قَلْبُهُ لِلصَّلَاةِ چې د لمانځه لپاره د هغه زړه فارغه سي وَيَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلَّى او (بيا دې) د عيدګاه و طرف ته ولاړ سي وَلَا يُكَبِّرُ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ● فِيْ طَرِيْقِ الْمُصَلَّى او د عيدګاه په لاره کې به د امام اعظم رَحِمَهُ الله په نېز تکبير نه وايي وَعِنْدَهُمَا يُكَبِّرُ او د صاحبينو رَحِمَهُ الله په نېز به يې وايي اِعْتِبَارًا بِالْأَضْحٰى پر لوی اختر باندې په قياسولو سره(يعني صاحبين د کوچني اختر لمونځ د لوی اختر پر لمانځه قياسوي) وَلَهُ أَنَّ الْأَصْلَ فِي الثَّنَاءِ الْإِخْفَاءُ د امام اعظم رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې اصل په ثناء کې پټوالی دی وَالشَّرْعُ وَرَدَ بِهٖ فِي الْأَضْحٰى او د په زوره ويلو په باره کې شريعت په لوی اختر کې وارد سوی دی لِأَنَّهٗ يَوْمُ تَكْبِيْرٍ ځکه چې لوی اختر د تکبير ورځ ده وَلَا كَذٰلِكَ الْفِطْرُ او د کوچني اختر ورځ داسې نه ده.

اللغات: ﴿إِغْنَاءً﴾ د افعال د باب مصدر دی: مالداره کول، مړول، بې پروا کول.

تشريح: د کوچني اختر له احکامو څخه يو حکم دا دی چې وس لرونکي خلک دې عيدګاه ته تر تللو مخکې صدقة فطر(سرسايه) اداء کړي، ځکه چې همدغه زموږ د نبي ﷺ معمول وو، لکه څرنګه چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي: أمرنا رسول الله ﷺ يوم الفطر أن نؤديها قبل خروج الناس إلى الصلاة. (يعني نبي ﷺ موږ ته دا حکم وکړی چې عيدګاه ته تر تللو مخکې صدقة فطر اداء کړو)، او د نبي ﷺ عادت خو دا وو چې تر اختر يوه يا دوې ورځې مخکې به يې صدقة فطر اداء کوله؛ او حکمت په دې خبره کې چې يوه ورځ مخکې دې صدقة فطر اداء کړی سي يا دې تر لمانځه مخکې اداء کړی سي، دا دی چې په دې سره به د مسکينانو او غريبانو لپاره هم د اختر په خوشحاليو کې ګډون کول او په کور کې اختر جوړول آسانه سي، ځکه کله چې غريبانو ته مخکې روپۍ او داسې نور ورکړل سي، نو ښکاره ده چې هغوی به له سوال او خيرات غوښتنې څخه خوندي سي، او د عامو مسلمانانو په څېر به هغوی هم د لمانځه او د اختر لپاره له مخکې څخه تياري شروع کړي، نبي ﷺ فرمايلي دي: أغنوهم عن المسألة في هذا اليوم . (يعني په دې ورځ فقيران له سوال کولو څخه بې پروا کړئ)، او ښکاره ده چې بې پروايي هغه وخت حاصليږي، کله چې د اختر تر لمانځه مخکې صدقة فطر اداء کړی سي.

● القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كذا في رد المحتار ج:١، ص: ٦١٢. [القول الراجح ج:١، ص: ١٣٩]

ولا يكبّر الخ له دې ځايه دا راښيي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به دکوچني اختر په ورځ عيدګاه ته د تګ په وخت کې په لاره کې په لوړ آواز سره تکبير نه وايي، لېکن د صاحبينو په نيز په لوړ آواز سره تکبيرويل سنت دي، د صاحبينو دليل قياس دی يعني کوچني اختر پر لوی اختر قياسوي، يعني څرنګه چې په لوی اختر کې عيدګاه ته د تللو پر مهال په لوړ آواز سره تکبيرونه ويل کيږي، همدارنګه به په کوچني اختر کې هم په لوړ آواز سره تکبيرونه ويل کيږي، د امام صاحب دليل دا دی چې د الله ﷻ په ثناء او ذکر کې اخفاء اصل دی، لکه څرنګه چې الله تعالیٰ فرمايي: وَٱذْكُر رَّبَّكَ فِى نَفْسِكَ تَضَرُّعًا [الاعراف:٢٠٥]، او نبي ﷺ فرمايي: خير الذكر الخفى (بنايه ج:٣، ص:١٢١)، نو خپل تر وسه به په ذکر، تکبيراتو او داسې نورو کې پر اخفاء عمل کيږي، او د کوچني اختر تکبيرات به پر لوی اختر نه قياسيږي، ځکه په لوی اختر کې په لوړ آواز سره تکبيرونه اداء کول د لوی اختر سره خاص دي، ځکه د مفسرينو او فقهاوو په نيز له دې آيت وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْدُودَٰتٍ [البقرة:٢٠٣] څخه مراد د لوی اختر په ورځ جهري تکبيرونه دي، لېکن د کوچني اختر په باره کې هيڅ يو داسې نص وارد سوی نه دی، صاحب د بنايې ليکلي دي چې په لوی اختر کې د جهري تکبيراتو يوه وجه دا هم ده چې لوی اختر د حج په ارکانو کې د يوه رکن سره خاص دی، او تکبير د حج د ارکانو د اداء کولو لپاره نښه او علامه (علَم) کرځول سوې ده، او ښکاره ده چې دا علميت هغه وخت ثابتيږي، چې کله تکبير په لوړ آواز سره وويل سي.

راجح قول: په پورتنۍ مسئله کې راجح قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله دی، قال العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله بعد تفصيل المسئلة و قد ذكر الشيخ قاسم فى تصحيحه أن المعتمد قول الإمام (رد المحتار ج:١، ص: ٦١٢). [القول الراجح، ج:١، ص: ١٢٩]

د اختر تر لمانځه مخکې او وروسته نفل کول

وَلَا يَتَنَفَّلُ فِى الْمُصَلّٰى قَبْلَ الْعِيْدِ او د اختر تر لمانځه مخکې به په عيدګاه کې نفل نه کوي لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ• لَمْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ ځکه نبي ﷺ (هيڅکله) داسې نه دي کړي مَعَ حِرْصِهِ عَلَى الصَّلَاةِ سره د دې چې نبي ﷺ د لمانځه زيات حرص (شوق) درلودی ثُمَّ قِيْلَ: الْكَرَاهَةُ فِى الْمُصَلّٰى خَاصَّةً بيا ويل سوي دي: چې کراهت خاص په عيدګاه کې (د نفلو په کولو) کې دی وَقِيْلَ: فِيْهِ وَفِىْ غَيْرِهِ عَامَّةً او ويل سوي دي چې په عيدګاه کې او له عيدګاه څخه په ماسوا کې عام دی لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمْ يَفْعَلْهُ ځکه چې نبي ﷺ داسې نه دي کړي.

اللغات: ﴿حرص﴾ شوق، خواهش، طلب.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې د اختر په ورځ نه د اختر تر لمانځه مخکې نفل کول صحيح دي، او نه د اختر تر لمانځه وروسته، ځکه چې نبي ﷺ تر ټوله اُمّت د لمانځه زيات عاشق وو، لېکن هيڅکله هم نبي ﷺ د اختر تر لمانځه مخکې او وروسته نفل نه دي کړي، لکه څرنګه چې په بنايه او نورو کې د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا حديث ذکر سوی دی: أن رسول الله ﷺ صلى يوم العيد ولم يصل قبلها ولا بعدها. (يعني نبي ﷺ د اختر په ورځ خلکو ته لمونځ ورکړی، او نه يې تر هغه مخکې لمونځ وکړی، او نه يې تر هغه وروسته).

• تخريج: أخرجه البخاري في كتاب العيدين، باب صلاة قبل العيد وبعدها، حديث رقم: ٩٨٩.

ثم قيل الخ فرمايي چي د نفل كولو په كراهيت كي اختلاف دی، د بعضي مشائخو رايه دا ده چي د اختر تر لمانځه مخکي په کور او عيدگاه دواړو کي نفل كول مكروه دي، همدارنګه تر لمانځه وروسته په عيدګاه کي نفل كول مكروه دي، لېکن په کور کي مکروه نه دي، او د بعضي حضراتو رايه دا ده چي مطلقاً نفل مكروه دي، هغه که په کور کي وي، او که په عيدګاه کي وي.

د اختر د لمانځه وخت

وَإِذَا حَلَّتِ الصَّلَاةُ بِارْتِفَاعِ الشَّمْسِ او كله چي په لمر راختلو سره لمونځ حلال سي دَخَلَ وَقْتُهَا إِلَى الزَّوَالِ نو د اختر د لمانځه وخت داخل سو تر زواله پوري فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ او كله چي لمر زائل سي خَرَجَ وَقْتُهَا نو د اختر د لمانځه وخت ووتی لِأَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يُصَلِّي الْعِيدَ [1] ځکه نبي ﷺ به د اختر لمونځ هغه وخت کوی وَالشَّمْسُ عَلَى قِيدِ رُمْحٍ أَوْ رُمْحَيْنِ چي کله به لمر يوه يا دوې نيزې راپورته سو وَلَمَّا شَهِدُوا بِالْهِلَالِ بَعْدَ الزَّوَالِ او كله چي خلكو تر زوال وروسته د سپوږمۍ (ليدلو) ګواهي ورکړه أَمَرَ [2] بِالْخُرُوجِ إِلَى الْمُصَلَّى مِنَ الْغَدِ نو نبي ﷺ په راوانه ورځ د عيدګاه و طرف ته د وتلو حکم وکړی.

اللغات: ﴿حلّت﴾ د ضرب له باب څخه ماضي صيغه ده: حلال کېدل، دا صيغه له حلال څخه مشتق ده، نه له حلول څخه. ﴿ارتفاع الشمس﴾ د لمر د راختلو وخت، يعني د اشراق وخت، ﴿رمح﴾ نېزه.

تشريح: په دې عبارت کي د اختر د لمانځه وخت بيانوي فرمايي چي كله د شوال په اوله ورځ لمر يوه يا دوې نېزې راپورته سي، نو د اختر د لمانځه وخت شروع کېږي، او د لمر تر زواله پوري پاتېږي، دليل دا دی چي نبي ﷺ به د اختر لمونځ هغه وخت شروع کوی کله چي به لمر د يوې يا دوو نېزو په اندازه را پورته سو، دويم دليل دا دی چي خاص د لمر د راختلو په وخت کي له لمونځ کولو څخه منع سوې ده، نو ځکه د لمر د راپورته کېدلو شرط ولګول سو، او تر زواله پوري د اختر د وخت د پاته کېدلو دليل دا دی چي يو وار يو شو خلکو تر زوال وروسته نبي ﷺ ته د مياشتي د ليدلو ګواهي ورکړه، نو نبي ﷺ د روژې د ماتولو او تر را رواني ورځي يعني تر دويم شواله پوري د لمانځه د ځنډلو امر وکړی، نو که تر زوال وروسته هم د لمانځه اداء کول صحيح وای، نو نبي ﷺ به تر را رواني ورځي پوري لمونځ نه ځنډولای، لهذا معلومه سوه چي د اختر د لمانځه وخت تر زواله پوري دی.

د اختر د لمانځه طريقه

وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ او امام دي خلکو ته دوه رکعته لمونځ ورکړي يُكَبِّرُ فِي الْأُولَى لِلِافْتِتَاحِ په اول رکعت کي دي د لمانځه د شروع کولو لپاره تکبير ووايي وَثَلَاثًا بَعْدَهَا او درې تکبيرونه دي تر هغه وروسته ووايي ثُمَّ يَقْرَأُ الْفَاتِحَةَ وَسُورَةً بيا دي سورت فاتحه او (بل) سورت ووايي وَيُكَبِّرُ تَكْبِيرَةً يَرْكَعُ بِهَا او تکبير دي ووايي په هغه سره دي رکوع وکړي ثُمَّ يَبْتَدِئُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ بيا دي دويم رکعت په قرائت سره شروع کړي ثُمَّ يُكَبِّرُ ثَلَاثًا بَعْدَهَا

---

[1] تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب الصلاة، باب وقت الخروج إلى العيد، حديث رقم: ١١٣٥.

[2] تخريج: أخرجه ابن ماجه في كتاب الصيام، باب ما جاء في شهادة على رؤية الهلال، حديث رقم: ١٦٥٣.

بيا دي تر هغه وروسته درې تکبيرونه ووايي وَيُكَبِّرُ رَابِعَةً يَرْكَعُ بِهَا او څلورم تکبير دي ووايي او رکوع دي په وکړي وَهٰذَا قَوْلُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ دا قول د ابن مسعود ﷺ دی وَهُوَ قَوْلُنَا او همدا زموږ قول دی وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: يُكَبِّرُ فِي الْأُوْلٰى لِلْافْتِتَاحِ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي: چې په اول رکعت کې دي د لمانځه د شروع کولو لپاره تکبير ووايي وَخَمْسًا بَعْدَهَا او تر هغه وروسته دي پنځه تکبيرونه ووايي وَفِي الثَّانِيَةِ يُكَبِّرُ خَمْسًا او په دويم رکعت کې دي پنځه تکبيرونه ووايي ثُمَّ يَقْرَأُ بيا دي قرائت وکړي وَفِي رِوَايَةٍ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا او په يوه روايت کې دي چې (په دويم رکعت کې دي) څلور تکبيرونه ووايي وَظَهَرَ عَمَلُ الْعَامَّةِ الْيَوْمَ بِقَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ او نن سبا د عامو خلکو عمل د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا پر قول ښکاره دی لِأَمْرِ بَنِيْهِ الْخُلَفَاءِ ځکه چې د بنو عباس خلفاوو د دې حکم کړی وو فَأَمَّا الْمَذْهَبُ فَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ هر چې (صحيح) مذهب دی نو هغه اول قول دی لِأَنَّ التَّكْبِيْرَ وَرَفْعَ الْأَيْدِيْ خِلَافُ الْمَعْهُوْدِ ځکه چې تکبير ويل او لاس پورته کول له معهود څخه خلاف دي فَكَانَ الْأَخْذُ بِالْأَقَلِّ أَوْلٰى نو پر کم (شمېر) به عمل کول غوره وي ثُمَّ التَّكْبِيْرَاتُ مِنْ أَعْلَامِ الدِّيْنِ بيا تکبيرونه د دين له شعائرو (او نښو) څخه دي حَتّٰى يُجْهَرَ بِهَا همدا وجه ده چې په زوره ويل کيږي فَكَانَ الْأَصْلُ فِيْهِ الْجَمْعُ نو ځکه به اصل په دې تکبيرونو کې يو ځای والی وي وَفِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى يَجِبُ إِلْحَاقُهَا بِتَكْبِيْرَةِ الْافْتِتَاحِ او په اول رکعت کې دا تکبيرونه د تکبير تحريمه سره يو ځای کول واجب دي لِقُوَّتِهَا مِنْ حَيْثُ الْفَرِيْضَةِ وَالسَّبْقِ ځکه چې تکبير تحريمه د فرضيت او مخکې والي په وجه قوي دی وَفِي الثَّانِيَةِ لَمْ يُوْجَدْ إِلَّا تَكْبِيْرَةُ الرُّكُوْعِ او په دويم رکعت کې صرف د رکوع تکبير سته فَوَجَبَ الضَّمُّ إِلَيْهَا نو ځکه به دا تکبيرونه د هغه سره يو ځای کول واجب وي وَالشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ أَخَذَ بِقَوْلِ ابْنِ عَبَّاسٍ او امام شافعي رَحِمَهُ الله د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قول اختيار کړی دی إِلَّا أَنَّهُ حَمَلَ الْمَرْوِيَّ كُلَّهُ عَلَى الزَّوَائِدِ خو هغه روايت سوي تکبيرونه يې ټوله پر زوائدو حمل کړي دي فَصَارَتِ التَّكْبِيْرَاتُ عِنْدَهُ خَمْسَةَ عَشَرَ أَوْ سِتَّةَ عَشَرَ نو د هغه په نيز (ټوله) تکبيرونه پنځلس يا شپاړس سول.

تشريح: په دې عبارت کې د اختر د لمانځه طريقه بيانيږي، همدارنګه په اخترونو کې د تکبيرونو له شمېر څخه بحث کيږي، تاسو په مختصره توګه دا خبره په ذهن کې ونيسئ چې زموږ په نيز د اختر په لمانځه کې ټوله نهه (٩) تکبيرونه دي چې له هغو څخه يو (١) تکبير تحريمه دی، او دوه (٢) تکبيرونه د رکوع دي، او شپږ (٦) تکبيرونه زيات يعني زوائد دي، او د اختر د لمانځه د اداء کولو طريقه دا ده چې امام دي خلکو ته دوه رکعته لمونځ ورکړي، او تر ټولو مخکې دي اول (١) تکبير يعني تکبير تحريمه ووايي، تر هغه وروسته دي ثناء ووايي، او بيا دي درې زوائد تکبيرونه ووايي، او په دوو تکبيرو کې دي لاسونه تر غوږو پورې پورته کړي بيا دي يې ايله کړي، او په دريم تکبير کې دي تر پورته کولو وروسته لاسونه وتړي (يعني نه دي يې ايله کوي)، او تر هغه وروسته دي سورت فاتحه، او يو بل سورت ووايي، او بغير له لاس پورته کولو څخه دي تکبير ووايي، رکوع ته دي ولاړ سي، دا ډول د هغه يوه رکعت پوره سو، او په دې رکعت کې ټوله تکبيرونه پنځه (٥) سول: يو تکبير تحريمه، درې زوائد تکبيرونه، يو د رکوع تکبير؛ بيا چې کله هغه د اول رکعت له سجدو څخه فارغه سي، نو سيده دي ودريږي، او تر ټولو مخکې دي قرائت وکړي، تر هغه وروسته دي درې

زوائد تکبیرونه ووايي، او په هر تکبیر کي دي لاس پورته کوي، او ایله کوي، بیا دي څلورم تکبیر ووايي رکوع ته دي ولاړ سي، او پاته لمونځ دي د نورو لمونځو په ډول پوره کړي، نو په دې رکعت کي ټوله څلور (۴) تکبیرونه سول. او د دواړو رکعتونو نهه (۹) تکبیرونه سول، د تکبیرونو دا شمېر، او د اختر د لمانځه دا طریقه د ابن مسعود ﷺ د روایت لو طریقې سره برابر دي، او همدا مسلک او مذهب د احنافو دی.

وقال ابن عباس الخ په دې لړ کي چي له ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا څخه کومه طریقه روایت سوې ده، په هغه کي د تکبیرونو شمېر دیارلس (۱۳) دی، په اول رکعت کي اووه (۷) تکبیرونه دي، او په دویم رکعت کي شپږ (۶) تکبیرونه دي، او بیا د هغو د اداء کولو طریقه هم جلا ذکر سوې ده، ځکه چي د هغه په نېز د دویم رکعت تکبیرونه هم د اول رکعت په ډول تر قرائت مخکي اداء کیږي، نو ځکه صاحب د بنایې لیکلي دي چي د ابن مسعود او ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د تکبیرونو په شمېر کي هم اختلاف دی، او د اداء کولو په طریقه کي یې هم اختلاف دی. (بنایه ج:۳، ص:۱۲۷).

وظهرعمل العامة الخ فرمايي چي زموږ په زمانه کي خلک د ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا پر طریقه عمل کوي، ځکه کله چي تر بنو امیه ؤ وروسته د بنو عباس زمانه راغله، نو عبّاسي واکمنانو د خپل مشر نیکه ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا طریقه علمه کړه، او ټولو امامانو ته یې دا حکم وکړی چي هغوی به د ابن عباس پر طریقه عمل کوي، خو تر څو چي د مذهب او مسلک تعلق دی، نو هغه د ابن مسعود ﷺ د طریقې سره دی.

دلته دا خبره د یادوني وړ ده، چي مصنف د هدایې کوم د ظهر عمل العامة الخ دعویٰ کړې ده، دا دعویٰ د هدایې د مصنف د خپلې زمانې سره خاص ده، کنې څه وخت چي حنفي مسلک خور سو، او په زیاتره هیوادونو کي حنفي قاضیان او مفتیان و ټاکل سول نو بیا خلکو د ابن مسعود ﷺ طریقه اختیار کړه.

و رفع الأیدی خلاف المعهود الخ صاحب د هدایې د ابن مسعود ﷺ د طریقې لپاره عقلي دلیل بیانوي فرمايي چي په لمانځه کي تکبیرونه ویل او لاسونه پورته کول دا د لمانځه له معهودي طریقې څخه خلاف کار دی، (له معهودي طریقې څخه مراد هغه طریقه ده کوم چي د عامو لمونځونو په باره کي په آیت او حدیثونو کي را نقل سوې ده)، ځکه چي په لمانځه کي په سکون او اطمینان سره د درېدلو حکم سوی دی، په آیت کي راځي: ﴿قُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾ [البقرة:۲۳۸]، لهذا بار بار لاسونه پورته کول ښه نه دي، نو څومره چي کم لاسونه پورته سي هغه به غوره وي، او څرنګه چي د ابن مسعود ﷺ په روایت کي په هر رکعت کي درې واره لاسونه پورته کیږي، او دا کمه اندازه ده، نو ځکه به پر کمه اندازه یعني د ابن مسعود ﷺ پر طریقه عمل کول غوره او افضله وي.

ثم التکبیرات الخ فرمايي چي د اختر تکبیرونه د دین له شعائرو څخه دي، نو څرنګه چي په دیني شعائرو کي جهر کیږي، همدارنګه به په تکبیرونو کي هم جهر کیږي، په اصل کي په دې عبارت سره موږ ته دا رانبیي چي د ابن مسعود په طریقه کي یوه مهمه فایده دا هم سته چي په دې کي زوائد تکبیرونه د تکبیرِ تحریمه او د رکوع د تکبیر سره متصل لو جمع دي، او په زائد تکبیرونو کي هم قاعده دا ده چي د اصلي تکبیرونو سره به یو ځای کیږي، نو ځکه په دې طریقه کي په اول رکعت کي تر تکبیر تحریمه وروسته سمدستي د زوائد تکبیرونو حکم سوی دی، لو تکبیر تحریمه د فرضوالي او مخکیوالي په اعتبار سره قوي ده، لهذا په دې کي د نور قوت د پیدا کولو لپاره زوائد تکبیرونه په اول رکعت کي د دې سره ملحق سول، او څرنګه چي په دویم رکعت کي تکبیر تحریمه نسته، نو ځکه په دویم رکعت کي زوائد تکبیرونه د رکوع د تکبیر سره ملحق سول.

والشافعي رَحِمَهُ اللهُ الخ د دې حاصل دا دی چې امام شافعي رَحِمَهُ الله د ابن عباس پر قول عمل کړی دی، او د ابن عباس په قول کې چې د تکبیرونو کوم شمېر را نقل سوی دی، هغه شمېر امام شافعي پر زوائدو حمل کړی دی، مطلب دا اختر د لمانځه د تکبیرونو په باره کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دوه قوله دي: (۱) اول قول دا دی چې په دواړو رکعتو کې په مجموعي توګه دیارلس(۱۳) تکبیرونه دي: یو تکبیر تحریمه، دوه د رکوع تکبیرونه، پنځه په اول رکعت کې زوائد تکبیرونه او پنځه په دویم رکعت کې زوائد تکبیرونه، (۲) دویم قول دا دی چې دوولس(۱۲) تکبیرونه دي. یو تکبیر تحریمه، دوه د رکوع تکبیرونه، پنځه په اول رکعت کې زوائد تکبیرونه، او په دویم رکعت کې څلور زوائد تکبیرونه، نو په دې اعتبار سره به د شوافعو په نېز دوولس یا دیارلس تکبیرونه وي، لېکن بعضې خلک په دې وهم کې لوېدلې دي چې د دوولسو او دیارلسو شمېر له تکبیرات اصلیه وو څخه ماسوا دی، یعنې په دې کې تکبیر تحریمه او د رکوع دوه تکبیرونه داخل نه دي، نو کومو خلکو چې د (۱۲) سره درې یوځای کړل، د هغو په نېز د ټولو تکبیرونو شمېر پنځلس(۱۵) سو، او کومو خلکو چې د (۱۳) سره درې یوځای کړل، د هغو په نېز ټوله تکبیرونه شپاړس(۱۶) سول.
په دې باره کې له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه په دې وجه دوه قولونه را نقل سوي دي څکه چې له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه په دې باره کې دوه روایتونه دي، او په دې لړ کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د مذهب مدار هم د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا پر قول باندې دی.

د اختر په تکبیرونو کې د لاسونو د پورته کولو حکم

قَالَ: وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي تَكْبِيرَاتِ الْعِيدَيْنِ فرمايي: چې د اخترونو په تکبیرونو کې دې خپل دواړه لاسونه پورته کوي يُرِيدُ بِهِ مَا سِوَى التَّكْبِيرِ فِي الرُّكُوعِ له دې څخه د امام قدوري رَحِمَهُ الله مراد د رکوع له تکبیر څخه ماسوا نور تکبیرونه دي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ● څکه نبي ﷺ فرمایلي دي لَا تُرْفَعُ الْأَيْدِي إِلَّا فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ لاسونه به نه پورته کیږي خو په اوو ځایونو کې وَذَكَرَ مِنْ جُمْلَتِهَا تَكْبِيرَاتِ الْأَعْيَادِ او له هغو ټولو څخه یې د اخترونو تکبیرونه (هم) ذکر کړل وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ ● أَنَّهُ لَا يَرْفَعُ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله روایت دی چې لاسونه دې نه پورته کوي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ مَا رَوَيْنَا (لېکن) د ده په خلاف هغه حدیث حجت دی کوم چې مونږ (اوس) بیان کړی.

تشریح: مسئله: دا ده چې زمونږ په نېز به د اختر په لمانځه کې تر غوږو پوري لاسونه پورته کیږي، همدا د امام شافعي او امام احمد مذهب دی، دلیل د نبي ﷺ دا قول دی: لا ترفع الأيدي إلا في سبع مواطن. او له دې اوو ځایونو څخه یو ځای زوائد تکبیرونه هم دي، له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې لاسونه به نه پورته کیږي.

د امام ابو یوسف دلیل: دا دی چې لاسونه پورته کول د لمانځه د شروع کولو لپاره سنت دي، یعنې د تکبیر تحریمې لپاره لاسونه پورته کول سنت دي، او څرنګه چې په زوائد تکبیرونو سره لمونځ نه شروع کیږي، نو څکه به لاسونه هم نه پورته کیږي، لکه څرنګه چې د رکوع په تکبیر کې لاسونه نه پورته کیږي.

● تخريج: أخرجه البيهقي بمعناه في كتاب العيدين، باب رفع اليدين في تكبير العيد، حديث رقم: ۶۱۸۹.

● القول الراجح: قول الطرفين أي يرفع يديه وهذا قول الجمهور، وقال العلامة ابن نجيم المصرى رَحِمَهُ الله قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله ضعيف (البحر الرائق ج:۲، ص: ۱۶۲). [القول الراجح ج:۱، ص: ۱۵۰]

جواب: د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خلاف دا حديث يعني لا ترفع الأيدى حجت دی.

پاتـه سوه دا خبره چي د زوائدو تکبيرونو په مينځ کي يو سنت ذکر سته او که نسته، نو له امام ابو حنيفه څخه روايت دی چي امام دي د هرو دوو تکبيرونو په مينځ کي د دريو تسبيحاتو په اندازه چپ پاتيږي، ځکه چي د اختر په لمانځه کي ګڼه ګوڼه او ډېر خلک وي، نو که د تکبيرونو په مينځ کي وصل وسي، نو کوم خلک چي له امام څخه ليري وي، پر هغو به د امام حال مشتبه سي، چي اوس امام کوم تکبير وايي، لېکن په دومره اندازه چپ پاتېدلو سره اشتباه ليري کيږي، نو ځکه د تکبيرونو په مينځ کي د دريو تسبيحاتو په اندازه د چپ پاتېدلو حکم سوی دی.

تر لمانځه وروسته د دوو خطبو حکم

قَالَ: **ثُمَّ يَخْطُبُ بَعْدَ الصَّلَاةِ خُطْبَتَيْنِ** فرمايي: چي د اختر تر لمانځه وروسته دي امام دوې خطبې ووايي **بِذٰلِكَ وَرَدَ النَّقْلُ الْمُسْتَفِيْضُ** هم په دې باره کي مشهوره حديث راغلی دی **يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيْهِمَا صَدَقَةَ الْفِطْرِ وَأَحْكَامَهَا** (او امام دي) د اختر په خطبه کي خلکو ته سرسايه او د اختر احکام ورښيي **لِأَنَّهَا شُرِعَتْ لِأَجْلِهِ** ځکه چي خطبه همد دغه لپاره مشروع سوې ده.

اللغات: ﴿الْمُسْتَفِيْض﴾ مشهوره حديث، د حديثو يو قسم دی.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي کله امام د اختر له لمانځه څخه فارغ سي، نو خلکو ته دي دوې خطبې ووايي، او په دې خطبو کي دي د صدقهٔ فطر او کوچني اختر احکام او مسائل بيان کړي، او د صدقهٔ فطر د اداء کولو ترغيب دي ورکړي، ځکه چي د اختر تر لمانځه وروسته خطبې ځکه شروع سوي دي چي په هغو کي د اختر او د صدقهٔ فطر احکام او مسائل بيان سي.

فايده: ښکاره دي وي چي د اختر د خطبې او د جمعې د خطبې په مينځ کي په دريو[۳] طريقو سره اختلاف دی: (۱) د جمعې لمونځ بې له خطبې جائز نه دی، او د اختر لمونځ بې له خطبې هم جائز دی (۲) د خطبې جمعه د جمعې تر لمانځه مخکي وي، لېکن د اختر خطبه د اختر تر لمانځه وروسته وي (۳) د جمعې خطبه ويل سنت دي، او اورېدل يې واجب دي، لېکن د اختر خطبه ويل واجب دي، او اورېدل يې سنت دي. (بنايه ج: ۳، ص: ۱۲۷)

د اختر د لمانځه د قضاء راوړلو حکم

وَمَنْ فَاتَتْهُ صَلَاةُ الْعِيْدِ مَعَ الْإِمَامِ او له چا څخه چي د اختر لمونځ د امام سره قضاء سي **لَمْ يَقْضِهَا** نو د هغه قضاء دي نه راوړي **لِأَنَّ الصَّلَاةَ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ لَمْ تُعْرَفْ قُرْبَةً** ځکه چي په دې طريقه سره د اختر د لمانځه عبادتوالی پېژندل سوی نه دي **إِلَّا بِشَرَائِطَ لَا تَتِمُّ بِالْمُنْفَرِدِ** خو په داسي شرطونو سره چي په يوازي سړي سره نه پوره کيږي (يعني په داسي شرطونو سره د اختر د لمانځه عبادت کېدل معلوم سوي دي چي هغه په يوازي سړي سره نه سي پوره کېدلای).

تشريح: **مسئله**: دا ده که له يو سړي څخه د اختر لمونځ قضاء سو، نو اوس د هغه لپاره يوازي د اختر د لمانځه د راګرځولو اجازه نسته، ځکه چي د اختر لمونځ اداء کول پر داسي شرطونو موقوف دی، چي هغه په يوازي سړي سره نه سي پوره کېدلای، ځکه چي د اختر د لمانځه له شرطونو څخه يو مهم شرط جماعت دی، او ښکاره ده چي په يوه سړي سره جماعت نه متحقق کيږي، نو ځکه به د امام تر فراغت وروسته د هيڅ سړي لپاره د اختر لمونځ کول صحيح نه وي (لېکن دوه رکعته د نفلو په توګه کولای سي).

د اختر د میاشتې د پېښدلو مسئله

فَإِنْ غُمَّ الْهِلَالُ بیا که (دا ختر) میاشته پټه سوه (یعني نه لېدل کېده) وَشَهِدُوا عِنْدَ الْإِمَامِ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ بَعْدَ الزَّوَالِ او خلکو امام ته د میاشتې لیدلو ګواهي تر زوال وروسته ورکړه صَلَّى الْعِيدَ مِنَ الْغَدِ نو امام دې را روانه ورځ د اختر لمونځ ورکړي لِأَنَّ هَذَا تَأْخِيرٌ بِعُذْرٍ ځکه چې دا ځنډول د عذر په وجه دي وَقَدْ وَرَدَ فِيهِ الْحَدِيثُ او په دې باره کې حدیث راغلی دی فَإِنْ حَدَثَ عُذْرٌ يَمْنَعُ مِنَ الصَّلَاةِ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي او بیا که داسې عذر پېښ سي چې په دویمه ورځ یې هم خلک دا ختر له لمانځه څخه منع کول لَمْ يُصَلِّهَا بَعْدَهُ نو تر دې وروسته دې دا ختر لمونځ نه کوي لِأَنَّ الْأَصْلَ فِيهَا أَنْ لَا تُقْضَى كَالْجُمُعَةِ ځکه دا ختر په لمانځه کې اصل دا دی چې د جمعې د لمانځه په څېر به د هغه قضاء (هم) نه راوړل کیږي إِلَّا أَنَّا تَرَكْنَاهُ بِالْحَدِيثِ لېکن موږ دا اصل د حدیث په وجه پرې اېښی دی وَقَدْ وَرَدَ بِالتَّأْخِيرِ إِلَى الْيَوْمِ الثَّانِي عِنْدَ الْعُذْرِ او د عذر په وجه تر دویمې ورځې پورې د ځنډولو په باره کې حدیث راغلی دی.

اللغات: ﴿غُمَّ﴾ د ماضي صیغه ده: په وریځ کې پټېدل، مجازاً: په سترګو نه لېدل کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د روژې د میاشتې پر نوېشتمه (۲۹) د وریځې په وجه میاشته نه لېدل کېده، او را روانه ورځ یعني د روژې پر دېرشمه خلکو پېشلمی وکړی او روژه یې ونیول، بیا تر زوال وروسته یو څو خلک امام ته راغله او دوی په تېره ورځ کې د میاشتې لیدلو ګواهي ورکړل (یعني دا یې ورته وویل چې موږ پرون لا میاشته ولیدل). نو که د دوی شهادت د منلو لائق وو، نو امام دې هغه معتبر وګڼي، او خلکو ته دې د روژې ماتولو حکم وکړي. او په دویمه ورځ دې د اختر لمونځ وکړي، ځکه چې دلته د اختر د لمانځه ځنډول د یو عذر یعني د میاشتې د نه لیدلو په وجه سره دي. او د عذر په وجه د اختر د لمانځه ځنډول په حدیث سره ثابت دي، لکه څرنګه چې حدیث مخکې تېر سو چې کله نبي ﷺ ته تر زوال وروسته د میاشتې لیدلو ګواهي ورکړل سوه، نو نبي ﷺ د اختر د لمانځه قضاء را رواني ورځې ته وځنډوله. نو له دې څخه معلومیږي چې تر دویم شواله پورې د اختر د لمانځه قضاء راوړل صحیح دي.

فإن حدث عذر الخ او که په دویم شوال کې هم یو داسې عذر پیدا سو چې د اختر د لمانځه لپاره مانع وو، مثلاً تېز باران یا یو بل داسې صورت وو، نو تر دې وروسته د شوال پر دریمه د اختر د لمانځه د قضاء راوړلو اجازه نسته، ځکه چې د اختر په لمانځه کې اصل دا دی چې د هغه قضاء به نه راوړل کیږي، لکه د جمعې د قضاء کېدلو په صورت کې چې د جمعې قضاء نه راوړل کیږي. خو دا اصل د حدیث په وجه پرېښوول سو، او څرنګه چې په حدیث کې فقط تر دویمې ورځې پورې د ځنډولو صراحت سوی دی. نو ځکه به تر دویم شواله پورې د ځنډولو اجازه وي، او تر هغه وروسته به نه وي.

د لوی اختر د ورځې مستحبات

وَيُسْتَحَبُّ فِي يَوْمِ الْأَضْحَى او مستحب دي د لوی اختر په ورځ أَنْ يَغْتَسِلَ وَيَتَطَيَّبَ چې غسل وکړي او عطر ولګوي لِمَا ذَكَرْنَاهُ د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَيُؤَخِّرُ الْأَكْلَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنَ الصَّلَاةِ او خوراک دې وروسته کړي تر دې چې له لمانځه څخه فارغ سي لِمَا رُوِيَ ځکه روایت سوی دی أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ[1] كَانَ لَا يَطْعَمُ فِي يَوْمِ النَّحْرِ چې نبي

[1] تخريج أخرجه البخاري في كتاب العيدين، باب الأكل يوم الفطر، قبل الخروج، حديث رقم: ۹۵۳.

ﷺ به د لوی اختر په ورځ خوراک نه کوی حَتّٰی يَرْجِعَ تر دې چې (له عيدګاه څخه به) واپس راغلی فَيَأْكُلَ مِنْ أُضْحِيَّتِهِ بيا به يې له خپلې قربانۍ څخه خوراک وکړي.

اللغات: ﴿يَوْمِ النَّحْرِ﴾ دلوی اختر ورځ، د ذو الحجې لسمه ورځ. ﴿أُضْحِيَّة﴾ قربان سوی شاروی.

تشريح: صاحب د هدايې فرمايي چې د لوی اختر په ورځ غسل کول، او عطر لګول مستحب دي. دليل مخکې تېر سو، او دا هم مستحب دي چې خوراک دې تر لمانځه وروسته د خپلې قربانۍ له غوښو څخه وکړی سي، دليل د نبي ﷺ عمل دی چې نبي ﷺ به د لوی اختر په ورځ د اختر تر لمانځه وروسته خوراک کوی، او له خپلې قربانۍ څخه به يې کوی، او که يو څوک قرباني نه کوي، نو هغه دې هم تر لمانځه مخکې خوراک نه کوي، ځکه چې د اختر تر لمانځه مخکې خوراک نه کول جلا سنت دی، او له خپلې قربانۍ څخه خوړل جلا سنت دی، لېکن د صحرا د خلګو لپاره جائز دي، ځکه چې هلته لمونځ واجب نه دی.

د عيدګاه په لاره کې د تکبير ويلو حکم

وَيَتَوَجَّهُ إِلَى الْمُصَلّٰى وَهُوَ يُكَبِّرُ او لمونځ ګزاره دې عيدګاه ته روان سي او تکبير دې وايي لِأَنَّهُ[1] عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يُكَبِّرُ فِي الطَّرِيقِ ځکه چې نبي ﷺ به په لاره کې تکبير وايي وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ كَالْفِطْرِ او د کوچني اختر په ډول دې دوه رکعته لمونځ وکړي كَذٰلِكَ نُقِلَ همداسې رانقل سوي دي وَيَخْطُبُ بَعْدَهَا خُطْبَتَيْنِ او تر لمانځه وروسته دې دوې خطبې ووايي لِأَنَّهُ[2] عَلَيْهِ السَّلَامُ كَذٰلِكَ فَعَلَ ځکه چې نبي ﷺ همداسې کړي دي وَيُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهِمَا الْأُضْحِيَّةَ وَتَكْبِيرَ التَّشْرِيقِ او په دواړو خطبو کې دې خلګو ته قرباني او د تشريق تکبيرونه ور وښيي لِأَنَّهُ مَشْرُوعُ الْوَقْتِ ځکه چې دا (شيان) په دې وخت کې مشروع دي وَالْخُطْبَةُ مَا شُرِعَتْ إِلَّا لِتَعْلِيمِهِ او خطبه هم د دغه (شيانو) د تعليم لپاره مشروع سوې ده.

تشريح: **مسئله:** دا ده چې لمونځ ګزاره دې عيدګاه ته د تللو په وخت کې په لاره کې په لوړ آواز سره تکبير وايي، ځکه نبي ﷺ به هم داسې کول، او د لوی اختر لمونځ هم د کوچني اختر د لمانځه په ډول دوه رکعته دی. له امام صاحب څخه همدغه را نقل سوي دي، تر لمانځه وروسته دې امام دوې خطبې ووايي، او په دې خطبو کې دې خلګو ته د قربانۍ او د تشريق د تکبيرونو احکام ور وښيي، ځکه چې په دې ورځو کې دغه شيان مشروع دي. او خطبه هم د دغه شيانو د تعليم لپاره مشروع سوې ده.

د يوه عذر په وجه د لوی اختر د لمانځه د قضاء کېدلو حکم

فَإِنْ كَانَ عُذْرٌ يَمْنَعُ مِنَ الصَّلَاةِ فِي يَوْمِ الْأَضْحٰى که يو داسې عذر وو چې د لوی اختر په ورځ د لمانځه لپاره مانع وو صَلَّاهَا مِنَ الْغَدِ وَبَعْدَ الْغَدِ نو په دويمه يا په دريمه ورځ دې لمونځ وکړي وَلَا يُصَلِّيهَا بَعْدَ ذٰلِكَ او تر دې وروسته دې يې نه کوي لِأَنَّ الصَّلَاةَ مُؤَقَّتَةٌ بِوَقْتِ الْأُضْحِيَّةِ ځکه چې د لوی اختر لمونځ د قربانۍ د ورځو سره خاص دی فَيَتَقَيَّدُ بِأَيَّامِهَا

---

[1] تخريج: أخرجه دار قطني في كتاب صلاة العيدين، باب صلاة العيدين، حديث رقم: ۱۷۰۰.

[2] تخريج: أخرجه مسلم في كتاب العيدين، باب العيدين، حديث رقم: ۸.


نو ځکه به د دغه وخت هم د قربانۍ د ورځو سره مقيد وي لَكِنَّهُ مُسِيْءٌ فِي التَّأْخِيْرِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ لېکن د بې له عذره ځنډلو په وجه به امام ګنهګاره وي لِمُخَالَفَةِ الْمَنْقُوْلِ د رانقل سوي طريقې د مخالفت په وجه.

تشريح: **مسئله:** دا ده که د ذی الحجې په لسم تاريخ يو داسي عذر پيدا سو چي د هغه په وجه د لوی اختر لمونځ نه سو کېدلای، نو په يوولسم تاريخ دي لمونځ وسي، او که په يوولسم تاريخ کي هم عذر پاته وو، نو په دولسم تاريخ دي لمونځ وسي، او که په دې ورځ هم عذر وو، نو تر دې وروسته د ځنډلو اجازه نسته، دليل دا دی چي د لوی اختر لمونځ د قربانۍ د ورځو سره خاص دی، لهذا د لمانځه وخت به يې هم د قربانۍ د ورځو سره خاص وي، نو د قربانۍ تر دريو ورځو پوري به هره ورځ له لمر راختلو څخه وروسته تر زواله پوري دا اختر د لمانځه وخت وي، او که بې له عذر لمونځ وځنډول سو، نو هم لمونځ جائز دی، لېکن په دې وجه به ګنهګاره وي چي بې له عذره يې لمونځ وځنډلوی، ځکه چي له نبي ﷺ او له خلفاء راشدينو څخه داسي ځنډول نه دي رانقل سوي، ښکاره دي وي چي دا لمونځ که څه هم وځنډول سي نو اداء به وي، قضاء به نه وي، ځکه چي په خپل وخت کي واقع کېږي.

د عرفات د خلکو سره د مشابهت حکم

وَالتَّعْرِيْفُ الَّذِيْ يَصْنَعُهُ النَّاسُ او د عرفات سره مشابهت کوم چي يې خلک کوي لَيْسَ بِشَيْءٍ (دا) هيڅ شی نه دی وَهُوَ أَنْ يَّجْتَمِعَ النَّاسُ يَوْمَ عَرَفَةَ فِيْ بَعْضِ الْمَوَاضِعِ او د تعريف (يعني د عرفات سره د مشابهت) مطلب دا دی چي خلک د عرفات په ورځ په يو ميدان کي سره راجمع سي تَشْبِيْهًا بِالْوَاقِفِيْنَ بِعَرَفَةَ د عرفات په ميدان کي د دربدونکو خلکو سره د مشابهت په وجه لِأَنَّ الْوُقُوْفَ عُرِفَ عِبَادَةً مُخْتَصَّةً بِمَكَانٍ مَخْصُوْصٍ ځکه چي وقوف عرفه په يو ځانګړي ميدان(ځای) کي عبادت منل سوی دی فَلَا يَكُوْنُ عِبَادَةً دُوْنَهُ نو له هغه ځانګړي ځای څخه به علاوه(بل ځای) عبادت نه وي كَسَائِرِ الْمَنَاسِكِ لکه د حج نور مناسک (چي بل ځای عبادت نه دي).

تشريح: دلته د تعريف مطلب په عرفات کي د درېدونکو حاجيانو سره مشابهت اختيارول دي. يعني چي د عرفات په ورځ خلک په يو بل ميدان کي سره راجمع سي، او د حاجيانو په ډول دعاء او تضرع وکړي، امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا يو داسي شی نه دي چي ثواب ولري، ځکه چي وقوف عرفه (يعني په عرفات کي درېدل) يو ځانګړي او مخصوص عبادت دی چي هغه د يو ځانګړي ميدان يعني د عرفات د ميدان سره خاص دی، لهذا د عرفات له ميدان څخه ماسوا په يو بل ميدان يا يو بل ځای کي وقوف کول او درېدل عبادت نه سي کېدلای، لکه د حج نور مناسک چي په نورو ځايونو کي نه سي اداء کېدلای، خو که دا ووېل سي چي ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په بصره کي د عرفات په ورځ په يو ميدان کي خلک راجمع کړل، نو زموږ له طرفه جواب دا دی چي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا عمل د دعاء لپاره وو. نه دا چي د عرفات د حاجيانو سره د مشابهت لپاره. والله أعلم بالصواب



فَصْلٌ فِيْ تَكْبِيْرَاتِ التَّشْرِيْقِ

(دا) فصل د تشريق د تکبيرونو (په بيان کي) دی

تشريح: څرنګه چي د تشريق تکبيرونه صرف د لوی اختر د لمانځه سره خاص دي، نو ځکه يې په جلا فصل کي بيانوي.

د تشريق د تکبيرونو شرعي حيثيت

وَيَبْدَأُ بِتَكْبِيْرِ التَّشْرِيْقِ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ او د عرفات په ورځ به د سهار تر لمانځه وروسته د تشريق تکبير شروع کوي وَيَخْتِمُ عَقِيْبَ صَلَاةِ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ او د لوی اختر د مازيګر تر لمانځه وروسته به يې ختموي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز وَقَالَا●: يَخْتِمُ عَقِيْبَ صَلَاةِ الْعَصْرِ مِنْ آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيْقِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د ايامِ تشريق د آخري ورځي د مازيګر تر لمانځه وروسته به يې ختموي وَالْمَسْأَلَةُ مُخْتَلِفَةٌ بَيْنَ الصَّحَابَةِ او دا مسئله د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په مينځ کي مختلف فيه ده فَأَخَذَا بِقَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَخْذًا بِالْأَكْثَرِ نو صاحبينو رَحِمَهُمَا الله پر اکثر باندي په عمل کولو سره د حضرت علي ﷺ قول اختيار کړی دی إِذْ هُوَ الْاِحْتِيَاطُ فِي الْعِبَادَاتِ ځکه چي په عباداتو کي د اکثر په اختيارولو کي احتياط دی وَأَخَذَ بِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَخْذًا بِالْأَقَلِّ او امام صاحب رَحِمَهُ الله پر اقل (کم) باندي په عمل کولو سره د ابن مسعود ﷺ قول اختيار کړی دی لِأَنَّ الْجَهْرَ بِالتَّكْبِيْرِ بِدْعَةٌ ځکه چي په لوړ آواز سره تکبير ويل بدعت دي وَالتَّكْبِيْرُ أَنْ يَقُوْلَ مَرَّةً وَاحِدَةً: اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ او تکبير دا دی چي يو وار به دا کلمې وايي: اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ... الخ هٰذَا هُوَ الْمَأْثُوْرُ عَنِ الْخَلِيْلِ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ او همدا له حضرت ابراهيم ﷺ څخه را نقل سوي دي.

تشريح: صاحب د کتاب په دې عبارت کي د تشريق له تکبيرونو څخه بحث کوي. د بحث خلاصه دا ده چي د رباتره علماؤ په نيز د تشريق تکبيرونه واجب دي، دليل د قرآن کريم دا آيت دی: وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْدُودَٰتٍ [البقره:۲۰۳].

مسئله: دا ده چي د تشريق د تکبيرنو د ابتداء او شروع په لړ کي خو د حنفي علماؤ په نيز اتفاق دی او د ټولو په نيز د ذی الحجې د نهمي ورځي د سهار تر لمانځه وروسته د تشريق تکبيرونه شروع کيږي، لېکن د ختمېدلو په باره کي يې د حنفي فقهاؤ اختلاف دی، او د دې اختلاف اصل او بنياد دا دی چي په دې لړ کي په خپله د صحابه وو په مينځ کي هم اختلاف دی، لکه څرنګه چي د ابن مسعود، حضرت علقمه، او د ابن عمر او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُم رايه دا ده چي د ذی

---

۱ ● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَاالله، كما قال العلامة نجم الدين الزاهدي رَحِمَهُالله في شرحه للقدوري والفتوىٰ والعمل في عامة الأمصار وكافه الأعصار على قولهما (الكفاية في صدر فتح القدير ج:۲، ص: ۴۹) [القول الراجح،ج:۱، ص: ۱۵۱]

الحجې په لسمه ورځ يعني د لوی اختر په ورځ به د مازيګر تر لمانځه وروسته د تشريق تکبيرونه ختميږي، او تر دې وروسته به د هغو ويل واجب نه وي، امام اعظم رَحِمَهُ الله همدغه قول اختيار کړی دی، ځکه چې تکبير يو ډول دعاء ده، او مخکې دا خبره تېره سوه چې اصل په دعاء کې په کرار آواز سره ويل دي، لهذا په لوړ آواز سره تکبير ويل يو ډول بدعت سو، لکه په آيت کې چې راغلي دي: ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً [الاعراف:٥٥]. نو احتياط دا دی چې څومره تکبيرونه کم وويل سي، هغومره به ښه وي. نو ځکه امام صاحب له کمو څخه کمي ورځي اختياروي.

د دې په خلاف له ځيني صحابه وو يعني له حضرت عمر، حضرت علي، حضرت عثمان او نورو صحابه وو څخه روايت دی چې د تشريق تکبيرونه به د أيام تشريق په آخري ورځ يعني د ذی الحجې په ديارلسمه ورځ د مازيګر تر لمانځه وروسته ختميږي، صاحبينو او امام شافعي او نورو هم دا روايت اختيار کړی دی، ځکه د دې روايت مطابق د لمونځونو شمېر زيات دی، او په عباداتو کې احتياط په دې کې دی چې پر اکثر عمل وسي، او بيا په دې آيت واذکروا الله فی أيام معدودات کې هم له أيام معدودات څخه په اتفاق د مفسرينو أيام تشريق (د تشريق ورځي) مراد دي، نو ځکه به تکبيرونه د ذی الحجې د ديارلسمي ورځي تر مازيګره پوري اوږديږي، او د لوی اختر په ورځ به نه ختميږي، د عقل او قياس همدغه تقاضا ده ځکه چې په أيام معدودات کې أيام د جمعي صيغه ده، او د جمعي کمه اندازه درې وي، نو له دې څخه هم د تشريق په ټولو ورځو کې د تکبير مشروعوالی ښه معلوميږي.

والتکبير أن يقول الخ فرمايي تکبير دا دی چې لمونځ ګزاره تر لمانځه وروسته په لوړ آواز سره يو وار دا کلمې ووايي: اَللّٰهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ. صاحب د بنايې د دې قصه داسي بيانوي چې کله حضرت ابراهيم عليه السلام خپل زوی حضرت اسماعيل عليه السلام د قربانولو لپاره پر مځکه پرې ايستی، او د هغه پر غاړه يې چاړه را تېره کړه، نو حضرت جبرئيل عليه السلام له آسمانه څخه پسه را وېستی، او چې کله يې د پلار او ځوی دا قرباني وليدله. نو بې له اختياره يې تر خوله دا الفاظ را ووتل: الله أکبر الله اکبر. ابراهيم عليه السلام چې کله دا آواز واورېدی، نو د آسمان و طرف ته يې سر پورته کړی، او د پسه په راوستلو پوه سو نو هغه هم وويل: لا إله إلا الله والله أکبر. حضرت اسماعيل عليه السلام چې کله دا کلمې واورېدې، نو د هغه له ژبې څخه هم دا کلمې جاري سوې: الله أکبر ولله الحمد. او دغه حمد و ثناء د لوی څښتن الله جل جلاله دومره خوښه سوه چې تر قيامته يې واجب وګرځوله. (بنايه ج:٣، ص:١٥١)

د تشريق د تکبيرونو د ويلو وخت

وَهُوَ عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ الْمَفْرُوضَاتِ عَلَى الْمُقِيمِينَ فِي الْأَمْصَارِ فِي الْجَمَاعَاتِ الْمُسْتَحَبَّةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا تکبيرونه تر فرضي لمونځونو وروسته په ښار کې پر مقيمو خلکو په مستحب جماعتونو کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز واجب دي وَلَيْسَ عَلَى جَمَاعَاتِ النِّسَاءِ إِذَا لَمْ يَكُنْ مَعَهُنَّ رَجُلٌ او د ښځو پر جماعتونو دا تکبيرونه واجب نه دي کله چې د هغو

سره يو سرى نه وي **وَلَا عَلَى جَمَاعَةِ الْمُسَافِرِيْنَ إِذَا لَمْ يَكُنْ مَعَهُمْ مُقِيْمٌ** او نه د مسافرانو پر جماعتونو واجب دي چې کله د هغوى سره يو مقيم نه وي **وَقَالَا**●: **هُوَ عَلَى كُلِّ مَنْ صَلَّى الْمَكْتُوْبَةَ** او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې تکبير تشريق په هر هغه سړي باندې واجب دى چې هغه فرضي لمونځ کوي **لِأَنَّهُ تَبَعٌ لِلْمَكْتُوْبَةِ** ځکه چې تکبير تشريق د فرضي لمانځه تابع دى **وَلَهُ مَا رَوَيْنَا مِنْ قَبْلُ** د امام صاحب دليل هغه حديث دى کوم چې موږ مخکې روايت کړى **وَالتَّشْرِيْقُ هُوَ الْجَهْرُ بِالتَّكْبِيْرِ** او د تشريق مطلب تکبير په لوړ آواز سره ويل دي **كَذَا نُقِلَ عَنِ الْخَلِيْلِ بْنِ أَحْمَدَ** همدارنګه له خليل بن احمد څخه رانقل سوي دي **وَلِأَنَّ الْجَهْرَ بِالتَّكْبِيْرِ خِلَافُ السُّنَّةِ** او په دې وجه هم چې په لوړ آواز سره تکبير ويل له سنت څخه خلاف دي **وَالشَّرْعُ وَرَدَ بِهِ عِنْدَ اسْتِجْمَاعِ هٰذِهِ الشَّرَائِطِ** او شريعت د تکبير په باره کې د دې شرطونو د جمع کېدلو په وخت کې وارد سوى دى(نو ځکه به د دې شرطونو د وجود په وخت کې تکبير ويل کيږي، کنې نه به ويل کيږي) **إِلَّا أَنَّهُ يَجِبُ عَلَى النِّسَاءِ إِذَا اقْتَدَيْنَ بِالرِّجَالِ** ليکن کله چې ښځې د يو سړي اقتداء وکړي نو پر ښځو (هم) تکبير تشريق واجب دى **وَعَلَى الْمُسَافِرِيْنَ عِنْدَ اقْتِدَائِهِمْ بِالْمُقِيْمِ بِطَرِيْقِ التَّبَعِيَّةِ** او پر مسافرانو (هم) د مقيم سړي د اقتداء په وخت کې تکبير تشريق واجب دى د تابع کېدلو په توګه **قَالَ يَعْقُوْبُ: صَلَّيْتُ بِهِمُ الْمَغْرِبَ يَوْمَ عَرَفَةَ** امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: "چې ما خلکو ته د عرفات په ورځ د ماښام لمونځ ورکړى **فَسَهَوْتُ أَنْ أُكَبِّرَ** او تکبير را څخه هېر سو **فَكَبَّرَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ الله** نو امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله تکبير ووايى" **دَلَّ** دا پر دې خبره دلالت کوي **أَنَّ الْإِمَامَ وَإِنْ تَرَكَ التَّكْبِيْرَ لَا يَتْرُكُهُ الْمُقْتَدِيْ** چې که څه هم امام تکبير پرېږدي نو مقتدي به يې نه پرېږدي **وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَا يُؤَدّٰى فِيْ حُرْمَةِ الصَّلَاةِ** او دا حکم په دې وجه دى چې تکبير د لمانځه په تحريمه کې نه اداء کيږي **فَلَمْ يَكُنِ الْإِمَامُ فِيْهِ حَتْمًا** نو ځکه به په هغه کې د امام وجود ضروري نه وي **وَإِنَّمَا هُوَ مُسْتَحَبٌّ** بلکې د امام وجود (فقط) مستحب دي(يعني د امام په اقتداء کې ويل فقط مستحب دي)

اللغات: ﴿عقيب﴾ وروسته، ﴿أمصار﴾ جمع د مفرد ده: ښار، ﴿تشريق﴾ په لوړ آواز سره تکبير ويل، ﴿حرمة الصلوة﴾ تکبير تحريمه.

تشريح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز تر هر فرض لمانځه وروسته پر خلکو تکبير ويل واجب دي، په دې شرط چې دا خلک مقيم وي، په ښار کې دننه وي، او په مستحبه توګه سره جماعت اداء کوي، امام صاحب رَحِمَهُ الله د عقيب الفرض قيد په دې وجه لګولى دى چې که تر فرضي لمانځه وروسته يو بل عمل پيدا سو، د مثال په توګه له مسجد څخه را ووتى، يا په خبرو مشغول سو، نو دا سړى به تکبير نه وايي، او د مفروضات له قيد څخه د جنازې لمونځ، د وترو لمونځ او د اختر لمونځ او نفلونه ووتل. په دې توګه چې تر دې لمونځونو وروسته تکبير تشريق واجب نه دى. د مقيمين له قيد

● القول الراجح: قول الصاحبين رَحِمَهُمَا الله، كما قال العلامة وهبة الزحيلي: والتكبير واجب عقيب الصلوات المفروضات على كل من صلى المكتوبة وإن منفردا أو مسافرا أو مقتديا لأنه تبع لها على المفتى به من قول الصاحبين (الفقه الإسلامي و أدلته ج:٢، ص: ٣٨٣). [القول الراجح، ج:١، ص: ١٥٠]

ځخه مسافر ووتی، ځکه چې پر مسافر هم تکبير نشته، د فی الامصار له قيد ځخه صحرا ووتل، يعني د صحرا پر خلکو تکبير تشريق واجب نه دی، د جماعة له قيد ځخه منفرد ووتی، او د مستحبة له قيد ځخه د ښځو جماعت ووتی په هغه وخت کې چې خالي د ښځو جماعت وي يعني امام يې نارينه نه وي، لېکن که د ښځو امام نارينه وو، او د مسافرانو امام مقيم وو، نو پر دې ښځو او مسافرانو هم تکبير واجب دی.

وقالا: وهوالخ صاحبين فرمايي چې پر هر هغه سړي تکبير واجب چې هغه فرضي لمونځ کوي، هغه که په ښار کې وي او که په صحراء کې، مسافر وي که مقيم، په جماعت لمونځ کوي او که يوازې، نارينه وي او که ښځه، همدا قول د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله دی.

د صاحبينو دليل: دليل دا دی چې تکبير د فرضي لمانځه تابع دی، نو هر ځوک چې فرضي لمونځ کوي، هغه به تکبير هم وايي.

د امام صاحب دليل: هغه حديث دی کوم چې مخکې ذکر سو يعني: لا جمعة ولا تشريق ولا فطر ولا أضحى إلا في مصر جامع، له دې حديث ځخه د تکبيرِ تشريق لپاره د ښار شرطوالی معلوم سو، د لغتو لوی امام خليل بن احمد فرمايي: چې تشريق جهري تکبير ته ويل کيږي، **دويم دليل:** دا دی چې تکبير په زوره ويل له سنت ځخه خلاف يعني بدعت دي، خو ماسوا په هغه ځای کې چيري چې شريعت وارد سوی وي، او د جهري تکبير په سلسله کې شريعت په هغه صورت کې وارد سوی دی چې کله دا ټوله شرطونه موجود وي، يعني ښار، مستحب جماعت، مقيم کېدل او داسې نور، هو! که ښځه د يو سړي اقتداء وکړي، يا مسافر د مقيم اقتداء وکړي نو پر ښځو او مسافرانو به هم تکبير واجب وي، دا وجوب به د تبعيت په توګه وي، يعني ځرنګه چې امام متبوع دی او پر هغه تکبير واجب دی، نو د امام پر تابع به هم واجب وي، لکه ځرنګه چې د مقيم امام په اقتداء کولو سره پر مسافر ځلور رکعته لازميږي.

قال يعقوب الخ له دې ځايه دا رابنيي چې پر مقتديانو د خپل امام اقتداء او اتباع صرف د لمانځه په أمورو کې واجب ده، د لمانځه ځخه ماسوا په نورو أمورو کې د امام اقتداء واجب نه ده، لېکن مستحب ده، نو ځکه که له يو امام ځخه تر لمانځه وروسته تکبير تشريق ويل هېر سي، او مقتديانو ته ياد وي، نو هغوی ته د امام انتظار کول پکار نه دي، او که امام چپ پاته سو، نو مقتديانو ته پکار ده چې په خپله تکبير شروع کړي، ځکه چې تکبير تر لمانځه وروسته ويل کيږي، نو په دې کې د امام مخالفت کول يا تر امام مخکيتوب کول هيڅ پروا نه لري، لکه ځرنګه چې د امام صاحب ستر شاګرد قاضي ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې يو وار ما د عرفات په ورځ خلکو ته د ماښام لمونځ ورکړی، او تکبير تشريق را ځخه هېر سو، لېکن امام صاحب رَحِمَهُ الله کوم چې د مقتديانو په صف کې وو هغه تکبير شروع کړی، د امام صاحب دا عمل د دې خبرې دليل دی چې که مقتدي تر امام مخکې تکبيرِ تشريق ووايي، نو هيڅ حرج نشته.



بَابُ صَلَاةِ الْكُسُوفِ

(دا) باب دلمر د ترنڅي د نيولو د لمانځه (په بيان کي) دی

تشريح: تر دې مخکي صاحب د کتاب د صلاة العيدين احكام ذكر كړل، او اوس د صلاة الكسوف احکام بيانوي، د دوی په مينځ کي د مناسبت وجه دا ده چي دواړه لمونځونه د شپې نه اداء كيږي، بلکي د ورځي کي اداء كيږي. او له اذان او اقامت څخه بغير اداء كيږي، خو څرنګه چي د صلاة الكسوف په مقابله کي صلاة العيد زيات واقع كيږي، همدارنګه صلاة العيد واجب دی، نو ځکه يې هغه تر صلاة الكسوف مخکي بيان کړی، او صلاة الكسوف نه واجب دی، او نه زيات واقع كيږي.

كُسُوف د ضرب د باب مصدر دی، معنیٰ يې ده: تاريک کېدل، کله چي د لمر و طرف ته د دې نسبت وسي، نو د ترنڅي نيولو په معنیٰ سره راځي، او د دې سره بل نژدې لفظ خسوف دی، بعضي خلک دا دواړه لفظونه مترادف ګڼي، يعني د دواړو معنیٰ يوه ده، لیکن د بعضو رايه دا ده چي کسوف د لمر سره خاص دی، او خسوف د سپوږمۍ سره خاص دی. (بنايه ج٣، ص١٥١)

د كُسُوف د لمانځه (صلاة كسوف) طريقه

قَالَ: إِذَا انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فرمايي: چي کله لمر ترنڅه ونيسي صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ كَهَيْئَةِ النَّافِلَةِ نو امام دي خلکو ته د نفلو په ډول دوه رکعته لمونځ ورکړي فِي كُلِّ رَكْعَةٍ رُكُوعٌ وَاحِدٌ په هر رکعت کي دي يوه رکوع وکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: رُكُوعَانِ امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دوې رکوعي دي وکړي لَهُ[1] مَا رَوَتْ عَائِشَةُ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل هغه حديث دی کوم چي حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايت کړی دی وَلَنَا رِوَايَةُ ابْنِ عُمَرَ[2] او زموږ دليل د عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا روايت دی وَالْحَالُ أَكْشَفُ عَلَى الرِّجَالِ لِقُرْبِهِمْ او (د امام سره) د خلکو د نژدېکت په وجه پر خلکو (د امام) حال زيات ښکاره وي فَكَانَ التَّرْجِيحُ لِرِوَايَتِهِ نو ځکه به د عمر بن العاص ﷺ روايت ته ترجيح حاصله وي.

اللغات: ﴿إِنْكَسَفَتْ﴾ د انفعال ماضي ده: لمر ترنڅه نيول، ﴿هَيْئَة﴾ حالت، صورت، شكل، ﴿أَكْشَفُ﴾ د كَرُمَ له باب څخه اسم تفضيل دی: زيات ښکاره، زيات واضح.

تشريح: **مسئله**: دا ده كه لمر ترنڅي ونيوی، نو کوم امام چي د جمعې لمونځ ورکوي هغه دي په جامع مسجد يا عيدګاه کي خلکو ته د نفلو په ډول دوه رکعته لمونځ ورکړي، يعني څرنګه چي نفل له اذان او اقامت څخه بغير كيږي، همدارنګه به د کسوف لمونځ هم بغير له اذان او اقامت څخه ورکوي.

---

[1] تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم: البخاري في صلوٰة الكسوف، باب الصدقة في الكسوف، حديث رقم: ١٠٤٤.

[2] تخريج: أخرجه ابوداؤد في كتاب صلوٰة الاستسقاء، باب من قال يركع ركعتين، حديث رقم: ١١٩٤.

او په هر رکعت کې یوه رکوع ده، دا زموږ د احنافو مذهب دی، امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله فرمايي چې د کسوف د لمانځه په هر رکعت کې دوې رکوع ګانې دي.

د امام شافعي او نورو دليل: د حضرت عائشې رضي الله عنها دا حديث: قالت خسفت الشمس في حياة رسول الله ﷺ فخرج إلى المسجد فقام وصف الناس وراءه فكبر فقرأ قراءة طويلة ثم كبر فركع ركوعاً طويلاً ثم رفع رأسه فقال: سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد ثم قام فقرأ قراءة طويلة هي ادنى من القراءة الاولى ثم كبر فركع ركوعا طويلا ثم رفع رأسه فقال: سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد ثم سجد وفعل في الركعة الاخرى مثل ذلك فاستكمل اربع ركعات باربع سجدات وانجلت الشمس قبل ان ينصرف ثم قام فخطب الناس فأثنى على الله بما هو أهله ثم قال إن الشمس والقمر آيتان من آيات الله تعالى لاينخسفان لموت أحد ولا لحياته فاذا رأيتم ذلك فافزعوا إلى الصلوة. (عائشه رضي الله عنها فرمايي چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې یو ځل لمر ترنڅې ونیوی، نو نبي ﷺ مسجد ته راغلی، ودرېدی، شا ته يې خلکو صفونه جوړ کړل، بيا يې تکبير تحريمه ووايی، اوږد قرائت يې وکړی، بيا يې تکبير ووايی او اوږده رکوع يې وکړه، وروسته يې خپل سر له رکوع څخه را پورته کړی، او سمع الله لمن حمده، ربنا ولك الحمد يې ووايی، بيا نبي ﷺ ودرېدی، اوږد قرائت يې وکړی، خو دا قرائت يې له اول قرائت څخه کم وو. بيا يې تکبير ووايی، یوه اوږده رکوع يې وکړه، خو دا رکوع يې له اولې رکوع څخه کمه وه، بيا دوی ﷺ سر را پورته کړی، او سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد يې ووايی، بيا يې سجده وکړه، او په دويم رکعت کې يې هم هغه عمل وکړی، نو نبي ﷺ څلور رکعته (يعني څلور رکوع ګانې) په څلورو سجدو سره پوره کړې، او د نبي ﷺ تر فراغت مخکې لمر روښانه سو، بيا ولاړ سو. خلکو ته يې خطبه ورېله، حمد او ثناء يې د الله د شان مناسب بيان کړه، او ويې فرمايل: چې لمر او سپوږمی د الله له نښو څخه دوې نښې دي. دا د يو چا په مرګ يا ژوند سره ترنڅه نه نيسي، او کله چې تاسو دا ووينی، نو په لمانځه سره پناه اخلئ). له دې حديث څخه معلومه سوه چې نبي ﷺ د کسوف د لمانځه په یوه رکعت کې دوې رکوع ګانې کړې دي.

زموږ دليل: د عبد الله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه روايت دی: قال انكسفت الشمس على عهد رسول الله ﷺ فقام رسول الله ﷺ فلم يكد يركع ثم ركع فلم يكد يرفع ثم رفع فلم يكد يسجد ثم سجد فلم يكد يرفع ثم رفع فلم يكد يسجد ثم سجد فلم يكد يرفع ثم رفع وفعل في الركعة الأخرى مثل ذلك. (فرمايي چې د نبي ﷺ په زمانه کې يو وار لمر ترنڅې ونيوی. نو رسول الله ﷺ دومره اوږده ولاړه وکړه داسې معلومېده چې نبي ﷺ به رکوع نه وکړي، بيا چې يې کله رکوع وکړه. نو هغه يې هم دومره اوږده وکړه داسې معلومېده چې له رکوع څخه به سر را پورته نه کړي، او کله چې نبي ﷺ له رکوع څخه سر را پورته کړی نو ولاړه يې دومره اوږده کړه چې نبي ﷺ به سجده نه وکړي، او کله چې يې سجده وکړه نو داسې معلومېده چې له سجدې څخه به سر را پورته نه کړي. او نبي ﷺ په دويم رکعت کې هم د اول رکعت په څېر اوږده ولاړه، رکوع او سجده وکړل). له دې حديث څخه دا خبره په ډاګه څلېږي چې نبي ﷺ د کسوف په لمانځه کې په هر رکعت کې یوه رکوع وکړه. نو ځکه به د يوې رکوع اجازه وي. او دوې رکوع به د سنت خلاف وي.

والحال أكشف الخ صاحب د هدايې له دې ځايه د احنافو عقلي دليل بيانوي، حاصل يې دا دی چې په دې مسئله کې د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث او د حضرت عبد الله ابن العاص رضي الله عنه حديث سره متعارض سول. نو په دې دواړو کې به ترجيح د ابن العاص رضي الله عنه حديث ته وي، ځکه چې سړی د ښځې په نسبت امام ته زيات نژدې وي، ځکه د ښځو صف د نارينه وو تر صف شا ته وي، نو د امام د لمانځه د حالت او کيفيت تفصيلات چې خلکو ته څومره معلومېږي، ښځو ته هغومره نه معلومېږي. نو ځکه به د ابن عمر حديث راجح وي (ځکه چې هغه به د جماعت په لمانځه کې نبي ﷺ ته تر حضرت عائشې رضي الله عنها زيات نژدې وو).

په صلاة کسوف کې د قرائت تفصیل

وَيُطَوِّلُ الْقِرَاءَةَ فِيهِمَا او امام به په دواړو رکعتونو کې قرائت اوږدوي وَيُخْفِي عِنْدَ[1] أَبِي حَنِيفَةَ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز به په کراره قرائت کوي وَقَالَا: يَجْهَرُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې په لوړ آواز سره به قرائت کوي وَعَنْ مُحَمَّدٍ مِثْلُ قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه یو روایت د امام اعظم رَحِمَهُ الله د قول په څېر دی أَمَّا التَّطْوِيلُ فِي الْقِرَاءَةِ پاتې سو اوږد قرائت کول فَبَيَانُ الْأَفْضَلِ نو هغه د افضیلت بیان دی وَيُخَفِّفُ إِنْ شَاءَ او که د امام خوښه وي نو مختصره قرائت به کوي لِأَنَّ الْمَسْنُونَ اِسْتِيعَابُ الْوَقْتِ بِالصَّلَاةِ وَالدُّعَاءِ ځکه چې سنت د ترنځي وخت په لمانځه او دعاء سره نیول دي فَإِذَا خَفَّفَ أَحَدَهُمَا طَوَّلَ الْآخَرَ نو کله چې یو شی مختصره کړي نو دویم دي اوږد کړي وَأَمَّا الْإِخْفَاءُ وَالْجَهْرُ پاتې سوه د اخفاء او جهر مسئله فَلَهُمَا رِوَايَةُ عَائِشَةَ[2] نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حدیث دی أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَهَرَ فِيهَا "چې نبي ﷺ د ترنځي په لمانځه کې په لوړ آواز سره قرائت وکړی" وَلِأَبِي حَنِيفَةَ رِوَايَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ وَسَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ[3] او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله دلیل د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او د سمره بن جندب رضي الله عنه روایت دی وَالتَّرْجِيحُ قَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او ترجیح مخکې تېره سوه كَيْفَ او څرنګه به په دې لمانځه کې په لوړ آواز سره قرائت کېږي وَإِنَّهَا صَلَاةُ النَّهَارِ حال دا چې دا لمونځ د ورځې لمونځ دی وَهِيَ عَجْمَاءُ او د ورځې لمونځ خو ګونګی وي (یعني قرائت نه پکښې کېږي).

اللغات: ﴿يُطَوِّلُ﴾ د تفعیل د باب مضارع ده: اوږدول، زیاتول. ﴿يُخْفِي﴾ د افعال د باب مضارع ده: په پټه ویل، په کراره ویل. ﴿اِسْتِيعَاب﴾ د استفعال د باب مصدر دی: یو شی پوره نیول، پوره استعمالول. (کښیباسل). ﴿عَجْمَاء﴾ ګونګی، سرّي لمونځ.

تشریح: مسئله: دا ده چې امام به د کسوف د لمانځه په دواړو رکعتونو کې اوږد قرائت کوي، په بعضو احادیثو کې راغلي دي چې اول رکعت به د سورت بقرې په اندازه وایي، او دویم رکعت به د سورت آل عمران په اندازه وایي، خو په دې کې اختلاف دی چې قرائت به جهري کوي، او که سرّي، امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د کسوف په لمانځه کې به سرّي قرائت کوي، همدا مسلک د امام مالک، امام شافعي او جمهورو فقهاؤ هم دی، او صاحبین فرمايي چې جهري قرائت به کوي، دا قول د امام احمد او امام طحاوي هم دی، صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله وایي چې له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه یو روایت د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په څېر دی، په دې صورت کې به د طرفینو په نیز سرّي قرائت وي، او د امام ابو یوسف په نیز به جهري قرائت وي، لنډه دا چې دلته دوې خبرې دي، قرائت اوږدول او په قرائت کې جهر یا اخفاء کول، نو قرائت اوږدول خو افضله دي، ځکه دا ثابته ده چې په اول رکعت کې به د رسول الله ﷺ ولاړه د سورت بقرې په اندازه وه، او په دویم رکعت کې به د سورت آل عمران په اندازه وه، نو د قرائت په اوږدوالي کې د رسول الله ﷺ متابعت دی. او که

---

[1] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابن الهمام بعد تفصيل المسئلة وإذا حصل التعارض وجب الترجيح بأن الأصل في صلوة النهار الإخفاء، فتح القدير ج:٢، ص:٥۶. [القول الراجح ج:١، ص: ١٥٣]

[2] تخريج: أخرجه البخاري في صلوة الكسوف، باب الجهر في القراءة في الكسوف، حديث رقم: ١٠۶٥.

[3] تخريج: أخرجه البيهقي في سننه في كتاب صلوة الخسوف، باب من قال يُسِرّ بالقراءة، حديث رقم: ۶٢۴١

زړه يې وغواړي، نو په قرائت کې دي تخفيف کوي، يعني مختصره قرائت دي کوي، ځکه سنت خو دا دي چې د ترنځې نيولو ټوله وخت په لمانځه او دعاء سره ونيول سي، لهذا که په لمانځه کې تخفيف وکړي، نو په دعاء کې به اوږدوالی کوي، علامه ابن الهمام رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: الحق أن السنة التطويل والمندوب مجرد استيعاب الوقت، (يعني حق دا دی چې قرائت اوږدول سنت دي، او د کسوف د وخت استيعاب مستحب دی)، لکه په حديث د مغيره بن شعبه کې چې راغلي دي: فإذا رأيتموها فادعوا الله وصلوا حتى تنجلى، صحيحين، (بيا چې کله تاسو دا شيان ووينئ (يعني ترنځه او داسي نور) نو له الله تعالیٰ څخه دعاء غواړئ او لمونځ کوئ تر دې چې لمر روښانه سي)، وګورئ تر لمر روښانه کېدلو پوري د لمانځه د اوږدولو حکم سوی دی، او دا هغه وخت کېدای سي چې کله قرائت اوږد کړی سي، نو معلومه سوه چې قرائت اوږدول سنت دي.

د صاحبينو يا د امام ابو يوسف دليل: د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث دی: قالت جهر النبي ﷺ في صلوة الخسوف بقرائته، (عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې رسول الله ﷺ به د کسوف په لمانځه کې جهري قرائت کوی).

د طرفينو يا د امام ابو حنيفه دليل: د ابن عباس او سمره بن جندب حديث دی: عن ابن عباس صليت مع النبي ﷺ الكسوف فلم اسمع منه حرفاً من القراءة، (يعني ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي: چې د ما د نبي ﷺ سره د کسوف لمونځ وکړی، خو له هغوی ﷺ څخه مي د قرائت يو حرف هم نه واورېدی).

والترجيح قد مرّ الخ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ابن عباس او د سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حديث ته ترجيح حاصله ده، او وجه مخکي تېره سوه چې سړی د ښځي په نسبت امام ته زيات نژدې وي، نو ځکه به د امام د قرائت او د لمانځه د کيفيت په باره کې د سړي قول زيات راجح وي.

کيف الخ فرمايي چې پوه سه! د کسوف په لمانځه کې جهري قرائت کول له عقل څخه لوړه خبره ده، ځکه چې د کسوف لمونځ په ورځ کې اداء کېږي، او د ورځې لمونځ عجماء وي، له عمجاء څخه مراد دا دی چې د ورځې په لمونځونو کې جهري قرائت نه کېږي، نو ځکه به د کسوف په لمانځه کې هم جهري قرائت نه کېږي.

تر صلاة کسوف وروسته د دعاء د اوږدولو حکم

وَيَدْعُوْبَعْدَهَاحَتّٰى تَنْجَلِيَ الشَّمْسُ او امام به تر لمانځه وروسته دعاء کوي تر دې چې لمر روښانه سي **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ**[1] ځکه نبي ﷺ فرمايلي دي **إِذَا رَأَيْتُمْ مِنْ هٰذِهِ الْأَفْزَاعِ شَيْئًا** " کله چې تاسو له دې بېرونکو شيانو څخه ووينئ **فَارْغَبُوْا إِلَى اللهِ بِالدُّعَاءِ** نو په دعاء سره د الله و طرف ته رغبت کوئ [يعني د دعاء و طرف ته متوجه کېږئ]" **وَالسُّنَّةُ فِي الْأَدْعِيَةِ تَأْخِيْرُهَا عَنِ الصَّلَاةِ** او په دعاګانو کې سنت دا دي چې تر لمانځه وروسته کړی سي.

اللغات: ﴿تَنْجَلِيَ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ځلانده کېدل، ښکاره کېدل، صفا کېدل. ﴿أَفْزَاع﴾ جمع د فَزَعٌ ده: د بيري شی، د پرېشانی او غم خبره.

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في كتاب صلوة الخسوف، باب الأمر بالفزع إلى ذكر الله تعالى، حديث رقم: ۶۲۹۸.

تشريح: فرمايي چي امام دي د كسوف تر لمانځه وروسته دعاء وكړي. او تر هغه وخته دي دعاء كوي. تر څو چي ترنځه او تياره ليري سي. او لمر روښانه سي. دعاء كه په ولاړي كوي، او كه يې په ناستي كوي، خو د خلكو و طرف ته به يې مخ وي، او د مقتديانو مخ به د قبلې پر طرف وي او د امام پر دعاء به آمين وايي، دليل د نبي ﷺ دا قول دی: إذا رأيتم من هذا الافزاع شيئًا فارغبوا إلى الله بالدعاء.

والسنة الخ صاحب د كتاب فرمايي چي په دعاګانو كي سنت طريقه دا ده چي تر لمانځه وروسته وي، له ابو امامه څخه روايت دی: قيل يا رسول الله ﷺ أى الدعاء أسمع قال جوف الليل الأخير ودبر الصلوة المكتوبة. (له نبي ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي كومه دعاء زياته مقبوله ده، وې فرمايل: چي د آخري شپې د مينځنۍ حصې، او تر فرضي لمانځه وروسته).

له دې حديث څخه فقط تر فرضي لمانځه وروسته د دعاء سنتوالي معلوميږي، همدارنګه مغيره بن شعبه وايي: چي نبي ﷺ به تر لمانځه وروسته دعاء كوله. (بخاری فی التاريخ الاوسط)

د صلاة كسوف د امامت حقداره څوك دی؟

وَيُصَلِّيْ بِهِمُ الْإِمَامُ الَّذِيْ يُصَلِّيْ بِهِمُ الْجُمُعَةَ او خلكو ته به د كسوف لمونځ هغه امام وركوي كوم چي هغو ته د جمعې لمونځ وركوي **فَإِنْ لَمْ يَحْضُرْ** او كه هغه حاضر نه وو **صَلَّى النَّاسُ فُرَادٰى** نو خلك دي يوازي (ځان ته) لمونځ وكړي **تَحَرُّزًا عَنِ الْفِتْنَةِ** له فتنې څخه د خوندي كېدلو لپاره.

اللغات: ﴿فُرَادٰى﴾ يوازي يوازي، ﴿تَحَرُّزًا﴾ د تفعّل مصدر دی: پرهېز كول، خوندي كېدل، ځان ساتل.

تشريح: **مسئله**: دا ده چي د كسوف په لمانځه كي به هغه سړی امام ټاكل كيږي، كوم چي د جمعې او اختر لمونځ وركوي، او كه هغه نه وو، نو خلك به يوازي لمونځ كوي، ځكه چي په دې كي د فتنې انديښنه نسته، او د جماعت په صورت كي د فتنې غالبه امكان سته، په دې توګه چي هر سړی به د امام جوړېدلو كوښښ كوي، يا به د خپلي خوښي مطابق امام مخته كوي، نو تر دې كركېچ غوره دا ده چي يوازي لمونځونه اداء كړي.

د خُسُوف يعني د سپوږمۍ د ترنځي په وخت كي د جماعت حكم

وَلَيْسَ فِيْ خُسُوْفِ الْقَمَرِ جَمَاعَةٌ او د سپوږمۍ په ترنځه كي جماعت نسته **لِتَعَذُّرِ الْإِجْتِمَاعِ فِي اللَّيْلِ** ځكه د شپې (د خلكو) را جمع كېدل ستونزمن دي **أَوْ لِخَوْفِ الْفِتْنَةِ** يا د فتنې د بيري په وجه **وَإِنَّمَا يُصَلِّيْ كُلُّ وَاحِدٍ بِنَفْسِهِ** او هر سړی به يوازي لمونځ كوي **لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ**[1] ځكه نبي ﷺ فرمايلي دي **إِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ هٰذِهِ الْأَهْوَالِ** "كله چي تاسو له دې بېرونكو شيانو څخه يو شی ووينئ **فَافْزَعُوْا إِلَى الصَّلَاةِ** نو په لمانځه سره پناه اخلئ" **وَلَيْسَ فِي الْكُسُوْفِ خُطْبَةٌ** او د ترنځي په لمانځه كي خطبه نسته **لِأَنَّهُ لَمْ يُنْقَلْ** ځكه چي هغه را نقل سوې نه ده.

اللغات: ﴿الخُسُوف﴾ د سپوږمۍ ترنځه نيول، ﴿أهْوَال﴾ جمع د هَوْلٌ ده: بېرونكی شی، خوفناك شی، مصيبت. ﴿فَافْزَعُوْا﴾ د فتح له باب څخه د امر صيغه ده: پناه اخيستل، بېره ليري كول، ﴿كُسُوْف﴾ د لمر ترنځه نيول.

تشریح: فرمایي چې د سپوږمۍ په ترنځه کې په جماعت سره لمونځ نسته، ځکه چې دا د شپې او د تیارې حالت وي، او کله چې سپوږمۍ ترنځه ونیسي، نو نوره تیاره خوره سي، لهذا که د سپوږمۍ د ترنځي په وخت کې جماعت لازم وګرځول سي، نو خلک به په تکلیف کې مبتلاسي، او د خلکو د ډېرښت په وجه د فتنې ډېره هم سته، نو ځکه به خلک د سپوږمۍ د ترنځي پر وخت په خپلو کورونو کې یوازې لمونځونه کوي.

په دې باره کې په دې حدیث إذا رأیتم شیئا من الأهوال سره هم دلیل نیول کېدای سي، کوم چې په کتاب کې ذکر سو، ځکه په دې حدیث کې داسې الفاظ راغلي دي فافزعوا إلی الصلاة، (یعني لمونځونه وکړئ)، او د جماعت هیڅ ذکر نسته.

ولیس في الکسوف خطبة الخ فرمایي چې د کسوف په لمانځه کې یعني د لمر د ترنځي په لمانځه کې خطبه نسته، همدا زموږ مسلک دی. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دې لمانځه کې هم خطبه سته، د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حدیث دی، چې په هغه کې دا جمله ذکر سوې ده : ثم قام فخطب الناس فأثنی علی الله... الخ، له دې څخه معلومېږي چې د کسوف په لمانځه کې خطبه سته.

زموږ دلیل: دا دی چې د کسوف او خسوف په لمانځه کې د خطبې ویل په مشهوره او متواتره حدیثونو کې نه دي رانقل سوي، پاته سو د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حدیث نو د هغه جواب دا دی چې نبي ﷺ په هغه کې د کسوف په وجه خطبه نه وویله، بلکې په دې ورځ د نبي ﷺ زوی ابراهیم وفات سو، او په خلکو کې دا آوازه سوه چې شاید د نبي ﷺ د زوی په وجه به لمر ترنځي نیولی وي، نو ځکه نبي ﷺ د کسوف تر لمانځه وروسته د دې وهم او ګومان د لیرې کولو لپاره خطبه وویله، دلیل دا دی چې نبي ﷺ د هغه لپاره په خطبه کې دا جمله هم وفرمایله: إن الشمس والقمر آیتان من آیات الله لاینکسفان لموت أحد ولا لحیاته... الخ (یعني لمر او سپوږمۍ د الله له نښو څخه دوې نښې دي، چې هغه د یو چا په مرګ او ژوند سره ترنځه نه نیسي). (بنایه ج:٣، ص:١٧٢)

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ، وَصَلَّى اللهُ عَلَى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِشَارِحِهِ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِأَسَاتِذَتِهِ وَلِمَنْ قَامَ بِنَشْرِهِ وَتَوْزِيعِهِ.

کتبه بیمینه

أحقر حبیب الرحمن مدني

